دا حادیثو جلیلُ القَدر کتاب آثار السنن
للامام النیموی مبسوط او مدلله پښتو شرحه

# توضیح السنن پښتو

مولانا عبدالقیوم حقانی

جدید مکتبہ رشیدیہ
قصہ خوانی بازار محلہ جنگی پشاور 091-2589074


حنفی
شافعی
بسم اللہ الرحمٰن الرحیم
کفایت دینی کتب خانہ
کفایت اللہ ابن صدیق
واٹس ایپ گروپ ٹیلی گرام چینل
اس گروپ میں کتابیں اہل السنۃ والجماعت، حنفی، شافعی، مالکی، حنبلی، دیوبند، علماء حق کے عقائد کے مطابق ہوں گی مختلف زبانوں میں اسلامی کتابیں پشتو عربی اردو فارسی جیسے تفسیریں، فتاویٰ درسی کتب خارجی کتب و غیرہ۔
کفایت اللہ ابن صدیق
easypaisa
+923052488551
+923247442395
حنبلی
مالکی

# ټول حقوق محفوظ دي

**د کتاب نوم:** توضيح السنن (پښتو شرح) آثار السّنن

**مؤلف :** مولانا عبدالقيوم حقانی

**ترجمه:** **دارالترجمه وکمپوزنګ سنټر**

عبدالغنی پلازه محله جنګی پيښور

**تصحيح ونظرثانی:** مولانا لطف الرحمٰن مدرّس قاسم العلوم شبقدرميروکلے

**زير اهتمام : طالب دعا** مولانا **سيد محمد صاحب** حقانی عفی عنه

**صفحات:** ٦٥٦

**سن اشاعت:** اګست ۲۰۱۳ء بمطابق ربيع الاول ١٤٣۴ھ

**ناشر:** **مکتبه رشيديه** سردار پلازه اکوړه خټک نوشهره

٠٣٤٤_٩٠٨۴٢٩٣

## دا کتاب ددې ښارونو په کتب خانو کښې ملاويږی

(۱) کابل
(۲) کوئټه
(۳) قندهار
(٤) پيښور
(٥) جلال آباد
(٦) مردان
(۷) غزنی
(۸) صوابۍ
(۹) کوهاټ
(۱۰) سوات

حنفی شافعی
بسم الله الرحمٰن الرحیم
کفایت دینی کتب خانه
کفایت الله ابن صدیق
واٹس ایپ گروپ ٹیلی گرام چینل
اس گروپ میں کتابیں اہل السنة والجماعت، حنفی، شافعی، مالکی، حنبلی، دیوبند، علماء حق کے عقائد کے مطابق ہوں گی مختلف زبانوں میں اسلامی کتابیں پشتو عربی اردو فارسی جیسے تفسیریں، فتاویٰ درسی کتب خارجی کتب وغیرہ۔
کفایت اللہ ابن صدیق
easypaisa
+923052488551
+923247442395
مالکی حنبلی

بسم الله الرحمٰن الرحیم

# احادیث وئیل او ښودل

حضرات صحابه کرام ﷺ چه هغوی ته دایمانی دولت نه علاوه د رسول الله ﷺ سره عشق هم نصیب شوې وو، هغوی چه به څه د حضور ﷺ نه اوریدل اوچه په څه کولو به ئې هغوی ﷺ لیدل هغه به ئې یادول او په شوق او ذوق سره به ئې دهغې تذکرې کولې، دا د ایمان اود عشق اومحبت قدرتی تقاضا هم وه، اوهغوی دا خپله اهمه ذمه واری، لوئې سعادت اود الله تعالی د رضا او نزدیکت وسیله هم ګڼړله. بعضې صحابو به مثلاً عبدالله بن عمروبن العاص ﷺ د رسول الله ﷺ ارشادات پخپله د حضور ﷺ په اجازت سره لیکل.

بیا کومو خلقوته چه د رسول الله ﷺ زمانه نصیب نه شوه، اوهغوی د حضور ﷺ د فیضیافته صحابه کرامو رضی الله عنهم زمانه بیاموندله، هغوی د معلوماتو او محفوظاتو هغه ټوله ذخیره دهغوی نه حاصله کړه، په دغه دورکښې (یعنی د تابعینو په دَورکښې) د خلیفه راشد حضرت عمربن عبدالعزیز ﷫ خاص توجه او کوشش سره په کتابی شکل کښې د صحابه کرامو د روایاتو نه د احادیثو د جمع او تدوین کار شروع شو.

تردې چه د امام بخاری، امام مسلم اود اصحاب سنن زمانه راغله، هغوی هم په دغه سلسله کښې هغه کار اوکړو کوم چه دهغوی د مرتب شوی د صحاح کتابونو په شکل کښې نن زمونږ په وړاندې دې.

دهغوی نه پس هم دهغوی په طرز باندې د حدیثو په سوونو مجموعې تیارې شوې اود حدیث د روایت اود تدوین او حفاظت دا کار ترڅو صدو پورې مسلسل دغسې کیدلو.

په روستو صدو د هر دَور د امت عالمانو د احادیثو دا مجموعې یا هم دهغې نه مرتب کیدونکی نور مؤلفات دخپل خدمت او توجه مرکز جوړکړل، اوپه هره زمانه کښې دهغې د ضرورت اود اهلِ زمانې د ذوق مطابق دهغې شرحې اولیکلې شوې، اودا سلسله تر اوسه پورې جاری ده.

زمونږ ددې زمانې غالباً دټولو نه اهم یو خصوصیت دادې چه د مغربی علومو او نظریاتو ترقئ او اشاعت د پوره انسانی دنیا طرزفکر او علمی مزاج ډیر زیات متاثر کړې دې، په دې وجه د تعلیماتِ محمدی د نن زمانې د امانت ګرو دا خاص ذمه داری ده چه هغوی دا ذهنی او فکری تبدیلی په نظر کښې اوساتی او ددې شلمې صدئ مخې ته د رسول الله ﷺ تعلیم او هدایت پیش کړی.

الله تعالی د اوس نه دوه سوه کاله مخکښې ټهیك هغه وخت کله چه د مغربی علومو او افکارو ترقی شروع شوه، ددې کار بنیاد د حضرت شاه ولی الله ﷫ په لاسونو باندې کیخوده، دهغوی بې مثاله کتاب ''حجة الله البالغه،، کښې ددې کار کونکو اوپه دې لاره تلونکو دپاره پوره رڼړا موجود ده.ما ګناهګار هم د عالمانو او طالبانو درسی ضرورت سره سره ددې زمانې خصوصیات هم مخې ته کړل اوپه اردو کښې

مې د آثارالسّنن د شرحې دا سلسله شروع کړه چه دا اوس د الله تعالی په توفیق سره په دویم جلد کښې مکمل شوې ده. والحمدلله علی ذلك حمداً كثيرا۔

په توضیح السّنن کښې چه حضرت شاه ولی الله محدّث دهلوی رحمه الله اود علماء دیوبند اکابرینو د حدیث د مقاصدو او مطالبو د وضاحت اوددې د حکمت په بیانولو کښې کومه طریقه اختیار کړې ده، احقرهم دهغې اتباع اوهم دهغوی دعلم وادب د باغیچې نه ئې خوشه چینی کړې ده چه په هغې سره ددې دَور ذهن هم مطمئن کیدې شی. ددې نه علاوه دویم لوئې او اهم خصوصیت ددې دادې چه ددې په رڼړا کښې د اُمت د فقهاؤ او مجتهدینو فقهی او اجتهادی اختلافاتو واقعی نوعیت مخې ته راځی، او داسې په نظر راځی چه ددغه ائمهٔ دا ټول فقهی مسلکونه د یوې وونې قدرتی ښاخونه یا د یو لوئې دریاب نه راوتونکی نهرونه دی، ددې ټولو سرچشمه هم یوه ده، اوپه دې کښې څه تضاد او حقیقی اختلاف نشته، افسوس دې چه زمونږ په درسګاهونو کښې تر اوسه پورې دا ولی اللّهی طریقه رواج نه شوه.حالانکه زمونږ ددې دور دپاره دا دالله تعالی یو خاص الخاص نعمت دې.

د کار په شروع کښې مې ددې په دریو جلدونو کښې د ترتیب کولو خیال وو خود طباعت د مصارفو اود مدرسو د طلباؤ دپاره ددې د اخستلو قوّت اود موجوده دَور د سختې ګرانئ په وجه مې دا اراده پریخوده.

د دویم جلد په تکمیل کښې دخپلو ټولو اکابرو، مشائخو اود علماء او فقهاؤ دکار احسان مند او شکر ګذار یم چه هغوی د مسائلو د استخراج او استنباط، حواله جاتو د تخریج او ترتیب او تسوید کښې خپلې مفیدې مشورې راکړې، بالخصوص خدامست درویش اود لویو اخلاقی صفاتو مظهر استاذی واستاذ العلماء حضرت العلامه مولانا محمد زمان صاحب حقانی مدّظله استاذِ اعلیٰ مدرسه عربی نجم المدارس کلاچی والا ډیر زیات احسان مند یم چه هغوی دخپلې علمی او تدریسی مشغلو او ټیمتی اوقاتو نه مستقلې لس ورځې ویستلې اود توضیح السّنن د دویم جلد په مضامینو باندې ئې نظرثانی اوفرمائیله اود اصلاح او تصحیح په سخت ترینو مرحلو کښې ئې د مؤلف همّت افزائی اوفرمائیله واجرهم علی الله

خپلو قارئینو ته یو درخواست داهم دې چه د مضامینو په جمع وترتیب، د حواله جاتو په نقل او اندراج اود کتابت په تصحیح (پروف ریډنګ) کښې مې دخپل طرفه کوتاهی نه ده کړې خوبیا هم سهو او نسیان انسان سره لازم دی اوخپله تجربه مې هم داده چه لس ځله د تصحیح باوجود هم دکتابت غلطئ بیا هم پاتې کیږی، امید دې چه قارئین به په دې سلسله کښې تسامح اود اطلاع په صورت کښې تعاون کوی چه په راروان ایډیشن کښې ددې ازاله اوکړې شی واجرهم علی الله

**عبدالقیّوم حقانی ـ ۲۶ـ ۲ـ ۱۴۱۶هـ**

# فهرست مضامین


| صفحه | مضمون | شمیره |
|---|---|---|
| ۴۱ | ﴿ پیش لفظ ﴾ | |
| ۴۴ | تاثرات او تبرکات | |
| ۵۳ | بَابُ التَّكْبِيْرِ لِلرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ وَالرَّفْعِ | |
| ۵۳ | د رکوع او سجدې نه د پاسیدو په وخت تکبیر (وئیل): | |
| ۵۵ | بیان مذاهب: | |
| ۵۵ | د منکرین عند الخفض دلائل او د هغې ځوابات: | |
| ۵۷ | د مثبتین تکبیر عند الخفض دلائل: | |
| ۵۸ | د امام طحاوی نظر: | |
| ۵۹ | بَابُ هَيْأَتِ الرُّكُوْعِ | |
| ۵۹ | د رکوع حالتونه: | |
| ۶۰ | بیان مذاهب: | |
| ۶۰ | د قائلین تطبیق دلائل: | |
| ۶۰ | د عدم تطبیق د قائلینو دلائل او وجوه د ترجیح: | |
| ۶۱ | خلاصه: | |
| ۶۱ | د امام طحاوی رحمه الله عقلی استدلال | |
| ۶۲ | د بَسطِ ظَهر مسئله: | |
| ۶۳ | بَابُ الْاِعْتِدَالِ وَالطَّمَانِيْنَةِ فِي الرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ | |
| ۶۳ | رکوع او سجده کښې اعتدال: | |
| ۶۴ | بیان مذاهب: | |
| ۶۴ | د قائلین فرضیت دلائل او د احنافو ځوابات | |
| ۶۷ | حدیث المسئ فی الصلوة: | |
| ۶۷ | د حدیث المسئ فی الصلوة نه د احنافو ځواب او استدلال: | |
| ۶۷ | د شیخ بنوری رحمه الله ارشاد | |
| ۶۷ | تعدیل لرکان د صحابه کرامو په نزد واجب ولې د یو اشکال ځواب | |

| شمیره | مضمون | صفحه |
| --- | --- | --- |
| | یو اصولی اختلاف : | ۶۸ |
| | ثمره د اختلاف : | ۶۸ |
| | د حدیث براء بن عازب تشریح : | ۶۸ |
| | د قَرِیبًا مِّنَ السَّوَآءِ مطلب : | ۶۹ |
| | په مانځه کښې سَرقه د مال د سَرقې نه زیات مذموم دي | ۶۹ |
| | د علی بن شیبان ﷺ د روایت تشریح | ۷۰ |
| | خپل شاته څیزونه لیدل د رسول الله ﷺ یو معجزه | ۷۰ |
| | یوه بله تحقیقی فائده : | ۷۱ |
| | بَابُ مَا يُقَالُ فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُوْدِ | ۷۲ |
| | په رکوع او سجدې کښې څه اووئیلې شی : | ۷۲ |
| | د رکوع او سجود تسبیحات : | ۷۳ |
| | د ابن مسعود ﷺ روایت | ۷۴ |
| | د تسبیح او تقدیس بعضې نور کلمات : | ۷۵ |
| | بیان مذاهب، دلائل او ترجیح د راجح : | ۷۵ |
| | د تسبیح درجه او بیان مذاهب : | ۷۵ |
| | تسبیح مسنون او بیان مذاهب : | ۷۵ |
| | د احنافو د مسلك وجوه ترجیح : | ۷۶ |
| | د امام طحاوی ﷫ عقلی استدلال | ۷۶ |
| | بَابُ مَا يَقُوْلُ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوْعِ | ۷۷ |
| | چه کله د رکوع نه سر اوچت کړی نو څۀ به وائی : | ۷۷ |
| | د حَمِدَهُ هاء لپاره د سکته یا کنایة ده او د دې حکم : | ۷۸ |
| | بیان مذاهب : | ۷۸ |
| | د امام ابوحنیفه ومن وافقه دلائل : | ۷۹ |
| | یو اعتراض او د هغې ځواب : | ۷۹ |
| | د امام ابوحنیفه ﷫ عقلی دلیل | ۸۰ |
| | د صاحبین ومن وافقهما دلائل او ځوابات او ترجیح د راجح : | ۸۰ |

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| | یو اعتراض او د هغې ځواب : | ۸۰ |
| | د ابوهریره رضی الله عنه په روایت باندې اعتراض او ځواب | ۸۱ |
| | د امام طحاوی رحمه الله عقلی استدلال | ۸۱ |
| | کلمات تحمید : | ۸۲ |
| | د منفرد لپاره د تسمیع او تحمید حکم : | ۸۲ |
| | د قومې نورې مسنون دعاګانې : | ۸۲ |
| | بَابُ وَضْعِ الْيَدَيْنِ قَبْلَ الرُّكْبَتَيْنِ عِنْدَ الْإِنْحِطَاطِ لِلسُّجُوْدِ | ۸۳ |
| | د سجدې لپاره د ښکته کیدو په وخت کښې د کوندو نه اول لاسونه کیخودل | ۸۳ |
| | بیان مذاهب : | ۸۴ |
| | د قائلین وَضْعُ الْيَدَيْنِ قَبْلَ الرُّكْبَتَيْنِ دلائل : | ۸۴ |
| | د حدیث ابوهریره رضی الله عنه په دواړه حصو کښې تعارض او ځواب | ۸۵ |
| | بَابُ وَضْعِ الرُّكْبَتَيْنِ قَبْلَ الْيَدَيْنِ عِنْدَ الْإِنْحِطَاطِ لِلسُّجُوْدِ | ۸۶ |
| | سجدې ته د ښکته کیدو په وخت د لاسونو نه مخکښې کوندې کیخودل: | ۸۶ |
| | د حدیث ابی هریره او حدیث وائل ترمنځه محاکمه : | ۸۷ |
| | نظر طحاوی | ۸۹ |
| | بَابُ هَيْئَاتِ السُّجُوْدِ | ۹۰ |
| | د سجود کیفیات : | ۹۰ |
| | په سجده کښې د طمانیت حکم : | ۹۱ |
| | اعضاء د سجدې : | ۹۱ |
| | د سجدې درې صورتونه دی : | ۹۱ |
| | بیان مذاهب : | ۹۲ |
| | د قائلین وَضْعُ الْأَنْفِ وَالْجَبْهَةِ د وجوب دلائل : | ۹۲ |
| | د قائلین اقتصار علی الجبهة دلائل : | ۹۳ |
| | د قائلین اقتصار علی الانف دلائل : | ۹۳ |
| | رجوع ابی حنیفة رحمه الله او قول مفتی بهِ | ۹۴ |
| | تحقیق او تطبیق : | ۹۴ |

| شميره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| | په سجده کښې د ويښتو او جامو د لرې کولو او راټولولو نه ممانعت : | ۹۴ |
| | په سجده کښې د څنګلو کيخودلو طريقه : | ۹۵ |
| | حکمت رفع مرافق : | ۹۵ |
| | بحينه : | ۹۵ |
| | په سجده کښې د لاسونو ايخودلو کيفيت، بيان دمذاهبو او دلائل : | ۹۶ |
| | تطبيق او توفيق : | ۹۶ |
| | د محقق ابن الهمام رائې : | ۹۶ |
| | په سجده کښې نورې مسنون دعاګانې : | ۹۷ |
| | بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْإِقْعَاءِ كَإِقْعَاءِ الْكَلْبِ | ۹۷ |
| | د سپي په شان ناسته کولو نه ممانعت : | ۹۷ |
| | بَـابُ الْجُلُوسِ عَلَى الْعَقِبَيْنِ بَيْنَ السَّجْدَتَـيْنِ | ۹۸ |
| | د دوه سجدو ترمينځه په پوندو باندې کيناستل : | ۹۸ |
| | د شوافعو استدلال او د جمهورو ځواب : | ۹۸ |
| | بَابُ افْتِرَاشِ الرِّجْلِ الْيُسْرٰى وَالْقُعُوْدِ عَلَيْهَا بَيْنَ السَّجْدَتَـيْنِ وَتَرْكِ الْجُلُوْسِ عَلَى الْعَقِبَيْنِ | ۹۹ |
| | ددوه سجدو مينځ کښې ګسه خپه خورولو څخه په هغې کيناستل او په پوندو نه کيناستل: | ۹۹ |
| | بَابُ مَا يُقَالُ بَيْنَ السَّجْدَتَـيْنِ | ۱۰۱ |
| | د دوه سجدو ترمينځه چه کومه دعا لوستلې شي : | ۱۰۱ |
| | د امام لپاره خبردارې : | ۱۰۱ |
| | د حديث الباب توضيح فقهي نقطه نظر څخه : | ۱۰۲ |
| | بَابٌ فِيْ جَلْسَةِ الْإِسْتِرَاحَةِ بَعْدَ السَّجْدَتَيْنِ فِي الرَّكْعَةِ الْأُوْلٰى وَالثَّالِثَةِ | ۱۰۲ |
| | په اول او دريم رکعت کښې د دوه سجدو نه پس جلسه استراحت : | ۱۰۲ |
| | د شيخ الحديث مولانا زکريا صاحب رحمه الله ارشاد | ۱۰۲ |
| | بيان مذاهب : | ۱۰۳ |
| | د امام ابن عبدالبر توضيح مذاهب : | ۱۰۴ |
| | د امام شافعي رحمه الله دلائل او د جمهورو ځوابات : | ۱۰۴ |
| | بَابٌ فِيْ تَرْكِ جَلْسَةِ الْإِسْتِرَاحَةِ | ۱۰۶ |

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| | جلسه استراحت نه کول........................ | ۱۰۷ |
| | د جمهورو دلائل او وجوه ترجيح :........................ | ۱۰۸ |
| | د خالد بن اياس تضعيف او د جمهورو ځواب :........................ | ۱۰۹ |
| | عقلي استدلال :........................ | ۱۱۰ |
| | بَابُ افْتِتَاحِ الثَّانِيَةِ بِالْقِرَآءَةِ........................ | ۱۱۱ |
| | دويم رکعت د قرأت نه شروع کول........................ | ۱۱۱ |
| | بَابُ مَا جَآءَ فِي التَّوَرُّكِ........................ | ۱۱۲ |
| | کوم روايات چه د تورک په باره کښې راغلي دي :........................ | ۱۱۲ |
| | کيفيات د جلوس او تعدّد جلسات :........................ | ۱۱۲ |
| | د تربع، اضجاع قدمين او اقعام حکم :........................ | ۱۱۳ |
| | په تورک او افتراش کښې بيان مذاهب........................ | ۱۱۳ |
| | د تورک درې صورتونه :........................ | ۱۱۴ |
| | د قائلين تورک دلائل او ځوابات :........................ | ۱۱۴ |
| | بَابُ مَا جَآءَ فِي عَدَمِ التَّوَرُّكِ........................ | ۱۱۵ |
| | د تورک نه کولو په باره کښې چه کوم روايات راغلي دي :........................ | ۱۱۵ |
| | بَابُ مَا جَآءَ فِي التَّشَهُّدِ........................ | ۱۱۷ |
| | کوم روايات چه د تشهد په باره کښې راغلي دي :........................ | ۱۱۷ |
| | د مالکيانو مختار تشهد، وجه د ترجيح او ځواب :........................ | ۱۱۹ |
| | د شوافعو مختار تشهد او وجه د ترجيح او ځواب........................ | ۱۱۹ |
| | د احنافو مختار تشهد د ابن مسعود رضي الله عنه وجوه د ترجيح :........................ | ۱۲۰ |
| | د صاحب هداية وجوه دترجيح :........................ | ۱۲۱ |
| | علمي لطيفه :........................ | ۱۲۱ |
| | د التحيات شان ورود :........................ | ۱۲۳ |
| | د التحيات لوستلو په وخت د الله پاک په دربار کښې حاضري :........................ | ۱۲۳ |
| | د التحيات لغوي تحقيق او مفهوم........................ | ۱۲۴ |
| | په تحيات کښې انتقالات ثلاثه او د غيب نه خطاب طرف ته په عدول کښې حکمت :........................ | ۱۲۴ |

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| | په تشهد کښې د صیغه خطاب سنیت او حکمت او وجوه د ترجیح : | ۱۲۵ |
| | رسول الله ﷺ په صیغه دخطاب اود موهم شرک الفاظ استعمالولو نه دځان ساتلو ضرورت : | ۱۲۶ |
| | د اخفاء تشهد مسئله : | ۱۲۷ |
| | بَابُ الْإِشَارَةِ بِالسَّبَابَةِ | ۱۲۸ |
| | د شهادت په ګوته څخه اشاره کول | ۱۲۸ |
| | احادیث اشاره بالسّبابة : | ۱۲۹ |
| | اشارة بالسّبابة مسنون ده | ۱۲۹ |
| | خلاصه کیدانی او مجدّد الف ثانی ته ځواب : | ۱۳۰ |
| | د اضطراب فی المتن حقیقت : | ۱۳۱ |
| | په هیئت کښې اختلاف دلیل د اضطراب نه دې : | ۱۳۱ |
| | د درې پنځوس د عقد صورت | ۱۳۱ |
| | بَابٌ فِي الصَّلٰوةِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ | ۱۳۲ |
| | په رسول الله ﷺ باندې درود : | ۱۳۲ |
| | د پوښتنې مقصد : | ۱۳۴ |
| | په مانځه کښې د درود شریف موقع او د هغې حکمت : | ۱۳۵ |
| | بیان مذاهب : | ۱۳۵ |
| | خارج الصلوة د درود شریف حکم : | ۱۳۶ |
| | د مروّجه صلوة وسلام، عقیده د حاضر ناظر او د محفل درود شرعی حکم : | ۱۳۷ |
| | په درود کښې قیام ضروری ګنړل بدعت دې : | ۱۳۸ |
| | په مساجدو کښې جهراً درود وئیل هم بدعت دې : | ۱۳۸ |
| | په درود او سلام څخه د شرک جرړې پرې کیږی : | ۱۳۹ |
| | هغه درود په کوم چه مانځهٔ کښې ډیر عمل کولې شی : | ۱۳۹ |
| | بَابُ مَا جَآءَ فِي التَّسْلِيْمِ | ۱۴۰ |
| | کوم روایات چه د سلام د اړولو په باره کښې دی : | ۱۴۰ |
| | تعداد د سلام او بیان مذاهب : | ۱۴۱ |
| | د سلام واحد د قائلینو استدلال او ځواب : | ۱۴۱ |

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| | د جمهورو استدلال : | ۱۴۲ |
| | د تسلیمتین حکمت : | ۱۴۲ |
| | د دویم سلام حکم : | ۱۴۲ |
| | بَابُ الْإِنْحِرَافِ بَعْدَ السَّلَامِ | ۱۴۲ |
| | د سلام نه پس (مقتدیانو ته) رامخ کول : | ۱۴۲ |
| | بَابٌ فِي الذِّكْرِ بَعْدَ الصَّلٰوةِ | ۱۴۴ |
| | د مانځه نه پس ذکر : | ۱۴۴ |
| | د مانځه نه پس د اوراد او وظائفو لپاره موزون وختونه: | ۱۴۷ |
| | د مانځه نه پس په دعاګانو کښې ترتیب : | ۱۴۷ |
| | د سنتو نه پس د مسنون ذکر او دعا هم هغه ثواب دې کوم چه د فرض نه پس وی : | ۱۴۸ |
| | د احادیث الباب تشریح : | ۱۴۸ |
| | د مانځه نه پس د رسول الله ﷺ قعود : | ۱۴۹ |
| | د شاه ولی الله محدث دهلوی تحقیق او تطبیق : | ۱۴۹ |
| | په ګوتو د کهجورو په هډوکو او په مروجه تسبیح باندې د لوستلو حکم : | ۱۵۰ |
| | د قیامت په ورځ به په لویه پیمانه اجر ملاویږی : | ۱۵۱ |
| | د دخول جنت نه د مرګ د مانعیت مطلب : | ۱۵۱ |
| | بَابُ مَا جَآءَ فِي الدُّعَآءِ بَعْدَ الْمَكْتُوْبَةِ | ۱۵۲ |
| | کوم روایتونه چه د فرض مانځه نه پس د دعا په باره کښې دی : | ۱۵۲ |
| | د سلام اړولو نه پس مقتدی له د امام په اقتداء کښې دعا کول ضروری دی یا نه؟ | ۱۵۲ |
| | بَابُ رَفْعِ الْيَدَيْنِ فِي الدُّعَآءِ | ۱۵۳ |
| | په دعا کښې لاسونه اوچتول : | ۱۵۳ |
| | د لاسونو اوچتول کله د سنت خلاف دی؟ : | ۱۵۴ |
| | بَابٌ فِي صَلٰوةِ الْجَمَاعَةِ | ۱۵۵ |
| | د جماعت د مانځه په باره کښې : | ۱۵۵ |
| | بیان مذاهب : | ۱۵۸ |
| | د قائلین فرضیت عین دلائل : | ۱۵۸ |

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| | د قائلین فرضیت عین د دلائلو نه ځوابات : | ۱۵۸ |
| | د ضرورت د وجې نه امام تلې شی | ۱۵۹ |
| | په احراق بالنار باندې اشکال او د هغې ځواب : | ۱۵۹ |
| | وجوب او سنت موکدة : | ۱۶۰ |
| | سیدنا عتبان رضي الله عنه (نابینا) ته د جماعت د پریخودلو اجازت او عبدالله بن ام مکتوم رضي الله عنه (نابینا) ته د جماعت نه پریخودلو تاکید ولې؟ | ۱۶۰ |
| | د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د روایت مضمون : | ۱۶۰ |
| | د رسول الله ﷺ د افعالو دوه قسمونه : | ۱۶۱ |
| | د ابن مسعود رضي الله عنه مشارٌ الیه : | ۱۶۱ |
| | د منافق نه مراد څوک دي ؟ | ۱۶۲ |
| | د علامه عینی رحمه الله استدلال : | ۱۶۲ |
| | په درجات د افضلیت کښې تفاوت او رفع دتعارض : | ۱۶۲ |
| | د مونځ په خواص او اثرات کښې تفاوت : | ۱۶۲ |
| | د اوویشت د عدد په تخصیص کښې علمی نکته : | ۱۶۳ |
| | په متعارض روایاتو کښې تطبیق او توفیق : | ۱۶۳ |
| | د جماعت فضیلت د مسجد څخه خاص نه دې : | ۱۶۴ |
| | د جماعت لپاره کثرت تعداد ضروری نه دې : | ۱۶۴ |
| | د جماعت حکمتونه او فوائد : | ۱۶۴ |
| | بَابُ تَرْكِ الْجَمَاعَةِ لِعُذْرٍ | ۱۶۶ |
| | د عذر د وجې نه د جماعت پریخودل : | ۱۶۶ |
| | د نافع رحمه الله د روایت تشریح : | ۱۶۷ |
| | د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روایت او د معمول توضیح : | ۱۶۷ |
| | په شریعت کښې د انسانی مشکلاتو او فطری تقاضو لحاظ : | ۱۶۸ |
| | د جمهورو په نزد د فَلَاصَلٰوةَ مطلب : | ۱۶۹ |
| | د ترک جماعت عذرونه : | ۱۶۹ |
| | د علامه انور شاه کشمیری رحمه الله یوه علمی توجیه : | ۱۷۰ |

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| | بَـابُ تَسْوِيَةِ الصُّفُوْفِ | ۱۷۱ |
| | صفونه نیغول : | ۱۷۱ |
| | بیان مذاهب : | ۱۷۲ |
| | د جمهورو مستدل : | ۱۷۳ |
| | د ابن حزم الظاهری رحمه الله استدلال او د جمهورو ځواب : | ۱۷۳ |
| | د مخالفت د توجیه وجوه: | ۱۷۳ |
| | امت محمدیه او د مسخ مسئله : | ۱۷۳ |
| | د انس بن مالک رضی الله عنه د روایت تشریح : | ۱۷۴ |
| | د ابو مسعود رضی الله عنه د حدیث تشریح : | ۱۷۴ |
| | د اوږو د نرمیدلو مراد : | ۱۷۴ |
| | د باب د آخری دوه روایتونو تشریح : | ۱۷۵ |
| | تسوية الصفوف د امام ذمه داری ده : | ۱۷۵ |
| | د صفونو ترتیب : | ۱۷۶ |
| | بَابُ إِتْمَامِ الصَّفِّ الْأَوَّلِ | ۱۷۶ |
| | رومبنۍ صف پوره کول : | ۱۷۶ |
| | د رومبنی صف تکمیل او فضیلت : | ۱۷۶ |
| | بَابُ مَوْقِفِ الْإِمَامِ وَالْمَأْمُوْمِ | ۱۷۷ |
| | د امام او مقتدی لپاره د اودریدلو ځائې : | ۱۷۷ |
| | بیان مذاهب (چه کله مقتدی یو وی) : | ۱۷۸ |
| | د شیخینو دلیل او وجه د ترجیح : | ۱۷۹ |
| | د حدیث ابن عباس رضی الله عنهما په مختلفو الفاظو کښې تطبیق : | ۱۷۹ |
| | د حدیث ابن عباس رضی الله عنهما نه د بعض مسائلو استنباط : | ۱۷۹ |
| | بیان مذاهب (چه کله مقتدی د یو نه زیات وی) : | ۱۸۰ |
| | د امام ابو یوسف رحمه الله دلائل : | ۱۸۰ |
| | د امام ابو یوسف رحمه الله د استدلال نه د جمهورو ځواب : | ۱۸۰ |
| | د ابن مسعود رضی الله عنه د لا علمئ د وجې نه په هغوی باندې اعتماد نه مجروح کیږی : | ۱۸۲ |

| شميره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| | د جمهور او طرفينو استدلال : | ۱۸۲ |
| | د حديث د بعضې الفاظو تحقيق : | ۱۸۲ |
| | په نوافلو کښې د جماعت مسئله : | ۱۸۳ |
| | په صف جوړولو کښې د ترتيب حکمتونه : | ۱۸۳ |
| | بَـابُ قِيَامِ الْإِمَامِ بَيْنَ الْإِثْنَيْنِ | ۱۸۴ |
| | د امام د دوه سړو ترمينځهٔ مونځ کول : | ۱۸۴ |
| | بَـابُ مَنْ اَحَقُّ بِالْإِمَامَةِ | ۱۸۵ |
| | د امامت زيات حقدار څوک دې ؟ : | ۱۸۵ |
| | بيان مذاهب : | ۱۸۷ |
| | د امام احمد او ابويوسف رحمهما الله دليل : | ۱۸۷ |
| | د امام صاحب وَمَن وَافقه د حديث الباب نه ځواب او دلائل : | ۱۸۷ |
| | په حديث کښې د أقرأ په أعلم باندې وجه د ترجيح : | ۱۸۸ |
| | د حديث د بعضې الفاظو تشريح : | ۱۸۹ |
| | ورع او تقوىٰ : | ۱۹۰ |
| | چرته چه امام مقرّر وى نو بل ته بغير د اجازت نه د امامت حق نشته : | ۱۹۰ |
| | د إِلَّا بِإِذْنِهِ د استثناء حکم : | ۱۹۰ |
| | بَـابُ إِمَامَةِ النِّسَآءِ | ۱۹۱ |
| | د زنانو امامت : | ۱۹۱ |
| | د قائلين مکروه تحريمى دلائل : | ۱۹۲ |
| | قائلين د کراهت تنزيهى : | ۱۹۲ |
| | قصه د شهيده | ۱۹۲ |
| | امامت د عائشې رضي الله عنها او د فريقينو موقف : | ۱۹۳ |
| | د اصول فقه يو قاعده : | ۱۹۴ |
| | فيصله کُن قَول : | ۱۹۴ |
| | بَابُ إِمَامَةِ الْأَعْمٰى | ۱۹۵ |
| | د ړوند سړى امامت : | ۱۹۵ |

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| | بَابُ إِمَامَةِ الْعَبْدِ | ۱۹۶ |
| | د غلام امامت : | ۱۹۶ |
| | د جاهل ناپوهه لطیفه : | ۱۹۷ |
| | بَابُ مَا جَاءَ فِي إِمَامَةِ الْجَالِسِ | ۱۹۷ |
| | کوم روایات چه د کیناستونکی د امامت په باره کښې دی : | ۱۹۸ |
| | بیان مذاهب : | ۲۰۰ |
| | د امام احمد وَمَن وَافقه دلائل : | ۲۰۱ |
| | د امام احمد رحمه الله د مستدل نه د جمهورو ځواب : | ۲۰۱ |
| | د جمهورو دلائل : | ۲۰۲ |
| | په حدیث د عائشه رضي الله عنها باندې د اضطراب اعتراض او د هغې تفصیلی ځواب : | ۲۰۲ |
| | د ابوبکر صدیق رضي الله عنه د استحقاق خلافت اشاره : | ۲۰۳ |
| | د رجلین مصداق : | ۲۰۳ |
| | د اقتداء ابو بکر نه مراد : | ۲۰۴ |
| | آیا د مانځه په دوران کښې په امامت کښې تغیر جائز دې ؟ | ۲۰۴ |
| | د جمهورو استدلال د آیت قرآنی نه : | ۲۰۴ |
| | د حدیث عائشه رضي الله عنها نه علاوه د نورو احادیثو نه د جمهورو استدلال : | ۲۰۵ |
| | بَابُ صَلٰوةِ الْمُفْتَرِضِ خَلْفَ الْمُتَنَفِّلِ | ۲۰۵ |
| | د فرض مونځ کونکی مونځ په نفل مونځ کونکی پسې : | ۲۰۵ |
| | بیان مذاهب : | ۲۰۵ |
| | د امام شافعی وَمَن وَافقه دلائل : | ۲۰۶ |
| | د حدیث معاذ رضي الله عنه ځواب : | ۲۰۶ |
| | د مجوّزین د طرف نه د یو اشکال ځواب : | ۲۰۶ |
| | د علماء احناف وَمَن وَافقهُم دلائل : | ۲۰۷ |
| | په عقلی استدلال باندې درې اشکالات او د هغې ځوابات : | ۲۰۸ |
| | د ابن العربی توجیه : | ۲۱۰ |
| | د بعض فقهاء احناف یو بله توجیه | ۲۱۰ |

| صفحه | مضمون | شمیره |
|---|---|---|
| ۲۱۰ | د جمهورو نقلي دلائل: | |
| ۲۱۱ | بَابُ صَلٰوةِ الْمُتَوَضِّئِ خَلْفَ الْمُتَيَمِّمِ | |
| ۲۱۱ | د اودس کونکي مونځ په تیمّم کونکي پسې: | |
| ۲۱۱ | بیان مذاهب: | |
| ۲۱۱ | د شیخینو مستدل او وجوه د ترجیح: | |
| ۲۱۲ | تیمّم طهارت مطلقه دې یا ضروریه: | |
| ۲۱۳ | بَابُ مَا اسْتُدِلَّ بِهٖ عَلٰى كَرَاهَةِ تَكْرَارِ الْجَمَاعَةِ فِيْ مَسْجِدٍ | |
| ۲۱۳ | په مسجد کښې دوباره دجماعت په مکروه کیدو چه د کوم روایت نه استدلال کړې شوې دې: | |
| ۲۱۳ | بیان مذاهب: | |
| ۲۱۳ | د کراهت تحریمي د قائلینو دلائل: | |
| ۲۱۴ | بَابُ مَا جَآءَ فِيْ جَوَازِ تَكْرَارِ الْجَمَاعَةِ فِيْ مَسْجِدٍ | |
| ۲۱۴ | په مسجد کښې دوباره د جماعت په جواز کښې چه کوم روایات دی: | |
| ۲۱۵ | د تکرار الجماعة فی المسجد د جواز د قائلینو دلائل: | |
| ۲۱۵ | د جواز د قائلینو د دلائلو نه د جمهورو ځوابات: | |
| ۲۱۶ | د بعض الفاظ حدیث تشریح: | |
| ۲۱۷ | بَابُ صَلٰوةِ الْمُنْفَرِدِ خَلْفَ الصَّفِّ | |
| ۲۱۷ | د صف نه شاته د ځانله انسان مونځ: | |
| ۲۱۸ | بیان مذاهب: | |
| ۲۱۸ | د امام احمد وَمَن وَافَقَه دلائل: | |
| ۲۱۹ | د امام احمد د استدلال نه د جمهورو ځوابات: | |
| ۲۱۹ | د جمهورو دلائل: | |
| ۲۲۰ | د جمهورو د مسلك وجوهِ ترجیح: | |
| ۲۲۰ | د لَاتَعُد دوه معاني: | |
| ۲۲۱ | [اَبْوَابُ مَا لَا يَجُوْزُ فِي الصَّلٰوةِ وَمَا يُبَاحُ فِيْهَا] | |
| ۲۲۱ | بَابُ النَّهْيِ عَنْ تَسْوِيَةِ التُّرَابِ وَمَسْحِ الْحِصٰى فِي الصَّلٰوةِ | |
| ۲۲۱ | کوم ځیزونهِ چه په مانځه کښې جائز دی او کوم ناجائز دی | |

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| | په مانځه کښې د خاورو د برابر کولو او د کانړو د مس کولو ممانعت: | ۲۲۱ |
| | بَـابٌ فِي النَّهْيِ عَنِ التَّخَصُّرِ | ۲۲۲ |
| | په دوړو باندې د لاس کېخودلو ممانعت : | ۲۲۲ |
| | د روایت تخصر مختلف الفاظ : | ۲۲۲ |
| | د تخصّر او اختصار معاني : | ۲۲۳ |
| | بیان مذاهب او فقهی احکام : | ۲۲۳ |
| | د تخصّر نه د ممانعت حکمتونه | ۲۲۴ |
| | د تخصّر معاشرتی حیثیت : | ۲۲۴ |
| | بَـابٌ فِي النَّهْيِ عَنِ الْإِلْتِفَاتِ فِي الصَّلٰوةِ | ۲۲۵ |
| | په مانځه کښې ښی او ګس طرف ته د سټ اړولو ممانعت : | ۲۲۵ |
| | د التفات فی الصلوة متعلق نور احادیث : | ۲۲۵ |
| | د التفات څو صورتونه : | ۲۲۶ |
| | د حدیث عائشه په باره کښې د علامه انور شاه کشمیری رحمه الله ارشاد : | ۲۲۶ |
| | بَابٌ فِيْ قَتْلِ الْاَسْوَدَيْنِ فِي الصَّلٰوةِ | ۲۲۷ |
| | په مانځه کښې مار لړم وژل : | ۲۲۷ |
| | په مانځه کښې د مار لړم د وژلو حکم : | ۲۲۷ |
| | دا حکم د ټولو مارانو قسمونو ته شامل دې : | ۲۲۷ |
| | فائده : | ۲۲۸ |
| | بَـابٌ فِي النَّهْيِ عَنِ السَّدْلِ | ۲۲۸ |
| | په مانځه کښې د سدل ممانعت : | ۲۲۸ |
| | د سدل تفسیرونه : | ۲۲۸ |
| | د ممانعت وجوه : | ۲۲۹ |
| | بیان مذاهب : | ۲۲۹ |
| | نور وضاحت : | ۲۲۹ |
| | بَـابٌ مَنْ يُصَلِّيْ وَرَأْسُـهٗ مَعْقُوْصٌ | ۲۳۰ |
| | کوم سړې چه مونځ اوکړی او د هغه سر غونډارې شوې وی | ۲۳۰ |

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| | بَابُ التَّسْبِيحِ وَالتَّصْفِيقِ | ۲۳۱ |
| | تسبیح وئیل او پړق وهل (د ګس لاس تلې په نبی لاس وهل) | ۲۳۱ |
| | بیان د مذاهبو : | ۲۳۲ |
| | د سهل بن سعد الساعدی رضی الله عنه د روایت نور وضاحت : | ۲۳۳ |
| | چه امام راتب راشی او جماعت ولاړ وی : | ۲۳۳ |
| | یو اشکال : | ۲۳۳ |
| | ادب اولی دې یا امتثال د امر : | ۲۳۴ |
| | چه کله امام د قراءت نه عاجز شی : | ۲۳۴ |
| | بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْكَلَامِ فِي الصَّلٰوةِ | ۲۳۵ |
| | په مانځهٔ کښې د خبرو کولو نه ممانعت : | ۲۳۵ |
| | بیان مذاهب : | ۲۳۷ |
| | د ائمة ثلاثه دلائل : | ۲۳۸ |
| | د واقعه ذوالیدین نه د ائمة ثلاثه بیل بیل وجوه استدلال : | ۲۳۸ |
| | د جمهور احنافو دلائل : | ۲۳۸ |
| | د ابن مسعود رضی الله عنه د حدیث وضاحت : | ۲۳۹ |
| | د امام طحاوی رحمه الله عقلی استدلال : | ۲۴۰ |
| | د امام طحاوی رحمه الله یو بل استدلال : | ۲۴۱ |
| | بَابُ مَا اسْتُدِلَّ بِهِ عَلٰى أَنَّ كَلَامَ السَّاهِيْ وَكَلَامَ مَنْ ظَنَّ التَّمَامَ لَا يُبْطِلُ الصَّلٰوةَ | ۲۴۱ |
| | دهغه احادیثو باره کښې د کومو نه چه استدلال کړې شوې دې چه په هیره کلام کونکې او د داسې سړی کلام چه خیال اوکړی چه مونځ ئې پوره شوې دې، مونځ نه باطل کوی. | ۲۴۲ |
| | سیدنا ذوالیدین : | ۲۴۳ |
| | د شوافعو اعتراضات او د احنافو ځوابات : | ۲۴۳ |
| | د ابن مسعود رضی الله عنه د حبشې د هجرت تحقیق او استدلال : | ۲۴۳ |
| | د ابوهریره رضی الله عنه د قبول اسلام د اعتراض حقیقت او تحقیقی ځواب : | ۲۴۴ |
| | د ابوهریره رضی الله عنه د روایت د بعضې صیغو تحقیق : | ۲۴۵ |
| | د ابوهریره رضی الله عنه د الفاظو ﴿بَيْنَا أَنَا أُصَلِّيْ﴾ متعلق د محدث کشمیری توجیهات : | ۲۴۶ |

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| | د عمر رضي الله عنه عمل : | ۲۴۷ |
| | وجوه د اضطراب : | ۲۴۷ |
| | واقعه ذواليدين عمل كثير دې : | ۲۴۸ |
| | بَابُ مَا اسْتُدِلَّ بِهٖ عَلٰى جَوَازِ رَدِّ السَّلَامِ بِالْإِشَارَةِ فِي الصَّلٰوةِ | ۲۴۹ |
| | په كومو رواياتو چه په مانځه كښې د سلام ځواب وركولو باندې استدلال كړې شوې دې | ۲۴۹ |
| | بيان مذاهب : | ۲۵۱ |
| | د قائلين جواز دلائل : | ۲۵۱ |
| | بَابُ مَا اسْتُدِلَّ بِهٖ عَلٰى نَسْخِ رَدِّ السَّلَامِ بِالْإِشَارَةِ فِي الصَّلٰوةِ | ۲۵۲ |
| | د كومو رواياتو نه چه په اشارې څخه د سلام د ځواب وركولو كښې په نسخ باندې استدلال كړې شوې دې | ۲۵۲ |
| | د قائلين كراهت دلائل : | ۲۵۲ |
| | د قائلين جواز د استدلال نه ځواب: | ۲۵۳ |
| | د شيخ حلواني او امام محمد اقوال : | ۲۵۳ |
| | اشاره مفسد صلوة ولې نه ده؟ | ۲۵۴ |
| | اشاره فى الصلوة مكروه ولې ده ؟ | ۲۵۴ |
| | مكروهات سلام باندې د علامه صدرالدّين اشعار: | ۲۵۵ |
| | بَابُ الْفَتْحِ عَلَى الْإِمَامِ | ۲۵۵ |
| | امام ته لقمه (فتح) وركول : | ۲۵۵ |
| | بيان مذاهب : | ۲۵۶ |
| | د قائلينو دلائل : | ۲۵۶ |
| | د قائلين كراهت دلائل او ځوابات : | ۲۵۶ |
| | بَابُ فِي الْحَدَثِ فِي الصَّلٰوةِ | ۲۵۷ |
| | په مانځه كښې بې اودسه كيدل : | ۲۵۷ |
| | مسئلة البناء : | ۲۵۸ |
| | بيان مذاهب : | ۲۵۹ |
| | د شوافع دلائل او ځوابات : | ۲۵۹ |

| صفحه | مضمون | شمیره |
|---|---|---|
| ۲۲۰ | د شوافع عقلی دلائل او ځوابات : | |
| ۲۲۱ | د احنافو دلائل : | |
| ۲۲۱ | د حدیث عائشه رضي الله عنها نور بحث : | |
| ۲۲۲ | بَـابٌ فِي الحَقْن | |
| ۲۲۲ | په مانځه کښې د بَول و براز د بندولو باره کښې : | |
| ۲۲۴ | بَابٌ فِي الصَّلٰوةِ بِحَضْرَةِ الطَّعَامِ | |
| ۲۲۴ | د خوراک په موجودګئ کښې مونځ : | |
| ۲۲۵ | د ترک جماعت په اعذارو باندې د ابن عابدین شامی اشعار : | |
| ۲۲۵ | د احادیث الباب د « لاتؤخروا الصّلٰوة لطعام » څخه تعارض او د هغې ځوابات : | |
| ۲۲۷ | بَـابُ مَا عَلَى الإمَامِ؟ | |
| ۲۲۷ | په امام باندې څه لازم دي ؟ : | |
| ۲۲۸ | د مقتدیانو د رعایت هدایت : | |
| ۲۲۸ | د احادیث الباب تشریح : | |
| ۲۲۹ | د حدیث انس رضي الله عنه نه د بعض فقهی مسائلو استنباط : | |
| ۲۷۰ | د حدیث ابن عمر رضي الله عنهما د دواړو اجزاء په ظاهر کښې د تعارض حل : | |
| ۲۷۰ | بَـابُ مَا عَلَى المَأمُومِ مِنَ المُتَابَعَةِ | |
| ۲۷۰ | په مقتدی باندې (په مانځه کښې د امام) څومره تابعداری ضروری ده : | |
| ۲۷۱ | د مقتدی لپاره د امام متابعت : | |
| ۲۷۱ | د احادیث الباب تشریح : | |
| ۲۷۲ | په ترجمة الباب کښې د امام بخاری رحمه الله صنیع : | |
| ۲۷۲ | په روایت د سیدنا ابوهریره رضي الله عنه کښې د حرف "او" مصداق : | |
| ۲۷۲ | په امت محمدیه صلى الله عليه وسلم کښې د صورت د مسخ مسئله : | |
| ۲۷۲ | د مسخ صورت یو عبرتناک مثال : | |
| ۲۷۳ | تشریح : | |
| ۲۷۴ | د هُوَ د ضمیر مَرجع ؟ : | |
| ۲۷۴ | د لفظ کذوب تحقیق : | |

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| | [اَبْوَابُ صَلٰوةِ الْوِتْرِ] | ۲۷۵ |
| | بَابُ مَا اسْتُدِلَّ بِهٖ عَلٰی وُجُوْبِ صَلٰوةِ الْوِتْرِ | ۲۷۵ |
| | د کومو روایتونو نه چه د وتر مونځ په واجب کیدو باندې استدلال کړې شوې دې | ۲۷۵ |
| | د وتر څخه متعلق د اهم مباحثو خلاصه : | ۲۷۷ |
| | د صلوة وتر شرعی حیثیت څخه متعلق بیان مذاهب : | ۲۷۷ |
| | د قائلین وجوب دلائل : | ۲۷۸ |
| | د حضرت بریده رضي الله عنه په روایت باندې د اعتراضاتو ځوابات : | ۲۷۹ |
| | «زادکم صلوة » نه وجوه استدلال : | ۲۸۰ |
| | د نواب صدیق حسن خان رحمه الله اعتراف : | ۲۸۰ |
| | د وتر په سنیت باندې د ائمة ثلاثه دلائل او د احنافو ځوابات : | ۲۸۰ |
| | موقف انصاف و اعتدال : | ۲۸۱ |
| | بَابُ الْوِتْرِ بِخَمْسٍ اَوْ اَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ | ۲۸۱ |
| | د وتر پنځه رکعتونه دی یا که د هغې نه زیات : | ۲۸۲ |
| | د روایات ایتار تحقیق : | ۲۸۵ |
| | د ایتار په رکعتونو کښې د علامه عثمانی تطبیق : | ۲۸۵ |
| | په بیان د رکعاتو کښې د صحابه کرامو رضي الله عنهم طریقه کار : | ۲۸۶ |
| | اوتر بثلاث والا روایات په خپل حقیقت باندې محمول دې : | ۲۸۶ |
| | د احادیث باب تخریج : | ۲۸۷ |
| | د درې رکعته وتر نه د نهی په روایاتو باندې د امام نیموی رحمه الله توجیه : | ۲۸۷ |
| | د وتر د رکعاتو تعداد او بیان د مذاهبو : | ۲۸۸ |
| | د ائمة ثلاثه دلائل او د احنافو ځوابات : | ۲۸۹ |
| | په حدیث عائشه رضي الله عنها کښې د لا یجلس نه مرا د : | ۲۸۹ |
| | د علامه عثمانی د توجیه نور وضاحت : | ۲۹۰ |
| | د.سعد بن هشام رحمه الله د روایت عن عائشة رضي الله عنها نه د احنافو ځوابات : | ۲۹۰ |
| | بَابُ الْوِتْرِ بِرَكْعَةٍ | ۲۹۲ |
| | یو رکعت وتر : | ۲۹۲ |

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| | د یو رکعت د قائلینو دلائل او د احنافو ځوابات : | ۲۹۵ |
| | په نسخ د تخییر باندې اجماع : | ۲۹۷ |
| | د ابن عمر رضی الله عنهما مشاهده و عمل او د احنافو توجیهات : | ۲۹۷ |
| | د معاویه رضی الله عنه د عمل نه د احنافو توجیه : | ۲۹۸ |
| | په وسعت امر باندې د مولانا محمد زکریا تقریر : | ۲۹۸ |
| | بَابُ الْوِتْرِ بِثَلَاثِ رَكْعَاتٍ | ۲۹۹ |
| | درې رکعته وتر | ۲۹۹ |
| | د احنافو دلائل : | ۳۰۴ |
| | بَابُ مَنْ قَالَ: ''إِنَّ الْوِتْرَ بِثَلَاثٍ إِنَّمَا يُصَلِّي بِتَشَهُّدٍ وَاحِدٍ'' | ۳۰۲ |
| | څوک چه وائی چه د وتر درې رکعتونه دی خو هغه دې په یو تشهد څخه اوکړې شی : | ۳۰۲ |
| | بیان مذاهب : | ۳۰۷ |
| | د امام شافعی رحمه الله دلائل او د جمهورو ځوابات : | ۳۰۷ |
| | د یو سلام په باره کښې د احنافو دلائل : | ۳۰۸ |
| | په وترو کښې د دوه تشهدو متعلق د ثبوت طریق : | ۳۰۹ |
| | طریق : | ۳۰۹ |
| | د امام طحاوی رحمه الله عقلی استدلال : | ۳۰۹ |
| | بَابُ الْقُنُوتِ فِي الْوِتْرِ | ۳۱۱ |
| | په وترو کښې قنوت : | ۳۱۱ |
| | د قنوت لغوی معانې : | ۳۱۱ |
| | د دعاء قنوت حکم او بیان مذاهب : | ۳۱۱ |
| | (فائده) | ۳۱۲ |
| | په توقیت قنوت کښې بیان مذاهب : | ۳۱۲ |
| | د احنافو د دلائلو او مسلک وجوه د ترجیح : | ۳۱۳ |
| | بَابُ قُنُوتِ الْوِتْرِ قَبْلَ الرُّكُوعِ | ۳۱۳ |
| | د رکوع نه مخکښې د وتر قنوت : | ۳۱۳ |
| | بیان مذاهب : | ۳۱۵ |

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| | د شوافع دلائل او د احنافو ځوابات | ۳۱۵ |
| | د احنافو دلائل | ۳۱۶ |
| | د اویا قاریانو د شهادت واقعه | ۳۱۶ |
| | بَابُ رَفْعِ الْيَدَيْنِ عِنْدَ قُنُوْتِ الْوِتْرِ | ۳۱۸ |
| | د قنوت وتر په وخت لاسونه اوچتول | ۳۱۸ |
| | بَـابُ الْقُنُوْتِ فِيْ صَلٰوةِ الصُّبْحِ | ۳۱۹ |
| | د سحر په مانځۀ کښې قنوت | ۳۱۹ |
| | د قنوت په نفس ثبوت باندې اجماع | ۳۲۰ |
| | بیان مذاهب | ۳۲۰ |
| | د شوافعو دلائل او د هغې تجزیه | ۳۲۰ |
| | د نور احادیث الباب تخریج او ځواب | ۳۲۱ |
| | بَـابُ تَرْكِ الْقُنُوْتِ فِيْ صَلٰوةِ الْفَجْرِ | ۳۲۲ |
| | د سحر په مانځۀ کښې د قنوت نه لوستل | ۳۲۲ |
| | د احادیث الباب تخریج | ۳۲۷ |
| | د ابوهریره رضی الله عنه د روایت تشریح | ۳۲۷ |
| | بَـابُ لَا وِتْرَانِ فِيْ لَـيْلَةٍ | ۳۲۹ |
| | په یوه شپه کښې دوه کرّته وتر نشته | ۳۲۹ |
| | بیان مذاهب | ۳۳۰ |
| | د ائمه اربعه او جمهورو دلائل | ۳۳۱ |
| | د اسحاق بن راهویه دلائل او د جمهورو ځوابات | ۳۳۱ |
| | بَـابُ الرَّكْعَتَـيْنِ بَعْدَ الْوِتْرِ | ۳۳۲ |
| | د وترو نه روسته دوه رکعتونه | ۳۳۲ |
| | بیان مذاهب | ۳۳۳ |
| | د احادیث الباب تخریج | ۳۳۳ |
| | یو تعارض او د هغې حل | ۳۳۳ |
| | په رکعتین بعد الوتر کښې قیام افضل دې یا جلوس؟ | ۳۳۴ |

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| | بَـابُ التَّطَوُّعِ لِلصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ | ۳۳۵ |
| | د پنځو مونځونو لپاره نفل : | ۳۳۵ |
| | د احادیث الباب تشریح : | ۳۳۹ |
| | د حدیث ابن عمر رضی الله عنهما نه ځوابات او توجیهات : | ۳۳۹ |
| | د سحر د سنتو خاص اهمیت او فضیلت : | ۳۴۰ |
| | اضافی فائده : | ۳۴۰ |
| | سنت په کور کښې کول افضل دی : | ۳۴۰ |
| | روایات ام حبیبة رضی الله عنها | ۳۴۱ |
| | د مازیگر سنت : | ۳۴۱ |
| | د ماسخوتن سنت : | ۳۴۱ |
| | د ماسپخین د سنتو حکم : | ۳۴۲ |
| | د سنتو په څلورو رکعتونو کښې فصل دې که وصل : | ۳۴۲ |
| | بَـابُ مَا اسْتُدِلَّ بِهٖ عَلَى الْفَصْلِ بِتَسْلِيمَةٍ بَيْنَ الْأَرْبَعِ مِنْ سُنَنِ النَّهَارِ | ۳۴۳ |
| | هغه روایت چه په هغې د څلورو سنتو ترمینځه په سلام څخه په فاصلې استدلال کړې شوې دې | ۳۴۳ |
| | بَـابُ النَّافِلَةِ قَبْلَ الْمَغْرِبِ | ۳۴۴ |
| | د ماښام د مانځه نه مخکښې نفل | ۳۴۴ |
| | بیان مذاهب : | ۳۴۵ |
| | د قائلین رکعتین قبل المغرب دلائل : | ۳۴۲ |
| | بَـابُ مَنْ أَنْكَرَ التَّنَفُّلَ قَبْلَ الْمَغْرِبِ | ۳۴۸ |
| | چا چه د ماښام نه مخکښې د نفل کولو نه انکار کړې دې : | ۳۴۸ |
| | بَـابُ التَّنَفُّلِ بَعْدَ صَلٰوةِ الْعَصْرِ | ۳۴۹ |
| | د مازیگر نه پس نفل : | ۳۴۹ |
| | بیان مذاهب | ۳۴۹ |
| | د قائلین التنفل بعد العصر دلائل او د احنافو ځوابات : | ۳۵۰ |
| | بَابُ كَرَاهَةِ التَّطَوُّعِ بَعْدَ صَلٰوةِ الْعَصْرِ وَصَلٰوةِ الصُّبْحِ | ۳۵۱ |
| | د مازیگر او سحر د مانځه نه پس د نفل ادا کولو کراهیت : | ۳۵۱ |

| شميره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| | د شيطان په ښکرو کښې د نمر د راختلو مطلب : | ۳۵۴ |
| | د حديث کريب تشريح : | ۳۵۴ |
| | د حديث معاويه رضی اللہ عنہ تشريح : | ۳۵۵ |
| | بَابُ كَرَاهَةِ التَّنَفُّلِ بَعْدَ طُلُوْعِ الْفَجْرِ سِوٰى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ | ۳۵۶ |
| | د طلوع فجر نه پس د فجر د دوه سنتو نه علاوه د نفل کولو کراهت : | ۳۵۶ |
| | د جمهورو دلائل : | ۳۵۶ |
| | بَابٌ فِيْ تَاكِيْدِ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ | ۳۵۷ |
| | د سحر د سنتو تاکيد : | ۳۵۷ |
| | بَابٌ فِيْ تَخْفِيْفِ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ | ۳۵۷ |
| | د سحر د سنتو د تخفيف بيان : | ۳۵۷ |
| | د امام طحاوی رحمہ اللہ استدلال تطويل او د انور شاه صاحب ځواب : | ۳۵۸ |
| | بَابُ كَرَاهَةِ سُنَّةِ الْفَجْرِ إِذَا شَرَعَ فِي الْإِقَامَةِ | ۳۵۸ |
| | چه کله (موذن) اقامت شروع کړی نو د سحر د سنتو کراهيت : | ۳۵۸ |
| | بيان مذاهب : | ۳۶۰ |
| | د حنابله او شوافع دلائل او د احنافو ځوابات : | ۳۶۱ |
| | ثمره د اختلاف : | ۳۶۱ |
| | د ابوهريره رضی اللہ عنہ د حديث نه د احنافو ځوابات : | ۳۶۱ |
| | بَابُ مَنْ قَالَ يُصَلِّيْ سُنَّةَ الْفَجْرِ عِنْدَ اشْتِغَالِ الْإِمَامِ بِالْفَرِيْضَةِ خَارِجَ الْمَسْجِدِ أَوْ فِيْ نَاحِيَةٍ أَوْ خَلْفَ أُسْطُوَانَةٍ إِنْ رَجَا أَنْ يُدْرِكَ رَكْعَةً مِّنَ الْفَرْضِ | ۳۶۴ |
| | چا چه وئيلي دی چه کله امام په فرض کولو کښې مشغول شی نو د سحر سنت د مسجد نه بهر يا په کټ کښې يا د ستني نه شاته اوکړې شی، چه کله دا اميد وی چه د فرضو يو رکعت به لاندې کړی. | ۳۶۴ |
| | د احنافو دلائل : | ۳۶۸ |
| | د امام طحاوی رحمہ اللہ عقلی استدلال : | ۳۶۹ |
| | د احاديث الباب تخريج : | ۳۶۹ |
| | بَابُ قَضَاءِ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ | ۳۷۰ |
| | د نمر د راختلو نه مخکښې د سحر د سنتو قضاء : | ۳۷۰ |

| شميره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| | بيان مذاهب | ۳۷۰ |
| | د شوافع او حنابله دلائل او د احنافو ځوابات : | ۳۷۱ |
| | مهلا يا قيس : | ۳۷۲ |
| | بَابُ كَرَاهَةِ قَضَاءِ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ | ۳۷۲ |
| | د نمر د ختلو نه مخکښې د سحر د سنتو قضاء مکروه کيدل: | ۳۷۲ |
| | د احاديث الباب تخريج : | ۳۷۵ |
| | بَابُ قَضَاءِ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ مَعَ الْفَرِيْضَةِ | ۳۷۵ |
| | د سحر د دوه رکعتو د فرض مونځ څخه قضاء : | ۳۷۵ |
| | واقعه ليلة التعريس : | ۳۷۶ |
| | فوائد : | ۳۷۷ |
| | بَابُ إِبَاحَةِ الصَّلٰوةِ فِي السَّاعَاتِ كُلِّهَا بِمَكَّةَ | ۳۷۸ |
| | په مکه مکرمه کښې هر وخت د مونځ جائز کيدل : | ۳۷۸ |
| | د قائلين جواز دلائل او د احنافو ځوابات : | ۳۷۹ |
| | بَابُ كَرَاهَةِ الصَّلٰوةِ فِي الْأَوْقَاتِ الْمَكْرُوْهَةِ بِمَكَّةَ | ۳۸۰ |
| | په مکروه وختونو کښې په مکه مکرمه کښې د مونځ کراهت : | ۳۸۰ |
| | د مسلک احناف دلائل او وجوه ترجيح : | ۳۸۰ |
| | د اوقات مکروهه توضيح : | ۳۸۱ |
| | بَابُ إِعَادَةِ الْفَرِيْضَةِ لِأَجْلِ الْجَمَاعَةِ | ۳۸۲ |
| | د جماعت د وجې نه فرض دوباره کول : | ۳۸۲ |
| | بيان مذاهب : | ۳۸۴ |
| | د حديث ابوذر رضی الله عنه تشريح او د احنافو توجيه : | ۳۸۴ |
| | د روايت جابر رضی الله عنه نه د شوافع استدلال او د هغې ځواب : | ۳۸۶ |
| | د حديث ابن عمر رضی الله عنهما نه د شوافعو د استدلال ځواب : | ۳۸۶ |
| | د حديث ابن عمر رضی الله عنهما توضيح : | ۳۸۷ |
| | بَابُ صَلٰوةِ الضُّحٰى | ۳۸۸ |
| | د چاشت مونځ : | ۳۸۸ |

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| | اشراق او چاشت : | ۳۹۰ |
| | د شاه ولی الله ارشاد : | ۳۹۱ |
| | د احاديث الباب تشريح | ۳۹۱ |
| | بَابُ صَلٰوةِ التَّسْبِيْحِ | ۳۹۴ |
| | صلاة تسبيح : | ۳۹۴ |
| | د لس خصلتونو نه څهٔ مراد دي؟ : | ۳۹۵ |
| | د صلاة التسبيح تاثير او برکت : | ۳۹۶ |
| | [اَبْوَابُ قِيَامِ شَهْرِ رَمَضَانَ] | ۳۹۷ |
| | بَابُ فَضْلِ قِيَامِ رَمَضَانَ | ۳۹۷ |
| | تراويح | ۳۹۷ |
| | د تراويح فضيلت : | ۳۹۷ |
| | ايمان او احتساب : | ۳۹۸ |
| | قيام الليل او قيام رمضان : | ۳۹۸ |
| | بَابٌ فِيْ جَمَاعَةِ التَّرَاوِيْحِ | ۳۹۸ |
| | د تراويح په جماعت کښ: | ۳۹۹ |
| | د نعم البدعة مراد : | ۴۰۳ |
| | بَابُ التَّرَاوِيْحِ بِثَمَانِ رَكَعَاتٍ | ۴۰۴ |
| | اته رکعته تراويح | ۴۰۴ |
| | تعداد رکعاتِ تراويح او بيانِ مذاهب : | ۴۰۶ |
| | د اته رکعته تراويح د قائلينو دلائل او د جمهورو ځوابات : | ۴۰۶ |
| | د امام ترمذی رحمه الله ارشاد : | ۴۱۰ |
| | بَابُ فِي التَّرَاوِيْحِ بِاَكْثَرَ مِنْ ثَمَانِ رَكَعَاتٍ | ۴۱۰ |
| | د اته رکعتو نه زياتې تراويح : | ۴۱۰ |
| | بَابُ فِي التَّرَاوِيْحِ بِعِشْرِيْنَ رَكَعَاتٍ | ۴۱۱ |
| | د شل رکعته تراويح په باره کښې : | ۴۱۱ |
| | د يو اعتراض ځواب : | ۴۱۴ |

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| | د شلو رکعتو تراویح په استقرار باندې نور شواهد : | ۴۱۴ |
| | تراویح په زمانه د صحابه کرامو او تابعینو کښې : | ۴۱۵ |
| | د شاه ولی محدث دهلوی ارشاد : | ۴۱۸ |
| | په شلو رکعتو باندې د اجماع تفصیل : | ۴۱۹ |
| | د ائمة اربعه او سلف صالحینو په نزد : | ۴۲۰ |
| | بَابُ قَضَآءِ الْفَوَائِتِ | ۴۲۱ |
| | د فوت شوی مونځونو قضاء : | ۴۲۱ |
| | قضاء الفوائت او بیان مذاهب : | ۴۲۲ |
| | د ائمة ثلاثه دلائل : | ۴۲۳ |
| | په وجوب د قضاء کښې ناسی او عامد برابر دی : | ۴۲۴ |
| | د احنافو دلائل : | ۴۲۴ |
| | په قضاء مونځونو کښې د ترتیب مسئله : | ۴۲۵ |
| | د حدیث جابر رضي الله عنه شرح او توضیح : | ۴۲۵ |
| | اَبْوَابُ سُجُوْدِ السَّهْوِ | ۴۲۷ |
| | بَابُ سُجُوْدِ السَّهْوِ قَبْلَ السَّلَامِ | ۴۲۷ |
| | سجده سهوه | ۴۲۷ |
| | د سلام نه مخکښې سجده سهو : | ۴۲۷ |
| | د سهو او نسیان مواقع : | ۴۲۸ |
| | یوه علمی فائده : | ۴۲۹ |
| | بیان مذاهب : | ۴۲۹ |
| | د امام شافعی رحمه الله دلائل : | ۴۳۰ |
| | د رکعتونو په تعداد کښې شک او د امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله مسلک : | ۴۳۰ |
| | د رکعتونو په تعداد کښې شک د مذاهبو تفصیل او د احنافو د مسلك وجوهِ ترجیح: | ۴۳۱ |
| | په سجده سهوه کښې حکمت او فائده : | ۴۳۲ |
| | بَابُ سُجُوْدِ السَّهْوِ بَعْدَ السَّلَامِ | ۴۳۲ |
| | د سلام نه پس سجده سهوه : | ۴۳۲ |

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|


د امام ابو حنیفه رحمه الله د مسلک دلائل : ............ ۴۳۴
د امام طحاوی رحمه الله عقلی استدلال : ............ ۴۳۵
بَابُ مَا يُسَلِّمُ ثُمَّ يَسْجُدُ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ ثُمَّ يُسَلِّمُ ............ ۴۳۵
د سلام اړولو نه پس دې د سهوه دوه سجدې اوکړی بیا دې سلام واړوی : ............ ۴۳۶
بَابُ صَلٰوةِ الْمَرِيْضِ ............ ۴۳۸
د مریض مونځ ............ ۴۳۸
صلاة الصحیح خلف المریض او بیان مذاهب : ............ ۴۳۹
د احنافو د مسلک دلائل : ............ ۴۴۰
یو اشکال او د هغې حل : ............ ۴۴۰
رفع د تعارض : ............ ۴۴۱
د امام طحاوی رحمه الله عقلی استدلال : ............ ۴۴۲
بَابُ سُجُوْدِ الْقُرْاٰنِ ............ ۴۴۲
د تلاوت سجدې : ............ ۴۴۲
د سجده تلاوت شرعی حکم : ............ ۴۴۴
کیفیت سجده : ............ ۴۴۵
تعداد سجودِ تلاوت او بیانِ مذاهب : ............ ۴۴۵
د احادیث الباب توضیح : ............ ۴۴۶
[اَبْوَابُ صَلٰوةِ الْمُسَافِرِ] ............ ۴۴۹
بَابُ الْقَصْرِ فِي السَّفَرِ ............ ۴۴۹
د مسافر مونځ ............ ۴۴۹
په سفر کښې قصر : ............ ۴۴۹
قصر فی السّفر او بیان مذاهب : ............ ۴۵۲
د مسلک احناف دلائل : ............ ۴۵۲
حدیث د عائشې رضی الله عنها باندې دوه اعتراضات او د هغې ځوابات : ............ ۴۵۲
د بعض ائمة اقوال : ............ ۴۵۴
د امام شافعی رحمه الله دلائل او د احنافو ځوابات : ............ ۴۵۵

| شميره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| | بَابُ مَنْ قَدَّرَ مَسَافَةَ الْقَصْرِ بِأَرْبَعَةِ بُرُدٍ | ۴۵۷ |
| | چا چه د قصر مسافت په څلورو منزلونو څخه اندازه کړې دې : | ۴۵۷ |
| | د سفر د فاصلې تحقيق او بيان د مذاهب : | ۴۵۸ |
| | د ائمة ثلاثة دلائل : | ۴۵۹ |
| | د اهل ظاهر دليل او د هغې ځواب : | ۴۵۹ |
| | بَابُ مَا اسْتُدِلَّ بِهِ عَلَى أَنَّ مَسَافَةَ الْقَصْرِ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ | ۴۶۰ |
| | د کومو رواياتو نه چه د قصر د مودې په درې ورځو کيدو باندې استدلال کړې شوې دې : | ۴۶۰ |
| | بَابُ الْقَصْرِ إِذَا فَارَقَ الْبُيُوتَ | ۴۶۱ |
| | چه کله (د ښهر) د کورونو نه جدا شي (نو) قصر (کول) : | ۴۶۱ |
| | د قصر ابتداء او مذاهب فقهاء : | ۴۶۲ |
| | د احنافو د مسلك دلائل : | ۴۶۲ |
| | يوه فائده : | ۴۶۳ |
| | بَابُ يَقْصُرُ مَنْ لَمْ يَنْوِ الْإِقَامَةَ وَإِنْ طَالَ مُكْثُهُ وَالْعَسْكَرُ الَّذِي دَخَلَ أَرْضَ الْحَرْبِ وَإِنْ نَوَوُا الْإِقَامَةَ | ۴۶۳ |
| | هغه مسافر چه د پاتې کيدو اراده اونکړي، هغه دې قصر کوي، اګر چه د هغه ايساريدل زيات شي او هغه لښکر چه دار الحرب ته داخل شي اګر که د اقامت نيت ئې کړې وي. | ۴۶۳ |
| | بَابُ الرَّدِّ عَلَى مَنْ قَالَ إِنَّ الْمُسَافِرَ يَصِيرُ مُقِيمًا بِنِيَّةِ إِقَامَةِ أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ | ۴۶۶ |
| | رد په هغه چا باندې چه مسافر د څلورو ورځو په نيت څخه مقيم کيږي : | ۴۶۶ |
| | د قصر موده او بيان د مذاهبو : | ۴۶۶ |
| | حديث الباب : | ۴۶۷ |
| | بَابُ مَنْ قَالَ إِنَّ الْمُسَافِرَ يَصِيرُ مُقِيمًا بِنِيَّةِ إِقَامَةِ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا | ۴۶۷ |
| | څوک چه وائي چه مسافر د پنځلسو ورځو په نيت څخه مقيم کيږي : | ۴۶۷ |
| | د مسلک احناف اجتهادي دليل : | ۴۶۸ |
| | بَابُ صَلٰوةِ الْمُسَافِرِ بِالْمُقِيمِ | ۴۶۹ |
| | د مقيم مسافر ته مونځ ورکول : | ۴۶۹ |
| | (تنبيه) | ۴۷۰ |
| | بَابُ صَلٰوةِ الْمُقِيمِ بِالْمُسَافِرِ | ۴۷۱ |

| صفحه | مضمون | شميره |
|---|---|---|
| ۴۷۱ | د مسافر مقيم ته مونځ وركول : | |
| ۴۷۲ | بَابُ جَمْعِ التَّقْدِيْمِ بَيْنَ الْعَصْرَيْنِ بِعَرَفَةَ | |
| ۴۷۲ | په عرفات كښې ماسپخين او مازيګر (د ماسپخين په وخت كښ) جمع كول : | |
| ۴۷۳ | بيان مذاهب : | |
| ۴۷۴ | د احنافو دلائل : | |
| ۴۷۴ | د جمع تقديم شرطونه : | |
| ۴۷۵ | بَابُ جَمْعِ التَّاخِيْرِ بَيْنَ الْعِشَآئَيْنِ بِالْمُزْدَلِفَةِ | |
| ۴۷۵ | په مزدلفه كښې د ماښام او ماسخوتن مونځ موخر كول: | |
| ۴۷۵ | د جمع تاخير شرطونه : | |
| ۴۷۶ | بَابُ جَمْعِ التَّقْدِيْمِ فِي السَّفَرِ | |
| ۴۷۶ | په سفر كښې جمع تقديم (دوه مونځونه د اول مونځ په وخت كښې يوځائې ادا كول) | |
| ۴۷۸ | د شوافعو دلائل او د احنافو ځوابات : | |
| ۴۷۹ | بَابُ مَا يَدُلُّ عَلٰى تَرْكِ جَمْعِ التَّقْدِيْمِ بَيْنَ الصَّلٰوتَيْنِ فِي السَّفَرِ | |
| ۴۷۹ | كوم روايات چه په سفر كښې د دوه مونځونو په ړومبی وخت كښې د يوځائې كولو په ترک باندې دلالت كوی : | |
| ۴۸۰ | بَابُ جَمْعِ التَّاخِيْرِ بَيْنَ الصَّلٰوتَيْنِ فِي السَّفَرِ | |
| ۴۸۰ | په سفر كښې د دوه مونځونو ترمينځه جمع تاخير : | |
| ۴۸۲ | بَابُ مَا يَدُلُّ اَنَّ الْجَمْعَ بَيْنَ الصَّلٰوتَيْنِ فِي السَّفَرِ كَانَ جَمْعًا صُوْرِيًّا | |
| ۴۸۲ | كوم روايات چه په دې دلالت كوی چه په سفر كښې دوه مونځونه جمع كول جمع صوری ده.... | |
| ۴۸۵ | د احاديث باب تخريج : | |
| ۴۸۵ | بَابُ الْجَمْعِ فِي الْحَضَرِ | |
| ۴۸۵ | حَضر (په خپل ښهر كوم كښې چه مقيم وی) كښې (دوه مونځونه) جمع كول : | |
| ۴۸۶ | بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْجَمْعِ فِي الْحَضَرِ | |
| ۴۸۶ | په حضر كښې (د دوه مونځونو) د جمع كولو ممانعت : | |
| ۴۸۷ | جمع بين الصلاتين خلاصه مباحث : | |
| ۴۸۷ | امام صاحب وَمَن وَافقَه فرمائی : | |

| شمیره | مضمون | صفحه |
| --- | --- | --- |
| | د نورو امامانو دلیل : | ۴۸۸ |
| | [اَبْوَابُ الْجُمُعَةِ] | ۴۸۹ |
| | بَابُ فَضْلِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ | ۴۸۹ |
| | د جمعې ابواب | ۴۸۹ |
| | د جمعې د ورځې فضيلت : | ۴۸۹ |
| | وجه تسميه : | ۴۹۲ |
| | د احاديث الباب تشريح : | ۴۹۳ |
| | د اخراج آدم عليه السلام د فضيلت جمعه څخه تعلق : | ۴۹۵ |
| | د جمعې په ورځ ساعت اجابت : | ۴۹۷ |
| | دلائل او تطبيق : | ۴۹۷ |
| | بَابُ التَّغْلِيظِ فِيْ تَرْكِهَا لِمَنْ عَلَيْهِ الْجُمُعَةُ | ۴۹۸ |
| | په کوم کس چه جمعه واجب ده دهغه په جمعه پريخودو باندې سختي: | ۴۹۸ |
| | د جمعې شرعي حيثيت : | ۴۹۹ |
| | د جمعې مونځ فرض عين که فرض کفايه : | ۵۰۰ |
| | جمعه کله شروع شوه : | ۵۰۰ |
| | د احاديث الباب تشريح : | ۵۰۱ |
| | بَابُ عَدَمِ وُجُوْبِ الْجُمُعَةِ عَلَى الْعَبْدِ وَالنِّسَآءِ وَالصِّبْيَانِ وَالْمَرِيْضِ | ۵۰۲ |
| | په غلام، زنانو، ماشومانو او بيمارانو باندې د جمعې نه واجب کيدل : | ۵۰۲ |
| | په ذکر شوې خلقو باندې جمعه ولې واجب نه ده؟ | ۵۰۲ |
| | د جمعې د واجب کيدو شرطونه : | ۵۰۳ |
| | بَابُ أَنَّ الْجُمُعَةَ غَيْرُ وَاجِبَةٍ عَلَى الْمُسَافِرِ | ۵۰۳ |
| | په مسافر باندې جمعه واجب نه ده : | ۵۰۳ |
| | بَابُ عَدَمِ وُجُوْبِ الْجُمُعَةِ عَلَى مَنْ كَانَ خَارِجَ الْمِصْرِ | ۵۰۴ |
| | کوم سړي چه د ښهر نه بهر وی په هغه باندې د جمعې نه واجب کيدل : | ۵۰۴ |
| | بَابُ إِقَامَةِ الْجُمُعَةِ فِي الْقُرٰى | ۵۰۶ |
| | په کلو کښې جمعه کول : | ۵۰۶ |

| شمیره | مضمون | صفحه |
| --- | --- | --- |
| | بیان مذاهب : | ۵۰۸ |
| | د قائلین الجمعة فی القری دلائل او د احنافو ځوابات : | ۵۰۹ |
| | د مولانا محمد قاسم نانوتوی رحمه الله استدلال : | ۵۰۹ |
| | بَـابٌ لَاجُمُعَةَ اِلَّا فِیْ مِصْرٍ جَامِعٍ | ۵۱۲ |
| | جمعه صرف په لوئي ښهر کښې ده : | ۵۱۲ |
| | د قائلین عدم جواز الجمعة فی القری دلائل : | ۵۱۳ |
| | بَابُ الْغُسْلِ لِلْجُمُعَةِ | ۵۱۴ |
| | د جمعې لپاره غسل : | ۵۱۴ |
| | بیان مذاهب : | ۵۱۶ |
| | د احادیث الباب تشریح او د ائمة کرامو استدلال : | ۵۱۶ |
| | غسل د جمعې لپاره یا د مانځه لپاره : | ۵۱۷ |
| | بَابُ السِّوَاكِ لِلْجُمُعَةِ | ۵۱۸ |
| | د جمعې په ورځ باندې مسواک کول : | ۵۱۸ |
| | بَابُ الطِّيْبِ وَالتَّجَمُّلِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ | ۵۱۹ |
| | د جمعې په ورځ باندې ډول اختیارول او خوشبوئی لګول : | ۵۱۹ |
| | بَـابٌ فِیْ فَضْلِ الصَّلٰوةِ عَلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَـیْهِ وَسَلَّمَ یَوْمَ الْجُمُعَةِ | ۵۲۱ |
| | د جمعې په ورځ په رسول الله ﷺ باندې د درود وئیلو فضیلت : | ۵۲۱ |
| | بَابُ مَنْ اَجَازَ الْجُمُعَةَ قَبْلَ الزَّوَالِ | ۵۲۲ |
| | چا چه د جمعې په ورځ د زوال نه مخکښې د جمعې کولو اجازت ورکړې دې | ۵۲۲ |
| | بیان مذاهب : | ۵۲۴ |
| | د امام احمد رحمه الله دلائل او ځوابات : | ۵۲۴ |
| | بَـابٌ فِی التَّجْمِیْعِ بَعْدَ الزَّوَالِ | ۵۲۵ |
| | د زوال نه پس جمعه ادا کول : | ۵۲۵ |
| | د جمهورو دلائل : | ۵۲۸ |
| | بَـابُ الْاَذَانَـیْنِ لِلْجُمُعَةِ | ۵۲۸ |
| | د جمعې لپاره دوه اذانونه : | ۵۲۸ |

| صفحه | مضمون | شمیره |
|---|---|---|
| ۵۳۰ | بَابُ التَّأْذِيْنِ عِنْدَ الْخُطْبَةِ عَلَى بَابِ الْمَسْجِدِ | |
| ۵۳۰ | د خطبې په وخت د مسجد په دروازه باندې اذان کول : | |
| ۵۳۰ | بَابُ مَا يَدُلُّ عَلَى التَّأْذِيْنِ عِنْدَ الْخُطْبَةِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ عِنْدَ الْإِمَامِ | |
| ۵۳۰ | کوم روایت چه په دې باندې دلالت کوی چه د جمعې په ورځ باندې د خطبې په وخت د امام په خوا کښې اذان اوکړې شی : | |
| ۵۳۱ | بَابُ النَّهْيِ عَنِ التَّفْرِيْقِ وَالتَّخَطِّيْ | |
| ۵۳۱ | د خلقو د جدا کولو او په هغوی باندې د اوختلو ممانعت : | |
| ۵۳۲ | بَابُ السُّنَّةِ قَبْلَ صَلٰوةِ الْجُمُعَةِ وَبَعْدَهَا | |
| ۵۳۲ | د جمعې د مانځه نه مخکښې او روستو سنت : | |
| ۵۳۴ | بیان مذاهب : | |
| ۵۳۴ | سنن بعدیه : | |
| ۵۳۴ | دلائل : | |
| ۵۳۵ | بَابٌ فِي الْخُطْبَةِ | |
| ۵۳۵ | د خطبې په بیان کښې : | |
| ۵۳۷ | بیان مذاهب : | |
| ۵۳۸ | د خطبې مقدار : | |
| ۵۳۸ | د خطبې ارکان او اداب : | |
| ۵۳۹ | د جمعې او اخترونو په خطبه کښې فرق : | |
| ۵۴۰ | بَابٌ فِي كَرَاهَةِ رَفْعِ الْيَدَيْنِ عَلَى الْمِنْبَرِ | |
| ۵۴۰ | په منبر باندې د لاسونو اوچتولو کراهیت : | |
| ۵۴۰ | بَابُ التَّنَفُّلِ حِيْنَ يَخْطُبُ الْإِمَامُ | |
| ۵۴۰ | د امام د خطبې په دوران کښې نفل کول : | |
| ۵۴۱ | د قائلین جواز دلائل او ځوابات : | |
| ۵۴۲ | بَابٌ فِي الْمَنْعِ مِنَ الْكَلَامِ وَالصَّلٰوةِ عِنْدَ الْخُطْبَةِ | |
| ۵۴۲ | د خطبې په دوران کښې د کلام او مونځ ممانعت : | |
| ۵۴۳ | د قائلین عدم جواز دلائل : | |

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| | بَـابُ مَا يُقْرَأُ بِهِ فِي صَلٰوةِ الْجُمُعَةِ؟ | ۵۴۴ |
| | د جمعې په مانځهٔ کښې څه اولوستلې شی : | ۵۴۴ |
| | [اَبْوَابُ صَلٰوةِ الْعِيْدَيْنِ] | ۵۴۵ |
| | بَـابُ التَّجَمُّلِ يَوْمَ الْعِيْدِ | ۵۴۵ |
| | د اخترونو مونځ | ۵۴۵ |
| | د اختر په ورځ ډول کول : | ۵۴۵ |
| | بَـابُ اسْتِحْبَـابِ الْاَكْلِ قَـبْلَ الْخُرُوْجِ يَوْمَ الْفِطْرِ وَبَـعْدَ الصَّلٰوةِ يَوْمَ الْاَضْحٰى | ۵۴۷ |
| | د وړوکی اختر په ورځ (عیدګاه ته) د تلونه مخکښې اود لوئې اختر په ورځ د اختر د مونځ نه پس خوراك كول مستحب وی، | ۵۴۷ |
| | د اختر د مانځه لپاره صحرا (فراخه ځائې، عیدګاه) طرف ته تلل: | ۵۴۹ |
| | بَـابُ صَلٰوةِ الْعِيْدِ فِي الْمَسْجِدِ لِعُذْرٍ | ۵۴۹ |
| | د عذر د وجې نه په مسجد کښې د اختر مونځ کول : | ۵۴۹ |
| | بَـابُ صَلٰوةِ الْعِيْدَيْنِ فِي الْقُرٰى | ۵۵۰ |
| | په کلو کښې د اخترونو مونځ : | ۵۵۰ |
| | بَـابُ لَا صَلٰوةَ الْعِـيْدِ فِي الْقُرٰى | ۵۵۱ |
| | کلو کښې د اختر مونځ نشته : | ۵۵۱ |
| | بَابُ صَلٰوةِ الْعِيْـدَيْنِ بِغَيْرِ اَذَانٍ وَّلَا نِدَاءٍ وَّلَا اِقَـامَةٍ | ۵۵۱ |
| | د اذان، منادی او اقامت نه بغیر د اختر مونځ : | ۵۵۱ |
| | بَـابُ صَلٰوةِ الْعِيْدَيْنِ قَـبْلَ الْخُطْبَةِ | ۵۵۲ |
| | د خطبې نه مخکښې د اخترونو مونځ : | ۵۵۲ |
| | بَـابُ مَا يُقْرَأُ فِي صَلٰوةِ الْعِيْدَيْنِ؟ | ۵۵۵ |
| | د اخترونو په مانځه کښې به څه لولی : | ۵۵۵ |
| | بَابُ صَلٰوةِ الْعِيْـدَيْنِ بِثِـنْتَيْ عَشْرَةَ تَكْبِيْرَةً | ۵۵۷ |
| | د دولسو تکبیرونو څخه د اختر مونځ : | ۵۵۷ |
| | بیان مذاهب | ۵۵۸ |

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| | د ائمة ثلاثة دلائل او ځوابات : | ۵۵۸ |
| | بَابُ صَلٰوةِ الْعِيْدَيْنِ بِسِتِّ تَكْبِيْرَاتٍ زَوَائِدَ | ۵۵۹ |
| | د اخترونو مونځ د شپږ زائد تکبیرونو څخه : | ۵۵۹ |
| | بَابُ تَرْكِ التَّنَفُّلِ قَبْلَ صَلٰوةِ الْعِيْدِ وَبَعْدَهَا | ۵۶۳ |
| | د اختر د مانځه نه مخکښې او روستو نفل نه کول : | ۵۶۳ |
| | درس ترمذی : | ۵۶۴ |
| | بَابُ الذِّهَابِ إِلَى الْمُصَلّٰى فِيْ طَرِيْقٍ وَالرُّجُوْعِ فِيْ طَرِيْقٍ أُخْرٰى | ۵۶۵ |
| | د عیدګاه طرف ته په یو لاره باندې تلل او په بله لاره راتلل : | ۵۶۵ |
| | بَابُ تَكْبِيْرَاتِ التَّشْرِيْقِ | ۵۶۶ |
| | تکبیرات تشریق : | ۵۶۶ |
| | [أَبْوَابُ صَلٰوةِ الْكُسُوْفِ] | ۵۶۷ |
| | بَابُ الْحَثِّ عَلَى الصَّلٰوةِ وَالصَّدَقَةِ وَالْإِسْتِغْفَارِ فِي الْكُسُوْفِ | ۵۶۷ |
| | د نمر د تندر نیولو په وخت مونځ | ۵۶۷ |
| | د نمر د تندر نیولو په وخت مونځ، صدقه او استغفار باندې اماده کول: | ۵۶۷ |
| | د احادیث الباب تخریج : | ۵۶۹ |
| | د صلاة کسوف متعلق اهم مباحث : | ۵۷۰ |
| | اول بحث : | ۵۷۰ |
| | دویم بحث : | ۵۷۱ |
| | دریم بحث : | ۵۷۱ |
| | بَابُ صَلٰوةِ الْكُسُوْفِ بِخَمْسِ رُكُوْعَاتٍ فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ | ۵۷۲ |
| | د کسوف په هر رکعت کښې پنځه رکوع ګانې : | ۵۷۲ |
| | بَابُ كُلِّ رَكْعَةٍ بِأَرْبَعِ رُكُوْعَاتٍ | ۵۷۴ |
| | هر رکعت د څلورو رکوع ګانو څخه : | ۵۷۴ |
| | بَابُ ثَلَاثُ رُكُوْعَاتٍ فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ | ۵۷۵ |
| | په هر رکعت کښې درې رکوع ګانې : | ۵۷۵ |

| شمیره | مضمون | صفحه |
| --- | --- | --- |
| | بَـابُ كُلِّ رَكْعَةٍ بِرُكُوعَيْنِ ........ | ۵۷۲ |
| | په هر رکعت کښې دوه رکوع ګاني : ........ | ۵۷۲ |
| | بَـابُ كُلِّ رَكْعَةٍ بِرُكُوعٍ وَّاحِدٍ ........ | ۵۷۹ |
| | هر رکعت د يو رکوع څخه کول : ........ | ۵۷۹ |
| | بَـابُ الْقِرَآءَةِ بِالْجَهْرِ فِيْ صَلٰوةِ الْكُسُوْفِ ........ | ۵۸۴ |
| | د کسوف په مانځۀ کښې په جهر څخه قرأت کول : ........ | ۵۸۴ |
| | بَـابُ الْإِخْفَآءِ بِالْقِرَأَةِ فِيْ صَلٰوةِ الْكُسُوْفِ ........ | ۵۸۵ |
| | د کسوف په مانځه کښې قراءة په رو آواز څخه کول : ........ | ۵۸۵ |
| | بَـابُ صَلٰوةِ الْإِسْتِسْقَآءِ ........ | ۵۸۵ |
| | د باران غوښتلو لپاره مونځ : ........ | ۵۸۵ |
| | تحویل رداء : ........ | ۵۸۹ |
| | بَـابُ صَلٰوةِ الْخَوْفِ ........ | ۵۹۱ |
| | د خوف مونځ : ........ | ۵۹۱ |
| | صلاة الخوف د رسول الله ﷺ څخه خاص نه وو : ........ | ۵۹۳ |
| | د صلاة الخوف مختلف طريقې : ........ | ۵۹۴ |
| | اوله طريقه : ........ | ۵۹۴ |
| | دويمه طريقه : ........ | ۵۹۴ |
| | دريمه طريقه : ........ | ۵۹۴ |
| | [اَبْوَابُ الْجَنَآئِزِ] ........ | ۵۹۷ |
| | بَابُ تَلْقِيْنِ الْمُحْتَضَرِ ........ | ۵۹۷ |
| | د جنازو احکام ........ | ۵۹۷ |
| | محتضر (مرګ ته نزدې انسان ته) ته (د کلمې) تلقين کول : ........ | ۵۹۷ |
| | بَابُ تَوْجِيْهِ الْمُحْتَضَرِ اِلَى الْقِبْلَةِ ........ | ۵۹۹ |
| | د مړ کيدونکی مخ قبلې طرف ته کول : ........ | ۵۹۹ |
| | بَابُ قِرَآءَةِ يٰسٓ عِنْدَ الْمَيِّتِ ........ | ۵۹۹ |

| شميره | مضمون | صفحه |
| --- | --- | --- |
| | مړ کيدونکې ته سورة يس لوستل : | ۵۹۹ |
| | بَابُ تَغْمِيضِ الْمَيِّتِ | ۶۰۰ |
| | د مړي سترګې بندول : | ۶۰۰ |
| | بَابُ تَسْجِيَةِ الْمَيِّتِ | ۶۰۱ |
| | مړي په يو کپړه باندې پټول : | ۶۰۱ |
| | بَابُ غُسْلِ الْمَيِّتِ | ۶۰۱ |
| | مړي ته غسل ورکول : | ۶۰۱ |
| | بَابُ غُسْلِ الرَّجُلِ امْرَاءَتَهُ | ۶۰۳ |
| | د سړي لپاره خپلې ښځې ته غسل ورکول : | ۶۰۳ |
| | بَابُ غُسْلِ الْمَرْاءَةِ لِزَوْجِهَا | ۶۰۳ |
| | د زنانه خپل خاوند ته غسل ورکول : | ۶۰۳ |
| | بَابُ التَّكْفِيْنِ فِي الثِّيَابِ الْبِيْضِ | ۶۰۴ |
| | په سپينو کپړو کښې کفن ورکول : | ۶۰۴ |
| | بَابُ التَّحْسِيْنِ فِي الْكَفَنِ | ۶۰۵ |
| | ښه کفن ورکول : | ۶۰۵ |
| | بَابُ تَكْفِيْنِ الرَّجُلِ فِي ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ | ۶۰۵ |
| | سړي ته په درې کپړو کښې کفن ورکول : | ۶۰۵ |
| | د دريو کپړو د تعيين باره کښې اختلاف : | ۶۰۷ |
| | دلائل الاحناف : | ۶۰۷ |
| | بَابُ تَكْفِيْنِ الْمَرْاءَةِ فِي خَمْسَةِ أَثْوَابٍ | ۶۰۹ |
| | زنانه ته په پنځو کپړو کښې کفن ورکول : | ۶۰۹ |
| | بَابُ مَا جَاءَ فِي الصَّلٰوةِ عَلَى الْمَيِّتِ | ۶۱۰ |
| | کوم روايات چه په مړي باندې د مونځ کولو په باره کښې راغلي دي : | ۶۱۰ |
| | په مسجد کښې د جنازې مونځ : | ۶۱۳ |
| | د غائب د جنازې مونځ : | ۶۱۴ |

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| | د جنازې په مانځهٔ کښې د مړي لپاره دعا : | ۲۱۵ |
| | بَابٌ فِيْ تَرْكِ الصَّلٰوةِ عَلَى الشُّهَدَاءِ | ۲۱۶ |
| | په شهيدانو باندې د جنازې مونځ نه کول : | ۲۱۶ |
| | بَابٌ فِي الصَّلٰوةِ عَلَى الشُّهَدَآءِ | ۲۱۷ |
| | په شهيدانو باندې د جنازې کول : | ۲۱۸ |
| | تکبيرات صلاة جنازة : | ۲۲۰ |
| | بَابٌ فِيْ حَمْلِ الْجَنَازَةِ | ۲۲۱ |
| | د جنازې اوچتول : | ۲۲۱ |
| | بَابٌ فِيْ اَفْضَلِيَّةِ الْمَشْيِ خَلْفَ الْجَنَازَةِ | ۲۲۲ |
| | په جنازې پسې د شاته تلو فضيلت : | ۲۲۲ |
| | بَابُ الْقِيَامِ لِلْجَنَازَةِ | ۲۲۳ |
| | د جنازې لپاره اودريدل : | ۲۲۳ |
| | بَابُ نَسْخِ الْقِيَامِ لِلْجَنَازَةِ | ۲۲۴ |
| | د جنازې لپاره قيام منسوخ کول : | ۲۲۴ |
| | بَابٌ فِي الدَّفْنِ وَبَعْضِ اَحْكَامِ الْقُبُوْرِ | ۲۲۵ |
| | د دفن او د قبرونو د بعض احکاماتو باره کښې : | ۲۲۶ |
| | مړي له قبر ته د کوزولو طريقه : | ۲۲۹ |
| | په قبر باندې خاورې اچول : | ۲۲۹ |
| | يو قصه : | ۲۳۰ |
| | مسئلة القبر : | ۲۳۰ |
| | بَابُ قِرَآءَةِ الْقُرْاٰنِ لِلْمَيِّتِ | ۲۳۱ |
| | د مړي لپاره قرآن کريم لوستل : | ۲۳۱ |
| | بَابٌ فِيْ زِيَارَةِ الْقُبُوْرِ | ۲۳۱ |
| | د قبرونو د زيارت په باره کښې : | ۲۳۱ |
| | بَابٌ فِيْ زِيَارَةِ قَبْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ | ۲۳۳ |

| شمیره | مضمون | صفحه |
| --- | --- | --- |
| | د رسول الله ﷺ د روضه مبارکه په زیارت کښې: | ۲۳۳ |
| | زیارت د روضۀ مطهره : | ۲۳۴ |
| | زیارت د ګنبد خضراء، مسئلۀ د شد رحال | ۲۳۷ |
| | آداب او احترام او هدیۀ سلام په حضور د سید الانام ﷺ کښې | ۲۳۷ |
| | زیارت د ګنبد خضراء د امت د اکابرینو په نظر کښې : | ۲۳۹ |
| | په خیر القرون کښې د زیارت روضه انور جذبه : | ۲۴۳ |
| | د رسول الله ﷺ د دربار سفر او آداب زیارت : | ۲۴۷ |
| | د دربار نبوی ﷺ ادب او احترام | ۲۵۱ |
| | هدیه د سلام په حضور د خیر الانام ﷺ کښې : | ۲۵۳ |

## (پیش لفظ)

### شیخ الحدیث حضرت العلامة مولا نا محمد موسی روحانی بازی رحمہ اللہ جامعه اشرفیه لاهور

نحمدہ ونصلی علی رسولہ الکریم۔ امابعد!

په ملّت اسلامی کښې د احادیث نبوی علی صاحبها الف الف صلوات وتسلیمات مرتبهٔ ډېره اوچته او اهم ده.د قرآن کریم نه پس احادیث نبویة د اسلامی اُصول و فروع، فقهی احکاماتو او شرعی تعلیماتو لوئې مرجع او ماخذ دې.

پس د احادیث مبارکه حفاظت په حقیقت کښې د پوره اسلام حفاظت دې، د احادیث او سنن د حفاظت بهترینه ذریعه د کتب حدیث تصنیفات دی. کتب حدیث او سنت د تبلیغ حدیث او حفاظت شریعت اسلامیه قوی ذریعه ده.

(فطوبٰی لهٰذه الکتب المبارکة وطوبٰی ثم طوبٰی لمصنّفیها وجامعیها) په دې مبارک کتب حدیث کښې یو نافع او اهم کتاب آثار السنن دې چه د محدث اکمل وشیخ ابجل امام همام علامه اجل محقق افضل مولانا محمد بن علی ابوالخیر تالیف دې چه په ظهیر الدین نیموی رحمہ اللہ ښخه ملقب دې. دا کتاب د برصغیر په علماء کبار وصغار کښې ډېر زیات مقبول، مشهور او د مسائل فقهیة په تحقیقاتو او تدقیقاتو او د احادیثو په اشاراتو کښې د خلقو مرجع دې. د دې زمانې محدثین او فقهاء ډېر په شوق ښخه په دې مئین دی، تقریبا هر محدث دا د خپل ځان ښخه کیخودل لازم او ضروری گڼړی. دا کتاب په خپله موضوع کښې ډېر جامع، محقق، نافع او معتمد علیه دې. د دې کتاب د مقبولیت او شهرت او د اهل علم د مرجع کیدو اسباب درې دی.

**اول:** دا چه هغه ابحاث فنیة دقیقة غربیة او حقائق علمیة حدیثیة عجیبة او ماخذ نکات او فقهی قوی دلائلو باندې د مشتمل کیدو نه علاوه صغیرالحجم او کبیرالعلم دې.په اعتبار د ظاهری عبارتونو موجز او مختصردې خومعنوی لحاظ ښخه په ایماءات او علمی اشاراتو او فقهی استخراجات مطول او مبسوط دې لهٰذا دې کتاب ته سهل ممتنع او د علم اوچت غر وئیل بعید نه دی.

**دویم:** دا چه دا کتاب د صحیح، حسن او قوی احادیثو او موثوق علیه آثارو مجموعه ده. په دې سلسله کښې دا ډېر ژور، جامع، لا ځواب او مضبوط کتاب دې. د تصحیح اخبار او تحسین اثار، د اهم فقهی مسائلو د استنباط او استخراج، او د ماخذ د استخراج، تحقیق طرق حدیث او د استقراء احوال رجال اسانید شاهکار او صحیفه الهامیة ده کومه چه د کبار علماء کرامو د کتابونو نه غنی کونکې ده.

**دريم:** دا چه د فقه حنفي د اهم مسائلو محموعه او حصن حصين دې، آثار السنن د علماء حنفيتہ لپاره مضبوطه آسره او لوئې نعمت دې، آثار السنن د فقه حنفي موئد قوي او د مستند احاديثو جامع دې، نافع، قامع، دافع او مرقع مجموعه ده، په دې كتاب كښې د احاديث موئده للحنفيۃ د جمع كيدو څخه څخه د مخالفينو اهم اعتراضات او د هغوي د خدشاتو تسلي بخش ځوابونه ليكلې شوې دي.

د آثارالسنن د رتبه فحيمه او حيثيت عظيمه د وجې نه سخت ضرورت وو چه ددې كتاب د اوچتې مرتبې مطابق يو عالم كبير او فاضل جليل په اردو ژبه كښې د دې يو داسې شرح اوليكى كومه چه د متن په شان جامع، مانع، كامل، شافي او وافي وي. چه ددې كتاب د علومو او مضامينونه علماء كرامو اوطلباءِ دين څخه څخه نور اردو (پښتو) لوستونكې طبقه او تعليم يافته حضرات هم پوره پوره مستفيد او مستفيض شي اود مذهب حنفي په باره كښې د زړه اطمينان حاصل كړي.

الحمدلله ثم الحمد لله چه د توضيح السنن شرح آثار السنن په تاليف څخه دا ضرورت په طريق اكمل پوره شو.

د توضيح السنن مصنف فضلية الشيخ علامه مولانا محترم عبدالقيوم حقاني صاحب دامت بركاته دې.

مكرم مولانا عبدالقيوم حقاني صاحب د دې زمانې محقق، جامع الفنون صاحب د مكارم اخلاق او مصنف د تصانيف كثيره، غريبة، بديعة، رفيعه، مفيده او مقبوله دې.

د هغوي هر تصنيف په اهل، علم عوام او خواص كښې مشهور، مقبول او محبوب دې. او د تحسين داد ئې وصول كړې دې او وصول كوي ئې او روستو به ئې هم وصول كوي. د هغوي د هر كتاب په كلام كښې للهيت، خلوص، مهارت او تفوق في الفنون ښكاره دې.

د مولانا حقاني صاحب دا مبسوط، جامع، نافع، دافع، قامع، رفيع، بديع او محققانه شرح آثار السنن د علم حديث و فقه يو عظيم خدمت دې. او په احنافو باندې ډير احسان هم دې. الله پاک دې قبول اوفرمائي، آمين.

د توضيح السنن څو خصوصيات نادره و جاذبه دا دي.

١: په متن كښې د ذكر شوي احاديث مباركو روانه او آسانه اردو ترجمه ليكلې شوې ده، په اردو ترجمې څخه د فائده اخستلو دائره نوره هم وسيع شوې ده.

٢: د مسائلو د تفصيل او توضيح په ضمن كښې د مشهورو او معركة الاراء كتابونو حوالې او اقتباسات پيش كړې شوې دي، چه دَمسئلې د تحقيق اوتشريح حق پوره طريقې څخه ادا كړې شي.

۳: د مشکل الفاظ او مبهم کلماتو آسان او مختصر لغوی حل ذکر کړې شوې دې.

۴: د هر مسئلې د بیان او اثبات په سلسله کښې مکمل دلائل لیکلې شوې دی. هغه مسائل چه د دلائلو څخه وی د هغې په تفصیل او بیان څخه د یو مشتاق علم تشفی ممکن کیدې شی. هم په دې طریقه بیان څخه هغه مشتاق علم نورو کتابونو طرف ته د رجوع کولو نه مستغنی کیږی. او دا ډیره لویه فائده ده.

۵: د فقهی مسائلو او فروعی ابحاثو په تحقیق او تشریح کښې د ټولو مذاهبو د دلائلو او ماخذونو کافی احاطه کړې شوې ده.

۶: بالخصوص د مسلک حنفی د مسائلو توضیح او تحقیق، د هغې بنیاد او مدار احکام او اسرار او د هغې د وضاحت او اثبات لپاره د فقه حنفی د معتمد کتابونو نه ضروری اقتباسات او حوالې پیش کړې شوې دی.

۷: د مسلک حنفی نه علاوه د نورو مذاهبو د دلائلو کافی او وافی تنقیح کولو نه علاوه ډیر په وسعت قلبی څخه د هر مذهب د دلائلو تذکره ده.

۸: په قدر د ضرورت او کفایت د حدیث د راویانو تعدیل او جرح او فهم حدیث او د بسط مسائل د مقتضی د وجې نه د رجال اسناد حدیث د ممتاز او اهم احوالو تذکره ده.

۹: د تعصب او تعنت نه لرې کیدو څخه په پوره په انصاف باندې دلائل او قرائن او د نصوص قرآنیه او حدیثیه په رنړا کښې د نورو مذاهبو په مقابله کښې د مذهب حنفی د تقویت او تائید و ترجیح تسلی بخش تفصیل او توضیح پیش کړې شوې دې.

۱۰: په مذهب حنفی باندې او امام الائمة ابوحنیفهرحمه الله باندې د مخالفینو د اعتراضات، خدشات او رد و قدح منصفانه مفصل او اطمینان بخش ځوابات په تفصیل څخه ذکر دی.

بهرحال دا شرح، توضیح السنن د علماء کرامو، طلبه او اردو خوان حضراتو، تعلیم یافته پوهانو او عام خلقو عوامو او خواصو لپاره د مولف علام د طرف نه یو لویه تحفه ده.

الله پاک دې دا قبوله کړی او د دې نه دې اخروی ذخیره جوړه کړی. آمین ثم آمین.

# تاثرات او تبرکات

## امام حرم الشيخ صالح بن حميد سابق رئيس جامعه مدينة منورة

د امام حرم الشيخ صالح بن حميد رئيس جامعه مدينة منوره جامعه دار العلوم حقانيه ته د راتلو په موقع باندې د جامعې د مهتمم مولانا سميع الحق مدظله په ملګرتيا کښې د ادارة العلم والتحقيق دفتر ته تشريف راوړلو مولانا سميع الحق چه هغوی ته د توضيح السنن نسخه پيش کړه نور ډير خوشحاله شو په احاديث باندې اعراب لفظی ترجمه او تشريح په باره کښې ئې ښه دلچسپی واخستله کتاب تر ډير وخته پورې د هغوی په لاسونو کښې وو او د کتاب د اردو شرح په عربئ کښې د منتقل کولو د خواهش اظهار او اصرار ئې اوکړو.

## علامه مولانا مفتی محمد عاشق الهی البرنی مدينة منوره

د مولانا (عبدالقيوم حقانی) د توضيح السنن اشتهار لولم اوس پورې راته څه نسخه نه ده ملاؤ شوې د کتلو نه بغير مې داد ورکولو ته زړه کيږی بارك الله فی علومه واعماله وجهوده واشغاله۔

## الحاج صوفی عبدالمالک صاحب مدينه منوره

توضيح السنن شرح آثار السنن، زما په مطالعه کښې وی نظر مې کمزورې دې په يو صاحب باندې لوستلوڅخه ئې په التزام باندې اورم تاسو ډير محنت کړې دې او د متقدمين او متاخرين محدثينو حديثی علوم او معارف مو په يو ښکې تار کښې پيللې دی. د روضه رسولﷺ د حاضرې په وخت مې ستاسو سلام هم عرض کړو او د کتاب د قبوليت لپاره مې په خصوصيت څخه په مسجد نبوی ﷺ کښې د دعاګانو اهتمام هم اوکړو د دې کتاب توفيق ملاويدل د قبوليت علامت دې.
صوفی عبدالمالک مدينه منوره

## شيخ الحديث العلامة مولانا ابوالزاهد محمد سرفراز خان صفدر

مبسملًا و محمدلًا ومصليًا و مسلمًا، امابعد! په دنيا کښې په ټولو مروجه مذاهبو کښې اوس صرف اسلام رشتينې او نجات ورکونکې مذهب دې ﴿ وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ (آل عمران:۸۵) ﴾ او دا اکمل او جامع مذهب انسان ته په صحيح معنی کښې د انسان جوړيدو تعليم ورکوی او عملی طور انسان ته د بهترين جوړيدو طريقه ښائی چه د هغې بنياد په څلورو دلائلو باندې دې، ۱: قرآن کريم، ۲: حديث شريف، ۳: اجماع امت، ۴: قياس او اجتهاد، اول څلور دلائل

قطعي او ځلورم ظني دې کوم چه د خپلو شرطونو څخه موجب عملي دې د قرآن کريم نه پس حديث شريف ديني دولت دې ځوک چه د احاديثو منکر دی هغوی ګويا د اسلام منکر دی او ځوک چه د اجماع منکر دی هغوی ګويا غير معصوم آراء لره د وخيل منلو پسې شوې دی د الله پاک په فضل څخه د مقلدينو ټولې طبقې د خپل خپل استطاعت او علم مطابق د خپل مسلک لپاره د قرآن کريم او حديث نه دلائل پيش کوی او د الله پاک په فضل څخه احنافو د چا چه په دنيا کښې اکثريت دې د قرآن کريم او احاديثو څخه متمسک دی د مسلمانانو د بدقسمتئ د وجې نه د اسلام نوم اخستل د ګرګټ خصلت لرونکې يو داسې فرقه د انګريزانو په زمانه کښې پيدا کړې شوه چه هغوی د انګريزانو خو سندرې اوئيلې خو په مقلدينو او خاص کر احنافو باندې ښه ردونو کولو څخه ئې ښکاره کړه چه دا خلق د سنت خلاف ځی او احاديث نظر انداز کوی او صرف د خپل امام ابوحنيفه رحمه الله په مسائلو پسې روان دی او د بعض علماء کرامو أقوال ئې ځانته بنياد جوړولو څخه په هغې باندې د خپلې غلطې نظريې بنياد کيخودلو. علماء حق د. دې کم فهم متعصب او غالی فرقې د چالاکئ په ښه طريقې څخه نشاندهی او دفاع اوکړه.هم د دې سلسلې يو کړئ د علامه نيموی رحمه الله کتاب آثار السنن هم دې چه په هغې کښې په صحيح احاديثو څخه د احنافو مسلک ښکاره کړې شوې دې افسوس چه دا کتاب پوره شوې وې نو د ډيرو کتابونو نه به ئې استغنا راوستلې وې بهرحال هر ځومره حصه چه ليکلې شوې ده هغه ډير مفيده او د کار ده خپله مولف مرحوم په التعليق الحسن نوم څخه د دې مختصر حاشيه هم ليکلې ده او بعض حضراتو د آثار السنن اردو. ترجمة هم کړې ده چه په هغوی کښې د مدرسه نصرة العلوم فاضل او سابق مدرس مولانا محمد اشرف صاحب هم دې دا کتاب توضيح السنن هم د دې سلسلې اهم کړئ ده چه د هغې مولف فاضل نوجوان حضرت مولانا عبدالقيوم حقانی صاحب دام مجدهم دې چه هغوی په يو خاص ترتيب څخه د محققينو مضبوطې حوالې نقل کولو څخه دا کتاب مدلل او مبرهن کړې دې. راقم اثيم د دې ځو مقامات ليکلې دی چه د هغې نه اندازه کيږی چه مولف علام ډير په ښکلی انداز او تحقيق څخه حوالې جمع کړې دی او د علماء کرامو او طلباء لپاره ئې بهترين علمی مواد په اسانه طريقه باندې راجمع کړې دې، الله پاک دې مولف محقق ته جزاء د خير ورکړی او د هغوی لپاره دې د آخرت ذخيره جوړه کړی او طالبانو ته دې د استفادې موقع ورکړی. آمين ثم آمين.

وصلی الله تعالیٰ وسلّم علیٰ خیر خلقه محمد وعلیٰ آله واصحابه وازواجه واتباعه الیٰ یوم القیٰمة اجمعین۔

العبد الحقیر ابوالزاهد محمد سرفراز خطیب جامع مسجد گکھڑ منڈی

ومدرس مدرسه نصرة العلوم گوجرانواله ـ ۱۳ مارچ ۱۹۹۴.

**شیخ الحدیث حضرت العلامه مولانا فیض احمد صاحب مدظله مهتمم مدرسه امداد العلوم ملتان**

بسم الله الرحمٰن الرحیم

﴿ شَابٌّ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ اللهِ ﴾ حضرت مولانا عبدالقیوم حقانی زید مجدهم لا ځوان دې، د ځوانۍ عمر تیروی. په دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک او مدرسه قاسم العلوم ملتان کښې ډیر کرته هغوی څخه د ملاقات موقع ملاؤ شوې ده. یو کرت مې د موصوف خطاب هم واوریدلو. د هغوی بعض تصنیفات او تالیفات او د مقالاتو بعض حصې مې هم په مطالعه کښې راغلې.

مولانا حقانی د ځوانۍ د زمانې یو محیر العقول مصنف، یو کامیاب او موثر خطیب یو بهترین او شفیق مدرس ښکاره کیږي دا ځوان عالم ان شاء الله د صحیحین د معروف حدیث ﴿شَابٌّ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ اللهِ﴾ په مصداق کښې شامل دې. چه د هغوی لوئیدل او تربیت د شروع نه د الله پاک د خصوصی رحمت د لاندې شروع دې. فیاض ازل حقانی صاحب ته د نورو کمالاتو څخه څخه د اکابرو ادب او احترام او د خدمت جذبه څه ډیره زیات ورکړې ده.

امام بخاری رحمه البارى په کتاب العلم کښې د تراجم او احادیث بین السطور د اهل علم بالخصوص عزیز طالبانو لپاره ډیر قیمتی آدابو طرف ته اشاره کړې ده، په دې کښې ئې د باب قول النبی صلی الله علیه وسلم اَللّٰهُمَّ عَلِّمْهُ الْكِتَابَ عنوان قائمولو څخه د ابن عباس رضي الله عنهما حدیث قَالَ ضَمَّنِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وَ قَالَ اَللّٰهُمَّ عَلِّمْهُ الْكِتَابَ،... نقل فرمائیلې دې. په دې ضمن کښې مونږ ته دا سبق راکړې شوې دې چه هغه طالب علم کامیاب دې چه کوم د حصول علم لپاره د سفر او خضر او د بحروبر مشکلات برداشت کولو څخه پوره په توجه څخه په خپل تعلیم کښې مصروف وی. د دې څخه د خپلو استاذنو د دعاګانو د حصول کوشش هم کوی چه د هغې آسانه ذریعه ادب و احترام او خدمت دې.

امام بخاری رحمه الله په دې باندې د ابن عباس رضي الله عنهما د وړوکوالی واقعه په طور د شهادت پیش کړې ده د مشهور قول مطابق د ابن عباس رضي الله عنهما عمر د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات په وخت ټول دیارلس کلونه وو.. محدثین کرام هغوی د حبرالامة، بحرالعلم، رئیس المفسرین او ترجمان القرآن په ښکلې القاباتو څخه یادوی (عمدة القاری جلد ۲/ صفحه ۶۷)

د عمر بن الخطاب رضي الله عنه په مجلس شوری کښې به د اکابر صحابه کرامو رضي الله عنهم برابر د دې ځوان صحابی د ناستې ځائې متعین وو. یو موقع باندې خپله عمر رضي الله عنه د بعض صحابه کرامو رضي الله عنهم د پوښتنې ځواب ورکولو څخه فرمائیلې وو د ابن عباس رضي الله عنهما دا دلته ناسته د هغوی خصوصیت

دي چه د هغې وجه په علوم القرآن کښې د هغوی تفوق او برتری ده عالي مقام امام بخاری رحمه الله چه دلته کومې نکتې طرف ته اشاره فرمائیلې ده. د علامه عینی او حافظ ابن حجر رحمهما الله تعالی په شان شارحین بخاری هغه مفصل او مدلل لیکلې ده. چه د هغې حاصل دا دې چه ابن عباس رضی الله عنهما د ماشوم توب په زمانه کښې د رسول الله ﷺ په خدمت عالیه کښې د تفویض او سپارلو، د ادب او احترام او خدمت داسې مظاهره اوکړه چه ناڅاپی ورته د لسان نبوت علی صاحبها الصلوة والسلام نه ډیر کرته دا دعاګانې نصیب شوې: (۱)﴿اللهم علمه الکتاب﴾ (۲): ﴿ اللهم علمه الحکمة ﴾ (۳): ﴿اللهم فقهه في الدين و علمه التاويل﴾ (۴): ﴿ اللهم علمه الحکمة وتاويل الکتاب ﴾ (عمدة القاری ۶۷/۲ والاصابة ۳۳۱/۲) د دې مبارکو دعاګانو ثمرة ده چه د څوارلسو سوه کاله تیریدلو نه پس هم د صحابه کرامو رضی الله عنهم په مقدس جماعت کښې صرف د ابن عباس رضی الله عنهما د تفسیری اقوالو مجموعه د تفسیر ابن عباس رضی الله عنهما په نوم باندې په دنیا کښې شائع کیږی.

د اهل حق مدرسې او د تربیت ځایونه او په هغې کښې لوستونکی او ښودنکی د مدینې منورې زادها الله شرفاً د مسجدی نبوی د اولې مدرسې څخه څه نه څه نسبت لری اګر که یو فی لاکهه ولې نه وی. نو څومره چه د نن درسګاه ته د هغه ړومبې درسګاه د معلم اول محسن انسانیت ﷺ څخه او د نن متعلم ته د اول ورځې د متعلمینو صحابه عظام رضی الله عنهم څخه نسبت او مشابهت وی. هم دغه شان به د علم او عمل د برکاتو او ثمراتو ظهور او شیوع وی.

مولانا عبدالقیوم حقانی ډیر خوش نصیبه عالم دې چه فیاض ازل هغوی د سیّدی و مرشدی، فخر المحدثین قدوة العارفین، مرکز المجاهدین، محبوب العلماء والصلحاء والقائدین شیخ الحدیث مولانا عبدالحق قدس سره العزیز خدمت اقدس ته اورسولو. مولانا حقانی د حضرت شیخ الحدیث په خدمت عالیه کښې د ادب و احترام، قربانۍ، تفوض او خدمت خلق حق ادا کړو. په مزه مزه موصوف د حضرت شیخ الحدیث د علومو ترجمان او د توجهاتو او دعوات مرکز او محور جوړ شو. ذَالِكَ فَضْلُ اللهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَآءُ. د دې نه علاوه د قدوة العلماء او أسوة الصلحاء حضرت مولانا قاضی محمد زاهد الحسینی دامت برکاتهم تربیت او مهربانۍ او د حضرت شیخ الحدیث قدس سره تربیت یافته ځوئی نه ستړې کیدونکې مجاهد او جوهر شناس محقق عالم حضرت مولانا سمیع الحق دامت برکاتهم مهربانۍ او سرپرستۍ او رهنمایۍ نوره هم ښکلا پیدا کړه.

د مولانا حقانی زید مجدهم کتاب "حقائق السنن اردو شرح د آثار السنن به نه صرف د لوستونکو او ښودنکو لپاره یو بهترین رهنما ثابتیږی.

بلکه امید دې چه د مشکوة شریف او د نورو کتب حدیث د درسي کار کونکو لپاره به ډ
یو حده پورې د ممد او معاون کار کوي. ان شاء الله الکریم. دعاء کوم چه رب کریم دې په خ
خاص فضل او احسان څخه د حضرت مولانا حقاني صاحب په علم او تقوی او عمر او صحت کښ
نور هم برکت پیدا کړي. ملت اسلامیه ته دې د دې کتاب نه او د حقاني صاحب د نورو علو
برکاتو نه د استفادې نور هم توفیق ورکړي او د مولانا موصوف لپاره دې د رفع درجات او
قسم برکاتو وسیله جوړه کړي. آمین. فیض احمد خادم مدرسه امداد العلوم ملتان پاکستان.

## شیخ الحدیث حضرت العلامه مولانا مفتي محمد زرولي خان مدظله العالي

## موسس ورئیس الجامعة العربیة احسن العلوم کراچي

الحمد لله و کفی و صلی الله تعالیٰ وسلم علی رسوله المصطفیٰ و نبیه المجتبیٰ و علی اٰله واصحابه افضل الخلائق بعد الانبیاء وعلماء أمته الفقهاء الی یوم الجزاء، امابعد!

د عظیم القدر محترمي ومکرمي حضرت مولانا عبدالقیوم حقاني دامت برکاتهم وکثر امثالهم د تازه او قیمتي تصنیف "توضیح السنن" کوم چه د هندوستان د محقق محدث او فقیه علامه ظهیر احسن نیموي شاهکار کتاب آثار السنن نمائنده شرح ده اول جلد طبع کې څخه راغلې دې، محققانه ابحاث او مدققانه محاکمې او مبصرانه ترجیح الراجح حنفي مذه کوم چه د قرآن کریم او سنت نبوي ﷺ اقرب ترین تشریح او د سلف صالحین طائفه منصوره هغوی د استنباط وجوه او د مواطن استخراج ډیر لوئې او قابل قدر طرز څخه راوړې دی اع ترین طباعت او مزیدار عنوانات په دې دپاسه مې په قلبي فرحت او دماغي خوشحالئ او همه التفات څخه مې په مینه باندې کتلو!

كشمس فی كبد السماء وضوءها يغشی البلاد مشارقا و مغاربا
كالبدر فی وسط السماء و نورها يهدی الی عينيك نورا ثاقبا
ز فرق تا بقدم هر کجا که مینگرم کرشمه دامن ترمی کشد که جا اینجاست

د محترم رور حضرت مولانا عبدالقیوم حقاني صاحب مدظله تصنیفات او د فقهاء احنا څخه ژور تعلق کتلو څخه د حکومت عثمانیه ترکیه شیخ الاسلام او د بلاد عرب انور شاه شیخ زاهد الکوثري اعلی الله مقامه، او د زمانه حال امام اهل سنت محقق العصر شیخ الحدیث حضرت مولانا سرفراز خان صاحب صفدر بارک الله فی حیاته القیمة جلیل القدر د دیني خدماتو

جهلک د سترګو ورانديږ ارشی کوم چه د زړه او د دماغو د سکون او د روح او ایمان د تازګئ باعث وی. زه چه یو طرفته د توضیح السنن په بعض مقاماتو باندې د حضرت مولانا په خدمت کښې هدیه او تبرکات پیش کوم هلته مې څه ګزارشات هم کول، خو د وخت د کم والی د وجې نه او د عدیم الفرصتی عارضې د دې موقع رانکړه. صرف په یو مثال باندې اکتفاء کوم، وضع الجریدة علی القبور یا القاء الریاحین په مسئله باندې د امام العصر حضرت مولانا انور شاه صاحب رحمه الله د امالی فیض الباری عبارت مخې ته ږدلې وو او په فتاوی هندیة کښې په حواله د غرائب څخه دې ته د حسن وئیلو حکمت یا تعلیل ذکر کول وو بله دا چه حافظان جلیلان یعنی د بدر او شهاب د ''عمدة،، او ''فتح،، عبارتونه ملاحظه کول وو چه د غرز او وضع فرق او د امام خطابی رحمه الله د توضیح معقولیت ښکاره شوې وې. چه د زمانه حال د مبتدعینو لپاره د بدعاتو او محدثاتو د دروازو پرانستلو ګنجائش نه پاتې کیږی د حضرت مولانا عبدالقیوم صاحب حقانی په قلم کښې طاقت هم دې او د هغوی په بیان کښې روانی او د هغوی په نظر کښې وسعت دې او د هغوی په اسلوب کښې ښکلا هم ده. د دې جامعیت د وجې نه هغوی د دې خاصه او مداوه په خپل توضیحی اقدام کښې برابرولې شوه د دې ټولو وجوهو د وجې نه دا کتاب د یو نمائنده حیثیت لری. او د حضرت مولانا مدظله په دینی علوم باندې د وسعت نظر او تبحر آئینه دار دې. او په سلف صالحین باندې د حسن اعتماد شاهکار دې د علوم دینیه قدر کونکو علماء کرامو او طلباء عظام او نورو مسلمانانو رونړو لره د حضرت مولانا حقانی صاحب ممنون کیدل پکار دی چه دا علمی جواهر پارې د هغوی د وجې نه د خلقو مخکښې ښکاره کیږی. الله پاک دې د حضرت مولف دامت برکاتهم دا خدمت جلیله قبول اوفرمائی او د لوستونکو لپاره دې د باقی دنیا پورې د لارې رڼا ثابته کړی. وما ذلک علی بعزیز .......

**محمد زرولی خان خادم جامعه عربیه احسن العلوم کراچی.**

## علامه مولانا سید تصدق بخاری مد ظله ګوجرانواله

د علامه ابوالخیر محمد بن سبحان علی نیموی **علیه سحائب الرحمت والرضوان ولد ۱۲۷۸ هجری توفی ۱۷ رمضان ۱۳۲۲ هجری** د آثار السنن د شارح مولانا عبدالقیوم حقانی عالم ربانی د فکر مستقیم او ذوق سلیم تراشلو او توږلو ژور تحقیق کولو څخه د کتاب او سنت د ژور قیمتی ملغلرې راویستلو څخه د علماء کرامو او امناء اسلام لپاره خصوصا د عامو لوستونکو مسلمانانو لپاره په خپل سخت محنت باندې تحقیقی او علمی او د روحانی خوشحالئ ارمغان او

د احادیث مقدسه یو داسې فائده مند نچوړ تیاره کړې دې چه د هغې په مطالعې څخه د قاری په قلب او ذهن کښې انفراح او انشراح راځی په دې مابه الاحتظاظ انفراح وانشراح څخه د قاری مخکښې دا خبره ښکاره کیږی چه فقه حنفی د احادیثو نه مستنبط ده او د شارح موصوف ژور نظر او د علوم اسلامیه د سمندر نه د جواهرو راویستل او محنت کول انسان روض الانف (د الف او نون په ضمې څخه هغه باغ ته وائی چه د هغې نه یو څناور مخکښې پانړه هم نه وی اوچته کړې) ته رسوی، او د شارح د عارفانه فقاهت او عالمانه فکاهت (مزاح) د علمی حقائقو او دقائقو قافلې فقه حنفی نه په قیاسیات څخه تعبیر کونکو لره په صراط مستقیم باندې ولاړ د هغوی نظریاتی عوائق او جوړ کړې شوی اعتراضات ختم کړی دی. د آثار السنن د شرح توضیح السنن دویم جلد هم د خپلو خوږو څخه راروان دې په دې څخه به د فقه حنفی نور هم صداقت او حقانیت ښکاره شی. د حضرت مولانا توضیح السنن د الله پاک په فضل باندې د اسم بامسمی کیدو څخه څخه د جدید علمی اکتشافاتو او حقائق او دقائق یو داسې علمی شاهکار دې کوم چه د علماء مدرسین او مناظرین او عام لوستونکو مسلمانانو لپاره یو شان ډیوه ده شارح موصوف په صفحه ۲۱۲ او ۲۱۷ باندې په ﴿ فاغسلوا وجوهکم الخ ﴾ کښې د شیعه حضراتو نحوی انداز څخه د تحریف رد او د قرآنی فلسفې او قرآنی منشاء مطابق مدللانه و محققانه او فلسفیانه ځواب د لوستلو او فهم قابل دې. غرض د توضیح السنن یو یو جمله د خاص او عام او اهالیان اسلام لپاره د روښانه مینار په شان دې.

اکثر حضرات د مونځ د اصل شرعی اوقاتو او اصلی سوری وغیره د پوهې نه قاصر دی مولانا موصوف په صفحه ۴۰۱ باندې د دې ښه وضاحت فرمائیلې دې چه دا مسئله په فهم کښې راشی نو ډیر اختلافی مسائل د جهګړو نه پاکیږی.بیا د حضرت مولانا محمد حسن جان زیدہ عرفانه عربی تقدیم خوتوضیح السنن نور هم مزین او مرصع کړې دې:

او د ادراک چینه، د فیوضاتو منبع او مخزن برکات او معدن.شفقات حضرت مولانا قاضی محمد زاهد الحسینی مد ظله العالی د کتاب مقدمة لیکلو څخه په دې کښې د علم و عرفان او روحانیت داسې ښکلا اچولې ده چه کتاب لوستل شروع کړې نو د ختمولو نه بغیر ئې پریخودلو ته زړه نه کیږی او چه مطالعه مکمل کړې نو د زړه د تل نه حرکت پیدا کیږی چه دا دې بیا اولوستلې شی. دعا ده چه الله پاک دې خاص په خپل فضل او کرم څخه د مولانا حقانی قلب او ذهن د کتاب او سنت په رنړا څخه روښانه کړی چه هغوی په خپل ژوند کښې همیشه د اسلام د اشاعت لپاره مصروف وی. آمین آمین آمین آمین آمین به علی عبده الاحقر. سید تصدق بخاری.

## حضرت العلامه مولانا محمد عبدالمعبود مصنف تاریخ مدینه منورة ومکه معظمه

باسمه سبحانه وتعالیٰ: الحمد لله وحده والصلوة والسلام علی من لا نبی بعده – اما بعد قال النبی ﷺ ترکت فیکم امرین لن تضلوا ما تمسکتم بهما کتاب الله وسنة رسوله. الحدیث
د بنی آدم د رهنمایئ او د دوارو جهانو د کامیابئ لپاره صرف قرآن او حدیث د لارې رنړا او ملجا او ماوی ده. د قرآن کریم څه تشریح او توضیح صاحب قرآن ﷺ په خپلو اقوالو او افعالو څخه پیش فرمائیلې وو. روستو د بستان نبوی ﷺ نه "د احادیثو ډیر ګلونه" آئمة محدثینو ډیر په نفاست او سلیقې څخه په کتابونو کښې راجمع کړل چه د هغې په لافانی عنبری خوشبویئ څخه د دنیا جهان مسلمانانو خپل زړه معطر کړو. او د کوم د ښکلا نه چه نن هم د عالم اسلام زړونه په خوشحالئ دی. د آثار السنن مولف علامة الاجل المحدث الاکمل محمد بن علی النیموی قدس څخه العزیز دهغه احادیثو زړه راښکونکې او روح تازه کونکې او ایمان افروز ګلدسته جوړه کړې ده. چه په هغوی باندې د احنافو د مسلک اعتدال ښکلې آبادی قائم ده.

دا کتاب توضیح السنن هم د دې نادر کتاب زړه راښکونکې او مخیر العقول تشریح او توضیح ده چه په هغې کښې علامه عبدالقیوم حقانی مد فیوضهم د کتب متداوله د بحر عمیق نه ښکلې ملغلرې راویستلو څخه انبار لګولې دې د موصوف علام د علمی او تحقیقی خدماتو بدر منیر په پوره دنیا کښې پړقیږی. چه د هغې رنړا نه اهل علم فائده اوچتوی. موصوف ډیر په محنت، تحقیق او تحسین څخه د مسلک احناف حقانیت ښکاره کړې دې او د حاسدینو په هغوی باندې لګولې شوې الزام چه "د احنافو ښکلې لمن د احادیثو د ملغلرو نه خالی ده" لره تار تار کولو څخه د خاورو لاندې کړې دې.

د آثار السنن مؤلف په احادیث او آثار باندې د اصول حدیث په رنړا کښې جرح او قدح کولو څخه راجح او اولی واضح کړې وو. او علامه حقانی ممدوح ډیر په محنت او کوشش څخه د دنیا د مشهور ائمۂ جرح و تعدیل او مهارت لرونکو محدثینو د اقوالو نه د هغې د تائید او توثیق قدرمند خدمت انجام ته رسولې دې. چه د هغې نه د کتاب فائده نوره هم زیاته شوې ده. دغه شان دا د علم و عرفان قیمتی ملغلره، د تحقیق او تدقیق یو ښکلې شاهکار او یو وقیع علمی لیک تیار شوې دې. کوم چه د علماء کرامو او د منتهی طالبانو او هر د علم خاوند لپاره یو شان فائده مند او بې حده مفید دې. الله پاک دې د علامه حقانی په علم او عمل کښې ترقی اوفرمائی او د هغویٰ د قلم د فیض په تیزو چپو کښې دې بې پناه اضافه اوفرمائی.

ع ..... الله کرے زور قلم اور زیادہ............عبدالمعبود غفرله ۲۷ مئی ۱۹۹٤ء

د دې نه علاوه د ټول ملک د اکابر علماء او مشائخو د حديث د استاذانو او د مذهبي سکالرانو تاثرات موصول شو بعض حضرات مثلا شيخ الحديث حضرت مولانا مفتي محمد فريد صاحب مدظله اکوړه خټک، حضرت العلامه مولانا سميع الحق صاحب، حضرت مولانا محمد طاسين مدظله کراچئ، حضرت مولانا حبيب الله مختار مدظله کراچي، الدکتور مولانا سيد شير علي شاه مدظله اکوړه خټک، حضرت العلامه مولانا قاضي محمد زاهد الحسيني، حضرت مولانا فضل الرحيم جامعه اشرفيه لاهور، شيخ الحديث مولانا حسن جان چارسده، حضرت مولانا حافظ محمد ابراهيم فاني مدظله، حضرت علامه مولانا سيد تصدق بخاري گوجرانواله، حضرت مولانا عبد المعبود صاحب راولپنډي، معروف سکالر جناب طالب هاشمي صاحب حضرت مولانا محمد انور شاه صاحب مد ظله ملتان، حضرت علامه مولانا قاضي عبدالکريم صاحب مدظله کلاچي، حضرت مولانا عزير الرحمٰن هزاروي مدظله راولپنډي، حضرت مولانا مياں محمد اجمل قادري مدظله لاهور، حضرت مولانا شيخ التفسير محمد احمد صاحب مد ظله کراچي، حضرت مولانا فضل الرحمٰن دهرم کوټي مدظله، محترم جناب مشتاق احمد صاحب پشاور، الحاج محمد منصور الزمان صديقي کراچي، حضرت مولانا محمد زمان صاحب کلاچي، حضرت مولانا حکيم محمد اختر صاحب مدظله کراچي، حضرت مولانا سعيد الرحمٰن علوي لاهور، حضرت مولانا عبدالماجد صديقي مدظله خانيوال، حضرت مولانا حافظ مشتاق احمد عباسي کراچي، حضرت مولانا احمد عبدالرحمٰن صديقي مدظله نوشهره، شيخ الحديث حضرت مولانا الله بخش آياز ملکانوي لودهراں، حضرت مولانا قاضي عبدالحليم مدظله کلاچي، حضرت مولانا قاري محمد عبدالله مدظله، شيخ الحديث مولانا محمد صابر حضرو مدظله، حضرت مولانا قاضي عبداللطيف سابق سينيټر، حضرت مولانا محمد اعظم طارق مدظله جهنگ، ايم اين اے حضرت محمد ابراهيم اميجي مدظله لندن، حضرت مولانا منور حسين سورتي مدظله لندن، حضرت مولانا محمد ازهر صاحب مدظله، د ملتان آراء او خطونه او نقد تبصره محترم رور مولانا مفتي ذاکر حسن نعماني مدظله العالي په ځانله کتابي شکل کښې مرتب فرمائيلې ده کوم چه د "اوچتې مرتبې علمي کتاب" په نوم باندې شائع کړې شوې دې چه قارئينو ته د نقد او تبصرې او د دې کتاب نه د استفادې پوره فائده ملاؤ شي.

## بَابُ التَّكْبِيْرِ لِلرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ وَالرَّفْعِ

(۴۰۸) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلٰوةِ يُكَبِّرُ حِيْنَ يَقُوْمُ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِيْنَ يَرْكَعُ ثُمَّ يَقُوْلُ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ حِيْنَ يَرْفَعُ صُلْبَهُ مِنَ الرُّكُوْعِ ثُمَّ يَقُوْلُ وَهُوَ قَائِمٌ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِيْنَ يَهْوِيْ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِيْنَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِيْنَ يَسْجُدُ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِيْنَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ ثُمَّ يَفْعَلُ ذٰلِكَ فِي الصَّلٰوةِ كُلِّهَا حَتّٰى يَقْضِيَهَا وَيُكَبِّرُ حِيْنَ يَقُوْمُ مِنَ الثِّنْتَيْنِ بَعْدَ الْجُلُوْسِ۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

**باب د رکوع او سجدې نه د پاسيدو په وخت تکبير (وئيل)**: ۴۰۸: سيدنا ابوهريره رضی اللہ عنہ اوفرمائيل، رسول الله ﷺ چه به کله د مانځهٔ اراده فرمائيله، چه کله به اودريدلو نو تکبير به ئې وئيلو، بيا چه به ئې کله رکوع کوله نو تکبير به ئې وئيلو، بيا چه به ئې کله د رکوع نه سر اوچتولو نو وئيل به ئې ﴿سمع الله لمن حمده﴾ بيا به هغوی ولاړ وو او ﴿ربنا لک الحمد﴾ به ئې وئيل. بيا به چه (د سجدې لپاره) ښکته کيدو نو تکبير به ئې وئيلو بيا به ئې چه کله خپل سر مبارک راوچتولو نو تکبير به ئې وئيلو، بيا به ئې تکبير وئيلو، چه کله به ئې سجده فرمائيله، بيا به ئې چه کله خپل سر مبارک راوچت کړو نو تکبير به ئې وئيلو، بيا به ئې دغه شان خپل پوره مونځ کښې کولو، تر دې چه هغوی به خپل مونځ پوره کړو او کله چه به د دوه رکعتو نه پس کيناستلو او بيا به پاسيدو نو تکبير به ئې وئيلو. دا حديث شيخينو نقل کړې دې.

(۴۰۹) وَعَنْ أَبِيْ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ كَانَ يُصَلِّيْ بِهِمْ فَيُكَبِّرُ كُلَّمَا خَفَضَ وَرَفَعَ فَإِذَا انْصَرَفَ قَالَ إِنِّيْ لَأَشْبَهُكُمْ صَلٰوةً بِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ۔ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ۔

۴۰۹: د ابوسلمه رضی اللہ عنہ نه روايت دې چه ابوهريره رضی اللہ عنہ مونږ ته مونځ راکولو نو هغوی چه به کله هم (مانځه کښې) ښکته کيدل او پورته کيدل نو تکبير به ئې وئيلو او کله به ئې چه سلام واړولو نو او به ئې فرمائيل: زه تاسو ته د رسول الله ﷺ مشابه مونځ ادا کوم.
دا حديث بخاري نقل کړې دې.

(۴۱۰) وَعَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْحَارِثِ قَالَ صَلّٰى لَنَا أَبُوْ سَعِيْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَجَهَرَ بِالتَّكْبِيْرِ حِيْنَ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السُّجُوْدِ وَحِيْنَ سَجَدَ وَحِيْنَ رَفَعَ وَحِيْنَ قَامَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ وَقَالَ هٰكَذَا رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ۔ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ۔

۴۱۰: ابوسعيد بن الحارث اوفرمائيل چه سيدنا ابوسعيد رضی اللہ عنہ مونږ ته مونځ راکړو، نو په اوچت آواز څخه ئې تکبير اووئيلو، چه کله ئې خپل سر د سجدې نه راوچت کړو او کله ئې چه سجده

اوفرمائيله، او كله ئې چه د سجدې نه سر راوچت كړو او چه كله د دوه ركعتونو نه اودريدلو. او وې فرمائيل ما رسول الله ﷺ هم دغه شان ليدلې دې. دا حديث بخارى نقل كړې دې.

(۴۱۱) وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكَبِّرُ فِيْ كُلِّ رَفْعٍ وَّخَفْضٍ وَّ قِيَامٍ وَّقُعُوْدٍ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالنَّسَآئِيُّ وَالتِّرْمِذِيُّ وَصَحَّحَهُ.

۴۱۱: سيدنا عبدالله بن مسعود ؓ اوفرمائيل ما رسول الله ﷺ په هر اوچتيدلو ، ښكته كيدلو، اودريدلو او كيناستلو باندې په تكبير وئيلو ليدلې دې.

دا حديث احمد ، نسائى او ترمذى نقل كړې دې او دې ته ئې صحيح وئيلې دې.

(۴۱۲) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّـهُ قَالَ ثَـلَاثٌ كَانَ يَفْعَلُهُنَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَـيْهِ وَسَلَّمَ تَرَكَهُنَّ النَّاسُ كَانَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلٰوةِ رَفَعَ يَدَيْهِ مَدًّا وَكَانَ يَقِفُ قَـبْلَ الْقِرَآءَةِ هُنَـيَّةً وَكَانَ يُكَبِّرُ فِيْ كُلِّ خَفْضٍ وَّرَفْعٍ. رَوَاهُ النِّسَآئِيُّ وَإِسْنَادُهُ حَسَنٌ.

۴۱۲: سيدنا ابوهريره ؓ اوفرمائيل : درې څيزونه داسې دى كوم چه به رسول الله ﷺ كول، خلقو دا څيزونه پريخودلې دى، هغوى چه به كله د جنازې لپاره اودريدل نو لاسونه به ئې پورته كولو څخه اوچتول، هغوى به د قرأت نه مخكښې لږ ساعت خاموش اوسيدل او د هر ښكته كيدو او پورته كيدو په وخت به ئې تكبير وئيلو. دا حديث نسائى نقل كړې دې او د دې سند حسن دې.

**تشريح**﴾ (۴۰۸ نه ۴۱۲ پورې) دا خبره مخكښې هم عرض كړې شوې ده چه په مانځه كښې د تحريمه په وخت،تكبير وئيل واجب دى او په دې كښې د چا هم اختلاف نشته خو د ائمة متبوعينو په دې كښې اختلاف دې چه د تكبير تحريمه نه بغير په نورو اركان انتقاليه كښې تكبير وئيل جائز دى يا نه. د دې باب په غرض انعقاد كښې هم د دې مسئلې توضيح ده چه د تكبير تحريمه نه علاوه په نورو اركان انتقاليه كښې هم د تكبير حكم واضح شى.

امام نيموى ؒ دا ترجمة الباب مستقلا ولې قائم كړې دې؟ صرف امام نيموى ؒ نه بلكه امام ترمذى ؒ هم **باب ما جاء فى التكبير عند الركوع والسجود** په عنوان څخه هم دا ترجمة الباب قائم كړې دې. اصل كښې د دې باب د انعقاد ضرورت په دې وجه پيښ شو چه خلفاء بنو اميه به ركوع او سجود ته د تلو په وخت په اوچت آواز باندې تكبير وئيل ترک كړې وو **كانت بنوا امية يتركون التكبير فى الخفض** (عمدة القارى ج ۳ صفحه ۱۱۹) د هغوى خيال دا وو چه كله امام لاندې ښكته كيږى نو مقتدى د هغه دا حركت ښكاره وينى. بعض حضراتو دهغوى ددې حركت يادشاهى ادا داوجه بيان كړې ده چه سيدنا عثمان ؓ به داسې كول خو د هغوى دا وئيل په دې وجه باندې غلط دى

چه عثمان رضي الله عنه تکبير نه دې ترک کړې بلکه د ضعف او بوډاتوب او غايت حياء د وجې نه به د هغوی آواز لرې نه تلو خو بنو اميه به دا د نخرې په طريقه کولو.

**كانت بنو امية تفعل ذلك** (طحاوی ج ۱ صفحه ۱۰۸)

خو د بنو اميه دا حرکت صحيح نه دې او د هغوی دا نظريه غلطه وه ځکه چه په مقتديانو کښې داسې خلق هم کيدې شی چه د هغوی سترګې کار نه کوی چه کله هغوی امام نه شی ليدلې نو په مانځه کښې به ئې خلل او انتشار پيدا شی.

پس امام ترمذی او امام نيموی هم د دې ضرورت د وجې نه مستقل ترجمة الباب قائمولو څخه د دې غلطې نظريې ترديد اوکړو او صحيح مسئله ئې په قطعی دلائلو څخه واضح کړه.

**بيان مذاهب:** د حديث شارحينو درې مذاهب نقل کړی دی کوم چه په **اوجز المسالک ج ۱ صفحه ۲۱۳، فتح الملهم ج ۲ صفحه ۱۸، بداية المجتهد ج ۱ صفحه ۱۲۱، بذل المجهود ج ۲ صفحه ۶۱، نيل الاوطار ج ۲ صفحه ۱۳۳، امانی الاحبار ج ۳ صفحه ۱۶۵** کښې په تفصيل څخه نقل کړې شوې دی.

۱: د خلفاء بنو امية حضرت عمر بن عبد العزيز، امام ابن سيرين، سعيد بن جبير، قاسم بن محمد، سالم بن عبدالله او امام قتاده رحمهم الله وغيره په نزد په ټولو ارکان انتقاليه کښې تکبير مشروع نه دې. د دوی په نزد صرف په رفع (يعنی د لاندې نه پورته د اوچتيدلو په وخت) تکبير مشروع دې مثلا چه کله د رکوع نه د قومې طرف ته راشی او د سجدې نه د قيام طرف ته انتقال اوکړی. او عند الحفض (يعنی د پورته نه ښکته د تلو په وخت) تکبير مشروع نه دې مثلا د قيام نه رکوع طرف ته، د قومې نه سجدې طرف ته.

۲: د جمهور فقهاء او محدثينو، امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله، امام مالک، امام سفيان ثوری، امام شافعی او امام اوزاعی رحمهم الله په نزد عند الخفض او عند الرفع دواړو صورتونو کښې په ټولو ارکان انتقاليه کښې د انتقال په وخت تکبير مسنون او مشروع دې.

۳: د اصحاب ظواهر رحمهم الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله په نزد د تکبير تحريمه په شان د ټولو ارکان انتقاليه په وخت هم تکبير واجب دې. دا درې واړه مذاهب امام طحاوی رحمه الله هم په **(شرح معانی الآثار ج ۱ صفحه ۱۳۰)** کښې په تفصيل څخه نقل کړې دی خو په دريم مذهب کښې ئې څه تفصيلی بحث نه دې کړې.

**د منکرين عند الخفض دلائل او د هغې ځوابات:** امام طحاوی رحمه الله په **(شرح معانی الآثار ج ۱ صفحه ۱۳۰)** کښې رکوع ته د تلو په وخت د ترک تکبير د قائلينو دوه دلائل نقل کړی دی.

۱: د عبدالرحمٰن بن ابزی روایت دې هغوی فرمائی چه ما د رسول الله ﷺ څخه مونځ کړې دې په داسې حال کښې چه رسول الله ﷺ به په ټول ارکان انتقالیه کښې ﴿ لا یتم التکبیر ﴾ یعنی پوره تکبیر به ئې نه وئیلو د دې مضمون روایت امام طحاوی رحمه الله په دوه سندونو څخه روایت کړې دې، امام ابوداؤد رحمه الله د ﴿ قال ابوداؤد ﴾ د لاندې د دې روایت د الفاظو ﴿ لا یتم التکبیر ﴾ مطلب دا بیان کړې دې چه د رکوع نه د سجدې طرف ته د تلو په وخت هم دغه شان د سجدې او قیام په وخت به ئې تکبیر نه وئیلو.(ابوداؤد ج ۱ صفحه ۱۲۲)

په بذل المجهود ج ۲ صفحه ٦٣ کښې دی چه د تکبیرونو تعداد به ئې نه پوره کولو د دې نه معلومیږی چه د تکبیرات انتقالیه هیڅ اهمیت نشته خو عند الرفع د الله پاک د لوئې والی د ثبوت لپاره وئیل پکار دی.

خو جمهور فقهاء او محدثین د دې په ځواب کښې وائی چه د عبدالرحمٰن بن ابزی په روایت کښې ﴿ فکان لا یتم التکبیر ﴾ د لفظ نه دا صفا طریقې څخه نه واضح کیږی چه رسول الله ﷺ به عند الخفض تکبیر نه وئیلو حال دا چه دا خو یو مجمل روایت دې بله دا چه په کثرت طرق څخه ثابت نه دې. او د دې بالمقابل د رسول الله ﷺ فعل عند الخفض وعند الرفع دواړو صورتونو کښې د تکبیراتْ انتقالیه په ثبوت کښې په سند د تواتر څخه موجود دې لکه د دې باب ټول روایات د دې شاهد دی لهذا د عبدالرحمٰن بن ابزی مجمل روایت په سند د تواتر څخه ثابت شوی قطعی او تفصیلی روایاتو په مقابله کښې مستدل نه شی جوړولې.

۲: د منکرین تکبیر عند الخفض دویم دلیل د عثمان رضی الله عنه فعل دې هغوی به عند الخفض تکبیر نه وئیلو جمهور علماء کرام او محدثین فرمائی چه عثمان رضی الله عنه حد درجه حیاناک او په آخری عمر کښې ضعیف او کمزورې شوې وو. د خپلې طبعی کمزورې د وجې نه ئې عند الخفض خپل آواز په مبالغې څخه نه شو اوچتولې بعض خلقو به دا محسوس کوله چه ګویا سیدنا عثمان رضی الله عنه عند الخفض بالکل تکبیر نه وائی. حضرت شاه صاحب رحمه الله هم فرمائی چه سیدنا عثمان رضی الله عنه به د خفض په وخت ډیر په رو آواز باندې تکبیر وئیلو چه د هغې د وجې نه بعض خلقو دا اوګڼړله چه هغوی تکبیر نه وائی، سیدنا معاویه رضی الله عنه هم د دې وجې نه د هغوی اقتداء اوکړه او زیاد د معاویه رضی الله عنه اقتداء اوکړه خو حقیقت هم دا دې چه عثمان رضی الله عنه به تکبیر وئیلو، شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا صاحب هم دا فرمائی چه سیدنا عثمان رضی الله عنه د حیاء د وجې نه آواز اوچتونکې نه وو او سیدنا علی رضی الله عنه آواز اوچتونکې وو زمانه د فرقه پرستئ شوې وه علوی حضراتو به په هر خبره

کښې د علی رضي الله عنه اقتداء کوله او عثمانی حضراتو به د سیدنا عثمان رضي الله عنه. د دواړو حضراتو په آوازونو کښې جهر او عدم جهر طبعی وو خو څه خلقو ترې نه ډله جوړه کړه نو د عثمان رضي الله عنه په زمانه خلافت کښې چه کوم اموی عمال او حکمران وو هغوی به د عثمان رضي الله عنه په اقتداء کښې یا خو بالکل په مزه وئیلو یا به ئې نه وئیلو چونکه په دې سنت کښې د هغه وهم وو په دې وجه امام بخاری رحمه الله او نورو محدثینو دا ابواب د ﴿ اتمام التکبیر فی الرکوع والسجود ﴾ تړلې دی چه تکبیرات ترې نه بالکل پاتې نه شی. (تقریر بخاری ج ۳ صفحه ۲۵) لهٰذا دحضرت عثمان رضي الله عنه د عمل په ذریعه د تکبیر په عدم جواز استدلال درست نه شی کیدې.

**د مثبتین تکبیر عند الخفض دلائل:** ۱: د دې باب ړومبې روایت (۴۰۸) کوم چه د ابوهریره رضي الله عنه نه منقول دې لکه چه امام بخاری رحمه الله په کتاب الاذان ج ۱ صفحه ۱۰۹ **باب التکبیر اذا قام من السجود،** امام مسلم په خپل صحیح کښې **کتاب الصلوٰة ج۱ صفحه ۱۶۹، باب اثبات التکبیر فی کل خفض** کښې نقل کړې دې چه د هغې مضمون د تحت اللفظ ترجمې نه واضح دې او ماحصل هم دادې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به عند الخفض او عند الرفع تکبیر وئیلو.

۲: دویم دلیل د ابوسلمه رضي الله عنه روایت (۴۰۹) دې چه په هغې کښې ئې د ابوهریره رضي الله عنه عمل نقل کړې دې دا روایت امام بخاری رحمه الله په کتاب الاذن **ج۱ صفحه ۱۰۹ باب اتمام التکبیر فی الرکوع** کښې نقل کړې دې چه سیدنا ابوهریره رضي الله عنه به د امامت کولو په وخت **عند الخفض وعند الرفع** تکبیر وئیلو او کله چه به د مانځه نه فارغ شو نو فرمائیل به ئې ﴿ **انی لاشبهکم صلوٰة برسول الله صلی الله علیه وسلم** ﴾

۳: د دې باب دریم روایت (۴۱۰) کښې د سعید بن الحارث په روایت کښې د ابوسعید رضي الله عنه په امامت کولو کښې عمل منقول دې دا روایت امام بخاری رحمه الله په **کتاب الاذان** ج ۱ صفحه ۱۱۴ کښې **باب یکبر وهو ینهض من السجدتین** کښې نقل کړې دې. هغوی هم په حفض او رفع کښې تکبیرات اووې او بیا ئې اشاره اوفرمائیله ﴿ **هکذا رأیت رسول الله صلی الله علیه وسلم** ﴾

۴: روایت (۴۱۱) د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه منقول دې کوم چه امام ترمذی رحمه الله په **ابواب الصلوٰة** ج ۱ صفحه ۵۹ **باب ما جاء فی التکبیر عند الرکوع والسجود** کښې نقل کړې دې فرمائی چه ما رسول الله صلی الله علیه وسلم لیدلې دې ﴿ **یکبر فی کل رفع وخفض وقیام وقعود** ﴾ امام طحاوی رحمه الله په شرح د معانی الآثار کښې د هغوی روایت په دوه سندونو څخه نقل کړې دې چه په هغې کښې هغوی رسول الله صلی الله علیه وسلم ابوبکر صدیق اوعمرفاروق رضي الله عنهما لیدلې دی چه دې ټولو حضراتوبه دارکان انتقالیه په وخت تکبیر وئیلو که

هغه به عند الرفع وو يا عند الخفض (شرح معانی الآثار ج۱ صفحه ۱۳۰)

۵: د ابوهريره ﷺ روايت (۴۱۲) کوم چه مصنف ﷫ د باب په آخره کښې ليکلې دې کوم چۀ امام نسائی ﷫ په کتاب الافتتاح ج ۱ صفحه ۱۴۱ باب رفع اليدين مدا کښې نقل کړې دې د جمهور فقهاء او محدثينو پنځم دليل چه په هغې کښې صراحة د ﴿ وکان يکبر فی کل خفض ورفع ﴾ تصريح ده.

۶: امام طحاوی ﷫ په شرح معانی الآثار ج ۱ صفحه ۱۳۰ کښې ﴿ وذهبوا فی ذلک ماتواترت به الآثار ﴾ نه په تفصيل څخه احاديث متواتره نقل کولو څخه دا ثابت کړې دی چه د ډير تعداد د صحابه کرامو نه د رسول الله ﷺ عمل ثابت دې چه رسول الله ﷺ به د هر انتقال په وخت تکبير وئيلو که هغه عند الخفض وی يا عند الرفع، عثمان ﷺ لره مستثنی کولو څخه د خلفاء راشدينو نه هم دا ثابته ده د دې مضمون روايت امام طحاوی ﷫ د شپږو صحابه کرامو ﷺ نه په څوارلسو سندونو څخه نقل کړې دی، سيدنا عبدالله بن مسعود، ابومسعود بدری انصاری، عبدالله بن عباس، ابوموسی اشعری، انس بن مالک او د ابوهريره ﷺ روايات په تفصيل څخه درج کړې دی په آخر کښې د دې رواياتو نه نتيجه اخذ کولو څخه فرمائی چه د مذکوره ټولو صحابه کرامو روايات عند الخفض وعند الرفع دواړو صورتونو کښې د ثبوت تکبيرات په سلسله کښې په تواتر څخه ثابت دې لهذا د عبدالرحمن بن ابزی روايت به د دغه متواتر روايات په مقابله کښې مرجوح وی لهذا عند الرفع تکبير د رسول الله ﷺ او صحابه کرامو ﷺ نه ثابت او مسنون دې.

۷: د نبوت د زمانې نه پس د خلفاء راشدينو او ټولو صحابه کرامو اجماع ده چه د دې ټولو حضراتو عمل د ارکان انتقاليه په وخت د تکبير وئيلو دې که هغه عند الخفض وی يا عند الرفع بيا د حضرات صحابه کرامو ﷺ دا عمل په تواتر څخه زمونږ د زمانې پورې ثابت دې امام طحاوی ﷫ خاص طور څخه د ابوبکرصديق، عمرفاروق او علی المرتضی ﷺ عمل نقل فرمائيلې دې کوم چه د اجماع صحابه ﷺ دليل دې.

**د امام طحاوی نظر:** امام طحاوی ﷫ په شرح معانی الآثار ج ۱ صفحه ۱۳۱ کښې عقلی استدلال پيش کړې دې چۀ د هغې ماحصل دا دې چه کوم خلق عند الخفض تکبير ته ناجائز وائی. د هغوی په نزد د تکبير تحريمه په وخت او په ارکان انتقاليه کښې عند الرفع يعنی د رکوع نه د قومې طرف ته او د سجدې نه د قيام طرف ته او د قعدې نه قيام طرف ته د انتقال په وخت کښې تکبير ته مشروع وائی نو مونږ په دې ارکانو کښې د جواز تکبير په علت باندې غور اوکړو چه په دې کښې علت څه دې نو مونږ ته معلومه شوه چه د يو حالت نه دويم حالت طرف ته تغير او انتقال د جواز تکبير علت

دي. او د دي ارکان انتقاليه په وخت تکبير وئيلو باندې اجماع هم ده. او عند الخفض يعنی د قيام نه د رکوع طرف ته، او د قومې نه د سجدې طرف ته د تلو په وخت چه کوم تکبير وئيلې شی د هغې علت هم د تغير احوال، او انتقال احوال دې. نو د نظر او فکر تقاضه به دا وی چه عند الرفع چه د کوم علت په بناء باندې تکبير مشروع دې هم هغه علت عند الخفض هم موندلې شی. په دې وجه به عند الخفض هم د تکبير مشروعيت مسلم وی. هم دا زمونږ په نزد د علماء ثلاثه قول دې.

## بَـابُ هَيْأَتِ الرُّكُوْعِ

**(۴۱۳) عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ صَلَّـيْتُ إِلَى جَنْبِ أَبِيْ فَطَبَّقْتُ بَيْنَ كَفَّيَّ ثُمَّ وَضَعْتُهُمَا بَيْنَ فَخِذَيَّ فَنَهَانِيْ أَبِيْ وَقَالَ كُنَّا نَفْعَلُـهُ فَنُهِيْنَا عَنْهُ أُمِرْنَا أَنْ نَضَعَ أَيْدِيَنَا عَلَى الرُّكَبِ. رَوَاهُ الْجَمَاعَةُ.**

**باب: د رکوع حالتونه:** ۴۱۳ : مصعب بن سعد وائی، ما د خپل پلار په اړخ کښې مونځ اوکړو، نو ما خپل دواړه لاسونه بندولو ځخه د خپلو ورنونو ترمينځه کيخودل. زه خپل پلار منع کړم او وې فرمائيل چه مونږ به داسې کول، نو مونږ د دې نه منع کړې شو او مونږ ته اوئيلې شو چه مونږ دې خپل لاسونه په کونډو باندې ږدو. دا حديث د محدثينو جماعت نقل کړې دې.

**(۴۱۴) وَعَنْ أَبِيْ مَسْعُوْدٍ عُقْبَةَ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّـهُ رَكَعَ فَجَافٰى يَدَيْهِ وَوَضَعَ يَدَيْهِ عَلٰى رُكْبَتَيْهِ وَفَرَّجَ بَيْنَ أَصَابِعِهٖ ﷺ مِنْ وَّرَآءِ رُكْبَتَيْهِ وَقَالَ هٰكَذَا رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوٗدَ وَالنَّسَآئِيُّ وَإِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.**

۴۱۴: ابومسعود د عقبه بن عامر رضی الله عنه نه روايت دې چه هغوی رکوع اوکړه نو خپل لاسونه ئې (د ترخونو نه) لرې اوساتل او خپل لاسونه ئې په کونډو باندې کيخودل او خپلې ګوتې ئې د خپلو کونډو مخې ته حصه باندې پرانستلو ځخه کيخودلې او وې فرمائيل ما رسول الله ﷺ هم دغه شان مونځ ادا فرمائيلو باندې ليدلې دې.

دا حديث احمد، ابوداؤد او نسائی نقل کړې دې او د دې سند صحيح دې.

**(۴۱۵) وَعَنْ أَبِيْ بَرْزَةَ الْأَسْلَمِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَـيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَكَعَ لَوْصُبَّ عَلٰى ظَهْرِهٖ ﷺ مَآءٌ لَاسْتَقَـرَّ. رَوَاهُ الطَّبْرَانِيُّ فِي الْكَبِيْرِ وَالْأَوْسَطِ وَقَالَ الْهَيْثَمِيُّ رِجَالُـهٗ ثِقَاتٌ.**

۴۱۵: ابوبرزه الاسلمی رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ چه به کله رکوع کوله نو که د هغوی په ملا مبارکه باندې به اوبه بيولې شوې وې نو هغه به اودريدلې وې. (يعنی ملا به ئې نيغه ساتله)
دا حديث طبرانی په کبير او اوسط کښې نقل کړېدې او هيثمی وئيلې دی چه د دې رجال ثقة دی.

**بيان مذاهب:** (۴۱۳ تا ۴۱۵) په هيئت د رکوع کښې دوه صورتونه او دوه مذاهب منقول دی.

۱: تطبيق: رکوع او تشهد کښې دواړو لاسونو لره يوځائې (تشبيک) کولو څخه په دواړو رونونو ترمينځه د غشی پشان کيخودلې شی د بعض حضراتو مسلک دا دې چه تطبيق په حالت د رکوع او تشهد کښې مسنون دې، د عبدالله بن مسعود، اسود بن يزيد رضي الله عنهما، علقمه او ابراهيم نخغی رحمهم الله نه هم دا منقول دی.

۲: جمهور فقهاء، محدثين او ائمهٔ اربعه فرمائی چه تطبيق مسنون نه دې بلکه مسنون دا دې چه د دواړو لاسونو گوتې دې لږې فراخه کولو څخه په کونډو باندې کيخودلې شی او داسې معلومه شی چه کونډئ ئې نيولې وی.

د دې سلسلې مفصل بحث فتح الملهم ج ۲ صفحه ۱۲۶ نووی په شرح د مسلم ج ۱ صفحه ۲۰۲ (امانی الاحبار ج۳ صفحه ۲۳۲ کښې په تفصيل څخه ذکر کړې دې،د موقع او محل او د طالبانو د ضرورت لحاظ ساتلو څخه تلخيصا د فريقينو دلائل او د مسلک راجح وجوه د ترجيح پيش کولې شی.

**د قائلين تطبيق دلائل:** امام طحاوی رحمه الله په شرح معانی الاثار د **باب تطبيق فی الرکوع** په شروع کښې د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه په درې سندونو څخه هغه روايات پيش کړی دی چه د هغې نه د تطبيق مشروعيت او جواز ثابتيږی او هم د دې مضمون يو روايت په نسائی ج ۱ ص ۱۵۸ کښې موجود دې.

**د عدم تطبيق د قائلينو دلائل او وجوه د ترجيح:** ۱: د دې باب اول روايت (۴۱۳) کوم چه د معصب بن سعد نه منقول دې کوم چه بخاری ج ۱ ص ۱۰۹، مسلم ج ۱ ص ۲۰۳، نسائی ج ۱ ص ۱۵۹ کښې نقل کړې دې مصعب د خپل پلار سعد بن ابی وقاص رضي الله عنه څخه د خپل مونځ کولو يو واقعه نقل کوی چه ما کله د خپل پلار په خوا کښې مونځ اوکړو نو ﴿ فَطَبَّقْتُ بَيْنَ كَفَّيَّ ثُمَّ وَضَعْتُهُمَا بَيْنَ فَخِذَيَّ ﴾ يعنی ما خپل دواړه لاسونه بندولو څخه د خپلو پنډو ترمينځه کيخودل نو زه خپل پلار سيدنا سعد رضي الله عنه منع کړم او وې وئيل چه مونږ په هم د اسلام په شروع کښې داسې کول يعنی صحابه کرام رضي الله عنهم به هم په شروع کښې د رکوع په حالت کښې رکوع تطبيق کوله روستو رسول الله صلى الله عليه وسلم د دې نه منع اوفرمائيله ﴿ وَأُمِرْنَا أَنْ نَضَعَ أَيْدِيَنَا عَلَى الرُّكَبِ ﴾ او اوس مونږ ته اوئيلې شو چه مونږ دې په خپلو کونډو باندې لاسونه ږدو.

۲: ددې باب دويم حديث د ابومسعود عقبه بن عامر رضي الله عنه روايت (۴۱۴) هم دجمهورفقهاؤ او محدثينو مستدل دې چه په هغې کښې د عدم تطبيق د فعل ارتکاب دې بيا وئيلې شوې دی چه ما رسول الله صلى الله عليه وسلم هم دغه شان کولو باندې ليدلې دې دا روايت ابوداؤد په ج ۱ ص ۱۲۶ کښې نقل کړې دې.

۳: اما طحاوی ﷫ په شرح د معانی الاثار کښې باب التطبيق فى الركوع کښې د صحابه کرامو ﷡ ديو لوئې جماعت سيدنا عمر، سيدنا ابومسعود، سيدنا ابوحميد الساعدی، سيدنا وائل بن حجر او سيدنا ابوهريره ﷡ نه د رسول الله ﷺ عمل نقل کړې دې چه هغوی به د رکوع په حالت کښې تطبيق نه کولو بلکه خپل دواړه لاسونه به ئې په خپلو دواړو کونډو باندې کيخودل او داسې به معلوميده چه دواړه کونډې ئې نيولې دی.

۴: امام طحاوی په شرح معانی الاثار کښې په عدم تطبيق باندې يو دليل دا هم پيش کړې دې چه رسول الله ﷺ به د سجدې په حالت کښې خپل لاسونو د اړخونو نه داسې لرې ساتل چه د هغوی د ترخونو سپين والې به ښکاره کيدو نو څنګه به چه د سجدې په حالت کښې د مبالغې څخه اندامونو لره لرې لرې ساتل ثابت دی هم دغه شان په رکوع کښې هم خپلو اندامونو لره لرې لرې ساتل د فعل رسول ﷺ تقاضه او د دلالت نه ثابت دی لهذا تطبيق صحيح کيدل نه دی پکار بلکه دې نه به د دواړو لاسونو په کونډو باندې کيخودل ثابت او لازم وی امام طحاوی ﷫ هم د دې استدلال په استحکام کښې هم په دې باب کښې د نهه صحابه کرامو ابن عباس، ميمونه، جابر، ابوسعيد خدری، براء بن عازب، عبدالله ابن بجينه، عبيد الله ابن عبدالله بن اقرم الكعبى ابوهريره ﷡ او د احمد بن شهاب نه په يولسو سندونو څخه د تجافى فى السجود روايات نقل کړی دی.

۵: په ارشاد السارى کښې د کتاب الفتوح نه منقول دی چه مسروق د عائشې ﷞ نه د تطبيق په باره کښې پوښتنه اوکړه هغوی اووې دا د يهود طريقه ده او رسول الله ﷺ ړومبې په هر هغه کار کښې چه د هغې متعلق څه حکم نازل نه وو د اهل کتاب موافقت خوښولو روستو رسول الله ﷺ ته د هغوی د مخالفت حکم ورکړې شو ابن المنذر په قوی سند څخه د ابن عمر نه نقل کړی دی:

ان التطبيق انما فعله رسول الله صلى الله عليه وسلم مرة واما فعل ابن مسعود فيحمل على انه لم يبلغه النسخ او حمله على كراهة التنزيه ـ (غاية العليه)

**خلاصه**: الغرض خلاصه دا چه په تصريح او حد درجه توضيح څخه په رواياتو کښې د تطبيق د منسوخيت او د **وضع الاكف على الركب** حکم راغلې دې په دې وجه نه خو په آئمه اربعه کښې دې باره کښې څه اختلاف دې او نه پکښې د اهل ظواهر څه اختلاف شته دا مسئله بهر حال مجمع عليه ده خو په سلف صالحين کښې د بعض صحابه کرامو ﷡ او بعض تابعين ﷭ اختلاف وو کوم چه اول د قائلين تطبيق په عنوان څخه عرض کړې شوې دې دا حضرات د تطبيق قائل وو خو تصريحا د تطبيق د تنسيخ د وجې نه د امت جمهور علماء د دې قائل نه دی.

**د امام طحاوی ﷫ عقلی استدلال**: امام طحاوی ﷫ په شرح معانی الاثار ج ۱ ص ۱۳۵ کښې په دې

باندې تقریبا په شپږو کربنو کښې د ثم التمسنا حکم ذلک من طریق النظر په عنوان څخه عقلی استدلال پیش کولو څخه لیکلې دی چه په تطبیق کښې دواړه لاسونه یو ځائې کیخودل راځی، او په کونډو باندې د لاسونو کیخودلو په صورت کښې د دواړو لاسونو لرې لرې کیخودل راځی. او مونږ په مانځه کښې د ارکان صلوة په هیئت کښې غور کولو څخه اوکتل چه رسول اللهﷺ به په مانځه کښې اندامونه په کوم هیئت باندې کیخودل نو مونږ د رسول اللهﷺ طریقه اولیده چه هغوی به په رکوع او سجود کښې د اندامونو ترمینځه تجافی او تفریق اختیارولو. او د ټولو علماء کرامو داسې د اندامونو په فراخه او بیل بیل کیخودلو باندې اجماع ده. او ابن مسعودؓ هم کوم چه د تطبیق د ثبوت راوی دې هغوی فرمائی چه مونږ کونکی ته حکم اوکړې شو چه د خپلو خپو ترمینځه مرادحت اوکړی یعنی دواړه خپې ذ یو بل نه لرې په فاصله باندې ساتلو څخه په یو یو خپه باندې تکیه لګولو څخه آرام اوکړې شی او د دواړو خپو په لرې کیخودلو څخه تطبیق ممکن نه دې بلکه تفریق لازمیږی. او دغه شان د بعض اندامونو د بعض نه تجافی او لرې لرې ساتل بالاتفاق جائز او اولی دی. او د رکوع په باره کښې الصاق او د تفریق په سلسله کښې اختلاف واقع شوې دې لهذا مسئله اختلافی به په مسئله اجماعی باندې قیاس کول لازم وی څنګه چه په نورو ارکانو کښې تطبیق صحیح نه دې بلکه تجافی او تفریق لازم دې. هم دغه شان به په رکوع کښې هم تفریق لازم وی یعنی دواړه لاسونه دې په کونډو باندې کیخودلې شی. او هم دا به مطلوب او مسنون وی.

**د بسط ظهر مسئله:** د دې باب په روایت نمبر (۴۱۵) کښې د بسط ظهر مسئله بیان کړې شوې ده دا روایت په مجمع الزوائد کتاب الصلوة ج ۲ ص ۱۲۳ کښې نقلا عن الطبرانی والکبیر وابی یعلی په حوالې څخه نقل کړې شوې دې. امام هیثمیؒ هم د دې روایت په سند باندې ﴿ورجاله ثقات﴾ حکم لګولې دې ابوبرزه الاسلمیؓ فرمائی چه رسول اللهﷺ چه به کله رکوع کوله نو ﴿لوصب علی ظهره ماء لاستقر﴾ یعنی که په ملا مبارکه باندې ئې اوبه بهیولې شوې وې نو هغه به اودریدلې وې. طبرانی په معجم کبیر کښې او ابویعلی موصلی په خپل سند څخه د ابن عباسؓ نه د ابوبرزه الاسلمیؓ په مثل روایت نقل کړې دې د دې نه علاوه په ابن ماجه کښې د وابصه بن معد نه روایت دې ﴿رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي، فَكَانَ إِذَا رَكَعَ سَوَّى ظَهْرَهُ، حَتَّى لَوْ صُبَّ عَلَيْهِ الْمَاءُ لَاسْتَقَرَّ﴾

او امام ترمذی او ابن حبان هم د ابوحمید ساعدیؓ نه روایت کړې دې په هغې کښې دی ﴿ثم قال الله اکبر ورکع ثم اعتدل فلم یصوب راسه ولم یقنع﴾ لهذا د دې روایاتو تقاضه ده چه په رکوع کښې سر، ملا او شا ټول برابر کیدل پکار دی نه دې سر د شا نه ښکته کوی او نه دې پورته کوی.

## بَابُ الْاِعْتِدَالِ وَالطَّمَانِيْنَةِ فِي الرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ

(۴۱۶) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَدَخَلَ رَجُلٌ فَصَلّٰى ثُمَّ جَآءَ فَسَلَّمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَدَّ عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اِرْجِعْ فَصَلِّ فَاِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ فَصَلّٰى ثُمَّ جَآءَ فَسَلَّمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ ارْجِعْ فَصَلِّ فَاِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ ثَلَاثًا فَقَالَ وَالَّذِيْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا اُحْسِنُ غَيْرَهٗ فَعَلِّمْنِيْ فَقَالَ اِذَا قُمْتَ اِلَى الصَّلٰوةِ فَكَبِّرْ ثُمَّ اقْرَأْ مَا تَيَسَّرَ مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ ثُمَّ ارْكَعْ حَتّٰى تَطْمَئِنَّ رَاكِعًا ثُمَّ ارْفَعْ حَتّٰى تَعْتَدِلَ قَائِمًا ثُمَّ اسْجُدْ حَتّٰى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا ثُمَّ ارْفَعْ حَتّٰى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا ثُمَّ اسْجُدْ حَتّٰى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا ثُمَّ افْعَلْ ذٰلِكَ فِيْ صَلٰوتِكَ كُلِّهَا۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

**باب رکوع او سجده کښې اعتدال:** ۴۱۶: د ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ مسجد ته تشريف راوړلو نو يو سړی راتلو څخه مونځ اوکړو، بيا ئې د هغوی په خدمت کښې حاضريدلو څخه سلام اوکړو، رسول الله ﷺ د سلام ځواب ورکړوی او وې فرمائيل: واپس شه او مونځ اوکړه، تا مونځ نه دې کړې، هغه د مونځ کولو نه پس بيا حاضر شو او رسول الله ﷺ ته ئې سلام اوکړو، رسول الله ﷺ اوفرمائيل : واپس شه مونځ اوکړه، تا مونځ نه دې کړې، او درې کرته ئې دغه شان اوفرمائيل، هغه عرض اوکړو، قسم دې په هغه ذات چا چه تاسو په حق باندې راليږلې يئ زه د دې نه په غوره طريقه باندې مونځ نه شم کولې. تاسو ماته اوښايئ نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل : چه کله ته د مانځه لپاره اودريږې نو تکبير وايه، بيا چه تاته د قرآن پاک نه څه آسان وی هغه لوله، بيا رکوع کوه، تردې چه کله تاته د رکوع په حالت کښې اطمينان حاصل شی، نو پاسه تردې چه ته نيغ اودريږې، بيا سجده کوه، تردې چه ته د سجدې په حالت کښې په اطمينان شې بيا (د سجدې نه) اوچت شه، تردې چه ته په ناسته کښې په اطمينان شې، بيا سجده کوه تردې چه تاته د سجدې په حالت کښې اطمينان حاصل شی، بيا ټول مونځونه هم داسې کوه. دا حديث شيخينو نقل کړې دې.

(۴۱۷) وَعَنِ الْبَرَآءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رُكُوْعُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسُجُوْدُهٗ وَ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ وَاِذَا رَفَعَ رَأْسَهٗ مِنَ الرُّكُوْعِ مَا خَلَا الْقِيَامَ وَالْقُعُوْدِ قَرِيْبًا مِّنَ السَّوَآءِ۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ

۴۱۷: سيدنا براء بن عازب رضی الله عنه فرمائی: د رسول الله ﷺ رکوع، سجده او د دواړو سجدو ترمينځه وقفه او کله چه به هغوی خپل سر مبارک د رکوع نه راوچتولو، سوا د قيام او قعود (يعنی د تشهد لپاره کيناستل) نه تقريبا ټول برابر وو. دا حديث شيخينو نقل کړې دې.

(۴۱۸) وَعَنْ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ قَالَ جَآءَ رَجُلٌ وَّرَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ فِي الْمَسْجِدِ فَصَلّٰى قَرِيْبًا مِّنْهُ ثُمَّ انْصَرَفَ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَعِدْ صَلٰوتَكَ فَاِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ فَرَجَعَ فَصَلّٰى كَنَحْوِ مَا صَلّٰى ثُمَّ انْصَرَفَ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَعِدْ صَلٰوتَكَ فَاِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ عَلِّمْنِيْ فَقَالَ اِذَا اسْتَقْبَلْتَ الْقِبْلَةَ فَكَبِّرْ ثُمَّ اقْرَأْ بِاُمِّ الْقُرْاٰنِ ثُمَّ اقْرَأْ بِمَا شِئْتَ فَاِذَا رَكَعْتَ فَاجْعَلْ رَاحَتَيْكَ عَلٰى رُكْبَتَيْكَ وَامْدُدْ ظَهْرَكَ وَمَكِّنْ رُكُوْعَكَ فَاِذَا رَفَعْتَ رَأْسَكَ فَاَقِمْ صُلْبَكَ حَتّٰى تَرْجِعَ الْعِظَامُ اِلٰى مَفَاصِلِهَا فَاِذَا سَجَدْتَّ فَمَكِّنْ لِسُجُوْدِكَ فَاِذَا رَفَعْتَ رَأْسَكَ فَاجْلِسْ عَلٰى فَخِذِكَ الْيُسْرٰى ثُمَّ اصْنَعْ ذٰلِكَ فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ وَّسَجْدَةٍ۔ رَوَاهُ اَحْمَدُ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

۴۱۸: سیدنا رفاعه بن رافع ﷛ فرمائی، یو سړي راغلو او رسول الله ﷺ په مسجد کښې تشریف فرما وو. هغه رسول الله ﷺ ته نزدې مونځ اوکړو، بیا د رسول الله ﷺ طرف ته تلو څخه ئې هغوی ته سلام اوکړو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل خپل مونځ واپس اوکړه بیشکه تا مونځ نه دې کړې، هغه واپس شو او هم هغه شان ئې مونځ اوکړو څنګه ئې چه مخکښې کړې وو، بیا د رسول الله ﷺ طرف ته واپس کیدو څخه ئې هغوی ته سلام اوکړو، رسول الله ﷺ اوفرمائیل خپل مونځ دوباره اوکړه تا مونځ نه دې کړې، هغه عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ! تاسو ماته اوښایئ، نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل: چه کله ته د قبلې طرف ته مخ کړې نو تکبیر وایه، بیا سورة فاتحه اوایه، بیا (د قرآن کریم نه) چه دې څه خوښه وی اولوله، کله چه ته رکوع کوې، نو خپل دواړه تلی په خپلو دواړو کونډو باندې ږده، خپله ملا خوره کړه، او خپله رکوع په اطمینان څخه کوه، چه کله ته خپل سر اوچت کړې نو خپله ملا نیغه کړه، تردې چه هډوکی په خپلو جوړونو باندې راشی او چه کله ته سجده کوې نو خپله سجده په اطمینان څخه کوه، او کله چه د سجدې نه خپل سر اوچتوې نو په خپله ګس پتون پاندې کینه او بیا هم دغه شان په هر رکوع او سجده کښې کوه.

دا حدیث احمد نقل کړې دې او د دې سند حسن دې.

(۴۱۹) وَعَنْ اَبِيْ قَتَادَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَسْوَأُ النَّاسِ سَرِقَةً الَّذِيْ يَسْرِقُ مِنْ صَلٰوتِهٖ ﷺ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! كَيْفَ يَسْرِقُ مِنْ صَلٰوتِهٖ ﷺ؟ قَالَ لَا يُتِمُّ رُكُوْعَهَا وَلَا سُجُوْدَهَا وَلَا يُقِيْمُ صُلْبَهٗ فِي الرُّكُوْعِ وَلَا فِي السُّجُوْدِ۔ رَوَاهُ اَحْمَدُ وَالطَّبَرَانِيُّ وَقَالَ الْهَيْثَمِيُّ رِجَالُهٗ رِجَالُ الصَّحِيْحِ۔

۴۱۹: سیدنا ابو قتاده ﷛ فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د غلا په اعتبار څخه په خلقو کښې د ټولو نه بد انسان هغه سړې دې چه په خپل مانځه کښې غلا کوی، خلقو عرض اوکړو. یا

رسول الله ﷺ ! هغه په خپل مانځه کښې څنګه غلا کوی؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل : په مانځه کښې رکوع او سجده پوره طريقې څخه نه ادا کوی، په رکوع او سجده کښې خپله ملا نه نيغوی.

دا حديث احمد او طبرانی نقل کړې دې هيثمی فرمائيلې دی چه د دې حديث راويان د صحيح راويان دی.

(٤٢٠) وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ شَيْبَانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَكَانَ مِنَ الْوَفْدِ قَالَ خَرَجْنَا حَتّٰى قَدِمْنَا عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَايَعْنَاهُ وَصَلَّيْنَا خَلْفَهُ فَلَمَحَ بِمُؤَخَّرِ عَيْنِهِ ﷺ رَجُلًا لَا يُقِيْمُ صَلٰوتَهُ يَعْنِيْ صُلْبَهُ فِي الرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلٰوةَ قَالَ يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِيْنَ لَا صَلٰوةَ لِمَنْ لَا يُقِيْمُ صُلْبَهُ فِي الرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

٤٢٠: سيدنا علی بن شيبان ﷺ او دې د وفد نه وو، فرمائی : مونږ اوتلو تردې چه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو، مونږ هغوی څخه بيعت اوکړو او هغوی پسې مو مونځ ادا کړو، رسول الله ﷺ د سترګو مبارکو په ګټ کښې په خفيف څخه نظر باندې يو سړې اوليدو، او کوم انسان خپل مونځ نه برابروی، يعنی په رکوع او سجده کښې خپله ملا نه نيغوی، چه کله رسول الله ﷺ خپل مونځ پوره کړو، نو وې فرمائيل : اې د مسلمانانو جماعته ! د هغه سړی مونځ نه کيږی چه په رکوع او سجده کښې خپله ملا نه نيغوی.

دا حديث ابن ماجه روايت کړې دې او د دې سند صحيح دې.

(٤٢١) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ سَجْدَةٌ مِّنْ سُجُوْدِ هٰؤُلَاءِ أَطْوَلُ مِنْ ثَلَاثِ سَجَدَاتِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالطَّبَرَانِيُّ وَإِسْنَادُهُ حَسَنٌ.

٤٢١: د عبدالله بن عمر ﷺ نه روايت دې چه د هغه خلقو په سجدو کښې يوه سجده د رسول الله ﷺ د دريو سجدو نه زياته اوږده ده.

دا حديث احمد او طبرانی نقل کړې دې اود دې سند صحيح دې.

(٤٢٢) وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ مَنْ أَمَّنَا فَلْيُتِمِّ الرُّكُوْعَ وَالسُّجُوْدَ فَإِنَّ فِيْنَا الضَّعِيْفَ وَالْكَبِيْرَ وَعَابِرَ سَبِيْلٍ وَذَا الْحَاجَةِ هٰكَذَا كُنَّا نُصَلِّيْ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ

٤٢٢: سيدنا عدی بن حاتم ﷺ فرمائی : څوک چه مونږ ته امامت کوی نو هغه دې رکوع او سجده پوره کوی، بيشکه په مونږ کښې کمزوری، بوډاګان، مسافر او ضرورت مند خلق وی، مونږ به هم دغه شان د رسول الله ﷺ څخه مونځ کولو.

دا حديث احمد نقل کړې دې او د دې سند صحيح دې.

**تشریح:** (۴۱۲ نه ۴۲۲ پورې) د رکوع نه پورته کیدو څخه په اطمینان اودریدل څه ته چه قومه وائی، د دواړو سجدو ترمینځه کیناستل څه ته چه جلسه وائی هم دغه شان په رکوع او سجدو کښې قرار نیول چه هر اندام په خپل ځائې باندې پرسکون شی څه ته چه تعدیل او طمانیت وائی الغرض د مانځه هر رکن دومره په اطمینان څخه ادا کړې شی چه ټول اندامونه په خپل خپل مقام باندې مستقر شی په اعتدال او طمانیت څخه.

**بیان مذاهب:** ۱: د ائمه ثلاثه په نزد الاعتدال والطمانیة فی الارکان فرض دې هم دا مسلک د امام ابویوسف رحمه الله هم دې د هغوی په نزد د دې په ترک څخه مونځ باطل کیږی.

۲: د امام ابوحنیفه رحمه الله نه یو روایت د سنیت او یو روایت د فرضیت هم منقول دې د سنیت په صورت کښې د دې په ترک څخه مونځ واجب الاعادة نه دې خو د امام ابوحنیفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله مسلک مختار دا دې چه تعدیل ارکان نه خو فرض دې او نه سنت بلکه واجب دې یعنی په ترک د اعتدال څخه د مونځ فریضه ادا کیږی خو مونځ به واجب الاعادة وی.

**د قائلین فرضیت دلائل او د احنافو ځوابات:** ۱: د دې باب اول روایت ۴۱۲ : د قائلین فرضیت قوی مستدل دې کوم چه د ابوهریره رضی الله عنه نه منقول دې په کوم کښې چه د خلاد بن رافع واقعه مذکور ده کوم چه امام بخاری رحمه الله په خپل صحیح **کتاب الاذان باب امر النبی صلی الله علیه وسلم للذی لایتم رکوعه بالاعادة ج۱ ص۱۰۹، کتاب الاستیذان باب من ردّ فقال علیه السلام ج ۲ ص ۹۲۳، کتاب الایمان والنذور اذا حنث ناسیا فی الایمان ج۲ ص ۹۸۶**) کښې تخریج کړې دې، امام احمد په خپل مسند ج ٤ ص ٢٤٠ کښې امام ترمذی رحمه الله باب تړلې دې **باب ما جاء فی وصف الصلوة** ج ۱ ص ۶۵ کښې نقل کړې دې. امام نیموی رحمه الله هم د مسند احمد په حوالې څخه هم په دې باب کښې په ۴۱۸ نمبر کښې هغه نقل کړې دې.

ائمه ثلاثه او امام ابویوسف رحمه الله د خلاد بن رافع ددې واقعې نه استدلال کوی چه هغوی چه کله د تعدیل ارکان نه بغیر مونځ اوکړو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل **﴿ارجع فصل فانک لم تصل﴾** د حدیث الفاظ هم په دې باندې دال دی چه تعدیل ارکان او طمانیت فرض دې ځکه چه خلاد بن رافع رضی الله عنه د مونځ په ارکان مشهوره کښې یو رکن هم نه وو ترک کړې بلکه صرف تعدیل ارکان ئې ترک کړې وو په دې باند ېرسول الله ﷺ اوفرمائیل **﴿فانک لم تصل﴾** معلومه شوه چه ترک تعدیل مبطل صلوة دې.

د امام طحاوی رحمه الله په روایت د رفاعه بن رافع رضی الله عنه کښې هم دا دی چه رسول الله ﷺ په خپلو سترګو مبارکو څخه د هغه دا مونځ کول لیدل او د سلام نه پس کیناستلې وو.

**حديث المسئ فى الصلوة:** دلته دي دا هم ملحوظ وی چه د خلاد بن رافع د واقعې والا دا حديث د "حديث المسئ فی الصلوة" په نوم څخه مشهور دې فقهاء او محدثين د بحث او استدلال دوران کښې دا په دې نوم باندې يادوی دا خبرداري په دې وجه هم ضروری دې چه په کتابونو کښې چيرته د طالبانو نظر پريوځی چه فی حديث المسئ فی الصلوة کذا... اوپه هغې پوهيږی نه حال داچه فقهاء کرامو او ائمة مجتهدين په کثرت څخه د دې نه د مسائلو په اخذ او استنباط کښې استدلال کړې دې.

**د حديث المسئی فی الصلوة نه د احنافو ځواب او استدلال:** د امام ابوحنيفه رحمه الله مستدل هم دا روايت دې چه په هغې کښې د خلاد بن رافع رضی الله عنه واقعه بيان کړې شوې دې کوم چه امام ترمذی رحمه الله په باب ما جاء فی وصف الصلوة ج ۱ ص ۶۳ کښې نقل کړې دې چه په هغې کښې د تعديل ارکان د تعليم او تاکيد نه پس رسول الله صلی الله عليه وسلم دا هم ارشاد اوفرمائيلو : ﴿ **فاذا فعلت ذلک قد تمت صلوتک وان انتقصت منه شيئا انتقصت من صلوتک** ﴾ د ابوداؤد د شيخ قعنبی په روايت کښې هم دا الفاظ داسې نقل شوې دی ﴿ **وما انتقصت من هذا شيئا فانما انتقصته من صلوتک** ﴾ که اعتدال او طمانيت فرض وې نو رسول الله صلی الله عليه وسلم به په دې باندې د مانځه اطلاق نه کولې. په دې کښې رسول الله صلی الله عليه وسلم د تعديل ارکان په ترک باندې د بطلان صلوة حکم نه دې لګولې بلکه د نقصان حکم ئې لګولې دې او صحابه کرامو رضی الله عنهم هم د دې هم دا مطلب فهم کړې دې چه په تعديل ترک کولو څخه به پوره مونځ نه باطليږی خو په دې کښې به سخت نقصان راشی پس د سنن ترمذی په روايت کښې دا واقعه بيانولو نه پس په آخر کښې راوی وئيلې دی ﴿ **وکان هذا اهون عليهم من الاولی انه من انتقص من ذلک شيئا انتقص من صلواته ولم تذهب کلها** ﴾

**د شيخ بنوری رحمه الله ارشاد:** حضرت العلامة مولانا محمد يوسف بنوری رحمه الله په معارف السنن ج ۳ صفحه ۱۳۳ کښې ليکی :**قال شيخ مشائخنا الشيخ محمود حسن الديوبندی رحمه الله ! ان الشافعی و من وافقه قد فهموا من قول النبی صلی الله عليه وسلم "صل فانك لم تصل" مافهمه الصحابه قبل بيان النبی صلی الله عليه و سلم من نفی الصحة وابوحنيفه رحمه الله فهم منه مافهموا بعد بيانه صلی الله عليه وسلم من نفی الکمال و التمام فاختر ايهما شئت الان۔**

**تعديل ارکان د صحابه کرامو رضی الله عنهم په نزد واجب ولې د يو اشکال ځواب:** بعض حضراتو دلته يو سوال دا هم اوچت کړې دې چه فقهاء احناف وائی چه مامور به قطعی الثبوت او قطعی الدلالة وی نو هغه فرض وی او داسې مامور به چه نه خو قطعی الثبوت وی او نه قطعی الدلالة وی هغه واجب وی لهذا د دې قاعدې په رڼا کښې د فرض او واجب فرق زمونږ په لحاظ څخه خو صحيح شو خو

د صحابه کرامو رضی الله عنهم په لحاظ څخه هر مامور به د هغوی لپاره په منزله د فرض کیدل پکار دی و
ښکاره ده چه هغوی د ټولو ماموراتو حکم براه راست د رسول الله ﷺ نه اوریدلي دي په د
اعتبار څخه هر مامور به د هغوی په نزد قطعی الثبوت دي د دي اصولو د وجي نه تعدیل ارکان د
د صحابه کرامو رضی الله عنهم په نزد فرض کیدل پکار دی واجب نه خو د دې باوجود هغوی په دې باندې
واجب حکم لګولي دي؟ دا اعتراض په ظاهر کښې واقعة وزنی دې.

خو علامه بحر العلوم چه دا په کوم انداز کښې حل فرمائیلي دې هغه هم په خپل ځائې
قابل تسلیم حقیقت دې هغوی په خپل کتاب "رسائل الارکان" کښې لیکلي دی چه د احنافو په نز
په دوه طریقو څخه د واجب ثبوت راځی..... (۱) بعض وخت مامور به قطعی الثبوت نه وی د هغو
عدم قطعی الثبوت کیدو د وجې نه واجب ثابتیږی داسې مامور به لپاره دا وئیل چه هغه زمونږ
نزد واجب دې صحیح ده او صحابه کرامو رضی الله عنهم ته چه کله دا حکم په قطعی الثبوت طریقې څخ
ملاؤ شو نو د هغوی لپاره دا حکم واجب نه بلکه فرض دې. ۲: د واجب دویم قسم دا دې چه خپل
رسول الله ﷺ د دې خبرې تصریح فرمائیلې وی چه د هغې ترک مبطل د عمل نه دې بلکه منقص
عمل دې په دې قسم واجب کښې زمونږ او د صحابه کرامو رضی الله عنهم په مینځ کښې هیڅ فرق نشته
داسې مامور به د صحابه کرامو په نزد هم واجب دې او زمونږ په حق کښې هم واجب دې لهذ
تعدیل ارکان هم په دې دویم قسم کښې داخل دې.

**یو اصولی اختلاف:** دلته دې د دې خبرې هم خیال اوساتلې شی چه د امام ابوحنیفه او ائمة ثلاثه په
نزد دا اختلاف په یو اصولی اختلاف باندې بناء دې او هغه دا دې چه امام صاحب د اخبار احاد نه
د ثبوت قائل نه دې او حال دا چه د امام صاحب په نزد د فرض او سنت ترمینځه یو درجه د واجب
هم ده او په اخبار احاد څخه د هغوی په نزد وجوب ثابتیږی او د ائمه ثلاثه په نزد په فرض او
واجب کښې هیڅ فرق نشته.

**ثمره د اختلاف:** دلته دې د دې خبرې هم لحاظ اوساتلې شی چه د ائمة ثلاث او امام ابوحنیفه رحمه الله
ترمینځه د تعدیل ارکان د فرضیت او وجوب په سلسله کښې دا اختلاف په دنیا کښې د حکم او
عمل په لحاظ څخه څۀ خاص اهمیت نه لری ځکه چه په ترک تعدیل څخه د هر یو په نزد مونځ
واجب الاعادة دې.

**د حدیث براء بن عازب تشریح:** ۴۱۷ : د سیدنا براء بن عازب رضی الله عنه دا روایت کوم چه امام مسلم په
خپل صحیح ج ۱ ص ۱۸۹ او امام بخاری په خپل صحیح ج ۱ ص ۱۰۹ کښې تخریج کړې دې کښې د
رسول الله ﷺ د مانځه د ارکانو مقدار داسې بیان کړې شوې دې چه څلور ارکان یعنی رکوع،

قومه، (سجده)، او جلسه دا ټول خپل مینځ کښې تقریبا برابر وو خو په قیام کښې به ئې چونکه قرأت کولو او په قعود کښې به ئې التحیات لوستلو په دې وجه به دا دواړه ارکان د باقی ارکانو په مقابله کښې اوږدۀ وو.

غرض دا چه د دې روایت نه د اعتدال مقدار معلوم شو چه مقدار د اتمام به څه وی؟ په دې کښې د براء بن عازب رضی الله عنه هم دا روایت مشهور دې کوم چه په بخاری کښې څو ځایه نقل کړې شوې دې.

**د قریبا من السواء مطلب:** د ﴿ قریبا من السواء ﴾ درې مطلبونه کیدې شی.

۱: د قریب نه قرب تام مراد دې او مطلب دا دې چه که رکوع د یو منټ وې نو سجود به ئې هم د یو منټ وې او که سجود به ئې د یو منټ وې نو مابین السجدتین به هم د یو منټ وه سوا د قیام او قعود نه ځکه چه په هغې کښې برابرې نه شو کیدلې.

۲: د قریب نه مراد قرب تناسب مراد دې او مطلب دا دې چه رکوع و سجود او قومه او جلسه ټول به مناسب وو دا نه چه یو څیز خو د یوې گهنټې او دویم څیز د یو منټ.

۳: د مساوات نه مراد مساوات النظیر بالنظیر مراد دې او مطلب دا دې چه د یو رکعت رکوع د دویم رکعت د رکوع برابر او د یو رکعت سجده به د دویم رکعت د سجدې برابر وه، **وعلی هذا القیاس** ـ په دې صورت کښې ښکاره خبره ده چه په قیام او قعود کښې مساوات نه شی کیدې، او په اول دوه قیامونو کښې فاتحه او د سورة پیوست کول دواړه راځی او په ثانین کښې صرف فاتحه، هم دغه شان په اول قعده کښې صرف تشهد او په ثانی کښې درود شریف وغیره هم ورځخه وی.

**په مانځه کښې سرقة د مال د سرقې نه زیات مذموم دې:**

**۴۱۹** : د ابوقتاده رضی الله عنه دا روایت په **مسند احمد ج ٥ صفحه ۲۱۰، المعجم الکبیر للطبرانی ج ۳ ص ۲٤۲ مستدرک حاکم ج ۱ ص ۲۲۹** او په مجمع الزوائد ج ۲ ص ۱۲۰ کښې نقل کړې شوې دې چه په هغې کښې د مانځه د غلا مذمت دې، د مال د غلا کونکی نه د مانځه نه غلا کونکې سړې ځکه بد دې ځکه چه د مال غلا کونکې به د غلا د مال نه کم از کم په دنیا کښې خو فائده اوچته کړی او بیا دا چه د مالک نه په معاف کولو نه پس یا د سزا په طور (د اسلامی قانون مطابق) خپل لاسونه پرې کولو څخه هغه د آخرت د مواخذې نه بچ شی خو د دې خلاف د مانځه غلا کونکې سړې د ثواب په معامله کښې خپله د خپل نفس حق وهی او د هغې په بدله کښې د آخرت عذاب اخلی خو د دې نقصان او خسران نه علاوه هغه ته هیڅ هم په لاس نه راځی.

**د علي بن شيبان ﷺ د روايت تشريح:** ۴۲۰ : د علي بن شيبان ﷺ دا روايت ابن ماجه په كتاب الصلوٰة صفحه ۶۳ په باب الركوع في الصلوة كښې نقل كړې دې.

﴿ **فلمح بموخر عينيه** ﴾ هم د دې مضمون يو روايت دسيدنا ابوهريره ﷺ نه هم منقول دې كوم چه د مسند احمد په حوالې ځخه په مشكوة **باب صفة الصلوة** فصل ثالث كښې نقل كړې شوې دې چه د هغې مفهوم دا دې چه يو كرت رسول الله ﷺ مونځ ته د ماسپخين مونځ راكړو د صف په آخره كښې يو سړې ولاړ وو چه هغه صحيح مونځ اونكړو چه كله هغه سلام واړولو نو رسول الله ﷺ هغه ته آواز وركولو ځخه اوفرمائيل : اې فلانيه ! د الله پاک نه نۀ ويريږې؟ ايا تاته معلومه نه ده چه تا څنګه مونځ اوكړو تاته دا خو معلومه ده چه ته څه كوې هغه ماته معلوم نه دى. حال د چه قسم په الله ! څنګه چه زه خپل مخامخ څيزونه وينم هم دغه شان خپل شاته څيزونه هم وينم.

أَلَا تَرَى كَيْفَ تُصَلِّيْ إِنَّكُمْ تَرَوْنَ أَنَّهُ يَخْفٰى عَلَيَّ شَيْءٌ مِّمَّا تَصْنَعُوْنَ وَاللّٰهِ إِنِّيْ لَأَرٰى مِنْ خَلْفِيْ كَمَا أَرٰى مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ۔

مونږ دلته د څه نوې تشريح او توضيح په ځائې د مظاهر حق ج ۱ ص ۵۵٤ نه بعينه د علامه نواب محمد قطب الدين خان ﷫ توضيح نقل كوو!

**خپل شاته څيزونه ليدل د رسول الله ﷺ يو معجزه:** الله پاک رسول الله ﷺ دې دنيا ته د حق شريعت وركولو ځخه مبعوث اوفرمائيلو نو يو طرفته ئې چه د هغوى په رسالت او نبوت باندې په دلائلو او شواهدو كښې ډير څيزونه وركړل هم هغه شان ئې بل طرف ته رسول الله ﷺ ته معجزات هم وركړل چه د هغې په ذريعه د خلقو په ذهن او فكر باندې د رسول الله ﷺ عظمت او برترى او د هغوى صداقت ښكاره شي، پس رسول الله ﷺ ته دا خصوصيت حاصل وو چه هغوى به څنګه چه خپلې مخې ته او وړاندې څيزونه ليدل هم دغه شان خپل شاته څيزونو ليدلو باندې هم قادر وو او دا ليدل خرق عادت يعنى د معجزې په طور وو چه د هغې رهنمائى د وحى او الهام په ذريعه كيده

خو دومره خبره ياد ساتئ چه د دې معجزې نه دا نه شى ثابتيدلې چه رسول الله ﷺ ته علم غيب حاصل وو ځكه چه اول خو دا خبره بيان شوې ده چه رسول الله ﷺ ته دا خصوصيت صرف د معجزې په طور حاصل وو، دويمه دا چه رسول الله ﷺ په دې وصف باندې په خپله قادر نه وو بلكه په دې سلسله كښې د وحى او الهام په ذريعه د هغوى رهنمائى كيدلې شوه، بيا دا چه دا وصف به رسول الله ﷺ ته د هميشه لپاره نه وو حاصل بلكه كله كله به داسې كيدل. كه رسول الله ﷺ ته علم غيب حاصل وې نو نۀ صرف دا چه رسول الله ﷺ به د وحى او الهام نه بغير پخپله په دې وصف باندې قادر وې بلكه دا وصف به هغوى ته د هميشه هميشه لپاره حاصل وې پس د

دې تائید خپله د یو روایت نه کیږی چه :-

"د غزوهٔ تبوک په موقع باندې د رسول الله ﷺ اوښه چیرته غائبه شوه، چه هر کله د ډیر زیات لټون نه پس هم د هغې څه پته او نه لګیده نو منافقانو وئیل شروع کړل چه محمد ﷺ خو دا وائی چه زه د آسمان خبرې تاسو ته رارسوم نو آیا هغوی دا هم نه شی معلومولې چه د هغوی اوښه چیرته ده؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل : قسم په الله ! زه خو صرف هم هغه څیزونه پیژندلې شم د کومو په باره کښې چه ماته زما الله پاک علم راکړی، او اوس زما رب ماته اوښودل او اوئې ښودل چه زما اوښه چیرته ده او د هغې واږې په یوه اونه کښې ایختلې دی"

د دې نه علاوه د رسول الله ﷺ دا ارشاد هم منقول دې چه " زه انسان یم، زه خو د الله پاک د وینا نه بغیر په دې هم نه پوهیږم چه د فلانی دیوال نه شاته څه دی"؟

شیخ سعدی رحمه الله د دې حقیقت ترجمانی داسې کړې ده ! .

گہے بر طارم اعلیٰ نشینم گہے بر پشت پائے خود نہ بینم

بهرحال د رسول الله ﷺ د مانځه حالت د هغوی د نورو حالتونو په مقابله کښې زیات افضل او اعلی وو په دې وجه د نورو مواقع په نسبت په هغوی باندې د مانځه په حالت کښې د کائنات د څیزونو حقیقت او معرفت کاملې طریقې څخه واضځ او ظاهر کیدلو. بیا دا چه د رسول الله ﷺ په مانځه کښې د الله پاک مخې ته حاضریدل او د متوجه الی الله کیدو دا معنی نه ده چه رسول الله ﷺ به د کائنات نه بې خبر شو بلکه د مانځه په حالت کښې به هغوی د کائنات د څیزونو نه پوره پوره خبر وو او د هغوی احساس او شعور به په پوره طاقت څخه د عالم د څیزونو ادراک کولو، پس د الله پاک هغه نیک او فرمانبردار بندګان هم کوم چه د ریاضت او مجاهدې او تعلق مع الله په بناء باندې د کاملینو په درجه کښې وی د مانځه په حالت کښې د کائناتو د څیزونو نه خبر وی، که یو طرف ته د هغوی زړونه د الله پاک په دربار کښې پوره طریقې څخه حاضر وی نو بل طرف ته د هغوی احساس او شعور د دنیا د څیزونو نه هم خبر وی هم په دې وجه مشائخ وائی چه مونځ مقام د کشف او حضور دې نه محل غیبت او استغراق!

بعض حضراتو د دې ټولو مباحثو نه یو طرف ته دا هم وئیلې دی چه د رسول الله ﷺ د دواړو اوږو ترمینځه دوه سوری وو چه د هغې په ذریعه به رسول الله ﷺ شاته کتل. دا روایت صحیح نه دې او نه د دې څه ثبوت شته بلکه صرف د چا د ذهن اختراع ده. (مظاهر حق جدید ج ۱ ص ۵۵۵)

**یوه بله تحقیقی فائده :** امام ابن دقیق العید رحمه الله په احکام الاحکام ج ۱ ص ۷۵ کښې لیکی چه دوه څیزونه دی یو نفس رکوع او سجدې نو په ﴿ وارکعوا واسجدوا ﴾ کښې هم دې حکم طرف ته شاره ده

او بل ځیز اطمینان او اعتدال دي دا مدلول هم په دي شخه نه پوره کیږي د دي لپاره بل حکم دي او هغه هم د هغې نه پوره کیږي علامه ابن رشد په بدایة المجتهد ج ۱ ص ۱۳۰ کښې لیکي چه هغه حکم ﴿ ثم ارکع حتی تطمئن راکعا ﴾ (الحدیث) شخه پوره کیږي، علامه شبیر احمد عثمانی رحمه الله په فتح الملهم ج ۲ ص ۲۳ کښې لیکي چه امام طحاوي، علامه عیني، ابن الهمام او د هغوی شاګرد ابن امیر الحاج رحمهم الله وغیره تصریح کوي چه رکوع او سجود او قومه او جلسه کښې اطمینان او اعتدال واجب دي او فرمائي چه د دلائلو په لحاظ شخه هم دا خبره حق، صواب او قوي ده بلکه په دي مسئله باندي علامه برکلي حنفي رحمه الله یو مستقل کتاب لیکلي دي المعدل في ارکان الصلوة چه په هغې کښې ئې په دلائلو شخه اعتدال واجب ثابت کړي دي.

د حدیث (۴۲۱) او (۴۲۲) مدلول په تحت اللفظ ترجمه کښې واضح کړي شوي دي.

## بَابُ مَا يُقَالُ فِي الرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ

(۴۲۳) عَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ فِيْ رُكُوْعِهٖ ﷺ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ وَفِيْ سُجُوْدِهٖ ﷺ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى. رَوَاهُ النِّسَائِيُّ وَاٰخَرُوْنَ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

**باب په رکوع او سجدې کښې شه اوونیلې شي:** ۴۲۳ : سیدنا حذیفه رضي الله عنه فرمائي چه ما د رسول الله ﷺ شخه مونځ ادا کړو، چه کله ئې رکوع اوکړه، نو په رکوع کښې ئې اوفرمائیل :﴿ سبحان ربي العظيم ﴾ (پاک دي زما رب د عظمت والا) او په خپله سجده کښې ئې اوفرمائیل :﴿ سبحان ربي الاعلى ﴾ (پاک دي زما رب چه اوچت دي)

دا حدیث نسائي او نورو محدثینو نقل کړي دي او د دي اسناد صحیح دي.

(۴۲۴) وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ الْجُهَنِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ {فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ} قَالَ لَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اجْعَلُوْهَا فِيْ رُكُوْعِكُمْ فَلَمَّا نَزَلَتْ {سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰى} قَالَ اجْعَلُوْهَا فِيْ سُجُوْدِكُمْ. رَوَاهُ اَحْمَدُ وَاَبُوْدَاوٗدَ وَابْنُ مَاجَةَ وَالْحَاكِمُ وَابْنُ حِبَّانَ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ.

۴۲۴ : سیدنا عقبه بن عامر الجهني رضي الله عنه فرمائي، چه کله (آیت) ﴿فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ﴾ نازل شو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل، دا په خپله رکوع کښې لولئ، او چه کله ﴿ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰى ﴾ نازل شو نو وي فرمائیل : تا په خپله سجده کښې لولئ.

دا حدیث احمد، ابوداؤد، حاکم او ابن حبان نقل کړي دي او د دي اسناد حسن دي.

(۴۲۵) وَعَنْ اَبِيْ بَكْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُسَبِّحُ فِيْ رُكُوْعِهٖ ﷺ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ ثَلَاثًا وَفِيْ سُجُوْدِهٖ ﷺ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى ثَلَاثًا۔ رَوَاهُ الْبَزَّارُ وَالطَّبَرَانِيُّ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

**۴۲۵** : د ابوبکرة رضی الله عنه نه روايت دي چه رسول الله ﷺ به په رکوع کښې درې کرته سبحان ربي العظيم او په خپله سجده کښې درې کرته سبحان ربي الاعلى لوستل.

دا حديث بزار او طبراني نقل کړيدې او د دې سند حسن دې.

**تشريح> د رکوع او سجود اهميت**: (۴۲۳ نه ۴۲۵ پورې) مونځ د الله پاک په دربار کښې په قلب او قالب او قول او عمل څخه په يو خاص طريقه باندې د خپلې بندګئ او نيازمندئ اظهار او د هغه د لا متناهي عظمت او جلالت مخې ته د خپل انتهائي تذلل او محبت مظاهره ده، قيام او قعود او رکوع او سجود او څه چه په دې کښې لوستلې شي د هغه ټولو روح دا دې خو د دې بندګئ او تذلل د ټولو نه لوئې مظهر د مونځ په اعمالو او اجزاء کښې رکوع او سجود دی. سر پورته ساتل تکبراو برتری او د لوئې والی د احساس علامت دې او د دې برعکس د هغې ښکته ساتل او ښکته کول د تواضع او عاجزئ نخښه ده او چاته ځان د رکوع په شکل کښې ښکته کول د دې تواضع او تعظيم غير معمولی شکل دې کوم چه صرف د خپل خالق او مالک حق دې او سجده د هغې بالکل آخری او انتهائی شکل دې په دې کښې بنده خپل تندې او پوزه کوم چه په انسانی اندامونو کښې د ټولو نه زيات محترم دې په خاورو باندېږدی په دې لحاظ څخه رکوع او سجود د مانځه په ارکانو کښې د ټولو نه زيات اهم دی ځکه چه رسول الله ﷺ د دې په ښه او صحيح طريقې څخه د ادا کولو سخت هدايت او تاکيد فرمائيلې دې او په بهترين کلماتو څخه د الله پاک تسبيح او تقديس يا د هغه په حضور کښې ئې د دعا کولو په خپل ارشاد او عمل څخه تلقين فرمائيلې دې.

**د رکوع او سجود تسبيحات**: په رکوع کښې ﴿ سبحان ربي العظيم ﴾ او په سجده کښې ﴿سبحان ربي الاعلى ﴾ وئيل د رسول الله ﷺ نه منقول او د احاديث الباب مدلول دې.

په رکوع او سجود کښې د دې تسبيحاتو درې کرته لوستل ادنی درجه د کمال سنت ده ګينې اصل سنت خو په يو کرت هم ادا کيږی او د کمال سنت اوسط درجه پنځه کرته او اعلى درجه اووۀ کرته ده او د انتهاء کمال هيڅ حد نشته اګر چه بعض حضراتو د لس کرتو پورې هم لوستلې دی.

د سعيد بن جبير تابعی رحمه الله نه ابوداؤد او نسائی روايت کړې دې چه انس رضی الله عنه د عمر بن عبدالعزيز رحمه الله په باره کښې اوفرمائيل چه د دې ځوان مونځ د رسول الله ﷺ د مانځۀ څخه ډير زيات مشابه دې ابن جبير رحمه الله فرمائی چه د دې نه پس مونږ د عمر بن عبدالعزيز رحمه الله د رکوع او د سجود د تسبيحاتو په باره کښې اندازه اولګوله نو هغه به تقريبا لس کرته لوستل.

خو د امام لپاره ضروری ده چه هغه رکوع او سجده دومره اوږده نه کړی چه هغه؛ مقتديانو لپاره د زحمت او مشکل باعث شي.

بعض حضراتو (چه کله مصلی منفرد وی) نو تقريبا د قيام د مقدار پورې د تسبيحاتو؛ لوستلو وئيلې دی خو امام لره په هر حال کښې د مقتديانو لحاظ کول ضروری دی.

**د ابن مسعود رضی الله عنه روايت:** د دې باب روايت ابی بکرة رضی الله عنه (۴۲۴) کښې د ثلاثا تصريح ده او ابوداؤد، ترمذی، ابن ماجه او بيهقی د ابن مسعود رضی الله عنه نه روايت کړې دې ﴿إِذَا رَكَعَ أَحَدُكُمْ فَلْيَقُلْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ وَذَٰلِكَ أَدْنَاهُ وَإِذَا سَجَدَ فَلْيَقُلْ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَىٰ ثَلَاثًا وَذَٰلِكَ أَدْنَاهُ﴾ نه څه مراد دې؛ حافظ بيهقی رحمه الله د امام شافعی رحمه الله نه نقل کړی دی چه د دې معنی د ادنی الکمال ده، په غاية البيان کښې د شمس الائمة د مبسوط نه منقول دی چه د دې نه د جواز کمه درجه نه ده مراد چه؛ دې نه کم جايز نه دی ځکه چه رکوع او سجود خو د دې تسبيح نه بغير هم جائز ده (الا على قول ابی مطيع) بلکه د کمال کمه درجه مراد ده يعنی د دې نه په کمه به کامل سنت نه ادا کيږی. په شرح د حميد الدين کښې دی چه ادنی جمع مسنون مراد ده ځکه چه که تسبيح بالکل او نه وائی نو بيا هم مونځ جائز دې او که د درې کرتو نه ئې کم اوائی نو د سنت تارک دې او که د درې کرتو نه زيات اوائی نو عامل شو په فضيلة باندې ﴿فيكون الثلاثة ادنى الوجه المسنون﴾ صاحب هداية د دې تفسير په ادنی کمال الجمع څخه کړې دې، صاحب عناية وائی که دا اوئيلې شی چه مشهوره خو دا ده چه ادنی جمع درې ده بيا د کمال جمع څۀ معنی؟ ځواب دا دې چه لغة د ادنی جمع تصور په دواو کښې هم کيدې شی، پاتې شوه کمال جمع نو هغه صرف درې ده، که دا اوئيلې شی چه کمال جمع خو په حديث کښې نه ده ذکر شوې، ځواب دا دې چه په ذکر د ثلث څخه دلالة د دې ذکر شوې دې، بهر حال په رکوع کښې درې کرته تسبيحات وئيل د کمال جمع يا کمال سنت ادنی درجه ده پس د تسبيح ترک کول يا د دريو نه کم کول مکروه تنزيهی دی، خو د منفرد په حق کښې د دريو نه زيات افضل دې په طاق عدد څخه، د امام احمد رحمه الله په نزد يو کرت تسبيح وئيل واجب دی او د چلپی رجحان هم د وجوب طرف ته دې.

علامه ماوردی فرمائی چه کمال سنت يولس يا نهه کرته وئيل دی او اوسط درجه پنځه کرته وئيل دی او که چا صرف يو کرت تسبيح اووئيل نو بيا به هم د تسبيح حصول اوشی، امام ترمذی رحمه الله د عبدالله بن المبارک او اسحاق بن راهويه رحمهما الله نه نقل کړی دی چه د امام لپاره پنځه کرته تسبيح وئيل مستحب دی، امام ثوری رحمه الله هم د دې قائل دې.

په شرح اسبیجابی کښې دی چه که چا درې کرته تسبیح او نه وئیلو یا دومره مقدار ایسار نه شو نو د هغه رکوع او سجده نه کیږی، خو دا قول شاذ دې، لکه چه د تسبیحاتو متعلق د ابومطیع بلخی قول شاذ دې، هم دغه شان چه کومو حضراتو د نهه کرتو نه زیات تسبیح وئیلو باندې سجده سهوه واجب کړې ده هغه هم بغیر د دلیل نه دې. (ملخصا از فتح القدیر وغیره)

**د تسبیح او تقدیس بعضې نور کلمات:**

د دې باب د درې واړو روایتونو نه معلومیږی چه رسول الله ﷺ په رکوع او سجده کښې د ﴿سبحان ربي الاعلى﴾ او ﴿سبحان ربي العظيم﴾ وئیلو امت ته هدایت او تلقین فرمائیلې دې او هم دا د هغوی معمول وو خو د بعض نورو احادیثو نه د رکوع او سجدې په حالت د تسبیح او تقدیس د بعضې نور کلماتو او دعاګانو لوستل هم د رسول الله ﷺ نه ثابت دی.

عن عائشة رضي الله عنها ان النبي صلى الله عليه وسلم كان يقول في ركوعه وسجوده سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ رَبُّ الْمَلٰٓئِكَةِ وَالرُّوحِ (رواه مسلم) وعن عائشة رضي الله عنها قالت كان النبي صلى الله عليه و سلم يُكْثِرُ اَنْ يَّقُوْلَ فِيْ رُكُوْعِهٖ وَسُجُوْدِهٖ سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ۔ (رواه البخاري ومسلم)

**بیان مذاهب، دلائل او ترجیح د راجح:** د مخکښې بحث نه دا خبره اجمالا واضح شوې ده خو د طالبانو د سهولت لپاره په دې کښې نور وضاحت هم د نفع نه خالی نه دې، لهذا دلته دوه مسائل بیانولې شی.

**د تسبیح درجه او بیان مذاهب:** په رکوع او سجده کښې د تسبیح درجه څه ده په دې سلسله کښې حضرت سهارنپوری رحمه الله په بذل المجهود ج ۲ ص ۷۸، علامه شوکانی رحمه الله په نیل الاوطار ج ۲ ص ۱۳۸ او امام نووی رحمه الله په شرح د مسلم ج... صفحه ۱۹۱ کښې دوه مذهبونه نقل کړې دی.

۱: د امام احمد بن حنبل، اسحق بن راهویه او داؤد ظاهری وغیره په نزد په رکوع او سجود کښې تسبیحات وئیل واجب دی که عمدا ئې ترک کړی نو مونځ به ئې فاسد شی.

۲: د احنافو، مالکیانو او جمهور فقهاء او محدثینو په نزد واجب نه دی بلکه سنت دی.

**تسبیح مسنون او بیان مذاهب:** په رکوع او سجود کښې کوم تسبیح وئیل مسنون دی علامه ابن رشد په بدایة المجتهد ج ۱ ص ۱۲۸ کښې، مولانا محمد یوسف په امانی الاحبار ج ۲ ص ۲۷۱ کښې، او حضرت بنوری په معارف السنن ج ۳ ص ۶ کښې درې مذاهب نقل کړی دی.

۱: د داؤد بن علی الظاهری، امام اسحق بن راهویه، امام احمد او امام شافعی رحمهم الله په نزد په رکوع او سجده کښې ما احب من الدعا مسنون ده او څه خاص دعا متعین نه ده.

۲: د امام ابوحنیفه، امام محمد، امام ابویوسف او حسن بصری ﷭ وغیره په نزد په رکوع او سجود کښې مخصوص دعا مسنون ده کوم چه په احادیث الباب کښې منقول ده، **ما احب من الدعا** مسنون نه دی، یعنی د دې حضراتو په نزد په رکوع کښې تسبیح عظیم او په سجود کښې تسبیح اعلی او د دې درې کرته وئیل مسنون دی.

۳: د امام مالک او امام عبدالله بن مبارک ﷭ وغیره په نزد په رکوع کښې تسبیح عظیم او په سجود کښې **ما احب من الدعاء** مسنون دی.

**د احنافو د مسلک وجوهِ ترجیح**: ۱: د باب د درې وارو احادیثو مضمون د احنافو مستدل دې چه د هغې مضمون دا دې چه کله آیت کریمه ﴿ فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ ﴾ نازل شو نو رسول الله ﷺ حکم اوفرمائیلو چه هم دا آیت کریمه دې په رکوع کښې اولوستلې شی او کله چه سورة الاعلی نازل شو نو رسول الله ﷺ حکم اوفرمائیلو چه د سورة الاعلی اول آیت دې په سجده کښې اولوستلې شی د دې نه واضحه شوه چه په رکوع او سجود کښې هم دا مخصوص تسبیح مسنون کیدې شی.

۲: د تسبیح د عمومیت چه څومره هم روایات دی هغه ټول منسوخ دی چه اول د عمومیت اجازت وو او چه کله د آیت عظیمه او آیت اعلی نزول اوشو نو د عمومیت حکم منسوخ شو او د خصوصیت حکم ثابت شو.

لهٰذا د عمومیت روایات اګر چه په خپل خپل ځائې باندې صحیح دی خو د منسوخ کیدو د وجې نه قابل استدلال نه دی.

**د امام طحاوی رحمه الله عقلی استدلال**: ۳: امام طحاوی رحمه الله په شرح معانی الاثار ج ۱ ص ۱۳۹ کښې په **واما وجهه ذلک من طریق النظر** نه تقریبا په دولسو کرښو کښې عقلی استدلال پیش کولو ښخه لیکلې دی چه مونږ په مانځه کښې دننه ډیر داسې مقامات اولیدل چه په هغې کښې ذکر الهی کولې شی لکه په وخت د تحریمه او په وخت د ارکان انتقالیه الله اکبر وئیل. او په وخت د قعود تشهد د ابن مسعود رضی الله عنه لوستل او په وخت د قومې د امام **سمع الله لمن حمده** لوستل او د مقتدی **ربنا لک الحمد** وئیل وغیره په دې ټولو مقاماتو کښې خاص خاص اذکار متعین دی او د مخصوص ذکر نه علاوه بل ذکر الهی په دې مقاماتو کښې غیر موزون ګڼړلې شی او ټول امت ته د دې علم او واقفیت حاصل دې مثلا د الله اکبر په ځائې چه الله اعظم اوئیلې شی نو بد ګڼړلې کیږی او که په قعده کښې تشهد د ابن مسعود رضی الله عنه پریخودلو ښخه بل تشهد اولوستلې شی نو بد ګڼړلې کیږی هم دغه شان د قومې په وخت که د **سمع الله لمن حمده** او **ربنا لک الحمد** پریخودلو په ځائې بل ذکر اوکړې

شی نو بد ګنړلې کیږی او هم دغه شان د مانځه نه د فراغت په وخت کښې سلام پریخودلو څخه بل څه ذکر اوکړې شی نو بد ګنړلې شی نو د دې نه معلومه شوه چه په مانځه کښې دننه هغه ارکان او مکان په کومو کښې چه ذکر الهی وی د هغه مقاماتو لپاره مخصوص ذکر مقرر دې او رکوع او سجود هم داسې مقامات دی چه په هغې کښې ذکر الهی کیږی لهذا په دې مقاماتو کښې هم مخصوص ذکر کیدل پکار دی او هغه مخصوص اذکار د حدیث الباب نه ثابت دی چه په رکوع کښې تسبیح عظیم او په سجده کښې تسبیح اعلی لوستل دی لهذا د فکر او نظر په تقاضې څخه به په رکوع او سجود کښې هم مخصوص ذکر متعین وی د دې نه علاوه په نورو تسبیحاتو څخه به سنیت نه ادا کیږی.

## بَابُ مَا يَقُوْلُ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوْعِ

(۴۲۶) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلٰوةِ يُكَبِّرُ حِيْنَ يَقُوْمُ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِيْنَ يَرْكَعُ ثُمَّ يَقُوْلُ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ حِيْنَ يَرْفَعُ صُلْبَهُ مِنَ الرُّكُوْعِ ثُمَّ يَقُوْلُ وَهُوَ قَآئِمٌ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ. رَوَاهُ الشَّيْخَانِ.

**باب چه کله د رکوع نه سر اوچت کړی نو څهٔ به وائی:** ۴۲۶: سیدنا ابوهریره رضی الله عنه فرمائی، رسول الله ﷺ چه به کله د مانځه اراده اوفرمائیله نو د اودریدو په وخت به ئې تکبیر وئیلو، بیا به ئې چه کله رکوع فرمائیله نو تکبیر به ئې وئیلو، بیا چه به ئې کله خپله ملا مبارکه نیغه کړه نو ﴿ سمع الله لمن حمده ﴾ به ئې وئیل، بیا به ئې په ولاړه ولاړه اووې ﴿ ربنا لک الحمد ﴾

دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۴۲۷) وَعَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا قَالَ الْإِمَامُ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فَقُوْلُوْا اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ فَإِنَّهُ مَنْ وَّافَقَ قَوْلُهُ قَوْلَ الْمَلَآئِكَةِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ. رَوَاهُ الشَّيْخَانِ.

۴۲۷ : د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه بیشکه رسول الله ﷺ فرمائی، چه کله امام ﴿ سمع الله لمن حمده ﴾ اوائی نو تاسو ﴿ ربنا لک الحمد ﴾ اوایئ، بیشکه د چا قول چه د ملائکو د قول څخه مشابه شو د هغه به ټول مخکښې ګناهونه معاف کړې شی. داحدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۴۲۸) وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ سَقَطَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ فَرَسٍ فَجُحِشَ شِقُّهُ الْأَيْمَنُ فَدَخَلْنَا عَلَيْهِ نَعُوْدُهُ فَحَضَرَتِ الصَّلٰوةُ فَصَلّٰى بِنَا قَاعِدًا فَصَلَّيْنَا وَرَآءَهُ قُعُوْدًا فَلَمَّا قَضَى الصَّلٰوةَ قَالَ إِنَّمَا جُعِلَ الْإِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهِ فَإِذَا كَبَّرَ فَكَبِّرُوْا وَإِذَا رَكَعَ فَارْكَعُوْا وَإِذَا رَفَعَ فَارْفَعُوْا وَإِذَا قَالَ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فَقُوْلُوْا رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ وَإِذَا سَجَدَ فَاسْجُدُوْا. رَوَاهُ الشَّيْخَانِ.

۴۲۸ : انس بن مالک رضی الله عنه فرمائی، چه رسول الله ﷺ د اس نه اوغورځیدلو نو د هغوی په ښی طرف کښې زخم راغلو مونږ هغوی ته د هغوی د بیمار پرسئ لپاره حاضر شو، د مانځه وخت شو نو هغوی مونږ ته په ناسته باندې مونځ راکړو، مونږ په رسول الله ﷺ پسې شاته په ناسته مونځ اوکړو، چه کله رسول الله ﷺ مونځ پوره کړو نو وې فرمائیل : بیشکه امام د دې لپاره جوړولې شی چه د هغه اقتداء اوکړې شی، چه کله هغه تکبیر وائی نو تاسو هم تکبیر وایئ چه کله رکوع کوی، نو تاسو هم رکوع کوئ، چه کله هغه پاسی، نو تاسو هم پاسئ، چه کله هغه ﴿ سمع الله لمن حمده ﴾ اوائی نو تاسو ﴿ ربنالک الحمد ﴾ وایئ، او کله چه هغه سجده کوی نو تاسو هم سجده کوئ.

دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

**تشریح> د تسمیع ترجمه او تحقیق:** (۴۲۲ نه ۴۲۸ پورې) د ﴿ سمع الله لمن حمده ﴾ معنی دا ده چه ﴿ قَبِلَ اللهُ حَمْدَ من حمده ﴾ د عربو په کلام کښې د دې مثالونه موجود دی مثلا وئیلې شی ﴿ سمع الامیر کلام فلان اذا تلقاه بالقبول ﴾ هم د دې نه دا حدیث دې ﴿ اللهم انی اعوذبک من دعاء لا یسمع ﴾ ای لا یستجاب، اې الله! زه تا نه پناه غوام د داسې دعا نه چه هغه اوریدلې نه شی یعنی مستجاب او مقبول نه وی. مشهور نحوی امام علامه رضی ذکر کړې دی چه لام کله په معنی د الی هم راځی لکه ﴿ سمع الله لمن حمده ﴾ ای استمع الی من حمده (فتح القدیر وغیره ملخصا)

**د حمده هاء لپاره د سکته یا کنایة ده او د دې حکم:** ۱ : په بنایه کښې د فوائد حمیدیه نه منقول دی چه د ﴿ حمده ﴾ ها د سکتې او استراحت لپاره ده نه د کنایه لپاره **کذا نقل عن الثقات**. ۲ : د مستصفی نه منقول دی چه هاء لپاره د کنایه ده لکه چه د الله پاک ارشاد دې ﴿ واشکروا له ﴾. ۳ : په مضمراتو کښې دې د ﴿ حمده ﴾ هاء ضمیر مجزوم کیدل پکار دی لکه چه د وقف شان هم دا دې. ۴ : په صلوة مسعودی کښې دی چه که یو سړې د هاء نه بغیر ﴿ حمده ﴾ اوائی نو د هغه مونځ به فاسد شی خو د فساد لپاره هیڅ وجه نشته ځکه چه کله بالکلیه د ﴿ سمع الله لمن حمده ﴾ په ترک څخه مونځ نه فاسدیږی نو د یو حرف په ترک کولو څخه به مونځ څنګه فاسد شی.

**بیان مذاهب:** د رکوع نه د سر اوچتولو په وخت ﴿ سمع الله لمن حمده ﴾ څوک اوائی او ﴿ ربنا لک الحمد ﴾ څوک؟ چه کله امام ﴿ سمع الله لمن حمده ﴾ اوائی نو د هغې نه پس د امام لپاره ﴿ ربنا لک الحمد ﴾ وئیل هم صحیح دی که نه؟

نو په دې سلسله کښې مولانا خلیل احمد سهارنپوری رحمه الله په بذل المجهود ج ۲ ص ۶۷،

علامه شوكانی رحمه الله په نيل الاوطار ج ٢ ص ١٦٣، علامه بنوری په معارف السنن ج ٣ ص ٢٤ او مولانا محمد يوسف په امانی الاحبار ج ٣ ص ٢٨٨ كښې دوه مذاهب نقل كړې دی.

١: امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی چه امام به صرف ﴿ سمع الله لمن حمده ﴾ وائی او مقتدی به صرف ﴿ ربنا لک الحمد ﴾ وائی، امام مالک رحمه الله هم د دې قائل دې لکه چه په رساله د ابن ابی زيد كښې دی حافظ ابن المنذر رحمه الله د عبدالله بن مسعود، ابوهريره رضی الله عنهما او شعبی رحمه الله نه هم دا حكايت كړې دې، خپله ابن المنذر فرمائی چه زه هم د دې قائل يم، د سفيان ثوری او امام اوزاعی هم دا مسلک دې، د امام احمد رحمه الله نه هم يو روايت هم دا منقول دې.

٢: امام ابويوسف، امام محمد (صاحبين) امام شافعی، امام مالک (فی رواية)، عطاء بن ابی رباح، ابوبرده، اسحاق بن راهويه، ابن سيرين، عامر شعبی او امام طحاوی رحمهم الله فرمائی چه امام به تسميع او تحميد دواړه جمع كوی د دې نه پس به مقتدی صرف تحميد وائی. (اګر چه په دوی كښې د بعض حضراتو نه دا هم منقول دی چه تسميع او تحميد به دواړه وائی كه امام وی يا مقتدی يا منفرد).

**د امام ابوحنيفه ومن وافقه دلائل:** ١: د امام ابوحنيفه رحمه الله مستدل د ابوهريره رضی الله عنه حديث ٤٢٧ دې چه د هغې تخريج د ابن ماجه نه علاوه اصحاب خمسه كړې دې امام بخاری رحمه الله په خپل صحيح **كتاب الاذان** ج ١ ص ١٠٩ **باب فضل اللهم ربنا ولک الحمد**، او امام مسلم په **كتاب الصلوة** ج ١ ص ١٧٦ **باب التسميع والتحميد والتامين** كښې نقل كړې دې. د حديث مضمون په لفظی ترجمه كښې واضح كړې شوې دې.

٢: هم د دې باب روايت ٤٢٨ د انس بن مالک رضی الله عنه نه منقول دې كوم چه بخاری ج ١ ص ١٠١ او مسلم ج ١ ص ١٧٦ كښې تخريج كړې دې دهغې مضمون هم دا دې چه ﴿ **اذا قال (الامام) سمع الله لمن حمده فقولوا ربنا لک الحمد** ﴾.

٣: مسلم، ابوداؤد، نسائی، ابن ماجه او امام احمد رحمهم الله د ابوموسی اشعری رضی الله عنه نه روايت كړې دې چه ﴿ **وَإِذَا قَالَ الإِمَامُ سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ. فَقُولُوا اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ يَسْمَعُ اللَّهُ لَكُمْ** ﴾

وجه د استدلال دا ده چه په دې احاديثو كښې تقسيم دې چه امام دې صرف تسميع وائی او مقتدی دې صرف تحميد او تقسيم د شركت منافی دې په دې وجه به امام په تحميد كښې نه شريكيږی، هم دا وجه ده چه مقتدی زمونږ په نزد تسميع نه وائی ځكه چه قسمت منافی د شركت دې.

**يو اعتراض او د هغې ځواب:** خو بعض حضراتو دلته يو اعتراض كړې دې چه د تسميع او تحميد ﴿

شان دلته مسئله د تامین هم ده حال دا چه په هغې کښې د تقسیم اعتبار نه دې کړې شوې. شارحین حدیث په ځواب کښې وائی چه د تامین متعلق خپله د حدیث په آخره کښې صراحۃ راغلې دې ﴿ فان الامام يقول آمين ﴾ معلومه شوه چه په دې کښې تقسیم مراد نه دې.

**د امام ابوحنیفه رحمه الله عقلی دلیل:** صاحب هدایة د امام صاحب رحمه الله عقلی دلیل نقل کړې دې چه په دې مسئله کښې شرکت څکه هم نه شی کیدې چه کله ﴿ امام سمع الله لمن حمده ﴾ اووائی نو مقتدی به ﴿ ربنا لک الحمد ﴾ اوائی که امام هم ﴿ ربنا لک الحمد ﴾ اوائی نو یقینا د هغه تحمید به د مقتدی د تحمید نه پس واقع کیږی او دا د امامت د موضوع خلاف ده.

**د صاحبین ومن وافقهما دلائل او ځوابات او ترجیح د راجح:** ۱: امام طحاوی رحمه الله په شرح د معانی الاثار ج ۱ ص ۱٤۰ کښې د صاحبین ومن وافقهما د طرف نه د ابوهریره او ابوموسی اشعری رضی الله عنهما د روایاتو نه د استدلال په ځواب کښې وئیلې دی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد ﴿ اذا قال سمع الله لمن حمده فقولوا ربنا ولک الحمد ﴾ کښې په دې باندې هیڅ دلیل نشته چه تحمید به صرف مقتدی وئیلې شی غیر مقتدی نه. که واقعی هم داسې وې لکه چه تاسو وئیلې دی نو دا خبره به محال وه چه د غیر مقتدی لپاره تحمید وئیل جائز وی حال دا چه د ټولو خلقو اجماع ده په دې خبره باندې چه غیر مقتدی د تسمیع څخه تحمید هم وئیلې شی چه منفرد مقتدی نه دې نو امام هم مقتدی نه دې نو څنګه چه د منفرد لپاره دواړه جائز کیدل پکار دی هم دغه شان د امام لپاره هم دواړه جائز کیدل پکار دی.

۲: د دې باب اول روایت (۴۲۲) کوم چه د ابوهریره رضی الله عنه نه منقول دې کوم چه امام بخاری رحمه الله په خپل صحیح ج ۱ ص ۱۰۹ او امام مسلم رحمه الله په ج ۱ ۱۶۹ کښې تخریج کړې دې چه په هغې کښې تصریح ده چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به د رکوع نه سر اوچتولو څخه ﴿ ربنا لک الحمد ﴾ وئیلو د دې نه علاوه امام طحاوی رحمه الله په شرح معانیء الاثار ج ۱ ص ۱٤۰ کښې د علی، ابن عباس، ابوسعید خدری او ابوجحیفة رضی الله عنهم نه هم د دې مضمون روایتونه نقل کړی دی نو د دې روایتونو مدلول هم دا دې چه د امام لپاره تحمید وئیل مسنون دی.

**یو اعتراض او د هغې ځواب:** بعض حضراتو په دې روایاتو باندې اعتراض کړې دې چه په دې کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حالت د امامت کښې تحمید وئیلو باندې هیڅ دلیل نشته بلکه دا ممکن ده چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یو اځې مونځ کولو وخت کښې تحمید هم وئیلې وی او په حالت د امامت باندې دا روایات محمول نه وی امام طحاوی رحمه الله په شرح معانی الاثار ج ۱ ص ۱٤۰ کښې هم د دې اعتراض ځواب هم ورکړې دې چه هر کله په مذکوره روایت کښې د حالت امامت او حالت انفراد دواړو

احتمال دي نو مستقل طور څخه په حالت د امامت کښې په تحمید وئیلو باندې څه روایت ملاویږی او که نه؟ چه کله مونږ په غور څخه اوکتل نو مونږ ته د ابوهریره رضي الله عنه روایت ملاؤ شو هغوی فرمائی چه رسول الله ﷺ د صَبا په مانځه کښې د رکوع نه سر مبارک اوچتولو باندې د تسمیع څخه تحمید هم وئیلې دې، او قنوت نازله ئې هم لوستلې دې د دې روایت نه واضح شوه چه رسول الله ﷺ به په حالت د امامت کښې هم تحمید وئیلو.

**د ابوهریره رضي الله عنه په روایت باندې اعتراض او ځواب:** په دې روایت باندې هم بعض خلقو دا اعتراض کړې دې چه رسول الله ﷺ دا تحمید په هغه زمانه کښې لوستلې وو په کومه زمانه کښې چه د قنوت نازله په ذریعه کفارو ته بددعا کړې شوې وه چه کله د قنوت نازله سلسله ختم شوه نو د تحمید سلسله هم ختم شوه د دې شبهې د ختمولو لپاره امام طحاوی رحمه الله د درې صحابه کرامو رضي الله عنهم نه روایات نقل کړی دی. ۱: ابوهریره رضي الله عنه خپلو متعلقینو ته مونځ اوښودلو او وې فرمائیل چه دا د رسول الله ﷺ مونځ دې چه په هغې کښې ئې د تسمیع څخه تحمید هم نقل کړو، ابوهریره رضي الله عنه چه کوم مونځ نقل کړو هغه د جماعت مونځ دې. ۲: د عائشې رضي الله عنها روایت دې چه د رسول الله ﷺ په ژوند کښې نمر تندر اونیولو نو هغوی باجماعت صلوة الکسوف ادا اوفرمائیلو او په هغې کښې ئې د تسبیح څخه تحمید هم لوستلې دې. ۳: سیدنا عمر رضي الله عنه راوی دې چه رسول الله ﷺ به کله د رکوع نه سر اوچتولو نو د تسمیع څخه به ئې تحمید هم وئیلو د درې واړو صحابه کرامو رضي الله عنهم په روایاتو کښې د تسمیع څخه تحمید هم د رسول الله ﷺ نه ثابت دې لهذا ثابته شوه چه د تسمیع څخه تحمید وئیل هم مسنون دی.

**د امام طحاوی رحمه الله عقلی استدلال:** امام طحاوی رحمه الله په شرح معانی الاثار ج ۱ ص ۱٤۱ کښې **واما من طریق النظر** نه عقلی استدلال کولو څخه ارشاد فرمائی چه د ټولو علماء کرامو د منفرد په باره کښې اتفاق دې چه منفرد به تسمیع او تحمید دواړه وائی نو مونږ د امام په باره کښې په غور څخه اوکتل چه د هغه حکم د منفرد په شان دې یا نه؟ پس مونږ اوکتل چه د افعال صلوة نه په هر یو کښې امام او منفرد یو شان حکم لری چه څنګه په امام باندې تکبیرات، قرأت، قعود او تشهد لازم دی هم دغه شان په منفرد باندې هم یو شان لازم دی او مونږ د فساد صلوة په اسبابو کښې اوکتل چه د امام مونځ د دې ټولو اسبابو په بنا باندې فاسدیږی د کوم په بنا چه د منفرد مونځ فاسدیږی او د کومو اسبابو په بنا چه په منفرد باندې سجده سهوه واجب کیږی هم د هغه اسبابو په بنا باندې په امام باندې هم سجده سهوه لازمیږی نو معلومه شوه چه په ارکان صلوة کښې امام بالکل د منفرد په شان حکم لری او چه کله د منفرد لپاره تسمیع او تحمید دواړه وئیل مسنون دی نو د امام لپاره به هم دواړه مسنون وی او هم دا د صاحبین **ومن وافقهما** مدعی ده.

**کلمات تحمید:** د الیاس زاده په شرح نقایه کښې دی چه د تحمید د الفاظو متعلق څلور روایات دی. ۱: اللهم ربنا ولک الحمد، ۲: اللهم ربنالک الحمد، ۳: ربنا ولک الحمد ۴: ربنالک الحمد، دا څلور واړه کلمات د رسول الله ﷺ نه ثابت دی او اختلاف صرف په افضلیت کښې دې او دلائل دې په متعلقه کتابونو کښې اوکتلې شی علامه شامی، صاحب بحر، صاحب مجتبی او صاحب ذخیره وغیره په دې سلسله کښې په تفصیل څخه بحث کړې دې.

**د منفرد لپاره د تسمیع او تحمید حکم:** د امام او مقتدی حکم خو معلوم شو، پاتې شو منفرد هغه به صرف تسمیع وائی یا تحمید یا دواړه جمع کړی؟ د دې په باره کښې درې اقوال دی:

۱: تسمیع او تحمید دې دواړه جمع کړی، دا د امام صاحب نه حسن بن زیاد روایت کړې دې، صاحب هدایه په هدایه او مختارات النوازل کښې، خصفکی په درمختار او خزائن الاسرار کښې، شرنبلالی په مراقی الفلاح او نور الایضاح کښې او صاحب مجمع البحرین، صاحب ملتقی الابحر او باقلانی هم دې ته اصح وئیلې دې، صدر شهید فرمائی علیه الاعتماد، صاحب د تنویر الابصار شارح نقایه او شارحین د کنز وغیره هم دا اختیار کړې دې، ځکه چه د دواړو جمع کول د رسول الله ﷺ نه ثابت دی چه د هغې محمل د حالت انفراد نه سوا بل هیڅ نه دې، لهذا منفرد دې د رکوع نه د پاسیدو په وخت تسمیع او د رکوع نه نیغ اودریدلو څخه تحمید وائی.

۲: صرف په تسمیع باندې دې اکتفاء اوکړی، دا د معلی روایت دې کوم چه په واسطې د امام ابویوسف د امام صاحب نه مروی دې، علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دا د نوادر روایت دې، صاحب بحر وئیلې دی چه په دې روایت دې اعتماد اونکړې شی ځکه چه ما د چا نه د دې تصحیح نه ده موندلې، خو علامه خصفکی په خزائن الاسرار کښې په حواله د معراج د شیخ الاسلام نه د دې تصحیح نقل کړې ده.

۳: صرف په تحمید دې اکتفاء اوکړی، دا د جامع الصغیر روایت دې، حافظ الدین نسفی په کنز کښې هم دا اختیار کړې دې او موصوف په کافی کښې او صاحب مبسوط هم د دې تصحیح کړې ده او اکثر مشائخ په دې باندې عمل کوی، حلوانی او طحاوی هم دا غوره کړې دې، صاحب بحر وائی چه کله په دې مسئله کښې تصحیح مختلف شوه نو د ترجیح کیدل ضروری دی پس د مذهب په لحاظ خو دریم راجح دی ځکه چه دا ظاهر الروایة دې لکه چه قاضی خان په شرح د جامع الصغیر کښې د دې تصریح کړې ده او د دلیل په لحاظ راجح هغه دې کوم ته چه صاحب هدایة اصح وئیلې دی. (ملخصا از فتح القدیر وغیره)

**د قومې نورې مسنون دعاګانې:** په صحیح مسلم کښې د عبدالله بن اوفی رضی الله عنه نه روایت دې چه

رسول اللهﷺ به کله د رکوع نه اوچتیدلو نو فرمائیل به ئې : ﴿ اللهم رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ مِلْءَ السَّمٰوَاتِ وَالأَرْضِ وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ ﴾ ( اې الله! زمونږه ربه ستا لپاره ټول حمد او ثناء ده دومره چه د هغې نه د زمکې او آسمان ټول وسعتونه ډک شی او د زمکې او آسمان نه وړاندې چه کومه سلسله د وجود ستا په مشیت کښې ده د هغې هم ټول وسعتونه ډک شی).

او په صحیح مسلم کښې د ابوسعید خدریؓ نه هم دا دعا په قومه کښې د لږې شان اضافې څخه منقول ده په ظاهر کښې داسې معلومیږی چه رسول اللهﷺ به د سمع الله لمن حمده نه پس کله صرف ﴿ اللهم ربنا لک الحمد ﴾ وئیلو او کله به ئې د دې څخه هغه اضافه هم کوله کومه چه د عبدالله بن اوفی د دې روایت نه معلومه شوه او کله به ئې په دې باندې نوره اضافه هم فرمائیله د کوم روایت چه د ابوسعید خدریؓ روایت دې او د دې وجې نه به د رسول اللهﷺ قومه دومره اوږده شوه چه د خلقو به پرې د سهو شبه پیدا شوه.

د رفاعه بن رافعؓ نه روایت دې چه مونږ په رسول اللهﷺ پسې مونځ کولو چه کله هغوی د رکوع نه سر اوچت کړو او وې وئیل سمع الله لمن حمده نو د هوی نه شاته مقتدیانو کښې یو سړی اووې ﴿ ربنا لک الحمد حمدا کثیرا طیبا مبارکا فیه ﴾ (اې الله زمونږ ربه! ستا لپاره دې ټول حمد ډیر حمد، ډیر پاک او مبارک حمد) چه کله رسول اللهﷺ د مانځه نه فارغ شو نو هغوی پوښتنه اوفرمائیله چه دې وخت کښې دا وئیلو والا څوک وو؟ هغه سړی اووې زه اوم، رسول اللهﷺ اوفرمائیل ما د دیرشو نه زیات ملائک اولیدل چه هغوی د یو بل نه مخکښې کیدل چه څوک دا الفاظ اول اولیکی. (صحیح بخاری)

## بَابُ وَضْعِ الْيَدَيْنِ قَبْلَ الرُّكْبَتَيْنِ عِنْدَ الْاِنْحِطَاطِ لِلسُّجُوْدِ

(۴۲۹) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَجَدَ أَحَدُكُمْ فَلَا يَبْرُكْ كَمَا يَبْرُكُ الْبَعِيْرُ وَلْيَضَعْ يَدَيْهِ ثُمَّ رُكْبَتَيْهِ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالثَّلَاثَةُ وَهُوَ حَدِيْثٌ مَعْلُوْلٌ.

---

**باب د سجدې لپاره د ښکته کیدو په وخت کښې د کونډو نه اول لاسونه کیخودل:**

۴۲۹ : سیدنا ابوهریرهؓ اوفرمائیل، رسول اللهﷺ فرمائی : چه کله په تاسو کښې څوک سجده کوی نو داسې دې نه کینی لکه چه اوښ کینی (یعنی اوښ اول کونډې ږدی) هغه له پکار دی چه خپل لاسونه کیږدی، بیا کونډې کیږدی.

دا حدیث احمد او اصحاب ثلاثه نقل کړې دې او دا حدیث معلول دې.

(۴۳۰) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا سَجَدَ يَضَعُ يَدَيْهِ رُكْبَتَيْهِ. رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ وَالطَّحَاوِيُّ وَالْحَاكِمُ وَابْنُ خُزَيْمَةَ وَصَحَّحَهُ وَهُوَ مَعْلُوْلٌ.

۴۳۰: د ابن عمر رضی الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله ﷺ به چه كله سجده كوله نو د دواړو كونډو نه مخكښې به ئې خپل لاسونه مبارک كېخودل.

دا حديث دارقطني، طحاوي، حاكم او ابن خزيمه روايت كړې دې او ابن خزيمه د صحيح وئيلې دې، او دا حديث معلول دې.

**تشريح**> (۴۲۹ نه ۴۳۰) په مانځه كښې په اووۀ اندامونو باندې سجده كولې شی قدمين رك او جبهه، په هغې كښې قدمين خو د اول نه په زمكه پاندې لګيدلې وی باقی پاتې شو اندامونه نو په هغې كښې د تندی د تولو نه په آخر كښې په سجدې كښې د كيخودلو باندې د اتفاق دې خو د يدين او د ركبتين په كيخودلو كښې د ائمة متبوعين اختلاف دې چه سجدې تلو په وخت دې اول يدين كيخودلې شی يا ركبتين؟ نو په دې سلسله كښې په **امانی الاحبار ج ٦٣ . نيل الاوطار ج ٢ ص ١٤٦، تحفة الاحوذی ج ١ ص ٢٣٠، بذل المجهود ج ٣ ص ٦٤ . الكوكب الدری ص ١٣٤ او معارف السنن ج ٣ ص ٢٧** كښې دوه مشهور مذاهب نقل كړې شوې دی او يو مذهب مشهور هم.

**بيان مذاهب**: ١: د امام مالک (فی رواية)، امام احمد (فی رواية)، امام اوزاعی او حسن بص په نزد د ركبتين نه مخكښې يدين په زمكه باندې كيخودل زيات افضل او مسنون دی، امام حزم رحمه الله هم د دې قائل دې.

٢: د احنافو، شوافعو، امام احمد (فی رواية)، اسحاق بن راهويه، سفيان ثوری، مسلم يسار، ابراهيم نخعی، ټول اهل كوفه اود عام فقهاء كرامو مسلک دا دې چه د يدين نه مخكښ ركبتين په زمكه باندې كيخودل زيات افضل او مسنون دی د امام مالک رحمه الله نه هم يو روايت دا دې، هم دا د ابن مسعود او ابن عمر رضی الله عنهم مختار دې.

٣: يو دريم غير مشهور مسلک دا دې چه مصلی ته اختيار دې چه په دواړو كښې ك صورت غواړی هغه دې اختيار كړی هيڅ باک نشته يعنی كه اول كونډۍ ږدی يا كه اول دوا لاسونه ږدی.

**د قائلين وضع اليدين قبل الركبتين دلائل**: مصنف رحمه الله په دې باب كښې د قائلين وض اليدين قبل الركبتين دلائل نقل كړی دی.

۱: د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت (۴۲۹) دي، کوم چه په مسند احمد ج ۲ صفحه ۳۸۱، ترمذی ج ۱ صفحه ۶۱، نسائی ج ۱ ص ۱۶۵، ابوداؤد ج ۱ ص ۱۲۲ کښې تخریج کړې شوې دې د رسول الله ﷺ واضح ارشاد دې چه کله په تاسو کښې څوک سجده کوی نو د اوښ په شان دې نه پریوځی بلکه دواړه لاسونه دې کیږدی بیا دې دواړه کونډې.

۲: طریقه داستدلال داده چه په دې کښې رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ﴿فلا یبرک کما یبرک البعیر﴾ د اوښ په شان دې نه غورځیږی او دا خبره معلومه ده چه اوښ اول دواړه خپې ږدی بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل ﴿ولیضع یدیه ثم رکبتیه﴾ یعنی دواړه لاسونه دې کیږی دی بیا دواړه کونډې.

**د حدیث ابوهریره رضی الله عنه په دواړه حصو کښې تعارض او ځواب:** د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه هم په دې روایت کښې دوه حصې دی ﴿فلا یبرک کما یبرک البعیر﴾ او دویمه ټکړه ده ﴿ولیضع یدیه ثم رکبتیه﴾ په دې باندې دا اشکال واردیږی چه اوښ د کیناستلو په وخت اول خپل دواړه لاسونه ږدی د هغې نه پس خپلې خپې ږدی او په دویمه ټکړه کښې فرمائی چه تاسو اول خپل دواړه لاسونه ږدئ او روستو کونډې کیږدئ د کوم نه چه په اول ټکړه کښې منع راغلې ده لهذا د متن حدیث دواړه ټکړې متعارض شوې. شارحین حدیث د دې ځواب دا ورکړې دې چه اوښ بلکه د ټولو ځناورو کونډې په لاسونو یعنی د هغوی په (وړاندې خپو) کښې وی کومه چه هغه راماتولو څخه کینی پاسی په خلاف د بنی آدم د هغه کونډې د هغه په خپو کښې وی پس د دې محاورې مطابق رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه اوښ څنګه اول دواړه خپې ږدې دغه شان دې په تاسو کښې څوک سجده کولو څخه اول خپلې کونډې کیږدی یعنی کونډې کیخودلو څخه دې سجدې ته نه ځی بلکه اول دې دواړه لاسونه کیږدی په دې صورت کښې به د اوښ د ناستې خلاف راشی.

۲: د دې باب دویم روایت (۴۳۰) هم د **قائلین وضع الیدین قبل الرکبتین** مستدل دې په کوم چه ابن عمر رضی الله عنهما د رسول الله ﷺ هم دا فعل نقل کړې دې چه رسول الله ﷺ به د سجدې کولو په وخت د رکبتین نه مخکښې یدین کیخودل دا روایت **دارقطنی ج ۱ ص ۳۴۴، طحاوی ج ۱ ص ۱۷۴ مستدرک حاکم ج ۱ ص ۲۲۶** کښې تخریج کړې دې.

۳: د حدیث ابی هریره رضی الله عنه نور تائید د سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما د فعل نه هم کیږی کوم چه امام بخاری رحمه الله په خپل صحیح کښې تعلیقا او ابن خزیمة او امام طحاوی موصولا روایت کړې دې. ﴿کان ابن عمر رضی الله عنهما یضع یدیه قبل رکبتیه﴾ هم په دې وجه حافظ ابن حجر رحمه الله په بلوغ المرام کښې وئیلې دی چه حدیث ابی هریره رضی الله عنه د حدیث وائل رضی الله عنه (۴۳۱) نه ډیر قوی دې ځکه چه حدیث د ابن

عمر ﷺ د حدیث ابو هریره ﷺ لپاره شاهد دي.

﴿ وهو حديث معلول ﴾ امام نیموی ﷫ د دي باب په دواړو روایاتو باندې د معلول کیـ حکم لګولي دي، چه د هغې د وجې نه ددې نه استدلال کمزورې شو ، وجوهات تعلیل څه دی؟

خپله امام نیموی په التعليق الحسن کښې د هغې وضاحت کړې دې لهذا بغیر د څۀ نور وضاحت هم په دې باندې اکتفاء اوکړې شوه او په بل باب کښې ورته لږه شان اشاره هم کړې شوې ده.

## بَابُ وَضْعِ الرُّكْبَتَيْنِ قَبْلَ الْيَدَيْنِ عِنْدَ الْاِنْحِطَاطِ لِلسُّجُوْدِ

(۴۳۱) عَنْ وَآئِلِ بْنِ حُجْرٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا سَجَدَ وَضَعَ رُكْبَتَيْهِ قَبْلَ يَدَيْهِ وَاِذَا نَهَضَ رَفَعَ يَدَيْهِ قَبْلَ رُكْبَتَيْهِ رَوَاهُ الْاَرْبَعَةُ وَابْنُ خُزَيْمَةَ وَابْنُ حِبَّانَ وَابْنُ السَّكَنِ وَحَسَّنَهُ التِّرْمَذِيُّ.

**باب سجدې ته د ښکته کیدو په وخت د لاسونو نه مخکښې کونډې کیخودل:** ۴۳۱ : وائل بن حجر ﷺ فرمائی، ما رسول الله ﷺ اولیدو چه کله هغوی سجده اوفرمائیله نو د خپلو لاسونو نه مخکښې ئې خپلې کونډې کیخودلې او کله چه پاسیدل نو د کونډو نه مخکښې ئې خپل لاسونه اوچت کړل.

دا حدیث اصحاب اربعه، ابن خزیمة، ابن حبان او ابن السکن نقل کړې دې او ترمذی د ته حسن وئیلې دې.

(۴۳۲) وَعَنْ عَلْقَمَةَ وَالْاَسْوَدِ قَالَا حَفِظْنَا عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فِيْ صَلٰوتِهٖ اَنَّهٗ خَرَّ بَعْدَ رُكُوْعِهٖ عَلٰى رُكْبَتَيْهِ كَمَا يَخِرُّ الْبَعِيْرُ وَوَضَعَ رُكْبَتَيْهِ قَبْلَ يَدَيْهِ. رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

**۴۳۲:** علقمه او اسود ﷭ فرمائی: مونږ د عمر ﷺ نه په مانځه کښې دا خبره یاده کړې ده چه هغو د رکوع نه پس په خپلو دواړو کونډو باندې کیناستلو لکه چه اوښ کینی، اوهغوی د خپلو لاسو نه مخکښې خپلې کونډې کیخودلې. دا حدیث طحاوی نقل کړې دې او د دې سند صحیح دي.

**تشریح> د قائلین وضع الرکبتین قبل الیدین دلائل:** (۴۳۱ نه ۴۳۲ پورې) د دې باب دواړه روایات قائلین وضع الرکبتین قبل الیدین مستدل دي.

۱: اول روایت (۴۳۱) د وائل بن حجر ﷺ نه منقول دې کوم چه په ترمذی ج ۱ ص ٦١، ابوداؤ ج ۱ ص ۱۲۲، نسائی، ابن ماجه، صحیح ابن خزیمة او طحاوی ج ۱ ص ۱۷٦ کښې تخریج کړې شوې دې چ په هغې کښې تصریح ده چه ﴿ اذا سجد وضع رکبتیه قبل یدیه ﴾ حدیث وائل ﷺ اثبت دې ځکه چه د

حفاظو يو جماعت د دې تصحيح کړې ده پاتې شوه دا خبره چه د دې روايت په سند کښې قاضی شريحؒ دې چه قوی نه دې خو دا خبره څکه قادح نه ده چه امام مسلمؒ د قاضی شريح نه روايت اخستلې دې، بله دا چه دا روايت په نورو طرق څخه هم مروی دې چه په هغې څخه جبر دضعف راځی. كذا ذكره الخطابي وابن حجر في شرح المشكوة.

**د حديث ابی هريره او حديث وائل ترمنيځه محاکمه**: امام طحاویؒ په شرح معانی الاثار کښې فرمائی چه کله د رسول اللهﷺ نه د **وضع اليدين والركبتين** تقديم او تاخير کښې اختلاف نقل شو نو مونږ په دې باندې ژور نظر واچولو او غور مو اوکړو نو معلومه شوه چه په حديث د ابوهريرهؓ کښې اختلاف دې د هغوی نه دوه قسمه روايات منقول دی د حديث (۴۲۹) نه معلوميږی چه لاسونه د کونډو نه مخکښې کيخودل مسنون دی او د هغوی د نورو رواياتو کوم چه امام طحاویؒ په شرح معانی الاثار کښې نقل کړی دی **﴿ فليبدا بركبتيه قبل يديه ولا يبرك بروک لفحل ﴾** نه معلوميږی چه د لاسونو نه مخکښې کونډئ کيخودل مسنون دی لهذا د هغوی په دوه متعارض رواياتو کښې يو له ترجيح ورکولو لپاره د نورو صحابه کراموؓ د رواياتو تلاش کولو ضرورت دې پس مونږ ته د وائل بن حجرؓ روايت ملاؤ شو. چه په حديث د وائلؓ کښې هيڅ قسم اختلاف نشته لهذا د ابوهريرهؓ روايت **وضع اليدين قبل الركبتين** به قابل د استدلال نه وی بلکه **وضع الركبتين قبل اليدين** والا روايت د وائلؓ د روايت څخه يوځائې کيدو باندې قابل حجت کيدې شی او دا وئيل به صحيح وی چه د کونډو نه مخکښې لاسونه کيخودل به مسنون نه وی بلکه د لاسونه نه مخکښې کونډئ کيخودل به مسنون وی باقی پاتې شو د قائلين وضع اليدين د ابن عمرؓ د اثر نه استدلال نو جمهور وائی چه د وائل بن حجرؓ روايت مرفوع دې او د ابن عمرؓ اثر موقوف دې، **فيرجح المرفوع على الموقوف.**

۲: د قائلين **وضع الركبتين قبل اليدين** دويم مستدل د سيدنا عمرؓ فعل دې کوم چه علقمة او اسود نه په روايت ۴۳۲ کښې نقل کړې شوې دې کوم چه امام طحاویؒ په شرح معانی الاثار کښې نقل کړې دې بله دا چه امام طحاویؒ **وقد روی ذلک** (شرح معانی الاثار ج ۱ ص ۱۵۱) نه د جليل القدر صحابه کراموؓ او اجله تابعينو عمل پيش کړې دې چه هغوی به اول خپلې کونډئ او بيا خپل لاسونه په زمکه باندې کيخودل هم دا مضمون امام طحاویؒ د دوه صحابه کرامو او يو تابعی نه په درې سندونو څخه نقل کړې دې د عمرؓ نه په يو سند څخه، د ابن مسعودؓ نه په يو سند څخه، په تابعينو کښې د ابراهيم نخعی نه، د هغوی روايت په يو سند

څخه دې پس ابراهيم نخعي رحمه الله فرمائي چه کوم سړې د رکبتين نه مخکښې يدين ږدی هغه احمق يا ليونې دې.

۲: شيخ ميرک د تصحيح مصابيح نه نقل کړی دی، قال : كنا نضع اليدين قبل الركبتين فأمرنا بوضع الركبتين قبل اليدين ... که حديث دابوهريره رضي الله عنه ددې نه مخکښې نه وی نو نسخ مرتبين به لازم شی کوم چه د دليل خلاف ده.

۳: حديث ابوهريره رضي الله عنه فی نفسه متناقض دې ګويا بعض راويان په وهم کښې اخته شوې دی او ﴿ لا يضع ﴾ ئې په ﴿ وليضع ﴾ څخه محرف کړو ځکه چه کله د کونډو نه مخکښې لاسونه کيږدی نو بروک بعير به راشی ځکه چه په وخت د بروک اوښ خپل دواړه لاسونه د خپو نه مخکښې په زمکه باندې ږدی اګر چه د هغه دواړه کونډئ هم د هغه په لاسونو کښې وی فيوافق حديث وائل رضي الله عنه.

امام ابن القيم رحمه الله چه دا دعوی کړې ده چه په لغت کښې د اوښ لپاره د رکبتين فی اليدين هيڅ ثبوت نشته دا غلط ده ځکه چه دا خبره خو د اهل لغت په نزد ډيره معروفه ده، د عربئ لغت مشهور کتاب "اللسان" کښې دی چه د اوښ کونډئ د هغه په لاسونو کښې وی او دا چه د هر څاروی کونډئ د هغه په دواړو لاسونو کښې او پونډئ د هغه په خپو کښې وی، په خلاف د انسان چه د هغه کونډئ په خپو کښې وی پس چه کله انسان د لاسونو نه مخکښې کونډئ ږدی نو هغه به د بروک بعير په شان وی. فيجتمع النهی عن البروک ووضع اليدين قبل الركبتين فالبروک هو وضع الركبة فمن الانسان بوضع الرجلين ومن البعير بوضع اليدين.

۴: په قول د ابن القيم رحمه الله په حديث د ابوهريره رضي الله عنه کښې قلب شوې دې، اصل عبارت داسې وو، ﴿ وليضع ركبتيه قبل يديه ﴾ پس شيخ اثرم رحمه الله په سنن کښې او ابن ابی شيبة په مصنف کښې د ابوهريره رضي الله عنه نه داسې روايت کړې دې ﴿ اذا سجد احدكم فليبدأ بركبتيه قبل يديه ﴾.

۵: حديث د ابوهريره رضي الله عنه کښې اضطراب هم دې ځوک خو ﴿ وليضع يديه قبل ركبتيه ﴾ روايت کوی لکه چه په بيهقی کښې دی او ځوک دا جمله بالکل نه ذکر کوی، والقلب والاضطراب من اسباب الضعف. (سعاية - بذل)

۶: صاحب د انوار الباری د شاه صاحب نه نقل کړی دی چه د ارشاد نبوی منشاء دا ده چه د اوښ په شان وړاندې حصه د بدن غورځولو څخه روستئ حصه اودرولې سجدې ته مه ځئ بلکه د عذر په حالت کښې داسې کوئ چه په زمکه باندې لاس کيخودلو څخه ټول وجود يو ځائې لاندې

یوسئ، په نسائی وغیره کښې دا هم دی چه سجدې ته په تلو کښې د اوښ په شان بروک مه کوئ او لاسونه کیخودلو څخه کونډئ هم په زمکه باندې کیږدئ. دغه شان دې که دحدیث ابوهریره رضی الله عنه مطلب دا واخستلې شی نو د دې مقصد به د لاسونو یا ځپو مقدم او موخر کول نه وی بلکه صرف د بروک ابل نفی به وی، دویم احتمال دا دې چه کونډو لره په زمکه باندې د کیخودلو نه مخکښې لاسونو لره په کونډو باندې د رډلو حکم فرمائیلې شوې دې، په دې صورت کښې هم د ترتیب یا تقدیم و تاخیر بیان نه وی بلکه نفی به وی د سقوط بغیر د اختیار نه چه د اوښ په شان مه غورځیږئ، لاسونو لره په کونډو باندې رډلو څخه په احتیاط باندې سجدې له ځئ.

**نظر طحاوی**: امام طحاوی رحمه الله په شرح معانی الاثار ج ۱ ص ۱۵۰ کښې **واما وجه ذلک من طریق النظر** نه عقلی دلیل پیش کولو څخه وائی چه مونږ ته چه په کومو اندامونو څخه د سجدې کولو حکم کړې شوې دې هغه ټول اووهٔ دی، قدمین، رکبتین، یدین، او جبهه، پس په دې اووهٔ اندامونو باندې د سجدې کولو روایات امام طحاوی رحمه الله د درې صحابه کرامو نه په شپږو سندونو څخه نقل کړې دی. ۱: د سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه نه په دوه سندونو څخه، ۲: د عباس بن عبد المطلب نه په دوه سندونو څخه، ۳: د عبدالله بن عباس نه په دوه سندونو څخه پس رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی چه په ذکر کړې شوې اووهٔ اندامونو څخه دې سجده اوکړې شی او هم دا لازم ده او مونږ غور کولو څخه او کتل چه د دې اووهٔ اندامونو په اوچتولو او کیخودلو کښې څه ترتیب دې نو ثابت او معلومه شوه چه قدمین د مخکښې نه په زمکه پورې لګیدلې وی او په تندی کیخودلو کښې هیڅ اختلاف نشته او بالاتفاق سر د ټولو نه آخر کښې کیخودلې شی او د یدین او د رکبتین په رډلو کښې اختلاف دې او په اوچتولو کښې د ټولو په نزد دا ترتیب دې چه اول دې سر اوچت کړې شی د هغې نه پس خپل دواړه لاسونه بیا خپلې دواړه کونډئ،

نو د دې نه معلومه شوه چه کوم اندامونه د ټولو نه آخر کښې کیخودلې شی هغه د ټولو نه مخکښې اوچتولې شی لکه څنګه چه تندې د ټولو نه آخر کښې کیخودلې شی او په اوچتولو کښې د ټولو نه مخکښې اوچتولې شی نو هم په دې طریقه باندې په یدین او رکبتین کښې ترتیب کیدل پکار دې چه یدین بالاتفاق د رکبتین نه مخکښې اوچتولې شی لهذا په رډلو کښې به د رکبتین نه پس کیخودلې شی هم دا زمونږ د علماء ثلاثه قول دې.

# بَابُ هَيْئَاتِ السُّجُوْدِ

(۴۳۳) عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اعْتَدِلُوْا فِي السُّجُوْدِ وَلَا يَبْسُطْ اَحَدُكُمْ ذِرَاعَيْهِ انْبِسَاطَ الْكَلْبِ۔ رَوَاهُ الْجَمَاعَةُ۔

**باب د سجود کیفیات:** ۴۳۳ : د سیدنا انس بن مالک ﷺ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : په خپله سجده کښې اعتدال پیدا کړئ، او په تاسو کښې دې څوک د سپی په شان خپل لاسونه نه خوروی. دا حدیث د محدثینو جماعت نقل کړې دې.

(۴۳۴) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اُمِرْتُ اَنْ اَسْجُدَ عَلٰى سَبْعَةِ اَعْظُمٍ عَلَى الْجَبْهَةِ وَاَشَارَ بِيَدِهٖ اِلٰى اَنْفِهٖ وَالْيَدَيْنِ وَالرُّكْبَتَيْنِ وَاَطْرَافِ الْقَدَمَيْنِ وَلَا نَكْفُتُ الثِّيَابَ وَالشَّعْرَ۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

۴۳۴ : ابن عباس ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : ماته حکم کړې شوې دې چه په اووه اندامونو باندې سجده اوکړم، تندې او په خپل لاس مبارک څخه ئې خپلې پوزې مبارکې طرف ته اشاره اوکړه، دواړه لاسونه، دواړه کونډې، او د دواړو خپو غاړې، او (مونږ ته حکم کړې شوې دې چه په مانځهٔ کښې) مونږ کپړې او ویښته نه راټولوو. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۴۳۵) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَالِكٍ ابْنِ بُحَيْنَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا صَلّٰى فَرَّجَ بَيْنَ يَدَيْهِ حَتّٰى يَبْدُوَ بَيَاضُ اِبْطَيْهِ۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

۴۳۵: د عبدالله بن بحینه ﷺ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ چه به کله مونځ ادا فرمائیلو، نو لاسونه به ئې پرانستل، تردې چه د هغوی د ترخونو سپین والې به ښکاره شو.

دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۴۳۶) وَعَنْ اَبِيْ حُمَيْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا سَجَدَ اَمْكَنَ اَنْفَهٗ وَجَبْهَتَهٗ مِنَ الْاَرْضِ وَنَحّٰى يَدَيْهِ عَنْ جَنْبَيْهِ وَوَضَعَ كَفَّيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ۔ رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَصَحَّحَهٗ وَابْنُ خُزَيْمَةَ فِيْ صَحِيْحِهٖ

۴۳۶ : د ابوحمید الساعدی ﷺ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ به چه کله سجده فرمائیله، نو خپله پوزه او تندې مبارک به ئې په زمکه باندې کیخودل، خپل دواړه لاسونه به ئې د خپلو ډډو نه لرې ساتل او خپل لاسونه به ئې د خپلو اوږو برابر ساتل.

دا حدیث ابوداؤد او ترمذی نقل کړې دې، ترمذی دې ته صحیح وئیلې دې، او ابن خزیمه هم په خپل صحیح کښې دا روایت نقل کړې دې.

(۴۳۷) وَعَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مَرْفُوْعًا فَلَمَّا سَجَدَ سَجَدَ بَيْنَ كَفَّيْهِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

۴۳۷ : د وائل بن حجر رضی الله عنه نه مرفوعا روایت دې چه کله رسول الله ﷺ سجده اوفرمائيله نو د خپلو دواړو لاسونو ترمينځه ئې سجده اوفرمائيله. دا حديث مسلم نقل کړې دې.

(۴۳۸) وَعَنْهُ قَالَ رَمَقْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا سَجَدَ وَضَعَ يَدَيْهِ حِذَاءَ أُذُنَيْهِ. رَوَاهُ إِسْحَاقُ بْنُ رَاهَوَيْهِ وَعَبْدُ الرَّزَّاقِ وَالنَّسَائِيُّ وَالطَّحَاوِيُّ وَإِسْنَادُهُ صَحِيحٌ.

۴۳۸ : وائل بن حجر رضی الله عنه فرمائی چه ما رسول الله ﷺ په غور اوليدو چه کله هغوی سجده اوفرمائيله نو خپل دواړه لاسونه مبارک ئې د خپلو غوږونو برابر کيخودل.
دا حديث اسحق بن راهويه، عبدالرزاق، نسائي او طحاوی نقل کړې دې او د دې سند صحيح دې.

**تشريح>** (۴۳۳ نه ۴۳۹ پورې) د باب اول روايت (۴۳۳) د انس بن مالک رضی الله عنه نه مروی دې چه په هغې کښې د اعتدال فی السجود حکم دې دا روايت امام بخاری رحمه الله په خپل صحيح ج ۱ ص ۱۹۳ امام ترمذی په ج ۱ ص ۶۳ او امام ابوداؤد په ج ۱ ص ۱۳۰ کښې نقل کړې دې.

**په سجده کښې د طمانيت حکم:** د حديث د ظاهر نه معلوميږی چه په سجده کښې دې اعتدال اوکړې شی مراد دا دې چه په سجده کښې دې په طمانيت يعنی خاطر جمع څخه ايسار شی او په سجده کښې چه کوم تسبيح لوستلې شی هغه په اطمينان څخه اولوستلې شی، علامه طيبی رحمه الله فرمائی چه په سجده کښې داعتدال نه مراد دادې چه ملا دې برابر کيخودلې شی دواړه لاسونه دې په زمکه باندې کيخودلې شی څنګلې دې دزمکې نه پورته وی اوخيټه دې د لاسونونه بيله وی.

**اعضاء د سجدې:** د باب دويم روايت (۴۳۴) د ابن عباس رضی الله عنهما نه مروی دې کوم چه امام بخاری رحمه الله په خپل **صحيح** ج ۱ ص ۱۱۲، **صحيح مسلم** ج ۱ ص ۱۹۳ کښې تخريج کړې دې په دې کښې وئيلې شوې دی چه په سجده کښې د بدن کومه کومه حصه لګول پکار دی پس حکم کړې شوې دې چه د سجدې په وخت دې تندې، دواړه لاسونه، دواړه کونډئ او د دواړو خپو پنجې په زمکې باندې کيخودلې شی.

**د سجدې درې صورتونه دی:** فقهاء کرامو د سجدې درې صورتونه بيان کړی دی؛

۱ : سجده دې په پوزه او تندی دواړو باندې وی. ۲ : صرف په تندی باندې دې وی، ۳: صرف په پوزه باندې دې وی، په دې کښې اول صورت د سجدې اعلی مرتبه ده کومه چه د ډير احاديثو نه مفهوم او مستفاد ده لکه چه د دې باب د ابوحميد الساعدی رضی الله عنه د روايت (۴۳۲) نه علاوه د ابوسعيد خدری رضی الله عنه نه روايت دې چه د هغې تخريج امام بخاری، مسلم، ابوداؤد، امام مالک او

نسائی ﷭ وغیره د فضائل لیلة القدر متعلق یو اوږد حدیث کښې کړې دې په هغې کښې دا الفاظ دی: ﴿فصلى بنا رسول الله ﷺ حتی رایت اثر الطین والماء علی جبهته وارنبته﴾

د وائل بن حجر ﷛ په روایت کښې دی ﴿کان رسول الله ﷺ یضع انفه مع جبهته فی السجدة﴾ د دې تخریج طبرانی او ابویعلی موصلی کړې دې.

**بیان مذاهب:** په دې خبره باندې د ټول اتفاق دې چه سجده په اووۀ اندامونو باندې کیږی یدین، رکبتین، قدمین او وجه، بیا په وجه کښې تفصیل دې په دې باندې هم اتفاق دې چه د تندی او پوزې دواړه لګول مسنون دی خو په د ېکښې اختلاف دې چه په دې دواړو کښې په یو باندې اقتصار جائز دې یا نه؟

۱: د امام احمد، ابن حبیب مالکی، سعید بن جبیر، ابراهیم نخغی او امام اسحاق ﷭ په نزد په تندی او پوزه دواړو باندې سجده کول واجب دی صرف په تندی باندې اکتفاء کول جائز نه دی.

۲: د شوافع حضرات، اکثر مالکیانو او صاحبینو په نزد د تندی کیخودل ضروری دی صرف اقتصار په پوزه باندې جائز نه دې.

۳: د امام ابوحنیفه ﷫ او بعض مالکیانو مسلک دا دې چه د مخ کومه حصه هم د تعظیم په هیئت باندې کیخودلې شی په هغې څخه سجده ادا کیږی د هیئت تعظیم قید ئې په دې وجه اولګولو چه که په هیئت سخریه څخه د مخ څه حصه په زمکه باندې کیخودلې شی نو په هغې څخه به سجده نه ادا کیږی پس که صرف مخ یا زنه په زمکه باندې کیخودلې شی نو سجده به نه کیږی د دې وضاحت مطابق د امام ابوحنیفه ﷫ په نزد په تندی او پوزه کښې په یو باندې اکتفاء کولو څخه سجده کیږی خو په یو باندې اقتصار د امام صاحب ﷫ په نزد مکروه دې.

**د قائلین وضع الانف والجبهة د وجوب دلائل:** د دې باب دویم روایت کوم چه د ابن عباس ﷠ نه منقول دې چه په هغې کښې سبعة اعظم باندې د سجدې حکم دې په قول د امام نووی ﷫ د اکثرو علماء کرامو په نزد د تندی او پوزې حکم د یو اندام دې ځکه چه په حدیث کښې د اووۀ اندامونو ذکر موجود دې که تندې او پوزه دواړه اندامونه اومنلې شی نو د اودس اندامونه به اته شی لهذا په دواړو باندې سجده واجب ده چه د سبعة په نص باندې عمل اوشی.

۲: د دې تائید د امام نسائی ﷫ د تخریج کړې شوې دې روایت نه هم کیږی چه ﴿عن سفیان قال لنا ابن طاؤس الراوی واضع یدیه علی جبهته وامره علی انفه وقال هذا واحد (فتح القدیر)﴾

۳: د سیدنا ابوحمید الساعدی ﷛ نه روایت (۴۳۲) دې ﴿کان اذا سجد امکن انفه وجبهته من الارض﴾ چه هغه امام ترمذی ج ۱ ص ۶۱ او ابوداؤد ج ۱ ص ۱۰۷ کښې نقل کړې دې.

۴: د رسول اللهﷺ نه په جبهة او انف دواړو باندې د سجدې مواظبت ثابت دې د دې روایاتو نه علاوه د حدیث وائلؓ مضمون هم دا دې چه د هغې تخریج ابویعلی موصلیؒ په خپل مسند او امام طبرانی په معجم کښې کړې دې ﴿کان النبی ﷺ یضع انفه علی الارض مع جبهته﴾ د رسول اللهﷺ نه د دې خلاف ثابت نه دی.

**د قائلین اقتصار علی الجبهة دلائل**: شوافع، مالکیان او صاحبین د **اقتصار علی الجبهة** د جواز قائل دی هغوی فرمائی چه د عباسؓ په دې روایت (۴۳۴) کښې په اووهٔ اندامونو باندې د سجدې ذکر دې کفین، رکبتین، قدمین او وجهة، ﴿ **سجده علی الوجه** ﴾ صرف په تندی کیخودلو څخه متحقق کیږی لهذا **اقتصار علی الجبهة** به صحیح وی خو **اقتصار علی الانف** به صحیح نه وی ځکه چه صرف د انف په زمکه باندې کیخودلو څخه ﴿**سجده علی الوجهة**﴾ نه متحقق کیږی.

**د قائلین اقتصار علی الانف دلائل**: ۱: امام ابوحنیفهؒ فرمائی چه صرف په انف باندې هم سجده جائز ده امام شوکانیؒ په نیل الاوطار ج ۲ ص ۶۶۶ کښې د امام صاحبؒ د طرف نه په طور د دلیل دا روایت پیش کړې کوم چه زمونږ مصنفؒ امام نیمویؒ هم په دې باب کښې په دویم نمبر باندې د ابن عباسؓ نه روایت کړې دې چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل ﴿ **امرت ان اسجد علی سبعة اعظم واشار بیده الی انفه** ﴾ خو امیر یمانیؒ په سبل السلام ج ۱ ص ۲۷۸ کښې لیکی چه په نسائی ج ۱ ص ۱۲۳ کښې روایت داسې دې. **فاشار الی جبهته وانفه ولفظه الجبهة والانف** نو دا متصل روایت جبهة ته هم شامل دې.

۲: امام ابوحنیفهؒ دا هم فرمائی چه په قرآن کریم کښې د لفظ سجود امر راغلې دې او د لفظ سجود معنی **وضع الوجه علی الارض بما لا سخریة فیه** وی لهذا صرف پوزه کیخودلو څخه یا صرف تندی کیخودلو څخه به دا مفهوم ادا شی.

۳: امام ابوحنیفهؒ دا هم فرمائی چه په بعض روایاتو کښې د سجدې په اندامونو کښې صرف د وجه ذکر راغلې دې پس سنن اربعه، ابونعیم، احمد، طحاوی، ابن حبان او حاکم د عباس بن عبدالمطلب نه روایت کړې دې ﴿ **قال سمعت رسول الله يَقُولُ «إِذَا سَجَدَ الْعَبْدُ سَجَدَ مَعَهُ سَبْعَةُ آرَابٍ وَجْهُهُ وَكَفَّاهُ وَرُكْبَتَاهُ وَقَدَمَاهُ** ﴾ په حدیث کښې لفظ د وجه راغلې دې نو مونږ وایو چه د مخ په بعض حصه ږدلو باندې سجده متحقق کیږی ځکه چه د پوره مخ لګول نه بالاجماع مراد دی او نه دا ممکن دی ځکه چه د تندی او پوزې راوتلې هډوکی د ټول مخ د کیخودلو نه مانع دې او کله چه

ټول مخ کیخودل مستعذر شو نو د مخ څه حصه کیخودل به مامور به وی بیا مخ او زنه بالاجماع خارج دی ځکه چه د هغوی د کیخودلو په ذریعه د تعظیم اظهار مشروع نه دې پس تندې او پوزه باقی پاتې شو ځنګه چه تندې محل د سجدې دې نو پوزه هم محل د سجدې وی لهذا ځنګه چه په تندی باندې اقتصار جائز دې په پوزه باندې به هم اقتصار جائز وی.

**رجوع ابی حنیفة رحمه الله او قول مفتی به**: د دې ټولو دلائلو باوجود دا خبره په ذهن کښې اوساته چه د **اقتصار علی الانف** قول د امام ابوحنیفه رحمه الله قول قدیم دې ګینې د امام صاحب رحمه الله نه روستو د امام مالک او د صاحبینو قول ته رجوع ثابت ده، مولانا عثمانی رحمه الله په فتح الملهم کښې ج ۲ ص ۹۸ کښې د درمختار په حوالې څخه لیکلې دی چه امام صاحب د صاحبینو قول طرف ته رجوع کړې وه، طرابلسی په مواهب الرحمٰن کښ، خصفکی په شرح تنویر او شرح ملتقی کښې او شرنبلالی وغیره هم دې ته اصح وئیلې دې او هم دا مفتی به دې چه په اقتصار علی الجبهة څخه خو مونځ کیږی خو په اقتصار علی الانف څخه مونځ نه کیږی لهذا د صاحبین په شان د امام صاحب رحمه الله مسلک هم دغه شو چه بغیر د عذر نه به په داسې کولو باندې مونځ نه کیږی حافظ ابن الهمام په زاد الفقیر ۳۱ کښې لیکی **( ویکفی فیه وضع الجبهة بالاتفاق وکذا الانف عنده وعندهما لا یکفی الا من عذر وروی عنه قولهما وعلیه الفتوی )**

**تحقیق او تطبیق**: امام ابن الهمام په فتح القدیر کښ، ابن نجیم په بحر الرائق کښ، ابن امیر الحاج په منیة کښ، شیخ ابراهیم حلبی په شرح منیة کښې وئیلې دی چه په دې واړو اکابرین احناف کښې هیڅ اختلاف نشته ځکه چه امام صاحب رحمه الله به هم **اقتصار علی الانف** ته مکروه تحریمی وئیل کوم چه د ترک واجب په صورت کښې وی او د صاحبینو د قول عدم جواز مطلب هم عدم حلت دې کوم چه د کراهت تحریمی مقتضی دې لهذا په تندی باندې سجده کول به بالاتفاق واجب وی او هم دا د حدیث او آثار مقتضی ده پس دارقطنی رحمه الله د عائشې رضی الله عنها نه روایت کړې دې :

**قالت ابصر رسول الله صلی الله علیه و سلم امرأة من اهلــه تصلی ولا تضع انفها بالارض فقال یاهٰذا اضعی انفک بالارض فانه لاصلوٰة لمن لم یضع انفه بالارض مع جبهته۔**

**په سجده کښې د ویښتو او جامو د لړې کولو او راټولولو نه ممانعت: ( ولا نکفت الثیاب والشعر )** د حدیث د دې آخری جملې مطلب دا دې چه سجدې ته د تلو په وخت ویښته او کپړې په دې غرض باندې راټولول او لړې کول چه هغه خیرنې او ګنده نه شی ممنوع دی هسې هم بغیر د دې مقصد نه کپړې او او ویښته راټولول یا لمنې وغیره ټرل ممنوع دی د ویښتو د راټولولو مطلب دا دې چه د

سر وینبته وغیره راجمع کولو څخه په پټکی وغیره کښې دننه کړې شی چه په سجده کښې زوړند نه وی د دې نه هم منع کړې شوې ده د دې مسئله دا ده چه وینبته دې هم داسې پریخودلې شی چه هغه هم سجده اوکړی. (مظاهر حق)

**په سجده کښې د څنګلو کیخودلو طریقه**: د باب په دریم روایت (۴۳۵) کښې د عبدالله بن مالک رضی الله عنه نه روایت دې کوم چه امام بخاری رحمه الله په خپل صحیح ج ۱ ص ۱۱۲ او امام مسلم په خپل صحیح ج۱ ص۱۹٤ کښې نقل کړې دې په دې روایت کښې په سجده کښې د څنګلو کیخودلو طریقه بیان کړې شوې ده چه رسول الله ﷺ به چه کله سجدې ته تلو نو خپل لاسونه به ئې دومره فراخه کړل چه د رسول الله ﷺ د ترخونو مبارکو سپین والې به ښکاره شو، په صحیح مسلم کښې د رسول الله ﷺ یو بل ارشاد منقول دې ﴿ اذا سجدت فضع کفیک وارفع مرفقیک ﴾ د څنګلو د اوچتو ساتلو دوه معنی کیدې شی یا خو د اچه دواړه څنګلې دې د زمکې نه اوچتې وی یا بیا دا چه دواړه دې د ډډو نه اوچتې وی به هر صورت کښې دا حکم خاص د سړو لپاره دې زنانه په دې حکم کښې شاملې نه دی ځکه چه زنانو ته خو په سجده کښې د څنګلو زمکې باندې کیخودلو او ډډې څخه د یوځائې کولو حکم دې ځکه چه دغه شان د بدن نمائش نه کیږی او پرده په ښه طریقې څخه وی. (مظاهر حق)

**حکمت رفع مرافق**: په سجده کښې د لاسونو د ډډو نه د جدا ساتلو دا حکمت ملحوظ دې چه هغه هم په آزادئ څخه مستقلا سجده اوکړی که لاسونه د ډډو څخه یو ځائې کړې شو نو د هغې سجده به بیله نه متصور کیږی پس منشاء د شارع دا ده چه د مونځ کونکی ټول اندامونه په سجده شی لکه چه په حدیث کښې دی چه په سجده کښې ټول اندامونه سجده کوی که بدن راټولولو څخه سجده اوکړې شی نو ټول اندامونه راټولیدو څخه په منزله د عضو واحد شو او داسې به هر اندام ته مستقل طور د سجدې کولو حصه ملاؤ نه شی کوم چه د شارع مطلوب دې.

په ظاهر کښې دا معلومیږی چه سیدنا عبدالله رضی الله عنه چه کله رسول الله ﷺ په مانځه باندې اولیدو هغه وخت د هغوی په بدن مبارک باندې کپړه نه وه یا به د هغوی مراد دا وی چه د رسول الله ﷺ د ترخونو ځائې معلومیدو او د ترخونو سپین والې ئې په دې وجه وئیلې دې چه د رسول الله ﷺ ترخونه بالکل سپین او صفا وو ځکه چه د هغوی پوره بدن د آئینې په شان سپین او صفا وو د نورو خلقو په شان د رسول الله ﷺ ترخونه تور او بدرنګ نه وو.

**بحینه**: دا د عبدالله رضی الله عنه د مور نوم دې او مالک د هغوی د پلار نوم دې هم دا وجه ده چه د مالک او د ابن ترمینځه الف باقی ساتلو څخه مالک په تنوین څخه لوستلې شی چه خلقو ته دا غلط فهمی پیدا نشی چه مالک د بحینة دخوی نوم دې بلکه دا اوپیژنی چه د بحینة ځوئې عبدالله رضی الله عنه

دي او ابن مالک او ابن بحينة دواړه نسبتونه هم د هغوی دی.(مظاهر حق)

**په سجده کښې د لاسونو ايخودلو کيفيت، بيان دمذاهبو او دلائل**: د دې عنوان د لاندې دا مسـ بيانول دی چه د سجدې په حالت کښې دواړه لاسونه چيرته کيخودل غوره دی په دې سلسله کې دوه مذاهب نقل کړې شوې دی لکه چه په **تحفة الاحوذی ج ۱ ص ۲۳۲، معارف السنن ج ۲ ص ۵**، **امانی الاحبار ج ٤ ص ۷۳** کښې تفصيل څخه منقول دی.

۱: د احنافو، سفيان ثوری، سعيد بن جبير او امام احمد (فی رواية) مسلک دا دې چه د سجـ په حالت کښې خپل مخ د لاسونو ترمينځه او لاسونه د غوږونو مقابل کيخودل پکار دی.

الف: د دې حضراتو مستدل د دې باب روايت (۴۳۷) دې کوم چه د وائل بن حجر رضي الله عنه منقول دې کوم چه امام مسلم رحمه الله په خپل **صحيح ج ۱ ص ۱۷۳** کښې نقل کړې دې چه په هغې کې صراحة **(سجد بين کفيه)** مذکور دې، روايت (۴۳۸) هم د دې تائيد کوی.

ب: امام طحاوی رحمه الله د حفص بن عياث عن الحجاج، ابو اسحاق نه روايت کړې دې چ د براء بن عازب رضي الله عنه نه معلومه کړه چه رسول الله ﷺ به په مانځه کښې تندې چيرته کيخودلو فرمائيل د دواړو تلو ترمينځه.

۲: د امام شافعی، امام احمد بن حنبل (فی رواية) او امام اسحق بن راهويه په نزد دواړو لاسـ لره د سجدې په حالت کښې د اوږو برابر کيخودل مسنون دی د هغوی مستدل هم د دې باب رو (۴۳۲) دې کوم چه ابو حميد الساعدی رضي الله عنه نقل کړې دې چه په هغې کښې تصريح ده چه **(و کفيه حذو منکبيه)** علامه ابن الهمام رحمه الله فرمائی چه د دې روايت په باره کښې اگر چه کلام دې راجح دا ده چه قابل حجت دې خو د کلام د وجې نه حديث د وائل رضي الله عنه (۴۳۷) ته کوم چه په صـ مسلم کښې دې ترجيح ورکړې شوې ده، هم دغه شان خبره علامه عينی رحمه الله هم کړې ده.

**تطبيق او توفيق**: دې باره کښې په مختلفو رواياتو کښې مختلف الفاظ منقول دی مثلاً **(و کفيه حذو منکبيه، وضع يديه حذاء اذنيه، سجد بين کفيه، اذا سجد وضع وجهه بين کفيه) (طحاوی ص ۱۲۵)** په دې ټولو رواياتو کښې تطبيق داسې کيدې شی چه د لاسونو هغه حصه کومه چ مروند څخه متصل ده هغه دې د منکبين ترمينځه کيخودلې شی او باقی حصه دې د اذنين او مقابل کښ، دغه شان به ټول روايات په خپل خپل محمل باندې صحيح حمل شی.

**د محقق ابن الهمام رائې**: د محقق ابن الهمام رحمه الله او شيخ حلبی رحمه الله وغيره رائې دا ده چه په دا افعالو کښې دې صرف په يو وضع باندې حصر اونکړې شی څکه چه کيدې شی رسول الله

دواړه قسم کړې وی یعنی کله لاسونه د اوږو برابر او کله د غوږونو برابر کیخودلې وی، پس سنت دا دې چه په دواړو کښې ورته کومه آسانه وی هغه دې اوکړی چه په ټولو روایاتو کښې اتفاق راشی په دې معنی چه رسول اللهﷺ به کله دا کول او کله به ئې هغه کول خو دومره خبره ضرور ده چه د غوږونو بالمقابل ږدلو کښې د لاسونو د ډډو نه جدا ساتل کوم چه مسنون دی هغه زیات ممکن دی او هم دا معقول دی. والله اعلم (عین الهدایة بتهذیب)

**په سجده کښې نورې مسنون دعاګانې:** ۱: سیدنا ابوهریرهؓ فرمائی چه رسول اللهﷺ به په خپله سجده کښې داسې وئیل:

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِیْ ذَنْبِیْ كُلَّهٗ دِقَّهٗ وَجُلَّهٗ وَاَوَّلَهٗ وَاٰخِرَهٗ وَعَلَانِیَتَهٗ وَسِرَّهٗ۔

(رواه مسلم بحواله مشكوٰة باب السجود وفضله)

۲: عائشېؓ د رسول اللهﷺ نه دا دعا نقل کړې ده

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُبِكَ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوْبَتِكَ وَاَعُوْذُبِكَ مِنْكَ لَااُحْصِیْ ثَنَاءً عَلَیْكَ كَمَااَنْتَ اَثْنَیْتَ عَلٰی نَفْسِكَ۔ (رواه مسلم بحواله مشكوٰة باب السجود وفضله)

## بَابُ النَّهْیِ عَنِ الْاِقْعَاءِ كَاِقْعَاءِ الْكَلْبِ

(۴۳۹) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ نَهَانِیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ثَلَاثٍ عَنْ نُقْرَةٍ كَنُقْرَةِ الدِّیْكِ وَاِقْعَاءٍ كَاِقْعَاءِ الْكَلْبِ وَالْتِفَاتٍ كَالْتِفَاتِ الثَّعْلَبِ۔ رَوَاهُ اَحْمَدُ وَفِیْ اِسْنَادِهٖ لِیْنٌ۔

**باب د سپی په شان ناسته کولو نه ممانعت:** ۴۳۹: سیدنا ابوهریرهؓ فرمائی چه رسول اللهﷺ زه د درې خبرو نه منع کړم (په مانځه کښې) د چرګ په شان ټونګې وهلو نه، د سپی په شان ناسته کولو نه (حاشیة: په زمکه باندې کوناټی لګولو څخه کونډئ نیغې اودرول)، او د لومبړې په شان یو خوا بل خوا کتلو نه.دا حدیث احمد نقل کړې دې او د دې په سند کښې ضعف دې.

(۴۴۰) وَعَنْ سَمُرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْاِقْعَاءِ فِی الصَّلٰوةِ۔ رَوَاهُ الْحَاكِمُ وَقَالَ حَدِیْثٌ صَحِیْحٌ عَلٰی شَرْطِ الْبُخَارِیِّ وَلَمْ یُخْرِجَاهُ۔

۴۴۰: سیدنا سمرة بن جندبؓ فرمائی: رسول اللهﷺ په مانځه کښې د سپی په شان ناسته کولو نه منع اوفرمائیله. دا حدیث حاکم نقل کړې دې او امام حاکم فرمائی: دا حدیث د بخاریؒ د شرط مطابق صحیح دې، خو شیخینو دا نه دې نقل کړې.

**تشریح> د قعود بین السجتین په درې صورتونو کښې د اول صورت حکم:** (۴۳۹ نه ۴۴۰ پورې) د قعود بین السجدتین درې صورتونه دی، ۱: چه په کوناټو باندې کېنی او خپلې خپې داسې اودروی چه

کوندئ د اوږو مقابله کښې راشي او خپل دواړه لاسونه په زمکه باندې اولګوي دې ته اقعا
او د دې معنى په لحاظ څخه اقعاء بالاتفاق مکروه ده د دې باب غرض انعقاد هم دا دې د
الباب مضمون تحت اللفظ ترجمه کښې واضح کړې شوې دې.

## بَـابُ الْجُلُوْسِ عَلَى الْعَقَبَيْنِ بَيْنَ السَّجْدَتَـيْنِ

(۴۴۱) عَنْ طَاؤسٍ قَالَ قُلْنَا لِابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فِي الْإِقْعَاءِ عَلَى الْقَدَمَيْنِ فَقَالَ هِيَ السُّنَّةُ فَـ إِنَّا لَنَرَاهُ جَفَاءً بِالرَّجُلِ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ بَلْ هِيَ سُنَّةُ نَبِيِّكَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

**باب د دوه سجدو ترمينځه په پوندو باندې کيناستل:** ۴۴۱ : طاؤس رحمه الله فرمائی چه مونږ
عباس رضي الله عنهما نه په خپو باندې د کيناستلو متعلق پوښتنه اوکړه نو هغوی اوفرمائيل : دا سنت
مونږ اووې چه دا مونږ د خپو څخه ظلم ګنړو، نو ابن عباس رضي الله عنهما اوفرمائيل : دا ستاسو د رسو
سنت دې.دا حديث مسلم روايت کړې دې.

(۴۴۲) وَعَنِ ابْنِ طَاؤسٍ عَنْ أَبِيْهِ أَنَّـهُ رَأَى ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَابْنَ الزُّبَيْرِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَابْنَ عَـ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يُقْعُوْنَ رَوَاهُ عَبْدُ الرَّزَّاقِ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

۴۴۲: ابن طاؤس د خپل پلار نه بيان کوی چه ما ابن عمر، ابن زبير او ابن عباس رضي الله عنهم
(مانځه کښ) په پوندو باندې ناسته کونکی ليدلې دی.
دا حديث عبد الرزاق نقل کړې دې او د دې سند صحيح دې.

**تشريح>د قعود بين السجدتين دويم صورت** : (۴۴۱ نه ۴۴۲ پورې) د قعود بين السجدتين
صورت دا دې چه مصلی د سجدتين ترمينځه دواړه خپې په پنجو باندې اودرولو څخه په پ
باندې کينی دا دويمه معنی هم د اقعاء راغلې ده په دې باب کښې د اقعاء هم دا معنی مراد
دې دويمې معنی په لحاظ څخه د اقعاء په باره کښې اختلاف دې په دې باره کښې دوه مذ
مشهور دی.

۱: د احنافو، مالکيانو، حنابله او جمهورو رحمهم الله په نزد د اقعاء دا صورت هم على الاط
مکروه دې خو په وخت د ضرورت اجازت دې.

۲: امام شافعي رحمه الله د سجدتين ترمينځه دې ته هم سنت وائی او د هغوی په نزد هم د د
سنت کيدو دا مطلب دې چه د سجدتين ترمينځه دوه طريقې مسنون دی افتراش هم او د اقعا
دويم صورت هم.

**د شوافعو استدلال او د جمهورو ځواب:** د شوافع حضراتو مستدل د دې باب اول روايت (۴۴۱) دې ک
چه امام مسلم رحمه الله د طاؤس نه په ج ۱ ص ۲۰۲ کښې نقل کړې دې.

جمهور حضرات د دې په ځواب کښې وائی!

الف: علامه خطابی رحمه الله دې حدیث ته ضعیف وئیلې دې.

ب: بعض حضرات دې ته منسوخ وائی او وائی چه کیدې شی ابن عباس رضی الله عنهما ته د دې د نسخ علم نه وو. (تلخیص الحبیر ج ۱ ص ۲۵۷)

ج: شوافع او بعض نور حضرات دا د اقعاء بل صورت منلو څخه په بیان جواز باندې حمل کوی.

د: جمهور دا په عذر باندې محمول کوی پس په موطاء د امام محمد رحمه الله کښې ﴿ باب الجلوس فی الصلوة ﴾ کښې د مغیره بن حکم نه روایت دې هغوی فرمائی: **رایت ابن عمر یجلس علی عقبیه بین السجدتین فی الصلوة فذکرت له فقال انما فعلته منذ اشتکیت** .... د دې نه معلومه شوه چه دا عمل په اصل کښې خو خلاف سنت دې خو ابن عمر رضی الله عنهما د مرض په وجه داسې کړې وو او د ابن عمر رضی الله عنهما په باره کښې مشهوره ده چه هغه د ابن عباس رضی الله عنهما په مقابله کښې احفظ دې د دې باب د دویم روایت (۴۴۱) محمل هم دا دې.

## بَابُ افْتِرَاشِ الرِّجْلِ الْيُسْرٰی وَالْقُعُوْدِ عَلَيْهَا بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ وَتَرْكِ الْجُلُوْسِ عَلَى الْعَقِبَيْنِ

(۴۴۳) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْرِشُ رِجْلَهُ الْيُسْرٰی وَ يَنْصِبُ رِجْلَهُ الْيُمْنٰى وَكَانَ يَنْهٰى عَنْ عُقْبَةِ الشَّيْطَانِ. اَخْرَجَهُ مُسْلِمٌ وَّهُوَ مُخْتَصَرٌ.

**باب د دوه سجدو مینځ کښې کسه خپه خورولو څخه په هغې باندې کیناستل او په پوندو باندې نه کیناستل:** ۴۴۳: ام المؤمنین سیده عائشه رضی الله عنها فرمائی چه رسول الله ﷺ به کسه خپه خوروله او ښئ خپه به ئې اودروله، او د شیطان په شان ناسته کولو نه به ئې منع فرمائیله.

دا حدیث مسلم نقل کړې دې او دا حدیث مختصر دې.

(۴۴۴) وَعَنْ اَبِيْ حُمَيْدِنِ السَّاعِدِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مَرْفُوْعًا ثُمَّ يَهْوِيْ اِلَى الْاَرْضِ فَيُجَافِيْ يَدَيْهِ عَنْ جَنْبَيْهِ ثُمَّ يَرْفَعُ رَأْسَهُ وَيُثْنِيْ رِجْلَهُ الْيُسْرٰی وَيَقْعُدُ عَلَيْهَا وَيَفْتَحُ اَصَابِعَ رِجْلَيْهِ اِذَا سَجَدَ ثُمَّ يَسْجُدُ ثُمَّ يَقُوْلُ اللّٰهُ اَكْبَرُ اَلْحَدِيْثَ رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ حِبَّانَ وَاِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

۴۴۴: د ابوحمید الساعدی رضی الله عنه نه مرفوعا روایت دې چه بیا رسول الله ﷺ (د سجدې لپاره) زمکې طرف ته ښکته شو، خپلو لاسونه ئې د ډډو نه لرې اوساتل، بیا ئې خپل سر مبارک اوچت کړو، کسې خپه ئې راماته کړه او په هغې باندې کیناستلو او چه کله ئې سجده اوفرمائیله

نو د خپلو خپو مبارکو ګوتې ئې پراخه کړې، بیا ئې سجده اوفرمائیله بیا ئې الله اکبر اووې
وړاندې ئې بیا پوره روایت بیان کړو.

دا حدیث ابوداؤد، ترمذی او ابن حبان روایت کړې دې او د دې سند صحیح دې.

(۴۴۵) وَعَنِ الْمُغِيْرَةِ بْنِ حَكِيْمٍ أَنَّهُ رَأَى عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَرْجِعُ فِيْ سَجْدَتَيْنِ فِي الصَّلٰوةِ عَلٰى صُدُوْرِ قَدَمَيْهِ فَلَمَّا انْصَرَفَ ذُكِرَ لَهُ ذٰلِكَ فَقَالَ إِنَّهَا لَيْسَتْ بِسُنَّةِ الصَّلٰوةِ وَإِنَّمَا أَفْعَلُ هٰذَا مِنْ أَجْلِ أَنَّهُ اشْتَكَى. رَوَاهُ مَالِكٌ فِي الْمُوَطَّا وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

**۴۴۵**: مغیره بن حکیم فرمائی چه ما عبدالله بن عمر رضی الله عنهما اولیدو، په مانځه کښې د دوو سجدو په مینځ کښې د خپلو قدمونو په سینه باندې واپس شو (یعنی اودریدو)، چه کله هغوی مونځ پوره کړو، دا خبره هغوی ته ذکر کړې شوه، نو هغوی اووې دا د مانځه سنت نه دې، دا ځکه اوکړل چه زه بیمار یم.

دا حدیث مالک په موطاء کښې نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

**تشریح>د قعود بین السجدتین دریم صورت او د جمهورو دلائل**: (۴۴۳ نه ۴۴۵ پورې) د دوه سجدو ترمینځه د ناسته کولو دریم صورت دا دې چه نبئ خپه اودرولو ځخه دې ګسه خپه خوره کړې او په هغې باندې دې کینی دې ته افتراش وائی هم دا صورت د ټولو نه اولې دې د مصنف رحمه الله غرض د باب په انعقاد ځخه هم دا دې هغوی د دې افضلیت ثابتوی هم دا مسلک دې د جمهورو د باب دريواړه روایات د جمهورو مستدل دې.

۱: د باب اول روایت (۴۴۳) کښې د عائشې رضی الله عنها نه بین السجدتین خپله د رسول الله ﷺ معمول نقل کړې دې کوم چه د افتراش وو دا روایت امام مسلم رحمه الله په خپل صحیح ج ۱ ص ۱۹۵ کښې نقل کړې دې. ﴿ وکان ینهی عن عقبة الشیطان ﴾

۲: دویم مستدل د ابوحمید الساعدی رضی الله عنه روایت ۴۴۴ دې کوم چه ابوداؤد ج ۱ ص ۱۰۶ ترمذی ج ۱ ص ۶۷ او صحیح ابن حبان ج ٤ ص ۱۷۳ کښې مرفوعا نقل کړې دې چه د رسول الله ﷺ معمول بین السجدتین د افتراش وو.

۳: د باب آخری روایت (۴۴۵) د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما د عمل اقعاء (دویم صورت) توجیه خپله د هغوی په ژبه باندې منقول ده فرمائی ﴿ انما هذا من اجل انه اشتکی ﴾ (موطا امام مالک ج ۱ ص ۷۱)

۴: خپله د رسول الله ﷺ ارشاد دې کوم چه هغوی علی رضی الله عنه ته فرمائیلې وو ﴿ لا تقع بین السجدتین ﴾ (ترمذی باب ما جاء فی کراهیة الاقعاء بین السجدتین ) خو امام ترمذی رحمه الله هم په دې

حدیث باندې اعتراض کړې دې چه د دې حدیث مدار په حارث اعور باندې دې او هغه ضعیف دې محدثین حضرات د هغې په ځواب کښې فرمائی چه دا حدیث په نورو متعدد روایاتو څخه موئد دې چه په هغې کښې بعض صحیح او حسن هم دی خصوصا په هغې کښې یو روایت د مستدرک حاکم دې کوم چه بیشکه صحیح دې ﴿ نهانی رسول الله ﷺ عن الاقعاء فی الصلوة لهذه الروایة مویدات اخری (معارف السنن ج ۳، ۶۳، ۶۴) بلکه دا چه دا حدیث د صحابه کرامو د تعامل نه هم موید دې ځکه چه په صحابه کرامو ﷺ کښې د ابن عباس ﷺ نه سوا څوک هم د اقعاء قائل نه دې او د هغوی په اقوالو کښې دا تاویل کیدلې شی چه د سنت نه مراد د حالت عذر سنت دی.

## بَابُ مَا يُقَالُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ

(۴۴۶) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُوْلُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ وَارْحَمْنِيْ وَاجْبُرْنِيْ وَاهْدِنِيْ وَارْزُقْنِيْ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَاٰخَرُوْنَ وَهُوَحَدِيْثٌ ضَعِيْفٌ.

**باب د دوه سجدو ترمینځه چه کومه دعا لوستلې شی:** ۴۴۶: سیدنا ابن عباس ﷺ روایت کوی چه بیشکه رسول الله ﷺ به د دوه سجدو ترمینځه دا دعا لوستله:

﴿ اللهم اغْفِرْ لِي ، وَارْحَمْنِي ، وَاجْبُرْنِي ، وَارْزُقْنِي ، وَارْفَعْنِي ﴾ (اې الله! ما معاف کړه په ما باندې رحم اوکړه زما نقصان پوره کړه، زما رهنمائی اوکړه، او ماته رزق راکړه)

دا حدیث ترمذی او نورو محدثینو نقل کړې دې او دا حدیث ضعیف دې.

۴۴۶: د حدیث الباب مضمون په تحت اللفظ ترجمه کښې واضح کړې شوې دې دا روایت امام ترمذی رحمه الله په ج ۱ ص ۶۳ کښې نقل کړې دې امام نیموی رحمه الله دې ته ضعیف وئیلې دې او په تعلیق الحسن کښې ئې د دې د ضعف په وجوه باندې تفصیلی بحث کړې دې خو یاد ساتئ چه د دې حدیث تعلق د فضائل څخه دې چه په هغې کښې ضعیف حدیث هم مقبول وی.

د دې نه علاوه په نسائی او دارمی کښې د خذیفه ﷺ نه منقول دی چه رسول الله ﷺ به د دوه سجدو ترمینځه دا وئیل ﴿ رب اغفرلی ﴾ دا روایت ابن ماجه هم نقل کړې دې خو په دې روایت کښې دا دعائیه کلمات درې کرته مذکور دی یعنی رسول الله ﷺ به د دوه سجدو ترمینځه دا کلمات درې کرته لوستل.

**د امام لپاره خبردارې:** په رکوع او سجده او قومه او جلسه کښې چه کوم کلمات او دعاګانې د رسول الله ﷺ نه منقول او ماثور دی ظاهره ده چه هغه ټولې ډیر مبارکې او مقبولې دعاګانې دی خو که مونځ کونکې امام وی نو د رسول الله ﷺ د هدایت مطابق هغه له لحاظ ساتل پکار دی چه د هغه

طرز عمل د مقتدیانو لپاره د زحمت او مشقت باعث جوړ نه شي.

**د حدیث الباب توضیح فقهی نقطه نظر څخه**: فقهی نقطه نظر څخه په دې سلسله کښې دوه رائې دی، ۱: حنابله او شوافع حضرات د سجدتین ترمینځه دا ذکر په فرائض او نوافل دواړو کښې مسنون منی. ۲: د احنافو او مالکیانو په نزد په فرائضو کښې هیڅ ذکر مسنون نشته حدیث الباب د هغوی په نزد په تطوع باندې محمول دې. خو بعض احناف حضراتو په فرائضو کښې هم دې ذکر ته غوره وئیلې دې کذا فی ما لا بد منه ... حضرت کشمیری رحمه الله هم فرمائی چه د اختلاف نه د بچ کیدلو لپاره د دې لوستل غوره دی ځکه چه د احنافو په نزد هم دا جائز دی صرف د دې په سنت کیدو کښې اختلاف دې لهذا په سجدتین کښې د اعتدال او طمانیت د یقین حاصلولو لپاره د دې لوستل غوره دی. وبالاخص فی هذا العصر الذی قلما یعتنی فیه بالاطمینان فی الجلسة. (درس ترمذی)

## بَابٌ فِیْ جَلْسَةِ الْاِسْتِرَاحَةِ بَعْدَ السَّجْدَتَیْنِ فِی الرَّکْعَةِ الْاُوْلٰی وَالثَّالِثَةِ

(۴۴۷) عَنْ مَالِكِ بْنِ الْحُوَیْرِثِ اللَّیْثِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّـــهٗ رَاَی النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَـــیْهِ وَسَلَّمَ یُصَلِّیْ فَاِذَا کَانَ فِیْ وِتْرٍ مِّنْ صَلٰوتِهٖ لَمْ یَنْهَضْ حَتّٰی یَسْتَوِیَ قَاعِدًا۔ رَوَاهُ الْـــبُخَارِیُّ۔

**باب په اول او دریم رکعت کښې د دوه سجدو نه پس جلسه استراحت**: ۴۴۷: د مالک بن الحویرث رضی الله عنه نه روایت دې چه ما رسول الله صلی الله علیه وسلم په مانځهٔ کولو باندې اولیدو، چه کله به هغوی د خپل مانځه په طاق رکعت کښې وو نو نهٔ به پاسیدلو، تردې چه نیغ بهِ کیناستلو. دا حدیث بخاری نقل کړې دې.

**تشریح**: ۴۴۷: جلسه استراحت هم د هغه مسائلو نه ده چه په هغې کښې د ائمة متبوعینو اختلاف د جواز اوعدم جواز نه بلکه د افضلیت دې شیخ حمید الدین د شمس الائمة سرخسی نه نقل کړی دی چه اختلاف مذکور (جلسه استراحت کښ) په افضلیت کښې دې نه په جواز کښ، د جمهورو په نزد هم که جلسه استراحت واخستلې شی نو جائز ده او که اونکړې شوه نو د امام شافعی رحمه الله په نزد هم جائزده، دجمهوروپه نزدجلسه استراحت مسنون نه ده بلکه نیغ اودریدل افضل دی داحنافوپه کتابونو کښې د دې د جواز تصریح موجود ده پس علامه شامی رحمه الله لیکلې دی چه که یو سړې په اول اودریم رکعت کښې دجلسه استراحت په مقدار کینی نوپه هغه باندې سجده سهوه واجب نه ده.

**د شیخ الحدیث مولانا زکریا صاحب رحمه الله ارشاد**: په دې مسئله کښې هم د اختلاف ائمة حیثیت هم هغه دې کوم چه په رفع الیدین او قرأت خلف الامام کښې دې د طالبانو د فکری تربیت او د اصل خقیقت د اظهار لپاره به دلته د شیخ الحدیث مولانا زکریا صاحب رحمه الله ارشاد نقل کول ډیر نافع وی هغوی فرمائی:

زما طبیعت په دې «د رفع الیدین وغیره په شان معرکة الآراء مسائلو» کښې نه لګی ځکه چه تاسو خو د خپلو استاذانو نه اورئ چه هم هغه بحثونه بار بار کوی په دې کښې دوه درې ورځې تیرولو نه پس بیا څۀ حاصلیږی هم نه طبیعت په تراجم د بخاری کښې لګی او اصل وجه دا ده چه ما په ۱۳۴۰ هجری کښې چه کله مشکوة درس کړو نو ما مسائل مختلف فیها تلاش کړې په هغې کښې ماته په څلورو رکعتو کښې د دوه سوو نه زیاتې اختلاف مسئلې ملاؤ شوې او هغه ټولې په دې سلسله کښې وې چه فلانې څیز د فلانې امام په نزد اولې دې او د فلانی په نزد اولی نه دې او دا څیز د هغوی په نزد مستحب دې او د هغوی په نزد مستحب نه دې او یو څیز د یو په نزد سنت دې اود بل په نزد مسنون نه دې هم په دغه مسائلو کښې رفع الیدین، امین بالجهر او فاتحه خلف الامام وغیره مسائل دی، خو سوال دا دې چه د دې ځو څه خصوصیت دې او د باقی متعلق ولې کلام نه کیږی څه وجه ده چه هم دا ځو معرکة الاراء جوړ شو. واورئ! د دې وجه دا ده چه مسئله د نااهلو لاس ته راغله، د علامات قیامت په احادیثو کښې یو حدیث دې **«اذا وسد الامر الی غیر اهله فانتظر الساعة»** او زمونږ په اکابرینو کښې بعضو د دې دا مطلب اخستلې دې چه هر هغه څیز کوم چه د یو نااهل د نګرانئ لاندې راشی بس په هغه قیامت راغلو پس دغه شان دلته هم کیږی دومره اختلاف چه د یو بل تکفیر او تفسیق کوی. (تقریر بخاری ج ۳ صفحه ۹۸)

**بیان مذاهب:** د جلسه استراحت په باره کښې شارحین حدیث دوه مشهور مسلکونه لیکلې دی.

۱: په ائمه متبوعین کښې صرف د امام شافعی رحمه الله مسلک دې چه د اول او دویم رکعت نه د فراغت نه پس جلسه استراحت مسنون ده د ابن بنت نعیم رحمه الله په نوادر الفقهاء کښې د ترک جلسه استراحت په افضلیت باندې اجماع نقل کړې شوې ده صرف د امام شافعی رحمه الله اختلاف بیان کړې شوې دې.

۲: د امام ابوحنیفه، امام مالک، امام اوزاعی او جمهور فقهاء کرامو په نزد جلسة الاستراحت مسنون نه ده د دې په ځائې نیغ اودریدل غوره دی، هم دا د ابن مسعود، ابن عمر، ابن عباس او ابوسعید خدری رضی الله عنهم مختار دې، د اکثر حنابله په نزد هم دا مختار دې، د امام احمد رحمه الله نه هم مشهور روایت او عمل د جلسة الاستراحت د ترک منقول دې خپله د امام احمد رحمه الله قول دې چه د اکثرو احادیثو نه هم دا ثابتیږی خو حافظ ابن حجر، قاضی شوکانی او ابن القیم رحمهم الله وغیره د جلسة الاستراحت طرف ته امام احمد رحمه الله رجوع نقل کړې ده پس کیدې شی چه په آخری عمر کښې امام احمد رحمه الله د ضعف د وجې نه جلسة الاستراحت کړې وی د کوم نه چه دې حضراتو رجوع جوړه کړه ګینې ظاهره ده چه که د هغوی رجوع ثابت وې نو د هغوی اصحابو به جلسة الاستراحت

ولې ترک کوله. په دې باره کښې علامه انور شاه کشميری رحمه الله فرمائي چه د هغوی دا رجوع د عد. جواز نه د جواز طرف ته وه نه د جواز نه د سنيت طرف ته، بهر حال د آئمه ثلاثه بلکه د جمهورو په نزد د دې ترک مختار دې.

**د امام ابن عبدالبر توضيح مذاهب:** امام ابن عبد البر په التمهيد کښې ليکی:

اختلف الفقهاء فی النهوض عن السجود فقال مالك رحمه الله والاوزاعی رحمه الله والثوری رحمه الله و ابوحنيفة رحمه الله واصحابهٗ ينهض علٰی صدور قدميه ولا يجلس وقال النعمان بن ابی عياش رحمه الله ادركت غير واحد من اصحاب النبی صلی الله تعالٰی عليه وسلم يفعل ذالك وقال ابوالزناد رحمه الله وذالك السنة وبه قال احمد رحمه الله وابن راهويه رحمه الله وقال احمد رحمه الله واكثر الاحاديث يدل علٰی هذا كذا فی العينی ج ۶ ص ۹۹ وقال ابن الهمام رحمه الله وقول الترمذی رحمه الله العمل عليه عند اهل العلم يقتضی قوة اصله وان ضعف خصوص هذا الطريق (لان فيه خالد بن اياس، صفدر) واخرج ابن ابی شيبة رحمه الله عن ابن مسعود رضی الله عنه انه كان ينهض فی الصلٰوة علٰی صدور قدميه ولم يجلس واخرج نحوه عن علی رضی الله عنه وكذا عن ابن عمر رضی الله عنه وابن الزبير رحمه الله وكذا عن عمر رضی الله عنه فقد اتفق اكابر الصحابة (رضی الله عنهم) الذين كانوا اقرب اليه صلی الله عليه وسلم من مالك رضی الله عنه بن الحويرث فوجب تقديمهٗ و يحمل ما رواه علی حالة الكبر. (فتح القدير ج ۱ ص ۲۶۸ وكذا فی حامش البخاری ج ۱ ص ۱۱۳، ۱۴)

**د امام شافعی رحمه الله دلائل او د جمهورو ځوابات:** د دې باب روايت (۴۴۷) د امام شافعی رحمه الله قوی او واحد مستدل دې کوم چه مالک بن الحويرث رضی الله عنه روايت کړې دې امام بخاری رحمه الله په ج ۱ صفحه ۱۱۳ کښې د دې تخريج کړې دې چه په هغې کښې د رسول الله ﷺ معمول جلسة الاستراحت منقول دې (**لم ينهض حتی يستوی قاعدا وفی هامش البخاری ج ۱ ص ۱۱۳ وفيه دليل للشافعية علی ندبة جلسة الاستراحة**).

جمهور د دې ځواب ورکوی!

۱: د رسول الله ﷺ دا جلسه په ظاهره کښې د بوډاوالی او د مشقت قيام د وجې نه وه په دې وجه نه وه چه جلسة الاستراحت هم د مانځه فعل دې او نه دا د رسول الله ﷺ عادت مستمره وو علامه عينی رحمه الله فرمائي: **هذا محمول عند الحنفية علی حالة الكبر**..... (عمدة القاری ج ۶ ص ۹۹)

پس د زرقانی په شرح مواهب کښې دی چه رسول الله ﷺ خپله هم فرمائيلي وو: (**لا تبادرونی بالقيام والقعود فانی قد بدنت**) چه اوس زما بدن دروند شوې دې لهذا د قيام او قعود په وخت زما نه مخکښې کيږئ.

· ابن عمر رضی الله عنهما هم دا صورت د خپل بدن د درنيدو د وجې نه اختيار کړې وو.

۲: مالک بن الحویرث رضی اللہ عنہ کم عمره وو ﴿ ونحن شببة متقاربون ﴾ (بخاری ج ۱ ص ۸۸) او هغه هم صرف شل ورځې د رسول الله ﷺ په خدمت کښې پاتې شوې دې (بخاری ج ۱ ص ۸۷) حافظ ابن حجر د فتح الباری په ج ۲ ص ۲۵۰ کښې لیکی: مالک بن الحویرث قدم المدینة حین التجهیز للتبوک فاقام عنده عشرین لیلة او غزوة تبوک په ۹ هجری کښې شوې وه هغه وخت د رسول الله ﷺ عمر ۶۳ کاله وو د ضعف کمزورې او بوډاتوب زمانه وه.

لهذا هغه د خپلې کم عمرئ د وجې نه دا د مانځه یو فعل اوګڼړلو او هم په دې باندې ئې عمل کولو حال دا چه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې همیشه پاتې کیدونکو صحابه کرامو دا عمل د رسول الله ﷺ په ضعف او کمزورئ باندې حمل کوی والحق معهم.

۳: قائلین د جلسة الاستراحت وائی چه مالک بن الحویرث رضی اللہ عنہ په ﴿ صلوا کما رایتمونی اصلی ﴾ باندې عمل کولو جمهور ځواب ورکوی چه مالک بن الحویرث رضی اللہ عنہ د حدیث د مذکوره عموم لفظ نه جلسة الاستراحت هم د مانځه یو فعل ګڼړلو حال دا چه جلسة الاستراحت د مانځه فعل نه دې ځکه چه رسول الله ﷺ مسئ الصلوة ته د دویمې سجدې نه پس د نیغ اودریدو حکم کړې وو او د رسول الله ﷺ قول د امت لپاره د قانون حکم لری دا د دې خبرې واضح او صریح دلیل دې چه جلسه استراحت د ﴿ صلوا کما رایتمونی اصلی ﴾ په حکم او مفهوم کښې هرګز داخل نه ده خو په نورو افعالو کښې تشبیه ده حال دا چه په تشبیه کښې من کل الوجوه مشابهت شرط نه دې حافظ ابن حجر رحمہ اللہ فرمائی قلت التشبیه لا عموم له فلا یلزم ان یکون فی جمیع الاجزاء (شرح نخبة الفکر)

۴: علامه عینی رحمہ اللہ په عمدة القاری کښې د ابوعبدالملک قول نقل کړې دې چه امام شافعی رحمہ اللہ د جلسة الاستراحت والا خبره به آیا د اهل مدینه نه مخفی وې په داسې حال کښې چه هغوی لسو کالو پورې د رسول الله ﷺ ځخه مونځونه کړې دی او ابوبکر، عثمان او نورو صحابه کرامو او تابعینو رضی اللہ عنہم هم هغوی ته مونځونه ورکړی دی داسې لویه خبره به د هغوی نه پته وې؟ ډا ډیر مستبعد امر دې.

۷: علامه قاسم بن قطلوبغا په خپله رساله ﴿ الاسوس فی کیفیة الجلوس ﴾ کښې محب الدین عبدالسلام بن تیمیة د شرح هدایة ابی الخطاب نه نقل کړې دې ﴿ ان الصحابة قد جمعوا علی ترک جلسة الاستراحة فلا جرم یحمل حدیث مالک علی العذر ﴾ علامه موفق حنبلی رحمہ اللہ هم فرمائی چه ﴿ جمع بین الاخبار ﴾ او ﴿ توسط بین القولین ﴾ لپاره حدیث د مالک بن الحویرث رضی اللہ عنہ په حالت د عذر باندې محمول کول غوره دی.

# بَابٌ فِيْ تَرْكِ جَلْسَةِ الْاِسْتِرَاحَةِ

(۴۴۸) عَنْ عِكْرِمَةَ قَالَ صَلَّيْتُ خَلْفَ شَيْخٍ بِمَكَّةَ فَكَبَّرَ ثِنْتَيْنِ وَعِشْرِيْنَ تَكْبِيْرَةً فَقُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اِنَّهُ اَحْمَقُ فَقَالَ ثَكِلَتْكَ اُمُّكَ سُنَّةُ اَبِي الْقَاسِمِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

قَالَ النِّيْمَوِيُّ يُسْتَفَادُ مِنْهُ تَرْكُ جَلْسَةِ الْاِسْتِرَاحَةِ وَاِلَّا لَكَانَتِ التَّكْبِيْرَاتُ اَرْبَعًا وَّعِشْرِيْنَ مَرَّةً لِاَنَّهُ قَدْ ثَبَتَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُكَبِّرُ فِيْ كُلِّ خَفْضٍ وَّرَفْعٍ وَّقِيَامٍ وَّقُعُوْدٍ.

**باب جلسه استراحت نه كول**: ۴۴۸ : عکرمه وئیلي دی چه ما د مکې په شیخ پسې مونځ اوکړو نو هغوی دوویشت تکبیرونه اووئیل ، ما ابن عباس ﷠ ته اووې بیشکه دا سړې بیوقوف دې، نو ابن عباس ﷠ اووې : ستا مور دې تا ورک کړی، دا د ابوالقاسم ﷺ سنت دې.دا حدیث بخاری نقل کړې دې.

نیموی وائی : د دې نه د جلسة الاستراحت نه کول مستفاد کیږی، ګینې تکبیرونه بۀ څلیریشت کرته وې، ځکه چه په تحقیق څخه ثابته ده چه رسول الله ﷺ به په هر ښکته کیدو، پاسیدو، قیام او ناسته کښې تکبیر وئیلو.

(۴۴۹) وَعَنْ عَبَّاسٍ اَوْ عَيَّاشِ بْنِ سَهْلٍ السَّاعِدِيِّ ﷠ اَنَّهُ كَانَ فِيْ مَجْلِسٍ فِيْهِ اَبُوْهُ وَكَانَ مِنْ اَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي الْمَجْلِسِ اَبُوْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَ اَبُوْ حُمَيْدٍ السَّاعِدِيُّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَاَبُوْ اُسَيْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَذَكَرَ الْحَدِيْثَ وَفِيْهِ ثُمَّ كَبَّرَ فَسَجَدَ ثُمَّ كَبَّرَ فَقَامَ وَلَمْ يَتَوَرَّكْ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَاِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

۴۴۹ : دعباس یا عیاش بن سهل الساعدی نه روایت دې چه زه په یو مجلس کښې اوم چه په هغې کښې زما پلار چه د رسول الله ﷺ په صحابه کرامو کښې وو، هم موجود وو، او هم په دغه مجلس کښې ابوهریره او ابوحمید الساعدی او ابواسید ﷡ هم موجود وو. هغوی حدیث بیان کړو په هغې کښې ئې دا هم بیان کړل چه بیا رسول الله ﷺ تکبیر اووې او بیا ئې سجده اوکړه، بیا ئې چه تکبیر اووې نو پاسیدو او تورک ئې اونکړو.
دا حدیث ابوداؤد نقل کړې دې اوددې اسناد صحیح دې.

(۴۵۰) وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ غَنْمٍ اَنَّ اَبَا مَالِكٍ الْاَشْعَرِيَّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ جَمَعَ قَوْمَهُ فَقَالَ يَا مَعْشَرَ الْاَشْعَرِيِّيْنَ اِجْتَمِعُوْا وَاجْمَعُوْا نِسَاءَكُمْ وَاَبْنَاءَكُمْ اُعَلِّمْكُمْ صَلٰوةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلّٰى لَنَا بِالْمَدِيْنَةِ فَاجْتَمَعُوْا وَاَجْمَعُوْا نِسَاءَهُمْ وَاَبْنَاءَهُمْ فَتَوَضَّأَ وَاَرَاهُمْ كَيْفَ يَتَوَضَّأُ فَاَحْصَى الْوُضُوْءَ اِلٰى اَمَاكِنِهٖ حَتّٰى لَمَّا اَنْ فَاءَ الْفَيْءُ وَانْكَسَرَ الظِّلُّ قَامَ فَاَذَّنَ فَصَفَّ الرِّجَالَ فِيْ اَدْنَى الصَّفِّ وَصَفَّ الْوِلْدَانَ خَلْفَهُمْ وَصَفَّ النِّسَاءَ خَلْفَ الْوِلْدَانِ ثُمَّ اَقَامَ الصَّلٰوةَ فَتَقَدَّمَ فَرَفَعَ يَدَيْهِ فَكَبَّرَ فَقَرَأَ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَسُوْرَةٍ يُسِرُّهُمَا ثُمَّ كَبَّرَ فَرَكَعَ فَقَالَ سُبْحَانَ اللّٰهِ

وَبِحَمْدِهٖ ثَلَاثَ مِرَارٍ ثُمَّ قَالَ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ وَاسْتَوٰى قَائِمًا ثُمَّ كَبَّرَ وَخَرَّ سَاجِدًا ثُمَّ كَبَّرَ فَرَفَعَ رَأْسَهٗ ثُمَّ كَبَّرَ فَسَجَدَ ثُمَّ كَبَّرَ فَانْتَهَضَ قَائِمًا فَكَانَ تَكْبِيْرُهٗ فِيْ أَوَّلِ رَكْعَةٍ سِتَّ تَكْبِيْرَاتٍ وَكَبَّرَ حِيْنَ قَامَ إِلَى الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ فَلَمَّا قَضٰى صَلٰوتَهٗ أَقْبَلَ إِلٰى قَوْمِهٖ بِوَجْهِهٖ فَقَالَ احْفَظُوْا تَكْبِيْرِيْ وَتَعَلَّمُوْا رُكُوْعِيْ وَسُجُوْدِيْ فَإِنَّهَا صَلٰوةُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّتِيْ كَانَ يُصَلِّيْ لَنَا كَذَا السَّاعَةَ مِنَ النَّهَارِ۔ رَوَاهُ أَحْمَدُ وَإِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

۴۵۰ : د عبدالرحمٰن بن غنم نه روایت دي چه ابومالک الاشعری رضی الله عنه خپل قوم راجمع کولو څخه اوفرمائیل : اې د اشعریینو جماعته ! خپله هم جمع شئ او خپلې زنانه او ځامن هم راجمع کړئ، زه تاسو ته د رسول الله ﷺ د مانځه طریقه ښایم کوم چه رسول الله ﷺ مونږ ته په مدینه منور کښې راکړې دې، پس د قبیلې خلق هم جمع شو، خپلې ښځې او ځامن ئې هم جمع کړل هغوی اودس اوکړو او هغوی ته ئې اوښودل چه رسول الله ﷺ به څنګه اودس فرمائیلو، نو د اودس اندامونه ئې ښه ګیر کړل (ښهٔ ئې وینځل) اوچه کله سورې زیات شو او اصلی سورې مات شو نو هغوی اودریدلو څخه آذان اوکړو، بیا په اول صف کښې سړو صف جوړ کړو، هغوی پسې شاته ماشومانو او ښځو د ماشومانو نه شاته صف جوړ کړو. بیا ئې د مانځهٔ اقامت اووې، نو هغوی وړاندې شو بیا ئې لاسونه اوچتولو څخه تکبیر اووې، بیا ئې سورة فاتحه او یو بل سورة اووې، دواړه ئې په مزه اولوستل، بیا ئې چه تکبیر کولو څخه رکوع اوکړه نو (سبحان الله وبحمده) (الله پاک د ټولو عیوب نه پاک او منزه دې او مونږ د هغه تعریف کوو) درې کرته ئې اووې، بیا ئې اوئیل : ﴿سمع الله لمن حمده﴾ او نیغ اودریدلو، بیا تکبیر کولو څخه سجدې ته لاړو بیا ئې تکبیر اووې، نو خپل سر ئې اوچت کړو، بیا ئې تکبیر اووې او سجده ئې اوکړه، بیا ئې چه تکبیر اووې نو نیغ اودریدلو، نو د هغوی تکبیرونه په اول رکعت کښې شپږ تکبیرونه شو او چه کله د دویم رکعت لپاره اودریدلو، نو تکبیر ئې اووې، چه کله هغوی خپل مونځ پوره کړو نو قوم طرف ته متوجه کیدلو څخه ئې اوفرمائیل : زما تکبیر یاد کړئ، زما رکوع او سجده زده کړئ، بیشکه دا د رسول الله ﷺ مونځ دې کوم چه به مونږ ته رسول الله ﷺ د ورځې هم په دې حصه کښې ښودلو. دا حدیث احمد نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۴۵۱) وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ أَبِيْ عَيَّاشٍ قَالَ أَدْرَكْتُ غَيْرَ وَاحِدٍ مِّنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَانَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهٗ مِنَ السَّجْدَةِ فِيْ أَوَّلِ رَكْعَةٍ وَّالثَّالِثَةِ قَامَ كَمَا هُوَ وَلَمْ يَجْلِسْ۔ رَوَاهُ أَبُوْبَكْرِ بْنُ أَبِيْ شَيْبَةَ وَإِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

۴۵۱ : نعمان بن ابی عیاش فرمائی : ما د رسول الله ﷺ ډیر صحابه کرام لیدلې دی، چه کله به

هغوی په اول او دریم رکعت کښې د سجدې نه خپل سر اوچتولو نو د هم هغه ځائې نه به نېغ اودریدلو او نه به کیناستلو، دا حدیث ابوبکر بن ابی شیبه نقل کړې دې او د دې سند حسن دې

(۴۵۲) وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ يَزِيْدَ قَالَ رَمَقْتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ مَسْعُوْدٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فِي الصَّلٰوةِ فَرَأَيْتُهٗ يَنْهَضُ وَلَا يَجْلِسُ قَالَ يَنْهَضُ عَلٰى صُدُوْرِ قَدَمَيْهِ فِي الرَّكْعَةِ الْاُوْلٰى وَالثَّالِثَةِ ـ رَوَاهُ الطَّبْرَانِيُّ فِي الْكَبِيْرِ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي السُّنَنِ الْكُبْرٰى وَصَحَّحَهٗ ـ

۴۵۲: عبدالرحمٰن بن یزید فرمائی: ما د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه مونځ په غور اوکتلو هغوی اولیدل چه اودریدل نو ناسته ئې اونکړه. دا حدیث طبرانی په کبیر او بیهقی په سنن الکبرٰی کښې نقل کړې دې او بیهقی ورته صحیح وئیلې دې.

(۴۵۳) وَعَنْ وَهْبِ بْنِ كَيْسَانَ قَالَ رَأَيْتُ ابْنَ الزُّبَيْرِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ إِذَا سَجَدَ السَّجْدَةَ الثَّانِيَةَ قَامَ كَمَا هُوَ عَلٰى صُدُوْرِ قَدَمَيْهِ ـ رَوَاهُ ابْنُ أَبِيْ شَيْبَةَ وَإِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ ـ

۴۵۳: وهب بن کیسان فرمائی ما عبدالله بن زبیر رضی الله عنه اولیدو چه کله هغوی دویمه سجده اوکړه نو په خپلو پنجوباندې اودریدلو. داحدیث ابوبکر بن ابی شیبه نقل کړې دې او د دې سند صحیح دې

**تشریح: د جمهورو دلائل او وجوه ترجیح:** (۴۴۸ نه ۴۵۳) د دې باب غرض انعقاد د امام مالک، امام ابوحنیفه، امام اوزاعی او جمهور فقهاء کرامو د مسلک افضلیت ترک جلسة الاستراحت د دلائلو بیان دې.

۱: د باب اول روایت د عکرمه رحمه الله نه منقول دې چه د هغې مضمون په تحت اللفظ ترجمه کښې واضح کړې شوې دې دا روایت امام بخاری رحمه الله په **کتاب الاذان باب التکبیر اذا قام من السجود**، ج ۱ ص ۱۰۸ کښې نقل کړې دې، چه په هغې کښې ابن عباس رضی الله عنهما دوه ویشت تکبیراتو ته سنة ابی القاسم صلی الله علیه وسلم وئیلې دې، امام نیموی رحمه الله د دې نه استدلال کولو ښخه وئیلې دی چه که جلسة الاستراحت مسنون وې نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د معمول (**کان یکبر فی کل خفض ورفع وقیام وقعود**) مطابق تکبیرونه ځلیرشت کیدل پکار وو، خو د دې باوجود دوه ویشت تکبیرونه شو کوم چه د دې خبرې دلیل دې چه جلسة الاستراحت په افعال صلوة کښې داخله نه ده.

۲: د دې باب دویم روایت (۴۴۹) کوم چه امام ابوداؤد رحمه الله په کتاب الصلوة **باب افتتاح الصلوة** ج ۱ ص ۱۰۷ کښې نقل کړې دې چه په هغې کښې راوی عباس یا د عیاش والد سهل الساعدی رضی الله عنه دې کوم چه په جلیل القدر صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې وو، سیدنا ابوهریره، ابوحمید الساعدی، ابو اسید رضی الله عنهم یو حدیث بیان کړو چه په هغې کښې صراحة د ﴿ **ولم یتورک** ﴾ تصریح ده

چه د هغې واضح ترین مدلول ترک د جلسة الاستراحت دې لکه چه په تحت اللفظ ترجمه کښې واضح کړې شوې ده.

۳: امام نیموي رحمه الله د عبدالرحمٰن بن غنم روایت (۴۵۰) کښې د ابوموسی الاشعری رضی الله عنه هغه تفصیلی تعلیم ذکر کړې دې کوم چه هغوی د خپل قوم رجال او نساء لره جمع کولو څخه د رسول الله ﷺ مونځ بیان کړې وو چه په هغې کښې جلسة الاستراحت نشته په آخره کښې ابومالک الاشعری رضی الله عنه اوفرمائیل: ﴿ احفظوا تکبیری وتعلموا رکوعی وسجودی فانها صلوة رسول الله ﷺ التی کان لنا کذا الساعة من النهار ﴾ (مسند احمد ج ۵ ص ۳۴۳)

۴: په دې روایت (۴۵۱) کښې نعمان بن عیاش خپله مشاهده بیانوی چا چه ډیر صحابه کرام رضی الله عنهم لیدلې وو فرمائی چه په اول او دریم رکعت کښې د سجدې نه د پاسیدو په وخت به هیڅ صحابی رضی الله عنه جلسه استراحت کولو باندې نه دې لیدلې. ﴿ قام کما هو ولم یجلس ﴾ دا روایت ابن ابی شیبه رحمه الله په خپل مصنَف کتاب الصلوة باب من کان یقول اذا رفعت راسک من السجدة الثانیة الخ ج ۱ صفحه ۳۹۵ کښې نقل کړې دې.

۵: روایت نمبر (۴۵۲) او (۴۵۳) کښې د ابن مسعود او ابن زبیر رضی الله عنهم معمولات منقول دی چه هغوی چیرته هم جلسة الاستراحت نه ده کړې د عبدالرحمٰن بن یزید روایت په السنن الکبری کتاب الصلوة ج ۲ ص ۱۲۵ باب من قال یرجع علی صدور قدمیه او مجمع الزوائد ج ۲ ص ۱۳۶ کښې نقل کړې دې او د وهب بن کیسان روایت ابن ابی شیبه په خپل مصنف ج ۱ ص ۳۹۴ باب من کان ینهض علی صدور قدمیه کښې تخریج کړې دې.

۶: ترمذی د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت نقل کړې دې:

قال کان النبی صلی الله علیه وسلم ینهض فی الصلوٰة علی صدورِ قدمیه قال ابوعیسٰی حدیث ابی هریرة رضی الله عنه علیه العمل عند اهل العلم یختارون ان ینهض الرجل فی الصلوٰة علی صدورِ قدمیه وخالد بن ایاس ضعیف عند اهل الحدیث۔

**د خالد بن ایاس تضعیف او د جمهورو ځواب:** امام ترمذی رحمه الله فرمائی چه دا د اهل حدیث په نزد ضعیف دې ابن عدی په الکامل کښې د امام بخاری، امام نسائی، امام احمد او امام ابن معین رحمهم الله نه دده تضعیف نقل کړې دې، په تهذیب التهذیب کښې دی چه خالد بن ایاس ته امام احمد رحمه الله متروک الحدیث، ابن معین لیس بشیء، ابوحاتم ضعیف او منکر الحدیث او ابوزرعه غیر قوی وئیلې دې ابن عدی رحمه الله فرمائی چه د هغه ټول احادیث غرائب او مناکیر دی ابن حبان وائی چه دې خو د ثقاتو نه هم موضوعات روایت کوی.

حافظ برهان الدین حلبی په کتاب الاغتباط عمن رمی بالاختلاط کښې وائی چه د هغه تضع
خو مشهور دې خو امام ترمذی رحمه الله د دې حدیث د تخریج نه پس دا هم وئیلې دی چه علیه العمل
عند اهل العلم معلومه شوه چه اصل حدیث په خپله قوی دې اګر چه په مذکوره خاص طریق ئې
ضعیف دې (اشار الیه ابن الهمام فی الفتح) علامه عینی په بنایه کښې فرمائی چه که دا ضعیف
وی نو بیا هم دا په هغه آثارو څخه موید دې کوم چه هم دې باره کښې مروی دی کوم چه زمو
مصنف علام په دې باب کښې درج کړې دی شیخ ابن الهمام په فتح القدیر کښې د دې خو
ورکولو څخه فرمائی چه دا حدیث ضعیف کیدو څخه هم د تعامل دصحابه کرامو رضی الله عنهم څخه مو
دې په دې وجه قابل قبول دې بیا په صحابه کرامو کښې ابن مسعود، عمر، علی، ابن عمر،
الزبیر او د ابن عباس رضی الله عنهم په شان جبال علم و فضل دی کوم چه د مالک بن الحویرث رضی الله عنه په مقا
کښې د رسول الله ﷺ د صحبت نه زیات مستفید شو.

۷: د جمهورو مستدل په صحیح بخاری ج۱ ص ۹۸۶ کښې د مسئ الصلوة د حدیث نه هم د
کوم چه د ابوهریره رضی الله عنه نه مروی دې په هغې کښې رسول الله ﷺ خلاد بن رافع رضی الله عنه ته د مانځ
صحیح طریقې څخه د تعلیم نه پس فرمائی ﴿ ثم ارفع حتی تستوی قائما ثم افعل ذلک فی صلوتک کلها﴾
په دې کښې رسول الله ﷺ د دویمې سجدې نه پس د مانځه په هر رکعت کښې د نیغ اودریدلو
حکم کړېدې او د کیناستلو ذکر ئې نه دې فرمائیلې قعده اولی او قعده اخیره والا رکعتونو ل
خارج کولو نه پس ظاهره ده چه دا حکم د اول او دریم رکعت څخه لګیږی.

۸: د دې نه علاوه سیدنا ابوحمید الساعدي رضی الله عنه د لسو صحابه کرامو رضی الله عنهم د جماعت
مخکښې ډیر په ذمه داریٔ څخه د ﴿ انا اعلمکم بصلوة رسول الله ﷺ ﴾ په الفاظو څخه د رسول الله ﷺ
د مانځه چه کومه طریقه بیان کړه په هغې کښې ئې د دویمې سجدې نه پس اوفرمائیل ﴿ ثم کبر
فلم یتورک ﴾ (الحدیث) ابوداؤد ج ۱ ص ۱۰۷ طحاوی ج ۱ ص ۱۲۷ او دا دې هم یاد وی چه د دې په سند
کښې نه خو عبد الحمید بن جعفر ضعیف راوی دې او نه دا منقطع دې.

**عقلی استدلال:** ۹ : احناف د جلسة الاستراحت د مسنون کیدو لپاره یو عقلی دلیل پیش کوی چه
دا قعده د استراحت لپاره ده او مونځ د استراحت او اکرام لپاره موضوع نه دې په دې باندې
څلور رکعتو والا قعده اولی نه اشکال کولې شی چه هغه هم قعده استراحت ده حال دا چه قعده
اولی واجب ده ځواب دا دې چه په رومبو دوه رکعتونو کښې ستړې کیدل او د فتور رغبت عارض
کیدل غیر اختیاری څیز دې په دې وجه شارع علیه السلام په عام رعایت څخه په دوه رکعتو باندې د قعده

استراحت حکم اولګولو.

۱۰: علامه انور شاه کشمیری رحمه الله هم د امام نیموی رحمه الله په شان خبره کړې ده صاحب انوار الباری د هغوی نه نقل کړې دې چه جلسة الاستراحت لره اختیارول په دې وجه هم محل د تامل دې چه د جلسې نه پس که د پاسیدو نه پس تکبیر نه وائی نو خلاف سنت معهوده به وی ځکه چه په هر رفع او خفض کښې تکبیر دې او که وائی نو د دوه ویشتو تکبیرات مقرر نه به تعداد زیات شی او که د سجدې نه د پاسیدو په وخت چه ئې کوم تکبیر وئیلې وو هغه دومره اوږد کړی چه هغه په جلسه کښې هم وی او پس د پاسیدو نه هم روان وی (لکه چه شوافعو تاویل کړې دې) نو په دې ګران والې دې شاه صاحب رحمه الله مزاحا دا هم فرمائیلې دی چه دومره اوږد چکر والا تکبیر به کیدې شی چه د مصری لهجې تکبیر وی.

## بَابُ افْتِتَاحِ الثَّانِيَةِ بِالْقِرَاءَةِ

(۴۵۴) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا نَهَضَ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ اِسْتَفْتَحَ الْقِرَاءَةَ بِ {اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ} وَلَمْ يَسْكُتْ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

**باب دویم رکعت د قرأت نه شروع کول**: **۴۵۴**: سیدنا ابوهریره رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ به چه کله دویم رکعت ته پاسیدلو نو په ﴿الحمد لله رب العالمین﴾ څخه به ئې قرأت شروع کولو او سکوت به ئې نه فرمائیلو. (یعنی د اودریدو څخه په ئې قرأت شروع کولو) دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

**تشریح:۴۵۴**: د ابوهریره رضی الله عنه دا روایت امام مسلم رحمه الله په خپل صحیح کتاب المساجد **باب ما یقال بین تکبیرة الاحرام والقراءة** ج ۱ ص ۲۱۹ نقل کړې دې.

کوم چه د دې خبرې واضح مدلول دې چه رسول الله ﷺ به چه کله دویم رکعت شروع فرمائیلو نو د ثناء، تعوذ او تسمیه نه بغیر به ئې د سورة فاتحه نه قرأت شروع کولو صاحب هدایه لیکی: **ویفعل في الرکعة الثانیة مثل ما فعل في الرکعة الأولی لأنه تکرار الأرکان إلا أنه لا یستفتح ولا یتعوذ لأنهما لم یشرعا إلا مرة واحدة** ... یعنی په دویم رکعت کښې به هم هغه څه کوی کوم چه ئې په اول رکعت کښې کړې وو ځکه چه کوم ارکان او واجبات او سنن او آداب وغیره اعمال په اول رکعت کښې کړې دی هغه دې په دویم رکعت کښې هم کوی، خو تعوذ او ثناء دې نه لولی ځکه چه دا دواړه صرف یو کرت مشروع دی ثناء په اول صلوة کښې او تعوذ په اول د قرأت کښې ﴿ **فلا یبتدی الا بتبدل المجلس** ﴾ لکه چه د صحیح مسلم د پورته ذکر شوی حدیث نه هم دا ثابتیږی د دې حدیث

ظاهر دا دي چه رسول الله ﷺ به بسم الله هم نه لوستله او ظاهر مذهب هم دا دې لکه چه حسن بن زياد د امام صاحب رحمه الله نه روايت کړې دې خو د امام صاحب رحمه الله نه د امام ابو يوسف رحمه الله روايت او د صاحبينو قول دادې چه په هر رکعت کښې دې بسم الله اولولى او هم دا قول احوط دې.

## بَابُ مَا جَآءَ فِي التَّوَرُّكِ

(۴۵۵) عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَطَآءٍ اَنَّهُ كَانَ جَالِسًا فِيْ نَفَرٍ مِّنْ اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْنَا صَلٰوةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَبُوْحُمَيْدِنِ السَّاعِدِيُّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَا كُنْتُ اَحْفَظَكُمْ لِصَلٰوةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَيْتُهُ اِذَا كَبَّرَ جَعَلَ يَدَيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ وَاِذَا رَكَعَ اَمْكَنَ يَدَيْهِ مِنْ رُكْبَتَيْهِ ثُمَّ عَصَرَ ظَهْرَهٗ فَاِذَا رَفَعَ رَأْسَهٗ اسْتَوٰى حَتّٰى يَعُوْدَ كُلُّ فِقَارٍ مَّكَانَهٗ فَاِذَا سَجَدَ وَضَعَ يَدَيْهِ غَيْرَ مُفْتَرِشٍ وَّلَا قَابِضِهِمَا وَاسْتَقْبَلَ بِاَطْرَافِ اَصَابِعِ رِجْلَيْهِ الْقِبْلَةَ فَاِذَا جَلَسَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ جَلَسَ عَلٰى رِجْلِهِ الْيُسْرٰى وَنَصَبَ الْيُمْنٰى فَاِذَا جَلَسَ فِي الرَّكْعَةِ الْاٰخِرَةِ قَدَّمَ رِجْلَهُ الْيُسْرٰى وَنَصَبَ الْاُخْرٰى وَقَعَدَ عَلٰى مَقْعَدَتِهٖ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

**باب کوم روايات چه د تورک په باره کښې راغلى دى: ۴۵۵:** محمد بن عمرو بن عطاء روايت کوى چه زه د رسول الله ﷺ د صحابه کرامو رضي الله عنهم په جماعت کښې ناست اوم چه مونږ د رسول الله ﷺ د مانځه ذکر اوکړو، نو ابوحميد الساعدى رضي الله عنه اوفرمائيل: زه په تاسو کښې د رسول الله ﷺ مونځ لره زيات ياد ساتونکې يم، ما هغوى اوليدل چه کله به ئې تکبير وئيلو نو لاسونه به ئې د اوږو برابر يوړل او چه کله به ئې رکوع کوله نو دواړه لاسونه به ئې په کونډو اولګول، بيا به رسول الله ﷺ خپله شا مبارکه برابر کړه، بيا به ئې چه کله خپل سر مبارک اوچت کړو، نو نيغ به اودريدلو، (تردې چه) د ملا هډوکې به ئې خپل ځائې ته راغلو، بيا به چه کله رسول الله ﷺ سجده کوله نو خپل لاسونه به ئې داسې کيخودل چه نه به غوړيدلې وو او نه به راټول وو او د خپلو خپو د ګوتو مبارکو رخ به ئې د قبلې طرف ته کولو او چه کله به په دوه رکعتو باندې کيناستلو نو په خپله ګسه خپه باندې به کيناستلو او ښئ خپه به ئې اودروله، او چه کله به په آخرى رکعت کښې کيناستلو، نو ګسه خپه به ئې وړاندې کړه او بله خپه به ئې اودروله او خپل بدن مبارک به ئې په هغې باندې کيخودلو. دا حديث بخارى نقل کړې دې.

**تشريح: کيفيات د جلوس او تعدد جلسات: ۴۵۵:** په مانځه کښې د جلوس کيفيات مختلف دى، ۱: تربع يعنى پرلت وهلو ځخه کيناستل، ۲: اضجاع القدمين (يعنى قدمين ښکته کولو ځخه په هغې باندې کيناستل)، ۳: اقعاء يعنى خپې اودرولو ځخه (کوناټى په زمکه باندې کيخودلو ځخه کيناستل)، ۴: تورک يعنى په ګس کوناټى باندې کيناستل او دواړه خپې ښى طرف ته ويستل لکه

چه حنفی زنانه کینی یا ښئ خپه اودرولو ښخه ګسه خپه شاته کولو ښخه په زمکه باندې کیناستل، ۵: افتراش یعنی ښئ خپه اودرلو ښخه ګسه خپه خورول او په هغې باندې کیناستل.
بیا په مانځه کښې جلسات هم ډیر دی. ۱: د دواړو سجدو ترمینځه کیناستل، ۲: د سجده ثانیه نه پس د قیام په وخت، ۳: د ثلاثی او رباعی مونځ د دویم رکعت د دویمې سجدې نه پس، ۴: په دریم رکعت کښې د سجده ثانیه نه د اوچتیدلو نه پس د قیام په وخت. ۵: په آخری رکعت کښې د رفع نه پس د تشهد په وخت.

**د تربع، اضجاع قدمین او اقعام حکم**: د جلوس د اول کیفیت یعنی تربع متعلق د ابن عباس، انس رضی الله عنهم، مجاهد، جعفر بن محمد او ابن سیرین رحمهم الله وغیره نه منقول دی چه دا حضرات به متربع یعنی پرلت وهلو ښخه کیناستل خو د عام اهل علم په نزد بغیر د عذر نه دا کیفیت په ټولو جلساتو کښې مکروه دې هم دغه شان اضجاع قدمین هم په ټولو جلساتو کښې بغیر د خلاف نه مکروه دې صرف امام نووی رحمه الله په روضة کښې د جلوس بین السجدتین متعلق یو شاذ او ضعیف وجه ذکرکړې ده هم دغه شان اقعاء هم د جمهور اهل علم په نزد مکروه ده چه د هغې تفصیل په مخکښې ابوابو کښې تیرشوې دې.

**په تورک او افتراش کښې بیان مذاهب**: اوس دوه کیفیتونه باقی پاتې شو یو تورک او یو افتراش د دې په باره کښې د ائمه اربعه اختلاف دې د قعده د دې دواړو حیثیتونو افتراش او تورک ذکر په احادیثو کښې راغلې دې او دواړه د احادیثو نه ثابت دی.

۱: د احنافو په نزد د سړو لپاره افتراش مسنون دې او دا د هرې جلسې لپاره دې که قعده اولی وی او یا اخیره یا د سجدتین ترمینځه وی په هر قعود کښې افتراش افضل دې او د زنانو لپاره په هره جلسه کښې تورک مسنون دې اود سړو لپاره تورک مکروه دې، امام ترمذی رحمه الله فرمائی چه هم دا قول د سفیان ثوری، ابن المبارک او اهل کوفه دې او هم په دې باندې اکثر اهل علم دی.

۲: د امام مالک رحمه الله په نزد په هره جلسه کښې تورک افضل دې په دې حکم کښې د سړو او ښځو هیڅ فرق نشته خو بعض مالکیانو د دواړو تشهدو په جلسو کښې د احنافو په شان د سړو لپاره افتراش اختیار کړې دې.

۳: د شوافعو په نزد چه په کومه قعده کښې سلام وی په هغې کښې تورک دې او په کومه قعده کښې چه سلام نه وی په هغې کښې د احنافو په شان افتراش افضل دې یعنی د سحر او د جمعې د مانځه په جلسه او تشهد کښې مثلا د هغوی په نزد به تورک وی. ځکه چه هغه آخری تشهد دې او د هغې نه پس سلام دې.

۴: د امام احمد رحمه الله په نزد په ثنائی یعنی دوه رکعتو والا مونځ کښې افتراش افضل دې او ثلاثي او رباعي مونځ کښې صرف په قعده اخیره کښې تورک افضل دې.

**د تورک درې صورتونه**: بیا د کیفیت جلوس متعلق په احادیثو کښې چه کوم تورک راغلې دی هغې کیفیت هم مختلف دې.

۱: اول صورت خو هغه دې کوم چه د سنن ابوداؤد په روایت د ﴿ ابْنُ لَهِيعَةَ عَنْ يَزِيدَ ابْنَ أَبِي حَبِيبٍ ﴾ کښې مذکور دې ﴿ فَإِذَا كَانَ فِي الرَّابِعَةِ أَفْضَى بِوَرِكِهِ الْيُسْرَى إِلَى الْأَرْضِ وَأَخْرَجَ قَدَمَيْهِ مِنْ نَاحِيَةٍ وَاحِدَةٍ ﴾ چه رسول الله ﷺ به کله په څلورم رکعت باندې کیناستلو نو خپل ګس کوناټې به ئې په زمکه اولګولو اودواړه خپې به ئې یو طرف ته ویستلو. د امام شافعي رحمه الله په نزد د تورک هم دا کیفیت معمول بها دې، پس په کتاب الام کښې دی ﴿ فَإِذَا جَلَسَ فِي الرَّابِعَةِ أَخْرَجَ رِجْلَيْهِ مَعًا مِن تَحْتِهِ وَأَفْضَى بِأَلْيَتَيْهِ إِلَى الأَرْضِ ﴾ په دې هیئت باندې به ښئ خپه هم د ګسې خپې په شان په زمکه باندې خوره شي.

۲: د تورک دویم کیفیت په سنن ابی داؤد کښې په روایت د ﴿ عِيسَى بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ عَبَّاسٍ أَوْ عَيَّاشِ بن سهل ﴾ مذکور دې. ﴿ فَتَوَرَّكَ وَنَصَبَ قَدَمَهُ الأُخْرَى ﴾ چه رسول الله ﷺ په کوناټې باندې کیناستلو او بله خپه ئې اودروله، د دوه سجدو ترمینځه والا جلسه کښې هم دا تورک راغلې دې، خو امام شافعي رحمه الله د دې قائل نه دې، بلکه دا امام مالک رحمه الله اختیار کړې دې، او هغوی په نزد په ټولو جلسو کښې د تورک هم دا کیفیت معمول بها دې.

۳: د تورک دریم کیفیت هغه دې کوم چه امام مسلم رحمه الله په خپل صحیح کښې د سیدنا عبدالله بن زبیر رضی الله عنهما نه د قعده اخیره متعلق روایت کړې دې ﴿ أَنَّهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَجْعَلُ قَدَمَهُ الْيُسْرٰي بَيْنَ فَخِذِهِ وَسَاقِهِ وَيَفْرِشُ قَدَمَهُ الْيُمْنَى ﴾ چه رسول الله ﷺ به خپله ګسه خپه د روند او پنډۍ ترمینځه کیخودله او ښئ خپه به ئې اودروله.

**د قائلین تورک دلائل او ځوابات**: د دې باب د سیدنا ابوحمید الساعدي رضی الله عنه والا حدیث (۴۵۵): قائلین تورک قوی مستدل دې هم دا روایت په ترمذي ج ۱ ص ٦٤ باب ما جاء في وصف الصلوة کښې هم راغلې دې د دې آخری الفاظ دا دی ﴿ حتى كانت الركعة التي تنقضي فيها صلواته اخر رجله اليسرى وقعد على شقه متوركا ثم سلم ﴾ امام طحاوي رحمه الله د دې حدیث ځواب ورکولو څخه اګر چه ددې په سند باندې کلام کړې دې او دې ته ئې ضعیف وئیلې دې (شرح معانی الاثار ج ۱ ص ۱۲۷ باب صفة الجلوس في الصلوة كيف هو) خو د آثار السنن د دې باب دا روایت د صحیح بخاری نه نقل کړې شوې دې او

دا د اعتراضاتو د هغه ټولو وجوه نه خالي دي کوم چه امام طحاوي رحمه الله د ترمذي په روایت کښې بیان کړي دی لهذا قابل استدلال دي پس د دې صحیح ځواب دا ورکړې شوې دې چه یا خو په حالت د عذر باندې محمول دې یا په بیان د جواز باندې او اختلاف چونکه په افضلیت کښې دې د دې وجې نه بیان جواز هیڅ بعید نه دې خو د زنانه لپاره تورک په دې وجه افضل کړې شوې دې چه په دې کښې ستر زیات دې.

## بَابُ مَا جَآءَ فِيْ عَدَمِ التَّوَرُّكِ

(۴۵۶) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَفْتِحُ الصَّلٰوةَ بِالتَّكْبِيْرِ وَالْقِرَآءَةِ بِالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَكَانَ اِذَا رَكَعَ لَمْ يُشْخِصْ رَأْسَهٗ وَلَمْ يُصَوِّبْهُ وَلٰكِنْ بَيْنَ ذٰلِكَ وَكَانَ اِذَا رَفَعَ رَأْسَهٗ مِنَ الرُّكُوْعِ لَمْ يَسْجُدْ حَتّٰى يَسْتَوِيَ قَائِمًا وَكَانَ اِذَا رَفَعَ رَأْسَهٗ مِنَ السَّجْدَةِ لَمْ يَسْجُدْ حَتّٰى يَسْتَوِيَ جَالِسًا وَكَانَ يَقُوْلُ فِيْ كُلِّ رَكْعَتَيْنِ التَّحِيَّةَ وَكَانَ يُفْرِشُ رِجْلَهُ الْيُسْرٰى وَيَنْصِبُ رِجْلَهُ الْيُمْنٰى وَكَانَ يَنْهٰى عَنْ عُقْبَةِ الشَّيْطٰنِ وَيَنْهٰى اَنْ يَفْتَرِشَ الرَّجُلُ ذِرَاعَيْهِ افْتِرَاشَ السَّبُعِ وَكَانَ يَخْتِمُ الصَّلٰوةَ بِالتَّسْلِيْمِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

**باب د تورک نه کولو په باره کښې چه کوم روایات راغلی دی:** ۴۵۶ : ام المومنین سیده عائشه صدیقه رضي الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ به د تکبیر ځخه مونځ شروع کولو او قرأت به ئې د **﴿الحمد لله رب العالمین﴾** ځخه شروع کولو، او چه کله به ئې رکوع اوفرمائیله نو خپل سر مبارک به ئې نه اوچتولو او نه به ئې ښکته کولو او د هغې ترمینځه به ئې ږدلو او کله چه به ئې خپل سر مبارک د رکوع نه اوچت کړو نو سجده به ئې نه فرمائیله، ترڅو چه به نیغ اودریدلې نه وو، او کله چه به هغوی د سجدې نه سر مبارک اوچت کړو نو (دویمه) سجده به ئې نه کوله، ترڅو چه به نیغ ناست نه وو، او رسول الله ﷺ به په هر دوه رکعتو کښې **﴿التحیات﴾** لوستلو او خپله ګسه خپه مبارکه به ئې خوره کړه او ښۍ خپه به ئې اودروله، او د شیطان په شان ناسته کولو نه به ئې منع فرمائیله، او د دې نه به ئې هم منع فرمائیله چه انسان د درنده په شان خپل لاسونه خوارۀ کړی، او رسول الله ﷺ به خپل مونځ په سلام ځخه ختمولو، دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

(۴۵۷) وَعَنْ وَآئِلِ بْنِ حُجْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ صَلَّيْتُ خَلْفَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا قَعَدَ وَتَشَهَّدَ فَرَشَ قَدَمَهُ الْيُسْرٰى عَلَى الْاَرْضِ وَجَلَسَ عَلَيْهَا رَوَاهُ سَعِيْدُ بْنُ مَنْصُوْرٍ وَّالطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

۴۵۷: سیدنا وائل بن حجر رضي الله عنه فرمائی : ما په رسول الله ﷺ پسې مونځ اوکړو، چه کله هغوی کیناستل او تشهد ئې اولوستلو نو خپله ګسه خپه ئې په زمکه باندې خوره کړه او په هغې کیناستلو. دا حدیث سعید بن منصور او طحاوی نقل کړې دې او سند ئې صحیح دې.

(۴۵۸) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ مِنْ سُنَّةِ الصَّلٰوةِ اَنْ تَنْصِبَ الْقَدَمَ الْيُمْنٰى وَاسْتِقْبَالُـــهُ بِأَصَابِعِهَا الْقِبْلَةَ وَالْجُلُوسُ عَلَى الْيُسْرٰى ـ رَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَاِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ ـ

۴۵۸ : سيدنا عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمائي : د مونځ په سنت کښې دا هم ده چه ښئ خپه اودرول او خپو ګوتې قبلې ته مخامخ کول، او په ګسه خپه باندې کيناستل.

دا حديث نسائي نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

**تشريح> د قائلين افتراش دلائل او وجوه ترجيح:** (۴۵٦ نه ۴۵۸ پورې) ۱ : د باب اول روايت (۴۵٦) صحيح مسلم ج ۱ ص ۱۹٤ کښې د عائشې رضي الله عنها نه منقول دې چه په هغې کښې تصريح ده **(وَكَانَ يَفْرِشُ رِجْلَهُ الْيُسْرَى وَيَنْصِبُ رِجْلَهُ الْيُمْنٰى)**

۲ : د وائل بن حجر رضي الله عنه روايت (۴۵۷) قوي مستدل دې چه په هغې کښې تصريح ده **(فَلَمَّا قَعَدَ لِلتَّشَهُّدِ فَرَشَ رِجْلَهُ الْيُسْرَى ثُمَّ قَعَدَ عَلَيْهَا)** دا روايت امام طحاوي په ج ۱ ص ۱۷۸ باب صفة الجلوس کښې تخريج کړې دې امام ترمذي رحمه الله د دې د تخريج کولو نه پس فرمائي **هذا حديث حسن صحيح والعمل عليه عند اكثر اهل العلم وهو قول سفيان الثوری وابن المبارک واهل الكوفة** ... شوافع حضرات دا حديث په قعده اولى باندې محمول کوي خو دا تاويل بعيد دې ځکه چه په دې کښې وائل بن حجر رضي الله عنه فرمان **( لانظرن الى صلوة رسول الله ﷺ )** (ترمذي) د رسول الله ﷺ مونځ ته په اهتمام ښه کتلو باندې دلالت کوي لهذا که په دواړه قعدو کښې د هيئت په اعتبار ښه فرق وې نو وائل رضي الله عنه به هغه ضرور بيان کړې وې لهذا د شوافعو دا ځواب کول مفسد د استدلال نه دی

۳ : د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت (۴۵۸) کښې سنة الصلوة افتراش بيان کړې شوې دې دا روايت امام نسائي رحمه الله په خپل سنن **کتاب الافتتاح باب الاستقبال باطراف اصابع القدم** ..... ج ۱ ص ۱۷۳ کښې نقل کړې دې.

۴ : په نسائي کښې د ميمونې رضي الله عنها نه روايت دې **( إِذَا سَجَدَ خَوَّى، وَإِذَا قَعَدَ اطْمَأَنَّ عَلَى فَخِذِهِ الْيُسْرَى )**

۵ : په طبراني کښې د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دې چه **( كَانَ يَتَشَهَّدُ فِي الصَّلَاةِ إِذَا جَلَسَ عَلَى وَرِكِهِ الْيُسْرَى )** هم دغه شان امام احمد رحمه الله د ثقه رجال په اسناد ښه د ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت کړې دې : **( علمني رسول الله صلى الله عليه و سلم التشهد في وسط الصلاة وفي آخرها فكان يقول إذا جلس في الصلاة وفي آخرها على وركه اليسرى التحيات لله الخ )**

٦ : په اعلاء السنن کښې د مستدرک حاکم او سنن بيهقي دا حديث هم په استدلال کښې ذکر

کرې شوې دې چه رسول اللهﷺ په مانځه کښې د اقعاء او تورک نه منع فرمائیلې ده چه د سړو لپاره تورک فی الصلوة مکروه دې او د تشهدین په جلسو کښې هیڅ فرق دې باره کښې نشته ځکه چه د مونځ لفظ عام دې پس څنګه چه اقعاء د ټولو په نزد مکروه ده هم دغه شان تورک هم د سړو لپاره مکروه کیدل پکار دی او د کوم حدیث نه چه تورک ثابت شو هغه په عذر باندې محمول کول پکار دی ځکه چه کله ممانعت او اباحت دواړه د یو څیز لپاره وارد شی نو ممانعت له به ترجیح وی او اباحت لره په څه عذر یا ضرورت باندې محمول کول غوره دی.

## بَابُ مَا جَآءَ فِي التَّشَهُّدِ

(۴۵۹) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا إِذَا صَلَّيْنَا خَلْفَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْنَا اَلسَّلَامُ عَلٰى جِبْرِيْلَ وَمِيْكَآئِيْلَ السَّلَامُ عَلٰى فُلَانٍ وَّفُلَانٍ فَالْتَفَتَ إِلَيْنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ اللّٰهَ هُوَ السَّلَامُ فَإِذَا صَلّٰى أَحَدُكُمْ فَلْيَقُلْ اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوٰاتُ وَالطَّيِّبَاتُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ فَإِنَّكُمْ إِذَا قُلْتُمُوْهَا أَصَابَتْ كُلَّ عَبْدِ اللّٰهِ صَالِحٍ فِي السَّمَآءِ وَالْأَرْضِ أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ. رَوَاهُ الشَّيْخَانِ.

---

**باب: کوم روایات چه د تشهد په باره کښې راغلی دی:** ۴۵۹ : عبد الله به عمرؓ فرمائی : چه کله به مونږ په رسول اللهﷺ پسې مونځ کولو، نو مونږ به وئیل ﴿ السَّلَامُ عَلٰى جِبْرِيْلَ وَمِيْكَآئِيْلَ السَّلَامُ عَلٰى فُلَانٍ وَّفُلَانٍ ﴾ نو رسول اللهﷺ زمونږ طرف ته توجه کولو څخه اوفرمائیل، بیشکه الله پاک هم هغه سلام دې کله چه په تاسو کښې څوک مونځ کوی نو داسې دې وائی :

﴿ اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوٰاتُ وَالطَّيِّبَاتُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا . وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ ﴾ (ټول قولی، بدنی او مالی عبادتونه خاص د الله پاک لپاره دی، سلامتیا دې وی په تاسو باندې اې د الله پاک نبی! او د هغه رحمتونه او د هغه برکتونه، سلامتی دې وی په مونږ باندې او د الله پاک په نیکو بندګانو باندې).

بیشکه چه هر کله تاسو دا اوئیل نو ستاسو سلام به د الله پاک هر نیک بنده ته رسیږی، که په آسمان کښې وی او که په زمکه کښې وی.

﴿ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ﴾ (زه ګواهی ورکوم چه د الله پاک نه سوا هیڅ معبود نشته، او زه ګواهی ورکوم چه بیشکه محمدﷺ د الله پاک بنده او د هغه رسول دې).دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۴۶۰) وَعَنْهُ قَالَ اِنَّ مُحَمَّدًا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَاِذَا قَعَدْتُّمْ فِىْ كُلِّ رَكْعَتَيْنِ فَقُوْلُوْا اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصّٰلِحِيْنَ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ثُمَّ لْيَتَخَيَّرْ اَحَدُكُمْ مِّنَ الدُّعَاءِ اَعْجَبَهٗ فَلْيَدْعُ بِهٖ رَبَّهٗ عَزَّوَجَلَّ۔ رَوَاهُ اَحْمَدُ وَالنَّسَائِىُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۴۶۰: سیدنا عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمائی چه بیشکه محمد ﷺ او فرمائیل: چه کله تاسو په هر دوارو رکعتونو کښې کینئ نو داسې وایئ: اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوٰتُ وَالطَّيِّبَاتُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ

بیا دې په تاسو کښې څوک یو دعاء خوښه کړي کومه چه هغه خوښوی نو د خپل رب عزوجل نه دې دعا اوغواړي. دا حدیث احمد او نسائی نقل کړې دې او د دې سند صحیح دې.

امام ترمذی رحمه الله فرمائی: د ابن مسعود رضي الله عنه حدیث دهغوی نه په ډیرو سندونو څخه روایت کړې شوې دې او هغه د رسول الله ﷺ نه د تشهد د منقول احادیثو په باره کښې د ټولو نه زیات صحیح دې، بیاد رسول الله ﷺ په صحابه کرامو او تابعینو رضي الله عنهم کښې د اکثر اهل علم عمل هم په دې باندې دې.

(۴۶۱) وَعَنْهُ قَالَ مِنَ السُّنَّةِ اَنْ يُّخْفَى التَّشَهُّدُ رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَحَسَّنَهٗ وَالْحَاكِمُ وَصَحَّحَهٗ۔

۴۶۱: عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمائی: دا خبره سنت ده چه تشهد دې په رو آواز اولوستلې شي.

دا حدیث ابوداؤد او ترمذی نقل کړې دې، ترمذی دې ته حسن وئیلې دې، دا حاکم هم نقل کړې دې او صحیح ئې ورته وئیلې دې.

**تشریح> څلیریشت (۲٤) صحابه کرامو د چا نه چه تشهد منقول دې:** (۴۵۹ نه ۴۲۱ پورې) د تشهد الفاظ د څلیریشت صحابه کرامو رضي الله عنهم نه منقول دی. ۱: تشهد عمر، ۲: تشهد ابن عمر، ۳: تشهد عائشة، ۴: تشهد جابر بن عبدالله، ۵: تشهد ابو موسی اشعری، ۶: تشهد ابن الزبیر، ۷: تشهد ابن عباس، ۸: تشهد ابن مسعود، ۹: تشهد سمرة بن جندب، ۱۰: تشهد علی رضي الله عنهم، دا لس تشهدات داسې دی چه په دې کښې د تشهد ابن مسعود رضي الله عنه نه علاوه بعض تشهدات مرفوع دی او بعض موقوف، بعض قوی سند او بعض په ضعیف سند څخه مروی دی. او تشهد د ابن مسعود رضي الله عنه مرفوع او د اعلی درجې قوی دې، د دې نه علاوه حافظ طبرانی رحمه الله په معجم کبیر کښې ۱۱: تشهد معاویه بن ابی سفیان رضي الله عنهما، طبرانی او بزار ۱۲: تشهد سلمان فارسی رضي الله عنه، امام طحاوی رحمه الله ۱۳: تشهد ابی سعید خدری، ۱۴: طبرانی ۱۴: تشهد ابوحمید الساعدی رضي الله عنه، ابن ابی شیبة ۱۴: تشهد ابوبکر صدیق رضي الله عنه هم د تشهد ابن مسعود رضي الله عنه په شان نقل کړې دې، او

ابوبکر بن مردویة په کتاب التشهد کښې ۱۵: تشهد طلحه بن عبیدالله رضی الله عنه، ۱۶: طلحه بن عبیدالله، ۱۷: تشهد انس بن مالک رضی الله عنه، ۱۸: تشهد ابوهریره رضی الله عنه، ۱۹: تشهد فضل بن عباس رضی الله عنهما، ۲۰: تشهد ام سلمه رضی الله عنها، ۲۱: تشهد حذیفه رضی الله عنه، ۲۲: تشهد مطلب بن ربیعه، ۲۳: تشهد عبدالله بن ابی اوفی رضی الله عنه او ۲۴: تشهد حسین بن علی رضی الله عنهما هم روایت کړې دی. د دې ټولو صحابه کرامو رضی الله عنهم نه په منقول تشهداتو او د هغې په الفاظو کښې لږ لږ فرق دې په دې باندې د ټولو ائمه اتفاق دې چه په دې کښې چه کومه صیغه هم اولوستلې شی جائز ده خو صرف په افضلیت کښې اختلاف دې.

**د مالکیانو مختار تشهد، وجه د ترجیح او ځواب:** امام مالک او د هغوی متبعین د عمرفاروق رضی الله عنه تشهد ته ترجیح ورکړې ده لکه چه د ابن ابی زید په رساله کښې دی چه د هغې الفاظ دا دی:

**التحیات لله الزاکیات لله الطیبات الصلوٰة لله السّلام علیك (والباقی کتشهد ابن مسعود رضی الله عنه) عن عبد الرحمٰن بن القاری انه سمع عمربن الخطاب رضی الله عنه وهوعلی المنبریعلم الناس التشهدالخ۔** (موطا امام مالک ص۴۲ ، سنن الکبریٰ ج ۲ ص ۴۴ ، مستدرک ج ۱ ص ۲۲۶)

وجه د ترجیح دا ده چه عمر رضی الله عنه دا تشهد خلقو ته په منبر باندې ښودلې دې، نو دا دلالت کوی په فضیلت د دې تشهد باندې د دې ځواب دا دې چه دا تشهد موقوف دې نه مرفوع **(فلا یلحق بالمرفوع)**.

**د شوافعو مختار تشهد او وجه د ترجیح او ځواب:** امام شافعی رحمه الله او د هغوی متبعین د ابن عباس رضی الله عنهما تشهد ته ترجیح ورکوی چه د هغې الفاظ دا دی:

**التحیات المبارکات الصلوات الطیبات لله سلام علیك ایهاالنبی ورحمة الله وبرکاته سلام علینا الخ (والباقی کتشهدابن مسعود رضی الله عنه)۔** ( ترمذی ج۱ ص۳۸)

**عند الشوافع** ....... د دې وجه د ترجیح دا ده چه ابن عباس رضی الله عنهما د ځوانانو صحابه کرامو رضی الله عنهم نه دې نو هغوی ته به خپل روایت ډیر اضبط او محفوظ وی، علامه زیلعی رحمه الله په شرح د کنز کښې د دې ځواب دا ورکړې دې چه په غایه کښې لیکلې شوې دی چه په اهل نقل کښې چا هم د ابن عباس او صغار صحابه کرامو رضی الله عنهم روایت ته د ابوبکر، عمر او کبار صحابه کرامو رضی الله عنهم په روایاتو باندې ترجیح نه ده ورکړې، د دې نه علاوه دا ډیره د تعجب خبره ده چه په دې مسئله کښې خو شوافعو د کم عمرئ د وجې نه د ابن عباس رضی الله عنهما روایت ته ترجیح ورکړې ده او په بعض نورو مسائلو کښې ئې د ابن عباس رضی الله عنهما روایت پریخودلې دې او د نورو صحابه کرامو روایت ئې اخستلې دې، مثلا د

ظهر او عصر د قرأت په سلسله کښې ئې د ابوقتاده رضي الله عنه روايت اخستلې دې او هغې ته ئې ب
روايت د ابن عباس رضي الله عنهما باندې ترجيح ورکړې ده وقالوا : لانه اکبر واقدم صحبة واکثر اختلاط
بالنبي صلى الله عليه وسلم ذکره النووي في شرح المهذب، د شوافعو په نزد دويمه وجه د ترجيح دا ده چه په تشهد د
ابن عباس رضي الله عنهما کښې الفاظ ثنائيه زائد دی، ځواب دا دې چه بيا خو تشهد د علي رضي الله عنه اولی کيدل
پکار دی چه په هغې کښې دا خبره د ټولو نه زياته ده، دريمه وجه د ترجيح دا هم ذکر کولې شي چه
د ابن عباس رضي الله عنهما د حديث سند حجازی دې او د حديث ابن مسعود رضي الله عنه سند کوفی دې او حجازی
سند په کوفی سند باندې مقدم دې. ځواب دا دې چه د تقدم او تفضل مدار او د تصحيح مدار په
تصحيح د محدثينو باندې دې نه په اسناد حجازی او کوفی کيدو باندې، او محدثين په دې خبره
کښې د ابن مسعود رضي الله عنه د حديث په ترجيح باندې متفق دی هم په دې وجه امام ابوحنيفه، د هغوی
اصحابو، امام احمد او د هغوی متبعينو تشهد ابن مسعود رضي الله عنه اختيار کړې دې او د تشهد ابن
عباس رضي الله عنهما په مقابله کښې ئې هغې ته د ډيرو وجوه نه ترجيح ورکړې ده.

**د احنافو مختار تشهد د ابن مسعود رضي الله عنه وجوه د ترجيح**: ۱: صاحب نصب الراية ذکر کړې دی چه په
تشهد د ابن مسعود رضي الله عنه باندې د ائمة سنت اتفاق دې لفظا هم او معنی هم او د اعلی درجې صحيح
حديث هغه دې په کوم باندې امام بخاری او امام مسلم رحمهما الله متفق شي اگر چه په اصل معنی کښې
ئې اتفاق نه وی نه په لفظ کښې، نو بيا دا درجه ځومره اعلی شوه چه د دې په هر لفظ باندې دواړه
امامان متفق دی بلکه ټول اصحاب صحاح پرې متفق دی لکه چه د دې باب په اول روايت (۴۵۹)
امام بخاری رحمه الله په کتاب الاذان ج ۱ ص ۱۱۵ باب التشهد في الاخرة کښې او امام مسلم رحمه الله په کتاب
الصلوة ج ۱ ص ۱۷۳ کښې په باب التشهد في الصلوة کښې نقل کړې دې د باب دويم روايت (۴۶۰)
امام احمد رحمه الله په خپل مسند ج ۱ ص ۴۱۳ کښې امام نسائی په کتاب الافتتاح ج ۱ ص ۱۷۴ باب کيف
التشهد کښې تخريج کړې دې. او کمال دا دې چه د صحاح په ټولو رواياتو کښې د دې تشهد په
الفاظو کښې بالکل اختلاف نشته وذلک نادر جدا او حال دا چه د نورو تشهداتو په الفاظو کښې
اختلاف موجود دې.

۲: ترمذی د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت ته اصح ما في الباب وئيلې دې پس امام
نيموی رحمه الله فرمائی :

قال الترمذي حديث ابن مسعود قد روي عنه من غير وجه وهو اصح حديث عن النبي صلى الله عليه وسلم والعمل عليه عند
اکثر اهل العلم من اصحاب النبي صلى الله عليه وسلم ومن بعدهم من التابعين.

۳: عبدالله بن مسعود رضي الله عنه تصریح کړې ده چه رسول الله ﷺ ماته د دې تشهد تعلیم زما لاس نیولو څخه راکړې وو ﴿ عَلَّمَنِي رَسُولُ اللهِ صلی الله علیه وسلم التَّشَهُّدَ وَكَفِّي بَيْنَ كَفَّيْهِ كَمَا يُعَلِّمُنِي السُّورَةَ مِنَ الْقُرْآنِ ﴾ کوم چه په شدت اهتمام باندې دلالت کوی. (مسلم جلد ص ۱۷٤) علامه بنوری په معارف السنن کښې لیکلې دی چه دا روایت مسلسل باخذ الید هم دې.

**د صاحب هدایة وجوه دترجیح:** ۴ : صاحب هدایه د تشهد ابن مسعود رضي الله عنه څلور وجوه د ترجیح بیان کړی دی. الف : اول دا چه په دې کښې امر دې په احادیثو کښې ددې لپاره د ﴿ فليقل، قولوا، فقولوا﴾ الفاظ راغلی چه د هغې کمه درجه د استحباب ده دا خبره صرف په تشهد د ابن مسعود رضي الله عنه کښې ده **بخلاف غيره فانه مجرد حكاية** ... ب : په دې کښې لفظ سلام معرف باللام دې او الف لام مفید د استغراق لپاره وی، ج : په دې تشهد کښې د واؤ زیادت دې یعنی ﴿ التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ ﴾ او واؤ د نوی کلام لپاره راځی په دې صورت کښې به هر کلام مستقل ثناء وی څکه چه معطوف د معطوف علیه غیر وی په خلاف د تشهد ابن عباس رضي الله عنهما چه د هغې په یو طریق کښې هم واؤ نشته نو پوره کلام به موصوف صفت جوړیدلو څخه ثناء واحد شی.

**علمی لطیفه:** د واؤ د زیادت په سلسله کښې د امام صاحب رحمه الله نه یو لطیفه منقول ده کومه چه شمس الائمة محمد بن عبدالستار کروری په خپله رساله کښې ذکر کړې ده کومه چه هغوی د صاحب منخول په رد کښې لیکلې وه، لطیفه دا ده چه امام صاحب د خپلو ملګرو څخه په مسجد کښې تشریف فرما وو چه یو باندچی راغلو او سلام ئې اوکړو، هغوی د سلام ځواب ورکړو، باندچی پوښتنه اوکړه:﴿ ابلا واو ام بواوين ؟ ﴾ امام صاحب سمدستی ځواب ورکړو : **بواوين**، باندچی اووې : **بارک الله فیک کما بارک فی لا ولا** ... په دې باندې حاضرین ټول حیران شو او په هغوی کښې څوک هم په دې پوښتنې او ځواب باندې پوهه نه شو، هغوی د امام صاحب نه پوښتنه اوکړه، نو هغوی اوفرمائیل چه هغه د التحیات متعلق پوښتنه کړې ده چه د واؤ نه بغیر دې یا که په دوه واونو څخه دې ما اووې چه په دوه واونو څخه دې پس هغه ماته دعا اوکړه چه الله پاک دې ستا په علم کښې داسې برکت واچوی لکه چه د زیتون اونه ئې بابرکت کړې ده **حيث قال** ﴿ مِنْ شَجَرَةٍ مُبَارَكَةٍ زَيْتُونَةٍ لَا شَرْقِيَّةٍ وَلَا غَرْبِيَّةٍ ﴾.

د : په تشهد د ابن مسعود رضي الله عنه کښې د تعلیم تاکید دې کوم چه تعلیم باخذ الید دې کوم چه په نوره توجه او اهتمام باندې دلالت کوی.

۵: تشهد د ابن مسعود رضی الله عنه امام ترمذی، علامه خطابی، شیخ ابن المنذر، امام زهری او حافظ ابن عبدالبر رحمهم الله وغیره علماء کرامو په دې باب کښې اصح منلې دې، حافظ ابوبکر بزار رحمه الله فرمائی چه د تشهد په سلسله کښې د ټولو نه زیات صحیح حدیث د ابن مسعود رضی الله عنه دې کوم چه تقریبا په شلو طرقو څخه روایت کړې شوې دې، علامه بغوی هم په شرح السنة کښې هم په دې باندې جزم کړې دې، محمد بن یحیی الذهلی فرمائی حدیث ابن مسعود اصح ما روی فی التشهد، حافظ طبرانی په معجم کبیر کښې د بریدة بن الخطیب قول روایت کړې دې ما سمعت احسن من تشهد ابن مسعود رضی الله عنه، تردې چه محققین شوافعو د دې اعتراف کړې دې لکه امام نووی رحمه الله په شرح مسلم کښې فرمائی: حدیث تشهد ابن مسعود عند المحدثین اشد صحة وان کان الجمیع صحیحا.

علامه سیوطی رحمه الله په التوشیح کښې فرمائی: اتفق اهل الحدیث علی ترجیح حدیث ابن مسعود رضی الله عنه وقالوا انه اصح حدیث ورد فی التشهد لانه روی عنه من نیف وعشرین طریقا وهو اصح الاحادیث اسنادا واشهرها رجالا''۔

۶: امام مسلم رحمه الله فرمائی:

انما اجمع الناس علی تشهد ابن مسعود رضی الله عنه لان اصحابه لایخالف بعضهم بعضا وغیره قد اختلف اصحابه رضی الله عنهم۔

۷: علامه زیلعی په شرح د کنز کښې فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ابن مسعود رضی الله عنه ته دا تشهد اوښودلو او نورو ته ئې د ښودلو حکم ورکړو لکه چه امام احمد رحمه الله روایت کړې دې، دا خبره په نورو تشهداتو کښې نشته.

۸: په شرح د کنز کښې دا هم دی چه د ابن مسعود رضی الله عنه موافقت د صحابه کرامو یو جماعت کړې دې کمعاویة وسلمان عند الطبرانی والبزار وکعائشة عند البیهقی وکابی حمید وغیرهم رضی الله عنهم. بخلاف ابن عباس رضی الله عنهما.

۹: دا هم وئیلې شوې دی چه ابن مسعود رضی الله عنه دا تشهد خلقو ته په منبر باندې ښودلې دې کما فی روایة الطحاوی ولیس ذلک فی غیره.

۱۰: دا ئې هم وئیلی دی چه جمهور اهل علم و نقل د ابن مسعود رضی الله عنه تشهد خپل کړې دې په خلاف د تشهد ابن عباس رضی الله عنهما چه په هغې باندې صرف امام شافعی او د هغوی متبعینو عمل کړې دې رحمهم الله.

۱۱: دا ئې هم لیکلې دی چه په حدیث د ابن مسعود رضی الله عنه کښې هیڅ اضطراب نشته په خلاف د حدیث ابن عباس رضی الله عنهما.

۱۲: دا ئې هم ذکر کړې دی چه د ابن مسعود رضی الله عنه به د دې په اهتمام کښې سخت اهتمام

فرمائیلو تردې چه عبدالرحمن بن یزید فرمائی چه مونږ به دا تشهد د ابن مسعود رضی الله عنه نه داسې حفظ کولو لکه چه د قرآن کریم حروف حفظ کوو. دا دلیل دې د دې خبرې چه د تشهد د الفاظو ضبط ډیر د اعلی درجې دې.

۱۳: عائشې رضی الله عنها هم دې ته د رسول الله ﷺ تشهد وئیلې دې لکه چه حافظ بیهقی رحمه الله او په غیلانیات کښې دارقطنی روایت کړې دې.

۱۴: په نصب الرایه او فتح القدیر وغیره کښې دی چه امام ترمذی **عن معمر عن خصیف** روایت کړې دې خصیف وائی چه ما رسول الله ﷺ په خوب کښې اولیدو نو عرض مې اوکړو! یا رسول الله ﷺ خلق د تشهد په باره کښې اختلاف کوی، رسول الله ﷺ اوفرمائیل: **بتشهد ابن مسعود**، خو علامه بنوری او صاحب سعایه فرمائی چه د جامع ترمذی په موجوده نسخو کښې دا روایت ملاؤ نه شو.

۱۵: په تشهد د ابن مسعود کښې د شروع نه اسم د الله مقدم دې، او په اول کلام کښې ازاله د اجمال فی الممدوح اولی ده.

**د التحیات شان ورود**: قاضی حسین بن محمد دیار بکری په خپل **تاریخ الخمیس فی احوال النفس النفیس** کښې د بحث رابع متعلق فرمائی چه کله رسول الله ﷺ معراج لپاره لاړو او د الله پاک دربار ته اورسیدو نو هغوی د رب العالمین د طرف نه آواز واوریدلو، ﴿ **حی الی ربک** ﴾ پس رسول الله ﷺ د الله پاک په الهام څخه د الله پاک تعریف اوکړو ﴿ **اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ الخ** ﴾ تحیه ئې پیش کړه، د دې په ځواب کښې د دربار الوهیت نه هغوی ته ډالئ ورکړې شوه، ﴿ **اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ** ﴾ پس رسول اله ﷺ عرض اوکړو: ﴿ **اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا، وَعَلٰى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِيْنَ** ﴾ چه کله رسول الله ﷺ دا عرض اوکړو نو جبرائیل علیه السلام اوفرمائیل: ﴿ **أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ** ﴾ شیخ حلبی په غنیة المستملی کښې او شرنبلالی په مراقی الفلاح کښې هم د دې ذکر کړې دې: **حکاه علی القاری عن عبدالملک فی المرقاة** ج ۱ ص ۵۵۶ **وکذا نقل فی معارف السنن** ج ۳ ص ۸۸ خو احتیاط کونکی محدثین وائی چه د دې واقعې د سند تحقیق اونکړې شو.

**د التحیات لوستلو په وخت د الله پاک په دربار کښې حاضری**: اوپه مجتبی، درمختار او امدادیه وغیره کښې دی چه متشهد له پکار دی چه په لیلة المعراج کښې چه د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ ترمینځه کومه مخاطبه واقع شوې ده نه دې د هغې د حکایت قصد کوی او نه دې د خبر

په طور اراده کوی بلکه په طریق د انشاء دې د الفاظ تشهد نه د هغې په معنی باندې داسې قصد اوکړی چه ګویا زه د الله پاک التحیات لولم، او په رسول الله ﷺ او په ځآن او په ټولو صالحینو باندې سلام وایم، بیا په صیغې د خطاب څخه دا عقیده نه دی لرل پکار چه رسول الله ﷺ زمونږ کلام اوری، یا په دې باندې پوهیږی که داسې اوکړی نو د منکر شرعی مرتکب به شی، دا هم یاد ساتل پکار دی چه رسول الله ﷺ به هم ﴿ السلام علیک ﴾ او ﴿ اشهد ان محمدا عبده ورسوله ﴾ وئیل، السلام علی او اشهد انی رسول الله به ئې نه وئیل پس حافظ ابن حجر رحمه الله د دې تصریح کړې ده، خو د مانځه نه خارج د صحیح بخاری په حدیث د سلمة بن الاکوع رضی الله عنه کښې مذکور دی چه رسول الله ﷺ ﴿ اشهد ان لا اله الا الله واشهد انی رسول الله ﴾ وئیلې دې.

**د التحیات لغوی تحقیق او مفهوم:** ﴿ قوله التحیات الخ ﴾ تحیات د تحیة جمع ده په معنی د سلام، بعضو د دې معنی د بقاء، بعض د عظمت، بعض د جمیع آفاتو او نقائصو نه سلامتی او بعض په معنی د ملک وئیلې دې، محب طبری رحمه الله وائی چه ممکنه ده لفظ تحیة په دې معانی کښې مشترک وی، خو دلته د دې په معنی د سلام کیدل انسب دی، د صلوات نه مراد خو خاص طور څخه صلوات خمس دی یا د دې نه عام مراد دې که نوافل وی یا فرائض، او د بعضو په قول د دې نه مراد جمیع عبادات دی، صاحب انوار الباری د شاه صاحب نه نقل کړی دی چه شاه اسمعیل صاحب په الایضاح کښې د دې نه استدلال کړې دې چه جمع معرف باللام مفید د استغراق وی، زه وایم چه د ادعیه، نذور او ایمان په باره کښې خو دا قاعده مسلم ده ځکه چه د دې ټولو مبنٰی فقط په الفاظو باندې وی خو د دې نه سوا په نورو څیزونو کښې دقطعیت دعموم او استغراق خبره تسلیم نه ده د طیبات نه مراد ذکر الله یا اقوال صالحه یا اعمال صالحه دی، د عبادالله څخه د الصالحین قیدلو لګولو باندې دې طرف ته اشاره اوکړې شوه چه په بدبخت او بدکارو باندې سلام لیږل مناسب نه دی، د دې سعادت حق دار هم هغه بندګان دی کوم چه د خپلې عقیدې، فکر، عمل او کردار په اعتبار څخه د الله او د هغه د رسول ﷺ په نظر کښې غوره وی کومو ته چه صالحین وائی. او بنده صالح هم هغه دې چه حقوق الله او حقوق العباد دواړه پوره کوی، شیخ عبدالقادر جیلانی رحمه الله فرمائی چه صلاح په اصل کښې د هغه حالت نوم دې چه په هغې کښې د بنده ذاتی او نفسانی ارادې او خواهشات مړۀ شی او د الله پاک په مراد او مقصود باندې قائم وی.

**په تحیات کښې انتقالات ثلاثه او د غیب نه خطاب طرف ته په عدول کښې حکمت:** د سلام په موقع باندې مقتضاء سیاق السلام علی النبی بطریق غیبت دې چه په دې صورت کښې د تحیة الله نه تحیة النبی ﷺ طرف ته بیا د تحیة النفس طرف ته د دې نه پس د تحیة الصالحین طرف ته انتقال

وی، بیا د غیب نه خطاب طرف ته عدول کولو کښې څۀ حکمت دې.

صاحب سعایه د خپل والد صاحب د رسالې نور الایمان بزیارة اثار حبیب الرحمٰن نه نقل کړی دی چه په تشهد کښې د غیبت نه خطاب طرف ته عدول کښې راز دا دې چه حقیقت محمد ﷺ دا ګویا په هر وجود کښې جاری او ساری او د هر بنده په زړه کښې حاضر دې، او د دې حالت انکشاف علی وجه الاکمر د مانځه په حالت کښې وی فحصل محل الخطاب، د بعض عارفینو قول دې چه بنده چه کله د ثناء باری عز اسمه باندې مشرف شی نو ګویا هغه ته په حریم د حرم الهی کښې د داخلیدو اجازت ملاؤ شی او حبیب خدا ﷺ په حرم حبیب کښې حاضر بیا مومی لهذا هغه په طریقه د خطاب وائی چه السلام علیک ایها النبی ....... هم دا مضمون حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباری کښې د علامه طیبی رحمه الله نه نقل کړې دې.

**په تشهد کښې د صیغه خطاب سنیت او حکمت او وجوه د ترجیح:** ﴿ السلام علیک ایها النبی ﴾ په اکثرو روایاتو کښې دا جمله هم دغه شان په صیغه د خطاب نقل شوې ده خو د مجاهد نه په یو روایت کښې ابن مسعود رضی الله عنه د تشهد بیانولو نه پس فرمائی وهو ﴿ وهو (هذا التشهد حیثما کان النبی ﷺ) وَهُوَ بَيْنَ ظَهْرَانَيْنَا . فَلَمَّا قُبِضَ قُلْنَا : السَّلَامُ عَلَى النَّبِيِّ ﴾ (مصنف ابن ابی شیبة ج ۱ ص ۱۹۲)

لهذا بعض اهل ظاهر د دې نه استدلال کولو څخه دا وئیلې دی چه دا صیغه د خطاب د رسول الله ﷺ د وفات څخه منسوخ شوې ده.

۱: خو محققین علماء کرامو د دې تردید کړې دې دا بحث په معارف السنن کښې په مفصل دلائلو څخه لیکلې شوې دې او وئیلې شوې دی چه هلته د مجاهد رحمه الله زیادت په فنی حدیثی لحاظ څخه هم مرجوح او غیر مقبول ده ځکه چه نورو ثقاتو دا نه دې روایت کړې او د مروجه تشهد په صیغه د خطاب څخه روایات راجح او موئد بالتعامل والتوارث دی.

۲: علامه بنوری رحمه الله لیکلې دی چه فرق کونکی د ابن عباس او مجاهد وغیره شمار په مکیین (اهل مکه) کښې او په مکه معظمه کښې د هغوی علم خور شوې دې د هغوی موافقت په دې مسئله کښې نه اهل مدینه کړې دې او نه اهل عراق کړې دې او د اهل مکه تفردات په کثرت څخه دی.

۳: په صحیح مسلم کښې چه کوم روایت د مجاهد رحمه الله نه منقول دې هغه د دې زیادت نه خالی دې حال دا چه د هغې راویان هم بعینه هم هغه دی کوم چه د بخاری په روایت کښې دی د دې نه معلومه شوه چه مجاهد رحمه الله به صرف اصل روایت بیانولو او کله به ئې د زیادت والا الفاظ زیات کړل کوم چه په ظاهره کښې د هغوی د خپل شیخ ابن عباس رضی الله عنهما د اجتهاد څخه د موافقت د وجې نه وو لهذا هغه د ابن مسعود رضی الله عنه د کلام څخه یو ځائې کول محل نظر دی.

۴. او دا هم ممکنه ده چه ابن مسعود رضی الله عنه په یو موقع باندې د غائب صیغه استعمال کړې وی او په دې څخه بیان دجواز مقصود وی.

۵. علامه بنوری رحمه الله د حافظ حدیث جمال الدین قول هم د المعتصر ج ۱ ص ۳۵ نه نقل کړې دې چه مذکوره زیادت منکر او غیر صحیح ده ځکه چه د دې نه معلومه شوه چه کوم تشهد د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند کښې وو هغه روستو بدل کړې شو حال دا چه دا خبره د عام صحابه کرامو رضی الله عنهم او د آثار مرویة صحیحه نه خلاف ده او ابوبکر او عمر رضی الله عنهما په خپل دور خلافت کښې تشهد په ﴿السلام علیک ایها النبی﴾ څخه خلقو ته ښودلې دې کوم چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند کښې وو او کومه غلطی چه راغلې ده هغه د مجاهد رحمه الله وغیره نه راغلې ده.

۶: علامه ابوعبید رحمه الله فرمائی چه الله پاک چه کوم خاص عظمت او بزرګی او جلالت قدر خپل نبی صلی الله علیه وسلم ته ورکړې وو هم د هغې نه دا هم ده چه په هغوی باندې پس د وفات نه هم هغه سلام مشروع شی کوم چه د هغوی په ژوند کښې وو. (معارف السنن ج ۳ ص ۸۷)

۷: د علامه محمد انور شاه کشمیری رحمه الله د تحقیق خلاصه دا ده چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د موجودګئ او د غیبت فرق عام طور څخه په صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې نه وو هم په دې وجه د دې توارث هم جاری نه شو او ابن مسعود رضی الله عنه (راوی د تشهد) او د هغوی اصحابو هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات نه پس د صیغه خطاب تعلیم ورکړې دې او کوم چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حیاة طیبه کښې وو هم هغه ئې باقی ساتلې دې د یو حرف تغیر ئې هم په هغې کښې نه دې کړې او عمر رضی الله عنه په منبر نبوی صلی الله علیه وسلم باندې د صحابه کرامو رضی الله عنهم او تابعینو په مجمع کښې هم په صیغه د خطاب څخه خلقو ته تشهد ښودلې وو. (انوار الباری)

۸: مولانا محمد منظور نعمانی مدظله لیکی چه د جمهور امت د عمل نه معلومیږی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم چه د کوم لفظ تلقین فرمائیلې وو هم هغه د هغوی د وفات نه پس په طور د یادګار بعینه برقرار اوساتلې شو او بیشکه د ارباب ذوق لپاره په دې کښې یو خاص لطف دې کوم خلق چه په دې صیغه دخطاب څخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حاضر ناظر عقیده پیدا کول غواړی د هغوی متعلق بس هم دا وئیلې کیدې شی چه هغوی د شرک خوښولو مریضان، ډیر بدذوق او د عربئ ژبې او د ادب د لطافتونو نه بالکل ناخبره دی. (معارف الحدیث ج ۳ ص ۲۹۴)

**رسول الله صلی الله علیه وسلم په صیغه د خطاب اود موهم شرک الفاظ استعمالولو نه د ځان ساتلو ضرورت:** که په التحیات کښې ﴿ایها النبی﴾ څخه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته خطاب وی یا په درود و سلام کښې د خطاب الفاظ یا رسول الله او یا نبی الله وغیره کلماتو استعمال وی که عقیده دا وی چه د الله پاک په شان

رسول اللہ ﷺ هم هر ځائي کښې حاضر و ناظر او په هر زمان او مکان کښې موجود دې هر آواز اوری، هر حرکت وینی نو دا واضح شرک دې او معاذ الله د عیسایانو په شان رسول ته د الله پاک درجه ورکول دی چه په خدائی صفاتو کښې ئې رسول شریک کړې دې بعض خلق وائی چه رسول الله ﷺ زمونږ په محفل د درود او سلام کښې راځی او زمونږ سلام اوری دا عقیده هم بې بنیاده ده او افتراء ده په هیڅ آیت او حدیث کښې د دې ذکر نشته بلکه د دې خلاف ثابت دې:

عن ابی هریرة رضی اللہ عنہ قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ومن صلّی علیّ عند قبری سمعته ومن صلّی علیّ نائیًا (ای بعیدًا) ابلغته۔ (مشکٰوة المصابیح باب الصلٰوة علی النبی صلی الله علیه وسلم ص: ۸۷)

د حضرت ابن مسعود رضی اللہ عنہ نه روایت دې:

ان للّٰه ملائکة سیاحین فی الارض یبلغون منی امتی السلام۔ (مشکٰوة ص: ۸۷)

او که مذکوره عقیده نه وی نو هم د موهم شرک کیدو د وجې نه داسې الفاظ ممنوع دی لهذا د دې نه ځان ساتل ضروری دی بیا په داسې ماحول کښې چه په دوی کښې په څه اندازه تساهل څخه عقیده فاسده ته لار ملاویږی د اجتناب اهمیت نور هم زیات شی هم د دې توهم شرک نه د اجتناب د وجې نه رسول الله ﷺ آقا ته د ﴿ربی﴾ او غلام ته د ﴿عبدی﴾ په الفاظو څخه د بللو نه منع فرمائیلې ده پس ارشاد دې:

لا یقل احدکم ربّی و لیقل سیدی ومولای و لایقل احدکم عبدی و اَمَتی ولیقل فتای و فتاتی غلامی۔ (صحیح مسلم)

کتاب الالفاظ من الادب وغیرها باب حکم اطلاق لفظة العبد والامة والمولٰی والسید۔ (ج۲ ص۲۳۸)

د ممانعت وجه ښکاره هم دا ده چه دا الفاظ موهم د شرک دی لهذا په درود او سلام کښې هم د الفاظ خطاب عمومی استعمال اگر چه د څه غلطې عقیدې د وجې نه نۀ وی نو هم موجب شرک و افتراء کیدو د وجې نه ممنوع دی خو د گنبد خضراء د مکین په دربار کښې د حاضرئ په وخت خطاب څخه سلام لوستل د سنت نه ثابت او مستحب دی ځکه چه هلته براه راست د رسول الله ﷺ سلام اوریدل او ځواب ورکول د روایات حدیث نه ثابت دی د ابوهریره رضی اللہ عنہ نه مرفوعا روایت دې

مامن احد یسلّم علیّ الّا ردّ الله علیّ روحی حتّٰی اردّ علیه السلام۔ (مشکٰوة ص ۸۶)

**د اخفاء تشهد مسئله:** د دې باب په روایت (۴۲۱) کښې هم د ابن مسعود رضی اللہ عنہ نه منقول دی کوم چه ابوداؤد په کتاب الصلوة باب اخفاء التشهد ... ترمذی ابواب الصلوة باب ما جاء انه یخفی التشهد کښې تخریج کړې دې.

# بَابُ الْإِشَارَةِ بِالسَّبَابَةِ

(۴۶۲) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الزُّبَيْرِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا قَعَدَ يَدْعُوْ وَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنٰى عَلٰى فَخِذِهِ الْيُمْنٰى وَيَدَهُ الْيُسْرٰى عَلٰى فَخِذِهِ الْيُسْرٰى وَاَشَارَ بِاِصْبَعِهِ السَّبَابَةِ وَوَضَعَ اِبْهَامَهٗ عَلٰى اِصْبَعِهِ الْوُسْطٰى وَيُلْقِمُ كَفَّهُ الْيُسْرٰى رُكْبَتَــهٗ ـ رَوَاهُ مُسْلِمٌ ـ

**باب د شهادت په ګوته ښخه اشاره کول**: سيدنا عبدالله بن زبير ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ چه به کيناستلو او دعاء به ئې لوستله نو ښي لاس به ئې په ښئ خپه او ګس لاس به ئې په ګسه خ باندې کيخودلو او د شهادت په ګوته باندې به ئې اشاره اوفرمائيله او خپله غټه ګوته مبارک ئې په (مينځنۍ) ګوته کيخودله او د هغوی ګس لاس به د هغوی کونډۍ د لقمې (په شان) جوړه کړ وه. دا حديث مسلم نقل کړې دې.

(۴۶۳) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا قَعَدَ فِي التَّشَهُّدِ وَضَعَ يَدَهُ الْيُسْرٰى عَلٰى رُكْبَتِهِ الْيُسْرٰى وَوَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنٰى عَلٰى رُكْبَتِهِ الْيُمْنٰى وَعَقَدَ ثَلَاثًا وَّخَمْسِيْنَ وَاَشَارَ بِالسَّبَابَةِ ـ رَوَاهُ مُسْلِمٌ ـ

۴۶۳ : د سيدنا عبدالله بن عمر ﷺ نه روايت دې چه رسول الله ﷺ به کله په تشهد کښې کيناستلو نو خپل ګس لاس مبارک به ئې په خپله ګسه کونډۍ او خپل ښي لاس مبارک به ئې په ښئ کونډۍ باندې کيخودلو او د خپلو ګوتو مبارکو نه به ئې د درې پنځوس عدد غوټه جوړه کړ او د شهادت په ګوته باندې به ئې اشاره فرمائيله.دا حديث مسلم نقل کړې دې.

(۴۶۴) وَعَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ حَلَّقَ الْاِبْهَامَ وَالْوُسْطٰى وَرَفَعَ الَّتِيْ تَلِيْهِمَا يَدْعُوْبِهَا فِي التَّشَهُّدِ ـ رَوَاهُ الْخَمْسَةُ اِلَّا التِّرْمِذِيَّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ ـ

۴۶۴: سيدنا وائل بن حجر ﷺ فرمائی : ما رسول الله ﷺ اوليدو چه هغوی د غټې ا مينځنۍ ګوتې حلقه جوړه کړه او هغې ته نزدې (د شهادت ګوته) ئې اوچته کړه، اشاره ئې کوله ب هغې ښخه په تشهد کښې.

دا حديث د ترمذی نه علاوه اصحاب خمسه نقل کړې دې او د دې سند صحيح دې.

(۴۶۵) وَعَنْ مَالِكِ بْنِ نُمَيْرٍ الْخُزَاعِيِّ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاضِعًا يَدَهُ الْيُمْنٰى عَلٰى فَخِذِهِ الْيُمْنٰى فِي الصَّلٰوةِ وَيُشِيْرُ بِاِصْبَعِهٖ ـ رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ وَاَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ ـ

۴۶۵: مالک بن نمير الخزاعی د خپل پلار نه بيان اوکړو چه ما رسول الله ﷺ په مانځه کښې ښ لاس مبارک په ښی پتون باندې کيخودنکې په خپلې ګوتې ښخه اشاره کونکې ليدلې دې.

دا حدیث ابن ماجه، ابو داؤد او نسائی نقل کړې دې او د دې سند صحیح دې.
نیموی وائی : د شهادت په ګوتې څخه اشاره کول، د اهل علم یو جماعت دا اختیار کړې ده او هم دا د امام ابوحنیفه رحمه الله قول دې لکه چه محمد بن الحسن الشیبانی رحمه الله په خپل موطاء کښې نقل کړې دی.
**تشریح**› (۴۲۲ نه ۴۲۵ پورې) د احناف حضراتو په "ظاهر الروایة" او معتبر متون کښې چونکه د اشارة بالسبابة ذکر نشته نه په اثبات کښې او نه په نفی کښ، بیا امام ربانی حضرت مجدد الف ثانی هم په خپلو مکتوباتو کښې د اشارة بالسبابة د سنیت نه انکار کړې دې او په دې باندې ئې په تفصیل څخه بحث هم کړې دې هغوی په خپل بحث کښې دا هم وئیلې دی چه د اشارة بالسبابة احادیث مضطرب المتن دی ځکه چه د اشارې د هیئتونو په بیان کښې سخت اختلاف موندلې شی هغوی فرمائی چه د اضطراب په وجه باندې که احناف د قلتین احادیث رد کولې شی نو د اشارة بالسبابة احادیث هم په دې بناء باندې رد کیدلې شی.
**احادیث اشارة بالسبابة**: د مسئلې د وضاحت لپاره په دې سلسله کښې راغلی احادیث هم لاندې لیکلې شی.

۱) فجاء فی روایة ابن عمر عند ابی داؤد (ج ۱ ص ۱۴۲ باب الاشارة فی التشهد) قبض اصابعه کلها و اشار باصبعه التی تلی الابهام.
۲) وفی روایة وائل بن حجر عند النسائی ج ۱ ص ۱۸۷ باب قبض الثنتین مع اصابع الید الیمنی وعقد الوسطی والابهام منها) ثم قبض اثنتین من اصابعه وحلق حلقة ثم رفع اصبعه فرأیته یحرکها یدعوبها.
۳) وفی روایة ابن الزبیر عند ابی داؤد (ج ۱ ص ۱۴۲) باب الاشارة فی التشهد) کان یشیر باصبعه اذا دعا ولا یحرکها.
۴) وفی روایة غیر عند ابی داؤد (ج ۱ ص ۱۴۲) رافعًا اصبعه السبابه قد حناها شیئًا (ای امالها قلیلًا)
۵) وفی روایة عبید الله بن الزبیر رضی الله عنه عند مسلم (ج ۱ ص ۲۰۶) باب صفة الجلوس وکیفیة وضع الیدین علی الفخذین) واشار باصبعه السبابه ووضع ابهامه علی اصبعه الوسطی.
۶) وفی روایة ابی هریرة رضی الله عنه عند النسائی (ج ۱ ص ۱۸۷) باب النهی عن الاشارة باصبعین وباصبع یشیر) ان رجلًا کان یدعوه (ای یتشهد) باصبعیه فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم احد احد وهکذا.

**اشارة بالسبابة مسنون ده**: خو حقیقت دا دې چه اشارة بالسبابة مسنون ده د دې په سنیت باندې روایات شاهد دی د جمهور سلفو او خلفو د دې په سنیت باندې اتفاق دې د اشارة روایات حد شهرت ته رسیدلې دی د دې باب څلورو واړه روایتونه د دې په جواز او سنتیت باندې نص قطعی

دی په اول روایت (۴۲۲) کښې د عبد الله بن الزبیر رضی الله عنهما نه منقول دی کوم چه امام مسلم رحمه الله په کتاب المساجد ج ۱ ص ۲۱٦ **باب صفة الجلوس فی الصلوة** کښې، دویم روایت (۴۲۳) کوم چه د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه منقول دې هم په دې باب او هم دې صفحه باندې نقل کړې دې. روایت (۴۲۴) د وائل بن حجر رضی الله عنه نه مروی دې کوم چه ابوداؤد ج ۱ ص ۱۳۸، نسائی ج ۱ ص ۱۸۶، ابن ماجه ص ۶۶، مسند احمد ج ٤ ص ۳۱۸ او ترمذی کښې نقل کړې شوې دې.

روایت (۴۲۵) د مالک بن نمیر الخزاعی رضی الله عنه نه مروی دې کوم چه ابوداؤد ج ۱ ص ۲؛ کښې تخریج کړې شوې دې او د دې نه مخکښې هم ډیر روایتونه لیکلې شوې دی.

**خلاصه کیدانی او مجدد الف ثانی ته ځواب:** هر چه د احناف حضراتو په ظاهر الروایة او د متون کتابونو کښې د اشاره بالسبابة د عدم ذکر تعلق دې یاد ساتئ چه د دې د وجې نه په احادیث صحیحه باندې عمل ترک کول بالکل صحیح نه شی کیدې. خلاصه کیدانی دې ته بدعت وئیلې دې او بعض متشددین خو تر دې پورې وائی چه : **مارا قول ابوحنیفه باید قول رسول کافی نیست العیاذ بالله**، آخر دا تشدد د کوم ځائې انصاف دې د قوم بدقسمتی ده چه په بعض علاقو کښې دې باندې جهګړې اوشوې او د قائلین او مرتکبینو ګوتې پرې کړې شوې حال دا چه د احنافو متون کښې زیات نه زیات عدم ذکر خو دې او عدم ذکر عدم الشئ لره مستلزم نه وی خپله امام محمد رحمه الله په موطاء **باب العبث بالحصی فی الصلوة وما یکره من تسویته** ص ۱۰۸، ۱۰۹ کښې د اشارې بالسبابة حدیث ذکر کړې دې او فرمائی : **قال محمد : وبصنیع رسول الله صلی الله علیه و سلم یأخذ و قول أبي حنیفة رحمه الله تعالیٰ** ... امام نیموی رحمه الله هم په ﴿ **قال النیموی** ﴾ ښخه دغه طرف ته اشاره اوفرمائیله. دومره واضحه تصریح نه پس هم څه شک او شبهې ته لار ورکول بالکل انصاف نه دی؛ هرچه د خلاصه کیدانی خبره ده نو حضرت العلامه مولانا محمد یوسف بنوری په معارف السنن ۳ ص ۱۰۰ کښې فرمائی چه خلاصه کیدانی خو د فقه حنفی هیڅ معتبر کتاب نه دې بلکه د دې مصنف هم غیر معروف دې.

''والخلاصة الکیدانیة رسالة صغیرة فی مسائل صفة الصلوٰة بیّن ما فیها من انواع المشروعات والمحظورات الثمانیة ای الفرض والواجب والسنة والمستحب والحرام والمکروه تحریمًا وتنزیهًا والمباح وفیها مسائل ضعیفة ومصنفها لم یعرف حاله بل لم یعرف جزمًا اسمه''۔

علامه شامی په شرح عقود رسم المفتی کښې لیکلې دی چه صرف دې کتاب ته کتلو سره فتوی ورکول هم جائز نه دی. باقی پاتې شوه د امام ربانی مجدد الف ثانی فتوی نو د هغې څو ا

دا دي بلکه قرين انصاف او حق دا ده چه د هغوی د عظمت علم او شان رفيع باوجود په دې مسئله کښې د هغوی ملګرتيا نه شی کيدلې، لان الحق ان الحق ليس معه فی هذه المسئلة.

**د اضطراب فی المتن حقيقت**: حضرت شاه صاحب رحمه الله د امام ربانی په ځواب کښې فرمائی چه د هيئت اشاره په باره کښې چه په رواياتو کښې کوم اختلاف راغلې دې او هغې ته اضطراب فی المتن منلو څخه چه د رد کولو وئيلې شوې دی نو حقيقت دا دې چه دې اختلاف ته هرګز اضطراب نه شی وئيلې کيدې ځکه چه اضطراب هغه وخت متحقق وی چه کله حديث يو وی او د هغې په الفاظو کښې څه ناقابل تطبيق اختلاف موندلې شی خو دلته دا صورت نشته ځکه چه دا اختلاف د يو حديث د الفاظو اختلاف نه دې بلکه د ډيرو صحابه کرامو د رواياتو اختلاف دې او د دې اختلاف په وجه باندې د ټولو رواياتو دا قدر مشترک نه شی رد کيدلې چه اشارة فی التشهد مسنون دې بيا د دې قدر مشترک ثبوت هم د شهرت څخه دې په دې باندې زياتې دا چه په دې سنيت باندې اجماع هم ده.

**په هيئت کښې اختلاف دليل د اضطراب نه دې**: باقی پاتې شو د اشارې په هيئتونو کښې اختلاف، نو هغه هم په حقيت کښې د واقعاتو او زمانې اختلاف دې چه رسول الله ﷺ کله په يو هيئت څخه اشاره فرمائيلې ده کله په بل هيئت څخه، دې اختلاف ته د محدثينو په اصطلاح کښې اضطراب نه شی وئيلې کيدې بيا د اشارې چه کوم هيئتونه په احاديثو کښې ثابت دی په هغې کښې هم په هر يو باندې عمل کول جائز دی خو د جمهور احنافو په نزد ترجيح دې ته حاصله ده چه ابهام او وسطی نه يو حلقه جوړولو څخه په سبابة باندې اشاره اوکړې شی لکه چه د دې باب د روايت عبدالله بن الزبير او روايت وائل بن حجر رضي الله عنهما نه هم دا ثابته ده:

فيرفعها عند النفی (ای لا اِلٰه) ويضعها عند الاثبات ( ای الا الله) قاله شمس الائمه الحلوانی رحمه الله و حکاه ابن الهمام رحمه الله فی الفتح (ج ۱ ص ۲۲۱) وزاد ليکون الرفع للنفی والوضع للاثبات۔ (کذا فی معارف السنن ج ۳ ص ۱۰۵)

**د درې پنځوس د عقد صورت**: ﴿وعقد ثلاثاً و خمسين﴾ د روايت په دې الفاظو کښې د درې پنځوس د عقد صورت مروی دې هغه دا چه خنصر، بنصر او وسطې دې بند کړې شی او ابهام دې د وسطې په جوړ باندې کيخودلې شی بيا دې د شهادت په ګوته باندې اشاره اوکړې شې د دې تفصيل په شامی ج ۱ ص ۵۰۸ او نيل الاوطار ج ۲ ص ۱۷۷ کښې موجود دې.

## بَابُ فِی الصَّلٰوۃِ عَلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ

(۴۶۶) عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ اَبِیْ لَیْلٰی قَالَ لَقِیَنِیْ کَعْبُ بْنُ عُجْرَۃَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فَقَالَ اَلَا اُهْدِیْ لَكَ هَدِیَّۃً اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ عَلَیْنَا فَقُلْنَا یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَدْ عَلِمْنَا کَیْفَ نُسَلِّمُ عَلَیْكَ فَکَیْفَ نُصَلِّیْ عَلَیْكَ؟ قَالَ قُوْلُوْا اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ کَمَا صَلَّیْتَ عَلٰی اِبْرَاهِیْمَ وَعَلٰی اٰلِ اِبْرَاهِیْمَ اِنَّكَ حَمِیْدٌ مَّجِیْدٌ. اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ کَمَا بَارَکْتَ عَلٰی اِبْرَاهِیْمَ وَعَلٰی اٰلِ اِبْرَاهِیْمَ اِنَّكَ حَمِیْدٌ مَّجِیْدٌ. رَوَاهُ الشَّیْخَانِ.

**باب په رسول الله ﷺ باندې درود :** ۴۶۶: عبدالرحمٰن بن ابی لیلیٰ رحمه الله فرمائي: سیدنا کعب بن عجره رضي الله عنه ما ځخه ملاو شو، نو هغوی اوفرمائیل آیا زه تاته یو خاص قسم هدیه درنکړم، رسول الله ﷺ مونږ ته راغلو، نو مونږ عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ! بیشکه مونږ ته معلومه شوې ده چې په تاسو باندې سلام څنګه اولیږو (په تشهد کښې) خو مونږ په تاسو باندې درود څنګه اولیږو؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل داسې وایئ.

**﴿اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ، وَعَلٰی آلِ مُحَمَّدٍ کَمَا صَلَّیْتَ عَلٰی آلِ اِبْرَاهِیْمَ اِنَّكَ حَمِیْدٌ مَجِیْدٌ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی آلِ مُحَمَّدٍ کَمَا بَارَکْتَ عَلٰی آلِ اِبْرَاهِیْمَ اِنَّكَ حَمِیْدٌ مَجِیْدٌ﴾**

(اې الله! محمد (ﷺ) او آل محمد (ﷺ) باندې رحمت نازل کړه، لکه چه تا چه په ابراهیم (علیه السلام) باندې رحمت نازل کړې وو، بیشکه ته ډیر ستائیلې شوې او لوئې ئې، اې الله محمد (ﷺ) او آل محمد (ﷺ) ته برکت ورکړه، لکه تا چه آل ابراهیم علیه السلام ته برکت ورکړې وو بیشکه ته ډیر ستائیلې شوې او لوئې ئې. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۴۶۷) وَعَنْهُ قَالَ لَقِیَنِیْ کَعْبُ بْنُ عُجْرَۃَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فَقَالَ اَلَا اُهْدِیْ لَكَ هَدِیَّۃً سَمِعْتُهَا مِنَ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ بَلٰی فَاَهْدِهَا لِیْ فَقَالَ سَاَلْنَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْنَا یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ کَیْفَ الصَّلٰوۃُ عَلَیْکُمْ اَهْلَ الْبَیْتِ فَاِنَّ اللّٰهَ قَدْ عَلَّمَنَا کَیْفَ نُسَلِّمُ عَلَیْكَ؟ قَالَ قُوْلُوْا: "اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ کَمَا صَلَّیْتَ عَلٰی اِبْرَاهِیْمَ وَعَلٰی اٰلِ اِبْرَاهِیْمَ اِنَّكَ حَمِیْدٌ مَّجِیْدٌ. اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ کَمَا بَارَکْتَ عَلٰی اِبْرَاهِیْمَ وَعَلٰی اٰلِ اِبْرَاهِیْمَ اِنَّكَ حَمِیْدٌ مَّجِیْدٌ". رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ.

۴۶۷: عبدالرحمٰن بن ابی لیلیٰ رحمه الله فرمائي: ما ځخه سیدنا کعب بن عجره رضي الله عنه ملاو شو نو وې فرمائیل آیا زه تاسو ته هدیه درنکړم کومه چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلې ده، نو ما اووې او: تاسو ماته هغه هدیه راکړئ، نو هغوی اووې مونږ د رسول الله ﷺ نه پوښتنه اوکړه، مونږ عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ! ای اهل [illegible] ده؟ بیشکه الله پاک

مونږ ته اوښودله چه مونږ په تاسو باندې سلام څنګه اولېږو، نو هغوی اوفرمائیل، داسې وایئ.

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰی اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰی اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ۔ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰی اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰی اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ۔

(اې الله! محمد (ﷺ) او آل محمد (ﷺ) باندې رحمت نازل کړه، لکه چه تا چه په ابراهیم (علیه السلام) په آل ابراهیم (علیه السلام) باندې رحمت نازل کړې وو، بیشکه ته ډیر ستائیلې شوې او لوئې ئې، اې الله! محمد (ﷺ) او آل محمد (ﷺ) ته برکت ورکړه، لکه تا چه ابراهیم (علیه السلام) او آل ابراهیم علیه السلام ته برکت ورکړې وو، بیشکه ته ډیر ستائیلې شوې او لوئې ئې. دا حدیث بخاری نقل کړې دې.

(۴۶۸) وَعَنْ نُعَيْمِ الْمُجْمِرِ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّـهُمْ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ كَيْفَ نُصَلِّيْ عَلَيْكَ قَالَ قُوْلُوْا اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ وَّبَارِكْ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ وَبَارَكْتَ عَلٰی اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰی اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ۔ رَوَاهُ اَبُو الْعَبَّاسِ السِّرَاجُ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۴۶۸ : ابونعیم المجمر رحمه الله دسیدنا ابوهریره رضی الله عنه نه بیان کړو چه صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض اوکړو، یا رسول الله ﷺ! مونږ په تاسو باندې درود څنګه اولېږو، نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ وَّبَارِكْ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ وَبَارَكْتَ عَلٰی اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰی اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ۔

دا حدیث ابو العبلس السراج نقل کړې دې او د دې سند صحیح دې.

**تشریح> په قرآن کریم کښې د درود او سلام حکم:** (۴۶۲ نه ۴۶۸ پورې) الله پاک په رسول الله ﷺ باندې د درود او سلام لیږلو حکم د سورة احزاب په دې آیت کریمه کښې ورکړې دې او ډیر په شاندار تمهید څخه ئې ورکړې دې:

اِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا۔ (احزاب:۶۷)

(د الله پاک خاص لطف او کرم دې، او د هغه ملائک درود لیږی په نبی علیه السلام باندې، اې د ایمان والو تاسو هم درود او سلام لیږئ په هغوی باندې). (احزاب رکوع ۷)

په دې آیت کښې د مونځ یا غیر مونځ هیڅ تذکره نشته، بالکل هم داسې لکه څنګه په قران کریم کښې ځائې په ځائې د الله پاک د حمد او تسبیح حکم دې او د مونځ یا غیر مونځ هلته تذکره نشته، خو څنګه چه د نور نبوت په رڼړا کښې هم د هغه آیتونه نه رسول الله ﷺ دا اوګڼړله چه د دې حمد او تسبیح خاص محل مونځ دې پس دا حدیث په خپله موقع باندې تیر شوې دې چه کله ﴿فسبح باسم ربک العظیم﴾ او ﴿سبح اسم ربک الاعلی﴾ آیات قرانی نازل شو نو رسول الله ﷺ

اوفرمائيل چه د دې حکم په تعميل کښې دې داسې اوکړې شی چه په رکوع دې ﴿ سبحان ربي العظيم ﴾او سجده کښې دې ﴿ سبحان ربي الاعلى ﴾ اوئيلې شی.

د بعض اکابرينو خيال دې چه هم دغه شان رسول الله ﷺ د سورة احزاب د دې آيت ﴿ صلوا عليه وسلموا تسليماً ﴾ د نزول په وخت هم صحابه کرامو ﷺ ته غالبا وئيلې وو چه د دې حکم د تعميل خاص موقع او محل د مونځ آخرى جز قعده اخيره ده. په دې باره کښې څه صريح روايت خو د نظره نه دې تير شوې، خو په کوم بنياد باندې چه دا خيال قائم کړې شوې دې هغه د دې باب اول روايت ۴۲۲ دې کوم چه د کعب بن عجره نه مروى دې کوم چه بخارى ج ۲ ص ۹٤۰ او مسلم ج۱ص ۱۷۵ کښې نقل کړې شوې دې.

دويم روايت (۴۲۷) هم د دې مويد دې کوم چه بخارى ج۱ ص ٤۷۷ کښې تخريج کړې شوې دې.

**د پوښتنې مقصد:** څنگه چه د سورة احزاب په پورته ذکر کړې شوى آيت کريمه کښې د مونځ او غير مونځ څه ذکر نشته هم دغه شان د کعب بن عجره ﷺ په دې روايت کښې د دې څه ذکر نشته، خو د يو بل صحابى ابومسعود انصارى بدرى ﷺ نه هم دې مضمون ته نزدې نزدې يو حديث مروى دې. د هغه په بعض رواياتو کښې د پوښتنې دا الفاظ نقل کړې شوې دی.

كَيْفَ نُصَلِّيْ عَلَيْكَ إِذَا نَحْنُ صَلَّيْنَا عَلَيْكَ فِيْ صَلٰوتِنَا؟

(حضرت! چه کله مونږ په خپل مونځ کښې په تاسو باندې درود وايو، نو څنګه ئې وايو؟)

د دې روايت نه صراحتًا معلومه شوه چه د صحابه کرامو ﷺ دا پوښتنه په مانځه کښې د درود شريف د لوستلو په باره کښې وو او گويا دا خبره هغوى ته معلومه شوې وه چه د درود خاص محل مونځ دې.

د دې نه علاوه حاکم په مستدرک کښې په قوى سند څخه د عبدالله بن مسعود ﷺ دا ارشاد نقل کړې دې. يَتَشَهَّدُ الرَّجُلُ ثُمَّ يُصَلِّيْ عَلَى النَّبِيِّ ثُمَّ يَدْعُوْا لِنَفْسِهٖ۔

(سړې دې په مانځهٔ (يعنى قعده اخيره) کښې تشهد اولولى د هغې نه پس دې په رسول الله ﷺ باندې درود اوائى، د هغې نه پس دې د خپل ځان لپاره دعا اوکړى.

(فتح البارى کتاب الدعوات بالصلوة على النبى ﷺ پ ۲۶ ص ۵۵)

ظاهره ده چه عبدالله بن مسعود ﷺ به دا خبره د رسول الله ﷺ نه د اوريدلو نه پس کړې وى، هغوى د خپل طرف نه څنګه وئيلې شی چه د تشهد نه پس انسان له درود شريف وئيل پکار دی.

بهرحال دا ټول څيزونه مخې ته ږدلو څخه دا خبره هم صفا کيږى چه په سورة احزاب کښې

چه په رسول الله ﷺ باندې د درود وئیلو کوم حکم کړې شوې دې په دې باره کښې دا خبره خو صحابه کرامو ﷺ ته معلومه شوې وه چه د دې د تعمیل خاص محل مونځ او د هغې هم جزو اخیر قعده اخیره ده. د دې نه پس هغوی د رسول الله ﷺ نه پوښتنه کړې وه چه مونږ په مانځه کښې دا درود څنګه او په کومو الفاظو باندې اولیږو، پس هم د هغې په ځواب کښې رسول الله ﷺ د دې درود ابراهیمی تلقین اوفرمائیلو کوم چه مونږ په خپلو مونځونو کښې لولو.

**په مانځه کښې د درود شریف موقع او د هغې حکمت:** لکه چه معلومه ده چه درود شریف د مانځه بالکل په آخره کښې یعنی آخری قعده کښې د تشهد نه پس لوستلې شی. ظاهره ده چه هم دا د دې لپاره بهترین موقع کیدې شی، د الله پاک بنده ته د رسول الله ﷺ د هدایت او تعلیم په وجه باندې ایمان نصیب شوې دې، هغه الله پاک اوپیژندلو او د مانځه په شکل کښې د هغه د دربار عالی حاضری او حمد او تسبیح او د ذکر او مناجات دولت ګویا یو قسم معراج هغه ته نصیب شو او د آخری قعدې په تشهد باندې دا نعمت ګویا مکمل شو. اوس هغه ته حکم دې چه د الله پاک د دربار نه رخصتیدلو نه مخکښې او خپل ځان له د څه غوښتلو نه مخکښې اول هغه د رسول الله ﷺ هغه احسان محسوس کولو څخه چه هم دهغوی د هدایت د وجې نه زه دې دربار ته راورسیدلم او دا هر څه راته رانصیب شو. دالله پاک نه ستا لپاره او د هغوی د ژوند شریکان ازواج مطهرات او د هغوی پاک اولاد لپاره بهترینه دعا اوکړی. د دې نه سوا د دې نه بهتر څۀ هغه څخه شته دې نه چه د هغې په پیش کولو باندې د خپلې احسان مندئ د جذبې اظهار او د احسان مندئ حق ادا کړې شی. هم د دې لپاره د درود شریف دا بهترین کلمې رسول الله ﷺ صحابه کرامو ﷺ ته تلقین اوفرمائیلې.

دلته د درود شریف دا بیان د مانځه په سلسله کښې راغلې وو په دې وجه صرف هم په دې دوه احادیثو باندې دلته اکتفاء کولې شی. د دې نه علاوه چه په دې سلسله کښې قابل ذکر کوم احادیث د درود شریف په فضائل وغیره څخه متعلق په کتب حدیث کښې روایت کړې شوې دی انشاء الله هغه به په کتاب الدعوات کښې په خپله موقع باندې لیکلې شی او د پورته لیکلې شوې درود ابراهیمی نه علاوه چه د "صلوة او سلام" کومې نورې صیغې د رسول الله ﷺ نه په قابل اعتماد سندونو څخه مروی دی هغه به هم انشاء الله اولیکلې شی.

**بیانِ مذاهب:** د مونځ په آخری قعده کښې د درود شریف د لوستلو د حکم په باره کښې د فقهاء کرامو اختلاف دې.

۱: د احنافو، امام مالک او جمهورو په نزد دا سنت موکد دې.

۲: علامه ابن عبدالبر رحمه الله نقل کړې دی چه د امامَ مالک (فی روایة)، سفیان ثوری او امام اوزاعی رحمهم الله په نزد د تشهد اخیر نه پس درود شریف مستحب دې تارک ئې خطاکار دې خو د دې

باوجود مونځ صحیح دې په یو روایت کښې د امام احمدؒ نه هم دا منقول دی روستو هغوی دې نه رجوع کړې وه.

۳: امام شافعیؒ د دې د فرضیت قائل دې (قاله فی "الامر"، کما فی الفتح ج ۱۱ ص ۱۳۹) معارن ج ٤ ص ۲۹۹) یعنی که د آخری تشهد نه پس او د سلام نه مخکښې درود شریف او نه لولی نو مونځ به دوباره کوی د عمر او ابن عمرؓ نه هم دا مروی دی او هم دا د امام شعبیؒ قول دې (قاله النووی فی شرح مسلم) په دې مسئله کښې په امام شافعیؒ باندې ډیر تنقید کړې شوې دې

وقد شذ الشافعی ولا سلف له فی هذا القول ولا سنة یتبعها وشنع علیه فیه جماعة فیهم الطبری والقشیری و خالفه من اهل مذهبه الخطابی وقال لا اعلم له قدوة کذا فی الکبیری ص: ۳۳۳ صفة الصلوٰة۔

دا کبیری د منیة المصلی معروف نوم دې چه د هغې په شرح غنیة المصلی کښې د امام شافعیؒ دلائل او د هغې ځوابونه ورکړې شوې دی.

**خارج الصلوة د درود شریف حکم:**

۱: په ټول ژوند کښې یو کرت درود وئیل په هر مسلمان باندې فرض دی بالاتفاق.

۲: چه کله د رسول اللهﷺ نوم واوری نو واجب دې.

۳: که په یو مجلس کښې بار بار د رسول اللهﷺ نوم مبارک راشی نو په دې کښې اختلاف دې.

الف: د شمس الائمة کرخیؒ په نزد چه کله خارج الصلوة یو مجلس کښې د هغوی نوم ډیر کرته راشی نو یو کرت درود وئیل واجب او باقی مستحب دې د صاحب مبسوط په نزد هم دا مختار قول دې، علامه عینیؒ فرمائی چه په دې باندې د علماء کرامو فتوی ده، په تنویر کښې دی چه هم دا ظاهر مذهب دې صاحب در مختار وائی چه مذهب خو د استحباب تکرار دې په کوم چه فتوی ده.

ب: د امام طحاویؒ په نزد هر کرت واجب دې د روایاتو نه د امام طحاویؒ د مسلک تائید کیږی صاحب بحر احادیث وعید ارغم وابعاد وبخل او جفا د وجې نه د امام طحاویؒ قول ته ترجیح ورکړې ده احادیث د وعید دا دی:

۱: وعید رغم دا دې: ﴿رغم انف رجل ذکرت عنده فلم یصل علی﴾ (ترمذی ج ۲ ص ۲۱۶) ۲: وعید الابعاد دا دې: بعد من ذکرت عنده فلم یصل علیک. ۳: وعید د شقاء دا دې: ﴿من ذکرت عنده فلم یصل علی فقد شقی (ابن السنی عن جابر مرفوعا) ۴: د بخل وعید دا دې: ﴿بخیل من ذکرت عنده فلم یصل علی﴾ (نسائی، ابن حبان، حاکم، ترمذی عن علیؓ) ۵: وعید د جفا دا دې: ﴿من الجفاء ان اذکر عنده فلم یصل علی (عبدالرزاق عن قتادة مرسلا).

البته د آسانئ، طبعی کمزورئ، او سستئ په لحاظ څخه سلف صالحینو په یو مجلس کښې صرف یو ځل د وجوب حکم فرمائیلي دي. کذا فی شرح المنیه ص۳۳۴)

**د مروجه صلوة وسلام، عقیده د حاضر ناظر او د محفل درود شرعی حکم**: په بعض علاقو کښې څه خلق د جمعې د مانځه نه پس په اجتماع او التزام او اوچت آواز څخه صلوة او سلام لولی څه د اردو د اشعارو نه علاوه په عربئ کښې ﴿ صلی الله علیک یا رسول الله، سلام علیک یا رسول الله ﴾ وغیره الفاظو څخه په عنوان د هدیه سلام په بارګاه رسالت کښې پیش کوی بعض خلق دا عقیده هم لری چه رسول اللهﷺ هر ځائې کښې حاضر او ناظر دي او زمونږ دې محفل د درود شریف کښې حاضريږی هم د دې عقيدې په وجه باندې د احترام په غرض قیام کوی هغوی دا هم وائی چه رسول اللهﷺ زمونږ سلام اوری او خپله زمونږ د سلام ځواب هم ورکوی صرف په دې باندې اکتفاء نه شی کولې بلکه هغه خلق کوم چه د هغوی دا عقیده نه لری یا هغوی څخه په محفل د صلوة او سلام کښې نه شریکيږی نو دا خلق هغوی مطعون کوی هغوی ته ګستاخ رسول وائی او په هغوی باندې د منکرین درود و سلام فتوې هم لګوی.

په قطعی نصوص او تعلیمات اسلام کښې دا طریقه، ښکاره ګمراهی او بدعت دې او په اسلام کښې د دې هیڅ ګنجائش نشته حقیقت دا دې چه دا عقیده د حاضر او ناظر، محفل درود و سلام کښې د رسول اللهﷺ راتلل، په مجلس کښې راتلو څخه سلام اوریدل او د هغې ځواب ورکول، د مانځه نه پس په اجتماع او التزام څخه په ولاړه باندې درود سلام لوستل د قرآن وسنت، د رسول اللهﷺ د ارشاداتو، د صحابه کرامو او تابعینو د تعلیماتو، د ائمهٔ متبوعینو د مجتهداتو او د سلف صالحین د فتاوٰی اود علماءِ سلف د اعمالو نه په یو ځیز کښې هم دا ثابت نه دی که دا په دین کښې څه غوره عمل وې نو اکابر علماء او مشائخ او سلف صالحین به د دې پوره پابندی کولې بلکه حقیقت دا دې چه د درود او سلام لپاره اجتماع او التزام د هغوی په نزد هم بدعت دې او ناجائز دې او هر کله چه د رسول اللهﷺ احادیث مبارکه د قطعی نصوص په صورت کښې د امت مخې ته پراتهٔ دی مثلا حذیفه رضی الله عنه فرمائی:

كل عبادة لم يتعبدها اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم فلاتعبدوها وخذ وابطريق من كان قبلكم. (کتاب الاعتصام للشاطبی ج۲ ص ۳۱۱)

دحضرت عائشې رضی الله عنها نه مرفوعا روایت دې ﴿ مَنْ عَمِلَ عَمَلاً لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ ﴾ (صحيح مسلم كتاب الاقضية باب نقض الاحكام الباطلة ج ۲ ص ۷۷) هم د هغې نه په یو بل روایت کښې منقول دی ﴿مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هَذَا مَا لَيْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ﴾ د دومره صریح ارشادات نبوی په رڼرا کښې د دې افعال مذکوره په بدعت کیدو. کښې تامل کول هم موجب اساءت او باعث د ګناه دي.

**په درود کښې قیام ضروری ګڼړل بدعت دې:** درود شریف هم د ذکر الله او تلاوت قرآن کریم په شان یو عبادت دې کوم چه په ناسته، ولاړه، ملاسته او ګرځیدو راګرځیدو الغرض هر څنګه جائز دې په درود او سلام کښې قیام ضروری ګڼړل او په قیام نه کونکو باندې نکیر کول بدعت او شرعا جرم عظیم دې وجه ئې ښکاره ده چه هر کله درود په ولاړه باندې لوستل د رسول الله ﷺ د صحابه کراموؓ او د ائمة متبوعین او سلف صالحین نه ثابت نه دی او یو سړې په ولاړه باندې لوستل ضروری او د هغې خلاف کول بې ادبی ګڼړی نو دا د یو غیر واجب د خپل طرف نه د واجب کولو جرأت دې بیا چه کله مونږ ګورو لکه چه د دې باب د احادیثو هم دا مدلول دې چه رسول الله ﷺ په مانځه کښې په ناسته باندې د درود لوستلو تعلیم ورکړې دې خو د دې باوجود یو سړې په ناسته باندې لوستلو ته د ادب خلاف وائی او قیام ضروری ګڼړی نو د دې واضح مطلب خو دا دې چه هغه د رسول الله ﷺ د تعلیماتو عمدا مخالفت کوی. د دې خو داسې مثال شو لکه یو سړې اوائی چه قرآن کریم په ولاړه باندې لوستل پکار دی که څوک د هغه خبره نه منی نو هغه بې ادبه دې او ګستاخ دې نو د داسې سړی په باره کښې چه د علم او پوهې خاوندان څه فیصله کوی هم هغه فیصله به د درود سلام په باره کښې د قیام د ضروری ګڼړلو والا په باره کښې هم ورکول پکار وی.

بیا یو محل د درود او سلام ته د رسول الله ﷺ په خپله تشریف راوړل او د هغوی لپاره په احترام کښې اودریدل د دې لپاره آخر څه دینی او شرعی بنیاد دې.

بیا قیام هم محمود نه دې که د رسول الله ﷺ لپاره قیام وی نو بیا د رسول الله ﷺ د خوشحالولو لپاره هم د هغوی په احکاماتو او هدایاتو باند عمل کول پکار دی، رسول الله ﷺ خو به په خپل ژوند کښې هم د ځان لپاره د چا قیام بد ګڼړلو پس سیدنا انس ؓ فرمائی :

لم یکن شخص احب الیهم من رسول الله صلی الله علیه وسلم وکانوا اذا راوه لم یقوموا لما یعلمون من کراهیة لذلك. (سنن ترمذی ابواب الاستیذان والآداب باب ما جاء فی کراهیة قیام الرجل للرجل ج ۲ ص ۱۱۸)

مطلب دا دې چه د صحابه کراموؓ په نزد د رسول الله ﷺ د ذات مبارک نه زیات بل هیڅوک محبوب وو خو د هغې باوجود به ئې چه رسول الله ﷺ اولیدو نو نۀ به اودریدل ځکه چه هغوی ته معلومه وه چه رسول الله ﷺ دا عمل بد ګڼړی.

**په مساجدو کښې جهرا درود ویل هم بدعت دې:** هم د دې مکتب فکر خلق کوم چه په دې قسم اجتماع او التزام څخه د محفل درود انعقاد کوی نو لازما دا درود جهرا لوستلې شی هم دغه شان جهرا لوستل هم صحیح نه دی بلکه شرعا بدعت دې وجه ښکاره ده چه دا خلق په مسجدونو کښې کومې چه د ټولو مسلمانانو مشترک عبادت خانې دی په داسې قسم جهری اعمالو باندې د هغوی په انفرادی عبادات مونځ تسبیح، درود، تلاوت، ذکر و اذکار او فکر و مراقبه کښې خلل انداز

کیږي په دې څخه یو خو مسلمان ته ضرر ورکول لازمیږي دویم د عام اخلاقي اقدارو هم توهین دې په اجتماع و التزام او قیام څخه خو درود دې ناجائز، که بالفرض یو سړې په مسجد کښې د یو داسې جائز او مستحسن عمل ارتکاب کوي په داسې طریقه چه په هغې څخه د نورو عبادات متاثر کیږي نو هغه هم د فقهاء کرامو په نزد جائز نه دې مثلا په مسجد کښې په اوچت آواز باندې د قرآن کریم تلاوت کول، تسبیح ذکر جهري وغیره په کوم څخه چه د نورو خلقو په مانځه او تسبیح او تلاوت کښې خلال راځي ناجائز دې. (شامي، خلاصة الفتاوی ملخصا)

صحابي رسول سیدنا عبد الله بن مسعود رضی الله عنه داسې خلقو ته بدعتیان وئیلې دی لکه چه د هغوی په باره کښې روایت دې:

انه اخرج جماعة من المسجد یهللون ویصلّون علی النبي صلی الله علیه وسلم جهرًا وقال لهم ما اراکم الا مبتدعین .(المنهاج الواضح (۱۲۷) بحواله شامي ج ۲ ص ۳۵۰ وفتاوي بزازیه ج ۳ ص ۳۷۵ علی هامش الهندیه)

**په درود او سلام څخه د شرک جرړې پرې کیږي:** د دې نه علاوه یو خاص حکمت د درود او سلام دا هم دې چه په دې څخه د شرک جرړې پرې شي. د الله پاک نه پس د ټولو نه زیات مقدس او قابل احترام هستئ د انبیاء علیهم السلام دی، چه هر کله د هغوی لپاره هم دا حکم دې چه په هغوی باندې درود او سلام اولیږلې شي (یعنی د هغوی لپاره د الله پاک نه د رحمت او سلامتئ دعا اوکړې شي) نو معلومه شوه چه هغوی هم د سلامتئ او رحمت لپاره د الله پاک محتاج دی. او د هغوی حق او مقام عالي بس هم دا دې چه د هغوی لپاره د رحمت او سلامتئ دعاګانې اوکړې شي. رحمت او سلامتي خپله د هغوی په لاس کښې نشته، او هر کله چه د هغوی په لاس کښې نشته نو بیا ښکاره ده چه د یو مخلوق په لاس کښې هم نشته ځکه چه په ټول مخلوق کښې هم د هغوی مقام د ټولو نه اوچت او برتر دې. او د شرک جرړه او بنیاد هم دا دې چه خیر او رحمت د الله پاک نه سوا د بل چا په قبضه کښې اوګنړلې شي.

بهر حال د درود او سلام دې حکم مونږ د انبیاء کرامو علیهم السلام او د رسولانو دعاګو جوړ کړو، او کوم بنده چه د پیغمبرانو دعاګو وی هغه د یو مخلوق عبادت کونکې څنګه کیدې شي.

**هغه درود په کوم چه مانځۀ کښې ډیر عمل کولې شي:** د باب آخري روایت (۴۲۸) نعیم المجمر د ابوهریره رضی الله عنه نه نقل کړې دې کوم چه امام نسائي رحمه الله په عمل الیوم واللیلة کښې تخریج کړې دې په دې کښې چه د درود شریف کوم الفاظ تلقین کړې شوي دی هغه د باب د آخري حدیث نه لږ شان مختلف دی خو په معنی او مطلب کښې څه خاص فرق نشته علماؤ او فقهاء کرامو تصریح کړې ده چه د دې نه هر درود په مانځه کښې لوستلې کیدې شي خو معمول زیات تر رومبې دې.

## بَابُ مَا جَآءَ فِي التَّسْلِيمِ

(۴۶۹) عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ كُنْتُ اَرٰى رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِيْنِهٖ وَعَنْ يَسَارِهٖ حَتّٰى اَرٰى بَيَاضَ خَدِّهٖ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

**باب کوم روایات چه د سلام د اړولو په باره کښې دی:** ۴۲۹: د عامر بن سعید نه روایت دې چه زما پلار اوفرمائیل: ما رسول اللهﷺ ښی او ګس طرف ته په سلام اړولو باندې لیدلې وو، تردې چه ما د هغوی د رخسار انور سپین والې اولیدو. دا حدیث مسلم روایت کړې دې.

(۴۷۰) وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِيْنِهٖ وَعَنْ يَسَارِهٖ ''اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ، اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ'' حَتّٰى اَرٰى بَيَاضَ خَدِّهٖ۔ رَوَاهُ الْخَمْسَةُ وَصَحَّحَهُ التِّرْمِذِيُّ۔

۴۷۰: د ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول اللهﷺ به خپل ښی او ګس طرف ته سلام اړولو.

**﴿ السلام علیکم ورحمة الله، السلام علیکم ورحمة الله ﴾** (په تاسو دې د الله پاک د طرف نه سلامتیا او رحمت وی، په تاسو دې د الله پاک د طرف نه سلامتیا او رحمت وی)

تردې چه ما به د رسول اللهﷺ د رخسار انوَر سپین والې لیدو.

دا حدیث اصحاب خمسه نقل کړې دې او ترمذی ورته صحیح وئیلې دې.

**تشریح﴾ مضمون حدیث:** (۴۲۹ نه ۴۷۰ پورې) د باب اول روایت (۴۲۹) د عامر بن سعد عن ابیه نه مروی دې کوم چه امام مسلم رحمه الله په خپل صحیح **کتاب المساجد** ج ۱ ص ۲۱۶ **باب السلام للتخلیل من الصلوٰة** کښې تخریج کړې دې او دویم روایت د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه منقول دې کوم چه اصحاب خمسه روایت کړې دې او امام ترمذی رحمه الله په **ابواب الصلوٰة** ج ۱ ص ۶۵ **باب ما جاء فی التسلیم فی الصلوٰة** کښې د دې تصحیح هم کړې ده.

د دواړو مضمون دا دې چه رسول اللهﷺ به په مانځه کښې **﴿ السلام علیکم ورحمة الله ﴾** وئیلو څخه فارغ کیدلو مطلب دا دې چه رسول اللهﷺ به د سلام اړولو په وخت خپل مخ مبارک دومره اړولو چه د هغوی منور مخ به په نظر راتلو، قربان شم د سعد رضی الله عنه په دې سعادت باندې چه هغوی ته به په مانځه کښې د رسول اللهﷺ اړخ مبارک نصیب کیدلو.

*کاشکے اندر نمازم جاشود پہلوئے تو    تابہ تقریب سلام افتد نظر بر روئے تو*

په دې باب کښې دوه خبرې عرض کړې شوې دی، ۱: د سلام کیفیت او تعداد، ۲: دویم د سلام حکم چه سلام مستحب دې، سنت دې او که فرض یا واجب.

علامه شوکانی رحمه الله په نیل الاوطار ج ۲ ص ۱۹۳، علامه بنوری په معارف السنن ج ۳ ص ۱۰۹، علامه عبدالرحمن مبارکپوری په تحفة الاحوذی ج ۱ ص ۲٤۳، حضرت سهارنپوری په بذل المجهود ج ۳ ص ۱۳۰، علامه عثمانی په فتح الملهم ج ۲ ص ۱۷۰، او مولانا محمد یوسف رحمه الله په امانی الاحبار ج ٤ ص ۱۳٤ کښې په دې موضوع باندې تفصیل څخه بحث کړې دې.

**تعداد د سلام او بیان مذاهب**: ۱: د امام مالک، امام اوزاعی، امام محمد بن سیرین، امام حسن بصری، امیر المومنین عمر بن عبدالعزیز رحمهم الله اودَ امامیه په نزد په منفرد او امام باندې صرف مخامخ طرف ته یو سلام کول لازم دې د دې نه زیات مشروع نه دی او په مقتدی باندې درې سلامونه لازم دی یو ښی طرف ته یو ګس طرف ته او یو مخامخ طرف ته.

۲: د احنافو، شوافعو، حنابله او جمهور فقهاء کرامو په نزد د امام منفرد او مقتدی ټولو لپاره دوه سلامونه اړول مشروع دی یو ښی طرف ته او یو ګس طرف ته نه مخامخ سلام کول مشروع دی او نه یو سلام کافی دې. په دویم سلام کښې دې د اول په نسبت آواز لږ ښکته ساتی هم دا احسن طریقه ده (تبیین) ابن المنذر رحمه الله په صحابه کرامو کښې د ابوبکرصدیق، علی، ابن مسعود، عمار بن یاسر، نافع بن عبد الحارث رضی الله عنهم او په تابعینو کښې د عطآء بن ابی رباح، علقمة، شعبی او په ائمهٔ کښې د امام احمد، اسحاق او ابوثور رحمهم الله نه هم دا نقل کړې دې.

**د سلام واحد د قائلینو استدلال او ځواب**: قائلین د سلام واحد د عائشې رضی الله عنها د دې روایت نه استدلال کوی: **ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان یسلم فی الصلوٰة تسلیمة واحدة تلقاء وجهه ثم یمیل الی الشق الایمن شیئًا۔ (ترمذی باب منه ایضًا)**

جمهور وائی چه دا حدیث ضعیف دې ځکه چه په دې کښې زهیر بن محمد موجود دې اګر چه هغه د رجالو د صحیحین نه دې خو د هغه روایات مناکیر دی او دا روایت هم د هغې نه دې امام بخاری رحمه الله فرمائی چه د هغه نه اهل الشام مناکیر روایت کوی او دا روایت هم د اهل الشام دې لهذا قابل استدلال نه دې، ابوحاتم فرمائی چه دا حدیث منکر دې بیا دا حدیث په اصل کښې په عائشې رضی الله عنها باندې موقوف دې امام نووی رحمه الله په خلاصه کښې وائی چه دا حدیث ضعیف دې او د حکم تصحیح ناقابل قبول ده.

علامه عقیلی رحمه الله فرمائی **(والاسانید صحاح ثابتة فی حدیث ابن مسعود فی تسلیمتین ولا یصح فی تسلیمة واحدة شئ)** بهرحال د یو سلام والا روایات اول خو اکثر ضعیف دی او دویم دا چه د کومو صحابه کرامو رضی الله عنهم نه یو سلام مروی دې تقریبا هم د هغه ټولو نه دوه سلامونه هم مروی دی.

**د جمهورو استدلال**: د دې باب دواړه احاديث د جمهور مستدل دې په کوم کښې چه د تسليمتين تصريح ده د دې نه علاوه امام طحاوی رحمه الله په شرح معانی الاثار کښې د تسليمتين احاديث د شلو صحابه کرامو رضی الله عنهم نه نقل کړې دې لهذا دا تواتر د څو ضعيف يا محتمل رواياتو په بناء پريخودلو هيڅ سوال نشته.

**د تسليمتين حکمت**: په تاتار خانيه کښې د امام محمد رحمه الله نه منقول دی چه اول سلام تحية الخروج دې دويم سلام تحية حاضرين دې ځکه چه مونځ کونکی د احرام صلوة نه پس ګويا د خلقو نه غائب شوې وو چه هغه نه د چا څخه خبرې کولې شوې او نه هغه څخه چا خبرې کولې شوې او د تحليل نه پس ګويا هغه خلقو ته راغلو.

**د دويم سلام حکم**: کوم خلق چه د دوه سلامونو قائل دی د هغوی په نز دويم سلام واجب دې يا نه؟ پس جمهور د دې د وجوب قائل نه دی بلکه د هغوی په نزد مستحب دې علامه ابن المنذر رحمه الله فرمائی چه د علماء کرامو په دې اتفاق دې چه کوم سړې صرف په يو سلام باندې اکتفاء اوکړی د هغه مونځ صحيح دې امام نووی رحمه الله هم په شرح د مسلم کښې په دې باندې اجماع نقل کړې ده چه صرف يو سلام واجب دې.

## بَابُ الْاِنْحِرَافِ بَعْدَ السَّلَامِ

(٤٧١) عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا صَلّٰى صَلٰوةً اَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهٖ۔ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ۔

**باب د سلام نه پس (مقتديانو ته) رامخ کول**: ٤٧١: د سمرة بن جندب رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله صلی الله عليه وسلم به کله مونځ اوکړو، نو په رخ انور څخه به ئې زمونږ طرف ته توجه کوله.

دا حديث بخاری نقل کړې دې.

(٤٧٢) وَعَنِ الْبَرَآءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا اِذَا صَلَّيْنَا خَلْفَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَحْبَبْنَا اَنْ نَكُوْنَ عَنْ يَمِيْنِهٖ فَيُقْبِلُ عَلَيْنَا بِوَجْهِهٖ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَّاَبُوْدَاوٗدَ۔

٤٧٢: براء بن عازب رضی الله عنه فرمائی چه کله به مونږ په رسول الله صلی الله عليه وسلم پسې مونځ کولو، نو مونږ به غوښتل چه په هغوی پسې ښی طرف ته اودريږو نو (د مانځه نه پس به) هغوی زمونږ طرف ته په خپل رخ انور څخه توجه فرمائيله. دا حديث مسلم او ابوداؤد نقل کړې دې.

(۴۷۳) وَعَنْ اَنَسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ اَكْثَرَمَا رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْصَرِفُ عَنْ يَّمِيْنِهٖ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

۴۷۳: سيدنا انس رضی الله عنه فرمائی ما رسول الله ﷺ زيات تر په خپل ښی طرف باندې راتاويدونکې ليدلې دې.

**تشريح**> (۴۷۱ نه ۴۷۳ پورې) د دې باب د درې واړو رواياتو مدلول دا دې چه د مانځه نه پس دې امام د مقتديانو طرف ته مخ کولو څخه کينی اول روايت (۴۷۱) د سمرة بن جندب رضی الله عنه نه منقول دی کوم چه امام بخاری رحمه الله په خپل صحيح کتاب الاذان ج ۱ ص ۱۱۷ **باب يستقبل الامام الناس اذا سلم** کښې تخريج کړې دې دويم روايت (۴۷۲) د براء بن عازب رضی الله عنه نه مروی دې کوم چه امام مسلم رحمه الله په خپل صحيح کتاب الصلوة المسافرين جلد ۱ ص ۲٤۷ **باب جواز الانصراف من الصلوة عن اليمين والشمال** د لاندې ذکر کړې دې، د دې نه علاوه امام بخاری او مسلم په صحيحين کښې د سيدنا عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روايت نقل کړې دې:

قَالَ لَا يَجْعَل احدكم للشيطان شيئًا من صلاته يُرى ان حقاً عليه ان لا ينصرف الا عن يمينه لقد رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم كثيرًا كثيرًا ينصرف عن يساره۔ (متفق عليه)

د پورته ذکر شوو څلورو واړو رواياتو حاصل دا دې چه رسول الله ﷺ به د سلام اړولو نه پس کله خو ښی طرف ته مخ کول او کله ګس طرف ته، او ډير کرته به داسې کيدل چه هغوی به د سلام اړولو نه پس دعا کوله او د خپلې حجرې شريف کومه چه ګس طرف ته وه هلته به ئې تشريف يوړو او کله به ئې د دې برعکس کول چه د ګس طرف نه به ئې ښی طرف ته کيناستلو.

اول طريقه په عزيمت يعنی اولويت باندې حمل کړې شوې ده څکه چه په ذې کښې د ښی طرف نه ابتداء کيږی او د رسول الله ﷺ فعل به اکثر هم دغه شان وو. خو ابن مسعود رضی الله عنه فرمائی چه دويم صورت يعنی ګس طرف ته تاويدل اګر چه رخصت يعنی جائز دی او دا صورت به کم هم اختيارولې شو خو سنت ته د واجب درجه ورکول چونکه صحيح نه دی په دې وجه دې صرف اول صورت يعنی په ښی طرف رامخ کولو ته لازم او واجب او نه وئيلې شی او د شارع د طرف نه ورکړې شوې رخصت (يعنی اجازت) دې چه هغه دويم صورت دې ناقابل اختيار نه کړې شی څکه چه په حديث شريف کښې راغلې دی چه: الله پاک دا خبره خوښوی چه د هغه د طرف نه په ورکړې شوې رخصتونو باندې عمل اوکړې شی لکه څنګه چه هغه په عزيمتونو باندې عمل کول خوښوی.

يعنی څنګه چه د الله پاک په نزد دا خيز غوره او محبوب دې چه هغه عمل اختيار کړې شی

په کوم کښې چه عزيمت يعنى اولويت دې، هم دغه شان د هغه په نزد دا ځيز هم قابل قبول او خوښ دې چه هغه اعمال هم اختيار کړې شى کوم ته چه الله پاک اولى او افضل نه سهى بهر حال جائز کړې دې.

حضرات شوافع دې احاديثو نه د مونځ کونکى لپاره دا مينځنئ طريقه اختيار کړې ده چه هغوى خپل ضرورت او سهولت کوم طرف ته اوګورى، هم طرف ته دې واوړى يعنى که د هغه کور وغيره د هغه ښى طرف ته دې نو هغه له ښى طرف ته تاويدل پکار دى او که ګس طرف ته وى نو ګس طرف ته ورله تاويدل پکار دى. د علىﷺ نه هم منقول دى چه " رسول اللهﷺ به کله کله د مقتديانو طرف ته مخ کولو ځخه او شا د قبلې طرف ته کولو ځخه هم مخ کولو". لکه چه په پورته حديث کښې تير شو، د ابن مسعودﷺ په روايت کښې چه کوم ﴿ لَا يَجْعَلْ أَحَدُكُمْ لِلشَّيْطَانِ شَيْئًا مِنْ صَلَاتِهِ ﴾ يعنى " په مانځه کښې د شيطان حصه" ځکه وئيلې شوې ده چه کله يو سړې يو غير لازم ځيز په خپل ځان باندې د لازم کيدو اعتقاد اوکړى نو ګويا هغه د شيطان تابع شو لهذا د هغه دمونځ د کمال درجه ختميږى.

علامه طيبىؒ فرمائى چه " په دې کښې دې خبره باندې دليل دې چه کوم سړى يو امر مستحب طريقه اختيار کړې وه او هغې ته ئې د لازم درجه ورکړه او په رخصت (يعنى جواز) باندې ئې عمل اونکړو نو پوهه شه چه شيطان د هغه د ګمراه کولو لپاره هغه ته رسيدلې دې".

ارمان چه ! اهل بدعت په خپلو ګريوانونو کښې سر ښکته کولو ځخه اوګورى چه هغوى امر مستحب خو په ځائې پريږده خلاف شرع ځيزونه او بدعات په خپل ځان باندې لازم او واجب کولو ځخه خپل ځان د ضلالت او ګمراهئ په کومه کنده کښې غورځولې دې او په خپل ځان باندې ئې شيطان ځومره مسلط کړې دې.

دا څلور واړه روايات يعنى حديث براء، حديث سمرة، حديث انس او حديث عبد اللهﷺ د دې باب د موضوع ځخه متعلق خو نه دى خو د دې د متعلقاتو نه دى.

## بَابُ فِي الذِّكْرِ بَعْدَ الصَّلٰوةِ

(۴۷۴) عَنِ الْمُغِيْرَةِ بْنِ شُعْبَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُوْلُ فِيْ دُبُرِ صَلٰوتِهٖ إِذَا سَلَّمَ ''لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ، اَللّٰهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ''۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

**باب د مانځه نه پس ذکر: ۴۷۴**: سيدنا مغيره بن شعبةﷺ فرمائى چه رسول اللهﷺ به کله سلام

اړولو نو د خپل مانځه نه پس به ئې دا دعا فرمائيله :

لَآ اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَـهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ، اَللّٰهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا اَعْطَيْتَ وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ.

(دالله پاک نه سوا بل معبود نشته، هغه يو دې دهغه څوک هم شريک نشته، هم د هغه لپاره بادشاهي ده او هم د هغه لپاره ټول تعريفونه دی او هغه په هر څيز باندې قادر دې، اې الله! هيڅ منع کونکې نشته د هغه څيز کوم چه ته ورکړې، او هيڅوک ورکونکې نشته د هغه څيز کوم چه ته منع کړې، او هيڅ د بخت خاوند ته ستا نه بغير د هغه بخت فائده نه ورکوی. دا حديث شيخينو نقل کړې دې.

(۴۷۵) وَعَنْ ثَوْبَانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا انْصَرَفَ مِنْ صَلٰوتِهٖ اِسْتَغْفَرَ ثَلَاثًا وَّقَالَ: اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ ذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ. رَوَاهُ الْجَمَاعَةُ اِلَّا الْبُخَارِيُّ.

۴۷۵ : سيدنا ثوبان رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ به چه کله د خپل مونځ نه سلام واړولو نو درې کرته به ئې استغفار کولو (استغفر الله به ئې وئيل) او فرمائيل به ئې :

اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ ذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ. (اې الله ! ته د سلامتيا والا ئې، او سلامتی ستا د طرف نه ده، ډير برکت والا ئې اې د بزرګئ او عزت والا.

دا حديث د بخاری نه علاوه د محدثينو جماعت نقل کړې دې.

(۴۷۶) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَقْعُدْ اِلَّا مِقْدَارَ مَا يَقُوْلُ: اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ ذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

۴۷۶: ام المومنين سيده عائشه رضی الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ به (د سلام نه پس) صرف دومره مقدار کيناستلو چه په هغې کښې به ئې دا دعا لوستله :اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ ذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ. دا حديث مسلم نقل کړې دې.

(۴۷۷) وَعَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مُعَقِّبَاتٌ لَا يَخِيْبُ قَائِلُهُنَّ اَوْ فَاعِلُهُنَّ دُبُرَ كُلِّ صَلٰوةٍ مَّكْتُوْبَةٍ ثَلَاثًا وَّثَلَاثِيْنَ تَسْبِيْحَةً وَثَلَاثًا وَّثَلَاثِيْنَ تَحْمِيْدَةً وَاَرْبَعًا وَّثَلَاثِيْنَ تَكْبِيْرَةً رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

۴۷۷: د سيدنا کعب بن عجره رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : د مانځه نه پس څو کلمات وئيلې کيدې شي، چه د هغې د هر فرض مانځه نه پس وئيونکې يا کونکې (د راوی شک دې) ناکام کيږی نه، ۳۳ کرته سبحان الله، ۳۳ کرته الحمد لله او ۳۴ کرته الله اکبر.

دا حديث مسلم نقل کړې دې.

(۴۷۸) وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ سَبَّحَ دُبُرَ كُ صَلٰوةٍ ثَلَاثًا وَّثَلَاثِيْنَ وَحَمِدَ اللّٰهَ ثَلَاثًا وَّثَلَاثِيْنَ وَكَبَّرَ اللّٰهَ ثَلَاثًا وَّثَلَاثِيْنَ فَتِلْكَ تِسْعَةٌ وَّتِسْعُوْنَ وَقَا تَمَامَ الْمِائَةِ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ غُفِرَتْ خَطَايَا اِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

۴۷۸: د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: كوم سړى چه د هر مانځه نه پ ۳۳ كرته سبحان الله، ۳۳ كرته الحمد لله او ۳۳ كرته الله اكبر اوئيل نو دا نهه نوى كرته شو ا سلو د پوره كولو لپاره هغه داسې اووې: ﴿لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ﴾ نو د هغه ټول گناهونه به اوبخښلې شى، اگرچه د سمندر د زگ برابر وى.

دا حديث مسلم نقل كړې دې.

(۴۷۹) وَعَنْهُ قَالَ قُلْتُ لِاَبِیْ سَعِيْدٍ هَلْ حَفِظْتَ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَ يَقُوْلُهٗ بَعْدَ مَا سَلَّمَ؟ قَالَ نَعَمْ كَانَ يَقُوْلُ سُبْحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ وَسَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ وَالْحَمْدُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ. رَوَاهُ اَبُوْيَعْلٰى وَقَالَ الْهَيْثَمِیُّ رِجَالُهٗ ثِقَاتٌ.

۴۷۹: سيدنا ابوهريره رضي الله عنه فرمائى: ما د ابوسعيد رضي الله عنه نه پوښتنه اوكړه، آيا تاسو د رسول الله نه څه څيز ياد كړې دې كوم چه به هغوى د مانځه نه پس فرمائيلو، هغوى اووې: او، رسول الله به د مانځه نه پس دا دعا لوستله:

سُبْحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ وَسَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ.

(پاكى ده ستا رب لره چه د عزت والا دې د هغه خبرو نه چه كافران ئې بيانوى، او سلام وى په پيغمبرانو باندې، او ټول صفات د الله پاک لپاره دى چه رب د ټولو جهانونو دې.

دا حديث ابويعلى نقل كړې دې او هيثمى وئيلې دى، د دې رجال ثقه دى.

(۴۸۰) وَعَنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَرَاَ اٰيَةَ الْكُرْ فِیْ دُبُرِ الصَّلٰوةِ الْمَكْتُوْبَةِ كَانَ فِیْ ذِمَّةِ اللّٰهِ اِلَى الصَّلٰوةِ الْاُخْرٰى. رَوَاهُ الطَّبَرَانِیُّ فِی الْكَبِيْرِ وَقَالَ الْهَيْ اِسْنَادُهٗ حَسَنٌ.

۴۸۰: سيدنا حسن بن على رضي الله عنهما فرمائى: رسول الله ﷺ اوفرمائيل: كوم سړى چه د فرض مانځه پس آيت الكرسى اولوستله نو د بل مونځ پورې به هغه د الله پاک په حفاظت كښې وى.

دا حديث طبرانى په كبير كښې نقل كړې دې او هيثمى وائى د دې اسناد حسن دې.

(۴۸۱) وَعَنْ اَبِیْ اُمَامَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَرَأَ اٰيَةَ الْكُرْسِيِّ دُبُرَ كُلِّ صَلٰوةٍ مَكْتُوْبَةٍ لَمْ يَمْنَعْهُ مِنْ دُخُوْلِ الْجَنَّةِ اِلَّا الْمَوْتُ۔ رَوَاهُ النَّسَائِیُّ وَصَحَّحَهُ ابْنُ حِبَّانَ۔

۴۸۱: سيدنا ابو امامه رضی الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ اوفرمائيل: كوم سړي چه د هر فرض مانځه نه پس آية الكرسى اولوستله نو هغه لره جنت ته د داخليدو نه د مرګ نه سوا هيڅ څيز نه شي منع كولې. دا حديث نسائى نقل كړې دې او ابن حبان ورته صحيح وئيلې دې.

**تشريح**> (۴۷۴ نه ۴۸۱ پورې) د دې باب د لاندې هغه احاديث ذكر كولې شي چه په هغې كښې د مانځه نه پس د دعا او نورو وظائف د لوستلو اهميت او فضيلت ظاهرېږى دلته د ذكر لفظ عام دې كوم چه په دعا او اوراد او وظائف باندې حاوى دې.

**د مانځه نه پس د اوراد او وظائفو لپاره موزون وختونه:**

په دې مسئله كښې اختلاف دې چه د كومو فرض مونځونو نه پس سنت كولې شي د هغې نه پس مونځ كونكې د دعا او وظائفو لپاره څومره كيناستلې شي پس په درمختار كښې ليكلې دى چه د فرض مونځ كولو نه پس په سنتو كښې تاخير كول مكروه دى خو د **(اللهم انت الخ)** په اندازه دعا وغيره د لوستلو لپاره لږ ساعت كيناستل ثابت دى.

د علامه حلوانى رحمه الله قول دې چه د اوراد او وظائفو په غرض د فرض او سنتو په مينځ كښې وقفه كولو كښې هيڅ باك نشته دا قول كمال رحمه الله هم اختيار كړې دې علامه حلبى رحمه الله په دې دواړو اقوالو كښې تطبيق داسې پيدا كړې دې چه دلته دې د مكروه نه مراد مكروه تحريمى مراد نه كړې شي بلكه مكروه تنزيهى دې مراد كړې شي نو په دې دواړو اقوالو كښې به هيڅ اختلاف باقى پاتې نه شي ځكه چه د اول قول به بيا مطلب دا وى چه اوراد او وظائف د لوستلو لپاره د سنتو په كولو كښې تاخير كول هيڅ د ګناه خبره نه ده خو مكروه تنزيهى دى يعنى كه تاخير اونه كړې شي نو غوره به وى هم دغه شان د علامه حلوانى رحمه الله د قول مطلب به دا وى چه د فرض مونځ كولو نه پس د اورادو وظائف لوستلو لپاره په سنتو كښې تاخير كولو كښې اګر چه هيڅ باك نشته خو مناسب دا ده چه تاخير دې اونكړې شي دغه شان دا دواړه اقوال په خپل خپل ځائې باندې صحيح پاتې شو او په دواړو كښې څه تضاد هم پاتې نه شو.

**د مانځه نه پس په دعاګانو كښې ترتيب:** صاحب د درمختار فرمائى چه مستحب دا ده چه مونځ (د كوم نه پس چه سنت كول نه وى) په هغې كښې د فرضو نه پس، او د كوم نه پس چه سنت كولې شى نو په هغې كښې د سنت نه پس درې كرته (استغفر الله) اولوستلې شى، آيت الكرسى او معوذات اولوستلې شى، او سبحان الله، الحمد لله او الله اكبر ... درې ديرش، درې ديرش، كرته اولوستلې

شی، بیا یو کرته تهلیل ﴿ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴾ لوستلو څخه دې د سلو عدد پوره کړې شی بیا دې د هغې نه روستو دعا اوغوښتلې شی او دعا دې په دې جمله باندې ختم کړې شی. ﴿سبحان ربک رب العزة الخ﴾. (مظاهر حق ج ۱ ص ۶۳۶)

**د سنتو نه پس د مسنون ذکر او دعا هم هغه ثواب دې کوم چه د فرض نه پس وی:** که یو سړې د فرضو نه پس سنت اوکړی او د هغې نه پس په احادیثو کښې ذکر شوې اوراد او وظائف اولولی نو دا به دهغه بعدیت منافی نه وی کوم چه په احادیثو کښې مذکور دې یعنی په احادیثو کښې مذکور دې چه د مانځه نه پس فلانئ فلانئ وظیفه یا دعا اولوستلې شی نو که څوک د فرض مونځ کولو نه پس سنت اوکړی او بیا د هغې نه پس مذکوره اوراد او وظائف اولولی نو دا به نه شی وئیلې چه هغه د دې فضیلت نه محروم شو ځکه چه د حدیث خو مقصد دا دې چه دا اوراد او وظائف دې د مانځه نه پس اولوستلې شی اګر که د سنتو نه پس ولې نه وی بلکه د سنتو نه پس ئې لوستل زیات مناسب دی هم دغه شان د صحیح احادیثو نه لکه چه ثابت دی چه د فجر او مغرب د مانځه نه پس ﴿ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴾ لس کرته اولوستلې شی یا د دې مونځونو نه پس د آیت الکرسی لوستل ثابت دی نو که یو سړی د ماښام د مانځه نه پس اول سنت اوکړی او بیا د هغې نه روسته آیت الکرسی یا پورته ذکر شوې تهلیل اوائی نو د حدیث مطابق به هغه ته هم هغه فضیلت حاصل وی کوم چه د فرض مونځ کولو نه پس هغوی ته په لوستلو باندې حاصل وو.

**د احادیث الباب تشریح:** (۴۷۴) د باب اول روایت کوم چه د مغیره بن شعبة رضی الله عنه نه مروی دې کوم چه په صحیح بخاری کښې په کتاب الاذان **باب الذکر بعد الصلوة** ج ۱ ص ۱۱۷ او صحیح مسلم کتاب المساجد **باب الذکر بعد الصلوة وبیان صفته** ج ۱ ص ۲۱۸ کښې تخریج کړې شوې دې د حدیث مضمون په تحت اللفظ ترجمه کښې واضح کړې شوې دې.

**۴۷۵:** دا روایت د ثوبان رضی الله عنه امام بخاری نه علاوه اصحاب ستة نقل کړې دې **مسلم ج ۱ ص ۲۱۸، ترمذی ج ۱ ص ٦٦، ابوداؤد ج ۱ ص ۲۱۲، نسائی ج ۱ ص ۱۹٦** کښې د دې تخریج کړې شوې دې.

د ثوبان رضی الله عنه د دې حدیث نه معلومه شوه چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم معمول دا وو چه د مانځه د فراغت نه پس یعنی د سلام اړولو نه پس به ئې درې کرته استغفار کولو. یعنی **استغفرالله، استغفرالله، استغفرالله**، او په بعض روایاتو کښې مذکور دی چه هغوی به د استغفار لپاره درې کرته ﴿ **استغفر الله الذی لا اله الا هو الحی القیوم واتوب الیه** ﴾ لوستلو.

دا په اصل کښې کمال عبديت دې چه د مونځ په شان عبادت نه پس هم خپل ځان قصور وار او دعبادت دحق ادا کولو نه قاصر او عاجز ګڼړلو څخه د الله پاک نه معافی او بخښنه اوغواړی په دې حديث کښې چه کومه وړه دعا ثوبان ﷛ د رسول الله ﷺ نه نقل کړې ده په صحيح رواياتو کښې هغه هم دومره وارد ده. په عوامو کښې د دې دعا نه پس ﴿ ومنک السلام ﴾ نه پس چه کومه اضافه مشهوره ده ﴿ واليک يرجع السلام حينا ربنا بالسلام وادخلنا الجنة دار السلام ﴾ محدثينو تصريح کړې ده چه داد روستو اضافه ده د رسول الله ﷺ نه دا ثابت نه دی.

**د مانځه نه پس د رسول الله ﷺ قعود:** (۴۷۲) د عائشې ﷞ دا روايت امام مسلم ﷫ په خپل صحيح **کتاب المساجد باب استحباب الذکر بعد الصلوة وبيان صفته ج۱ ص ۲۱۸** کښې نقل کړې دې.

د عائشې ﷞ د دې ارشاد مطلب دا دې چه د کوم فرض مونځونو نه پس سنت کولې شی د هغې نه پس به رسول الله ﷺ صرف دومره اندازه کيناستلو چه دا دعا اولولی خو د کومو فرض مونځونو نه پس چه سنتونه نشته لکه فجر او عصر د هغې د سلام اړولو نه پس د رسول الله ﷺ د دې نه زيات کيناستل هم ثابت دی پس د دې وجې نه علماء وائی چه د دې مونځونو نه پس تر طلوع افتاب او غروب افتاب پورې په ذکر کښې مشغول اوسيدل مستحب دی.

﴿ اذا سلم لم يقعد ﴾ کښې يو توجيه دا هم کړې شوې ده چه رسول الله ﷺ به د مانځه په هيئت کښې صرف دومره کيناستلو چه دا دعا اولولی يا دا چه رسول الله ﷺ به اکثر او زيات تر هم دومره کيناستلو.

**د شاه ولی الله محدث دهلوی تحقيق او تطبيق:** د عائشې ﷞ د دې روايت نه په ظاهر کښې معلوميږی چه رسول الله ﷺ به د سلام اړولو نه پس صرف د دې مختصر دعا ﴿ **اللهم انت السلام** ﴾ په قدر کيناستلو او د هغې نه فورا پس به اوچت شو خو په دې باب کښې چه کوم احاديث راغلی دی د دې نه معلوميږی چه رسول الله ﷺ به د سلام نه پس د دې نه علاوه هم مختلفې دعاګانې او د ذکر مختلف کلمات لوستل او نورو ته به ئې هم د هغې تعليم او ترغيب ورکولو.

بعض حضراتو خو دا اشکال داسې حل کړې دې چه په دې باب کښې راغلې احاديثو کښې چه د ﴿**اللهم انت السلام** ﴾ نه علاوه د کومو دعاګانو او د تسبيح او تهليل د کومو کلماتو ذکر کړې شوې دې دا به رسول الله ﷺ په مانځه پسې متصل نه لوستل بلکه د روستو سنتو وغيره نه چه به فارغ شو نو لوستل به ئې او نورو ته چه د دې د لوستلو کوم ترغيب او تعليم رسول الله ﷺ ورکړې دې د هغې هم دا محل دې خو په دې باب کښې د راغلې اکثر احاديثو د ظاهر نه هم دا مفهوم

کيږي چه رسول اللهﷺ به د سلام اړولو نه پس متصل دا دعاګانې او د ذکر کلمات لوستل او نورو ته به ئې هم د دې تعليم ورکولو په دې سلسله کښې صحيح طريقه کار هم هغه معلوميږي کوم چه شاه ولی الله دهلوی رحمه الله په حجة الله البالغة کښې اختيار فرمائيلې دې هغوی د دې ټولو ماثور دعاګانو د حواله ورکولو نه پس کوم چه د حديث په متداول کتابونو کښې مروی دی فرمائی:

"غوره دا ده چه دا دعاګانې او د ذکر الهی دا کلمات د سلام اړولو نه پس متصلا روستو سنتو نه مخکښې اولوستلې شی ځکه چه د دې سلسلې په بعض احاديثو کښې خو د دې بالکل تصريح ده، او د بعض د الفاظو ظاهري تقاضا هم دا ده.....

پاتې شو د عائشې رضي الله عنها دا حديث چه رسول اللهﷺ به د سلام اړولو نه پس پس صرف: (اللهم انت السلام الخ) وينا په قدر کيناستلو نو د هغې څو توجيهات کيدلې شی مثلا وئيلې شی چه د عائشې صديقې رضي الله عنها مطلب دا دې چه د سلام اړولو نه پس به رسول اللهﷺ د مونځ په هيئت باندې صرف دومره کيناستلو د هغې نه پس به ئې نشست بدل کړو او ښي طرف يا ګس طرف ته مقتديانو په طرف باندې به کيناستلو (لکه چه په تيرو ابوابو کښې د رسول اللهﷺ دا معمول په بعض رواياتو کښې مذکور دې)، او دا هم وئيلې شی چه د عائشې رضي الله عنها مطلب دا نه دې چه رسول اللهﷺ به هميشه داسې کول بلکه مطلب دا دې چه کله کله به داسې هم کيدل چه رسول اللهﷺ به د سلام اړولو نه پس صرف (اللهم انت السلام) وئيلو نه پس پاسيدلو او داسې به غالبا رسول اللهﷺ په دې وجه کول چه خلقو ته د هغوی د عمل نه دا هم معلومه شی چه د سلام نه پس د دې دعاګانو او د ذکر د دې کلماتو لوستل فرض يا واجب نه دی بلکه د دې درجه د يو نفلی او مستحب عبادت ده. (حجة الله البالغة ج ۲ ص ۱۲)

**په ګوتو د کهجورو په هډوکواو په مروجه تسبيح باندې د لوستلو حکم:**

(۴۷۷، ۴۷۸) د کعب بن عجره رضي الله عنه روايت امام مسلم رحمه الله په خپل **صحيح کتاب المساجد باب استحباب الذکر بعد الصلاة وبيان صفته ج ۱ ص ۲۱۹** کښې او د ابوهريره رضي الله عنه روايت هم په دې باب کښې هم په دې صفحه کښې تخريج کړې دې.

په بعض رواياتو کښې (وله الحمد) نه پس (يحيي ويميت) او په بعض رواياتو کښې (بيده الخير) الفاظ هم منقول دی پورته ذکر کړې شوې کلمات کوم چه د مانځه نه پس لوستلې شی د هغې مختلف عدد منقول دی چونکه رسول اللهﷺ به خپله هغه مختلف عددونو څخه لوستل په دې وجه هغه کلماتو لره احاديث کښې په ذکر شوې اعدادو څخه لوستلو په دې وجه دا

کلمات چه په احاديث مذکوره کښې د اعدادنو نه په هر عدد څخه هم اولوستلې شی، اصل سنت به ادا شی، حافظ عراقی رحمه الله فرمائی چه ذکر کړې شوې ټول عددونه غوره دی او کوم عدد چه د ټولو نه لوئې دې هغه د الله پاک په نزد د ټولو نه زيات غوره دې.

د دې تسبيحاتو د ورد په سلسله کښې د رسول الله ﷺ په باره کښې ثابت دی چه رسول الله ﷺ به دا د ښی لاس په ګوتو باندې لوستل او دا ترې نه هم منقول دی چه رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته فرمائيلې وو چه دا په ګوتو باندې شمار کړئ ځکه چه د قيامت په ورځ باندې به (د بنده د اعمالو په سلسله کښې) پوښتنه کولې شی. او (د څواب لپاره) هغوی ته به د وينا قوت ورکولې شی د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه په دې باره کښې منقول دی چه هغوی به دا د کهجورې په هډوکو باندې لوستل بهرحال د دې تسبيحاتو په ګوتو باندې لوستل غوره دی او په هډوکو وغيره باندې لوستل ئې هم جائز دی مروجه تسبيح هم جائز دی سلف صالحين دې ته مذکره وائی.

**د قيامت په ورځ به په لويه پيمانه اجر ملاويږی:**

۴۷۹: دا روايت امام هيثمی رحمه الله په **مجمع الزوائد** ج ۲ ص ۱۴۸ کښې د ابويعلی په حوالې څخه تخريج کړې دې د مانځه نه پس د رسول الله ﷺ دا دعا د ټولو دعاګانو او ذکرنو په آخر کښې لوستل پکار دی لکه چه د دې نه مخکښې عرض کړې شوې دې هم دا روايت علامه قرطبی رحمه الله هم په خپل سند څخه د ابوسعيدخدری رضی الله عنه دا قول نقل کړې دې چه ما د رسول الله ﷺ نه څو کرته واوريدل چه هغوی به د مونځ ختميدلو نه پس دا آيتونه تلاوت فرمائيل ﴿ سبحان ربک الخ ﴾ او په ډيرو تفاسيرو کښې د امام بغوی رحمه الله په حوالې څخه د سيدنا علی رضی الله عنه دا قول منقول دې چه کوم سړې دا وائی چه د قيامت په ورځ هغه ته په لويه پيمانه اجر ملاؤ شی نو هغه له پکار دی چه هغه د خپل هر مجلس په آخر کښې دا آيتونه لولی هم دا قول ابن ابی حاتم د شعبی رحمه الله د روايت نه مرفوعا هم نقل کړې دې.

**د دخول جنت نه د مرګ د مانعيت مطلب:** (۴۸۰، ۴۸۱) اول روايت د حسن بن علی رضی الله عنهما نه دې کوم چه طبرانی په معجم کبير ج ۳ ص ۸۴ کښې نقل کړې دې او بل روايت د ابو امامه رضی الله عنه نه دې کوم چه نسائی په **عمل اليوم والليلة** کښې نقل کړې دې په دواړو کښې د فرض مونځ نه پس د آيت الکرسی د لوستلو د افضليت او اهميت ذکر دې، د احاديث مضمون په تحت اللفظ ترجمه کښې واضح کړې شوې دې.

﴿ **لم يمنعه من دخول الجنة الا الموت** ﴾ نه يو اشکال واقع کيږی هغه دا چه مرګ خو د دخول جنت نه مانع نه دې بلکه مرګ خو خپله جنت ته د تلو ذريعه ده لهذا پکار داسې وه چه د دې په

ځائې داسې فرمائيلې شوې وې چه ﴿ لم يمنعه من دخول الجنة الا الحياة ﴾ ځکه چه په دې دنيا کښې انسان د حياة په جال کښې اينختلې دې چه کله ئې ژوند ختم شي او مرګ راشي جنت ته تلل به ئې هغه وخت ممکن شي لهذا د دخول جنت نه مانع مرګ نه دې بلکه حيات دې، د دې مختصر ځواب علامه طيبي رحمه الله دا ورکړې دې چه د بنده او جنت ترمينځه مرګ يو پرده ده چه يو طرف ته خو ژوند دې او دويم طرف ته جنت دې چه کله دا پرده لرې شي يعنی بنده ته مرګ راشي نو هغه به فورا جنت ته داخل شي بعض حضرات فرمائی چه دلته د مرګ نه مراد د بنده د قيامت په ورځ د قبر نه د پاسيدو نه مخکښې په قبر کښې بند پاتې کيدل دی پس کله چه د قبر نه پاسی نو فورا به جنت ته داخل شي په يو روايت کښې د آيت الکرسی څخه د سورة اخلاص ذکر هم شته.

## بَابُ مَا جَآءَ فِي الدُّعَآءِ بَعْدَ الْمَكْتُوبَةِ

(۴۸۲) عَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَيُّ الدُّعَآءِ اَسْمَعُ؟ قَالَ جَوْفَ اللَّيْلِ الْأٰخِرِ وَدُبُرَ الصَّلَوَاتِ الْمَكْتُوْبَاتِ۔ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ۔

**باب: کوم روايتونه چه د فرض مانځه نه پس د دعا په باره کښې دی:** ۴۸۲: سيدنا ابو امامه رضي الله عنه فرمائی، عرض اوکړې شو: يا رسول الله ﷺ! کومه دعا زياته قبليږی، رسول الله ﷺ اوفرمائيل: د شپې په آخری نيمه حصه کښې او د فرض مونځونو نه پس.

• دا حديث ترمذی نقل کړې دې او امام ترمذی رحمه الله فرمائی چه دا حديث حسن دې.

**د سلام اړولو نه پس مقتدی له د امام په اقتداء کښې دعا کول ضروری دی يا نه ؟** ۴۸۲: د ابو امامه رضي الله عنه دا روايت امام ترمذی رحمه الله په خپل سنن ابواب الدعوات ج ۲ ص ۱۸۷ کښې نقل کړې دې مضمون دحديث د لفظی ترجمې نه واضح دې خو د بيان لپاره د يوې مسئلې وضاحت ضروری دې چه د سلام نه پس چه د ذکر او دعاء په باره کښې کوم احاديث ذکر شوې دی د هغې نه خو دا معلوميږی چه د مانځه نه پس يعنی د سلام نه پس ذکر او دعا د رسول الله ﷺ نه عملا هم ثابته ده او تعليما هم او د دې نه د انکار ګنجائش نشته خو دا چه رواج دې چه د سلام اړولو نه پس په دعا کښې هم مقتدی د مانځه په شان د امام پابند وی تردې چه که د چا زر تلو ته ضرورت وی نو بيا هم د هغه د امام نه مخکښې پاسيدل بد ګنړلې شي، دا بالکل بې اصل خبره ده بلکه قابل اصلاح ده د امامت او اقتداء رابطه د سلام اړولو نه پس ختميږی په دې وجه د سلام اړولو نه پس په دعا کښې د امام اقتداء او پابندی ضروری نه ده که غواړی نو مختصر دعا کولو څخه دې د امام نه مخکښې پاسی او که غواړی نو د خپل ذوق او کيفيت مطابق دې د ډير وخته پورې دعا کوی.

## بَابُ رَفْعِ الْيَدَيْنِ فِي الدُّعَآءِ

(۴۸۳) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ اِنَّهَا رَأَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُوْ رَافِعاً يَدَيْهِ يَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ اِنَّمَا اَنَا بَشَرٌ فَلَا تُعَاقِبْنِيْ اَيُّمَا رَجُلٍ مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اٰذَيْتُهُ اَوْشَتَمْتُهُ فَلَا تُعَاقِبْنِيْ فِيْهِ۔ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ فِي الْاَدَبِ الْمُفْرَدِ وَقَالَ الْحَافِظُ فِي الْفَتْحِ هُوَ صَحِيْحُ الْاِسْنَادِ۔

**باب په دعا کښې لاسونه اوچتول**: ۴۸۳: ام المومنین سیده عائشه رضی الله عنها فرمائی. ما رسول الله ﷺ خپل دواړه لاسونه اوچتونکې په دعا کولو باندې لیدلې دې، هغوی (په دعا کښې) فرمائیل:

اَللّٰهُمَّ اِنَّمَا اَنَا بَشَرٌ فَلَا تُعَاقِبْنِيْ اَيُّمَا رَجُلٍ مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اٰذَيْتُهُ اَوْشَتَمْتُهُ فَلَا تُعَاقِبْنِيْ فِيْهِ۔

(اې الله! بیشکه زه انسان یم ما مه رانیسه، کوم مومن ته چه ما تکلیف ورکړې دې یا مې ورته ستغې سپورې وئیلې دی نو په هغې کښې ما مه رانیسه).

دا حدیث بخاری په ادب المفرد کښې نقل کړې دې، او حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباری کښې وائی چه دا صحیح الاسناد دې.

(۴۸۴) وَعَنْهَا قَالَتْ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَافِعًا يَدَيْهِ حَتّٰى بَدَا ضَبْعُهُ يَدْعُوْ۔ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ فِيْ جُزْءِ رَفْعِ الْيَدَيْنِ وَصَحَّحَهُ ابْنُ حَجَرٍ۔

۴۸۴: ام المومنین سیده عائشه رضی الله عنها فرمائی: ما رسول الله ﷺ په لاسونو اوچتولو څخه دعا کولو باندې لیدلې دې، تردې چه د هغوی ترخونه مبارک ښکاره شو. دا حدیث امام بخاری په جزء رفع الیدین کښې نقل کړې دې او ابن حجر رحمه الله ورته صحیح وئیلې دې.

(۴۸۵) وَعَنْ سَلْمَانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ رَبَّكُمْ حَيِيٌّ كَرِيْمٌ يَّسْتَحْيِيْ مِنْ عَبْدِهٖ اِذَا رَفَعَ يَدَيْهِ اَنْ يَّرُدَّهُمَا صِفْرًا۔ رَوَاهُ اَبُوْدَاوُد وَابْنُ مَاجَةَ وَالتِّرْمَذِيُّ وَحَسَّنَهُ وَقَالَ الْحَافِظُ فِي الْفَتْحِ سَنَدُهُ جَيِّدٌ۔

۴۸۵: سیدنا سلمان رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: بیشکه ستا رب حیاء کونکې، کریم دې، بنده چه کله هغه ته لاسونه اوچت کړی، نو د هغه په خالی واپس کولو باندې ورله حیا ورځی. دا حدیث ابوداؤد، ابن ماجه او ترمذی نقل کړې دې او ترمذی دې ته حسن وئیلې دې، حافظ په فتح الباری کښې وائی چه د دې سند جید دې.

**تشریح** (۴۸۳ نه ۴۸۵ پورې) د باب غرض انعقاد د ترجمة الباب نه واضح دې چه د دعا په وخت رفع الیدین مسنون دی د باب په اول او دویم روایت کوم چه د عائشې رضی الله عنها نه مروی دې اول روایت امام بخاری رحمه الله په ادب المفرد **باب رفع الایدی فی الدعا ص ۸۱** او دویم روایت **جزء رفع الیدین** کښې

تخریج کړي دي دریم روایت ۴۸۵ د سلمان رضی الله عنه نه منقول دي کوم چه ابو داؤد په کتاب الصلاة باب الدعاء ج۱ ص ۲۰۹ او امام ترمذی رحمه الله په ابواب الدعوات ج ۲ ص ۱۹۶ کښې تخریج کړي دي.

د باب د دريې واړو احاديثو نه دا خبره ثابتيږی چه رفع اليدين فی الدعا سنت دی خو سوال دا دي چه لاسونه به د کوم ځائې پورې اوچتولې شی پس د لاسونو د اوچتولو د مقدار په باره کښې په احاديثو کښې وضاحت کړې شوې دي لکه چه د انس رضی الله عنه نه روايت دي ﴿ كان رسول الله ﷺ يرفع يديه في الدعاء حتى يرى بياض ابطيه ﴾ (رسول الله ﷺ به د دعا په وخت خپل لاسونه دومره اوچتول چه د هغوی د ترخونو سپين والې به ښكاره شو) د سهل بن سعد روايت دي ﴿ قال كان يجعل اصبعيه حذاء منكبيه ويدعو ﴾ (رسول الله ﷺ به د خپلو دواړو لاوسونو د ګوتو سرونه د خپلو اوږو برابر كړل، او بيا به ئې دعا غوښتله دا دواړه روايتونه د مشكوة المصابيح كتاب الدعوات نه منقول دي.

د سهل بن سعد په روايت كښې چه د دعا په وخت د لاسونو د اوچتولو كوم مقدار بيان كړې شوې دي د لاسونو د اوچتولو هم دا اوسط درجه ده او رسول الله ﷺ به د دعاء په وخت اكثر خپل لاسونه دومره اوچتول هر چه دهغې حديث تعلق دي چه د هغې راوی سيدنا انس رضی الله عنه دي د كوم نه چه د لاسونو زيات پورته اوچتول معلوميږی نو دا صورت په بعض اوقاتو باندې محمول دي يعنی چه كله به ئې په دعا كښې زيات استغراق، مبالغه او محويت غرض وو مثلا استسقاء يا د سختو آفتونو او مصيبتونو په وخت نو رسول الله ﷺ به په هغه موقع باندې خپل لاسونه دومره اوچتول چه د ترخونو سپين والې به ئې ښكاره شو.

**د لاسونو اوچتول كله د سنت خلاف دی:** خو يو اشكال باقی پاتې كيږی د ابن عمر رضی الله عنهما نه روايت دي ﴿انه يقول ان رفع ايديكم بدعة ما زاد رسول الله ﷺ على هذا يعني الى الصدر (مشكوة كتاب الدعوات)﴾ اشكال واضح دي چه ابن عمر رضی الله عنهما په دعا كښې لاسونو اوچتولو ته بدعت وائی، شارحين حديث په ځواب كښې وئيلي دی چه ابن عمر رضی الله عنهما د خلقو لاسونو اوچتولو ته بدعت ځكه اووې چه هغه خلقو به خپل لاسونه اكثر وختونو كښې ډير زيات اوچتول او په حالات او مواقع كښې به ئې هيڅ فرق نه كولو حال دا چه هغوی له ښكار وو چه هغوی د يو مقصد لپاره خو لاسونه تر سينې پورې اوچتول او د اوږو پورې د بل مقصد لپاره د اوږو نه پورته اوچتول، دبل مقصد په دې خبره باندې د زيات وضاحت څخه ځان داسې پوهه كړئ چه د رسول الله ﷺ د لاسونو اوچتولو د مقدار فرق د حالاتو او مواقع په اختلاف باندې بنا وو چه هغوی به اكثر خوخپل لاسونه تر سينې پورې اوچتول

خو ابن عمر رضي الله عنهما چه کومو خلقو ته دا تنبيه اوکړه هغوی به د مواقع او حالاتو د اختلاف رعايت نه کولو بلکه په هره موقع باندې او د هرې دعا په وخت به ئې خپل لاسونه ډير زيات پورته اوچتول په دې وجه ابن عمر رضي الله عنهما د هغوی د دې طرز عمل نه د بيزارئ اظهار اوفرمائيلو او دې ته ئې د سنت خلاف اووې.

## بَابُ فِيْ صَلٰوةِ الْجَمَاعَةِ

(۴۸۶) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ هَمَمْتُ اَنْ اٰمُرَ الْمُؤَذِّنَ فَيُؤَذِّنَ ثُمَّ اٰمُرَ رَجُلًا فَيُصَلِّيْ بِالنَّاسِ ثُمَّ اَنْطَلِقُ مَعِيْ بِرِجَالٍ مَعَهُمْ حُزَمُ الْحَطَبِ اِلٰى قَوْمٍ يَتَخَلَّفُوْنَ عَنِ الصَّلٰوةِ فَاُحَرِّقُ عَلَيْهِمْ بُيُوْتَهُمْ بِالنَّارِ. رَوَاهُ الشَّيْخَانِ.

**باب: د جماعت د مانځه په باره کښې:** ۴۸۶: سيدنا ابوهريره رضي الله عنه فرمائي: رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل: بيشکه ما اراده اوکړه چه زه موذن ته اوايم چه هغه اذان اوکړي، بيا يو سړي ته اوايم چه هغه خلقو ته مونځ ورکړي، بيا زه د څه خلقو څخه چا څخه چه د لرګو بارونه وي، د داسې خلقو طرف ته لاړ شم کوم چه د جماعت نه روستو پاتې کيږي، نو د هغوی کورونه په اور باندې اوسيزم.

دا حديث بخاري او مسلم نقل کړې دې.

(۴۸۷) وَعَنْهُ قَالَ اَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ اَعْمٰى فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ! اِنَّهُ لَيْسَ لِيْ قَائِدٌ يَقُوْدُنِيْ اِلَى الْمَسْجِدِ فَسَاَلَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يُرَخِّصَ لَهُ فَيُصَلِّيْ فِيْ بَيْتِهِ فَرَخَّصَ لَهُ فَلَمَّا وَلّٰى دَعَاهُ فَقَالَ هَلْ تَسْمَعُ النِّدَاءَ بِالصَّلٰوةِ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَاَجِبْ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

۴۸۷: سيدنا ابوهريره رضي الله عنه فرمائي: يو نابينا سړی د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کښې حاضريدلو څخه عرض اوکړو، يا رسول الله صلى الله عليه وسلم! ما څخه يوځائې تللو والا هيڅ سړې نشته چه ما د مسجده پورې بوځي، نو هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اجازت طلب کړو چه هغه په خپل کور کښې مونځ اوکړي رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه ته اجازت اوفرمائيلو، چه کله هغه روان شو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه واپس راوغوښتلو او وې فرمائيل: "آيا ته آذان اورې؟" هغه اووې: او جي! رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل: پس هغه قبلوه. (يعنی مسجد ته حاضريږه) دا حديث مسلم نقل کړې دې.

(۴۸۸) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ قَالَ مَنْ سَرَّهُ اَنْ يَلْقَى اللّٰهَ غَدًا مُسْلِمًا فَلْيُحَافِظْ عَلٰى هٰؤُلَاءِ الصَّلَوَاتِ حَيْثُ يُنَادٰى بِهِنَّ فَاِنَّ اللّٰهَ شَرَعَ لِنَبِيِّكُمْ سُنَنَ الْهُدٰى وَاِنَّهُنَّ مِنْ سُنَنِ الْهُدٰى وَلَوْ اَنَّكُمْ صَلَّيْتُمْ فِيْ بُيُوْتِكُمْ كَمَا يُصَلِّيْ هٰذَا الْمُتَخَلِّفُ فِيْ بَيْتِهِ لَتَرَكْتُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ وَلَوْ تَرَكْتُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ لَضَلَلْتُمْ وَمَا مِنْ رَجُلٍ يَتَطَهَّرُ فَيُحْسِنُ الطُّهُوْرَ ثُمَّ يَعْمِدُ اِلٰى مَسْجِدٍ مِّنْ هٰذِهِ الْمَسَاجِدِ اِلَّا كَتَبَ اللّٰهُ لَهُ بِكُلِّ خُطْوَةٍ يَخْطُوْهَا

حَسَنَةً وَّيَرْفَعُهُ بِهَا دَرَجَةً وَّيَحُطُّ عَنْهُ بِهَا سَيِّئَةً وَّلَقَدْ رَأَيْتُنَا وَمَا يَتَخَلَّفُ عَنْهَا إِلَّا مُنَافِقٌ مَّعْلُومُ النِّفَاقِ وَلَقَدْ كَانَ الرَّجُلُ يُؤْتٰى بِهٖ يُهَادٰى بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ حَتّٰى يُقَامَ فِي الصَّفِّ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

۴۸۸ : سيدنا عبدالله بن مسعود ﷺ فرمائی چه کوم سړې په دې خوشحالیږی چه هغه صبا له (یعنی قیامت کښ) الله پاک څخه د مسلمانئ په حالت کښې ملاقات اوکړی، نو هغه دې د دې مونځونو پابندی اوکړی، چیرته چه د دې لپاره راوبللې شی، پس بیشکه الله پاک ستاسو د نبی ﷺ لپاره د هدایت لارې ښکاره کړې دی، او بیشکه دا لارې د هدایت د لارو نه دی، او که تاسو په خپلو کورونو کښې مونځ اوکړو، لکه چه روستو پاتې کیدونکې په خپل کور کښې مونځ کوی نو تاسو د خپل نبی ﷺ طریقه پریخودله، او که تاسو د خپل نبی ﷺ طریقه پریخودله نو تاسو به ګمراه شئ، نشته داسې یو سړې چه په ښهٔ طریقه طهارت حاصل کړی، بیا په دې جماتونو کښې د یو جمات اراده اوکړی مګر الله پاک د هغه لپاره په هر قدم پاندې چه کله هغه روان وی یو نیکی لیکی او یو درجه ئې اوچتوی او یو ګناه ئې معاف کوی او یقینا زه خپل جماعت (صحابه کرام ﷺ) وینم او د دې نه داسې منافق روستو پاتې کیږی چه د هغه منافقت معلوم وی او یو سړې به دوه سړو راوستلو تردې چه هغه به په صف کښې اودرولې شو. دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

(۴۸۹) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ صَلٰوةُ الْجَمَاعَةِ تَفْضُلُ صَلٰوةَ الْفَذِّ بِسَبْعٍ وَّعِشْرِيْنَ دَرَجَةً۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

۴۸۹ : د عبدالله بن عمر ﷺ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : د باجماعت سړی مونځ د ځانله مونځ نه (په ثواب کښ) اویشت درجې زیاتیږی. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۴۹۰) وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ صَلٰوةُ الرَّجُلِ مَعَ الرَّجُلِ أَزْكٰى مِنْ صَلٰوتِهٖ وَحْدَهٗ وَصَلٰوتُهٗ مَعَ الرَّجُلَيْنِ أَزْكٰى مِنْ صَلٰوتِهٖ مَعَ الرَّجُلِ وَمَا كَثُرَ فَهُوَ أَحَبُّ إِلَى اللّٰهِ رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ وَإِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۴۹۰ : د سیدنا ابی بن کعب ﷺ نه روایت دې چه د یو سړی مونځ د یو سړی څخه (یعنی د دواړو سړو باجماعت مونځ کول) زیات غوره دی د ځانله مونځ کولو نه او د دوه کسانو څخه مونځ کول غوره دی د یو سړی د مونځ کولو نه او څومره چه د دې نه زیات شی نو هومره الله پاک ته محبوب دې. دا حدیث ابوداؤد نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۴۹۱) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضْلُ صَلَاةِ الرَّجُلِ فِي الْجَمَاعَةِ عَلٰى صَلٰوتِهِ وَحْدَهٗ بِضْعٌ وَّعِشْرُوْنَ دَرَجَةً۔ رَوَاهُ أَحْمَدُ وَإِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۴۹۱: سیدنا عبدالله بن مسعود ﷺ فرمائی: رسول اللهﷺ اوفرمائیل: د سړی باجماعت مونځ کول د هغه د ځانله مونځ کولو نه د شلو نه څه زیاتې درجې فضیلت لري.

دا حدیث احمد نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۴۹۲) وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تَفْضُلُ صَلٰوةُ الْجَمَاعَةِ عَلٰى صَلٰوةِ الْفَذِّ وَصَلٰوةِ الرَّجُلِ وَحْدَهٗ خَمْسًا وَّعِشْرِيْنَ صَلٰوةً۔ رَوَاهُ الْبَزَّارُ وَإِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۴۹۲: د سیدنا انس ﷺ روایت دې چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل د جماعت څخه مونځ د ځانله مونځ کولو نه او د سړی لپاره د ځانله مونځ کولو نه پنځویشت درجات زیاتیږی.

دا حدیث بزار نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۴۹۳) وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّ اللهَ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى لَيَعْجَبُ مِنَ الصَّلٰوةِ فِي الْجَمِيْعِ۔ رَوَاهُ أَحْمَدُ وَإِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

۴۹۳: امیر المومنین سیدنا عمر بن الخطاب ﷺ فرمائی: ما د رسول اللهﷺ نه واوریدل، بیشکه الله پاک د جماعت څخه مونځ کول خوښوی.

دا حدیث احمد نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۴۹۴) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّ اللهَ عَزَّوَجَلَّ لَيَعْجَبُ مِنَ الصَّلٰوةِ فِي الْجَمِيْعِ۔ رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ وَإِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

۴۹۴: د سیدنا عبدالله بن عمر ﷺ نه روایت دې چه ما د رسول اللهﷺ نه واوریدل، بیشکه الله پاک د جماعت څخه مونځ کول خوښوی. دا حدیث طبرانی نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

**تشریح> جماعت (د جمعې مونځ) د دین محمدیﷺ خاصیت:**

(۴۸۲ نه ۴۹۴ پورې) د باب ټول احادیث د جماعت د مونځ په فضیلت اهمیت او د هغې په احکاماتو باندې مبنی دی. صاحب عنایة لیکلې دی چه جماعت د دین محمدیﷺ په خصائصو کښې دې د دې نه مخکښې په یو دین کښې هم جماعت مشروع نه وو بیا په دې کښې شک نشته چه په شریعت محمدیهﷺ کښې د جماعت ډیر اهتمام کړې شوې دې او کیدل هم پکار دی ځکه چه د مانځه په شان د عظیم عبادت شان هم د دې متقاضی وو چه په هغه څیز څخه د دې تکمیل وی په اعلی درجه باندې اوموندلې شی.

**بیان مذاهب:** د دې په باره کښې د علماء کرامو اختلاف دې چه د جماعت د مانځه څه حکم دې؛

۱: فرض عین دې او دمانځه د صحت لپاره شرط دې **﴿ لا تصح الصلوة بترکها ﴾** دا مسلک د امام احمد، ابن منذر، ابن حبان او داؤد ظاهری ﷺ دې (نیل الاوطار ج ۲ ص ۱۳۱)

**د قائلین فرضیت عین دلائل:** الف: د دې علماء کرامو دلیل د عبد الله بن عباس ﷺ روایت (۴۹۹) دې کوم چه په راروان باب کښې نقل کړې شوې دې. **قال من سمع النداء فلم یأته فلا صلاة الا من عذر ﴾** (ابن ماجة کتاب الصلوة ص ۵۸ **باب التغلیظ فی التخلف عن الجماعة** ..... یعنی د رسول الله ﷺ ارشاد دې چه کوم سړې اذان واوری او د جماعت لپاره حاضر نه شی نو د هغه مونځ نه کیږی خو د څه عذر د وجې نه، علماء کرام د دې په ځواب کښې وائی چه د دې نه خو صرف وجوب ثابتیدلې شی فرضیت نه **﴿ لان الفرض لا یثبت بخبر الواحد ﴾**

ب: د دې حضراتو دویم دلیل هم د دې باب اول روایت ۴۸۲ دې کوم چه ابوهریره ﷺ روایت کړې دې دا روایت امام بخاری ﷺ په کتاب الاذان ج ۱ ص ۸۹ او مسلم په **کتاب المساجد** ج ۱ ص ۲۳۲ کښې تخریج کړې دې، **قال رسول الله ﷺ لقد هممت ان امر المؤذن الخ ﴾** مضمون د حدیث په تحت اللفظ ترجمه کښې بیان کړې شوې دې.

امام ترمذی ﷺ ددې خلقو استدلال بیانولو څخه فرمائی چه که جماعت فرض عین نه وې نو رسول الله ﷺ او د رسول الله ﷺ څخه د مونځ کونکو په سبب به کفایت شوې وې او رسول الله ﷺ به د هغوی په اور کښې د سیزلو اظهار نه کولې (ترمذی ج ۱ ص ۳۰) مسلم ج ۱ ص ۲۳۲ او ابوعوانة ج ۲ ۲۷۵ کښې دا روایت دې **﴿ ثم أحرق البیوت علی من فیها ﴾** نو د سړو سیزل او د هغوی کورونه ایره کول، د رحمة للعالمین ﷺ نه په دې خبره باندې دلیل دې چه د مونځ جماعت فرض عین دې که یو مانع نه وې نو رسول الله ﷺ به دا اراده فرمائیلې وې او دغه مانع په کورونو کښې د ښځو او ماشومانو موجودګی ده پس په **مسند الطیالسی ۳۰۵ او مشکوة ص ۹۷** کښې د مسند احمد په حوالې څخه د ابوهریره ﷺ روایت مرفوعا منقول دې رسول الله ﷺ اوفرمائیل **﴿ لولا فی البیوت من النساء والولدان ﴾** یعنی که په کورونو کښې زنانه او ماشومان نه وې نو ما به اراده پوره کړې وه.

**د قائلین فرضیت عین د دلائلو نه ځوابات:** حافظ ابن حجر ﷺ په **فتح الباری ج ۱ ص ۱۰٤ تا ۱۰۹** کښې په دې باندې بحث کولو څخه د احادیثو څو ځوابات ورکړې دی. ۱: یو دا چه که جماعت فرض عین وې نو رسول الله ﷺ به د دې د پریخودلو اراده نه وه فرمائیلې خو مبارکپوری ﷺ په **تحفة**

الاحوذي ج ۱ ص ۱۸۸ کښې ليکي چه دلته د رسول اللهﷺ په حق کښې ترک جماعت نه لازميږی رسول اللهﷺ به د دې نه روستو باجماعت مونځ ادا کولو زيات نه زيات رسول اللهﷺ د اهم نه ډيراهم څيز طرف ته توجه ورکړه.

۲: حافظ ابن حجرؒ يو ځواب دا هم ورکړې دې چه د رسول اللهﷺ دا فرمان د تشديد او تهديد لپاره وو چه خلق د جماعت په معامله کښې تاخير او سستی اونکړی.

**د ضرورت د وجې نه امام تلې شی:** ﴿ ثم انطلق ﴾ دا حديث په دې خبره باندې هم دلالت کوی چه د امام لپاره دا جائز ده چه هغه د څه عذر په وجه باندې بل څوک قائم مقام کړی او خپله د خپل ضرورت د وجې نه لاړ شی. (مظاهر حق)

**په احراق بالنار باندې اشکال او د هغې ځواب:** ﴿ فاحرق عليهم بيوتهم بالنار ﴾ په ظاهر کښې په دې باندې دا اشکال واردیږی چه د دې روايت د بخاری ج۱ ص ٤١٥ د روايت ﴿ لا يعذب بها الا الله ﴾ څخه تعارض دې ۱: ځواب واضح دې چه په اور کښې رسول اللهﷺ سيزلې نه دی بلکه صرف خواهش ئې کړې دې. لهذا په ﴿لا يعذب بها الله ﴾ څخه د دې مخالفت نه لازميږی، ۲: د دې نه علاوه اول اجازت وو بيا روستو د دې نه نهی راغله.

۲: دويم مذهب د فرض عين دې خو د مانځه د صحت لپاره شرط نه دې، دا د عطاء اوزاعی، ابوثور قول دې او د امام احمد صحيح مذهب هم دا دې د اصحب شافعی ﷺ هم يوقول داسې دې، امام ابن خزيمة، ابن المنذر او شيخ رافعی ﷺ هم د دې قائل دی.

۳: فرض کفايه دې که بعض جماعت اوکړو نو د باقی خلقو نه ګناه ساقط ده، دا د امام شافعیؒ او د هغوی د جمهور اصحاب قول دې (نيل الاوطار ج ۲ ص ۱۳۱) او زمونږ په مشائخو کښې امام کرخی او امام طحاوی ﷺ هم د دې قائل دی.

۴: واجب دې دا د عام مشائخ حنفيه قول دې صاحب بحر، صاحب غنية، صاحب بدائع او صاحب مجتبی وغيره هم دې ته ترجيح ورکړې ده، په بحر الرائق کښې دی چه د اهل مذهب په نزد هم دا روايت قوی دې، د محقق ابن الهمامؒ ميلان هم دې طرف ته معلوميږی.

۵: سنت موکدة واجب ته نزدې دې دا د بعض احنافو قول دې صاحب هداية هم دا اختيار کړې دې په مختصر البحر المحيط کښې دی:

الاکثر علی انها سنة مؤکدة۔ په شرح خواهرزاده کښې دی: سنة مؤکد غاية التاکيد۔ په مجمع الانهر کښې دی: الجماعة سنة مؤکدة ای قريبة من الواجب۔

**وجوب او سنت موکدة**: صاحب بحر فرمائی چه د ادنی وجوب او اعلی سنت موکدة درجه
معلومه شوه چه په سنن موکدة کښې د اعلی درجې سنت دې شیخ زاهدیؒ مجتبی
مختصر القدوری کښې فرمائی چه فقهاء کرامو په تاکید څخه وجوب مراد کړې دې یعنې
خلق چه دې ته سنت موکده وائی د هغوی په قول کښې او کوم خلق چه واجب وائی د هغوی
کښې هیڅ فرق نشته ځکه چه د تاکید نه مراد واجب وی.

۲: مستحب دې د دې دلیل هغه احادیث دی کوم چه په لفظ د فضل څخه راغلې دی
چه هم د دې باب په روایت (۴۸۹) کښې د ابن عمر رضی الله عنهما نه مروی دې ﴿ **صلوة الجماعة تفضل صلوة**
**بسبع وعشرین درجة** ﴾ (رواه البخاری فی کتاب الاذان ج ۱ ص ۸۹ **باب فضل صلوة الجماعة**) خو د اسے
دا قول شاذ او مردود دې ځکه چه په راروان باب کښې ډیر داسې احادیث لیکلې شوې دی
هغې کښې د تارک جماعت متعلق سخت وعیدونه راغلی دی ظاهره ده چه د مستحب په
باندې هیڅ ملامته نه وی.

**سید نا عتبان رضی الله عنه ( نابینا ) ته د جماعت د پریخودلو اجازت او عبدالله بن ام مکتوم رضی الله عنه ( نابینا ) ته**
**جماعت نه پریخودلو تاکید ولې؟**

۴۸۷: د دې باب په دویم روایت کښې کوم چه امام مسلمؒ په خپل صحیح کښې په
**المساجد ج ۱ ص ۲۳۲ په باب فضل صلاة الجماعة** کښې نقل کړې دې، د صحیحین په حدیث
منقول دی چه کله عتبان بن مالک رضی الله عنه د خپل ړوندوالی ګله اوکړه چه د هغې د وجې
حاضرئ نه محروم یم نو رسول الله ﷺ هغوی ته د دې خبرې اجازت ورکړو چه هغوی دې
کور کښې مونځ کوی لهذا د دې نه معلومه شوه چه نابینا سړی ته د جماعت د پریخودلو
دې خو په حدیث الباب کښې په کوم کښې چه د ﴿ **رجل اعمی** ﴾ واقعه بیان کړې شوې
عبدالله بن ام مکتوم رضی الله عنه دې هغوی ته رسول الله ﷺ د جماعت د پریخودلو اجازت ورنکړ
وجه دا ده چه هغه په فضلاء مهاجرین کښې وو د هغوی شان ددې لائق وو چه هغوی په اولو
عمل اوکړی یعنی په جماعت کښې حاضر شی پس رسول الله ﷺ اول هغوی ته اجازت ورکړ
بیا د وحی راتلو یا اجتهاد بدلیدو د وجې نه ئې اجازت واپس واخستلو په دې حدیث کښې
اوریدلو نه پس مسجد کښې د حاضریدلو ضرورت او اهمیت په کمال مبالغه څخه بیان فرمائیلې
شوې دې.

کوم چه امام مسلم رحمه الله په خپل صحيح کتاب المساجد **باب فضل صلاة الجماعة** ج ۱ ص ۲۳۲ کښې تخريج کړې دې نماز باجماعت ته سنت هدی او په کور کښې کولو ته ئې ګمراهی وئيلې ده. هم د دې څخه ابن مسعود رضي الله عنه دا هم اوفرمائيل چه د دې امت په هغه اولين دور کښې کوم چه مثالی او معياری دور وو د منافقانو او مجبور مريضانو نه علاوه به هر مسلمان باجماعت مونځ ادا کولو او د الله پاک بعض صاحب عزيمت بندګانو به د بيمارئ په حالت کښې هم د نورو په آسره باندې راتلو څخه په جماعت کښې شرکت کولو د ابن مسعود رضي الله عنه د دې پوره بيان نه دا خبره واضحه ده چه د جماعت حيثيت د هغوی او د صحابه کرامو په نزد او د عام صحابه کرامو په نزد د سنت موکدة او دينی واجباتو په شان دې پس کومو حضراتو چه د دې روايت الفاظ "سنن الهدی" نه دا اوګنړله چه د جماعت درجه د فقهی اصطلاح مطابق هم د سنت ده غالبا هغوی د غور کولو په وخت د ابن مسعود رضي الله عنه پوره ارشاد مخې ته نه دې کيخودلې.

**د رسول الله ﷺ د افعالو دوه قسمونه:** ﴿ سنن الهدى ﴾ هغه طريقو او لارو ته وائی چه په هغې باندې عمل کول د هدايت سبب او د الله پاک د قرب او د رضا باعث وی د رسول الله ﷺ افعال د دوه نوعيتونو وی يو قسم افعال خو هغه وو کوم چه به رسول الله ﷺ په طريقه د غبادت کول او دويم قسم افعال هغه وو کوم چه به په طريق د عادت کول کوم افعال چه به رسول الله ﷺ په طريقه د عادت کول هغې ته سنن زوائد وئيلې شی او کوم افعال چه به رسول الله ﷺ په طريقه د عبادت کول هغې ته سنن الهدی وائی.بيا د سنن الهدیٰ دوه قسمونه دی.

۱: سنن موکدة : دا د رسول الله ﷺ هغه افعال دی کوم چه رسول الله ﷺ په طريقه د مواظبت کړې دی او خلقو ته ئې هم د هغه افعالو د کولو تاکيد فرمائيلې دې.

۲: سنن غير موکدة : هغه افعال دی کوم چه نه رسول الله ﷺ په طريقه د مواظبت کړې دی او نه به ئې په هغې باندې د عمل کولو لپاره خلقو ته تاکيد کولو.

په دې حديث کښې چه کوم سنن الهدی ذکر فرمائيلې شوې دې د هغې نه مراد سنن موکدة دی کوم حضرات چه جماعت ته واجب وائی دا اصطلاح د هغوی د نقطه نظر هم منافی نه ده ځکه چه لغة واجب هم د سنن هدی په تعريف کښې داخل دی.

**د ابن مسعود رضي الله عنه مشار اليه:** ﴿ كَمَا يُصَلِّي هَذَا الْمُتَخَلِّفُ فِي بَيْتِهِ ﴾ په ظاهر کښې معلوميږی چه دا څوک خاص سړې وو کوم چه به جماعت ته نه حاضريدلو پس ابن مسعود رضي الله عنه د هغه طرف ته اشاره کولو څخه اوفرمائيل چه څنګه دا سړې خپل ځان د جماعت د سعادت نه محروم کولو څخه په کور کښې مونځ کوی دغه شان که تاسو هم په خپلو کورونو کښې مونځ کوئ نو پوهه شئ چه د دې سړی په

شان به ستاسو دا فعل هم د رسول الله ﷺ د سنتو د پریخودلو مترادف وی او ظاهره ده چه د سنتو پریخودونکې سړې د ضلالت او ګمراهئ په په تباه کونکې کنده کښې پریوځی.

**د منافق نه مراد څوک دې ؟:** ﴿ وَمَا يَتَخَلَّفُ عَنْهَا إِلاَّ مُنَافِقٌ ﴾ صاحب عناية فرمائی چه په دې کښې د منافق نه مراد اصطلاحی منافق نه دې کوم چه په زړه کښې کفر ساتی او اسلام ظاهروی ګینې بیا به جماعت فرض شی ځکه چه منافق کافر دې او د کفر ثبوت د غیر فرض په ترک باندې نه راځی بلکه دا چه په دې صورت کښې به آخر د کلام د اول د کلام څخه مناقض وی. **فیکون المراد به العاصی.**

**د علامه عینی رحمه الله استدلال:** علامه عینی رحمه الله د دې حدیث نه استدلال کولو څخه فرمائی چه دا اثر د ابن مسعود رضی الله عنه په دې خبره باندې دال دې چه جماعت سنت موکده دې ځکه چه الحاق د وعید د ترک واجب د وجې نه وی یا د ترک سنت موکده د وجې نه.

**په درجات د افضلیت کښې تفاوت او رفع دتعارض:** ۴۸۹ : د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما په دې روایت، کوم چه امام بخاری رحمه الله په **کتاب الاذان ج۱ ص ۸۹** کښې **مسلم په کتاب المساجد ج ۱ ص ۲۳۱** کښې تخریج کړې دې کښې باجماعت مونځ د ځانله مونځ نه اویشت درجې افضل بیان شوې دې هم په دې باب کښې ۴۹۱ روایت د ابن مسعود رضی الله عنه مروی دې کوم چه امام احمد رحمه الله په خپل **مسند ج ۱ ص ۳۷۶** کښې نقل کړې دې. ﴿ **بضع وعشرون درجة** ﴾ ته افضل وئیلې شوې دې، په روایت ۴۹۲ کښې د انس رضی الله عنه نه مروی دی کوم چه **کشف الاستار عن زوائد البزار ج ۱ ص ۲۲۷** کښې نقل کړې شوې دې باجماعت مونځ د منفرد د مانځه نه ﴿ **خمسا وعشرين صلوة** ﴾ افضل وئیلې شوې دې په دې روایاتو کښې په ظاهره تعارض دې علماء او شارحین حدیث د دې ډیر ځوابونه کړې دی د ځواباتو نه مخکښې دې تمهیدی ګزارش هم ملحوظ وی.

**د مونځ په خواص او اثرات کښې تفاوت:** څنګه چه زمونږ په دې مادی دنیا کښې د څیزونو په خواص او اثراتو کښې د درجو او نمبرو فرق وی او د هغې په بناء باندې د هغه څیزونو افادیت او قدروقیمت کښې هم فرق راځی هم دغه شان په اعمالو کښې هم د نمبرو او درجاتو فرق وی او د هغې صحیح او تفصیلی علم بس صرف الله پاک ته دې چه کله د یو عمل متعلق دا فرمائی چه دا د فلانی عمل په مقابله کښې دومره درجې افضل دې نو هغه د دې انکشاف په بنیاد فرمائی کوم چه د الله پاک د طرف نه هم په دې سلسله کښې په حضور ﷺ باندې کولې شی پس د رسول الله ﷺ دا ارشاد فرمائیل چه د باجماعت مونځ فضیلت د ځانله کولو په مقابله کښې ۲۵ یا ۲۷ درجې زیات دې او د هغې ثواب ۲۵ یا ۲۷ درجې زیات ملاویدونکې دې هغه حقیقت دې کوم چه الله پاک په

رسول الله ﷺ باندې منکشف فرمائيلي دي او هغوی اهل ايمان ته بيان فرمائيلي دې د دې حديث نه ضمنا دا هم معلومه شوه چه د ځانله مونځ کونکی مونځ هم بالکل کالعدم نه دې هغه هم ادا کيږی خو په ثواب کښې ۲۵ يا ۲۷ درجې کمې وی او دا هم يقينا ډيره لويه خساره ده او ډيره محرومی ده په دې ځخه د قائليت فرضيت ﴿لا تصح الصلوة بتركها﴾ رد هم کيږی.

**د اويشت د عدد په تخصيص کښې علمی نکته**: د ۲۷ عدد د تخصيص په باره کښې حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح البارى کښې د علامه بلقينی رحمه الله نه يو لطيف نکته نقل کړې ده هغوی فرمائی چه د جماعت ادنی اطلاق په دريو باندې کيږی لهذا يو جماعت به اصل کښې په دريو نيکو باندې مشتمل وی ﴿ وكل حسنة بعشر امثالها ﴾ دغه شان دا درې نيکئ د خپل فضيلت په اعتبار ځخه د ديرشو نيکو برابر وی او د ديرشو عدد د اصل او فضيلت دواړو مجموعه ده چه د هغې نه اصل يعنی درې ويستلې شی نو عدد فضيلت اويشت پاتې کيږی. دا توجيه د هغه رواياتو په باره کښې ده چه په هغې کښې سبع وعشرين عدد مذکور دې خو په نورو رواياتو کښې په کوم چه خمس وعشرين راغلې دې هغه په دې حساب باندې نه پوره کيږی.

**په متعارض رواياتو کښې تطبيق او توفيق:**

بهر حال په دواړو روايتونو کښې د تطبيق لپاره ځو وجوه بيان کړې شوې دی.

۱: ابن دقيق العيد په احکام الاحکام ج... ص ۷۶ کښې ليکی چه جزو لوئې وی او درجه وړه وی، که جزو پريخودلو ځخه درجې جوړې کړې شی نو اويشت درجې جوړيږی او که درجې پريخودلو ځخه اجزاء جوړ کړې شی نو د هغې برعکس به پنځويشت جوړې شی، نتيجه د دواړو يوه ده.

۲: يو وجه دا هم بيان کړې شوې ده چه په مونځ مونځ کښې فرق دې مثلا د قرأت والا جهری مونځ کښې اويشت درجې او په سری مونځ کښې پنځويشت درجې وجه ښکاره ده چه په جهری کښې استماع د قرأت ده او په دويم کښې نشته.

۳: بعض حضراتو د اوقاتو او اشخاصو فرق هم ښکاره کړې دې او قرب او بعد ئې هم ملحوظ ساتلې دې مثلا که معذور، بوډا، ړوند او صاحب عوارض مسجد ته راځی او باجماعت مونځ ادا کوی نو هغه ته به اويشت درجې ثواب ملاويږی او کوم انسان چه په دې صفاتو ځخه موصوف نه دې هغه ته به پنځويشت درجې ثواب ملاويږی هم دغه شان په سخته يخنئ يا سخته ګرمئ او سخته تيارۀ کښې راتلونکی ته به اويشت درجې او د دې برعکس ته به پنځويشت درجې ثواب ملاويږی هم دغه شان د لرې نه راتلونکی ته به اويشت درجې او نزدې راتلونکی ته به ۲۵ درجې ملاويږی هم دغه شان بعض حضراتو د اخلاص د کمی و بيشی په لحاظ ځخه د درجاتو د تفاوت

اعتبار کړې دې. (کذا فی تعلیق المحمود ج ۱ ص ۸۲)

۴: بعض حضرات فرمائی چه عدد اقل، د اکثر نفی نه کوی یا اختلاف په اعتبار د خشو خضوع څخه دې، بعضو وئیلې دی چه ۲۵ درجات د مسجد محله لپاره او ۲۷ درجات د جر مسجد لپاره دې.

۵: حافظ ابن حجر رحمه الله یو بل ځواب هم ورکړې دې کوم چه د دې نه ماقبل د حافظ بلقینی رح د ذکر کړې شوې توجیه مشابه دې هغوی فرمائی چه ادنی ترین جماعت په دوه کسانو باند مشتمل وی یو امام او یو مقتدی لهذا په کومو روایاتو کښې چه د ۲۵ عدد مذکور دې هغ صرف اجر دفضیلت بیان کړې شوې دې او په ۲۷ والا روایاتو کښې د اجر دفضیلت څخه د د کسانو اصل اجر هم شامل کړې شوې دې دغه شان هغه اویشت شو.

**د جماعت فضیلت د مسجد څخه خاص نه دې:** دې باره کښې د علماء کرامو اختلاف دې چه د ثواب زیادت دا فضیلت د دې جماعت د هغه جماعت د مانځه څخه خاص دې کوم چه په مسجد کښ ادا کولې شی یا که د هغه جماعت د مانځه لپاره هم دې کوم چه په جماعت کښې نه بلکه په کو وغیره کښې ادا کړې شی پس د بعض علماء کرامو رائې دا ده چه دا فضیلت خو د مسجد د مانځ څخه مختص دې خو د بعض نورو علماء کرامو قول دې چه دا فضیلت عمومی طور د هر جماعت لپاره دې که په مسجد کښې ادا کیدونکې جماعت وی یا د مسجد نه علاوه په بل څه ځائې باندې

**د جماعت لپاره کثرت تعداد ضروری نه دې:** ۴۹۰ : د ابی بن کعب رضی الله عنه دا روایت **ابوداؤد کتاب الص باب فی فضل الجماعة ج ۱ ص ۸۲** کښې تخریج کړې شوې دې مطلب واضح دې چه د جماعت د انعق لپاره ضروری نه ده چه په ډیر لوئې تعداد کښې دې خلق وی یا د کم از کم درې کسانو کیـ ضروری دی بلکه که صرف دوه کسان وی او په هغوی کښې یو امام جوړ شی او دویم مقتدی دغه شان دواړه یو ځائې مونځ اوکړی نو دواړو ته به د جماعت د مانځه ثواب ملاؤ شی او انفرادی مونځ نه د دوه کسانو جماعت بهر حال غوره او افضل دې.

**د جماعت حکمتونه او فوائد:** (۴۹۳، ۴۹۴) اول روایت، د عمر رضی الله عنه نه دې کوم چه امام احمد پ خپل **مسند ج ۲ ص ۵۱** کښې تخریج کړې دې دویم روایت کوم چه د ابن عمر رضی الله عنهما نه دې کوم چه اما، هیثمی رحمه الله په مجمع الزوائد **کتاب الصلوة باب الصلوة الجماعة** ج ۳ ص ۳۹ کښې نقل کړې دې د دواړو مضمون یو دې. جماعت بهر حال الله پاک ته خوښ دې د دې حکمتونه څه دی؟ د دې څه فائدې مرتب کیږی په دې موضوع باندې علماء کرامو ډیر څه لیکلې دی خو په دې سلسله کښې د امام

الکبیرشاه ولی الله محدث دهلوی رحمه الله چه کوم لطیف او جامع خبره لیکلې ده هغه چیرته هم نه ښکاره کیږی پس هغوی فرمائی:

"هیڅ یو څیز د دې نه زیات فائده مند نشته چه یو عبادت داسې عام کړې شی چه هغه عبادت یو خوضروری شی چه د هغې پریخودل د یو عادت د پریخودلو په شان ناممکن شی او په ټولو عبادتونو کښې د مانځه په شان عظیم او شاندار عبادت نشته چه دې څخه دا خاص اهتمام اوکړې شی"

۱: په مذهب کښې هر قسم خلق وی جاهلان هم او علماء هم لهذا د اهم ډیره د مصلحت خبره ده چه ټول خلق دې جمع کیدو څخه دا عبادت ادا کړی او که د چا نه څه غلطی اوشی نو بل ورته اووائی ګویا د الله پاک عبادت یو کالې شو چه ټول اچونکی هغه وینی کوم خرابې چه په هغې کښې وی هغه ورته ښائی او کوم غوره والې چه پکښې وی هغه خوښوی دا به د مانځه د اصلاح یو ذریعه وی.

۲: کوم حلق چه مونځ نه کوی د هغوی حال به هم د دې نه معلوم شی او هغوی ته به د وعظ او نصیحت کولو موقع ملاوشی.

۳: د ځو مسلمانانو یو ځائې کیدو څخه د الله پاک عبادت کول او د هغه نه دعا غوښتل د الله پاک د رحمت د نزول سبب او د قبولیت لپاره یو عجیب اهمیت لری.

۴: د دې امت په ذریعه د الله پاک مقصود دا دې چه د هغه نوم اوچت شی او د کفر کلمه ښکته شی او د زمکې په سر باندې هیڅ مذهب د اسلام نه غالب نه شی او دا خبره هله کیدې شی چه دا طریقه مقرر کړې شی چه ټول مسلمانان به که د هرې درجې او هرې طبقې وی، عام او خاص مسافر او مقیم، واړهٔ او لوئې ټول د خپل څه لوئې او مشهور عبادت لپاره جمع شی او د اسلام شان و شوکت او د هغې عظمت په خپل اجتماعیت څخه ښکاره کړی، او هم د دې مصالحو د وجې نه د شریعت پوره توجه د جماعت طرف ته مصروف شوه او د دې ترغیب ورکړې شو او د دې د پریخودلو نه منع اوکړې شوه.(حجة الله البالغه)

۵: په جماعت کښې دا فائده هم ده چه ټول مسلمانان به د یو بل د حال نه خبریږی، او د یو بل په درد او مصیبت کښې به شریک وی چه د هغې په ذریعه به د دینی اخوت او ایمانی محبت پوره اظهاراو استحکام وی کوم چه د دې شریعت یو لوئې مقصود دې او د کوم تاکید او فضیلت چه ځائې په ځائې په قرآن کریم اوپه احادیثو دنبی کریم ﷺ کښې بیان فرمائیلې شوې دې. (علم الفقه)

د موجوده زمانې د نظریاتی منډې مطابق که اوکتلې شی نو د جماعت اسلام د نظریه مساوات د ټولو نه اعلی مظهر دې په ورځ کښې پنځه کرته د الله پاک ټول بندګان کوم چه دنیاوی اعتبار څخه په هر منصب او مرتبه باندې وی خپل ټول فوقیت او برتری خپل دنیاوی مرتبه یو اړخ

ته كولو څخه د الله پاک په دربار كښې د عام مسلمانانو څخه يو ځائې سر په سجده شي او په زبانِ حال څخه د دې خبرې اقرار كوي:

ایک ہی صف میں کھڑے ہو گئے محمود و ایاز    نہ کوئی بندہ رہا اور نہ کوئی بندہ نواز

## بَـابُ تَرْكِ الْجَمَاعَةِ لِعُذْرٍ

(۴۹۵) عَنْ نَّافِعٍ اَنَّ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَذَّنَ بِالصَّلٰوةِ فِي لَـيْلَـةٍ ذَاتَ بَرْدٍ وَّرِيْحٍ ثُمَّ قَالَ اَلَا صَلُّوْا فِي الرِّحَالِ ثُمَّ قَالَ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَاْمُرُ الْمُؤَذِّنَ اِذَا كَانَتْ لَيْلَةٌ ذَاتُ بَرْدٍ وَّمَطَرٍ يَقُوْلُ اَ لَا صَلُّوْا فِي الرِّحَالِ۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

**باب: د عذر د وجې نه د جماعت پريخودل: ۴۹۵**: د نافع نه روايت دې چه ابن عمر رضي الله عنهما په يو سخته يخه او تيزې هوا والا شپه كښې د مانځه لپاره اذان اوكړو، بيا ئې اووې: خبردار! په خپلو خپلو كورونو كښې مونځ ادا كړئ. بيشكه رسول الله ﷺ به چه كله سخته يخه او د باران والا شپه وه نو موذن ته به ئې فرمائيل چه دا اوايه: خبردار! په خپلو خپلو كورونو كښې مونځ ادا كړئ.
دا حديث شيخينو نقل كړې دې.

(۴۹٦) وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا وُضِعَ عَشَآءُ اَحَدِكُمْ وَاُقِيْمَتِ الصَّلٰوةُ فَابْدَأُوْا بِالْعَشَآءِ وَلَا يُعَجِّلْ حَتّٰى يَفْرُغَ مِنْهُ وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يُوْضَعُ لَـهُ الطَّعَامُ وَتُقَامُ الصَّلٰوةُ فَلَا يَاْتِيْهَا حَتّٰى يَفْرُغَ وَاَنَّـهُ لَيَسْمَعُ قِرَآءَةَ الْاِمَامِ۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

۴۹٦: سيدنا ابن عمر رضي الله عنهما فرمائي: رسول الله ﷺ اوفرمائيل: چه كله په تاسو كښې د چا لپاره د شپې دوډئ كيخودلې شي، او جماعت اودريږي نو اول خوراک شروع كړئ، تندي مه كوئ، ترڅو چه د خوراک نه فارغ شوې نه وي، د ابن عمر رضي الله عنهما لپاره به خوراک كيخودلې شو او مونځ به اودريدلو، او د مانځه لپاره به نه راتلو، تردې چه د هغې نه به فارغ شو، او د امام قرأت به ئې اوريدلو. دا حديث شيخينو نقل كړې دې.

(۴۹۷) وَعَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَا صَلٰوةَ بِحَضْرَةِ الطَّعَامِ وَلَا وَهُوَ يُدَافِعُهُ الْاَخْبَثَانِ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

۴۹۷: ام المومنين سيده عائشه رضي الله عنها فرمائي: ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل هغوی فرمائيل: د خوراک په موجودګئ كښې (چه كله سخته لوږه وي) مونځ نه كيږي او نه هغه وخت چه كله هغه لره بول و براز پريشانه كوي. دا حديث مسلم نقل كړې دې.

(۴۹۸) وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ اَرْقَمَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اِذَا اَرَادَ اَحَدُكُمْ اَنْ يَّذْهَبَ اِلَى الْخَلَآءِ وَاُقِيْمَتِ الصَّلٰوةُ فَلْيَبْدَأْ بِالْخَلَآءِ۔ رَوَاهُ الْاَرْبَعَةُ وَصَحَّحَهُ التِّرْمَذِيُّ۔

۴۹۸: سيدنا عبدالله بن ارقم رضی الله عنه فرمائي چه ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل هغوی اوفرمائيل : چه کله تاسو کښې څوک بيت الخلاء ته د تلو اراده اوکړی او مونځ اودريږی، نو اول دې د بيت الخلاء نه فارغ شی. دا حديث اصحاب اربعه نقل کړې دې او ترمذی دې ته صحيح وئيلې دې.

(۴۹۹) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ سَمِعَ النِّدَآءَ فَلَمْ يَأْتِهِ فَلَا صَلٰوةَ اِلَّا مِنْ عُذْرٍ۔ رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ وَابْنُ حِبَّانَ وَالدَّارَقُطْنِيُّ وَالْحَاكِمُ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۴۹۹: د ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : کوم سړی چه آذان واوريدلو او د جماعت لپاره حاضر نه شو، نو د هغه مونځ نه قبليږی، مگر د عذر د وجې نه.

دا حديث ابن ماجه، ابن حبان، دارقطني او حاکم نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

**تشريح**›(۴۹۵ نه ۴۹۹ پورې) لکه چه د دې نه په مخکښې باب کښې ثابته شوې ده چه هر عاقل بالغ غير معذور باندې جماعت واجب دې خو که يو سړې معذور وی او داسې عذر ورته راغلې وی چه د هغې د وجې نه هغه مسجد ته تلو څخه جماعت کښې نه شی شريکيدلې نو د هغه لپاره جماعت واجب نه پاتې کيږی په دې باب کښې هم د داسې قسم عذرونو بيان دې فقهاء کرامو د ترک جماعت لپاره پنځلس عذرونه ليکلې دی. د اعذارو د بيان نه مخکښې د احاديث الباب مختصر توضيح پيش کوو.

**د نافع رحمه الله د روايت تشريح:** ۴۹۵: د نافع رحمه الله دا روايت امام بخاری په خپل صحيح کتاب الاذان **باب الرخصة فی المطر والعلة** ج ۱ ص ۹۲ کښې تخريج کړې دې د حديث مضمون د لفظی ترجمې نه ښکاره دې چه د دې نه غير معمولی او خطرناک قسم يخنی او هوا مراد ده او په دې صورت کښې هم دا حکم دې هم دغه شان که باران دومره وی چه مسجده پورې تلو کښې د لونديدلو ويره وی يا په لاره کښې اوبه يا خټې يا د خوئيدو ويره وی نو بيا هم دا حکم دې يعنی اجازت دې چه مونځ دې په کور کښې اوکړې شی په داسې ټولو صورتونو کښې په جماعت کښې حاضری ضروری نه وی.

**د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما روايت او د معمول توضيح:** ۴۹۲: دا روايت هم د ابن عمر رضی الله عنهما نه مروی دې کوم چه امام بخاری رحمه الله په خپل صحيح کتاب الاذان **باب اذا حضر الصلوة** ج ۱ ص ۹۲ او امام مسلم په خپل صحيح کتاب المساجد **باب کراهة الصلوة بحضرة الطعام** ج ۱ ص ۲۰۸ کښې تخريج کړې شوې دې.

شارحين حديث ليکلې دی او حقيقت هم دا دې چه دا حکم په هغه صورت کښې دې چه

کله انسان ته د لوږې او خوراک ضرورت وی او خوراک ورته مخامخ کیخودلې شوې وی په داسې حالت کښې که انسان ته حکم ورکړې شی چه هغه دې ډوډئ پرېږدی او په مانځه کښې شریک شی نو د دې کافی امکان دې چه د هغه په زړه کښې به مونځ کولو څخه ډوډئ ته توجه هم وی په دې وجه په دې صورت کښې د شریعت دحکم او حکمت تقاضا دا ده چه هغه دې اول د خوراک نه فارغ شی د هغې نه روستو دې مونځ اوکړی.

د صحیح بخاری او مسلم په دې حدیث کښې د راوی عبد الله بن عمر رضی الله عنهما متعلق نقل کړې شوې دی ﴿ وکان ابن عمر رضی الله عنهما الخ ﴾ چه خپله به هغوی څخه هم دغه شان اتفاق راتلو چه د هغوی مخې ته به ډوډئ کیخودلې شوه او په مسجد کښې به جماعت اودریدلو نو په داسې صورت کښې به هغوی ډوډئ پریخودلو څخه منډه نه کوله بلکه خوراک به ئې کولو حال دا چه (د کور مسجد ته د نزدې والی د وجې نه به) د امام قرأت اوریدلې کیدو خو هغوی به د ډوډئ د فراغت نه پس مونځ کولو دې څخه دې دا هم ملحوظ وی چه عبد الله بن عمر رضی الله عنهما د شریعت او سنت ډیر سخت پابند بلکه محبت کونکې وو د هغوی دا طرز عمل خپله د هغوی د روایت کړې شوې وی پورته حدیث د وجې نه وو.

**په شریعت کښې دا انسانی مشکلاتو او فطری تقاضو لحاظ:** (۴۹۷، ۴۹۸) د عائشې رضی الله عنها روایت کوم چه امام مسلم په خپل صحیح **کتاب المساجد باب کراهة الصلوة** ج ۱ ص ۲۰۸ کښې نقل کړې دې او د عبد الله بن ارقم رضی الله عنه روایت امام ترمذی رحمه الله په **ابواب الطهارة** ج ۱ ص ۳۶ کښې تخریج کړې دې.

مطلب دا دې چه یو سړی ته خوراک کیخودلې شی یا هغه ته د بول وبراز حاجت وی نو هغه له هم هغه وخت مونځ نه دی کول پکار بلکه هغه دې د دغه څیزونو نه فارغ کیدو څخه مونځ اوکړی، علامه نووی رحمه الله فرمائی چه کله د چا مخې ته ډوډئ کیخودلې شی او د هغه ډوډئ ته خواهش هم وی یا ئې هم دغه شان د بول و براز ضرورت وی نو په دغه صورت کښې مونځ کول مکروه دی او ریح او قئ هم په دې حکم کښې دې چه د هغې په بندولو څخه دې مونځ نه کوی ځکه چه د هغې د وجې نه په مانځه کښې د قلب حاضریدل او خشوع و خضوع باقی نه پاتې کیږی چه د هغې په وجه باندې به مونځ کامل طور نه ادا کیږی خو په دې ټولو صورتونو کښې د وخت وسعت شرط دې که وخت تنګ وی نو په هر صورت کښې مونځ مخکښې کول پکار دی.

او په دې احادیثو کښې طوفانی هوا یا باران یا د سختې یخنئ وختونه یا د خوراک څکاک او بول و براز د تقاضې په حالت کښې چه د جماعت نه د غیر حاضرئ او د ځانله مونځ کولو کوم اجازت ورکړې شوې دې دا د دې واضح مثال دې چه په شریعت کښې د انسانانو د حقیقی

مشکلاتو او مجبوریانو څومره لحاظ ساتلې شوې دې.

﴿ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ ﴾ (الله پاک په دين کښې ستاسو لپاره تنګ والې او مشکل نه دې کيخودلې).

**د جمهورو په نزد د فلا صلوة مطلب**: ۴۹۹ : د ابن عباس رضی الله عنهما دا روايت حاکم په مستدرک کتاب الصلوة ج ۱ ص ۲۴۵ کښې تخريج کړې دې ددې حديث اجمالی بحث او په حيثيت د مستدل کيدو څه توضيح په مخکښې باب کښې عرض کړې شوې ده په دې کښې هم د تارکين جماعت لپاره سخت وعيد او تهديد دې د بعض ائمة سلف مذهب هم د دې حديث په بناء دې چه جماعت د اودس وغيره په شان د مونځ په شرائطو کښې دې او د غير معذور سړی مونځ د جماعت نه بغير د څخه کيږی نه خو د جمهورو امامانو مذهب دا نه دې د هغوی په نزد داسې مونځ کيږی خو ډير ناقص وی او د دې ثواب ډير کم وی د جمهورو په نزد د نه مقبول کيدو مطلب هم دا دې او بل د دې احاديثو نه په کوم کښې چه د باجماعت مونځ او بې جماعته مونځ د ثواب کمې بيشې بيان کړې دې هغې نه د جمهورو د مسلک تائيد کيږی خو دا يو حقيقت دې چه بغير د عذر نه ترک جماعت ډيره لويه محرومی او بدبختی ده.

**د ترک جماعت عذرونه** : لکه څنګه چه بيان شوې ده چه په هر عاقل، بالغ او غير معذور باندې جماعت واجب دې خو که يو سړې معذور وی هغه ته داسې عذر پيښ شوې وی چه د هغې په وجه باندې هغه مسجد ته تلو څخه جماعت کښې نه شی شريکيدلې نو د هغه لپاره جماعت واجب نه دې پس فقهاء کرامو د ترک جماعت پنځلس عذرونه بيان کړی دی.

۱ : د مونځ د صحيح کيدو د څه شرط مثلا طهارت يا ستر عورت وغيره نه موندل.

۲ : د باران ډير په زور څخه راوريدل، په دې سلسله کښې امام محمد رحمه الله په خپل کتاب موطاء کښې ليکلې دی چه اګر چه د سخت باران په صورت کښې د جماعت لپاره نه تلل جائز دی خو بهتره هم دا ده چه د جماعت څخه دې مونځ اوکړی.

۳ : د مسجد په لاره کښې د سختو ختو کيدل.

۴ : يخنی دومره زياته وی چه په بهر وتلو يا مسجد پورې تللو کښې د څه بيمارئ د پيدا کيدو يا زياتيدو ويره وی.

۵ : مسجد ته تلو څخه د مال او اسباب د غلا کيدو ويره وی.

۶ : مسجد ته تلو کښې د چا دشمن د ملاويدو ويره وی.

۷ : مسجد ته تلو کښې د يو قرض خواه د ملاويدو او دهغه نه د تکليف ملاويدو ويره وی

په دې شرط چه د قرض په ادا کولو باندې قادر نه وی که وی نو هغه به ظالم گنړلې کيږی او هغه ته به د ترک جماعت اجازت نه وی.
۸ : شپه دومره تیارۀ وی چه لاره ورته نه ښکاری په داسې حالت کښې دا ضروری نه ده چه لالټین وغیره دې ځان څخه یو سی. ۹ : د شپې وخت وی او سیلۍ ډیره سخته چلیږی.
۱۰ : د یو مریض خیال ساتل وی چه جماعت ته په تلو څخه د هغه مریض د تکلیف یا د وحشت ویره وی. ۱۱ : د بول وبراز تقاضه وی.
۱۲ : د سفر اراده لری او ویره وی چه جماعت څخه مونځ کولو باندې به ناوخته شی او قافله به اوځی، د ریل مسئله هم په دې باندې قیاس کیدې شی خو فرق دومره دې چه هلته د یو قافلې نه پس بله قافله ډیرې ورځې پس ملاویږی او دلته ریل خو کرته ځی که یو وخت ریل ملاؤ نه شو نو بل وخت تلې شی خو که دغه شان څه نقصان وی نو په جماعت پریخودلو کښې څه گناه نشته.
۱۳ : فقه وغیره لوستلو یا ښودلو کښې داسې مشغول وی چه بالکل نه فارغیږی.
۱۴ : یو داسې بیماری مثلا فالج وغیره وی یا دومره کمزورې وی چه په تلو باندې قادر نه وی یا نابینا وی اگر چه هغه ته مسجد ته د بوتلو پورې څوک ملاؤ شی یا شل وی یا ئې د دواړو طرفونو نه لاس خپې پرې شوې وی.
۱۵ : خوراک تیار وی یا تیاریدو ته نزدې وی او داسې اوږې شوې وی چه په مانځه کښې ئې د زړه نه لگیدو ویره وی.

**د علامه انور شاه کشمیری رحمه الله یو علمی توجیه :** بهر حال که د ترک جماعت باندې وعید والا احادیثو باندې نظر اوکړې شی نو د جماعت فرض او واجب په شان درجه ښکاره کیږی که په دې احادیثو باندې نظر اوکړې شی چه په هغې کښې په ظاهره د معمولی عذرونو په سبب هم د ترک جماعت گنجائش راوځی لکه چه ددې باب د روایاتو نه هم دا مدلول دې نو د دې درجه به سنت منل وی دا خو مخکښې هم عرض کړې شوې دی چه د امام صاحب رحمه الله مشهور قول د وجوب دې او امام شافعی رحمه الله دې ته فرض کفایه او فرض او سنت علی العین منی، امام صاحب رحمه الله هم یو روایت د دې موافق دې بیا د هر یو په نزد د ترک جماعت څه اعذار دی او دهغې باب ډیر وسیع دې علامه انور شاه کشمیری رحمه الله فرمائی چه دا اختلاف په اصل کښې د تعبیر اختلاف دې د مآل په اعتبار څخه زیات فرق نشته ځکه چه د روایاتو نه یو طرف ته د جماعت په معامله کښې تغلیظ او تشدید معلومیږی بل طرف ته د معمولی اعذارو د وجې نه د ترک جماعت اجازت هم مفهوم کیږی که اول قسم روایاتو ته اوکتلې شی نو معلومیږی چه د دې درجه د فرض او واجب نه کمه نه دی کیدل پکار او که دویم قسم روایاتو ته اوکتلې شی نو د دې درجه دومره اوچته نه ښکاره

کبيرې پس حنابله او احنافو داسې اوکړل چه اول قسم روايات ئې اصل منلو څخه جماعت نه خو فرض او واجب اووې خو د نورو رواياتو د وجې نه ئې د اعذار ترک جماعت باب وسيع کړو او شوافعو د دې برعکس جماعت ته سنت وئيلو څخه د اعذارو دائره تنګه کړه لهذا د مآل په اعتبار څخه زيات فرق نشته.

## بَـابُ تَسْوِيَةِ الصُّفُوْفِ

(۵۰۰) عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ اُقِيْمَتِ الصَّلٰوةُ فَاَقْبَلَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ بِوَجْهِهٖ فَقَالَ اَقِيْمُوْا صُفُوْفَكُمْ وَتَرَاصُّوْا فَاِنِّيْ اَرَاكُمْ مِّنْ وَّرَآءِ ظَهْرِيْ ـ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَفِيْ رِوَايَةٍ لَّهُ وَكَانَ اَحَدُنَا يُلْزِقُ مَنْكِبَهٗ بِمَنْكِبِ صَاحِبِهٖ وَقَدَمَهٗ بِقَدَمِهٖ ـ

**باب: صفونه نيغول:** ۵۰۰: سيدنا انس بن مالک رضی الله عنه فرمائي: د مانځه لپاره اقامت اوکړې شو، نو رسول الله ﷺ مخ مبارک زمونږ طرف ته راواړلو او وې فرمائيل: صفونه نيغ کړئ او يو ځائې اودريږئ بيشکه زه تاسو خپل شاته وينم.دا حديث بخاري نقل کړې دې او د بخاري په يو روايت کښې دی ؛او په مونږ کښې به هر يو خپله اوږه د خپل ملګرې د اوږې څخه او خپل قدم د ملګرې د قدم څخه يوځائې کولو.

(۵۰۱) وَعَنْ اَبِيْ مَسْعُوْدِنِ الْاَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْسَحُ مَنَاكِبَنَا فِي الصَّلٰوةِ يَقُوْلُ اسْتَوُوْا وَلَا تَخْتَلِفُوْا فَتَخْتَلِفَ قُلُوْبُكُمْ لِيَلِيَنِيْ مِنْكُمْ اُولُو الْاَحْلَامِ وَالنُّهٰى ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ، قَالَ اَبُوْمَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَاَنْتُمُ الْيَوْمَ اَشَدُّ اِخْتِلَافًا رَوَاهُ مُسْلِمٌ ـ

۵۰۱: سيدنا ابومسعود الانصاری رضی الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ به په مانځه کښې زمونږ په اوږو لاس وهلو، فرمائيل به ئې نيغ اوسيږئ او اختلاف مه کوئ، ګينې ستاسو زړونه به مختلف شي او پکار ده چه په تاسو کښې د عقل او پوهې والا ما څخه نزدې اودريږی او بيا هغه کوم چه هغوی څخه اودريږی (يعنی واړهٔ) بيا هغوی کوم چه هغوی څخه ملاويږی، ابومسعود رضی الله عنه اوفرمائيل پس تاسو نن په اختلاف کښې زيات سخت يئ.دا حديث مسلم نقل کړې دې.

(۵۰۲) وَعَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رُصُّوْا صُفُوْفَكُمْ وَقَارِبُوْا بَيْنَهَا وَحَاذُوْا بِالْاَعْنَاقِ فَوَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ اِنِّيْ لَاَرَى الشَّيْطٰنَ يَدْخُلُ مِنْ خِلَلِ الصَّفِّ كَاَنَّهَا الْحَذَفُ ـ رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَصَحَّحَهُ ابْنُ حِبَّانَ ـ

۵۰۲: د انس بن مالک رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: خپل صفونه برابر کړئ او هغه نزدې کړئ (او صفونه) ستونو څخه برابر کړئ، پس قسم دې په هغه ذات د چا په لاس کښې چه

زما نفس دې، بيشکه زه شيطان وينم چه هغه د صف ترمينځه داخليږي ګويا هغه د ګډې وړوکې بچې دې.دا حديث ابوداؤد نقل کړې دې او ابن حبان ورته صحيح وئيلې دې.

(۵۰۳) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَقِيْمُوا الصُّفُوْفَ وَحَاذُوْا بَيْنَ الْمَنَاكِبِ وَسُدُّوا الْخَلَلَ لِيْنُوْا بِاَيْدِيْ اَخْوَانِكُمْ وَلَا تَذَرُوْا فُرُجَاتٍ لِّلشَّيْطٰنِ وَمَنْ وَّصَلَ صَفًّا وَصَلَهُ اللّٰهُ وَمَنْ قَطَعَ صَفًّا قَطَعَهُ اللّٰهُ۔ رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَصَحَّحَهُ ابْنُ خُزَيْمَةَ وَالْحَاكِمُ۔

۵۰۳: د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : صفونه نيغ کړئ، او اوږې برابر کړئ، او خالي ځايونه بند کړئ، د خپلو رونړو په لاسونو کښې نرم شئ او د شيطان لپاره خالي ځائې مه پريږدئ، کوم سړې چه د صف څخه ملاؤ شو الله پاک به ئې يوځائې کړي او چا چه صف پرې کړو ، الله پاک به هغه پرې کړي.

دا حديث ابوداؤد نقل کړې دې، ابن خزيمة او حاکم دې ته صحيح وئيلې دې.

**تشريح> په جماعت کښې صفونه جوړول:** (۵۰۰ نه ۵۰۳ پورې) د مونځ لپاره چه کوم اجتماعي نظام د جماعت په شکل کښې تجويز کړې شوې دې د هغې لپاره رسول الله ﷺ د تعليم دا طريقه اوفرمائيله چه خلق صفونه اودرولو څخه برابر اودريږي، ظاهره ده چه د مانځه په شان اجتماعي عبادت لپاره د دې نه زياته ښکلې او سنجيده او د دې نه غوره بل صورت نه شي کيدې بيا د دې د تکميل لپاره رسول الله ﷺ تاکيد اوفرمائيلو چه صفونه بالکل نيغ وي يو سړې نه يو انچ وړاندې وي او نه شاته، اول دې ړومبې صف پوره کړې شي د هغې نه روستو دې باقي صفونه شروع کړې شي، مشران، ذمه دار او اصحاب علم وفهم دې په وړاندې صفونو کښې او امام ته دې د نزدې ځائې حاصلولو کوشش اوکړي، ماشومان دې روستو اودريږي او که زنانه په جماعت کښې شريکې شي نو هغه دې د ټولو نه روستو وي امام دې د ټولو نه وړاندې او د صفونو ترمينځه وي. ظاهره ده چه د دې ټولو خبرو مقصد د جماعت تکميل او د هغې زيات موثر جوړول، رسول الله ﷺ به خپله هم د دې خبرو اهتمام فرمائيلو او وخت په وخت به ئې امت ته هم هدايت او تلقين فرمائيلو او د هغې ثواب بيان فرمائيلو څخه به ئې ترغيب ورکولو او بله دا چه په دې امورو کښې بې پروائي کونکو ته ئې سخت تنبيه کوله، او د الله پاک نه به ئې ويرول.

**بيان مذاهب:** ۱: د ائمۀ ثلاثه په نزد تسوية الصفوف سنة دې (عمدة القارى ج۲ ۹۸۷) ۲: د امام احمد رحمه الله په نزد واجب دې. (ايضا)

۳: حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح البارى ج ۲ ص ۲۷۵ کښې ليکلې دى چه علاوه د ابن حزم ظاهري رحمه الله په نزد تسوية فرض دې چا چه صف برابر نه کړو د هغه مونځ باطل دې.

۴: جمهور تسوية الصفوف ته زيات نه زيات سنت يا سنت موكد يا واجب وائى د هغوى په نزد د تسوية نه بغير هم مونځ كيږى ځكه چه دا تسوية د مانځه په حقيقت كښې داخل نه ده.

**د جمهورو مستدل:** جمهور وائى چه رسول الله ﷺ اګر چه د تسوية الصفوف په باره كښې ډير تاكيد فرمائيلې دې لكه چه ددې باب د احاديثوهم دا مدلول دې خو په يو حديث كښې هم په ترك تسوية باندې د اعادې يا بطلان صلوة حكم نه دې لګولې شوې او داسې د يو روايت نه هم ثابت نه ده.

**د ابن حزم الظاهرى رحمه الله استدلال او د جمهورو ځواب:** ۱: ابن حزم ظاهرى رحمه الله د نعمان بن بشير د روايت د دې الفاظو ﴿ **ليخالفن الله وجوهكم** ﴾(مشكوة باب تسوية الصفوف) نه استدلال كوى چه لږ شان صف كوږ وو خلق ځه مخكښې روستو وو نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل :

(**عبادالله ! لتسون صفوفكم او ليخالفن الله بين وجوهكم**) او په يو روايت كښې راغلې دى (**من تمام الصلوة اقامة الصف**) (ترمذى ج ۱ ص ۳۰)

جمهور علماء كرام د دې په ځواب كښې وائى چه د تسوية اهتمام او خيال ساتل زمونږ په نزد هم مسلم دى او په دې رواياتو كښې هم دا خبره واضح كړې شوې ده په دې ځخه د تسوية فرضيت او ركنيت نه ثابتيږى.

**د مخالفت د توجيه وجوه:** د نعمان بن بشير رضی الله عنه په روايت كښې د مخالفت وجوه نه ځۀ مراد دې؟

۱: په زړونو كښې به بغض او كينه پيدا شى د ابوداؤد په روايت كښې ﴿ **او ليخالفن الله بين قلوبكم** ﴾ج ۱ ص ۹۷ **باب تسوية الصفوف** نه د دې تائيد كيږى.

۲: او يو معنى دا كړې شوې ده چه ستاسو شكلونه به مسخ كړې شى د مسند احمد د يو روايت نه د دې هم تائيد كيږى چه په هغې كښې د مخالفت په ځائې د طمس الفاظ استعمال شوې دى (اعلاء السنن ج ٤ ص ۳۴۶باب سنية تسوية الصفوف ورصها).

**امت محمديه او د مسخ مسئله:** خو په دې دويمه توجيه باندې اعتراض كولې شى چه په دې امت كښې خو مسخ نشته نو بيا به مسخ په ځۀ معنى وى د دې ځواب شارحين حديث دا وركوى چه امت به مجموعى لحاظ ځخه د مسخ نه محفوظ وى خو د بعض قومونو او بعض افرادو مسخ په صحيح رواياتو ځخه ثابت ده، پس د بعض افرادو مسخ د خنزيرانو په صورت كښې د كيدو واضح ثبوت بخارى ج ۲ ص ۸۳۷ كښې ثابت دې او په دې كښې دا هم دى چه ﴿ **ويمسخ اخرين قردة وخنازير الى يوم القيامة** ﴾د دې نه علاوه په مستدرک حاكم ج ٤ ص ۵۱۵ كښې د ابو امامه رضی الله عنه وغيره روايت

﴿ قال الحاكم والذهبي صحيح ﴾ کښې موجود دي او ترمذي ج ۲ ص ٤٤ په روايت کښې دی ﴿ فی هذه الامة خسف ومسخ وقذف ﴾.

**د انس بن مالک رضی الله عنه د روايت تشريح:** ۵۰۰: د باب اول روايت کوم چه انس بن مالک رضی الله عنه نه مروی دې کوم چه امام بخاری رحمه الله په کتاب الاذان ج ۱ ص ۱۰۰ **باب اقبال الامام علی الناس عند التسوية الصفوف** کښې تخريج کړې دې.

﴿ فانی اراکم من وراء ظهری ﴾ يعنی د مانځه په حالت کښې زه د مکاشفې په ذريعه د مونځ کونکو په احوالو باندې خبر اوسيږم او په يو روايت کښې د ﴿ اتموا الصفوف ﴾ الفاظ راغی مطلب دا دې چه ترڅو پورې يو صف نه وی پوره شوې دويم صف مه قائموئ داسې نه دی کيدل پکار چه وړاندې په صف کښې ځائې خالی وی او په هغې کښې د نورو مونځ کونکو د اودريدو ګنجائش وی خو د هغې باوجود روستو دويم صف قائم کړې شی داسې کول غلطه ده.

**د ابو مسعود رضی الله عنه د حديث تشريح:** ۵۰۱: د باب دويم روايت د ابو مسعود رضی الله عنه نه مروی دې کوم چه امام مسلم رحمه الله په خپل صحيح **کتاب الصلوة باب تسوية الصفوف واقامتها** ج ۱ ص ۱۸۱ کښې تخريج کړې دې

**د اوږو د نرميدلو مراد:** ﴿ يمسح مناکبنا فی الصلوة ﴾ مقصد دا دې چه د تسوية الصفوف لپاره به رسول الله صلی الله عليه وسلم زمونږ اوږې مسح کولې د ابن عباس رضی الله عنهما په يو روايت کښې ﴿ خيارکم الينکم مناکب فی الصلوة ﴾ (مشکوة باب تسوية الصف) الفاظ راغلی دی په مونځ کښې د اوږو د ممسوس کيدو يا نرم کيدو توضيح اوتشريح کښې علماء کرامو ډيرځۀ ليکلې دی او ددې ئې ډيرې معنې بيان کړی دی.

۱: يو معنی خو ئې دا ده چه کله يو سړې په جماعت کښې داسې اودريږی چه صف نه وی برابر شوې او د شانه راتلو څخه يو کس د هغه اوږه اونيوله او د نيغولو لپاره ئې اووې نو هغه دې ضد نه کوی بلکه د هغه وينا دې اومنی او نيغ اودريدو څخه دې صف برابر کړی.

۲: دريمه معنی دا ده چه اوږو لره نرمول په مونځ کښې د خشوع و خضوع او د سکون او وقار نه کناية ده يعنی په مانځه کښې د ټولو نه غوره هغه سړې دې کوم چه ډير په خاطر جمع، حضور قلب او اطمينان او وقار څخه مونځ کوی مطلب دا دې چه کله صفت ترلو څخه اودريږی او د خپل بدن څۀ حصه د صف نه بهر نه اوباسې که تاسو په صف کښې د خپل بدن ظاهری اعضا، غير برابر ناهموار ږدئ نو د هغې اثر به پاطنی طور دا وی چه ستاسو په زړونو کښې به اختلاف پيدا شی ځکه چه د بدن د ظاهری اعضاء او زړه ترمينځه ډير لطيف تعلق دې او د يو بل تاثير ډير عجيب دې په دې باندې د مثال په طور داسې ځان پوهه کړه چه لکه څنګه د ظاهری اندامونو يخ

والې په باطنی اندامونو باندې اثر انداز کیږی، او د باطنی اندامونو یخ والې ظاهری اعضاء متاثر کوی هم دغه شان په صف کښې ظاهری بدن برابر نه ساتل په زړونو باندې اثر انداز کیږی چه د هغې خاصه دا ده چه په زړونو کښې اختلاف پیدا کیږی.

د حدیث دویم جزء کښې د صف دا ترتیب بیان کړې شوې دې چه ماته نزدې دې هغه خلق اودریږی کوم صاحب عقل و فهم او بالغ وی، یعنی په اول صف کښې د هغه خلقو اودریدل پکار دی چه بالغ او د عقل فهم مالکان وی چه هغوی د مونځ کیفیت او د هغې احکام اوګوری او یاد کړی او بیا د امت نورو خلقو ته د هغې تعلیم ورکړی، بیا دې په دویم صف کښې هغه خلق اودریږی کوم چه هغوی ته نزدې وی یعنی مخنث (چه په هغوی کښې د سړو او ښځو دواړو علامات موجود وی) بیا دې د هغوی ټولو نه روستو په آخر کښې د زنانو صف جوړ کړې شی دلته په حدیث کښې د زنانو د صف په باره کښې ذکر نه دې کړې شوې ځکه چه دا متعین ده چه په آخره کښې د زنانو صف وی.

په آخر کښې د ابومسعود رضی الله عنه د ارشاد مطلب دا دې چه نن چه په تاسو کښې د افتراق او انتشار کوم کیفیت پیدا شوې دې او خپل مینځ کښې چه تاسو کوم اختلافات کوئ او فتنې چه کومې ډیرې ډیرې راځی د دې ټولو وجه دا ده چه تاسو خلق خپل صفونه برابر نه ساتئ لهذا که تاسو خلق د فتنو او اختلافاتو نه بچ کیدل غواړئ نو اول خپل ظاهری اختلاف ختم کړئ یعنی صفونه برابر ساتئ بیا به الله پاک ستاسو باطنی اختلاف هم ختم کړی.

**د باب دآخری دوه روایتونو تشریح:** ۵۰۲، ۵۰۳ په اول روایت چه د انس بن مالک رضی الله عنه نه مروی دې کوم چه امام ابوداؤد رحمه الله په **کتاب الصلوة باب تسویة الصفوف** ج ۱ ص ۹۷ کښې نقل کړې دې **﴿ قاربوا بینها ﴾** یعنی د دوه صفونو ترمینځه دومره فاصله نه وی چه یو صف بل اودریږی **﴿ وحاذوا بالاعناق ﴾** یعنی په صف کښې دې ستاسو نه څوک په لوړ ځائې باندې او نه دریږی بلکه په هوار ځائې باندې دې اودریږی چه د ټولو خلقو سټونه برابر وی دویم روایت د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه منقول دې کوم چه د ابوداؤد نه په حواله مذکور څخه تخریج کړې شوې دې د دواړو مضمون د تسویة الصفوف تاکید دې.

**تسویة الصفوف د امام ذمه داری ده:** تسویة الصفوف په امام باندې لازم دې که صف نه برابروی نو ګناهګار به وی. (العرف الشذی ۱۲۰) سیدنا علی او سیدنا عثمان رضی الله عنهما د تسویة الصفوف لپاره سړی مقرر کړې وو. (المدونة الکبری ج ۱ ص ۶۲)

وفی الترمذی ج ۱ ص ۳۱ وروی عن عمر انه کان یوکل رجلا باقامة الصفوف ولا یکبر حتی یخبران

الصفوف قد استوت وروی عن علی رضی الله عنه وعثمان رضی الله عنه انهما کانا یتعاهدان ذلك ویقولان استووا وکان علی رضی الله عنه یقول تقدم یا فلان تأخر یا فلان۔ انتهٰی۔ (وروی ابوداؤد ص ۹۷۔ (والحدیث فی المشکوٰۃ ج ۱ ص ۹۸) عن النعمان رضی الله عنه بن بشیر رضی الله عنه قال کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یسوی صفوفنا اذا قمنا الی الصلوٰۃ فاذا استوینا کبّر وفی موطا مالك ص ۵۵ حتّٰی جاء رجال قد کان (عثمان رضی الله عنه) وکلهم بتسویة الصفوف فأخبروه ان الصفوف قد استوت فقال لی استوفی الصف ثم کبّر۔ انتهٰی۔ (بحواله خزائن السنن ج ۲ ص ۶۲)

**د صفونو ترتیب**: فقهاء کرامو لیکلي دي چه ټول صفونه کوم چه کیدې شي هغه دولس دي په دې طریقه چه مقتدي به یا مذکر وي یا مونث، بیا به په هغوی کښې یو بالغ وي یا به نابالغ وي دا شپږ قسم مقتدیان شو، بیا به په هغوی کښې هر یو یا آزاد وي یا غلام پس دا ټول دولس شو کومو تفصیل چه په ترتیب حلبه کښې داسې مذکور دې چه اول صف دې آزاد بالغ خلق جوړ کړی، دویم دې آزاد هلکان، دریم غلام بالغان، څلورم غلامان هلکان، پنځم آزاد بالغ خنثی، شپږ آزاد هلکان خنثی، اووم غلام بالغ خنثی، اتم غلام هلک خنثی، نهم آزادې بالغې زنانه، لسم نابالغې آزادې زنانه، یولسم بالغې وینځې، دولسم نابالغې وینځې. صاحب در مختار وائی چه د دې صفونو صحیح کیدل ضروري نه دي ځکه چه خنثی دصف صحت ته نقصان رسوی په دې وجه چه د یو خنثی د بل خنثی برابر یا د هغه نه شاته اودریدل صحیح نه دي په دې احتمال ممکن ده چه وړاندې زنانه وي او شاته سړې وي یا په برابر والو کښې یو خنثی سړې وي او دویمه ښځه وي، علامه شامي رحمه الله د امداد الفتاح نه نقل کړی دی چه بالغ خنثی دې په یو صف کښې داسې اودرولې شي چه د دوه کسانو ترمینځه یو څیز پرده وي یا د یو سړی فاصله دې پریږدی ځکه چه د دوی د یو بل څخه برابر اودریدل د یو بل د مانځه لپاره نقصان دې، آزاد او غلامان دې په یو صف کښې اودرولې شی ځکه چه د یو بل نه شاته کیدو کښې هم ضرر دې. (غایة الاوطار)

## بَابُ اِتْمَامِ الصَّفِّ الْاَوَّلِ

(۵۰۴) عَنْ اَنَسٍ رضی الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَتِمُّوا الصَّفَّ الْمُقَدَّمَ ثُمَّ الَّذِیْ یَلِیْهِ فَمَا كَانَ مِنْ نَقْصٍ فَلْيَكُنْ فِي الصَّفِّ الْمُؤَخَّرِ۔ رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

**باب: د وړمبنی صف پوره کول**: ۵۰۴: د سیدنا انس رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل وړمبې صف پوره کوئ، بیا هغه چه دې څخه یو ځائې وي او کوم کمې چه وي نو هغه په آخری صف کښې کیدل پکار دی. دا حدیث ابوداؤد نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

**د وړمبنی صف تکمیل او فضیلت**: (۵۰۴) دا روایت د انس رضی الله عنه نه مروی دې کوم چه امام ابو داؤد رحمه الله

په كتاب الصلوة باب تسوية الصف ج ۱ ص ۹۸ كښې نقل كړې دې مضمون د حديث واضح دې مطلب دا دې چه په جماعت ښځه مونځ كولې شى نو خلقو له پكار دى چه د ړومبى صف د پوره كولو نه پس په شاته صف كښې اودريږى او ترڅو چه په اول صف كښې ځائې باقى وى شاته دې نه اودريږى د دې نتيجه به دا وى چه اولنى ټول صفونه به مكمل شى او كوم كمې چه پاتې شى هغه به د ټولو نه په آخرى صف كښې پاتې شى.

د صف اول د تكميل ښځه ښځه د صف اول فضيلت هم په احاديثو كښې راغلې دې لكه چه د مسند احمد په حوالې ښځه د ابو امامه رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ **ان لله وملائكته يصلون على الصف الاول** ﴾ چه الله پاک رحمت فرمائى او د هغه ملائک د اول صف والا لپاره، بعض صحابه كرامو رضی الله عنهم عرض اوكړو يا رسول الله ﷺ! او د دويم لپاره هم، رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو چه الله پاک رحمت فرمائى او ملائک دعا د رحمت كوى د اول صف لپاره، هم هغه خبره ئې دوباره بيا اوكړه د دريم كرت پوښتنې په ځواب كښې رسول الله ﷺ بيا هم هغه خبره اوكړه، بيا چه كله په څلورم كرت عرض اوكړې شو نو بيا رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه: او د دويم صف والو لپاره هم.

## بَابُ مَوْقَفِ الْإِمَامِ وَالْمَأْمُوْمِ

(۵۰۵) عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ جَدَّتَهُ مُلَيْكَةَ دَعَتْ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِطَعَامٍ صَنَعَتْهُ فَاَكَلَ مِنْهُ ثُمَّ قَالَ قُوْمُوْا فَلِاُصَلِّيَ لَكُمْ قَالَ اَنَسٌ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَقُمْتُ اِلٰى حَصِيْرٍ لَّنَا قَدِ اسْوَدَّ مِنْ طُوْلِ مَا لُبِسَ فَنَضَحْتُهُ بِالْمَاءِ فَقَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَفَفْتُ اَنَا وَالْيَتِيْمُ وَرَآءَهُ وَالْعَجُوْزُ مِنْ وَّرَآئِنَا فَصَلّٰى لَنَا رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ انْصَرَفَ. رَوَاهُ الْجَمَاعَةُ اِلَّا ابْنَ مَاجَةَ.

**باب: د امام او مقتدى لپاره د اودريدلو ځائې:** **۵۰۵** : د انس بن مالک رضی الله عنه نه روايت دې چه زما د مور مور يا د پلار مور مليكه رضی الله عنها رسول الله ﷺ د خوراک لپاره دعوت كړو كوم چه هغې د هغوى لپاره تيار كړې وو، رسول الله ﷺ هغه اوخوړله، بيا ئې اوفرمائيل: پاسئ چه زه تاسو ته مونځ دركړم، انس رضی الله عنه فرمائى زه د خپل پوزكى راوړلو پسې پاسيدم كومه چه د كثرت استعمال د وجې نه تور شوې وو، نو ما هغه په اوبو باندې وينځلو، بيا رسول الله ﷺ اودريدلو او ما او يتيم په هغوى پسې صف جوړ كړو، او هغه بوډۍ زنانو په مونږ پسې شاته، بيا رسول الله ﷺ تشريف يوړو، دا حديث د ابن ماجه نه علاوه د محدثينو جماعت نقل كړې دې.

(۵۰۶) وَعَنْ جَابِرٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُمْتُ عَنْ يَّسَارِهٖ فَأَخَذَ بِيَدِيْ فَأَدَارَنِيْ حَتّٰى أَقَامَنِيْ مِنْ يَّمِيْنِهٖ ثُمَّ جَآءَ جَبَّارُ بْنُ صَخْرٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَقَامَ عَنْ يَّسَارِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخَذَ بِأَيْدِيْنَا جَمِيْعًا فَدَفَعْنَا حَتّٰى أَقَامَنَا خَلْفَهٗ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

۵۰۶: سیدنا جابر ﷛ فرمائی چه رسول الله ﷺ اودریدلو نو زه د هغوی ګس طرف ته اودریدلم، هغوی زما لاس اونیولو او زه ئې پوره تاو کړم تردې چه زه ئې خپل ښی طرف ته اودرولم، بیا جبار بن صخر ﷛ راغلو نو هغه د رسول الله ﷺ ګس طرف ته اودریدلو، رسول الله ﷺ زمونږ د دواړو لاسونه اونیول او مونږ ئې شاته اودرولو. دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

(۵۰۷) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِيَلِيَنِيْ مِنْكُمْ أُولُوا الْأَحْلَامِ وَالنُّهٰى ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ وَلَا تَخْتَلِفُوْا فَتَخْتَلِفَ قُلُوْبُكُمْ وَإِيَّاكُمْ وَهَيْشَاتِ الْأَسْوَاقِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

۵۰۷: د سیدنا عبدالله بن مسعود ﷛ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: په تاسو کښې د پوهې او عقل والو لره ما څخه (نزدې) اودریدل پکار دی، بیا هغه چه هغوی څخه ملاویږی (یعنی ماشومان) بیا هغوی کوم چه هغوی څخه ملاویږی او اختلاف مه کوئ، ګینې ستاسو زړونه به مختلف شی او د بازاری آوازونو او (شور وشغب) نه ځان بچ کړئ. دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

(۵۰۸) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ بِتُّ عِنْدَ خَالَتِيْ مَيْمُوْنَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا فَقَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ اللَّيْلِ فَأَطْلَقَ الْقِرْبَةَ فَتَوَضَّأَ ثُمَّ أَوْكَأَ الْقِرْبَةَ ثُمَّ قَامَ إِلَى الصَّلٰوةِ فَقُمْتُ فَتَوَضَّأْتُ كَمَا تَوَضَّأَ ثُمَّ جِئْتُ فَقُمْتُ عَنْ يَّسَارِهٖ فَأَخَذَنِيْ بِيَمِيْنِهٖ فَأَدَارَنِيْ مِنْ وَّرَآئِهٖ فَأَقَامَنِيْ عَنْ يَّمِيْنِهٖ فَصَلَّيْتُ مَعَهٗ. رَوَاهُ الْجَمَاعَةُ.

۵۰۸: سیدنا ابن عباس ﷠ فرمائی چه ما د خپلې ترور ام المومنین میمونه ﷝ کره شپه اوکړه د شپې رسول الله ﷺ پاسیدو، د اوبه مشک پرانستلو څخه ئې اودس اوکړو، بیا د مشک خوله په مزی څخه اوتړله، بیا مانځه ته اودریدل، زه پاسیدم او اودس مې اوکړو لکه څنګه چه هغوی اودس فرمائیلې وو، بیا زه راغلم اود هغوی نه ګس طرف ته اودریدم، نو هغوی زه د خپل ښی لاس نه اونیوم او د خپل ځان ئې شاته کړم او خپل ښی طرف ته اودرولم، ما هغوی څخه یو ځائې مونځ ادا کړو. دا حدیث د محدثینو جماعت نقل کړې دې.

**بیان مذاهب (چه کله مقتدی یو وی):**

(۵۰۵ تا ۵۰۸) که مقتدی صرف یو وی او سړې وی اګر چه پوهه ماشوم ولې نه وی نو هغه دې د

امام څخه برابر ښی طرف ته اودریږی هم دا مذهب مختار دې هم دا د امام ابوحنیفه او امام ابویوسف رحمهما الله مسلک دې.

۲: د امام شافعی رحمه الله په نزد لږ شان شاته اودریدل مستحب دی خو دا خلاف ظاهر دی.

۳: د امام محمد رحمه الله مسلک دې چه مقتدی به خپله پنجه د امام د پوندو برابر ږدی فقهاء احناف فرمائی چه اګر چه د دلیل په لحاظ د شیخینو قول مختار دې خو تعامل د امام محمد رحمه الله په قول باندې دې او هغه احوط هم دې ځکه چه په برابر اودریدلو کښې غیر شعوری طور د وړاندې کیدو ویره موندلې شی او د امام محمد رحمه الله په قول اختیارولو کښې دا ویره نه وی په دې وجه فتوی هم د امام محمد رحمه الله په قول ده. که مقتدی ګس طرف ته اودریدلو یا شاته اودریدلو نو مونځ ئې نه فاسدیږی خو بعض مشائخو ورته صریح مکروه وئیلې دې او هم دا صحیح ده.

**د شیخینو دلیل او وجه د ترجیح:** شیخین هم د دې باب د روایت ۵۰۸ نه استدلال کوی کوم چه د ابن عباس رضی الله عنهما نه مروی دې کوم چه نورو اصحاب صحاح نه علاوه امام بخاری رحمه الله د شلو نه په زیاتو مقاماتو کښې تخریج کړې دې. (الصحیح للبخاری کتاب الاذان باب اذا لم ینو الامام ان یوم ... ج ۱ ص ۹۷)

چه په هغې کښې ابن عباس رضی الله عنهما دا تصریح کوی **﴿ فاخذنی بیمینه فادارنی من ورائه فاقامنی عن یمینه فصلیت معه ﴾** د دې واقعې په وخت ابن عباس رضی الله عنهما طفل ممیز شوې وو د دې نه په ښی طرف او برابر کښې اودریدل ثابت شو او په برابر اودریدلو کښې هم د پوندې اعتبار دې د پنجو نشته او که د مقتدی د قدمونو اکثر حصه وړاندې شوه نو مونځ به فاسد شی کیدې شی چه هم د دې احتیاط په وجه باندې به لږ شاته اوسیدل غوره وی.

**د حدیث ابن عباس رضی الله عنهما په مختلفو الفاظو کښې تطبیق:** په بعض روایاتو کښې **﴿ فاخذ بیدی او عضدی ﴾ (شک من ابن عباس قاله الکرمانی)** (بخاری ج ۱ ص ۱۰۱) په بعضو کښې **﴿ واخذ باذنی الیمنی ﴾** (نسائی ج ۱ ص ۲٤۱) الفاظ هم نقل شوې دی خو تعارض ځکه نشته چه درې واړه به ئې نیولې وی، اول سر، بیا غوږ او بیا لاس، او دا عمل قلیل وو په دې وجه په مانځه باندې هیڅ اثر پرینه وتلو.

**د حدیث ابن عباس رضی الله عنهما نه د بعض مسائلو استنباط:** په شرح السنة کښې لیکلې دی چه د دې حدیث نه څو مسائل مستنبط کیږی. ۱: نفل مونځ په جماعت څخه کول جائز دی. ۲: که جماعت صرف د دوه کسانو وی یعنی یو امام او یو مقتدی نو مقتدی لره د امام ښی طرف ته اودریدل پکار دی. ۳: په مانځه کښې لږ شان عمل جائز دې. ۴: د مقتدی لپاره جائز نه دی چه هغه د امام نه مخکښې شی ځکه چه رسول الله ﷺ ابن عباس د مخکښې تیریدلو په ځائې شاته نه خپل ښی طرف ته اودرولې

وو. ۵: داسې سرې پسې اقتداء جائز ده چا چه د شروع نه د امامت نيت نه وی کړې. (مظاهر حق جديد ج ۱ ص ۷۲۷)

**بيان مذاهب(چه کله مقتدی د يو نه زيات وی)**: ۱: که مقتديان دوه وی يا د دوو نه زيات وی نو امام دې د هغوی نه مخکښې اودريږی دا د جمهورو مسلک دې طرفين هم د دې قائل دی که د دواړو ترمينځه اودريږی نو مکروه تنزيهی دې که د دوو نه د زياتو په مينځ کښې ولاړ وی نو مکروه تحريمی دې.

**د امام ابويوسف رحمه الله دلائل**: امام ابويوسف رحمه الله د وړاندې باب د ''**باب قيام الامام بين الاثنين**'' د روايت ۵۰۹ نه استدلال کوی د صحيح مسلم کتاب المساجد **باب الندب الی وضع الايدی علی الرکب فی الرکوع**...ج ۱ ص ۲۰۲) په دې روايت کښې د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د علقمه او اسود رحمهما الله په کور کښې د مونځ ورکول واقعه مذکور ده چه د مونځ ورکولو په وخت هغوی خپله په مينځ کښې اودريدل چه کله فارغ شو نو وې فرمائيل ﴿ **هکذا فعل رسول الله صلی الله عليه وسلم** ﴾

د دې باب په دويم روايت ۵۱۰ کښې هم دا واقعه په آبوداؤد (**کتاب الصلوة باب اذا کانوا ثلثة کيف يقومون** ج ۱ ص ۹۵ په حوالې څخه مذکور ده چه د هغې په آخر کښې ابن مسعود رضی الله عنه فرمائی ﴿ **هکذا رايت رسول الله صلی الله عليه وسلم يفعل** ﴾

خو حافظ ابن عبدالبر رحمه الله د دې د رفع انکار کړې دې او دا ئې په ابن مسعود رضی الله عنه باندې موقوف منلې دې خو علامه زيلعی رحمه الله فرمائی چه دا صحيح نه ده چه امام مسلم رحمه الله دا په دريو طرقو څخه روايت کړې دې چه په هغې کښې موقوف روايت کړې دې او په يو طريق څخه ئې مرفوع روايت کړې دې. **وقال فيه هکذا فعل رسول الله صلی الله عليه وسلم** ... او امام ترمذی رحمه الله په جامع کښې وئيلې دی **وروی عن ابن مسعود انه صلی بعلقمة والاسود فقام بينهما، قال ورواه عن النبی صلی الله عليه وسلم** ... هم دغه شان امام بيهقی، امام احمد او امام طحاوی رحمهم الله **عن عبدالرحمٰن بن الاسود عن ابيه** روايت کړې دې چه د هغې په آخر کښې ﴿ **قام بينهما** ﴾ دې په مسند احمد کښې د دې نه روستو دا هم دی ﴿ **فصففنا خلفه صفا واحدا وقال هکذا کان رسول الله صلی الله عليه وسلم يصنع اذا کانوا ثلثة** (نصب الرايه)

**د امام ابويوسف رحمه الله د استدلال نه د جمهورو ځواب**: د امام ابويوسف رحمه الله د استدلال يعنی د ابن مسعود رضی الله عنه د اثر نه جمهورو ډير ځوابونه کړې دی.

۱: صاحب هداية فرمائی چه ﴿ **فهذا الافضلية** ﴾ چه په حديث د انس رضی الله عنه کښې د رسول الله صلی الله عليه وسلم

فعل مذکور او (تقدم) دلیل د افضلیت دي او حدیث د ابن مسعود رضي الله عنه دلیل د اباحت دي.
۲: علامه زیلعي رحمه الله د ابن مسعود رضي الله عنه د اثر نه درې ځوابونه ذکر کړې دی، (الف) اول دا چه ابن مسعود رضي الله عنه ته د انس رضي الله عنه حدیث نه وو رسیدلې. (ب): د ابن مسعود رضي الله عنه عمل د مسجد په تنګ الی یا په بل څه عذر باندې محمول دې (رواه الطحاوی عن ابن سیرین) (ج) : دریم دا چه حافظ بیهقي رحمه الله په کتاب المعرفة کښې ذکر کړی دی چه ابن مسعود رضي الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم اولیدو چه هغوی مونځ کولو او د هغوی نه نبی طرف ته ابوذر رضي الله عنه مونځ کولو ﴿کل واحد یصلی لنفسه﴾ ابن مسعود رضي الله عنه د دواړو نه شاته اودریدلو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ته ګس طرف ته اودریدلو څخه د مونځ کولو اشاره اوفرمائیله په دې څخه ابن مسعود رضي الله عنه هم دا اوګنړله چه سنت موقف دا دې حال دا چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په دوی کښې چاته هم امامت نه کولو په دې وجه د ابوذر رضي الله عنه په روایت کښې دی ﴿یصلی کل رجل منا لنفسه (رواه احمد فی مسنده)﴾

۳: شیخ حازمی په کتاب الناسخ والمنسوخ کښې لیکلې دی چه حدیث د ابن مسعود رضي الله عنه منسوخ دې ځکه په دې کښې د مانځه د هغه وخت طریقه مذکور ده چه کله رسول الله صلی الله علیه وسلم په مکه کښې وو پس په حدیث د ابن مسعود رضي الله عنه کښې تطبیق وغیره داسې احکام مذکور دی کوم چه روستو متروک شوې وو دلیل د نسخ د صحیح مسلم باب حدیث جابر الطویل وقفه الی الیسیر ج ۲ ص ۴۱۷) حدیث دجابر رضي الله عنه دې کوم چه زمونږ مصنف رحمه الله په ۵۰۲ نمبر کښې لیکلې دې.
کوم چه په دې باندې دال دې چه په دې کښې چه کوم حکم مذکور دې هم هغه آخری حکم دې ځکه چه د جابر رضي الله عنه شرکت هم په دې مشاهدو کښې شوې دې کوم چه د بدر نه پس شوې دی د دې نه علاوه دجابر بن صخر رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم ګس طرف ته اودریدل دا بیانوی چه اول حکم مشروع وو او جبار بن صخر رضي الله عنه هم په دې باندې عمل کولو ﴿حتی منع منه وعرف الحکم الثانی (نصب الرایة)﴾
۴: علامه انور شاه کشمیری رحمه الله د نسخ او د ځائې د تنګ والی ځواب ناخوښه کولو څخه فرمائی چه د ابن مسعود رضي الله عنه په شان د حبر امت نه دا ډیره بعیده ده چه هغوی دې د نسخ نه بې خبر پاتې شوې وی دویم دا چه دا حدیث ساکت عن العلة دې او داسې روایت بغیره څه دلیل یا قرینې نه په عذر او تنګ والی باندې محمول کول صحیح نه دی. لهذا شاه صاحب فرمائی چه په داسې صورت کښې په مینځ کښې اودریدل مکروه تنزیهی دی کومه چه د جواز یو شعبه ده او دا منلې شوې خبره ده چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به په بعض مقاماتو کښې د بیان جواز لپاره په مکروه تنزیهی باندې عمل فرمائیلو کیدې شی چه دلته هم دغه شان شوې وی او ابن مسعود رضي الله عنه به د هغې اقتداء

فرمائیلي وی او دا هیڅ بعید نه ده.

**د ابن مسعود رضي الله عنه د لا علمئ د وجې نه په هغوی باندې اعتماد نه مجروح کیږي:** بعض حضراتو په ابن مسعود رضي الله عنه باندې دا اعتراض کړې دې چه دومره اهم مسئله هغوی ته معلومه نه وه نو د رفع الیدین وغیره په مسئله کښې په هغوی باندې څنګه اعتماد کیدلې شی؟ ځکه چه کله درې کسان وی نو سنت دا ده چه امام وړاندې شی او مقتدیان شاته علامه زیلعی رحمه الله په نصب الرایه ج ۲ ص ۳٤ کښې د دې درې ځوابونه کړې دی څلورم ځواب د حافظ ابن القیم رحمه الله دې.

۱: کیدې شی چه هغوی ته د سمرة بن جندب رضي الله عنه روایت نه وی رسیدلې: **﴿ امرنا رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا کنا ثلاثة ان یتقدم منا احدنا** (ترمذی ج ۱ ص ۳۲) **﴾** او د دې بې علمئ د وجې نه د ابن مسعود رضي الله عنه په شان کښې هیڅ کمې نه راځی لکه چه ابوبکرصدیق رضي الله عنه ته د وراثت جده متعلق یو مسئله معلوم نه وه، خلقو (محمد بن مسلمه او مغیره بن شعبه رضي الله عنهما) ورته بیان کړه، او لکه چه عمر رضي الله عنه ته ارض طاعون ته د تلو او د نه تلو متعلق یو مسئله معلومه نه وه تردې چه عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه ورته بیان کړه او د دې بې شماره مثالونه موجود دی او لکه چه ابن عمر رضي الله عنهما ته د مسح علی الخفین مسئله معلومه نه وه.

۲: امام طحاوی رحمه الله د ابن سیرین رحمه الله په حوالې څخه لیکی چه ځائې تنګ وو دوه کسان شاته نه شو اودریدلې.

۳: امام بیهقی رحمه الله د کتاب المعرفت حوالې څخه لیکی چه ابن مسعود رضي الله عنه به دا سنت ګڼړله او د هغوی تحقیق هم دا وو پس امام ترمذی ج ۱ ص ۳۲ کښې لیکی: **ورواه عن النبی صلی الله علیه وسلم**.

۴: دا ځواب ابن القیم رحمه الله په **بدائع الفوائد** ج ٤ ص ۹۱ کښې ورکړې دې چه کوم وخت یو نابالغ وی او دویم بالغ نو یو دې په یمین کښې او بل دې په یسار کښې اودروی لکه چه ابن مسعود رضي الله عنه کړې دی.

**۵: وقد تکلم بعض الناس فی اسمعیل بن مسلم من قبل حفظه** چه بعض د دې راوی په حفظ باندې کلام کړې دې **وفیه نظر**، ځکه چه تعامل دامت هم په دې باندې دې.

**د جمهورو او طرفینو استدلال:** طرفین او جمهور ددې باب د اول روایت **۵۰۵** نه استدلال کوی کوم چه امام بخاری په ج ۱ ص ۱۱۹، مسلم ج ۱ ص ۲۳٤، نسائی ج ۱ ص ۱۲۹، ترمذی په **ابواب الصلوة باب ما جاء فی الرجل یصلی ومعه رجال ونساء** ج ۱ ص ۵۵ او ابوداؤد ج ۱ ص ۹۰ کښې نقل کړې دې.

**د حدیث د بعضې الفاظو تحقیق: ﴿ ما لُبِسَ ای من ما خلط لانه من اللبس من باب ضرب بمعنی الخلط لا**

بمعنی اللبس من باب سمع ... د حدیث الفاظ ﴿ ان وجدته ملیکه ﴾ کښې ضمیر اسحاق بن عبدالله بن ابی طلحة طرف ته راجع دې کوم چه د انس رضی الله عنه نه روایت کونکې دې د جده نه مراد د اسحاق د پلار مور زوجه د ابوطلحه انصاری رضی الله عنه ده دا ام سلیم بنت ملحان رضی الله عنها ده چه د انس بن مالک رضی الله عنه مور ده، (جاء ذلک مصرحاً فی البخاری) او د یتیم نه مراد صخرة بن سعد حمیری دې. (هذا ذکره ابوعمرو النووی) ﴿ انا والیتیم وراءه ﴾ دا د طرفین او جمهورو دلیل دې چه د دوه سړو امام به وړاندې ولاړ وی په دې حدیث کښې تصریح ده چه رسول الله ﷺ مونځ ورکړو او هغوی پسې شاته انس او یتیم رضی الله عنهما او په دې دواړو پسې شاته ملیکه ولاړه وه. والعجوز من وراءنا معلومه شوه که زنانه یوه هم وی نو شاته به اودریږی.

**په نوافلو کښې د جماعت مسئله**: ﴿ فصلی بنا رکعتین ﴾ دا خو ښکاره ده چه دا نفل مونځ وو پس په دې څخه امام شافعی رحمه الله د نوافلو د جماعت په جواز باندې استدلال کوی د احنافو په نزد د استسقاء، تراویح او کسوف نه سوا یوځائې کښې هم د نوافلو جماعت جائز نه دې خو حدیث الباب د احنافو خلاف حجت نه دې ځکه چه دلته جماعت لا علی السبیل التداعی وو او د احنافو په نزد د نوافلو جماعت هغه وخت مکروه دې چه کله تداعی وی او د تداعی مطلب هم واضح کړې شوې دې چه کم از کم څلور کسان د امام نه علاوه وی.

**په صف جوړولو کښې د ترتیب حکمتونه**: ۵۰۷: په تیر باب کښې په روایت نمبر ۵۰۱ کښې د دې حدیث تفصیلی وضاحت کړې شوې دې په دې روایت کښې د صف جوړولو متعلق دا هدایت ورکړې شوې دې چه امام ته نزدې به هغه خلقو اودریږی چاته چه الله پاک فهم او علم کښې امتیاز ورکړې وی د هغوی نه پس په دې لحاظ څخه دویمې درجې والا او د هغوی نه پس دریمې درجې والا ---- ظاهره ده چه دا ترتیب بالکل فطری هم دې او د تعلیم او تربیت د مصلحت تقاضه هم دا ده چه د ښه او ممتاز صلاحیتونو والا درجه په درجه وړاندې او نزدې وی.

﴿ احلام جمع حلم بکسر الحاء او بضمها والنهی العقول ﴾

اهل بصیرت دې امام ته نزدې اودریږی د دې څو حکمتونه کیدې شی مثلاً.

۱: دا چه که د استخلاف ضرورت راشی نو د امامت لائق سړې به فورا ملاؤ شی. ۲: د نسیان وغیره په صورت کښې به صحیح لقمه ورکړې شی. ۳: دا حضرات به د رسول الله ﷺ مونځ ښه طریقه څخه لیدلو باندې نورو ته اورسولې شی اول دواړه سببونه نن هم باقی دی لهذا د دې اطلاق به په موجوده زمانه باندې هم کیږی.

# بَـابُ قِيَامِ الْاِمَامِ بَيْنَ الْاِثْنَيْنِ

(۵۰۹) عَنْ عَلْقَمَةَ وَالْاَسْوَدِ اَنَّهُمَا دَخَلَا عَلٰى عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَقَالَ اَصَلّٰى مَنْ خَلْفَكُمْ؟ قَالَا نَعَمْ! فَقَامَ بَيْنَهُمَا وَجَعَلَ اَحَدَهُمَا عَنْ يَّمِيْنِهٖ وَالْاٰخَرَ عَنْ شِمَالِهٖ ثُمَّ رَكَعْنَا فَوَضَعْنَا اَيْدِيَنَا عَلٰى رُكَبِنَا فَضَرَبَ اَيْدِيَنَا ثُمَّ طَبَّقَ بَيْنَ يَدَيْهِ ثُمَّ جَعَلَهُمَا بَيْنَ فَخِذَيْهِ فَلَمَّا صَلّٰى قَالَ هٰكَذَا فَعَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

**باب د امام د دوه سړو ترمينځ مونځ کول:** ۵۰۹: د علقمه او اسود ﷫ نه روايت دې چه مونږ دواړه عبدالله بن مسعود ﷜ ته لاړو، نو هغوی اووې، آيا ستاسو نه شاته پاتې شوو خلقو مونځ کړې دې، مونږ اوجی، هغوی زمونږ ترمينځه اودريدل. يو هغوی خپل ښی طرف ته کړو او بل ئې گس طرف ته اودرولو، بيا مونږ رکوع اوکړه، نو مونږ خپل لاسونه په خپلو کونډو باندې کيخودل. هغوی زمونږ لاسونو ته گزار ورکړو، بيا ئې خپل دواړه لاسونه يو ځائې کړل او د خپل رون ترمينځه ئې کيخودل، وې وئيل هم دغه شان رسول الله ﷺ اوکړل. دا حديث مسلم نقل کړې دې.

(۵۱۰) وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ الْاَسْوَدِ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ اسْتَأْذَنَ عَلْقَمَةُ وَالْاَسْوَدُ عَلٰى عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَقَدْ كُنَّا اَطَلْنَا الْقُعُوْدَ عَلٰى بَابِهٖ فَخَرَجَتِ الْجَارِيَةُ فَاسْتَاْذَنَتْ لَهُمَا فَاَذِنَ ثُمَّ قَامَ فَصَلّٰى بَيْنِيْ وَبَيْنَهٗ ثُمَّ قَالَ هٰكَذَا رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُ رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ.

۵۱۰: د عبدالرحمٰن بن الاسود نه روايت دې چه زما پلار اوئيل: علقمه او اسود ﷫ (د راوی حديث عبدالرحمٰن والد محترم) عبدالله بن مسعود ﷜ ته د حاضريدلو اجازت اوغوښتلو او مونږ د کافی وخت نه د هغوی په دروازه کښې ناست وو، يو وينځه بهر راغله، هغې دواړو ته د اجازت (خبر) ورکړو، بيا هغوی اذان اوکړو، بيا هغوی زما او د هغوی ترمينځه اودريدل، بيا ئې اووې: ما رسول الله ﷺ هم په داسې کولو باندې ليدلې دې.

دا حديث ابوداؤد نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

**تشريح**> (۵۰۹ نه ۵۱۰ پورې) د دې باب د دواړو روايتونو څخه متعلق ضروری بحث او د هغې د مستدل کيدو حيثيت او وضاحت په تير باب کښې بيان کړې شوې دې لهذا دلته د څه نوې بحث ضرورت نشته.

خو په دې ابواب کښې چونکه د امام د مانځه څخه څخه د مقتدی د مانځه څخه د ټولو د مسائلو بيان وو لهذا لاندې د امامت صغری لپاره لس شرطونه هم بيانولې شی چه مسئله د امامت د ټولو اړخونو نه واضحه شی.

۱: نيت د اقتداء، که مقتدي د اقتداء نيت نه دې کړې نو مونځ ئې نه کيږي.
۲: اتحاد مکان، که د امام او مقتدي وغيره ترمينځه نهر وغيره حائل وي نو مونځ نه کيږي.
۳: اتحاد دمونځ : که امام د ماسپخين مونځ کوي او مقتدي د مازيګر د مانځه نيت اوتړلو نو مونځ نه کيږي. ۴: د مقتدي په اعتقاد کښې د امام د مانځه صحيح کيدل، که د مقتدي په علم کښې د امام مونځ فاسد شو نو اقتداء نه صحيح کيږي.
۵: عدم محاذات : يعني د زنانه په برابر کښې نه کيدل ځکه چه د زنانه محاذات مفسد صلوة دي.
۶: د مقتدي د پوندې د امام نه مخکښې نه کيدل، که پوندې برابر وي يا د خپې د غټيدو د وجې نه د مقتدي د خپو ګوتې مخکښې شوې وي نو اقتداء صحيح ده.
۷: مقتدي ته د خپل امام د يو رکن نه بل رکن ته د منتقل کيدو علم کيدل که د امام په کتلو څخه وي يا په آواز اوريدلو څخه وي يا نورو مقتديانو ته په کتلو څخه وي.
۸: مقتدي ته د خپل امام حال معلوم نه وي چه هغه مقيم دې يا مسافر، که دا علم د مانځه نه مخکښې وي يا روستو، پس که امام په ځلورو رکعتو والا مونځ کښې په دوو باندې سلام واړولو او خلقو ته معلومه نه وي چه هغه په هيره دوه کړي دي يا که د سفر د وجې نه نو مونځ ئې نه کيږي.
۹: د مقتدي د امام څخه په ارکانو کښې شريکيدل که مقتدي يو رکن پريخودلو نو مونځ به ئې باطل شي. ۱۰: امام د مقتدي لپاره د امامت لائق کيدل مثلا که امام ارکان په اشارې څخه ادا کوي نو مقتدي ئې هم په اشارې څخه کوي يا مقتدي اشاره کونکې وي او امام رکوع او سجده کونکې وي نو اقتداء به صحيح وي. دا ټول شرطونه د صحت اقتداء دي که ددې نه يو شرط فوت شو نو اقتداء به صحيح نه وي.

## بَابُ مَنْ أَحَقُّ بِالْإِمَامَةِ

(۵۱۱) عَنْ أَبِيْ مَسْعُوْدٍ رَّضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَؤُمُّ الْقَوْمَ أَقْرَأُهُمْ لِلْكِتَابِ اللهِ تَعَالٰى فَإِنْ كَانُوْا فِي الْقِرَاءَةِ سَوَآءً فَأَعْلَمُهُمْ بِالسُّنَّةِ فَإِنْ كَانُوْا فِي السُّنَّةِ سَوَآءً فَأَقْدَمُهُمْ هِجْرَةً فَإِنْ كَانُوْا فِي الْهِجْرَةِ سَوَآءً فَأَقْدَمُهُمْ سِنًّا وَلَا يُؤَمَّنَّ الرَّجُلُ الرَّجُلَ فِيْ سُلْطَانِهٖ وَلَا يَقْعُدُ بَيْتِهٖ عَلٰى تَكْرِمَتِهٖ إِلَّا بِإِذْنِهٖ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

**باب د امامت زيات حقدار څوک دې ؟:** ۵۱۱: سيدنا ابومسعود رضي الله عنه اووې، رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل : قوم ته دې هغه څوک امامت کوي کوم چه په هغوي کښې د الله پاک د کتاب زيات لوستونکې وي، که هغوي په لوستلو کښې برابر وي، نو هغه څوک چه په سنتو باندې ښه پوهيږي او که هغوي (په علم د) سنتو کښې برابر وي نو هغه څوک چه په هجرت کښې اول وي او که په هجرت

کښې برابر وی، نو هغه څوک چه په عمر کښې مشر وی، او يو سړې دې بل سړی ته د هغه د
سلطنت (مقام و محل) کښې امامت نه کوی او نه دې کينی د هغه په کور کښې د هغه په تکيه
(بالخت يا بستره وغيره) باندې مگر د هغه په اجازت. دا حديث مسلم نقل کړې دې.

(۵۱۲) وَعَنْ اَبِىْ سَعِيْدٍ رَّضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا كَانُوْا ثَلَاثَةً فَلْيَؤُمَّهُمْ اَحَدُهُمْ وَاَحَقُّهُمْ بِالْاِمَامَةِ اَقْرَأُهُمْ. رَوَاهُ اَحْمَدُ وَمُسْلِمٌ وَّالنَّسَائِىُّ.

۵۱۲: سيدنا ابوسعيد خدری رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : چه کله درې کسان وی نو
يو دې هغوی ته امامت اوکړی او په هغوی کښې د امامت زيات حقدار هغه څوک دې کوم چه په
هغوی کښې زيات قرآن لوستونکې وی. دا حديث احمد، مسلم او نسائی نقل کړې دې.

**تشريح: منصب د امامت:** (۵۱۱ نه ۵۱۲ پورې) د دين په ټولو اعمالو کښې د ټولو نه اهم او مقدم
مونځ دې او د دين په نظام کښې د دې درجه او مقام گويا هم هغه دې کوم چه په انسانی بدن کښې
د زړه دې، په دې وجه ددې امامت ډير لوئې دينی منصب او ډير لويه ذمه داری ده او د رسول
الله ﷺ يو شان نيابت دې. په دې وجه ضروری ده چه امام داسې سړې جوړ کړې شی کوم چه په
موجوده مونځ کونکو کښې د نورو په نسبت د دې عظيم منصب لپاره زيات اهل او موزون وی، او
هغه هم هغه سړې کيدې شی د چا چه رسول الله ﷺ څخه نسبۃ زيات قرب او مناسبت وی، او د
هغوی د دينی وراثت نه چه چا زياته حصه اخستلې وی او چونکه د هغوی په وراثت کښې اول او
اعلی درجه د قرآن کريم ده، هم په دې وجه چا چه د ايمان د نصيب کيدو نه پس د قرآن کريم څخه
خاص تعلق پيدا کړو، هغه ئې ياد کړو او خپل زړه ته ئې کوز کړو، د هغې په دعوت تذکير او
احکاماتو باندې ئې ځان پوهه کړو، هغه ئې ځان کښې جذب او خپل ځان باندې طاری کړې وی،
هغه به د رسول الله ﷺ په خاص حصه دارو کښې وی، او د هغه خلقو په مقابله کښې کوم چه په
دې سعادت کښې د هغوی نه شاته وی درسول الله ﷺ د دې نيابت يعنې د امامت لپاره به زيات
اهل او زيات موزون وی. او که بالفرض ټول مونځ کونکی په دې لحاظ څخه برابر وی نو چونکه د
قرآن کريم نه پس د سنت درجه ده په دې وجه په دې صورت کښې به ترجيح دې ته ورکولې شی کوم
چه د سنت او شريعت په علم کښې د نورو په مقابله کښې امتياز لری، او که بالفرض په دې کښې
هم ټول برابر وی نو بيا هغه څوک چه په دوی کښې د تقوی او پرهيزگارئ او محاسن اخلاق په شان
دينی صفاتو په لحاظ څخه ممتاز وی، د امت لپاره به هغه لائق ترجيح وی، او که بالفرض په دې
صفاتو کښې هم يو شان والې وی نو بيا به ذ عمر د مشرئ په لحاظ څخه ترجيح ورکولې شی،
ځکه چه د عمر زياتيدل او مشری هم يو منلې شوې فضيلت دې.

بهر حال د امت لپاره دا اصولي ترتيب د عقل سليم بالكل مطابق او د حكمت تقاضا ده.
او هم دا د رسول الله ﷺ تعليم او هدايت دي.

**بيان مذاهب:** ۱: امام احمد او امام ابويوسف رحمهما الله فرمائي چه ﴿ أقرأ احق بالامامة ﴾ دي او په أعلم باندې مقدم دي د أقرأ نه مراد هغه سړي دي كوم چه په تجويد او قرأت كښې زيات ماهر وي او چاته چه قرآن ښه ياد وي.

د امام مالك رحمه الله او امام شافعي رحمه الله هم يو روايت د امام احمد رحمه الله او امام ابويوسف رحمه الله د مسلك مطابق دي، سفيان ثوري، اسحاق بن راهويه او احنف بن قيس رحمهم الله هم دا مسلك لري ځكه چه قرأت د مانځه يو ركن دي چه د هغې نه بغير مونځ نه كيږي په خلاف د علم چه د دې ضرورت هغه وخت پيښيږي چه كله په مانځه كښې يو غير معمولي واقعه پيښه شي.

۲: امام ابوحنيفه او امام محمد أعلم او أفقه ته په أقرأ باندې ترجيح وركوي د مالكيانو دويم روايت هم ددې مطابق دي (راجع هامش ص ٤ ترمذی ص ۳۲) عطاء بن ابی رباح، امام اوزاعی او ابوثور رحمهم الله وغيره اكثر علماء كرام هم د دې قائل دي په دې شرط چه هغه ﴿ بقدر ما يجوز بها الصلوٰة ﴾ قرأت كولې شي ځكه چه د قرأت ضرورت د يو ركن لپاره دي او د علم ضرورت په ټولو اركانو كښې دي نو د ټولو اركانو ضرورت به مقدم وي.

**د امام احمد او ابويوسف** رحمهما الله **دليل:** ۱: د دې باب اول روايت ۵۱۱ كوم چه د ابومسعود رضی الله عنه نه روايت دي كوم چه امام مسلم رحمه الله **كتاب المساجد** ج۱ ص ۲۳۶ **باب من احق بالامامة** كښې تخريج كړې دي د ابومسعود رضی الله عنه په دې روايت كښې أقرأ ته په أعلم باندې ترجيح وركړې شوې ده هم دغه شان د باب دويم روايت كوم چه ابوسعيد خدري رضی الله عنه روايت كوي هغې كښې هم د ﴿ **احق بالامامة اقرأهم** ﴾ تصريح ده، كوم چه امام مسلم رحمه الله په خپل صحيح **كتاب المساجد باب من احق بالامامة** ج ۱ ص ۲۳۶ كښې تخريج كړې دي.

**د امام صاحب ومن وافقه د حديث الباب نه ځواب او دلائل:** امام صاحب رحمه الله ومن وافقه د دې حديث ډير ځوابونه وركړي دي.

۱: د صحابه كرامو رضی الله عنهم په زمانه كښې اعلم او اقرأ كښې هيڅ امتياز نه وو كوم چه اقرأ وو هم هغه به أعلم وو ګويا د اقرأ او أعلم ترمينځه د تساوي نسبت وو، صاحب هدايه هم دا ځواب وركړې دي چه كوم حضراتو د رسول الله ﷺ نه قرآن حاصلولو هغه به ئې د معاني او تفسير ځخه حاصلولو په هغوي كښې چه به كوم أقرأ وو هم هغه به أعلم او افقه هم وو. (هداية ج ۱ ص ۷۷)

خو علامه انور شاه کشمیری رحمه الله د دې توجيه تضعيف کولو څخه فرمائي: ا: په عهد رسالت کښې به هم قراء صحابه کرام رضي الله عنهم حافظ قرآن ته وئيلې کيدل لکه چه په غزوه بير معونه او جنګ يمامه کښې په شهيد کيدونکو باندې د قراء اطلاق کړې شوې دې ﴿ يقال لهم القراء ﴾ (بخاري ج ۲ صفحه ۵۵۶) قد استحر (اشتد وکثر) يوم اليمامة لقراء القرآن (بخاري ج ۲ ص ۷۷۵) ب هغوی دويم اشکال دا هم کړې دې چه که د اقرأ نه اعلم مراد کړې شي نو د ارشاد نبوی ﷺ ﴿واقرءهم ابي بن كعب ﴾ مراد به دا وی چه هغوی په صحابه کرامو رضي الله عنهم کښې زيات اعلم وو او دا خبره د اجماع خلاف ده. ج: بله دا چه د باب په حديث ابومسعود رضي الله عنه کښې اَقرأ او اَعلم صراحة بيل بيل ذکر کړې شوې دی چه کوم د دې خبرې واضح دليل دې چه د اَقرأ نه مراد اَعلم دې.

۲: صحيح توجيه دا معلوميږی چه د اسلام په شروع کښې قراء او حفاظ قران کم وو هر چاته دومره قرآن ياد نه وو چه د قرأت مسنونه حق ادا کړې شی پس رسول الله ﷺ د حفظ او قرأت قرآن د ترغيب لپاره په امامت کښې اَقرأ مقدم اوفرمائيلو چه کله دا مقصد حاصل شو د حفظ او قرأت ښه ترويج اوشو نو اعلميت ته د استحباب امامت اولين معيار اوئيلې شو څکه چه د صاحب هداية په قول چه د اَقرأ ضرورت د مانځه صرف ديو رکن قرأت لپاره وی او د اعلم ضرورت د مانځه د ټولو ارکانو لپاره وی.

۳: په دې مسئله کښې امام بخاری رحمه الله هم د احنافو مسلک اختيار کړې دې پس باب اهل العلم والفضل احق بالامامة. . ترجمة الباب کښې د ابوموسی اشعری رضي الله عنه روايت درج کوی چه د هغې مضمون دادې چه رسول الله ﷺ په مرض الوفات کښې ابوبکرصديق رضي الله عنه د امامت لپاره مقدم کړې وو که د ترجيح وجه د علم په ځائې د حفظ لپاره وې نو د ابوبکرصديق رضي الله عنه په ځائې به د امامت مستحق ابی بن کعب رضي الله عنه وې کوم ته چه رسول الله ﷺ د امت اَقرأ او اَحفظ وئيلې وو د علم په مقابله کښې د حفظ شان خو په حديث کښې هم کم دې څکه چه ابوهريره رضي الله عنه په صحابه کرامو رضي الله عنهم کښې د ټولو نه زيات حافظ حُديث وو خو د علم و فهم حديث په لحاظ څخه دلته هم د ابوبکرصديق رضي الله عنه درجه د ټولو نه اوچته وه، نو د ابوبکرصديق رضي الله عنه امام مقرر کول د هغوی د اعلم کيدو په بناء وه او چونکه دا واقعه بالکل د آخری زمانې وه په دې وجه د دې ټولو احاديثو لپاره د ناسخ حيثيت لری په کوم کښې چه د اَقرأ د تقديم بيان دې.

**په حديث کښې د اَقرأ په اَعلم باندې وجه د ترجيح:** اول سوال دا دې چه په حديث کښې اقرأ په اعلم باندې مقدم کړې شوې دې او د امام صاحب ومن وافقه په نزد د دې عکس دې د دې څه وجه ده؟

شارحين حديث وائی چه په صحابه کرامو رضي الله عنهم کښې به کوم د قرآن کريم قاری وو هغه به عالم

بالسّنة هم وو لهذا هغوی ټول په علم کښې برابر وو ځکه چه صحابه کرامو رضی الله عنهم به قرآن کريم تلقی بالاحکام کولو سيدنا ابن عمر رضی الله عنهما فرمائی هيڅ سورة به نۀ نازليدو مګر دا چه مونږ به د هغې د امر او نهی او زجر او توبيخ او حلال او حرام نه خبر وو. سيدنا ابن مسعود رضی الله عنه فرمائی چه کله به په مونږ کښې چا د يو سورة قرأت کولو نو ترڅو چه به ئې د هغې د حلال او حرام پوره طريقې څخه علم نه وو حاصل کړې مخکښې به نه تللو. د عمر رضی الله عنه متعلق روايت دې چه هغوی سورة بقرة په دولس کالو کښې حفظ کړې وه بهر حال په صحابه کرامو کښې به چه کوم أقرأ وو هغه به افقه هم وو خو نن صبا صورت حال بالکل برعکس دې د حفظ و قرأت او تجويد ماهرين د دينی معلوماتو او مسائلو نه ناخبر وی لهذا په أقرأ باندې به اعلم ته ترجيح وی.
دويم سوال دا کړې شوېدې چه که په حديث کښې د أقرأ نه مراد اعلم دې نو بيا په حديث کښې د أقرأ نه پس اعلم ولې وئيلې شوې دې؟ د دې نه خو تکرار لازميږی او تقدير د عبارت به داسې شی ﴿ يؤم القوم اعلمهم فأن تساووا فأعلمهم ﴾ شارحين حديث ځواب ورکوی چه د ﴿ فأعلمهم ﴾ نه مراد اعلم بأحکام القرآن دې او د ﴿ اعلمهم بألسنة ﴾ نه مراد اعلم بالحديث دې پس تکرار نه لازميږی.

**د حديث د بعضې الفاظو تشريح:**

﴿ اعلمهم بألسنة ﴾ ۱: علامه طيبی رحمه الله فرمائی چه د ﴿ اعلمهم بألسّنة ﴾ نه مراد د رسول الله صلی الله علیه وسلم احاديث دی. ۲: علامه انور شاه کشميری رحمه الله فرمائی چه په حديث نبوی کښې د سنت نه مراد هغه مسائل دی کوم چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مانځه د طريقې او د هغې په باره کښې هدايات د علم او مشاهدې نه حاصليدل او د اعلم بالسنة نه مراد دا دې چه هغه په قدر د ضرورت د مانځه، قرآن په صحيح طريقه لوستلو ځخه د مونځ د مسائلو علم په نسبت د نورو زيات لری.

﴿ فأقدمهم هجرة ﴾ په حديث کښې د مذکور هجرت نه مراد هغه هجرت دې کوم چه د اسلام په شروع کښې د ايمان بنياد وو د هغې د ايمان بنياد کيدل منسوخ شو په قول د ابن مالک رحمه الله د هجرت د تقديم او تاخير بلکه د احقيت لحاظ په دور د صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې وو نن صبا د دې لحاظ نشته بلکه هجرت معنوی يعنی هجرت عن المعاصی معتبر دې اومن فقهاء کرام د دې اصطلاحی هجرت په ځائې ﴿ اورع ﴾ کيخودلې دې لهذا په دې کښې چه کوم اورع وی هم هغه به اولی وی دا خبره غالبًا دهغه احاديثو نه ماخوذ ده چه په هغې کښې ارشاد دې:

المهاجر من هجر ما نهی الله عنه (بخاری ج: ۱، ص: ۶) قال عليه السلام لا هجرة بعد الفتح وانما المهاجر من هجر السيئات'' وقال عليه السلام الجهاد جهاد ان احدهما افضل من الآخر وهو ان تجاهد نفسك وهواك و الهجرة هجرتان احدهما افضل من الاخرى وهو ان تهجر السيئات.

**وَرع او تقویٰ:** وَرع داده چه په کو موځیزونو کښې شرعًا شبه وی (اګر که د هغې ارتکاب جائزوی) د هغې نه هم پرهیز اوکړی او تقوٰی داده چه د حرام او مکروه تحریمی نه ځان بچ کړی. (قاله ابن نجیم وغیره)

**چیرته چه امام مقرروی نو بل ته بغیر د اجازت نه د امامت حق نشته:** ﴿ ولا یؤم الرجل فی سلطانه ﴾ یعنی یو سړې دې د خپل ملکیت او غلبې په ځائې کښې ماموم جوړ نه کړې شی چیرته چه څوک امام وی هم هغه دې مونځ ورکړی مطلب دا دې چه یو سړې دې د بل سړی په سلطنت او علاقه کښې امامت نه کوی هم دغه شان دې په داسې ځائې کښې هم امامت نه کوی چه د هغې مالک بل سړې وی لکه چه په یو روایت کښې ﴿ فی اهله ﴾ الفاظو نه هم دا ثابتیږی ددې نه معلومه شوه که په یو مقام باندې د وخت حاکم امامت کوی یا د وخت د حاکم د طرف نه مقرر شوې هم دهغه نائب کوم چه د امیر او خلیفه په حکم کښې وی د امامت فرائض ادا کوی نو د بل سړی لپاره دا مناسب نه دی چه هغه مخکښې کیدو څخه امامت اوکړی خاص طور څخه عیدین او د جمعې په مانځه کښې خو دا بالکل مناسب نه ده هم دغه شان چه په کوم مسجد کښې امام مقرر وی یا په یو کور کښې د صاحب خانه په موجودګۍ کښې دمقرره امام او د صاحب خانه د اجازت نه بغیر امامت طرف ته مخکښې کیدل د بل سړی حق نه دې ځکه چه دغه شان په امور سلطنت کښې انحطاط، خپل مینځ کښې بغض و عناد، ترک ملاقات، افتراق و اختلاف او د فتنې او فساد دروازه پرانستلې کیږی او د جماعت مشروعیت هم د دې غیر اخلاقی ځیزونو د بندولو لپاره شوې دې پس هم په دې سلسله کښې د ابن عمر رضی الله عنهما دا رویة قابل تقلید ده چه هغه به د خپل فضل او شرف او علم او تقوی باوجود په حجاج بن یوسف په شان ظالم او فاسق پسې مونځ کولو. (مظاهر حق جدید ج ۱ ص ۷۳۵)

**د الّا باذنه د استثناء حکم:** ﴿ ولا یقعد فی بیته علی تکرمته الا باذنه ﴾ چه کله دوه معطوف جملې راشی او د هغې نه روستو څۀ استثناء واقع شی یا شرط مذکور ی نو په دې کښې اختلاف دې چه د هغې تعلق به د دواړو جملو څخه وی یا که صرف د آخری جملې څخه. ۱: امام شافعی رحمه الله د دې تعلق د دواړو جملو څخه منی. ۲: احناف وائی چه د دې تعلق صرف د آخری جملې څخه دې.

لهٰذا د حدیث په پورته ذکر شوې الفاظو باندې د شوافعو د اصولو مطابق خو هیڅ اشکال نه راځی خو د احنافو په اصولو باندې دا اشکال واردیږی چه د ﴿ الا باذنه ﴾ استثناء به صرف په قعود علی التکرمة څخه متعلق وی ﴿ امامة فی سلطانه ﴾ څخه نه او احنافو حضرات هم په حکم کښې دواړه مساوی مَنی.

شارحین حدیث د دې په ځواب کښې وائی چه ﴿ اذن ﴾ څخه ﴿ امامة فی سلطانه ﴾ جائز کیدل په

استثناء څخه نه ده بلکه د دې د جواز وجه دویمه ده هغه دا چه مونږ کله د ﴿ امامة فی سلطانه ﴾ د ممنوعیت په علت کښې غور اوکړو نو معلومه شوه چه په دې څخه به امام ته تکلیف وی او د هغه په حق کښې به مداخلت وی چه په هغې څخه به د هغه زړه تنګیږی چه د هغه نه منصب د امامت غصب کړې شو خوکه هغه خپله اجازت ورکړی نو هغه علت به مرتفع شی لهذا په صورت د اذن امامت جائز دې.

﴿ اذا کانوا ثلثة ﴾ د ثلثة قید اتفاقی دې د دریو نه کم یا زیات کیدو په شکل کښې هم دا حکم دې چه په هغوی کښې دې یو امام جوړ شی او باقی مقتدیان.

## بَابُ إِمَامَةِ النِّسَآءِ

(۵۱۳) عَنْ أُمِّ وَرَقَةَ الْأَنْصَارِيَّةِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُوْلُ انْطَلِقُوْا بِنَا إِلَى الشَّهِيْدَةِ فَنَزُوْرُهَا وَأَمَرَ أَنْ يُؤَذَّنَ لَهَا وَيُقَامَ وَتَؤُمَّ أَهْلَ دَارِهَا فِي الْفَرَآئِضِ رَوَاهُ الْحَاكِمُ وَإِسْنَادُهُ حَسَنٌ وَأَخْرَجَهُ أَبُوْدَاوُدَ وَلَمْ يَذْكُرْ فِي الْفَرَآئِضِ۔

**باب د زنانو امامت:** ۵۱۳ : د ام ورقه انصاریه رضی الله عنها نه روایت دې چه بیشکه رسول الله ﷺ به فرمائیل : مونږ څخه هغه شهیدې ته لاړ شئ چه مونږ د هغې ملاقات اوکړو، او رسول الله ﷺ د هغوی لپاره د اذان او اقامت اجازت اوفرمائیلو، دا حدیث حاکم نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې او دا ابوداؤد هم نقل کړې دې، خو د فرائض لفظ ئې نه دې ذکر کړې.

(۵۱۴) وَعَنْ رَيْطَةَ الْحَنَفِيَّةِ أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا أَمَّتْهُنَّ وَقَامَتْ بَيْنَهُنَّ فِي صَلٰوةٍ مَكْتُوْبَةٍ۔ رَوَاهُ عَبْدُ الرَّزَّاقِ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ۔

**۵۱۴**: د ربطه حنفیة نه روایت دې چه ام المومنین عائشې رضی الله عنها مونږ ته امامت اوکړو او په فرض مونځ کښې زمونږ ترمینځه اودریدله. دا حدیث عبد الرزاق نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۵۱۵) وَعَنْ حُجَيْرَةَ بِنْتِ حُصَيْنٍ قَالَتْ أَمَّتْنَا أُمُّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا فِي صَلٰوةِ الْعَصْرِ فَقَامَتْ بَيْنَنَا۔ رَوَاهُ عَبْدُ الرَّزَّاقِ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ۔

**۵۱۵**: حجیره بنت حصین وائی، ام المومنین ام سلمه رضی الله عنها د مازیګر مونځ مونږ ته په امامت څخه راکړو او زمونږ ترمینځه اودریدله. دا حدیث عبد الرزاق نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

**تشریح> بیان مذاهب** (۵۱۳ تا ۵۱۵ پورې) ۱: صرف د زنانو جماعت مکروه تحریمی دې که نفل وی یا فرض، دا مسلک د امام مالک رحمه الله دې د احنافو په متون کښې د ﴿ ویکره ﴾ الفاظ راغلې دی په

درمختار او بحر کښې د دې تصريح ده چه مکروه تحريمی دی د صاحب هدايه د تعليل نه هم دا راوځی چه هغوی هم د دې د کراهت تحريمی قائل دی علامه انزاری رحمه الله دې ته په شرح غاية البيان کښې بدعت وئيلې دې.

۲: صرف د زنانو جماعت مکروه تنزيهی دې (مرجعها خلاف الاولی) علامه عينی، محقق ابن الهمام په شرح هدايه کښې او مولانا عبدالحق په ﴿تحفة النبلاء فی جماعة النساء﴾ کښې د دې د کراهت تحريمی کيدو ترديد کړې دې او دې ته ئې زيات نه زيات خلاف اولی وئيلې دې.

۳: د امام شافعی رحمه الله په نزد د زنانو جماعت مستحب دې.

**د قائلين مکروه تحريمی دلائل:** د کراهت تحريمی قائلين وائی چه د زنانو د جماعت دوه صورتونه دی اول دا چه د هغوی چه کومه امام جوړيږی هغه به د صف ترمينځه اودريږی دويم چه هغه به د امامت د تقاضې د وجې نه مخکښې اودريږی که د صف ترمينځه اودريږی نو دا فعل په خپله مکروه تحريمی دې ځکه چه د رسول الله ﷺ فعل خپله د وړاندې اودريدلو وو نو هم دا به واجب وی او که وړاندې اودريږی نو زيادت د کشف چه په خپله يو فعل مکروه تحريمی دې د دې وجې نه به جماعت هم مکروه وی. (جوهرة) پس داسې يو شکل هم نشته چه د يو فعل مکروه تحريمی د ارتکاب نه بغير دې د هغوی جماعت اوشی، لکه څو برښنډ کسان که جماعت کول غواړی نو د هغوی جماعت هم مکروه تحريمی دې.

**قائلين د کراهت تنزيهی:** ۱: د دې باب اول روايت ۵۱۳ کوم چه د ام ورقة رضي الله عنها نه مروی دې کوم چه امام حاکم په مستدرک باب امامة المراة ..... الخ ج ۱ ص ۲۰۳ او ابوداؤد په کتاب الصلوة باب امامة النساء ج ۱ ص ۸۷ کښې تخريج کړې دې.

**قصه د شهيده رضي الله عنها:** ام ورقة بنت (عبدالله بن الحارث بن عويمر) رضي الله عنها فرمائی چه رسول الله ﷺ چه کله د بدر غزا ته روان شو نو ما عرض اوکړو! يا رسول الله ﷺ! ماته هم خپل ځان څخه جهاد ته د تلو اجازت راکړئ زه به د بيمارو مجاهدينو خدمت کوم کيدې شی چه الله پاک ماته هم شهادت نصيب اوفرمائی. رسول الله ﷺ اوفرمائيل په خپل کور کښې کينه! الله پاک به تاته شهادت درکوی راوی وائی چه د دغې ورځې نه د هغې نوم شهيده شو، هغې قرآن لوستلې وو نو د رسول الله ﷺ نه ئې اجازت اوغوښتلو په خپل کور کښې د موذن مقرر کولو رسول الله ﷺ اجازت ورکړو هغې خپل يو غلام او وينځه مدبر کړې وه هغوی دواړه د شپې پاسيدل او د هغې په مرئ ئې زور اوکړو تردې چه وفات شوه او هغوی دواړه اوتختيدل چه کله صبا شو نو د عمر رضي الله عنه زمانه وه نو

هغوى اوفرمائيل چه کومو کسانو ته د هغوى دواړو حال معلوم وى هغه دې حاضر کړې پس هغوى دواړه اونيولې شو عمر رضی الله عنه حکم ورکړو او دواړه په سولئ کړې شو دا په مدينه کښې اول سولى وه کومه چه هغوى ته ورکړې شوه. د دې نه پس امام ابوداؤد رحمه الله د عبدالرحمٰن بن خلاد په طريق څخه دا هم روايت کړې دې:

وكان رسول الله صلى الله عليه وسلم يزورها في بيتها وجعل لها مؤذنًا يؤذن لها وامرها ان تؤم اهل دارها قال عبدالرحمٰن فانا رايت مؤذنها شيخًا كبيرًا۔

ددې په سند کښې وليد بن جميع دې چه دهغه متعلق بعض خلقو وئيلې دى چه ابن حبان په وليد کښې کلام کړې دې خو دا صحيح نه ده ځکه چه امام مسلم رحمه الله د دې حديث تخريج کړې دې او هم دا کافی ده ابن معين او عجلى هغه ته ثقه وئيلې دې، امام احمد او ابوزرعه رحمهما الله فرمائى چه په ده کښې هيڅ باک نشته، ابوحاتم رحمه الله وائى چه دا صالح الحديث دې خپله ابن حبان هم دا په ثقاتو کښې ليکلې دې.

۲: د دې باب دويم روايت ۵۱۴ د ربطه الحنفية نه مروى دې کوم چه عبدالرزاق په **المصنف كتاب الصلوة باب المراة تؤم النساء** ج ۳ ص ۱۴۱ کښې تخريج کړې دې هغه دارقطنى او بيهقى روايت کړې دې د هغوى الفاظ دا دى ﴿ **فقامت بينهن وسطا** ﴾ امام نووى رحمه الله په خلاصه کښې د دې سند ته صحيح وئيلې دې ددې نه علاوه حاکم په مستدرک کښې دعائشې رضی الله عنها نه روايت کړې دې﴿ **انها كانت تؤذن وتقيم وتؤم النساء فتقوم وسطهن** ﴾ حاکم ددې د تخريج کولو نه پس سکوت فرمائيلې دې.

**امامت د عائشې رضی الله عنها او د فريقينو موقف**: قائلين د کراهت تحريمى وائى چه د عائشې رضی الله عنها فعل مذکوره په ابتداء د اسلام کښې وو روستو د زنانو جماعت منسوخ شو خو علامه عينى رحمه الله وائى چه دا خو د احاديثو او تاريخ سيرت نه ناواقفيت دې ځکه چه رسول الله صلى الله عليه وسلم د نبوت نه پس په مکه مکرمه کښې ديارلس کاله اوسيدلې وو (کما رواه البخارى ومسلم) بيا ئې په مدينه منوره کښې عائشه رضی الله عنها په نکاح کښې راوستله چه کله د هغوى عمر شپږ کاله وو چه کله د هغې عمر نهه کاله شو نو د هغوى رخصتى په عمل کښې راغله، د رسول الله صلى الله عليه وسلم په حيات کښې نهه کاله وه لهذا امامت کول به د بلوغت نه پس وى نو دا د ابتداء اسلام فعل څنګه کيدې شى د حاکم او ابوداؤد ذکر شوې روايات د نسخ د ټولو توجيهاتو نفى کوى. او دا هم منلې شوې خبره ده چه ناسخ هم صحيح طور څخه هيڅ متعين نه دې. صاحب عنايه د صاحب هداية د توجيه چه امامت دعائشه رضی الله عنها په ابتداء د اسلام باندې محمول دې په وضاحت کښې وئيلې دى چه په ابتداء د اسلام کښې د

زنانو جماعت په طور د سنت جائز وو کومه زنانه چه به امام وه هغه به په مینځ کښې اودریدله روستو د دې سنیت منسوخ شو نه جواز، تردې چه که اوس زنانه جماعت کوی نو بالاجماع جائز ده که امام وړاندې وی او که په مینځ کښې وی لاستجماع شرائط الجواز خو افضل هم دا ده چه په مینځ کښې اودریږی رجحان جانب الستر.

**د اصول فقه یو قاعده:** په نور الانوار وغیره کښې دا قاعده ذکر ده چه زمونږ په نزد د صفت وجوب انتفاء د صفت جواز انتفاء لره مستلزم وی او په دې کښې د وجوب او سنت فرق نشته پس هر کله چه سنیت منسوخ شو نو جواز به هم منسوخ وی او استدلال بالمنسوخ صحیح نه دې صاحب عنایة د دې په ځواب کښې وائی چه کوم جواز په ضمن د کراهت کښې دې او کوم جواز چه سنت وو هغه په دې ځخه منسوخ شو، د عائشې رضي الله عنها د فعل نه استدلال هم د دې خبرې د بیانولو لپاره دې چه د زنانو جماعت سنت وو کوم چه منسوخ شو او زمونږ په زمانه کښې چه دې ته جائز وئیلې شوې دې هغه د هغه جواز د مقتضی په بناء دې کوم چه د اجتماع شرائط او انتفاء موانع د وجې نه دې. ۳: د حجیره بنت حصین روایت ۵۱۵ کښې هم صراحة د ام سلمه رضي الله عنها امامت مذکور دې دا روایت عبدالرزاق په المصنف کتاب الصلوة باب المراة تؤم ج ۱ ص ۱٤۰ کښې تخریج کړې دې.

**فیصله کُن قول:** بهر حال د دې باب درې واړه روایات د زنانو په جماعت باندې د جواز بلا کراهت واضح ثبوت دې او په مذهب کښې صحیح قول هم دا دې چه د دوی جماعت بغیر د کراهت نه جائز دې اګر چه خلاف اولی دې پس امام محمد رحمه الله په کتاب الاثار کښې د عائشې رضي الله عنها اثر (چه هغې به په رمضان کښې زنانو ته امامت کولو) ذکر کولو نه پس لیکلې دی قال محمد لا یعجبنا ان تؤم المراة ... مونږ دا خبره نه خوښوو چه زنانه امام جوړه شی هم دا د ابوحنیفه رحمه الله قول دې دا قول د زنانو د جماعت په خلاف اولی کیدو باندې دال دې.

او په خلاصه کښې دا هم دی ﴿ صلاتهن فرادی افضل ﴾ یعنی د زنانو ځانله ځانله مونځ کول افضل دی پس د دې نه هم ښکاره کیږی چه د زنانو جماعت مکروه نه دې بلکه خلاف افضل دې پس چه کله روایت مذهبا د درایت موافق دې نو په دې باندې اعتماد کیدل پکار دی لهذا صحیح حکم دا دې چه د زنانو جماعت بغیر د کراهت نه جائز دې په هغوی کښې چه کومه زنانه امام جوړه شی نو په هغې باندې اعتماد پکار دې. لهذا صحیح حکم دا دې چه د زنانو جماعت بغیر د کراهت نه جائز دې په هغوی کښې چه کومه زنانه امام جوړه شی هغه دې په مینځ کښې اودریږی، خو اولی دا ده چه زنانه دې ځانله ځانله مونځ کوی.

## بَابُ اِمَامَةِ الْاَعْمٰى

(۵۱۶) عَنْ مَحْمُوْدِ بْنِ الرَّبِيْعِ اَنَّ عِتْبَانَ بْنَ مَالِكٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كَانَ يَؤُمُّ قَوْمَهُ وَهُوَ اَعْمٰى وَاَنَّهُ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّهَا تَكُوْنُ الظُّلْمَةُ وَالسَّيْلُ وَاَنَا رَجُلٌ ضَرِيْرُ الْبَصَرِ فَصَلِّ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فِيْ بَيْتِيْ مَكَانًا اَتَّخِذُهُ مُصَلّٰى فَجَآءَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: اَيْنَ تُحِبُّ اَنْ اُصَلِّيَ؟ فَاَشَارَ اِلٰى مَكَانٍ مِّنَ الْبَيْتِ فَصَلّٰى فِيْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ۔

**باب د ړوند سړي امامت**: ۵۱۲: د محمود بن الربيع نه روايت دې چه عتبان بن مالک ﷛ خلقو ته امامت کولو حال دا چه هغه ړوند وو او هغوی عرض اوکړو، يا رسول الله ﷺ! (په لاره کښې) تيارهٔ او اوبه وی او زه نابينا يم، يا رسول الله ﷺ! تاسو زما په کور کښې داسې ځائې کښې مونځ اوکړئ چه هلته زه د مونځ ځائې جوړ کړم، نو رسول الله ﷺ تشريف راوړلو او وې فرمائيل: ته کوم ځائې غواړې چه زه مونځ اوکړم، هغه په کور کښې يو ځائې طرف ته اشاره اوکړه نو رسول الله ﷺ هلته مونځ اوکړو، دا حديث بخاری نقل کړې دې.

(۵۱۷) وَعَنْ اَنَسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَخْلَفَ ابْنَ اُمِّ مَكْتُوْمٍ يَؤُمُّ النَّاسَ وَهُوَ اَعْمٰى۔ رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَاِسْنَادُهُ حَسَنٌ۔

۵۱۷: د انس بن مالک ﷛ نه روايت دې چه بيشکه رسول الله ﷺ عبد الله بن ام مکتوم ﷛ خلقو ته د مونځ ورکولو لپاره قائم مقام کړو حال دا چه هغه نابينا وو.

دا حديث ابوداؤد نقل کړې دې او د دې سند حسن دې.

(۵۱۸) وَعَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَخْلَفَ ابْنَ اُمِّ مَكْتُوْمٍ عَلَى الْمَدِيْنَةِ يُصَلِّيْ بِالنَّاسِ۔ رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي الْمَعْرِفَةِ وَاِسْنَادُهُ حَسَنٌ۔

۵۱۸: د ام المومنين عائشې ﷝ نه روايت دې چه رسول الله ﷺ عبد الله بن ام مکتوم ﷛ په مدينه منوره کښې (د خپل عدم موجودګئ دوران کښې) خلقو ته د مونځ ورکولو لپاره نائب جوړ کړو.

دا حديث بيهقی په (معرفة السنن والاثار) کښې نقل کړې دې او د دې سند حسن دې.

**تشريح**>(۵۱۲ نه تر ۵۱۸ پورې) د دې باب اول روايت ۵۱۲ د محمود بن الربيع نه مروی دې چه امام بخاری ﷫ په **کتاب الاذان باب الرخصة فی المطر والعلة** ج ۱ ص ۹۲ کښې تخريج کړې دې دويم روايت ۵۱۷ د انس ﷛ نه منقول دې چه امام ابوداؤد په **کتاب الصلوة باب امامة الاعمی** ج ۱ ص ۸۸ کښې نقل کړې دې، آخری روايت ۵۱۸ د عائشې ﷝ نه مروی دې کوم چه په صحيح ابن حبان ج ٤

ص ۲۸۷، سنن الکبری ج ۳ ص ۸۸ کښې تخریج کړې دي. د دريې واړو روایاتو مضمون دا دې چه رسول الله ﷺ عتبان بن مالک او عبد الله بن ام مکتوم رضی الله عنهما ته د امامت اجازت ورکړې وو بلکه ابن ام مکتوم رضی الله عنه ئې د مونځ د ورکولو لپاره خلیفه جوړ کړې وو د درې واړو روایاتو مدلول دا دې چه د نابينا امامت جائز دې.

فقهاء کرامو چه کوم مکروه وئیلې دی د هغې وجه دا ده چه هغه د نابينا کیدو د وجې نه پوره طریقې څخه د ناپاکئ نه احتیاط نه شی کولې خو چونکه د نجاست صرف احتمال دې په دې وجه د هغه امامت مکروه تنزيهی دې او که په څه ذریعه څخه هغه د نجاست وغیره نه د بچ کیدلو پوره اهتمام کوی نو بغیر د کراهت نه جائز دې، احادیث الباب هم په دې باندې دلالت کوی بله دا چه که نابينا د ټولو خلقو نه زیات علم لری نو اولی دې ځکه چه رسول الله ﷺ جهاد ته د تلو په وخت عبد الله بن ام مکتوم او عتبان مالک رضی الله عنهما کوم چه نابينا وو خلیفه جوړ کړې وو او هغوی دواړو به د امامت فرائض پوره کول.

## بَابُ إِمَامَةِ الْعَبْدِ

(۵۱۹) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا قَدِمَ الْمُهَاجِرُوْنَ الْأَوَّلُوْنَ الْعُصْبَةَ مَوْضِعًا ۷ بِقُبَاءٍ قَبْلَ مَقْدَمِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَؤُمُّهُمْ سَالِمٌ مَوْلَى أَبِي حُذَيْفَةَ وَكَانَ أَكْثَرَهُمْ قُرْآنًا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

**باب: د غلام امامت:** **۵۱۹:** سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما فرمائی: د رسول الله ﷺ د تشریف راوړلو نه مخکښې چه کله مهاجرين اولين "عصبة" کوم چه په قباء کښې يو ځائې دې، ته راغلل نو هغوی ته سالم مولی ابی حذیفه رضی الله عنه امامت کولو، او هغه په هغوی کښې زیات قرآن لوستونکې وو. دا حدیث بخاری نقل کړې دې.

(۵۲۰) وَعَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ أَنَّهُمْ كَانُوْا يَأْتُوْنَ عَائِشَةَ أُمَّ الْمُؤْمِنِيْنَ بِأَعْلَى الْوَادِيْ هُوَ وَعُبَيْدُ بْنُ عُمَيْرٍ وَالْمِسْوَرُ بْنُ مَخْرَمَةَ وَنَاسٌ كَثِيْرٌ فَيَؤُمُّهُمْ أَبُوْ عَمْرٍو مَوْلَى عَائِشَةَ وَأَبُوْ عَمْرٍو غُلَامُهَا حِيْنَئِذٍ لَمْ يُعْتَقْ قَالَ وَكَانَ إِمَامَ بَنِيْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ وَعُرْوَةَ رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ فِيْ مُسْنَدِهٖ وَالْبَيْهَقِيُّ فِيْ مَعْرِفَةِ السُّنَنِ وَالْآثَارِ وَإِسْنَادُهٗ حَسَنٌ.

**۵۲۰:** د ابن ابی ملیکة نه روایت دې چه مونږ به د ام المومنين عائشې رضی الله عنها په خدمت کښې د کلی په پورته حصه کښې حاضریدلو، عبید بن عمیر، مسور بن مخرمه او ډیرو نورو خلقو ته به د ام المومنين عائشې صديقې رضی الله عنها آزاد کړی غلام ابوعمرو مونځ ورکولو او ابوعمرو هغه وخت کښې د عائشې رضی الله عنها غلام وو، لا تراوسه پورې نه وو آزاد کړې شوې، (ابن ابی ملیکة فرمائی) هغه د بنی

محمد بن ابی بکر او عروة امام وو. دا حدیث امام شافعیؒ په خپل مسند کښې او بیهقی په معرفة السنن والاثار کښې نقل کړې دې او د دې سند حسن دې.

**تشریح**>(۵۱۹ نه ۵۲۰ پورې) د باب په اول روایت کښې د ابن عمرؓ نه روایت دې د حدیث مضمون په تحت اللفظ ترجمه کښې واضح کړې شوې دې امام بخاریؒ په **کتاب الاذان باب امامة العبد والمولی** ج ۱ ص ۹۶ کښې د دې تخریج کړې دې، دویم روایت د ابن ابی ملیکهؒ دې کوم چه په سنن الکبری کتاب الصلوة ج ۳ ص ۸۸ **باب امامة العبید** کښې نقل کړې شوې دې د دواړو نه د غلام د امامت جواز ثابت دې.

فقهاء کرامو چه د غلام (اګر چه آزاد کړې شوې وی) امامت ته مکروه تنزیهی وئیلې دې د هغې وجه دا ده چه د غلامئ په حالت کښې هغه ته دخپل مالک په خدمت کښې د اوسیدو د وجې نه د تحصیل علم او د مونځ د مسائلو زده کولو فرصت نه وی، د جاهل غلام مثال د اعرابی، باندچی او ناپوهه په شان وی چه په هغه پسې د جهالت د وجې نه مونځ مکروه دې.

**د جاهل ناپوهه لطیفه**: مونږ ته خپل شیخ یو لطیفه اورولې وه چه یو جاهل د ماښام په مانځه کښې د یو امام اقتداء اوکړه امام دا آیت کریمه اولوستلو ﴿ **الْأَعْرَابُ أَشَدُّ كُفْرًا وَنِفَاقًا الخ** ﴾ جاهل په دې اوریدلو باندې نیت ماتولو څخه یو ډنډه راوړه او بیا په مانځه کښې شامل شو بیا امام دا آیت کریمه اولوستلو ﴿ **وَمِنَ الْأَعْرَابِ مَنْ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ الخ** ﴾ نو جاهل په مانځه کښې اووې چه ته ډنډې برابر کړې.... **فهذا یدل علی غلبة جهلهم علیهم** ..... حافظ ابن حجرؒ فرمائی چه د غلام امامت د جمهورو په نزد صحیح دې صرف امام مالکؒ ترې نه مخالفت کړې دې او وئیلې ئې دی چه غلام به د احرارو امام نه جوړیږی خو که هغه قاری او عالم وی او مقتدیان داسې نه وی نو بیا هیڅ باک نشته بغیر د جمعې او اخترونو نه چه هغه په غلام باندې فرض نه دی، علامه اشهب مالکیؒ فرمائی چه هغه هم صحیح دې ځکه چه کله غلام جمعه کښې شریک شی نو د هغه نه به فرض ادا شی. (فتح الباری)

## بَابُ مَا جَآءَ فِیْ اِمَامَةِ الْجَالِسِ

(۵۲۱) عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَّضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَـيْهِ وَسَلَّمَ رَكِبَ فَرَسًا فَصُرِعَ عَنْهُ فَجُحِشَ شِقُّهُ الْاَيْمَنُ فَصَلّٰى صَلٰوةً مِّنَ الصَّلَوَاتِ وَهُوَ قَاعِدٌ فَصَلَّيْنَا وَرَآءَهٗ قُعُوْدًا فَلَـمَّا انْصَرَفَ قَالَ: اِنَّمَا جُعِلَ الْاِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهٖ فَاِذَا صَلّٰى قَآئِمًا فَصَلُّوْا قِيَامًا فَاِذَا رَكَعَ فَارْكَعُوْا وَاِذَا رَفَعَ فَارْفَعُوْا وَاِذَا قَالَ: ''سَمِعَ اللّٰهُ

لِمَنْ حَمِدَهُ " فَقُوْلُوْا: " رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ " وَإِذَا صَلَّى قَـآئِمًا فَصَلُّوْا قِيَامًا وَّإِذَا صَلَّى جَالِسًا فَصَلُّوْا جُلُوْسًا أَجْمَعُوْنَ۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

**باب: كوم روايات چه د كيناستونكى د امامت په باره كښې دى:** ۵۲۱: د انس بن مالك ﷺ نه روايت دې چه بيشكه رسول الله ﷺ په اس باندې كيناستلو نو د هغې نه اوغورځيدلو، د هغوى ښې طرف زخمى شو، رسول الله ﷺ يو مونځ په ناسته ورکړو، نو مونږ هم په هغوى پسې په ناسته مونځ اوکړو، چه كله رسول الله ﷺ د مانځه نه فارغ شو، بيشكه امام هم د دې لپاره جوړ كړې شوې دې چه د هغه اقتداء اوكړې شى، چه كله هغه په ولاړه مونځ كوى نو تاسو هم په ولاړه مونځ كوئ، چه كله هغه ركوع اوكړى نو تاسو هم ركوع كوئ، چه كله هغه سر اوچت كړى نو تاسو هم اوچت كړې او كله چه هغه ﴿ سمع الله لمن حمده ﴾ اوائى نو تاسو ﴿ ربنا ولك الحمد ﴾ وايئ او كله چه هغه په ولاړه باندې مونځ كوى، نو تاسو په ولاړه باندې مونځ كوئ او كله چه هغه په ناسته باندې مونځ كوى نو تاسو ټول ئې هم په ناسته كوئ. دا حديث شيخينو نقل كړې دې.

(۵۲۲) وَعَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِيْنَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا أَنَّهَا قَالَتْ صَلّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ شَاكٍ فَصَلّٰى جَالِسًا وَّصَلّٰى وَرَآءَهُ قَوْمٌ قِيَامًا فَأَشَارَ إِلَيْهِمْ أَنِ اجْلِسُوْا فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ إِنَّمَا جُعِلَ الْإِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهِ فَإِذَا رَكَعَ فَارْكَعُوْا وَإِذَا رَفَعَ فَارْفَعُوْا وَإِذَا قَالَ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فَقُوْلُوْا رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ وَإِذَا صَلّٰى جَالِسًا فَصَلُّوْا جُلُوْسًا رَّوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

۵۲۲: ام المومنين عائشې ﷺ فرمائى: رسول الله ﷺ د بيمارئ په حالت كښې په ناسته مونځ اوكړو، خلقو ورپسې شاته مونځ اوكړو، نو رسول الله ﷺ هغوى ته اشاره اوكړه چه كينئ چه كله رسول الله ﷺ سلام واړولو، نو وې فرمائيل بيشكه امام د دې لپاره جوړولې شى چه د هغه اقتداء اوكړې شى، چه كله هغه ركوع اوكړى نو تاسو هم ركوع كوئ، چه كله هغه سر اوچت كړى نو تاسو هم سر اوچتوئ او كله چه هغه ﴿ سمع الله لمن حمده ﴾ اوائى، نو تاسو ﴿ ربنا لك الحمد ﴾ وايئ، او كله چه هغه په ناسته باندې مونځ كوى، نو تاسو هم په ناسته باندې مونځ كوئ. دا حديث شيخينو نقل كړې دې.

(۵۲۳) وَعَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُتْبَةَ قَالَ دَخَلْتُ عَلٰى عَائِشَةَ فَقُلْتُ أَلَا تُحَدِّثِيْنِيْ عَنْ مَّرَضِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ بَلٰى ثَقُلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَصَلَّى النَّاسُ؟ فَقُلْنَا لَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَهُمْ يَنْتَظِرُوْنَكَ قَالَ ضَعُوْا لِيْ مَآءً فِي الْمِخْضَبِ قَالَتْ فَفَعَلْنَا فَاغْتَسَلَ فَذَهَبَ لِيَنُوْءَ فَأُغْمِيَ عَلَيْهِ ثُمَّ أَفَاقَ فَقَالَ أَصَلَّى النَّاسُ؟ قُلْنَا لَا هُمْ يَنْتَظِرُوْنَكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ ضَعُوْا لِيْ مَآءً فِي الْمِخْضَبِ قَالَتْ فَقَعَدَ

فَاغْتَسَلَ ثُمَّ ذَهَبَ لِيَنُوءَ فَأُغْمِيَ عَلَيْهِ ثُمَّ أَفَاقَ فَقَالَ أَصَلَّى النَّاسُ؟ قُلْنَا لَا هُمْ يَنْتَظِرُوْنَكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَقَالَ ضَعُوْا لِيْ مَاءً فِي الْمِخْضَبِ فَقَعَدَ فَاغْتَسَلَ ثُمَّ ذَهَبَ لِيَنُوءَ فَأُغْمِيَ عَلَيْهِ ثُمَّ أَفَاقَ فَقَالَ أَصَلَّى النَّاسُ؟ فَقُلْنَا لَا هُمْ يَنْتَظِرُوْنَكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَالنَّاسُ عُكُوْفٌ فِي الْمَسْجِدِ يَنْتَظِرُوْنَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِصَلٰوةِ الْعِشَاءِ الْآخِرَةِ، فَأَرْسَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أَبِيْ بَكْرٍ ۷ بِأَنْ يُصَلِّيَ بِالنَّاسِ فَأَتَاهُ الرَّسُوْلُ فَقَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُكَ أَنْ تُصَلِّيَ بِالنَّاسِ فَقَالَ أَبُوْبَكْرٍ وَّكَانَ رَجُلًا رَّقِيْقًا يَا عُمَرُ صَلِّ بِالنَّاسِ فَقَالَ لَهُ عُمَرُ أَنْتَ أَحَقُّ بِذٰلِكَ فَصَلّٰى أَبُوْبَكْرٍ تِلْكَ الْأَيَّامَ ثُمَّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَدَ مِنْ نَفْسِهٖ خِفَّةً فَخَرَجَ بَيْنَ رَجُلَيْنِ أَحَدُهُمَا الْعَبَّاسُ لِصَلٰوةِ الظُّهْرِ وَأَبُوْبَكْرٍ يُصَلِّيْ بِالنَّاسِ فَلَمَّا رَاٰهُ أَبُوْبَكْرٍ ذَهَبَ لِيَتَأَخَّرَ فَأَوْمَأَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَنْ لَا يَتَأَخَّرَ قَالَ: أَجْلِسَانِيْ إِلٰى جَنْبِهٖ ۸ فَأَجْلَسَاهُ إِلٰى جَنْبِ ۸ أَبِيْ بَكْرٍ قَالَ: فَجَعَلَ أَبُوْبَكْرٍ يُصَلِّيْ وَهُوَ قَائِمٌ ◦ بِصَلٰوةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسُ بِصَلٰوةِ أَبِيْ بَكْرٍ، وَّالنَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاعِدٌ قَالَ: عُبَيْدُ اللّٰهِ فَدَخَلْتُ عَلٰى عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ فَقُلْتُ لَهُ أَلَا أَعْرِضُ عَلَيْكَ مَا حَدَّثَتْنِيْ عَائِشَةُ عَنْ مَّرَضِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ هَاتِ فَعَرَضْتُ عَلَيْهِ حَدِيْثَهَا فَمَا أَنْكَرَ مِنْهُ شَيْئًا غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ أَسَمَّتْ لَكَ الرَّجُلَ الَّذِيْ كَانَ مَعَ الْعَبَّاسِ قُلْتُ لَا قَالَ هُوَ عَلِيٌّ۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

۵۲۳: عبيدالله بن عبدالله بن عتبه رحمه الله فرمائي، ما د ام المومنين سيده عائشه رضي الله عنها په خدمت کښې تلو څخه عرض اوکړو، آيا تاسو به ماته د رسول الله ﷺ د مرض الوفات په باره کښې بيان اوکړئ؟ هغوی اووې: او ! چه رسول الله ﷺ بيمار شو، نو هغوی اوفرمائيل: آيا خلقو مونځ کړې دې؟ مونږ عرض اوکړو نه جی! يا رسول الله ﷺ! خلق ستاسو انتظار کوی، رسول الله ﷺ اوفرمائيل زما لپاره په لوښی کښې اوبه کيږدئ، ام المومنين رضي الله عنها فرمائي چه مونږ اوبه کيخودلې نو هغوی غسل اوفرمائيلو، رسول الله ﷺ په مشکله پاسيدل اوغوښتل نو په هغوی باندې بيهوشي راغله، بيا په هوش کښې راغلل نو وې فرمائيل: آيا خلقو مونځ کړې دې؟ مونږ عرض اوکړو نه جی يا رسول الله ﷺ هغوی ستاسو منتظر دی، رسول الله ﷺ اوفرمائيل، زما لپاره په لوښی کښې اوبه کيږدئ. په ناسته باندې رسول الله ﷺ غسل اوفرمائيلو، په مشکله ئې پاسيدل غوښتل چه بيهوشي پرې راغله، چه بيا په هوش کښې راغلل نو پوښتنه ئې اوفرمائيله، آيا خلقو مونځ کړې دې مونږ عرض اوکړو نه جی يا رسول الله ﷺ هغوی ستاسو منتظر دی، نو وې فرمائيل زما لپاره په لوښی کښې اوبه کيږدئ، هغوی کيناستل او غسل ئې اوفرمائيلو، بيا په مشکله پاسيدلې وو چه بيهوشي پرې راغله چه بيا په هوش کښې راغلل نو وې فرمائيل: آيا خلقو مونځ

اوکړو، نه یا رسول اللهﷺ هغوی ستاسو منتظر دی. خلق په مسجد کښې ناست دی. د رسول اللهﷺ د ماسخوتن د مانځه انتظار کوی، بیا رسول اللهﷺ ابوبکرصدیق رضی الله عنه ته پیغام اولیږلو چه خلقو ته دې مونځ ورکړه، نو قاصد راغلو او وې وئیل بیشکه رسول اللهﷺ تاسو ته حکم کوی چه تاسو خلقو ته مونځ ورکړئ، ابوبکر رضی الله عنه اوفرمائیل: هغوی د نرم زړه والا وو. اې عمر خلقو ته مونځ ورکړه، نو عمر رضی الله عنه اوفرمائیل تاسو د دې زیات حقدار یئ، نو په هغه ورځو کښې ابوبکر رضی الله عنه خلقو ته مونځ ورکړو، بیا رسول اللهﷺ خپل ځان صحت مند محسوس کړو نو د دوه کسانو باندې لاس اچولو څخه ئې تشریف یوړلو، یو په هغوی کښې عباس رضی الله عنه وو. د ماسپخین د مونځ ادا کولو لپاره او ابوبکر رضی الله عنه خلقو ته مونځ ورکولو. چه کله ابوبکر رضی الله عنه رسول اللهﷺ اولیدو نو شاته کیدل ئې اوغوښتل، رسول اللهﷺ ورته په اشارې څخه اوفرمائیل چه مه شاته کیږه، ما د هغه په اړخ کښې کینوئ، نو هغوی رسول اللهﷺ د ابوبکر رضی الله عنه په اړخ کښې کینولو (راوی وائی) نو ابوبکر صدیق رضی الله عنه د رسول اللهﷺ په اقتداء کښې مونځ کولو، حال دا چه ابوبکرصدیق رضی الله عنه ولاړ وو او خلقو د ابوبکرصدیق رضی الله عنه په اقتداء کښې مونځ اوکړو، او رسول اللهﷺ ناست وو. عبیدالله وائی، چه زه عبدالله بن عباس رضی الله عنهما ته راغلم نو ما هغوی ته اووې، آیا زه ستاسو مخکښې هغه حدیث پیش کړم کوم چه ماته ام المومنین عائشې صدیقې رضی الله عنها د رسول اللهﷺ د بیمارئ په باره کښې بیان کړو، هغوی افرمائیل: راوړه، ما هغوی ته (بیان کړې حدیث) واورولو، هغوی د یو څیز نه هم انکار اونکړو، سوا د دې نه چه هغوی اوفرمائیل: آیا ام المومنین رضی الله عنها تاته د هغه سړی نوم واخستلو کوم چه د عباس رضی الله عنه څخه ملګرې وو، ما اووې نه! هغوی اوفرمائیل: هغه علی رضی الله عنه وو.
دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

**تشریح**> (۵۲۱ نه ۵۲۳ پورې) د تمهید په طور عرض دې چه فقهاء کرام په دې خبره باندې متفق دی چه د امام او منفرد لپاره بغیر د عذر نه فرض مونځ په ناسته باندې ادا کول صحیح نه دی د داسې کونکی مونځ نه کیږی خو که امام په عذر څخه قاعدا مونځ ادا کړی نو د مقتدیانو د اقتداء او د هغې د طریقې په باره کښې د فقهاء کرامو اختلاف دې.

**بیان مذاهب**: د امام مالک او امام محمد رحمه الله په نزد قائم د قاعد اقتداء نه شی کولې د قیاس تقاضا هم دا ده ځکه چه په دې صورت کښې د مقتدی حالت د امام د حالت نه قوی دې د هغوی مستدل ﴿ **لا یومن رجل بعدی جالسا** ﴾ (مصنف عبدالرزاق ج ۲ ص ۴۶۳) دې، جمهور وائی چه د دې روایت مدار په جابر جعفی باندې دې کوم چه متفق علیه ضعیف دې امام دارقطنی رحمه الله ددې حدیث په باره کښې فرمائی ﴿ **لم یروه غیر جابر الجعفی عن الشعبی وهو متروک والحدیث مرسل لا تقوم به حجة** ﴾ (سنن دار القطنی ج ۱ ص ۳۹۸) لهذا د دې حدیث نه استدلال صحیح نه دې.

۲: امام احمد، امام اوزاعی، اهل ظواهر، اسحاق بن راهویه ﷭ فرمائی چه که امام د څه عذر د وجې نه په ناسته باندې مونځ کوی نو مقتدی دې هم په ناسته اوکړی اګر چه هغوی ته هیڅ عذر نه وی د محدثین شافعیه یو جماعت ابن خزیمة، ابن المنذر او ابن حبان ﷭ هم د دې قائل دی.

۳: د امام احمد ﷫ په مذهب کښې دا تفصیل هم منقول دې چه امام ته که عذر د مانځه په مینځ کښې راشی نو مقتدی په ولاړه مونځ کولې شی او که عذر د شروع نه وو نو هغوی له هم د امام په شان په ناسته باندې مونځ کول پکار دی.

۴: امام ابوحنیفه، امام ابویوسف، امام شافعی، سفیان ثوری، ابوثور او اکثر فقهاء او د جمهور په نزد په ولاړه باندې مونځ کونکې په ناسته باندې د رکوع سجده کونکی اقتداء کولې شی، د امام بخاری هم دا مسلک دې امام حازمی دې ته د اکثر اهل علم مسلک وئیلې دې (کتاب الاعتبار فی بیان الناسخ والمنسوخ ص۱۰۹)

**د امام احمد ومن وافقه دلائل**: ۱: د دې باب اول روایت ۵۲۱ کوم چه د انس ﷜ نه مروی دې د هغوی مستدل دې کوم چه امام بخاری ﷫ کتاب الاذان باب انما جعل الامام لیؤتم به ... ج ۱ ص ۹۶ او مسلم په کتاب الصلوة باب اتمام الماموم بالامام ج ۱ ص ۱۷۶ کښې تخریج کړې دې. چه په هغې کښې تصریح ده **﴿ واذا صلی قائما فصلوا قیاما واذا صلی جالسا فصلوا جلوسا ﴾**.

۲: د عائشې ﷞ روایت ۵۲۲ کښې په صحیحین کښې منقول دی په آخر کښې دی **﴿ واذا صلی جالسا فصلوا جلوسا ﴾** بخاری ج ۱ ص ۹۵ ومسلم ج ۱ ص ۱۷۷ په صحابه کرامو ﷢ کښې د جابر بن عبدالله، ابوهریره، اسید بن حضیر، قیس بن فهد ﷢ او په تابعینو کښې د جابر بن زید ﷫ هم دا فتوی ده حافظ ابن حجر ﷫ څخه د خپل عظیم علم او تبحر نه د شافعی مذهب په مقابله کښې حنابلهٔ ته قوی وئیلې دې.

۳: د جحش معنی ده د څرمنې ګریدل، د ابوداؤد ج ۱ ص ۸۸ د روایت نه معلومیږی چه د رسول الله ﷺ ښې اړخ ګریدلې وو حافظ ابن حبان ﷫ فرمائی چه دا واقعه د ذی الحجة ۵ هجری ده.

**د امام احمد ﷫ د مستدل نه د جمهورو ځواب**: د امام احمد د مستدل حدیث انس ﷜ نه ځواب دا دې چه دا حدیث او د دې سلسلې باقی ټول احادیث څخه د حدیث الباب ۵۲۲ څخه منسوخ دې پس امام بخاری ﷫ په خپل صحیح کښې دوه ځایونو کښې د دې تصریح کړې ده. ا: **باب انما جعل الامام لیوتم به** کښې د خپل شیخ حمیدی قول ذکر کړې دې. هغوی فرمائی چه د رسول الله ﷺ ارشاد **﴿ اذا صلی جالسا فصلوا جلوسا ﴾** د هغوی د مرض قدیم (یعنی د اس نه د غورځیدلو په قصه)

کښې وه بیا د دې نه پس (په مرض وفات کښې) رسول اللهﷺ په ناسته باندې مونځ اوکړو او صحابه کرامو﷢ ورپسې په ولاړه باندې اقتداء اوکړه هغه وخت رسول اللهﷺ هغوی ته د ناستې حکم اونکړو او د رسول اللهﷺ د ټولو نه آخری فعل معمول جوړیدلې شی. ب: **باب اذا عاد مریضا فحضرت الصلوٰة فصلی بهم جماعة** د لاندې دی چه امام بخاری﷫ فرمائی چه شیخ حمیدی﷫ فرمائی چه دا حدیث منسوخ دې ځکه چه رسول اللهﷺ آخری مونځ په ناسته باندې ورکړې دې چه په هغې کښې خلق په هغوی پسې ولاړ وو شیخ خازمی﷫ په خپل کتاب الناسخ والمنسوخ کښې: دې حدیث منسوخ کیدل د علماء کرامو نه نقل کړې دې.

**د جمهورو دلائل**: ۱: د دې باب آخری روایت ۵۲۳ کوم چه عبید الله بن عبد الله﷫ د عائشې﷞ نه روایت کړې دې کوم چه په صحیحین کښې بخاری ج ۱ ص ۹۵ او مسلم ج ۱ ص ۱۷۷ کښې تخریج کړې شوې دې کوم چه د جمهورو مستدل دې تفصیلی واقعه د حدیث عائشې﷞ په لفظی ترجمه کښې واضحه ده چه رسول اللهﷺ خپل آخری مونځ په ناسته باندې اوکړو او قوم په هغوی پسې شاته په ولاړه اقتداء اوکړه، د بیهقی په کتاب المعرفة کښې دا الفاظ دی:

**فكان عليه السلام بين يدى ابى بكر يصلى قاعدًا وابوبكر يصلى بصلاته قائمًا والناس يصلون بصلوٰة ابى بكر والناس قيام خلف ابى بكر.** لهٰذا دا حدیث د دې سلسلې د باقی احادیثو لپاره ناسخ دې.

**په حدیث د عائشه﷞ باندې د اضطراب اعتراض او د هغې تفصیلی ځواب**: په حدیث عائشه﷞ باندې (چه د احنافو او جمهور مستدل دې) دا اعتراض دې چه په دې کښې دا اضطراب دې بعض راویانو رسول اللهﷺ ته امام وئیلې دې او بعضو ابوبکر صدیق﷜ ته په دې وجه دا د ناسخ کیدو صلاحیت نه لری، پس حدیث د عائشې﷞ په څلورو طرقو څخه روایت کړې شوې دې.

۱: طریق موسی بن ابی عائشة عن عبیدالله، ۲: طریق اعمش عن ابراهیم، ۳: طریق عوده عن عائشة، ۴: طریق ابووائل عن مسروق ددې نه اول طریق په صحیحین کښې موجود دی او په دې څلورو واړو طرقو کښې اختلاف واقع شوې دې د اضطراب د دې اجمال تفصیل د دې نقشې نه معلومیدلې شی.

د دې اعتراض په ځواب کښې علامه زیلعی﷫ فرمائی چه دا اضطراب قادح حدیث نه دې ځکه چه علماء کرامو په دې کښې تطبیق کړې دې پس حافظ بیهقی﷫ په کتاب المعرفة کښې لیکلې دی چه په دې احادیثو کښې هیڅ تعارض نشته ځکه چه په کوم مونځ کښې رسول اللهﷺ امام وو هغه د ماسپخین مونځ وو که د هفتې د ورځې وی یا د اتوار د ورځې او په

کومه ورځ چه رسول اللهﷺ مقتدی وو هغه د پیر د ورځې د صبا مونځ وو کوم چه د هغوی آخری مونځ وو.

ابن حبانؒ فرمائی: دا ټول احادیث کوم چه دې باره کښې واقع دی صحیح دی او په دې کښې هیڅ تعارض نشته ځکه چه رسول اللهﷺ په خپل مرض الوفات کښې دوه مونځونه په مسجد کښې کړې دی په یو کښې هغوی امام وو او په دویم کښې مقتدی. او دلیل د دې خبرې دا دې چه روایت **عبیدالله بن عبدالله عن عائشة** رضی الله عنها کښې دی چه هغوی د عباس او علی رضی الله عنهما په اوږو باندې لاس اچولو څخه تشریف راوړلو او په روایت د مسروق کښې دی چه رسول اللهﷺ د بریرة او ثوبیه رضی الله عنهما په آسرَه تشریف راوړلو.

او که اضطراب تسلیم کړې شی نو حنابله چه د کوم حدیث نه استدلال کوی په هغې کښې هم اضطراب دې ځکه چه هم هغه حدیث د انس رضی الله عنه په مسلم شریف کښې داسې دې چه رسول اللهﷺ مونږ ته په ناسته باندې مونځ راکړو او مونږ په ناسته اقتداء اوکړه (فتح الملهم ۵۳/۲) لهذا په حدیث د سقوط کښې هم اضطراب پیدا شو اګر چه د تاویل ګنجائش هر ځائې کښې راوتلې شی.(انوارالبغوی)

**د ابوبکر صدیق رضی الله عنه د استحقاق خلافت اشاره:** په شرح السنة کښې لیکلې دی چه په حدیث عائشه رضی الله عنها کښې د رسول اللهﷺ دا ارشاد چه ابوبکر رضی الله عنه ته اوایئ چه هغه دې خلقو ته مونځ ورکړی دا په دې خبره باندې دلالت کوی چه ابوبکرصدیق رضی الله عنه د رسول اللهﷺ نه پس د ټولو خلقو نه افضل دې او بله دا چه په ټولو خلقو کښې ابوبکر رضی الله عنه د رسول اللهﷺ د خلافت د ټولو نه زیات مستحق او د ټولو نه اولی دې، پس د رسول اللهﷺ د طرف نه ابوبکرصدیق رضی الله عنه ته د امامت د دې عظیم او د ټولو نه اهم منصب اهل او اولی مقرر کیدو د وجې نه د بعض جلیل القدر صحابه کرامو دا ارشاد بالکل حقیقت او د رسالت د مقصود عین مطابق دې چه رسول اللهﷺ ابوبکرصدیق رضی الله عنه زمونږ د دینی مشرئ لپاره خوښ کړې وو نو آیا مونږ به هغوی د دنیا د مشرئ لپاره نه خوښوو ....؟ یعنی کله چه رسول اللهﷺ ابوبکرصدیق رضی الله عنه ته په خپل ژوند کښې د ټولو نه لوئې او اهم منصب د امامت ورکولو دې خبرې طرف ته اشاره اوفرمائیله چه زما نه پس صرف ابوبکرصدیق رضی الله عنه هغه شخصیت کیدې شی چه د مسلمانانو دینی مشری او رهبری کولې شی نو ابوبکرصدیق رضی الله عنه د مسلمانانو د دنیوی رهبرئ او مشرئ بدرجه اولی مستحق شو لهذا د خلافت په شان دعظیم الشان منصب د ټولو نه زیات اهل هم هغوی شو.

**د رجلین مصداق:** رجلین (دوه صحابو) نه مراد علی او عباس رضی الله عنهما دی یعنی رسول اللهﷺ د خپلې

کمزورې او ضعف د وجې نه د حجره مبارک نه تر مسجد نبوی پورې د دې دوه صحابه کرامو په اوږو باندې لاس اچولو څخه تشریف یوړلو.

**د اقتداء ابوبکر نه مراد:** د حدیث الفاظ ﴿ والناس بصلاة ابی بکر ﴾ (او خلقو د ابوبکر ﷜ د مونځ اقتدا کوله) مطلب دا دې چه رسول الله ﷺ چونکه په ناسته باندې مونځ کولو او ابوبکر ﷜ د هغوی په اړخ کښې ولاړ وو په دې وجه رسول الله ﷺ به چه کوم فعل کولو ابوبکر ﷜ به هم هغه کولو او کوم فعل چه به ابوبکر ﷜ کولو نورو مقتدیانو به هم هغه شان کول. لهذا دلته د اقتداء هم دا معنی ده دا معنی مراد نه ده چه رسول الله ﷺ خو د ابوبکر ﷜ امام وو او ابوبکر د نورو مقتدیانو امام وو ځکه چه د مقتدی اقتداء کول جائز نه دی.

بهرحال حاصل دا چه امام رسول الله ﷺ وو ابوبکر ﷜ هم د هغوی اقتداء کوله او نورو خلقو هم د هغوی په اقتداء کښې مونځ کولو.

**آیا د مانځه په دوران کښې په امامت کښې تغیر جائز دې** ؟ دلته یو سوال دا پیدا کیږی چه آیا د مونځ دوران کښې په امامت کښې تغیر جائز دې؟ یعنی مونځ شروع شوې دې یو امام خلقو ته مونځ ورکوی او یو بل سړې راځی او د شروع نه د مونځ ورکونکی امام په ځائې باندې اودریږی او امامت شروع کړی نو آیا دا جائز ده؟ لکه چه په واقعه مذکوره کښې د اصورت راپیښ شو چه ابوبکر ﷜ خلقو ته مونځ ورکول شروع کړې وو چه رسول الله ﷺ روستو تشریف راوړلو او د ابوبکر ﷜ په ځائې ئې خلقو ته امامت شروع اوفرمائیلو.نوپه دې سلسله کښې علامه عبدالبر ﷫ فرمائی چه د علماء کرامو په دې خبره باندې اجماع ده چه په صورت مذکوره کښې د رسول الله ﷺ دا فعل د هغوی د خصائصو نه وو، یعنی د نورو لپاره دا جائز نه دی چه داسې دې په امامت کښې تغیر اوکړې شی.

خو امام شافعی ﷫ په دې کښې اختلاف کړې دې او فرمائیلې ئې دی چه د پورته بیان کړی شوی صورت په شان امامت او اقتداء جائز ده. (اوګورئ مرقاة شرح مشکوة)

په دې سلسله کښې بعض حضراتو دا هم فرمائیلې دی چه د دې حدیث نه دا خبره نه معلومیږی چه ابوبکر ﷜ مونځ شروع کړې وو یعنی ابوبکر ﷜ تر دغه وخته پورې مونځ نه وو شروع کړې پس رسول الله ﷺ تشریف راوړلو او امامت ئې شروع کړو. وَاللهُ اَعلَم

**د جمهورو استدلال د آیت قرآنی نه:** جمهور د آیت قرآنی ﴿ وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ ﴾ (بقره) نه هم استدلال کوی په دې آیت کښې قیام ته مطلقاً فرض صلوة وئیلې شوې دې خو هغه خلق کوم چه معذور دی شرعا د دې حکم نه مستثنی دی په حکم د ﴿ لا یکلف الله نفسا الا وسعها ﴾ خو داسې خلق کوم چه غیر

معذور دی د هغوی د مستثنٰی کولو هیڅ وجه نشته.

**د حدیث عائشه رضی الله عنها نه علاوه د نورو احادیثو نه د جمهورو استدلال:** د دې نه علاوه ټول احادیث هم د جمهورو مستدل دي چه په هغې کښې قادر علی القیام لره په ناسته باندې د مونځ کولو نه صراحة منع راغلې دې پس په سنن ابواؤد باب فی صلوۃ القاعد ج ۱ ص ۱۳۷ کښې د عمران بن حصین رضی الله عنه روایت نقل فرمائی: كَانَ بِيَ النَّاصُورُ فَسَأَلْتُ النَّبِيَّ صلی الله علیه وسلم فَقَالَ «صَلِّ قَائِمًا فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ فَقَاعِدًا فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ فَعَلَى جَنْبٍ».

## بَابُ صَلٰوةِ الْمُفْتَرِضِ خَلْفَ الْمُتَنَفِّلِ

(۵۲۴) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ مَعَاذَ بْنَ جَبَلٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كَانَ يُصَلِّيْ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِشَآءَ الْاٰخِرَةَ ثُمَّ يَرْجِعُ إِلٰى قَوْمِهٖ فَيُصَلِّيْ بِهِمْ تِلْكَ الصَّلٰوةَ. رَوَاهُ الشَّيْخَانِ وَزَادَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ وَالشَّافِعِيُّ وَالطَّحَاوِيُّ وَالدَّارُقُطْنِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِيْ رِوَايَةٍ هِيَ لَهٗ تَطَوُّعٌ وَلَهُمْ فَرِيْضَةٌ. وَفِيْ هٰذِهِ الزِّيَادَةِ كَلَامٌ.

---

**باب: د فرض مونځ کونکی مونځ په نفل مونځ کونکی پسې: ۵۲۴:** د جابر بن عبد الله رضی الله عنهما نه روایت دې چه معاذ بن جبل رضی الله عنه به د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ملګرتیا کښې د ماسختون مونځ کولو، بیا به خپل قوم ته راتلو او هغوی ته به ئې هم دغه مونځ ورکولو.

دا حدیث شیخینو نقل کړې دې او عبدالرزاق، شافعی، طحاوی، دارقطنی او بیهقی په یو روایت کښې دا الفاظ زیات نقل کړی دی، : دا مونځ به د (معاذ رضی الله عنه) لپاره نفل وو او د قوم لپاره فرض. او په دې زیادت کښې کلام دې.

**بیان مذاهب: ۵۲۴:** د دې باب د لاندې یو مشهوره اختلافی مسئله پیش کوی چه اقتداء المفترض خلف المتنفل جائز ده یا نه؟ او د اقتداء المفترض خلف المتنفل څۀ حکم دې؟ نو په دې باره کښې په بذل المجهود ج ۱ ص ۳۳٤ کښې دوه مذاهب نقل کړې شوې دی.

۱: د امام شافعی، امام عطاء بن ابی رباح، طاؤس بن کیسان، سلیمان بن حرب، داؤد ظاهری رحمهم الله وغیره په نزد او د امام احمد رحمه الله د یو روایت مطابق اقتداء المفترض خلف المتنفل جائز ده.

۲: د احنافو، مالکیانو، امام حسن بصری، ابراهیم النخعی، سعید بن المسیب، یحیی بن سعید الانصاری، ابوقلابه رحمهم الله وغیره په نزد او د امام احمد رحمه الله د یو روایت مطابق اقتداء المفترض خلف المتنفل جائز نه ده. او د مقتدیانو مونځ نه صحیح کیږی.

**د امام شافعی ومن وافقه دلائل:** په دې باب کښې د جابر رضی الله عنه روایت دې ۵۲۴ کوم چه امام بخاری په کتاب الاذان **باب اذا طول الامام** ج ۱ ص ۹۷، مسلم په کتاب الصلوة **باب القراءة فی العشاء ج ص ۱۸۷** باندې تخریج کړې دې چه معاذ بن جبل رضی الله عنه به د رسول الله ﷺ څخه د ماسخوتن مونځ کولو بیا خپلې قبیلې بنو سلمه ته رسیدلو څخه به ئې د قبیلې خلقو ته دوباره د ماسخوتن مونځ ورکولو او هرکله چه معاذ رضی الله عنه د رسول الله ﷺ د ماسخوتن مونځ اوکړو نو د هغوی فرض ادا شو، او روستو ئې چه کوم د قبیلې والا خلقو څخه کړې وو هغه د هغوی په حق کښې نفل وو. لهذا د مفترض اقتداء په متنفل پسې د دې حدیث نه جائز ثابتیږی.

**د حدیث معاذ رضی الله عنه ځواب:** د معاذ رضی الله عنه هغه مونځ کوم چه به ئې خپلې قبیلې ته ادا کولو په هغې کښې دوه احتماله دی.

۱: رسول الله ﷺ څخه به ئې په طور د نفل شرکت فرمائیلو او بیا به ئې قبیلې ته تلو څخه په طور د فرض کولو.

۲: رسول الله ﷺ څخه به ئې په طور د فرض شرکت فرمائیلو او قبیلې ته تلو څخه به په طور د نفل ادا کولو، نو د اول احتمال د وجې نه ستاسو مدعی باطل ده ځکه چه دلته اقتداء المتفرض خلف المتنفل نه لازمیږی، او د دویم احتمال په اعتبار څخه ستاسو مدعی نه صحیح کیږی خو په حدیث شریف کښې دواړه احتمالات موجود دی نو بغیر د دلیل شرعی نه به یو ته ترجیح نه وی حاصل. لهذا حدیث به ساقط الاعتبار وی، د دې نه به استدلال صحیح نه وی.

**د مجوزین د طرف نه د یو اشکال ځواب:** د امام شافعی او د هغوی د ملګرو د طرف نه دا اعتراض واردیږی چه معاذ رضی الله عنه چه کوم مونځ ورکولو هغه به فرض وو او کوم چه به ئې قبیلې ته تلو څخه کولو هغه به نفل وو. په دې باندې مونږ ته د **ابن جریج عن عمرو عن جابر رضی الله تعالی عنه** په طریق څخه صریح روایت ملاؤ شو چه په هغې کښې صلوة ثانیه کوم چه به ئې په قبیله کښې ادا کولو هغه نفل وو لکه چه په روایت الباب کښې **﴿ له تطوع ولهم فریضة ﴾** کښې تصریح ده لهذا اقتداء المفترض بالمتنفل جائز کیدل پکار دی.

د دې اشکال دوه ځوابونه ورکولې شی.

۱: ذکر کړې شوې روایت د عمرو بن دینار څنګه چه ابن جریج نقل کړې دې، هم دغه شان سفیان بن عیینة هم نقل کړې دې. او د هغوی په روایت کښې پوره حدیث موجود دې، او سفیان بن عیینة د حفاظ حدیث نه دې. د هغوی روایت د ابن جریج د روایت نه غوره دې، خو د سفیان بن عیینة روایت کښې **﴿ هی له تطوع ولهم فریضة ﴾** لفظ نشته. لهذا د دې لفظ اضافه یا ابن جریج کړې

ده یا عمرو بن دینار او یا جابر رضی الله عنه. نو په دې واړو صورتونو کښې د معاذ رضی الله عنه د فعل په حقیقت باندې هیڅ دلیل موجود نشته چه صلوة د معاذ رضی الله عنه نفل وو یا فرض؟ ځکه چه په دوی کښې چا هم د معاذ رضی الله عنه قول نه دې نقل کړې او که بالفرض د معاذ رضی الله عنه نه فرض ثابت شی نو هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حکم ځخه کیدل ثابت نه دی، او نه دا ثابت دی چه که رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وئیلې شوې وی نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به هغه برقرار ساتلې. یا به ئې د دې نه علاوه بل څه حکم فرمائیلې. د دې هیڅ دلیل نشته، په دې وجه ستاسو مدعی د دې نه نهٔ ثابتیږی. بله دا چه د عمر رضی الله عنه په دور خلافت کښې چه کله د صحابه کرامو رضی الله عنهم ترمینځه په التقاء ختانین باندې په غسل کښې اختلاف پیدا شو، او رفاعه بن رافع رضی الله عنه اوفرمائیل چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې به بغیر د انزال نه غسل نه کیدلو. نو عمر فاروق رضی الله عنه اوفرمائیل : چه تاسو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د دې عمل خبر درکړې وو بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ستاسو لپاره په دې باندې خپله رضا ښکاره کړې ده؟ نو رفاعه رضی الله عنه اوفرمائیل چه داسې نه ده شوې. نو عمر رضی الله عنه د رفاعه روایت په دې وجه حجت او نه منلو. نو هم دغه شان که د معاذ رضی الله عنه عمل د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې ثابت شوې هم وې نو دا په دې باندې دلیل نه شی جوړیدې چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حکم باندې به ئې داسې کول. لهذا د صلوة معاذ رضی الله عنه نه ستاسو مدعی نه ثابتیږی.

۲: معاذ رضی الله عنه به خپل قوم ته تلو ځخه اوږد مونځ کولو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د دې شکایت اورسیدلو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل اې معاذ! آیا ته خلق په فتنه کښې اچول غواړې؟ که غواړې نو ما ځخه مونځ کوه یا خپل قوم ته تلو ځخه هغوی ته مختصر مونځ کوه.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې قول نه معلومیږی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په علم کښې د معاذ رضی الله عنه د فعل په باره کښې هم دا وه چه معاذ رضی الله عنه به یا خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم ځخه مونځ کولو او یا به ئې خپل قوم ته تلو ځخه. یعنی په کومه ورځ چه به ئې رسول الله صلی الله علیه وسلم ځخه کولو. هغه ورځ باندې به ئې قوم ته نه ورکولو. او په کومه ورځ چه به ئې قوم ته ورکولو هغه ورځ باندې به ئې رسول الله صلی الله علیه وسلم ځخه نه کولو. لهذا د دې احتمالاتو د وجې نه به استدلال صحیح نه وی. او که معاذ رضی الله عنه د شپې په دواړو ځایونو کښې مونځ کولو او دا عمل د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اجازت باندې وو نو دا د هغې زمانې واقعه ده په کومه زمانه کښې چه یو فرض دوه ځل جائز وو. او دا په اول د اسلام کښې جائز وه، او روستو د دې ممانعت راغلې دې په دې وجه به صلوة معاذ رضی الله عنه منسوخ منل لازم وی.

**د علماء احناف ومن وافقهم دلائل**: امام طحاوی په شرح معانی الاثار ج ۱ ص ۲۳۸ کښې دا عقلی دلیل پیش کړې دې چه د مقتدی مونځ په خپل صحت او فساد کښې د امام د مانځه تابع وی. او که د مقتدیانو نه سهو اوشی او د امام نه نهٔ وی نو نهٔ په امام باندې سجده سهوه لازم ده او نه په

مقتدیانو باندې. لهذا کله چه ثابت شی چه صلوٰة المامومِ صحت او فساد او سهو وغیره کښې د صلوة امام تابع وی. نو په فرض کیدو او نفل کیدو کښې به هم د صلوة امام تابع وی. لهذا که د امام مونځ فرض وی نو د مقتدی مونځ فرض جوړیدې شی. او که د امام مونځ نفل دې نو د مقتدیانو مونځ به هم نفل وی. داسې نه شی کیدې چه د امام مونځ دې نفل وی او د مقتدیانو مونځ دې فرض شی. بله دا چه فرض مونځ قوی وی د نفل مونځ په مقابله کښې. او ضعیف د قوی تابع وی او قوی د ضعیف تابع نه وی. لهذا نفل مونځ د فرض مونځ تابع کیدو ځخه صحیح کیدې شی خو فرض مونځ د نفل مونځ تابع کیدو څخه صحیح نه دې. لهذا د مقتدیانو فرض مونځ به د امام د نفل مونځ تابع کیدو څخه صحیح نه وی. خو د مقتدی نفل مونځ د مفترض امام تابع کیدو څخه صحیح کیدې شی لهذا اقتداء المفترض خلف المتنفل به جائز نه وی.

**په عقلی استدلال باندې درې اشکالات او د هغې ځوابات:** دلته دا اشکال کولې شی چه څنګه د نفل مونځ کونکی مونځ په فرض مونځ کونکی پسې صحیح کیږی. دغه شان د فرض کونکی مونځ دې هم په نفل کونکی پسې صحیح شی.

د علماء احناف د طرف نه ځواب ورکولې شی چه د نوافل سبب د فرائضو د سبب بعض او جزء وی لکه څنګه چه نوافل صرف د دخول الصلوة په نیت څخه صحیح کیږی. اګر چه د نفل یا فرضو نیت ئې نه وی کړې خو فرائض صرف د دخول صلوة په نیت څخه نه صحیح کیږی بلکه ورځخه د فرض او وخت نیت هم شرط دې. نو معلومه شو چه د دخول فرض لپاره د دې سبب څخه څخه د نورو اسبابو هم ضرورت دې لهذا چه څوک نفل کوی هغه که د مفترض اقتداء کوی نو د داسې امام اقتداء ثابتیږی کوم چه ټولو اسبابو ته شامل دې، او کوم سړې چه فرض کوی هغه که د متنفل اقتداء کوی نو د داسې امام اقتداء نه ثابتیږی کوم چه ټولو اسبابو ته شامل دې او د صحت فرض لپاره ټول اسباب لازم دی او هغه دلته مفقود دې لهذا د اقتداء المفترض خلف المتنفل لپاره ستاسو مدعی باطل وی.

۲: دویم اشکال دا پیش کولې شی چه عمر رضي الله عنه په حالت د جنابت کښې مونځ ورکړو او عمر رضي الله عنه خپل مونځ دوباره اوکړو او مقتدیانو اعاده اونکړه لهذا د مقتدیانو مونځ به د امام د مانځه تابع نه وی

د علماء احناف د طرف نه ځواب ورکولې شی چه عمر رضي الله عنه ته قبل الصلوة د جنابت یقین نه وو په دې وجه ئې د خپل ځان لپاره د احتیاط طرف غوره کړو او غیرو ته ئې د اعادې حکم اونه فرمائیلو. بله دا چه عمر رضي الله عنه فرمائی (ارانی قد احتلمت) یعنی زما شک پیدا شوې دې چه ماته قبل

الصلوة احتلام شوې دې او ماته پته او نه لګيده او بغير د غسل نه مې مونځ اوکړو. بيا چه ما چيرته هم د نجاست اثر اوليدو هغه مې وينځلواو د نمر په اوچتيدلو مې د مانځه اعاده اوکړه. د دې نه ثابتيږي چه عمر رضي الله عنه ته قبل الصلوة د جنابت يقين نه وو بلکه شک ئې وو او قاعده ده چه ﴿ **اليقين لا يزول بالشک** ﴾ بله دا چه په دې باندې هم دليل جوړيدې شي چه صلوة ماموم فاسد کيږي د صلوة امام په فساد څخه لکه چه يو کرت د عمر رضي الله عنه نه د ماښام په مانځه کښې قرأت هير شو نو د خپل او ټولو مقتديانو د مانځه اعاده ئې اوکړه ځکه چه د هغوی د مانځه د فساد د وجې نه د مقتديانو مونځ هم فاسد شوې وو، او د ترک قرأت د وجې نه د مانځه په فساد کښې اختلاف دې او د ترک طهارت د وجې نه فساد صلوة متفق عليه دې. او کله ئې چه په مسئله اختلافی کښې اعاده کړې ده نو مسئله اتفاقی کښې په طريق اولی کول پکار وو. او کله چه عمر رضي الله عنه مسئله جنابت کښې اعاده نه دې کړې نو د مانځه نه مخکښې د جنابت يقين نه کيدل به مسلم وي.

۳: دا اشکال پيش کولې شی چه د عمر رضي الله عنه نه د دې خلاف روايت شوې دې چه يو سړی د هغوی نه پوښتنه اوکړه چه ما په مانځه کښې قرأت بالکل اونکړو نو عمر رضي الله عنه اوفرمائيل آيا تا رکوع او سجود مکمل اونکړل؟ هغه اووې مکمل مې اوکړل. نو عمر رضي الله عنه اوفرمائيل چه اوس ستاسو مونځ پوره شو.

د دې نه معلوميږي چه په مانځه کښې قرأت لازم نه دې. لهذا تاسو چه د مسئله قرأت نه استدلال کړې دې هغه باطل دې، د علماء احناف د طرف نه دا ځواب ورکولې شی چه کوم روايت مونږ پيش کړې دې هغه متصل السند دې او کوم روايت چه تاسو پيش کړې دې هغه متصل السند نه دې. په دې وجه به زمونږ روايت زيات اولی وي. او د نظر تقاضا هم دا ده چه د امام د مانځه په فساد باندې د مقتدی مونځ هم فاسديږي که مقتدی ته علم وي او که نه وي. او کله چه عمر رضي الله عنه ته دا مسئله معلومه وه چه که زما مونځ فاسد شی نو د مقتديانو مونځ به هم فاسد شی. ددې مسئلې د معلوميدو باوجود د عمر رضي الله عنه مقتديانو ته د مانځه د واپس کولو اعلان نه کول دا ددې خبرې واضح دليل دې چه عمر رضي الله عنه ته قبل الصلوة د احتلام يقين نه وو ګينې ضرور به ئې پرې اعاده کړې وې، لهذا د صلوة امام او صلوة مقتدی ترمينځه د حکم په اعتبار څخه هيڅ فرق نشته. او هم دا زمونږ د علماء ثلاثه قول دې.

امام طحاوی په شرح معانی الاثار ج ۱ ص ۲۳۹ کښې د اجله تابعينو نه د پنځه کسانو فتوی مذکوره د ځواب په تائيد کښې پيش کړې ده چه صلوة مقتدی د صلوة امام نه د حکم په اعتبار څخه يو نه وي. نو که د عمر رضي الله عنه مونځ يقينا فاسد شوې وی نو د مقتديانو مونځ به هم

لازمی طور څخه فاسد وی او چه کله عمر رضي الله عنه مقتدیانو ته د مانځه د اعادې حکم اونکړو
لازمی خبره ده چه د عمر رضي الله عنه مونځ به هم یقینی طور څخه نه وی فاسد شوې. لهذا اوس هیڅ اشکال
نه دی کیدل پکار. او د چا فتوی چه پیش کولې شی هغوی دا دی!

حضرت امام طاؤس بن کیسان رحمه الله، امام مجاهد بن جبر رحمه الله، امام ابراهیم نخعی رحمه الله،
امام حسن بصری رحمه الله او امام محمد بن سیرین رحمه الله، بلکه دا چه د ابن عمر رضي الله عنهما عمل هم دا وو چه کله
په اتفاق څخه ئې د مازیګر مونځ کونکی پسې د ماسپخین مونځ اوکړو نو د دواړو مونځونو
اعاده به ئې داسې کوله چه اول به ئې د ماسپخین مونځ کولو بیا به ئې د مازیګر کولو ځکه چه:
امام او مقتدی ترمینځه اتحاد صلوة شرط دې او دلته په ماسپخین او مازیګر څخه افتراق راغلی
دې. د ټولو حاصل یو راوځی چه اقتداء المفترض خلف المتنفل جائز نه ده.

**د ابن العربی توجیه:** قاضی ابوبکر بن العربی په عارضة الاحوذی ج ۲ ص ۹۶ کښې لیکی چه معاذ رضي الله عنه
به خپل مونځ رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه کولو او بیا به ئې د شپې مونځ قوم ته ورکولو یعنی کوم مونځ چه
به ئې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه کولو هغه به بیل وو اوکوم چه به ئې خپل قوم څخه کولو هغه به بیل وو.

**د بعض فقهاء احناف یو بله توجیه:** بعض فقهاء دا ځواب هم کړې دې چه اصل خبره دا ده چه عبارت
داسې دې ﴿ **کان یصلی مع رسول الله صلی الله علیه وسلم العشاء** ﴾ د دې نه عشاء اولی یعنی مغرب مراد دې لکه چه:
ترمذی په روایت کښې د مغرب تصریح ده. او په ﴿ **یرجع الی قومه فیصلی بهم تلک الصلوة** ﴾ کښې د
صلوة نه مراد عشاء آخره ده.

**د جمهورو نقلی دلائل:**

(۱) عن ابی هریرة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الامام ضامن والموذن موتمن.(سنن
ترمذی باب ماجاء ان الامام ضامن والموذن مؤتمن، ج: ۱، ص: ۵۰)

(۲): د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دې: انما جعل الامام لیوتم به... الخ وهو فی الصحاح کلها.(بخاری
ج: ۱ ص: ۱۵۰، مسلم ج: ۱، ص: ۱۷۶، ترمذی ج: ۱، ص: ۷۲، ابن ماجه ص: ۶۱، ابوداؤد ص: ۸۹)

(۳) عن سلمان مولی میمونة قال رأیت ابن عمر جالسًا علی البلاط (موضع بالمدینة اتخذه عمر لمن
یتحدث لمعات) والناس یصلون قلت یا ابا عبدالرحمٰن مالك لاتصلی؟ قال انی قد صلیت انی سمعت رسول الله
صلی الله علیه وسلم یقول لاتُعَاد الصلوة فی یوم مرتین.

## بَابُ صَلٰوةِ الْمُتَوَضِّئِ خَلْفَ الْمُتَيَمِّمِ

(٥٢٥) عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : اَحْتَلَمْتُ فِيْ لَيْلَةٍ · بَارِدَةٍ فِيْ غَزْوَةِ ذَاتِ السَّلَاسِلِ فَاَشْفَقْتُ اَنْ اَغْتَسِلَ فَاَهْلِكَ فَتَيَمَّمْتُ ثُمَّ صَلَّيْتُ بِاَصْحَابِيَ الصُّبْحَ فَذَكَرُوْا ذٰلِكَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا عَمْرُو صَلَّيْتَ بِاَصْحَابِكَ وَاَنْتَ جُنُبٌ فَاَخْبَرْتُهُ بِالَّذِيْ مَنَعَنِيْ مِنَ الْاِغْتِسَالِ وَقُلْتُ اِنِّيْ سَمِعْتُ اللّٰهَ يَقُوْلُ { وَلَا تَقْتُلُوْا اَنْفُسَكُمْ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيْمًا } فَضَحِكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَقُلْ شَيْئًا رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَالْبُخَارِيُّ تَعْلِيْقًا وَّاٰخَرُوْنَ وَصَحَّحَهُ الْحَاكِمُ۔

**باب: د اودس کونکی مونځ په تیمم کونکی پسې:** **٥٢٥**: سیدنا عمرو بن العاص ﷺ فرمائی : په غزوة السلاسل کښې په یو یخه شپه کښې ماته احتلام اوشو، زه اویریدم چه که ما غسل اوکړو نو هلاک به شم، بیا ما تیمم اوکړو او خپلو ملګرو ته مې د سحر مونځ ورکړو، خلقو د دې ذکر رسول اللهﷺ ته اوکړو، نو رسول اللهﷺ اوفرمائیل : اې عمرو! تا جنب کیدو څخه خپل ملګرو ته ولې مونځ اوکړو؟ نو ما رسول اللهﷺ ته هغه خبره اوکړه کومې چه زه د غسل نه منع کړې اوم او ما عرض اوکړو چه ما اوریدلي دي چه الله پاک فرمائی : خپل ځان مه قتل کوئ! بیشکه الله پاک په تاسو باندې مهربان دې، نو رسول اللهﷺ اوخاندل او هیڅ ئې او نه وئیل. دا حدیث ابوداؤد او بخاری تعلیقا او نورو محدثینو نقل کړې دې او حاکم ورته صحیح وئیلي دي.

**بیان مذاهب:** **٥٢٥**: تیمم کونکې د اودس کونکو امامت کولې شی یا نه په دې کښې دوه مذاهب دي! ١: متیمم د متوضئینو امامت کولې شی دا مسلک د امام ابوحنیفه او ابویوسف (شیخین) دې او آئمه ثلاثه هم د دې قائل دی، شیخینو تیمم ته طهارت مطلقه وائی.

٢: د امام محمد په نزد دا ناجائز ده ځکه چه د هغوی په نزد تیمم طهارت ضروریه دې،

**والضروری یتقدر بقدر الضرورة.**

**د شیخینو مستدل او وجوه د ترجیح:** د دې باب روایت **( عن عمرو بن العاص )** د شیخینو قوی مستدل دې کوم چه امام بخاریؒ په ج ١ ص ٤٩ کتاب التیمم **باب اذا خاف الجنب علی نفسه المرض** کښې او امام ابوداؤدؒ په کتاب الطهارة ج ١ ص ٤٨ **باب اذا خاف الجنب البرد** ... کښې تخریج کړې دې چه رسول اللهﷺ یو کرت یو لښکر د سریه په طور اولیږلو چه کله خلق واپس راغلل نو رسول اللهﷺ د عمرو بن العاص ﷺ دحال پوښتنه اوکړه، خلقو عرض اوکړو نیک سیرت دې خو یوه ورځ هغوی مونږ ته په جنابت کښې مونځ راکړو رسول اللهﷺ د عمرو نه پوښتنه اوکړه نو هغوی عرض

اوکړو ورانديې تفصيلي قصه په حديث الباب کښې ده او په آخر کښې د ﴿ولم يقل شيئا﴾ نه مراد دا دې چه رسول اللهﷺ خلقو ته د مانځه د اعادې کولو حکم نه دې فرمائيلې معلومه شوه چه د متوضئين مونځ خلف المتيمم جائز دې.

**تيمم طهارت مطلقه دې يا ضروريه**: په بيان مذاهب کښې عرض کړې شوې دې چه امام محمدؒ تيمم ته طهارة ضروريه وائي ﴿وكذلك لم يجوز امامته للمتوضئين﴾ خو په مسئله د رجعت کښې هغوی تيمم ته طهارت مطلقه وائي پس د مقرره زنانه په دريم حيض کښې که د لسو ورځو نه په کمو کښې بند شي نو هغه دې تيمم اوکړي نو د امام محمدؒ په نزد حق رجعت په تيمم ختمه هم ختميږي لکه چه د زنانه په غسل کولو ختمه حق رجعت ختميږي او شيخينو د دې عکس کړې دې يعنی دلته ئې په مسئله کښې تيمم ته طهارت مطلقه وئيلې دې حتی تجوز امامته للمتوضئين او په رجعت کښې ئې طهارت ضروريه منلې دې تردې چه د شيخينو په نزد په صورت مذکوره کښې ترڅو چه زنانه تيمم اونکړي د هغه وخته پورې حق رجعت نه ختميږي.

د دې شبهې حل دا دې چه تيمم طهارت مطلقه هم دې او طهارت ضروريه هم، مطلقه خو په دې حيثيت ختمه دې چه د دې په ذريعه طهارت مطلقا حاصليږي داسې نه چه طهارت د مستحاضې وغيره په شان د وخت ختمه مقيد وی بلکه د هميشه لپاره تيمم طهارت مطلقه دې هر څومره موده چه اوبه نه وی اګر که لس کاله تير شي او ضرورية په دې حيثيت ختمه دې چه د خاورې په ذريعه خو نور هم تلويث راځی حدث حقيقتا نه اوچتيږي تردې چه که متيمم په اوبو باندې قادر شي نو محدث په حدث سابق ختمه وی پس امام محمدؒ په دواړو مسئلو کښې د احتياط اړخ اختيار کړې دې او شيخينو په مانځه او د هغې په ملحقاتو کښې د جانب اطلاق اعتبار کړې دې ځکه چه شريعت تيمم ته د طهارت مطلقه حکم د مانځه په حق کښې ورکړې دې.

**حيث قال ولکن يريد ليطهرکم** ... او د مانځهٔ نه علاوه ئې په حقيقت باندې عمل کړې دې چه د خاورې استعمال په حقيقت کښې تلويث دې

## بَابُ مَا اسْتُدِلَّ بِهٖ عَلٰى كَرَاهَةِ تَكْرَارِ الْجَمَاعَةِ فِيْ مَسْجِدٍ

(۵۲۵) عَنْ اَبِيْ بَكْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَقْبَلَ مِنْ نَوَاحِي الْمَدِيْنَةِ يُرِيْدُ الصَّلٰوةَ فَوَجَدَ النَّاسَ قَدْ صَلَّوْا فَمَالَ اِلٰى مَنْزِلِهٖ فَجَمَعَ اَهْلَهٗ فَصَلّٰى بِهِمْ. رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْكَبِيْرِ وَالْاَوْسَطِ وَقَالَ الْهَيْثَمِيُّ رِجَالُهٗ ثِقَاتٌ.

**باب: په مسجد کښې دوباره د جماعت په مکروه کیدو باندې چه د کوم روایت نه استدلال کړې شوې دې:** ۵۲۲: د ابو بکره رضی اللہ عنہ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ د مدینې منورې د اطرافو نه تشریف راوړلو، هغوی مونځ ورکول غوښتل چه خلق ئې اولیدل چه هغوی مونځ کړې وو. رسول الله ﷺ خپل کور ته تشریف یوړو د خپل کور خلق ئې راجمع کړل او هغوی ته ئې مونځ ورکړو.

دا حدیث طبرانی په کبیر او اوسط کښې نقل کړې دې هیثمی فرمائی د دې رجال ثقة دی.

۲۲۲: دا باب او وړاندې باب په مسجد کښې د تکرار جماعت څخه متعلق دی په دې سلسله کښې دوه مذاهب منقول دی.

**بیان مذاهب:** ۱: د ائمة ثلاثه او جمهورو مسلک دا دې چه په کوم مسجد کښې باقاعده امام او موذن مقرر وی او په هغې کښې د محلې والا یو کرت په جماعت څخه مونځ کړې وی هلته دوباره جماعت کول مکروه تحریمی دی د دې باب غرض انعقاد هم د جمهورو د مسلک توضیح او بیان دلیل دې. خو امام ابویوسف رحمہ اللہ نه په دې سلسله کښې یو روایت دا هم منقول دې چه که په داسې صورت کښې د محراب نه لرې کیدلو څخه د آذان او اقامت نه بغیر او د تداعی نه بغیر ادا کړې شی نو جائز دې. خو د احنافو په مُعتبر کتابونو کښې مفتی به قول هم دا دې چه داسې هم دویم جماعت کول صحیح نه دی خو د فقې په کتابونو کښې د دې نور وضاحت هم راغلې دې هغه دا چه په یو مسجد کښې د محلې والو نه غیر نور خلق راغلل او جماعت ئې اوکړو نو اهل محله دوباره مونځ کولې شی او که بعض اهل محله په پټه آذان اوکړو یا ئې د وخت نه مخکښې مونځ اوکړو چه د هغې خبر د محلې نورو خلقو ته اونشو نو د هغوی لپاره هم تکرار د جماعت جائز دې. یو توضیح دا هم ضروری ده چه د لارې په مسجد کښې د جماعت ثانیه کراهت تحریمی نه دې مسجد طریق هغه دې چه د هغې امام او مؤذن مقرر نه وی په هغې کښې هم تکرار د جماعت جائز دې د پورته څو استثنائی صورتونو نه علاوه بل په یو صورت کښې هم تکرار د جماعت جائز نه دې.

۲: امام احمد بن حنبل او اهل ظاهر رحمہم اللہ د جماعت ثانیه د جواز قائل دی.

**د کراهت تحریمی د قائلینو دلائل:** ۱: د دې باب روایت چه د هغې راوی ابوبکرة دې او د کوم چه

طبرانی تخریج کړې دي امام هیثمی رحمه الله په مجمع الزوائد کتاب الصلوة باب فیمن جاء الی المسجد فوجد الناس قد صلوا ج ۲ ص ٤٥ کښې ئې دا نقل کړې دې او په دې باندې ئې و رجاله ثقات حکم لګولې دې د حدیث مضمون په لفظی ترجمه کښې واضح کړې شوې دې د جمهورو مستدل دې ائمة ثلاثه د دې روایت نه استدلال کولو څخه وائی چه که جماعت ثانیه جائز یا مستحب وې نو رسول الله ﷺ به مسجد نبوی بالکل نه پریخودلې لهذا د رسول الله ﷺ په کور کښې مونځ کول د جماعت په تکرار باندې ښکاره دلیل دې.

۲: د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې:

عن النبی صلی الله علیه وسلم قال لقد هممت ان آمر فتیتی ان یجمعوا حزم الحطب ثم آمر بالصلوٰة فتقام ثم احرق علی اقوام لا یشهدون الصلوٰة۔ (سنن ترمذی باب ما جاء فیمن سمع النداء فلا یجیب)

بعض حضرات د ابوهریره رضی الله عنه د دې روایت نه استدلال کوی چه که تکرار د جماعت جائز وې نو د اول جماعت نه پاتې کیدونکو څخه دا عذر موجود وو چه مونږ د دویم جماعت کولو اراده لرو.

که د دې مسئلې تفصیل او تحقیق مطلوب وی نو د سید الطائفه حضرت علامه رشید احمد ګنګوهی رحمه الله رساله القطوف الدالية فی کراهة الجماعة الثانية دې اوکتلې شی کومه چه هر لحاظ څخه جامع او شافی ده.

## بَابُ مَا جَآءَ فِيْ جَوَازِ تَكْرَارِ الْجَمَاعَةِ فِيْ مَسْجِدٍ

(۵۲۷) عَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا دَخَلَ الْمَسْجِدَ وَقَدْ صَلّٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاَصْحَابِهٖ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَّتَصَدَّقُ عَلٰى ذَا فَيُصَلِّيْ مَعَهٗ ؟ فَقَامَ رَجُلٌ مِّنَ الْقَوْمِ فَصَلّٰى مَعَهٗ رَوَاهُ اَحْمَدُ وَاَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمَذِيُّ وَحَسَّنَهٗ وَالْحَاكِمُ وَقَالَ صَحِيْحٌ عَلٰى شَرْطِ مُسْلِمٍ۔

**باب په مسجد کښې دوباره د جماعت په جواز کښې چه کوم روایات دی:** ۵۲۷: د سیدنا ابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دې چه یو سړې مسجد ته داخل شو، په داسې حال کښې چه رسول الله ﷺ خپلو صحابه کرامو رضی الله عنهم ته مونځ ورکولو. رسول الله ﷺ اوفرمائیل څوک څوک به په هغه باندې صدقه کوی چه هغه څخه مونځ اوکړی په خلقو کښې یو سړې پاسیدو او هغه څخه ئې مونځ ادا کړو. دا حدیث احمد، ابوداؤد او ترمذی نقل کړې دې، ترمذی دې ته حسن وئیلې دې، حاکم هم دا نقل کړې دې او وئیلې ئې دی، دا حدیث د مسلم د شرط مطابق صحیح دې.

(۵۲۸) وَعَنْ اَنَسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا جَآءَ وَصَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَامَ يُصَلِّيْ وَحْدَهٗ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَّتَّجِرُ عَلٰى هٰذَا فَيُصَلِّيْ مَعَهٗ۔ اَخْرَجَهُ الدَّارَقُطْنِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۵۲۸: د سيدنا انس ﷺ نه روايت دې چه يو سړې راغلو، په داسې حال کښې چه رسول اللهﷺ مونځ کړې وو، هغه اودريدلو مونځ ئې شروع کړو نو رسول اللهﷺ اوفرمائيل. څوک دې چه د دې سړی څخه د فائدې تجارت کول غواړی چه د هغه څخه مونځ اوکړی.

دا حديث دارقطنی نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

**تشریح**>(۵۲۷ نه ۵۲۸ پورې) د دې باب غرض انعقاد د حنابله او د اهل ظاهر د مسلک جواز د دلائلو بيان دې.

**د تکرار الجماعة فی المسجد د جواز د قائلینو دلائل**: ۱: د دې باب دواړه روايات د قائلين جواز مستدل دې اول روايت د ابوسعيد ﷺ نه منقول دې کوم چه مسند احمد ج ۳ ص ۴۵، سنن الترمذی ج ۱ ص ۵۳ وغيره کښې تخريج کړې دې دويم روايت کوم چه د انس ﷺ نه مروی دې کوم چه دارقطنی په کتاب الصلاة باب اعادة الصلوة فی جماعة ج ۱ ص ۲۷۶ کښې نقل کړې شوې دې په دواړو کښې يوه واقعه ذکر کړې شوې ده کومه چه په لفظی ترجمه کښې واضح کړې شوې ده **(فقام رجل)** د بيهقی د روايت مطابق دا صاحب ابوبکرصديق ﷺ وو. **(وفيه فقام ابوبكر فصلی معه وقد كان صلی مع رسول اللهﷺ)** سنن الكبری للبيهقی ج ۳ ص ۶۹ **(وصلی معه)** دا جماعت ثانی وو حنابله او اهل ظاهر هم د دې نه استدلال کولو څخه د جواز فتوی ورکوی.

۲: د قائلين جواز دويم دليل د انس ﷺ هغه واقعه ده کوم چه امام بخاری رحمه الله تعليقا ذکر کړې ده **وَجَاءَ أَنَسٌ إِلَى مَسْجِدٍ قَدْ صُلِّيَ فِيهِ فَأَذَّنَ وَأَقَامَ وَصَلَّى جَمَاعَةً**...ج ۱ ص ۸۹

**د جواز د قائلینو د دلائلو نه د جمهورو ځوابات**: ۱: هر چه د احاديث الباب تعلق دې جمهور د دې په ځواب کښې فرمائی چه په دې جماعت کښې ټول دوه سړی شريک وو او دا جماعت هم د تداعی نه بغير وو او اول عرض کړې شوې دې چه د تداعی نه بغير خو تکرار د جماعت د جمهورو په نزد هم جائز دې خو شرط دا دې چه کله کله داسې کوی عادت جوړول مکروه دی باقی پاتې شو د تداعی حد نو په دې سلسله کښې د فقهاء کرامو تصريحات دی بعض فقهاء کرامو وائی چه د امام نه علاوه په جماعت کښې څلور کسان شی.

۲: د دې نه علاوه په حديث الباب کښې چه کوم **(فقام رجل)** راغلې دې د هغې نه مراد ابوبکرصديق ﷺ دې کوم چه متنفل وو ځکه چه د دې نه مخکښې هغوی فرض مونځ کړې وو او

حال دا چه مسئله مبحوث فيها دا ده چه کله امام او مقتدی دواړه فرض مونځ کوی.

۳: په صحابه کرامو کښې د چا نه هم دا ثابت نه دی چه هغوی دې په تکرار د جماعت باندې پاتې شوې وی یا هغوی چیرته د دې ترغیب یا اجازت ورکړې وی د احادیث الباب یو واقعه بس یو جزوی واقعه ده چه هغه هر ګز د اجازت عام لپاره د مستدل کیدو حیثیت نه لری که د دې دا حیثیت وې نو د صحابه کرامو رضي الله عنهم عمل به ضرور د دې مطابق وې.

۴: په احادیث الباب کښې یو جزوی واقعه مذکور ده د دې نه علاوه په ټوله ذخیره د احادیثو کښې هیڅ داسې واقعه یا عملی مثال موجود نه دې چه په هغې کښې په مسجد نبوی کښې چیرته دویم جماعت کړې شوې وی. که جماعت د تکرار اجازت ورکړې شی نو د جماعت اهمیت، په مسجد کښې د هغې ضرورت او مطلوبه حکمت او وقار قائم نه پاتې کیږی پس عام طور هم دا لیدلې شی چه چیرته د تکرار جماعت رواج وی هلته خلق په اول جماعت کښې حاضریدلو کښې دلچسپی کمه اخلی بلکه تکاسل وی خلق نست شی چه په مسجد کښې هر وخت جماعت متوقع وی او که د دې اجازت ورکړې شی نو د نور افتراق او انتشار ویره هم ده.

۵: هر چه د انس رضي الله عنه واقعه او د تکرار جماعت خبره ده نو شارحین حدیث وائی چه دا عین ممکن ده چه دا د لارې مسجد وی د دې تائید د دې نه هم کیږی چه په مسند د ابویعلی کښې دا تصریح ده چه دا مسجد د نبی ثعلبه وو (فتح الباری ج ۲ ص ۱۰۹) او په دې نوم څخه په مدینه منوره کښې هیڅ مسجد معروف نشته ګینې د مدینې منورې د وړو وړو مسجدونو ذکر هم په کتابونو کښې ملاویږی هم د دې نه دا ظاهریږی چه دا د لارې مسجد وو د دې نه علاوه د انس رضي الله عنه نه روایت دې چه ﴿ ان اصحاب رسول الله ﷺ کانوا اذا فاتتهم الجماعة صلوا فی المسجد فرادی (معارف السنن ۲۸۸/۲) په دې څخه صراحة د جماعت ثانیه نفی مدلول ده.

**د بعض الفاظ حديث تشريح:** ﴿ **من يتجر على هذا** ﴾ د **يتجر** په باره کښې د شارحینو دوه اقواله دی:

۱: دا د تجارت نه مشتق دې مراد ترې نه اخروی تجارت دې د دې توجیه د وجې نه معنی دا ده چه په تاسو کښې به څوک هغه څخه کیدو باندې د نیکئ تجارت اوکړی.

۲: دا د اجر نه وتلې دې ګویا اصل ئې **يأتجر** دې لکه چه عائشه رضي الله عنها فرمائی **ان تتزر** (دا د ازار نه وتلې دې) د دې توجیه په صورت کښې به معنی دا وی چه په تاسو کښې څوک دې چه هغه څخه مونځ کولو باندې اجر حاصل کړی.

# بَابُ صَلٰوةِ الْمُنْفَرِدِ خَلْفَ الصَّفِّ

(۵۲۹) عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ صَلَّيْتُ اَنَا وَيَتِيْمٌ فِيْ بَيْتِنَا خَلْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاُمِّيْ اُمُّ سُلَيْمٍ خَلْفَنَا۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

**باب: د صف نه شاته د ځانله انسان مونځ:** ۵۲۹: سیدنا انس بن مالک رضی الله عنه فرمائی ما او یو یتیم زمونږ په کور کښې په رسول الله ﷺ پسې مونځ اوکړو، زما مور ام سلیم رضی الله عنها مونږ پسې شاته (یواځې) وه. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۵۳۰) وَعَنْ اَبِيْ بَكْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهُ انْتَهٰى اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ رَاكِعٌ فَرَكَعَ قَبْلَ اَنْ يَّصِلَ اِلَى الصَّفِّ فَذُكِرَ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ زَادَكَ حِرْصًا وَّلَا تُعِدْ۔ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ۔

**۵۳۰**: د ابوبکره رضی الله عنه نه روایت دې، زه رسول الله ﷺ ته داسې وخت کښې راغلم، په داسې حال کښې چه هغوی رکوع فرمائیلې وه، ما صف ته د رسیدلو نه مخکښې رکوع اوکړه نو د دې ذکر رسول الله ﷺ ته اوکړې شو، رسول الله ﷺ اوفرمائیل: الله پاک دې (د مانځه په باره کښې) ستا حرص زیات کړې دوباره داسې مه کوه. دا حدیث بخاری نقل کړې دې.

(۵۳۱) وَعَنْ وَابِصَةَ بْنِ مَعْبَدٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَاٰى رَجُلًا يُّصَلِّيْ خَلْفَ الصَّفِّ وَحْدَهٗ فَاَمَرَهٗ اَنْ يُّعِيْدَ الصَّلٰوةَ۔ رَوَاهُ الْخَمْسَةُ اِلَّا النَّسَائِيُّ وَحَسَّنَهُ التِّرْمِذِيُّ وَصَحَّحَهُ ابْنُ حِبَّانَ۔

**۵۳۱**: د وابصه بن معبد رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ یو سړې اولیدو چه دصف نه روستو یواځې ئې مونځ کولو، نو رسول الله ﷺ هغه ته د دوباره مونځ کولو حکم ورکړو. دا حدیث د نسائی نه علاوه اصحاب خمسه نقل کړې دې، ترمذی ورته حسن وئیلې دې او ابن حبان ورته صحیح وئیلې دې.

(۵۳۲) وَعَنْ عَلِيِّ ابْنِ شَيْبَانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَاٰى رَجُلًا يُّصَلِّيْ خَلْفَ الصَّفِّ فَوَقَفَ حَتّٰى انْصَرَفَ الرَّجُلُ فَقَالَ لَهُ اسْتَقْبِلْ صَلٰوتَكَ فَلَا صَلٰوةَ لِمُنْفَرِدٍ خَلْفَ الصَّفِّ۔ رَوَاهُ اَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَةَ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

**۵۳۲**: د علی بن شیبان رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ یو سړې اولیدو چه د صف نه شاته ئې مونځ کولو، رسول الله ﷺ اودریدلو، تردې چه هغه سلام اوګرځولو، نو رسول الله ﷺ هغه ته اوفرمائیل: خپل مونځ دوباره اوکړه، د صف نه د شاته سړی مونځ نه کیږی.

دا حدیث احمد او ابن ماجه نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

**تشریح**> (۵۲۹ نه ۵۳۲ پورې) د دې باب د لاندې یو اهم اختلافی مسئله بیانولې شی چه د صف نه

شاته د یواځې ولاړ مونځ کول څنګه دی؟ نو په دې باره کښې په بذل المجهود ج ۱ ص ۳۶۵، او النخب الافکار ج ۳ نصف ثانی صفحه ۱۵۰ تا ۱۵۱ کښې دوه مذاهب نقل کړې شوې دی.

**بیان مذاهب:** ۱: امام احمد، امام اسحق، حماد بن ابی سلیمان، ابن ابی لیلی، وکیع بن الجراح ابن حزم ظاهری او اهل ظاهر ﷺ فرمائی چه که خلف الصف یو سړې مونځ ځانله اوکړی نو د هغه مونځ فاسد دې او د هغې اعادة واجب ده. (معالم السنن ج ۱ ص ۲۳۶، بدایة المجتهد ج ۱ ص ۱۴۴)

۲: د ائمه ثلاثه او جمهورو مسلک دا دې چه د داسې سړی مونځ جائز خو داسې کول مکروه تحریمی دی خو خطابی لیکی چه اعادة مستحب ده (معالم السنن ج ۱ ص ۳۳۶) (التعلیق المحمود ج ۱ ص ۹۹) چه خلف الصف د ځانله سړی مونځ مکروه تحریمی او واجب الاعادة دې، خو امام ابو حنیفه رحمه الله په دې کښې لږ تفصیل بیانوی او فرمائی که یو سړې په داسې وخت کښې جماعت ته راورسیدلو چه آخری صف مکمل ډک شوې وو نو هغه له پکار دی چه د بل انسان د راتلو انتظار اوکړی یواځې دې نه اودریږی او که هم د دې رکعت د رکوع پورې بل څوک راونه رسیږی نو د وړاندې صف نه دې څوک راکاږی او ځان څخه دې اودروی او هغه څخه دې یوځائې مونځ اوکړی چه د ﴿خلف الصف وحده﴾ حکم په هغه باندې رانشی لکه چه د رسول الله ﷺ ارشاد هم دې چه که څو په آخری صف کښې ځانله وی نو د وړاندې صف نه دې سړې راکاږی. (نصب الرایة ج ۲ ص ۳۹، نیل الاوطار ج ۳ ص ۱۳۹)

خو که په داسې کولو کښې د څه تکلیف ویره وی یا د لا علمئ په وجه باندې د څه فتنې او انتشار ویره وی نو په دې صورت کښې یواځې خلف الصف اودریدلو څخه مونځ کول جائز دی. (معارف السنن ج ۲ ص ۳۰۷) او مونځ بهر حال کیږی او په دې کښې به هیڅ قسم کراهت نه وی خو که د دې احکاماتو رعایت اونکړې شو نو بیا به مکروه وی.

**د امام احمد وَمن وافقه دلائل:**

۱: د دې باب روایت ۵۳۱ کوم چه د وابصه بن معبد رضی الله عنه نه مروی دې کوم چه ترمذی په ج ۱ ص ۵۴ کښې تخریج کړې دې چه په هغې کښې تصریح ده چه ﴿فأمر ان یعید الصلوة﴾.

۲: د علی بن شیبان روایت ۵۳۲ کوم چه مسند احمد ج ۴ ص ۲۳ او ابن ماجة ۷۱ په حوالې څخه تخریج کړې شوې دې په دې کښې هم تصریح ده چه د منفرد خلف الصف مونځ نه کیږی واجب الاعادة دې ﴿فقال له استقبل صلواتک فلا صلوة لمنفرد خلف الصف﴾ د قبیله شحیم یو وفد د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او په هغوی کښې یو خپله علی بن شیبان رضی الله عنه وو هغه فرمائی

چه مونږ د رسول الله ﷺ څخه مونځ اوکړو رسول الله ﷺ مونځ پوره کړو نو وې کتل چه یو سړی یواځې په صف کښې مونځ کولو چه غالبا مسبوق وو نو رسول الله ﷺ د هغه خواته ورغلو او اودریدلو چه کله هغه مونځ پوره کړو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه مونځ دوباره اوکړه ځکه چه یواځې د یو سړی د صف نه شاته مونځ کول صحیح نه دی.

**د امام احمد د استدلال نه د جمهورو ځوابات:** ۱: د وابصه بن معبد په روایت کښې د اعادې امر په استحباب باندې محمول دې. ۲: ابن رشد په بدایة المجتهد ص ۱۷۴ کښې لیکی دا حدیث مضطرب دې **فلهذا لا تقوم به الحجة** ..... امام بیهقی په المعرفة السنن والاثار کښې لیکی : **وانما لم یخرجه صاحبا الصحیح لما وقع فی اسناده من الاختلاف**، امام شافعی رحمه الله فرمائی : **لو ثبت الحدیث لقلت به**. د دې نه دا خبره واضحه شوه چه د امام شافعی رحمه الله په نزد هم دا حدیث حجت نه دې. ۳: نور ائمه هم د مونځ د دوباره کولو قائل دی بعض وجوبا او بعض استحبابا لهذا د هغوی قول د حدیث خلاف نه دې. ۴: امام طحاوی رحمه الله فرمائی په دې حدیث کښې دوه احتمالات دی ۱: د صف نه شاته مونځ نه کیږی ځکه چه د اعادې حکم ئې فرمائیلې دې. ۲: د دویم علت په وجه باندې ئې د اعادې حکم فرمائیلې دې هغه دا چه مونځ کونکی د مانځه د صفاتو او شرطونو لحاظ نه وو ساتلې چه د هغې په وجه باندې مونځ واجب الاعادة وی لکه د رفاعه او ابوهریره رضی الله عنهما نه دا قسم روایات مروی دی چه د صفاتو او شرائطو د نه پوره کولو د وجې نه رسول الله ﷺ خو کرته د مونځ د اعادې حکم فرمائیلې دې ﴿ **صل فانک لم تصل** ﴾ نو دلته ئې هم د دې وجې نه په هغه اعاده د صلوة کړې ده نه د دې وجې نه چه خلف الصف د منفرد مونځ نه کیږی. (شرح معانی الاثار ج ۱ ص ۲۳۰)

**۵**: د ابن ماجه روایت کوم چه د علی بن شیبان رضی الله عنه نه مروی دې د هغې ځواب دا دې چه د دې په سند کښې ملازم بن عمرو او عبدالله بن بدر دواړه راویان ضعیف دی په دې وجه دا حدیث هم قابل استدلال نه دې. ۲: امام طحاوی رحمه الله فرمائی چه د علی بن شیبان رضی الله عنه په روایت کښې هم دوه احتماله دی، (الف) د صفاتو د اعادې حکم ئې فرمائیلې دې لکه چه په حدیث د وابصه رضی الله عنه کښې دی. (ب) ﴿ **لا صلوة** ﴾ کښې نفی د جواز او صحت نه ده بلکه نفی د کمال مراد ده ځکه چه په صفات صلوة او سنت صلوة کښې اتصال صفوف او انسداد فرجه هم دې لهذا دا په معنی د ﴿ **لا صلوة صلوة کاملة** ﴾ شو لهٰذا دخلف الصف منفردا مونځ به باطل نه وی بلکه د کمال ثواب نه د محرومتیا د وجې نه به مکروه وی. (شرح معانی الاثار)

**د جمهورو دلائل:** د جمهورو استدلال د ابوبکره رضی الله عنه د روایت ۵۳۰ نه دې مضمون د حدیث په لفظی

ترجمه کښې واضح کړې شوې دې د کوم تخریج چه امام بخاری رحمه الله په ج ۱ ص ۱۰۸ کښې کړې دې په هغې کښې رسول الله ﷺ ابوبکره رضی الله عنه ته د اعادې حکم نه دې کړې بلکه د هغه فعل ئې تسلیم کړو او د بیا لپاره ئې د دې فعل د نه کولو تاکید اوفرمائیلو **فقال زادك الله حرصاً ولا تعد**... کوم چه د دې خبرې واضح دلیل دې چه **صلوة خلف الصف وحده** مفسد صلوة نه دې خو مکروه ضرور دې.

۲: د دې باب اول روایت د کوم راوی چه انس بن مالک رضی الله عنه دې کوم چه امام بخاری رحمه الله په ج ۱ ص ۱۰۱ کښې تخریج کړې دې هغې کښې هم د ﴿ **وامی ام سلیم خلفنا** ﴾ مدلول واضح ئې هم دا دې چه هغوی ﴿ **خلف الصف وحده** ﴾ مونځ اوکړو او رسول الله ﷺ پرې هیڅ نکیر او نه فرمائیلو.

**د جمهورو د مسلك وجوه ترجیح:** ۱: امام طحاوی رحمه الله فرمائی چه رسول الله ﷺ ابوبکره ته د اعادې حکم نه دې فرمائیلې، نو که خلف الصف مونځ ناجائز او باطل وې نو کوم سړې چه خلف الصف په مانځه کښې داخل شی نو د هغه دخول الصلوة به نه صحیح کیدو چه کله د ابوبکره رضی الله عنه دخول صحیح شو نو د پوره مونځ صحیح کیدل لازم شو دا هم داسې ده چه کله یو سړې په ناپاک ځائې باندې مونځ کوی نو د هغه مونځ نه صحیح کیږی او هم دغه شان چه څوک ئې په ناپاک ځائې باندې شروع کوی بیا تلو څخه پاک ځائې ته رسیدو باندې مونځ پوره کوی نو د هغه دخول فی الصلوة هم نه صحیح کیږی چه کله د ابوبکره رضی الله عنه خلف الصف دخول دخول فی الصلوة صحیح شو نو خلف الصف اتمام صلوة هم صحیح کیدل پکار دی.

**د لَاتَعُد دوه معانې:** بعض خلقو د ابوبکره رضی الله عنه د روایت په الفاظو ﴿ **لا تعد** ﴾ باندې اشکال پیش کولو. څخه وئیلې دی چه د دې څۀ معنی ده امام طحاوی رحمه الله په ځواب کښې فرمائی چه دا لفظ د دوه معنو احتمال لری: الف: ﴿ **لا تعد: بمعنی لا تعد ان ترکع دون الصف حتی تقوم فی الصف** ﴾ یعنی د بیا لپاره د صف نه شاته د مانځه نیت بالکل مه تړه او د دې فعل اعاده مه کوه لکه چه د ابوهریره رضی الله عنه روایت دې چه خلف الصف دې مونځ نه شروع کوی تردې چه په صَف کښې داخل شی او په صف کښې دې داخلیدو څخه مونځ شروع کړی. ب: ﴿ **لا تعد: بمعنی لا تعد ان تسعی الی الصلوة** ﴾ یعنی مانځه ته په تندئ څخه په منډه باندې مه راځه چه نفس ئې په دیکه ورکولو څخه په تندئ کښې اخته کړی بلکه په سکون او وقار څخه دې په صف کښې داخلیدو څخه مونځ شروع کړی د ﴿ **لا تعد** ﴾ مطلب دا دې چه حرص کول مبارک دی خو تندی ښه نه ده لهذا د ﴿ **لا تعد** ﴾ په دواړو معنو کښې یو معنی هم داسې نه ده چه د خلف الصف منفردا د مانځه په صحت باندې څۀ اثر پریوځی او د فساد صلوة علت جوړ شی. (شرح معانی الاثار ملخصاً).

# [اَبْوَابُ مَالَایَجُوْزُ فِی الصَّلٰوۃِ وَمَا یُبَاحُ فِیْهَا]

## بَابُ النَّهْیِ عَنْ تَسْوِیَةِ التُّرَابِ وَمَسْحِ الْحَصٰی فِی الصَّلٰوۃِ

(۵۳۳) عَنْ مُعَیْقِیْبٍ رَّضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِی الرَّجُلِ یُسَوِّی التُّرَابَ حَیْثُ یَسْجُدُ قَالَ اِنْ کُنْتَ فَاعِلًا فَوَاحِدَةً۔ رَوَاهُ الْجَمَاعَةُ۔

**ابواب: کوم څیزونه چه په مانځه کښې جائز دی او کوم ناجائز دی**

**باب: په مانځه کښې د خاورو د برابر کولو او د کانړو د مس کولو ممانعت:**

**۵۳۳**: د سیدنا معیقیب رضی الله عنه نه روایت دې چه بیشکه رسول الله ﷺ د هغه سړی په باره کښې اوفرمائیل چه د سجدې په ځائې کښې ئې خاورې برابر کولې، که ته داسې کوې نو یو کرت کوه، دا حدیث د محدثینو جماعت نقل کړې دې.

(۵۳۴) وَعَنْ اَبِیْ ذَرٍّ رَّضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِذَا قَامَ اَحَدُکُمْ فِی الصَّلٰوۃِ فَلَا یَمْسَحِ الْحَصٰی فَاِنَّ الرَّحْمَةَ تُوَاجِهُهٗ۔ رَوَاهُ الْاَرْبَعَةُ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

**۵۳۴**: سیدنا ابوذر رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: په تاسو کښې چه کله یو سړې د مانځه لپاره اودریږی نو کانړی دې نه مس کوی، بیشکه د الله پاک رحمت هغه ته متوجه دې.

دا حدیث اصحاب اربعه نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۵۳۵) وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ سَاَلْتُ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنْ مَسْحِ الْحَصٰی فَقَالَ وَاحِدَةً وَلَاَنْ تُمْسِكَ عَنْهَا خَیْرٌ لَّكَ مِنْ مِّائَةِ نَاقَةٍ کُلُّهَا سُوْدُ الْحَدَقِ۔ رَوَاهُ اَبُوْبَکْرِ بْنُ اَبِیْ شَیْبَةَ وَاِسْنَادُهٗ صَحِیْحٌ۔

**۵۳۵**: سیدنا جابر بن عبدالله رضی الله عنهما فرمائی ما د رسول الله ﷺ نه د کانړی مس کولو په باره کښې پوښتنه اوکړه نو هغوی اوفرمائیل: یو کرت! او که د هغې نه هم منع شې نو دا به ستا لپاره د سلو داسې اوښانو نه غوره وی کوم چه ټول په ټوله د تورو سترګو والا وی.

**تشریح** ‹۵۳۳ نه ۵۳۵ پورې› په دې ابوابو کښې به د هغه څیزونو ذکر کولې شی چه د هغې په مانځه کښې اختیارول حرام مکروه او مباح دی او په کوم باندې چه په مانځه کښې په څه حیثیت څخه اثر پریوځی بلکه دا چه هغه امور به هم بیانوی چه د هغې اختیارول په مانځه کښې جائز دی. د باب اول روایت ۵۳۳ د سیدنا معیقیب رضی الله عنه نه روایت دې کوم چه امام بخاری رحمه الله په کتاب التهجد ج ۱ ص ۱۶۱ **باب مسح الحصی فی الصلوة** کښې مسلم په ج ۱ ص ۲۰۶ کښې تخریج کړې دې چه

په هغې کښې که د خاورې برابرولو ضرورت هم راشی نو د ﴿ فواحدة ﴾ اجازت ورکړې شوې دې.
دویم روایت ۵۳۴ د ابوذر رضي الله عنه نه منقول دې کوم چه امام ترمذی رحمه الله په سنن ج ۱ ص ۸۷ کښې نقل کړې دې، نسائی په ج ۱ ص ۱۷۷ کښې، ابوداؤد په ج۱ ص ۱۳۶، او ابن ماجة په ج ۱ ص ۷۳ کښې تخریج کړې دې چه په هغې کښې صراحة د کانړو د مس کولو نه منع ده وجه د منع کولو دا ده چه ﴿فان الرحمة تواجهه ﴾، دریم روایت ۵۳۵ د جابر بن عبد الله رضي الله عنهما نه دې چه کوم مصنف ابن ابی شیبة ج ۲ ص ٤١٢ کښې تخریج کړې شوې دې چه په هغې کښې په وخت د ضرورت یو کرت د کانړو د مس کولو اجازت دې او که د دې نه هم خپل ځان منع کړی نو دا منع کیدل به د داسې سلو اوښانو نه غوره وی کوم چه ټول په ټول د تورو سترګو والا وی.
د مانځه لپاره د کانړو اړول راړول هم مکروه دی مګر دا چه په ښه طریقه باندې سجده ناممکن وی نو په دې صورت کښې یو کرت د تسویة اجازت دې ظاهر الروایة هم دا ده په غیر ظاهر الروایة کښې د دې دوه کرته اجازت دې (منیة) او یو کرت هم ګولو نه ځان بچ کول بهر حال افضل دی لکه چه د جابر بن عبد الله رضي الله عنهما د روایت هم دا مدلول دې.
د ابوذر رضي الله عنه د روایت په باره کښې امام زیلعی رحمه الله فرمائی چه دا غریب دې خو امام احمد رحمه الله په خپل مسند ص ۱۶۳ کښې نقل کړی دی ﴿ سالت النبی صلی الله علیه وسلم عن کل شئ حتی سالته عن مسح الحصی فقال واحدة او دع ﴾ د حذیفه رضي الله عنه نه هم د دې په شان روایت مروی دې.

## بَـابٌ فِي النَّهْيِ عَنِ التَّخَصُّرِ

(۵۳۶) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ نَهَى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُّصَلِّيَ الرَّجُلُ مُخْتَصِرًا. رَوَاهُ الشَّيْخَانِ.

**باب: په دوو باندې د لاس کیخودلو ممانعت**: ۵۳۶: د سیدنا ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم منع اوفرمائیله چه انسان مونځ کوی او هغه په دوو باندې لاس کیخودلې وی. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

**تشریح**: ۵۳۶: د مانځه د منهیاتو نه یو تخصر هم دې د دې باب روایت امام بخاری رحمه الله په خپل صحیح کتاب التهجد **باب الخصر فی الصلوة** ج ۱ ص ۱۶۳ کښې او امام مسلم رحمه الله په **باب کراهة الاختصار فی الصلوة** ج ۱ ص ۲۰۶ کښې نقل کړې دې.

**د روایت تخصر مختلف الفاظ**: د امام ابوداؤد رحمه الله حدیث ابوهریره رضي الله عنه (داسې) دې: ﴿ نهی عن الاختصار

فی الصلوة ﴾ د بخاری روایت داسې دې ﴿ نهی عن الخصر فی الصلوة ﴾ او د بخاری په یو بل روایت اود امام مسلم، ترمذی، نسائی او دارمی په روایت کښې داسې دی : ﴿ نهی ان یصلی الرجل مختصرا ﴾ او د بیهقی په روایت کښې دا دی ﴿ نهی عن التخصر ﴾

**د تخصر او اختصار معانی**: ۱: علامه خطابی وغیره ذکر کړې دی چه په لاس کښې لخته وغیره اخستلو څخه په هغې باندې تکیه لګولو ته اختصار وائی. ومنه قوله علیه السلام لابن انیس وقد اعطاه عصاً : تخصر بها فان المختصرین فی الجنة ... خو حافظ ابن العربی په شرح ترمذی کښې د دې نه انکار کړې دې.

۲: ابن الاثیر په نهایة کښې لیکی چه د دې صورة دا دې چه سورة مختصر کولو څخه د آخر یو یا دوه آیتونه اولولی.

۳: علامه هروی وائی چه د اختصار مطلب تخفیف الصلوة دې چه نه ئې قیام په صحیح معنی کښې اوږد کړی او نه رکوع او نه سجود. ۴: بعض حضراتو د دې تفسیر داسې کړې دې چه په کومو آیتونو کښې د سجده تلاوت آیتونه دی هغه مختصر لوستل چه د سجده تلاوت ضرورت رانشی دې ته اختصار وائی. (حکاه الغزالی)

۵: خو د اختصار مشهور تفسیر هغه دې کوم چه ابن ابی شیبة په مصنف کښې د محمد بن سیرین رحمه الله او حافظ بیهقی د هشام نه نقل کړې دې یعنی خپل لاسونه په پختو باندې کیخودل. امام ابوداؤد رحمه الله په حدیث د ابوهریره رضی الله عنه کښې د اختصار هم دا تفسیر کړې دې فرمائی: ''یعنی تضع یدہ علی خاصرته،، بلکه دا چه د ابوداؤد او نسائی روایت دسعید بن زیاد هم د دې مؤید دې:

''قال صلیتُ الی جنبِ ابن عمر رضی الله عنهما فوضعتُ یدی علی خاصرتی فلما صلی قال: هذا الصلب فی الصلوٰة وکان رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم ینهی عنه''.

سعید وائی چه ما د ابن عمر رضی الله عنهما په خوا کښې مونځ اوکړو نو خپل لاس مې په ملا کیخودلو، چه کله ابن عمر رضی الله عنهما مونځ اوکړو نو وې فرمائیل : دا د سولئ په شکل کښې مونځ، رسول الله صلی الله علیه وسلم به د دې نه منع کوله.

صاحب هدایة هو وضع الید علی الخاصرة وئیلو څخه هم دا تفسیر اختیار کړې دې، او د جمهور اهل لغت وفقه و حدیث په نزد هم دا صحیح ده.

**بیان مذاهب او فقهی احکام**: ۱: تخصر یعنی په ملا یا دواړو باندې لاس کیخودلو مونځ کول د ابن عباس، ابن عمر، عائشة، ابراهیم النخعی، مجاهد، ابومجلز رضی الله عنهم اود نورو حضراتو په نزد مکروه

(تحريمي) دی، امام ابوحنيفه، امام مالک، امام شافعي او امام اوزاعی رحمهم الله هم د دې قائل دی.

۲: د اهل ظاهر په نزد اختصار فی الصلوة حرام دې عملا بظاهر الحديث، پس د ابن ماجه نه علاوه ائمة خمسه د ابوهريره رضی الله عنه نه روايت کړې دې کوم چه زمونږ مصنف امام نيموی رحمه الله د شيخينو په حوالې ځخه تخريج کړې دې چه ﴿ نهى رسول الله ﷺ ان يصلى الرجل مختصرا ﴾ حاکم په مستدرک کښې د تخريج نه پس دا په شرطونو د شيخينو منلې دې او وئيلې ئې دی ﴿ ولم يخرجاه ﴾ علامه زيلعی رحمه الله فرمائی چه دا د موصوف وهم دې ځکه چه شيخينو د دې تخريج کړې دې او امام بخاری رحمه الله د دې لپاره مستقل عنوان باب التخصر فی الصلوة قائم کړې دې، بيا په بحر الرائق کښې دی چه د تخصر کراهت تحريمی دې، په بنايه کښې دی چه کراهت تخصر متفق عليه دې د سړی په حق کښې هم او د ښځې په حق کښې هم، صاحب د در مختار ذکر کړې دی چه تخصر خارج الصلوة هم مکروه دې، صرف دومره خبره ده چه خارج الصلوة مکروه تنزيهی دې.

**د تخصر نه د ممانعت حکمتونه**: په حديث کښې چه کوم د تخصر نه منع راغلې ده د هغې ډير حکمتونه ذکر کړې شوې دی: ۱: د ابليس لعين هبوط هم په دې حالت کښې شوې وو لکه چه ابن ابی شيبة په طريق د حميد بن هلال موقوفا روايت کړې دې. ۲: دا د يهودو فعل دې پس د تشبه باليهود نه بچ کول دی، پس امام بخاری رحمه الله د بنی اسرائيل په تذکره کښې د عائشې رضی الله عنها نه روايت کړې دې، **انها كانت تكره ان يجعل الرجل فى خاصرته وتقول : ان اليهود تفعله** ... د ابن ابی شيبة په روايت کښې د لفظ ﴿ فى الصلوة ﴾ زيادت دې هم دې. ۳: هيئت دتخصر د دوزخيانو د دمې حالت دې، ابن ابی شيبة د مجاهد نه روايت کړې دې، **قال: وضع اليد على الحقو استراحة اهل النار**. ۴: دا د شعر وئيلو په وخت د راجزين صفت دې، دا سعيد بن منصور په طريق د قيس بن عباده نه د حسن په سند ځخه روايت کړې دې. ۵: دا د متکبرينو فعل دې (**حكاه المهلب بن ابى صفرة**) ۶: دا شکل د اهل مصائب دې چه کله هغوی د ماتم لپاره پاسی نو په ډډو باندې لاس ږدی او پاسی.(**حكاه الخطابى**) فتح الباری ج ٤ ص ۷۱)

**دتخصر معاشرتی حيثيت**: په ملا باندې لاس کيخولو ځخه اودريدل معاشرتی لحاظ ځخه هم ځه ښه خبره نه ګڼرلې کيږی، پوهيدونکی پوهيږی چه اکثر او زيات تر په ملا باندې لاس کيخودلو ځخه اودريدل يا تلل د دنيا د هغه بدنصيبو عادت دې چاته چه د دنيا او معاشرې په هره طبقه کښې ډير په ذلت او حقارت ځخه کتلې کيږی يعنی هيجړاګان (مظاهر)

## بَابُ فِی النَّهیِ عَنِ الْاِلْتِفَاتِ فِی الصَّلٰوةِ

(۵۳۷) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ سَأَلْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْاِلْتِفَاتِ فِی الصَّلٰوةِ فَقَالَ هُوَ ''اِخْتِلَاسٌ یَخْتَلِسُهُ الشَّیْطَانُ مِنْ صَلٰوةِ الْعَبْدِ''۔ رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ۔

**باب: په مانځه کښې ښی او ګس طرف ته د سټ اړولو ممانعت:** ۵۳۷ : ام المومنین عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمائی : ما د رسول الله ﷺ نه د یو خو بل خوا کتلو په باره کښې پوښتنه اوکړه نو هغوی اوفرمائیل : دا د شیطان غوټه وهل دی چه د بنده په مانځه باندې راغوټه کیږی. دا حدیث بخاری نقل کړې دې.

(۵۳۸) وَعَنْ اَنَسٍ رَّضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِیَّاكَ وَالْاِلْتِفَاتَ فِی الصَّلٰوةِ فَاِنَّ الْاِلْتِفَاتَ فِی الصَّلٰوةِ هَلُکَةٌ فَاِنْ کَانَ لَابُدَّ فَفِی التَّطَوُّعِ لَا فِی الْفَرِیْضَةِ۔ رَوَاهُ التِّرْمَذِیُّ وَصَحَّحَهٗ۔

**۵۳۸**: سیدنا انس رضی الله عنه فرمائی، رسول الله ﷺ اوفرمائیل په مانځه کښې د مخ اړولو راړولو نه بچ شئ، بیشکه په مانځه کښې مخ اړول راړول هلاکت دې پس که ضروری وی نو په نفلو کښې په فرضو کښې نه. (څخه د مکروه کیدو نه په نفلو کښې د څه حده پورې قابل برداشت دې)

دا حدیث ترمذی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۵۳۹) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ کَانَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَلْحَظُ فِی الصَّلٰوةِ یَمِیْنًا وَّ شِمَالًا وَّلَا یَلْوِیْ عُنُقَهٗ خَلْفَ ظَهْرِهٖ۔ رَوَاهُ التِّرْمَذِیُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِیْحٌ۔

**۵۳۹**: سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی : رسول الله ﷺ به د سترګو په ګوټونو کښې په مانځه کښې ښی او ګس طرف ته کتل او خپل سټ مبارک به ئې شاته نه اړولو.

دا حدیث ترمذی نقل کړې دې او ددې اسناد صحیح دې.

**تشریح** (۵۳۷ نه ۵۳۹ پورې) په مانځه کښې د یو خوا بل خوا کتلو ممانعت متفق علیه دې مصنف علام په دې باب کښې درې روایتونه لیکلي دی اول روایت د عائشې رضی الله عنها نه منقول دې کوم چه امام بخاری رحمه الله په کتاب الاذان ۱ ص ۱۰٤ باب الالتفات فی الصلوة کښې نقل کړې دې، دویم روایت ۵۳۸ کوم چه د انس رضی الله عنه نه روایت دې کوم چه امام ترمذی په سنن باب ما ذکر فی الالتفات فی الصلوة ج۱ ص۱۳۰ کښې تخریج کړې دې، د دریم روایت راوی ابن عباس رضی الله عنهما دې هغه هم امام ترمذی رحمه الله په پورته حوالې څخه نقل کړې دې. د درې واړو مفهوم په لفظی ترجمه کښې واضح دې.

**د التفات فی الصلوة متعلق نوراحادیث:** په دې سلسله کښې نور هم ډیر احادیث روایت کړې شوې

دی، ۱: حدیث کعب رضی الله عنه مَا مِنْ مُؤْمِنٍ یَقُومُ مُصَلِّیًا إِلَّا وُكِّلَ بِهِ مَلَكٌ يُنَادِي يَا ابْنَ آدَمَ لَوْ تَعْلَمُ مَا لَكَ فِي صَلَاتِكَ وَمَنْ تُنَاجِي مَا الْتَفَتَّ (بیهقی فی شعب الایمان) د دې د راوی عباد بن کثیر متعلق کلام دې. ۲: حدیث د ابوهریره رضی الله عنه مرفوع ﴿ وإياكم والالتفات في الصلاة فإن احدكم يناجي ربه ما دام في الصلاة ﴾ (طبرانی فی الاوسط) بچ شئ تاسو په مانځه کښې د التفات نه ځکه چه په تاسو کښې چه څوک ترڅو په مانځه کښې دې هغه د خپل رب څخه مناجات کوی. علامه هیثمی په زوائد کښې فرمائی چه د دې په سند کښې محمد بن عمر واقدی دې چه ضعیف دې. ۳: حدیث ابوذر رضی الله عنه مرفوع ﴿ لَا يَزَالُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ مُقْبِلاً عَلَى الْعَبْدِ وَهُوَ فِي صَلَاتِهِ مَا لَمْ يَلْتَفِتْ فَإِذَا الْتَفَتَ انْصَرَفَ عَنْهُ ﴾ ابوداؤد، نسائی، احمد، دارمی، حاکم) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی: برابر الله پاک خپل بنده ته په مانځۀ کښې توجه کوی ترڅو چه هغه یوخوا بل خوا کتلې نه وی، چه کله یو خوا بل خوا اوګوری نو خپل وجه کریم ترې نه واړوی. شیخ منذری رحمه الله په خپل حواشی کښې لیکلې دی چه د دې راوی ابوالاحوص غیر معروف دې او د هغه نه صرف زهری راوی دې، یحیی بن معین وائی چه دا هیڅ نه دې، امام نووی رحمه الله په خلاصه کښې ذکر کړې دی چه په دۀ کښې جهالت دې، خو امام ابوداؤد رحمه الله دې حدیث ته ضعیف نه دې وئیلې فهو حسن عنده.

**د التفات څو صورتونه:** د التفات او نظر څو صورتونه دی ۱: صرف د سترګو په ګټ کښې یو خوا بل خوا کتل، هم دا قول مراد دې کوم چه د ټولو په نزد جائز دې اګر چه خلاف اولی دې دا د ټولو نه اخف دې. ۲: بغیر د ضرورت نه د تحویل په وجه څخه کتل، دا د ټولو په نزد مکروه دې دا اختلاس الشیطان دې په دې کښې او څلورم کښې سخت کراهت دې. ۳: داسې کتل چه سینه هم د قبلې نه واوړی، دا د احنافو او شوافعو په نزد مفسد صلوة دې، د مالکیانو په نزد که نبی او ګس طرف ته واوړی او دواړه خپې ئې د قبلې طرف ته قائمې وی نو بغیر د ضرورت نه مکروه ده د حنابله په نزد که بغیر د ضرورت د مرض او ویرې وغیره نه التفات وی نو مکروه دې او د بطلان صلوة حکم به صرف په استدبار قبله څخه وی. ۴: التفات قلبی یعنی زړه بل طرف ته متوجه شی دې څخه به مونځ صحیح شی خو دا به د حضور الهی نه اعراض شمارلې کیږی.

**د حدیث عائشه په باره کښې د علامه انور شاه کشمیری رحمه الله ارشاد:** علامه انور شاه کشمیری رحمه الله فرمائی چه په حدیث عائشه رضی الله عنها کښې دا راغلی دی چه ﴿ هو اختلاس يختلسه الشيطان من العبد ﴾ زما په نزد د عالم غیب ټول څیزونه په حقیقت باندې بناء دی په دې کښې د تاویل او استعارې ګنجائش نشته په دې وجه که چا ته د هغه د التفات والا مونځ متمثل کولو څخه اوښودلې شی نو

هغه به ئې ضرور اوینی چه مختلس او مجروح دې او ځانې په ځائې شوکیدلې او خراب شوې دې په وجه د التفات وغیره نقصاناتو باندې.

## بَابُ فِيْ قَتْلِ الْاَسْوَدَيْنِ فِي الصَّلٰوةِ

(۵۴۰) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اُقْتُلُوا الْاَسْوَدَيْنِ فِي الصَّلٰوةِ ''اَلْحَيَّةَ وَالْعَقْرَبِ''۔رَوَاهُ الْخَمْسَةُ وَصَحَّحَهُ التِّرْمَذِيُّ۔

**باب په مانځه کښې مار لړم وژل:** ۵۴۰ : سیدنا ابوهریره رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ فرمائی: اسودین په مانځه کښې (هم) وژنئ، مار او لړم.

دا حدیث اصحاب خمسه نقل کړې دې او ترمذی ورته صحیح وئیلې دې.

**تشریح:** ۵۴۰: د ابوهریره رضی الله عنه دا روایت ترمذی ج ۱ ص ۸۹، ابوداؤد ج ۱ ص ۱۳۳، نسائی ج ۱ ص ۱۷۸، ابن ماجة ۸۹ او مسند احمد ج ۲ ص ۲۳۳ کښې تخریج کړې دې د حدیث مفهوم په لفظی ترجمه کښې واضح دې.

**په مانځه کښې د مار لړم د وژلو حکم:** په مانځه کښې د مار لړم وژل جائز دی که په یو ضرب ځخه مړ شی یا په زیاتو ځخه که ویره وی او که نه وی، هم دا ښکاره ده (مبسوط) هم دا د امام شافعی او احمد قول دې، ځکه چه د ابوهریره رضی الله عنه روایت مرفوع دې. **﴿ اقْتُلُوا الأَسْوَدَيْنِ فِي الصَّلاَةِ الْحَيَّةَ وَالْعَقْرَبَ ﴾** (سنن اربعه، احمد، ابن حبان، حاکم) کوم چه زمونږ مصنف رحمه الله دې باره کښې نقل کړې دې او حاکم ورته صحیح وئیلې دې، او د ابن عباس رضی الله عنهما نه هم مرفوع روایت دې **﴿ واقتلوا الحية والعقرب وان كنتم فى صلاتكم ﴾** (ابن حبان، مختصر) او وژل ئې ځکه هم جائز دی چه په دې ځخه د زړه مشغولیت لرې کیږی نو دا د تیریدونکی د دفع کولو مشابه شو.

**دا حکم د ټولو مارانو قسمونو ته شامل دې:** صاحب هدایة لیکی : **﴿ ويستوى جميع انواع الحيات هو الصحيح ﴾** په مذکوره حکم کښې ټول قسمونه د مارانو داخل دی که سپین وی او ویښتو والا وی یا تور مار، هم دا صحیح ده ځکه چه حدیث مذکور علی الاطلاق ټولو ته شامل دې او د اسود نه مراد صرف تور مار نه دې بلکه د عربو په عرف کښې اسود مار ته وائی که د هر رنګ وی، فقیه ابوجعفر هندوانی فرمائی چه بعض ماران په کورونو کښې سپین او ویښتو والا وی او نیغ ځی هغه د کومو قتل کول چه د هغوی لپاره مباح نه دی ترڅو چه ئې اول دا نه وی وئیلې چه ته لاړه شه ګینې مونږ به دې مړ کړو، حسن بن زیاد د امام ابوحنیفه رحمه الله نه نقل کړی دی چه د مار د تکلیف

ويره كه نه وى نو وژل ئې جائز نه دى، امام مالک او ابراهيم نخعى هم د دې قائل دى، **لقوله عليه الصلاة والسلام ان فى الصلاة لشغلا** ... بله دا چه د هغوى په نزد د سپين مار وژل هم صحيح نه دى ځ چه نيغ روان وى، ځكه چه دا د جناتو نه دې په حديث كښې دى ﴿ **اقتلوا ذا الطفيتين والاكر واياكم والحية البيضاء فانها من الجن** ﴾ خو فقيه ابوجعفر طحاوى رحمه الله دا روايت داسې رد كړې دې چه رسول الله ﷺ د جناتو نه عهد اخستلې وو چه كله دې هم زما د امت په مخكښې د مارانو په شكل حاضريږى او نه دې د هغوى كورنو ته ننوځى، پس كله چه هغوى بد عهدى اوكړه نو د هغوى نه مباح شو، د شمس الائمة او صاحب هداية په نزد هم دا مختار دې، بله دا چه د ابن عباس رضي الله عنه روايت دې چه چا ماران د طلب د ويرې نه پريخودل نو هغه زمونږ نه نۀ دې ځكه چه د كله نه مونږ ځخه محاربه اوكړه كله ئې هم مصالحه نه ده كړې، د شيطان په موافقت كښې آدم عليه السلام ضرر رسولو طرف ته اشاره ده (كفاية عناية)

**فائده:** صدر الاسلام فرمائى چه د مار په قتل كولو كښې احتياط مناسب دې ځكه چه زما يو مـ رور په كور كښې يو لوئې مار په توره باندې قتل كړو نو جناتو هغه دومره اوهلو چه د يـ مياشتې پورې ئې خپو حركت اونكړې شو تردې چه مونږ په څه تدبير څخه هغوى راضى كړې بيا ئې مونږ پريخودلو.

## بَـابٌ فِي النَّهْيِ عَنِ السَّدْلِ

(۵۴۱) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ السَّدْلِ فِي الصَّلٰوةِ وَاَنْ يُّغَطِّيَ الرَّجُلُ فَاهُ۔ رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَابْنُ حِبَّانَ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

**باب په مانځه كښې د سدل ممانعت:** ۵۴۱: د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ مانځه كښې د سدل نه او د سړى د خولې پټولو نه منع فرمائيلې ده.

دا حديث ابوداؤد او ابن حبان نقل كړې دې او د دې اسناد حسن دې.

**تخريج:** ۵۴۱: د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه دا روايت سنن ابوداؤد په كتاب الصلوة باب السدل فى الصلوة ص ۹۴ او صحيح ابن حبان ج ۵ ص ۲۵ كښې تخريج كړې دې.

**د سدل تفسيرونه:** ائمة لغت د سدل مختلف تفسيرونه كړې دى ۱: جوهرى ليكلې دى چه ﴿ **سدل ثوبه يسدله بالضم سدلا اى ارخاه** ﴾ يعنى كپړه زوړندول. ۲: ابوعبيده وائى چه كپړې لره د هغه دواړو غاړو ته زوړند پريخودل او نه تاوهلو ته سدل وائى. ۳: علامه خطابى رحمه الله فرمائى چه

سدل معنی دا ده چه کپړه داسې پریږدي چه هغه د زمکې پورې زوړنده وی. ۴: صاحب نهاية ليکی چه د پورته نه کپړه اچولو څخه دواړه لاسونه دننه کولو باندې مونځ کولو ته سدل وائی او ددې تحقق په قمیص وغیره هره کپړه کښې کیدې شی. ۵: بعض حضراتو سدل د جبې څخه خاص کړې دې چه هغه واغوندی او لاسونه په لستوڼو کښې دننه نه کړی. ۶: د دې تفسیر په **اسبال الازار الی تحت الكعبين** څخه هم کړې شوې دې.

**د ممانعت وجوه**: بهر حال د سدل چه هر صورت وی د شريعت په نظر کښې دا فعل ناخوښه دې ځکه چه دا د یهودو عادت دې، ابوعبید په الغريب کښې په طريقه د عبدالرحمٰن بن سعيد بن وهب د علی رضی الله عنه نه روایت کړې دې چه هغوی څه خلق کپړې زوړندولو څخه په مانځه باندې اوليدل نو وې فرمائيل: دا ټول يهوديان دی او د یوې مدرسې نه راوتلې دی، امام ابوداؤد، امام ترمذی، امام ابن حبان او حاکم رحمهم الله د ابوهريره رضی الله عنه نه روایت کړې دې: ﴿**أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم نَهَى عَنِ السَّدْلِ فِي الصَّلَاةِ**﴾ کوم چه مصنف علام رحمه الله هم په دې باب کښې راوړې دې.

**بيان مذاهب**: هم په دې وجه ابن عمر، مجاهد، ابراهيم النخعی، سفيان ثوری، امام ابوحنيفه او امام شافعی رحمه الله هم دې فعل ته مکروه وئيلې دې که په مانځه کښې وی يا بغير د مانځه نه وی، امام احمد رحمه الله ورته صرف د مانځه په حالت کښې مکروه وائی، د جابر بن عبدالله رضی الله عنهما، عطاء بن ابی رباح، حسن بصری، ابن سيرين، مکحول، زهری او امام مالک رحمهم الله په نزد په دې کښې هيڅ باک نشته.

امام ابوداؤد رحمه الله په طريق د ابن جريج د عطاء فعل روايت کړې دې چه هغوی به اکثر د سدل په حالت کښې مونځ کولو د دې په باره کښې موصوف وائی چه دا فعل د هغوی دا روايت ضعيف کوی چه په هغې کښې هغوی د سدل ممانعت روايت کړې دې د دې لپاره چه راوی کله د خپل روايت کړی حديث خلاف اوکړی نو د هغه روايت کمزورې کيږی.

حافظ بيهقی په سنن الکبری کښې د دې توجيه دا کړې ده چه د عطاء نه به د ممانعت سدل والا حديث هير شوې وی يا به هغوی دا ممانعت د تکبر او غرور د وجې نه په سدل کولو باندې محمول کوی.

**نوروضاحت**: د امام احمد رحمه الله په نزد که سدل د قميص دپاسه وی يعنی قميص اغوستلو څخه په هغې باندې څادر يا رومال زوړند کړې شوې وی نو هيڅ کراهت نشته ګويا د امام احمد رحمه الله په نزد د سدل د کراهت مدار په ثوب واحد باندې دې ځکه چه په دې صورت کښې سدل کولو څخه د مصلی د نظر په خپله شرمګاه باندې د پريوتلو ويره ده او دا مکروه دی خو ائمة ثلاثه د سدل د

کراهت بنیاد په خلاف معروف طريقه باندې د کپړې استعمال ته وئیلې دې هم دا وجه ده چه دهغوی په نزد سدل علی القمیص او سدل علی الازار هم مکروه دې. د عبدالله بن المبارک رحمه الله هم دا مسلک دې.

## بَـابُ مَنْ يُّصَلِّيْ وَرَأْسُـهُ مَعْقُوْصٌ

(۵۴۲) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أُمِرْتُ اَنْ اَسْجُدَ عَلٰى سَبْعَةِ اَعْظُمٍ وَّلَا اَكُفَّ شَعْرًا وَّلَا ثَوْبًا. رَوَاهُ الشَّيْخَانِ.

**باب: څوک سړې چه مونځ اوکړی او د هغه سر غونداړې شوې وی، ۵۴۲:** د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل، ماته حکم کړې شوې دې چه زه په اووهٔ هډوکو باندې سجده اوکړم. وېښتو او کپړې راټول نه کړم. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۵۴۳) وَعَنْ كُرَيْبٍ عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّـهُ رَاٰى عَبْدَاللّٰهِ بْنَ الْحَارِثِ يُصَلِّيْ وَرَأْسُهُ مَعْقُوْصٌ مِّنْ وَّرَآئِهٖ فَقَامَ فَجَعَلَ يَحُلُّـهُ فَلَـمَّا انْصَرَفَ اَقْبَلَ اِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ فَقَالَ مَالَكَ وَلِرَأْسِيْ؟ فَقَالَ اِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اِنَّمَا مَثَلُ هٰذَا مَثَلُ الَّذِيْ يُصَلِّيْ وَهُوَ مَكْتُوْفٌ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

**۵۴۳:** کریب عبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه بیان اوکړو چه هغوی (ابن عباس) عبدالله بن الحارث په مونځ کولو باندې اولیدو، په داسې حال کښې چه د هغوی د سر وېښته شاته غونداړې شوې وو، نو ابن عباس رضی الله عنهما پاسیدو او وېښته ئې پرانستل شروع کړل، چه کله هغوی د مانځه نه فارغ شو، نو د ابن عباس رضی الله عنهما طرف ته متوجه کیدلو څخه ئې اووې: تاسو زما وېښتو څخه څه کول، نو ابن عباس رضی الله عنهما اووې، ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلې دی، ددې مثال د هغه سړی په شان دې چه مونځ کوی او د هغه مشکونه راټول وی. دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

**تشریح>** (۵۴۲ نه ۵۴۳ پورې) د باب اول روایت ۵۴۲ د ابن عباس رضی الله عنهما نه مروی دې د حدیث مضمون په تحت اللفظ ترجمه کښې واضح کړې شوې دې دا روایت امام بخاری رحمه الله په ج ۱ ص ۱۱۳ او امام مسلم رحمه الله په ج ۱ صفحه ۱۹٤ کښې تخریج کړې دې دویم روایت امام مسلم په ج ۱ ص ۱۹٤ کښې تخریج کړې دې.

د معقوص الشعر مونځ کول هم مکروه دی، د عقص شعر صورت دا دې چه په سر باندې د وېښتو غونداړې جمع کولو څخه ئې په تار وغیره باندې اوتړی یا ئې په ګوند باندې کلک کړی، د دې مقصد د وېښتو اوچت ساتل وی، وجه د کراهت دا ده چه په احادیثو کښې د دې ممانعت راغلې دې د دې باب د دواړو روایاتو نه علاوه په نورو احادیثو کښې هم دا مضمون راغلې دې.

پس ۱: ابن ماجه د ابو ذر رضي الله عنه نه روايت کړې دې ﴿ نهى رسول الله ﷺ ان يصلى الرجل وهو عاقص شعره ﴾ ۲: د امام احمد او عبد الرزاق په روايت کښې دی: ﴿ نهى رسول الله ﷺ ان يصلى الرجل وراسه معقوص ﴾ ۳: حافظ طبرانی او اسحاق بن راهويه هم دا الفاظ د ام سلمه رضي الله عنها نه روايت کړی دی. ۴: عبد الرزاق د علی رضي الله عنه نه روايت کړې دې : ﴿ قال رسول الله ﷺ لا تعقص شعرک فی الصلوة فانه کفل الشيطان.

## بَابُ التَّسْبِيْحِ وَالتَّصْفِيْقِ

(۵۴۴) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ التَّسْبِيْحُ لِلرِّجَالِ وَالتَّصْفِيْقُ لِلنِّسَآءِ۔ رَوَاهُ الْجَمَاعَةُ وَزَادَ مُسْلِمٌ وَاٰخَرُوْنَ فِي الصَّلٰوةِ۔

**باب: تسبيح وئيل او پړق وهل (د ګس لاس تلې په ښی لاس وهل)** ۵۴۴: د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : تسبيح د سړو لپاره ده او تصفيق (د يو لاس تلې په بل لاس باندې وهل) د زنانو لپاره دی. دا حديث د محدثينو جماعت نقل کړې دې، مسلم او نورو محدثينو دا الفاظ زيات نقل کړی دی. ''په مانځه کښې دننه،،.

(۵۴۵) وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدِنِ السَّاعِدِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَهَبَ اِلٰى بَنِيْ عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ لِيُصْلِحَ بَيْنَهُمْ فَحَانَتِ الصَّلٰوةُ فَجَآءَ الْمُؤَذِّنُ اِلٰى اَبِيْ بَكْرٍ فَقَالَ اَتُصَلِّيْ بِالنَّاسِ فَاُقِيْمَ قَالَ نَعَمْ! فَصَلّٰى اَبُوْبَكْرٍ فَجَآءَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسُ فِي الصَّلٰوةِ فَتَخَلَّصَ حَتّٰى وَقَفَ فِي الصَّفِّ فَصَفَّقَ النَّاسُ وَكَانَ اَبُوْبَكْرٍ لَا يَلْتَفِتُ فِي الصَّلٰوةِ فَلَمَّآ اَكْثَرَ النَّاسُ التَّصْفِيْقَ الْتَفَتَ فَرَاٰى رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَشَارَ اِلَيْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنِ امْكُثْ مَكَانَكَ فَرَفَعَ اَبُوْبَكْرٍ يَدَيْهِ فَحَمِدَ اللّٰهَ عَزَّوَجَلَّ عَلٰى مَآ اَمَرَهٗ بِهٖ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ ذٰلِكَ ثُمَّ اسْتَاْخَرَ اَبُوْبَكْرٍ حَتّٰى اسْتَوٰى فِي الصَّفِّ وَتَقَدَّمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلّٰى ثُمَّ انْصَرَفَ فَقَالَ يَا اَبَا بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مَا مَنَعَكَ اَنْ تَثْبُتَ اِذْ اَمَرْتُكَ قَالَ اَبُوْبَكْرٍ مَا كَانَ لِابْنِ اَبِيْ قُحَافَةَ اَنْ يُّصَلِّيَ بَيْنَ يَدَيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا لِيْ رَاَيْتُكُمْ اَكْثَرْتُمُ التَّصْفِيْقَ مَنْ نَابَهٗ شَيْءٌ فِيْ صَلٰوتِهٖ فَلْيُسَبِّحْ فَاِنَّهٗ اِذَا سَبَّحَ الْتُفِتَ اِلَيْهِ وَاِنَّمَا التَّصْفِيْحُ لِلنِّسَآءِ۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

۵۴۵: د سهل بن سعد الساعدی رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ عمرو بن عوف ته د هغوی ترمينځه د صلح کولو لپاره تشريف يوړلو، د مانځۀ وخت نزدې شو نو موذن ابوبکرصديق رضي الله عنه ته راغلو او وې وئيل : آيا ته به خلقو ته مونځ ورکوې چه زه اقامت اوکړم، هغوی اووې او! نو ابوبکر رضي الله عنه مونځ ورکړو او خلق لا په مانځه کښې وو چه رسول الله ﷺ تشريف راوړلو هغوی لاره

جوړولو څخه په اول صف کښې اودریدل، خلقو لاسونه وهل شروع کړل او ابوبکرصدیق ﷜ به په مانځه کښې هیڅ طرف ته توجه نه ورکوله، (په خشوع او خضوع څخه به ئې مونځ ادا کولو) چه کله خلقو زیات پړقونه وهل شروع کړل نو هغوی متوجه شو. هغوی رسول الله ﷺ اولیدو نو رسول الله ﷺ هغوی ته اشاره اوکړه چه په خپل ځائې باندې ولاړ آوسیږه، ابوبکر ﷜ خپل دواړه لاسونه اوچتولو څخه په دې خبره باندې د الله پاک شکر ادا کړو چه رسول الله ﷺ حکم ورکړو. بیا ابوبکر ﷜ شاته شو، تردې چه د صف برابر شو، بیا رسول الله ﷺ مخکښې کیدو څخه مونځ ورکړو بیا رسول الله ﷺ د مانځه نه فارغ کیدو څخه اوفرمائیل : اې ابوبکر! ته کوم څیز (دلته) اودریدلو نه منع کړې حال دا چه ما تاته اوئیل؟ ابوبکرصدیق ﷜ اوفرمائیل : د ابن ابی قحافه (یعنی ابوبکرصدیق ﷜) مجال نشته چه د رسول الله ﷺ نه دې وړاندې کیدو څخه مونځ ورکړې بیا رسول الله ﷺ نورو صحابه کرامو ﷡ ته اوفرمائیل : څۀ خبره ده چه ماتاسو ډیر زیات په پړقونو وهلو باندې اولیدئ ، چاته چه په مانځۀ کښې څه راپیښ شي نو هغه دې سبحان الله وائی، بیشکه چه کله هغه سبحان الله اوائی، نو امام به د هغه طرف ته متوجه شی او بیشکه لاسونه پړقول د زنانو لپاره دی. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

**تشریح**> (۵۴۴ نه ۵۴۵ پورې) د دې باب په دواړو روایتونو کښې دا ثابت ده چه په مانځه کښې رجال په تسبیح او زنانه په تصفیق څخه اشاره کولې شی اول روایت امام بخاری په کتاب التهجد باب التصفیق للنساء ج... ۱۶۰، او مسلم په کتاب الصلوة ج ۱ ص ۱۸۰ کښې او دویم روایت ۴۴۵ بخاری ج ۱ ص ۹٤ او مسلم ج۱ ص ۱۷۹ کښې راوړې دې.

**بیان د مذاهبو**: ۱: جمهور د ښځې او سړی په اشاره کښې تفریق کوی او وائی چه زنانه به تصفیق کوی او سړې دې تسبیح وائی ځکه چه د دې باب اول روایت څخه د سنن روایات ﴿ **فلیسبح الرجال ولیصفق النساء** ﴾ راغلي دې لهذا ائمۀ ثلاثه د دې د وجې نه د تفریق قائل دی.

۲: امام مالک ﷬ فرمائی چه دواړه به تسبیح وائی، مالکیان وائی په حدیث د ابوهریره ﷜ کښې ﴿ **التصفیق للنساء** ﴾ د علامت په طور فرمائیلي دې د هغوی استدلال د دې باب د دویم روایت نه دې کوم چه د سهل بن الساعدی نه منقول دې د هغې الفاظ داسې دی ﴿ **من نابه شئ فی صلوته فلیسبح** ﴾ په دې کښې د تسبیح امر دې او ﴿ **نابه** ﴾ عام دې د زنانه لپاره هم او د سړی لپاره هم لهذا مالکیان وائی چه سړی او ښځې دواړه دې سبحان الله وائی.

مالکیان وائی چه د جمهورو مستدل ﴿ **التسبیح للرجال والتصفیق للنساء** ﴾ د مانځه څخه نه

دې بلکه مطلق يو عادت ئې بيان فرمائيلې دې جمهور وائی چه د دې جملې نه پس دومره عبارت نور دې ﴿ فليسبح الرجال وليصفق النساء ﴾ دا دليل دې چه رسول الله ﷺ دا مسئله د مانځۀ متعلق بيان فرمائيلې ده.

**د سهل بن سعد الساعدی رضي الله عنه د روايت نور وضاحت:** چونکه د دې باب دويم حديث ۵۴۵ نه د يوې بلې مسئلې وضاحت هم کيږی لهذا د دې نور وضاحت هم پيش کولې شی.

**چه امام راتب راشی او جماعت ولاړوی:** که امام راتب چيرته لاړ شی، او مونځ کونکی اودريږی، او بيا امام راشی نو جمهور فرمائی چه امام راتب دې د دې امام اقتداء اوکړی، او امام شافعی رحمه الله فرمائی چه که داسې صورت پيدا شو نو امام دې په دوه خبرو کنبې يو اختيار کړی يا خو دې د امام اقتداء اوکړی يا دې وړاندې شی او دا عارضی امام دې لرې شی، هم دا د امام بخاری رحمه الله رائې ده، استدلال ئې د ابوبکرصديق رضي الله عنه د روايت نه دې چه رسول الله ﷺ بنو عمرو بن عوف ته په ۵ يا ۶ هجری کنبې د صلح کولو لپاره تشريف يوړلو او بلال رضي الله عنه ته ئې اوفرمائيل چه که د مانځه وخت شی نو ابوبکر رضي الله عنه ته اوايه چه مونځ ورکړی د. مانځه وخت شو، بلال رضي الله عنه ابوبکرصديق رضي الله عنه ته اووې چه رسول الله ﷺ فرمائيلې وو، پس ابوبکر رضي الله عنه د مانځۀ لپاره وړاندې شو، مونځ شروع شو لا شروع وو چه رسول الله ﷺ تشريف راوړلو، صحابه کرامو رضي الله عنهم د هغوی په ليدو باندې پړقونه وهل شروع کړل، د ابوبکرصديق رضي الله عنه عادت شريفه دا وو چه په مانځه کنبې به ئې يو خوا بل خوا توجه نه فرمائيله، چه کله خلقو ډير زيات پړقونه اوهل نو ابوبکرصديق رضي الله عنه متوجه شو چه رسول الله ﷺ تشريف راوړلو، چه کله ئې روستو کيدل اوغوښتل نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ امکث مکانک ﴾ خو ابوبکر رضي الله عنه داسې اونکړې شوه او روستو شو، رسول الله ﷺ مخکنبې شو او مونځ ئې ورکړو، نو اوس استدلال د دې نه دې چه رسول الله ﷺ ابوبکر رضي الله عنه ته د اودريدلو امر اوفرمائيلو، د دې نه معلومه شوه چه د امام راتب اقتداء جائز ده، او ابوبکر رضي الله عنه ايسار نه شو بلکه شاته شو او بيا رسول الله ﷺ مخکنبې شو، د دې نه معلومه شوه چه امام راتب ته د مخکنبې کيدو اختيار دې، جمهور ځواب ورکوی چه چونکه ابوبکر صديق رضي الله عنه رقيق القلب وو، او مونځ ئې نه شو ورکولې بلکه حصر شوې وو، لکه چه د ابوبکر صديق رضي الله عنه د کلام کما کان لابن ابی قحافة ان يصلی بين يدی رسول الله ﷺ نه معلوميږی، په دې وجه رسول الله ﷺ مونځ ورکړو.

**يو اشکال:** دلته يو اشکال دې هغه دا چه دلته خو ابوبکر رضي الله عنه شاته شو او عبد الرحمٰن بن عوف رضي الله عنه هغه وخت نه وو شاته شوې، چه کله رسول الله ﷺ د څه وجې نه د سحر په مونځ کنبې ناوخته کړې وو، نو خلقو عبد الرحمٰن بن عوف رضي الله عنه وړاندې کړو، بيا رسول الله ﷺ تشريف راوړلو، نو عبد الرحمٰن

بن عوف رضي الله عنه شاته کیدل اوغوښتل نو رسول الله ﷺ ورته د اودریدلو اوفرمائیل. په دې باندې عبدالرحمٰن بن عوف رضي الله عنه ولاړ پاتې شو او رسول الله ﷺ په هغه پسې مونځ اوکړو لکه چه په ابوداؤد وغیره کښې دی، د دې یو ځواب خو دا ورکړې شوې دې چه د عبدالرحمٰن په واقعه کښې یو رکعت شوې وو، نو ویره وه که په وړاندې روستو کیدو کښې څه وړانې راغلو نو مونځ به خراب شی ځکه چه په آخری وخت کښې خو مونځ شروع شوې وو، په خلاف د ابوبکرصدیق رضي الله عنه د واقعې

او دویم ځواب دا دې چه ابوبکرصدیق رضي الله عنه ته حصر شوې وو، په دې وجه شاته شو، او حصر کیدل هیڅ قادح نه دی ځوک چه ځومره اوچت وی هغه هومره د مشرانو قدر شناس وی.

ع ........... *قدر گوہر شاہ داند یا بداند جوھری*

ځومره چه دابوبکرصدیق رضي الله عنه په زړه کښې درسول الله ﷺ عظمت ووهغه ښکاره دې چه دعبدالرحمٰن بن عوف په زړه کښې به دومره نه وی، بلکه د ابوبکر رضي الله عنه مرتبې ته خو عمر رضي الله عنه هم نه رسیدلو.

او دریم ځواب دا دې چه ابوبکر رضي الله عنه د جانب ادب رعایت اوکړو او عبدالرحمٰن رضي الله عنه د جانب امتثال امر.

**ادب اولی دې یا امتثال د امر:** اوس په دې کښې اختلاف دې چه د ادب جانب اولی دې یا امتثال امر، ځوک چه ثانی ته افضل وائی هغوی وائی چه په امر کښې د آمر نص موجود دې، او په ادب کښې دننه هغه په خپل زعم باندې یو کار کوی، بلهٔ دا چه د آمر امر نه منل دا د هغه د امر اهانت دې او کوم حضرات چه د ادب لحاظ ساتلو ته افضل وائی هغوی وائی چه هر څه وی بس تاسو دا اوګورئ چه ادب چا اوکړو او چا امتثال امر اوکړو او بیا خپله فیصله اوکړئ، ادب کونکې خو ابوبکرصدیق رضي الله عنه دې او تاسو ته خو معلومه ده چه ابوبکرصدیق رضي الله عنه ځوک دې او امتثال کونکې عبدالرحمٰن بن عوف رضي الله عنه دې اوس د دواړو د افعالو موازنه اوکړئ. (تقریر بخاری ملخصا)

**چه کله امام د قراءت نه عاجز شی:** د باب د دې حدیث نه د احنافو د یو اصول تائید کیږی چه کله امام د قراءت نه عاجز شی نو بل سړې دې امام کړې شی، دلته هم دغه شان اوشو چه د رسول الله ﷺ د راتلو د وجې نه ابوبکرصدیق رضي الله عنه د قراءت نه عاجز شو نو هغوی شاته شو او رسول الله ﷺ وړاندې کیدو ځخه امامت اوکړو.

# بَـابُ النَّهْيِ عَنِ الْكَلَامِ فِي الصَّلٰوةِ

(۵۴۶) عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا نَتَكَلَّمُ فِي الصَّلٰوةِ يُكَلِّمُ الرَّجُلُ صَاحِبَهُ وَهُوَ إِلٰى جَنْبِهِ فِي الصَّلٰوةِ حَتّٰى نَزَلَتْ وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قَانِتِيْنَ فَأُمِرْنَا بِالسُّكُوْتِ۔ رَوَاهُ الْجَمَاعَةُ إِلَّا ابْنَ مَاجَةَ وَزَادَ مُسْلِمٌ وَأَبُوْدَاوُدَ وَنُهِيْنَا عَنِ الْكَلَامِ۔

**باب په مانځهٔ کښې د خبرو کولو نه ممانعت:** ۵۴۶: سیدنا زید بن ارقم رضی الله عنه فرمائی چه مونږ به په مانځه کښې خبرې کولې، سړی به د خپل ملګری ځخه خبرې کولې کوم چه به د هغه په خوا کښې ولاړ وو، تردې چه دا آیت کریمه نازل شو : ﴿ وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قَانِتِيْنَ ﴾ او الله پاک ته په عاجزئ اودریږئ. نو مونږ ته د خاموشئ حکم اوشو او د خبرو نه منع کړې شو.

دا حدیث د ابن ماجه نه علاوه د محدثینو جماعت نقل کړې دې. مسلم او ابوداؤد دا الفاظ زیات نقل کړی دی : "او مونږ د کلام نه منع کړې شو".

(۵۴۷) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا نُسَلِّمُ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي الصَّلٰوةِ فَيَرُدُّ عَلَيْنَا فَلَمَّا رَجَعْنَا مِنْ عِنْدِ النَّجَاشِيِّ سَلَّمْنَا عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْنَا فَقُلْنَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ كُنَّا نُسَلِّمُ عَلَيْكَ فِي الصَّلٰوةِ فَتَرُدُّ عَلَيْنَا فَقَالَ إِنَّ فِي الصَّلٰوةِ شُغْلًا۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

۵۴۷: سیدنا عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی چه مونږ به رسول الله صلی الله علیه وسلم ته سلام کولو او هغوی به په مانځه کښې وو هغوی به مونږ ته ځواب راکولو، چه کله مونږ د نجاشی نه واپس شو نو مونږ هغوی ته سلام اوکړو، رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته ځواب رانکړو (د مانځه نه پس) مونږ عرض اوکړو یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! مونږ به په مانځه کښې تاسو ته سلام کولو، نو تاسو به مونږ ته ځواب راکولو، رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل : بیشکه په مانځه کښې مصروفیت دې. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۵۴۸) وَعَنْهُ قَالَ كُنَّا نُسَلِّمُ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الصَّلٰوةِ قَبْلَ أَنْ نَأْتِيَ أَرْضَ حَبَشَةَ فَيَرُدُّ عَلَيْنَا فَلَمَّا رَجَعْنَا سَلَّمْتُ عَلَيْهِ وَهُوَ يُصَلِّيْ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ فَأَخَذَنِيْ مَا قَرُبَ وَمَا بَعُدَ فَجَلَسْتُ حَتّٰى قَضٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلٰوةَ فَقُلْتُ لَهُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! قَدْ سَلَّمْتُ عَلَيْكَ وَأَنْتَ تُصَلِّيْ فَلَمْ تَرُدَّ عَلَيَّ السَّلَامَ" فَقَالَ : إِنَّ اللّٰهَ قَدْ يُحْدِثُ مِنْ أَمْرِهٖ مَا يَشَاءُ وَإِنَّ مِمَّا أَحْدَثَ لَا تُكَلِّمُوْا فِي الصَّلٰوةِ۔ رَوَاهُ الْحُمَيْدِيُّ فِيْ مُسْنَدِهٖ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَآخَرُوْنَ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ۔

۵۴۸: د سیدنا عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دې چه مونږ په حبشې ته د راتلو نه مخکښې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په مانځه کښې سلام کولو، هغوی به مونږ ته ځواب راکولو کله چه مونږ (مدینی

طبیبې) ته واپس شو نو ما هغوی ته سلام اوکړو په داسې حال کښې چه هغوی مونځ کولو، رسول الله ﷺ ماته ځواب رانکړو، نو ما ښخه لرې او نزدې فکر پیدا شو (یعنی الله پاک ته معلومه ده چه رسول الله ﷺ به زما نه په څه خبره باندې ناراض شوې وی چه د سلام ځواب ئې رانکړو) زه کیناستلم، تردې چه رسول الله ﷺ مونځ پوره کړو، ما عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ! ما تاسو ته سلام اوکړو په داسې حال کښې چه تاسو مونځ کولو، تاسو ماته ځواب رانکړو، هغوی اوفرمائیل : بیشکه الله پاک په خپله معامله کښې چه څنګه غواړی احکام نازلوی، او د هغه احکاماتو نه کوم چه الله پاک نازل فرمائیلې دی یو دا دې چه په مونځ کښې خبرې مه کوئ. دا حدیث حمیدی په خپل مسند کښې، ابوداؤد، نسائی او نورو محدثینو نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۵۴۹) وَعَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ الْحَكَمِ السُّلَمِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ بَيْنَا أَنَا أُصَلِّيْ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ عَطَسَ رَجُلٌ مِّنَ الْقَوْمِ فَقُلْتُ يَرْحَمُكَ اللّٰهُ فَرَمَانِي الْقَوْمُ بِأَبْصَارِهِمْ فَقُلْتُ وَاثُكْلَ أُمِّيَاهُ مَا شَأْنُكُمْ تَنْظُرُوْنَ إِلَيَّ فَجَعَلُوْا يَضْرِبُوْنَ بِأَيْدِيْهِمْ عَلٰى أَفْخَاذِهِمْ فَلَمَّا رَأَيْتُهُمْ يُصَمِّتُوْنَنِيْ لٰكِنِّيْ سَكَتُّ فَلَمَّا صَلّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبِأَبِيْ هُوَ وَأُمِّيْ مَا رَأَيْتُ مُعَلِّمًا قَبْلَهُ وَلَا بَعْدَهُ أَحْسَنَ تَعْلِيْمًا مِّنْهُ فَوَاللّٰهِ مَا كَهَرَنِيْ وَلَا ضَرَبَنِيْ وَلَا شَتَمَنِيْ قَالَ إِنَّ هٰذِهِ الصَّلٰوةَ لَا يَصْلُحُ فِيْهَا شَيْءٌ مِّنْ كَلَامِ النَّاسِ إِنَّمَا هِيَ التَّسْبِيْحُ وَالتَّكْبِيْرُ وَقِرَاءَةُ الْقُرْاٰنِ أَوْ كَمَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنِّيْ حَدِيْثُ عَهْدٍ بِجَاهِلِيَّةٍ وَقَدْ جَاءَ اللّٰهُ بِالْإِسْلَامِ وَإِنَّ مِنَّا رِجَالًا يَأْتُوْنَ الْكُهَّانَ قَالَ فَلَا تَأْتِهِمْ قَالَ وَمِنَّا رِجَالٌ يَتَطَيَّرُوْنَ قَالَ ذَاكَ شَيْءٌ يَجِدُوْنَهُ فِيْ صُدُوْرِهِمْ فَلَا يَصُدَّنَّهُمْ قَالَ قُلْتُ وَمِنَّا رِجَالٌ يَخُطُّوْنَ قَالَ كَانَ نَبِيٌّ مِّنَ الْأَنْبِيَاءِ يَخُطُّ فَمَنْ وَافَقَ خَطَّهُ فَذَاكَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

**۵۴۹**: سیدنا معاویه بن الحکم اسلمی رضی الله عنه فرمائی : ما د رسول الله ﷺ ښخه مونځ کولو، په خلقو کښې یو سړی په مانځه کښې اینګې اوکړو، ما اووې ﴿یرحمک الله﴾ نو خلقو ماته په خپلو سترګو ښخه کتل شروع کړل، ما اووې : ستاسو میاندې دې بورې شی څه چل شوې دې چه تاسو ماته داسې ګورئ، پس هغوی خپل لاسونه په رون باندې وهل شروع کړل، چه کله ما هغوی ته اوکتل چه هغوی ما خاموش کوی، خو (د نه غوښتلو باوجود) زه خاموش شوم، چه کله رسول الله ﷺ مونځ اوکړو، نو زما مور پلار دې په هغوی باندې قربان وی، ما د هغوی نه مخکښې او روستو هم یو استاذ داسې نه دې لیدلې (چه په تربیت او تعلیم کښې) د هغوی نه غوره وی، قسم په الله پاک! نه خو ئې زه اورټلم او نه ئې ماته بدې ردې اوئیلې، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : بیشکه دا مونځ د خلقو د خبرو ګنجائش نه لری، دا خو تسبیح، تکبیر او د قرآن کریم قراءت دې. یا څنګه چه رسول

الله ﷺ فرمائيلي وو، ما عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ! زما د جاهليت څخه لا نوي زمانه ده (يعني زما لږ وخت اوشو مسلمان شوي يم) مونږ څه خلق د غيب خبرونه بيانونکي ته بوځي. رسول الله ﷺ اوفرمائيل: ته هغوی ته مه ځه، (معاويه بن حکم رضي الله عنه) اوفرمائيل په مونږ کښي څه خلق بدفالي کوي؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل: دا يو وسوسه ده چه خلق ئې په خپل زړه کښي محسوس کوي، پس دا دې د هغوی لپاره هرگز بنديز جوړ نه شي (معاويه بن الحکم رضي الله عنه) اووې: ما عرض اوکړو په مونږ کښي څه خلق کرښي راکاږي، رسول الله ﷺ اوفرمائيل: انبياء کرام عليهم السلام کښي به يو نبي هم کرښي ويستلې، د چا کرښه چه د هغه (نبي عليه السلام) څخه موافق شوه، نو هغه صحيح ده. دا حديث مسلم نقل کړې دې.

**تشريح**>(۵۴۲ نه ۵۴۹ پورې) د دې باب او د دې نه په وړاندې باب کښي د **﴿ الکلام في الصلوة ﴾** متعلق احاديث راوړلې شوې دی په دې دواړو ابوابو کښي دا مسئله بيانولې شي چه په مانځه کښي خبرې کول جائز دی يا نه؟ که هغه کلام د اصلاح صلوة لپاره وی مقتدی د امام څخه يا امام مقتدی څخه کلام اوکړی هم دغه شان که د امام او مقتدی نه **﴿ علی سبيل السهو ﴾** کلام صادر شي نو دا مفسد صلوة دې يا نه دې په دې سلسله کښي په بذل المجهود ج ۲ ص ۱۳۷ او په النخب الافکار ج ٤ ص ۱۷ کښي دوه مذاهب نقل کړې شوې دی لاندې د بحث په دوران کښي د دواړو ابوابو احاديث په طور د دليل غير مرتب طريقې څخه تشريح کولې شي خو د راوی او روايت نمبر ورکولو څخه به د پيژندگلو سهولت باقي پريخودلې شي.

**بيان مذاهب**: په دې خبره باندې اجماع ده چه که کلام عمدا وی او د اصلاح صلوة لپاره نه وی نو د ټولو په نزد هغه مفسد صلوة دې.

۲: د امام شافعي، امام مالک، امام احمد (في رواية)، اسحاق بن راهويه او ربيعة الرائي رحمهم الله وغيرهم په نزد د اصلاح صلوة لپاره د امام د مقتدی څخه او د مقتدی د امام څخه په مانځه کښي خبرې کول مفسد صلاة نه دی هم دغه شان که په طريقه د سهو په امام او مقتدی کښي څوک کلام اوکړی نو مونځ به نه فاسد کيږي.

۳: د علماء احناف، امام ابوحنيفه، امام ابويوسف، امام محمد بن حسن، امام ابراهيم النخعي، امام قتاده، امام حماد بن ابی سليمان، عبدالله بن وهب او ابن نافع مالکی رحمهم الله وغيرهم په نزد په مانځه کښي د مقتدی او امام نه چالره هم داسې خبرې کول جائز نه دی که د اصلاح صلوة لپاره وی يا د سهوه وغيره د وجې نه، جهلا عن الحکم وی يا خطاء هر قسم کلام کول به په هر حال کښي ناجائز او مفسد صلوة وی، د امام مالک رحمه الله نه هم يو روايت د احنافو په شان دې.

۴. امام اوزاعی رحمه الله فرمائی چه کلام که د اصلاح صلوة لپاره وی نو هغه مفسد د صلوة نه دي د یو روایت مطابق د امام مالک رحمه الله هم دا مسلک دي.

**د ائمة ثلاثه دلائل:** ائمه ثلاثه د لږ شان جزوی اختلاف څخه په څه نه څه صورت کښې د کلام فی الصلاة د غیر مفسد کیدو قائل دی د هغوی دلائل لاندې لیکلې شی، ائمه ثلاثه د ذوالیدین دهغه تفصیلی قصې نه استدلال کوی کوم چه مصنف رحمه الله په وړاندې باب ۵۵۰ نمبر کښې نقل کړې ده امام بخاری رحمه الله په کتاب الصلوة باب تشبیک الاصابع فی المسجد وغیره ج ۱ ص ۶۹ او امام مسلم په کتاب المساجد ج ۱ ص ۲۱۳ کښې د دې تخریج کړې دې، د حدیث مضمون په لفظی ترجمه کښې واضح کړې شوې دې.

**د واقعه ذوالیدین نه د ائمة ثلاثه بیل بیل وجوه استدلال:** الف : امام شافعی رحمه الله فرمائی چه د ذوالیدین کلام جهلا عن الحکم وو او د رسول الله ﷺ دا کلام نسیانا وو د دې توجیه وجه دا ده چه د امام شافعی رحمه الله په نزد که کلام نسیانا وی یا جهلا عن الحکم نو هغه مفسد صلوة نه دې په دې شرط چه کلام اوږد نه وی:

قال النووی رحمه الله الثالث ان یتکلم ناسیًا ولا یطول فمذهبنا انه لاتبطل صلوته وبه قال جمهور العلماء منهم ابن مسعود رضی الله عنه و ابن عباس رضی الله عنه وابن الزبیر رضی الله عنه وانس رضی الله عنه و عروة رحمه الله بن الزبیر رضی الله عنه و عطاء رحمه الله والحسن البصری رحمه الله والشعبی رحمه الله وقتادة رحمه الله و جمیع المحدثین ومالک رحمه الله والاوزاعی رحمه الله و احمد رحمه الله فی روایة و اسحٰق رحمه الله وابوثور. (المجموع شرح المهذب ج: ۴، ص: ۱۷)

ب : امام مالک رحمه الله فرمائی چه دا خبرې اترې د اصلاح صلوة لپاره وې څکه چه دهغه نه یو روایت دا دې چه که کلام د اصلاح صلوة لپاره وی نو هغه مفسد صلوة نه دې.

ج : امام احمد رحمه الله فرمائی چه دا خبرې اترې په دې ګمان وې چه مونځ پوره شوې دې رسول الله ﷺ خو هم په دې وجه تکلم فرمائیلې وو چه څلور رکعته پوره شوې دی او سیدنا ذوالیدین رضی الله عنه هم په دې ګمان خبرې اوکړې چه مونځ پوره شوې دې څکه چه هغه وخت دا احتمال موجود وو چه د مونځ د رکعتونو په تعداد کښې کمې واقع شوې دې، وجه د استدلال دا ده چه د امام احمد رحمه الله نه څلور روایتونه منقول دی درې روایات خو ئې د مذاهب ثلاثه په شان دی، او څلورم روایت دا دې چه که یو سړې څخه د پوهې کلام اوکړی چه د هغه مونځ پوره شوې دې او روستو ورته معلومه شی چه لا نه دې پوره شوې نو داسې کلام مفسد للصلوة نه دې، په حدیث د ذوالیدین کښې د امام احمد رحمه الله توجیه د دې څلورم روایت مطابق ده.

**د جمهوراحنافو دلائل:** ۱ : جمهور احناف واقعه ذوالیدین او د هغې نه استنباط کړې الکلام فی

**الصلوة** حکم منسوخ منی او په دې باندې د لاندې دلائلو نه استدلال کوی.

۱: د باب د اول روایت نه کوم چه د زید بن ارقم رضی الله عنه نه مروی دې کوم چه امام بخاری رحمه الله په خپل صحیح کتاب التهجد **باب ما ینهی من الکلام فی الصلوة** ج ۱ ص ۱۶۰، مسلم کتاب المساجد باب تحریم الکلام فی الصلوة ج ۱ ص ۲۰٤ کښې تخریج کړې دې چه په دې کښې د دې خبرې تصریح ده چه په اول زمانه کښې به په مانځه کښې تکلم کولې شو چه کله آیت قرانی: ﴿ وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ ﴾ نازل شو ﴿ **فامرنا بالسکوت** ﴾ راوی خپله د قنوت معنی د سکوت بیانوی د دې نه علاوه په کثرت ځخه روایات په دې باندې شاهد دی چه دا آیت کریمه د ﴿ **تکلم فی الصلوة** ﴾ نه د منع کولو لپاره نازل شوې وو بیا په دې کښې هیڅ تفصیل نشته لهذا د دې نص قرآنی د وجې نه به په مانځه کښې هر قسم کلام ممنوع وی.

۲: هم د دې باب دویم روایت **۵٤۷** او دریم روایت **۵٤۸** کوم چه د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه مروی دې اول روایت امام بخاری رحمه الله ج ۱ ص ۱۶۰ او امام مسلم ج ۱ ص ۲۰٤ او دویم روایت ابوداؤد ج ۱ ص ۱۳۳ او نسائی ج ۱ ص ۱۸۱ کښې تخریج کړې دې، مفهوم واضح دې، ابن مسعود رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مانځه د فراغت نه پس پوښتنه اوکړه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل ﴿ **ان الله قد یحدث من امره ما یشاء وان مما احدث لا تکلموا فی الصلوة** ﴾ الله پاک چه کله غواړی نوې حکم نازلوی د دې نه صفا معلومیږی چه هر قسم کلام په مانځه کښې ناجائز دې تردې چه سلام او دعا هم ممنوع ده لهذا د اصلاح وغیره لپاره کلام ته جائز وئیل باطل دی.

**د ابن مسعود رضی الله عنه د حدیث وضاحت**: د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بعثت په وخت د ملک حبشه بادشاه یو عیسائی وو چه د هغه لقب نجاشی وو چونکه هغه یو عالم وو په دې وجه کله چه ورته د تورات او انجیل په وجه باندې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نبی او برحق کیدل معلوم شو نو هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په رسالت باندې ایمان راوړلو ځخه د الله پاک په اطاعت کونکو بندګانو کښې شو، چه کله په نهمه هجرئ کښې د هغه وفات اوشو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم پرې ډیر خفه شو. او رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحابه کرامو رضی الله عنهم په ملګرتیا کښې د هغوی د جنازې مونځ غائبانه اوکړو.

چونکه د هغوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم ځخه ډیر زیات محبت وو په دې وجه کله چه مسلمان په مکه کښې د کفارو د لاسه په سختو تکلیفونو کښې اخته شو او د هغوی سرونو ته خطره پیدا شوه نو اکثر صحابه کرامو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اشاره باندې د هغوی ملک ته هجرت اوکړو هغوی خپل ملک ته د صحابه کرامو راتلل د خپل دین او دنیا ډیر لوئې سعادت اوګڼړلو او د صحابه

کراموﷺ ئې ډیر لوئې خدمت اوکړو او هغوی څخه ئې ډیر ښه سلوک اوکړو روستو چه کله صحابه کراموﷺ ته علم اوشو چه رسول اللهﷺ د مکې نه هجرت فرمائیلو څخه مدینې ته تشریف اوړلې دې نو هغوی هم مدینې منورې ته لاړل.

پس هم د دې وخت واقعه ابن مسعودﷺ بیان فرمائی چه د حبشې نه په واپس راتلو باندې دې قافله کښې زه هم شریک اوم چه کله مونږ مدینې ته رسیدلو څخه په دربار نبوت کښې حاضر شو نو رسول اللهﷺ هغه وخت مونځ کولو مونږ د عادت مطابق هغوی ته سلام اوکړو خو هغوی زمونږ د سلام ځواب رانکړو بیا د مانځه د فراغت نه پس رسول اللهﷺ زمونږ په استفسار باندې اوفرمائیل چه مونځ خپله یو لوئې شغل دې یعنی په مانځه کښې قرآن او تسبیحات او دعا او مناجات لوستل د دومره اهمیت او عظمت حامل دی چه په داسې صورت کښې د بل سړی څخه د سلام او کلام کولو هیڅ ګنجائش نشته یا دا چه د مونځ کونکی فرض دې چه هغه دې په مانځه کښې ډیرپه انهماک څخه مشغول پاتې شی اوځه چه په مانځهٔ کښې اولولی په هغې باندې دې غور اوکړی اود مانځه نه سوا دې بل هیڅ طرف ته خیال نه متوجه کوی د دې نه معلومه شوه چه په مانځه کښې دچادسلام ځواب ورکول یادچا څخه خبرې کول حرام دی ځکه چه په دې څخه مونځ فاسدیږی.

۳: د معاویة بن الحکم السلمیﷺ نه روایت دې ۵۴۲ هم د جمهور احنافو مستدل دې کوم چه امام مسلمﷺ په خپل صحیح کتاب المساجد **باب تحریم الکلام فی الصلوة** ج ۱ ص ۲۰۳ کښې تخریج کړې دې.

مضمون د حدیث په لفظی ترجمه کښې واضح کړې شوې دې **( قال ان هذه الصلوة لا یصلح فیها شیئ من کلام الناس الخ )** د تصریح نه پس د تکلم فی الصلاة هیڅ ګنجائش باقی نه پاتې کیږی که د امام نه یو رکن قولی یا فعلی ترک شی نو د نیابت په طور تسبیح، تهلیل یا د قرآن کریم د تلاوت په ذریعه لقمه ورکړې کیدې شی د دې نه علاوه د کلام الناس وغیره استعمال جائز نه دې چه په دې څخه مونځ فاسد کیږی.

جمهور احناف وائی چه پورته دلائلو او قطعی روایاتو د **تکلم فی الصلوة** هر قسم منسوخ کړو لهذا حدیث د ذوالیدین هم په الهی دلائلو څخه منسوخ دې.

**د امام طحاویﷺ عقلی استدلال:** امام طحاویﷺ په شرح معانی الاثار ج ۱ ص ۲۶۱ کښې په **واما وجه ذلک من طریق النظر** څخه دا عقلی دلیل پیش کړې دې چه مونږ کله د ټولو عباداتو په غور څخه مطالعه کولو باندې اوکتل چه هر قسم عباداتو کښې داخلیدل د بعض څیزونو لپاره مانع

وی، مثلا دخول صلوة کلام او هر منافی افعال صلوة لپاره مانع دي او دخول صوم اکل و شرب او جماع نه مانع دي، او دخول د حج او عمرې، د جماع، طیب او مخصوص لباس نه مانع دې، دخول اعتکاف د جماع او تجارت نه مانع دي اوس مونږ نور غور کوو نو روژه په عبادت ترکیه کښې بیا مومو، او باقی په عبادات وجودیه کښې مومو، او که په صوم کښې مذکوره څیزونه ممنوعه عمدا راپیښ شی نو بالاتفاق به روژه فاسده شی او که ناسیا راشی نو د بعض په نزد مفسد او د بعض په نزد مفسد نه دي (مثلا امام مالک، عطاء بن ابی رباح وغیره په نزد په هر حال کښې مفسد د صوم دي د امام ابوحنیفه، امام شافعی، امام اوزاعی او امام سفیان ثوری رحمهم الله په نزد د نسیانا په صورت کښې مفسد دَ صوم نه دي. (کذا فی النخب الافکار ج ٤ ص ٥٩)

او په حج، عمره او اعتکاف کښې که جماع اوکړې شی نو عمدا او نسیانا په دواړو صورتونو کښې بالاتفاق مفسد دې د دې څیزونو په شان مونځ هم د عبادت وجودیه نه دې.

لهذا کله چه بغیر د وجې او بغیر د عذر نه کلام فی الصلوة بالاتفاق مفسد دې نو د عذر او سهو وغیره په صورت کښې به هم کلام فی الصلوة مفسد وی لکه چه په نورو عبادات وجودیه کښې عمد او نسیان دواړو صورتونو کښې یو شان حکم دې هم دغه شان په مانځه کښې به هم یو شان حکم وی لهذا د اصلاح صلوة او د سهو د عذر د وجې نه به کلام فی الصلوة جائز نه وی او هم دا زمونږ د علماء ثلاثه مسلک دې.

**د امام طحاوی رحمه الله یو بل استدلال:** امام طحاوی رحمه الله د حدیث ذی الیدین په تنسیخ باندې یو بل استدلال داسې پیش کوی، چه د ټول امت په دې باندې اجماع ده چه که د امام نه یو خبره ترک شی نو مقتدی ته د تسبیح په ذریعه د لقمې ورکولو حکم دې، او په واقعه د ذی الیدین کښې ذوالیدین خرباق بن عبد عمر رضی الله عنه د تسبیح په ذریعه رسول الله ﷺ ته لقمه نه ده ورکړې بلکه صفا د کلام الناس په ذریعه ئې خبر ورکړې دې او رسول الله ﷺ په هغه باندې هیڅ نکیر نه دې فرمائیلې نه ئې په کلام څخه ممانعت فرمائیلې دې او نه ئې د تسبیح وغیره تلقین فرمائیلې دې نو دا په دې خبره باندې دال دې چه د کلام نه د ممانعت او د تسبیح او تلقین روایات روستنی دی او حدیث ذی الیدین مخکینې دې لهذا حدیث ذی الیدین به منسوخ وی.

## بَابُ مَا اسْتُدِلَّ بِهٖ عَلٰى اَنَّ كَلَامَ السَّاهِيْ وَكَلَامَ مَنْ ظَنَّ التَّمَامَ لَا يُبْطِلُ الصَّلٰوةَ

(٥٥٠) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: ''صَلّٰى بِنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِحْدٰى صَلٰوتَيِ الْعَشِيِّ، قَالَ ابْنُ سِيْرِيْنَ: ''قَدْ سَمَّاهَا اَبُوْهُرَيْرَةَ وَلٰكِنْ نَسِيْتُ اَنَا صَلّٰى بِنَا رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ فَقَامَ اِلٰى خَشَبَةٍ مَعْرُوْضَةٍ فِي الْمَسْجِدِ فَاتَّكَاَ عَلَيْهَا كَاَنَّهٗ غَضْبَانُ وَوَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنٰى عَلَى الْيُسْرٰى وَشَبَّكَ بَيْنَ اَصَابِعِهٖ وَوَضَعَ

خَدَّهُ الْاَيْمَنَ عَلٰى ظَهْرِ كَفِّهِ الْيُسْرٰى وَخَرَجَتِ السَّرْعَانُ مِنْ اَبْوَابِ الْمَسْجِدِ فَقَالُوْ: ''أَ قُصِرَتِ الصَّلٰوةُ'' وَفِى الْقَوْمِ اَبُوْبَكْرٍ وَّعُمَرُ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُمَا فَهَابَاهُ اَنْ يُّكَلِّمَاهُ وَفِى الْقَوْمِ رَجُلٌ فِىْ يَدَيْهِ طُوْلٌ يُّقَالُ لَـــهٗ ذُوالْيَدَيْنِ قَالَ: ''يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! أَ نَسِيْتَ اَمْ قُصِرَتِ الصَّلٰوةُ؟'' قَالَ لَمْ اَنْسَ وَلَمْ تُقْصَرْ فَقَالَ: ''أَكَمَا يَقُوْلُ ذُوالْيَدَيْنِ'' فَقَالُوْا: نَعَمْ! فَتَقَدَّمَ فَصَلّٰى مَا تَرَكَ ثُمَّ سَلَّمَ ثُمَّ كَبَّرَ وَسَجَدَ مِثْلَ سُجُوْدِهٖ اَوْاَطْوَلَ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهٗ وَكَبَّرَ ثُمَّ كَبَّرَ وَسَجَدَ مِثْلَ سُجُوْدِهٖ اَوْاَطْوَلَ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهٗ وَكَبَّرَ فَرُبَمَا سَأَلُوْهُ ثُمَّ سَلَّمَ فَيَقُوْلُ نُبِّئْتُ اَنَّ عِمْرَانَ بْنَ حُصَيْنٍ قَالَ ثُمَّ سَلَّمَ''۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

**باب د هغه احاديثو باره کښې د کومو نه چه استدلال کړې شوې دې چه په هيره کلام کونکې او د داسې سړي کلام چه خيال اوکړي چه مونځ ئې پوره شوې دې، مونځ نه باطل کوي.**

**۵۵۰**: سيدنا ابوهريره رضی الله عنه فرمائي چه رسول الله ﷺ مونږ ته د ماسپخين او مازيگر په مونځونو کښې يو مونځ راکړو، ابن سيرين فرمائي ابوهريره رضی الله عنه د هغې نوم اخستلې وو، خو زما نه هير شو. رسول الله ﷺ مونږ ته دوه رکعته راکړل او سلام ئې اوګرځولو، بيا رسول الله ﷺ په مسجد کښې پروت يو لرگي ته تکيه اولګوله ، ګويا هغوی خفه وو، خپل ښې لاس ئې په ګس لاس باندې کيخودلو او ګوتې ئې يو بل کښې دننه کړې او خپل ښې رخسار مبارک ئې د خپل ګس لاس د تلې په شا باندې کيخودلو او زر تلونکي د مسجد د دروازو نه اوتل، نو څه خلقو اووې: مونځ کم کړې شوې دې او په خلقو کښې ابوبکر او عمر رضی الله عنهما هم موجود وو، او دوی دواړه د رسول الله ﷺ څخه د خبرو کولو نه اويريدل او هم په دې خلقو کښې يو سړی د چا لاسونه چه لږ اوږده وو او هغه ته ذواليدين وئيلې کيدو، هغه عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ! آيا تاسو نه هيره اوشوه او که مونځ کم کړې شوې دې، رسول الله ﷺ اوفرمائيل نه مانه هيره شوې ده او نه مونځ کم کړې شوې دې، بيا رسول الله ﷺ نورو خلقو ته اوفرمائيل آيا خبره هم داسې ده څنګه چه ذواليدين وائي خلقو عرض اوکړو او جی، په دې باندې رسول الله ﷺ مخکښې شو او څومره مونځ چه پاتې شوې وو، هغه ئې دوباره اوکړو، سلام ئې واړولو او تکبير وئيلو څخه ئې د خپلو سجدو برابر يا د هغې نه اوږده سجده اوکړه بيا رسول الله ﷺ سر مبارک اوچت کړو او تکبير ئې اووې، ډير کرته به خلقو د ابن سرين نه پوښتنه کوله، بيا رسول الله ﷺ سلام واړولو، نو ابن سيرين وائي ماته دا وئيلې شوې دی چه عمران بن حصين رضی الله عنه فرمائي: بيا رسول الله ﷺ سلام واړولو. دا حديث شيخينو نقل کړې دې.

نيموی فرمائي: دا روايت اګر چه په صحيحين کښې دې، خو په څو اعتبارو څخه مضطرب دې او په دې باب کښې نور هم احاديث دی، تول د کلام نه خالي نه دی. (يعنی په هر يو باندې جرح موجود ده)

**تشریح:** **۵۵۰**: حدیث الباب د ائمة ثلاثه مستدل دې د هغوی وجوه استدلال په تیر باب کښې عرض کړې شوې دی لاندې د ائمه ثلاثه په احنافو باندې اعتراضات، د حدیث ذوالیدین متعلق د ائمة احناف توضیحات او هم د دې سلسلې د بحث ضروری تنقیحات پیش کولې شی.

**سیدنا ذوالیدین**: د هغوی نوم خربان بن عبدعمرو السلمی رضی الله عنه دې او هغه ته ذوالشمالین هم وائی

سنن دارمی ص ۱۸۵ **باب سجدة السهو من الزیادة** کښې ابوهریره رضی الله عنه په کشف الاستار عن زوائد البزار ج ۱ ص ۲۷۹، ۵۷۹ باندې د ابن عباس رضی الله عنهما نه او شرح معانی الاثار ج ۱ ص ۳۰۱، نسائی ج ۱ ص ۱۸۲ کښې موجود دې چه ذوالشمالین عرض اوکړو یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! مونځ کم شو که ستاسو نه هیره اوشوه، رسول الله صلی الله علیه وسلم د نورو صحابه کرامو رضی الله عنهم نه د هغوی تصدیق غوښتلو ځخه اوفرمائیل **( اصدق ذوالیدین؟ )** معلومه شوه چه دواړه نومونه د یو صحابی وو، هغوی ته ذوالیدین او ذوالشمالین په دې وجه باندې وائی چه د هغوی دواړه لاسونه ډیر اوږده وو لکه چه د عمران او ابوهریره رضی الله عنهما په روایت کښې ددې صراحت دې او علامه سمعانی په کتاب الانصاب کښې نقل فرمائی چه هغوی ته ذوالیدین په دې وجه باندې وائی چه هغوی به هر کار په دواړو لاسونو باندې کولو خو اوله توجیه زیاته صحیح معلومیږی دې واقعې ته، **حدیث الخرباق، حدیث ذی الیدین** او **حدیث الشمالین** ځخه نامدار کولې شی او هم د دې واقعې ورځ ته **یوم ذی الیدین** او **یوم خرباق** وئیلې شی ځکه چه په دې واقعه کښې په جرات مندئ ځخه سوال کونکی هم دا وو.

**د شوافعو اعتراضات او د احنافو ځوابات:** لاندې د شوافع حضراتو د احنافو د دلائل په ځواباتو کښې اعتراضات او دهغې تفصیلی جائزه پیش کولې شی.

**د ابن مسعود رضی الله عنه د حبشې د هجرت تحقیق او استدلال:** ۱: شوافع وائی چه د **الکلام فی الصلوة** د نسخ نه روستو د ذوالیدین واقعه پیښه شوې ده لهذا دې لره په پورته دلائلو باندې منسوخ ګنړل صحیح نه دی. وجه دا ده چه ابن مسعود رضی الله عنه کله د حبشې نه واپس راغلو نو هغه وخت د **(الکلام فی الصلوة)** نه نهی راغلې وه او دا هم معلومه ده چه ابن مسعود رضی الله عنه د حبشې نه مکې مکرمې ته واپس تشریف راوړلو نو هغوی ته معلومه شوه چه نسخ د کلام په مکه کښې شوې دې او دا خبره قطعی ده چه د ذوالیدین واقعه په مدینه منوره کښې پیښه شوې وه نو بیا دې ته منسوخ ځنګه وئیلې کیدې شی، احناف حضرات وائی چه د شوافع دا دعوی بالکل صحیح نه ده او حقیقت دا دې چه نسخ کلام د غزوه بدر نه ځه موده مخکښې په مدینه منوره کښې شوې وه باقی پاتې شوه د ابن مسعود رضی الله عنه د هجرت خبره نو د محققینو تحقیق دا دې چه هغوی دوه کرته د هجرت حبشه لپاره تلی دی چه کله

ئې اول کرت هجرت اوکړ نو په حبشه کښې هغوی ته خبر ملاؤ شو چه د قریشو پوره قبیله مسلمانه شوې ده لهذا هغوی د ۵ هجری نبوی په رمضان المبارک کښې واپس مکة المکرمة ته تشریف راوړلو چه کله دلته هغوی ته معلومه شوه چه خبر غلط وو نو دوباره ئې د نورو مسلمانانو څخه د حبشې طرف ته هجرت اوفرمائیلو ددې دویم هجرت نه هغوی په ۲ هجری کښې مدینې منورې ته تشریف راوړلو د هغوی تشریف راوړل د غزوه بدر نه لږ مخکښې وو **کما صرح به موسیٰ بن عقبة فی مغازیه ومغازیه اصح المغازی عند اهل الحدیث،** پس حافظ ابن حجر، ابن اثیر او نور ډیر علماء کرامو او محدثینو د دې خبرې اعتراف کړې دې چه د ابن مسعود رضی الله عنه واپسی مدینې طیبې ته په ۲ هجری کښې شوې ده.

قال الحافظ فی الفتح (ج۲: ص: ۶۰) ''وقد ورد انه قدم المدینة والنبی صلی الله علیه وسلم یتجهز الی بدر وقد ذکر ابن کثیر فی تاریخه (ج: ۳ ص: ۶۹) حدیثاً عن مسند احمد فی ذکر المهاجرین الی الحبشه و فیهم عبد الله بن مسعود، وفیه ثم تعجل عبد الله بن مسعود رضی الله عنه حتیٰ ادرک بدراً قال ابن کثیر: وهذا اسناد جید قوی وکذالك نقله لزیلعی عن موسیٰ ابن عقبه۔ (ملخصًا از معارف السنن ج: ۳ ص: ۵۱۰)

د دې حقائقو د وجې نه احناف وائی چه د نسخ کلام حکم د ابن مسعود رضی الله عنه د حبشې نه د واپسې نه لږه موده مخکښې شوې دې خو دا د هغوی دویمه واپسی وه چه کله هغوی د مدینې منورې نه واپس تشریف راوړلو د کوم تائید چه د معاویه بن الحکم السلمی د روایت ۵۴۹ نه هم کیږی په کوم کښې چه د تشمیت عاطس واقعه مذکور ده دا واقعه هم په مدینه منوره کښې پیښه شوه په دې باندې قرینه دا ده چه معاویه بن الحکم انصاری صحابی دې او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د هجرت نه پس په اسلام مشرف شو ظاهره ده چه د هغوی واقعه به د هجرت نه پس پیښه شوې وی د هغوی د کلام نه هم دا معلومیږی چه د **کلام فی الصلوة** حرمت د دې واقعې نه لږ مخکښې نازل شوې وو.

**د ابوهریره رضی الله عنه د قبول اسلام د اعتراض حقیقت او تحقیقی ځواب:** شوافع حضرات یو اعتراض دا هم کوی چه که نسخ کلام په مدینه منوره کښې د غزوه بدر نه څه موده مخکښې اومنلې شی نو بیا هم د ذوالیدین واقعه د هغې نه روستو ده چه د هغې دلیل دا دې چه د دې واقعې یو راوی ابوهریره رضی الله عنه هم دې او د هغوی د روایت بعض طرق کښې **﴿ صلی لنا رسول الله صلی الله علیه وسلم ﴾** (صحیح مسلم ج ۱ ص ۲۱۳) په بعضو کښې **﴿ صلی بنا النبی صلی الله علیه وسلم ﴾** (نسائی ج ۱ ص ۱۸۱) او په بعضو کښې **﴿ بین انا اصلی مع رسول الله صلی الله علیه وسلم ﴾** (مسلم ج ۱ ص ۲۱٤) الفاظ روایت شوې دی کوم چه د دې خبرې واضح دلیل دې چه ابوهریره رضی الله عنه خپله د ذوالیدین په واقعه کښې موجود وو او دا هم قطعی حقیقت دې چه

ابوهریره رضی الله عنه د هجرت په اووم کال باندې ایمان راوړلو پس د ذوالیدین واقعه هم د ۷ هجری کیدې شی لهذا د نسخ کلام مذکوره احادیث کوم چه د هجرت د دویم کال نه د مخکښې مودې دی هغه د دې واقعې لپاره ناسخ نه شی جوړیدې ځکه چه په دې ځخه متاخر لره په مقدم باندې منسوخ کول لازمیږی او دا ممکنه نه ده احناف حضرات د دې نه په ډیرو طریقو ځواب کوی.

الف : مونږ دا هم منو چه ابوهریره رضی الله عنه د هجرت په اووم کال باندې ایمان راوړلو خو هغوی په واقعه د ذوالیدین کښې حاضر نه وو خو دا مسلم نه ده چه **کلام فی الصلاة** په مکه مکرمه کښې منسوخ شوې دې دا بې دلیله خبره ده بلکه د کلام فی الصلوة په مدینه منوره کښې منسوخ کیدل د صریح روایت نه ثابت دی لکه چه د مخکښې باب په روایت ۵۴۲ کښې د زید بن ارقم نه مروی دی او زید بن ارقم په مدینه منوره کښې اسلام قبول کړې.

ب : د ذوالیدین واقعه هم لازمًا د ۲ هجری نه مخکښې ده چه د هغې دلیل دا دې چه ذوالیدین بدری صحابی دې او په غزوه بدر کښې شهید شوې وو لکه چه امام طحاوی رحمه الله د ابن عمر یو اثر روایت کړې دې ﴿ **انه ذکر له حدیث ذی الیدین فقال کان اسلام ابی هریرة بعد ما قتل ذوالیدین** ﴾ (شرح معانی الآثار ج ۱ ص ۲۱۸) د دې روایت ټول راویان ثقة دی د دې نه په صراحة ځخه دا ثابتیږی چه ذوالیدین رضی الله عنه په غزوه بدر کښې شهید شوې وو او ابوهریره رضی الله عنه د هغوی د شهادت نه ډیر روستو ایمان راوړلو لهذا واقعه د ذوالیدین بغیر د شک او شبهې نه د غزوه بدر نه مخکښې ده او غزوه بدر په ۲ هجری کښې شوې ده.

**د ابوهریره رضی الله عنه د روایت د بعضې صیغو تحقیق:** ج : باقی پاتې شو د شوافع حضرات د ابوهریره رضی الله عنه د روایت د بعض صیغو نه په واقعه د ذوالیدین کښې د شرکت دعوی نو دا هم صحیح نه ده، امام طحاوی رحمه الله په شرح معانی الاثار ج ۱ ص ۲۶۱ کښې د دې په ځواب کښې لیکی چه د ابوهریرة رضی الله عنه په واقعه د ذی الیدین کښې د شرکت کولو باوجود دا وئیل چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته په ورځ د ذوالیدین مونځ راکړو دا د عین محاورې مطابق دې چه په صیغه د جمع متکلم ځخه جماعت مسلم مراد کولې شی دلته د ﴿ **صلی بنا** ﴾ نه مراد ﴿ **صلی بالمسلمین** ﴾ دې په روایت کښې د دې ډیر مثالونه موجود دی مثلا نزال بن سبرة د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ملاقات شرف نه دې حاصل کړې خو د هغې باوجود هغه وائی ﴿ **قال لنا رسول الله صلی الله علیه وسلم** ﴾ دلته ټول وائی چه د ﴿ **قال لنا** ﴾ نه مراد ﴿ **قال لقومنا** ﴾ دې هم دغه شان طاؤس بن کیسان سیدنا معاذ بن جبل رضی الله عنه نه دې لیدلې بلکه کله چه معاذ رضی الله عنه یمن ته تشریف یوړو هغه وخت طاؤس پیدا شوې هم نه وو خو د دې باوجود طاؤس

فرمائی : قدم علینا معاذ بن جبل رضی الله عنه فلم یاخذ من الخضروات شیئا .... لهذب وائی چه د هغوی د قول قدم علینا نه مراد قدم علی قومنا یا قدم بلدنا دي هم دغه شان عتبه بن غزوان د واقعه صفین نه یو کال مخکښې بصرې ته تشریف راوړلو څخه د بصرې خلقو ته یو خطبه پیش کړه او حسن بصری رحمه الله دغه وخته پورې بصرې ته تشریف نه وو راوړلي حسن بصری د مدینې منورې نه په زمانه د صفین کښې بصرې ته تشریف راوړلي وو خو د دې باوجود حسن بصری رحمه الله فرمائی: ﴿خطبنا عتبة بن غزوان (يريد خطبته بالبصرة)﴾ دلته د ﴿خطبنا﴾ نه مراد ﴿خطب اهل بلدتنا﴾ مراد دې دا ټول آثار امام طحاوی رحمه الله په شرح د معانی الاثار جلد اول کښې نقل کړی دی.

علامه بنوری رحمه الله په معارف السنن ج ۳ ص ۵۱۲ نه تر ۵۱۶ کښې داسې نور ډیر مثالونه پیش کړی دی چه په هغې کښې حضرات صحابه کرامو رضی الله عنهم د جمع متکلم صیغه استعمال کړې ده او مراد عام مسلمانان دی او خپله متکلم د دې نه خارج دې هم دا صورت د ابوهریره رضی الله عنه د ذوالیدین والا روایت کښې پیښ شو.

**د ابوهریره رضی الله عنه د الفاظو ﴿بَيْنَا أَنَا أُصَلِّي﴾ متعلق د محدث کشمیری توجیهات:** اوس صرف یو روایت پاتې کیږی چه په هغې کښې دا الفاظ منسوب دی چه ﴿بينا انا اصلی مع رسول الله ﷺ﴾ (مسلم ج ۱ ص ۲۱٤) د دې په ځواب کښې شاه صاحب فرمائی چه دا د واحد متکلم صیغه صرف د یو راوی یعنی شیبان تفرد دې او د هغه نه سوا د ابوهریره رضی الله عنه یو شاګرد هم د ﴿بينا انا اصلی﴾ الفاظ نه دی نقل کړی. داسې معلومیږی چه په اصل روایت کښې ﴿صلی بنا﴾ وو. او ابوهریره رضی الله عنه د پورته ذکر شوې تشریح مطابق د جمع متکلم صیغه استعمال کړې وه چه په هغې کښې راوی روایت بالمعنی کولو څخه تصرف اوکړو او هغه ئې په واحد متکلم څخه بدله کړه، په احادیثو کښې ددې هم مثالونه ملاویږی، مثلا په مستدرک حاکم کښې په صحیح سند څخه د ابوهریره رضی الله عنه یو روایت مروی دې چه د هغې الفاظ دا دی: ﴿دخلت علی رقية بنت النبی ﷺ﴾ حال دا چه رقیة د ابوهریره رضی الله عنه د اسلام راوړلو نه پنځه کاله مخکښې وفات شوې وه. لهذا د ابوهریره رضی الله عنه هغوی ته د تلو هیڅ سوال نه پیدا کیږی، هلته د دې نه سوا هیڅ توجیه نه ده ممکن چه اصل لفظ ﴿دخلنا﴾ وو او د دې معنی ﴿دخل المسلمون﴾ وو راوی په دې کښې تصرف کولو څخه د دې نه ﴿دخلت﴾ جوړ کړو، حضرت مولانا بنوری رحمه الله په معارف السنن ج ۳ ص ۵۱۷ کښې د دې په شان نور هم مثالونه پیش کړې دی، لهذا ځانله دا د واحد متکلم صیغه هغه دلائل قطعیه نه شی رد کولې کوم چه د دې واقعې د ۲ هجری نه په مخکښې واقع کیدو باندې دال دی.

بيا حضرت شاه صاحب فرمائي چه ما څخه نور هم داسې ډير دلائل موجود دي چه د هغې نه دا معلوميږي چه د ذواليدين ﷺ واقعه د ۲ هجري نه مخکښې پيښه شوې وه، سلام ئې واړولو، **فقام الى خشبة معروضة فى المسجد فاتكا عليها كانه غضبان** ... بخاري ج ۱ ص ۶۹ مسنداحمد ج ۲ ۲٤۸ د روايت نه معلوميږي چه دا خشبة معروضه "اسطوانه حنانه" وه، دلته دا ثابت دي چه دا اسطوانه حنانه د منبر جوړيدلو نه پس دفن کړې شوې وه، لهذا دا واقعه د ممبر د جوړيدو نه مخکښې کيدې شي، او منبر د ۲ هجري نه جوړ کړې شوې وو، ځکه چه په رواياتو کښې تصريح ده چه رسول الله ﷺ د تحويل قبله اعلان د منبر نه فرمائيلې وو، او تحويل قبله په ۲ هجري کښې اوشو.

لهذا د ذواليدين واقعه لازما د ۲ هجري نه مخکښې ده او د نسخ کلام احاديث هم د دې لپاره ناسخ دي، ټول بحث د حديث الباب په ځواب باندې بناء وو يعنى دا چه د ذواليدين واقعه منسوخ ده. (درس ترمذي ملخصا)

**د عمر ﷺ عمل:** ﴿ **وفى القوم ابوبكر وعمر الخ** ﴾ دا واقعه په شروع د اسلام کښې د هغه وخت ده چه کله په مانځه کښې کلام مباح وو. عمر ﷺ کوم چه په دې واقعه کښې موجود وو، خو د عمر ﷺ په دور خلافت کښې عمر ﷺ هم د څلورو په ځائې په دوه رکعتو باندې سلام واړولو، بيا چه کله عمر ﷺ نه د هغې پوښتنه اوشوه نو هغوي د دې وجه بيان کړه، بيا عمر ﷺ د نورو دوه رکعتونو کولو نه پس د سجده سهو کولو په ځائې دوباره څلور رکعتونه اوکړل. (طحاوي کتاب الصلوة ج ۱ ص ۳۰۳) که دا حديث منسوخ نه وې نو عمر ﷺ به په سنت نبوي باندې عمل کولو څخه ادا شوې مونځ د باطل کيدو نه بچ کړې وې.

په دې حديث کښې چه د کوم صحابي ذواليدين ذکر دې هغه په غزوه بدر کښې شهيد شوې وو کومه چه د هجرت په شروع کښې پيښه شوه او روستو ﴿ **قُومُوا لِلّٰهِ قَانِتِيْنَ** ﴾ آيت نازل شو چه په هغې کښې د کلام کولو نه منع کړې شوې ده. علامه ذهبي رحمه الله ليکي ذوالشمالين په بدر کښې شهيد شوې وو. (تجريد اسماء الصحابة ج ۱ ص ۱۶۹، ۱۷۵۱)

**وجوه د اضطراب: مضطربة بوجوه الخ** د اضطراب يو وجه خو دا ده چه مسلم په ج ۱ ص ۲۱٤، نسائي ج ۱ ص ۱۸۲ کښې دې، دا د ماسپخين مونځ وو، مسلم ج ۱ ص ۲۱٤، نسائي ج ۱ ص ۱۸۲و ج ۱ ص ۱۸۳ کښې دې، د عصر مونځ وو، بخاري ج ۱ ص ٦٤ مسلم ج ۱ ص ۱۸۱ کښې دې د زوال نه غروب پورې يو مونځ وو. ظهر يا عصر بخاري ج ۱ ص ۱۲۴ کښې دې، امام محمد بن سيرين رحمه الله فرمائي، زما غالب گمان دا دې چه مونځ د عصر وو. د دې نه معلوميږي چه محمد بن سيرين نه هير شوي دي.

ابوهريره رضی الله عنه بيان کړې وو. خو نسائی ج ۱ ص ۱۸۱ کښې دی چه ابوهريره رضی الله عنه فرمائی ما نه هير شوې دی.

د اضطراب دويم وجه دا ده چه بخاری ج ۱ ص ۱٦٤، مسلم ج ۱ ص ۲۱۳، او ج ۱ ص ۲۱٤، او نسائی ج ۱ ص ۱۸۱و ج ۱ ص ۱۸۳ کښې د ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ په دوه رکعتو باندې سلام واړولو نو ذواليدين عرض اوکړو، خو مسلم په ج ۱ صفحه ۲۱٤ نسائی ج ۱ ص ۱۸۳ کښې د عمران بن حصين رضی الله عنه او کشف الاستار ج ۱ ص ۲۷۸ او ج ۱ ص ۲۷۹ کښې د ابن عباس رضی الله عنهما نه مروی دې چه حضور ﷺ په دريو رکعتو باندې سلام واړولو نو ذواليدين عرض اوکړو، الغرض چه په څه کښې د دوه رکعتو ذکر دې نو په څه کښې د دريو رکعتو دې.

د اضطراب دريمه وجه دا ده چه د بخاری ج ۱ ص ۱٦٤ مسلم ج ۱ ص ۲۱۳ کښې د ابوهريره رضی الله عنه نه مروی دې چه رسول الله ﷺ د سلام اړولو نه پس مسجد نبوی کښې د قبلې طرف ته لرګی باندې تکيه لګولو څخه اودريدلو، هلته ذواليدين عرض اوکړو او مسلم ج ۱ ص ۲۱٤ نسائی ج ۱ ص ۱۸۳ کښې د عمران بن حصين رضی الله عنه نه او په کشف الاستار ج ۱ ص ۱۷۸ کښې د ابن عباس رضی الله عنهما نه مروی دی چه رسول الله ﷺ د سلام اړولو نه پس کور ته تشريف يوړلو هلته تلو څخه ذواليدين عرض اوکړو

د اضطراب څلورمه وجه دا ده چه بخاری او مسلم او په نورو کتابونو د حديثو کښې د ابوهريره رضی الله عنه نه مروی دې چه رسول الله ﷺ د سهو دوه سجدې اوکړې، او ابوداؤد کتاب الصلوة ج ۱ ص ۱٤٥ **باب سجدة السهو** کښې په سند صحيح څخه د سعيد بن ابی سعيد المقبری **عن ابی هريرة** او نسائی ج ۱ ص ۱۸۳ کښې سعيد، ابوسلمة، ابوبکر بن عبدالرحمٰن او ابن ابی حثمة عن ابی هريره موجود دې چه کله دا واقعه پيښه شوه نو رسول الله ﷺ د سهو دوه سجدې اونکړې.

اضطراب د ضعف سبب دې په دې وجه د دې حديث نه د خبرو کولو باوجود په مونځ نه ماتيدلو باندې استدلال صحيح نه دې. (مولانا محمد اشرف) او د اضطراب شديدة د وجې نه د ذواليدين په واقعه کښې دومره قوت باقی نه پاتې کيږی چه دا د ﴿ **قوموا لله قانتين** ﴾ او ممانعت ﴿ **کلام فی الصلوة** ﴾ صحيح او صريح احاديثو په مقابله کښې پيش کړې شی لهذا د ذواليدين واقعه جزيه د هيڅ فقهی مسئلې بنياد نه شی جوړولې کيدې پس احنافو په دې مسئله کښې هم د دې واقعه جزئيه په ځائې د آيت قرآنی او هغه احاديثو باندې عمل کړې دې کوم چه قولی دې او قواعد کليه بيانوی.

**واقعه ذواليدين عمل کثير دې:** د عمران بن حصين په روايت کښې د دې صراحت دې چه

رسول اللهﷺ د مسجد نه وتلو څخه حجرې ته تشريف اوړلې وو او د ابوهريرهؓ په روايت کښې دي چه رسول اللهﷺ بهر وتلو څخه په حبشه معروضه باندې تکيه لګولې وه کوم چه د دې خبرې صفا دليل دې چه رسول اللهﷺ خپله سينه او مخ مبارک د قبلې نه اړولې وو بهرحال، د دې نوعيت کلام، د قبله نه مخ او د سينې انحراف د قبلې نه او تتابع مشى دا ټول عمل کثير دې او د دومره اندازه عمل کثير څخه نن صبا څوک هم د مانځه د جواز قائل نه دې بلکه عمل کثير د شوافع حضراتو هم د مختارقول مطابق مفسد دَ صلوة دې.

## بَابُ مَا اسْتُدِلَّ بِهٖ عَلٰى جَوَازِ رَدِّ السَّلَامِ بِالْإِشَارَةِ فِي الصَّلٰوةِ

(٥٥١) عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: ''أَرْسَلَنِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُنْطَلِقٌ إِلٰى بَنِي الْمُصْطَلِقِ فَأَتَيْتُهٗ وَهُوَ يُصَلِّيْ عَلٰى بَعِيْرِهٖ فَكَلَّمْتُهٗ فَقَالَ لِيْ بِيَدِهٖ هٰكَذَا وَأَوْمَأَ زُهَيْرٌ بِيَدِهٖ ثُمَّ كَلَّمْتُهٗ فَقَالَ لِيْ هٰكَذَا وَأَوْمَأَ زُهَيْرٌ أَيْضًا بِيَدِهٖ نَحْوَ الْأَرْضِ وَأَنَا أَسْمَعُهٗ يَقْرَأُ يُوْمِئُ بِرَأْسِهٖ، فَلَمَّا فَرَغَ قَالَ: ''مَا فَعَلْتَ فِي الَّذِيْ أَرْسَلْتُكَ لَهٗ؟ فَإِنَّهٗ لَمْ يَمْنَعْنِيْ أَنْ أُكَلِّمَكَ إِلَّا أَنِّيْ كُنْتُ أُصَلِّيْ''. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

**باب: په کومو رواياتو څخه چه په مانځه کښې د سلام ځواب ورکولو باندې استدلال کړې شوې دې:**

**۵۵۱**: د ابوالزبيرنه روايت دې چه سيدنا جابرؓ اوفرمائيل: ما ته رسول اللهﷺ پيغام راوليږلو، په داسې حال کښې چه هغوی د بنو المصطلق طرف ته تلونکې وو، چه کله زه هغوی ته راغلم نو رسول اللهﷺ په خپل اوښ باندې مونځ کولو، ما هغوی څخه خبرې اوکړې، هغوی ماته په خپل لاس څخه اشاره اوفرمائيله، او زهير په خپل لاس څخه د زمکې طرف ته اشاره اوکړه، او ما د رسول اللهﷺ قراءت کول اوريدلو، رسول اللهﷺ په خپل څخه څخه اشاره اوکړه، چه کله هغوی فارغ شو، نو وې فرمائيل: تا د هغه کار په باره کښې څه اوکړل په کوم پسې چه ما ته ليږلې وې، بيشکه زه تا څخه د خبرو نه هيڅ منع نه کړم مګر دا چه ما مونځ کولو. دا حديث مسلم نقل کړې دې.

(٥٥٢) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: ''قُلْتُ لِبِلَالٍ: كَيْفَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرُدُّ عَلَيْهِمْ حِيْنَ كَانُوْا يُسَلِّمُوْنَ عَلَيْهِ وَهُوَ فِي الصَّلٰوةِ؟ قَالَ: ''كَانَ يُشِيْرُ بِيَدِهٖ''. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ إِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

**۵۵۲**: سيدنا ابن عمرؓ فرمائى: ما سيدنا بلالؓ ته اووې چه رسول اللهﷺ به تاسو د سلام ځواب څنګه ورکولو، په داسې حال کښې چه خلقو به هغوی ته سلام کولو او هغوی به مانځه کښې وو، هغوی اوفرمائيل: رسول اللهﷺ به خپل لاس مبارک څخه اشاره فرمائيله.

دا حديث ترمذی او ابوداؤد نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(۵۵۳) وَعَنْهُ عَنْ صُهَيْبٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ مَرَرْتُ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَـيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُصَلِّيْ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَرَدَّ عَلَيَّ إِشَارَةً وَقَالَ ''لَا أَعْلَمُ إِلَّا أَنَّهُ قَالَ إِشَارَةً بِإِصْبَعِهِ''۔ رَوَاهُ الثَّلَاثَةُ وَحَسَّنَهُ التِّرْمِذِيُّ۔

**۵۵۳**: د سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما روایت دې چه صهیب رضی الله عنه اوفرمائیل: زه رسول الله ﷺ باندې تېر شوم، حال دا چه رسول الله ﷺ مونځ ادا فرمائیلو، ما هغوی ته سلام اوکړو نو هغوی ماته اشاره ښخه ځواب راکړو، ، (ابن عمر رضی الله عنهما) اوفرمائیل: زما په علم کښې هم دا ده چه رسول الله ﷺ په خپله ګوته مبارکه ښخه اشاره اوفرمائیله.

دا حدیث اصحاب ثلاثه نقل کړې دې او ترمذی دې ته حسن وئیلې دې.

(۵۵۴) وَعَنْهُ قَالَ دَخَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَسْجِدَ بَنِيْ عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ وَّهُوَ مَسْجِدُ قُبَاءٍ يُصَلِّيْ فِيْهِ فَدَخَلَ مَعَـهُ رِجَالٌ مِّنَ الْأَنْصَارِ يُسَلِّمُوْنَ عَلَـيْهِ وَدَخَلَ مَعَهُمْ صُهَيْبٌ فَسَأَلْـتُـهُ: كَيْفَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَـيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُ إِذَا سُلِّمَ عَلَيْهِمْ وَهُوَ فِي الصَّلٰوةِ؟ قَالَ: ''كَانَ يُشِيْرُ بِيَدِهٖ''۔ أَخْرَجَهُ الْحَاكِمُ فِي الْمُسْتَدْرِكِ وَقَالَ عَلٰى شَرْطِهِمَا۔

**۵۵۴**: سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما فرمائي: رسول الله ﷺ بنی عمرو بن عوف مسجد، مسجد قُبا ته داخل شو، چه په هغې کښې مونځ اوکړي، رسول الله ﷺ ښخه د انصارو څه خلق هم داخل شو چه رسول الله ﷺ ته به ئې سلام کولو، دوی ښخه صهیب رضی الله عنه هم داخل شو، نو ما د هغوی نه پوښتنه اوکړه، رسول الله ﷺ څۀ کول په داسې حال کښې چه خلقو رسول الله ﷺ ته سلام کولو او هغوی په مانځه کښې وو، صهیب رضی الله عنه اوفرمائیل: رسول الله ﷺ به په خپل لاس مبارک ښخه اشاره فرمائیله.

دا حدیث حاکم په مستدرک کښې نقل کړې دې او وئیلې ئې دی چه دا حدیث د بخاری او مسلم په شرطونو باندې دې.

(۵۵۵) وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضی الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَـيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُشِيْرُ فِي الصَّلٰوةِ۔ رَوَاهُ أَبُوْدَاوٗدَ وَ أٰخَرُوْنَ وَإِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

**۵۵۵**: د سیدنا انس رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ به په مانځه کښې اشاره فرمائیله دا حدیث ابوداؤد او نورو محدثینو نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

**تشریح**: (۵۵۱ تا ۵۵۵) په مانځه کښې په ژبه باندې د سلام ځواب ورکول ممنوع دی ځکه چه داسې ځواب ورکول کلام فی الصلوٰۃ دې کوم چه مفسد صلوٰۃ دې ترڅو چه که قسم ئې اوخوړلو چه د فلانی ښخه به کلام نه کوم او بیا ئې په مانځه کښې سلام اوکړو نو حانث به شی ابن بطال په دې خبره باندې اجماع نقل کړې ده چه په طریقه د نطق ښخه دې د سلام ځواب نه ورکوی.(عینی) خو د

حسن بصری سعید بن المسیب او قتادة په نزد د دې هم گنجائش شته.

خو په اشارې څخه د سلام ځواب ورکړې کیدې شی یا نه په دې کښې اختلاف دې.

**بیان مذاهب**: په دې باندې د ټولو علماء کرامو اتفاق دې چه په اشارې څخه د سلام ځواب ورکول مفسد صلوة نه دی.

۱: د امام مالک او امام احمد بن حنبل (فی روایة) په نزد بغیر د کراهت نه جائز دی، د سعید بن المسیب، قتادة او حسن بصری نه هم دا مروی دی د امام مالک رحمه الله نه هم یو روایت د جواز دې امام شافعی رحمه الله دې ته مستحب وائی.

۲: د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد د کراهت څخه دې، د امام مالک رحمه الله (فی روایة) امام احمد رحمه الله (فی روایة) امام اسحاق او ابوثور هم د دې قائل دی د ابن عمر رضی الله عنهما او ابن عباس رضی الله عنهما نه هم دا مروی دی پس په مراقی الفلاح کښې په اشارې څخه د سلام ځواب په مکروهات د مانځهٔ کښې شمار کړې شوې دی، په منیة کښې دې ته مکروه تنزیهی وئیلې شوې ده.

**د قائلین جواز دلائل**: د دې باب پنځه واړه روایتونه د قائلین جواز مستدل دی اول روایت ابوالزبیر رضی الله عنه د جابر رضی الله عنه نه نقل کړې دې چه په هغې کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حالت د مانځه کښې په اشارې څخه ځواب ورکول مذکور دی دا روایت امام مسلم په کتاب المساجد **باب تحریم الکلام فی الصلوة** ج ۱ ص ۲۰۴ کښې تخریج کړې دې په روایت ۵۵۲ کښې د ابن عمر رضی الله عنهما د سیدنا بلال رضی الله عنه نه د اشارې متعلق استفتاء ده فرمائی ﴿کان یشیر بیده﴾ دا روایت امام ترمذی په ج ۱ ص ۸۵ ابوداؤد په ج ۱ ص ۱۳۳ کښې تخریج کړې دې، ۵۵۳ او ۵۵۴ روایات دواړه د صهیب رضی الله عنه نه مروی دی د صهیب اول روایت ابوداؤد په ج ۱ ص ۱۳۳، ترمذی ج ۱ ص ۸۵ کښې نقل کړې شوې دې، د دویم روایت تخریج امام حاکم په مستدرک ۳ ص ۱۲ کښې کړې دې. په دواړو روایتونو کښې صراحة اشاره مذکور ده پنځم روایت د انس رضی الله عنه نه مروی دې کوم چه ابوداؤد ج ۱ ص ۱۳۶ کښې تخریج کړې شوې دې په دې کښې د ﴿کان یشیر فی الصلوة﴾ تصریح ده.

## بَـابُ مَا اسْتُدِلَّ بِهٖ عَلٰى نَسْخِ رَدِّ السَّلَامِ بِالْاِشَارَةِ فِي الصَّلٰوةِ

(۵۵۶) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: ''كُنْتُ أُسَلِّمُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَـيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي الصَّلٰوةِ فَـيَرُدُّ عَلَيَّ فَلَـمَّا رَجَعْنَا سَلَّمْتُ عَلَـيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ وَقَالَ: ''اِنَّ فِي الصَّلٰوةِ شُغْلاً''۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

**باب: د کومو روایاتو نه چه په اشارې څخه د سلام د ځواب ورکولو کښې په نسخ باندې استدلال کړې شوې دې.** **۵۵۶**: سیدنا عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی ما به رسول الله ﷺ ته سلام کولو چه کله به هغوی په مانځه کښې وو هغوی به ماته ځواب راکولو، کله چه مونږ (د حبشې نه) واپس شو نو ما هغوی ته سلام اوکړو، رسول الله ﷺ ماته ځواب رانکړو، او هغوی (د مانځۀ نه پس) اوفرمائیل بیشکه په مانځه کښې مصروفیت دې.

(۵۵۷) وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: ''خَرَجَ عَلَـيْـنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَـيْهِ وَسَلَّمَ'' فَقَالَ: ''مَالِيْ أَرَاكُمْ رَافِعِيْ أَيْدِيْكُمْ كَأَنَّهَا أَذْنَابُ خَيْلٍ شُمُسٍ أُسْكُنُوْا فِي الصَّلٰوةِ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

**۵۵۷**: جابر بن سمرة رضی الله عنه فرمائی رسول الله ﷺ مونږ ته تشرف راوړو نو وې فرمائیل چه زه تاسو په مانځه کښې لاس اوچتونکی وینم، ګویا چه هغه د سر کښې اسونو لکئ دی په مونځ کښې سکون پیدا کړئ. دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

**تشریح**> (۵۵۶ نه ۵۵۷ پورې) په دې باب کښې د قائلین کراهت دلائل ذکر کړې شوې دی.

**د قائلین کراهت دلائل**: ۱: د دې باب اول روایت د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه مروی دې فرمائی چه کله به مونږ په مانځه کښې په رسول الله ﷺ باندې سلام کولو نو هغوی به مونږ ته ځواب راکولو خو د هجرت نه پس **﴿ فلم یرد علی وقال ان فی الصلوة شغلا ﴾** (بخاری کتاب التهجد ج ۱ ص ۱۶۲، مسلم کتاب المساجد ج ۱ ص ۲۰٤)

دا حدیث د دې خبرې واضح دلیل دې چه رسول الله ﷺ به د مانځه په حالت کښې د سلام ځواب هغه وخت ورکولو چه په مانځه کښې خبرې اترې منع وې چه کله کلام فی الصلوة ممنوع شو نو د سلام ځواب ورکول هم په سلام او اشارې څخه منسوخ شو ګویا اشاره هم د کلام یو نوع ده لکه چه د حدیث جابر رضی الله عنه الفاظ دی **﴿ انه لم یمنعنی ان ارد علیک الا انی کنت اصلی ﴾** نه هم دا ثابت ده حال دا چه رسول الله ﷺ په اشاره باندې قادر وو.

۲: د جابر بن سمرة رضی الله عنه روایت (۵۵۷) هم د احنافو مستدل دې کوم چه امام مسلم رحمه الله په کتاب الصلوة ج ۱ ص ۱۸۱ کښې تخریج کړې دې مضمون د حدیث د تحت اللفظ ترجمې نه واضح دې چه په هغې کښې د تسکین اطراف او اشارې ممانعت دې په دې کښې د خیل شمس لفظ

راغلې دي د دې نه مراد هغه اسونه دی چه بې ارامه کیدو ځخه خپلې لکئ خوزوی او د احنافو مفتی به قول هم دا دي چه اشاره چه په هغې څخه عمل کثیر لازم شی مفسد صلوة دې هم دا زمونږ د علماء ثلاثه قول دې.

۳: د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې: ''أن النبی صلی الله علیه وسلم قال: '' من اشار فی الصلٰوة أشارة تفهم أوتفقه فقد قطع الصلٰوة ''۔(دارقطنی وبیهقی) او د ابوداؤد الفاظو کښې ''فلیعد لها یعنی الصلٰوة ''(ابوداؤدج: ۱،ص: ۱۳۶) د احنافو د قول مستدل دې.

خو د دې حدیث په باره کښې امام ابوداؤد رحمه الله فرمائی ﴿ هذا الحدیث وهم ﴾ او که دا روایت قابل استدلال اومنلې شی نو د دې مطلب به د علامه بنوری په الفاظو کښې دا وی ﴿ المراد فی الحدیث الاشارة فی غیر حاجة شرعیة والفساد فی مثله عند ظاهر ﴾ (معارف السنن ج ۳ ص ٤٤٠)

علامه ابن الجوزی رحمه الله په التحقیق کښې فرمائی چه د دې په سند کښې محمد بن اسحاق او ابوغفان مجهول دی، صاحب تنقیح د دې ځواب ورکوی چه ابوعطفان ابن طریف یا ابن مالک المری (المدنی) دې د هغه په باره کښې عباس دوری د یحیی بن معین قول ذکر کړې دې چه دا ثقه دې. امام نسائی په الکنی کښې فرمائی چه ابوعطفان ثقه دې بعض د هغه نوم سعد بیان کړې دې، ابن حبان هم دې په ثقاتو کښې ذکر کړې دې، امام مسلم رحمه الله په خپل صحیح کښې د هغه نه تخریج کړې دې، د حافظ ابن حجر په تقریب کښې دی: ابوغطفان ثقة من کبار الثالثة ...

**سوال:** دارقطنی فرمائی چه: **قال لنا (ابوبکر) ابن ابی داؤد، ابوغطفان مجهول.**

**ځواب:** په تذکرة الحفاظ ۳۰۱/۲ کښې دسلمی بیان دې چه ما د دارقطنی نه د (ابوبکر) ابن ابی داؤد په باره کښې پوښتنه اوکړه نو وې فرمائیل: **کثیر الخطاء فی الکلام علی الحدیث،** او ج ۲ ص ۳۰۲ کښې خپله د ابوبکرد پلار ابوداؤد قول منقول دې ﴿ ابنی کذاب ﴾ ابن عدی وائی چه شیخ ابن صاعد به فرمائیل: ﴿ کفانا ابوه بما قال فیه ﴾ پس د ابن ابی داؤد په مجهول کیدو څخه څه کیږی،

**د قائلین جواز د استدلال نه ځواب:** دا ټول روایات د قائلین جواز د مستدلاتو لپاره ناسخ دی په دې ټولو روایاتو کښې د ابتداء اسلام واقعات مذکور دی چه کله په مانځه کښې دا قسم حرکات جائز وو د امام طحاوی رحمه الله رجحان هم دې طرف ته معلوم میږی، چه د کلام فی الصلوة د نسخ څخه رد سلام بالاشارة هم منسوخ شو.

**د شیخ حلوانی او امام محمد اقوال:** سید طحطاوی په خپله حاشیه کښې د صاحب ذخیره په قول

﴿لابأس للمصلی ان یجیب﴾ باندې لیکلو څخه دشیخ حلوانی قول مذکور نقل کولو نه پس ذکر کړی دی که یو سړی مونځ کونکی ته سلام اوکړی نو د امام صاحب رحمه الله په نزد په زړه زړه کښې ځواب ورکولې شی د امام محمد رحمه الله په نزد د مانځه نه پس ځواب ورکول پکار دی خو د امام ابویوسف رحمه الله په نزد د دې قطعا اجازت نشته. علامه خطابی او امام طحاوی ذکر کړې دی چه رسول الله ﷺ عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ته د هغوی د سلام ځواب د مانځه د فراغت نه پس ورکړې دې چه د هغې نه د امام محمد رحمه الله د قول تائید کیږی.

**اشارة مفسد صلوة ولې نه ده؟**: دلته دې دا سوال اونکړې شی چه د کلام په شان دې اشاره هم مفسد صلوة وی ځکه چه اشارة د کلام مرادف کله هم نه شی کیدې ځکه چه اشارة حرکت د اندام دې او د حرکت ید نه علاوه باقی د یو اندام حرکت مفسد صلاة نه دې نو دغه شان به حرکت ید هم مفسد صلاة نه وی.

**اشارة فی الصلوة مکروه ولې ده ؟** د دې نه مخکښې دا ثابت کړې شوې ده چه د کلام فی الصلوة د وجې نه مونځ فاسدیږی اوس دعوی دا ده چه اشارة فی الصلوة څخه به مونځ نه فاسدیږی نو بیا د ځواب سلام لپاره اشارې ته مکروه وئیلې وئیلې شی او حال دا چه په دې سلسله کښې پیش کړې شوې روایاتو کښې د رسول الله ﷺ نه د سلام په ځواب کښې اشاره کول ثابته ده لهذا که مذکوره روایات د اشاره فی الصلوة د مفسد صلوة نه کیدو لپاره حجت جوړیدې شی نو نو مذکوره روایات به د عدم کراهت لپاره هم حجت جوړ شی لهذا کراهت ثابتول صحیح کیدل نه دی پکار، احناف حضرات د دې په ځواب کښې وائی چه د کوم مقصد د وجې نه د ذکر کړې شوې روایاتو نه استدلال کړې شوې دې هغه صرف د اشاره فی الصلوة مفسد صلوة نه کیدل دی او دا خبره ثابته شوې ده او تاسو چه دا وایئ چه بغیر د کراهت نه د سلام ځواب مباح کیدل پکار دی نو د دې لپاره په مذکوره روایاتو کښې هیڅ دلیل نشته او رسول الله ﷺ چه کومه اشاره فرمائیلې ده د هغې د سلام لپاره کیدل ضروری نه دی بلکه په دې کښې دوه احتماله دی ۱: په دې اشارې څخه ئې خلق د مانځه په حالت کښې د سلام کولو نه منع فرمائیلې دی. ۲: په دې اشارې څخه رسول الله ﷺ د رد سلام اراده فرمائیلې وه اوس په فعل رسول ﷺ کښې دوه احتمالات دی نو په دې دواړو کښې یو ته د کتاب الله، سنت رسول ﷺ او اجماع امت نه د یو نه دلیل قائم کولو نه بغیر ترجیح ورکول هرگز نه شی صحیح کیدې او د بعض روایاتو نه د رد السلام نفی ثابتیږی په دې وجه کم از کم د کراهت په درجه کښې منل ئې ضروری دی باقی پاتې شو د ثبوت کراهت دلائل نو د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه په روایت کښې ثابت دی چه رسول الله ﷺ د سلام ځواب رانکړو نه په ژبې څخه او نه

په اشارې ځخه، چه د هغې نه ثابتيږي چه د مانځه دوران کښې سلام کونکې د ځواب مستحق نه دې، د رسول الله ﷺ ارشاد چه ﴿ان فى الصلوة شغلا﴾ چه په مانځه کښې داسې مشغوليت وى چه د هغې د وجې نه مونځ کونکې د سلام وغيره طرف ته متوجه کيدې نه شى په دې وجه دې مونځ کونکى ته سلام اونکړې شى اوس د دې ټولو رواياتو حاصل دا راوځى چه د مانځه په وخت کښې نه سلام کول مشروع دى او نه ځواب ورکول.

بله دا چه د ابن مسعود رضي الله عنه نه د کراهت فتوى هم منقول ده لهذا اشارة فى الصلوة ته به د کراهت درجه حاصل وى.

چونکه د نسخ کلام فى الصلوة په شان نسخ سلام فى الصلوة هم ثابت دې او اشارة فى الصلوة مکروه ده هم په دې مناسبت ځخه لاندې د علامه صدر الدين غزى رحمه الله يو نظم ليکلې شى کوم چه په نهر الفائق کښې نقل کړې شوې دې چه په هغې کښې هغه خلق جمع کړې شوې دى په چا چه سلام کول مکروه دى.

**مکروهات سلام بانديې د علامه صدرالدين اشعار:**

سَلَامُكَ مكروهٌ على مَنْ سَتَسْمَعُ ... ومن بعدِ ما أُبْدِى يَسُن و يُشرع
مُصلٍ وتَالٍ ذَاكِرٌ و محدِّ ثٌ ... خَطِيْبٌ ومَن يُصغِى اليهم ويَسْمع
مُكَرِّرفقهٍ جالسٌ لقضَاءِ ... ومَن بَحَثُوا فى العِلم دَعْهُم لِينفعوا
مُؤ ذِنٌ ايضًا او مُقيمٌ مدُرِّسٌ ... كذا الأَجنبيَّاتُ الفتيَّات اَمْنع
ولعَّابُ شطرنجٍ وشِبْهُ بخُلقِهم ... ومن هو مع اهلٍ له يَتَمتَّع
ودَعْ كافرًا ايضاً ومكشوف عـورةٍ ... ومَن هو فى حالِ التَّغوُّطِ اَشْنَع
ودَعْ اَكِلًا اِلّا اذا كنتَ جائعًا ... وتَعْلم منه انه ليس يَمنع

## بَابُ الْفَتْحِ عَلَى الْإِمَامِ

(۵۵۸) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلّٰى صَلٰوةً فَقَرَأَ فِيْهَا فَلُبِسَ عَلَيْهِ فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ لِاُبَيٍّ: ''اَصَلَّيْتَ مَعَنَا؟'' قَالَ نَعَمْ! قَالَ: ''فَمَا مَنَعَكَ''۔ رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالطَّبَرَانِيُّ وَزَادَ ''اَنْ تَفْتَحَ عَلَيَّ''۔ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

**باب: امام ته لقمه (فتح) ورکول:** ۵۵۸: د سيدنا عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله ﷺ مونځ ادا اوفرمائيلو، په هغې کښې ئې قراءت اوکړو نو هغوى پکښې خطاء شو، چه کله هغوى د

مانځه نه فارغ شو نو سیدنا ابی بن کعب رضی الله عنه ته ئې اوفرمائیل : آیا تا مونږ څخه مونځ اونکړو؟ هغوی عرض اوکړو : جی او مې کړو ، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : تا څه منع کړې؟

دا حدیث ابوداؤد او طبرانی نقل کړې دې او طبرانی دا الفاظ زیات کړی دی (تهٔ څه منع کړې) چه تا مونږ ته لقمه (فتح) راکړې وې. او د دې اسناد حسن دې.

۵۵۸: په مانځه کښې امام ته لقمه ورکول جائز دی یا نه د مصنف رحمه الله غرض په انعقاد د دې باب باندې د دې مسئلې توضیح ده صاحب بدائع لیکی چه د لقمې ورکولو دوه صورتونه دی: یا به لقمه ورکونکې مقتدی وی یا غیر مقتدی که غیر مقتدی وی نو په لقمه ورکولو څخه به د مونځ کونکی مونځ فاسد شی که لقمه ورکونکې خارج د مانځهٔ نه وی یا داخل په مانځهٔ کښې (په داسې طریقه چه هغه خپل څهٔ مونځ کوی) بلکه لقمه ورکونکې په مانځه کښې وی نو د هغه خپل مونځ به هم فاسد شی ځکه چه دا تعلیم او تعلم دې کوم چه د مانځهٔ منافی دې د مقتدی خپل امام ته د مانځهٔ په حالت کښې د لقمې ورکولو دوه مسلکونه دی.

**بیان مذاهب:** په لقمه ورکولو کښې هیڅ باک نشته، علامه خطابی رحمه الله په معالم السنن کښې لیکی چه د سیدنا عثمان او سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما نه هم دا مروی دی، د حسن بصری، ابن سیرین، امام مالک، امام شافعی، امام احمد او اسحق بن راهویه نه هم دا منقول دی.

۲: لقمه ورکول مکروه دی د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه کراهت مروی دې امام شعبی او سفیان ثوری رحمهما الله هم دې ته مکروه وائی.

**د قائلینو دلائل:** حدیث الباب کوم چه د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه مروی دې کوم چه امام ابوداؤد په خپل سنن **باب الفتح علی الامام** ج ۱ ص ۱۳۱ کښې تخریج کړې دې د قائلین جواز مستدل دې چه رسول الله ﷺ د سورة المومنون قراءت اوکړو او څه کلمه ترې نه پاتې شوه نو رسول الله ﷺ د مانځه نه پس حاضرینو ته اوفرمائیل چه آیا په تاسو کښې ابی بن کعب رضی الله عنه نشته؟ هغوی عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ زه حاضر یم. ، ﴿ **فما منعک** ﴾ یعنی ته د فتح ورکولو نه څه منع کړې؟ د دې نه معلومه شوه چه مقتدی خپل امام ته لقمه (فتح) ورکولې شی.

**د قائلین کراهت دلائل او ځوابات:** د قائلین کراهت دلیل د سیدنا علی رضی الله عنه حدیث دې د کوم تخریج چه امام ابوداؤد رحمه الله کړې دې ﴿ **قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلی الله علیه وسلم « يَا عَلِيُّ لَا تَفْتَحْ عَلَى الإِمَامِ فِي الصَّلَاةِ »** ﴾ ځواب دا دې چه : **الف** : دا حدیث ضعیف دې کوم چه د ابی بن کعب رضی الله عنه د حدیث برابر نه شی کیدې ځکه چه د دې په سند کښې حارث بن عبدالله الکوفی الاعور دې کوم ته چه امام شعبی، سبیعی، علیّ المدینی کاذب وئیلې دې.ب: دویم داچه دا روایت منقطع دې امام ابوداؤد رحمه الله

فرمائی چه ابو اسحاق (کوم چه د دې راوی دې) هغه د حارث اعور نه صرف څلور احادیث اوریدلي دی او دا حدیث د هغه څلورو نه نهٔ دې په میزال الاعتدال کښې د حافظ شعبة نه هم دا منقول دی بلکه د عجلی په نزد خو دغه څلور هم کتابی دی نه په طریقه د سماع. ج : دریم دا چه دا په طریق د ابو عبدالرحمٰن سلمی خپله د علی رضی الله عنه نه روایت دې چه ﴿ انه اذا استطعمکم الامام فاطعموه ﴾ حافظ په تلخیص کښې د دې تصحیح کړې ده، د : دا په تقدیر د صحت د لقمه ورکولو ممانعت په عدم ضرورت باندې محمول دې چه بغیر د ضرورت نه دې لقمه نه ورکوی.

## بَـــابُ فِي الْحَدَثِ فِي الصَّلٰوةِ

(۵۵۹) عَنْ عَلِيِّ بْنِ طَلْقٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ''إِذَا فَسَا أَحَدُكُمْ فِي الصَّلٰوةِ فَلْيَنْصَرِفْ فَلْيَتَوَضَّأْ وَلْيُعِدْ صَلٰوتَهُ''. رَوَاهُ الثَّلَاثَةُ وَحَسَّنَهُ التِّرْمِذِيُّ وَضَعَّفَهُ ابْنُ الْقَطَّانِ.

**باب: په مانځه کښې بې اودسه کیدل: ۵۵۹:** سیدنا علی بن طلق رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: چه کله په تاسو کښې د چا نه هوا خارج شی نو هغه دې واپس کیدو څخه اودس اوکړی او د خپل مونځ اعادة دې اوکړی. دا حدیث اصحاب ثلاثه نقل کړې دې، ترمذی ورته حسن او ابن القطان ورته ضعیف وئیلې دې.

(۵۶۰) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: ''قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ''مَنْ أَصَابَهُ قَيْءٌ أَوْ رُعَافٌ أَوْ قَلَسٌ أَوْ مَذْيٌ فَلْيَنْصَرِفْ فَلْيَتَوَضَّأْ ثُمَّ لِيَبْنِ عَلٰى صَلٰوتِهِ وَهُوَ فِي ذٰلِكَ لَا يَتَكَلَّمُ''. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ وَصَحَّحَهُ الزَّيْلَعِيُّ وَفِي إِسْنَادِهِ مَقَالٌ.

۵۶۰ : ام المومنین عائشه صدیقه رضی الله عنها اوفرمائیل: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: کوم سړی ته چه قئ، نکسیر (د پوزې نه وینه راتلل)، التهٔ یا مذی راشی. نو هغه دې واپس شی او اودس دې اوکړی، او په خپل مونځ دې بناء اوکړی، په داسې حال کښې چه هغه دې دوران کښې خبرې اونکړی.

دا حدیث ابن ماجه نقل کړې دې امام زیلعی ورته صحیح وئیلې دې او د دې په اسناد کښې کلام دې.

(۵۶۱) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّــهُ كَانَ إِذَا رَعَفَ انْصَرَفَ فَتَوَضَّأَ ثُمَّ رَجَعَ فَبَنٰى وَلَمْ يَتَكَلَّمْ. رَوَاهُ مَالِكٌ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

۵۶۱: د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دې چه کله به د هغوی په پوزه وینه راغله، نو هغوی به لاړل او اودس به ئې اوکړو اوبیا به راغلل (هم په هغه مونځ باندې) به ئې بنا اوکړه اوکلام به ئې نه کولو. دا حدیث امام مالک رحمه الله نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۵۶۲) وَعَنْهُ قَالَ: ''إِذَا رَعُفَ الرَّجُلُ فِي الصَّلٰوةِ أَوْذَرَعَهُ الْقَيْئُ أَوْوَجَدَ مَذْيًا فَإِنَّهُ يَنْصَرِفُ فَلْيَتَوَضَّأْ ثُمَّ يَرْجِعُ فَيُتِمُّ مَا بَقِيَ عَلٰى مَا مَضٰى مَالَمْ يَتَكَلَّمْ''۔ رَوَاهُ عَبْدُ الرَّزَّاقِ وَإِسْنَادُهُ صَحِيحٌ۔

۵۷۲ : سیدنا عبدالله بن عمر رضی الله عنهما فرمائی، چه کله د انسان په مانځه کښې په پوزه باندې وینه راشی یا پرې قې غالب راشی یا هغه مذی بیا مومی نو هغه دې تلو ځخه اودس اوکړی. بیا دې واپس کیدو ځخه هم په دې باقی مونځ باندې بناء اوکړی، چه کله هغه کلام نه وی کړې. دا حدیث عبدالرزاق نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۵۶۳) وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: ''إِذَا وَجَدَ أَحَدُكُمْ فِي صَلٰوتِهِ فِي بَطْنِهِ ذَرًّا أَوْقَيْأً أَوْرُعَافًا فَلْيَنْصَرِفْ فَلْيَتَوَضَّأْ ثُمَّ لِيَبْنِ عَلٰى صَلٰوتِهِ مَالَمْ يَتَكَلَّمْ''۔ رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ وَإِسْنَادُهُ حَسَنٌ۔

۵۷۳: سیدنا علی رضی الله عنه فرمائی : په تاسو کښې چه کله څوک د خپل مانځهٔ دوران کښې په خپله خیټه کښې څه محسوس کړی یا قئ اوکړی یا ئې په پوزه وینه راشی نو اودس دې اوکړی، بیا دې په خپل مانځه باندې بناء اوکړی، ترڅو چه ئې کلام نه وی کړې.

دا حدیث دارقطنی نقل کړې دې او ددې اسناد حسن دې.

(۵۶۴) وَعَنْهُ قَالَ : ''إِذَا جَلَسَ مِقْدَارَ التَّشَهُّدِ ثُمَّ أَحْدَثَ فَقَدْ تَمَّ صَلٰوتُهُ''۔ رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي السُّنَنِ وَإِسْنَادُهُ حَسَنٌ۔

۵۷۴: سیدنا علی رضی الله عنه فرمائی : چه کله یو سړې د تشهد په مقدار کیناستلو، او بیا هغه بې اودسه شو نو د هغه مونځ پوره شو. دا حدیث بیهقی په سنن کښې نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

**تشریح**>(۵۵۹ نه ۵۷۴ پورې) د دې ځائې نه مصنف رحمه الله د هغه عوارضو ذکر کوی کوم چه د مانځه د عمل جاری ساتلو نه مانع دی. حدث مزیل طهارة یو شرعی وصف دې کوم چه په اعضاء کښې سرایت کوی. (غایة البیان) او ترڅو پورې چه مزیل نجاست استعمال نه کړې شی دا د اندامونو ځخه قائم وی د کومو ځیزونو لپاره چه طهارت شرط دې د هغې د ادا کولو نه مانع وی حدث په هغه عوارضو کښې دې کوم چه په هر حال کښې مفسد صلوة نه دې دا کله غیرمفسد هم وی، د حدث په صورت کښې د ځخه د مونځ کولو ضرورت نشته بلکه په مانځهٔ کښې چه کوم ځائې کښې اودس مات شی د اودس نه پس د هم هغه ځائې نه شروع کولې شی کوم ته چه د شریعت په ژبه کښې بناء وائی د دې باب غرض د انعقاد د مسئلة البناء بیان دې.

**مسئلة البناء:** مسئلة البناء دا ده چه که یو سړی ته په مانځه کښې حدث لاحق شی نو هغه له پکار دی چه اودس اوکړی او چه څومره مونځ شوې وو د هم هغه ځائې نه دې شروع کولو ځخه پوره کړی

او که دې امام وی نو څوک دې خپل خلیفه کړی، د خلیفه جوړولو طریقه دا ده چه لږ شان ښکته شوې دې په لاس څخه داسې پوزه اونیسی او راشاته دې شی چه کتونکو ته دا خیال راشی چه په پوزه باندې ئې وینه راغلې ده او د خپل متصل مخکښې صف نه دې خپل خلیفه مخکښې کړی خو په کلام څخه نه بلکه په اشارې څخه او د خلیفه جامې دې اونیسی او خپل ځآن طرف ته دې راکاږی. (خلاصه)

**بیان مذاهب**: ۱: د امام شافعی رحمه الله په نزد بناء علی الصلوة ناجائز ده لهذا د حدث د پیښیدو په صورت کښې د هغوی په نزد دې د څخه مونځ اوکړی امام مالک رحمه الله اول د جواز قائل وو بیا ئې رجوع اوکړه او د عدم جواز فتوی ئې ورکړه.

۲: د احنافو په نزد ﴿ **بناً علی الصلاة** ﴾ جائز ده ابن ابی شیبة په مصنَف کښې په صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې د ابوبکر، عمر، علی، سلمان فارسی، ابن عمر، ابن مسعود رضی الله عنهم او په تابعینو کښې د علقمة، طاؤس، سالم بن عبدالله، سعید بن جبیر، شعبی، ابراهیم النخغی، عطاء، مکحول او سعید بن المسیب رحمهم الله نه هم دا مسلک روایت کړې دې نور حضراتو په صحابه کرامو کښې د عثمان، ابن عباس او انس بن مالک رضی الله عنهم نه هم دا روایت کړې دې. امام اوزاعی، ثوری ابن ابی لیلی، سلیمان بن یسار، او د ابوسلمه بن عبدالرحمٰن قول هم دا دې **وکفی بهم قدوة**. بعضو دې ته د صحابه کرامو رضی الله عنهم اجماع وئیلې ده امام نووی رحمه الله ډیر کوشش کولو نه پس صرف د مسور بن مخرمه خلاف راویستلې دې په دې شرط چه هغه هم صحیح وی.

**د شوافعو دلائل او ځوابات**: ۱: د باب اول روایت ۵۵۹ د علی بن طلق رضی الله عنه نه روایت دې کوم چه **ابوداؤد** ج۱ ص ۱٤٤، ترمذی ج۱ ص ۲۲۰ او **دارقطنی** ج۱ ص۱۵۳ کښې تخریج کړې دې چه په هغې کښې صراحة د ﴿ **ولیعد صلوته** ﴾ امر راغلې دې. احناف د دې په ځواب کښې وائی چه د علی بن طلق د دې روایت متعلق ابن حبان په خپل صحیح کښې وئیلې دی چه په دې کښې د ﴿ **ولیعد صلوته** ﴾ الفاظ د جریر نه سوا بل چا نه دی ذکر کړې. او د جریر په باره کښې حافظ بیهقی رحمه الله نقل کړې دی چه جریر په خپل آخری عمر کښې د سوء حفظ طرف ته منسوب کړې شوې دې، امام احمد رحمه الله فرمائی چه دا په حدیث کښې ذکی نه وو، ابن القطان رحمه الله فرمائی چه د علی بن طلق رضی الله عنه حدیث صحت ته نه دې رسیدلې ځکه چه د دې حدیث راوی مسلم بن سلام مجهول الحال دې. (غایة السعایة) که دا صحیح هم تسلیم کړې شی نو بیا هم په دې کښې د بناء نه ممانعت نشته د نورو احادیث صحیحه او اجماع صحابه نه ثابت ده د دې خو احناف هم قائل دی چه دوباره کول ئې افضل دی.

۲: د ابن عباس رضي الله عنهما نه مرفوعا روايت دي چه: ﴿اذا رعف احدكم فى صلوته فلينصرف فليغسل عنه الدم ثم ليعد وضوءه وليستقبل صلوته﴾(طبراني، دارقطني، ابن عدی)

احناف وائی چه د دې حديث ابن عباس رضي الله عنهما په سند کښې سليمان بن ارقم راوی ضعيف دې ابن عدی په الکامل کښې د دې د تخريج کولو نه پس امام احمد، ابوداؤد، امام نسائی، شـ يحيى ابن معين او امام بخاری رحمهم الله نه نقل کړې شوې دی چه دا متروک دې.

**د شوافع عقلی دلائل او ځوابات**: محدث کبير سيدی شيخ الحديث مولانا عبدالحق صاحب رحمه الله حقائق السنن ج ۱ ص ۱۰۶ کښې د شوافعو په عقلی دلائلو او د احنافو په ځواباتو باندې تفصيل رنړا اچولې ده کوم چه هم هغه شان دلته لوستونکو ته پيش کولې شی.

د سنن ترمذی روايت ﴿لا تقبل صلوة بغير طهور﴾(باب ما جاء لا تقبل صلوة بغير طهور)

شوافع حضرات د احنافو خلاف د مسئلة البناء على الصلوة په عدم جواز باندې په دوه طريقو خ استدلال کوی. ۱: چه کله په يو مانځه کښې حدث لاحق شو نو د بناء على الصلوة صورة کښې لاز هغه له د طهارت لپاره تلل راتلل وی، په داسې صورت کښې چه څومره وخت هم د طهارت نه بغ تيريږی ضرور دا وخت حکما ګويا د صلوة بغير طهارة نه دې کوم چه د حديث پاک په رنړا کښ ناجائز دې. ۲: د مانځه دوران کښې د طهارت لپاره تلل راتل عمل کثير دې او د عمل کثير تخلل څخه مونځ فاسديږی. بله دا چه که دا تلل راتلل مونځ يا د مانځه جزء نه دې نو بيا په کښې تکلم هم جائز کيدل پکار دی. د احنافو د طرف نه د دې اعتراض ډير ځوابونه کړې شوې د: ۱: احناف د بناء على الصلوة په جواز باندې هغه صورت کښې قائل دی کوم کښې چه حدث را لهذا دا په حدث بالعمد باندې قياس کول يا هغې څخه ملحق کول صحيح نه دی.

۲: د حدث د لاحق کيدو نه پس د طهارت لپاره تلل راتلل نه مونځ دې او نه د مانځه جز دې په وجه داسې سړې به چاته چه حدث لاحق شوې وی مونځ د هغه ځائې نه ادا کوی کوم ځائې باند چه هغه پريخودلې وی. که د حدث لاحق کيدو نه پس تلل راتلل هم صلوة يا جزء د صلوة وې نو وخت او تلل راتلل به هم حکما په مانځه کښې شمار کيدلې. او داسې سړې به حکما د امام اقتداء کښې وې او مونځ به د هغه هم هغه وې کوم چه د امام دې. په دې صورت کښې اشک لازميږی چه د صلوة يو حصه بغير د طهارت نه ادا شوې ده چونکه تلل راتلل د مانځه حصه نه په دې وجه اعتراض نه واردېږی. ۳: د محدث د مانځه بناء على الصلوة په صورت کښې په عم کثير څخه نه فاسد کيدل او دې دوران کښې د کلام ممنوع کيدل دواړه د حديث عائشه رضي الله عنها (٥٢

نه کوم چه امام نیموی رحمه الله هم په دې باب کښې په دويم نمبر ذکر کړې دې مرفوعا ثابت دی. ﴿ من أصابه قيء أو رعاف أو قلس أو مذي فلينصرف فليتوضأ ثم ليبن على صلاته وهو في ذلك لا يتكلم ﴾ (رواه ابن ماجة ابواب اقامة الصلوة والسنة فيها ص ۸۷ باب ما جاء في البناء على الصلوة) باقی پاتې شوه د تلو راتلو مسئله نو هغه نه خو مونځ دې او نه د مانځهٔ جزء دې او نه د مانځه څخه منافی دې. بلکه د دې مثال هم هغه دې کوم چه د صلوة الخوف په باره کښې په قرآن کريم کښې منصوص دې. په صلوة الخوف کښې دطائفتين لپاره تلل راتلل ثابت دی اوڅخه دتلو راتلوقرآن کريم دهغوی مونځ ته صحيح وئيلې دی.

**د احنافو دلائل:** د علی بن طلق رضي الله عنه د روايت نه بغير د دې باب ټول روايتونه د احنافو مستدل دې په دې کښې حديث د عائشې رضي الله عنها قوی ترين مستدل دې چه د هغې اجمالی بحث د دې نه مخکښې عرض کړې شوې دې د دې نور وضاحت هم اوګورئ!

**د حديث عائشه رضي الله عنها نور بحث:** ﴿ وفي اسناده مقال ﴾ مصنف رحمه الله د دې مباحثو طرف ته اشاره فرمائی کوم چه بعض شارحينو د احنافو په مسلک باندې اشکال او د ځواب اشکال په صورت کښې نوره رڼړا اچولې ده چه احناف چه د کوم حديث مرفوع نه د بناء علی الصلوة په جواز باندې استدلال کوی د دغه حديث ټول طرق ضعيف دی. مثلا په ابن ماجه کښې دا روايت د اسماعيل بن عياش عن ابن جريج په طريق څخه راغلې دې او د اسماعيل بن عياش روايت د هغه چا نه چه شامی نه وی مقبول نه دې. (نصب الراية ج۱ ص ۳۹) او دلته ابن جريج حجازی دې. د عبدالرزاق په روايت کښې سليمان بن ارقم متروک دې په دې وجه حديث قابل اعتماد نه دې. خو د دې ځواب په څو طريقو ورکړې شوې دې : حديث عائشه مرفوع دې او په ډيرو طرقو څخه روايت دې چه کله ضعيف حديث په متعدد طرق څخه مروی نو د هغې حکم د حسن لغيره دې چه په هغې څخه استدلال صحيح دې، ۲: د سنن دارقطنی او ابن ابی حاتم د علل الحديث نه هم دا حديث د ابن ابی مليکة نه هم مرسلا روايت دې او د هغې سند هم صحيح دې. امام بيهقی رحمه الله هم دا حديث ابن جريج عن ابيه په طريق څخه مرسلا روايت کړې دې او دې ته ئې صحيح وئيلې دې او مرسل احاديث زمونږ او د جمهور محدثينو په نزد حجت دې. ۳: ډير موقوفات او اقوال صحابه رضي الله عنهم کوم چه حکما مرفوع دی نه د مستدله تائيد کيږی مثلا علی رضي الله عنه فرمائی :

''اذا وجد أحدكم في بطنه ذرا أو قيئا أو رعافا فلينصرف فليتوضأ ثم ليبن على صلوته ما لم يتكلم. سنن دارقطنی كتاب الطهارة باب الوضوء من الخارج من البدن ج: ۱، ص: ۱۵۶.

کوم چه امام نیموی په (۵۲۳) نمبر کښې لیکلي دي د دې نه علاوه هم احادیثو په کتابونو کښې د صحابه کرامو ﷺ نه دا قسم ډیر آثار منقول دی. چونکه د صحابه کرامو ﷺ موقوفات او اقوال حکما مرفوعات دی کوم چه د دې مسئلې مکمل تائید کوی په دې وجه د دې احادیثو نه استدلال کول من کل الوجوه صحیح دی لکه چه په دې باب کښې د عبدالله بن عمر ﷺ نه دوه روایات (۵۲۱ او ۵۲۲) مروی دی اول روایت امام مالک ﷫ په موطاء کتاب الطهارة **باب ما جاء فی الرعاف والقئ** ص ۲۷ او دویم روایت مصنف عبدالرزاق کتاب الصلوٰة **باب الرجل یحدث ثم یرجع قبل ان یتکلم** کښې تخریج کړې شوې دې هم د دې باب آخری روایت ۵۲۴ هم د احنافو تائید کونکې دې کوم چه امام بیهقی ﷫ په السنن الکبری کتاب الصلوٰة ج ۱ ص ۱۷۳ **باب تحلیل الصلوٰة بالتسلیم** کښې نقل کړې دې.

## بَـابٌ فِی الْحَقْنِ

**(۵۶۵) عَنْ عَائِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: ''اِنِّیْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ ''لَاصَلٰوةَ بِحَضْرَةِ الطَّعَامِ وَلَا وَهُوَ یُدَافِعُهُ الْاَخْبَثَانِ''۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔**

**باب: په مانځه کښې د بول وبراز د بندولو باره کښې:** ۵۲۵ : ام المومنین سیده عائشه ﷺ فرمائی: ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل، د خوراک په موجودګئ کښې (چه لوږه وی) مونځ نه کیږی او نه هغه وخت چه کله دوه خبیث څیزونه (بول وبراز) هغه لره پریشانه کوی. دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

**(۵۶۶) وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ اَرْقَمَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: ''سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ ''اِذَا رَاَدَ اَحَدُکُمْ اَنْ یَّذْهَبَ اِلَی الْخَلَاءِ وَاُقِیْمَتِ الصَّلٰوةُ فَلْیَبْدَاْ بِالْخَلَاءِ''۔ رَوَاهُ الْاَرْبَعَةُ وَصَحَّحَهُ التِّرْمِذِیُّ۔**

۵۲۶: سیدنا عبدالله بن ارقم ﷺ فرمائی، ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل، په تاسو کښې چه کله څوک بیت الخلاء ته د تلو اراده اوکړی او جماعت اودریږی، نو اول دې د قضاء حاجت نه فارغ شی، دا حدیث اصحاب اربعه نقل کړې دې او ترمذی ورته صحیح وئیلې دې.

**(۵۶۷) وَعَنْ ثَوْبَانَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ: ''ثَـلَاثٌ لَا یَحِلُّ لِاَحَدٍ اَنْ یَّفْعَلَهُنَّ: لَا یَؤُمُّ رَجُلٌ قَوْمًا فَیَخُصَّ نَفْسَهٗ بِالدُّعَاءِ دُوْنَهُمْ، فَاِنْ فَعَلَ فَقَدْ خَانَهُمْ، وَلَا یَنْظُرُ فِیْ قَعْرِ بَیْتٍ قَبْلَ اَنْ یَّسْتَاْذِنَ فَاِنْ فَعَلَ فَقَدْ دَخَلَ، وَلَا یُصَلِّیْ وَهُوَ حَقِنٌ حَتّٰی یَتَخَفَّفَ''۔ رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَاٰخَرُوْنَ وَقَالَ التِّرْمِذِیُّ حَدِیْثٌ حَسَنٌ۔**

۵۲۷: سیدنا ثوبان ﷺ فرمائی رسول الله ﷺ اوفرمائیل: درې څیزونه د چا لپاره هم کول روا نه دی، داسې سړې دې خلقو ته امامت نه کوی کوم چه هغوی پریږدی او صرف د ځان لپاره دعا

غواړي، که هغه داسې اوکړل نو هغه هغوی څخه خیانت کړې دې، د اجازت اخستلو نه مخکښې دې د چا په کور کښې نه ګوري، که داسې ئې اونکړل نو هغه (ګویا) کور ته داخل شو، او مونځ دې نه کوي په داسې حال کښې چه هغه ته د بول وبراز ضرورت وي، تردې چه سپک شي. دا حدیث ابوداؤد او نورو محدثینو نقل کړې دې او ترمذی وئیلې دی دا حدیث حسن دې.

**تشریح>** (۵۲۵ نه ۵۲۷ پورې) : د قیام صلوة په وخت قضاء حاجت یا سختې لوږې څخه په مانځه کښې خلل راځي توجه خرابه شي په مانځه کښې زړه نه لګیږی شرعا د دې حکم څه دې په انعقاد باب څخه مصنفؒ د دې مسئلې وضاحت کول غواړي د دې باب د درې واړو روایاتو مفهوم په لفظی ترجمه کښې واضح کړې شوې دې اول روایت ۵۲۵ د عائشې رضی الله عنها نه مروی دې کوم چه امام مسلمؒ په کتاب المساجد باب کراهة **الصلوة بحضرة الطعام** ج ۱ ص ۲۰۸ کښې تخریج کړې دې د عبد الله بن ارقم رضی الله عنه روایت ۵۲۲ امام ترمذیؒ په ابواب الطهارة **باب ما جاء اذا اقیمت الصلوة ووجد احدکم الخلاء** ج ۱ ص ۳۶ کښې نقل کړې دې، دریم روایت د ثوبان رضی الله عنه نه مروی دې کوم چه ابوداؤد په ج ۱ ص ۱۲، ترمذی ج ۱ ص ۸۲ کښې روایت کړې دې. وړاندې باب هم د دې مقصد لپاره منعقد کړې شوې دې په دواړو ابوابو کښې د حوائج ضروریة د وجې نه د ترک جماعت حکم بیان کړې شوې دې محدث کبیر شیخ الحدیث مولانا عبدالحقؒ ارشاد فرمائی چه د مونځ د اودریدو په وخت د قضاء حاجت درې صورتونه دی د هر یو حکم جدا جدا دې.

۱: د قیام صلوة په وخت د بول و براز تقاضه سخته ده. او د تشویش حد ته رسیدلې ده نو په داسې حالت کښې په جماعت څخه مونځ کول مکروه تحریمی دی. خو دا په هغه صورت کښې دی چه کله د مانځه وخت نه فوت کیږی او که په قضاء حاجت څخه د مانځۀ وخت فوت کیږی. نو بیا به **اهون البلیتین** اختیاروی ځکه چه ترک صلوة حرام دې او کول ئې مکروه تحریمی دی کوم چه د اول په نسبت اهون دې په دې وجه د دې اختیارول ضروری دی مونځ په یو حال کښې هم پریخودل نه دی پکار.

۲: د قضاء حاجت تقاضه سخته نشته او مدافعت د اضطراب حد ته نه دې رسیدلې خو تقاضا دومره ده چه د مانځه نه توجه اوړي. او انابت او توجه الی الله نه حاصلیږی نو په داسې حالت کښې مونځ کول مکروه تنزیهی دی هم دا غوره ده چه اول د حاجت نه فارغ شي او بیا په فارغ زړه، اطمینان او توجه څخه مونځ اوکړي. په پورته دواړو صورتونو کښې د ترک جماعت عذر دې کوم چه عند الشرع معتبر دې، د احناف حضراتو په نزد د ترک جماعت څلیریشت عذرونه بیان کړې شوې دی په هغې کښې یو مدافعت الاخبثین هم دې.

۳: دريم صورت دا دې چه د قضاء حاجت تقاضه ئې نه وی او د خيټې د غراری د وجې نه ئې صرف خيال وی او په مانځه کښې انابت او توجه د الله پاک نه نهٔ لرې کيږی نو په داسې حالت کښې په جماعت څخه مونځ کولو کښې هيڅ باک نشته.
اوبعض حضرات (امام مالک رحمه الله) د مدافعة الاخبثين په صورت کښې مونځ کولو ته مطلقا ممنوع وئيلې دی. او وجه ئې ورله دا وئيله ده چه په دې وخت کښې نجاست د خپل محل نه متجاوز شی او مونځ کونکې ګويا حامل النجاست وی او د مصلی د حمل نجاست په صورت کښې مونځ جائز نه دې. خو جمهورو د دې توجيه تضعيف کړې دې او وئيلې ئې دی چه نجاست اګر چه د معدې او محل نه متجاوز شی خو ترڅو چه خارج نه شی تر هغې پورې په مصلی باندې د حامل النجاسة حکم نه شی لګولې کيدې. ځکه چه تجاوز عن المحل ته اعتبار نشته بلکه خروج ته دې.

## بَابُ فِي الصَّلٰوةِ بِحَضْرَةِ الطَّعَامِ

(۵٦۸) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ''اِذَا وُضِعَ عَشَآءُ اَحَدِكُمْ وَاُقِيْمَتِ الصَّلٰوةُ فَابْدَءُوْا بِالْعَشَآءِ وَلَا يُعَجِّلْ حَتّٰى يَفْرُغَ مِنْهُ'' ـ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ ـ

**باب: د خوراک په موجودګئ کښې مونځ: ۵۲۸** : سيدنا ابن عمر رضي الله عنهما فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائيل: چه کله په تاسو کښې دچا د شپې ډوډئ کيخودلې شی، اومونځ اودريږی، نو تاسو اول ډوډئ اوخورئ، تندی مه کوئ، تردې چه د خوراک نه فارغ شئ. دا حديث شيخينو نقل کړې دې.

(۵٦۹) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ قَالَ: ''اِذَا وُضِعَ الْعَشَآءُ وَاُقِيْمَتِ الصَّلٰوةُ فَابْدَءُوْا بِالْعَشَآءِ'' ـ اَخْرَجَهُ الشَّيْخَانِ ـ

**۵۲۹**: د ام المومنين عائشې رضي الله عنها نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : چه کله د ماسخوتن ډوډئ کيخودې شی او مونځ اودريږی، نو اول ډوډئ اوخورئ. دا حديث شيخينو نقل کړې دې.

**تشريح**> (**۵۲۸ نه ۵۲۹** پورې) : د باب دواړه روايات د قيام صلوة په وخت چه کله خوراک مخامخ راشی نو څه حکم دې د دې بيان دې اول روايت (۵۲۸) د ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې کوم چه امام بخاری رحمه الله په خپل صحيح کتاب الاذان باب اذا حضر الطعام واقيمت الصلوة ج ۱ ص ۹۲ او د امام مسلم رحمه الله د کتاب المساجد باب کراهة الصلوة بحضرة الطعام ج ۱ ص ۲۰۸ کښې منقول دې دويم روايت د عائشې رضي الله عنها نه منقول دې کوم چه په پورته حوالې څخه په صحيحين کښې نقل کړې شوې دې لهذا کله چه خوراک مخامخ راشی يا د خوراک سخت ضرورت وی او په مانځهٔ کښې په خشوع او خضوع او توجه الی الله کښې خلل پيدا کوی نو د دې حکم هم دا دې چه اول دې د ډوډئ نه فارغ

شی بیا دې په اطمینان او فارغ زړه څخه مونځ اوکړی سیدی استاذی المحترم علامه عبدالحق صاحب رحمه الله به فرمائیل چه په هندوستان کښې عام طور څخه د روژې په میاشت کښې د مانځه نه مخکښې د روژه ماتی لپاره پنځه منټه وقفه ورکولې شی چه په هغې کښې انسان دومره موړ شی چه په مانځه کښې توجه د خوراک طرف ته نه ځی. (حقائق السنن ج ۱ ص ۵۲۲) امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی : ﴿ لان یکون اکلی کله صلاة احب الی من ان یکون صلاتی کلها اکلا ﴾. او نن صبا په حرمین شریفین کښې هم په رمضان المبارک کښې د افطاری په وخت تقریبا د لسو منټو معمول دې چه په هغې کښې صائمین په اطمینان څخه روژه ماتې کوی بیا په اطمینان څخه مونځ کوی.

**د ترک جماعت په اعذارو باندې د ابن عابدین شامی اشعار:** علامه ابن عابدین شامی (ج ۱ ص ۳۷٤) کښې د ترک جماعت شل اعذار نظم کړې دی.

اعذار ترك جماعة عشرون قد — أودعتها فى عقد نظم كالدرر
مرض واقعاد و عمى و زمانة — مطر وطين ثم بردقد أضر
قطع لرجل مع يدا ودونها — فلج وعجز الشيخ قصد للسفر
خوف على مال كذامن ظالم — أودائن وشهى أكل قدحضر
والريح ليلاً ظلمة تمريض ذى — ألم مد افعة لبول او قذر
ثم اشتغال لا بغير الفقه فى — بعض من الاوقات عذر معتبر

**د احادیث الباب د ﴿ لا توخروا الصلوة لطعام ﴾ څخه تعارض او د هغې ځوابات:** چونکه په حدیث الباب کښې ﴿ اذا وضع العشاء واقیمت الصلوة فابدوا بالعشاء ﴾ د دې قسم الفاظ راغلې دی چه د هغې نه دا معلومیږی چه د مانځه د خوراک لپاره موخر کول جائز دی او دا په ظاهره د عقل خلاف معلومیږی چه د خوراک لپاره مونځ موخر کړې شی. او د شرح السنة په روایت کښې دی (لکه چه په مشکوة کښې هم منقول دی)، چه د رسول الله ﷺ ارشاد دې ﴿ لا توخروا الصلوة لطعام ولا لغیره ﴾، نو د دې عقلی دلائلو تقاضه دا ده چه موخر دې نه کړی، اوس په دې دواړو کښې تعارض پیدا شو، چه د هغې په وجه باندې د علماء کرامو د توجیه ضرورت پیښ شو، پس ۱: شوافع حضرات فرمائی چه دا حدیث مذکور فی الباب په فساد د طعام باندې محمول دې، او مطلب دا دې چه که د خوراک د خرابیدلو خطره وی نو هغه وخت اجازت دې، دا اصل توجیه د امام غزالی رحمه الله ده، خو چونکه هغه شافعی دې په دې وجه د هغوی طرف ته نسبت اوکړې شو. ۲: او مالکیان فرمائی چه دا په قلت

طعام باندې محمول دي، چه خوراک لږ وي او خوراک کونکې زيات وي او دا ويره وي چه که مونځ ته لاړ شي نو ټول خوراک به رانه ختم کړي نو په دغه وخت کښې دې خوراک اوکړي او مونځ دې اوکړي. ۳: احناف او حنابله فرمائي چه اجازت هغه وخت دې چه د زړه د مشغوليدو ويره وي يعنې که نه خوري نو د هغه خيال به په خوراک کښې وي. يعنې که ډوډئ او نه خوري نو د هغه خيال به د ډوډئ طرف ته وي. که داسې صورت وي نو اول دې ډوډئ اوخوري بيا دې مونځ اوکړي. هم دې طرف ته د امام بخاري رحمه الله ميلان هم دې، ځکه چه هغوی د ابو الدرداء رضي الله عنه مقوله نقل کړې ده چه په هغې کښې دی : ﴿ حتى يقبل على صلوته وقلبه فارغ ﴾ . ۴: امام طحاوي رحمه الله په خپل مشکل الاثار کښې فرمائي چه دا د صائم څخه خاص دې، او د صلوة نه مراد صلوة خاص يعنې د مغرب مونځ دې په بعض رواياتو کښې ﴿ قبل ان تصلوا صلوة المغرب ﴾ جمله د امام طحاوي رحمه الله تائيد کوي او چيرته چه د عشاء لفظ دې هلته د هغې نه مراد مغرب دې ځکه چه د عشاء اطلاق په مغرب باندې هم کيږي.

## بَـــابُ مَا عَلَى الْإِمَامِ؟

(۵۷۰) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ''إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ لِلنَّاسِ فَلْيُخَفِّفْ فَإِنَّ فِيْهِمُ الضَّعِيْفَ وَالسَّقِيْمَ وَالْكَبِيْرَ وَإِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ لِنَفْسِهٖ فَلْيُطَوِّلْ مَا شَآءَ''۔رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

**باب: په امام باندې څه لازم دي ؟:** ۵۷۰ : سيدنا ابوهريره رضي الله عنه فرمائي : رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل : چه کله په تاسو کښې څوک خلقو ته مونځ ورکوي، نو مختصر مونځ دې ورکوي، بيشکه په هغوی کښې کمزور، بيمار او بوډاګان خلق شامل وي او کله چه څوک په تاسو کښې ځانله مونځ کوي نو څومره چه غواړي اوږد دې کوي.دا حديث شيخينو نقل کړې دې.

(۵۷۱) وَعَنْ أَبِيْ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَجُلًا قَالَ: ''وَاللّٰهِ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنِّيْ لَأَتَأَخَّرُ عَنْ صَلٰوةِ الْغَدَاةِ مِنْ أَجْلِ فُلَانٍ مِمَّا يُطِيْلُ بِنَا''. فَمَا رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ مَوْعِظَةٍ أَشَدَّ غَضَبًا مِنْهُ يَوْمَئِذٍ ثُمَّ قَالَ: ''إِنَّ مِنْكُمْ مُنَفِّرِيْنَ فَأَيُّكُمْ مَا صَلَّى بِالنَّاسِ فَلْيُخَفِّفْ فَإِنَّ فِيْهِمُ الضَّعِيْفَ وَالْكَبِيْرَ وَذَا الْحَاجَةِ''۔رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

۵۷۱: د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دې چه يو سړي اوويل : قسم په الله يا رسول الله صلى الله عليه وسلم ! زه د فلانې سړي د وجې نه د سحر د مانځه نه روستو پاتې کيږم، ځکه چه هغه مونږ ته اوږد مونځ راکوي، ما رسول الله صلى الله عليه وسلم چاته په نصيحت کولو کښې د دې ورځې نه زيات په غصه نه وو ليدلې،

بيا رسول اللهﷺ اوفرمائيل : په تاسو کښې بعض خلقو لره په تبختنه کونکی دی، څوک هم چه به تاسو کښې خلقو ته مونځ ورکوی نو مختصر مونځ دې ورکوی ځکه په هغوی کښې کمزوری، بوډاګان او ضرورت مند خلق وی. دا حديث شيخينو نقل کړې دې.

(۵۷۲) وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: ''مَا صَلَّيْتُ وَرَاءَ إِمَامٍ قَطُّ أَخَفَّ صَلٰوةً وَلَا أَتَمَّ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِنْ كَانَ لَيَسْمَعُ بُكَاءَ الصَّبِيِّ فَيُخَفِّفُ مَخَافَةَ أَنْ تُفْتَنَ أُمُّهُ'' ۔رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

۵۷۲: سيدنا انس بن مالکؓ فرمائی : ما د رسول اللهﷺ په شان مختصر او پوره مونځ چیرې هم په هیڅ امام پسې نه دې کړې، هغوی به چه کله د ماشوم د ژړا آواز واوریدلو نو مونځ به ئې مختصر کړو، د دې خبرې نه ویره کولو ځکه چه د هغه مور به په ازمیښت کښې پریوځی (یعنی د هغې توجه به هلته لاړه شی) داحديث شيخينو نقل کړې دې.

(۵۷۳) وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ''إِنِّي لَأَقُومُ فِي الصَّلٰوةِ أُرِيدُ أَنْ أُطَوِّلَ فِيهَا فَأَسْمَعُ بُكَاءَ الصَّبِيِّ فَأَتَجَوَّزُ فِي صَلٰوتِي كَرَاهِيَةَ أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمِّهِ ۔رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ۔

۵۷۳: د سيدنا ابوقتادهؓ نه روايت دې چه رسول اللهﷺ اوفرمائيل : زه مانځه ته اودريږم او غواړم چه پکښې قراءت اوږد کړم، د ماشوم د ژړا اواز اورم نو په مانځه کښې اختصار کوم د دې خبرې د ناخوښه ګڼړلو د وجې نه چه د هغه مور به په مشقت کښې پریوځی. دا حديث بخاری نقل کړې دې.

(۵۷۴) وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: ''آخِرُ مَا عَهِدَ إِلَيَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَمَمْتَ قَوْمًا فَأَخِفَّ بِهِمُ الصَّلٰوةَ ۔رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

۲۷۴ : سيدنا عثمان بن ابی العاصؓ فرمائی : آخری لوظ کوم چه رسول اللهﷺ زما نه واخستلو هغه دا وو چه کله ته چاته امامت کوې نو هغوی ته به مختصر مونځ ورکوې. دا حديث مسلم نقل کړې دې.

(۵۷۵) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: ''كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُ بِالتَّخْفِيفِ وَيَؤُمُّنَا بِالصَّافَّاتِ'' ۔رَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَإِسْنَادُهُ صَحِيحٌ۔

۵۷۵: سيدنا عبدالله بن عمرؓ فرمائی : رسول اللهﷺ به د مانځه د اختصار حکم فرمائيلو، او مونږ ته به ئې په سورة الصافات ځکه امامت کولو.دا حديث نسائی نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

**تشريح>** (۵۷۰ نه ۵۷۵ پورې) : د دې باب د لاندې هغه احاديث راوړلې شوې دی چه د هغې نه به

معلومه شی چه د مقتدیانو د رعایت په لحاظ د امام لپاره کوم ځیزونه ضروري دي.

**د مقتدیانو د رعایت هدایت**: هغه صحابه کرام رضي الله عنهم کومو چه به د خپلې خپلې حلقې یا قبیلې مسجدونو کښې مونځ کولو یا په خپل عبادتي ذوق او شوق کښې به ئې ډیر اوږد مونځ کولو چه هغې په وجه باندې به بعض بیمار، کمزوري، بوډاګانو او سترې مقتدیانو ته کله کله ډیر تکلیف اورسیدلو د دې غلطئ د اصلاح لپاره رسول الله ﷺ په مختلفو موقعو باندې د دې خبرې هدایت اوفرمائیلو چه امامان دې د دې خبرې خیال ساتی په مقتدیانو کښې چه کوم معذور وی هغوی ته دې په اوږد قراءت ځخه تکلیف او نه رسی دا مطلب نه دې چه همیشه او هر وخت دې په مانځ کښې بس واړهٔ سورتونه اولوستلې شی او په رکوع او سجده کښې دې تسبیحات د دریو کرتو زیات نه لوستلې کیږی خپله به چه رسول الله ﷺ څنګه معتدل مونځ ورکولو هم هغه د امت لپاره په دې باره کښې اصل معیار او نمونه ده.

**د احادیث الباب تشریح**: د باب اول روایت ۵۷۰ : د ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دې کوم چه امام بخاری رحمه الله په خپل صحیح ج ۱ ص ۹۷ او مسلم په ج ۱ ص ۱۸۸ کښې تخریج کړې دې د دې مراد هغه دې کوم چه په تمهید کښې غرض کړې شوې دې امام دې مونځ دومره نه اوږدوی چه مقتدیان پریشانئ او تکلیف نه د بچ کیدو لپاره په جماعت کښې شریکیدل پریږدی د هغوی د رعایت وجې نه مونځ مختصر کول پکار دی خو که څوک یواځې مونځ کوی نو د هغه اختیار دې چه څومره غواړی اوږد مونځ دې اوکړی.

۲: د باب دویم روایت ۵۷۱ د ابومسعود رضي الله عنه نه منقول دې دا صحیحین په پورته حواله ځخه نقل کړې دې دا صحابی د چا د اوږد مونځ کولو شکایت چه په دې حدیث کښې ذکر شو سیدنا ابی بن کعب رضي الله عنه دې هم د دې قسم دویمه قصه په صحیحین کښې د معاذ رضي الله عنه نه مروی ده چه هغوی به د ماسخوتن مونځ ناوخته کولو یو کرت ئې په هغې کښې د سورة البقرة قراءت شروع کړو په مقتدیانو کښې یو کس کوم چه د ټولې ورځې سترې وو مونځ مات کړو او ځانله ئې مونځ اوکړو او لاړو معامله رسول الله ﷺ ته اورسیدله نو رسول الله ﷺ سیدنا معاذ رضي الله عنه اورټلو او ورته فرمائیل : ﴿افتان انت یا معاذ﴾ اې معاذ! آیا ته د خلقو لپاره د فتنې باعث جوړیږې؟ وړاندې هم په دې حدیث کښې دی رسول الله ﷺ هغوی ته اوفرمائیل چه ﴿والشمس وضحها﴾ او ﴿واللیل اذا یغشی﴾ او سورة ضحی او سورة اعلی دا سورتونه لوله. (مشکوة باب ما علی الامام)

۳: د باب دریم حدیث د انس بن مالک رضي الله عنه نه مروی دې کوم چه امام بخاری رحمه الله په ج ۱ ص ۹۸ کښې او مسلم په ج ۱ ص ۱۱۸ کښې تخریج کړې دې مقصد دا دې چه د امام لپاره صحیح معیار

او رهنما اصول هم دا دی چه د هغه مونځ مختصر وی او ورځخه مکمل او پوره هم یعنی هر رکن ئې صحیح او د سنت مطابق ادا کوی. لکه چه هم په دې حدیث کښې واضح ده چه د رسول الله ﷺ قراءت مختصر وو او په رکوع او سجده او په تعدیل ارکان وغیره کښې به ئې هیڅ کمې نه وو.

**د حدیث انس رضي الله عنه نه د بعض فقهی مسائلو استنباط**: د حدیث د آخری جملې مطلب دا دې چه رسول الله ﷺ به کله چه په مانځهٔ کښې د یو ماشوم د ژړا اواز واوریدلو نو مونځ به ئې مختصر کړو چه د هغه ماشوم مور چه په جماعت کښې به شریکه وه د ماشوم طرف ته په فکر کښې لاړه نه شی او د هغې په وجه باندې د هغې د مانځهٔ خشوع او خضوع ختم نه شی.

خطابی رحمه الله د دې جملې په تشریح کښې فرمایی چه: په دې کښې د دې خبرې دلیل دې چه امام که په رکوع کښې څه آواز واوری چه یو سړې په مانځه کښې د شریکیدلو اراده لری نو د هغه لپاره جائز دی چه هغه په رکوع کښې د دې سړی انتظار اوکړی چه هغه سړې رکعت حاصل کړی خو بعض حضراتو دې ته مکروه وئیلې دی بلکه د هغه حضراتو وینا ده چه د داسې کونکی په باره کښې ویره ده چه دې چیرته د شرک حد ته او نه رسیږی پس هم دا مسلک د امام مالک رحمه الله هم دې.

حنفی مسلک دا دې چه که امام رکوع د تقرب الی الله په نیت باندې نه بلکه دې مقصد لپاره اوږده کړی چه یو راتلونکې سړې په رکوع کښې شاملیدو څخه رکعت بیا مومی نو دا به مکروه تحریمی وی بلکه د دې نه هم د لوئې ګناه د مرتکب کیدو احتمال کیدې شی خو د کفر او شرک حد ته به نه رسیږی ځکه چه په دې څخه به د هغه نیت د غیر الله بندګی بالکل هم نه وی.

بعض علماء کرام فرمائی چه که راتلونکی سړې امام نه پیژنی نو په دې شکل کښې رکوع اوږده کولو کښې څه باک نشته خو صحیح هم دا ده چه د دې ترک اولی دې که یو امام د تقرب الی الله په نیت باندې رکوع اوږده کړی او د دې پاکې جذبې نه علاوه ئې بل څه مقصد نه وی نو هیڅ باک نشته خو په دې کښې شک نشته چه دداسې حالت کیدل چونکه نادردی اوبیا داچه ددې مسئلې نوم مسئلة الریاء ده په دې وجه په دې مسئله کښې کمال احتیاط اولی دې. (مظاهر حق ملخصا)

**۴**: د ابوقتادة د روایت هم هغه مفهوم دې کوم چه د ماقبل د حدیث دې دا هم امام بخاری رحمه الله په ج ۱ ص ۹۸ کښې تخریج کړې دې.

**۵**: د سیدنا عثمان بن ابو العاص رضي الله عنه روایت **۵۷۴** امام مسلم په خپل صحیح ج ۱ ص ۱۸۸ کښې نقل کړې دې په صحیح مسلم کښې په یو بل روایت کښې د دې تفصیل ذکر شوې دې هغه داسې چه رسول الله ﷺ عثمان بن ابو العاص رضي الله عنه ته اوفرمائیل چه د خپل قوم امامت کوه، عثمان فرمائی ما عرض اوکړو چه زه په خپل زړه کښې څه محسوسوم، رسول الله ﷺ اوفرمائیل ماته

نزدې راشه ؛ (چه کله زه رسول الله ﷺ ته نزدې ورغلم نو، هغوی زه کینولم نو زما په سینه به ئې د دواړو سینو ترمینځه خپل لاس مبارک کیخودلو بیا ئې اوفرمائیل شا کړه! (ما خپل شا هغوی ته مخامخ کړه) پس هغوی زما په شا باندې د دواړو اوږو ترمینځه خپل لاس مبارک راښکلو څه اوفرمائیل لاړ شه او د خپل قوم امامت کوه او دا یاد ساته چه کله څوک د یو قوم امام جوړ شی نو هغه له پکار دی چه مختصر مونځ ورکړی ځکه چه په هغوی کښې بوډاګان هم وی او بیماران هم، کمزورې خلق پکښې هم وی او حاجت مند هم، کله چه څوک یواځې مونځ کوی نو هغه ته اختیار دې چه څنګه ئې کوی. (مسلم په حواله د مشکوة باب ما علی الامام)

**د حدیث ابن عمر ؓ د دواړو اجزاء په ظاهر کښې د تعارض حل:** ۲: د عبد الله بن عمر ؓ دا روایت **۵۷۵** امام نسائی په کتاب الامامة والجماعة باب الرخصة الامام فی التطویل ج ۱ ص ۱۳۲ کښې تخریج کړې دې.

د حدیث په دواړو اجزاء کښې په ظاهره تعارض ښکاره کیږی یو طرف ته خو رسول الله ﷺ د مختصر مونځ حکم ورکولو او بل طرف ته به ئې خپله د امامت کولو په وخت د سورة صافات قراءت فرمائیلو کوم چه یو اوږد سورة دې د دې تعارض د دفع کولو لپاره علماء کرامو دا ځواب ورکړې دې چه د رسول الله ﷺ دا خصوصیت وو چه هغوی به اوږده سورتونه او ډیر زیات آیتونه په ډیر کم وخت کښې وئیل چه په هغې څخه به خلقو ته څه سختی او ستومانی نه محسوس کیده. او دا خصوصیت بل چاته نه شی حاصلیدلې په دې وجه په دواړو اجزاء کښې هیڅ تعارض باقی پاتې نه شو. (مظاهر حق)

## بَـابُ مَا عَلَى الْمَأْمُوْمِ مِنَ الْمُتَابَعَةِ

(۵۷۶) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ''أَمَا يَخْشَى أَحَدُكُمْ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ قَبْلَ الْإِمَامِ أَنْ يَجْعَلَ اللّٰهُ رَأْسَهُ رَأْسَ حِمَارٍ أَوْ يَجْعَلَ اللّٰهُ صُوْرَتَهُ صُوْرَةَ حِمَارٍ. رَوَاهُ الْجَمَاعَةُ.

**باب: په مقتدی باندې (په مانځه کښې د امام) څومره تابعداری ضروری ده : ۵۷۶:** د سیدنا ابوهریره ؓ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : په تاسو کښې څوک ددې نه ولې نه ویریږی چه کله هغه خپل سر د امام نه مخکښې اوچت کړی چه الله پاک د هغه سر د خر په شان کړی یا د هغه د شکل نه د خر شکل جوړ کړی. دا حدیث د محدثینو یو جماعت نقل کړې دې.

(۵۷۷) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ يَزِيْدَ قَالَ: حَدَّثَنِي الْبَرَاءُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَهُوَ غَيْرُ كَذُوْبٍ قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَالَ ''سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ'' لَمْ يَحْنِ أَحَدٌ مِّنَّا ظَهْرَهُ حَتّٰى يَقَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَاجِدًا ثُمَّ نَقَعُ سُجُودًا بَعْدَهُ''۔رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

۵۷۷: عبدالله بن يزيد رحمه الله فرمائي: ما ته سيدنا براء بن عازب رضي الله عنه بيان اوفرمائيلو چه رسول الله ﷺ به كله ﴿سمع الله لمن حمده﴾ اوئيل نو په مونږ كښې به چا خپله شا نه ښكته كوله ترڅو چه رسول الله ﷺ به سجدې ته نه وو تلې، بيا به مونږ د هغوى نه روستو په سجده پريوتلو. دا حديث شيخينو نقل كړې دې.

(۵۷۸) وَعَنْ اَنَسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: صَلّٰى بِنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ فَلَمَّا قَضَى الصَّلٰوةَ اَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهٖ فَقَالَ: ''اَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ اِمَامُكُمْ فَلَا تَسْبِقُوْنِيْ بِالرُّكُوْعِ وَلَا بِالسُّجُوْدِ وَلَا بِالْقِيَامِ وَلَا بِالْاِنْصِرَافِ فَاِنِّيْ اَرَاكُمْ اَمَامِيْ وَمِنْ خَلْفِيْ''۔رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

۵۷۸: سيدنا انس رضي الله عنه فرمائي: يوه ورځ مونږ ته رسول الله ﷺ مونځ راكړو، چه كله هغوى مونځ پوره كړو نو په خپل مخ مبارک څخه مونږ ته متوجه شو او وې فرمائيل: اې خلقو! بيشكه زه ستاسو امام يم پس تاسو په ركوع او سجود او سلام كښې زما نه سبقت مه كوئ، بيشكه زه تاسو د خپلې مخې او شا طرف نه وينم. دا حديث مسلم نقل كړې دې.

**تشريح**>(۵۷۲ نه ۵۷۸ پورې) د دې باب د لاندې مصنف رحمه الله هغه احاديث ليكلې دى چه د هغې نه معلوميږى چه د مقتدى لپاره د امام تابعدارى څومره ضرورى او لازم ده او دا چه مقتدى له د امام متابعت په كومو څيزونو كښې اوڅنګه كول پكار دى.

**د مقتدى لپاره د امام متابعت:** اجمالا عرض دې چه د مانځه په اركانو كښې چه كوم فرض او واجب دى په هغې كښې ټولو مقتديانو له د امام متابعت او موافقت كول واجب دى او كوم اركان چه سنت وغيره دى په هغې كښې مقتديانو له د امام متابعت ضرورى نه دې پس كه امام، شافعى المذهب وى او د ركوع نه د تلو په وخت او د ركوع نه د اوچتيدلو په وخت رفع اليدين اوكړى نو حنفى مقتدى له رفع اليدين كول ضرورى نه دى ځكه چه په دې دواړو موقعو باندې رفع اليدين كول د هغوى په نزد هم سنت دى، هم دغه شان د سحر په مانځه كښې چه شافعى المذهب امام قنوت اولولى نو دحنفى مقتديانو لپاره قنوت لوستل واجب نه دى خو په وترو كښې قنوت لوستل واجب دى، لهٰذا شافعى المذهب امام كه د خپل مذهب موافق قنوت د ركوع نه پس لولى نو احنافو مقتديانو له هم د امام د متابعت او موافقت د وجې نه د ركوع نه پس قنوت لوستل پكار دى.

**د احاديث الباب تشريح:** ۱: د باب اول روايت د ابوهريره رضي الله عنه نه مروى دې كوم چه امام بخارى رحمه الله په ج ۱ ص ۹۶، امام مسلم په ج ۱ ص ۱۸۱، نسائى په ج ۱ ص ۱۳۲، ترمذى په ج ۱ ص ۱۲۹ او ابوداؤد په ج ۱ ص ۹۱ كښې تخريج كړې دې.

**په ترجمة الباب کښې د امام بخاري رحمه الله صنيع:** امام بخاري رحمه الله په خپل صحیح کښې د دې لپاره د **باب اثم من رفع راسه قبل الامام** ..... ترجمة الباب قائم کړې دې غالبا هغوی په لفظ د اسم څخه هم دې طرف ته اشاره کول غواړی چه په دې حدیث کښې وعید په اعتبار د اثم دې او دا هم ممکن ده چه د اختلاف طرف ته اشاره وی د ظاهریه مذهب دا دې او د حنابله هم یو قول دې چه څوک د امام نه مخکښې رکوع او سجده کښې مخکښې سر اوچت کړی نو د هغه مونځ باطل دې د جمهورو په نزد دا فعل مکروه دې خو بیا هم مونځ کیږی. (تقریر بخاری ج ۳ ص ۷۹)

**په روایت د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه کښې د حرف "او" مصداق:** ﴿ او يجعل الله ﴾ دا او د شک لپاره دې او د بل روایت نه معلومیږی چه دا شک د حدیث راوی شعبه ته راغلې وو، او په ﴿ ان يجعل الله راسه راس حمار ﴾ او ﴿ يجعل الله صورته صورة حمار ﴾ کښې هیڅ تعارض نشته بلکه د دواړو مطلب یو دې ځکه چه صورت بدل شی نو سر به بدل شی او چه سر بدل شی نو صورت به هم بدل شی.

**په امت محمدیه ﷺ کښې د صورت د مسخ مسئله:** اوس دا په خپل حقیقت باندې محمول دې یا په مجاز باندې. په دې کښې دواړه قوله راځی، بعض علماء کرام فرمائی چه دا کناية ده د حماقت نه ځکه چه حمار په حماقت څخه مشهور دې، او څوک چه ئې حقیقت منی هغوی فرمائی چه په حقیقت منلو کښې هیڅ استحاله نشته الله پاک قادر دې. اوس به په دې باندې اشکال وی چه د دې مطلب خو دا شو چه په امت محمدیه على صاحبها الف الف تحية وسلام کښې به مسخ واقع کیږی، حال دا چه د حدیث نه خو معلومیږی چه د رسول الله ﷺ امت د مسخ نه محفوظ دې د دې ځواب دا دې چه په کومو روایاتو کښې مسخ نقل کړې شوې ده د هغې نه مسخ عمومی مراد ده او د عموم په نفی څخه د فرد خاص نفی نه لازمیږی. علامه خطابی رحمه الله فرمائی چه په دې امت کښې مسخ جائز ده لهذا په دې حدیث کښې دا په حقیقی معنی باندې محمول کول جائز دی. علامه ابن حجر رحمه الله هم دا فرمائی چه دا مسخ خاص ده او د امت لپاره چه کومه مسخ ممتنع ده هغه مسخ عام ده پس د احادیث صحیحه نه هم دا خبره معلومیږی.

**د مسخ صورت یو عبرتناک مثال:** (مظاهر حق ج ۱ ص ۷۴۹) کښې صرف د مسخ دصورت یو عبرت ناکه واقعه نقل کړې شوې ده.

د علامه ابن حجر رحمه الله د ذکر کړی شوی قول تائید د یو عبرتناکې واقعې نه هم کیږی کومه چه د یو جلیل القدر محدث نه منقول ده چه هغه د طلب علم او حصول حدیث لپاره دمشق ته یو عالم ته لاړو کوم چه د خپل علم او فضل په بناء ډیر مشهور شوې وو هغوی د دې عالم نه درس

اخستل شروع کړل خو د حصول علم دوران کښې دا واقعه د طالب علم لپاره ډیر د حیرانتیا وه چه استاذ په دې ټوله موده کښې کله هم د هغوی مخې ته نه وو راغلې. د هغوی ډیر زیات خواهش وو چه کم از کم یو کرت هغوی د خپل استاد د مخ زیارت خو اوکړی، پس چه کله هغه د دې عالم په خدمت کښې اوسیدو څخه کافی موده تیره کړه او هغوی محسوس کړه چه طالب علم د حصول حدیث شوق هم لری اودَ تعلق بالشیخ جذبات ئې هم شته نو استاذ یوه ورځ په مینځ کښې حائل کړې پرده اوچته کړه او د هغوی د حیرت او تعجب هیڅ انتهاء پاتې نه شوه چه کله هغوی اوکتل چه هغه جلیل القدرعالم اودهغوی استاذچا دعلم اوفضل چه شهرت په څلورو واړوطرفونو کښې خوردې د خپل انسانی مخ نه محروم دې بلکه د هغه مخ د خر د مخ په شان دې، استاد چه د خپل شاګرد حیرت او تعجب لیدو څخه کومه خبره اوکړه هغه واورئ او عبرت حاصل کړئ. هغه اووې:

اې بچوړیه ! د مانځه د ارکانو د ادا کولو په سلسله کښې په امام باندې د مخکښې کیدو نه بچ کیږه ما چه کله دا حدیث واوریدلو چه آیا هغه سړې چه د امام نه مخکښې سر اوچتوی د دې خبرې نه نهٔ ویریږی چه الله پاک د هغه سر بدلولو څخه د خر په شان کړی. نو ما ډیر تعجب اوکړو او ما هغه بعید از امکان تصور اوګنړله، پس (دا زما بدقسمتی وه چه زه د تجربې په طور) د مونځ د اراکانو ادا کولو په سلسله کښې په امام باندې ړومبې شوم چه د هغې نتیجه اې زما ځویه ستا وړاندې ده چه زما مخ واقعی د خر په شان شوې دې.

بهر حال ملا علی قاری‌رحمه‌الله د دې په باره کښې فرمائی چه : د رسول الله ﷺ ارشاد په اصل کښې سخت تهدید او د انتهائی وعید په طور دې. یا دا چه : داسې سړی ته به په دوزخ یا برزخ کښې دې عذاب کښې اخته کولې شی.

**۲: د سیدنا براء بن عازب رضی الله عنه دا روایت امام بخاری‌رحمه‌الله په کتاب الاذان باب متی یسجد من خلف الامام ج ۱ ص ۹۶ او صحیح مسلم په ج ۱ ص ۱۸۹ کښې تخریج کړې دې.**

**تشریح**: د سیدنا براء بن عازب رضی الله عنه د ارشاد مطلب دې چه مونږ رکوع نه پاسیدو باندې د رسول الله ﷺ څخه سجدې ته نه وو تلی بلکه ولاړ به وو او کله چه به رسول الله ﷺ په زمکه باندې خپل مبارک تندې کیخودلو نو مونږ به سجدې ته لاړو، مولانا مظهر‌رحمه‌الله فرمائی چه دا حدیث په دې خبره باندې دلالت کوی چه د مقتدی لپاره سنت دا ده چه هغه دې د خپل مانځه ارکان د امام د مانځه نه دومره روستو کوی او که د امام د افعال صلوة او د مقتدی د افعال صلوة ترمینځه د ادا کولو دومره وفقه نه وی نو هم جائز ده خو د تکبیر تحریمه په وخت د مقتدی لپاره دومره وفقه کول ضروری دی چه کله امام تکبیر تحریمه وئیلو څخه فارغ شی نو مقتدی دې تکبیر تحریمه وائی.

خو د فقه حنفي مسئله دا ده چه د مقتدی لپاره د امام متابعت په طريق د مواصلت واجب دې يعني مقتديانو لره رکن امام څخه بغير د تاخير نه ادا کول پکار دی، تحريمه دې هم د امام د تحريمې څخه کوی، رکوع دې هم د امام د رکوع څخه کوی، قومه هم د قومې څخه، سجدې هم د امام د سجدې څخه غرض دا چه هر فعل دې د امام د هر فعل څخه کوی. خو په رکوع سجود کښې که مقتديانو تسبيح درې کرته نه وی لوستلې او امام سر اوچت کړی نو صحيح مسئله هم دا ده چه مقتديانو له پکار دی چه هغوی د تسبيح لوستلو نه بغير د امام څخه اودريږی که مقتدی رکوع يا سجدې نه خپل سر د امام د سر نه مخکښې اوچت کړی نو هغوی له پکار دی چه هغوی دې دوباره رکوع يا سجدې ته لاړ شی او بيا دې امام څخه خپل سر اوچت کړی داسې به دا رکوع يا سجده دوه نه وی بلکه يو به شمارلې کيږی.

**د هو د ضمير مرجع ؟**: ﴿ وهو غير كذوب ﴾ په دې کښې اختلاف دې چه دا مقوله دا چا ده، او د هو مصداق څوک دې؟ د محققين علماء کرام حافظ ابن حجر وغيره ﷬ رائې دا ده چه د براء ﷛ د شاګرد مقوله ده او د هو ضمير د براء ﷛ طرف ته راجع دې، او د علماء کرامو د يو جماعت رائې داده چه دا د براء ﷛ د تلميذ د تلميذ مقوله ده او د هُوَ ضمير د براء ﷛ د تلميذ طرف ته راجع دې، دا حضرات فرمائي چه حضرت براء ﷛ فرمائي چه حضرت براء صحابی دې، موثق دې، د هغوی د توثيق ضرورت نشته ﴿ فان الصحابة كلهم عدول ﴾ که د هغوی توثيق اوکړې شی نو د دې قانون خلاف به وی. فريق اول حافظ ابن حجر ﷫ وغيره فرمائي چه د قواعد نحويه موافق هم دا ده چه د براء ﷛ طرف ته ضمير واپس کړی شی باقی دا چه حضرات صحابه کرام ﷡ خپله موثق و عدول دی دهغوی د توثيق ضرورت نشته، د دې ځواب دا دې چه دا کلام په طور د توثيق نه دې ذکر کړې شوې بلکه دا هم داسې دې لکه چه ابن مسعود ﷛ فرمائيلې وو، ﴿ حدثنى رسول الله ﷺ وهو الصادق المصدوق ﴾ نو څنګه چه د ابن مسعود ﷛ کلام توثيق نه دې هم دغه شان دلته هم توثيق مراد نه دې بلکه د تاکيد او په کلام کښې د قوت پيدا کولو لپاره ئې فرمائيلې دې او هم دا زما رائې ده.

**د لفظ كذوب تحقيق**: اوس سوال دا دې چه كذوب صيغه د مبالغې ده نو چه کله د مبالغې نفی اوکړې شوه نو اصل ماخذ باقی پاتې شو، چه د هغې مطلب دا شو، چه كذوب خو نه دې خو کله کله صدور د کذب کيږی د دې ځواب دا دې چه د دې قسم کلام څنګه چه د نفی د مبالغې لپاره وی هم دغه شان د مبالغه فی النفی لپاره وی، لکه چه الله پاک فرمائي ﴿ وما انا بظلام للعبيد ﴾ نو د دې مطلب دا نه دې چه د الله پاک ظلام خو نه دې خو نعوذ بالله ظالم دې، بلکه مطلب دا دې چه ظلم د الله پاک نه بالکل نه صادريږی.

۳: د انس رضي الله عنه روایت ۵۷۸ امام مسلم رحمه الله په خپل صحيح كتاب الصلاة باب تحريم سبق الامام بركوع ..... ج ۱ ص ۱۸۰ كښې تخريج كړې دې چه په هغې كښې تصريح ده چه مقتدي دې د امام نه مخكښې هيڅ ركن نه ادا كوي.

# [أَبْوَابُ صَلٰوةِ الْوِتْرِ]

## بَابُ مَا اسْتُدِلَّ بِهٖ عَلٰى وُجُوْبِ صَلٰوةِ الْوِتْرِ

(۵۷۹) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ''اِجْعَلُوْا اٰخِرَ صَلٰوتِكُمْ بِاللَّيْلِ وِتْرًا''. رَوَاهُ الشَّيْخَانِ.

**باب: د كومو روايتونو نه چه د وتر مونځ په واجب كيدو باندې استدلال كړې شوې دې** : ۵۷۹ : د سيدنا عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : د خپلې شپې آخرى مونځ وتر جوړ كړئ. دا حديث شيخينو نقل كړې دې.

(۵۸۰) وَعَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ''بَادِرُوا الصُّبْحَ بِالْوِتْرِ''. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

۵۸۰ : د سيدنا عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : د صبا د راتلو نه مخكښې زر وتر كوئ. دا حديث مسلم نقل كړې دې.

(۵۸۱) وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِنِ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ''اَوْتِرُوْا قَبْلَ اَنْ تُصْبِحُوْا''. رَوَاهُ الْجَمَاعَةُ اِلَّا الْبُخَارِيُّ.

۵۸۱: سيدنا ابوسعيد خدرى رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : د سحر كيدو نه مخكښې تاسو وتر كوئ. دا حديث د بخارى نه سوا د محدثينو جماعت نقل كړې دې.

(۵۸۲) وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ''مَنْ خَافَ اَنْ لَّا يَقُوْمَ مِنْ اٰخِرِ اللَّيْلِ فَلْيُوْتِرْ اَوَّلَهٗ وَمَنْ طَمِعَ اَنْ يَّقُوْمَ اٰخِرَهٗ فَلْيُوْتِرْ اٰخِرَ اللَّيْلِ فَاِنَّ صَلٰوةَ اٰخِرِ اللَّيْلِ مَشْهُوْدَةٌ وَّذٰلِكَ اَفْضَلُ''. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

۵۸۲: سيدنا جابر رضي الله عنه فرمائي رسول الله ﷺ اوفرمائيل : كوم سړې چه ويريږى چه د شپې په آخرى حصه كښې به (د تهجد لپاره) پانه سيږى، نو هغه له په شروع كښې وتر كول پكار دى، او كوم سړى چه د شپې په آخرى حصه كښې د اميد لرى. نو هغه له د شپې په آخرى حصه كښې وتر كول پكار دى بيشكه د شپې آخرى حصه په مانځه كښې د ملائكو د حاضريدلو وخت دې او دا غوره ده. دا حديث مسلم نقل كړې دې.

(۵۸۳) وَعَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: ''اَلْوِتْرُ حَقٌّ فَمَنْ لَّمْ يُوْتِرْ فَلَيْسَ مِنَّا، اَلْوِتْرُ حَقٌّ فَمَنْ لَّمْ يُوْتِرْ فَلَيْسَ مِنَّا، اَلْوِتْرُ حَقٌّ فَمَنْ لَّمْ يُوْتِرْ فَلَيْسَ مِنَّا''۔ رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

۵۸۳: سیدنا بریده رضی الله عنه فرمائی : ما د رسول اللهﷺ نه واوریدل، وتر واجب دی، چا چه وتر اونکړل هغه زمونږ نه نهٔ دې، وتر واجب دي چا چه وتر اونکړل هغه زمونږ نه نهٔ دې. وتر واجب دی څوک چه وتر نه کوی هغه زمونږ نه نهٔ دې. دا حدیث ابوداؤد نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۵۸۴) وَعَنْ اَبِیْ سَعِيْدِنِ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ''اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى زَادَكُمْ صَلٰوةً وَّهِيَ الْوِتْرُ''۔ رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِيْ مُسْنَدِ الشَّامِيِّيْنَ وَقَالَ الْحَافِظُ فِي الدِّرَايَةِ بِاِسْنَادٍ حَسَنٍ۔

۵۸۴: سیدنا ابوسعید خدری رضی الله عنه فرمائی : رسول اللهﷺ اوفرمائیل : بیشکه الله پاک په تاسو باندې یو مونځ زیات کړې دې او هغه وتر دې.دا حدیث طبرانی په مسند شامیین کښې نقل کړې دې، حافظ په درایه کښې فرمائی : اسناد حسن (نقل کړې دې).

(۵۸۵) وَعَنْ اَبِیْ تَمِيْمِ الْجَيْشَانِيِّ اَنَّ عَمْرَو بْنَ الْعَاصِ رضي الله عنه خَطَبَ النَّاسَ يَوْمَ جُمُعَةٍ فَقَالَ : ''اِنَّ اَبَا بَصْرَةَ حَدَّثَنِيْ اَنَّ النَّبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ''اِنَّ اللّٰهَ زَادَكُمْ صَلٰوةً وَّهِيَ الْوِتْرُ فَصَلُّوْهَا فِيْمَا بَيْنَ صَلٰوةِ الْعِشَآءِ اِلٰى صَلٰوةِ الْفَجْرِ'' قَالَ اَبُوْ تَمِيْمٍ: ''فَاَخَذَ بِيَدِيْ اَبُوْذَرٍّ فَسَارَ فِي الْمَسْجِدِ اِلٰى اَبِیْ بَصْرَةَ'' فَقَالَ لَهٗ: ''اَنْتَ سَمِعْتَهٗ مِنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَا قَالَ عَمْرٌو''، وَقَالَ اَبُوْ بَصْرَةَ: ''اَنَا سَمِعْتُهٗ مِنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ''۔ رَوَاهُ اَحْمَدُ وَالْحَاكِمُ وَالطَّبَرَانِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۵۸۵ : د ابوتمیم الجیشانی نه روایت دې چه سیدنا عمرو بن العاص رضی الله عنه د جمعې په ورځ خلقو ته خطبه ورکړه او وې فرمائیل : ابوبصره ماته حدیث بیان کړې دې چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل : بیشکه الله پاک په تاسو باندې یو مونځ زیات کړې دې او هغه وتر دې، نو هغه د ماسخوتن او د سحر د مانځه ترمینځه اوکړئ. ابوتمیم اووې : سیدنا ابوذر رضی الله عنه زما لاس اونیولو او مسجد ته ئې ابوبصره ته بوتلم او هغوی ته ئې اوئیل، آیا تاسو رسول اللهﷺ نه اوریدلې دی کوم چه عمرو رضی الله عنه اووې، ابوبصره رضی الله عنه اوفرمائیل : ما د رسول اللهﷺ نه اوریدلې دی. دا حدیث احمد، حاکم او طبرانی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۵۸۶) وَعَنْ اَبِیْ سَعِيْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ''مَنْ نَّامَ عَنْ وِّتْرِهٖ اَوْنَسِيَهٗ فَلْيُصَلِّهٖ اِذَآ اَصْبَحَ اَوْذَكَرَهٗ''۔ رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ وَاٰخَرُوْنَ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۵۸۶: سیدنا ابوسعید خدری رضی الله عنه فرمائی : رسول اللهﷺ اوفرمائیل : کوم سړې چه د خپلو وترو نه

اودهٔ شي يا ترې نه هير شي (يعنى ادا ئې نه کړې شي) نو هغه له پکار دى چه کله صبا کړى يا هغه ته رایاد شي نو اودې کړى. دا حديث دارقطنى او نورو محدثينو نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

**تشريح>**(۵۷۹ نه ۵۸۲ پورې) د وتر لغوى معنى فرد او طاق دې په دې کښې د واؤ فتح او کښخه دواړه صحيح دى خو کښخه زياته مشهوره ده د شريعت په ژبه کښې ايتار مشترک دې او دا په درې معنو کښې استعماليږى.

۱: د وتر مونځ کول. ۲: د تهجدو څخه وتر کول. ۳: جفت رکعتو نه طاق جوړول. په صلوة الوتر کښې د صلوة اضافت د وتر طرف ته د قبيلې د اضافت د عام نه خاص ته دې.

**د وتر څخه متعلق د اهم مباحثو خلاصه:** د صلوة وتر متعلق ډير امور قابل لحاظ دى. ۱: د دې شرعى حکم څه دې واجب دى يا سنت، ۲: د دې څۀ وخت معين دې يا نه، ۳: که فوت شي نو قضاء ئې لازم ده يا نه؟ ۴: د دې څومره رکعتونه دى؟ ۵: د وتر رکعتونه په وصل څخه دى يا په فصل څخه؟ ۶: په وترو کښې قنوت شته يا نه؟ ۷: محل د قنوت کوم ځائې دې د رکوع نه مخکښې که د رکوع نه پس؟ ۸: قنوت وتر د پوره کال لپاره دې که د رمضان لپاره؟ ۹: کلمات د قنوت وتر څه دى ۱۰: دعاء قنوت صرف د وتر څخه خاص دې يا که په مونځونو کښې هم لوستلې شي. په ابواب د صلوة الوتر کښې به د دې مباحثو تحقيق کولې شي په دې باب کښې د ټولو نه مخکښې مسئله د صلوة الوتر شرعى حيثيت وجوب دې يا د سنتو توضيح ده.

**د صلوة وتر شرعى حيثيت څخه متعلق بيان مذاهب:** ۱: صلوة وتر فرض دې د امام ابوحنيفه رحمه الله نه د دې په باره کښې درې روايتونه دى يو روايت هم دا دې کوم چه د حماد بن زيد نه منقول دې په احنافو کښې امام آخر مالکيانو کښې سحنون، اصبغ او ابن العربى رحمهم الله هم د دې قائل دى، ابن بطال د ابن مسعود، حذيفه رضي الله عنهما او ابراهيم نخغى رحمه الله نه فرضيت نقل کړې دې او هم دا د علم الدين سخاوى په نزد مختار قول دې.

۲: د امام ابوحنيفه رحمه الله نه د يوسف بن خالد سمتى رحمه الله (کوم چه د امام شافعى رحمه الله هم استاذ دې) نه روايت دا دې چه واجب دې دا د هغوى آخرى قول دې کوم چه په محيط کښې صحيح، خانيه او کافى کښې اصح او مبسوط، عنايه او تبيين کښې ظاهر مذهب وئيلې شوې دې. ابن المسيب، ابوعبيده، عبدالله بن مسعود رضي الله عنه او امام ضحاک هم د دې قائل دى ابن ابى شيبة د مجاهد نه نقل کړې شوې دى ﴿ الوتر واجب ولم يكتب ﴾ د يوسف بن خالد سمتى رحمه الله نه هم قول وجوب منقول دې قاضى ابوطيب او ابوحامد چه دا وئيلې دى چه د امام ابوحنيفه رحمه الله نه علاوه

ټول علماء د سنیت وتر قائل دی دا بناء ده په تعصب یا بناء ده په عدم علم باندې.
۳: د ابوحنیفه رحمه الله نه د نوح بن مریم رحمه الله روایت دادې چه سنت دې امام مالك رحمه الله هم دا غیرواجب ګرځوی، امام احمد رحمه الله امام شافعی رحمه الله او صاحبین رحمهما الله او جمهور علماء رحمهم الله هم دا اختیارکړې دې، البته دوی وائی چه دا ټول سنن موقته دټولو نه زیات مؤکد دی.....بعضې حضراتو په پورتنو درې واړو اقوالو کښې داسې تطبیق کړې دې چه وتر عملاً فرض دی اعتقاداً واجب دی او ثبوتاً سنت دی.

**د قائلین وجوب دلائل**: د دې باب غرض انعقاد مسلک احناف د (وجوب) د دلائلو بیان دې د احادیثو د لفظی ترجمې که لحاظ اوساتلې شی نو د خبرې په پوهه کښې به سهولت وی.

۱: د باب اول روایت (۵۷۹) د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دې کوم چه امام بخاری رحمه الله په ابواب الوتر ج ۱ ص ۱۳۶ او مسلم په کتاب صلوة المسافرین ج ۱ ص ۲۵۷ کښې تخریج کړې دې. وفی هامش البخاری ج ۱ ص ۱۳۶ .... **یستفاد من الحدیث حکمان الاول استحباب تاخیر الوتر والثانی فیه دلالة علی وجوب الوتر** .... ۲: د باب دویم روایت ۵۸۰ هم دابن عمر رضی الله عنهما نه مروی دې کوم چه امام مسلم رحمه الله په خپل صحیح کښې په پورته حواله باندې تخریج کړې دې مطلب خو په لفظی ترجمې څخه واضح دې یعنی د سحر کیدو نه مخکښې وتر کوئ د احنافو په نزد دا حکم د وجوب لپاره دې که د شپې دوترو مونځ پاتې شی نو په ورځ کښې د هغې قضاء کول واجب دی په دې کښې خطاب په صیغې د امر دې چه د هغې مقتضی وجوب دې، ددې مضمون یو روایت په سنن ترمذی ج ۱ ص ۶۲، اوپه مستدرک حاکم ج ۱ ص ۳۰۲، کښې د ابن عمر رضی الله عنهما نه منقول دې **( ان النبی ﷺ قال فاوتروا قبل الصبح )** علامه ذهبی رحمه الله فرمائی: **صحیح** (تلخیص المستدرک ج ۱ ص ۳۰۱ ) علامه زیلعی رحمه الله په نصب الرایه ج ۲ ص ۱۱۳ کښې لیکی **قال النووی فی الخلاصة اسناده صحیح**.

۳: دریم روایت ۵۸۱ د ابوسعید الخدری رضی الله عنه دې کوم چه مسلم ج ۱ ص ۲۵۷ ترمذی ج ۱ ص ۱۰۷، نسائی ج ۱ ص ۲۴۷، ابن ماجه ص ۸٤ او مسند احمد ج ۳ ص ۱۳، مستدرک حاکم ج ۱ ص ۳۰۱ کښې تخریج کړې شوې دې په دې حدیث کښې د **( اوتروا )** صیغه د امر ده **والامر للوجوب** ..... ددې نه علاوه د ابوسعید خدری رضی الله عنه یو بل روایت هم راغلې دې:

''**قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:** '' **من نام عن وتره اونسیه فلیصله اذا اصبح اوذکره** '' (اخرجه احمد وابن حبان واصحاب السنن الاالترمذی کذاقال الحافظ فی الدرایة فی تخریج احادیث الهدایه) په دې کښې د وتر مونځ د قضاء حکم ورکړې شوې دې او د قضاء حکم په واجباتو کښې وی نه په سننو کښې.

۴: څلورم روایت ۵۸۲ د جابر رضی الله عنه دې کوم چه امام مسلم رحمه الله په خپل صحیح ج ۱ ص ۲۵۸ کښې نقل کړې دې په حیثیت د مستدل واضح دې.

**د حضرت بریده رضی الله عنه په روایت باندې د اعتراضاتو ځوابات:** ۵: پنځم روایت ۵۸۳ د بریده رضی الله عنه دې کوم چه ابوداؤد ج ۱ ص ۲۰۱ **باب فیمن لم یوتر** مستدرک حاکم ج ۱ ص ۳۰۵ او سنن کبری ص ۴۷۰ کښې تخریج کړې شوې دی په کوم کښې چه درې کرته دا جمله راغلې ده چه **﴿ الوتر حق فمن لم یوتر فلیس منا ﴾** په دې باندې دا اعتراض کولې شی چه د دې راوی **ابو المنیب عبیدالله بن عبدالله العتکی** ضعیف دې **(تکلم فیه النسائی وابن حبان** والعقیلی ووثقه آخرون انظر نصب الرایة ج ۲ ص ۱۱۲ **باب صلوة الوتر)**. د دې ځواب دا دې چه امام ابوداؤد رحمه الله په دې باندې سکوت فرمائیلې دې کوم چه د هغوی په نزد د حدیث د صحیح یا حسن کیدو دلیل دې، او امام حاکم هم دې ته صحیح **علی شرط الشیخین** وئیلې دې. رواه الحاکم وصححه **وقال ابو المنیب العتکی مروزی ثقة**. (اعلاء السنن ج ۶ ص ۱)

امام بخاری رحمه الله اګر چه ابوالمنیب ته ضعیف وئیلې دې خو ابن معین هغوی ته ثقة او ابوحاتم ورته صالح الحدیث وئیلې دې او ابن عدی فرمائی لا بأس به ... بهر حال د جارحینو په مقابله کښې د هغوی موثقین زیات دی. یو اعتراض دا هم کړې شوې دې چه **﴿ الوتر حق ﴾** په وجوب د وتر باندې دلالت نه کوی ځکه چه حق ثابت ته وائی. علماء احناف د دې په ځواب کښې وائی چه لفظ حق د واجب په معنی کښې په کثرت سره استعمالیږی او دلته د وجوب معنی مراد ده پس د ابو ایوب انصاری رضی الله عنه په روایت مرفوعه کښې دا الفاظ راغلې دی **﴿ الوتر حق واجب علی کل مسلم ﴾** اخرجه ابوداؤد الطیالسی ص ۸۱ امیر یمانی په سبل السلام ج ۱ ص ۳۳۴ کښې فرمائی **هو دلیل لمن قال بوجوب الوتر**. امام نسائی، ابوحاتم، دارقطنی او بیهقی رحمهم الله وغیره اګر چه دې ته موقوف وئیلې دې خو د روایت د مرفوع او موقوف کیدو په اختلاف کښې اصولاً روایت مرفوع وی په دې شرط چه راویان ثقة وی.

۶: د ابوسعید الخدری رضی الله عنه روایت ۵۸۴ او الدرایة ج ۱ ص ۱۸۹ کښې منقول دی، **زادکم صلوة وهی الوتر** نه وجوب مستفاد کیږی.

۷: د عمرو بن العاص رضی الله عنه په دې روایت ۵۵۸ کښې هم **﴿ قال ان الله تعالیٰ زادکم صلوة وهی الوتر فصلوها ﴾** نه وجوب مستفاد دې.

**﴿ زادكم صلوة ﴾ نه وجوه استدلال**: د دې دواړو روايتونو نه وجه د استدلال په څو طرقو څخه ده الف : اول دا چه په روايت کښې د زيادت نسبت د الله پاک طرف ته دې معلومه شوه چه وتر سنت نه دې ځکه چه د سنتو نسبت رسول الله ﷺ طرف ته وی. ب : په حديث کښې لفظ د امر او صيغه د امر ده او مطلق امر د وجوب لپاره وی. ج : په حديث کښې لفظ زادکم دې او د زيادت تحقق په واجبات څخه کيدې شی ځکه چه واجبات محصور العدد دی په نوافل کښې نه شی کيدې ځکه چه د نوافل تحديد نه شی کيدې. د: په دې کښې صلوة وتر ته زائد وئيلې شوېدې په يو څيز باندې زيادت هغه وخت متحقق کيدې شی چه کله هغه هم د دې د جنس نه وی.

۸: د باب آخری روايت ۵۸۲ د ابوسعيد الخدری ﷺ دې کوم چه دارقطنی په کتاب الوتر **باب من نام عن وتره او نسيه** ج ۲ ص ۲۲ کښې تخريج کړې دې. په دې کښې د وتر مانځه د قضا حکم ورکړې شوې دې او د قضاء حکم په واجباتو کښې وی نه په سنن کښې.

**د نواب صديق حسن خان رحمه الله اعتراف**: قاضی شوکانی رحمه الله په نيل الاوطار ج ۳ ص ۳۳ او نواب صديق حسن خان په هداية السائل ۲۵۹ کښې ليکی : **واللفظ له - دريں احاديث دليل است بر وجوب وتر کقوله فليس منا وقوله الوتر حق وقوله اوتر وا او حافظوا وقوله الوتر واجب ونيز دراں دليل است بر عدم وجوب و هو بقية احاديث الباب پس ايں بقيه اخبار صارف باشند براۓ چيز يکه مشعرِ وجوب است وحديث الوتر واجب - اگر بصحت رسد مشکل بودزيرا تصريح وجوب رامصروف الیٰ غيره گرد انيدن صحيح نه باشد بخلاف بقيه الفاظ مشعره بوجوب---الخ-**

**د وتر په سنيت باندې د ائمة ثلاثه دلائل او د احنافو ځوابات**: ۱: ائمة ثلاثه په سنيت د وتر باندې د هغه ټولو رواياتو نه استدلال کوی په کومو کښې چه د مونځونو تعداد پنځه ښودلې شوې دې هغوی فرمائی چه که وتر واجب وې نو د مونځونو تعداد به شپږ وې احناف حضرات د دې په ځواب کښې وائی چه ۱: اولاً خو وتر د ماسخوتن په توابع کښې دې لهذا هغه مستقلا نه دې شمار کړې شوې. ۲: دويم دا چه د پنځه عدد د فرض مونځونو لپاره دې او حال دا چه وتر فرض نه دی واجب دی

۲: جمهور د سيدنا علی ﷺ ددې ارشاد نه استدلال کوی: ''عن علی ﷺ ''ليس الوتر بحتم كهيئة المكتوبة ولكن سنة سنّها رسول الله صلى الله عليه وسلم'' رواه الترمذی (ج: ۱، ص ۶۰) وحسنه والنسائی (ج: ۱، ص ۱۸۹) والحاكم وصححه سبل السلام (ج: ۱، ص ۳۳۵) وقال (ج: ۱، ص ۳۳۴) والى وجوبه ذهبت الحنفية وذهب الجمهور الى أنه ليس بواجب مستدلين بحديث علی: ''الوتر ليس بحتم'' ----------الخ-

احناف حضرات وائی چه په دې حديث موقوف كښې د وجوب نفی نشته بلكه د فرضيت نفی ده لكه چه د ﴿كصلوتكم المكتوبة﴾ الفاظ په دې باندې دلالت كوی پس احنافو هم د صلوات خمسه په شان د دې د فرضيت قائل نه دی بلكه هغوی دې ته واجب وائی او د سنت نه اصطلاحی سنت مراد نه دې بلكه لغوی مراد دې.

۳: د عبادة بن صامت رضي الله عنه نه اثر منقول دې چه كله هغوی ته اوئيلې شو چه فلانې سړې وتر ته واجب وائی نو هغوی تغليط كولو څخه اوفرمائيل ﴿كذب﴾ (ابوداؤد ج ۱ ص ۲۰۱) د دې په ځواب كښې هم احناف هم دا وائی چه عباده رضي الله عنه د فرضيت نفی اوكړه د وجوب نه.

**موقف انصاف واعتدال**. كه اصل حقيقت باندې نظر وی نو دا اختلاف د **اختلاف امتی رحمة** مصداق دې دا اختلاف عملاً د لفظی اختلاف په شان دې او د دې مقصود دا دې چه د آئمة ثلاثه او جمهورو په نزد د فرض او سنت ترمينځه مامور به بله درجه نشته او امام ابوحنيفه رحمه الله د دې دواړو ترمينځۀ د وجوب قائل دې علامه محمد يوسف بنوری رحمه الله ليکی:

''وذكر فى البدائع وغيره أن يوسف بن خالد السمتى رحمه الله من أعيان فقهاء البصرة (شيخ الشافعى رحمه الله) سئل ابا حنيفة رحمه الله عن الوتر فقال: (اجاب) أنه واجب، فقال لـه، كفرت يا ابا حنيفة، ظنًّا منه أنه يقول فريضة، فقال ابو حنيفة رحمه الله ايهولنى اكفارك اياك وانا اعرف الفرق بين الفرض والواجب كفرق بين السماء والارض، ثم بيّن له الفرق بينهما فاعتذر اليه وجلس عنده للتعلم''۔ (معارف السنن ج: ۴، ص ۱۷۲)

د ائمة ثلاثه او جمهورو په نزد هم وتر موكد ترين سنت دی او احناف د دې د فرضيت قائل نه دی هم دا وجه ده چه احنافو د وتر د وجوب منكر ته كافر نه وائی گويا فريقين په دې خبره باندې متفق دی چه د وتر مرتبه د فرائضو نه ښكته او د عام سنن موكده نه پورته ده چونكه د ائمه ثلاثه په نزد د فرض او سنت ترمينځه څه متوسط درجه نشته په دې وجه هغوی د دې لپاره لفظ د سنت استعمال كړو او د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد چونكه په مينځ كښې د واجب درجه موجود ده په دې وجه باندې احناف دې ته واجب وائی لهذا په دواړو كښې د وتر د حيثيت متعلق د لفظی اختلاف نه قطع نظر هيڅ خاص فرق نشته خو په بعض جزوی مسائلو د دې اختلاف اثر هم ښكاره كيږی چه د هغې تفصيل وړاندې راروان دې.

## بَابُ الْوِتْرِ بِخَمْسٍ اَوْ اَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ ۔

(۵۸۷) عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: ''بِتُّ فِيْ بَيْتِ خَالَتِيْ مَيْمُوْنَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا فَصَلّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِشَاءَ ثُمَّ جَآءَ فَصَلّٰى اَرْبَعَ رَكْعَاتٍ ثُمَّ نَامَ ثُمَّ قَامَ فَجِئْتُ فَقُمْتُ

عَنْ يَسَارِهٖ فَجَعَلَنِيْ عَنْ يَمِيْنِهٖ فَصَلّٰى خَمْسَ رَكْعَاتٍ ثُمَّ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ نَامَ حَتّٰى سَمِعْتُ غَطِيْطَهٗ اَوْقَالَ خَطِيْطَهٗ ثُمَّ خَرَجَ اِلَى الصَّلٰوةِ''۔رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ۔

باب د وتر پنځه رکعتونه دي يا که د هغې نه زيات: ۵۸۷: د سعيد بن جبير نه روايت دې چه سيدنا ابن عباس رضي الله عنهما اووې ما د خپلې ترور ام المومنين عائشې رضي الله عنها کره شپه اوکړه، رسول الله ﷺ د ماسخوتن مونځ ادا اوفرمائيلو،چه رسول الله ﷺ تشريف راوړلو نو څلور رکعته ئې ادا اوفرمائيل بيا هغوى اوده شو، بيا ئې پنځه رکعتونه ادا اوفرمائيل. بيا ئې دوه رکعتونه اوکړل بيا هغوى اوده شو، تردې چه ما د هغوى خرارې واوريدلو (د غطيطه او خطيطه يو معنى ده، د راوى شک دې چه هغوى کوم لفظ اووې) بيا رسول الله ﷺ تشريف يوړلو. دا حديث بخارى نقل کړې دې.

(۵۸۸) وَعَنْهُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: '' فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ حَتّٰى صَلّٰى ثَمَانَ رَكْعَاتٍ ثُمَّ اَوْتَرَ بِخَمْسٍ وَلَمْ يَجْلِسْ بَيْنَهُنَّ''۔رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَفِيْ اِسْنَادِهٖ لِيْنٌ۔

۵۸۸: د سعيد بن جبير رحمه الله نه روايت دې چه ابن عباس رضي الله عنهما اوفرمائيل، نو رسول الله ﷺ دوه دوه رکعتونه ادا اوفرمائيل تردې چه هغوى اتۀ رکعتونه ادا اوفرمائيل، بيا ئې پنځه رکعته وتر اوکړل او دهغې ترمينځۀ ئې قعده اونکړه.دا حديث ابوداؤد نقل کړې دې او د دې په سند کښې ضعف دې.

(۵۸۹) وَعَنْ هِشَامٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: '' كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ مِنَ اللَّيْلِ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً يُوْتِرُ مِنْ ذٰلِكَ بِخَمْسٍ لَا يَجْلِسُ فِيْ شَيْءٍ اِلَّا فِيْ اٰخِرِهَا''۔رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

۵۸۹: هشام په واسطې د خپل پلار بيان کړې دې چه ام المومنين عائشه صديقه رضي الله عنها فرمائى، رسول الله ﷺ به د شپې ديارلس رکعتونه ادا فرمائيل، په هغې کښې به ئې په پنځو رکعتونو باندې وتر ادا فرمائيل، هغوى په يو څيز کښې هم (د استراحت لپاره) نه وو ناست، خو په آخر کښې. دا حديث مسلم نقل کړې دې.

(۵۹۰) وَعَنْ سَعْدِ بْنِ هِشَامٍ قَالَ انْطَلَقْتُ اِلٰى عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا فَقُلْتُ: '' يَا اُمَّ الْمُؤْمِنِيْنَ: اَنْبِئِيْنِيْ عَنْ وِتْرِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ: '' كُنَّا نُعِدُّ لَهٗ سِوَاكَهٗ وَطَهُوْرَهٗ، فَيَبْعَثُهُ اللّٰهُ مَا شَآءَ اَنْ يَبْعَثَهٗ مِنَ اللَّيْلِ، فَيَتَسَوَّكُ وَيَتَوَضَّأُ وَيُصَلِّيْ تِسْعَ رَكْعَاتٍ لَا يَجْلِسُ فِيْهَا اِلَّا فِي الثَّامِنَةِ فَيَذْكُرُ اللّٰهَ وَيَحْمَدُهٗ وَيَدْعُوْهُ، ثُمَّ يَنْهَضُ وَلَا يُسَلِّمُ، ثُمَّ يَقُوْمُ فَيُصَلِّي التَّاسِعَةَ، ثُمَّ يَقْعُدُ فَيَذْكُرُ اللّٰهَ وَيَحْمَدُهٗ وَيَدْعُوْهُ، ثُمَّ يُسَلِّمُ تَسْلِيْمًا يُسْمِعُنَا، ثُمَّ يُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ مَا يُسَلِّمُ وَهُوَ قَاعِدٌ فَتِلْكَ اِحْدٰى عَشْرَةَ رَكْعَةً يَا بُنَيَّ! فَلَمَّا اَسَنَّ نَبِيُّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَاَخَذَهُ اللَّحْمُ اَوْتَرَ بِسَبْعٍ، وَصَنَعَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ مِثْلَ صَنِيْعِهِ الْاَوَّلِ، فَتِلْكَ تِسْعٌ يَا بُنَيَّ

! وَكَانَ نَبِيُّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى صَلٰوةً أَحَبَّ أَنْ يُدَاوِمَ عَلَيْهَا، وَكَانَ إِذَا غَلَبَهُ نَوْمٌ أَوْ وَجَعٌ عَنْ قِيَامِ اللَّيْلِ صَلَّى مِنَ النَّهَارِ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً وَلَا أَعْلَمُ نَبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ الْقُرْاٰنَ كُلَّهُ فِيْ لَيْلَةٍ وَلَا صَلّٰى لَيْلَةً إِلَى الصُّبْحِ، وَلَا صَامَ شَهْرًا كَامِلًا غَيْرَ رَمَضَانَ''۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَأَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ۔

۵۹۰ : سعد بن هشام اووي : زه ام المومنين عائشې صديقې ﷞ ته لاړم او عرض مې اوکړو. اې ام المومنين ! ما ته د رسول اللهﷺ د وتر په باره کښې بيان اوکړئ، نو هغې اوفرمائيل : مونږ به د هغوی لپاره د هغوی اوبه او مسواک تيار ساتلو. الله پاک چه به د شپې کله هغوی بيدارول غوښتل، نو هغوی به مسواک کولو څخه اودس کولو او نهه رکعته مونځ به ئې کولو، په دې کښې به رسول اللهﷺ سوا د نهم رکعت نه نۀ کيناستلو، نو د الله پاک ذکر او د هغه حمد او د الله پاک نه به ئې دعا فرمائيله،بيا به رسول اللهﷺ پاسيدو اوسلام به ئې نه اړولو، بيا به رسول اللهﷺ اودريدلو څخه په نهم رکعت کيناستلو، بيا به کيناستلو، د الله پاک ذکر حمد او د الله پاک نه به ئې دعا کوله بيا به ئې سلام واړلو کوم چه به ئې مونږ ته هم اورولو، بيا به ئې د سلام اړولو نه پس دوه رکعته کول، نو ګويا يولس رکعتونه شو، اې زما بچوړيه! کله چه رسول اللهﷺ عمر رسيده شو او د هغوی بدن مبارک دروند شو، نو هغوی اووۀ رکعته وتر ادا اوفرمائيل او په دوه رکعتو کښې به هغوی هم داسې کول لکه چه مخکښې به ئې کول نو دا نهه رکعتونه شو. اې بچوړيه ! رسول اللهﷺ به چه کله مونځ ادا فرمائيلو نو دا په ئې خوښوله چه په هغې باندې هميشوالې اوکړی او کله چه به په هغوی باندې خوب غالب شو يا به ورته څه تکليف وو نو د ورځې به ئې دولس رکعتونه ادا فرمائيل او زما په علم کښې نشته چه رسول اللهﷺ چيرته پوره قرآن په يو شپه کښې ختم کړې وی او نه ئې چيرته پوره شپه تر سحره پورې مونځ کړې دې اونه ئې د رمضان نه علاوه چيرته (پوره) مياشت روژه نيولې وی. دا حديث مسلم،احمد،ابوداؤد او نسائی نقل کړې دې.

(۵۹۱) وَعَنْ أَبِيْ سَلَمَةَ وَعَبْدِ الرَّحْمٰنِ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَا تُوْتِرُوْا بِثَلَاثٍ أَوْتِرُوْا بِخَمْسٍ أَوْ بِسَبْعٍ وَلَا تُشَبِّهُوْا بِصَلٰوةِ الْمَغْرِبِ۔ رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ وَالْحَاكِمُ وَالْبَيْهَقِيُّ وَقَالَ الْحَافِظُ: إِسْنَادُهٗ عَلٰى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ۔

۵۹۱ : ابوسلمه او عبدالرحمٰن بن الاعرج د ابوهريره﷛ نه بيان اوکړو چه رسول اللهﷺ اوفرمائيل : درې رکعته مه کوئ پنځه يا اووۀ رکعته وتر کوئ، د ماښام د مانځۀ په شان ئې مه کوئ. دا حديث دارقطنی، حاکم او بيهقی نقل کړې دې، حافظ فرمائی د دې اسناد د بخاری او مسلم په شرط باندې دې.

(۵۹۲) وَعَنْ عِرَاكِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: ''قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُوْتِرُوْا بِثَلَاثٍ تُشَبِّهُوْا بِصَلٰوةِ الْمَغْرِبِ وَلٰكِنْ أَوْتِرُوْا بِخَمْسٍ أَوْ بِسَبْعٍ أَوْ بِتِسْعٍ أَوْ بِإِحْدٰى عَشْرَةَ أَوْ أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ۔ رَوَاهُ مُحَمَّدُ بْنُ نَصْرِ الْمِرْوَزِيُّ وَابْنُ حِبَّانَ وَالْحَاكِمُ وَقَالَ الْعِرَاقِيُّ: ''إِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ''۔

۵۹۲: د عراک بن مالک نه روایت دې چه ابو هریره رضی الله عنه اوفرمائیل، رسول الله ﷺ اوفرمائیل: درې رکعته وتر مه کوئ چه د ماښام د مانځهٔ څخه ئې مشابه کړئ، خو پنځه، اووهٔ، نهه، یولس یا د دې نه زیات. دا حدیث محمد بن نصر المروزی د ابن حبان او حاکم نه نقل کړې دې، حافظ عراقی فرمائی د دې اسناد صحیح دې.

(۵۹۳) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: ''اَلْوِتْرُ سَبْعٌ أَوْ خَمْسٌ وَّلَا نُحِبُّ ثَلَاثًا بُتَرَآءَ'' رَوَاهُ مُحَمَّدُ بْنُ نَصْرٍ وَّالطَّحَاوِيُّ وَقَالَ الْعِرَاقِيُّ إِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ۔

۵۹۳: سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی: وتر اووهٔ یا پنځه رکعتونه دی، او مونږ درې ناقص رکعتونه نه خوښوو. دا حدیث محمد بن نصر او طحاوی نقل کړې دې، عراقی فرمائی چه د دې اسناد صحیح دې.

(۵۹۴) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: ''اَلْوِتْرُ سَبْعٌ أَوْ خَمْسٌ وَّإِنِّي لَأَكْرَهُ أَنْ يَّكُوْنَ ثَلَاثًا بُتَرَآءَ۔ رَوَاهُ مُحَمَّدُ بْنُ نَصْرٍ وَّالطَّحَاوِيُّ وَقَالَ الْعِرَاقِيُّ إِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ۔

۵۹۴: ام المؤمنین سیده عائشه رضی الله عنها فرمائی: وتر اووهٔ یا پنځه رکعتونه دی او زه دا ناخوښه ګنړم چه هغه دې درې ناقص رکعتونه وی. دا حدیث محمد بن نصر او طحاوی نقل کړې دې، عراقی فرمائی چه د دې اسناد صحیح دې.

قَالَ النِّيْمَوِيُّ أَنَّ الْوِتْرَ بِثَلَاثٍ قَدْ ثَبَتَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَمَاعَةٍ مِّنَ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ فَالنَّهْيُ فِي هٰذِهِ الْأَحَادِيْثِ مَحْمُوْلٌ عَلٰى أَنْ يُّصَلِّيَ وِتْرًا بِثَلَاثِ رَكْعَاتٍ وَّلَمْ يَتَقَدَّمْهُ تَطَوُّعٌ إِمَّا رَكْعَتَانِ وَإِمَّا أَرْبَعُ رَكْعَاتٍ أَوْ أَكْثَرُ مِنْ ذٰلِكَ''۔

نیموی وئیلی: درې رکعته وتر د نبی اکرم ﷺ اود صحابه کرامو رضی الله عنهم د جماعت نه ثابت دی، په دې احادیثوکښې چه کومه منع فرمائیلې شوې ده نوددې مطلب دادې چه صرف درې رکعته وتر اوکړې شی او ددې نه مخکښې دوه، څلور یا ددې نه زیات نفل اونه کړې شی.

**تشریح**>(۵۸۷ نه ۵۹۴ پورې) د دې ځائې نه مصنف رحمه الله درې ابواب د تعداد رکعت وتر لپاره قائم کړی دی په دې ټولو ابوابو کښې په مختلفو احادیثو کښې د ایتار لفظ استعمال شوې دې دلته د ایتار دوه معنې دی ۱: صرف د وتر لپاره او دویم د ټول صلوة اللیل لپاره.

د دې ابوابو د ټولو رواياتو مضمون هم تقريبا هم هغه دې کوم چه ئې د ترجمة الباب دې بيا چه کوم د باب غرض انعقاد دې هم د هغې د ثبوت لپاره احاديث په طور د دلائلو راوړلې شوې دی لهذا مونږ به دلته د ايتار د ټولو روايتونو په باره کښې اجمالي بحث کولو څخه د تطبيق لاره اختياروو

**د روايات ايتار تحقيق**: لکه چه په راروانو بابونو کښې نقل دی چه د رسول الله ﷺ نه د وتر د عدد متعلق روايات مختلف دی د يو رکعت نه واخله تر اولس رکعتو پورې ذکر په احاديث کښې راغلې دې لکه چه په سنن نسائی ج ۱ ص ۲٤۸ تا ۲۵۱ کښې د يو نه واخله تر ديارلسو رکعتو پورې منقول دی:

باب كيف الوتر بواحدة، وباب كيف الوتر بثلاث، وباب كيف الوتر بخمس، وباب كيف الوتر بسبع، وباب كيف الوتر بتسع، وباب كيف الوتر بأحدى عشرة ركعة، وباب كيف الوتر بثلاث عشرة ركعة ''۔

حافظ ابن حجر رحمه الله په التلخيص الخبير ج ۲ ص ۱٤ **باب صلوة التطوع** کښې د امام رافعی رحمه الله د قول **﴿لم ينقل زيادة على ثلاث عشرة﴾**(رقم ٥١٤) د لاندې ليکی:

''كأنه أخذه من رواية ابى داؤد الماضيه عن عائشة رضي الله عنها ولا بأكثر من ثلاث عشرة وفيه نظر ففى حواشى المنذرى قيل: اكثر ما روى فى صلوٰة الليل سبع عشرة وهى عدد ركعات اليوم والليلة '' وروى ابن حبان وابن المنذر و الحاكم من طريق عراك عن ابى هريرة رضي الله عنه مرفوعًا '' أوتروا بخمس اوبسبع او بتسع او بأحدى عشرة اوبأكثر من ذلك '' انتهٰى۔

بهرحال د حافظ د دې کلام نه معلومه شوه چه د ايتار په باره کښې د اوولس رکعتو پورې ذکر په احاديثو کښې راغلې دې.

**د ايتار په رکعتونو کښې د علامه عثمانی تطبيق**: علامه شبير احمد عثمانی رحمه الله په فتح الملهم ج ۲ ص ۲۸۸ کښې د ايتار د ټولو رواياتو ترمينځه چه په کومه بهترينه طريقه باندې تطبيق ورکړې دې هغه هم د هغوی حصه ده، پس فرمائی چه د رسول الله ﷺ د هميشه معمول دا وو چه رسول الله ﷺ به د صلاة الليل شروع په رکعتين خفيفتين څخه فرمائيله (لکه چه د عائشې رضي الله عنها نه روايت دې:

قالت: ''كان رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا قام من الليل افتتح صلوٰة بركعتين خفيفتين ثم صلى ثمان ركعات ثم أوتر ''(شرح معانى الآثار ج: ۱، ص: ۱۳۷ باب الوتر)

دا رکعتين خفيفتين به د تهجد د مبادی نه وو د دې نه پس به رسول الله ﷺ اته اوږده رکعتونه ادا فرمائيل د هغوی اصل صلاة تهجد به هم دا رکعتونه وو (لکه چه پورته د شرح معانی الاثار په حوالې څخه د سيده عائشې رضي الله عنها په روايت څخه عرض کړې شوې دی) بيا به ئې درې رکعتونه د وتر

کول. (لکه چه په صحیح مسلم ج ۱ ص ۲۵۵ باب صلوٰة اللیل کښې د عائشې رضي الله عنها نه روایت دې: **یصلی اربعاً فلا تسئل عن حسنهن وطولهن ثم یصلی اربعاً فلا تسئل عن حسنهن وطولهن ثم یصلی ثلاثاً** ﴾ د دې نه پس به ئې دوه رکعته نفل ادا کول (لکه چه په نسائی ج ۱ ص ۲۵۳ کښې د عائشې رضي الله عنها د روایت هم دا مدلول دې) محدثین دا د وتر په توابع کښې شماری. چه کله به سحر راوختلو نو دوه رکعتونه به ئې د سنت ادا اوفرمائیل دغه شان به د شپې د مانځه ټول تعداد دیارلس رکعتونه شو.

**په بیان د رکعاتو کښې د صحابه کرامو رضي الله عنهم طریق کار**: پس صحابه کرامو رضي الله عنهم چه کله دا ټول رکعتونه بیانول اوغوښتل نو هغوی ﴿ **اوتر بسبع عشرة رکعة** ﴾ (حواشی المنذری بحواله التلخیص الحبیر ج ۲ ص ۱٤ **باب الصلوٰة التطوع**) څخه د دې تعبیر اوکړو چه بعض صحابه کرامو رضي الله عنهم بعض وخت د صبا سنت حذف کړې دی نو وجه د حذف کولو ئې ښکاره ده چه د سحر د سنتو تعلق د صلوٰة اللیل څخه نه وو بلکه دسحر د مانځه څخه وو نو هغوی اووې ﴿ **اوتر بخمس عشرة رکعة** ﴾ بعض حضراتو په شروع کښې دوه مختصر رکعتونه او د وترو نه پس د نوافل رکعتونه ساقط کړل او سنن فجر ئې شریک کړل نو وې وئیل ﴿ **اوتر بثلاث عشر رکعة** ﴾ (نسائی ج ۱ ص ۲۵۱) بعض حضراتو ما قبل خفیف رکعتونه د مابعد خفیف رکعتونو په شان د سحر د سنتو رکعتین هم حذف کړل نو هغوی په ﴿ **احدی عشرة رکعة** ﴾ څخه روایت اوکړو طحاوی ج ۱ ص ۱۳۹ او کله چه رسول الله ﷺ عمر رسیده شو او بدن مبارک ئې دروند شو نو رسول الله ﷺ بعض وخت د تهجد شپږ رکعتونه اوکړل او د وترو درې نو دا ټول نهه رکعتونه شو چا چه ددغه زمانې عمل روایت کړو نو هغوی په **اوتر بتسع** (نسائی ج ۱ ص ۲۵۱) څخه تعبیر کړې دې بیا داسې هم اوشوه چه رسول الله ﷺ په دې کښې نور هم کمې اوکړو او تهجد ئې صرف څلور رکعته اوکړل نو صحابه کرامو د هغه زمانې عمل په ﴿ **اوتر بسبع** ﴾ څخه نقل کړو. (نسائی ج ۱ ص ۲۵۱)

دا خبره خو د بحث په شروع کښې عرض کړې شوې ده چه په روایات حدیث کښې ایتار د پوره صلاة اللیل په معنی کښې هم استعمال شوې دې او صرف د صلوٰة الوتر په معنی کښې هم. لهٰذا یاد ساتئ چه د ﴿ **اوتر بخمس** ﴾ د روایات نه علاوه په باقی ټولو روایاتو کښې د ایتار نه مراد پوره صلوٰة اللیل دې او په هغې کښې آخری دوه رکعته نفل هم د وتر تابع جوړولو څخه په هغې کښې شامل کړې شوې دی.

**اوتر بثلاث والا روایات په خپل حقیقت باندې محمول دې**: باقی پاتې شو ﴿ **اوتر بثلاث** ﴾ والا روایات نو

هغه په خپل حقیقت باندې محمول دی د اوتر بواحدة مراد دا دې چه رسول اللهﷺ به د تهجد دوه دوه رکعتونه کول او چه کله به د وترو وخت راغلو نو رسول اللهﷺ به دوه رکعتو څخه نور یو رکعت شامل فرمائیلو د دې دا مطلب نه دې چه یو رکعت به ئې کولو د حضرت عثمانیؒ به دې بهترین توجیه څخه په ټولو روایاتو باندې بهترین تطبیق کیږی زمونږ د دې ګزارشاتو نه د وتر نه متعلق د درې ابواب روایات څخه متعلقه بحث راټول شوې دې او په سهولت څخه د درې ابواب روایات مصداق معلوم شو.

خو په راروانو ابوابو کښې به د احادیثو د تخریج څخه د ضرورت مطابق د الفاظ حدیث توضیح هم کولې شی.

**د احادیث باب تخریج**: د سعید بن جبیرؓ روایت ۵۸۷ ته امام بخاریؒ په خپل صحیح کتاب الاذان باب ما یقوم عن یمین الامام ج ۱ ص ۹۷ کښې تخریج کړې شوې دې روایت ۵۸۸ هشام عن ابیه عن عائشة چه امام مسلمؒ په کتاب الصلوة المسافرین باب صلوة اللیل وعدد رکعات النبیﷺ ج ۱ ص ۲۵٤ کښې نقل کړې دې، په ۵۹۰ کښې هم د هغوی نه مروی دی کوم چه ابوداؤد ج ۱ ص ۱۹۰، نسائی ج ۱ ص ۲۵۰، مسلم ج ۱ ص ۲۵۶ کښې تخریج کړې شوې دې، د ابوهریرهؓ روایت ۵۹۱ مستدرک حاکم ج ۱ ص ۳۰٤، دارقطنی ج ۲ ص ۲٤، سنن الکبری ج ۳ ص ۳۱ کښې نقل کړې شوې دې او روایت ۵۹۲ مستدرک حاکم ج ۱ ص ۲۰٤، صحیح ابن حبان ج ۵ ص ۶۸ کښې تخریج کړې شوې دې.د ابن عباسؓ روایت ۵۹۳ طحاوی ج ۱ ص ۱۹۹ باب الوتر روایت ۵۹۴ عن عائشة طحاوی ج ۱ ص ۱۹۷ کښې تخریج کړې شوې دې.

**د درې رکعته وتر نه د نهی په روایاتو باندې د امام نیمویؒ توجیه: قال النیموی الخ**: د ابوهریرهؓ روایت ۵۹۲ کښې ﴿لا توتروا بثلاث﴾ کښې درې رکعاته د وتر صراحة نفی موجود ده امام نیمویؒ ﴿قال النیموی الخ﴾ څخه د دې په ځواب کښې فرمائی چه په دې حدیث کښې د ایتار معنی تهجد څخه د وتر د کولو ده او مطلب دا دې چه تهجد څخه د وترو نه په درې رکعتو باندې اکتفاء مه کوئ بلکه پنځه یا اووه رکعتونه یعنی کم از کم دوه رکعتونه تهجد او درې وتر یا څلور رکعت تهجد او درې رکعت وتر کوئ. د ابن عباسؓ روایت ﴿الوتر سبع او خمس وتحب ثلاثا بتیرا﴾ (وفی روایة وانی لا کره ان یکون ثلاثا بتیرا وفی لفظ ادنی الوتر خمس) کښې په دې معنی کښې ښه وضاحت موجود دې.

**د وتر د رکعاتو تعداد او بیان د مذاهبو:** د وترو د رکعاتو په تعداد کښې صحابه او تابعین او ائمه مجتهدینو ترمینځه اختلاف دې.

د ائمه ثلاثه په نزد وتر د یو رکعت نه تر اووه رکعتونو پورې جائز دی د دې نه زیات نشته او عام طور د دې حضراتو عمل دا دې چه په دوه سلامونه څخه درې رکعتونه ادا کوی دوه رکعتونه په یو سلام څخه او یو رکعت په یو سلام څخه د آئمه ثلاثه د مذاهبو نور تفصیل لاندې لیکلې شوې دې.

الف : علامه خطابی رحمه الله ذکر کړې دی چه عثمان بن عفان، سعد بن ابی وقاص، زید بن ثابت، ابو موسی اشعری، عبدالله بن عباس، عبدالله بن زبیر اود عائشه رضی الله عنهم په نزد د وترو یو رکعت دې، او د عطاء بن ابی رباح او سعید بن المسیب هم دا مذهب دې، د امام مالک رحمه الله په نزد صرف یو رکعت وتر کول مکروه دی، په مدونه کبری کښې دی:

''قال مالك: لاينبغي لاحد ان يوتر بواحدة ليس قبلها شئ لا فی حضر ولا فی سفر ولكن يصلی ركعتين ثم يسلم ثم يوتر بواحدة''۔

امام مالک رحمه الله فرمائی چه د وتر صرف یو رکعت کول چه د دې نه مخکښې هیڅ نه وی مناسب نه ده نه په سفر کښې او نه په حضر کښې، بلکه دوه رکعته کولو څخه دې سلام واړوی او د هغې نه پس دې یو رکعت اوکړی، دغه شان دې درې رکعته پوره کړی.

موطاء کښې دسعد بن ابی وقاص رضی الله عنه نه یو رکعت وتر والا اثر کولو نه پس امام مالک رحمه الله فرمائی : **وليس العمل على هذا عندنا ولكن ادنى الوتر ثلاث**. احکام الاحکام ج ۱ ص ۹۵ کښې دی. **( وظاهر مذهب مالک لا يوتر بركعة فردة هكذا من غير حاجة )** اهـ

ب : د امام شافعی رحمه الله په دې کښې درې اقوال دی، اول دا چه صرف یو رکعت هم جائز دې، دویم دا چه درې رکعتونه دی او په روضة کښې دی چه د امام شافعی رحمه الله په نزد ایتار سنت طاق عدد یعنی د یو نه یولسو پورې څخه حاصلیږی. دریم دا چه په دوه رکعتو باندې سلام واړوی د هغې نه روستو دې یو رکعت اوکړی. دغه شان دې درې رکعتونه پوره کړی.

ج : د امام احمد رحمه الله په نزد وتر کامل کم ازکم درې رکعتونه دی او یو رکعت هم جائز دې پس په میزان د شعرانی کښې د امام احمد او امام شافعی مذهب دا لیکلې شوې دې **( وادنى الكمال ثلاث ركعات )** اهـ د سفیان ثوری په نزد د درې نه تر یولسو پورې هر طاق عدد دې.

د احنافو په نزد د وتر درې رکعتونه دی، علامه عینی رحمه الله لیکی چه اکثر اهل علم هم دا خبره اختیار کړې ده او ابن بطال د مدینه د فقهاء سبعه یعنی سعید بن المسیب، عروه ابن الزبیر،

قاسم بن محمد ابوبکر بن عبد الرحمن، خارجه بن زید، عبید الله بن عبد الله او سلیمان بن یسار رحمهم الله هم دا قول ذکر کړې دې امام ترمذی رحمه الله فرمائی چه دا د صحابه کرامو رضی الله عنهم او تابعینو د یو جماعت قول دې، پس صاحب تمهید علامه ابن عبد البر لیکلی دی چه د صحابه کرامو رضی الله عنهم یو جماعت سیدنا عمر، علی، ابن مسعود، زید بن ثابت، ابی بن کعب او د انس رضی الله عنهم نه د وترو درې رکعته منقول دی.

**د ائمهٔ ثلاثه دلائل او د احنافو ځوابات:** ائمه ثلاثه د دې روایاتو نه استدلال کوی چه په هغې کښې ﴿**اوتر برکعة**﴾ نه واخله تر ﴿**اوتر بسبع**﴾ پورې الفاظ نقل شوې دی احناف د دې ځواب کښې وائی چه په روایاتو کښې په ایتار کښې په رکعة نه واخله تر ایتار ﴿**ثلاثة عشرة رکعة**﴾ وارد شوې دې په دې کښې درې واړو امامانو ذا تاویل کړې دې چه په دې کښې د ایتار نه مراد صلاة اللیل دې چه په هغې کښې درې رکعته وتر دی او باقی تهجد پس امام ترمذی رحمه الله د اسحاق بن راهویه قول نقل کړې دې: معنٰی ما روی أن النبی صلی الله علیه وسلم کان یوتر بثلاث عشرة قال (ای اسحاق) انما معناً انه کان یصلی مِن اللیل ثلاث عشرة رکعة مع الوتر فنسبت صلٰوة اللیل الی الوتر''

احناف حضرات وائی چه کومه توجیه درې امامانو د دیارلسو رکعتونو او په نهو رکعتو والا احادیثو کښې کړې ده، هم هغه توجیه مونږ په اووهٔ والا کښې هم کوو یعنی په دې اووهٔ کښې څلور رکعتونه تهجد وو او درې رکعتونه د وتر.

**په حدیث عائشه رضی الله عنها کښې د لا یجلس نه مراد:** خو احناف د دې په توجیه باندې د عائشې رضی الله عنها د روایت ۵۸۹ الفاظ ﴿ **لا یجلس فی شئ الا فی اخرها** ﴾ دا اشکال پیدا کیږی چه ددې نه خو پنځه رکعتونه په یو سلام بلکه په یو قعده څخه معلومیږی لهذا په دې کښې د احنافو پورته ذکر شوې توجیه نه چلیږی ځکه چه په دې حدیث کښې صلاة اللیل او وتر بخمس رکعات په صراحت څخه جدا بیان کړې شوې دې.

احنافو د دې حضراتو د دې خبرې مختلف ځوابونه ورکړې دی،

الف: په اصل کښې په دې کښې د درې رکعتو وترو څخه دوه رکعته د نفلو شامل دی او د ﴿ **لا یجلس** ﴾ نه مراد د جلوس طویل نفی ده کوم چه د دعا او ذکر لپاره وی د نفس قعدې نشته نو معمول به هم دا ده چه دعا د وترو نه پس نه شی کولې بلکه د نفلو نه پس کولې شی.

ب: علامه شبیر احمد عثمانی رحمه الله فتح الملهم ج ۱ ص ۲۹۱ کښې د دې په ځواب کښې فرمائی چه: د حدیث مطلب دا دې چه:

''ما كان يصلي شيئًا من هذه الصلوة جالسًا الا الركعتين الاخيرتين فانه كان يصليهما جالسًا''

**د علامه عثمانی د توجیه نور وضاحت**: د علامه عثمانی د کلام په رڼا کښې د دې توجه نور وضاحت دا دې چه رسول الله ﷺ د وترو نه پس نفلونه او بعض وخت د وتر نه مخکښې صلاة اللیل په ناسته کول. او د قیام فی الصلوة په ځائې قعود فی الصلوة به ئې اختیار فرمائیلو پس د رکعتین بعد الوتر جالسا کول نسائی ج ۱ ص ۲۵۳، کتاب قیام اللیل وتطوع النهار، **باب اباحة الصلاة بین الوتر وبین رکعتی الفجر**. کښې د عائشې ﷞ د روایت نه ثابت دې فرمائی ﴿ **كان يصلي ثلاث عشرة ركعة، تسع ركعات قائما يوتر فيها وركعتين جالسا اذا اراد ان يركع قام فركع وسجد ويفعل ذلك بعد الوتر الخ** ﴾ او بعض وخت د صلاة اللیل جالسا کول د عائشه ﷞ په یو بل روایت ځخه ثابت ده کوم چه صحیح بخاری (ج ۱ ص ۱۵۰) ابواب تقصیر الصلاة **باب اذا صلى قاعدا ثم صح او وجد خفة تمم ما بقي) لم تر رسول الله ﷺ يصلي صلاة الليل قاعدا قط حتى اسن فكان يقراء قاعدا حتى اذا اراد ان يركع قام ... الخ** .... د دې دواړو روایتونو د مجموعې نه معلومیږی چه رسول الله ﷺ به د وترو نه پس دوه رکعته نفل او بعض وخت صلوة اللیل هم جالسا ادا فرمائیل.

اوس په دې ځان پوهه کړئ چه ﴿ **خمس رکعات** ﴾ والا مبحوث عنها روایت کښې عائشه ﷞ دا بیانول غواړی چه هغه قعود کوم چه به رسول الله ﷺ بعض وخت د قیام په ځائې اختیار فرمائیلو په پنځه رکعتونو (د وتر درې او د نفلو دوه) کښې صرف آخری رکعتونو کښې به کیدل یعنی د وتر نه پس نفلونه نو رسول الله ﷺ جالسا ادا فرمائیلې وو خو وتر به ئې په قیام ځخه ادا فرمائیل: ﴿ **لان الوتر لا يجوز القعود فيه للقادر على القيام** ﴾ گویا د خمس رکعات د قعدو او د سلام نه انکار مقصود نه دې بلکه د دې اظهار کوی چه رکعات وتر به رسول الله ﷺ قائما ادا فرمائیل نه جالسا. (درس ترمذی)

(ج) د دې حدیث دریمه توجیه بعض حضراتو داسې بیان کړې دې چه دلته د جلوس نه مرا د جلوس تسلیم دې چه رسول الله ﷺ به جلوس خو فرمائیلو خو سلام به ئې صرف په پنځم رکعت باندې اړولو خو ددې توجیه د اختیارولو په صورت کښې دا به هم وئیل پکار وی چه د وترو درې رکعتونه او روستو دوه نوافل هم په یو سلام ځخه کولې شی حال دا چه د احنافو دا مسلک نه دې.

**د سعد بن هشام رحمه الله د روایت عن عائشة ﷞ نه د احنافو ځوابات**: د دې باب روایت (۵۹۰) کوم چه په صحیح مسلم کښې د عائشې ﷞ نه د سعد بن هشام روایت هم د احنافو د مسلک او د هغوی په توجیه باندې نه برابریږی د حدیث په تحت اللفظ ترجمه کښې د دې مضمون واضح کړې شوې دې

کوم چه د خپل ظاهر مضمون په لحاظ څخه ډير مشکل دي ځکه چه په ظاهر کښې د دې مفهوم خو دا دې چه په اتو رکعتونو کښې قعده صرف په اتم رکعت باندې شوې ده بله دا چه د تهجد او د وتر د مانځۀ په مينځ کښې په سلام باندې فاصله نه وی د دې هم احنافو ډير توجيهات کړې دی.

الف : علامه عينی رحمه الله ددې روايت يو توجيه کړې ده (عمده ج ۷ ص ۸ قبيل باب ساعات الوتر) هغه دا چه د سائل سوال د صلاة الوتر متعلق وو نه د صلاة الليل متعلق، په دې وجه عائشې رضی الله عنها هم د مقصود لحاظ ساتلو څخه د اختصار نه کار واخستلو او د وتر جلوس اوسلام خو ئې ذکر کړو او د باقی رکعتونو جلسات او سلام ئې نظر انداز کړل او د هغوی مقصد د صلاة الليل د جلسات او سلام انکار نشته بلکه د هغوی د بيان مقصود دا دې چه د صلاة الليل او وتر په مجموعه کښې چه په اتم رکعت باندې چه د وتر کوم دويم رکعت کيدلو په هغې کښې به رسول الله ﷺ جلوس مع التسليم نه فرمائيلو بلکه د هغې څخه به ئې يو رکعت يو ځائې کولو باندې درې رکعته پوره کول ګويا د نورو ډيرو احاديثو په شان په دې حديث کښې هم په رکعتين د وتر باندې د سلام نه اړول بيان کړې شوې دی پس په بل روايت کښې سعد بن هشام د عائشې رضی الله عنها نه نقل کوی ﴿ان رسول الله ﷺ كان لا يسلم فی ركعتی الوتر﴾ (نسائی ج ۱ ص ۲۴۸ باب كيف الوتر بثلاث)

ابوداؤد (ج۱ ص ۱۹۰) **باب فی صلوة الليل** کښې دا روايت په دې الفاظو څخه مروی دې:

''**كان يوتر بثمانی ركعات لا يجلس الا فی الثامنة ثم يقوم فيصلی ركعة اخرى لا يجلس الا فی الثامنة والتاسعة ولا يسلم الا فی التاسعة ثم يصلی ركعتين وهو جالس فتلك احدى عشرة ركعة يا بنیّ**''.

ب : علامه عثمانی رحمه الله په فتح الملهم (ج ۲ ص ۳۰۳) کښې د احنافو د طرف نه دا توجيه ذکر کړې ده چه اصل کښې په دې يولسو رکعتونو کښې درې رکعتونه دوتر او دوه رکعتونه د وترو نه پس بيانول مقصود دې او ﴿**لا يجلس فيها الا فی الثامنة**﴾ کښې مطلق د جلوس نفی نشته بلکه د داسې جلوس نفی ده چه د هغې نه پس سلام نه وی او مطلب دا دې چه د اتو رکعتو نه مخکښې مخکښې به رسول الله ﷺ په هره جلسه باندې سلام اړولو خو په اتم رکعت باندې به رسول الله ﷺ صرف جلوس فرمائيلو او د سلام نه بغير به د نهم رکعت لپاره اودريدلو کوم چه به د وترو دريم رکعت وو بيا به وتر ختمولو څخه رسول الله ﷺ دوه رکعته نفل ادا فرمائيل. د دې توجيه نه پس دا حديث هم د احنافو په مسلک باندې منطبق کيږی.

# بَابُ الْوِتْرِ بِرَكْعَةٍ

(۵۹۵) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا اَنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صَلٰوةِ اللَّيْلِ فَقَالَ: رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ''صَلٰوةُ اللَّيْلِ مَثْنٰى مَثْنٰى فَاِذَا خَشِيَ اَحَدُكُمُ الصُّبْحَ صَلّٰى رَكْعَةً وَّاحِدَةً تُوْتِرُ لَهٗ مَا قَدْ صَلّٰى''۔ رَوَاهُ الْجَمَاعَةُ۔

**باب یو رکعت وتر:** ۵۹۵: د سیدنا عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دې چه یو سړی د رسول الله ﷺ نه د شپې د مانځه په باره کښې پوښتنه اوکړه نو هغوی اوفرمائیل د شپې مونځ دوه دوه رکعته دې چه کله په تاسو کښې چا څخه د صبا کیدو ویره شی نو یو رکعت دې اوکړی، دا یو رکعت به د هغه ټول مونځ وتر کړی. دا حدیث د محدثینو جماعت نقل کړې دې.

(۵۹۶) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا: ''اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّيْ بِاللَّيْلِ اِحْدٰى عَشْرَةَ رَكْعَةً يُوْتِرُ مِنْهَا بِوَاحِدَةٍ فَاِذَا فَرَغَ مِنْهَا اضْطَجَعَ عَلٰى شِقِّهِ الْاَيْمَنِ حَتّٰى يَأْتِيَهُ الْمُؤَذِّنُ فَيُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ خَفِيْفَتَيْنِ''۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

۵۹۶: د ام المومنین عائشې رضی الله عنها نه روایت دې بیشکه رسول الله ﷺ به د شپې یولس رکعتونه ادا فرمائیل هغه به ئې په یو رکعت څخه وتر کړل، بیا چه به هغوی د دې نه فارغ شو نو په خپل ښی اړخ باندې به سملاستل، تر دې چه مؤذن به راغلو نو هغوی به مختصر شان دوه رکعتونه (د فجر د سنتو) ادا اوفرمائیل. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۵۹۷) وَعَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَوْتَرَ بِرَكْعَةٍ''۔ رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۵۹۷: قاسم بن محمد د ام المومنین عائشې رضی الله عنها نه روایت کړې دې چه رسول الله ﷺ به په یو رکعت څخه وتر ادا فرمائیل. دا حدیث دارقطنی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۵۹۸) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: ''كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْصِلُ بَيْنَ الْوِتْرِ وَالشَّفْعِ بِتَسْلِيْمَةٍ وَيُسْمِعُنَاهَا۔ رَوَاهُ اَحْمَدُ بِاِسْنَادٍ قَوِيٍّ۔

۵۹۸: سیدنا عبدالله بن عمر رضی الله عنهما فرمائی چه رسول الله ﷺ به د وتر او د دوه رکعتونو په مینځ کښې په سلام څخه فاصله فرمائیله او سلام به ئې مونږ ته اورولو. دا حدیث احمد په قوی سند څخه نقل کړې دې.

(۵۹۹) وَعَنْ اَبِیْ اَيُّوبَ الْاَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: ''قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ''اَلْوِتْرُ حَقٌّ وَّاجِبٌ عَلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ فَمَنْ اَحَبَّ اَنْ يُّوْتِرَ بِخَمْسٍ فَلْيَفْعَلْ وَمَنْ اَحَبَّ اَنْ يُّوْتِرَ بِثَلَاثٍ فَلْيَفْعَلْ وَمَنْ اَحَبَّ اَنْ يُّوْتِرَ بِوَاحِدَةٍ فَلْيَفْعَلْ''۔ رَوَاهُ الْاَرْبَعَةُ وَاٰخَرُوْنَ اِلَّا التِّرْمِذِيَّ وَالصَّوَابُ وَقْفُهٗ۔

۵۹۹: سيدنا ابو ايوب انصاری رضی اللہ عنہ فرمائی: رسول اللهﷺ اوفرمائيل: وتر خو د هر مسلمان لپاره ضروری دی واجب دی ځوک چه غواړی چه پنځه رکعته وتر اوکړی نو هغه دې اوکړی، او ځوک چه درې رکعته خوښوی نو داسې دې اوکړی او ځوک چه يو رکعت خوښوی نو هغه دې داسې اوکړی. دا حديث د ترمذی نه علاوه اصحاب اربعه او نورو محدثينو نقل کړې دې او صحيح دا ده چه دا حديث موقوف دې.

(۶۰۰) وَعَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا اَنَّهٗ كَانَ يَفْصِلُ بَيْنَ شَفْعِهٖ وَوِتْرِهٖ بِتَسْلِيْمَةٍ وَّاَخْبَرَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَفْعَلُ ذٰلِكَ''۔ رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَفِيْ اِسْنَادِهٖ مَقَالٌ۔

۶۰۰: سالم بن عبدالله بن عمر رضی اللہ عنہما روايت کوی چه ابن عمر رضی اللہ عنہما به په خپلو دوه رکعتونو او د خپل وتر ترمينځه په سلام ځخه فاصله کوله او ابن عمر رضی اللہ عنہما فرمائی چه رسول اللهﷺ به هم داسې فرمائيل. دا حديث طحاوی نقل کړې دې او د دې په اسناد کښې کلام دې.

(۶۰۱) وَعَنْ نَافِعٍ اَنَّ عَبْدَاللّٰهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا كَانَ يُسَلِّمُ بَيْنَ الرَّكْعَةِ وَالرَّكْعَتَيْنِ فِي الْوِتْرِ حَتّٰى يَأْمُرَ بِبَعْضِ حَاجَتِهٖ''۔ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ۔

۶۰۱: د نافع نه روايت دې چه عبدالله بن عمر رضی اللہ عنہما به د وتر د يو او دوه رکعتونو ترمينځه سلام اړولو تردې چه د خپل ضرورت متعلق به ئې (ځه وئيل غوښتل) نو هغه به ئې وئيل. دا حديث بخاری نقل کړې دې.

(۶۰۲) وَعَنْ بَكْرِ بْنِ عَبْدِاللّٰهِ الْمُزَنِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: ''صَلَّى ابْنُ عُمَرَ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ قَالَ: ''يَا غُلَامُ اَرْحِلْ لَنَا'' ثُمَّ قَامَ وَاَوْتَرَ بِرَكْعَةٍ''۔ رَوَاهُ سَعِيْدُ بْنُ مَنْصُوْرٍ وَقَالَ الْحَافِظُ فِي الْفَتْحِ بِاِسْنَادٍ صَحِيْحٍ۔

۶۰۲: بکر بن عبدالله المزنی فرمائی، ابن عمر رضی اللہ عنہما دوه رکعته مونځ ادا کړو، بيا ئې اووې اې غلام زمونږ لپاره په سورلئ باندې کيجاوه واچوه او بيا پاسيدو يو رکعت وترئې ادا کړو.

دا حديث سعيد بن منصور نقل کړې دې حافظ په فتح کښې وائی په صحيح سند ځخه.

(۶۰۳) وَعَنِ ابْنِ اَبِيْ مُلَيْكَةَ ﷺ قَالَ: ''اَوْتَرَ مُعَاوِيَةُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ بَعْدَ الْعِشَآءِ بِرَكْعَةٍ وَّعِنْدَهٗ مَوْلٰى لِابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا فَـاَتَى ابْنَ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا فَـاَخْبَرَهٗ فَقَالَ: ''دَعْهُ فَـاِنَّـهٗ قَدْ صَحِبَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ''۔ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ۔

۶۰۳: ابن ابی ملیکه فرمائی چه معاویه ﷺ د ماسخوتن د مانځه نه پس یو رکعت وتر اوکړو. هغوی څخه د ابن عباس ﷺ ازاد کړې شوې غلام هم وو. هغه ابن عباس ﷺ ته راغلو او دا خبره ئې ورته بیان کړه نو ابن عباس ﷺ اوفرمائیل: هغوی پریږده هغه د رسول الله ﷺ صحابی دې.
دا حدیث بخاری نقل کړې دې.

(۶۰۴) وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ التَّيْمِيِّ قَالَ: ''قُلْتُ: لَا يَغْلِبُنِي اللَّيْلَةَ عَلَى الْمَقَامِ اَحَدٌ فَقُمْتُ اُصَلِّيْ فَوَجَدْتُ حِسَّ رَجُلٍ مِّنْ خَلْفِ ظَهْرِيْ فَاِذَا عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ فَتَنَحَّيْتُ فَتَقَدَّمَ فَاسْتَفْتَحَ الْقُرْاٰنَ حَتّٰى خَتَمَ ثُمَّ رَكَعَ وَسَجَدَ'' فَقُلْتُ: ''اَوْهَمَ الشَّيْخُ فَلَمَّا صَلّٰى قُلْتُ يَآاَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ اِنَّمَا صَلَّيْتَ رَكْعَةً وَّاحِدَةً'' فَقَالَ: ''اَجَلْ هِيَ وِتْرِيْ''۔ رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَالدَّارَقُطْنِيُّ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

۶۰۴: عبدالرحمٰن التیمی وائی ما (خپل زړه کښې) اووې نن به تهجدو کښې اودریدو ته زما نه څوک نه شی مخکښې کیدې، زه اودریدم او مونځ مې کولو ما د ځان نه شاته د چا د خپو آواز واوریدلو نو هغه عثمان بن عفان ﷺ وو زه د هغوی د خاطره یو طرف ته شوم، هغوی وړاندې شو او قرآن کریم ئې شروع کړو تردې چه پوره قرآن کریم ئې ختم کړو، بیا ئې رکوع او سجده اوکړه، ما اووې د بوډا وهم پیدا شوې دې، چه کله هغوی مونځ اوکړو نو ما اووې اې امیر المومنین! تاسو خو یو رکعت کړې دې هغوی اوفرمائیل دا زما وتر دی. دا حدیث دارقطنی او طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۶۰۵) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَلِمَةَ قَالَ: ''اَمَّنَا سَعْدُ بْنُ اَبِيْ وَقَّاصٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فِيْ صَلٰوةِ الْعِشَاءِ الْاٰخِرَةِ فَلَـمَّا انْصَرَفَ تَنَحّٰى فِيْ نَاحِيَةِ الْمَسْجِدِ فَصَلّٰى رَكْعَةً فَاتَّبَعْتُـهٗ فَاَخَذْتُ بِيَدِهٖ فَقُلْتُ: ''يَآاَبَا اِسْحٰقَ مَا هٰذِهِ الرَّكْعَةُ'' فَقَالَ: ''وِتْرًا اَنَامُ عَلَـيْهِ'' قَالَ عَمْرٌو: ''فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِمُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ فَقَالَ: ''كَانَ يُوْتِرُ بِرَكْعَةٍ يَعْنِيْ سَعْدًا''۔ رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

۶۰۵: عبدالله بن سلمه فرمائی: سعد بن ابی وقاص ﷺ مونږ ته د ماسخوتن د مانځه امامت اوکړو چه کله هغوی سلام واړولو نو د مسجد په ګوټ کښې ئې یو رکعت اوکړو، زه هم په هغوی پسې شوم ما د هغوی لاس اونیولو اې ابو اسحق! دا یو رکعت څه دی؟ هغوی اوفرمائیل: وتر دی، زه دا اوکړم او اوده شم، عمرو بن مرة کوم چه د عبدالله بن سلمه په حدیث کښې شاګرد دې

فرمائی چه ما دا خبره د سعد رضی الله عنه ځوئی مصعب ته بیان کړه نو هغوی اوفرمائیل چه سعد رضی الله عنه به یو رکعت وتر کول. دا حدیث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۶۰۶) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ ثَعْلَبَةَ بْنِ صَغِيْرٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ مَسَحَ وَجْهَهُ زَمَنَ الْفَتْحِ اَنَّهُ رَاٰى سَعْدَ بْنَ اَبِيْ وَقَّاصٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَكَانَ سَعْدٌ قَدْ شَهِدَ بَدْرًا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوْتِرُ بِوَاحِدَ بَعْدَ صَلٰوةِ الْعِشَآءِ لَا يَزِيْدُ عَلَيْهَا حَتّٰى يَقُوْمَ مِنْ جَوْفِ اللَّيْلِ''. رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي الْمَعْرِفَةِ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

۶۰۲ : د عبد الله بن ثعلبه بن صغیر رضی الله عنه د چا په مخ باندې چه رسول الله ﷺ د فتح مکه په ورځ خپل لاس مبارک راښکلې وو، نه روایت دې چه هغوی سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه کوم چه د رسول الله ﷺ څخه یوځائې بدر ته حاضر شوې وو، د ماسخوتن د مانځه نه پس یو رکعت وتر کولو باندې اولیدو، سعد رضی الله عنه به نیمه شپه د (تهجدو لپاره) اودریدلو پورې د دې نه زیات مونځ نه کولو.

دا حدیث بیهقی په معرفة کښې نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې. امام نیموی فرمائی په دې باب کښې نور آثار هم شته، په هغې کښې اکثر د تنقید نه خالی نه دی (یعنی په اکثر باندې کلام دې) په معامله کښې گنجائش دې خو افضل دا ده چه نفل اوکړې شی او بیا په یو سلام څخه درې رکعته وتر ادا کړې شی.

**تشریح**>(۵۹۵ نه ۶۰۲ پورې) : د دې باب په انعقاد څخه د هغه حضراتو د دلائلو بیان دې کوم چه د یو رکعت وتر قائل دی د دې باب د ټولو روایاتو په ظاهر کښې مدلول رکعت واحد دې.

**د یو رکعت د قائلینو دلائل او د احنافو ځوابات**: ۱: د ابن عمر رضی الله عنهما د روایت ۵۹۵ په اول جزء ﴿ **صلوة اللیل مثنی مثنی الخ** ﴾ مطلب دا دې چه په شپه کښې کیدونکې نفل مونځونه دې دوه دوه رکعته اوکړې شی، امام شافعی، امام احمد او امام ابویوسف رحمهم الله د دې حدیث د وجې نه وائی چه د هر دوه رکعتو نه پس دې سلام واړولې شی، امام شافعی رحمه الله د دې روایت نه استدلال کولو څخه وائی چه د شپې په مانځه کښې مشغولیدونکې سړی چه کله دا اوګوری چه شپه ختمیدونکې ده او صبا راختونکې دې نو هغه دې د دې مونځونو نه پس یو رکعت اوکړی چه دا یو رکعت اول کړې شوې ټول مونځ طاق کړی دغه شان دا حدیث د امام شافعی رحمه الله دلیل دې ځکه چه د هغوی په نزد وتر یو رکعت دې.

الف : امام طحاوی رحمه الله د دې په ځواب کښې ﴿ **صلی رکعة واحدة** ﴾ مطلب بیانولو څخه وائی چه یو رکعت دې داسې اوکړی چه د هغې نه مخکښې دوه رکعتونه اوکړی چه دا رکعت اول شفع

يعنى ددې يو رکعت نه مخکښې کړې شوې دوه رکعتونه طاق کړى ګويا يو رکعت دې بېل اونکړې شى بلکه دواړو رکعتونو څخه دې يو ځائې اوکړې شى. (مظاهر حق)

ب : علامه ابن الهمام فرمائى چه د دې حديث نه خو دا چيرته هم نه ثابتيږى چه د وتر يو رکعت دې ځانله په تکبير تحريمه څخه اوکړې شى لهذا په دې څخه د وتر په يو رکعت کيدو باندې استدلال کول صحيح نه دى. (مظاهر حق)

ج : بهر حال هغه ټول روايات کوم چه په ظاهر کښې په ﴿ رکعة واحدة ﴾ باندې دلالت کوى نو هغې نه استدلال صحيح نه دې ځکه چه ددې رواياتو نه د يو رکعت ثبوت نشته بلکه مطلب دا دې چه ﴿ تضم رکعة واحدة ﴾ لهذا اول دوه رکعتونه به هم وتر شى. پس حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح البارى ج ۱ ص ۱۳۳ کښې ليکى.

''واستدل بقوله صلى الله تعالٰى عليه وسلم ''صلّى ركعة واحدة'' علىٰ أن فصل ألوتر افضل من وصله وتعقب بأنه ليس بصريح بالفصل فيحتمل أن يريد بقوله صلى ركعة واحدة '' اى مضافة الى الركعتين بما مضى (وقال الطحاوى (ج: ۱،ص: ۱۳۶) ويحتمل أن يكون ركعة مع شفع قد تقدمها وذٰلك كله وتر فتكون تلك الركعة توتر الشفع المقدم لها)

او په التلخيص الحبير ص ۱۱۶ کښې ليکى :

قوله (الرافعى الشافعى رحمه الله) : واظب النبى صلى الله عليه وسلم على الوتر بركعة واحدة فالمواظبة ردّها ابن الصلاح وقال: ''لانعلم فى روايات الوتر مع كثرتها أنه عليه السّلام اوتر بواحدة فحسب''۔

شاه صاحب رحمه الله په العرف الشذى ص ۲۰۴ کښې فرمائى :

'' قال القاضى ابو الطيب الشافعى رحمه الله بأن الركعة الواحدة مكروهة أخرج ابن عبد البر فى التمهيد قال: حدثنا عبدالله بن محمد بن يوسف ثنا احمد بن محمد بن اسمٰعيل ثنا ابى ثنا الحسن بن سليمان ثنا عثمان بن محمد بن عثمان بن ربيعة ثنا عبد العزيز بن محمد الدراوردى عن عمرو بن يحيٰى عن ابيه عن ابى سعيد ن الخدرى رضى الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم نهى عن البتيراء ان يصلى الرجل ركعة واحدة يوتر بها ـ(راجع نصب الراية ج: ۲،ص: ۱۷۲)

د : يو توجيه دا کړې شوې ده چه د رکعة واحدة والا رواياتو کښې د رسول الله ﷺ د اولو حالتونو ذکر دې آخرى فعل د رسول الله ﷺ په درې رکعتونو باندې وو کوم چه په حضرات صحابه کرامو رضى الله عنهم کښې مشهور او ظاهر دې چه د امت لپاره د رسول الله ﷺ هم هغه فعل حجت او دليل جوړيدې شى کوم ئې چه په آخره کښې عملى کړې وى. (مظاهر حق)

**په نسخ د تخيير باندې اجماع**: د ابو ايوب انصاري رضی الله عنه د روايت ۵۹۹ د وجې نه د احنافو په توجيه ايتار باندې اشکال راځی ځکه چه په دې حديث کښې وتر کوونکی ته د يو نه واخله تر د اووۀ رکعتو (نسائی ج ۱ ص ۲۴۹) پورې د وتر د کولو اختيار حاصل دې لهذا په ﴿ ان يوتر بواحدة ﴾ کښې د ايتار توجيه نه شی چليدې هغه توجيه دا ده چه د ماقبل په شفع کښې يو رکعت يو ځائې کولو څخه درې رکعتونه پوره کړې شی ځکه چه د احنافو د توجيه په رڼړا کښې به د ﴿ ان يوتر بواحدة ﴾ مطلب دا وی چه ﴿ ان يوتر بثلاث ﴾ حال دا چه ﴿ ان يوتر بثلاث ﴾ خو په دې حديث کښې مستقلا ذکر کړې شوې دې او دواړه ﴿ ان يوتر بواحدة او ان يوتر بثلاث ﴾ تقابل په دې باندې دال دې چه په دې کښې هريو د بل غير دې.

امام طحاوی رحمه الله په (شرح معانی الاثار ج ۱ ص ۱۴۲ **باب الوتر**) کښې د دې په ځواب کښې فرمائی چه د هغې حاصل دا دې چه د دې حديث نه چه کوم تخيير په فهم کښې راځی د امت محمديه صلی الله عليه وسلم اجماع د دې خلاف ده **فدل الاجماع على نسخ هذا**.... د اجمال تفصيل په مطولات کښې موجود دې د آثار السنن په وړاندې باب **باب الوتر بثلاث رکعات** کښې هم د هغې يو جهلک کتلې کيدې شی بالفرض د دې رواياتو او اثارو نه که اجماع نه وی نو هم دا خبره ضرور ثابتيږی چه د جمهور صحابه کرامو او تابعينو مسلک د احنافو مطابق دې.

**د ابن عمر رضی الله عنهما مشاهده و عمل او د احنافو توجيهات**: ددې باب روايت ۵۹۸، ۲۰۰، ۲۰۱ او ۲۰۲ کښې د ابن عمر رضی الله عنهما متعلق د هغوی عمل او مشاهده بيان کړې شوې ده.

﴿ **ان النبی صلی الله عليه وسلم کان يفعل ذلک** ﴾ د سالم بن عبدالله بن عمر روايت ۲۰۰ دا الفاظ د ابن عمر رضی الله عنهما په مشاهده او عمل رسول صلی الله عليه وسلم باندې دال دی. خو حقيقت دا دې چه په صحابه کرامو کښې صرف د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه مروی دی چه هغوی به وتر په درې رکعتونو او دوه سلامونو څخه کول او دا عمل به ئې د رسول الله صلی الله عليه وسلم طرف ته منسوب کولو، خو د تحقيق نه دا معلوميږی چه هغوی به رسول الله صلی الله عليه وسلم داسې په مانځه کولو باندې نه وی ليدلې پس دا چيرته هم ثابت نه دی چه هغوی دا عمل د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه زده کړې وی يا رسول الله صلی الله عليه وسلم هغوی ته دې تلقين فرمائيلې وی بلکه هغه په صحيح مسلم کښې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د ارشاد راوی دې: ﴿ **الوتر رکعة من اخر الليل** ﴾ لهذا ظاهره دا ده چه هغوی به د دې ارشاد مطلب دا اوګڼړلو چه يو رکعت دې منفردا اوکړې شی او چونکه درې رکعته وتر هم د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه ثابت وو لهذا په دواړو کښې هغوی تطبيق داسې اوکړو چه دا درې رکعتونه دې په دوه سلامونو څخه اوکړې شی لهذا دا د هغوی خپل اجتهاد دې

﴿ كان رسول الله ﷺ يفصل بين الوتر والشفع بتسليمة ويسمعناها ﴾

خو د مسند احمد د دې روایت نه معلومیږي چه ابن عمر رضي الله عنهما به هم د رسول الله ﷺ د صلوة الوتر مشاهده کړې وه. (قال النیموي رواه احمد باسناد قوي) خو د دې په ځواب کښې دا وئیلې کیدې شي چه دا روایت فصل د ابن عمر رضي الله عنهما تفرد دې او د ابن مسعود، ابي بن کعب، انس او عائشې او هم دغه شان د نور جلیل القدر صحابه کرام رضي الله عنهم په یو سلام ځخه د درې رکعتو وترو قائل او د رسول الله ﷺ نه ناقل دی لهذا د هغوی روایاتو له به ترجیح وي. او حدیث النهي عن البتیراء کوم چه په متن کښې وړاندې راروان دې هغه د ابن عمر رضي الله عنهما د روایت معارض دې او حدیث د بتیراء قولي دې او د ابن عمر رضي الله عنهما روایت فعلي دې او قولي روایت بالاتفاق په فعلي باندې مقدم وي د دې نه علاوه د ابن عمر رضي الله عنهما روایت مبیح دې او بتیراء محرم، او کله چه په مبیح او محرم کښې تعارض راشي نو محرم ته به ترجیح وي لهذا د دې دواړو خبرو په رڼا کښې د ابن عمر رضي الله عنهما روایت زمونږ خلاف حجت نه شي کیدې.

**د معاویه رضي الله عنه د عمل نه د احنافو توجیه:** د ابن ابي ملیکة روایت ۲۰۳ کښې د امیر معاویه رضي الله عنه عمل د یو رکعت وتر منقول دې چه د هغې نه په ظاهره دا معلومیږي چه معاویه رضي الله عنه به د وتر یو رکعت کړې وي چه هغې ځخه به کتونکو تعجب کړې وي چه نور صحابه کرام رضي الله عنهم خو د وترو درې رکعتونه کوي نو دوي یو رکعت ولې کوي بیا هغوی هم د دې تذکره ابن عباس رضي الله عنهما ته اوکړه خو دا هم احتمال کیدې شي چه معاویه رضي الله عنه د اول کړې شوې یوځائې دوه رکعتو ځخه د وتر یو رکعت کړې وي په دې صورت کښې کتونکو په دې وجه اعتراض اوکړو چه معاویه رضي الله عنه به صرف په وتر باندې اکتفاء کړې وي او د ماسخوتن مونځ یا د تهجد مونځ به ئې پریخودلې وي.(مظاهر حق)

**په وسعت امر باندې د مولانا محمد زکریا تقریر:** ﴿ والامر واسع ﴾ د وسعت امر نه مراد دا دې که مفصولاً ئې اوکړي یا موصولا په دې سلسله کښې د توضیح مسئلې لپاره د شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا صاحب تقریر د اقتباس جامع او نافع دې.

* احناف وائي چه وتر درې رکعته په یو سلام ځخه دي، یعنې دوه رکعتو کولو ځخه دې سلام اړولو نه بغیر تکبیر وئیلو ځخه دې اودریږي، مالکیان وائي صرف یو رکعت وتر کول مکروه دي، اول دې دوه رکعته کولو ځخه سلام واړوي بیا دې یو رکعت وتر اوکړي، ګویا اول دوه رکعته کول ضروري دي، شوافع او حنابله د وتر دوه قسمونه کوي ۱: مفصول (بیل) ۲: موصول (یوځائې)

مفصول دې صرف یو رکعت وتر کوي یا که د مخکښې نه نفل کوي نو په آخر کښې دې مستقل طور یو رکعت اوکړي. د موصول په تفصیل کښې اختلاف دې شوافع وائي، موصول کم از

كم درې ركعتونه، بيا پنځه، اووه، نهه او يولس دى. اوس دې په دې كښې يا خو په هر دوه ركعتو باندې سلام اړوى يا دې كوى او په آخره كښې دې سلام واړوى

حنابله وائى وتر كه پنځه دى نو صرف په آخره كښې دې كينى او كه اووه يا نهه دى نو دوباره دې كينى او په آخر كښې دې سلام واړوى او كه درې او يولس دى نو په هر دوه ركعتونو باندې دې سلام واړوى (تقرير بخارى ج ۳ ص ۱۹۳)

## بَابُ الْوِتْرِ بِثَلَاثِ رَكْعَاتٍ

(۶۰۷) عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَنَّهُ سَأَلَ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا كَيْفَ كَانَتْ صَلٰوةُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ رَمَضَانَ؟ فَقَالَتْ: ''مَا كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَزِيْدُ فِيْ رَمَضَانَ وَلَا فِيْ غَيْرِهٖ عَلٰى إِحْدٰى عَشَرَةَ رَكْعَةً يُصَلِّيْ أَرْبَعًا فَلَا تَسْأَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُوْلِهِنَّ ثُمَّ يُصَلِّيْ أَرْبَعًا فَلَا تَسْأَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُوْلِهِنَّ ثُمَّ يُصَلِّيْ ثَلَاثًا قَالَتْ عَائِشَةُ: ''فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَتَنَامُ قَبْلَ أَنْ تُوْتِرَ؟ فَقَالَ: ''يَا عَائِشَةُ إِنَّ عَيْنَيَّ تَنَامَانِ وَلَا يَنَامُ قَلْبِيْ''. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

**باب درې ركعته وتر:** ۶۰۷: د ابوسلمه عبدالرحمٰن نه روايت دې چه ما ام المومنين عائشې ﷞ نه پوښتنه اوكړه، رسول اللهﷺ په رمضان او غير رمضان كښې څنګه مونځ كولو، نو هغوى اووې: رسول اللهﷺ به په رمضان او غير رمضان كښې د يولسو ركعتو نه زيات نه ادا كول. هغوى به څلور ركعته كول نو د هغې د حسن او اوږدوالى پوښتنه مه كوه. بيا به ئې څلور ركعته كول، نو د هغې د حسن او اوږدوالى پوښتنه مه كوه، بيا به هغوى درې ركعته كول، ام المومنين عائشې ﷞ اوفرمائيل ما عرض اوكړو يا رسول اللهﷺ آيا تاسو د وتر كولو نه مخكښې اوده كيږئ؟ نو رسول اللهﷺ اوفرمائيل: اې عائشې! بيشكه زما سترګې اوده كيږى او زما زړه نه اوده كيږى.

دا حديث بخارى نقل كړې دې.

(۶۰۸) وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّهُ رَقَدَ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَيْقَظَ فَتَسَوَّكَ وَتَوَضَّأَ وَهُوَ يَقُوْلُ: {إِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَاٰيٰتٍ لِّأُولِي الْأَلْبَابِ} فَقَرَأَ هٰؤُلَاءِ الْاٰيٰتِ حَتّٰى خَتَمَ السُّوْرَةَ ثُمَّ قَامَ فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ فَأَطَالَ فِيْهِمَا الْقِيَامَ وَالرُّكُوْعَ وَالسُّجُوْدَ ثُمَّ انْصَرَفَ فَنَامَ حَتّٰى نَفَخَ ثُمَّ فَعَلَ ذٰلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ سِتَّ رَكْعَاتٍ كُلُّ ذٰلِكَ يَسْتَاكُ وَيَتَوَضَّأُ وَيَقْرَأُ هٰؤُلَاءِ الْاٰيٰتِ ثُمَّ أَوْتَرَ بِثَلَاثٍ''. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

۶۰۸: على بن عبدالله بن عباس﷠ د عبدالله بن عباس﷠ نه بيان اوكړو چه هغوى (ابن عباس﷠) د رسول اللهﷺ څخه اوده وو بيا هغوى بيدار شو، مسواك ئې اوكړو او دا آيت تلاوت

کولو څخه ئې اودس اوکړو {اِنَّ فِیْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافِ الَّیْلِ وَالنَّهَارِ لَاٰیٰتٍ لِّاُولِی الْاَلْبَابِ۝}
(بیشکه د اسمانونو او زمکې په پیدا کولو کښې او د شپې او د ورځې په بدلیدلو کښې یقینا د پوهانو لپاره نخښې موجود دي).

تردې چه رسول الله ﷺ سورة مبارک ختم کړو، بیا هغوی اودریدل او دوه رکعتونه ئې ادا اوفرمائیل، په دوه رکعتو کښې ئې قیام رکوع او سجود اوږده کړل بیا ئې سلام واړولو او اوده شو، تردې چه هغوی خرړارې اوکړو، بیا هغوی دغه شان درې کرته شپږ رکعتونه ادا اوفرمائیل. په دې کښې به هغوی هر کرت مسواک کولو، اودس به ئې فرمائیلو، او هم دا آیت کریمه به ئې تلاوت فرمائیلو. دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

**(۶۰۹) وَعَنْ سَعِیْدِ بْنِ جُبَیْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ کَانَ یُوْتِرُ بِـــ {سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰی وَقُلْ یٰاَیُّهَا الْکٰفِرُوْنَ وَقُلْ هُوَاللّٰهُ اَحَدٌ} رَوَاهُ الْخَمْسَةُ اِلَّا اَبَادَاوُدَ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔**

۶۰۹: سعید بن جبیر د ابن عباس رضی الله عنهما نه بیان اوکړو چه رسول الله ﷺ به په **﴿ سبح اسم ربک الاعلی، قل یا ایها الکفرون، او قل هو الله احد ﴾** څخه وتر ادا فرمائیل.

دا حدیث د ابوداؤد نه علاوه اصحاب خمسه نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

**(۶۱۰) وَعَنْ اُبَیِّ بْنِ کَعْبٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: ''کَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یُوْتِرُ بِـــ {سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰی وَقُلْ یٰاَیُّهَا الْکٰفِرُوْنَ وَقُلْ هُوَاللّٰهُ اَحَدٌ} ۔رَوَاهُ الْخَمْسَةُ اِلَّا التِّرْمَذِیَّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِیْحٌ۔**

۶۱۰: سیدنا ابی بن کعب رضی الله عنه اوفرمائیل: رسول الله ﷺ به په **﴿ سبح اسم ربک الاعلی ﴾، ﴿ قل یاایها الکفرون ﴾** او **﴿ قل هو الله احد ﴾** څخه وتر ادا فرمائیل.

دا حدیث د ترمذی نه علاوه اصحاب خمسه نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

**(۶۱۱) وَعَنْهُ قَالَ: ''کَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقْرَاُ فِی الْوِتْرِ بِـــ {سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰی} وَ فِی الرَّکْعَةِ الثَّانِیَةِ بِـــ {قُلْ یٰاَیُّهَا الْکٰفِرُوْنَ} وَفِی الثَّالِثَةِ بِـــ {قُلْ هُوَاللّٰهُ اَحَدٌ} وَلَا یُسَلِّمُ اِلَّا فِیْ اٰخِرِهِنَّ وَیَقُوْلُ یعنی بَعْدَ التَّسْلِیْمِ ''سُبْحٰنَ الْمَلِكِ الْقُدُّوْسِ'' ثَلَاثًا۔ رَوَاهُ النَّسَآئِیُّ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔**

۶۱۱: سیدنا ابی بن کعب رضی الله عنه فرمائی رسول الله ﷺ به په وتر کښې **﴿سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰی﴾** او په دویم رکعت کښې **﴿قُلْ یٰاَیُّهَا الْکٰفِرُوْنَ﴾** او دریم رکعت کښې **﴿قُلْ هُوَاللّٰهُ اَحَدٌ﴾** تلاوت فرمائیل او سلام به ئې صرف په آخر کښې اړولو او د سلام نه پس به ئې درې کرته دا دعا کوله: **﴿ سُبْحٰنَ الْمَلِكِ الْقُدُّوْسِ ﴾** (د ټولو عیبونو نه پاک دې پاک بادشاه) دا حدیث نسائی نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(٦١٢) وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ اَبْزٰى اَنَّهُ صَلّٰى مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْوِتْرَ فَقَرَأَ فِي الْاُوْلٰى بِـ {سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰى} وَفِي الثَّانِيَةِ {قُلْ يٰاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ} وَفِي الثَّالِثَةِ {قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ} فَلَمَّا فَرَغَ قَالَ: ''سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوْسِ'' ثَلَاثًا يَمُدُّ صَوْتَهُ بِالثَّالِثَةِ ۔رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَاَحْمَدُ وَعَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ وَّالنَّسَائِيُّ وَاِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ۔

۶۱۲: دسیدنا عبد الرحمن بن ابزی ﷜ نه روایت دې چه ما رسول الله ﷺ څخه وتر اوکړل، هغوی په اول رکعت کښې ﴿ سبح اسم ربک الاعلی ﴾ په دویم رکعت ﴿ قل یا ایها الکفرون ﴾ او په دریم رکعت کښې ﴿ قل هو الله احد ﴾ تلاوت اوفرمائیلو. چه کله هغوی د مانځه نه فارغ شو، نو هغوی درې کرته دا کلمات اوئیل ﴿ سبحن الملک القدوس ﴾ په دریم کرت به ئې خپل آواز بلند اوفرمائیلو.
دا حدیث طحاوی، احمد، عبد بن حمید او نسائی نقل کړې دې، د دې اسناد صحیح دې.

(٦١٣) وَعَنْ زُرَارَةَ بْنِ اَوْفٰى عَنْ سَعْدِ بْنِ هِشَامٍ اَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا حَدَّثَتْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لَا يُسَلِّمُ فِيْ رَكْعَتَيِ الْوِتْرِ''۔رَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَاٰخَرُوْنَ وَاِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ۔

۶۱۳: زرارة بن اوفی د سعد بن هشام نه روایت کړې دې چه ام المومنین عائشې صدیقې ﷝ هغوی ته حدیث بیان کړو چه رسول الله ﷺ به د وتر په دوه رکعتو کښې سلام نه اړولو. دا حدیث نسائی او نورو محدثینو نقل کړی دی او د دې اسناد صحیح دې.

(٦١٤) وَعَنِ الْحَسَنِ عَنْ سَعْدِ بْنِ هِشَامٍ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا صَلَّى الْعِشَاءَ دَخَلَ الْمَنْزِلَ ثُمَّ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ صَلّٰى بَعْدَهُمَا رَكْعَتَيْنِ اَطْوَلَ مِنْهُمَا ثُمَّ اَوْتَرَ بِثَلَاثٍ لَا يَفْصِلُ بَيْنَهُنَّ۔رَوَاهُ اَحْمَدُ بِاِسْنَادٍ يُعْتَبَرُ بِهِ۔

۶۱۴: حسن په واسطې د سعد بن هشام، ام المومنین عائشې ﷝ صدیقې نه بیان اوکړو چه رسول الله ﷺ به کله ذ ماسخوتن مونځ اوکړو، نو کور ته ئې تشریف راوړلو، بیا ئې دوه رکعته اوکړل، بیا به ددې نه اوږدهٔ دوه رکعته ادا فرمائیل، بیا به رسول الله ﷺ درې رکعته وتر ادا فرمائیل، رسول الله ﷺ به دهغې ترمینځه فاصله نه فرمائیله. دا حدیث احمد په معتبر سند څخه نقل کړې دې.

(٦١٥) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ اَبِيْ قَيْسٍ قَالَ سَاَلْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا: بِكَمْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوْتِرُ؟ قَالَتْ: ''بِاَرْبَعٍ وَّثَلَاثٍ وَّسِتٍّ وَّثَلَاثٍ وَّثَمَانٍ وَّثَلَاثٍ وَّعَشَرَةٍ وَّثَلَاثٍ وَّلَمْ يَكُنْ يُوْتِرُ بِاَكْثَرَ مِنْ ثَلَاثَ عَشَرَةَ وَلَا اَنْقَصَ مِنْ سَبْعٍ۔رَوَاهُ اَحْمَدُ وَاَبُوْدَاوُدَ وَالطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهُ حَسَنٌ۔

۶۱۵: عبدالله بن ابی قیس فرمائی: ما د ام المومنین عائشې ﷝ نه پوښتنه اوکړه چه رسول الله ﷺ

به په خو مره رکعتو څخه وتر ادا فرمائيل؟ ام المومنين اوفرمائيل څلور او درې، شپږ او درې، اته او درې، لس او درې، او هغوی به د ديارلسو رکعتو نه زيات او د اووهٔ رکعتو نه کم وتر نه کول دا حديث احمد ، ابوداؤد او طحاوی نقل کړی دی او د دې اسناد حسن دې.

(۶۱۶) وَعَنْ عَبْدِ الْعَزِيْزِ بْنِ جُرَيْجٍ قَالَ: ''سَأَلْتُ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا أُمَّ الْمُؤْمِنِيْنَ بِأَيِّ شَيْئٍ كَانَ يُوْتِرُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: ''كَانَ يَقْرَاءُ فِي الْأُوْلٰى بِـــ {سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلٰى} وَفِي الثَّانِيَةِ بِـــ {قُلْ يٰٓأَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ} وَفِي الثَّالِثَةِ بِـــ {قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ} وَالْمُعَوِّذَتَيْنِ''. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالْأَرْبَعَةُ إِلَّا النَّسَآئِيَّ وَإِسْنَادُهُ حَسَنٌ.

۲۱۶ : عبدالعزيز بن جريج رحمه الله فرمائی : ما د ام المومنين عائشې رضي الله عنها نه پوښتنه اوکړه، رسول الله ﷺ به کوم څيز (سورة) څخه وتر ادا اوفرمائيل. هغوی اوفرمائيل : هغوی به په اول رکعت کښې ﴿ سبح اسم ربک الاعلی ﴾ او په دويم رکعت کښې ﴿ قل يآايها الكفرون ﴾ او په دريم رکعت کښې ﴿ قل هو الله احد ﴾ او ﴿ معوذتين ﴾ (سورة الفلق او سورة الناس) تلاوت اوفرمائيلو.

دا حديث د احمد او نسائی نه علاوه اصحاب اربعه نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۶۱۷) وَعَنْ عَمْرَةَ عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُوْتِرُ بِثَلَاثٍ يَقْرَاءُ فِي الرَّكْعَةِ الْأُوْلٰى بِـــ {سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلٰى} وَفِي الثَّانِيَةِ {قُلْ يٰٓأَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ} وَفِي الثَّالِثَةِ {قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ} وَ{قُلْ أَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ وَقُلْ أَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ} رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ وَالطَّحَاوِيُّ وَصَحَّحَهُ.

۲۱۷ : عمرة په واسطه د ام المومنين عائشه بيان کړې دې چه رسول الله ﷺ به درې رکعته وتر ادا فرمائيل، په اول رکعت کښې به ئې ﴿ سبح اسم ربک الاعلی ﴾ په دويم کښې ﴿ قل يا ايها الكفرون ﴾ او دريم رکعت کښې ﴿ قل هو الله احد ﴾، ﴿ اعوذ برب الفلق ﴾ او ﴿ قل اعوذ برب الناس ﴾ تلاوت فرمائيلو.

دا حديث دارقطنی او طحاوی نقل کړې دې، طحاوی دې ته صحيح وئيلې دې.

(۶۱۸) وَعَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ رضي الله عنهما قَالَ: ''دَفَنَّا أَبَا بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ لَيْلًا فَقَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ''إِنِّيْ لَمْ أُوْتِرْ فَقَامَ وَصَفَفْنَا وَرَآءَهٗ فَصَلّٰى بِنَا ثَلَاثَ رَكْعَاتٍ لَمْ يُسَلِّمْ إِلَّا فِيْ آخِرِهِنَّ''. أَخْرَجَهُ الطَّحَاوِيُّ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

۲۱۸ : مسور بن مخرمه فرمائی : مونږ ابوبکرصديق رضي الله عنه د شپې دفن کړو نو ما عمر رضي الله عنه ته اووې ما وتر نه دی کړی هغوی اودريدل او مونږ په هغوی پسې شاته صفونه جوړ کړل، هغوی مونږ ته درې رکعته وتر راکړل ، سلام ئې صرف په آخر کښې واړولو. دا حديث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(۶۱۹) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: ''اَلْوِتْرُ ثَلَاثٌ كَوِتْرِ النَّهَارِ صَلٰوةِ الْمَغْرِبِ''۔ رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۶۱۹: عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی: وتر درې رکعتونه دی لکه چه د ورځې وتر د مغرب مونځ دې. دا حدیث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې

(۶۲۰) وَعَنْ ثَابِتٍ قَالَ: ''صَلّٰى بِيْ اَنَسٌ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ الْوِتْرَ وَاَنَا عَنْ يَّمِيْنِهٖ وَاُمُّ وَلَدِهٖ خَلْفَنَا ثَلَاثَ رَكْعَاتٍ لَمْ يُسَلِّمْ اِلَّا فِيْ اٰخِرِهِنَّ ظَنَنْتُ اَنَّهٗ يُرِيْدُ اَنْ يُّعَلِّمَنِيْ''۔ رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۲۲۰: ثابت وائی: ماته انس رضی الله عنه درې رکعتونه وتر اوکړل زه د هغوی ښی طرف ته اوم او د هغوی ام ولد زمونږ نه شاته وه، سلام ئې صرف په آخره کښې واړولو. زما غالب امکان دا دې چه هغوی ماته د وتر طریقه ښول غوښتل. دا حدیث طحاوی نقل کړی دی او د دې اسناد صحیح دې.

(۶۲۱) وَعَنْ اَبِيْ خَالِدَةَ قَالَ: سَاَلْتُ اَبَا الْعَالِيَةِ عَنِ الْوِتْرِ فَقَالَ: ''عَلَّمَنَا اَصْحَابُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَوْ عَلَّمُوْنَا اَنَّ الْوِتْرَ مِثْلُ صَلٰوةِ الْمَغْرِبِ غَيْرَ اَنَّا نَقْرَاُ فِي الثَّالِثَةِ فَهٰذَا وِتْرُ اللَّيْلِ وَهٰذَا وِتْرُ النَّهَارِ۔ رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ۔

۲۲۱: ابوخالده فرمائی: ما د ابوالعالیه نه د وتر په باره کښې پوښتنه اوکړه نو هغوی اووې، مونږ ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو تعلیم راکړې دې، (یا ئې اووې) چه هغوی مونږ ته تعلیم راکړو، وتر د مغرب د مانځه په شان دی، خو دا چه مونږ (د وتر) دریم رکعت کښې قراءة کوو، پس دا د شپې وتر دی او هغه د ورځې وتر دی. دا حدیث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۶۲۲) وَعَنِ الْقَاسِمِ قَالَ: ''وَرَاَيْنَا اُنَاسًا مُنْذُ اَدْرَكْنَا يُوْتِرُوْنَ بِثَلَاثٍ وَاِنَّ كُلًّا لَوَاسِعٌ وَاَرْجُوْا اَنْ لَّا يَكُوْنَ بِشَيْءٍ مِّنْهُ بَاْسٌ''۔ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ۔

۲۲۲: قاسم وائی: مونږ خلق اولیدل کله نه چه مونږ په ځان پوهه شوې وو چه هغوی به درې رکعته وتر ادا کول او بیشکه په هر یو کښې گنجائش دې او زه امید کوم چه په دې کښې هیڅ باک نشته. دا حدیث بخاری نقل کړې دې.

(۶۲۳) وَعَنْ اَبِي الزِّنَادِ عَنِ السَّبْعَةِ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ وَعُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ وَالْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ وَاَبِيْ بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ وَخَارِجَةَ بْنِ زَيْدٍ وَعُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ وَسُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ فِيْ مَشْيَخَةٍ سِوَاهُمْ اَهْلِ فِقْهٍ وَصَلَاحٍ وَفَضْلٍ وَرُبَّمَا اخْتَلَفُوْا فِي الشَّيْءِ فَاَخَذَ بِقَوْلِ اَكْثَرِهِمْ وَاَفْضَلِهِمْ رَاْيًا فَكَانَ مِمَّا وَعَيْتُ عَنْهُمْ عَلٰى هٰذِهِ الصِّفَةِ اَنَّ الْوِتْرَ ثَلَاثٌ لَا يُسَلِّمُ اِلَّا فِيْ اٰخِرِهِنَّ رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

۲۲۳: ابوالزناد د اووهٔ حضرات (تابعینو) سعید بن المسیب، عروة بن زبیر، قاسم بن محمد، ابوبکر بن عبدالرحمٰن، خارجة بن زید، عبیدالله بن عبدالله او سلیمان بن یسار رحمهم الله نه او د هغوی نه علاوه د نورو فقهاء کرامو، اهل صلاح او صاحب فضل بزرګانو په موجودګئ کښې روایت کړې او کله به چه هغوی په څه څیز کښې اختلاف کولو، نو هغوی به د هغه سړی په قول باندې عمل کولو کوم چه به د زیاتې رائې والا او افضل وو او کومه خبره چه ما د هغوی نه یاده کړې ده هغه: ده چه وتر صرف درې رکعتونه دی سلام دې صرف په آخر کښې واړولې شی. دا حدیث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۶۲۴) وَعَنْهُ قَالَ: '' اَثْبَتَ عُمَرُبْنُ عَبْدِ الْعَزِيْزِ الْوِتْرَ بِالْمَدِيْنَةِ بِقَوْلِ الْفُقَهَآءِ ثَـلَاثًا لَا يُسَلِّمُ اِلَّا فِيْ اٰخِرِهِنَّ ''. رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

۲۲۴: ابوالزناد فرمائی: عمر بن عبدالعزیز رحمه الله په مدینه منوره کښې د فقهاء کرامو د قول مطابق درې رکعته مقرر کړل، سلام دې صرف د هغې په آخره کښې اوګرځولې شی. دا حدیث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

**تشریح:** (۲۰۷ نه ۲۲۴ پورې): د باب غرض انعقاد د مسلک احناف ﴿**الوتر بثلاث رکعات**﴾ د دلائلو بیان دې.

**د احنافو دلائل:** ۱: د باب اول روایت ۲۰۷ د سیده عائشه صدیقه رضی الله عنها نه روایت دې چه په هغې کښې حضور صلی الله علیه وسلم د صلاة تهجد د بیان نه پس دا تصریح ده چه ﴿**ثم یصلی ثلاثا**﴾ (بخاری ج ۱ ص ۱۵٤ مسلم ج ۱ ص ۲۵٤، ابوعوانة ج ۱ ص ۳۳۷)

۲: د باب دویم روایت ۲۰۸ د ابن عباس رضی الله عنهما نه مروی دې په دې کښې د ﴿**ثم اوتر بثلاث**﴾ (مسلم ج ۱ ص ۲۶۱، ابوعوانة ج ۱ ص ۳۲۱) تصریح ده.

۳: روایت ۲۰۹ هم د ابن عباس رضی الله عنهما نه منقول دی چه په هغې کښې تصریح ده چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به د وتر په درې رکعتونو کښې **علی الترتیب** سورة الاعلی، سورة الکافرون او سورة الاخلاص تلاوت کولو، د مسند احمد په الفاظو کښې دی ﴿**کان یوتر بثلاث**﴾ علامه رافعی په تخریج احیاء العلوم ج ۲ ص ۷۵ کښې لیکی **بسند صحیح** زمونږ مصنف رحمه الله په دې باندې د اسناد **حسن** حکم لګوی دا روایت مستدرک حاکم ج ۱ ص ۳۰۵، ترمذی ج ۱ ص ۶۱، مسند احمد، ۳۹۵ کښې تخریج کړې شوې دې.

۴: روایت ۲۱۰ د ابی بن کعب نه منقول دې کوم چه نسائی ج ۱ ص ۲٤۸، ابوداؤد ج ۱ ص ۲۱۰ او مسند احمد ج ۵ ص ۱۲۳ کښې تخریج کړې شوې دې مضمون هم هغه دې کوم چه د مخکښې حدیث دې. د روایت ۲۱۱ مضمون هم هغه دې کوم چه نسائی په کتاب قیام اللیل ج ۱ ص ۲۵۱ کښې تخریج کړې دې نواب صدیق حسن خان په هدایة المسائل ۲۵۶ کښې ددې توثیق کړې دې لیکی **ورجال اسناده ثقات الا عبدالعزیز بن خالد وهو مقبول** (التهذیب ج ۲ ص ۳۳۵) **وقال ابو حاتم شیخ** دبل چا جرح او تعدیل مذکور نه دې، د عبدالرحمٰن بن ابزی رضی الله عنه د روایت ۲۱۲ هم دغه مضمون دې کوم چه نسائی په ج ۱ ص ۲۵۱ کښې تخریج کړې دې.

۵: روایت ۲۱۳ د عائشې رضی الله عنها نه مروی دې **کان لا یسلم فی رکعتی الوتر** (اخرجه النسائی ج ۱ ص ۲٤۸)

۶: د عائشې رضی الله عنها په دې روایت ۲۱۴ کښې د ﴿**اوتر بثلاث لا یفصل بینهن**﴾ تصریح ده. (رواه احمد فی مسنده ج ۶ ص ۱۵۵)

۷: د عبدالله بن ابی قیس په استفتاء کښې د عائشې رضی الله عنها ځواب په روایت ۲۱۵ کښې په تفصیل ښخه راغلې دې مطلب واضح دې چه د تهجدو د رکعتونو تعداد خو به بدلیده خو د وتر د رکعتونو په تعداد کښې هیڅ بدلون نه کیدو بلکه د هغې تعداد به همیشه درې وو په دې کښې په تهجد باندې هم مجازا د اوتر اطلاق شوې دې دا امام احمد رحمه الله په خپل مسند ج ۶ ص ۱٤۹، ابوداؤد ج ۱ ص ۱۹۳ او طحاوی ج ۱ ص ۱۹۶ کښې تخریج کړې دې.

۸: په روایت ۲۱۶ کښې هم د عائشې رضی الله عنها نه مروی دی کوم چه مسند احمد په ج ۱ ص ۲۲۷، ترمذی ج ۱ ص ۱۰۶، ابوداؤد ج ۱ ص ۲۰۱، ابن ماجه ص ۸۳ کښې نقل کړې شوې دې، د ﴿**والمعوذتین**﴾ نه مراد دا دې چه کله به ئې سورة الاخلاص، کله سورة الفلق او کله سورة الناس لوستلو. **قال الحاکم والذهبی صحیح علی شرط الشیخین**. (مستدرک حاکم ج ۲ ص ۵۲)

۹: په روایت ۲۱۷ کښې د عائشې رضی الله عنها نه مروی دی د دې مضون هم د مخکښې حدیث والا دې کوم چه دارقطنی ج ۲ ص ۳۵ ج ۱ ص ۱۹۶ کښې تخریج کړې شوې دې **قال الحاکم صحیح علی شرط الشیخین وقال الذهبی رواته ثقات وهو علی شرطهما** (مستدرک حاکم ج ۲ ص ۳۰۵)

۱۰: د مسور بن مخرمه روایت ۲۱۸ کښې د عمر فاروق رضی الله عنه معمول رکعات ثلاث وئیلې شوې دې د دې روایت تخریج امام طحاوی په کتاب الصلوة **باب الوتر** ج ۱ ص ۲۰۲ کښې کړې دې په مصنف ابن ابی شیبه ج ٤ ص ۱٤۱ کښې روایت دې.

''ان عمر بن الخطاب دفن ابابکر رضی اللہ عنہ لیلاً ثم دخل المسجد فأوتر بثلاث،،
او په جامع المسانید ج ۱ ص ٤١٧ کښې دی:

ان عمر بن الخطاب قال: ''ما احب انی ترکت الوتر بثلاث وان لی حمر النعم''۔

۱۱: په روایت ۲۱۹ کښې د عبدالله بن مسعود رضی اللہ عنہ، روایت ۲۲۰ کښې د انس رضی اللہ عنہ، روایت ۲۲۱ کښې د عام صحابه کرامو رضی اللہ عنہم معمول د درې رکعتونو نقل کړې شوي دي درې و روایات امام طحاوی رحمہ اللہ په کتاب الصلاة باب الوتر ج ۱ ص ۲۰۲ کښې تخریج کړې دي.

۱۲: د قاسم دې روایت ۲۲۲ کښې د جمهور امت معمول منقول دې کوم چه ام. بخاری رحمہ اللہ په ج ۱ ص ۱۳۵ کښې تقریرا نقل کړې دې ﴿وان کلا لواسع﴾ ددې نه مخکښې باب کښې: مولانا زکریا رحمہ اللہ نه عرض کړې شوې دې.

۱۳: روایت ۲۲۳ کښې د فقهاء سبعه او ارباب علم و فضل او په روایت ۲۲۴ کښې: عمر بن عبدالعزیز تقرر د درې رکعتونو منقول دې کوم چه امام طحاوی رحمہ اللہ په کتاب الصلاة ج ۱ ص ۲۰٤ کښې نقل کړې دې.

## بَابُ مَنْ قَالَ: ''اِنَّ الْوِتْرَ بِثَـلَاثٍ اِنَّمَا يُصَلِّيْ بِتَشَهُّدٍ وَّاحِدٍ''

(۶۲۵) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَـيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ''لَا تُوْتِرُوْا بِثَلَاثٍ، اَوْتِرُوْا بِخَمْسٍ اَوْ بِسَبْعٍ وَّلَا تُشَبِّهُوْا بِصَلٰوةِ الْمَغْرِبِ''۔ رَوَاهُ مُحَمَّدُ بْنُ نَصْرٍ الْمَرْوَزِيُّ وَالدَّارَقُطْنِيُّ وَالْحَاكِمُ وَالْبَيْهَقِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔ قَالَ النِّيْمَوِيُّ: اَلْاِسْتِدْلَالُ بِهٰذَا الْخَبَرِ غَيْرُ صَحِيْحٍ۔

---

**باب: څوک چه وائی چه د وتر درې رکعتونه دی خو هغه دې په یو تشهد څخه اوکړې شی: ۶۲۵**

ابوهریره رضی اللہ عنہ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: درې رکعته وتر مه ادا کوئ، پنځه یا او و رکعته وتر ادا کوئ او د ماښام د مانځهٔ مشابه ئې مه کوئ.

دا حدیث محمد بن نصر المروزی، دارقطنی او بیهقی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې، نیموی وائی د دې حدیث نه دلیل نیول صحیح نه دی.

(۶۲۶) وَعَنْ سَعِيْدِ بْنِ هِشَامٍ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: ''كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوْتِرُ بِثَلَاثٍ لَا يَقْعُدُ اِلَّا فِيْ اٰخِرِهِنَّ وَهٰذَا وِتْرُ اَمِيْرِ الْمُؤْمِنِيْنَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ وَعَنْهُ اَخَذَهٗ اَهْلُ الْمَدِيْنَةِ''۔ رَوَاهُ الْحَاكِمُ فِي الْمُسْتَدْرَكِ وَهُوَ غَيْرُ مَحْفُوْظٍ۔

قَالَ النِّيْمَوِيُّ: ''اِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ الْاَحَادِيْثِ الَّتِيْ اَوْرَدْنَاهَا فِيْمَا مَضٰى تَدُلُّ بِظَاهِرِهَا عَلٰى تَشَهُّدَيِ الْوِتْرِ''۔

۲۲۶ : د سعيد بن هشام نه روايت دي چه ام المومنين عائشې رضي الله عنها اوفرمائيل : رسول الله ﷺ به درې رکعته وتر ادا فرمائيل، صرف د هغې په آخره کښې به کيناستلو، هم دا وتر دی د امير المومنين عمر بن الخطاب رضي الله عنه، او هم دا د هغوی نه اهل مدينة اخستلې دی.

دا حديث حاکم په مستدرک کښې نقل کړې دې او دا غير محفوظ دې، نيموی وائی بيشکه ډير روايات کوم چه مونږ په مخکښې پاڼرو کښې نقل کړی دی د هغې ظاهر د وتر په دوه تشهدو باندې دلالت کوی.

**تشريح**>(۲۲۵ نه ۲۲۲ پورې) په دې باب کښې د مسلک شافعی (درې رکعتونو په يو سلام څخه کولو) د مستدلاتو د حقيقت اظهار دې.

**بيان مذاهب**: ۱: امام شافعی رحمه الله فرمائی چه د وترو درې رکعتونه يوځائې کول پکار وی. نو په يو تشهد څخه دې اوکړی ګينې په دوه رکعتونو باندې دې سلام واړوی بيا دې يو رکعت اوکړی.

۲: امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی چه د وترو درې رکعتونه په يو سلام او دوه تشهدو څخه ده د امام مالک رحمه الله مشهور مسلک هم دا دې د امام احمد رحمه الله نه هم يو روايت هم داسې دې.

**د امام شافعی رحمه الله دلائل او د جمهورو ځوابات**: ۱: د دې باب رومبې روايت ۲۲۵ **عن ابي هريرة** د شوافعو مستدل دې کوم چه محمد بن نصر المروزی په قيام الليل ص ۱۲۵، موارد الظمان ص ۱۷۶، دارقطنی ج ۱ ص ۱۷۳، مستدرک حاکم ج ۱ ص ۳۰۴ او سنن الکبری ج ۳ ص ۳۱۱ کښې تخريج کړې دې، په طريق استدلال کښې حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباری کښې فرمائی چه چونکه په صلاة المغرب کښې دوه تشهده دی لهذا مطلب به دا وی چه تشهد دې يو وی **( قال النيموی )** امام نيموی رحمه الله فرمائی د دې روايت نه د شوافع استدلال صحيح نه دې جمهورو هم د دې ډير ځوابونه کړې دی.

الف : که د دې روايت مطلب دا وی چه درې رکعته وتر دې اونکړې شی يا تشهد که يو وی نو دا به په مخکښې ابواب او ابحاثو کښې د راغلې صحيح رواياتو خلاف شی، لهذا دا مراد خو بالکل نه دې.

ب : په دې کښې د تشهد او عدم تشهد ادنی شان اشاره هم نشته او د صلاة المغرب څخه د عدم مشابهت معنی دا ده چه په درې رکعتونو باندې دې اکتفاء نه وی د وترو نه روستو او مخکښې دې نوافل وی، امام طحاوی رحمه الله فرمائی **فقد يحتمل ان يکون کره افراد الوتر علی معنی ما ذکرنا** ...(شرح معانی الآثار ج ۱ ص ۱۴۳)

بیا په دې باندې قرینه هم په دې حدیث کښې موجود ده ﴿ بخمس او سبع ﴾دارو مدار په عدد باندې دې نه په تشهد باندې، مولانا بدر عالم میرتهی د فیض الباری په حاشیه کښې لیکی:
**لان الحدیث لم یرد فی مسئلة التشهد اصلا بل فی بیان العدد ولیس فیه الا النهی عن الاقتصار علی الثلث.** (فیض الباری ج ۲ ص ۳۷۱)

۲: د شوافع دویم دلیل د عائشې رضی الله عنها روایت (۲۲۲) دې کوم چه حاکم په مستدرک کتاب الوتر ج ۱ ص ۳۰٤ باب الوتر کښې تخریج کړې دې ﴿ لا یقعد الا فی آخرهن الخ ﴾ **قال النیموی** امام نیموی رحمه الله د دې په ځواب کښې فرمائی چه د تیرو ابوابو ذکر کړې شوې د ډیرو احادیثو ظاهر په تشهدین باندې دلالت کوی او دا د هغې خلاف راځی جمهور وائی دا روایت په مستدرک ج ۱ ص ۳۰٤ اوپه سنن الکبری ج ۳ ص ۳۱ کښې دې، الفاظ دا دی ﴿ لا یسلم الا فی آخرهن ﴾ د ﴿ لا یقعد ﴾ الفاظ پکښې نشته.هم دغه شان (نصب الرایة ج ۲ ص ۱۱۸، البنایة شرح الهدایة ج ۱ ص ۹۲۳، الدرایة ص ۱۱٤، فتح القدیر ج ۲ ص ۳۰۳، عقود الجواهر المنیفة ج ۱ ص ۶۱، عمدة القاری ج ۳ ص ٤۰٤، په حواله د مستدرک او سنن الکبری کښې هرځائې د ﴿ لا یسلم ﴾ لفظ منقول دی.

**د یو سلام په باره کښې د احنافو دلائل:** ۱: سنن الکبری ج ۳ ص ۱۳۱ کښې روایت دې، **عن عائشة قالت کان رسول الله ﷺ لا یسلم فی رکعتی الوتر**، دا روایت په طحاوی ج ۱ ص ۱۳۷ کښې هم دی. امام نیموی رحمه الله په آثار السنن کښې لیکی: رواه النسائی ج ۱ ص ۱۹۱ واخرون واسناده صحیح.

۲: اود نسائی ج ۱ ص ۱۹۱ روایت کښې **عن ابی بن کعب** په دې لفظ کښې **ولا یسلم الا فی اخرهن.**

۳: او په مستدرک ج ۱ ص ۳۰٤ کښې دی:

**عن سعد بن هشام رحمه الله عن عائشة رضی الله عنها قالت: ''کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یوتر بثلاث لا یسلّم الّا فی اٰخرهن وهذا وتر امیر المومنین عمر رضی الله عنه بن الخطاب وعنه اخذ اهل المدینة''.**

علامه الماردینی رحمه الله په الجوهر النقی ج ۳ ص ۲۶ کښې لیکی:

**وذکر صاحب التمهید (ابن عبد البر رحمه الله) جماعة من الصحابة روی عنهم الوتر بثلاث لا یسلّم الّا فی اخرهن منهم عمروابن مسعود وزید واُبّی وانس... الخ رضی الله عنهم کلهم اجمعین.**

۴: مستدرک ج ۱ ص ۳۰٤

**عن عائشة رضی الله عنها قالت: ''کان رسول الله صلی الله تعالٰی علیه وسلم لا یسلّم فی الرکعتین الاولیین من الوتر قال الحاکم رحمه الله والذهبی رحمه الله: صحیح علی شرطهما.**

۵ : العرف الشذی ص ۲۱۰ کښې د يو حديث په باره کښې فرمائی :

انی وجدت متنهٗ؟ فی تاریخ ابن العساکر وهو ان الوتر ثلاث بسلام ورجال السند ثقات الا میمون ابو عبدالله لم اعلم حاله الا انه ادرجه ابن حبان رحمه الله فی کتاب الثقات وقال السیوطی رحمه الله فی جمع الجوامع اسناده حسن۔

**په وترو کښې د دوه تشهدو متعلق د ثبوت طريق : ۵** : د هغې عمومی رواياتو نه استدلال دې چه په هغې کښې د هر دوه رکعتونو نه پس د ضابطې او قاعدې په طور د تشهد ذکر دې. مثلا يو روايت ابوعوانه ج ۲ ص ۲۲۲ او مسلم ج ۱ ص ۱۹٤ کښې داسې دی **﴿ عن عائشة قالت كان رسول الله ﷺ يقول فی كل ركعتين التحية.** الحديث) ګويا ضابطه ئې بيان اوفرمائيله چه د هر دوه رکعتو نه پس به ئې **﴿ التحيات ﴾** لوستلو او په ترمذی ج ۱ ص ۵۰ کښې دا روايت دې : **﴿ قال رسول الله ﷺ مثنى تشهد فی كل ركعتين وتخشع الحديث ﴾** نو په دې رواياتو کښې ئې ضابطه بيان فرمائيلې ده چه د هر دوه رکعتونو نه پس تشهد دې، د دې قاعدې په رڼا کښې به د وترو نه پس هم تشهد او التحيات وی.

**طريق : ۲** : مسلم ج ۱ ص ۲۵۶، سنن الکبری ج ۳ ص ۱۹۳ او موارد الظمان ص ۱۷۳ کښې د عائشې رضی الله عنها نه روايت دې : واللفظ لمسلم چه په هغې کښې دا الفاظ دی :

'' ويصلی تسع ركعات لا يجلس فيها الا فی الثامنة فيذكر الله ويحمده ويدعوه ثم ينهض ولا يسلم ثم يقوم فيصلی التاسعة ثم يقعد فيذكر الله ويحمده ويدعوه ثم يسلم '' ۔الحديث.

چه رسول الله ﷺ به وتر نهه رکعتونه کول. د هر دوه رکعتونو نه پس به ئې سلام اړولو. خو اووم، اتم او نهم رکعت کښې يعنی کله به ئې چه وتر کول نو د اتم رکعت نه پس به ئې التحيات خو لوستل خو سلام به ئې نه اړولو او راوی د اتم رکعت نه پس په خصوصيت سره د قعود ذکر کړې دې چه دا د عام قعدو نه جدا دې. په هغې کښې سلام وو. په دې کښې نشته. پس د ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت دې کوم چه نسائی ج ۱ ص ۱۹۳ او مسند احمد ج ۱ ص ۳۵۰ کښې داسې راځی :

واللفظ للنسائی عن النبی صلی الله عليه وسلم انه نام من الليل ثم قام فاستن ثم صلی ركعتين ثم نام ثم قام فاستن ثم توضأ فصلی ركعتين حتى صلی ستا ثم اوتر بثلاث '' ۔

علامة ابن حزم محلی ج ۳ ص ٤۷ کښې ليکی.

'' البحث الثانی عشر ان يصلی ثلاث ركعات يجلس فی الثانية ثم يقوم بدون تسليم ويأتی بالثالثة ثم يجلس ويتشهد ويسلم كصلوة المغرب وهو اختيار ابی حنيفة رحمه الله ودليلهٗ حديث عائشة رضی الله عنها۔

بيا ئې هم د دې حديث ذکر اوکړو کوم چه د مسلم په حوالې سره اوس تير شو.

**د امام طحاوی رحمه الله عقلی استدلال:** امام طحاوی رحمه الله په شرح معانی الاثار ج ۱ ص ۱۷۳ کښې عقلی

استدلال پیش کولو څخه وائی ثم اردنا ان نلتمس ذلک من طریق النظر الخ چه وتر به د دوه حالو نه خالی نه وی. یا خو به د قبیلې د فرائضو نه دې نو مونږ په فرائضو کښې غور اوکړو چه هغه ټول په درې قسمه دی، ۱: دوه رکعتو والا مونځ لکه فجر، ۲: څلور رکعته والا لکه چه د ماسپخین. عصر، عشاء دې. ۳: درې رکعتو والا مونځ لکه د ماښام مونځ. او د ټولو علماء کرامو په دې خبره باندې اجماع ده نچه وتر دوه رکعتو یا څلورو رکعتو والا نه شی کیدې، نو ضرور به درې رکعتو والا مونځ فرض یعنی د ماښام د مانځه څخه مشابه منل لازمیږی. نو په دې صورت کښې د وتر مونځ به صرف د درې رکعتو وی. دا په هغه صورت کښې ده چه کله د وتر مونځ فرض اومنلې شی؟ او که وتر د سنتو نه اومنلې شی نو مونږ په ټولو سنتو باندې غور کولو څخه ګورو چه هیڅ سنت هم داسې نشته چه د هغې نه څه نه څه اصل په فرائضو کښې نه وی، او فرائض ټول په درې قسمه دی، ثنائیه، رباعیه، ثلاثیه، او وتر د ثنائیه او رباعیه مشابه نه کیدل ثابت شوی. اوس پاتې شو صرف ثلاثیة لهذا هم دا به مسلم وی چه وتر که د قبیلې د سنن نه تسلیم کړې شی نو د صلاة ثلاثیة مشابهمنلو څخه په مینځ کښې د سلام نه بغیر د ماښام د مانځه په شان درې رکعته منل لازمیږی. بیا مونږ د ټولو نفلی عباداتو مطالعه اوکړه چه هیڅ نفلی عبادت داسې نه ده چه د هغې لپاره څه نه څه اصل د فرائضو نه وی. لکه عبادات مالیه. په دې کښې نفلی صدقات دا دی. خو د دې نوافلو لپاره فرائضو کښې اصل موجود دې لکه زکوة. او هم په دې طریقې څخه نفل او سنت روژه د دې لپاره په فرائضو کښې اصل دې لکه چه صوم رمضان او صوم کفاره وغیره. او هم دغه شان نفلی حج دې د دې لپاره هم په فرائضو کښې اصل دې لکه چه حجة الاسلام، خو د دې عمرې په باره کښې په فرض یا واجب کیدو کښې اختلاف دې، چه د هغې تفصیل په کتاب الحج کښې راتلونکې دې. هم دغه شان نفلی غلام آزاد کول. د دې لپاره هم په فرائضو کښې اصل دې لکه په کفاره د ظهار کښې غلام آزادول وی. لهذا معلومه شوه چه هیڅ نفلی عبادت هم داسې نشته چه د هغې لپاره په فرائضو کښې څه اصل نه وی. خو بغیر د نوافل نه د فرائضو وجود کیدې شی لکه د جنازې مونځ چه د هغې د پاره فرض خو شته، خو د هغې هیڅ نفل نشته.

لهذا که مونږ وتر مونځ د سنتو نه اومنو او یو رکعت ئې اومنو نو هغه د فرائضو په هیڅ قسم کښې نه داخلیږی ځکه چه د قبیلې د فرائضو نه یو مونځ هم د یو رکعت والا نشته. لهذا درې رکعته منل به لازم وی. هم دا زمونږ د علماء ثلاثه قول دې.

## بَابُ الْقُنُوْتِ فِي الْوِتْرِ

(۶۲۷) عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ اَبِيْ لَيْلٰى اَنَّهُ سُئِلَ عَنِ الْقُنُوْتِ فَقَالَ: ''حَدَّثَنَا الْبَرَاءُ بْنُ عَازِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: سُنَّةٌ مَّاضِيَةٌ''۔ اَخْرَجَهُ السِّرَاجُ وَاِسْنَادُهُ حَسَنٌ وَسَيَأْتِيْ رِوَايَاتٌ اُخْرٰى فِي الْبَابِ الْاٰتِيْ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى۔

**باب په وترو کښې قنوت:** ۶۲۷: د عبدالرحمٰن بن ابی لیلی نه روایت دې چه د هغوی نه د قنوت په باره کښې پوښتنه اوکړې شوه نو هغوی اوفرمائیل، مونږ ته سیدنا براء بن عازب رضی الله عنه حدیث بیان کړو، هغوی اوفرمائیل: دا نافذ شده سنت دی، دا حدیث سراج نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې، نور روایات به په روستو باب کښې راشی انشاء الله.

**د قنوت لغوی معانی:** ۲۲۷: په مجمع، نهایه او د علامه رازی په جواهر القرآن وغیره کښې دی چه لفظ قنوت په مختلفو معانی کښې استعمالیږی. ۱: طاعة: **قال الله تعالیٰ: کل له قانتون، یا مریم اقنتی لربک ای اعبدیه واطیعیه** .. د ابن عباس رضی الله عنهما، حسن، عطآء او امام شعبی رحمهم الله نه د آیت کریمه **﴿وقوموا لله قانتین﴾** تفسیر (مطیعین) منقول دې. ۲: طول قیام: نافع د ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت کړې دې **انه قال القنوت طول القیام وقراء امن هو قانت اناء اللیل**، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه هم مروی دی چه هغوی ارشاد اوفرمائیلو: **افضل الصلوة طول القنوت ... یعنی القیام.**

۳: سکوت: مجاهد وائی **﴿القنوت السکوت والقنوت الطاعة﴾** حارث بن شبل د ابوعمرو او شیبانی نه روایت کړې دې هغوی وائی چه په عهد نبوی صلی الله علیه وسلم کښې به مونږ په مانځه کښې خبرې کولې بیا دا آیت کریمه نازل شو. **﴿وقوموا لله قانتین﴾** پس مونږ ته د سکوت حکم اوکړې شو. (احکام القرآن)

۴: خشوع خضوع ۵: دعاء: زین الدین په شرح د ترمذی کښې وئیلې دی چه ابن العربی د دې لس معانی لیکلې دی. **قال وقد نظمتها فی بیتین بقولی!**

| | |
|---|---|
| ولفظ القنوت اعدد معانیه تجد | مزیداً علی عشر معانی مرضیة |
| دعاء خشوع و العبادة طاعة | اقامتها اقرارنا بالعبودیة |
| سکوت صلوة و القیام و طوله | کذلك دوام الطاعة الرابح النیة |

**د دعاء قنوت حکم او بیان مذاهب:** ملا علی قاری رحمه الله فرمائی چه ظاهره هم دا ده چه دلته د قنوت نه مراد دعاء ده **وکذا النقل الابهری عن زین العرب** د وتر په آخری رکعت کښې د دعاء قنوت ثبوت د

حسن بن علی، ابی بن کعب، عبدالله بن مسعود، ابن عباس، ابن عمر، علی، ابوموسی اشعری او براء بن عازب رضی الله عنهم وغیره د ډیرو صحابه کرامو د احادیثو نه دي، هم په دې وجه علماء کرام د دې قائل دی د دې باب د روایت نه هم ثابتیږی.

پس زمونږ په نزد قنوت واجب دې او د امام احمد رحمه الله په نزد سنت کفایه او په نهایه وغیره کښې دی چه قیاس هم دا دې چه قنوت وتر سنت وی ځکه چه په اقوال کښې اصل سنیت دې، وجه د استحسان دا ده چه د قنوت نسبت د ټول مانځه طرف ته وی یقال قنوت الوتر. پس د دې په ترک ځخه به نقصان په پوره مونځ کښې متمکن وی.

د امام مالک رحمه الله په نزد د یو روایت مطابق مستحب دې (صرف د رمضان په نصف آخر کښ) خو ابن القاسم او د علی رضی الله عنه په روایت کښې دقنوت بالکل انکار دې، هم دا د هغوی په نزد معتمد دې او هم دا ئې په مدونة کښې اختیار کړې دې پس روایت:

''ما ادرکتُ الناسَ الّا وهم یلعنون الکفرة فی رمضان'' باره کښې ئې وئیلی دی: ''لیس علیه العمل ولا اری ان یعمل به ولا یقنت فی رمضان لا فی اوله ولا فی آخره ولا فی غیر رمضان، ولا فی الوتر اصلًا''

په دسوقی کښې دی: ''وندب قنوت سرًا بصبح فقط بوتراه''

د امام مالک رحمه الله نه دریم روایت د ابن نافع دې چه په قنوت کښې وسعت دې که غواړی نو اودې لولی او که غواړی ترک دې کړی.

(**فائده**) قنوت خو په اخفاء ځخه دې د امام په حق کښې هم او د قوم په حق کښې هم (نهایه) او د منفرد په حق کښې هم اخفاء قنوت مختار دې (شرح مجمع) پاتې شو قنوت حادثه کوم چه په مسلمانانو باندې د څه سختئ پیښیدو باندې وی اوذ مومنانو لپاره دعاء او د کافرانو لپاره بددعاء وی، پس هغه په جهر ځخه کیدل پکار دی یعنی امام دې په جهر ځخه اولولی او قوم دې په مزه آمین وائی لکه چه په حدیث د انس رضی الله عنه کښې راغلې دی کوم چه خطیب روایت کړې دې او صاحب تنقیح د هغې اسناد ته صحیح وئیلې دې.

**په توقیت قنوت کښې بیان مذاهب:** یو اهم بحث په دعاء قنوت کښې د توقیت قنوت مسئله ده چه کله او په کومو وختونو کښې لوستل پکار دی د دې نه علاوه په قنوت مستقل کښې هم اختلاف دې یعنی قنوت وتر مستقل دې یا قنوت فجر، احناف او حنابله خو د قنوت وتر د مستقل کیدو قائل دی، او مالکیان او شوافع د قنوت فجر. دلته صرف د قنوت وتر بحث دې.

الف: امام مالک رحمه الله دا صرف په رمضان کښې واجب منی.

ب: د شوافع او حنابله په نزد په رمضان کښې هم په نصف اخیر کښې مشروع دې او هغه

هم په درجه د استحباب کښ، د امام شافعی رحمه الله روایت دې لکه د شوافع په کتابونو کښې کتب توشیح او شرح اقناع وغیره کښې مصرح دې او د حنابله یو روایت غیر مشهوره هم دا دې. (معارف السنن ج ٤ ص ٢٤٢) د معاذ بن حارث، ابن عمر، حسن بصری او قتادة نه دا روایت دې.

ج : احناف حضرات قنوت وتر ته په پوره کال کښې مشروع او واجب وائی امام شافعی رحمه الله هم (په یو روایة کښ) هم د دې قائل دې، د امام احمد رحمه الله نه هم مشهور روایت هم دا منقول دې سفیان ثوری، او امام اسحق ، ابراهیم نخعی او د جمهورو مسلک هم د دې مطابق دې. (معارف السنن ج ٤ ص ٢٤١)

**د احنافو د دلائلو او مسلک وجوه د ترجیح:** زمونږ دلیل دا دې چه په احادیث قنوت کښې لفظ **﴿ اجعل هذا فی وترک ﴾** او **﴿ کان یقول اجعلوا اخر صلوتکم وغیره ﴾** الفاظ تقاضه د دوام کوی او مطلق هم دی چه په هغې کښې د رمضان د نصف اخر قید نشته. د شوافعو دلیل دا دې چه کله عمر رضی الله عنه خلق د ابی بن کعب رضی الله عنه په اقتداء کښې جمع کړې وو نو ابی بن کعب رضی الله عنه شلو ورځو پورې ورکړو او صرف په نصف آخر کښې قنوت اولوستلو. (ابوداؤد)

ځواب دا دې چه دا حدیث په دوه طریق څخه مروی دې او امام نووی رحمه الله په خلاصه کښې تصریح کړې ده چه هر دواړه طریق ضعیف دی.

بله دا چه ابن عدی په الکامل کښې د انس رضی الله عنه مرفوع روایت کړې دې **﴿ کان رسول الله ﷺ یقنت فی النصف من رمضان ﴾** اه چه رسول الله ﷺ به د رمضان په نصف اخر کښې قنوت لوستلو.

ځواب دا دې چه د دې حدیث په سند کښې ابوحاتکه ظریف بن سلمان ضعیف دې. حافظ بیهقی رحمه الله فرمائی، **هذا حدیث لا یصح اسناده.**

## بَابُ قُنُوْتِ الْوِتْرِ قَبْلَ الرُّكُوْعِ

(٦٢٨) عَنْ عَاصِمٍ قَالَ سَأَلْتُ اَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ الْقُنُوْتِ فَقَالَ: قَدْ كَانَ الْقُنُوْتُ قُلْتُ: ''قَبْلَ الرُّكُوْعِ اَوْبَعْدَهٗ'' قَالَ: قَبْلَهٗ قَالَ فَاِنَّ فُلَانًا اَخْبَرَنِيْ عَنْكَ اَنَّكَ قُلْتَ بَعْدَ الرُّكُوْعِ ''فَقَالَ: ''كَذَبَ اِنَّمَا قَنَتَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ الرُّكُوْعِ شَهْرًا اُرَاهُ كَانَ بَعَثَ قَوْمًا يُقَالُ لَهُمُ الْقُرَّآءُ زُهَاءَ سَبْعِيْنَ رَجُلًا اِلٰى قَوْمٍ مُّشْرِكِيْنَ دُوْنَ اُولٰٓئِكَ وَكَانَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَهْدٌ فَقَنَتَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَهْرًا يَدْعُوْ عَلَيْهِمْ''۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

---

**باب: د رکوع نه مخکښې د وتر قنوت:** ٦٢٨ :عاصم فرمائی : ما د انس بن مالک رضی الله عنه نه د قنوت وتر

په باره کښې پوښتنه اوکړه، نو هغوی اوفرمائیل: قنوت وو. ما اووې، د رکوع نه مخکښې یا روستو هغوی اووې د رکوع نه مخکښې، عاصم اووې چه فلانی سړی ماته ستاسو نه بیان کړې دې چه تاسو وئیلې دی چه د رکوع نه روستو دې، نو هغوی اوفرمائیل: هغه دروغ وئیلې دی. بیشکه رسول اللهﷺ د رکوع نه پس یو میاشت قنوت لوستلې دی، زما خیال دې چه هغوی د اویا صحابه کراموؓ یو جماعت چه هغوی ته قاریان وئیلې کیدل، د مشرکانو طرف ته اولیږل، دا مشرکین د هغوی نه علاوه وو (چاته چه رسول اللهﷺ بددعا کړې وه) دهغه مشرکانو او رسول اللهﷺ ترمینځه معاهده وه، نو رسول اللهﷺ تر یو میاشت پورې قنوت اولوستلو. د هغوی خلاف ئې بد دعا اوفرمائیله. دا حدیث بخاری او مسلم نقل کړې دې.

(۶۲۹) وَعَنْ عَبْدِ الْعَزِيْزِ قَالَ: ''سَأَلَ رَجُلٌ اَنَسًا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ الْقُنُوْتِ بَعْدَ الرُّكُوْعِ اَوْعِنْدَ فَرَاغٍ مِّنَ الْقِرَآءَةِ قَالَ: ''بَلْ عِنْدَ فَرَاغٍ مِّنَ الْقِرَآءَةِ''۔ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ فِي الْمَغَازِيْ۔

۷۲۹: عبدالعزیز فرمائی: یو سړی د انسؓ نه د قنوت په باره کښې پوښتنه اوکړه چه د رکوع نه پس دې یا د قراءة نه د فارغ کیدو په وخت؟ هغوی اوفرمائیل: نه بلکه د قراءت نه د فارغ کیدو نه پس. دا حدیث بخاری په مغازی کښې نقل کړې دې.

(۶۳۰) وَعَنْ اُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ''اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُوْتِرُ فَيَقْنُتُ قَبْلَ الرُّكُوْعِ''۔ رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ وَالنَّسَآئِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۷۳۰: سیدنا ابی بن کعبؓ فرمائی، رسول اللهﷺ وتر ادا اوفرمائیل نو د رکوع نه مخکښې ئې قنوت اولوستلو. دا حدیث ابن ماجه او نسائی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۶۳۱) وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ الْاَسْوَدِ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ: ''كَانَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ لَا يَقْنُتُ فِيْ شَيْئٍ مِّنَ الصَّلَوَاتِ اِلَّا الْوِتْرَ فَاِنَّهٗ كَانَ يَقْنُتُ قَبْلَ الرُّكُوْعِ''۔ رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَالطَّبَرَانِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۷۳۱: د عبدالرحمٰن بن اسود نه روایت دې چه زما والد اوفرمائیل: ابن مسعودؓ به د وتر نه علاوه په یو مانځه کښې هم قنوت نه لوستلو، بیشکه هغوی به د رکوع نه مخکښې قنوت لوستلو. دا حدیث طحاوی او طبرانی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۶۳۲) وَعَنْ عَلْقَمَةَ اَنَّ ابْنَ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَاَصْحَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ وَعَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانُوْا يَقْنُتُوْنَ فِي الْوِتْرِ قَبْلَ الرُّكُوْعِ۔ رَوَاهُ ابْنُ اَبِيْ شَيْبَةَ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۷۳۲: د علقمه نه روایت دې چه ابن مسعودؓ او د رسول اللهﷺ صحابه کرامو به په وتر کښې قنوت لوستلو. دا حدیث ابن ابی شیبة نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۶۳۳) وَعَنْ اِبْرَاهِيْمَ اَنَّ ابْنَ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كَانَ يَقْنُتُ السَّنَةَ كُلَّهَا فِي الْوِتْرِ قَبْلَ الرُّكُوْعِ ''۔رَوَاهُ مُحَمَّدُ بْنُ الْحَسَنِ فِيْ كِتَابِ الْاٰثَارِ وَاِسْنَادُهٗ مُرْسَلٌ جَيِّدٌ۔

۶۳۳: د ابراهیم (نخعی) نه روایت دې چه ابن مسعود رضی الله عنه په پوره کال کښې په وترو کښې د رکوع نه مخکښې قنوت لوستلو. دا حدیث محمد بن الحسن په کتاب الاثار کښې نقل کړې دې او د دې سند مرسل جید دې.

(۶۳۴) وَعَنْ حَمَّادٍ عَنْ اِبْرٰهِيْمَ النَّخَعِيِّ اَنَّ الْقُنُوْتَ وَاجِبٌ فِي الْوِتْرِ فِيْ رَمَضَانَ وَغَيْرِهٖ قَبْلَ الرُّكُوْعِ وَاِذَا اَرَدْتَ اَنْ تَقْنُتَ فَكَبِّرْ وَاِذَا اَرَدْتَ اَنْ تَرْكَعَ فَكَبِّرْ اَيْضًا۔رَوَاهُ مُحَمَّدُ بْنُ الْحَسَنِ فِيْ كِتَابِ الْحُجَجِ وَالْاٰثَارِ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۶۳۴: حماد ابراهیم نخعی رحمه الله ته بیان اوکړو چه په وتر کښې قنوت په رمضان او غیر رمضان کښې د رکوع نه مخکښې واجب دی او کله چه ته قنوت وئیل غواړې نو تکبیر وایه او که چه رکوع کول غواړې نو هم تکبیر وایه. دا حدیث محمد بن الحسن په کتاب الحج او آثار کښې نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

**تشریح**> (۶۲۸ نه ۶۳۴ پورې) د وتر په مانځهٔ کښې دعاء قنوت په آخری رکعت کښې د رکوع نه مخکښې اولولی یا د رکوع نه پس دا مسئله هم د ائمهٔ په مینځ کښې مختلف فیه ده.

**بیان مذاهب**: ۱: خپله د امام شافعی رحمه الله نه په دې باره کښې څهٔ تصریح نه ده منقول خو د هغوی په اصحابو کښې اختلاف دې بعض قبل الرکوع وائی او بعض بعد الرکوع. خو د هغوی په مذهب کښې بعد الرکوع مشهور صحیح او مسنون دی.

۲: د امام احمد رحمه الله نه د دواړو د جواز قول منقول دې.

۳: د احنافو په نزد قنوت وتر، په قبل الرکوع کښې مشروع دی هم دا مذهب د امام مالک، سفیان ثوری، عبدالله بن المبارک او امام اسحاق رحمهم الله دې، شیخ ابن المنذر رحمه الله په الاشراف کښې ذکر کړې دی چه د ابن عمر، علی، ابن مسعود، ابوموسی اشعری، انس بن مالک، براء بن عازب، ابن عباس، عمر بن عبدالعزیز او ابن ابی لیلی نه هم دا مروی دی.

**د شوافع دلائل او د احنافو ځوابات**: د شوافعو دلیل د حسن بن علی رضی الله عنهما حدیث دې کوم چه امام حاکم په مستدرک کښې روایت کړې دې: ''قال علّمنی رسول الله صلی الله علیه وسلم فی وتری اذا رفعت راسی ولم یبق الا السجود اللهم اهدنی فیمن هدیت... الخ''

او اصحاب سنن اربعه او بیهقی د علی رضی الله عنه نه روایت کړې دې:

''ان النبی صلی الله علیه وسلم کان یقول فی آخر وتره اللهم انی اعوذ برضاك من سخطك... الخ''۔

امام شافعي رحمه الله فرمائي چه په دې رواياتو کښې لفظ آخر راغلي دې مراد ترې نه بعد الرکوع دې.
احناف حضرات فرمائي چه هر څيز د نصف نه زائد باندې آخر بللې شي لهذا د دريم رکعت د رکوع نه مخکښې باندې هم د آخر اطلاق صحيح دې، دويم ځواب دا ورکولې شي چه دا د علي رضي الله عنه خپل اجتهاد وو چه د هغې مقصود دا کيدې شي چه هغوی به رسول الله ﷺ په قنوت نازله کښې د رکوع نه پس لوستلو باندې ليدلې وی او هم په دې باندې به ئې قنوت وتر قياس کړې وی او په قنوت نازله کښې مونږ هم د قنوت بعد الرکوع قائل يو.

**د احنافو دلائل**: ۱: چونکه د احنافو په نزد قنوت وتر قبل الرکوع دی او قنوت فجر (نازله) بعد الرکوع لهذا اوس چه په کوم بعض رواياتو کښې قنوت قبل الرکوع دی او په بعض کښې بعد الرکوع دی دا د احنافو خلاف نه دی او نه په هغې کښې احنافو ته د څۀ ځواب او تاويل کولو ضرورت دې ځکه چه کوم ځائې کښې چه قبل الرکوع راغلی هغه په وترو باندې محمول دې او کوم ځائې چه بعد الرکوع راغلی نو هغه په نازله باندې محمول دې.

۲: د دې باب اول روايت ۲۲۸ د انس بن مالک رضي الله عنه نه مروی دې کوم چه امام بخاري رحمه الله په ج ۱ ص ۱۳۶ او مسلم په ج ۱ ص ۲۳۷ کښې تخريج کړې دې دا حديث د انس رضي الله عنه په دې خبره باندې دلالت کوی چه د رکوع نه پس د دعا قنوت لوستل منسوخ دی لکه چه د احنافو هم دا مسلک دې.

**د اويا قاريانو د شهادت واقعه**: د اويا قاريانو يعنی کوم چه د اصحاب صفه نه وو هغوی ته قاريان په دې وجه وئيلې شی چه دې خلقو به قرآن کريم ډير زيات لوستلو او ډير به ئې يادولو. حال دا چه دا حضرات ډير زيات غريبانان او زاهدان وو او د هغوی کار صرف دا وو چه په صفه کښې به هر وخت قرآن او علم زده کولو کښې مشغول وو خو د دې باوجود به کله چه مسلمان په څۀ حادثه کښې اخته شو نو دې حضراتو به ډيره په بهادرئ څخه د هغې حادثې مقابله کوله او د مسلمانانو امداد به ئې کولو.

په دوی کښې بعض حضرات خو داسې وو چه ټوله ورځ به ئې د ځنګل نه لرګی جمع کولو څخه راوړل او چه به ئې خرڅ کړل نو د اهل صفه لپاره به ئې خوراک راوړلو او د شپې به د قرآن کريم په دور او د مسلمانانو په امداد کښې مصروف وو.

دا خوش نصيب صحابه کرام رضي الله عنهم رسول الله ﷺ اهل نجد ته ليږلې وو چه دوی هلته رسيدلو څخه هغه قبائلو ته د اسلام دعوت ورکړی او هغوی ته قرآن کريم اولولی کوم چه په کفر او شرک او ظلم او جهل کښې اينختلو څخه د تباهئ او بربادئ په لاره باندې روان وو. چه کله دا خلق په بير معونه باندې کوم چه د مکې او عسفان ترمينځه يو ځائې دې، چه کوز شو نو عامر بن طفيل، رعل،

ذکوان او قاره په دې قاریانو صحابه کرامو باندې ډیره په بې دردئ څخه حمله اوکړه او پوره جماعت ئې شهیدان کړل په هغوی کښې صرف یو صحابی کعب بن زید الانصاری رضی الله عنه بچ شو هغه هم داسې چه کله دې زخمی شو او بدن ئې بالکل بې دمه شو نو هغه بدبختو دا اوګڼله چه د هغوی روح هم د بدن ملګرتیا پریخودله د هغوی نه بیل شو خو د خوش قسمتئ نه په هغوی کښې لا د ژوند آثار موجود وو، پس هغوی په څه نه څه طریقې څخه بچ راوتلو کښې کامیاب شو او الله پاک هغوی ته صحت او تندرستی ورکړه تردې چه په غزوه خندق کښې شهید شو.

په دې شهید صحابه کرامو کښې یو خوش نصیب صحابی عامر بن فهیره رضی الله عنه وو چه د هغوی په باره کښې وئیلې شی چه د هغوی بدن ملاؤ نه شو ځکه چه هغه ملائکو دفن کړې وو.

بهرحال چه کله رسول الله ﷺ ته د دې لوئې حادثې او ظالم کفارو د ظلم علم اوشو نو رسول الله ﷺ ته ډیر زیات غم اورسیدلو، د انس رضی الله عنه بیان دې چه مونږ رسول الله ﷺ د چا لپاره دومره غمګین نه دې لیدلې څومره چه هغوی د دې مظلوم صحابه کرامو رضی الله عنهم لپاره غمګین شو پس هغوی مسلسل تر یو میاشت پورې په قنوت کښې د هغه بدبختو کفارو لپاره بددعا کوله، دا واقعه په ۴ هجری کښې راپیښه شوه.

۳: د دې باب په اول روایت ۲۲۹ کوم چه امام بخاری رحمه الله په کتاب المغازی ج ۲ ص ۵۸۶ کښې تخریج کړې دې تصریح ده چه مقام د قنوت **عند فراغ من القراءة** دې.

۴: روایت ۲۳۰ د ابی بن کعب رضی الله عنه نه مروی دې ﴿ **فیقنت قبل الرکوع** ﴾ تصریح ده، (ابن ماجه ص ۸٤، نسائی ج ۱ ص ۲٤۸)

۵: روایت ۲۳۱ کښې د ابن مسعود رضی الله عنه معمول منقول دې ﴿ **کان یقنت قبل الرکوع** ﴾ (طحاوی ج ۱ ص ۱۷۳)

۶ : په روایت ۲۳۲ کښې علقمه د ابن مسعود او د جمهور صحابه کرامو معمول ﴿ **یقنتون فی الوتر قبل الرکوع** ﴾ مصنف ابن ابی شیبة (ج ۲ ص ۳۰۲) کښې نقل کړې دې هم دغه شان روایت ۲۳۳ کښې ابراهیم د ابن مسعود رضی الله عنه په باره کښې ﴿ **کان یقنت السنة کلها** ﴾ (کتاب الآثار ص ٤۳) نقل کړې دې.

۷: د حماد عن ابراهیم النخعی روایت ۲۳۴ کښې هم په رمضان او غیر رمضان کښې د قنوت وتر ﴿ **قبل الرکوع** ﴾ مقام بیان کړې شوې دې کوم چه کتاب الاثار ص ٤۳، او کتاب الحج ج ۱ ص ۲۰۰ کښې نقل کړې شوې دې.

## بَابُ رَفْعِ الْيَدَيْنِ عِنْدَ قُنُوْتِ الْوِتْرِ

(۶۳۵) عَنِ الْاَسْوَدِ عَنْ عَبْدِاللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّـهُ كَانَ يَقْرَأُ فِيْ اٰخِرِ رَكْعَةٍ مِّنَ الْوِتْرِ: { قُلْ هُوَاللّٰهُ اَحَدٌ } ثُمَّ يَرْفَعُ يَدَيْهِ فَـيَقْنُتُ قَـبْلَ الرَّكْعَةِ''۔رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ فِيْ جُزْءِ رَفْعِ الْيَدَيْنِ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

**باب د قنوت وتر په وخت لاسونه اوچتول:** ۶۳۵: د اسود نه روايت دې چه عبد الله بن مسعود ﷛ د وتر په آخرى ركعت كښې ﴿ قل هو الله احد ﴾ تلاوت كولو . او خپل دواړه لاسونه به ئې اوچتول. بيا به ئې د ركوع نه مخكښې قنوت لوستلو. دا حديث بخارى په ﴿ جز رفع اليدين ﴾ كښې نقل كړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

۶۳۶: وَعَنْ اِبْرَاهِيْمَ النَّخْعِيِّ ﷫ قَالَ: '' تُرْفَعُ الْاَيْدِيْ فِيْ سَبْعِ مَوَاطِنَ فِيْ افْتِتَاحِ الصَّلٰوةِ وَفِي التَّكْبِيْرِ لِلْقُنُوْتِ فِي الْوِتْرِ وَفِي الْعِيْدَيْنِ وَعِنْدَ اسْتِلَامِ الْحَجَرِ وَعَلَى الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ وَبِجَمْعٍ وَّعَرَفَاتٍ وَعِنْدَ الْمَقَامَيْنِ عِنْدَ الْجَمْرَتَيْنِ''۔رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۶۳۶: ابراهيم النخعى ﷫ فرمائى په اووهٔ مقاماتو باندې دې لاسونه اوچت كړې شى، د مانځه په شروع كښې په وترو كښې د قنوت د تكبير لپاره، په عيدين كښې، د حجر اسود د استلام په وخت، صفا او مروه باندې، مزدلفه، عرفات او د دواړو جمرو څخه د رمى نه پس اودريدو په وخت. دا حديث طحاوى نقل كړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

**تشريح**>(۶۳۵ نه ۶۳۶ پورې) رفع اليدين په وخت د قنوت الوتر مسنون دى دلائل لاندې ليكلې شى. ۱: د دې باب اول روايت ۶۳۵ د اسود بن عبدالله نه مروى دې كوم چه امام بخارى ﷫ په جزء رفع اليدين ص ۲۸ كښې نقل كړې دې د ﴿ ثم يرفع يديه ﴾ تصريح پكښې ده.

۲: د ابراهيم النخعى روايت ۶۳۶ كښې په سبع مواطن كښې په رفع يدين كښې ﴿ وفى التكبير للقنوت للوتر ﴾ تصريح ده كوم چه امام طحاوى ﷫ په كتاب المناسک الحج ج ۱ ص ٤٥٥ كښې تخريج كړې دې

۳: حافظ ابن القيم ﷫ په بدائع الفوائد ج ٤ ص ١١٤ كښې ليكى : **ان ابن مسعود ﷛ كان يقنت فى الوتر اذا فرغ من القراءة كبر ورفع يديه ثم يقنت** او په سنن الكبرى ج ۳ ص ٤١ كښې دى ابوهريرة ﷛ **يرفع يديه فى قنوته فى شهر رمضان وفيه ابوقلابة (عبدالله بن زيد الجرمى) يرفع يديه فى قنوته.** جزء رفع اليدين ص ۲۸ او په ازالة الخفاء ج ۱ ص ۹٤ كښې دى چه عمر فاروق ﷛ **يرفع يديه فى القنوت.**

التعليق الحسن ج ۲ ص ۱۸ کښې د ابوهریره رضی الله عنه نه د التلخيص الخبير ص ۹۶ په حواله د انس رضی الله عنه نه د رفع اليدين ثبوت دې. طحاوی ج ۱ ص ۳۹۱ کښې دی قال ابراهيم النخعی ترفع الايدی فی سبع مواطن فی افتتاح الصلوة وفی تكبيرة القنوت الخ وفی مثله فی كتاب الاثار لابی يوسف ص ۲۱ او علامه زيلعی رحمه الله په نصب الراية ج ۱ ص ۳۹۱ کښې فرمائی : قد تواترت الاخبار برفع اليدين فی الوتر.

## بَابُ الْقُنُوْتِ فِیْ صَلٰوةِ الصُّبْحِ

(۶۳۷) عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: ''مَازَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْنُتُ فِی الْفَجْرِ حَتّٰى فَارَقَ الدُّنْيَا'' رَوَاهُ عَبْدُ الرَّزَّاقِ وَاَحْمَدُ وَالدَّارَقُطْنِیُّ وَالطَّحَاوِیُّ وَالْبَيْهَقِیُّ فِی الْمَعْرِفَةِ وَفِیْ اِسْنَادِهٖ مَقَالٌ

**باب د سحر په مانځهٔ کښې قنوت:** ۶۳۷: سيدنا انس بن مالک رضی الله عنه فرمائی رسول الله صلی الله علیه وسلم به هميشه د سحر په مانځه کښې هميشه قنوت لوستلو. تردې چه هغوی د دنيا نه جدا شو، دا حديث عبدالرزاق، احمد، دارقطنی، طحاوی او بيهقی په معرفة کښې نقل کړې دې او د دې په اسناد کښې کلام دې.

(۶۳۸) وَعَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ قَالَ: ''صَلَّيْتُ خَلْفَ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ صَلٰوةَ الصُّبْحِ فَلَمَّا فَرَغَ مِنَ الْقِرَأَةِ فِی الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ كَبَّرَ ثُمَّ قَنَتَ ثُمَّ كَبَّرَ فَرَكَعَ'' ـ رَوَاهُ الطَّحَاوِیُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

۶۳۸: طارق بن شهاب فرمائی ما په عمر رضی الله عنه پسې د سحر مونځ اوکړو، چه کله هغوی د دويم رکعت د قراءت نه فارغ شو، نو تکبير ئې اوکړو، بيا ئې قنوت اولوستلو، بيا ئې تکبير وئيلو ځخه رکوع اوکړه. دا حديث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(۶۳۹) وَعَنْ اَبِیْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ عَلِیٍّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ''اَنَّهٗ كَانَ يَقْنُتُ فِیْ صَلٰوةِ الصُّبْحِ قَبْلَ الرُّكُوْعِ'' ـ رَوَاهُ الطَّحَاوِیُّ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ.

۶۳۹: د ابوعبدالرحمٰن نه روايت دې چه علی رضی الله عنه به د سحر په مانځه کښې د رکوع نه مخکښې اول قنوت لوستلو. دا حديث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۶۴۰) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَعْقِلٍ قَالَ: كَانَ عَلِیٌّ وَّاَبُوْمُوْسٰى رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا يَقْنُتَانِ فِیْ صَلٰوةِ الْغَدَاةِ'' ـ رَوَاهُ الطَّحَاوِیُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

۶۴۰: عبدالله بن معقل فرمائی: سيدنا علی او سيدنا ابوموسی اشعری رضی الله عنهما به د سحر په مانځه کښې قنوت لوستلو. دا حديث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(۶۴۱) وَعَنْ أَبِيْ رَجَآءَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: ''صَلَّيْتُ مَعَهُ الْفَجْرَ فَقَنَتَ قَبْلَ الرَّكْعَةِ''. رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ. وَإِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

۶۴۱: ابو رجاء د ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت کوی چه ما د ابن عباس رضي الله عنهما څخه د سحر مونځ اوکړو نو هغوی د رکوع نه مخکښې قنوت اولوستلو. داحدیث طحاوی نقل کړې دې او ددې اسناد حسن دې.

تشریح: (۶۳۷ نه ۶۴۱ پورې) د دې نه مخکښې هم عرض کړې شوې وو چه د ائمة کرامو په دې کښې اختلاف دې چه قنوت د وتر مستقل دی یا قنوت فجر، احناف او حنابله د قنوت فی الوتر د استقلال قائل دی او شوافع او مالکیان د سحر د قنوت د استقلال.

**قنوت په نفس ثبوت باندې اجماع:** حقیقت دا دې چه رسول الله ﷺ په نفس ثبوت قنوت کښې د چا اختلاف نشته ټول ئې منی چه د دې ثبوت شته او په دې کښې هم څه شبهه نشته چه د ماسپخین او مازیګر او ماښام او ماسخوتن په مونځونو کښې د شوافعو په نزد هم قنوت نشته امام نووی رحمه الله تصریح کړې ده چه د فجر نه علاوه په باقی څلورو مونځونو کښې د امام شافعی رحمه الله درې اقوال دی صحیح او مشهور قول دا دې چه که په مسلمانانو باندې ویره، دشمن، قحط یا وباء وغیره څه آفت نازل شی (العیاذ بالله) نو په هر مانځه کښې دعاء قنوت جائز دې. **وهذا قول لم يقل به الا الشافعي.** اوس پاتې شو صرف د سحر مونځ نو په هغې کښې بغیر د سبب نه قنوت شته او که نه؟ نو په دې کښې دوه مذهبه دی.

**بیان مذاهب:** ۱: یو د امام صاحب، صاحبین، عبدالله بن المبارک، امام احمد او په قول د ترمذی د اکثر اهل علم په نزد په فجر کښې بغیر د سبب نه قنوت نشته.

۲: د امام شافعی رحمه الله په نزد د سحر په مانځه کښې دائمی قنوت دې دلائل دوا ړو څخه دی.

**شوافعو دلائل او د هغې تجزیه:** علامه ابن الجوزی رحمه الله په التحقیق کښې ذکر کړې دی چه د شوافعو احادیث (کومو نه چه هغوی استدلال کوی) څلور قسمه دی اول هغه چه مطلق دی چه رسول الله ﷺ دعاء قنوت لوستلې دې، په دې کښې د چا هم اختلاف نشته، ځکه چه دا امر ثابت دې دویم هغه چه مقید دې چه رسول الله ﷺ د سحر په مانځه کښې دعاء قنوت اولوستلو، د دې قسم احادیث او دلائلو په رڼړا کښې صرف یو میاشت په قنوت وئیلو باندې محمول دی کوم چه به مونږ دې بیانوو. دریم هغه کوم چه د براء رضي الله عنه نه مروی دې هغه دا چه رسول الله ﷺ به د سحر او ماښام په مانځه کښې قنوت لوستلو. (مسلم، ترمذی، احمد، نسائی، طحاوی) د دې ځواب دا دې چه بغیر د سبب نه د ماښام په مانځه کښې د قنوت نه کیدل د شوافع په نزد هم مسلم دی. **فما هو جوابهم عن**

المغرب فهو ځوابنا عن الفجر ..... څلورم هغه کوم چه د هغوی لپاره صریح حجت دي، مثلا د انس رضی الله عنه حدیث قال ما زال رسول الله ﷺ یقنت فی الفجر حتی فارق الدنیا (مصنف عبدالرزاق ج ۳ ص ۱۱۰، مسند احمد ج ۳ ص ۱۶۲، دارقطنی ج ۱ ص ۳۹، حاکم، طحاوی ج ۱ ص ۱۶۸، اسحق بن راهویه، بیهقی ج ۲ ص ۲۰۱ کوم چه زمونږ مصنف رحمه الله په ۲۳۷ نمبر کښې نقل کړې دي صاحب تنقیح وائی چه دا حدیث د شوافع په دلائلو کښې د ټولو نه عمده دلیل دې، خو د دې راوی ابوجعفر عیسی بن ماهان رازی دې چه د هغه متعلق صاحب تنقیح اګر چه د یو جماعت نه توثیق نقل کړې دې خو حافظ ابن الجوزی رحمه الله په کتاب التحقیق او العلل المتناهیة کښې فرمائی چه هذا حدیث لا یصح، چه دا حدیث صحیح نه دې ځکه چه د ابوجعفر رازی متعلق علی بن المدینی فرمائی ﴿ کان یخلط ﴾ یحیی بن معین وائی، ﴿ کان یخطئ ﴾ امام احمد رحمه الله فرمائی لیس بالقوی فی الحدیث، شیخ ابوزرعة رحمه الله فرمائی: کان یهم کثیرا، ابن حبان فرمائی یتفرد بالمناکیر عن المشاهیر.

**سوال:** خطیب بغدادی په کتاب القنوت کښې د انس بن مالک د خادم دینار بن عبدالله په روایت عن انس ما زال رسول الله ﷺ یقنت فی صلاة الصبح حتی مات، د تخریج نه پس سکوت کړې دې معلومه شوه چه دا حدیث قابل احتجاج دې.

**ځواب:** علامه ابن الجوزی رحمه الله فرمائی چه د خطیب د دې حدیث د تخریج نه پس سکوت او د دې نه احتجاج عصبیتِ بارده، د تدیّن کمی او ډیره د شرم خبره ده څخه د دې چه هغوی ته معلومه ده چه دا حدیث باطل دې ځکه چه ابن حبان د دینار بن عبدالله په باره کښې فرمائی ﴿ دینار یروی عن انس آثارا موضوعة لا یحل ذکرها فی الکتب الا علی سبیل القدح ﴾ چه دې د انس رضی الله عنه نه بالکل موضوع اثار نقل کوی چه د هغې په کتابونو کښې ذکر کول حلال نه دی مګر دا چه د هغوی په ذکر څخه اظهار د نقص او عیب مقصود وی. فوا عجبا للخطیب.

بیا د انس رضی الله عنه نه صحیح حدیث د دې خلاف مروی دې، پس امام طحاوی رحمه الله په شرح معانی الاثار کښې د انس رضی الله عنه نه روایت کړې دې، ﴿ انه علیه السلام قنت شهرا علی احیاء العرب ثم ترکه ﴾ رسول الله ﷺ صرف یو میاشت پورې قنوت لوستلې وو چه په هغې کښې ئې د عربو د بعض قبائلو لپاره بد دعا کړې وه، د هغې نه پس ئې بیا ترک کړه.

**د نوراحادیث الباب تخریج او ځواب:** د باب هذا په نورو روایاتو کښې د ﴿ صلاة الصبح یا صلاة الفجر ﴾ تصریح منقول ده، دا د مخکښې تجزیه مطابق صرف یوه میاشت په قنوت لوستلو باندې محمول

دې چه د هغې تفصیلي دلائل په روستو باب کښې راځي

د دې باب دویم روایت ۲۳۸ کښې د عمر رضی الله عنه عمل منقول دې په روایت ۲۳۹ کښې د علي رضی الله عنه ۲۴۰ کښې د علي او ابوموسی اشعري رضی الله عنهما او په ۲۴۱ کښې د ابن عباس رضی الله عنهما دا ټول روایات امام طحاوي رحمه الله په ج ۱ ص ۱۷۱، ۱۲۲، ۱۷۳ کښې تخریج کړې دی

## بَابُ تَرْكِ الْقُنُوْتِ فِيْ صَلٰوةِ الْفَجْرِ

(۶۴۲) عَنْ مُحَمَّدٍ قَالَ: قُلْتُ لِاَنَسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: هَلْ قَنَتَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ صَلٰوةِ الصُّبْحِ؟ قَالَ نَعَمْ! ''بَعْدَ الرُّكُوْعِ يَسِيْرًا''۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

**باب د سحر په مانځهٔ کښې د قنوت نه لوستل:** ۶۴۲: محمد فرمائی: ما انس رضی الله عنه ته اووې آیا رسول الله صلی الله علیه وسلم به فجر کښې قنوت لوستلو؟ هغوی اوفرمائیل: او د رکوع نه پس لږه موده.

(۶۴۳) وَعَنْ اَبِيْ مِجْلَزٍ عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَنَتَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَهْرًا بَعْدَ الرُّكُوْعِ فِيْ صَلٰوةِ الصُّبْحِ يَدْعُوْ عَلٰى رِعْلٍ وَّذَكْوَانَ وَيَقُوْلُ ''عُصَيَّةُ عَصَتِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ''۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ

۶۴۳: ابو مجلز د انس رضی الله عنه نه روایت نقل کړې دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به د سحر په مانځه کښې د رکوع نه پس تر یو میاشت پورې قنوت لوستلو، هغوی به د قبیله رعل او ذکوان خلاف بددعا کوله، رسول الله صلی الله علیه وسلم به فرمائیل عصیة د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم نافرمانی کړې ده. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۶۴۴) وَعَنْ عَاصِمٍ عَنْ اَنَسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: سَاَلْتُهٗ عَنِ الْقُنُوْتِ قَبْلَ الرُّكُوْعِ اَوْبَعْدَ الرُّكُوْعِ فَقَالَ: قَبْلَ الرُّكُوْعِ۔ قَالَ: قُلْتُ: ''فَاِنَّ اُنَاسًا يَزْعُمُوْنَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَنَتَ بَعْدَ الرُّكُوْعِ'' فَقَالَ: ''اِنَّمَا قَنَتَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَهْرًا يَدْعُوْ عَلٰى اُنَاسٍ قَتَلُوْا اُنَاسًا مِّنْ اَصْحَابِهٖ يُقَالُ لَهُمُ الْقُرَّآءُ''۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

۶۴۴: عاصم فرمائی چه ما د انس رضی الله عنه نه د قنوت په باره کښې پوښتنه اوکړه چه د رکوع نه مخکښې دې او که روستو؟ نو هغوی اوفرمائیل: د رکوع نه مخکښې، عاصم فرمائی ما عرض اوکړو: چه د څه خلقو خیال دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د رکوع نه روستو قنوت لوستلې دی؟ نو هغوی اوفرمائیل: بیشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه میاشت د هغوی متعلق بد دعا اوکړه چا چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په صحابه کښې بعض خلق قتل کړې وو. چا ته قاریان وئیلې شی. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۶۴۵) وَعَنْ اَنَسِ بْنِ سِيْرِيْنَ عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَنَتَ شَهْرًا بَعْدَ الرُّكُوْعِ فِيْ صَلٰوةِ الْفَجْرِ يَدْعُوْ عَلٰى بَنِيْ عُصَيَّةَ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

۷۴۵: انس بن سيرين د انس بن مالک رضي الله عنه نه روايت کړي دي چه رسول الله ﷺ يوه مياشت د رکوع نه پس د سحر په مانځه کښې قنوت اولوستلو، رسول الله ﷺ به د بنو عصيه خلاف بد دعا کوله.دا حديث مسلم نقل کړي دي

(۷۴۶) وَعَنْ قَتَادَةَ عَنْ اَنَسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَنَتَ شَهْراً يَدْعُوْ عَلٰى (اَحْيَـآءٍ مِّنْ) اَحْيَـآءِ الْعَرَبِ ثُمَّ تَرَكَهُ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

۷۴۶: قتاده رحمه الله د انس رضي الله عنه نه روايت کړي دي چه رسول الله ﷺ يوه مياشت قنوت اولوستلو، د عربو د قبيلو خلاف به ئې بد دعا کوله، بيا ئې پريخودله. دا حديث مسلم نقل کړي دي.

(۷۴۷) وَعَنْهُ عَنْ اَنَسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لَا يَقْنُتُ اِلَّا اِذَا دَعَا لِقَوْمٍ اَوْدَعَا عَلٰى قَوْمٍ۔ رَوَاهُ ابْنُ خُزَيْمَةَ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۷۴۷: قتاده رحمه الله د انس رضي الله عنه نه روايت کړي دي چه رسول الله ﷺ به قنوت هله لوستلو چه کله به ئې د يو قوم لپاره يا د يو قوم خلاف بد دعا فرمائيله.دا حديث ابن خزيمه نقل کړي دي او د دې اسناد صحيح دي.

(۷۴۸) وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا اَرَادَ اَنْ يَّدْعُوَ عَلٰى اَحَدٍ اَوْيَدْعُوَ لِاَحَدٍ قَنَتَ بَعْدَ الرُّكُوْعِ فَرُبَّمَا قَالَ اِذَا قَالَ: ''سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ'' ''اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ'' اَللّٰهُمَّ اَنْجِ الْوَلِيْدَ بْنَ الْوَلِيْدِ وَسَلَمَةَ بْنَ هِشَامٍ وَّعَيَّاشَ بْنَ رَبِيْعَةَ اَللّٰهُمَّ اشْدُدْ وَطْاَتَكَ عَلٰى مُضَرَ وَاجْعَلْهَا سِنِيْنَ كَسِنِيْ يُوْسُفَ يَجْهَرُ بِذٰلِكَ وَكَانَ يَقُوْلُ فِيْ بَعْضِ صَلٰوتِهٖ فِي الْفَجْرِ اَللّٰهُمَّ الْعَنْ فُلَانًا فُلَانًا لِلْاَحْيَآءِ مِنَ الْعَرَبِ حَتّٰى اَنْزَلَ اللّٰهُ {لَيْسَ لَكَ مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ} ۔ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ۔

۷۴۸: د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چه رسول الله ﷺ به کله دچا خلاف بد دعا يا د چا په حق کښې دعا فرمائيله. د رکوع نه پس به ئې قنوت لوستلو، بعض وخت چه به رسول الله ﷺ ﴿سمع الله لمن حمده اللهم ربنا لک الحمد﴾ اوئيل نو دا دعا به ئې کوله:

اَللّٰهُمَّ اَنْجِ الْوَلِيْدَ بْنَ الْوَلِيْدِ وَسَلَمَةَ بْنَ هِشَامٍ وَّعَيَّاشَ بْنَ رَبِيْعَةَ اَللّٰهُمَّ اشْدُدْ وَطْاَتَكَ عَلٰى مُضَرَ وَاجْعَلْهَا سِنِيْنَ كَسِنِيْ يُوْسُفَ۔ (اې الله ا وليد، سلمه بن هشام، او عياش بن ربيعه ته خلاصې ورکړه، اې الله: په قبيله مضر باندې خپله تباه کونکې سزا سخته کړه او په هغوی باندې قحط نازل کړه، څنګه د يوسف عليه السلام په زمانه کښې قحط نازل شوې وو)

دا دعا به رسول الله ﷺ په اوچت آواز څخه کوله او بعض وخت به هغوی د خپل سحر په مانځه کښې فرمائيل: (اې الله د عربو په قبائلو کښې په فلانئ فلانئ قبيلې باندې لعنت اوکړه.

تردې چه الله پاک دا آيتونه نازل کړل ﴿ ليس لک من الامر شئ ﴾ دا روايت بخاري نقل کړې دې.

(٦٤٩) وَعَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَقْنُتُ فِيْ صَلٰوةِ الصُّبْحِ إِلَّا أَنْ يَدْعُوَ لِقَوْمٍ أَوْ عَلٰى قَوْمٍ. رَوَاهُ ابْنُ حِبَّانَ فِيْ صَحِيْحِهٖ وَإِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

۷۴۹ : سيدنا ابوهريره رضي الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ به د صبا په مانځه کښې قنوت نه لوستلو، مګر هله چه د يو قوم لپاره به ئې دعا فرمائيله يا به ئې د يو قوم لپاره بددعا فرمائيله.دا حديث ابن حبان په خپل صحيح کښې نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(٦٥٠) وَعَنْ أَبِيْ مَالِكٍ قَالَ: قُلْتُ لِأَبِيْ: ''يَا أَبَتِ إِنَّكَ قَدْ صَلَّيْتَ خَلْفَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِيْ بَكْرٍ وَعُمَرَ وَعُثْمَانَ وَعَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ بِالْكُوْفَةِ نَحْوًا مِنْ خَمْسِ سِنِيْنَ أَكَانُوْا يَقْنُتُوْنَ فِي الْفَجْرِ؟'' قَالَ: ''أَيْ بُنَيَّ مُحْدَثٌ''. رَوَاهُ الْخَمْسَةُ إِلَّا أَبَا دَاوٗدَ وَصَحَّحَهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ الْحَافِظُ فِي التَّلْخِيْصِ إِسْنَادُهٗ حَسَنٌ.

۷۵۰: ابو مالک وائی، ما خپل پلار ته عرض اوکړو، اې بابا جانه ! بيشکه تاسو په رسول الله ﷺ ، ابوبکر صديق، عمر فاروق، عثمان غنی او کوفه کښې تقريبا پنځه کاله په علی رضي الله عنه پسې مونځ کړې دې، آيا دې حضراتو به په سحر کښې قنوت لوستلو، هغوی اووې : اې ځويه ! دا بدعت دې. دا حديث د ابوداؤد نه علاوه اصحاب خمسه نقل کړې دې، ترمذی دې ته صحيح وئيلې دې، حافظ په تخليص کښې وئيلې دی چه د دې اسناد حسن دې.

(٦٥١) وَعَنِ الْأَسْوَدِ أَنَّ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كَانَ لَا يَقْنُتُ فِيْ صَلٰوةِ الصُّبْحِ. رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَإِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

۷۵۱ : د اسود نه روايت دې چه عمر رضي الله عنه به د سحر په مانځه کښې قنوت نه لوستلو.دا حديث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(٦٥٢) وَعَنْهُ أَنَّهٗ صَحِبَ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ سِنِيْنَ فِي السَّفَرِ وَالْحَضَرِ فَلَمْ يَرَهٗ قَانِتًا فِي الْفَجْرِ حَتّٰى فَارَقَهٗ. رَوَاهُ مُحَمَّدُ بْنُ الْحَسَنِ فِيْ كِتَابِ الْآثَارِ وَإِسْنَادُهٗ حَسَنٌ.

۷۵۲: د اسود نه روايت دې چه زه کلونه د عمر رضي الله عنه ځخه يوځائې په سفر او حضر کښې يو ځائې پاتې شوې يم، ما دهغوی نه د جدا کيدو پورې کله هم د سحر په مانځه کښې په قنوت لوستلو باندې نه دی ليدلې.دا حديث محمد بن الحسن په کتاب الاثار کښې نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(٦٥٣) وَعَنْهُ قَالَ: ''كَانَ عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ إِذَا حَارَبَ قَنَتَ وَإِذَا لَمْ يُحَارِبْ لَمْ يَقْنُتْ''. رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَإِسْنَادُهٗ حَسَنٌ.

۷۵۳ : اسود فرمائي : سيدنا عمر رضي الله عنه به چه کله (د دشمنانو ځخه) جنګ کولو نو قنوت به ئې

لوستلو او چه جنګ به ئې نه کولو نه نه به ئې لوستلو (یعنی صرف په حوادثو کښې به ئې قنوت لوستلو) دا حدیث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۶۵۴) وَعَنْ عَلْقَمَةَ وَالْاَسْوَدِ وَمَسْرُوْقٍ اَنَّهُمْ قَالُوْا: ''كُنَّا نُصَلِّيْ خَلْفَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ الْفَجْرَ فَلَمْ يَقْنُتْ''۔ رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۶۵۴: علقمه، اسود او مسروق رحمهم الله فرمائی: مونږ به په عمر رضی الله عنه پسې مونځ کولو، هغوی به قنوت نه لوستلو، دا حدیث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۶۵۵) وَعَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ: ''كَانَ عَبْدُ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ لَا يَقْنُتُ فِيْ صَلٰوةِ الصُّبْحِ''۔ رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۶۵۵: علقمه رحمه الله وائی: عبد الله بن مسعود رضی الله عنه به د سحر په مانځه کښې قنوت نه لوستلو. دا حدیث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۶۵۶) وَعَنِ الْاَسْوَدِ قَالَ: ''كَانَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ لَا يَقْنُتُ فِيْ شَيْءٍ مِّنَ الصَّلَوَاتِ اِلَّا الْوِتْرَ فَاِنَّهٗ كَانَ يَقْنُتُ قَبْلَ الرَّكْعَةِ''۔ رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَالطَّبْرَانِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۶۵۶: اسود رحمه الله فرمائی: عبد الله بن مسعود رضی الله عنه به د وترو نه علاوه په یو مونځ کښې هم قنوت نه لوستلو او د رکوع نه مخکښې به ئې قنوت لوستلو. دا حدیث طحاوی او طبرانی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۶۵۷) وَعَنْ اَبِي الشَّعْثَآءِ قَالَ: سَأَلْتُ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنِ الْقُنُوْتِ فَقَالَ: ''مَا شَهِدْتُ وَمَا رَأَيْتُ'' ۔رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۶۵۷: ابو الشعثاء فرمائی ما د ابن عمر رضی الله عنهما نه د قنوت په باره کښې پوښتنه اوکړه، نو هغوی اوفرمائیل: نه خو زه په داسې موقع باندې حاضر شوې یم او نه ما لیدلې دی. دا حدیث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۶۵۸) وَعَنْهُ قَالَ سُئِلَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنِ الْقُنُوْتِ فَقَالَ: مَا الْقُنُوْتُ؟ فَقَالَ: اِذَا فَرَغَ الْاِمَامُ مِنَ الْقِرَأَةِ فِي الرَّكْعَةِ الْاٰخِرَةِ قَامَ يَدْعُوْ، قَالَ: ''مَا رَأَيْتُ اَحَدًا يَّفْعَلُهٗ وَاِنِّيْ لَاَظُنُّكُمْ مَعَاشِرَ اَهْلِ الْعِرَاقِ تَفْعَلُوْنَهٗ''۔ رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۶۵۸: ابو الشعثاء فرمائی ما د ابن عمر رضی الله عنهما نه د قنوت په باره کښې پوښتنه اوکړه نو هغوی اوفرمائیل: قنوت څۀ دې؟ (سائل) عرض اوکړو چه کله په آخری رکعت کښې د قراءة نه فارغ شی نو په ولاړه دعا اوکړی، هغوی اوفرمائیل: ما په دې عمل کولو باندې څوک نه دی لیدلې، زما

خيال دي چه د عراق والو ډله داسې کوي دا حديث طحاوي نقل کړي دي او د دې اسناد صحيح دي

(٦٥٩) وَعَنْ أَبِي مِجْلَزٍ قَالَ: ''صَلَّيْتُ خَلْفَ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا الصُّبْحَ فَلَمْ يَقْنُتْ فَقُلْتُ الْكِبَرُ يَمْنَعُكَ فَقَالَ: ''مَا أَحْفَظُهُ عَنْ أَحَدٍ مِّنْ أَصْحَابِي''. رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَالطَّبْرَانِيُّ وَإِسْنَادُهُ صَحِيحٌ۔

۷۵۹ : ابو مجلز فرمائي ما په ابن عمر رضي الله عنهما پسې د سحر مونځ ادا کړو نو هغوی قنوت نه لوستلو ما اووې تاسو بوډا والی د قنوت لوستلو نه منع کړی یئ؟ هغوی اووې ما ته خبر ملګرو کښې د چا نه هم ياد نه دی چه هغوی قنوت لوستلې وی. دا حديث طحاوي او طبراني نقل کړي دي او د دې اسناد صحيح دي.

(٦٦٠) وَعَنْ نَافِعٍ أَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا كَانَ لَا يَقْنُتُ فِي شَيْءٍ مِّنَ الصَّلٰوةِ. رَوَاهُ مَالِكٌ وَإِسْنَادُهُ صَحِيحٌ۔

۷۶۰ : د نافع نه روایت دي چه عبدالله بن عمر رضي الله عنهما به په یو مانځه کښې هم قنوت نه لوستلو دا حديث مالک نقل کړي دي او د دې اسناد صحيح دي.

(٦٦١) وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ الْحَارِثِ السُّلَمِيِّ قَالَ: ''صَلَّيْتُ خَلْفَ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا الصُّبْحَ فَلَمْ يَقْنُتْ''. رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَإِسْنَادُهُ صَحِيحٌ۔

۷۶۱ : عمران بن الحارث السلمي فرمائي : ما په ابن عباس رضي الله عنهما پسې د سحر مونځ اوکړو نو هغوی قنوت او نه لوستلو. دا حديث طحاوي نقل کړي دي او د دې اسناد صحيح دي.

(٦٦٢) وَعَنْ غَالِبِ بْنِ فَرْقَدٍ الطَّحَّانِ قَالَ: ''كُنْتُ عِنْدَ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ شَهْرَيْنِ فَلَمْ يَقْنُتْ فِي صَلٰوةِ الْغَدَاةِ''. رَوَاهُ الطَّبْرَانِيُّ وَإِسْنَادُهُ حَسَنٌ۔

۷۶۲: غالب بن فرقد الطحان وائي : زه د انس بن مالک رضي الله عنه څخه دوه مياشتې پاتې شوې يم هغوی د سحر په مانځه کښې قنوت نه دی لوستلی. دا حديث طبراني نقل کړي دي او د دې اسناد حسن دي.

(٦٦٣) وَعَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ قَالَ كَانَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ الزُّبَيْرِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ''يُصَلِّي بِنَا الصُّبْحَ بِمَكَّةَ فَلَا يَقْنُتُ''. رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَإِسْنَادُهُ صَحِيحٌ۔

قَالَ النِّيْمَوِيُّ: ''تَدُلُّ الْأَخْبَارُ عَلٰى أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابَهُ لَمْ يَقْنُتُوا فِي الْفَجْرِ إِلَّا فِي النَّوَازِلِ''۔

۷۶۳: عمرو بن دينار وائي : عبدالله بن زبير رضي الله عنهما به مونږ ته په مکه مکرمه کښې د صبا مونځ راکولو او هغوی به قنوت نه لوستلو.

دا حدیث طحاوی نقل کړی دی او د دې اسناد صحیح دی امام نیموی فرمائی دا احادیث په دې باندې دلالت کوی چه رسول الله ﷺ او صحابه کرام رضی الله عنهم به په سحر کښې سوا د څه حادثې نه قنوت نه لوستلو

**تشریح>د احنافو دلائل:** (۶۴۲ نه ۶۶۳ پورې) د باب ټول روایات د دې خبرې قوی مستدل دې چه خپله رسول الله ﷺ او جمهور صحابه کرامو رضی الله عنهم مستقلا د همېشه لپاره د سحر په مانځه کښې قنوت نه دی لوستلی او په کومو روایاتو کښې چه قنوت لوستل ثابت دی هغه به قنوت نازله وو چه د هغې احناف هم قائل دی. په قال النیموی څخه زمونږ مونف هم دا خبره کړې ده.

**د احادیث الباب تخریج:** چونکه د ټولو روایاتو مضمون یو دی، نه مفهوم او ترجمه کښې واضح او مدلول قطعی دې د دې نه به د ضرورت مطابق د بعض روایاتو په تشریح باندې اکتفاء کولې شی خو لاندې تخریج کولې شی چه بحث او تحقیق کښې د حوالې سهولت وی روایت ۶۴۲ امام بخاری ج ۱ ص ۱۳۶، روایت ۶۴۳ بخاری ج ۲ ص ۵۸۷، مسلم ج ۱ ص ۲۳۷، روایت ۶۴۴، بخاری ج ۱ ص ۱۳۶، مسلم ج ۱ ص ۲۳۷، روایت ۶۴۵، مسلم ج ۱ ص ۲۳۷، روایت ۶۴۶ مسلم ۱ ۲۳۷، روایت ۶۴۷ تلخیص الحبیر ج ۱ ص ۲۴۵ روایت ۶۴۸ بخاری ج ۲ ص ۶۵، روایت ۶۴۹ تخلیص الحبیر ج ۱ ص ۲۴۶، روایت ۶۵۰ ترمذی ج ۱ ص ۹۱، روایت ۶۵۱ طحاوی ج ۱ ص ۱۷۲، روایت ۶۵۲ کتاب الاثار ص ۴۴، روایت ۶۵۳ طحاوی ج ۱ ص ۱۷۲، روایت ۶۵۴ حواله مذکوره، روایت ۶۵۵، طحاوی ج ۱ ص ۱۷۳، روایت ۶۵۶ حواله مذکوره، روایت ۶۵۷ طحاوی ج ۱ ص ۱۶۹، روایت ۶۵۸ حواله مذکوره، روایت ۶۵۹ حواله مذکوره، روایت ۶۶۰ موطاء امام مالک ص ۱۴۳، روایت ۶۶۱ طحاوی ج ۱ ص ۱۷۳، روایت ۶۶۲ المعجم الکبیر للطبرانی ج ۱ ص ۲۴۵، روایت ۶۶۳ طحاوی ج ۱ ص ۱۷۳.

**د ابوهریره رضی الله عنه د روایت تشریح:** د دې باب روایت ۶۴۸ د ابوهریره رضی الله عنه نه منقول دې د دې اجمالی تشریح پیش کولې شی.

بعض صحابه کرام رضی الله عنهم کوم چه د کفارو په قید کښې وو او هغوی به پرې ظلمونه کول د هغوی د خلاصی او نجات لپاره به رسول الله ﷺ د الله پاک نه سوالونه کول، او د عربو هغه قبائل چه مسلمانان به ئې تنګول د هغوی لپاره به ئې بد دعاء فرمائیله. پس ولید بن ولید قریشی مخزومی کوم چه د اسلام یو بهادر فرزند او د اسلامی فوج ذ کمانډر انچیف خالد بن ولید رضی الله عنه رور وو، د بدر په موقع باندې د عبدالله بن جحش رضی الله عنه په لاس باندې ګرفتار شو، د هغوی رور خالد او هشام په دربار رسالت کښې حاضر شو او د قیدی رور د طرف نه ئې څلور زره درهمه په

طور د فديه ادا کړل او هغه ئې خلاص کړو او ځان ځخه ئې مکې ته بوتلو. وليد چه کله خلاص شو او مکې ته اورسيدلو نو هلته د اسلام پاکې رڼا د هغوی زړه او روح منور کړل او اسلام ئې قبول کړو. خلقو هغوی ته اووې چه کله ته د هغوی ځخه په مدينه کښې قيد وې نو هم هغه وخت د فديه د ورکولو نه مخکښې ولې نه مسلمانيدلې ځکه چه هلته د مسلمانيدو په شکل کښې به هغه ځلور زره درهمه کوم چه په فديه کښې ورکړې شو هغه به هم بچ شوې وې او مسلمان شوې به هم وې؟

هغوی اوفرمائيل چه : ماته دا ښه نه ښکاره کيده چه خلق دا اوائې چه د قيد نه يريدلو ځخه ئې اسلام قبول کړو.

د مکې کفارو او د قبيلې خلقو دا چيرته برداشت کوله چه وليد دې اسلام راوړی او د دې سزا ورته ملاؤ نه شی، پس رونړو هغه په قيد کښې واچولو او ځومره هم چه ظلم ترې نه کيدې شو هغه ئې اوکړو. رسول الله ﷺ ته چه کله د هغوی د مظلوميت حال معلوم شو نو د الله پاک په دربار کښې به ئې د هغوی د خلاصی او نجات لپاره دعا کوله، دغه شان هغوی د کفار مکه د لاس نه خلاصيدلو ځخه مدينې ته د رسول الله ﷺ په خدمت کښې راغلو.

سلمه بن هشام رضی الله عنه د ابوجهل رور وو او بالکل په ابتدائی دور کښې ئې اسلام قبول کړې وو دمکې کافرانو هغه هم قيد کړې ووا و په هغوی باندې به ئې ډير زيات ظلم کولو. هغه هم د هغوی د لاسونو نه وتلو ځخه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو.

عياش بن ابی ربيعه رضی الله عنه هم د ابوجهل د مور د طرف نه اخيافی رور وو. قديم الاسلام دې، په ابتدائی دور کښې د اسلام په دولت ځخه مشرف کيدو ځخه ئې حبشې ته هجرت اوکړو. چه کله رسول الله ﷺ مدينې منورې ته تشريف يوړلو نو هغه هم مدينې ته راغلو، ابوجهل هغوی ځخه داسې دهوکه اوکړه چه هغه مدينې ته راغلو او هغوی ته ئې اووې چه ستا مور ستا لپاره سخته پريشانه ده او هغې قسم خوړلې دې چه ترځو پورې تا او نه وينی په سوری کښې به نه کينی.

عياش رضی الله عنه لره د مور محبت د ابوجهل په شان ظالم ځخه سرې ځخه راښکلو. مکې مکرمه ته رسيدلو ځخه ابوجهل هغه اوتړلو او په قيد کښې ئې واچولو او په هغه باندې ظلم کولو ځخه ئې د خپل ظلم او د وحشت تسکين حاصلولو. تردې چه د هغه د قيد نه په تيخته کولو ځخه کامياب شو او بيا د رسول الله ﷺ خدمت ته راغلو. په آخر کښې د تبوک په موقع باندې د کفارو ځخه مقابلې کولو کښې شهيد شو.

دا هغه خوش نصيب اصحاب وو چه د هغوی د خلاصی او نجات لپاره د رسول الله ﷺ مبارکه ژبه په دعا ګانو باندې مشغوله شوه، ګويا د حديثو اوله دعا ﴿اللهم انج الخ﴾ د دې خبرې

مثال دې چه رسول اللهﷺ به په قنوت کښې د مومنانو لپاره دعا کوله. د حدیث دویمه دعا ﴿ اللهم اشدد الخ ﴾ د دې خبرې مثال ددې چه رسول اللهﷺ به ظلم کونکو کفارو ته بددعا کوله پس د رسول اللهﷺ د بددعا اثر دا شو چه اهل مکه تر اووهٔ کاله پورې مسلسل په قحط کښې اخته وو تردې چه هغوی مردارې هډوکی خوړلو څخه د خپل ژوند دغه سختې ورځې پوره کړې شوې.

د آیت کریمه ﴿ لیس لک من الامر شئ ﴾ حاصل دا دې چه د رسول اللهﷺ د شان رحمت مناسب چونکه دا نه وه چه هغوی د چا لپاره بددعا اوفرمائی په دې وجه د الله پاک د طرف نه منع اوکړې شوه چه د یو سړی د نوم اخستلو څخه تاسو بددعا مه کوئ، علامه طیبیؒ فرمائی چه که څه حادثه راشی مثلا دشمن حمله اوکړی قحط ئې راګیر کړی یا څه وباء خوره شی خشک سالی راشی یا د دې قسم هر صورت راپیښ شی چه په هغې څخه مسلمانان په مصیبت او تکلیف کښې اخته شی نو خلقو له پکار دی چه هغوی په ټولو فرض مونځونو کښې د دعاء قنوت د لوستلو اهتمام اوکړی پس د احنافو په نزد هم د څه حادثې او وبا په وخت په فرض مونځونو کښې دعاء قنوت لوستل جائز دی.

## بَـــابُ لَاوِتْرَانِ فِیْ لَــیْلَةٍ

(۶۶۴) عَنْ قَـــیْسِ بْنِ طَلْقٍ عَنْ اَبِیْهِ قَالَ: ''سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ ''لَاوِتْرَانِ فِیْ لَــیْلَةٍ''۔رَوَاهُ الْخَمْسَةُ اِلَّا ابْنَ مَاجَةَ وَاِسْنَادُهٗ صَحِیْحٌ۔

**باب: په یوه شپه کښې دوه کرته وتر نشته:** ۲۲۴ : قیس بن طلق فرمائی ماته زما والد صاحب اوفرمائیل، ما د رسول اللهﷺ نه واوریدل : په یوه شپه کښې دوه وتره نشته.دا حدیث د ابن ماجه نه علاوه اصحاب خمسه نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۶۶۵) وَعَنِ ابْنِ الْمُسَیَّبِ اَنَّ اَبَابَكْرٍ وَّعُمَرَ رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا تَذَاكَرَا الْوِتْرَ عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَـیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَبُوْبَكْرٍ: ''اَمَّا اَنَا فَاُصَلِّیْ ثُمَّ اَنَامُ عَلٰی وِتْرٍ فَاِذَا اسْتَیْقَظْتُ صَلَّـیْتُ شَفْعاً حَتّٰی الصَّبَاحِ ''۔فَقَالَ عُمَرُ: ''لٰـكِنِّیْ اَنَامُ عَلٰی شَفْعٍ ثُمَّ اُوْتِرُ مِنْ اٰخِرِ السَّحْرِ'' فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَـیْهِ وَسَلَّمَ لِاَبِیْ بَكْرٍ حَذِرَ هٰذَا وَقَالَ لِعُمَرَ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ قَوِیَ هٰذَا''۔رَوَاهُ الطَّحَاوِیُّ وَالْخَطَّابِیُّ وَبَقِیُّ بْنُ مُخَلَّدٍ وَاِسْنَادُهٗ مُرْسَلٌ قَوِیٌّ۔

۲۲۵: د ابن المسیب نه روایت دې چه ابوبکرصدیقؓ او عمر فاروقؓ خپل مینځ کښې د رسول اللهﷺ د وترو ذکر اوکړه. ابوبکرؓ اوفرمائیل، زه خو مونځ کوم، بیا وتر کولو څخه اودهٔ کیږم، بیا چه کله بیدار شم نو تر سحره پورې دوه دوه رکعته کوم، حضرت عمرؓ اووئیل، لیکن زه خو دوه رکعته کوم او اوده کیږم.بیا د پیشمنی په آخری وخت کښې وتر کوم، په دې باندې

رسول الله ﷺ ابوبكر رضي الله عنه ته أوفرمائيل، هغه د احتياط نه كار اخستلي دي او عمر رضي الله عنه ته ئې اوفرمائيل، هغه مضبوط كار اوكړو. دا حديث طحاوي، خطابي او يحيى بن مخلد نقل كړي دي او د دې اسناد مرسل قوي دي.

(۶۶۶) وَعَنْ اَبِيْ جَمْرَةَ قَالَ سَأَلْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنِ الْوِتْرِ فَقَالَ اِذَا اَوْتَرْتَ اَوَّلَ اللَّيْلِ فَلَا تُوْتِرْ اٰخِرَهٗ وَاِذَا اَوْتَرْتَ اٰخِرَهٗ فَلَا تُوْتِرْ اَوَّلَهٗ '' قَالَ: '' وَسَأَلْتُ عَائِذَ بْنَ عَمْرٍو فَقَالَ مِثْلَهٗ. رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ.

۶۶۶ : ابوجمرة فرمائي : ما د ابن عباس رضي الله عنهما نه د وترو په باره كښې پوښتنه اوكړه، نو هغوى اوفرمائيل : چه كله تاسو په شروع كښې وتر ادا كړئ نو د شپې په آخرى حصه كښې وتر مه كوئ او كله چه ته د شپې په آخرى حصه كښې وتر اد كړئ، نو د شپې په اوله حصه كښې وتر مه ادا كوئ. ابوجمره فرمائي او ما د عائذ بن عمرو نه پوښتنه اوكړه نو هغوى هم هغوى ته داسې خواب وركړو. دا حديث طحاوى نقل كړي دي او د دې اسناد حسن دي.

(۶۶۷) وَعَنْ خَلَّاسٍ قَالَ سَمِعْتُ عَمَّارَ بْنَ يَاسِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَسَأَلَهٗ رَجُلٌ عَنِ الْوِتْرِ فَقَالَ: '' اَمَّا اَنَا فَاُوْتِرُ ثُمَّ اَنَامُ فَاِنْ قُمْتُ صَلَّيْتُ رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ '' . رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ.

۶۶۷ : خلاس وائي : ما د عمار بن ياسر رضي الله عنهما نه واوريدل، چه كله د هغوى نه يو سړى د وترو په باره كښې پوښتنه اوكړه نو هغوى اوفرمائيل : خو زه وتر كولو څخه اوده كيږم، بيا كه بيدار شم نو دوه دوه ركعتونه ادا كوم. دا حديث طحاوى نقل كړي دي او د دې اسناد حسن دي.

(۶۶۸) وَعَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ رحمه الله قَالَ : '' ذُكِرَ عِنْدَ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نَقْضُ الْوِتْرِ '' فَقَالَتْ : '' لَا وِتْرَانِ فِيْ لَيْلَةٍ '' . رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهٗ مُرْسَلٌ قَوِيٌّ.

۶۶۸ : سعيد بن جبير رحمه الله فرمائي : ام المومنين سيده عائشه رضي الله عنها ته د وتر د ماتولو ذكر اوكړې شو نو هغوى اووې : په شپه كښې دوه كرته وتر نشته. دا حديث طحاوى نقل كړي دي او د دې اسناد مرسل قوي دي.

**تشريح>** (۶۶۴ نه ۶۶۸ پورې) : د دې باب غرض انعقاد د نقض وتر د مسئلې توضيح دي په دې كښې دوه مسلكه مشهور دي.

**بيان مذاهب:** ۱ : كه يو سړي د شپې په اوله حصه كښې د ماسخوتن د فرض كولو نه پس وتر ادا كولو څخه اوده شي بيا په آخر د شپه كښې بيداريدلو څخه تهجد كوى نو د آئمة اربعه او جمهور

اهل سنت والجماعت په نزد د وتر د دوباره کولو ضرورت نشته او د تهجد مونځ بغیر د وتر کولو نه صحیح دی.

۲: امام اسحق بن راهویه‌رحمه الله په دې پورته بیان کړی صورت کښې د نقض وتر قائل دې یعنی داسې سړې دې تهجدو ته د پاسیدو نه پس ړومبې یو رکعت د نفلو په نیت څخه اوکړی: هغه په نزد به دا رکعت د ماسخوتن وترو څخه یوځائې کیدو باندې شفع شی گویا په اول شپه کښې کړې شوې وتر به منقوض شی نو داسې سړی لپاره د تهجدو د مانځه کولو نه پس په آخر کښې دوباره وتر کول پکار دی مولف په ﴿باب لا وتران فی لیلة﴾ څخه په دې باندې رد کول غواړی.

**د ائمه اربعه او جمهورو دلائل:** د دې باب ټول روایات د ائمه اربعه او جمهور اهل سنت مستدل دی.

۱: د باب اول روایت ۴۲۴ **عن قیس بن طلق عن ابیه** کښې د ﴿**لا وتران فی لیلة**﴾ تصریح ده (ترمذی جلد ۱ ص ۱۰۷، ابوداؤد ج ۱ ص ۲۰۳، نسائی ج ۱ ص ۲٤۷، مسند احمد ج ٤ ص ۲۳) چه د هغې ظاهری مفهوم دا دې چه په یو شپه کښې یو کرت وتر کول کافی دی.

۲: د باب دویم روایت ۲۲۵ کښې د ابوبکرصدیق او عمر فاروق رضی الله عنهما معمول په شپه کښې یو کرت د وتر مونځ منقول دې رسول الله ﷺ یو د ﴿**حذر هذا**﴾ او بل د ﴿**قوی هذا**﴾ په القاباتو څخه یاد کړې دی. (طحاوی ج ۱ ص ۲۳۷)

۳: په روایت ۲۲۲ کښې د ابن عباس رضی الله عنهما او عائذ بن عمرو فتوې دی چه په یو شپه کښې یوځل وتر کول پکار دی. (حواله مذکور)

۴: روایت ۲۲۷ کښې د عمار بن یاسر رضی الله عنهما هم دا معمول منقول دې (حواله مذکور)

۵: روایت ۲۲۸ کښې د عائشې رضی الله عنها روایت دې ﴿**لا وتران فی لیلة**﴾ (حواله مذکور)

**د اسحاق بن راهویه دلائل او د جمهورو ځوابات:**

۱: امام اسحق بن راهویه‌رحمه الله د رسول الله ﷺ د ارشاد نه استدلال کوی ﴿**اجعلوا اخر صلاتکم باللیل وترا**﴾ (صحیح بخاری ج ۱ ص ۱۳۶، صحیح مسلم ج ۱ ص ۲۵۷)

۲: په دې معامله کښې هغوی د ابن عمر رضی الله عنهما اقتداء کوی او وائی چه هغوی هم د نقض وتر قائل وو په استدلال کښې د مسند احمد روایت پیش کوی.

**عن ابن عمر انه کان اذا سئل عن الوتر قال فلوا اوترت قبل ان انام ثم اردت ان اصلی باللیل شفعت بواحدة ما مضى من وترى ثم صليت مثنى مثنى فاذا قضيت صلاتى اوترت بواحدة (وقال الهيثمى رواه احمد وفيه اسحاق وهو مدلس وهو ثقة وبقية الرجال رجال الصحيح. (مجمع الزوائد ج: ۲، ص: ۲۴۶)**

ائمه اربعه او جمهورو علماء کرام فرمائی چه ۱ دا نقض وتر صحیح نه دې او وائی چه: ﴿اجعلوا اخر صلاتکم بالليل وترا﴾ امر په استحباب باندې محمول دې ځکه چه خپله د رسول الله ﷺ نه د وترو نه پس دوه رکعته کول ثابت دی پس د دې څخه متعلقه روایات په وړاندې باب کښې: ۲۲۹ نه ۲۷۱ پورې د باب الرکعتین بعد الوتر په ترجمة الباب کښې راروان دی.

۲: باقی پاتې شو د ابن عمر رضی الله عنهما د عمل خبره نو امام محمد بن نصر المروزی رحمه الله په کتاب الوتر کښې نقل کړی دی چه خپله به ابن عمر رضی الله عنهما فرمائیل چه د نقض وتر مسئله هغوی په خپله رائې باندې مستنبط کړې ده په دې باندې ما څخه د رسول الله ﷺ هیڅ روایت نشته عن مسروق قال قال ابن عمر رضی الله عنهما هیئ افعله برای لا روية .... (معارف السنن ج ۲ ص ۲۵۷)

هم دا وجه ده چه جمهور علماء کرام د دې تردید کوی سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما ته چه کله د ابن عمر رضی الله عنهما د دې عمل نقض وتر خبر راغلو نو ابن عباس رضی الله عنهما اوفرمائیل: فقال ان ابن عمر ليوتر فى الليلة ثلاث مرات (مصنف عبدالرزاق ج ۳ ص ۳۰) یعنی دغه شان خو هغه په یوه شپه کښې درې کرته وتر کوی حال دا چه د احادیث الباب مطابق رسول الله ﷺ د دوه کرته وتر کولو نه هم منع فرمائیلې ده.

## بَـابُ الرَّكْعَتَـيْنِ بَعْدَ الْوِتْرِ

(۶۶۹) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوْتِرُ بِوَاحِدَةٍ ثُمَّ يَرْكَعُ رَكْعَتَيْنِ يَقْرَأُ فِيْهِمَا وَهُوَ جَالِسٌ فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَرْكَعَ قَامَ فَرَكَعَ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

**باب د وترو نه روسته دوه رکعتونه:** ۶۶۹: ام المومنین سیده عائشه رضی الله عنها اوفرمائیل: رسول الله ﷺ به (اول کړې شوې مونځ) په یو رکعت څخه وتر کولو. دوه رکعته به ئې کول، په دې دوه رکعتونو کښې به ئې په ناسته باندې قراءة کولو پس چه کله به ئې د رکوع اراده اوفرمائیله، نو په ولاړه باندې به ئې رکوع کوله. دا حدیث ابن ماجه نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۶۷۰) وَعَنْ ثَوْبَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّ هٰذَا السَّهَرَ جُهْدٌ وَثِقْلٌ فَإِذَا أَوْتَرَ أَحَدُكُمْ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ فَإِنْ قَامَ مِنَ اللَّيْلِ وَإِلَّا كَانَتَا لَـهُ. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ وَالطَّحَاوِيُّ وَالدَّارَقُطْنِيُّ وَإِسْنَادُهُ حَسَنٌ.

۶۷۰: د سیدنا ثوبان رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: بیشکه دا د شپې پاسیدل محنت او مشقت دې، پس څوک چه په تاسو کښې وتر اوکړی نو دوه رکعتونه دې اوکړی، بیاکه

هغه د شپې پاسيدو (نو تهجد دې اوکړي) ګينې دا دوه رکعتونه به د هغه لپاره (تهجد) شي.دا حديث دارمي، طحاوي او دارقطني نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۶۷۱) وَعَنْ اَبِيْ اُمَامَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّيْهِمَا بَعْدَ الْوِتْرِ وَهُوَ جَالِسٌ يَقْرَاءُ فِيْهِمَا {اِذَا زُلْزِلَتْ وَقُلْ يَـاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ} رَوَاهُ اَحْمَدُ وَالطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ

۶۷۱: د ابو امامه رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ به دا دوه رکعتونه د وترو نه پس په ناسته باندې کول، په دې کښې به ئې ﴿ اذا زلزلت الارض ﴾ او ﴿ قل يآايها الكفرون ﴾ تلاوت فرمائيل.دا حديث احمد او طحاوي نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

**بيان مذاهب:**

۱: امام مالک رحمه الله د رکعتين بعد الوتر انکار کوي او وائي ﴿ لا اصليها ﴾(معارف السنن ج ٤ ص ۲۵۸)

۲: د امام احمد رحمه الله نه صرف يو کرت لوستل ثابت دي او په يو روايت کښې ئې منځومانه لار اختيار کړې ده چه د وترو نه پس دوه رکعته مونځ نه خو زه خپله کوم او نه څوک د کولو نه منع کوم.

۳: د امام ابوحنيفه رحمه الله او امام شافعي رحمه الله نه په دې باره کښې هيڅ روايت نه دې مروي خو جمهور علماء د دې قائل دي او دا د هغوي معمول بها هم دې چه په ډيرو احاديثو کښې د دې رکعتونو ثبوت موجود دې.

**د احاديث الباب تخريج**: د سيده عائشه صديقه رضي الله عنها روايت ۶۶۹ په ابن ماجة ص ۸۵ د سيدنا ثوبان رضي الله عنه روايت ۶۷۰ په سنن دارمي ۱۹۸، طحاوي ج ۱ ص ۲۳۶، دارقطني ج ۲ ص ۳۹ او د سيدنا ابو امامة روايت ۶۷۱ په مسند احمد ج ۵ ص ۲۶۰ او په طحاوي ج ۱ ص ۲۳۷ کښې تخريج کړې شوې دې.

**يو تعارض او د هغې حل**: د وترو نه پس د دوه رکعته نفل کولو اثبات نه صرف دا چه د روايات الباب نه کيږي بلکه نور هم ډير روايتونه راغلي دي چه د هغې نه ثابتيږي چه د وتر کولو نه پس دوه رکعته نفل هم کولې شي خو يو روايت دې چه د هغې الفاظ دا دي چه ﴿ اجعلوا اخر صلاتكم بالليل وترا ﴾ (د خپلې شپې په مانځه کښې آخري مونځ وتر ساتئ) لهذا په ظاهره.کښې په دې روايتونو کښې سخت تعارض ښکاره کيږي، هم دا وجه ده چه د دې تعارض د رفع کولو لپاره علماء کرامو ډير محنت کړې دې.

امام مالک رحمه الله خو بالکل د هغه احاديثو نه انکار کړې دې چه په هغې کښې د وترو نه روستو دوه رکعته نفل کول ثابتيږي پس هغوي فرمائيلي دي چه دا حديث صحيح نه دې.

امام احمدؒ د یو د رمیانی لار راویستلو کوشش کړې دې پس هغوی فرمائی چه د وترو نه پس دوه رکعته مونځ نه زه خپله کوم او نه بل څوک د کولو نه منع کوم.

د جمهورو علماء کرامو وینا ده چه چونکه د وترو نه پس دوه رکعته نفل کول بهر حال د صحیح حدیث نه ثابت دی په دې وجه د دې نه بالکل نظر هم نه شی اړولې لهذا دا حضرات د دوه رکعتو کولو قائل دی هر چه د احادیثو خپل مینځ کښې د تعارض دفع کولو سوال دې نو د هغه حضراتو د طرف نه په دې احادیثو کښې دوه طریقو څخه تطبیق پیدا کړې شوې دې.

یو خو دا چه ﴿ اجعلوا اخر صلاتکم بالليل وترا ﴾ کښې د صلاة نه مراد د هغه دوه رکعتونو نه علاوه نور نفل مونځونه دی هم دغه شان به د دې حدیث مطلب هم دا وی چه په شپه کښې د وترو د کولو نه پس د دې دوه رکعتو نه علاوه نور نوافل مه کوئ.

دویم تطبیق د جمهور علماء کرامو د طرف نه دا بیانولې شی چه په دې سلسله کښې غوره طریقه هم دا ده چه کله خو دې د وترو نه پس دوه رکعتونه اوکړې شی او که دې اونکړې شی چه په دواړو احادیثو باندې عمل کیږي. گویا داسې وئیل پکار دی چه دا حدیث ﴿ اجعلوا اخر صلاتکم بالليل الخ ﴾ په استحباب باندې محمول دې نه په وجوب باندې، یعنی په دې کښې چه کوم حکم کړې شوې دې هغه د استحباب په طور دې د وجوب په طور نه دې.

**په رکعتين بعد الوتر کښې قيام افضل دې يا جلوس ؟:** ددې نه پس دا خبره هم اختلافی ده چه آیا رسول الله ﷺ به د وترو نه پس دوه رکعتونه په هغه صورت کښې کول لکه چه رسول الله ﷺ به وتر دشپې په ابتدائی حصه کښې یعنی د ماسخوتن نه پس ئې ادا کول یا به ئې په داسې شکل باندې کول چه رسول الله ﷺ به وتر د شپې په آخری حصه کښې د تهجدو نه پس ادا کول؟ پس په دې سلسله کښې د ابوامامهؓ چه کوم حدیث منقول دې هغه خو مطلق دې په هغې کښې صرف دومره مذکور دی چه رسول الله ﷺ به د وترو نه پس دوه رکعتونه کول. دا ذکر پکښې نشته چه په اوله شپه کښې به ئې کول که په آخر د شپه کښې. خو د ثوبانؓ نه چه کوم حدیث منقول دې هغه په دې خبره باندې دلالت کوی چه د رسول الله ﷺ د وترو نه پس دوه رکعتونه کول په دې صورت کښې وو چه رسول الله ﷺ به په اوله شپه کښې وتر ادا کول. دا دواړه احادیث هم د دې باب په آخره کښې راروان دی.

د بخاری او مسلم او مؤطا روایتونه په دې خبره باندې دلالت کوی چه دا د قیام اللیل په صورت کښې وو یعنی رسول الله ﷺ چه به د شپې تهجد کول نو د وترو نه پس به ئې دوه رکعتونه هم کول او هم دا صحیح ده.

بعض علماء کرام فرمائی چه دا دوه رکعتونه په وترو پورې ملحق دی او د وترو د سنتو قائم مقام دی. یعنی څنګه چه د فرض مونځونو سنت وی چه هغه د فرض مانځه نه مخکښې یا روستو کولې شی هم دغه شان دا دواړه رکعتونه د وتر د سنتو قائم مقام دی کوم چه د وترو نه پس کولې شی.

حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمائی : ''لو ثبت الركعتان بعد الوتر فالسنة فيهما الجلوس دون القيام فان الجلوس فيهما قصدی غیران لی تردد فی ثبوتهما لما تقدم''۔(معارف السنن ج:۴،ص:۲۵۹)

## بَــابُ التَّطَوُّعِ لِلصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ

(۶۷۲) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ حَفِظْتُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشَرَ رَكْعَاتٍ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الظُّهْرِ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ فِيْ بَيْتِهٖ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَآءِ فِيْ بَيْتِهٖ وَرَكْعَتَيْنِ قَبْلَ صَلٰوةِ الصُّبْحِ۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

**باب د پنځو مونځونو لپاره نفل**: ۶۷۲ : سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما فرمائی : ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه لس رکعتونه یاد کړی دی، دوه رکعتونه د ماسپخین نه مخکښ، دوه رکعتونه د ماسپخین نه پس، دوه رکعتونه د ماښام نه پس په خپل کور کښې او دوه رکعتونه د ماسخوتن نه پس په خپل کور کښې او دوه رکعتونه د صبا نه مخکښ. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۶۷۳) وَعَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ لَمْ يَكُنِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى شَيْءٍ مِّنَ النَّوَافِلِ اَشَدَّ تَعَاهُدًا مِّنْهُ عَلٰى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

۶۷۳ : ام المومنین سیده عائشه رضی الله عنها فرمائی : رسول الله صلی الله علیه وسلم چه به څومره سخت اهتمام د صبا په سنتو کښې فرمائیلو په نوافلو کښې به ئې د دې نه زیات اهتمام د بل څه نه فرمائیلو. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۶۷۴) وَعَنْهَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لَا يَدَعُ اَرْبَعًا قَبْلَ الظُّهْرِ وَرَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الْغَدَاةِ۔ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ۔

۶۷۴: د ام المومنین سیده عائشه صدیقه رضی الله عنها نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به د ماسپخین د مانځه نه مخکښې څلور رکعتونه او د سحر د مانځه نه مخکښې دوه رکعتونه نه ترک کول. دا حدیث بخاری نقل کړې دې.

(۶۷۵) وَعَنْهَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَكْعَتَا الْفَجْرِ خَيْرٌ مِّنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيْهَا۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

۶۷۵: د ام المومنین عائشه رضی الله عنها نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: د فجر دوه رکعتونه

(یعنی سنتونه) د دنیا وما فیها د ټولو څیزونو نه غوره دی. دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

(۶۷۶) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ بِتُّ فِي بَيْتِ خَالَتِي مَيْمُونَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا بِنْتِ الْحَارِثِ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَهَا فِي لَيْلَتِهَا فَصَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِشَآءَ ثُمَّ جَآءَ إِلٰى مَنْزِلِهِ فَصَلّٰى أَرْبَعَ رَكْعَاتٍ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

۶۷۶ : سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما اوفرمائیل : ما د خپلې ترور ام المومنین میمونه بنت الحارث رضی الله عنها چه د رسول الله ﷺ زوجة مطهره ده کره شپه تیره کړه، رسول الله ﷺ د هغې په نمبر کښې هغې کره وو، رسول الله ﷺ د ماسخوتن مونځ ادا اوفرمائیلو، بیا ئې خپل کور ته تشریف راوړلو او څلور رکعتونه ئې ادا اوفرمائیل. دا حدیث بخاری نقل کړې دې.

(۶۷۷) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ شَقِيقٍ قَالَ سَأَلْتُ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا عَنْ صَلٰوةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ تَطَوُّعِهِ فَقَالَتْ كَانَ يُصَلِّيْ فِيْ بَيْتِيْ قَبْلَ الظُّهْرِ أَرْبَعًا ثُمَّ يَخْرُجُ فَيُصَلِّيْ بِالنَّاسِ ثُمَّ يَدْخُلُ فَيُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ وَكَانَ يُصَلِّيْ بِالنَّاسِ الْمَغْرِبَ ثُمَّ يَدْخُلُ فَيُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ وَيُصَلِّيْ بِالنَّاسِ الْعِشَآءَ وَيَدْخُلُ بَيْتِيْ فَيُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

۶۷۷ : عبد الله بن شقیق رحمه الله فرمائی : ما د عائشې رضی الله عنها نه د رسول الله ﷺ د نفل مونځ په باره کښې پوښتنه اوکړه، نو هغوی اوفرمائیل: رسول الله ﷺ به زما په کور کښې څلور رکعتونه ادا فرمائیل، بیا به ئې تشریف یوړلو، خلقو ته به ئې مونځ ورکړو او تشریف به ئې راوړلو، دوه رکعتونه به ئې ادا فرمائیل، رسول الله ﷺ به د ماښام مونځ خلقو ته د ورکولو نه پس کور ته تشریف راوړلو نو دوه رکعتونه به ئې ادا فرمائیل. دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

(۶۷۸) وَعَنْ أُمِّ حَبِيْبَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يُصَلِّيْ لِلّٰهِ كُلَّ يَوْمٍ ثِنْتَيْ عَشَرَةَ رَكْعَةً تَطَوُّعًا غَيْرَ فَرِيْضَةٍ إِلَّا بَنَى اللّٰهُ لَهُ فِي الْجَنَّةِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَآخَرُوْنَ.

۶۷۸ : ام المومنین ام حبیبة رضی الله عنها چه د رسول الله ﷺ زوجه محترمه ده، هغې نه روایت دې چه ما د رسول الله ﷺ نه دا واوریدل هغوی اوفرمائیل : کوم مسلمان بنده هم چه د الله پاک د رضا لپاره د فرض مونځونو نه علاوه دولس رکعته نفل ادا کوی، الله پاک د هغه لپاره په جنت کښې کور جوړوی. دا حدیث مسلم او نورو محدثینو نقل کړې دې.

(۶۷۹) وَعَنْهَا قَالَتْ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "مَنْ صَلّٰى فِيْ يَوْمٍ وَّلَيْلَةٍ ثِنْتَيْ عَشَرَةَ رَكْعَةً بُنِيَ لَهُ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ أَرْبَعًا قَبْلَ الظُّهْرِ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ

الْعِشَآءِ وَرَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الْفَجْرِ صَلٰوةِ الْغَدَاةِ''۔ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَاٰخَرُوْنَ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۲۷۹ : ام المومنين ام حبيبة رضي الله عنها فرمائي رسول الله ﷺ اوفرمائيل : كوم انسان چه په يو ورځ او يو شپه كښې دولس ركعتونه ادا كوي نو الله پاک د هغه لپاره په جنت كښې كور جوړوي، څلور ركعته د ماسپخين د مانځه نه مخكښ، دوه ركعته د ماسپخين نه پس، دوه ركعتونه د ماښام نه پس، دوه ركعتونه د ماسخوتن نه پس او د سحر د مانځه دوه ركعتونه د فرضو نه مخكښې ـ دا حديث ترمذى او نورو محدثينو نقل كړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(۶۸۰) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ ثَابَرَ عَلٰى ثِنْتَيْ عَشَرَةَ رَكْعَةً مِّنَ السُّنَّةِ بَنَى اللّٰهُ لَهٗ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ اَرْبَعَ رَكْعَاتٍ قَبْلَ الظُّهْرِ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَآءِ وَرَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الْفَجْرِ۔ رَوَاهُ الْاَرْبَعَةُ اِلَّا اَبَادَاؤُدَ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

۲۸۰ : ام المومنين عائشه صديقه رضي الله عنها فرمائي، رسول الله ﷺ اوفرمائيل : كوم انسان چه په دولس ركعته سنتو باندې پابندى كوي الله پاک به د هغه د پاره په جنت كښې كور جوړ كړي، څلور ركعته د ماسپخين نه مخكښې دوه ركعته د ماسپخين نه پس، دوه ركعته د ماښام نه پس، دوه ركعتونه د ماسخوتن نه پس او دوه ركعتونه د. سحر نه مخكښ.دا حديث د ابوداؤد نه علاوه اصحاب اربعه نقل كړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۶۸۱) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ''رَحِمَ اللّٰهُ اِمْرَاءً صَلّٰى قَبْلَ الْعَصْرِ اَرْبَعًا''۔ رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَاٰخَرُوْنَ وَحَسَّنَهُ التِّرْمَذِيُّ وَصَحَّحَهُ ابْنُ خُزَيْمَةَ وَابْنُ حِبَّانَ۔

۲۸۱ : ابن عمر رضي الله عنهما اوفرمائيل چه رسول الله ﷺ فرمائي : الله پاک دې په هغه چا باندې رحم اوفرمائي، چه د مازيگر نه مخكښې څلور ركعته اوكړي. دا حديث ابوداؤد او نورو محدثينو نقل كړې دې، ترمذى دې ته حسن، او ابن خزيمة او ابن حبان صحيح كړې دې.

(۶۸۲) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ مَا صَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِشَآءَ قَطُّ فَدَخَلَ عَلَيَّ اِلَّا صَلّٰى اَرْبَعَ رَكْعَاتٍ اَوْسِتَّ رَكْعَاتٍ۔ رَوَاهُ اَحْمَدُ وَاَبُوْدَاوُدَ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۲۸۲ : ام المومنين عائشه رضي الله عنها فرمائي : رسول الله ﷺ به چه كله د ماسخوتن مونځ كولو څخه ماته تشريف راوړلو نو څلور يا شپږ ركعتونه په ئې ضرور ادا فرمائيل.دا حديث احمد او ابوداؤد نقل كړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(۶۸۳) وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ عَلٰى اِثْرِ كُلِّ صَلٰوةٍ رَكْعَتَيْنِ اِلَّا الْفَجْرَ وَالْعَصْرَ۔ رَوَاهُ اِسْحٰقُ بْنُ رَاهَوَيْهِ فِيْ مُسْنَدِهٖ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

۲۸۳: سيدنا علی رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ به د فجر او عصر نه علاوه د هر مانځه نه پس دوه رکعتونه ادا فرمائيل. دا حديث اسحق بن راهويه په خپل مسند کښې نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۶۸۴) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا لَمْ يُصَلِّ اَرْبَعًا قَبْلَ الظُّهْرِ صَلَّاهُنَّ بَعْدَهَا . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَاِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

۲۸۴: د ام المومنين عائشه صديقه رضی الله عنها نه روايت دې چه رسول الله ﷺ به د ماسپخين نه مخکښې څلور رکعته اونکړل نو هغه به ئې د ماسپخين نه روستو ادا کول. دا حديث ترمذی نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(۶۸۵) وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ قَبْلَ الْعَصْرِ اَرْبَعَ رَكْعَاتٍ يَفْصِلُ بَيْنَهُنَّ بِالتَّسْلِيْمِ عَلَى الْمَلَائِكَةِ الْمُقَرَّبِيْنَ وَمَنْ تَبِعَهُمْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُؤْمِنِيْنَ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَاٰخَرُوْنَ وَاِسْنَادُهُ حَسَنٌ.

۲۸۵: سيدنا علی رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ به د مازيگر نه مخکښې څلور رکعتونه ادا فرمائيل، ددې ترمينځه به ئې په مقرب ملائکو او دهغوی په تابعدارو مسلمانانو او مومنانو باندې په سلام څخه جدائی فرمائيله. دا حديث ترمذی او نورو محدثينو نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۶۸۶) وَعَنْ اِبْرَاهِيْمَ النَّخَعِيِّ قَالَ كَانُوْا لَا يَفْصِلُوْنَ بَيْنَ اَرْبَعٍ قَبْلَ الظُّهْرِ بِتَسْلِيْمٍ اِلَّا التَّشَهُّدَ وَلَا اَرْبَعِ الْجُمُعَةِ وَلَا اَرْبَعًا بَعْدَهَا . رَوَاهُ مُحَمَّدُ بْنُ الْحَسَنِ فِي الْحُجَجِ وَاِسْنَادُهُ جَيِّدٌ.

۲۸۶: ابراهيم نخعی رحمه الله فرمائی: (صحابه کرامو رضی الله عنهم) به د ماسپخين نه مخکښې په څلورو رکعتو کښې په سلام څخه فاصله نه فرمائيله خو تشهد څخه نه د جمعې نه مخکښې په څلورو رکعتو کښې او نه د جمعې نه پس په څلورو رکعتو کښې. دا حديث محمد بن الحسن په حجج کښې نقل کړې دې او د دې اسناد جيد دې.

(۶۸۷) وَعَنْهُ قَالَ: مَا كَانُوْا يُسَلِّمُوْنَ فِي الْاَرْبَعِ قَبْلَ الظُّهْرِ . رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهُ جَيِّدٌ.

۲۸۷: ابراهيم النخعی رحمه الله فرمائی: (صحابه کرامو رضی الله عنهم) به د ماسپخين نه مخکښې په څلورو رکعتونو کښې سلام نه اړولو. دا حديث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد جيد دې.

**تشريح**> (۲۷۲ نه ۲۸۷ پورې) په شريعت اسلامی کښې مونځ چونکه د ټولو نه غوره او د اعلی درجې عبادت دې او هم دغه شان د نورو په مقابله کښې د دې لوئې اهميت او د الله پاک په دربار

کښې د ټولو نه زیات محبوب او مرغوب دې په دې وجه شریعت نور عبادتونه څنګه چه د نورو فرائضو پورې محدود ساتلې دې بل طرف ته ئې دې عبادت ته د فرائضو او واجباتو نه علاوه سنت هم ورکړې دی د فرائضو نه مخکښې د سنتو مشروعیت د شیطان د طمع ختمولو لپاره دې چه کله انسان دا سنت اوکړی نو شیطان به وائی چه کوم څیز په هغه باندې فرض نه وو ده هغه پرینخودل نو فرض چیرته ترک کولې شی او د فرائضو نه پس سنت د دې لپاره مشروع دی چه که په فرائضو کښې د نسیان وغیره په وجه باندې څه نقص راشی نو هغه ددې په وجه باندې پوره شی، په درمختار کښې هم لیکلې دی : **شرعت البعدیة لجبر النقصان والقبلیة لقطع طمع الشیطان.**

**د احادیث الباب تشریح:** د باب اول روایت ۲۷۲ د ابن عمر ﷺ نه مروی دې کوم چه امام بخاری ﷺ ج ۱ ص ۱۵۷ او امام مسلم ج ۱ ص ۲۵۲ کښې تخریج کړې دې چه په هغې کښې ابن عمر ﷺ د سنن موکدة تعداد لس رکعته بیانوی او د احنافو په نزد د سنن موکدة کوم چه د فرائضو څخه د هغې تعداد دولس دې او امام شافعی ﷺ د خپل قول مشهور مطابق او امام احمد ﷺ د دې خبرې قائل دی چه د ماسپخین سنن قبلیة صرف دوه رکعتونه دی د هغوی مستدل د دې باب اول روایت دې چه **رکعتین قبل الظهر ورکعتین بعدها.**

**د حدیث ابن عمر ﷺ نه ځوابات او توجیهات:**

۱: حافظ ابن جریر ﷺ فرمائی چه په اکثری حالاتو کښې به رسول الله ﷺ د ماسپخین نه مخکښې څلور رکعتونه کول، بعضو دا هم وئیلې دی چه د ابن عمر ﷺ د څلورو رکعتونو په ځائې دوه رکعته وئیل مبنی دی په سهو باندې خو دا صحیح نه ده. (قاله الحافظ فی الفتح)

۲: دویمه توجیه دا ده چه رسول الله ﷺ به څلور رکعته په کور کښې کول لهذا ازواج مطهرات څلور ذکر کړې دی لکه چه په دې باب کښې د هغوی نه روایات نقل کړې شوې دی چه کله به هغوی د مونځ د کولو لپاره تشریف راوړلو نو هلته به ئې د تحیة المسجد دوه رکعتونه کول. ابن عمر ﷺ د تحیة المسجد دوه رکعتونه د ماسپخین دوه سنت اوګنړل.

۳: د ابن عمر ﷺ په حدیث کښې د ظهر سنن قبلیه ذکر نشته بلکه د یو بل مونځ بیان دې کوم ته چه صلاة الزوال وائی. دا دوه نفلونه وو کوم چه به رسول الله ﷺ د زوال نه فورا پس ادا کول. د دې دلیل دا دې چه د عائشې ﷺ نه په ډیرو روایاتو کښې د اربع قبل الظهر سنیت مروی دې د دې باوجود هم د هغې نه د ماسپخین نه مخکښې د دوه رکعتونو ذکر هم په بعض روایاتو کښې راغلې دې پس په ترمذی کښې د عبدالله بن شقیق ﷺ نه روایت دې هغوی فرمائی : سالت

عائشة رضی الله عنها عن صلاة رسول الله ﷺ فقالت : كان يصلي قبل الظهر ركعتين وبعدها ركعتين (ج ١ ص ٨٣)
لهذا ظاهره دا ده چه : ﴿ اربع ركعات قبل الظهر ﴾ او ﴿ ركعتين قبل الظهر ﴾ دواړه مونځونه بیل بیل وو، څلور خو سنن قبلیه او دوه صلاة الزوال او یا تحیة المسجد.

۴: حافظ ابن جریر طبری رحمه الله فرمائی چه د رسول الله ﷺ نه دواړه خبرې ثابت دی، د ماسپخین نه مخکښې څلور رکعته کول هم او دوه رکعته کول هم، خو د څلورو رکعتو روایات زیات دی او د دوه رکعاتو روایات کم، لهذا دواړه طریقې صحیح دی. (معارف السنن ١٠٥/٤)

۵: اهل علم وائی چه په حدیث د ابن عمر رضی الله عنهما کښې ظاهری معنی نه ده مراد ځکه چه تثنیه ۲ او جمع ۴ منافی نه دی یعنی که دلته د رکعتین معنی په ځائې د دوه څلور واخستلې شی نو په دې کښې هیڅ باک نشته د دې توجیه په ذریعه به په دې حدیث کښې او هغه ټولو احادیثو کښې تطبیق راشی چه په هغې کښې د ماسپخین نه مخکښې د فرضو نه مخکښې څلور رکعتونه ثابت دی. (ملا علی قاری)

**د سحر د سنتو خاص اهمیت او فضیلت**: د دې باب په روایت ۲۷۳، ۲۷۴، او ۲۷۵ کښې د عائشې رضی الله عنها نه روایت دې چه په هغې کښې اول دوه امام بخاری رحمه الله په ج ۱ ص ۱۵۶، ۱۵۷ کښې نقل کړې دی او دریم روایت امام مسلم په ج ۱ ص ۲۵۱ کښې تخریج کړې دې یو خو په هغې کښې تصریح ده چه ﴿ كان لا يدع اربعا قبل الظهر خير من الدنيا وما فيها ﴾ نه مراد دا دې چه په آخرت کښې چه د سحر د سنتو کوم ثواب ملاویدونکې دې هغه د دنیا وما فیها هر څه نه قیمتی دې ځکه چه دنیا وما فیها ټول فانی دی او ثواب آخرت باقی غیر فانی دې د دې حقیقت انکشاف بلکه مشاهده به مونږ ته انشاء الله په آخرت کښې اوشی.

**اضافی فائده**: د احادیثو نه معلومیږی چه د سحر د سنتو دوه رکعتونه ډیر مختصر وو، په بخاری کښې د عائشې رضی الله عنها نه منقول دی چه رسول الله ﷺ به دومره مختصر کول چه زما به شک پیدا شو چه رسول الله ﷺ سورة فاتحه هم لوستلې ده که نه؟ د امام مالک رحمه الله نه منقول دی چه هغوی په صرف په سورة فاتحه باندې اکتفاء کوله. خو د جمورو په نزد یو مختصر سورت یوځائې کول ضروری دی ځکه چه رسول الله ﷺ به سورة کافرون او سورة اخلاص لوستلو.

**سنت په کور کښې کول افضل دی**: روایت ۲۷۶ او ۲۷۷ کوم چه علی الترتیب په بخاری ج ۱ ص ۲۲ او مسلم ج ۱ ص ۲۵۲ کښې تخریج کړې شوې دې دواړه د دې خبرې صریح دلیل دې چه سنت (موکده غیر موکده) په کور کښې لوستل افضل دی ځکه چه نه صرف دا چه په کور کښې سنن او

نوافل لوستونکي د ریا او نمائش نه لرې او اخلاص او صدق ته زیات نزدې وی بلکه په دې څخه په کورونو کښې د الله پاک رحمت او برکتونو نزول کیږی خو علماء په دې باندې متفق دی چه په مسجد کښې نفل او سنت کول مکروه نه دی کور او مسجد کښې کولو کښې فرق صرف د افضلیت او غیر افضلیت دې خو په کور کښې سنت او د نفل کولو دا حکم د هغه چا لپاره دې کوم چه د فرض مونځ د ادا کولو نه پس کورونو ته د واپس کیدو اراده لری کوم خلق چه د فرض مونځونو نه پس کورونو ته نه ځی لکه په مسجد کښې اعتکاف کونکې نو په مسجد کښې دې سنن او نوافل اوکړی.

**روایات ام حبیبة** رضي الله عنها: د ام حبیبة رضي الله عنها روایت ۲۸۷ کښې د ورځې شپې د سنتو چه کوم تعداد د مذکوره تفصیل څخه بیان کړې شوې دی هغه ټول سنت موکده دی دا روایت مسلم په ج ۱ ص ۲۵۱ کښې تخریج کړې دې د هغوی دویم روایت ۲۷۹ امام ترمذی په ج ۱ ص ۹٤ کښې نقل کړې شوې ده د دې مدلول هم دا دې هم دغه شان د عائشې رضي الله عنها روایت ۲۸۰ کوم چه امام ترمذی په ج ۱ ص ۹٤ کښې نقل کړې دې مضمون هم هغه دې کوم چه د ام حبیبة رضي الله عنها د روایاتو دې.

**د مازیگر سنت**: روایت ۲۸۱ د ابن عمر رضي الله عنهما نه روایت دې کوم چه امام ترمذی رحمه الله په جلد ۱ ص ۹۸ کښې نقل کړې دې د مازیگر دا سنت موکده نه دی پس په دې حدیث کښې ﴿رحم الله﴾ وئیلو څخه دې طرف ته اشاره فرمائیلې شوې ده چه د مازیگر نه مخکښې کیدونکی څلور رکعته سنت مستحب دی حکیم الامت مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله فرمائی چه د دې څلورو رکعتوڅه معین فضیلت بیانولو په ځائې دمطلق رحمت ذکر د دې خبرې دلیل دې چه د دې ثواب دومره زیات دې چه د بیان په قید کښې نه شی راتلې.

**د ماسخوتن سنت**: روایت ۲۸۲ په ابوداؤد ج ۱ ص ۱۸۵ کښې د عائشې رضي الله عنها نه مروی دې د ضرورت مطابق وضاحت دا دې چه د ماسخوتن نه پس د سنتونو په سلسله کښې چه څومره هم مشهور روایتونه منقول دی په هغې کښې یا خو دوه رکعته کول منقول دی یا څلور، صرف هم دا یو حدیث دې چه په هغې کښې د شپږو رکعتو ذکر کولې شی په کومو احادیثو کښې چه د دوه رکعتو د کولو ذکر دې، دهغې نه څه مخکښې هم تیر شوی دی. د کومو روایتونو نه چه څلور کول معلومیږی د هغې ټولو نه یو حدیث دا هم دې کوم چه سعید بن منصور په خپل مسند کښې نقل کړې دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل کوم سړی چه د ماسخوتن د مانځه نه مخکښې څلور رکعته اوکړل نو ګویا هغه په دې شپه باندې تهجد اوکړل او کوم سړی چه د ماسخوتن نه پس څلور رکعته اوکړل نو ګویا هغه په لیلة القدر کښې څلور رکعته اوکړل.

بهرحال ! ددې روایت وضاحت دا دې چه رسول الله ﷺ به د ماسخوتن نه پس چه کوم څلور رکعتونه کول په هغې کښې به دوه رکعته خو سنت وو او دوه رکعته مستحب. او د شپږو رکعتونو په باره کښې په حرف د او څخه دوه احتمالات دی یا خو دا د شک لپاره دې او یا د تنویع لپاره روایت ۲۸۳ د کوم راوی چه سیدنا علی رضی الله عنه دې امام زیلعی رحمه الله په نصب الرایه ج ۱ ص ۲۵۰ کښې د هغې تخریج کړې دې د عصر او فجر نه بغیر په ټولو مونځونو کښې د فرضو نه روستو د دوه رکعته سنت موکده دلیل دې.

**دماسپخین د سنتو حکم**: د عائشې رضی الله عنها روایت ۲۸۴ (ترمذی ج ۱ ص ۹۷) کښې د څلورو رکعتونو د سنت ظهر بیان دې.

د دې حدیث مطابق که د ماسپخین سنن قبلیه پاتې شی یا د جماعت شروع کیدو په حالت کښې هغه پریږدی او په جماعت کښې شامل شی نو هغه دې روستو اوکړی ځکه چه د فرضو نه پس په وخت کښې دننه دهغې ادا کول ممکن دی. بعض خلقو وئیلې دی چه سنت ظهر دې روستو هم نه اُدا کوی خو دا صحیح نه ده د حدیث عائشه رضی الله عنها نه د دې رد کیږی، صاحب هدایة هم په (هو الصحیح) وئیلو څخه دا مذهب رد کړې دې بیا د دې نه روستو په ادا کولو کښې د احنافو نه دوه قوله منقول دی یعنی د فرائضو نه پس دې اول څلور سنت اوکړی یا دې روستنی دوه رکعته کولو نه پس دا څلور رکعته اوکړی. الف : اول قول دا دې چه د دې څلورو رکعتو به په دوه رکعتونو باندې ادا کول مقدم وی بناء علی ان الابتداء بالفائتة اولی دا قول د امام ابویوسف رحمه الله دې په محیط کښې امام ابوحنیفه رحمه الله هم د امام ابویوسف رحمه الله څخه ذکر کړې شوې دې په فتاوی عتابیه او مبسوط وغیره کښې دی چه اصح او مختار قول هم دا دې. ب : دویم قول د امام محمد رحمه الله دې چه روستنی دوه رکعتونه دې مقدم کړی محقق ابن الهمام هم دې ته ترجیح ورکړې ده ځکه چه دهغې حق دې چه د فرضو څخه دې متصل وی هم دا قول مفتی به دې د عائشې رضی الله عنها د روایت نه هم د دې تائید کیږی (قالت کان رسول الله ﷺ اذا فاتته الاربع قبل الظهر صلاها بعد الرکعتین بعد الظهر (سنن ابن ماجة ص ۸۰) په جامع صغیر وغیره کښې اختلاف هم دغه شان مذکور دې او بعضو اختلاف د دې برعکس ذکر کړې دې او صاحب مجمع هم دې ته اصح وئیلې دې.

**د سنتو په څلورو رکعتونو کښې فصل دې که وصل**: د دې باب په آخری درې روایاتو کښې د دې مسئلې توضیح ده چه د ماسپخین څلور رکعتونه دې په یو سلام څخه اوکړې شی یا که په دوه سلامونو څخه ضروری دی دشوافع اوحنابله په نزدپه دې کښې فصل دې احناف وصل ته اولی وائی.

د علی ﷺ روایت ۲۸۵ (ترمذی ج ۱ ص ۹۸) د هغوی مستدل دې خو احناف وائی چه دلته د تسلیم نه مراد معروف سلام نه دې بلکه تشهد دې ځکه چه په تشهد کښې دا الفاظ هم منقول دی ﴿السلام علیک ایها النبی ورحمة الله وبرکاته السلام علینا وعلی عباد الله الصالحین﴾

پس دا رکعتین به هم په سلام ځخه کولې شی لکه چه د ابراهیم النخعی رحمه الله په روایت ۲۸۶ (کتاب الحجة ج ۱ ص ۲۷۶) او هم د هغوی روایت ۲۸۷ (طحاوی ج ۱ ص ۲۳۲) واضح مدلول هم دا دې کوم چه د احنافو مستدل دې.

## بَـابُ مَا اسْتُدِلَّ بِهٖ عَلَى الْفَصْلِ بِتَسْلِيْمَةٍ بَيْنَ الْاَرْبَعِ مِنْ سُنَنِ النَّهَارِ

(۶۸۸) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ''صَلٰوةُ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ مَثْنٰى مَثْنٰى''۔ رَوَاهُ الْخَمْسَةُ۔ قَالَ النِّيْمَوِيُّ ذِكْرُ النَّهَارِ لَيْسَ بِمَحْفُوْظٍ وَّيُعَارِضُهٗ بَعْضُ الْاَخْبَارِ الْمُتَقَدِّمَةِ مِمَّا ذَكَرْنَا فِي الْبَابِ السَّابِقِ۔

**باب: هغه روایت چه په هغې ځخه د څلورو سنتو ترمینځه په سلام ځخه په فاصلې باندې استدلال کړې شوې دې**

۲۸۸ : سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما فرمائی، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : د شپې او ورځې مونځ دوه دوه (رکعتونه) دی. دا حدیث اصحاب خمسه نقل کړې دې.

امام نیموی رحمه الله فرمائی (په دې روایت کښې) د ورځې ذکر غیر محفوظ دې او د هغې معارض بعض احادیث دی کوم چه مونږ په تیر باب کښې ذکر کړی دی.

**تشریح>** (۲۸۸) : د دې باب روایت، د عن ابن عمر تخریج ابوداؤد ج ۱ ص ۱۸۳، نسائی ج ۱ ص ۲٤۶، ابن ماجة ص ۹٤، ترمذی ج ۱ ص ۹۸ او مسند احمد ج ۲ ص ۲۶ کښې کړې شوې دې دا روایت د هغه خلقو مستدل دې کوم چه په سنن النهار کښې د فصل قائل دی، امام نیموی رحمه الله په ځواب کښې فرمائی چه په دې روایت کښې د نهار ذکر غیر محفوظ دې او دا د هغه ټولو روایاتو معارض دې چه په هغې کښې د وصل اولویت ثابت دې. امام نیموی رحمه الله په التعلیق الحسن کښې د دې د غیر محفوظ کیدو تفصیل بیان کړې دې.

قلت تفرد به علی بن عبد الله البارقی الازدی وهذا الحدیث اخرجه الشیخان فی صحیحیهما وآخرون فی کتبهم من طریق جماعة عن ابن عمر لیس فی روایتهم ذکر النهار وقال الترمذی رواه الثقات عن عبد الله بن عمر عن النبی صلی الله علیه وسلم ولم یذکروا فیه صلوة النهار انتهی وقال النسائی هذا الحدیث عندی خطأ۔ (تعلیق الحسن)

## بَـــابُ النَّافِلَةِ قَـــبْلَ الْمَغْرِبِ

(٦٨٩) عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : كَانَ الْمُؤَذِّنُ اِذَا اَذَّنَ قَامَ نَاسٌ مِّنْ اَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَبْتَدِرُوْنَ السَّوَارِيَ حَتّٰى يَخْرُجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُمْ كَذٰلِكَ يُصَلُّوْنَ الرَّكْعَتَيْنِ قَبْلَ الْمَغْرِبِ ـ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ وَزَادَ مُسْلِمٌ حَتّٰى اَنَّ الرَّجُلَ الْغَرِيْبَ لَيَدْخُلُ الْمَسْجِدَ فَيَحْسِبُ اَنَّ الصَّلٰوةَ قَدْ صُلِّيَتْ مِنْ كَثْرَةِ مَنْ يُّصَلِّيْهِمَا ـ

**باب د ماښام د مانځه نه مخکښې نفل**: ٦٨٩ : سيدنا انس بن مالک رضی الله عنه فرمائي چه کله به مؤذن اذان کولو نو د رسول الله ﷺ په صحابه کرامو کښې به څه خلقو د ديوالونو طرف ته (تلو کښې) تندی کوله، ترديږ چه رسول الله ﷺ تشريف راوړلو او هغوی به دغه شان د ماښام نه مخکښې دوه رکعتونه کول. دا حديث شيخينو نقل کړې دې او امام مسلم رحمه الله دا الفاظ زيات نقل کړې دی.

ترديږ چه که مسافر سړې به مسجد ته داخل شو نو د دې دوه رکعتونو په کثرت څخه د کولو د وجې نه به ئې دا ګڼړله چه (جماعت) شوې دې.

(٦٩٠) وَعَنْهُ قَالَ كُنَّا نُصَلِّيْ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ غُرُوْبِ الشَّمْسِ قَبْلَ صَلٰوةِ الْمَغْرِبِ فَقُلْتُ لَـــهٗ أَكَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّاهُمَا قَالَ كَانَ يَرَانَا فَلَمْ يَأْمُرْنَا وَلَمْ يَنْهَنَا ـ رَوَاهُ مُسْلِمٌ ـ

٦٩٠: سيدنا انس رضی الله عنه فرمائي چه مونږ به د رسول الله ﷺ په زمانه کښې د نمر د پريوتلو نه پس دوه رکعتونه کول (مختار فلفل وائی) ما هغوی ته اووې آيا رسول الله ﷺ به دا دوه رکعتونه کول؟ نو هغوی اووې: رسول الله ﷺ به مونږ ليدو، نه خو به ئې مونږ ته حکم کولو او نه به ئې منع کولو. دا حديث مسلم نقل کړې دې.

(٦٩١) وَعَنْ مَّرْثَدِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ الْيَزَنِيِّ قَالَ اَتَيْتُ عُقْبَةَ بْنَ عَامِرِنِ الْجُهَنِيَّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَقُلْتُ أَلَا اُعْجِبُكَ مِنْ اَبِيْ تَمِيْمٍ؟ يَرْكَعُ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ صَلٰوةِ الْمَغْرِبِ فَقَالَ عُقْبَةُ : اِنَّـــا كُنَّا نَفْعَلُـــهٗ عَلٰى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُـلْتُ فَمَا يَمْنَعُكَ الْاٰنَ؟ قَالَ: ''اَلشُّغْلُ'' ـ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ـ

٦٩١: مرثد بن عبد الله اليزنی وائی، زه عقبة بن عامر الجهنی رضی الله عنه ته راغلم، ما اووې، د ابوتميم په باره کښې تاسو ته يو عجيبه خبره او نه ښائم، هغوی د ماښام د مانځه نه مخکښې دوه رکعتونه کوی، عقبه رضی الله عنه اوفرمائيل: د رسول الله ﷺ په زمانه کښې به مونږ هم داسې کول، ما اووې اوس تاسو کوم څيز منع کړی يئ؟ هغوی اوفرمائيل: مصروفيت. دا حديث بخاری نقل کړې دې.

(۶۹۲) وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ مُغَفَّلٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ نَبِيُّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ كُلِّ اَذَانَيْنِ صَلٰوةٌ بَيْنَ كُلِّ اَذَانَيْنِ صَلٰوةٌ ثُمَّ قَالَ فِي الثَّالِثَةِ لِمَنْ شَآءَ۔ رَوَاهُ الْجَمَاعَةُ۔

۲۹۲: عبدالله بن مغفل رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: د هر دوه اذانونو (اذان او اقامت) ترمینځه مونځ دې، د هر دوه اذانونو ترمینځه مونځ دې، رسول الله ﷺ بیا په دریم کرت هم اوفرمائیل دهغه چالپاره چه غواړی (یعنی ضروری نه ده) دا حدیث دمحدثینو جماعت نقل کړې دې.

(۶۹۳) وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ صَلُّوْا قَبْلَ الْمَغْرِبِ صَلُّوْا قَبْلَ الْمَغْرِبِ ثُمَّ قَالَ فِي الثَّالِثَةِ لِمَنْ شَآءَ كَرَاهِيَةَ اَنْ يَّتَّخِذَهَا النَّاسُ سُنَّةً۔ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَلِاَبِيْ دَاوٗدَ صَلُّوْا قَبْلَ الْمَغْرِبِ رَكْعَتَيْنِ۔

۲۹۳: عبدالله بن مغفل رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: د ماښام د مانځه نه مخکښې مونځ کوئ، د ماښام د مانځه نه مخکښې مونځ کوئ بیا رسول الله ﷺ په دریم کرت اوفرمائیل څوک چه غواړی. د دې خبرې د ناخوښه ګڼړلو د وجې نه چه خلق به د دې نه سنت (موکده) جوړ کړی. دا حدیث بخاری نقل کړې دې او د ابوداؤد الفاظ دی: ماښام نه مخکښې دوه رکعته کوئ.

(۶۹۴) وَعَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ الْمَغْرِبِ رَكْعَتَيْنِ رَوَاهُ ابْنُ حِبَّانَ فِيْ صَحِيْحِهٖ وَمُحَمَّدُ بْنُ نَصْرِ الْمَرْوَزِيُّ فِيْ قِيَامِ اللَّيْلِ وَزَادَ ثُمَّ قَالَ صَلُّوْا قَبْلَ الْمَغْرِبِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ قَالَ عِنْدَ الثَّالِثَةِ "لِمَنْ شَآءَ خَافَ اَنْ يَّحْسِبَهَا النَّاسُ سُنَّةً"۔ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۲۹۴: د عبدالله بن مغفل رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ د ماښام د مانځۀ نه مخکښې دوه رکعتونه ادا اوفرمائیل. دا حدیث ابن حبان نقل کړې دې په خپل صحیح کښې او محمد بن نصر المروزی په قیام اللیل کښې نقل کړې دې (مروزی) دا الفاظ زیات نقل کړی دی.

رسول الله ﷺ اوفرمائیل: د ماښام د مانځه نه مخکښې دوه رکعتونه کوئ، بیا ئې په دریم کرت اوفرمائیل: کوم انسان چه غواړی .... د دې خبرې د ویرې د وجې نه (رسول الله ﷺ دا خبره اوفرمائیله) چه خلق به ئې سنت موکده شمار کړی او د دې اسناد صحیح دې.

**تشریح>** (۲۸۹ نه ۲۹۴ پورې) دا او د دې نه د وړاندې د باب غرض انعقاد د غروب الشمس نه پس او د صلوة المغرب نه مخکښې د نفل مونځ کولو د شرعی حکم توضیح ده د ماښام د مانځه نه پس د مغرب د فرضو نه مخکښې د نفل مونځ کولو متعلق د علماء سلف اختلاف دې.

**بیان مذاهب:** د صحابه کرامو د یو جماعت نه روایت دې چه د مغرب نه مخکښې دوه رکعته نقل کول صحیح دی او دې حضراتو به نفل کول په متاخرینو کښې امام احمد بن حنبل او اسحق بن راهویه هم دې ته مستحب وئیلې دی. شوافع هم د دې د اولویت قائل دی.

۲: د جمهور علماء او فقهاء په نزد د ماښام د مانځه نه مخکښې هیڅ مونځ نشته.

**د قائلین رکعتین قبل المغرب دلائل:** ۱: د دې باب اول روایت ۲۸۹ د انس بن مالک رضی الله عنه نه مروی دې (بخاری ج ۱ ص ۸۷، مسلم ج ۱ ص ۲۷۸) احناف په ځواب کښې وائی چه حدیث اول په امر باندې محمول دې ځکه چه د هم دې باب روایت ۲۹۱ کښې دی چه یو صحابی ځوک په دې مونځ کولو باندې اولیدو نو وې فرمائیل چه مونږ به هم دا کولو نودَ صحابی نه تابعی پوښتنه اوکړه چه اوس ئې ولې نه کوې نو وې فرمائیل: ﴿ الشغل ﴾ د مشغولیت د وجې نه. (بخاری ج ۱ ص ۱۵۸) که رکعتین قبل المغرب مستحب وې نو صحابه کرامو رضی الله عنهم به ولې پریخودلې.

ملا علی قاری رحمه الله د انس بن مالک رضی الله عنه د روایت په ځواب کښې فرمائی چه دا حدیث د دې وجې نه د دې دوه رکعتونو لپاره دلیل نه شی کیدې چه د دې طریق په نادر کیدو کښې هیڅ شک نشته ځکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به عمومی طور د ماښام د مانځه په ادا کولو کښې تندی کوله او د دې دواړو رکعتونو په کولو ځخه نه صرف دا چه د ماښام د مانځه په ادا کولو کښې تاخیر راځی بلکه د بعض علماء د قول مطابق خو د مانځه د خپل وخت نه خروج لازمیږی لهذا د دې حدیث تاویل به دا کولې شی چه انس رضی الله عنه دا د همیشه طریقه نهٔ نقل کوی بلکه کیدې شی چه یو ورځ خلقو دا طریقه اختیار کړې وی چه د ماښام د آذان اوریدلو ځخه مسجد ته راغلې وی او هلته ئې د ماښام د مانځه نه مخکښې دوه رکعته نقل مونځ کړې وی یا به بیا د ټولو نه غوره تاویل کولې شی لکه چه د بعض علماء کرامو خیال دې چه دا مونځ مخکښې وو روستو پریخودلې شو لهٰذا اوس د دې مانځه کول مکروه دی. (مظاهر حق)

۲: د دې باب دویم روایت ۲۹۰ هم د انس رضی الله عنه نه روایت دې (مسلم ج ۱ ص ۲۷۸) چه په هغې کښې تصریح ده چه ﴿ فلم یأمرنا ولم ینهانا ﴾ په دې ځخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم تقریر ثابت شو، په ظاهر کښې دا استدلال دې چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په نزد دا مونځ صحیح وو که مکروه وې نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به ضرور منع کړې وې. احناف د دې په ځواب کښې وائی چه د خلفاء راشدینو نه ثابت دی چه هغوی به دې وخت کښې مونځ کول صحیح نه ګڼړل. لکه چه په وړاندې باب کښې راځی.

لهذا په دې سلسله کښې د خلفاء راشدینو اقتداء کافی ده هم دا وجه ده چه اکثر فقهاء کرامو هم دې وخت کښې د مونځ کولو نه منع فرمائیلې ده.ځکه چه په دې کښې د ماښام د مونځ تاخیر لازمیږی.

۳: د مرثد بن عبدالله الیزنی روایت ۲۹۱ (بخاری ج ۱ ص ۱۵۸) کښې د هغوی مستدل دې خو احناف وائی چه د دې حدیث نه کم از کم دا خبره خو ثابته شوه چه دا مونځ سنت نه دې بلکه

مباح دي ځکه که مسنون وي نو عقبه رضی الله عنه د صحابيت په شان عظيم مقام باندې فائز وو د دنيا مشغوليت د سنت د ادا کولو نه مانع نه جوړيږي.

۴: د دې باب څلورم روايت ۲۹۲ کښې د عبد الله بن مغفل رضی الله عنه نه روايت دې بخاری ج ۱ ص ۸۷ ابوداؤد ج ۱ ص ۱۸۲، مسلم ج ۱ ص ۲۷۸) روايت ۲۹۳ (بخاری ج ۱ ص ۱۵۸) او روايت ۲۹۴ (تلخيص الحبير ج ۱ ص ۱۳) کښې هم ددوی نه منقول دی چه په هغې کښې ﴿ صلوا قبل المغرب الخ ﴾ تصريح ده د ابن حبان روايت ۲۹۴ کښې د ﴿ صلى قبل المغرب رکعتين ﴾ اضافه ده.

احناف په ځواب کښې وائی چه د سنن ابوداؤد حديث'' ابن عمر رضی الله عنهما انه سئل عن الرکعتين قبل المغرب فقال: ما رأيت احدًا على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم يصليهما و رخص في الرکعتين بعد العصر''د دې معارض دې ځکه چه په دې کښې تصريح ده چه ما په عَهد نبوی صلی الله علیه وسلم کښې ثوک هم په دې مانځهٔ باندې نه دی ليدلې. امام ابوداؤد او علامه منذری د دې حديث د تخريج نه پس سکوت فرمائيلې دې معلومه شوه چه حديث صحيح دې. امام نووی په خلاصه کښې دې اسناد ته حَسن وئيلې دې، د اکابرين صحابه کرامو رضی الله عنهم عمل هم په دې باندې وو پس امام محمد رحمه الله په کتاب الاثار کښې د حماد بن ابی سليمان نه روايت کړې دې:

انه سأل ابراهيم النخعي عن الصلوة قبل المغرب قال: فنهاه عنها وقال: ان رسول الله صلى الله عليه وسلم وابابکر وعمر لم يکونوا يصلونها.

او ابن حبان چه کوم روايت کړې دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د ماښام د مانځه نه مخکښې دوه رکعتونه اوکړل، پس دا د يو فوت شوې مونځ قضاء وه چه د هغې تصريح د جابر رضی الله عنه په حديث کښې موجود ده. حافظ طبرانیؒ په مسند الشاميين کښې د جابر رضی الله عنه نه روايت کړې دې

''قال سألنا نساء رسول الله صلى الله عليه وسلم هل رأيتن رسول الله صلى الله عليه وسلم يصلى الرکعتين قبل المغرب؟ فقلن لا غير ان أم سلمة رضی الله عنها قالت صلاهما عندی مرة فسألته ما هذه الصلوة؟ فقال: نسيت الرکعتين قبل العصر فصليتهما الآن''.

سيدنا جابر رضی الله عنه فرمائی چه مونږ د ازواج مطهرات نه پوښتنه اوکړه چه تاسو رسول الله صلی الله علیه وسلم د ماښام د مانځه نه مخکښې په دوه رکعته کولو باندې ليدلې دې؟ ټولو اووې: نه ! او ام سلمه رضی الله عنها فرمائی چه ما څخه رسول الله صلی الله علیه وسلم دا مونځ يو کرت کړې وو. ما ترې نه پوښتنه اوکړه: دا څنګه مونځ دې؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل چه زما نه د مازيګر نه مخکښې دوه رکعتونه هير شو هغه مې اوس اوکړل.

دارقطنی، بیهقی په سنن او حافظ بزار په مسند کښې د بریده رضی الله عنه نه روایت کړې دې (قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان عند کل اذانین رکعتین ماخلا المغرب) چه د هر دوه اذانونو (اذان او اقامت ترمینځه) دوه رکعته مونځ دې سوا د ماښام نه (ملخصا از فتح القدیر وغیره)

ثم قال عند الثالثة لمن شاء خاف ان یحسبها الناس سنة،، څخه رسول الله ﷺ د دې خبرې خبر ورکړو نچه دا دواړه رکعتونه سنت نه دی بلکه د دې زیات نه زیاته درجه د استحباب ده که یو سړې دا اوکړی نو هغه ته به ثواب ملاویږی او که وې نه کړی نو د هغه به هیڅ مواخذه نه وی.

## بَابُ مَنْ أَنْكَرَ التَّنَفُّلَ قَبْلَ الْمَغْرِبِ

(٦٩٥) عَنْ طَاؤُسٍ قَالَ سُئِلَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ قَبْلَ الْمَغْرِبِ فَقَالَ مَا رَأَيْتُ أَحَدًا يُصَلِّيهِمَا عَلَى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ عَبْدُ ابْنُ حُمَيْدٍ الْكَشِّيُّ فِيْ مُسْنَدِهٖ وَأَبُوْدَاوُدَ وَإِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

**باب: چا چه د ماښام نه مخکښې د نفل کولو نه انکار کړې دې: ٦٩٥**: طاؤس فرمائی: د ابن عمر رضی الله عنهما نه د ماښام نه مخکښې دوه رکعتو په باره کښې پوښتنه اوکړه نو هغوی اوفرمائیل: ما د رسول الله ﷺ په زمانه کښې څوک هم په دې دوه رکعتو کولو باندې نه دی لیدلی.دا حدیث عبد بن حمید الکشی په خپل مسند کښې او ابوداؤد نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(٦٩٦) وَعَنْ حَمَّادِ بْنِ أَبِيْ سُلَيْمَانَ أَنَّهٗ سَأَلَ إِبْرَاهِيْمَ النَّخَعِيَّ عَنِ الصَّلٰوةِ قَبْلَ الْمَغْرِبِ قَالَ فَنَهَاهُ عَنْهَا وَقَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبَابَكْرٍ وَّعُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا لَمْ يَكُوْنُوْا يُصَلُّوْنَهَا. رَوَاهُ مُحَمَّدُ بْنُ الْحَسَنِ فِيْ كِتَابِ الْآثَارِ وَإِسْنَادُهٗ مُنْقَطِعٌ وَّرِجَالُهٗ ثِقَاتٌ.

**٦٩٦**: حماد بن ابی سلیمان رحمه الله فرمائی ما د ابراهیم النخعی رحمه الله نه د ماښام د مانځه نه مخکښې د دوه رکعتو کولو په باره کښې پوښتنه اوکړه، نو هغوی د دې نه منع اوکړه.او وې فرمائیل: بیشکه رسول الله ﷺ، ابوبکر او عمر رضی الله عنهما به دا نه کول.دا حدیث محمد بن الحسن په کتاب الاثار کښې نقل کړې دې او د دې اسناد منقطع دې. د دې رجال ثقة دی.

**تشریح**> (٦٩٥ نه ٦٩٦ پورې) د دې باب په اول روایت کښې د ابن عمر رضی الله عنهما نه استفتاء کړې شوې ده هغوی اوفرمائیل: ما څوک هم د رسول الله ﷺ په زمانه کښې په دې مانځهٔ باندې نه دی لیدلې د دې تخریج ابوداؤد ج ۱ ص ۱۸۲، سنن الکبری ج ۲ ص ٤٧٦ کښې کړې شوې دې دویم روایت د ابراهیم النخعی ٦٩٦ د دې مانځه نه منع کول دی بیا د ابوبکر صدیق او عمرفاروق رضی الله عنهما په باره

کښې تصريح ده چه: لم يكونوا يصلونها (كتاب الاثار ص ٢٩) باب ما يعاد من الصلاة وما يكره منها) د جمهورو قطعي دلائل دی د باب دا دواړه روايتونه په تير باب کښې هم ضمنا راغلي دی.

## بَابُ التَّنَفُّلِ بَعْدَ صَلٰوةِ الْعَصْرِ

(٦٩٧) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ مَا تَرَكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ قَطُّ۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

**باب د مازيګر نه پس نفل:** ٦٩٧ : ام المومنين عائشه صديقه رضي الله عنها فرمائي : رسول الله ﷺ به د مازيګر د مانځه نه پس دوه رکعته کله هم نه پريخودل. دا حديث بخاری او مسلم نقل کړې دې.

(٦٩٨) وَعَنْهَا قَالَتْ رَكْعَتَانِ لَمْ يَكُنْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَعُهُمَا سِرًّا وَّعَلَانِيَةً رَكْعَتَانِ قَبْلَ الصُّبْحِ وَرَكْعَتَانِ بَعْدَ الْعَصْرِ۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

٦٩٨ : ام المومنين سيده عائشه رضي الله عنها فرمائي : دوه رکعتونه داسې دی چه رسول الله ﷺ به پټ او ښکاره نه پريخودل، دوه رکعتونه د صبا نه مخکښې او دوه رکعتونه د مازيګر نه پس.

(٦٩٩) وَعَنْ اَبِيْ سَلَمَةَ اَنَّهٗ سَأَلَ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا عَنِ السَّجْدَتَيْنِ اللَّتَيْنِ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْهِمَا بَعْدَ الْعَصْرِ فَقَالَتْ كَانَ يُصَلِّيْهِمَا قَبْلَ الْعَصْرِ ثُمَّ شُغِلَ عَنْهُمَا اَوْنَسِيَهُمَا فَصَلَّاهُمَا بَعْدَ الْعَصْرِ ثُمَّ اَثْبَتَهُمَا وَكَانَ اِذَا صَلّٰى صَلَاةً اَثْبَتَهَا۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

٦٩٩ : د ابوسلمه رحمه الله نه روايت دې چه هغوی د ام المومنين سيده عائشه رضي الله عنها نه د دې دوه رکعتونو په باره کښې پوښتنه اوکړه کوم چه به رسول الله ﷺ د مازيګر نه پس ادا فرمائيل، نو ام المومنين رضي الله عنها اوفرمائيل : دا دوه رکعتونه به رسول الله ﷺ د مازيګر نه مخکښې ادا کول بيا د هغې نه مصروف شو يا ترې نه هير شو (په دې وجه ئې ادا نه کړې شو) هغه ئې د مازيګر نه پس ادا اوفرمائيل. بيا رسول الله ﷺ په دې باندې دوام اوفرمائيلو او رسول الله ﷺ چه به کله يو مونځ کولو نو په هغې باندې به ئې دوام فرمائيلو. دا حديث مسلم نقل کړې دې.

**تشريح** (٦٩٧ نه ٦٩٩ پورې) دا او د دې نه وړاندې باب د مازيګر د مانځه نه پس د نفل مونځ د کولو د مسئلې وضاحت دې.

**بيان مذاهب**: ١ : د احنافو په نزد د مازيګر د مانځه نه روستو نفل مکروه دی که موکده وی يا غير موکده وی، حسن بصری، سعيد ابن المسيب، علاء بن زياد هم د دې قائل دی او په قول د ابراهيم النخعي رحمه الله د صحابه کرامو رضي الله عنهم د يو جماعت قول هم دا دې.

**د قائلين التنفل بعد العصر دلائل او د احنافو ځوابات:** ۱: د دې باب دواړه روايات ۲۹۷، ۲۹۸ په (بخاري ج ۱ ص ۸۳ **باب ما يصلى بعد العصر من الفوائت**) کښې د عائشې رضي الله عنها نه مروی دي د دې نه علاوه هم د هغوی نه نور روايات **بعد صلاة العصر** د نفل مونځ کولو په ثبوت کښې منقول دی.

صاحب فتح وائی د عصر دا دوه رکعتونه د رسول الله ﷺ د خصوصياتو نه دی. لکه چه دا راروان باب د رواياتو هم دا مدلول دې اصل کښې دا دوه رکعتونه د ماسپخين نه د روستو مانځه وو کوم چه يو وخت د وفد عبدالقيس د راتلو په وجه باندې پاتې شوې وو چه د هغې تصريح د صحيحين په روايت د کريب او صحيح مسلم په روايت د ابوسلمه کښې موجود دې د کريب روايت زمونږ مصنف رحمه الله په ۷۰۳ نمبر کښې او د ابوسلمه روايت په ۲۹۹ کښې نقل کړې دې، خپله رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه ماته د قبيله عبدالقيس څه خلق راغلې وو د خپل قوم د طرف نه د اسلام قبلولو لپاره او ما د دې مشغوليت د وجې نه دوه رکعتونه اونکړې شو دا هم هغه دوه رکعتونه دی بيا د يو عمل د شروع کولو نه پس د رسول الله ﷺ عادت په هغې باندې د مداومت هم وو پس په صحيح مسلم کتاب فضائل القرآن ج ۱ ص ۲۷۷ **باب الاوقات التي نهى عن الصلاة فيها** کښې دی **(ثم اثبتها وكان اذا صلى صلاة اثبتها)** يعنی رسول الله ﷺ چه به کله يو عمل کولو په هغې باندې به ئې مداومت فرمائيلو بهر حال د دې دوه رکعتونو اصل هم هغه د ماسپخين نه پس دوه رکعتونه دی چه په هغې باندې د مازيګر نه پس د کولو مداومت راغلو. پاتې شوه اوله توجيه چه رسول الله ﷺ دا د خپل ځان څخه مخصوص کړې وو او نور به ئې د دې نه منع کول د دې دليل هم د ابوداؤد حديث عائشه رضي الله عنها دې چه رسول الله ﷺ به خپله خو د مازيګر نه پس دوه رکعتونه کول خو نور به ئې منع کول لکه چه رسول الله ﷺ به صوم وصال نيوله او نور به ئې د دې نه منع کول. **(تقرير بخاري ج ۳ ص ۳۵)**

د باب په اول روايت کښې چه **(ما ترک رسول الله ﷺ رکعتين)** راغلې دې شاه ولی الله محدث دهلوی رحمه الله فرمائی چه د دې نه مراد ترک نسخ ده يعنی رسول الله ﷺ بالکليه نه دی پريخودلی د سائب بن يزيد قول هم د دې مؤيد دې فرمائی هغوی اوکتل چه عمر فاروق رضي الله عنه، منکدر د مازيګر نه پس په مونځ کولو باندې وهلو. (مالک) او دا واقعه د صحابه کرامو په موجودګئ اوشوه او چا هم پرې نکير او نه فرمائيلو پس ګويا په دې باندې اجماع اوشوه چه د رسول الله ﷺ نه پس هم دا مقرر شوه چه د مازيګر نه پس مونځ جائز نه دې.

## بَابُ كَرَاهَةِ التَّطَوُّعِ بَعْدَ صَلٰوةِ الْعَصْرِ وَصَلٰوةِ الصُّبْحِ

(۷۰۰) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ غَيْرَ وَاحِدٍ مِّنْ اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهُمْ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَكَانَ اَحَبَّهُمْ اِلَيَّ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ نَهٰى عَنِ الصَّلٰوةِ بَعْدَ الْفَجْرِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ وَبَعْدَ الْعَصْرِ حَتّٰى تَغْرُبَ الشَّمْسُ۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

**باب د مازيګر او سحر د مانځه نه پس د نفل ادا كولو كراهيت:** ۷۰۰: سيدنا ابن عباس ﷺ فرمائي چه ما د رسول الله ﷺ ډير صحابه كرام چه په هغوى كښې عمر بن الخطاب ﷺ هم دې او هغوى ماته د هغوى ټولو نه زيات محبوب دې نه دا حديث اوريدلې دې، بيشكه رسول الله ﷺ د سحر نه پس د نمر ختلو پورې او د مازيګر نه پس د نمر د راختلو پورې د مانځه نه منع فرمائيلې ده. دا حديث شيخينو نقل كړې دې.

(۷۰۱) وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِنِ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ''لَا صَلٰوةَ بَعْدَ صَلٰوةِ الْعَصْرِ حَتّٰى تَغْرُبَ الشَّمْسُ وَلَا صَلٰوةَ بَعْدَ صَلٰوةِ الْفَجْرِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ''۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

۷۰۱: سيدنا ابوسعيد خدرى ﷺ فرمائي، رسول الله ﷺ اوفرمائيل: د مازيګر د مانځه نه تر د نمر پريوتلو پورې مونځ نشته او د سحر د مانځه نه پس تر نمر ختلو پورې مونځ نشته. دا حديث شيخينو نقل كړې دې.

(۷۰۲) وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الصَّلٰوةِ بَعْدَ الْعَصْرِ حَتّٰى تَغْرُبَ الشَّمْسُ وَعَنِ الصَّلٰوةِ بَعْدَ الصُّبْحِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

۷۰۲: د سيدنا ابوهريره ﷺ نه روايت دې، بيشكه رسول الله ﷺ منع فرمائيلې ده د مازيګر نه پس د مونځ كولو نه تردې چه نمر پريوځى او د سحرد مانځه نه پس د مونځ كولو نه تردې چه نمر راوخيژى. دا حديث شيخينو نقل كړې دې.

(۷۰۳) وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ السُّلَمِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قُلْتُ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ اَخْبِرْنِيْ عَمَّا عَلَّمَكَ اللّٰهُ وَاَجْهَلُهُ اَخْبِرْنِيْ عَنِ الصَّلٰوةِ۔ قَالَ صَلِّ صَلٰوةَ الصُّبْحِ ثُمَّ اَقْصِرْ عَنِ الصَّلٰوةِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ حَتّٰى تَرْتَفِعَ فَاِنَّهَا تَطْلُعُ حِيْنَ تَطْلُعُ بَيْنَ قَرْنَيْ شَيْطٰنٍ وَّحِيْنَئِذٍ يَّسْجُدُ لَهَا الْكُفَّارُ ثُمَّ صَلِّ فَاِنَّ الصَّلٰوةَ مَشْهُوْدَةٌ مَّحْضُوْرَةٌ حَتّٰى يَسْتَقِلَّ الظِّلُّ بِالرُّمْحِ ثُمَّ اَقْصِرْ عَنِ الصَّلٰوةِ فَاِنَّ حِيْنَئِذٍ تُسْجَرُ جَهَنَّمُ فَاِذَا اَقْبَلَ الْفَيْئُ فَصَلِّ فَاِنَّ الصَّلٰوةَ مَشْهُوْدَةٌ مَّحْضُوْرَةٌ حَتّٰى تُصَلِّيَ الْعَصْرَ ثُمَّ اَقْصِرْ عَنِ الصَّلٰوةِ حَتّٰى تَغْرُبَ الشَّمْسُ فَاِنَّهَا تَغْرُبُ بَيْنَ قَرْنَيْ شَيْطَانٍ وَّحِيْنَئِذٍ يَّسْجُدُ لَهَا الْكُفَّارُ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَّاَحْمَدُ۔

۷۰۳: سیدنا عمرو بن عبسه السلمی رضی الله عنه فرمائی، ما عرض اوکړو : یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ما ته د هغه ځیز په باره کښې خبر راکړئ کوم چه الله پاک تاسو ته ښودلې دې او زه د هغې نه بې خبر یم، تاسو ماته د مانځه په باره کښې بیان اوکړئ، رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل :د سحر مونځ اوکړئ، بیا د مانځه بند شه، تردې چه نمر راوخیژی، تردې چه اوچت شي. بیشکه هغه چه کله خیژی نو د شیطان د دوه ښکرو ترمینځه خیژی او په دې وخت کښې هغه ته کفار سجده کوی، بیا مونځ کوه، بیشکه مانځه ته ملائک د ګواهئ ورکولو لپاره حاضریږی، تردې چه دا سورې د یوې نیزې نه کم شی، بیا د مانځه نه بند شه، بیشکه دې وخت کښې جهنم ګرم کولې شی، چه کله سورې زائل شی، نو مونځ کوه، بیشکه په مانځه کښې ملائک د ګواهئ لپاره حاضریږی، تردې چه د مازیګر مونځ اوکړئ، بیا د نمر پریوتلو پورې د مانځه نه بند شه،بیشکه هغه د شیطان د دوه ښکرو ترمینځه پریوځی او په هغه وخت کښې هغه ته کفار سجدې کوی. دا حدیث مسلم او احمد نقل کړې دې.

(۷۰۴) وَعَنْ كُرَيْبٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَالْمِسْوَرَبْنَ مَخْرَمَةَ وَعَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ اَزْهَرَ اَرْسَلُوْهُ اِلٰى عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ ﷺ فَقَالُوْا : اِقْرَأْ عَلَيْهَا السَّلَامَ مِنَّا جَمِيْعًا وَّسَلْهَا عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ صَلٰوةِ الْعَصْرِ وَقُلْ لَهَا اِنَّا اُخْبِرْنَا اَنَّكِ تُصَلِّيْنَهُمَا وَقَدْ بَلَغَنَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْهُمَا وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَكُنْتُ اَضْرِبُ النَّاسَ مَعَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ كُرَيْبٌ : فَدَخَلْتُ عَلٰى عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا فَبَلَّغْتُهَا مَا اَرْسَلُوْنِيْ بِهٖ فَقَالَتْ سَلْ اُمَّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا فَخَرَجْتُ اِلَيْهِمْ فَاَخْبَرْتُهُمْ بِقَوْلِهَا فَرَدُّوْنِيْ اِلٰى اُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا بِمِثْلِ مَا اَرْسَلُوْنِيْ بِهٖ اِلٰى عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا فَقَالَتْ اُمُّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهٰى عَنْهُمَا ثُمَّ رَاَيْتُهٗ يُصَلِّيْهِمَا حِيْنَ صَلَّى الْعَصْرَ ثُمَّ دَخَلَ عَلَيَّ وَعِنْدِيْ نِسْوَةٌ مِّنْ بَنِيْ حَرَامٍ مِّنَ الْاَنْصَارِ فَاَرْسَلْتُ اِلَيْهِ الْجَارِيَةَ فَقُلْتُ قُوْمِيْ بِجَنْبِهٖ قُوْلِيْ لَهٗ تَقُوْلُ لَكَ اُمُّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا يَارَسُوْلَ اللّٰهِ سَمِعْتُكَ تَنْهٰى عَنْ هَاتَيْنِ وَاَرَاكَ تُصَلِّيْهِمَا فَاِنْ اَشَارَ بِيَدِهٖ فَاسْتَاْخِرِيْ عَنْهُ فَفَعَلَتِ الْجَارِيَةُ فَاَشَارَ بِيَدِهٖ فَاسْتَاْخَرَتْ عَنْهُ فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ يَا ابْنَتَ اَبِيْ اُمَيَّةَ ! سَاَلْتِ عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ وَاِنَّهٗ اَتَانِيْ اُنَاسٌ مِّنْ عَبْدِ الْقَيْسِ فَشَغَلُوْنِيْ عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ اللَّتَيْنِ بَعْدَ الظُّهْرِ فَهُمَا هَاتَانِ.رَوَاهُ الشَّيْخَانِ.

۷۰۴- د کریب نه روایت دې چه ابن عباس رضی الله عنهما، مسور بن مخرمه، او عبدالرحمٰن بن ازهر زه ام المومنین عائشې رضی الله عنها ته اولیږلم او وې وئیل : زمونږ ټولو د طرف نه ام المومنین ته سلام وایه، او د مازیګر د مانځه نه روستو د دوه رکعتونو په باره کښې د هغوی نه پوښتنه اوکړه او هغوی ته اووایه، مونږ ته خبر ملاؤ شوې دې چه تاسو دوه رکعتونه کوئ او یقینا مونږ ته خبر هم رارسیدلې

دې چه رسول الله ﷺ د دې دوه رکعتو نه منع فرمائیلې ده او ابن عباس رضي الله عنهما اوفرمائیل، ما به د عمر بن الخطآب رضي الله عنه څخه د دې دوه رکعتونو کونکی وهل، ما د ام المومنین رضي الله عنها په خدمت کښې حاضریدلو څخه هغوی ته دا پیغام اورسولو کوم چه ماته هغوی راکړې وو، ام المومنین اوفرمائیل : د ام سلمه رضي الله عنها نه پوښتنه اوکړئ، ما هغوی ته تلو څخه هغوی (ابن مسعود رضي الله عنه وغیره) ته د ام المومنین رضي الله عنها قول بیان کړو، هغوی زه واپس هم دغه شان ام المومنین رضي الله عنها ته د هم دغه شان پیغام څخه راولیږلم کوم ئې چه ام المومنین عائشې رضي الله عنها ته رالیږلم اوم. نو ام المومنین ام سلمه رضي الله عنها اوفرمائیل : ما رسول الله ﷺ د دې دوه رکعتونو نه په منع کولو باندې اوریدلې دې، بیا ما هغوی اولیدل چه کله به ئې د مازیګر مونځ اوکړو نو دا دوه رکعتونه به ئې هم کول، بیا هغوی زما خواته تشریف راوړلو او ما څخه د انصارو نه د قبیله بنو حرام زنانه وې، ما هغوی ته یو ماشومه اولیږله، ما (ماشومې ته) اووې ته د رسول الله ﷺ یو طرف ته اودریدلو څخه اواویه : تاسو ته ام سلمه رضي الله عنها وائی یا رسول الله ﷺ! ما تاسو د دې دوه رکعتونو نه په منع کولو باندې اوریدلی یئ او زه تاسو وینم چه تاسو خپله دا کوئ، که هغوی په خپل لاس باندې اشاره اوفرمائی نو د هغوی نه (لږ ساعت) شاته کیدو څخه اودریږه، دې ماشومې هم دغه شان اوکړل، رسول الله ﷺ په خپل لاس مبارک څخه اشاره اوفرمائیله، او هغه د هغوی نه شاته شوه، چه کله هغوی سلام واړولو نو وې فرمائیل : اې د ابو امیه لورا تا زما نه د مازیګر د مانځه په باره کښې پوښتنه اوکړه کړې ده، ماته د قبیله عبدالقیس څه خلق راغلل، هغوی زه د ماسپخین نه پس د دوه رکعتونو نه مشغول اوساتلم نو دا هغه دوه رکعتونه دی. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۷۰۵) وَعَنْ مُعَاوِيَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ اِنَّكُمْ لَتُصَلُّوْنَ صَلٰوةً لَقَدْ صَحِبْنَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَا رَأَيْنَاهُ يُصَلِّيْهَا وَلَقَدْ نَهٰى عَنْهَا يَعْنِيْ ''اَلرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ'' ـ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ۔

۷۰۵: سیدنا معاویه رضي الله عنه فرمائی : تاسو یو مونځ کوئ، یقینا مونږ د رسول الله ﷺ په صحبت کښې پاتې شوې یو خو مونږ هغوی په دې مانځه باندې نه دی لیدلې، او هغوی د دې مانځه نه پس یعنی د مازیګر نه پس د دوه رکعتونو نه منع فرمائیلې ده، دا حدیث بخاری نقل کړې دې.

**تشریح>** (۷۰۰ نه ۷۰۵ پورې) د دې باب ټول روایات د تطوع بعد صلاة العصر وصلوة الصبح په کراهت باندې دال دی.

۱: د باب اول روایت ۷۰۰ د ابن عباس رضي الله عنهما نه مروی دې (مسلم ۱ ص ۲۷۵، بخاری ج ۱ ص ۸۲) چه په هغې کښې تصریح ده چه ډیر صحابه کرام چه په هغوی کښې عمر فاروق رضي الله عنه هم دې نه دا مروی دی ﴿نهی رسول الله ﷺ عن الصلوة بعد الفجر حتی تطلع الشمس وبعد العصر حتی تغرب الشمس﴾.

۲: د باب دویم روایت ۷۰۱ د ابوسعید الخدری ﷜ نه منقول دې (مسلم ج ۱ ص ۲۷۵، بخاری ج ۱ ص ۸۲) دلته د نفی نه مراد د مانځه د کمال نفی ده په دې وجه په دې دواړو وختونو کښې مونځ کول حرام نه دی بلکه مکروه دی. (مظاهر حق) د ابوهریره ﷜ د روایت ۷۰۲ مفهوم واضح دې کوم چه بخاری په ج ۱ ص ۸۳ او مسلم ج ۱ ص ۲۷۵ کښې تخریج کړې شوې دې.

۳: د عمر بن عبسه روایت ۷۰۳ (مسلم ج ۱ ص ۲۷۶، مسنداحمد ج ٤ ص ۱۱۱) کښې د سحر او مازیګر د مونځ نه پس د **اقصر عن الصلاة** صراحتا حکم مذکور دې کوم چه د قائلین کراهت مستدل دې.

**د شیطان په ښکرو کښې د نمر د راختلو مطلب:** ﴿ **تطلع بین قرنی شیطن** ﴾ مطلب دا دې چه د شیطان د سر دواړو طرفونو ته د نمر راختل دی یعنی شیطان د نمر د راختلو په وخت د نمر مخې ته او دریږی چه نمر د هغه د سر په دواړو طرفونو کښې راوځی او په دې حرکت څخه د هغه مقصد دا وی چه کوم خلق د نمر عبادت کوی شیطان دهغوی قبله شی پس رسول الله ﷺ دې وخت کښې د مونځ کولو نه منع فرمائیلې ده چه د الله پاک د دې باغیانو څخه مشابهت رانشی.

**د حدیث کریب تشریح:** روایت ۷۰۴ کښې د نوافل بعد العصر تفصیلی پس منظر مذکور دې کوم چه بخاری ج ۱ ص ۱٦٤ او مسلم ج ۱ ص ۲۸٦ کښې په تفصیل څخه نقل کړې شوې دې مضمون د حدیث د ترجمې نه واضح دې د ضرورت مطابق تشریح لوستونکو ته پیش کولې شی.

**تشریح** : د سائلین مطلب دا وو چه کله رسول الله ﷺ د مازیګر د مانځه نه پس د نفل وغیره کولو نه منع فرمائیلې وه نو خپله ئې د مازیګر نه روستو دا دوه رکعتونه ولې کول پس هغوی کریب ﷫ عائشې ﵂ ته اولیږلو چه هغوی د دې تحقیق اوکړی او د عائشې ﵂ نه حقیقت حال معلوم کړی، عائشې ﵂ کریب ﷫ ته د ام سلمه ﵂ حواله ورکړه چه د هغوی نه دې معلومه کړې شی، ځکه چه ام سلمه ﵂ په دې باره کښې پوره طریقې څخه واقفیت لرلو او هغوی د رسول الله ﷺ نه د هغوی د دې عمل په باره کښې د مخکښې نه تحقیق کړې وو، چه کله عائشې ﵂ کریب ام سلمه ﵂ ته د ورتلو اووې نو هغه له د قاعدې مطابق ام سلمه ﵂ ته تلل پکار وو خو هغوی د ادب د وجې نه دې درې واړو صحابه کرامو ﷺ ته راغلو چه د هغوی د استاذی په حیثیت څخه هغوی عائشې ﵂ ته تلې وو. چه کله دې صحابه کرامو ﷺ هغوی ام سلمه ﵂ ته اولیږلو نو بیا هغه هغوی ته لاړو او د دې درې صحابه کرامو پیغام رسولو څخه د حقیقت حال نه خبر شو.

د ام سلمه ﵂ د خواب مطلب دا وو چه رسول الله ﷺ د مازیګر نه پس چه کوم د دوه رکعتونو نه منع فرمائیلې وه نو د دې دوه رکعتونو نه د هغوی مراد مطلقا نفل مونځ کول وو او هم په دې ضمن کښې د دې دواړو رکعتونو نهی هم شامل وه، خو دا هم احتمال دې چه رسول الله ﷺ

هم ددې دواړو رکعتونو د کولو نه منع اوفرمائيله.

ابو اميه د ام سلمه ﷞ د والد نوم وو پس رسول الله ﷺ خادمې ته اوفرمائيل چه د ام سلمه ﷞ د دې سوال ځواب داسې ورکړه چه رسول الله ﷺ براه راست ام سلمه ﷞ ته ځواب ورکولو څخه د ابو اميه لور! وئيلو څخه مخاطب اوفرمائيله.

دا حديث په دې باندې دلالت کوی چه د علم دين تعليم، د احکام شريعت تبليغ او د الله پاک د مخلوق هدايت کول په نفل مونځ باندې مقدم دی اګر چه سنت موکده ولې نه وی، رسول الله ﷺ د ماسپخين د فرض مانځه نه پس دواړه سنت موخر کړل او اول ئې وفد د عبدالقيس ته دينی مسائل او د احکام شريعت تعليم ورکړو.

دا حديث په دې خبره باندې هم دلالت کوی چه که نوافل وقتيه فوت شی نو هغه په بل وخت کښې کول پکار دی. لکه چه د امام شافعی ﷫ مسلک دې خو د امام ابوحنيفه ﷫ په مسلک کښې نوافل وقتيه صرف هم د هغه مونځ په اوقاتو کښې کول پکار دی بغير د وخت نه د هغې قضاء نشته پس د هغوی د طرف نه د دې حديث تاويل دا کولې شی چه کيدې شی چه رسول الله ﷺ د ماسپخين د فرضو نه پس د سنتو دواړه رکعتونه کول شروع کړې وی خو د وفد عبدالقيس د علم دين د تعليم د ورکولو د ضرورت د وجې نه رسول الله ﷺ مونځ مات کړې وی په دې وجه رسول الله ﷺ د دې دواړو رکعتونو قضاء د مازيګر د مانځه نه پس کړې وی.

**د حديث معاويه ﷛ تشريح:** ۴: د دې باب روايت ۷۰۵ د معاوية ارشاد دې (بخاری ج ۱ ص ۸۳) کوم چه د قائلين کراهت مستدل دې. خو د مخکښې رواياتو نه علاوه ډير داسې رواياتو کښې په صراحت څخه راغلی دی چه رسول الله ﷺ به د مازيګر نه پس دوه رکعته مونځ کولو او حال دا چه معاويه ﷛ د دې نه انکار کوی لهذا د دې حديث تاويل به دا کولې شی چه د معاويه ﷛ د ارشاد مراد به رسول الله ﷺ دا دوه رکعتونه د بهر خلقو مخکښې نه کول خو په کور کښې به ئې هم د عام خلقو د سترګو نه بيليدو څخه کول چه نور خلق په دې سلسله کښې د رسول الله ﷺ اطاعت اونکړی څکه چه د مازيګر نه پس دا دوه رکعتونه صرف د رسول الله ﷺ د پاره کول صحيح وو د نورو خلقو لپاره جائز نه وو.

امام طحاوی ﷫ په دې مسئله کښې چه آيا د مازيګر نه پس دوه رکعتونه کول جائز دی يا نه؟ فرمائی چه د رسول الله ﷺ نه متواتر احاديث ثابت دی چه رسول الله ﷺ د مازيګر د فرض مونځ نه پس د مانځه کولو نه منع فرمائيلې ده او د صحابه کرامو ﷡ عمل هم دا پاتې شوې دې چه د چا لپاره مناسب نه دی چه د دې خلاف اوکړی يعنی د مازيګر د مونځ نه پس مونځ کولو ته جائز اووائی.

## بَابُ كَرَاهَةِ التَّنَفُّلِ بَعْدَ طُلُوْعِ الْفَجْرِ سِوٰى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ

(۷۰۶) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَا يَمْنَعَنَّ أَحَدَكُمْ أَوْ أَحَدًا مِّنْكُمْ أَذَانُ بِلَالٍ مِّنْ سَحُوْرِهٖ فَإِنَّهٗ يُؤَذِّنُ أَوْ يُنَادِيْ بِلَيْلٍ لِيَرْجِعَ قَآئِمَكُمْ وَلِيُنَبِّهَ نَائِمَكُمْ. رَوَاهُ السِّتَّةُ إِلَّا التِّرْمَذِيَّ.

**باب: د طلوع فجر نه پس د فجر د دوه سنتو نه علاوه د نفل كولو كراهت:** ۷۰۶: د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: په تاسو کښې دې څوک د بلال رضی الله عنه اذان د هغه د پيشمنی نه منع نه کړی، بيشکه هغه د شپې اذان کوی چه تهجد کونکې واپس شی او (پيشمنې کونکې) اوداودهٔ کيدو والا پاسی. داحديث د ترمذی نه علاوه اصحاب ستّة نقل کړې دې.

(۷۰۷) وَعَنْ حَفْصَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ لَا يُصَلِّيْ إِلَّا رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

۷۰۷: ام المومنين حفصه رضی الله عنها فرمائی رسول الله ﷺ چه به كله صبا راوختلو نو سوا د صبا د سنتونو نه به ئې هيڅ مونځ نه کولو. دا حديث مسلم نقل کړې دې.

**تشريح>** (۷۰۶ نه ۷۰۷ پورې) ۱: د صبا راختلو نه پس سوا د سحر د سنتو نه نفل کول مکروه دی. دا د جمهورو مسلک دې امام ترمذی رحمه الله په دې باندې اجماع نقل کړې ده.

۲: شوافع ددې د جواز قائل دی امام نووی رحمه الله فرمائی چه د طلوع فجر نه پس د سحر د فرض کولو نه مخکښې په نفلو کولو کښې هيڅ کراهت نشته هم دا د شوافع مفتی به مذهب دې.

۳: امام مالک رحمه الله فرمائی چه کوم سړې د تهجدو عادت وی او د څه وجې نه د تهجد مونځ اونکړې شی د دې لپاره د طلوع فجر نه پس د نوافلو اجازت دې خو مالکيان علی العموم د دې قائل دی چه د طلوع فجر نه پس نوافل مکروه دی.

**د جمهورو دلائل:** ۱: د دې باب اول روايت ۷۰۶ د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه مروی دې حافظ زيلعی رحمه الله د علامه ابن دقيق العيد رحمه الله نه نقل کولو څخه د ابن مسعود رضی الله عنه د دې معروف حديث نه د جمهورو په مسلک باندې دا استدلال بيان کړې دې چه که د سحر نه پس تنفل جائز وې نو د **(ليرجع قآئمكم)** وئيلو هيڅ وجه نه وه. دا روايت بخاری ج ۱ ص ۸۷ او مسلم ج ۱ ص ۳۵۰ کښې تخريج کړې دې.

۲: د سيده حفصه رضی الله عنها روايت ۷۰۷ کوم چه مسلم په ج ۱ ص ۲۵۰ کښې نقل کړې شوې دې چه په هغې کښې صراحة د **(لا يصلی الا ركعتی الفجر)** تصريح ده د دې نه علاوه ترمذی **كتاب الصلوة باب ما**

جاء لا صلاة بعد طلوع الفجر الا رکعتین کښې د ابن عمر ﷺ نه روایت دې ﴿ لا صلاة بعد الفجر الا سجدتین ﴾ دا د جمهورو مستدل دې.

## بَابٌ فِيْ تَاكِيْدِ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ

(۷۰۸) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَدَعُوْا رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ وَلَوْ طَرَدَتْكُمُ الْخَيْلُ. رَوَاهُ اَحْمَدُ وَاَبُوْدَاوُدَ وَاِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ وَقَدْ تَقَدَّمَ اَحَادِيْثُ الْبَابِ فِيْ بَابِ التَّطَوُّعِ لِلصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ.

**باب د سحر د سنتو تاکید:** ۷۰۸ سیدنا ابوهریره ﷺ فرمائی، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : د صبا دوه سنت مه پریږدئ، اګر چه تاسو اسونه د خپو د لاندې کړی.

دا حدیث احمد او ابوداؤد نقل کړې دې د دې اسناد صحیح دې او د دې باب احادیث په باب د پنځو مونځونو لپاره نفل کښې تیر شوې دې.

**تشریح>** (۷۰۸) دا روایت په مسند احمد ج ۲ ص ٤۰۵، ابوداؤد ج ۱ ص ۱۷۹ کښې تخریج کړې شوې دې د حدیث مضمون د تحت اللفظ ترجمې نه واضح دې.

## بَابٌ فِيْ تَخْفِيْفِ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ

(۷۰۹) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُخَفِّفُ الرَّكْعَتَيْنِ اللَّتَيْنِ قَبْلَ صَلٰوةِ الصُّبْحِ حَتّٰى اِنِّيْ لَاَقُوْلُ هَلْ قَرَاَ بِاُمِّ الْكِتٰبِ؟ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ.

**باب د سحر د سنتو تخفیف بیان:** ۷۰۹ : ام المومنین سیده عائشه صدیقه ﷺ اوفرمائیل : رسول الله ﷺ به د سحر د مانځه نه مخکښې دوه رکعتونه مختصر کول، تردې چه ما به اوئیل : رسول الله ﷺ صرف سورة فاتحه لوستلې ده. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۷۱۰) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ رَمَقْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَهْرًا فَكَانَ يَقْرَأُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ قَبْلَ الْفَجْرِ {قُلْ يٰاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ وَقُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ} . رَوَاهُ الْخَمْسَةُ اِلَّا النَّسَائِيَّ وَحَسَّنَهُ التِّرْمِذِيُّ.

۷۱۰: سیدنا عبدالله بن عمر ﷺ فرمائی : ما یو میاشت د رسول الله ﷺ په غور څخه مشاهده اوکړه نو رسول الله ﷺ د سحر په سنتو کښې په دوه رکعتونو کښې ﴿ قل یاایها الکفرون ﴾ او ﴿ قل هو الله احد ﴾ تلاوت فرمائیلو. دا حدیث د نسائی نه علاوه اصحاب خمسه نقل کړې دې او ترمذی دې ته حسن وئیلې دې.

**تشریح**> (۷۰۹ نه ۷۱۰) د دې باب اول روایت عن **عائشة** بخاری ج ۱ ص ۱۵۶، مسلم ج ۱ ص ۲۵۰ کښې او دویم روایت ترمذی ج ۱ ص ۹۵، ابوداؤد ج ۱ ص ۱۷۸ او مسند احمد ج ۳ ص ۹۴ کښې تخریج کړې شوې دې د دواړو احادیثو مدلول دا دې چه د سحر سنت به ډیر مختصر وو د بخاری روایت **عن عائشة** رضی الله عنها مضمون واضح دې فرمائی چه زما به شبهه وه چه رسول الله ﷺ به فاتحه هم وئیلې وی یا نه؟ د امام مالک رحمه الله نه منقول دی چه هغوی به په سورة الفاتحه باندې اکتفاء کوله لکه چه په فتح الباری ج ۳ ص ۳۸ کښې منقول دی چه د امام مالک رحمه الله په نزد د صبا په سنتو کښې د سورة ضم نشته خو د باب دویم حدیث د هغوی خلاف حجت دې. خو د جمهورو په نزد یو مختصر سورة یوځائې کول ضروری دی لکه چه د دې باب په دویم روایت کښې دی چه رسول الله ﷺ به سورة کافرون او اخلاص لوستلو. جمهور فقهاء هم په دې باندې عمل کوی. د احنافو د فقه په کتابونو بحر الرائق وغیره کښې هم دا مستحب لیکلې شوې دې.

**د امام طحاوی رحمه الله استدلال تطویل او د انورشاه صاحب ځواب:** خو په احنافو کښې د امام طحاوی رحمه الله په نزد تطویل مستحب دې او هغوی د امام ابوحنیفه رحمه الله نه هم یو روایت نقل کړې دې په استدلال کښې ئې د حسن بن زیاد روایت نقل کړې دې ﴿ **سمعت ابا حنیفة یقول قراءت فی رکعتی الفجر جزأین** ﴾ (بحواله معارف السنن ج ٤ ص ۶۰) علامه انور شاه کشمیری رحمه الله فرمائی چه دا روایت په هغه صورت باندې محمول دې چه کله څوک د تهجدو عادت وی او په څه ورځ ترې نه تهجد پاتې شی نو د هغې تلافی دې د صبا په سنتو کښې په تطویل قراءت څخه اوکړی. د ﴿ **ربما قرأت** ﴾ الفاظ هم په دې باندې دلالت کوی چه عام حکم د تخفیف دې.

باقی پاتې شوه دا خبره چه رسول الله ﷺ نه په بعض خاص رکعتونو کښې د خاص سورتونو معمول منقول دې.(البحر الرائق) کښې دې چه اکثر د دې مطابق عمل کول پکار دی خو کله دا هم پریخودل پکار دی چه د نورو سورتونو نه ئې اعراض لازم نه شی.

## بَابُ كَرَاهَةِ سُنَّةِ الْفَجْرِ إِذَا شَرَعَ فِي الْإِقَامَةِ

(۷۱۱) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهُ قَالَ إِذَا أُقِيْمَتِ الصَّلٰوةُ فَلَا صَلٰوةَ إِلَّا الْمَكْتُوْبَةَ. رَوَاهُ الْجَمَاعَةُ إِلَّا الْبُخَارِيَّ.

**باب: چه کله (موذن) اقامت شروع کړی نو د سحر د سنتو کراهیت:** ۷۱۱: د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: چه کله جماعت اودریږی نو سوا د فرضو نه یو مونځ هم نه کیږی. دا حدیث د بخاری نه علاوه د محدثینو جماعت نقل کړې دې.

(۷۱۲) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَالِكِ بْنِ بُحَيْنَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِرَجُلٍ وَّقَدْ أُقِيْمَتِ الصَّلٰوةُ يُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ فَلَمَّا انْصَرَفَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَاثَ بِهِ النَّاسُ فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آلصُّبْحَ أَرْبَعًا؟ آلصُّبْحَ أَرْبَعًا۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

۷۱۲: عبدالله بن مالک ابن بحينه ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ يو سړي باندې ورتير شو، مونځ ولاړ وو هغه (د صبا د سنتو) دوه رکعتونه کول، چه کله هغوی سلام واړولو نو خلق د رسول الله ﷺ نه ګير چاپيره جمع شو رسول الله ﷺ اوفرمائيل: آيا د سحر څلور رکعتونه دی، آيا د سحر څلور رکعتونه دی. دا حديث شيخينو نقل کړې دې.

(۷۱۳) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَرْجِسَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ دَخَلَ رَجُلٌ بِالْمَسْجِدِ وَرَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ صَلٰوةِ الْغَدَاةِ فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ فِيْ جَانِبِ الْمَسْجِدِ ثُمَّ دَخَلَ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا سَلَّمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا فُلَانُ بِأَيِّ الصَّلٰوتَيْنِ اعْتَدَدْتَّ؟ أَبِصَلٰوتِكَ وَحْدَكَ أَمْ بِصَلٰوتِكَ مَعَنَا؟ رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَّالْأَرْبَعَةُ إِلَّا التِّرْمِذِيَّ۔

۷۱۳: سيدنا عبدالله بن سرجس ﷺ فرمائی: يو سړې مسجد ته داخل شو چه رسول الله ﷺ د سحر په مانځه کښې وو، هغه د مسجد په يو ګټ کښې دوه رکعتونه ادا کړل، بيا رسول الله ﷺ څخه په مانځه کښې شريک شو، چه کله رسول الله ﷺ سلام واړولو نو وې فرمائيل اې فلانيه! په خپلو دواړو مونځونو کښې تا کوم شمار کړو خپل مونځ کوم چه دې ځانله کړې دې يا هغه مونځ کوم چه دې مونږ څخه کړې دې. دا حديث اصحاب اربعه نقل کړې دې دمسلم او ترمذی نه علاوه.

(۷۱۴) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ أُقِيْمَتْ صَلٰوةُ الصُّبْحِ فَقَامَ رَجُلٌ يُّصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ فَجَذَبَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِثَوْبِهِ وَقَالَ أَتُصَلِّي الصُّبْحَ أَرْبَعًا؟ رَوَاهُ أَحْمَدُ وَإِسْنَادُهُ جَيِّدٌ۔

۷۱۴: سيدنا عبدالله بن عباس ﷺ فرمائی، د صبا مونځ اودريدلو، يو سړې اودريدلو او دوه رکعتونه ئې کول نو رسول الله ﷺ هغه د جامو نه اونيولو او رائې ښکلو او وې فرمائيل: آيا ته د سحر څلور رکعته مونځ کوې. دا حديث احمد نقل کړې دې او د دې اسناد جيد دې.

(۷۱۵) وَعَنْهُ قَالَ كُنْتُ أُصَلِّيْ وَأَخَذَ الْمُؤَذِّنُ فِي الْإِقَامَةِ فَجَذَبَنِي النَّبِيُّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَتُصَلِّي الصُّبْحَ أَرْبَعًا۔ رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ فِيْ مُسْنَدِهٖ وَابْنُ خُزَيْمَةَ وَابْنُ حِبَّانَ وَآخَرُوْنَ وَقَالَ الْحَاكِمُ فِي الْمُسْتَدْرَكِ هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ عَلٰى شَرْطِ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ۔

۷۱۵: سيدنا ابن عباس ﷺ فرمائی، ما مونځ کولو او موذن اقامت شروع کړو نو رسول الله ﷺ زه لاندې راښکلم او وې فرمائيل: آيا ته د سحر څلور رکعتونه کوې؟.

دا حديث ابوداؤد الطيالسی په خپل مسند کښې نقل کړې دې ابن خزيمة، ابن حبان، او نورو محدثينو نقل کړې دې، حاکم په مستدرک کښې فرمائی دا حديث د مسلم په شرط باندې صحيح دې، او هغوی نه دې بيان کړې.

(۷۱٦) وَعَنْ أَبِيْ مُوْسَى الْأَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ رَأَى رَجُلًا صَلّٰى رَكْعَتَيِ الْغَدَاةِ حِيْنَ أَخَذَ الْمُؤَذِّنُ يُقِيْمُ فَغَمَزَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْكِبَيْهِ وَقَالَ أَلَا كَانَ هٰذَا قَبْلَ ذَا ؟رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الصَّغِيْرِ وَالْكَبِيْرِ وَإِسْنَادُهُ جَيِّدٌ۔

۷۱٦: د ابوموسی اشعری رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ يو سړې د فجر په سنت کولو باندې اوليدلو، او حال دا چه موذن اقامت کولو، نو رسول الله ﷺ هغه د اوږو نه نيولو څخه اوزورلو او وې فرمائيل: دا دې مخکښې ولې اونکړل.

دا حديث طبرانی په صغير او کبير کښې نقل کړې دې او د دې اسناد جيد دې.

(۷۱۷) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُقِيْمَتِ الصَّلٰوةُ فَلَا صَلٰوةَ إِلَّا الْمَكْتُوْبَةَ قِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! وَلَا رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ قَالَ وَلَا رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ۔ رَوَاهُ ابْنُ عَدِيٍّ وَالْبَيْهَقِيُّ وَقَالَ الْحَافِظُ الْفَتْحِ إِسْنَادُهُ حَسَنٌ وَفِيْمَا قَالَهُ نَظَرٌ وَهٰذِهِ الزِّيَادَةُ لَا أَصْلَ لَهَا۔

۷۱۷: سيدنا ابوهريره رضي الله عنه فرمائی، رسول الله ﷺ اوفرمائيل: چه کله جماعت اودرولې شی نو سوا د فرض مونځونو نه هيڅ مونځ نه کيږی، عرض اوکړې شو، يا رسول الله ﷺ! د سحر دوه سنت هم نه کيږی؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل: د سحر دوه سنت هم نه.

دا حديث ابن عدی او بيهقی نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې، حافظ په فتح البارى کښې وائی، د دې اسناد حسن دې او کومه خبره چه حافظ کړې ده په دې کښې اعتراض دې او د دې زياتی الفاظو هيڅ اصل نشته.

**تشريح**> (۷۱۱ نه ۷۱۷ پورې) د دې باب او د دې نه د وړاندې باب روايات د ۷۱۸ نه ۷۳۱ پورې دا مسئله بيان شوې ده چه کله يو سړې مسجد ته په داسې وخت کښې راشی چه امام د سحر مونځ شروع کړې وی او هغه لا د سحر سنت نه وی کړې نو هغه اول د سحر سنت اوکړی که په جماعت کښې شريک شی، دويم دا چه د مسجد د صفونو نه ئې جدا اوکړی يا که په صفونو کښې ئې کولې شی، قاضی شوکانی رحمه الله په دې مسئله کښې نهه اقوال نقل کړی دی چه د هغې نه مشهور مذاهب لاندې ليکلې شی.

**بيان مذاهب**: ۱: حنابله او شوافع حضرات فرمائی چه د سحر د جماعت اودريدلو نه پس د سحر سنت کول جائز نه دی که اوکړی نو په کراهت تحريمی څخه به ئې سنت صحيح شی اعادة به لازم نه

وی. (بذل المجهود ج ۲ ص ۲۶۳، النخب الافکار ج ۳ ص ۳۷)

۲: د احنافو او د مالکیانو مسلک دا دې چه په ماسپخین، مازیگر، ماښام او ماسخوتن څلورو واړو مونځونو کښې د سنتو هم دا حکم دې چه کله مونځ اودریږی نو د هغې کول خلاف اولی او مکروه دی او که کوی ئې نو زر دې پوره کړی یا دې په دوه رکعتو باندې سلام واړوی خو د سحر سنت د دې نه مستثنی دی د هغوی په نزد د جماعت د اودریدلو باوجود د مسجد په یو گټ کښې یا د عام جماعت نه یو اړخ ته د سحر سنت کول صحیح دی په دې شرط چه د جماعت د فوت کیدو خطره نه وی. (بدایة المجتهد ج ۲ ص ۲۰۶) څنگه چه د راروان باب د انعقاد غرض هم دا دې.

(۳) ښکاره داده چه کله مونځ شروع شی هم هغه وخت به ټول سنت ختم شی اوکه تر اوسه پورې ئې شروع کړې نه وی نو اوس دې نه شروع کوی که شروع کړې ئې وی نو فوراً مات شو.

(بذل المجهود ج۲ ص۲۶۳)

**د حنابله او شوافع دلائل او د احنافو ځوابات:** د دې باب ټول روایتونه د هغوی مستدل دې، ۱: اول روایت (۷۱۱) د ابوهریره رضی الله عنه نه مروی دې **(قال اذا اقیمت الصلوة فلا صلوة الا المکتوبة)**

(مسلم ج ۱ ص ۲۴۷، ترمذی ج ۱ ص ۹۶، ابوداؤد ج ۱ ص ۱۸۰)

**ثمره د اختلاف:** په قول د علامه ابن رشد رحمه الله د دې اختلاف ثمره په اصل کښې د ابوهریره رضی الله عنه د حدیث په مفهوم کښې د اختلاف کیدو د وجې نه ده شوافع او حنابله دا په عموم باندې حمل کړې دې هغوی بالکل اجازت نه ورکوی او وائی چه په دې حدیث کښې د اقامت نه پس د بل مانځه نه مطلقا منع کړې شوې ده که هغه په مسجد کښې وی که د مسجد نه بهر وی د نهی علت په نفلو کښې مشغول کیدو څخه د فریضې نه اعراض دې. لهذا دوه رکعته د سحر د سنتو جواز باقی پاتې نه شو.

**د ابوهریره رضی الله عنه د حدیث نه د احنافو ځوابات:** احناف وائی، **الف:** چه د نهی علت هغه نه دې کوم چه امام شافعی رحمه الله وغیره بیان کړې دې بلکه د نهی علت د دوه مونځونه یوځائې کښې په یوځائې کول دی لکه چه امام طحاوی رحمه الله ثابت کړې ده گویا د حدیث مقصود د اقامت صلاة نه پس د بل مونځ ممانعت په مسجد کښې دننه دې په دې وجه د امام ابوحنیفه مذهب د جواز فی الخارج دې چه په نظر د شارع کښې داخل د مسجد او خارج د مسجد احکام بیل بیل دی.

**ب:** د دې نه علاوه شوافع حضرات خپله پوره طریقه څخه په عموم باندې عمل نه کوی څکه چه د امام شافعی رحمه الله په نزد د جماعت د اودریدلو نه پس په کور کښې سنت کول جائز دی حال دا چه د ابوهریره رضی الله عنه د حدیث په حکم کښې دا هم داخل دی او په دې کښې د کور او د جمات فرق نشته.

ج : هم دغه شان په ﴿ الا المکتوبة ﴾ کښې فوت شده مونځونه هم داخل دی چه د هغې تقاضا دا ده چه د اقامت صلاة نه پس د فائتة کول جائز وی حال دا چه شوافع دې هم جائز نه وائی لهذا دا حدیث د عام مخصوص البعض په درجه کښې دې لهذا که احناف حضرات د فقهاء صحابه رضی الله عنهم په تعامل څخه (لکه چه د وړاندې باب په روایاتو کښې ثابته ده) په دې کښې نور تخصیص هم پیدا کړی نو څه نقصان دې؟

د: د ابوهریره رضی الله عنه د روایت مدار په عمرو بن دینار دې د عمرو بن دینار شاګرد زکریا بن اسحاق دا روایت مرفوع نقل کړې دې زکریا بن اسحاق په حفاظ حدیث کښې نه دې او د هغوی نور شاګردان کوم چه د حفاظ حدیث نه دی مثلا حماد بن سلمة او حماد بن زید وغیره دا حدیث د ابوهریره رضی الله عنه نه موقوف منلې دې لهذا د حدیث موقوف په ذریعه باندې په اختلافی احکام کښې استدلال صحیح نه وی.

۲: د باب دویم روایت ۷۱۲ د بخاری ج ۱ ص ۹۱ او مسلم ج ۱ ص ۲٤۷ نه منقول دې چه په هغې کښې د ﴿ الصبح اربعا، الصبح اربعا ﴾ تصریح ده، شوافع او حنابله د دې روایت نه استدلال کوی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې صحابی باندې نکیر اوفرمائیلو نو معلومه شوه چه نه دې کوی. احناف د دې په ځواب کښې وائی چه په دې کښې دوه احتمالات دی (۱) یو دا چه دې صحابی سنت په صف کښې اودریدو څخه کړې وو او دا صورت اربعا لره ښکاره کولو، ګینې که چا یو ځائې کښې دوه رکعته اوکړل او بیا ئې ځائې بدل کړو او دوه رکعتونه ئې اوکړل نو دې ته اربعا نه شی وئیلې کیدې. (۲): هغه حکم هم مراد کیدلې شی کوم چه شوافع او حنابله مراد کوی.

اوس چه هر کله په دې حدیث کښې دواړه احتمالات موجود دی نو بغیر د څه دلیل شرعی نه به یو احتمال ته ترجیح ورکول صحیح نه وی. پس چه کله مونږ لټون اوکړو نو مونږ ته د محمد بن عبدالرحمٰن په سند څخه د عبدالله بن مالک بن بحینة رضی الله عنه روایت ملاؤ شو چه د سحر د مانځه تکبیر شروع شو نو عبدالله بن مالک بن بحینه رضی الله عنه هم په دې وخت کښې په مینځ کښې اودریدلو څخه سنت کول شروع کړل نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه ته د سحر سنت د ماسپخین د سنت قبلیه او بعدیه په شان د فرضو څخه متصل مه کوه بلکه د سنت فجر او فرض فجر ترمینځه څه فاصله ساته. نو د دې نه مخکښې ته ترجیح حاصلیږی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم مقصد د فجر د سنتو نه ممانعت نه دې بلکه سنت لره د فرضو څخه د یوځائې کولو او خلط کولو نه ممانعت مقصود دې. ځکه چه عبدالله بن مالک په مینځ کښې اودریدلو څخه سنت کړی دی او سنت ئې د فرضو څخه یوځائې کړی دی. لهذا که یو غاړې ته په برانډه کښې سنت اوکړې شی او بیا وړاندې کیدو څخه

جماعت کښې شرکت اوکړې شی نو د دې په جواز کښې څه اشکال نه دی کیدل پکار.

۳: د عبدالله بن سرجس ﷺ روایت ۷۱۳ کوم چه مسلم ج ۱ ص ۲٤۷ او ابوداؤد ج ۱ ص ۱۸۰ کښې تخریج کړې شوې دې کښې صراحتا ممانعت ثابت دې کوم چه د شوافع او حنابله مستدل دې امام طحاوی رحمه الله د دې په ځواب کښې فرمائی الف: په دې روایت کښې جانب المسجد راغلې دې او په بعض روایاتو کښې د خلف الناس الفاظ نقل شوې دی چه د هغې معنی دا ده چه د جماعت د صفونو څخه متصل شاته اودریدلې وو د دې سرې او جماعت والو ترمینځه هیڅ فصل نه وو دا هم د مخالطت مشابه دې کوم چه زمونږ په نزد مکروه دې او زمونږ په نزد واجب دا دی چه د مسجد په بالکل شاته حصه کښې دې سنت ادا کړې بیا دې د هغه ځائې نه راتلو څخه په صفونو کښې شرکت اوکړی او دلته داسې نه ده.

۴: د سیدنا ابن عباس ﷺ روایت (۷۱۴) مسند احمد ج ۱ ص ۱۳۸ هم د هغوی روایت (۷۱۵) په مستدرک ج ۱ ص ۳۰۷ او د ابوموسی اشعری ﷺ روایت (۷۱٦) المعجم الصغیر ج ۱ ص ۵۵ او د دې نه مخکښې روایات کوم چه د ابوهریره، عبدالله بن مالک بن بحینه او عبدالله بن سرجس نه مروی دی د ټولو مطلب د دې ځواب نه واضح کیږی کوم چه امام طحاوی رحمه الله په شرح معانی الاثار ج ۱ ص ۲۱۹ کښې نقل کړې دې فرمائی چه سیدنا عبدالله بن عباس ﷺ د خپلې ګورنرئ په زمانه کښې دا اعلان کړې وو چه د فرض او نفلو ترمینځه فصل کوئ او خپله به ئې د فرضو نه علاوه نور مونځونه کمرې ته تلو څخه ادا کول او خاص کر د ماښام نه پس به ئې نوافل کور ته تلو څخه کول مطلب د فرض او نفلو ترمینځه امتیازی فصل او فاصله کیدل لازمی دی د دې باب د ټولو روایاتو مطلب هم دا دې.

۵: د ابوهریره ﷺ روایت (۷۱۷) کامل ابن عدی ج ۷ ص ۲۷۰ او بیهقی ج ۲ ص ٤۸۳ کښې نقل کړې شوې دی چه د دې سند حد درجه ضعیف دې کوم چه ناقابل استدلال دې چه په هغې کښې ﴿قیل یا رسول الله ولا رکعتی الفجر؟ قال ولا رکعتی الفجر﴾ زیادة دې.

قد تفرد بها مسلم بن خالد الزنجی عن عمرو بن دینار قال الذهبی فی المیزان قال ابن معین لیس به بأس، وقال مرة ثقة، و قال مرة ضعیف، و قال الساجی کثیر الغلط، کان یری القدر وقال البخاری منکر الحدیث، و ضعفه ابوداؤد۔(تعلیق الحسن)

## بَابُ مَنْ قَالَ يُصَلِّيْ سُنَّةَ الْفَجْرِ عِنْدَ اشْتِغَالِ الْإِمَامِ بِالْفَرِيْضَةِ خَارِجَ الْمَسْجِدِ اَوْفِيْ نَاحِيَةٍ اَوْخَلْفَ اُسْطُوَانَةٍ اِنْ رَّجَا اَنْ يُّدْرِكَ رَكْعَةً مِّنَ الْفَرْضِ

(٧١٨) عَنْ مَّالِكِ بْنِ مِغْوَلٍ قَالَ: سَمِعْتُ نَافِعًا يَقُوْلُ اَيْقَظْتُ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ لِصَلٰوةٍ وَقَدْ اُقِيْمَتِ الصَّلٰوةُ فَقَامَ فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ۔ رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

**باب: چا چه ونيلي دى چه كله امام په فرض كولو كښې مشغول شى نو د سحر سنت د مسجد نه بهر يا په كټ كښې يا د ستنې نه شاته اوكړې شى، چه كله دا اميد وى چه د فرضو يو ركعت به لا نديي كړى.** ٧١٨: مالک بن مغول فرمائی ما د نافع نه واوریدل، ما ابن عمر رضی اللہ عنہما د سحر د مانځه لپاره پاسولو، او حال دا چه جماعت ولاړ وو، نو هغوی پاسیدل او دوه رکعتونه ئې اوکړل.دا حدیث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(٧١٩) عَنْ مُّحَمَّدِ بْنِ كَعْبٍ قَالَ خَرَجَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مِنْ مَّنْزِلِهٖ فَاُقِيْمَتْ صَلٰوةُ الصُّبْحِ فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ اَنْ يَّدْخُلَ الْمَسْجِدَ وَهُوَ فِي الطَّرِيْقِ ثُمَّ دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَصَلَّى الصُّبْحَ مَعَ النَّاسِ ۔رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ۔

٧١٩ : محمد بن كعب وائى : عبدالله بن عمر رضی اللہ عنہما د خپل کور نه اووتلو نو د سحر مونځ ولاړ وو . هغوى مسجد ته د داخليدو نه مخكښې دوه رکعتونه اوکړل، او حال دا چه هغوى په لار كښې وو، بيا مسجد ته داخليد وخخه ئې دخلقو په ملگرتيا کښې مونځ اوکړو.داحديث طحاوى نقل كړې دې.

(٧٢٠) وَعَنْ زَيْدِ بْنِ اَسْلَمَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهٗ جَآءَ وَالْاِمَامُ يُصَلِّي الصُّبْحَ وَلَمْ يَكُنْ صَلَّى الرَّكْعَتَيْنِ قَبْلَ الصُّبْحِ فَصَلَّاهُمَا فِيْ حُجْرَةِ حَفْصَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا ثُمَّ اَنَّهٗ صَلّٰى مَعَ الْاِمَامِ۔ رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَرِجَالُهٗ ثِقَاتٌ اِلَّا يَحْيَى بْنَ اَبِيْ كَثِيْرٍ يُدَلِّسُ۔

٧٢٠: زيد بن اسلم د ابن عمر رضی اللہ عنہما نه روايت بيان كړو چه هغوى راغلل، او حال دا چه امام د صبا مونځ وركولو او هغوى د صبا دوه ركعتونه نه وو كړې، نو هغه دوه ركعتونه ئې د ام المومنين حفصه رضی اللہ عنہا په كمره كښې اوكړل، بيا هغوى د امام په ملگرتيا كښې مونځ ادا كړو.دا حديث طحاوى نقل كړې دې، د دې راويان ثقة دى، سوا د يحيى بن كثير نه چه هغه تدليس كوى.

(٧٢١) وَعَنْ اَبِي الدَّرْدَآءِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهٗ كَانَ يَدْخُلُ الْمَسْجِدَ وَالنَّاسُ صُفُوْفٌ فِيْ صَلٰوةِ الْفَجْرِ فَيُصَلِّي الرَّكْعَتَيْنِ فِيْ نَاحِيَةِ الْمَسْجِدِ ثُمَّ يَدْخُلُ مَعَ الْقَوْمِ فِي الصَّلٰوةِ۔ رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

٧٢١: د سيدنا ابو الدرداء رضی اللہ عنہ نه روايت دې چه هغوى به كله مسجد ته داخل شو، په داسې حال

کښې چه خلقو به صفونه جوړ کړي وو او د سحر مونځ به ئې ادا کولو نو هغوی به دوه رکعتونه د مسجد په ګټ کښې کولو نه پس خلقو څخه مونځ کښې شريک شو دا حديث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(٧٢٢) وَعَنْ حَارِثَةَ بْنِ مُضَرِّبٍ اَنَّ ابْنَ مَسْعُوْدٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَاَبَامُوْسٰى رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ خَرَجَا مِنْ عِنْدِ سَعِيْدِ بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَاُقِيْمَتِ الصَّلٰوةُ فَرَكَعَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ رَّكْعَتَيْنِ ثُمَّ دَخَلَ مَعَ الْقَوْمِ فِي الصَّلٰوةِ وَاَمَّا اَبُوْمُوْسٰى فَدَخَلَ فِي الصَّفِّ۔ رَوَاهُ اَبُوْبَكْرِ بْنُ شَيْبَةَ فِيْ مُصَنَّفِهٖ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

٧٢٢: د حارثه بن مضرب نه روايت دې چه ابن مسعود او ابوموسى اشعرى رضي الله عنهما د سعيد بن العاص رضي الله عنه د خوا نه اووتل، نو مونځ اودريدلو، ابن مسعود رضي الله عنه دوه رکعته کولو څخه د خلقو څخه شريک شو، خو ابو موسى اشعرى رضي الله عنه په صف کښې شامل شو.
دا حديث ابوبکر بن ابى شيبة په خپل مصنف کښې نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(٧٢٣) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ اَبِيْ مُوْسٰى عَنْ اَبِيْهِ حِيْنَ دَعَاهُمْ سَعِيْدُ بْنُ الْعَاصِ دَعَا اَبَامُوْسٰى رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَحُذَيْفَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَعَبْدَ اللّٰهِ بْنَ مَسْعُوْدٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَبْلَ اَنْ يُّصَلِّيَ الْغَدَاةَ ثُمَّ خَرَجُوْا مِنْ عِنْدِهٖ وَقَدْ اُقِيْمَتِ الصَّلٰوةُ فَجَلَسَ عَبْدُ اللّٰهِ اِلٰى اُسْطُوَانَةٍ مِّنَ الْمَسْجِدِ فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ دَخَلَ فِي الصَّلٰوةِ۔ رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَالطَّبَرَانِيُّ وَفِيْ اِسْنَادِهٖ لِيْنٌ۔

٧٢٣: عبدالله بن ابى موسى د خپل پلار نه روايت کړې دې چه کله سعيد بن العاص رضي الله عنه راوغوښتلو نو ابوموسى رضي الله عنه، حذيفه رضي الله عنه او ابن مسعود رضي الله عنه د سحر د مانځه نه مخکښې راوغوښتل، بيا د هغوی د خوا نه اووتلو، چه کله جماعت اودريدلو نو عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د مسجد د يو ستن په خوا کښې کيناستلو څخه دوه رکعته اوکړل، بيا په مانځه کښې شريک شو.
دا حديث طحاوی او طبرانى نقل کړې دې او د دې په اسناد کښې کمزوری ده.

(٧٢٤) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ اَبِيْ مُوْسٰى عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهٗ دَخَلَ الْمَسْجِدَ وَالْاِمَامُ فِي الصَّلٰوةِ فَصَلّٰى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ۔ رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَالطَّبَرَانِيُّ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

٧٢٤: عبدالله بن ابى موسى رحمه الله د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت کړې دې چه هغوی مسجد ته هغه وخت داخل شو په داسې حال کښې چه امام په مانځه کښې وو، نو هغوی د سحر دوه سنت اوکړل.دا حديث طحاوی او طبرانى نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(٧٢٥) وَعَنْ اَبِيْ مِجْلَزٍ قَالَ: دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ فِيْ صَلٰوةِ الْغَدَاةِ مَعَ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَالْاِمَامُ يُصَلِّيْ فَاَمَّا ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَدَخَلَ فِي الصَّفِّ وَاَمَّا ابْنُ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَصَلّٰى

رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ دَخَلَ مَعَ الْإِمَامِ فَلَمَّا سَلَّمَ الْإِمَامُ قَعَدَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مَكَانَهُ حَتّٰى طَلَعَتِ الشَّمْسُ فَقَامَ فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ. رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

۷۲۵: ابو مجلز فرمائی زه د سیدنا ابن عمر او سیدنا ابن عباس رضی الله عنهم څخه د مانځه لپاره مسجد ته داخل شوم، او امام مونځ کولو، ابن عمر رضی الله عنهما خو په صف کښې شامل شو، خو ابن عباس رضی الله عنهما دوه رکعته اوکړل، بیا د امام څخه شریک شو، چه کله امام سلام واړولو، نو ابن عمر رضی الله عنهما په خپل ځائې کیناستلو، تردې چه نمر راوختلو نو پاسیدو او دوه رکعتونه ئې اوکړل. دا حدیث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۷۲۶) وَعَنْ أَبِيْ عُثْمَانَ الْأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ جَاءَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَالْإِمَامُ فِيْ صَلٰوةِ الْغَدَاةِ وَلَمْ يَكُنْ صَلَّى الرَّكْعَتَيْنِ فَصَلّٰى عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ الرَّكْعَتَيْنِ خَلْفَ الْإِمَامِ ثُمَّ دَخَلَ مَعَهُمْ. رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

۷۲۶: ابو عثمان انصاری رضی الله عنه فرمائی چه عبدالله بن عباس رضی الله عنهما راغلو او امام د سحر په مانځه کښې وو، هغوی دوه سنت نه وو کړې، عبدالله بن عباس رضی الله عنهما دامام نه شاته دوه رکعتونه ادا کړل، بیا د هغوی څخه شریک شو، دا حدیث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۷۲۷) وَعَنْ أَبِيْ عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ قَالَ كُنَّا نَأْتِيْ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَبْلَ أَنْ نُصَلِّيَ الرَّكْعَتَيْنِ قَبْلَ الصُّبْحِ وَهُوَ فِي الصَّلٰوةِ فَنُصَلِّيْ فِيْ اٰخِرِ الْمَسْجِدِ ثُمَّ نَدْخُلُ مَعَ الْقَوْمِ فِيْ صَلٰوتِهِمْ. رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَإِسْنَادُهُ حَسَنٌ

۷۲۷: ابو عثمان النهدی وائی مونږ به د عمر بن الخطاب رضی الله عنه څخه د سحر دوه سنت کولو نه مخکښې راغلو حال دا چه هغوی به په مانځه کښې وو، مونږ به د مسجد په آخری ګټ کښې کولو څخه بیا د خلقو څخه په مانځه کښې شریکیدلو. دا حدیث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۷۲۸) وَعَنِ الشَّعْبِيِّ قَالَ: كَانَ مَسْرُوْقٌ يَجِيْئُ إِلَى الْقَوْمِ وَهُمْ فِي الصَّلٰوةِ وَلَمْ يَكُنْ رَكَعَ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ فَيُصَلِّي الرَّكْعَتَيْنِ فِي الْمَسْجِدِ ثُمَّ يَدْخُلُ مَعَ الْقَوْمِ فِيْ صَلٰوتِهِمْ. رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

۷۲۸: امام شعبی رحمه الله فرمائی: مسروق به خلقو ته راتلو او حال دا چه هغوی به په مانځه کښې وو او هغوی به د سحر دوه سنت نه وو کړې. هغوی به په مسجد کښې دوه سنت کولو نه پس د خلقو څخه په مانځه کښې شریکیدل. دا حدیث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۷۲۹) وَعَنْهُ عَنْ مَسْرُوْقٍ أَنَّهُ فَعَلَ ذٰلِكَ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فِيْ نَاحِيَةِ الْمَسْجِدِ. رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

۷۲۹: امام شعبی رحمه الله د مسروق نه روایت کړې دې چه هغوی داسې اوکړل، هغوی اوفرمائیل: د

مسجد په گټ کښې (ئې دوه رکعتونه اوکړل). داحدیث طحاوي نقل کړې دې او ددې اسناد صحیح دې.

(۷۳۰) وَعَنْ يَزِيْدَ بْنِ اِبْرَاهِيْمَ عَنِ الْحَسَنِ اَنَّهُ كَانَ يَقُوْلُ اِذَا دَخَلْتَ الْمَسْجِدَ وَلَمْ تُصَلِّ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ فَصَلِّهِمَا وَاِنْ كَانَ الْاِمَامُ يُصَلِّيْ ثُمَّ ادْخُلْ مَعَ الْاِمَامِ. رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

۷۳۰: د یزید بن ابراهیم نه روایت دې چه حسن بصری رحمه الله به وئیل: چه کله تاسو مسجد ته داخل شئ او تاسو د سحر سنت نه وی کړې نو هغه اوکړئ اګر چه امام مونځ کوی، بیا د امام څخه شریک شئ. دا حدیث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۷۳۱) وَعَنْ يُوْنُسَ قَالَ كَانَ الْحَسَنُ يَقُوْلُ يُصَلِّيْهِمَا فِيْ نَاحِيَةِ الْمَسْجِدِ ثُمَّ يَدْخُلُ مَعَ الْقَوْمِ فِيْ صَلٰوتِهِمْ. رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

۷۳۱: یونس وائی، حسن بصری رحمه الله به وئیل: د دې (دوه سنتو) د مسجد په ګټ کښې کولو نه پس د خلقو څخه د هغوی په مانځه کښې شریک شئ. دا حدیث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

**تشریح> د مسلک احناف توضیح:** (۷۱۸ نه ۷۳۱ پورې) امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه که سنت کولو نه پس په جماعت کښې شریکیدلو کښې کم از کم د یو رکعت ملاویدو توقع وی نو سنت دې د مسجد نه بهر کولو څخه په جماعت کښې شامل شی ځکه چه د سحر د سنتو ډیر لوئې فضیلت دې لکه چه په شروع کښې په باب النوافل کښې مفصل تیر شوې دی په دې وجه سنت او جماعت هر دواړه فضیلتونه دې جمع کړی او په یو رکعت ملاویدو باندې د جماعت فضیلت حاصلیږی. د رسول الله ﷺ ارشاد دې چه "چا د فجر یو رکعت لاندې کړو هغه فجر بیا موندلو".

او که د دواړو رکعتونو د فوت کیدو ویره وی اګر چه قعده ملاویدې شی نو په دې صورت کښې دې سنت پریږدی او په جماعت کښې دې شامل شی، د جامع صغیر او بدائع نه هم دا محقق کیږی او هم دا ظاهر مذهب دې په علماء شافعیه کښې قسطلانی او مالکیانو کښې ابن رشد او باجی هم دا اختیار کړې دې او خپله د امام شافعی رحمه الله قدیم قول هم دا دې.

د فقیه ابوجعفر نه منقول دی چه که صرف د قعدې موندلو توقع وی نو بیا هم د شیخینو په قول باندې دې د سحر سنت اوکړی ابن العربی هم په الاقتراب کښې هم دا لیکلې دی چه که د قعدهٔ اخیره ملاویدو توقع وی نو بیا دې هم اوکړی، ابن الهمام او شارح منیة شیخ حلبی وغیره هم دې ته ترجیح ورکړې ده **ان تدرک التشهد ایضا لا یترکها.**

بعض مشائخ احنافو نوره توسیع کولو څخه په مسجد کښې هم اجازت ورکړې دې او غالبا د تولو نه مخکښې امام طحاوی رحمه الله داسې کړې دی چه د مسجد په یو ګټ کښې ئې اجازت

ورکړو په دې شرط چه دواړو کښې فصل وی، د ظاهر الروایة وجه په قول د صاحب هدایة دا ده چه یو خو د جماعت ثواب ډیر زیات دې تردې چه ۲۷ درجې ئې په منفرد باندې ثواب زیات دې، دویم دا چه په ترک د جماعت باندې ډیر وعید دې پس تیر شوې دی چه د جماعت نه منافق سړې پاتې کیږی او رسول الله ﷺ د تارکین جماعت د کور سیزلو اراده فرمائیلې وه او د وعید نه بچ کیدل په سنت اداکولو باندې مقدّم دی.

**د احنافو دلائل**: ۱: چه مونږ په دې کښې هیڅ قباحت د حکم رسول ﷺ خلاف نه ګڼړو چه کوم سړی د سحر سنت نه وی کړې او هغه د جماعت په وخت په مسجد کښې راتلو څخه بالکل په آخری غاړه باندې په مسجد کښې سنت ادا کړی او بیا هلته تلو څخه په جماعت کښې شرکت اوکړی. لکه چه په داسې کولو کښې د ماسپخین، مازیګر او ماسخوتن په وخت کښې کولو کښې څه باک نشته. او په دې څخه د فرض او نفلو په مینځ کښې وصل کول نه لازمیږی چه د هغې په وجه باندې د ممانعت په حدیث کښې داخلیدل لازم شی. هم دا زمونږ د علماء ثلاثه مسلک دې.

۲: د اجله صحابه کرامو یو جماعت په دې باندې عمل کړې دې چه د سحر د جماعت اودریدلو نه پس ئې د مسجد په غاړه باندې سنت ادا فرمائیلې وی او د هغې نه پس ئې په جماعت کښې شرکت فرمائیلې وی لکه چه عبدالله بن مسعود د ابوموسی اشعری او حذیفه بن الیمان رضی الله عنهم مخکښې داسې عمل اوکړو او هغوی هیڅ نکیر او نه فرمائیلو. او هم دغه شان عبدالله بن عباس رضی الله عنهما د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما مخکښې داسې عمل اوکړو او ابن عمر رضی الله عنهما څه نکیر او نه فرمائیلو. د دې سلسلې ټول روایات په دې باب کښې منقول دی.

دا ټول په دې باندې دلالت کوی چه دا ټول صحابه کرام دا عمل جائز ګڼړی او په دې کښې هیڅ قباحت نه ګڼړی. او دا هغه وخت ثابتیدلې شی چه دې حضراتو ته د رسول الله ﷺ قول او فعل معلوم شوې وی.

۳: امام شعبی رحمه الله به خلقو ته حکم کولو چه د فرض او نفلو ترمینځه فصل کوئ او خپله به ئې سنت فجر د مسجد په یو غاړه باندې ادا کول. د دې نه پس به راغلو او جماعت کښې به ئې شرکت کولو چه د فرض او تطوع ترمینځه فصل راشی. هم دا د عبدالله بن عباس رضی الله عنهما معمول پاتې شوې دې. ځکه چه د جواز انکار نه شی کیدې او مونږ هم د دې قائل یو.

۴: دحضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه عمل پیش کولې شی چه د جماعت د اودریدو علم کیدونه پس به دوی کله په لاره کښې اوکله د حضرت حفصې رضی الله عنها په حجره کښې کومه چه مسجدنبوی څخه متصل ده د سحر سنت اداکول، اوددې نه پس به ئې په جماعت کښې شرکت کولو. اودا د حضرت ابوهریره رضی الله عنه د روایت خلاف دې کوم چه په ړومبی فصل

کښې تیرشوې دې لهذا دحضرت ابوهریره رضی الله عنه په روایت کښې به تاویل کول لازمی وی کوم چه په ړومبی فصل کښې ثابت کړې شوې دې.

۵: د صحابه کرامو او تابعین عظامؓ د یو لوئې جماعت عمل پیش کولې شی چه د ټولو عمل اکثر هم دا وو چه که خپله به ئې د سحر سنت نه وو کړې او جماعت به ولاړ وو نو اول به ئې د مسجد په غاړه باندې د سحر سنت اوکړل او د هغې نه پس به ئې په صفونو کښې راتلو څخه شرکت کولو. په طور د مثال ئې په صحابه کرامو او تابعینو کښې د پنځو کسانو عمل او فتوی رانقل کړې ده.

۱: د ابوالدرداءؓ عمل په یو سند څخه، ۲: د عبدالله بن مسعودؓ عمل په یو سند څخه، ۳: د ابوعثمان النهدی عمل په دوه سندونو څخه. ۴: د امام مسروق بن الاجدع عمل په دوه سندونو څخه. ۵: د حسن بصری فتوی په دوه سندونو څخه.

نو حاصل دا راووتلو چه دې ټولو حضراتو د مسجد په آخری طرف کښې تلو څخه د جماعت په وخت د سحر سنتو ته مباح او جائز وئیلې دی.

**د امام طحاویؒ عقلی استدلال:** د امام طحاویؒ د طرف نه عقلی دلیل پیش کولې شی چه اوله ډله کښې د شوافعو وغیره وینا ده چه سنت فجر لره پریخودلو څخه په جماعت کښې شرکت اولی دې، نو مونږ په نظر او فکر څخه ګورو چه د ټولو اتفاق په دې خبره دې چه که د جماعت د اودریدلو په وخت په کور کښې وی او د جماعت علم ورته اوشی او د سنت په فوت کیدو څخه ئې د جماعت خطره نه وی نو سنت کول اولی او افضل دی. او په دې باندې اجماع نشته چه په کور کښې دسنت کولو نه فریضې ته تلل افضل او اولی دې. او د تطوع په اقسامو کښې د سنت فجر تاکید ډیر زیات راغلې دې. پس رسول اللهﷺ اوفرمائیل چه که تاسو ته د اسونو والو د خپو لاندې کولو خطره ولې نه وی بیا هم دا دوه رکعتونه مه پریږدئ. او چه کله د دې تاکید په وجه باندې کور کښې کول جائز دی نو په مسجد کښې هم جائز کیدل پکار دی. او ترک کول ئې جائز نه دی کیدل پکار. هم دا د نظر او قیاس تقاضا هم ده. او هم دا زمونږ د علماء ثلاثه قول دې.

**د احادیث الباب تخریج:** روایت ۷۱۸ نه ۷۳۱ پورې د طحاوی **باب اداء سنة الفجر** ج ۱ ص ۲۵۸ نه اخستلې شوې دی صرف ۷۲۲ د مصنف ابن ابی شیبة ج ۲ ص ۲۵۱ نه منقول دې د دې ټولو آثارو سندونه صحیح دی او د دې نه معلومیږی چه د صحابه کرامو عمل دا وو چه هغوی به د جماعت د اودریدلو باوجود هم د سحر سنت کول او د دې نه علاوه لکه چه مونږ عرض اوکړو چه فجر سنت اکدالسّنن دی او په فجر کښې قراءت هم اوږدوی لهٰذا که دا اوکړې شی نو په دې کښې هیڅ باک نشته.

## بَابُ قَضَآءِ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ

(۷۳۲) عَنْ قَيْسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأُقِيْمَتِ الصَّلٰوةُ فَصَلَّيْتُ مَعَهُ الصُّبْحَ ثُمَّ انْصَرَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَجَدَنِيْ أُصَلِّيْ فَقَالَ مَهْلًا يَا قَيْسُ أَصَلٰوتَانِ مَعًا قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ إِنِّيْ لَمْ أَكُنْ رَكَعْتُ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ قَالَ فَلَا إِذَنْ ـ رَوَاهُ الْأَرْبَعَةُ إِلَّا النَّسَآئِيَّ وَأَحْمَدُ وَأَبُوْبَكْرِ بْنُ أَبِيْ شَيْبَةَ وَالدَّارَقُطْنِيُّ وَالْحَاكِمُ وَالْبَيْهَقِيُّ ـ قَالَ النِّيْمَوِيُّ إِسْنَادُهُ ضَعِيْفٌ ـ

**باب: د نمر د راختلو نه مخکښې د سحر د سنتو قضاء:** ۷۳۲ : سیدنا قیس رضی اللہ عنہ فرمائی، رسول اللهﷺ تشریف راوړلو، نو جماعت اودریدلو ما هغوی څخه د سحر مونځ اوکړو، بیا رسول اللهﷺ واپس شو زه ئې په مونځ کولو باندې اولیدم، رسول اللهﷺ اوفرمائیل : اې قیس! پریږده آیا دوه مونځونه یوځائې، ما عرض اوکړو یا رسول اللهﷺ ما د سحر سنت نه وو کړې، رسول اللهﷺ اوفرمائیل : دې وخت کښې مه کوه. دا حدیث د نسائی نه علاوه اصحاب اربعه، احمد، ابوبکر بن ابی شیبة، دارقطنی، حاکم او بیهقی نقل کړې دې، نیموی وائی د دې اسناد ضعیف دې.

(۷۳۳) وَعَنْ عَطَآءِ بْنِ أَبِيْ رَبَاحٍ عَنْ رَجُلٍ مِّنَ الْأَنْصَارِ قَالَ : رَأٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا يُصَلِّيْ بَعْدَ الْغَدَاةِ فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ! لَمْ أَكُنْ صَلَّيْتُ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ فَصَلَّيْتُهُمَا الْآنَ فَلَمْ يَقُلْ لَهُ شَيْئًا ـ أَخْرَجَهُ ابْنُ حَزْمٍ فِي الْمُحَلّٰى وَقَالَ الْعِرَاقِيُّ إِسْنَادُهُ حَسَنٌ ـ قَالَ النِّيْمَوِيُّ وَفِيْمَا قَالَهُ نَظَرٌ ـ

۷۳۳: د عطاء بن ابی رباح نه روایت دې چه په انصارو کښې یو سړی اووې، رسول اللهﷺ یو سړې د سحر د مانځه نه پس اولیدلو، نو هغه اووې : یا رسول اللهﷺ ما د سحر سنت نه وو کړې، ما اوس هم هغه کړې دی، رسول اللهﷺ هغه ته هیڅ او نه فرمائیل. دا حدیث ابن حزم په محلی کښې نقل کړې دې او امام عراقی وائی د دې اسناد حسن دې، څه چه عراقی وئیلې دی په هغې کښې اعتراض دې.

**تشریح>** (۷۳۲ نه ۷۳۳ پورې) د دې باب او د دې نه د روستو باب احادیث (۷۳۴ نه ۷۴۱ پورې) کښې دا بیان کړې شوې دی چه د سحر سنت فوت شی نو هغه به کله ادا کوی.

**بیان مذاهب:** ۱ : شوافع او حنابله وائی چه که څوک د سحر سنت د فرض نه مخکښې اونکړې شی نو هغه دې د فرضو نه روستو د نمر د ختلو نه مخکښې ادا کړی عطاء، طاؤس، او ابن جریج هم د دې قائل دی.

۲ : احناف او مالکیان حضرات وائی چه د سحر د فرضو نه پس د نمر د ختلو نه مخکښې سنت کول جائز نه دی چه کله داسې صورت راپیښ شی نو د نمر د راختلو انتظار دې اوکړی د

هغې نه روستو سنت کول پکار دی ځکه چه دا دوه رکعتو والا نفل دی او دوه رکعتو والا نفل پس د صبا راختلو نه مکروه دی. د شیخینو نه یو روایت دا هم دې چه د نمر د راختلو نه پس دې هم قضاء نه کوی ځکه چه د شیخینو په نزد بغیر د تبعیت نه د نوافلو قضاء نشته دې. د امام محمد رحمه الله په نزد غوره دا ده چه د زوال د وخته پورې دې قضاء اوکړی شیخ حلوائی او فضلی بیان کړې دې چه د شیخینو په نزد هم کولو کښې څه باک نشته د مزنی په نزد هم دا مختار قول دې.

**د شوافع او حنابله دلائل او د احنافو ځوابات:** د دې باب دواړه روایات د شوافع او حنابله مستدل دې.

۱: د دې باب اول روایت ۷۳۲ د سیدنا قیس رضی الله عنه نه مروی دې کوم چه ترمذی په ج ۱ ص ۹۶، ابوداؤد ج۱ ص ۱۸۰، ابن ماجة ۸۲، مصنف ابن ابي شيبة ج ۲ ص ۲۵٤ او مسند احمد ج۵ ص٤٤٧ کښې تخریج کړې شوې دې په دې کښې د رسول الله ﷺ ارشاد ﴿ فلا اذن ﴾ د ﴿ فلا بأس اذن ﴾ په معنی باندې اخلی مقصد دا دې چه که دوه رکعته سنت پاتې شوې وی نو هيڅ باک نشته او په بعض روایاتو کښې ﴿ فلا اذن ﴾ په ځائې ﴿فسكت رسول الله ﷺ ﴾(ابن ماجة ص ۸۰) الفاظ راغلې دی او په بعض کښې ﴿فسكت النبي ﷺ ومضى ولم يقل شيئا ﴾(مصنف عبدالرزاق ج ۲ ص ٤٤٢) الفاظ هم نقل شوی دی وجه د استدلال دا ده چه رسول الله ﷺ د سحر د سنت په قضاء باندې د خبریدلو نه پس سکوت فرمائیلې دې چه دې وخت کښې قضاء کولې شی ځکه چه رسول الله ﷺ گویا د قیس رضی الله عنه عذر قبول فرمائیلې وو.

احناف د دې په ځواب کښې وائی چه هم په دې روایت څخه حجت نه شی قائمیدلې.

**اول** خو دا روایت په قول د امام ترمذی رحمه الله منقطع دې، ځکه چه محمد بن ابراهیم د قیس بن عمرو نه نۀ دی اوریدلې. واسناد هذا الحديث ليس بمتصل (ترمذی) **دویم** دا چه د محمد بن ابراهیم التیمی ابن معین، ابوحاتم، ابن خراش او امام نسائی اگر چه توثیق کړې دې لکه چه په تهذیب او خلاصه کښې دی خو عقیلی دا په ضعفاء کښې ذکر کړې دې، امام احمد رحمه الله فرمائی چه دې منکر احادیث روایت کوی. ابن حبان رحمه الله فرمائی چه په دۀ څخه احتجاج حلال نه دې، امام نووی رحمه الله په تهذیب الاسماء واللغات کښې لیکی چه د دۀ نه د سحر نه پس د دوه رکعتو کولو حدیث ضعیف دې. امام احمد، یحیی بن معین او اکثر محدثین د هغه په ضعیف کیدو باندې اتفاق کړیدې. **دریم** دا چه د سحر د مانځه نه پس د نمر د راختلو پورې د مونځ کولو صریح ممانعت موجود دې لکه چه مونږ به وړاندې ذکر کوو، **څلورم** دا چه ممکن ده چه دا واقعه د ممانعت نه مخکښې وی او امام ترمذی په روایت کښې د ﴿ فسكت ﴾ په ځائې ﴿ فلا اذا ﴾ الفاظ دی دا د دراوردی د روایت نه دی کوم چه مختلف فیه دې ﴿ فسكوته عليه السلام لا يحمل على التقرير ﴾. **پنځم** دا چه د ﴿ فلا اذن ﴾ معنی د

احنافو په نزد ﴿ فلا بأس اذن ﴾ نه دي بلکه ﴿ فلا تصل اذن ﴾ دي مطلب دا دي چه د دي عذر باوجود هم مه کوه لکه چه د نعمان بن بشیر رضی الله عنه په روایت کښې دی چه کله د هغوی پلار د رسول الله ﷺ د ګواه جوړولو لپاره لاړو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل : ﴿ايسرک ان يكونوا اليک فی السر سواء قال بلى قال فلا اذا ﴾ (مسلم کتاب الهبات ج ۲ ص ۳۷) څنګه چه رسول الله ﷺ هلته ﴿فلا اذن ﴾ د انکار لپاره استعمال فرمائیلي دي هم دغه شان دلته هم د انکار لپاره دی.

**مهلا یا قیس:** قال الشيخ (الانور الكشميرى رحمه الله) هل قوله صلى الله عليه وسلم هذا له قبل شروعه فى الصلوة اوبعدهٗ اوعنده؟ الاول خلاف نص الحديث والثالث خلاف الذوق السليم فتعيّن الثانى وهو الظاهر فلعله قصد الذهاب الى بيته بعد الفراغ فقال مهلاً فمعناه اكفف فاستوقفه . (معارف السنن ج: ۴، ص: ۹۰ ) قال النيموى اسناده ضعيف»

امام نووی رحمه الله فرمائی چه علماء حدیث د دوه سنتو په باره کښې د قیس رضی الله عنه د روایت په ضعیف کیدو باندې اتفاق کړې دې. (تهذيب الاسماء واللغات ج ۲ ص ٦٤)

۲: د شوافع او حنابله دویم مستدل د عطاء بن ابی رباح روایت ۷۳۳ دې کوم چه محلی ابن حزم کتاب الصلاة ج ۲ ص ۸۲ کښې تخریج کړې شوي دې قال النيموى وفيما قاله نظر. امام نیموی رحمه الله فرمائی چه د عراقی د دې روایت سند ته حسن وئیل صحیح نه دی چه دا حدیث د عطاء بن ابی رباح نه د هغوی شاګرد حسن بن ذکوان ابوسلمة البصری نقل کړې دی په حسن بن ذکوان باندې کافی جرح ده. (میزان الاعتدال ج ۱ ص ٤٨٩) لهذا د داسې راوی روایت حسن نه شی کیدې.

## بَابُ كَرَاهَةِ قَضَآءِ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ

(۷۳۴) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الصَّلٰوةِ بَعْدَ الْعَصْرِ حَتّٰى تَغْرُبَ الشَّمْسُ وَعَنِ الصَّلٰوةِ بَعْدَ الصُّبْحِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ ـ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ ـ

**باب: د نمر د ختلو نه مخکښې د سحر د سنتو قضاء مکروه کیدل:**

۷۳۴: د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ د مازیګر نه پس د نمر د پریوتلو پورې او د سحر نه پس تر د نمر ختلو پورې د مانځه نه منع فرمائیلي ده. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۷۳۵) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ غَيْرَ وَاحِدٍ مِّنْ اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهُمْ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَكَانَ اَحَبَّهُمْ اِلَيَّ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الصَّلٰوةِ بَعْدَ الْفَجْرِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ وَبَعْدَ الْعَصْرِ حَتّٰى تَغْرُبَ الشَّمْسُ ـ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ ـ

۷۳۵: سیدنا ابن عباس رضی اللہ عنہما فرمائی : ما د رسول الله ﷺ ډیروصحابه کرامو چه دهغوی نه حضرت عمربن الخطاب هم دې اوهغه ماته په هغوی ټولو کښې زیات محبوب دې، نه اوریدلی دی چه بې شکه رسول الله ﷺ د سحر نه پس د نمر راختلو پورې اود مازیګرنه پس د نمر پریوتلو پورې د مونځ نه منع فرمائیلې ده،، داحدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۷۳۶) وَعَنْ اَبِیْ سَعِیْدِنِ الْخُدْرِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَا صَلٰوةَ بَعْدَ صَلٰوةِ الْعَصْرِ حَتّٰی تَغْرُبَ الشَّمْسُ وَلَا صَلٰوةَ بَعْدَ صَلٰوةِ الْفَجْرِ حَتّٰی تَطْلُعَ الشَّمْسُ۔ رَوَاهُ الشَّیْخَانِ۔

۷۳۶: ابوسعید الخدری رضی اللہ عنہ فرمائی : د مازیګر د مانځه نه پس تر د نمر پریوتلو پورې او د سحر د مانځه نه پس د نمر د ختلو پورې مونځ نشته. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۷۳۷) وَعَنْ عَمْرِوبْنِ عَبَسَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : قُلْتُ یَانَبِیَّ اللّٰهِ ! اَخْبِرْنِیْ عَنِ الصَّلٰوةِ قَالَ : صَلِّ صَلٰوةَ الصُّبْحِ ثُمَّ اقْصُرْ عَنِ الصَّلٰوةِ حَتّٰی تَطْلُعَ الشَّمْسُ وَتَرْتَفِعَ فَاِنَّهَا تَطْلُعُ بَیْنَ قَرْنَیْ شَیْطٰنٍ وَّحِیْنَئِذٍ یَّسْجُدُ لَهَا الْکُفَّارُ ثُمَّ صَلِّ فَاِنَّ الصَّلٰوةَ مَشْهُوْدَةٌ مَّحْضُوْرَةٌ حَتّٰی یَسْتَقِلَّ الظِّلُّ بِالرُّمْحِ ثُمَّ اقْصُرْ عَنِ الصَّلٰوةِ فَاِنَّ حِیْنَئِذٍ تُسْجَرُ جَهَنَّمُ فَاِذَا اَقْبَلَ الْفَیْئُ فَصَلِّ فَاِنَّ الصَّلٰوةَ مَشْهُوْدَةٌ مَّحْضُوْرَةٌ حَتّٰی تُصَلِّیَ الْعَصْرَ ثُمَّ اقْصُرْ عَنِ الصَّلٰوةِ حَتّٰی تَغْرُبَ الشَّمْسُ فَاِنَّهَا تَغْرُبُ بَیْنَ قَرْنَیْ شَیْطٰنٍ وَّحِیْنَئِذٍ یَّسْجُدُ لَهَا الْکُفَّارُ۔ رَوَاهُ اَحْمَدُ وَمُسْلِمٌ وَّاٰخَرُوْنَ۔

۷۳۷: سیدنا عمرو بن عبسه السلمی رضی اللہ عنہ فرمائی، ما عرض اوکړو : یا رسول الله ﷺ تاسو ماته د مانځه په باره کښې بیان اوکړئ، رسول الله ﷺ اوفرمائیل :د سحر مونځ اوکړه، بیا د مانځه بند شه، تردې چه نمر راوخیژی، او اوچت شی، بیشکه هغه د شیطان د دوه ښکرو ترمینځه خیژی او په دې وخت کښې هغه ته کفار سجده کوی، بیا مونځ کوه، بیشکه مانځه ته ملائک د ګواهئ ورکولو لپاره حاضریږی، تردې چه دا سورې د یوې نیزې نه کم شی، بیا د مانځه نه بند شه، بیشکه دې وخت کښې جهنم ګرمولې شی، چه کله سورې زائل شی، نو مونځ کوه، بیشکه په مانځه کښې ملائک د ګواهئ لپاره حاضریږی، تردې چه د مازیګر مونځ اوکړئ، بیا د نمر پریوتلو پورې د مانځه نه بند شه،بیشکه هغه د شیطان د دوه ښکرو ترمینځه پریوځی او په هغه وخت کښې هغه ته کفار سجدې کوی. دا حدیث مسلم او نورو محدثینو نقل کړې دې.

(۷۳۸) وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَّمْ یُصَلِّ رَکْعَتَیِ الْفَجْرِ فَلْیُصَلِّهِمَا بَعْدَ مَا تَطْلُعُ الشَّمْسُ۔ رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِیْحٌ۔

۷۳۸: د ابوهریره رضی اللہ عنہ روایت دې، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : چا چه د فجر دوه سنت نه وی کړې نو هغه له پکار دی چه د نمر د ختلو نه پس ئې اوکړی.دا حدیث ترمذی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۷۳۹) وَعَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهُ صَلَّى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ بَعْدَ مَا اَضْحٰى۔ رَوَاهُ اَبُوْبَكْرِ بْنُ اَبِيْ شَيْبَةَ وَاِسْنَادُهُ حَسَنٌ۔

۷۳۹: نافع رحمه الله د ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت کړي دي چه هغه د سحر دوه سنت (که قضاء شی نو) د چاشت (دنفل کولو) نه پس به ئې کول.دا حدیث ابوبکربن شیبة نقل کړي دي او ددې اسناد حسن دي.

(۷۴۰) وَعَنْ اَبِيْ مِجْلَزٍ قَالَ: دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ فِيْ صَلٰوةِ الْغَدَاةِ مَعَ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَالْاِمَامُ يُصَلِّيْ فَاَمَّا ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَدَخَلَ فِي الصَّفِّ وَاَمَّا ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ دَخَلَ مَعَ الْاِمَامِ فَلَمَّا سَلَّمَ الْاِمَامُ قَعَدَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مَكَانَهُ حَتّٰى طَلَعَتِ الشَّمْسُ فَقَامَ فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ۔ رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ۔

۷۴۰: ابومجلز فرمائی زه د سیدنا ابن عمر او سیدنا ابن عباس رضی الله عنهم څخه مسجد ته داخل شوم، اوامام مونځ کولو، ابن عمر رضی الله عنهما خو په صف کښې شامل شو، خو ابن عباس رضی الله عنهما دوه رکعته اوکړل، بیا د امام څخه شریک شو، چه کله امام سلام واړولو، نو ابن عمر رضی الله عنهما په خپل ځائې کیناستلو، تردې چه نمر راوختلو نو پاسیدو او دوه رکعتونه ئې اوکړل.دا حدیث طحاوی نقل کړي دي او د دې اسناد صحیح دي.

(۷۴۱) وَعَنْ يَحْيٰى بْنِ سَعِيْدٍ قَالَ سَمِعْتُ الْقَاسِمَ يَقُوْلُ اِذَا لَمْ اُصَلِّهِمَا حَتّٰى اُصَلِّيَ الْفَجْرَ صَلَّيْتُهُمَا بَعْدَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ۔ رَوَاهُ ابْنُ اَبِيْ شَيْبَةَ وَاِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ۔

۷۴۱: یحیی بن سعید فرمائی : ما د قاسم نه اوریدلي دی، چه کله دا (د سحر سنت) اونکړم تردې چه د سحر مونځ اوکړم نو هغه د نمر د ختلو نه پس کوم.دا حدیث ابن ابی شیبة نقل کړي دي او د دې اسناد صحیح دي.

**تشریح> د احنافو دلائل:** (۷۳۴ نه ۷۴۱ پورې) احناف حضرات وائی چه د سحر د فرضو نه پس د نمر ختلو پورې د سنت فجر د قضا نه کولو دلیل دا دې چه کله هغه د خپل وخت نه فوت شو نو نفل شو نو د سحر د مانځه نه پس د نفل مطلق ادا کول مکروه دی ځکه چه په ډیرو احادیثو کښې د دې صریح ممانعت موجود دې.

دا دلیل صاحب هدایه بیان کړي دې خو دا په دې باندې بناء دې چه کوم سنت د خپل وخت نه فوت شی نو هغه نفل پاتې شی د بعض حضراتو په نزد هغه سنت وی پس په دې قول باندې به دلیل مذکور تام نه وی بلکه داسې به وئیلې شی چه په سنن کښې اصل خو هم دا ده چه قضاء دې اونکړې شی خو د ظهر د اول څلورو رکعتونو قضاء چونکه د فعل نبوی صلی الله علیه وسلم نه ثابت ده په دې وجه

دهغې د قضاء حکم کړې شوې دې او د طلوع آفتاب نه مخکښې د سنت فجر قضاء په طريقه د استقلال ثابت نه ده په دې وجه دا په خپل اصل باندې باقی پريخودلې شو لکه چه صاحب هداية د شيخينو په دليل کښې هم دا ذکر کړې دې.

د دې باب اته واړه روايات د احنافو مستدل دې د احاديثو مضمون په لفظی ترجمه کښې واضح کړې شوې دې.

**د احاديث الباب تخريج:** روايت ۷۳۴، ۷۳۵، ۷۳۶ مسلم ج۱ ص ۲۷۵، بخاری ج۱ ص۸۲ روايت ۷۳۷، مسلم ج ۱ ص ۳۷٦، مسند احمد ج ٤ ص ۱۱۱، روايت ۷۳۸، ترمذی ج ۱ ص ۹٤، روايت ۷۳۹ مصنف ابن ابی شيبة ج ۲ ص ۲٥٤، روايت ۷٤۰ طحاوی ج ۱ ص ۲٥۷ او روايت ۷٤۱، مصنف ابن ابی شيبة ج ۲ ص ۲٥٥ کښې تخريج کړې شوې دې.

## بَابُ قَضَآءِ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ مَعَ الْفَرِيْضَةِ

(۷۴۲) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ عَرَّسْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ نَسْتَيْقِظْ حَتّٰى طَلَعَتِ الشَّمْسُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيَأْخُذْ كُلُّ رَجُلٍ بِرَأْسِ رَاحِلَتِهٖ فَإِنَّ هٰذَا مَنْزِلٌ حَضَرَنَا فِيْهِ الشَّيْطَانُ قَالَ فَفَعَلْنَا ثُمَّ دَعَا بِالْمَآءِ فَتَوَضَّأَ ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ أُقِيْمَتِ الصَّلٰوةُ فَصَلَّى الْغَدَاةَ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

**باب: د سحر د دوه رکعتو د فرض مونځ څخه قضاء:** ۷۴۲ : سيدنا ابوهريره رضي الله عنه فرمائی : مونږ د رسول الله ﷺ د شپې په آخری حصه کښې پړاؤ اوکړو. نو مونږ بيدار نه شو، تردې چه نمر راوختلو، رسول الله ﷺ اوفرمائيل، هر سړې دې د خپلې اوښې واږې اونيسی، بيشکه دې ځائې کښې مونږ ته شيطان حاضر شوې دې. (ابوهريره رضي الله عنه) فرمائې پس مونږ هم دغه شان اوکړل، بيا هغوی اوبه طلب کړې او اودس ئې اوکړو بيا ئې دوه رکعتونه ادا اوفرمائيل، بيا جماعت اودريدلو نو د سحر مونځ ئې اوکړو. دا حديث مسلم نقل کړې دې.

(۷۴۳) وَعَنْ أَبِيْ قَتَادَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: خَطَبَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِيْهِ فَمَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الطَّرِيْقِ فَوَضَعَ رَأْسَهٗ ثُمَّ قَالَ احْفَظُوْا عَلَيْنَا صَلٰوتَنَا فَكَانَ أَوَّلَ مَنِ اسْتَيْقَظَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالشَّمْسُ فِيْ ظَهْرِهٖ قَالَ فَقُمْنَا فَزِعِيْنَ ثُمَّ قَالَ: ارْكَبُوْا فَرَكِبْنَا فَسِرْنَا حَتّٰى إِذَا ارْتَفَعَتِ الشَّمْسُ نَزَلَ ثُمَّ دَعَا بِمِيْضَأَةٍ كَانَتْ مَعِيَ فِيْهَا شَيْءٌ مِّنْ مَّآءٍ قَالَ: فَتَوَضَّأَ مِنْهَا وُضُوْءً دُوْنَ وُضُوْءٍ قَالَ وَبَقِيَ فِيْهَا شَيْءٌ مِّنْ مَّآءٍ ثُمَّ قَالَ لِأَبِيْ قَتَادَةَ: احْفَظْ عَلَيْنَا مِيْضَأَتَكَ فَسَيَكُوْنُ لَهَا

نَبَّأُ ثُمَّ أَذَّنَ بِلَالٌ بِالصَّلٰوةِ فَصَلّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ صَلَّى الْغَدَاةَ فَصَنَعَ كَمَا كَانَ يَصْنَعُ كُلَّ يَوْمٍ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

۷۴۳: سیدنا ابوقتادة ﷛ فرمائي: رسول الله ﷺ مونږ ته خطبه راکړه او په هغې کښې دا هم دي. نو رسول الله ﷺ د لارې نه لرې کیدو څخه خپل سر مبارک کیخودلو بیا ئې اوفرمائیل: په مونږ باندې زمونږ د مونځ نګرانی کوه، د ټولو نه مخکښې چه کوم سړې بیدار شی، هغه رسول الله ﷺ وو او نمر د هغوی شا مبارکې ته وو (یعنی ختلې) وو ابوقتادة ﷛ فرمائي مونږ په ویره پاسیدو بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل سوارهٔ شئ مونږ سوارهٔ شو تردې چه نمر راوختلو، رسول الله ﷺ راکوز شو بیا ئې لوټه راوغوښتله کومه چه ما څخه وه. په هغې کښې لږې شان اوبه وې ابوقتاده ﷛ فرمائي رسول الله ﷺ د هغې نه سپک شان اودس اوکړو (ابو قتاده فرمائی) او د هغې نه لږې شان اوبه پاتې شوې، بیا رسول الله ﷺ ابوقتاده ﷛ ته اوفرمائیل: زمونږ لپاره دا خپله لوټه محفوظ ساته، ډیر زر به د دې لوټې لپاره یو خاص خبره وی. بیا بلال ﷛ د مانځه لپاره آذان اوکړو نو رسول الله ﷺ دوه رکعتونه ادا اوفرمائیل، بیا ئې د سحر مونځ ادا کړو. رسول الله ﷺ هم دغه شان عمل اوکړو څنګه چه به ئې روزانه ادا فرمائیلو. دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

(۷۴۴) وَعَنْ نَافِعِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِيْ سَفَرٍ لَهُ مَنْ يَكْلَؤُنَا اللَّيْلَةَ لَا يَرْقُدُ عَنِ الصَّلٰوةِ عَنْ صَلٰوةِ الصُّبْحِ قَالَ بِلَالٌ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: أَنَا فَاسْتَقْبَلَ مَطْلَعَ الشَّمْسِ وَضُرِبَ عَلٰى أٰذَانِهِمْ حَتّٰى أَيْقَظَهُمْ حَرُّ الشَّمْسِ فَقَامُوْا فَقَالَ: تَوَضَّئُوْا ثُمَّ أَذَّنَ بِلَالٌ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ وَصَلَّوْا رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ ثُمَّ صَلَوٰةَ الْفَجْرِ۔ رَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَأَحْمَدُ وَالطَّبَرَانِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي الْمَعْرِفَةِ وَإِسْنَادُهُ حَسَنٌ۔

۷۴۴: نافع بن جبیر ﷫ د خپل پلار نه روایت کړې دې چه رسول الله ﷺ په خپل یو سفر کښې اوفرمائیل نن شپه به څوک زمونږ څوکئ اوکړی چه د سحر د مانځه نه اودهٔ نه شی. دا حدیث نسائی، احمد، طبرانی او بیهقی په معرفة کښې نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

**تشریح>** ۷۴۲ نه ۷۴۴ پورې) د دې باب اول او دویم روایت امام مسلم ﷫ ج ۱ ص ۲۳۸ کښې تخریج کړې دې دریم روایت ۷۴۴، د نسائی ج ۱ ص ۱۰۲ نه منقول دې په درې واړو روایاتو کښې د لیلة التعریس قصه مذکور ده د لیلة التعریس په احادیثو کښې چه د سنتو قضاء راغلې ده هغه د فرائضو څخه ده او دا نص چونکه په مهمل وخت کښې خلاف قیاس دې هم دغه شان څنګه چه وارد شوې دې هم په دغه حالت باندې به وی یعنی د فرضو څخه به قضاء کولې شی. (کفایة)

**واقعه لیلة التعریس:** د وادی القرٰی او تیماء د فتح نه پس رسول الله ﷺ مدینې منورې ته واپس

شو. مدينې ته نزدې رسيدلو څخه هغوی په يو وادی کښې په آخر د شپې کښې د آرام په غرض څخه نزول اوفرمائيلو. اتفاق څخه د چا سترګې هم او نه غړيدلې ترڅو چې نمر اوچت شو. د ټولو نه مخکښې رسول الله ﷺ بيدار شو او اويريدلو او صحابه کرام رضی الله عنهم ئې پاسول. او د هغه ميدان نه د تلو حکم ئې ورکړو چه دلته شيطان دې د دې ودائ نه وتلو څخه رسول الله ﷺ نزول اوفرمائيلو. او بلال رضی الله عنه ته ئې د اذان حکم اوفرمائيلو. اودس کولو څخه ئې د سحر دوه سنت اوکړل د دې نه پس بلال رضی الله عنه اقامت اوکړو او جماعت څخه د سحر د مونځ قضاء اوکړې شوه. (رواه مسلم عن ابی هريرة)

**فوائد:** ۱: په مانځه او عبادت کښې حضرات انبياء الله (عليهم الف الف صلوات الله) ته د غفلت د وجې نه کله هم سهو نه راځی. بلکه د الله پاک د طرف نه په سهو کښې اخته کولې شی چه امت ته مسائل معلوم شی لهذا که په هغوی کښې دا سهو نه پيښيږی نو د امت د فوت شوې مونځونو د قضاء مسئله به څنګه معلوميږی او که د ماسپخين يا مازيګر دوه درې رکعتونو باندې رسول الله ﷺ په هيره سلام نه اړولو. (لکه چه په حديث د ذواليدين کښې دی) نو امت ته به د سجده سهوه مسئله څنګه معلومه شوې وه.

سبحان الله! د الله پاک څومره حکمتونه او رحمتونه دی چه کومو حضراتو ته ئې د نبوت او رسالت جامه واغوستله او د تشريع احکام په مسند ئې کينول. د هغوی سهو او نسيان ئې هم د تشريع احکام يو ذريعه جوړه کړه. سيدنا وابونا ادم عليه السلام ته که سهو او نسيان نه وو پيښ شوې نو د توبې او استغفار سنت به د کوم ځائې نه معلوميدو. ﴿رَبَّنَا ظَلَمْنَا اَنْفُسَنَا وَاِنْ لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ﴾ وئيلو څخه تر قيامت پورې د الله پاک رضا او د ابليس د ذلت او رسوائۍ طريقه بيان کړه. قربان شم په داسې سهو او نسيان باندې چه په هغې څخه د رحمتونو دروازه پرانستلې شی.

د حضرات عارفين په کلام کښې د صديق اکبر دا مقوله نقل کړې شوې ده.

﴿ياليتني كنت سهو محمد صلى الله عليه وسلم﴾ (الاعراف)

(کاش چه زه ټول د رسول الله ﷺ سهو وې).

غالبا صديق اکبر په دې پوهيدو څخه چه د انبياء کرام عليهم السلام سهو څومره د خير او برکت سبب او څومره د الله پاک په نزد مقبول وی. دا خواهش ئې اوکړو. والله سبحانه وتعالىٰ اعلم.

۲: د دې حديث نه دا مسئله معلومه شوه چه د کوم عبادت نه ذهول او غفلت راشی نو دا مستحب ده چه هغه ځائې دې پريږدی او بل ځائې ته دې منتقل شی په ظاهره کښې دا انتقال مکانی د هجرت کبری يو نمونه معلوميږی کوم ته که هجرت صغری اوئيلې شی نو دا به بې ځايه نه وی کوم ځائې کښې چه د الله پاک طاعت ګران شی او د هغه د ګناهونو بازار ګرم شی نو داسې

ځائې پرېخودلو څخه داسې ځائې کښې اوسېدل چه هلته د الله پاک بندګی آسانه وی شرعا واجب دی او هم دې ته هجرت کبری وئیلې شوې دې.
او په کوم ځائې کښې چه د الله پاک په عبادت کښې غفلت راشی داسې ځائې پرېخودلو څخه بل نزدې ځائې کښې عبادت کول مستحب دی هم دې ته مونږ هجرت صغری اوئیلو. ع
«واذا بنا بک منزل فتحول» چه کله تاته یو منزل ناموافق راشی نو د هغه ځائې نه کوچ اوکړه باقی د هجرت احکام پس د هغې تفصیل د فقه د کتابونو نه معلومیږی. (سیرۃ المصطفی)

## بَابُ اِبَاحَةِ الصَّلٰوةِ فِى السَّاعَاتِ كُلِّهَا بِمَكَّةَ

(۷۴۵) عَنْ جُبَيْرِبْنِ مُطْعِمٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا بَنِيْ عَبْدِ مَنَافٍ لَا تَمْنَعُوْا اَحَدًا طَافَ بِهٰذَا الْبَيْتِ وَصَلّٰى اَيَّةَ سَاعَةٍ شَآءَ مِنَ اللَّيْلِ اَوْنَهَارٍ. رَوَاهُ الْخَمْسَةُ وَاٰخَرُوْنَ وَصَحَّحَهُ التِّرْمَذِيُّ وَالْحَاكِمُ وَغَيْرُهُمَا وَفِيْ اِسْنَادِهٖ مَقَالٌ.

**باب: په مکه مکرمه کښې هر وخت د مونځ جائز کېدل:** ۷۴۵: د سیدنا جبیر بن مطعم ﷺ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: اې بنی عبد مناف څوک هم د دې کور د طواف نه مه منع کوئ او د شپې یا د ورځې په هره حصه کښې چه هغه غواړی مونځ اوکړی.
دا حدیث اصحاب خمسه او نورو محدثینو نقل کړې دې ترمذی، حاکم او نور محدثینو دې ته صحیح وئیلې دې او د دې په اسناد کښې کلام دې.

(۷۴۶) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا بَنِيْ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ اَوْيَا بَنِيْ عَبْدِ مَنَافٍ لَا تَمْنَعُوْا اَحَدًا يَطُوْفُ بِالْبَيْتِ وَيُصَلِّيْ فَاِنَّهٗ لَا صَلٰوةَ بَعْدَ الصُّبْحِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ وَلَا صَلٰوةَ بَعْدَ الْعَصْرِ حَتّٰى تَغْرُبَ الشَّمْسُ اِلَّا بِمَكَّةَ عِنْدَ هٰذَا الْبَيْتِ يَطُوْفُوْنَ وَيُصَلُّوْنَ. رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ وَاِسْنَادُهٗ ضَعِيْفٌ.

۷۴۶: د سیدنا ابن عباس ﷺ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: اې بنی عبد المطلب: یې ئې اوفرمائیل: اې بنی عبد مناف! تاسو څوک هم د بیت الله د طواف کولو او د مانځه کولو نه مه بندوئ، بیشکه د سحر نه پس د نمر د ختلو پورې او د مازیګر نه پس د نمر د غروب کیدو پورې مونځ نشته. سوا د مکې نه چه دې کور ته نزدې طواف اوکړی او مونځ اوکړی. دا حدیث دارقطنی نقل کړې دې او د دې اسناد ضعیف دې.

(۷۴۷) وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍّ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ وَقَدْ صَعِدَ عَلٰى دَرَجَةِ الْكَعْبَةِ مَنْ عَرَفَنِيْ فَقَدْ عَرَفَنِيْ وَمَنْ لَّمْ يَعْرِفْنِيْ فَاَنَا جُنْدُبٌ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَا صَلٰوةَ بَعْدَ الصُّبْحِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ

۷۴۷ : سیدنا ابوذر رضی الله عنه اوفرمائیل په داسې حال کښې چه هغوی د کعبې په پوړئ باندې ختلې وو، څوک چه ما پیژنی هغه زه اوپیژندم او چا چه نه یم پیژندلې نو زه جندب یم. ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل هغوی اوفرمائیل : د صبا نه تر نمر ختلو پورې هیڅ مونځ نشته او نه د مازیګر نه تر د نمر د پریوتلو پورې سوا د مکې نه، سوا د مکې نه، سوا د مکې نه. دا حدیث احمد او دارقطنی نقل کړې دې او د دې اسناد ډیر ضعیف دې.

**تشریح> بیان مذاهب:** (۷۴۵ نه ۷۴۷ پورې) ۱: د امام شافعی، امام احمد، عطاء، طاؤس، قاسم او عروة بن الزبیر رحمهم الله مسلک دا دې چه د طواف نه پس دوه رکعتونه په اوقات مکروهه کښې هم په مکه کښې ادا کیدلې شی.

۲: د امام ابوحنیفه او امام مالک (فی روایة) مسلک دا دې چه د نورو مقاماتو په شان په مکه کښې هم رکعتین په اوقات مکروهه کښې ادا کول صحیح نه دی احناف وائی طواف کونکی ته پکار دی چه د سحر او مازیګر نه پس طواف کوی د طواف نه فارغ کیدو نه پس دې رکعات طواف د نمر د راختلو یا د ماښام نه پس یوځائې ادا کړی.

**د قائلین جواز دلائل او د احنافو ځوابات:** د دې باب غرض انعقاد د شوافعو او حنابله د مستدلات بیان دې او د هغې د حیثیت توضیح دې.

۱: د باب اول روایت ۷۴۵ د جبیر بن مطعم رضی الله عنه (ترمذی ج ۱ ص ۱۷۵، ابوداؤد ج ۱ ص ۲۶۰، نسائی ج ۱ ص ۹۸) نه روایت کړې شوې دې کوم چه د قائلین جواز قوی ترین مستدل دې. احناف د دې په ځواب کښې وائی چه د **( ایة ساعة )** نه مراد ساعات مکروهة دی هم د دې هدایت مقصد بنو عبد مناف (کوم چه د خانه کعبې خدام وو او د هغه ځائې د انتظاماتو نګران او ذمه دار وو) کو دا تعلیم ورکول دی چه هغوی دې د راتلونکو لپاره د حرم لاره نه بندوی هر وخت دې پرانستلې ساتی وجه دا ده چه د بنو عبد مناف مکانات د حرم شریف نه چاپیره محیط وو چه کله به د هغوی دروازې بندې شوې نو هیڅوک به حرم ته نه شو داخلیدلې. په دې وجه رسول الله ﷺ منع اوفرمائیله مقصد دا وو چه په طواف او صلاة باندې دې هرګز پابندی او نه لګولې شی خو ددې نه دا نه ثابتیږی چه په حرم شریف کښې د مونځ کونکی لپاره هیڅ مکروه وخت هم نشته. د احنافو ددې ځواب تائید دصحیح ابن حبان د روایت د الفاظو نه هم کیږی:

**یا بنی عبد مناف ان کان لکم من الامر شی فلا اعرفن احدا منکم ان یمنع من یصلی عند البیت ای ساعة شاء من اللیل اونهار۔(موارد الظمآن ص: ۱۶۵، رقم الحدیث ۶۲۷)**

امام نیموی رحمه الله هم **( وفی اسناده مقال )** څخه ددې د مستدل کیدو حیثیت واضح کړو او

امام زیلعی رحمه الله هم د دې حدیث په سند باندې کلام کړې دې.

۲: د دې باب دویم روایت ۷۴۲ کښې د ابن عباس رضی الله عنهما نه مروی دی چه د هغې تخریج په دارقطنی ج ۱ ص ٤۲٦ کښې کړې شوې دې د دې توجیه به هم هغه وی کومه چه د جبیر بن مطعم رضی الله عنه په روایت کښې بیان کړې شوې دې امام نیموی رحمه الله د ﴿ واسناده ضعیف ﴾ حکم لګولې شوې دې په التعلیق الحسن کښې لیکی قلت فیه رجا بن الحارث ابو سعید المکی ضعفه ابن معین وغیره.

۳: د دې باب دریم روایت ۷۴۷ د ابو ذر رضی الله عنه نه روایت کړې دې (مسند احمد ج ۵ ص ۱۶۵، دارقطنی ج ۱ ص ٤۳٤) امام نیموی رحمه الله فرمائی واسناده ضعیف جدا... وجه د ضعف دا ده چه فیه انقطاع ما بین مجاهد وابی ذر (التعلیق الحسن) د دې سندی حیثیت هم په التعلیق الحسن کښې امام نیموی رحمه الله واضح کړې دې. د انقطاع نه علاوه د مینځ د راوی پته هم نه لګی چه هغه څه دې دویم دا چه د دې په سند کښې حمید الاعرج دې چه په هغه باندې سخت ترینه جرحه ده. (میزان الاعتدال ج ۱ ص ٦۱٤)

## بَابُ كَرَاهَةِ الصَّلٰوةِ فِي الْأَوْقَاتِ الْمَكْرُوْهَةِ بِمَكَّةَ

(۷۴۸) عَنْ مُعَاذِ بْنِ عَفْرَآءَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّــهُ طَافَ بَعْدَ الْعَصْرِ أَوْبَعْدَ الصُّبْحِ وَلَمْ يُصَلِّ فَسُئِلَ ذٰلِكَ فَقَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الصَّلٰوةِ بَعْدَ صَلٰوةِ الصُّبْحِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ وَبَعْدَ الْعَصْرِ حَتّٰى تَغْرُبَ. رَوَاهُ إِسْحَاقُ بْنُ رَاهَوَيْهِ فِيْ مُسْنَدِهٖ وَإِسْنَادُهٗ حَسَنٌ.
قَالَ النِّيْمَوِيُّ وَقَدْ تَقَدَّمَ أَحَادِيْثُ كَرَاهَةِ الصَّلٰوةِ فِي الْأَوْقَاتِ الْخَمْسَةِ.

**باب: په مکروه وختونو کښې په مکه مکرمه کښې د مونځ کراهت:**

۷۴۸: د سیدنا معاذ بن عفراء رضی الله عنه روایت فرمایی چه هغوی د مازیګر نه پس یا د سحر نه پس طواف اوکړو او د (طواف نه پس ئې) نفل اونه کړل، د دې په باره کښې د هغوی نه پوښتنه اوکړې شوه، هغوی اوفرمائیل: رسول الله صلی الله علیه وسلم د سحر د مانځه نه پس د نمر د ختلو پورې او د مازیګر د مانځه نه پس د غروب کیدو پورې د مانځه نه منع فرمائیلې ده.

دا حدیث اسحاق بن راهویه په خپل سند څخه نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

امام نیموی رحمه الله فرمائی: په پنځو وختونو کښې د مونځ د مکروه کیدو په باره کښې احادیث مخکښې تیر شوې دی.

**د مسلک احناف دلایل او وجوه ترجیح:** (۷۴۸): د معاذ بن عفراء رضی الله عنه دا روایت په مسند احمد ج ٤ ص ۲۱۹، سنن الکبری ج ۲ ص ٤٦٤ نصب الرایة ج ۱ ص ۲۵۳ کښې تخریج کړې شوې دې چه په هغې کښې مطلقا د طلوع شمس نه مخکښې او بعد العصر د مانځه نه منع کړې شوې ده،

امام نيموي رحمه الله فرمائي : ﴿ وقال النيموي وقد تقدم ﴾ يعني د احنافو مستدل هغه ټول احاديث النهي بعد الفجر وبعد العصر دي چه معنی متواتر دی او مطلق دی د دې نه علاوه په صحيح بخاري ج ۱ ص ۲۲۰ کښې تعليقا مروی دی ﴿ وطاف عمر بعد صلاة الصبح فركب حتى صلى الركعتين بذي طوى ﴾ دا د دې خبرې واضح دليل دې چه په دې اوقات مکروهه کښې نوافل ذوات الاسباب هم جائز نه دی ګينې هغوی د حرم کعبه فضيلت کله پريخودلو والا وو.

**د اوقات مکروهه توضيح**: د نوافل ذوات الاسباب تذکره کښې دا توضيح هم ضروری ده چه د اوقات مکروه دوه قسمونه دی. ۱: اوقات ثلثة يعنی طلوع، استواء او غروب. ۲: دويم **قبل طلوع الشمس وبعد العصر**. احناف حضرات فرمائی چه په اوقات ثلاثه کښې هر قسم مونځ ناجائز دې فرض نفل وغيره. ائمه ثلاثه په دې اوقاتو کښې فرائضو ته جائز او نوافل کولو ته ناجائز وائی خو امام شافعي رحمه الله په دې کښې لږ شان تفصيل کوی او وائی چه نوافل ذوات الاسباب هم په دې وختونو کښې جائز دی د ذوات الاسباب مطلب د هغوی په نزد دا دې چه داسې نفل چه د هغې سبب داختيار نه علاوه بل څه څيز هم وی مثلا تحية الوضوء، تحية المسجد، د شکر مونځ، د اختر مونځ او صلاة کسوف وغيره ــ باقي پاتې شو د اوقات مکروه دويم قسم يعنی بعد الفجر او بعد العصر وختونه نو امام شافعي رحمه الله فرمائی چه په دې کښې فرائض او نوافل ذوات الاسباب دواړه ناجائز دی خو صرف نوافل غير ذوات الاسباب په دې وختونو کښې مکروه دی، د احنافو په نزد په دې وختونو کښې فرائض خو جائز دی خو نوافل که ذوات الاسباب وی يا غير ذوات الاسباب دواړه ناجائز دی شوافع په حرم مکه کښې نوافل غير ذوات الاسباب ته جائز وائی او احناف حضرات په دې کښې د استثناء هم قائل نه دی په دې اوقاتو کښې هر ځائې کښې هر قسم نوافل ناجائز دی لکه چه په صحيح بخاري ج ۱ ص ۲۲۰ کښې روايت دې.

عن ام سلمة رضی الله عنها زوج النبی صلی الله علیه وسلم ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال وهو بمكة واراد الخروج ولم تكن ام سلمة طافت بالبيت وارادت الخروج فقال لها رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا اقيمت الصلوٰة للصبح فطوفي على بعيرك والناس يصلون ففعلت ذلك ولم تصل حتى خرجت۔

د سيده ام سلمه رضی الله عنها د طواف دوه رکعته په حرم کښې نه کول سوا د دې نه بل وجه هم نه شی کيدې چه د سحر نه پس د هغې کول صحيح نه ووګينې د حرم فضيلت کله د پريخودلو وو. د دې نه علاوه په مصنف ابن ابی شيبة کښې د ابوسعيد خدری رضی الله عنه اثر منقول دې ﴿ انه طاف بعد الصبح فلما فرغ جلس حتى طلعت الشمس ﴾ علامه عيني رحمه الله دا روايت د سنن سعيد بن منصور او مصنف ابن ابی شيبة په حوالې څخه نقل کړې دې. (عمدة القاری ج ۹ ص ۲۷۲)

## بَابُ إِعَادَةِ الْفَرِيْضَةِ لِأَجْلِ الْجَمَاعَةِ

(۷۴۹) عَنْ اَبِيْ ذَرٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ اَنْتَ اِذَا كَانَتْ عَلَيْكَ اُمَرَآءُ يُؤَخِّرُوْنَ الصَّلٰوةَ عَنْ وَّقْتِهَا اَوْ يُمِيْتُوْنَ الصَّلٰوةَ عَنْ وَّقْتِهَا قَالَ قُلْتُ فَمَا تَأْمُرُنِيْ قَالَ صَلِّ الصَّلٰوةَ لِوَقْتِهَا فَاِنْ اَدْرَكْتَهَا مَعَهُمْ فَصَلِّ فَاِنَّهَا لَكَ نَافِلَةٌ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

**باب د جماعت د وجې نه فرض دوباره کول:** ۷۴۹: سیدنا ابوذر رضی الله عنه فرمائی چه ماته رسول الله ﷺ اوفرمائیل: ستا به هغه وخت څه حال وی چه کله به په تا باندې داسې حکمرانان مسلط شی کوم چه به مونځ د خپل وخت نه روستو کوی (ابوذر رضی الله عنه) فرمائی: ما عرض اوکړو تاسو ماته څه حکم کوئ؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل ته مونځ په خپل وخت باندې ادا کړه، بیا ئې که د هغوی څخه اوموموئ نو وې کړه، هغه به ستا لپاره نفل شی. دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

(۷۵۰) وَعَنْ مِحْجَنٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهُ كَانَ فِيْ مَجْلِسٍ مَّعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاُذِّنَ بِالصَّلٰوةِ فَقَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلّٰى ثُمَّ رَجَعَ وَمِحْجَنٌ جَالِسٌ فِيْ مَجْلِسِهٖ فَقَالَ لَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مَنَعَكَ اَنْ تُصَلِّيَ مَعَ النَّاسِ اَلَسْتَ بِرَجُلٍ مُّسْلِمٍ؟ فَقَالَ: بَلٰى يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَلٰكِنِّيْ قَدْ صَلَّيْتُ فِيْ اَهْلِيْ فَقَالَ لَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اِذَا جِئْتَ فَصَلِّ مَعَ النَّاسِ وَاِنْ كُنْتَ قَدْ صَلَّيْتَ. رَوَاهُ مَالِكٌ وَّاٰخَرُوْنَ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

**۷۵۰:** د سیدنا محجن رضی الله عنه نه روایت دې چه هغوی په یو مجلس کښې د رسول الله ﷺ څخه ناست وو، د مانځه لپاره اذان اوکړې شو، رسول الله ﷺ په ولاړه باندې مونځ ادا کړو، بیا چه واپس راغلو نو محجن رضی الله عنه په خپل ځائې باندې ناست وو، رسول الله ﷺ هغوی ته اوفرمائیل: ته څیز منع کړې وې چه ته د خلقو په څخه یوځائې مونځ اوکړئ، آیا ته مسلمان سړې نه ئې؟ هغوی عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ ولې نه یم؛ (زه مسلمان یم) خو ما په کور کښې مونځ کړې وو. رسول الله ﷺ هغوی ته اوفرمائیل: چه کله تاسو راشئ نو د خلقو څخه مونځ ادا کړئ، اګر چه تاسو کړې هم وی.
دا حدیث مالک او نورو محدثینو نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۷۵۱) وَعَنْ جَابِرِ بْنِ يَزِيْدَ بْنِ الْاَسْوَدِ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ: شَهِدْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَجَّتَهٗ فَصَلَّيْتُ مَعَهٗ صَلٰوةَ الصُّبْحِ فِيْ مَسْجِدِ الْخَيْفِ فَلَمَّا قَضٰى صَلٰوتَهُ انْحَرَفَ فَاِذَا هُوَ بِرَجُلَيْنِ فِيْ اُخْرَى الْقَوْمِ لَمْ يُصَلِّيَا مَعَهٗ فَقَالَ عَلَيَّ بِهِمَا فَجِيْءَ بِهِمَا تَرْعَدُ فَرَآئِصُهُمَا فَقَالَ مَا مَنَعَكُمَا اَنْ تُصَلِّيَا مَعَنَا؟ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ: اِنَّا كُنَّا قَدْ صَلَّيْنَا فِيْ رِحَالِنَا قَالَ فَلَا تَفْعَلَا اِذَا صَلَّيْتُمَا فِيْ رِحَالِكُمَا ثُمَّ اَتَيْتُمَا مَسْجِدَ جَمَاعَةٍ فَصَلِّيَا مَعَهُمْ فَاِنَّهَا لَكُمَا نَافِلَةٌ. رَوَاهُ الْخَمْسَةُ اِلَّا ابْنَ مَاجَةَ وَصَحَّحَهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ السَّكَنِ وَابْنُ حِبَّانَ.

۷۵۱: جابر بن يزيد بن الاسود نه روايت دی چه زما پلار اوفرمائيل، زه د رسول الله ﷺ څخه حج ته حاضر شوم، ما د هغوی په ملګرتيا د سحر مونځ په مسجد خيف کښې اوکړو، چه کله هغوی خپل مونځ پوره کړو، چه رسول الله ﷺ کله مخ واړولو نو دوه کسان د خلقو په آخر کښې وو چا چه د رسول الله ﷺ مونځ کړې وو، رسول الله ﷺ اوفرمائيل: دا دواړه ماته راولئ، هغوی راوستلې شی، د هغوی د اوږو غوښه رپيدله (هغوی ډير په ويره کښې وو) رسول الله ﷺ اوفرمائيل: تاسو کوم څيز مونږ څخه د مونځ کولو نه منع کړئ، يو سړی عرض اوکړو، يا رسول الله ﷺ! مونږ خو په خپلو استوګنو کښې مونځ کړې وو، رسول الله ﷺ اوفرمائيل (بيا داسې) مه کوئ، چه کله ئې تاسو په خپلو کورونو کښې اوکړئ او بيا تاسو مسجد ته راشئ، نو هم د هغوی څخه ئې اوکړئ، بيشکه هغه به ستاسو لپاره نفل شی. دا حديث د ابن ماجه نه علاوه اصحاب خمسه نقل کړې دې، ترمذی، ابن سکن او ابن حبان دې ته صحيح وئيلې دې.

(۷۵۲) وَعَنْ نَافِعٍ اَنَّ رَجُلًا سَأَلَ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَقَالَ: اِنِّيْ اُصَلِّيْ فِيْ بَيْتِيْ ثُمَّ اُدْرِكُ الصَّلٰوةَ مَعَ الْاِمَامِ اَفَاُصَلِّيْ مَعَهُ؟ فَقَالَ لَهُ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: نَعَمْ! فَقَالَ الرَّجُلُ: اَيَّتَهُمَا اَجْعَلُ صَلٰوتِيْ؟ فَقَالَ لَهُ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: اَوَذٰلِكَ اِلَيْكَ اِنَّمَا ذٰلِكَ اِلَى اللّٰهِ اَيَّتَهُمَا شَاءَ. رَوَاهُ مَالِكٌ وَّاٰخَرُوْنَ وَاِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

۷۵۲: د نافع نه روايت دې چه يو سړی د سيدنا عبد الله بن عمر ؓ نه پوښتنه اوکړه، هغه اووئيل: زه په خپل کور کښې مونځ کوم، بيا ئې امام مام رالاندې کړم، آيا زه هغه څخه په مانځه کښې شريک شم، نو عبد الله بن عمر ؓ اوفرمائيل: او ! هغه سړی عرض اوکړو: په دې دواړو کښې د کوم يو نه فرض جوړ کړم؟ ابن عمر ؓ هغه ته اوفرمائيل دا خبره تاته سپارلې شوې ده، بيشکه دا خبره خو الله پاک ته سپارلې شوې ده، په دواړو کښې چه کوم الله پاک غواړی. دا حديث مالک او نور محدثينو نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(۷۵۳) وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: اِنَّهُ سَيَكُوْنُ عَلَيْكُمْ اُمَرَاءُ يُؤَخِّرُوْنَ الصَّلٰوةَ عَنْ مِيْقَاتِهَا وَيَخْنِقُوْنَهَا اِلٰى شَرَقِ الْمَوْتٰى فَاِذَا رَاَيْتُمُوْهُمْ قَدْ فَعَلُوْا ذٰلِكَ فَصَلُّوا الصَّلٰوةَ لِمِيْقَاتِهَا وَاجْعَلُوْا صَلٰوتَكُمْ مَعَهُمْ سُبْحَةً. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

۷۵۳: د سيدنا عبد الله بن مسعود ؓ اوفرمائيل: نزدې به په تاسو باندې داسې حکمرانان مسلط شی کوم چه به مونځ د خپل وخت نه روستو کوئ او د مړی د (آخری) ساه پورې به د هغه په مرئ زور کوی (يعنی څنګه چه په آخری وخت کښې په مړی باندې د مرګ اثر راځی، هم دغه شان مونځ بالکل په آخری وخت کښې قضاء کيدو ته نزدې ادا کوی) پس کله چه تاسو هغوی اوينئ چه هغوی

داسې کړې دی، نو مونځ په خپل وخت باندې ادا کړئ او د هغوی په ملګرتيا کښې مونځ نفل جوړ کړئ. دا حديث مسلم نقل کړې دې.

(۷۵۴) وَعَنْ نَافِعٍ اَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كَانَ يَقُوْلُ مَنْ صَلَّى الْمَغْرِبَ اَوِالصُّبْحَ ثُمَّ اَدْرَكَهُمَا مَعَ الْاِمَامِ فَلَا يُعِدْ لَهُمَا. رَوَاهُ مَالِكٌ وَّاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

۷۵۴: د نافع نه روايت دې چه عبدالله بن عمر رضي الله عنهما به داسې فرمائيل: چا چه د ماښام يا د سحر مونځ اوکړو، بيا دا مونځونه د امام څخه بيا مومی نو دوباره دې نه کوی. دا حديث مالک نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

**تشريح**﴿ (۷۴۹ نه ۷۵۴ پورې) که يو سړی منفردا مونځ کړې وو روستو هغه ته يو جماعت ملاؤ شو هغه له په دغه جماعت کښې شريکيدل پکار دی شرکت په جماعت کښې مسنون دې دا شرکت په ټولو مونځونو کښې کيدل پکار دی يا په بعضو کښ، په دې کښې اختلاف دې.

**بيان مذاهب**: ۱: د امام شافعی رحمه الله مسلک دا دې چه دا حکم پنځو مونځونو ته عام دې امام احمد او امام اسحاق هم د دې قائل دی سفيان ثوری رحمه الله هم دا فرمائی د ماښام په مانځه کښې دې د دريو په ځائې څلور اوکړی يو دې زيات کړی خو د امام شافعی رحمه الله يو قول دا هم دې چه صرف درې رکعتونه دې اوکړی.

۲: امام مالک رحمه الله ددې حکم نه صلاة مغرب مستثنی ګڼړی پس په موطاء ۴۷ کښې دی چه نفل درې رکعتونه نه وی علامه ابن رشد په بداية المجتهد ج ۱ ص ۱۳۶ کښې هم د امام مالک رحمه الله هم دا مسلک نقل کړې دې.

۳: امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی چه دا شرکت صرف د ماسپخين او ماز يګر په مانځه کښې جائز دې او دا به نفل مونځ وی، د سحر او ماسپخين په مانځه کښې به نه شريکيږی چه د دې دواړو نه پس مونځ کول ممنوع دی، کوم چه د احاديث متواتره نه ثابت دی د ماښام په دې وجه نه شی کولې چه درې رکعته نفل نه وی که څلورم رکعت يوځائې کړی نو د امام مخالفت به لازم شی حال دا چه د رسول الله ﷺ ارشاد دې. ﴿انما جعل الامام ليوتم به﴾.

**د حديث ابوذر رضي الله عنه تشريح او د احنافو توجيه**: د حديث الفاظ ﴿او كانو يؤخرون عن وقتها﴾ کښې لفظ ﴿او﴾ د راوی شک دې يعنی د حديث يو راوی ته شک پيدا شوې دې چه مخکښې راوی لفظ ﴿يميتون﴾ وئيلې دې يا ﴿يوخرون﴾. هسې خو د معنې په اعتبار څخه په دواړو کښې هيڅ فرق نشته د حديث حاصل دا دې چه (هغه وخت په تاسو څه کوئ چه کله تاسو اوينئ چه هغه سړې کوم

چه ستاسو حاکم او سردار وی او په مانځه کښې سستی کوی مونځ په خپل اول وخت کښې نه کوی بلکه غیر مختار تاخیر کوی او چونکه هغه ستاسو حاکم دې په دې وجه تاسو به په هغه باندې قادر نه شئ چه دهغوی مخالفت کولو څخه هغه په نیغه لار باندې روان کړئ. تاسو ته به دا ویره وی چه که مونځ هغه څخه کوئ نو په اول وخت کښې د مونځ کولو فضیلت د لاس نه اوځی او که د هغوی مخالفت کوئ نو صرف دا چه د هغوی د طرف نه به تکلیف او ایذاء رسیدلو بلکه د جماعت د فضیلت نه هم د محروم کیدو هم ویره ده. پس ابوذر رضی الله عنه نقد د داسې موقعې حکم پوښتنه هم اوکړه چه کله داسې صورت راپیښ شی نو ماله څه طریقه اختیارول پکار دی.

په دې باندې رسول الله ﷺ هغوی ته دا نیغه لاره اوښودله چه کله هم داسې موقع راشی نو کم از کم خپل مونځ خو په خپل صحیح وخت باندې ادا کول بیا د دې نه پس که تاسو اتفاق څخه هغوی څخه هم په مانځه کښې د شاملیدو موقع ملاؤ شی نو هغوی څخه مونځونه کول به هم ستاسو لپاره نفل مونځ شی نو دغه شان به تاسو ته دوچند ثواب ملاؤ شی.

پس د دې نه معلومه شوه چه که څوک په مانځه کښې تاخیر اوکړی نو مُقتدیانو له پکار دی چه هغوی په اول وخت کښې مونځ اوکړی بیا دې روستو د امام څخه هم مونځ اوکړی چه په دې طریقه باندې د وخت او جماعت دواړو فضیلت حاصل کړی خو په دې ځآن پوهه کړه چه دا حکم صرف د ماسپخین او ماسخوتن په باره کښې دې ځکه چه د سحر او مازیګر د فرض ادا کولو نه پس نفل مونځ مکروه دې او ماښام چونکه درې رکعته فرض دې او درې رکعته نفل مشروع نه دی په دې وجه په ماښام کښې هم دا طریقه نه شی اختیار کیدې.

هر چه د حدیث د اطلاق تعلق دې هم د دې په باره کښې به وئیلې شی چه دا د ضرورت په بناء باندې دې د امراء او حکامو چونکه د مونځ نه کولو او د هغوی په خلاف کولو کښې فتنه او فساد کښې د اخته کیدو ویره وه په دې وجه رسول الله ﷺ د ماسپخین او ماسخوتن قید او نه لګولو چه د مکروهاتو ارتکاب د دې نه غوره دې چه فتنه او فساد پیدا کړې شی بلکه دا چه په داسې موقع باندې مکروهات هم مباح کیږی.

په آخر کښې په دومره خبره باندې نور هم ځآن پوهه کړئ چه رسول الله ﷺ چه ابوذر رضی الله عنه ته دا فرمائیلې وو هغه ئې صرف د پیش بندئ په طور نه وو فرمائیلې بلکه په اصل کښې رسول الله ﷺ د معجزې په طور بیا لپاره د راتلونکو یقینی حالاتو پیشنګوئی فرمائیلې وه، پس پوهیدونکی پوهیږی چه د بنو امیه په دو رکښې دا پیشنګوئی پوره په صداقت څخه صحیح شوه چه د هغه زمانې امراء او حکامو به په مانځه کښې ډیر سستی کوله او مونځ به ئې د مختار وخت نه روستو ادا کولو.

**د روایت جابر رضی الله عنه نه د شوافع استدلال او د هغې ځواب**: شوافع حضرات د دې باب د دریم روایت ۷۵۱ نه استدلال کړې دې کوم چه امام ترمذی ج ۱ ص ۵۲، ابوداؤد ج ۱ ص ۸۵، مسند احمد ج ٤ ص ۱٦۰ کښې نقل کړې شوې دې چه په دې کښې د صلاة الصبح تصریح ده.

علامه کاسانی رحمه الله په البدائع والصنائع ج ۱ ص ۲۸۷ او امام سرخسی په المبسوط ج ۱ ص ۱۷۵ کښې د دې دا ځواب ورکوی چه د دې حدیث په بعض طرق کښې د ماسپخین لفظ راغلې دې پس هم دا روایت په کتاب الآثار لابی یوسف ص ٦۵ او کتاب الآثار لمحمد ص ۱۸، طحاوی ج ۱ ص ۲۱۳، مسند احمد ج ٤ ص ۲۱۵ کښې دی او په دې کښې صرف د ماسپخین لفظ راغلې دې پس علامه بنوری رحمه الله لیکی چه د رفع اضطراب لپاره د ترجیح طریقه اختیار کړې شی نو د کتاب الاثار روایت سندا زیات قوی دې کوم چه د امام ابوحنیفه رحمه الله په طریق مروی دې. **واسناد مسانید ابی حنیفة من طریق الهیثم عن جابر احسن حالاً منه بلا ریب وفیه الظهر لا الصبح** (معارف السنن ج ۲ ص ۲٦۹) لهٰذا دا حدیث د احنافو خلاف نه شو.

ددې نه علاوه مجمع الزوائد ج ۲ ص ٤٤، ٤۵ کښې د ابوسعید الخدری رضی الله عنه او **﴿عن رجل من الدیل﴾** نه په روایاتو کښې د صلاة ظهر واقعات منقول دی کوم چه د دې لفظ ظهر تائید کوی او که صلاة الصبح الفاظ هم صحیح اومنلې شی نو بیا هم د رسول الله ﷺ ارشاد **﴿فصلیا معهم﴾** نه به د سحر اود ماښام مونځ په دې وجه مستثنی وی چه احادیث **﴿نهی عن الصلاة بعدهما﴾** متواتر دی.

**د حدیث ابن عمر رضی الله عنهما نه د شوافعو د استدلال ځواب**: د باب هم دا روایت ۷۵۲ په موطاء امام مالک رحمه الله کښې په ص ۱۱٦ باندې نقل کړې شوې دې د شوافع استدلال او د هغې په ځواب باندې خان پوهه کولو لپاره دا خبره ذهن کښې ساتل پکار دی چه د دوه کرته مونځ کولو دوه صورتونه کیدې شی چه یو خو دا چه یو سړی په خپل کور کښې یواځې یا د جماعت سره مونځ اوکړو د هغې نه روستو مسجد ته راغلو نو وې کتل چه هلته هم د دې مانځه جماعت کیږی کوم چه هغه مخکښې کړې دې هغه مسجد ته د جماعت د فضیلت حاصل کولو په غرض سره جماعت کښې شریکیدو سره دوباره اوکړی نو په دې صورت کښې چونکه فرض مونځ مخکښې شوې دې په دې وجه دا د جماعت مونځ د هغه لپاره نفل شی. دویم صورت دا وی چه یو سړې د مسجد امام دې هغه په خپل مسجد کښې د مونځ د کولو نه مخکښې په یو خاص موقع باندې یا یو خاص سړی سره د مونځ کولو فضیلت حاصلولو په غرض د نفلو په نیت مونځ اوکړی بیا د هغې نه روستو په خپل مسجد کښې راتلو سره خلقو ته مونځ کوی په داسې صورت کښې به روستو مونځ فرض ادا

کیږی او اول مونځ به نفل شی.

د سیدنا ابن عمر ﷠ دا حدیث د بعض شوافع او امام غزالی ﷫ د دې قول تائید کوی چه په دې دواړو مونځونو کښې یو مونځ بغیر د تعین نه فرض ادا کیږی که اول مونځ وی یا دویم. خو د اکثر احادیثو نه دا خبره په صراحت ښخه معلومیږی چه په دې دواړو مونځونو کښې اول مونځ فرض ادا کیږی او دویم نفل کیږی او هم دا خبره قیاس ته نزدې هم معلومیږی ځکه چه یو سړې داسې کار کوم چه د هغه لپاره په یو وخت کښې صرف یو کرت کول ضروری وی که دوه کرته ئې اوکړی نو ظاهره ده چه هغه بری الذمة په اول کرت وی نه په دویم کرت، هم دغه شان د فرض مونځ ادا کیدل په اول کرت وی او دویم کرت مونځ د هغه په حق کښې د نفل په صورت کښې د فضیلت او سعادت سرمایه جوړیږی.

(۷۵۳) مضمون د حدیث واضح دې مسلم ج ۱ ص ۲۰۲ نه نقل کړې شوې دې **﴿ شرق الموتی ﴾** یعنی ښکه چه په آخری حصه د مرګ کښې مړی ته د مرګ تکلیف رسیږی هم دغه شان بالکل آخر وخت کښې قضاء کیدو ته نزدې ادا کوی.

قال ابن الاعرابی فیه معنیان احدهما ان الشمس فی ذلك الوقت وهو آخر النهار انما تبقی ساعة ثم تغیب و الثانی انه من قولهم شرق المیت بریقة اذ لم یبق بعده الا یسیرا ثم یموت۔ (نووی شرح مسلم ج: ۱، ص: ۲۰۲)

السبحة وهی النافلة ومعناه صلّوا فی اول الوقت یسقط عنکم الفرض ثُمَّ صلّوا معهم متٰی صلّوا لتحرزوا فضیلة اول الوقت وفضیلة الجماعة لئلا تقع فتنة بسبب التخلف عن الصلٰوة مع الامام وتختلف کلمة المسلمین وفیه دلیل علی ان من صلی فریضة مرتین تکون الثانیة سنة والفرض سقط بالاولٰی۔ (نووی ج: ۱، ص: ۲۰۲)

**د حدیث ابن عمر ﷠ توضیح:** ۷۵۴: د سیدنا ابن عمر ﷠ دا حدیث د امام مالک ﷫ د مسلک تائید کوی ځکه چه د هغوی په نزد صرف د ماښام او سحر د مونځونو اعاده ممنوع ده خو د احنافو په نزد د مازیګر مونځ هم په دې حکم کښې دې په دې حدیث کښې دې طرف ته اشاره کړې شوې ده چه پورته ذکر شوې حکم د هغه سړی په باره کښې دې چه اول کرت ئې جماعت نه وی کړې بلکه یواځې ئې کړې وی لهذا اول کرت جماعت ښخه مونځ کولو په شکل کښې خو په طریق اولی دوباره مونځ نه دی کول پکار او د ترمذی په حاشیة ج ۱ ص ۳۰ کښې دی

وردفی حدیث صحیح اخرجه الدارقطنی۔ (والطحاوی ج: ۱، ص: ۱۷۸)

عن ابن عمر ﷠ عن النبی صلی الله علیه وسلم قال اذا صلیت فی اهلك ثم ادرکت الصلٰوة فصلها الا الفجر المغرب کذا فی اللمعات۔

# بَـابُ صَلٰوةِ الضُّحٰى

(۷۵۵) عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ اَبِيْ لَيْلٰى قَالَ مَآ اَخْبَرَنِيْ اَحَدٌ اَنَّـهٗ رَاَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَـيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الضُّحٰى اِلَّا اُمُّ هَانِئٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا فَاِنَّهَا حَدَّثَتْ اَنَّ النَّبِيَّ دَخَلَ بَيْتَهَا يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ فَصَلّٰى ثَمَانَ رَكْعَاتٍ مَّا رَاَيْتُـهٗ صَلّٰى صَلٰوةً قَطُّ اَخَفَّ مِنْهَا غَيْرَ اَنَّـهٗ كَانَ يُتِمُّ الرُّكُوْعَ وَالسُّجُوْدَ۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

**باب د چاشت مونځ: ۷۵۵** : عبدالرحمن بن ابی لیلی رحمه الله فرمائی : ماته د ام هانی رضی الله عنها نه علاوه چا هم دا نه دی بیان کړي چه ما رسول الله ﷺ د چاشت مونځ ادا کولو باندې لیدلې دې. ام هانی رضی الله عنها اوفرمائیل چه رسول الله ﷺ د فتح مکه په ورځ زما کور ته تشریف راوړلو، نو رسول الله ﷺ اته رکعته ادا اوفرمائیل، ما کله هم رسول الله ﷺ د دې نه په مختصر مونځ کولو باندې نه دې لیدلې، مګر دا چه هغوی به رکوع او سجود پوره کول. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۷۵۶) وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ اَوْصَانِيْ خَلِيْلِيْ بِثَلَاثٍ لَا اَدَعُهُنَّ حَتّٰى اَمُوْتَ صَوْمُ ثَـلَاثَةِ اَيَّامٍ مِّنْ كُلِّ شَهْرٍ وَصَلٰوةُ الضُّحٰى وَنَـوْمٌ عَلٰى وِتْرٍ۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

**۷۵۶**: سیدنا ابوهریره رضی الله عنه اوفرمائیل : ماته زما خلیل ﷺ د درې خبرو وصیت فرمائیلې وو چه زه به دا تر مرګه پورې پرینږدم، په هره میاشت کښې درې ورځې روژې، د چاشت مونځ او وتر کولو نه روستو اوده کیدل. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۷۵۷) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ شَقِيْقٍ قَالَ قُلْتُ لِعَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَـيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الضُّحٰى؟ فَقَالَتْ لَا اِلَّا اَنْ يَّجِيْئَ مِنْ مَّغِيْبِهٖ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

**۷۵۷**: عبدالله بن شقیق رحمه الله فرمائی : ما ام المومنین عائشې صدیقې رضی الله عنها ته عرض اوکړو، آیا رسول الله ﷺ به د چاشت مونځ ادا فرمائیلو، نو هغې اووې : نه! خو دا چه د سفر نه به ئې تشریف راوړلو. دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

(۷۵۸) وَعَنْ زَيْدِ بْنِ اَرْقَمَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّـهٗ رَاٰى قَوْمًا يُّصَلُّوْنَ مِنَ الضُّحٰى فَقَالَ اَمَا لَقَدْ عَلِمُوْا اَنَّ الصَّلٰوةَ فِيْ غَيْرِ هٰذِهِ السَّاعَةِ اَفْضَلُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ صَلٰوةُ الْاَوَّابِيْنَ حِيْنَ تَـرْمَضُ الْفِصَالُ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

**۷۵۸**: د سیدنا زید بن ارقم رضی الله عنه نه روایت دې چه هغوی یو ډله د چاشت په مونځ ادا کولو باندې اولیده نو وې وئیل : آیا هغه خلقو ته معلومه نه ده چه د دې وخت نه علاوه مونځ زیات افضل دې. رسول الله ﷺ اوفرمائیل : د اوابین مونځ هغه وخت دې، چه کله د اوښ د بچی خپې په شږو کښې ګرمیدل شروع شی. دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

(۷۵۹) وَعَنْهُ قَالَ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى اَهْلِ قُبَاءٍ وَّهُمْ يُصَلُّوْنَ الضُّحٰى فَقَالَ صَلٰوةُ الْاَوَّابِيْنَ اِذَا رَمَضَتِ الْفِصَالُ مِنَ الضُّحٰى. رَوَاهُ اَحْمَدُ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

۷۵۹: سیدنا زید بن ارقم ﷛ فرمائی : رسول الله ﷺ قبا والو ته تشریف راوړلو او هغوی به د چاشت مونځ کولو ، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : د چاشت مونځ هغه وخت دې، چه کله د اوښ د بچی خپې په شړو کښې د چاشت په وخت ګرمې شی. دا حدیث احمد نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۷۶۰) وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍّ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهٗ قَالَ يُصْبِحُ الرَّجُلُ عَلٰى كُلِّ سُلَامٰى مِنْ اَحَدِكُمْ صَدَقَةٌ فَكُلُّ تَسْبِيْحَةٍ صَدَقَةٌ وَّكُلُّ تَحْمِيْدَةٍ صَدَقَةٌ وَكُلُّ تَهْلِيْلَةٍ صَدَقَةٌ وَّكُلُّ تَكْبِيْرَةٍ صَدَقَةٌ وَّاَمْرٌ بِالْمَعْرُوْفِ صَدَقَةٌ وَّنَهْيٌ عَنِ الْمُنْكَرِ صَدَقَةٌ وَّيُجْزِئُ مِنْ ذٰلِكَ رَكْعَتَانِ يَرْكَعُهُمَا مِنَ الضُّحٰى. رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَّاَحْمَدُ وَاَبُوْدَاوُدَ.

۷۶۰: د سیدنا ابوذر ﷛ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : په تاسو کښې د هر سړی په جوړ باندې د سحر په وخت یو صدقه کیږی، پس هر تسبیح ﴿ سبحان الله ﴾ صدقه ده او هر کرت تحمید ﴿الحمد لله ﴾ صدقه ده، او هر تکبیر صدقه ده، امر بالمعروف صدقه دې، او نهی عن المنکر صدقه ده، او د دې هر جوړ د صدقې نه به دوه رکعتونه کافی وی کوم چه هغه د چاشت په وخت ادا کوی. دا حدیث مسلم، احمد او ابوداؤد نقل کړې دې.

(۷۶۱) وَعَنْ مُّعَاذَةَ اَنَّهَا سَاَلَتْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا كَمْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ صَلٰوةَ الضُّحٰى؟ قَالَتْ اَرْبَعَ رَكَعَاتٍ وَّيَزِيْدُ مَا شَآءَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

۷۶۱: د معاذة رحمها الله نه روایت دې چه هغې د ام المومنین عائشې ﷝ نه پوښتنه اوکړه، رسول الله ﷺ به د چاشت د مانځه څو رکعتونه ادا کول؟ ام المومنین ﷝ اوفرمائیل : څلور رکعته او څومره چه به ئې غوښتل زیات به ئې فرمائیل. دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

(۷۶۲) وَعَنْ عَاصِمِ بْنِ ضَمْرَةَ السَّلُوْلِيِّ قَالَ : سَاَلْنَا عَلِيًّا رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنْ تَطَوُّعِ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنَّهَارِ فَقَالَ اِنَّكُمْ لَا تُطِيْقُوْنَهٗ فَقُلْنَا اَخْبِرْنَا بِهٖ نَاْخُذُ مِنْهُ مَا اسْتَطَعْنَا قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا صَلَّى الْفَجْرَ يُمْهِلُ حَتّٰى اِذَا كَانَتِ الشَّمْسُ مِنْ هٰهُنَا يَعْنِيْ مِنْ قِبَلِ الْمَشْرِقِ بِمِقْدَارِهَا مِنْ صَلٰوةِ الْعَصْرِ مِنْ هٰهُنَا يَعْنِيْ مِنْ قِبَلِ الْمَغْرِبِ قَامَ فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ يُمْهِلُ حَتّٰى اِذَا كَانَتِ الشَّمْسُ مِنْ هٰهُنَا يَعْنِيْ مِنْ قِبَلِ الْمَشْرِقِ بِمِقْدَارِهَا مِنْ صَلٰوةِ الظُّهْرِ مِنْ هٰهُنَا قَامَ فَصَلّٰى اَرْبَعًا وَّاَرْبَعًا قَبْلَ الظُّهْرِ اِذَا زَالَتِ

الشَّمۡسُ وَرَكۡعَتَيۡنِ بَعۡدَهَا وَاَرۡبَعًا قَبۡلَ الۡعَصۡرِ يَفۡصِلُ بَيۡنَ كُلِّ رَكۡعَتَيۡنِ بِالتَّسۡلِيۡمِ عَلَى الۡمَلَآئِكَةِ الۡمُقَرَّبِيۡنَ وَالنَّبِيِّيۡنَ وَمَنۡ تَبِعَهُمۡ مِنَ الۡمُسۡلِمِيۡنَ وَالۡمُؤۡمِنِيۡنَ۔ رَوَاهُ ابۡنُ مَاجَةَ وَاٰخَرُوۡنَ وَاِسۡنَادُهٗ حَسَنٌ۔

۷۷۲: عاصم بن ضمرة السلولی رحمه الله فرمائی مونږ د سیدنا علی رضی الله عنه نه د رسول الله ﷺ د ورځې د نفلو په باره کښې پوښتنه اوکړه نو هغوی اوفرمائیل: تاسو د هغې طاقت نه لرئ. مونږ عرض اوکړو تاسو ئې مونږ بیان کړئ څومره چه زمونږ طاقت وی هومره عمل به کوو، هغوی اوفرمائیل رسول الله ﷺ چه به کله د سحر مونځ ادا شو نو ایسار به شو، تردې چه کله به نمر دې ځائې ته راورسیدلو، یعنی د مشرق د طرف نه دومره مقدار چه د مازیګر نه تر دې ځائې پورې یعنی د مابنام نه مخکښې پورې نو په ولاړه به ئې دوه رکعته ادا فرمائیل، بیا به (دمانځه نه) ایسار شو. تردې چه کله به نمر دې ځائې ته راورسیدلو، یعنی د مشرق نه دومره مقدار د ماسپخین نه دې ځائې پورې نو اودریدلو به او څلور رکعته به ئې ادا فرمائیل او څلور رکعته د ماسپخین نه مخکښې چه کله به نمر ښکته شو او دوه رکعتونه د هغې نه پس او څلور رکعتونه د مازیګر نه مخکښ، په هر دوه رکعتونو کښې مقربین فرشتو، انبیاء او مسلمان او په مومن تابعدارو باندې به ئې سلام څخه فاصله فرمائیله. دا حدیث ابن ماجة او نور محدثینو نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

**تشریح**> (۷۵۵ نه ۷۷۲ پورې) لفظ ضحی د ضحوة او الضحو نه مشتق دې چه د هغې معنی د نمر اوچتیدل دی د ورځې راښکاره کیدل د چاشت وخت وغیره وی په دې وجه د نمر د راختلو نه پس کیدونکې مونځ ته هم صلاة الضحی وائی ځنګه چه د ماسخوتن نه تر د صبا د راختلو پورې په اوږده وقفه کښې هیڅ مونځ نه دې فرض کړې شوې خو په دې مینځ کښې د تهجد د څو رکعتونو د کولو ترغیب ورکړې شوې دې هم دغه شان د سحر نه واخله تر د ماسپخین پورې اوږده وقفه کښې هم هیڅ مونځ فرض نه دې خو په دې مینځ کښې د صلاة الضحی په عنوان څخه د نفلی مونځ ترغیب ورکړې شوې دې.

**اشراق او چاشت:** د ضحی دوه مونځونه دی یو ته اشراق وائی او دویم ته چاشت وائی چه کله یو یا دوه نیزه نمر اوچت شی د دې وخت نه تر د ماسپخین پورې چه کوم مونځ کولې شی دې ته اشراق وائی چه کم از کم دوه رکعته او زیات نه زیات شپږ رکعتونه دی چه کله نمر اوچت شی او په فضاء کښې ګرمی او رڼا زیاته خوره شی او چه کله دویم ساعت شروع شی نو د زوال نه مخکښې مخکښې چه کوم مونځ کولې شی هغې ته چاشت وائی کوم چه کم از کم دوه دوه او زیات نه زیات دولس رکعتونه دی خو غوره څلور رکعتونه دی دواړو مونځونو ته صلاة الضحی، اشراق ته

ضحوة صغری او چاشت ته ضحوة کبری وائی شیخ ولی الدین ابن عربی فرمائی چه د صلاة ضحی په باره کښې صحیح او مشهور حدیثونه ډیر زیات منقول دی تردې چه محمد بن جریر طبرانی وئیلې دی چه په دې باره کښې چه کوم احادیث منقول دی هغه درجې د تواتر معنوی ته رسیدلې دی قاضی ابوبکر فرمائی چه دا مونځ د مخکښې انبیاء او د رسولانو مونځ دې علامه سیوطی رحمه الله د دیلمی نه د ابوهریره رضی الله عنه دا حدیث نقل کړې دې چه د چاشت مونځ د داؤد علیه السلام اکثری مونځ دې ابن نجار د ثوبان رضی الله عنه حدیث نقل کړې دې چه د چاشت مونځ هغه مونځ دې کوم چه به ادم، نوح، ابراهیم او عیسی علیهم الصلاة والسلام همیشه کولو. (مظاهر حق ج ۱ ص ۸۵۲)

**د شاه ولی الله ارشاد**: شاه ولی الله محدث دهلوی رحمه الله د دې حکمت بیانولو څخه لیکلې دی چه ورځ کومه چه د اهل عرب په نزد د سحر یعنی د فجر د وخت نه شروع کیږی او کوم چه په څلورو حصو کښې تقسیم ده د حکمت الهی تقاضا دا شوه چه د ورځې په دې څلورو حصو کښې یو حصه هم د مانځه نه خالی پاتې نه شی په دې وجه د اولې حصې په شروع کښې د سحر مونځ فرض کړې شو او په دریمه او څلورمه حصه کښې د ماسپخین او مازیګر او دویمه حصه کومه چه د عوام الناس د معاشی مشغولیت د رعایت د وجې د فرض مونځ نه خالی کړې شوې ده په دې کښې نفل او د مستحب په طور دا صلاة الضحی مقرر کړې شوې دې او د دې فضائل او برکات بیانولو څخه د دې ترغیب ورکړې شوې دې چه د الله پاک کوم بندګان د مشاغل نه وخت ویستلو څخه په دې وخت کښې څو رکعتونه اوکړی هغوی دا سعادت حاصل کړی بیا دا صلاة الضحی کم از کم دوه رکعته دې او د دې نه زیات نفع ورکونکی څلور رکعتونه دی، او د دې نه هم افضل اته رکعته دی. (حجة الله البالغة)

**د احادیث الباب تشریح: ۷۵۵**: د ام هانی رضی الله عنها دا روایت مسلم ج ۱ ص ۲۴۹ او بخاری ج ۱ ص ۱۵۷ کښې نقل کړې شوې دې، ام هانی رضی الله عنها د سیدنا علی رضی الله عنه خور ده د دې نوم فاخته ده دا د ډیر لوئې عظمت او فضیلت مالکه صحابیه ده. (مظاهر حق) په مکه کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم تبلیغی کوشش او د اصلاح او دعوت او ارشاد مرکز هم د هغې کور وو.

﴿ **فصلی ثمان رکعات** ﴾ رسول الله صلی الله علیه وسلم اته رکعتونه یا خوبه په دوه سلامونو څخه یعنی څلور څلور کړې وی یا په څلور سلامو څخه به ئې دوه دوه رکعتونه کړې وی. ﴿ **اخف صلاة** ﴾ (مختصر مونځ) مطلب دا دې چه دې وخت کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم د زیاتو اوږدو سورتونو قراءت او نه فرمائیلو هم دغه شان ئې تسبیحات وغیره هم زیات نه وو لوستلی.

**۷۵۶**: د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه دا روایت د مسلم ج ۱ ص ۲۵۰ او بخاری ج ۱ ص ۱۵۷ نه منقول

دي په دې کښې کم از کم د صلاة الضحیٰ د رکعتونو تعداد دوه ښودلې شوې دې.

۷۵۷: د عبدالله بن شقیق رحمه الله دا روایت د مسلم ج ۱ ص ۲۳۸ نه منقول دی.

۷۵۸: د سیدنا زین بن ارقم رضي الله عنه دا روایت امام مسلم ج ۱ ص ۲۵۷ کښې نقل کړې شوې دې د مسلم شریف هم په دې باب کښې د عائشې رضي الله عنها نه دویم روایت دې ﴿ قالت ما رایت رسول الله ﷺ یصلی سبحة الضحی قط ﴾ د عائشې رضي الله عنها نه د نفی او د اثبات په دواړو روایتونو کښې تطبیق داسې دې چه رسول الله ﷺ کله خو به نو صلاة ضحیٰ ﴿ یوصلها ﴾ کولو او کله به ئې هغه پریخوده په دې ویره باندې چه فرض نه شی حدیث باب ماکان یصلیها الا ان یجئ من مغیبته ... مراد دا دې رسول الله ﷺ به د صلاة ضحی په وخت همیشه سیده عائشې رضي الله عنها څخه نه وو مگر کله کله، کله خو به مسافر وو او که مقیم وو نو یا به په مسجد کښې وو یا بل ځائې کښې او که ﴿ عند نسائه ﴾ هم مراد واخستلې شی نو د سیده عائشه رضي الله عنها به په نهمه ورځ نمبر راتلو لهذا د ﴿ ما رایته یصلیها ﴾ یا ﴿ ما کان یصلیها ﴾ صحیح مراد یا ﴿ ما کان یصلیها ﴾ نه مراد یا ﴿ یداوم علیها ﴾ دې دا خو به د مداومت نفی وی د اصل نفی به نه وی. د سیدنا اسید بن ارقم رضي الله عنه دا روایت امام مسلم ج ۱ ص ۲۵۷ کښې نقل کړې دې.

۷۵۸: چه کله سیدنا زید رضي الله عنه څه خلق اولیدل چه هغوی د چاشت مونځ د مختار او غوره وخت انتظار اونکړو بلکه په اول وخت کښې ئې مونځ اوکړو نو هغوی ته ډیر تعجب پیدا شو او د هغوی په باره کښې ئې اوفرمائیل چه اگر چه دې خلقو د رسول الله ﷺ حدیث اوریدلې وو او هغوی ته علم وو چه دا وخت د چاشت افضل وخت نه دې بلکه افضل او غوره وخت نو د دې نه پس به شروع کیږی د دې باوجود دا خلق مونځ معلومه نه ده ولې کوی؟ پس هغوی د رسول الله ﷺ د ارشاد په رڼړا کښې بیان اوکړو چه د چاشت د مانځه غوره او افضل وخت هغه دې چه د اوښانو د بچو خپې گرمې شی یعنی نمر اوچت شی او رڼړا خوره شی چه د گرمئ د سختئ د وجې نه زمکه گرمه شی چه د هغې په وجه باندې د اوښانو خپې اوسیزی او په گرمئ کښې دومره سختی څه دپاسه په یو حصه تیریدلو باندې راځی.

بهرحال د دې حدیث نه ښکاره معلومه شوه چه د چاشت د مونځ وخت دا دې چه نمر ښه اوخیژی، رڼړا ښه خوره شی او د یو حصې د ختمیدو نه پس دویمه حصه شروع شی هم دغه شان د دې مونځ آخری وخت د ماسپخین یعنی د زوال نه مخکښې پورې دې.

د چاشت د مانځه مذکوره وخت افضل په دې وجه دې چه په دې وخت کښې عام طور څخه په طبیعت کښې سستی پیدا کیږی او زړه هم دا غواړی چه آرام اوکړې شی لهذا په داسې وخت

کنبې د آرام او طبیعت تقاضې لره شاته غورځولو څخه هم هغه د الله پاک بندګان د مونځ لپاره اودریږي کوم چه د الله پاک طرف ته کامل رجوع او توجه لري.

۷۵۹: هم د هغه مخکنبې حدیث مضمون دې دا روایت په مسند احمد ج ٤ ص ۳۶۶ کنبې منقول دې.

۷۲۰: د سیدنا ابوذر رضی الله عنه روایت مسلم ج ۱ ص ۲۵۰، ابوداؤد ج ۱ ص ۱۸۲، مسند احمد ج ۵ ص ۱۶۷ کنبې راغلې دې مطلب ئې واضح دې چه انسان له د خپل هر جوړ د طرف نه د شکرانې کومه صدقه چه روزانه هر سحر ادا کول پکار دی د چاشت په دوه رکعته کولو څخه هغه پوره طریقې څخه ادا کیږي الله پاک دا مختصر شکرانه د هغه د هر جوړ د طرف نه قبلوی د دې وجه دا ده چه مونځ داسې عبادت دې چه په هغې کنبې د انسان ټول اندامونه او د هغه ټول جوړونه او د هغه ظاهر او باطن ټول شریکیږي.

۷۲۱: د معاذه عدویه رضی الله عنها روایت په صحیح مسلم ج ۱ ص ۲٤۹ کنبې راغلې دې د عائشې رضی الله عنها د دې حدیث نه معلومیږي چه هغوی به کله د چاشت مونځ کولو نو اکثر به ئې څلور رکعته کول او کله کله به ئې د دې نه زیات هم کول خو خپله د عائشې رضی الله عنها معمول د اته رکعتو کولو وو او هغوی ته دا رکعتونه ډېره محبوب وو چه فرمائیل به ئې **﴿ لو نشر لی ابوای ماترکتها ﴾** که زما مور پلار ژوندی کولو څخه واپس دنیا ته راولیږلې شی نو د هغوی د زیارت او ملاقات د خوشحالئ مشغولیت کنبې به هم دا رکعتونه نه پریږدم.

**﴿ ویزید ماشاء ﴾** په باره کنبې علماء فرمائی چه د چاشت مونځ به رسول الله صلی الله علیه وسلم زیات نه زیات دولس رکعتونه کول د دولسو نه زیات تعداد په هیڅ حدیث کنبې منقول نه دې، دا حدیث دې دواړو معنو ته محتمل دې د اشراق مونځ هم او د چاشت مونځ هم، په کتاب الاحبار کنبې لیکلې دی چه غوره دا ده چه په دې مونځونو کنبې دې سورة الشمس، سورة اللیل، سورة الضحی او د الم نشرح قراءت اوکړې شی. (مظاهر حق)

۷۲۲: د عالم بن ضمره دا روایت د ابن ماجه ص ۸۲ نه منقول دې **﴿ کانت الشمس الخ ﴾** د دې حدیث نه معلومه شوه چه د ضحی دوه مونځونه دی یعنی اشراق او چاشت.

# بَابُ صَلٰوةِ التَّسْبِيْحِ

(٧٦٣) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَـيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِلْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ يَاعَبَّاسُ يَا عَمَّاهُ اَلَا اُعْطِيْكَ اَلَا اَمْنَحُكَ اَلَا اَحْبُوْكَ اَلَا اَفْعَلُ بِكَ عَشْرَ خِصَالٍ اِذَا اَنْتَ فَعَلْتَ ذٰلِكَ غَفَرَ اللّٰهُ لَكَ ذَنْبَكَ اَوَّلَـهٗ وَاٰخِرَهٗ قَدِيْمَهٗ وَحَدِيْثَهٗ خَطَاءَهٗ وَعَمَدَهٗ صَغِيْرَهٗ وَكَبِيْرَهٗ سِرَّهٗ وَعَلَانِيَتَهٗ عَشْرَ خِصَالٍ اَنْ تُصَلِّيَ اَرْبَعَ رَكْعَاتٍ تَقْرَأُ فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ وَسُوْرَةً فَاِذَا فَرَغْتَ مِنَ الْقِرَأَةِ فِيْ اَوَّلِ رَكْعَةٍ وَّاَنْتَ قَائِمٌ قُـلْتَ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا اِلٰـــهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ خَمْسَ عَشَرَةَ مَرَّةً ثُمَّ تَرْكَعُ فَتَقُوْلُـهَا وَاَنْتَ رَاكِعٌ عَشْرًا ثُمَّ تَرْفَعُ رَأْسَكَ مِنَ الرَّكُوْعِ فَتَقُوْلُـهَا عَشْرًا ثُمَّ تَهْوِيْ سَاجِدًا فَتَقُوْلُهَا وَاَنْتَ سَاجِدٌ عَشْرًا ثُمَّ تَرْفَعُ رَأْسَكَ مِنَ السُّجُوْدِ فَتَقُوْلُـهَا عَشْرًا ثُمَّ تَسْجُدُ فَتَقُوْلُهَا عَشْرًا ثُمَّ تَرْفَعُ رَأْسَكَ فَتَقُوْلُـــهَا عَشْرًا فَذٰلِكَ خَمْسٌ وَّسَبْعُوْنَ فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ تَفْعَلُ ذٰلِكَ فِيْ اَرْبَعِ رَكْعَاتٍ اِنِ اسْتَطَعْتَ اَنْ تُصَلِّيَهَا فِيْ كُلِّ يَوْمٍ مَّرَّةً فَافْعَلْ فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلْ فَفِيْ كُلِّ جُمُعَةٍ مَّرَّةً فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلْ فَفِيْ كُلِّ شَهْرٍ مَّرَّةً فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلْ فَفِيْ عُمُرِكَ مَرَّةً۔ رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَاٰخَرُوْنَ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

**باب: صلاة تسبيح: ٧٦٣:** د سيدنا عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله ﷺ عباس بن عبدالمطلب رضي الله عنه ته اوفرمائيل : اې عباس! اې کاکاجي! آيا زه تاسو ته يو عطيه درنکړم، آيا زه تاسو ته (يو قيمتي څيز) مفت درنکړم! آيا زه تاته لس خبرې اونکړم ! چه کله تاسو هغه اوکړئ، نو الله پاک به ستاسو مخکښې او روستو او زاړه او نوې په هيره او قصدا کيدونکې او واړهٔ او لوئې پټ او ښکاره ټول ګناهونه معاف کړی، هغه لس خبرې دا دی چه تاسو څلور رکعته مونځ ادا کړو، په هر رکعت کښې سورة فاتحه او يو سورة اولوله، پس چه کله ته په اول رکعت کښې د قراءت نه فارغ شې نو په ولاړه ولاړه دا کلمات پنځلس کرته اولوله.

﴿سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ۔﴾

(ترجمه : پاکی ده الله پاک لره او ټول تعريفونه د الله پاک لپاره دی او د الله پاک نه سوا هيڅوک معبود نشته او الله پاک د ټولو نه لوئې دې).

بيا رکوع اوکړه او د رکوع په حالت کښې لس کرته دا کلمات اووايه، بيا د رکوع نه سر راوچت کړه، نو لس کرته دا کلمات اولوله بيا سجده اوکړه نو لس کرته دا کلمات اولوله، بيا د سجدې نه سر اوچتولو څخه لس کرته دا اولوله، بيا سجده اوکړه او لس کرته دا اولوله، دا په هر رکعت کښې پنځه اويا کرته شو. هم دغه شان په څلورو واړو رکعتونو کښې کوه، که تاسو روزانه د دې د کولو طاقت لرئ نو هم دغه شان کوئ او که داسې اونکړې شې نو هره جمعه کښې يو کرت او که داسې هم اونکړې شی نو په هره مياشت کښې يو کرت او که داسې هم اونکړې شې نو په هر

کال کښې يو کرت او که دا هم اونکړې شي نو په خپل عمر کښې يو کرت دا سې اوکړه دا حديث ابوداؤد نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

**تشريح> ۷۲۳**: صلاة التسبيح مستحب دې په احاديثو کښې د دې بيشماره اجر او ثواب مذکور دې د دې باب روايت د ابوداؤد ج ۱ ص ۱۸۳ نه منقول دې.

**د لس خصلتونو نه څۀ مراد دې؟**: **(عشر خصال)** ۱: يو معنی دا ده چه ستاسو لس قسم ګناهونه کوم چه په حديث کښې ذکر شوې دی هغه به اوبخښلې شی. ۲: د بعض حضراتو قول دې چه د **(عشر خصال)** نه مراد په دې مونځ کښې د قيام د حالت پنځلس کرته تسبيح وئيلو نه علاوه په باقی حالتونو کښې لس لس کرته تسبيح دی. ۳: طيبی ليکلې دی چه د حديث د سياق د وجې نه دا وئيل زيات مناسب دی چه د لسو خصلتونو نه مراد دا څيزونه دی. ۱: څلور رکعته کول. ۲: په هر رکعت کښې سورة فاتحه لوستل، ۳: د فاتحې څخه سورة يوځائې کول. ۴: د قيام په حالت کښې پنځلس کرته تسبيحات وئيل. ۵: د تسبيحاتو په رکوع کښې لس کرته وئيل. ۶: په قومه کښې لس کرته. ۷: په سجده کښې لس کرته، ۸: په جلسه کښې، ۹: په دويمه سجده کښې لس کرته، ۱۰: لس کرته په جلسة الاستراحة کښې. دا دويمه طريقه ده کومه چه د حديث الباب نه مختلف ده دا هم جائز ده د حديث ترمذی په حوالې څخه به دې سلسله کښې روستو خبره عرض کولې شی.

په کتب حديث کښې د صلاة التسبيح تعليم او تلقين د رسول اللهﷺ نه د ډيرو صحابه کرامو نه روايت کړې شوې دې ـــ امام ترمذی د رسول اللهﷺ دِ خادم او آزاد کړی غلام سيدنا ابو رافعرضی الله عنه روايت په خپل سند څخه نقل کولو نه پس ليکلې دی چه د هغوی نه علاوه عبدالله بن عباس، عبدالله بن عمرو او فضل بن عباسرضی الله عنهم هم دا روايت کړې دې.، علامه ابن الجوزیرحمه الله د چا تشدد چه د احاديثو په باره کښې مشهور او معروف دې او کوم چه ډيرو داسې احاديثو ته هم موضوع وائی کوم چه د نورو محدثينو په نزد ثابت وی. هغوی د صلاة تسبيح د ترغيب او تلقين والا دې حديث ته موضوع وئيلې دې. حافظ ابن حجررحمه الله په خپل کتاب الخصال المكفرة کښې ډير په تفصيل څخه د دې رد ليکلې دې. حافظ ابن حجررحمه الله په خپل کتاب الخصال المكفرة کښې د ابن الجوزیرحمه الله رد کولو څخه د صلاة التسبيح د رواياتو او د هغې په سندی حيثيت باندې تفصيل څخه کلام کړې دې او د هغوی د بحث حاصل دا دې چه دا حديث کم از کم حسن يعنی د صحت په لحاظ د دويمې درجې ضرور دې. او د بعض تابعين او تبع تابعين حضراتو نه (چه په هغوی کښې دعبدالله بن مبارک په شان جليل القدر امام هم شامل دې) د صلاة التسبيح کول او د هغې فضيلت بيانولو څخه خلقو ته د هغې ترغيب ورکول هم ثابت دی او دا د دې واضح ثبوت دې چه د دې

حضراتو په نزد هم د صلاة التسبيح تلقين او ترغيب د حديث رسول ﷺ نه ثابت وو، او په روستو زمانه کښې خو دا صلاة التسبيح د اکثر صالحين امت معمول پاتې شوې دې.

شاه ولی الله رحمه الله د دې مونځ په باره کښې يو خاص نکته ليکلې ده چه د هغې حاصل دا دې چه د رسول الله ﷺ نه په مونځونو کښې (خاص کر په نفلی مونځونو کښې) ډير اذکار او دعاګانې ثابت دی. د الله پاک کوم بندګان چه په دې اذکار او دعاګانو باندې قابو موندونکی نه دی چه په خپلو مونځونو کښې هغه پوره طريقې څخه شامل کړې شی او د دې وجې نه دهغه افکار او دعوات والا کامل ترين مونځ نه هغوی بې نصيبه وی د هغوی لپاره هم دا صلاة تسبيح د هغه کامل ترين مونځ قائم مقام کيږی ځکه چه په هغې کښې د الله پاک ذکر او تسبيح او تحميد ډير په لوئې مقدار کښې شامل کړې شوې دې، او چونکه يو کلمه بار بار لوستلې شی په دې وجه د عوامو لپاره هم د دې مونځ کول ګران نه دی. د صلاة التسبيح کومه طريقه او د دې کوم ترتيب چه امام ترمذی رحمه الله وغيره د عبدالله بن مبارک رحمه الله نه روايت کړې دې په هغې کښې د نورو مونځونو په شان د قراءت نه مخکښې ثناء يعنی ﴿ سبحانک اللهم وبحمدک ... الخ ﴾ او په رکوع کښې ﴿سبحان ربي العظيم ﴾ او په سجده کښې د ﴿ سبحان ربي الاعلی ﴾ ذکر هم دې او د هر رکعت په قيام کښې د قراءت نه مخکښې کلمه ﴿ سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله و الله اکبر ﴾ پنځلس کرته، د قراءت نه پس رکوع ته د تلو نه مخکښې هم دا کلمه لس کرته د لوستلو ذکر هم دې، هم دغه شان د هر رکعت په قيام کښې به دا کلمه پنځويشت کرته شی او په دې طريقه کښې به د دويمې سجدې نه پس دا کلمه په يو رکعت کښې هم نه شی لوستلې، دغه شان به د دې طريقې په هر رکعت کښې هم د دې کلمې مجموعی تعداد پنځه اويا او په څلورو واړو رکعتونو کښې مجموعی تعداد درې سوه شی. بهر حال د صلاة التسبيح دا دواړه طريقې منقول او معمول دی، د لوستونکی لپاره ګنجائش دې ځنګه چه غواړی او دې کړی.

**د صلاة التسبيح تاثير او برکت:** د مانځه په ذريعه د ګناهونو معاف کيدل او د معصياتو د ګنده اثراتو د زائل کيدلو ذکر خو اصولی طور څخه په قرآن کريم کښې هم فرمائيلې شوې دې.

﴿وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ الَّيْلِ اِنَّ الْحَسَنٰتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّاٰتِ ﴾(سورة هود ع ۱۲)

خو په دې تاثير کښې چه د صلاة التسبيح کوم خاص مقام او درجه ده هغه د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما په پورته ذکر شوې حديث کښې پوره په صراحت څخه ذکر کړې شوې ده، يعنی د دې په برکت څخه د انسان مخکښې، روستو، زاړه، نوی، په هيره، قصدا، صغيره، کبيره، پټ او ښکاره ټول ګناهونه الله پاک معاف کوی. او د سنن ابوداؤد په يو روايت کښې دی چه رسول الله ﷺ يو

صحابي (عبد الله بن عمرو ﷺ) ته د صلاة التسبيح د تعليم او تلقين نه پس اوفرمائيل :
﴿ فَاِنَّكَ لَوْكُنْتَ اَعْظَمَ اَهْلِ الْاَرْضِ ذَنْبًا غُفِرَ لَكَ بِذٰلِكَ ﴾ (ته که بالفرض د دنيا د ټولو نه لوئې گناهگار شې نو بيا به هم د دې په برکت څخه الله پاک ستا مغفرت اوفرمائی).
الله پاک دې د محرومئ نه (زمونږ) حفاظت اوفرمائی او په خپل خوش نصيب بندگانو کښې دې مونږ داخل کړی کوم چه د رحمت او مغفرت داسې اعلانات اوريدلو څخه د هغې نه فائده اوچتوی او د هغې حق ادا کوی.
د سيدنا ابن عباس ﷺ نه منقول دی چه په دې مانځه کښې دا سورتونه لوستل پکار دی {اَلْهٰكُمُ التَّكَاثُرُ، وَالْعَصْرِ، قُلْ يَاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ، قُلْ هُوَاللّٰهُ اَحَدٌ} په بعض رواياتو کښې {اِذَا زُلْزِلَتْ، وَالْعٰدِيٰتِ، اِذَا جَاءَ نَصْرُ اللّٰهِ} او سورة اخلاص لوستل منقول دی. (مظاهر حق)

# [اَبْوَابُ قِيَامِ شَهْرِ رَمَضَانَ]

## بَابُ فَضْلِ قِيَامِ رَمَضَانَ

(۷۶۴) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَامَ رَمَضَانَ اِيْمَانًا وَّ اِحْتِسَابًا غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ. رَوَاهُ الْجَمَاعَةُ.

**ابواب: تراويح**

**باب: د تراويح فضيلت:** ۷۶۴: د سيدنا ابوهريره ﷺ نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : چه کوم سړې په رمضان المبارک کښې اودريدلو (يعنی تراويح ئې اوکړل) د ايمان په حالت کښې او د ثواب اميد لرلو څخه، د هغه به مخکښې گناه معاف کړې شی. دا حديث د محدثينو جماعت نقل کړې دې.

(۷۶۵) وَعَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرَغِّبُ فِيْ قِيَامِ رَمَضَانَ مِنْ غَيْرِ اَنْ يَّاْمُرَهُمْ فِيْهِ بِعَزِيْمَةٍ فَيَقُوْلُ مَنْ قَامَ رَمَضَانَ اِيْمَانًا وَّاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ فَتُوُفِّيَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْاَمْرُ عَلٰى ذٰلِكَ ثُمَّ كَانَ الْاَمْرُ عَلٰى ذٰلِكَ فِيْ خِلَافَةِ اَبِيْ بَكْرٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَصَدْرًا مِّنْ خِلَافَةِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَلٰى ذٰلِكَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

۷۶۵: د سيدنا ابوهريره ﷺ نه روايت دې چه رسول الله ﷺ به په تراويح کښې رغبت ساتلو، خو خلقو ته به ئې کلک حکم نه کولو. رسول الله ﷺ به فرمائيل : څوک چه په رمضان کښې اودريږی (په الله پاک باندې) ايمان لرونکې او د ثواب اميد لرونکې د هغه به مخکښې گناهونه معاف کړې

شی چه کله رسول اللهﷺ وفات شو نو د (تراویح) معامله هم دغه شان پاتې شوه. بیا د ابوبکر صدیق رضی الله عنه په زمانه کښې هم معامله هم دغه شان وه او د عمر رضی الله عنه د خلافت په ابتدائی دور کښې هم هم دغه شان وه. دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

**تشریح** > (۷۷۴ نه ۷۷۵ پورې) د دې باب په دواړو روایتونو کښې د قیام رمضان د فضیلت بیان دې اول روایت مسلم ج ۱ س ۲۵۹، بخاری ج ۱ ص ۱۰، ترمذی ج ۱ ص ۱۴۷، ابوداؤد ج ۱ ص ۱۹۴ او دویم روایت مسلم ج ۱ ص ۲۵۹ کښې نقل کړې شوې دې. د قیام رمضان نه مراد تراویح دی **﴿اتفقوا على ان المراد بقيام رمضان صلاة التراويح﴾** (فتح الباری ج ص۲۱۷) کوم چه سنت موکده دی. (بحرالرائق ج۲ ص ۶۶)

**ایمان او احتساب**: ایمان او احتساب خاص دینی اصطلاحات دی د دې مطلب دا وی چه کوم نیک عمل کولې شی د هغې بنیاد او د هغې محرک بس الله پاک او رسول اللهﷺ منل او د هغوی په وعد او وعید باندې یقین ساتل او د هغوی دبیان کړی اجر او ثواب طمع او امید وی بل څه جذبه او مقصد د دې محرک نه وی هم د دې ایمان او احتساب په ذریعه زمونږ د اعمالو تعلق د الله پاک څخه تړلې کیږی بلکه هم دا ایمان او احتساب زمونږ د اعمالو زړه او روح دې که دا نه وی نو بیا د ظاهر په لحاظ لوئې لوئې اعمال هم ضائع او بیکاره دی کوم چه به د قیامت په ورځ الله مه کړه کوټه مال ثابتیږی او د ایمان او احتساب څخه د بنده یو عمل هم د الله پاک په نزد دومره عزت مند او قیمتی دې چه د هغې په صدقه کښې د هغه د کلونو ګناهونه معاف کیدې شی.

**قیام اللیل او قیام رمضان**: د جمهور علماءکرامو په نزد د قیام اللیل نه مراد صلاة التهجد او قیام رمضان نه مراد صلاة التراویح دې جمهور محدثین په خپل کتب حدیث کښې د قیام اللیل او قیام رمضان بیل بیل بابونه قائم کړی دی نواب صدیق حسن خان لیکی : **واما قيام الليل فهو غير قيام رمضان**. (نزل الابرار ص ۳۰۴)

## بَابٌ فِيْ جَمَاعَةِ التَّرَاوِيْحِ

(۷۶۶) عَنْ عُرْوَةَ اَنَّ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَخْبَرَتْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ لَيْلَةً مِّنْ جَوْفِ اللَّيْلِ فَصَلّٰى فِي الْمَسْجِدِ وَصَلّٰى رِجَالٌ بِصَلٰوتِهٖ فَاَصْبَحَ النَّاسُ فَتَحَدَّثُوْا فَاجْتَمَعَ اَكْثَرُ مِنْهُمْ فَصَلّٰى فَصَلَّوْا مَعَهٗ فَاَصْبَحَ النَّاسُ فَتَحَدَّثُوْا فَكَثُرَ اَهْلُ الْمَسْجِدِ مِنَ اللَّيْلَةِ الثَّالِثَةِ فَخَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلّٰى فَصَلَّوْا بِصَلٰوتِهٖ فَلَمَّا كَانَتِ اللَّيْلَةُ الرَّابِعَةُ عَجَزَ الْمَسْجِدُ عَنْ اَهْلِهٖ حَتّٰى خَرَجَ لِصَلٰوةِ الصُّبْحِ فَلَمَّا قَضَى الْفَجْرَ اَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ فَتَشَهَّدَ ثُمَّ قَالَ اَمَّا بَعْدُ: فَاِنَّهٗ لَمْ يَخْفَ عَلَيَّ مَكَانُكُمْ وَلٰكِنِّيْ خَشِيْتُ اَنْ تُفْرَضَ عَلَيْكُمْ فَتَعْجِزُوْا عَنْهَا فَتُوُفِّيَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْاَمْرُ عَلٰى ذٰلِكَ. رَوَاهُ الشَّيْخَانِ.

**باب: د تراويح په جماعت کښې** ۷۶۶ د عروهؒ نه روايت دې چه ام المومنين سيده عائشهؓ هغوی ته اوفرمائيل چه رسول اللهﷺ يو کرت د نيمې شپې د کور نه اوتلو او مسجد ته تشريف اوړلو څخه ئې مونځ ادا اوفرمائيلو او څه خلقو هم د هغوی په اقتداء کښې مونځ ادا کړو. چه خلقو صبا کړو نو واقعه ئې بيان کړه، نو د مخکښې په نسبت زيات خلق راجمع شو او د رسول اللهﷺ څخه ئې مونځ ادا کړو، بيا خلقو صبا کړو او واقعه ئې بيان کړه، نو په دريمه شپه مسجد والا نور هم زيات شو، رسول اللهﷺ تشريف راوړلو. او مونځ ئې ورکړو، نو خلقو د رسول اللهﷺ په اقتداء کښې مونځ ادا کړو. بيا چه کله څلورمه شپه شوه نو مسجد د خلقو د وجې نه تنګ شو (يعنی ډير په کثرت څخه خلق راغلل، په مسجد کښې ځائې پاتې نه شو) تردې چه رسول اللهﷺ د سحر د مانځه لپاره بهر تشريف راوړلو. چه کله هغوی د سحر مونځ پوره اوفرمائيلو نو د خلقو طرف ته متوجه کيدو څخه ئې تشهد اولوستلو بيا ئې اوفرمائيل: د حمد او صلاة نه پس خبره دا ده چه ستاسو دلته موجود کيدل په ما باندې پټ نه دی، خو ما محسوس کړه چه دا مونځ په تاسو باندې فرض نه کړې شی، بيا به تاسو د دې نه عاجز شئ (يعنی ادا کولې به ئې نه شئ) رسول اللهﷺ وفات شو او معامله هم دغه شان وه. دا حديث شيخينو نقل کړې دې.

(۷۶۷) وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتَّخَذَ حُجْرَةً فِي الْمَسْجِدِ مِنْ حَصِيْرٍ فَصَلّٰى فِيْهِ لَيَالِيَ حَتّٰى اجْتَمَعَ عَلَيْهِ نَاسٌ ثُمَّ فَقَدُوْا صَوْتَهُ لَيْلَةً وَظَنُّوْا اَنَّهُ قَدْ نَامَ فَجَعَلَ بَعْضُهُمْ يَتَنَحْنَحُ لِيَخْرُجَ اِلَيْهِمْ فَقَالَ مَا زَالَ بِكُمُ الَّذِيْ رَاَيْتُ مِنْ صَنِيْعِكُمْ حَتّٰى خَشِيْتُ اَنْ تُكْتَبَ عَلَيْكُمْ وَلَوْ كُتِبَ عَلَيْكُمْ مَا قُمْتُمْ بِهٖ فَصَلُّوْا اَيُّهَا النَّاسُ فِيْ بُيُوْتِكُمْ فَاِنَّ اَفْضَلَ صَلٰوةِ الْمَرْءِ فِيْ بَيْتِهٖ اِلَّا الصَّلٰوةَ الْمَكْتُوْبَةَ. رَوَاهُ الشَّيْخَانِ.

۷۶۷: د سيدنا زيد بن ثابتؓ نه روايت دې چه رسول اللهﷺ په مسجد کښې د پوزکې يو حجره جوړه کړه، په هغې کښې ئې څو شپې مونځ ادا اوفرمائيلو، تردې چه خلق هغوی ته جمع شو، بيا يو شپه خلقو د رسول اللهﷺ آواز وانه وريدلو او هغوی اوګڼرله چه هغوی اوده شوې دی، بعض خلقو ټوخی شروع کړل، چه رسول اللهﷺ هغوی ته تشريف راوړی، رسول اللهﷺ اوفرمائيل: ستاسو معامله (يعنی کثرت څخه راتلل) کوم چه ما اوليدل، هم دغه شان وه، تردې چه اوويريدم چه (دا مونځ) په تاسو باندې فرض نه کړې شی، او که په تاسو باندې فرض کړې شوې وې، تاسو به دا نه شو ادا کولې، اې خلقو! په خپلو کورونو کښې (دا مونځ) کوئ، بيشکه د فرض مونځ نه علاوه د سړی په خپل کور کښې مونځ کول غوره دی. دا روايت شيخين نقل کړې دې.

(۷۶۸) وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ عَنْ اَبِيْ ذَرٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ صُمْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَمَضَانَ فَلَمْ يَقُمْ بِنَا فَلَمَّا كَانَتِ الْخَامِسَةُ قَامَ بِنَا حَتّٰى ذَهَبَ شَطْرُ اللَّيْلِ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ لَوْ نَفَّلْتَنَا قِيَامَ هٰذِهٖ

اللَّيْلَةَ ـ قَالَ فَقَالَ اِنَّ الرَّجُلَ اِذَا صَلّٰى مَعَ الْاِمَامِ حَتّٰى يَنْصَرِفَ حُسِبَ لَهٗ قِيَامُ لَيْلَةٍ قَالَ فَلَمَّا كَانَتِ الرَّابِعَةُ لَمْ يَقُمْ فَلَمَّا كَانَتِ الثَّالِثَةُ جَمَعَ اَهْلَهٗ وَنِسَآءَهٗ وَالنَّاسَ فَقَامَ بِنَا حَتّٰى خَشِيْنَا اَنْ يَفُوْتَنَا الْفَلَاحُ قَالَ قُلْتُ: مَا الْفَلَاحُ؟ قَالَ السَّحُوْرُ ثُمَّ لَمْ يَقُمْ بِنَا بَقِيَّةَ الشَّهْرِ ـ رَوَاهُ الْخَمْسَةُ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ ـ

٧٦٨: د جبير بن نفير رحمه الله نه روايت دې چه سيدنا ابوذر رضي الله عنه اوفرمائيل: مونږ د رسول الله ﷺ څخه د رمضان روژه اونيوله، رسول الله ﷺ مونږ ته تراويح رانکړې، بيا چه کله پنځمه شپه وه، رسول الله ﷺ مونږ څخه اودريدلو تردې چه د شپې نيمه حصه تيره شوه، ما عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ! که تاسو د دې شپې په باقی حصه کښې هم مونږ ته نفل راکړئ، سيدنا ابوذر رضي الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: بيشکه چه کله سړې د امام څخه مونځ ادا کوی، تردې چه کله د مانځه نه فارغ شی نو د هغه لپاره د پوره شپې د قيام ثواب شمارلې کيږي. سيدنا ابوذر رضي الله عنه فرمائی: بيا چه کله څلورمه شپه وه نو مونږ څخه (مانځه ته) اونه دريدلو. (د دې نه پس) چه کله دريمه شپه شوه، نو رسول الله ﷺ خپل خپلوان او د اهل و عيال خلق راجمع کړل او مونږ ته ئې مونځ راکړو تردې چه مونږ اويريدلو چه فلاح به فوت شی (جبير رحمه الله فرمائی) ما پوښتنه اوکړه فلاح څه څيزدې؟ (سيدنا ابوذر رضي الله عنه اوفرمائيل) پيشمنې... بيارسول الله ﷺ باقی مياشت مونږ څخه (د تراويح لپاره) اونه دريدلو. دا حديث اصحاب خمسه نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(٧٦٩) وَعَنْ ثَعْلَبَةَ بْنِ اَبِيْ مَالِكٍ الْقُرَظِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ فِيْ رَمَضَانَ فَرَاٰى نَاسًا فِيْ نَاحِيَةِ الْمَسْجِدِ يُصَلُّوْنَ فَقَالَ مَا يَصْنَعُ هٰٓؤُلَآءِ؟ قَالَ قَائِلٌ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! هٰٓؤُلَآءِ نَاسٌ لَيْسَ مَعَهُمُ الْقُرْاٰنُ وَاُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ يَقْرَأُ وَهُمْ مَعَهٗ يُصَلُّوْنَ بِصَلٰوتِهٖ قَالَ قَدْ اَحْسَنُوْا وَقَدْ اَصَابُوْا وَلَمْ يَكْرَهْ ذٰلِكَ لَهُمْ ـ رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي الْمَعْرِفَةِ وَاِسْنَادُهٗ جَيِّدٌ وَلَهٗ شَاهِدٌ دُوْنَ حَسَنٍ عِنْدَ اَبِيْ دَاوٗدَ مِنْ حَدِيْثِ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ـ

٧٦٩: سيدنا ثعلبة بن ابی مالک القرظی رضي الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ په رمضان المبارک کښې يو شپه تشريف راوړلو، خلق ئې د مسجد په يو ګټ کښې په مانځه باندې اوليدل، رسول الله ﷺ اوفرمائيل دا خلق څه کوی؟ يو ويونکی اووې: يا رسول الله ﷺ دې خلقو ته قرآن کريم ياد نه دې او سيدنا ابی بن کعب رضي الله عنه ئې لولی٭دا خلق د هغوی په اقتداء کښې مونځ کوی. رسول الله ﷺ اوفرمائيل: بيشکه دوی ښه کار اوکړو. او بيشکه هغه صحيح کار اوکړو او دا خبره رسول الله ﷺ د هغوی لپاره ناخوښه نه کړه.

دا حديث بيهقی په معرفت کښې نقل کړې دې او ددې اسناد جيد دې او په ابوداؤد کښې د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه د حديث نه د دې شاهد دې کوم چه د حسن د درجې نه کم دې.

(٧٧٠) وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَبْدِ الْقَارِيِّ اَنَّـهٗ قَالَ خَرَجْتُ مَعَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ لَيْلَـةً فِيْ رَمَضَانَ اِلَى الْمَسْجِدِ فَاِذَا النَّاسُ اَوْزَاعٌ مُّتَفَرِّقُوْنَ يُصَلِّي الرَّجُلُ لِنَفْسِهٖ وَيُصَلِّي الرَّجُلُ فَـيُصَلِّيْ بِصَلٰوتِهِ الرَّهْطُ فَقَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اِنِّيْ اَرٰى لَوْ جَمَعْتُ هٰـؤُلَآءِ عَلٰى قَارِئٍ وَّاحِدٍ لَّكَانَ اَمْثَلَ ثُمَّ عَزَمَ فَجَمَعَهُمْ عَلٰى اُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ثُمَّ خَرَجْتُ مَعَهٗ لَيْلَـةً اُخْرٰى وَالنَّاسُ يُصَلُّوْنَ بِصَلٰوةِ قَارِئِهِمْ قَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نِعْمَ الْبِدْعَةُ هٰذِهٖ وَالَّتِيْ يَنَامُوْنَ عَنْهَا اَفْضَلُ مِنَ الَّتِيْ يَقُوْمُوْنَ يُرِيْدُ اٰخِرَ اللَّـيْلِ وَكَانَ النَّاسُ يَقُوْمُوْنَ اَوَّلَـهٗ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

٧٧٠: عبدالرحمن بن عبدالقاري رحمه الله فرمائی: زه د سيدنا عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه په رمضان المبارک کښې مسجد طرف ته اوتلم، نو خلق په مختلفو ډلو کښې تقسيم وو، چا ځانله مونځ کولو او چا مونځ کولو او نورو خلقو ئې اقتداء کوله، نو عمر رضي الله عنه اوفرمائيل: زما خيال دې چه که زه دوی د يو لوستونکی په اقتداء کښې راجمع کړم نو دا زياته غوره ده، بيا هغوی اراده اوکړه او خلق ئې د سيدنا ابی بن کعب رضي الله عنه په اقتداء کښې راجمع کړل. بيا زه په دويمه شپه د عمر رضي الله عنه څخه اوتلم او خلقو د خپل قاری په اقتداء کښې مونځ کولو. عمر رضي الله عنه اوفرمائيل: دا نوې خبره څومره ښه ده او هغه خلق کوم چه ددې نه اوده شی هغه افضل دی د دې خلقو نه کوم چه ولاړ دی، د هغوی اراده په دې څخه د شپې په آخری حصه (کښې اودريدل) وه. او خلقو به د شپې په اوله حصه کښې قيام کولو. دا حديث بخاری نقل کړې دې.

(٧٧١) وَعَنْ نَّوْفَلِ بْنِ اِيَاسٍ الْهُذَلِيِّ قَالَ كُنَّا نَقُوْمُ فِيْ عَهْدِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فِي الْمَسْجِدِ فَـيَتَفَرَّقُ هٰهُنَا فِرْقَةٌ وَّكَانَ النَّاسُ يَمِيْلُوْنَ اِلٰى اَحْسَنِهِمْ صَوْتًا فَقَالَ عُمَرُ: اُرَاهُمْ قَدِ اتَّخَذُوا الْقُرْاٰنَ اَغَانِيَّ اَمَا وَاللّٰهِ لَئِنِ اسْتَطَعْتُ لَاُغَيِّرَنَّ فَلَمْ يَمْكُثْ اِلَّا ثَلَاثَ لَيَالٍ حَتّٰى اَمَرَ اُبَـيًّا فَصَلّٰى بِهِمْ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ فِيْ خَلْقِ اَفْعَالِ الْعِبَادِ وَابْنُ سَعْدٍ وَّجَعْفَرُ الْفِرْيَابِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

٧٧١: نوفل بن اياس الهذلی رحمه الله فرمائی: مونږ به د سيدنا عمر بن الخطاب رضي الله عنه په زمانه کښې په مسجد کښې قيام کولو، يو ډله به هلته ولاړه وه او بله هلته او خلقو به هغه طرف ته رغبت کولو کوم چه به د هغوی نه په آواز کښې ښه وو. نو عمر رضي الله عنه اوفرمائيل: زما د هغوی په باره کښې خيال دې چه هغوی د قرآن کريم نه سندره جوړه کړې ده. قسم په الله! که زما طاقت اوشو نو به ضرور دا بدل کړم، پس هغوی صرف درې ورځې شپې پاتې شو، تردې چه هغوی ابی بن کعب رضي الله عنه ته حکم ورکړو نو هغوی خلقو ته مونځ ورکړو. دا حديث بخاری په خلق افعال العباد کښې او ابن سعد او جعفر الفريابی نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

**تشريح>** (۷۲۲ نه ۷۷۱ پورې) د تير باب په شان د دې باب په احاديثو کښې هم د قيام رمضان د ترغيب مضمون هم دې او په عهد نبوی کښې د تراويح ثبوت هم.

د باب اول روايت ۷۲۲ **عن عروة** (بخاری کتاب الصوم ج ۱ ص ۲۶۶، مسلم ج ۱ ص ۲۵۹) دويم روايت (۷۶۷) **عن زيد بن ثابت** (بخاری ج ۱ ص ۱۰۱، مسلم ج ۱ ص ۲۶۶) کښې د رسول اللهﷺ د قيام الليل معمول منقول دې او دا هم ثابت دی چه رسول اللهﷺ د دې په جماعت باندې مداومت نه وو فرمائيلې او په دې کښې ئې د ويرې اظهار اوفرمائيلو چه چيرته په تاسو باندې فرض نه شی او ځانله ځانله ئې په کورونو کښې د کولو حکم اوفرمائيلو.

**﴿ اتخذ حجرة فی المسجد من حصير ﴾** رسول اللهﷺ په مسجد نبوی کښې د اعتکاف لپاره د پوزکی يو حجره شان جوړه کړې وه هم په هغې کښې به رسول اللهﷺ د رمضان په بابرکت او مقدس ساعتونو کښې د الله پاک په عبادت او ذکر الله کښې مشغول اوسيدلو لهذا په مسجد کښې د پوزکی او ددې قسم دبل څيز د اعتکاف لپاره پرده جوړول جائز دی خو شرط دا دې چه د حاجت او ضرورت نه زيات ځائې نه بندوی ګينې ممنوع او حرام دی. او په دې احاديثو او د باب د ټولو احاديثو يو مدلول دا هم دې چه د تراويح جماعت باجماعت کول سنت دی.

**﴿ فصلوا ايها الناس ﴾** امر د استحباب لپاره دې رسول اللهﷺ دا حکم د وجوب يا لزوم په طور نه دې ورکړې بلکه مقصد دا دې چه د فرض مونځ نه علاوه نور سنن او نوافل په کورونو کښې کول غوره دی وجه ئې ښکاره ده چه د عام سترګو نه بچ کيدلو څخه په کورونو کښې د سنن او نوافل کولو کښې د ريا او نمائش يو ادنی شان جذبه هم باقی نه پاتې کيږی کوم چه د عبادت په سلسله کښې انتهائی مستحسن او مطلوب دې.

**﴿ فان افضل الصلاة ﴾** په دې حکم کښې هغه نوافل او سنن داخل نه دی کوم چه شعائر اسلام دی مثلاصلاة کسوف،صلاة استسقاء،صلاة عيدين وغيره،هغه په مسجد کښې کول اولی او افضل دی.

۷۲۸ : د سيدنا ابوذرؓ دا روايت په ترمذی ج ۱ ص ۱۶۶، ابوداؤد ج ۱ ص ۱۹۵ کښې نقل کړې شوې دې، د دې حديث نه معلومه شوه چه رسول اللهﷺ د رمضان په دوه عشرو کښې صحابه کراموؓ ته د تراويح مونځ نه دې ورکړې وجه هم هغه ده کومه چه په اول حديث کښې بيان کړې شوې دې چه د فرض کيدو ويره وه.

**﴿ الفلاح ﴾** نه مراد پيشمنې دې دې ته فلاح په دې وجه اوئيلې شو چه د دې په وجه باندې د روژې نيولو طاقت حاصليږی کوم چه په حقيقت کښې د فلاح سبب جوړيږی.

په آخری شپو کښې د قیام تفاوت، د فضیلت د تفاوت په اعتبار څخه وو د کومو شپو فضیلت چه کم وو، په هغه شپو کښې ئې قیام کم اوکړو او د کومو شپو فضیلت چه زیات وو په هغه شپو کښې ئې د فضیلت د زیادت په مناسبت څخه قیام هم زیات اوکړو ترديٍ چه په اویشتمه شپه باندې رسول اللهﷺ ټوله شپه قیام اوکړو ځکه چه د اکثرو علماء کرامو د قول مطابق لیلة القدر په اویشتمه شپه دې هم دا وجه ده چه رسول اللهﷺ هم په دې شپه کښې د کور خلق او زنانه راجمع کړل او د ټولو څخه ټوله شپه د الله پاک په عبادت کښې مشغول وو.

۷۶۹: د سیدنا ثعلبه بن ابی مالک القرظی رضی الله عنه روایت بیهقی ج ۲ ص ۴۹۵، ابوداؤد ج ۱ ص ۱۹۵ نه منقول دې مضمون د حدیث واضح دې د سیدنا ابی بن کعب رضی الله عنه په اقتداء کښې د مونځ کونکو رسول اللهﷺ په (قد احسنوا وقد اصابوا) څخه تصدیق اوفرمائیلو. بهر حال د دې احادیثو نه دا خو ثابته شوه چه په رمضان المبارک کښې به د رسول اللهﷺ مجاهده زیاتیدله خصوصا په آخری عشره کښې خو د پوره شپې د قیام معمول وو خو دا په هیڅ روایت کښې نه دی راغلی چه رسول اللهﷺ په رمضان المبارک کښې چه د تراویح کوم جماعت کړې دې په هغې کښې ئې څومره رکعتونه ادا کړل؟

۷۷۰: د دې باب دا روایت، د عبدالرحمٰن بن عبدُ القاریُ نه (بخاری ج ۱ ص ۲۶۶) کښې منقول دې.

دا خبره خو واضحه ده چه د رسول اللهﷺ او ابوبکر صدیق رضی الله عنه په زمانه کښې د تراویح د جماعت باقاعده طریقې څخه اهتمام نه وو بلکه خلقو به ځانله د وړو وړو جماعتونو په صورت کښې کول لکه چه د دې روایت مدلول هم دا دې د ټولو نه اول سیدنا عمر فاروق رضی الله عنه دا خلق په یو امام باندې راجمع کړل دا د خلافت فاروقی د دویم کال یعنی د ۱۴ هجری واقعه ده. (تاریخ الخلفاء ص ۳۱) تاریخ ابن اثیر ج ۲ ص ۱۸۹)

**د نعم البدعة مراد:** د (نعم البدعة) مطلب دا دې چه د جماعت مقرر کیدل ښه بدعت دې نه اصل جماعت، او عمر رضی الله عنه تقریر جماعت ته ښه بدعت اوئیلو نه دا چه د بدعت نه د هغوی مراد اصل جماعت وو ځکه چه جماعت خو د رسول اللهﷺ په عمل څخه ثابت شوې دې چه رسول اللهﷺ ډیر کرته تراویح په جماعت څخه کړې دی. هسې که په حقیقت باندې نظر اوساتلې شی نو معلومه به شی چه دا تقرر د جماعت د ښهٔ بدعت نه هم مخکښې کیدو څخه سنت دې ځکه چه د خلفاء راشدینو قائم کړې شوې طریقې هم سنت دی خلاصه دا چه دلته د بدعت د لغوی معنی اعتبار دې نه د هغه معنی کوم چه د فقهاء کرامو په اصطلاح کښې فهمیږی. د دې باب د آخری روایت ۷۷۱ مدلول هم دا دې چه د تراویح مونځ سنت دې.

لهذا د دې دلائلو په رنړا کښې د جمهور فقهاء اسلام په نزد صلاة التراويح سنت دې بعض د سنت څخه موکده او بعض مسنونه هم وئيلې دې امام سرخسي رحمه الله فرمائی : قال ابوحنيفة رحمه الله يصلي عشرين ركعة كما هو السنة۔ (مبسوط ج ۲ ص ۱٤٤) امام حاكم د يو حديث نقل كولو نه پس ليكلې دی ": فيه الدليل الواضح ان الصلوٰة التراويح في مساجد المسلمين سنة مسنونة وقد كان على بن ابى طالب يحث عمر على اقامة هذا السنة الى ان اقامها۔ (مستدرك حاكم ج: ۱،ص: ۴۴۰)

امام نووی رحمه الله فرمائی :

اعلم ان الصلوٰة التراويح سنة باتفاق العلماء وهي عشرون ركعة۔ (كتاب الاذكار ص: ۸۳)

علامه شوکانی رحمه الله ليکی : التراويح سنة موكدة لمواظبة الخلفاء الراشدين اجماعًا بعد صلوٰة العشاء وهي عشرون ركعة وهو قول الجمهور وعليه عمل الناس شرقًا وغربًا۔

علامه ابن قدامة فرمائی :

وقيام شهر رمضان عشرون ركعة يعني صلوٰة التراويح وهي سنة موكدة واول من سنّه رسول الله صلى الله عليه وسلم الى ان قال ونسبت الى عمر لانه جمع الناس على ابى بن كعب۔ (المغني ج: ۱،ص: ۸۰۲)

د سيدنا العرباض بن سارية رضي الله عنه په روايت کښې دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل :

عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين تمسكوا بها وعضوا عليها بالنواجذ (الحديث) (مسند احمد (ج:۴ ص: ۱۲۶ )، ابوداؤد (ج: ۲، ص: ۲۷۹) ترمذى (ج: ۲،ص: ۹۲) ابن ماجه (ص: ۵ ) موارد الظمآن (ص: ۹۶) مشكوٰة (ج: ۲،ص: ۳۰) مستدرك (ج: ۱،ص: ۹۶) قال الحاكم والذهبي صحيح على شرطهما۔

د دې صحيح او مرفوع روايت نه ثابته شوه چه د حضرات خلفاء راشدين سنت منل هم لازم او ضروری دی کوم سړې چه د خلفاء راشدين سنت نه منی هغه د دې صحيح حديث نه منکر دې.

## بَابُ التَّرَاوِيحِ بِثَمَانِ رَكَعَاتٍ

(۷۷۲) عَنْ اَبِيْ سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ اَنَّـهٗ سَأَلَ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا كَيْفَ كَانَتْ صَلٰوةُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَـيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ رَمَضَانَ فَقَالَتْ مَا كَانَ يَزِيْدُ فِيْ رَمَضَانَ وَلَا فِيْ غَيْرِهٖ عَلٰى اِحْدٰى عَشَرَةَ رَكْعَةً يُصَلِّيْ اَرْبَعًا فَـلَا تَسْأَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُوْلِهِنَّ ثُمَّ يُصَلِّيْ اَرْبَعًا فَـلَا تَسْأَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُوْلِهِنَّ ثُمَّ يُصَلِّيْ ثَـلَاثًا فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! اَتَنَامُ قَبْلَ اَنْ تُوْتِرَ؟ قَالَ يَا عَآئِشَةُ! اِنَّ عَيْنَيَّ تَنَامَانِ وَلَا يَنَامُ قَلْبِيْ۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

**باب: اته رکعته تراويح**: (۷۷۲) د ابوسلمه بن عبدالرحمٰن رحمه الله نه روايت دې چه هغوی د ام المومنين سيده عائشه رضي الله عنها نه پوښتنه اوکړه: د رسول الله ﷺ مونځ به په رمضان المبارک کښې

څنګه وو؟ نو هغې اوفرمائیل : رسول الله ﷺ به په رمضان او غیر رمضان کښې د یولسو رکعتو نه زیات نه ادا کول، اول به ئې څلور رکعته ادا کړل، د هغې د حسن او اوږدوالی پوښتنه مه کوه، بیا به ئې څلور رکعته ادا کړل، د هغې د حسن او اوږدوالی پوښتنه مه کوه، بیا به ئې درې رکعته ادا اوفرمائیل، ما عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ! آیا تاسو د وتر ادا کولو نه مخکښې اوده کیږئ؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل : اې عائشې! بیشکه زما سترګې اوده کیږی او زما زړه نه اوده کیږی.
دا حدیث شیخین نقل کړې دې.

(۷۷۳) وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ صَلّٰى بِنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ شَهْرِ رَمَضَانَ ثَمَانَ رَكْعَاتٍ وَّاَوْتَرَ فَلَمَّا كَانَتِ الْقَابِلَةُ اجْتَمَعْنَا فِي الْمَسْجِدِ وَرَجَوْنَا اَنْ يَّخْرُجَ فَلَمْ يَخْرُجْ فَلَمْ نَزَلْ فِيْهِ حَتّٰى اَصْبَحْنَا ثُمَّ دَخَلْنَا فَقُلْنَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! اِجْتَمَعْنَا الْبَارِحَةَ فِي الْمَسْجِدِ وَرَجَوْنَا اَنْ تُصَلِّيَ بِنَا فَقَالَ اِنِّيْ خَشِيْتُ اَنْ يُّكْتَبَ عَلَيْكُمْ. رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الصَّغِيْرِ وَمُحَمَّدُ بْنُ نَصْرِ الْمَرْوَزِيُّ فِيْ قِيَامِ اللَّيْلِ وَابْنُ خُزَيْمَةَ وَابْنُ حِبَّانَ فِيْ صَحِيْحَيْهِمَا وَفِيْ اِسْنَادِهٖ لِيْنٌ.

۷۷۳: سیدنا جابر بن عبد الله رضی الله عنه فرمائی : مونږ ته رسول الله ﷺ په رمضان کښې اته رکعته مونځ راکړو او وتر ئې راته راکړل، بیا چه کله بله شپه شوه، مونږ په مسجد کښې راجمع شو او مونږ امید اوکړو چه رسول الله ﷺ به راشی. هغوی تشریف رانه وړلو او مونږ هم په مسجد کښې وو. تردې چه مونږ صبا کړو، بیا مونږ (د رسول الله ﷺ په خدمت کښې) حاضر شو او عرض مو اوکړو : یا رسول الله ﷺ! تاسو تیره شپه مونږ په مسجد کښې راجمع کړو او مونږ امید اوساتلو چه تاسو به مونږ ته جماعت راکړئ، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : زه اویریدم چه په تاسو باندې (دا مونځ) فرض نه شی. دا حدیث طبرانی په صغیر کښې، محمد بن نصر المروزی په قیام اللیل کښې، ابن خزیمة او ابن حبان په خپل صحیح کښې نقل کړې دې او د دې په اسناد کښې کمزوری ده.

(۷۷۴) وَعَنْهُ قَالَ جَآءَ اُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! اِنَّهٗ كَانَ مِنِّي اللَّيْلَةَ شَيْءٌ يَّعْنِيْ فِيْ رَمَضَانَ. قَالَ: وَمَا ذَاكَ يَا اُبَيُّ! قَالَ نِسْوَةٌ فِيْ دَارِيْ قُلْنَ اِنَّا لَا نَقْرَأُ الْقُرْاٰنَ فَنُصَلِّيْ بِصَلٰوتِكَ قَالَ: فَصَلَّيْتُ بِهِنَّ ثَمَانَ رَكْعَاتٍ وَّاَوْتَرْتُ فَكَانَتْ سُنَّةَ الرِّضَا وَلَمْ يَقُلْ شَيْئًا. رَوَاهُ اَبُوْ يَعْلٰى وَقَالَ الْهَيْثَمِيُّ اِسْنَادُهٗ حَسَنٌ.

۷۷۴: سیدنا جابر بن عبد الله رضی الله عنه فرمائی : سیدنا ابی بن کعب رضی الله عنه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضریدلو څخه عرض اوکړو : یا رسول الله ﷺ نن شپه ماته یو خبره پیښه شوې ده، یعنی په رمضان کښې، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : اې ابی هغه څه خبره ده ! ابی رضی الله عنه اوفرمائیل : زما په

کور کښې زنانه وې، هغوی اووې : مونږ قرآن کریم نه شو لوستلې، لهذا په تاسو پسې به مونږ کوو، ابی ﷺ فرمائی : نو ما هغوی ته اته رکعته ادا کړل او وتر مې ادا کړل، نو دا سنت رضا شو او رسول الله ﷺ هیڅ او نه فرمائیل.

دا حدیث ابویعلی نقل کړې دې امام هیثمی رحمه الله فرمائی د دې اسناد حسن دې.

(۷۷۵) وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يُوْسُفَ عَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيْدَ اَنَّهُ قَالَ اَمَرَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ وَّتَمِيْمًا الدَّارِيَّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنْ يَّقُوْمَا لِلنَّاسِ بِاِحْدٰى عَشَرَةَ رَكْعَةً وَّكَانَ الْقَارِئُ يَقْرَأُ بِالْمِئِيْنَ حَتّٰى كُنَّا نَعْتَمِدُ عَلَى الْعِصِيِّ مِنْ طُوْلِ الْقِيَامِ وَمَا كُنَّا نَنْصَرِفُ اِلَّا فِيْ فُرُوْعِ الْفَجْرِ. رَوَاهُ مَالِكٌ وَّسَعِيْدُ بْنُ مَنْصُوْرٍ وَّاَبُوْبَكْرِ بْنُ اَبِيْ شَيْبَةَ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

۷۷۵: د محمد بن یوسف نه روایت دې چه سائب بن یزید ﷺ اوفرمائیل : عمر ﷺ ابی بن کعب او تمیم داری ﷺ ته حکم ورکړو چه هغوی خلقو ته یولس رکعته ادا کړی او امام به مئین (سورتونه) تلاوت کول. تردې چه مونږ به د اوږد قیام د وجې نه په همسا باندې تکیه لګوله او مونږ به نه فارغ کیدو مګر د سحر نه لږ مخکښ. دا روایت مالک، سعید بن منصور او ابوبکر بن شیبة نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

**تشریح**> (۷۷۲ نه ۷۷۵ پورې) د دې ځائې نه مصنف رحمه الله د درې بابونو انعقاد کولو څخه د تراویح د رکعاتو د تعداد په سلسله کښې احادیث راوړلو څخه او د هغې حکم بیانولو څخه د مسئلې وضاحت کړې دې.

**تعداد رکعات تراویح او بیان مذاهب:** د تعداد رکعات تراویح په باره کښې درې اقوال ملاویږی.

۱: غیر مقلدین او اصحاب ظواهر د اته رکعته تراویح قائل دی.

۲: د یزید بن رومان او ابن قاسم مالکی رحمه الله په نزد د تراویح مونځ شپږ دیرش رکعته دې (بدایة المجتهد ج ۱ ص ۲۱۰)

۳: د ائمة اربعه او جمهورو په نزد تراویح شل رکعتونه دی. (بدایة المجتهد ج ۱ ص ۲۱۰، العرف الشذی مع الترمذی ج ۱ ص ۱۰۱، بذل المجهود ج ۲ ص ۳۰۵، کتاب الفقه علی المذاهب الاربع ج ۱ ص ۲٤۲) بلکه دا چه د شلو رکعتو تراویح حدیث کښې د عمل رسول ﷺ څخه په مصنف ابن ابی شیبة ج ۲ ص ۳۹٤ کښې په دې الفاظو څخه موجود دې : عن ابن عباس ان رسول الله ﷺ کان یصلی فی رمضان عشرین رکعة والوتر (الحدیث).

**د اته رکعته تراویح د قائلینو دلائل او د جمهورو ځوابات:** ۱: د ابوسلمه بن عبد الرحمٰن عن عائشة

روايت ۷۷۲ (بخاری ج ۱ ص ۲۶۶، مسلم ج ۱ ص ۲۵٤) د اته رکعته تراويح د قائلينو مستدل دې خو حقيقت دا دې چه ۱: په دې روايت کښې د تراويح نه بلکه د تهجد د مانځه بيان دې په دې کښې تصريح ده چه رسول اللهﷺ به په غير رمضان کښې هم يولس رکعته کول او ظاهره ده چه تراويح خو صرف په رمضان کښې کولې شی سيده عائشه رضی الله عنها په دې روايت کښې د هغه مونځ بيان کړې دې کوم چه په رمضان او غير رمضان کښې کولې شی.

وفی بذل المجهود (ج: ۲،ص: ۲۹۰) لا تعلق له بالتراويح لا نفيًا ولا اثباتًا فكانها صلٰوة اخرٰى والاستدلال بهذا الحديث على ان التراويح ثمان ركعات لغو۔

۲: په بعض رواياتو کښې د ﴿ثلاث عشرة﴾ الفاظ دی. اقتصار على احدى عشر خپله رفع شو.

عن ابن عباس رضی الله عنهما قال كان صلٰوة النبى صلى الله عليه وسلم ثلاث عشرة ركعة يعنى بالليل۔(بخاری، ج: ۱،ص: ۱۵۳)

وعن عائشة رضى الله عنها قالت: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم بالليل ثلاث عشرة ركعة ثم يصلى اذا سمع النداء بالصبح ركعتين خفيفتين۔ (بخاری ج: ۱،ص: ۱۵۶)

نو خپله د عائشې رضی الله عنها د روايت نه د يولس رکعتو نه زيات رکعتونه ثابت شو او ج ۱ ص ۱۵٤ کښې هم د هغوی په روايت کښې يصلى اربعا ... ثم يصلى اربعا ... ثم يصلى ثلاثا الفاظ دی او ص ۵۵ کښې د عائشې رضی الله عنها په روايت کښې دی

صلى النبى صلى الله عليه وسلم العشاءَ ثم صلى ثمانى ركعات وركعتين جالسًا وركعتين بين النداءين ولم يكن يدعهما ابدًا۔

او په مسلم ج ۱ ص ۲۵٤ کښې دی: عن ابى سلمة قال سئالت عائشة رضی الله عنها عن صلٰوة صلى الله عليه وسلم فقالت كان يصلى ثلاث عشرة ركعة يصلى ثمان ركعات ثم يوتر وفى روايتها عند البخارى (ج: ۱،ص: ۱۵۴) و مسلم (ج: ۱،ص: ۲۵۴) ثم يصلى ثلاثًا۔ ثم يُصلى ركعتين وهو جالس۔ (الحديث)

قال المباركفورى رحمه الله انه ثبت ان رسول الله صلى الله عليه وسلم كان قد يصلى ثلاث عشرة ركعة سوى ركعتى الفجر (تحفة الاحوذى ج: ۲،ص: ۷۳) لهذا د يولسو رکعاتو خبره باطله شوه.

۳: هم په دې روايت کښې دا الفاظ هم دی لکه چه په بخاری ج ۱ ص ۱۰۱ او ج ۲ ص ۱۰۸۲ کښې دی:

فصلوا ايها الناس فى بيوتكم فان افضل صلٰوة المرء فى بيته الا المكتوبة وفى النسائى (ج: ۱،ص: ۱۸۱) حتى خشيتُ ان يكتب عليكم ولو كتب ما قمتم به فصلوا ايها الناس فى بيوتكم فان افضل صلٰوة المرء فى بيته إلا المكتوبة۔ وفى رواية عليكم بهذا الصلٰوة فى البيوت۔

د دې نه معلومه شوه چه رسول اللهﷺ په کورونو کښې د دې مانځه د کولو حکم ورکړې دې. تاسو د دې روایت خلاف ورزی کولو څخه په مسجدونو کښې ولې کوئ.

۴: د بخاری په دې روایت کښې دی ﴿ كان يصلي اربعا فلا تسئل عن حسنهن وطولهن ﴾ تاسو دوه دوه ولې کوئ؟

۵: د بخاری هم په دې روایت کښې دی. ﴿ ثم يصلي ثلاثا ﴾ رسول اللهﷺ به درې رکعته وتر کول تاسو د دې روایت مخالفت کولو څخه وتر ته یو ولې وایئ؟

۶: رسول اللهﷺ به دا مونځ په پیشمنی کولو تاسو ئې ماسخوتن څخه متصل ولې کوئ؟

۷: رسول اللهﷺ په جماعت څخه صرف درې شپې دا مونځ کړې دې اول شپه تر دریمې حصې شپې پورې، دویمه شپه د نیمې شپې پورې او دریمه شپه ئې ټوله شپه قیام اوکړو. تردې چه د صحابه کرامو ﷺ د پیشمنی د فوت کیدو ویره پیدا شوه. تاسو ئې د ماسخوتن نه پس په یوه نیمه دوه ګهنټې کښې ولې ختموئ؟.

۸: هم د دې باب په بعض روایاتو کښې دی چه رسول اللهﷺ به د څه رکعتونو نه پس اوده کیدو بیا به ئې د پاسیدو نه پس کول تاسو داسې ولې نه کوئ. کما فی النسائی ج ۱ ص ۱۸۵ کښې د ام سلمه ﷺ په روایت کښې دی، **ما لكم وصلاته كان يصلي ثم ينام قدر ما صلى ثم يصلي قدر ما نام ثم ينام قدر ما صلى حتى يصبح. اهـ**

ددې باب دویم روایت ۷۷۳ (صحیح ابن خزیمة ج ۲ ص ۱۳۸، صحیح ابن حبان ج ۵ ص ۶۲، المعجم الصغیر ص ۱۵۵) کښې د جابر بن عبدالله ﷺ نه مروی دې کوم چه د مذکوره حوالې نه علاوه مسند ابی یعلی موصلی ج ۳ ۲۳۶ کښې هم تخریج کړې دې جمهور د دې په ځواب کښې وائی :

الف : د دې حدیث مدار په عیسی بن جاریه باندې دې ابن معین ﷫ فرمائی چه د هغه روایات منکر دی، امام نسائی ﷫ فرمائی چه دا منکر الحدیث دې او د هغه نه متروک روایات بیان کړې شوې دی. (میزان الاعتدل ج ۳ ص ۲۱۱) علامه هیثمی ﷫ فرمائی ابن معین او ابوداؤد هغه ته ضعیف وئیلې دې (مجمع الزوائد ج ۲ ص ۷۲)

ابن عدی وائی د هغه ټول احادیث غیر محفوظ دی (کامل ابن عدی ج ۵ ص ۱۸۸۹) د دې نه علاوه د دې حدیث په سند کښې یعقوب بن عبدالله الاشعری القمی دې امام دارقطنی فرمائی دا قوی راوی نه دې ضعیف دې. (میزان الاعتدال ج ٤ ص ٤٥٢) که ددې نه دا ثابت هم شی چه تراویح اته رکعته دی او زیاتی د سنت مطابق نه دی نو سنن الکبری ج ۲ ص ٤٩٤ او مستدرک حاکم ج ۱ ص ٤٤٠

کښې روايت دې چه رمضان کښې رسول الله ﷺ صرف درې شپې صحابه کرام رضی الله عنهم ته تراويح په جماعت څخه ادا کړې په ۲۳، ۲۴ او ۲۵ شپه باندې نو بيا تاسو ولې ۲۲ يا ۲۷ ورځې د سنت خلاف کوئ که مونږ په دولسو بدعتيان يو نو تاسو د ۲۲ عدد باندې بدعتيان يئ.

۳: دجابربن عبدالله حديث ۷۷۴ (مسند ابی يعلی ج ۳، مجمع الزوائد ج ۲ ص ۷٤) هم دهغوی مستدل دې.

الف : خو امام نيموی په التعليق الحسن کښې ليکلې دی:

قلت لم اقف علی اسنادہ بل اوردہ الهيثمی فی مجمع الزوائد وعزاہ الی ابی يعلیٰ فلينظر اسنادہ۔ (تعليق الحسن)

بله دا چه د علامه هيثمی رحمه الله دې حديث ته حسن وئيل هم صحيح نه دی دا حديث ضعيف دې د دې په سند کښې يعقوب قمی او عيسی بن جاريه دی امام نيموی په دې راويانو باندې په حديث ۷۷۳ کښې جرح کړې ده کوم چه د دې نه مخکښې مسلم ليکلې دی.

ب : سيدنا ابی بن کعب رضی الله عنه امام جوړيدو څخه شل رکعته ورکړل که د هغوی په نزد اته رکعته سنت وې او زيات نه وې نو کله به ئې هم په دې زائد باندې د عمر يو موده عمل نه کولې.

۴: د سائب بن يزيد رضی الله عنه روايت (۷۷۵) (موطاء امام مالک ص ۹۸، مصنف ابن ابی شيبة ج ۲ ص ۳۹۱) کښې د ابی بن کعب او د تميم داری رضی الله عنهما د امامت د حکم مطلب دا دې چه کله هغه امام جوړ شو او کله دې، لهذا احتمال دا دې چه کيدې شی دواړو ته ئې په نمبر نمبر د امامت حکم کړې وی چه څه رکعتونه يو ورکړی او څه بل، او دويم احتمال دا هم دې چه دواړو ته ئې په بيلو بيلو شپو کښې د امامت حکم کړې وی.

په دې حديث کښې د يولسو رکعتونو ذکر دې خو دا قطعی او ثابت شوې حقيقت دې چه په فاروقی عهد کښې به شل رکعته تراويح کولې شوې. لهذا ائمه حديث د دې حديث ځواب کوی او وائی چه عمر رضی الله عنه به کله شل رکعته کړی وی او کله به ئې صرف په يولسو باندې اکتفاء فرمائيلې وی او يا دا چه چونکه د يولسو رکعتو روايات راغلی دی په دې وجه د رسول الله ﷺ څخه د مشابهت په اراده باندې عمر رضی الله عنه په بعض شپو کښې د يولسو رکعتو حکم کړې وی بيا د دې نه پس د تراويح شل رکعتونه مستقل طور څخه مقرر کړې شو لکه چه د رسول الله ﷺ نه هم په يو روايت کښې ۲۳ رکعتونه کول ثابت دی چه په هغې کښې درې رکعتونه د وتر دی. (مظاهر حق)

﴿ کنا نعتمد علی العصا ﴾ د اعتماد علی العصا مطلب دا دې چه هغه وخت به په تراويح کښې دومره اوږد قراءت کيدلو چه مونږ به په قيام کښې په ولاړه ولاړه باندې ستړې شو چه د هغې د وجې نه به په خپله همسا باندې تکيه لګولو باندې مجبور شو پس په دې کښې مسئله دا ده چه په نفل مونځونو کښې عام طور هم خو خاص طور څخه د ضعف په حالت کښې د ډه وهل يا په يو څيز

باندې تکیه وهل جائز دی. (مظاهر حق)

**د امام ترمذی رحمه الله ارشاد**: امام ترمذی رحمه الله فرمائی چه په تراویح کښې د اهل علم اختلاف دې بعض حضرات د وترو څخه د یو څلویښت رکعتو قائل دی د اهل مدینة هم دا قول دې او د هغوی په نزد په مدینة النبی ﷺ کښې هم په دې باندې عمل دې او اکثر اهل علم د شلو رکعتو قائل دی کوم چه د علی، عمر او نورو صحابه کرامو رضی الله عنهم نه روایت کړې شوې دی، د سفیان ثوری، عبدالله بن مبارک او امام شافعی رحمهم الله هم دا قول دې، امام شافعی رحمه الله فرمائی چه ما په خپل ښهر مکه مکرمه کښې خلق په شلو رکعتو باندې لیدلې دی، که رسول الله ﷺ په خپله زمانه کښې اته رکعته کول لکه چه د بعض خلقو اصرار دې نو کم از کم صحابه کرامو رضی الله عنهم کوم چه د نبوت جانثار وو په هغوی کښې به چا خو د رسول الله ﷺ په اقتداء کښې اته رکعته کړې وې.

## بَابُ فِي التَّرَاوِيحِ بِأَكْثَرَ مِنْ ثَمَانِ رَكَعَاتٍ

(٧٧٦) عَنْ دَاوُدَ بْنِ الْحُصَيْنِ أَنَّهُ سَمِعَ الْأَعْرَجَ يَقُولُ مَا أَدْرَكْتُ النَّاسَ إِلَّا وَهُمْ يَلْعَنُونَ الْكَفَرَةَ فِي رَمَضَانَ، قَالَ: وَكَانَ الْقَارِئُ يَقْرَأُ سُورَةَ الْبَقَرَةِ فِي ثَمَانِ رَكَعَاتٍ فَإِذَا قَامَ بِهَا فِي اثْنَتَيْ عَشَرَةَ رَكْعَةً رَأَى النَّاسَ أَنَّهُ قَدْ خَفَّفَ. رَوَاهُ مَالِكٌ وَإِسْنَادُهُ صَحِيحٌ.

**باب: د اته رکعتو نه زیاتې تراویح**: ٧٧٦: د داؤد بن الحصین نه روایت دې چه هغوی د اعرج رحمه الله نه واوریدل: کله نه چه زه په ښه بده پوهه شوې یم نو خلق مې په رمضان کښې په کفارو باندې لعنت کونکی موندلې دی، او قاری به سورة بقره په دولس رکعتو کښې اووې نو خلقو به دا ګنړله چه هغه مختصر مونځ اوکړو. دا حدیث مالک نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

**تشریح> ٧٧٦**: د داؤد بن الحصین عن الاعرج دا روایات په موطاء امام مالک ص ٩٨ کښې منقول دی په حدیث کښې د دې تصریح نشته چه د ټول رمضان په وترو کښې به په کفارو باندې لعنت کولې شو یا په نیم یا آخر کښې، خو غالب ګمان دا دې چه په کفارو باندې د لعنت لیږلو دا عمل د رمضان د آخری نیمې حصې د وترو څخه خاص وو په دې توجیه څخه په دې سلسله کښې راغلې ټولو روایاتو کښې تطبیق پیدا کیږی د دې مفهوم د خپلولو نه پس د دې حدیث د عمر رضی الله عنه د هغه روایت څخه تعارض باقی نه پاتې کیږی چه د هغې نه دا ثابتیږی چه کله د رمضان نیمه حصه تیره شی نو په وترو کښې په کفارو باندې لعنت لیږل سنت دی. په کفارو باندې د لعنت وجه دا وه چه هغوی به د رمضان المبارک په مقدس میاشت کښې د رحمت او احترام رمضان نه محروم وو د قرآن کریم نه به ئې فیض نه حاصلولو او مزاحمت به ئې کولو لهذا هغوی د لعنت مستحق شو.

د صلاة تراويح د رکعتونو د تعداد متعلق ددې نه مخکښې هم عرض کړې شوې دې چه رسول اللهﷺ د تراويح د رکعتونو هيڅ تعداد نه دې متعين کړې بلکه په دې سلسله کښې د هغوی عمل مختلف پاتې شوې دې د هغوی نه اته رکعته هم منقول دی او دا هم راغلی دی چه رسول اللهﷺ يولس رکعته کړې دی هم دغه شان ديارلس او شل رکعته هم ترې منقول دی خو د سيدنا عمرؓ د خلافت په زمانه کښې هغوی د تراويح شل رکعتونه متعين اوفرمائيل د دې نه پس د ټولو صحابه کرامو هم په دې باندې عمل وو، سيدنا عثمان او سيدنا علیؓ هم د خپل خلافت په زمانه کښې د دې انتظام ساتلو، د رسول اللهﷺ ارشاد دې چه زما سنت او زما د خلفاء راشدينو سنت لازم اونيسئ لهذا که يو سړی د رسول اللهﷺ د دې حکم باوجود د تراويح د شلو رکعتونو نه قائل کيږی چه د دې ثبوت قطعی د رسول اللهﷺ د طرف نه نشته نو د هغه په باره کښې سوا د دې نه نور څه وئيلې کيدې شی چه هغه د نبوت د منشاء او د سنت د حقيقت ښکاره خلاف ورزی کوی ـــــ خو د دې تعداد رکعات په باره کښې کوم چه به ابی بن کعبؓ د عمرؓ په حکم باندې خلقو ته ورکول زيات صحيح او صريح هغه اثر دې کوم چه حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری ج ٤ ص ٢٥٣ کښې د امام مالکؒ په حوالې ځنې نقل کړې دی. **روی مالک من طريق يزيد بن خصيفة عن السائب بن يزيد بعشرين.**

## بَابٌ فِي التَّرَاوِيحِ بِعِشْرِيْنَ رَكْعَاتٍ

(٧٧٧) عَنْ يَزِيْدَ بْنِ خُصَيْفَةَ عَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيْدَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانُوْا يَقُوْمُوْنَ عَلٰى عَهْدِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فِيْ شَهْرِ رَمَضَانَ بِعِشْرِيْنَ رَكْعَةً قَالَ وَكَانُوْا يَقْرَءُوْنَ بِالْمِئِيْنَ وَكَانُوْا يَتَوَكَّئُوْنَ عَلٰى عِصِيِّهِمْ فِيْ عَهْدِ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مِنْ شِدَّةِ الْقِيَامِ. رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

**باب: د شل رکعته تراويح په باره کښې:** ٧٧٧: د يزيد بن خصيفة نه روايت دې چه سيدنا سائب بن يزيدؓ اوفرمائيل : چه د عمر بن الخطابؓ په زمانه کښې به خلقو په رمضان المبارک کښې شل رکعتونه ادا کول، راوی وائی او خلقو به مئين سورتونه تلاوت کول او د عثمان بن عفانؓ په زمانه کښې به خلقو د طويل قيام په وجه باندې په خپلو همساګانو باندې تکيه لګوله. دا حديث بيهقی نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(٧٧٨) وَعَنْ يَزِيْدَ بْنِ رُوْمَانَ اَنَّهٗ قَالَ كَانَ النَّاسُ يَقُوْمُوْنَ فِيْ زَمَانِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِؓ فِيْ رَمَضَانَ بِثَلَاثٍ وَّعِشْرِيْنَ رَكْعَةً. رَوَاهُ مَالِكٌ وَّاِسْنَادُهٗ مُرْسَلٌ قَوِيٌّ.

٧٧٨: يزيد بن رومان فرمائی : د عمر بن الخطابؓ په زمانه کښې به خلقو په رمضان المبارک کښې ٢٣ رکعته کول دا حديث مالک نقل کړې دې او د دې اسناد مرسل قوی دې.

(۷۷۹) وَعَنْ يَحْيَ بْنِ سَعِيْدٍ اَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَمَرَ رَجُلًا يُصَلِّيْ بِهِمْ عِشْرِيْنَ رَكْعَة ـ رَوَاهُ اَبُوْ بَكْرِ بْنُ اَبِيْ شَيْبَةَ فِيْ مُصَنَّفِهٖ وَاِسْنَادُهٗ مُرْسَلٌ قَوِيٌّ۔

۷۷۹: د يحيى بن سعيد نه روايت دې چه عمر فاروق رضی الله عنه يو سړي ته حکم ورکړو چه خلقو ته شل رکعته ورکړی. دا حديث ابوبکر بن شيبة په خپل مصنف کښې نقل کړې دې او د دې اسناد مرسل قوی دې.

(۷۸۰) وَعَنْ عَبْدِ الْعَزِيْزِ بْنِ رُفَيْعٍ قَالَ كَانَ اُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يُصَلِّيْ بِالنَّاسِ فِيْ رَمَضَانَ بِالْمَدِيْنَةِ عِشْرِيْنَ رَكْعَةً وَيُوْتِرُ بِثَلَاثٍ اَخْرَجَهٗ اَبُوْبَكْرِ بْنُ اَبِيْ شَيْبَةَ فِيْ مُصَنَّفِهٖ وَاِسْنَادُهٗ مُرْسَلٌ قَوِيٌّ۔

۷۸۰: عبدالعزيز بن رفيع فرمائی: چه ابی بن کعب رضی الله عنه په مدينه طيبه کښې په رمضان المبارک کښې خلقو نه شل رکعته او درې رکعته وتر ورکول. دا حديث ابوبکر بن شيبة په خپل مصنف کښې نقل کړې دې او د دې اسناد مرسل قوی دې.

(۷۸۱) وَعَنْ عَطَآءٍ قَالَ اَدْرَكْتُ النَّاسَ وَهُمْ يُصَلُّوْنَ ثَلَاثًا وَّعِشْرِيْنَ رَكْعَةً بِالْوِتْرِ ـ رَوَاهُ ابْنُ اَبِيْ شَيْبَةَ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

۷۸۱: عطاء رحمه الله فرمائی: ما خلق ښخه د وترو په ۲۳ رکعتو کولو باندې موندلې دی. دا حديث ابن ابی شيبة نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۷۸۲) وَعَنْ اَبِي الْخَصِيْبِ قَالَ كَانَ يَؤُمُّنَا . . . ؟ سُوَيْدُ بْنُ غَفَلَةَ فِيْ رَمَضَانَ فَيُصَلِّيْ خَمْسَ تَرْوِيْحَاتٍ عِشْرِيْنَ رَكْعَةً ـ رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

۷۸۲: ابو الخصيب رحمه الله فرمائی: مونږ ته به سويد بن غفلة په رمضان المبارک کښې مونځ راکولو نو هغوی پنځه ترويحات (يعنی شل رکعتونه راکول. دا حديث بيهقی نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۷۸۳) وَعَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ ابْنُ مُلَيْكَةَ يُصَلِّيْ بِنَا فِيْ رَمَضَانَ عِشْرِيْنَ رَكْعَةً ـ رَوَاهُ اَبُوْبَكْرِ بْنُ اَبِيْ شَيْبَةَ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۷۸۳: د نافع رحمه الله نه روايت دې چه سيدنا ابن عمر رضی الله عنهما اوفرمائيل مونږ ته به په رمضان المبارک کښې ابن ابی مليکة شل رکعته راکول. دا حديث ابوبکر بن شيبة نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(۷۸۴) وَعَنْ سَعِيْدِ بْنِ عُبَيْدٍ اَنَّ عَلِيَّ بْنَ رَبِيْعَةَ كَانَ يُصَلِّيْ بِهِمْ فِيْ رَمَضَانَ خَمْسَ تَرْوِيْحَاتٍ وَّيُوْتِرُ بِثَلَاثٍ اَخْرَجَهٗ اَبُوْبَكْرِ بْنُ اَبِيْ شَيْبَةَ فِيْ مُصَنَّفِهٖ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

قَالَ النِّيمَوِيُّ وَفِي الْبَابِ رِوَايَاتٌ أُخْرَى أَكْثَرُهَا لَا تَخْلُوْ عَنْ وَهْنٍ وَّلٰكِنْ بَعْضُهَا يُقَوِّيْ بَعْضاً۔

۷۸۴: د سعید بن عبید رحمه الله نه روایت دي چه علي بن ربیعه به په رمضان المبارک کښې خلقو ته پنځه ترویحات کښې (شل رکعتونه) او درې وتر ورکول. دا حدیث ابوبکر بن شیبة په خپل مصنف کښې نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

امام نیموی رحمه الله فرمائی: په دې باب کښې نور روایات هم شته چه هغه اکثر د کمزورې نه خالی نه دی، خوهغه یو بل ته تقویت ورکوی.

**تشریح**> (۷۷۷ نه ۷۸۴ پورې) د دې باب ټول روایات د ائمة اربعه او جمهورو مستدل دې.

۱: د باب اول روایت (۷۷۷) (سنن بیقهی ج ۲ ص ٤۹۶) د سائب بن یزید رضی الله عنه نه مروی دې کوم چه د هغوی شاګرد یزید بن خصیفة روایت کوی. قال احمد وابوحاتم والنسائی ثقة وقال ابن معین ثقة حجة (تهذیب التهذیب ج: ۱۱،ص: ۳۴۰)

په عهد فاروقی کښې به د تراویح څو رکعته کیدل د دې ذکر د سائب بن یزید رضی الله عنه په روایت کښې دې، سائب بن یزید د صغار صحابه کرامو رضی الله عنهم نه دې وله ولابیه صحبة (تهذیب التهذیب ج ۳ ص ٤۵۰) د سائب رضی الله عنه دا حدیث د هغوی درې شاګردان نقل کوی.

۱: یزید بن خصیفه ۲: حارث بن عبدالرحمٰن بن ابی ذئب، ۳: محمد بن یوسف. د سائب رضی الله عنه د راوی یزید بن خصیفه درې شاګردان دی، ابن ابی الذئب، محمد بن جعفر او مالک رحمه الله دا درې واړه بالاتفاق شل رکعتونه روایت کوی. د ابن ابی الذئب روایت په سنن الکبری ج ۲ ص ٤۹۶، د محمد بن جعفر روایت په تحفة الاحوذی ج ۲ ص ۷۵ کښې منقول دې خو د محمد بن یوسف رحمه الله د شاګردانو ترمینځه اختلاف راغلې دې.

الف: د امام مالک رحمه الله روایت دې چه عمر رضی الله عنه ابی او تمیم داری رضی الله عنهما ته د یولسو رکعتو کولو حکم کړې وو. (موطاء ص ۹۸)

ب: ابن اسحاق د هغوی نه دیارلس رکعته نقل کوی. (فتح الباری ج ۴ ص ۲۵۳)

ج: داؤد بن قیس او نورحضرات دهغوی نه یویشت رکعتونه نقل کوی.(مصنف عبدالرزاق ج ٤ ص ۲۶۰)

هم د دې تفصیل نه معلومه شوه چه د سیدنا سائب بن یزید رضی الله عنه دوه شاګردان حارث او یزید بن خصیفة او د یزید درې شاګردان متفق اللفظ دی چه عمر رضی الله عنه په شلو رکعتونو باندې خلق راجمع کړې وو او د محمد بن یوسف روایت مضطرب دې بعض د هغوی نه یولس رکعته نقل کوی بعض دیارلس او بعض یویشت. د اصول حدیث د قاعدې مطابق مضطرب حدیث حجت نه وی لهذا د سائب رضی الله عنه صحیح حدیث هم هغه دې کوم چه حارث او یزید بن خصیفه نقل کړې دې او که د

محمد بن يوسف مضطرب او مشکوک روایت هم په څه درجه کښې قابل لحاظ اوګنړلې شی نو د دواړو ترمینځه د تطبیق هم هغه صورت متعین دې کوم چه امام بیهقیؒ ذکر کړې دې چه په یولسو باندې څو ورځې عمل شوې دې بیا په شلو باندې د عمل استقرار اوشو. پس امام بیهقیؒ د دواړو روایتونو د ذکر کولو نه پس لیکلې دی ﴿ ویمکن الجمع بین روایتین فانهم کانوا یقومون باحدی عشرة ثم کانوا یقومون بعشرین ویوتر بثلاث ﴾(سنن الکبری ج ۲ ص ۴۹۶)

د امام بیقهیؒ دا ارشاد چه په عهد فاروقی کښې د صحابه کرامؓ آخری عمل چه په هغې باندې استقرار اوشو شل رکعته تراویح وې په دې باندې ډیر شواهد او قرائن موجود دی.

**د یو اعتراض ځواب:** خو د شواهدو د بیان نه مخکښې د دې اعتراض ځواب ضروری دې څه خلق وائی چه په دې روایت کښې خو دا ثابته شوه چه په عهد فاروقی کښې به خلقو شل رکعته تراویح کولې خو د دې نه دا ځنګه ثابته شوه چه عمرؓ خلق په دې باندې راجمع کړل او خپله ئې هم شمولیت اختیار کړو، محدثین د دې په ځواب کښې وائی چه دا اعتراض مهمل دې دا واقعه د مدینې طیبې ده ټول صحابه کرامؓ دې یو کار کوی او عمرؓ دې د هغې نه غافل وی دا ځنګه کیدې شی حافظ ابن تیمیهؒ فرمائی

فلما جمعهم عمر علی ابی بن کعب کان یصلی بهم عشرین رکعة۔

په فتاوٰی (ج: ۲،ص: ۴۰۱) مدونة الکبرٰی (ج: ۱،ص: ۱۹۴) کښې دی: ان عمر و عثمان کانا یقومان فی رمضان مع الناس۔په فتح الباری (ج: ۲،ص: ۱۸۰) او عمدة القاری (ج:۸،ص: ۳۵۷) کښې دی: ان عمر بن الخطاب جمع الناس فی زمان رمضان علی ابی بن کعبؓ۔ په کنزالعمال (ج: ۲،ص: ۴۸۴) کښې دی: ان عمر امر رجـــلًا ان یصلی بهم عشرین رکعة۔

مقصود دا دې چه دا ټول کارونه د عمرؓ په حکم باندې شوې وو او هغوی په دې کښې خپله شریک شوې هم وو.

**د شلو رکعتو تراویح په استقرار باندې نور شواهد:** ۱: د دې باب دویم روایت ۷۷۸ ﴿ عن یزید بن هارون ﴾ (موطاء امام مالک ص ۹۸) کښې د شلو رکعتو تراویح تصریح ده دا روایت د سند په لحاظ څخه ډیر قوی دې خو مرسل دې ځکه چه یزید بن رومان د عمرؓ زمانه نه ده موندلې خو مرسل حدیث (چه کله ثقة او معتمد سند څخه روایت کړې شی) د جمهورو په نزد حجت دې خو د امام شافعیؒ د حدیث مرسل د حجت کیدو لپاره شرط دا دې چه د هغې تائید په یو بل سند یا مرسل څخه شوې وی چونکه د یزید بن رومان د روایت په تائید کښې نور ډیر روایات موجود دی

کوم چه مصنف رحمه الله هم په دې باب کښې ليکلې دی په دې وجه دا په اتفاق د اهل علم ځخه حجت دې دا بحث خو د عام مراسيل په باره کښې وو د موطاء د مراسيل په باره کښې د اهل حديث فيصله دا ده چه هغه ټول صحيح دی پس امام الهند شاه ولی الله محدث دهلوی په حجة الله البالغة کښې ليکی:

قال الشافعي رحمه الله اصح الكتب بعد كتاب الله مؤطا مالك واتفق اهل الحديث على ان جميع ما فيه صحيح على رأي مالك ومن وافقه، واما على رأي غيره فليس فيه مرسل ولا منقطع الاقد اتصل السند به من طرق اخرى فلا جرم انها صحيحة من هذا الوجه وقد صنّف في زمان مالك موطات كثيرة في تخريج احاديثه ووصل منقطعه مثل كتاب ابن ابي ذئب وابن عيينه والثوري ومعمر۔ (حجة الله البالغة ج: ۱، ص: ۱۳۳)

بيا په شل رکعته تراويح باندې اصل استدلال خو د سائب بن يزيد رضي الله عنه د روايت نه دې چه د هغې د صحيح کيدو تصريح مخکښې عرض کړې شوې ده. او دلته د يزيد بن رومان روايت په طور د تائيد ذکر کړې شوې دې.

۲: د دې باب دريم روايت ۷۷۹ عن يحيى بن سعيد (مصنف ابن ابی شيبة ج ۲ ص ۳۹۳) هم د دې مويد دې امام نيموی رحمه الله فرمائی واسناده مرسل قوی بعض خلقو په دې باندې د عمر رضي الله عنه نه د منقطع کيدو اعتراض کړې دې پس امام نووی رحمه الله په مقدمه د شرح مسلم ص ۱۷ کښې ليکی چه که د روايت مرسل اعتضاد اوشی نو هغه د هغه خلقو په نزد هم حجت دې کوم چه مرسل حجت نه منی او دا په دويم روايت ځخه معتضد دې.

۳: د روايت ۷۸۰ د عبد العزيز بن رفيع (مصنف ابن ابی شيبة ج ۲ ص ۳۹۳) مدلول هم دا دې کوم چه قوی موید دې هم دغه شان روايت ۷۸۱ عن عطاء مصنف ابن ابی شيبه (ج: ۳ ص: ۳۹۳) روايت (۷۸۲): عن ابی الخصيب سنن الکبریٰ (ج: ۲، ص: ۴۹۶) روايت (۷۸۳): عن نافع عن ابن عمر رضي الله عنهما مصنف بن ابی شيبه (ج: ۲، ص: ۳۹۳) روايت (۷۸۴): عن سعيد بن عبيد مصنف ابن ابی شيبه (ج: ۲، ص: ۳۹۳) قوی قرائن او شواهد دی۔

د دې باب د ټولو رواياتو نه علاوه ﴿ وقال النيموی وفی الباب روايات اخری ﴾ هم دی مونږ د تطويل نه د بچ کيدو لپاره هم په دې باندې اکتفاء کوو بهر حال د پورته ذکر شوې رواياتو په رڼا کښې اهل علم د دې قائل دی چه عمر رضي الله عنه خلق په شلو رکعتو باندې راجمع کړل او صحابه کرامو رضي الله عنهم هغوی ځخه موافقت اوکړو نو دا په منزله د اجماع وه.

**تراويح په زمانه د صحابه کرامو او تابعينو کښې:** د سيدنا عمر رضي الله عنه په زمانه کښې د شلو رکعتو

معمول شروع شو نو روستو هم کم از کم د شلو معمول وو. د بعض صحابه کرام او تابعین نه د زیاتو روایات خو مروی دی، خو د چا نه صرف د اتهٔ رکعتو روایت نشته.

۱: د سیدنا سائب رضی الله عنه روایت پورته تیر شوې دې چه په هغې کښې هغوی په عهد فاروقی کښې د شلو رکعتو معمول ذکر کولو څخه هم په دغه سیاق کښې د عهد عثمانی ذکر کړې دې.

۲: عبدالله بن مسعود رضی الله عنه چه دهغه وفات د عهد عثمانی په آخری زمانه کښې شوې دې هغوی به هم شل رکعته ورکول. (قیام اللیل)

۳: عن ابی عبد الرحمٰن السلمی عن علی رضی الله عنه انهٗ دعا القرأ فی رمضان فأمر منهم رجلا یصلی بالناس عشرین رکعة وکان علی یوتر بهم. (سنن کبریٰ بیهیقی ج: ۱،ص: ۹۵۴)

ابو عبدالرحمٰن سلمی رحمه الله فرمائی چه سیدنا علی رضی الله عنه په رمضان کښې قاریان راجمع کړل. پس په هغوی کښې ئې یو سړی ته حکم ورکړو چه هغه دې خلقو ته شل رکعته ورکړی او علی رضی الله عنه به شل رکعته ورکول. (سنن کبری للبیهقی ج ۲ ص ٤٩٥) ددې په سند کښې حماد بن شعیب باندې محدثینو کلام کړې دې. خو د دې ډیر شواهد موجود دی.

د ابوعبدالرحمٰن سلمی دا روایت شیخ الاسلام حافظ ابن تیمیة رحمه الله په منهاج السنة کښې ذکر کړې دې. او د دې نه ئې استدلال کړې دې چه علی رضی الله عنه د عمر رضی الله عنه جارې کړې شوې تراویح په خپل دور خلافت کښې باقی اوساتلې. ۲: حافظ ذهبی رحمه الله په المنتقی مختصر منهاج السنة کښې د حافظ ابن تیمیة استدلال بغیر د نکیر نه ذکر کړې دې، د دې نه واضحه شوه چه د دې دواړو په نزد د سیدنا علی رضی الله عنه په عهد کښې د شل رکعته تراویح معمول جاری وو.

۴: عن عمرو بن قیس عن ابی الحسنا ان علیاً امر رجلاً یصلّی بهم فی رمضان عشرین رکعة (مصنف ابن ابی شیبه ص ۳۹۳ ج ۲)

(عمرو بن قیس د ابو الحسنا نه روایت کوی چه علی رضی الله عنه یو سړی ته حکم ورکړو چه خلقو ته په رمضان کښې شل رکعته ورکوی. (مصنف ابن ابی شیبة ج ۲ ص ۳۹۳)

۵: عن ابی سعد البقال عن ابی الحسناء ان علی بن ابی طالب رضی الله عنه امر رجلا ان یصلّی بالناس خمس ترویحات عشرین رکعة وفی هذا الاسناد ضعیف. (سنن کبری بیهقی ج: ۲،ص: ۴۹۵)

ابوسعد بقال د ابوالحسناء نه نقل کوی چه سیدنا علی رضی الله عنه یو سړی ته حکم ورکړو چه خلقو ته پنځه ترویحې یعنی شل رکعته ورکوی. امام بیهقی رحمه الله فرمائی د دې په سند کښې ضعف دې. (سنن کبری بیهقی ج ۲ ص ٤٩٥)

علامه ابن الترکمانی په الجوهر النقی کښې لیکی چه ظاهره خو دا ده چه د دې سند ضعف د ابوبقال د وجې نه دې کوم چه متکلم فیه راوی دې. خو د مصنف ابن ابی شیبة په روایت کښې (کوم چه پورته تیر شوې دې) د دې متابع موجود دې چه په هغې څخه د دې د ضعف کمې پوره کیږی. (ذیل کبری بیهقی ج ۲ ص ۴۹۵).

۲: عن شتیر بن شکل وکان من اصحاب علی رضی الله عنه انه کان یومهم فی شهر رمضان بعشرین رکعة ویوتر بثلاث۔(سنن کبری ج: ۲،ص: ۴۹۴)(قیام اللیل ص: ۹۱)

شتیر بن شکل، کوم چه د علی رضی الله عنه په اصحابو (ملګرو) کښې وو. هغه به خلقو ته په رمضان المبارک کښې شل تراویح او درې رکعته وتر ئې ورکول.

امام بیهقی رحمه الله د دې اثر نقل کولو نه پس فرمائی: ﴿ وفی ذلک قوة﴾ او په دې کښې قوة دې بیا د دې په تائید کښې هغوی د ابو عبدالرحمٰن السلمی اثر ذکر کړې دې کوم چه پورته تیر شو.

۷: عن ابی الخصیب قال کان یؤمنا سوید بن غفلة فی رمضان فیصلی خمس ترویحات عشرین رکعة۔(سنن کبری(ج: ۲،ص: ۴۹۵)۔قال النیموی واسناده حسنٌ(آثار السنن ص: ۵۵)

ابو الخصیب فرمائی چه سعید بن غفله به مونږ ته په رمضان کښې مونځ راکولو پس پنځه ترویحې شل رکعته به ئې راکول. علامه نیموی فرمائی چه د دې سند حسن دې.

د سوید بن غفله رحمه الله شمیر په کبار تابعین کښې کیږی. هغوی د جاهلیت زمانه هم موندلې ده،. او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند کښې ئې اسلام قبول کړو خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم زیارت ئې اونکړو ځکه چه مدینې طیبې ته هغه ورځ اورسیدلو په کومه ورځ چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم تدفین اوشو. په دې وجه د صحابیت په شرف باندې مشرف نه شو. روستو ئې په کوفه کښې استوګنه اختیار کړه او د عبدالله بن مسعود او د علی رضی الله عنهما په خاص اصحاب کښې وو. په ۸۰ هجری کښې ئې د یو سل دیرشو کالو په عمر کښې وفات اوشو. (تقریب)

۸: عن الحارث انه کان یؤم الناس فی رمضان باللیل بعشرین رکعة و یوتر بثلاث ویقنت قبل الرکوع۔(مصنف ابن ابی شیبه ج: ۲،ص: ۳۹۳)

حارث به په رمضان کښې خلقو ته شل رکعته تراویح او درې رکعته وتر ورکول. او د رکوع نه مخکښې به ئې قنوت لوستلو. (مصنف ابن ابی شیبة ص ۳۹۳ ج ۲)

۹: په قیام اللیل کښې د عبدالرحمٰن بن ابی بکرة، سعید بن الحسن او عمران العبدی نه نقل کړې دی چه هغوی به شل رکعته تراویح ورکولې. او په آخری عشرة کښې به ئې د یوې ترویحې اضافه کوله. (قیام اللیل ص ۹۲)

حارث، عبدالرحمٰن بن ابی بکرة، قیام اللیل کښې د ابی بکره په ځائې ابی بکر د طباعت غلطی ده (م ۹۲ هجری) او سعید بن الحسن (م ۱۰۸هجری) درې واړه د علی رضي الله عنه شاګردان دی.

۱۰: ابو البختری به هم شل رکعته او درې رکعته وتر ورکول. (مصنف ابن ابی شیبة ج ۲ ص ۳۹۳)

۱۱: علی بن ربیعة، کوم چه د علی رضي الله عنه په اصحاب کښې وو. هغوی به شل رکعته تراویح او درې وتر ورکول. (مصنف ابن ابی شیبة ج ۲ ص ۳۹۳)

۱۲: ابن ابی ملیکة (م ۱۱۷ هـ) به هم شل رکعته تراویح ورکولې. (مصنف ابن ابی شیبة ج ۲ ص ۳۹۳)

۱۳: عطاء رحمه الله (م ۱۱٤ هـ) فرمائی خلق د وترو څخه په ۲۳ رکعتو کولو باندې لیدلې دی. (مصنف ابن ابی شیبة ج ۲ ص ۳۹۳)

۱۴: موطاء امام مالک کښې د عبدالرحمٰن بن هرمز الاعرج (م ۱۱۷ هـ) روایت دې چه ما خلق په داسې حالت کښې موندلې دی چه هغوی به په رمضان کښې په کفارو باندې لعنت کولو. او قاری به په اته رکعتو کښې سورة بقرة ختموله. که هغه به په دولسو رکعتو کښې سورة بقرة ختم کړه نو خلقو به دا محسوس کوله چه هغه په قراءت کښې تخفیق اوکړو. د موطاء امام مالک ص ۹۹ د دې روایت مقصود خو په تراویح کښې طول قراءت بیانول دی خو د روایت د سیاق نه معلومیږی چه صرف په اتهٔ رکعته تراویح باندې به اکتفاء نه کیدله.

خلاصه دا چه د کله نه د عمر رضي الله عنه د تراویح باقاعده جماعت جارئ کړو نو همیشه به شل یا د هغې نه زیاتې تراویح کولې شوې، خو په ایام حرة (۶۳ هجری) ته نزدې اهل مدینه په هره ترویحه کښې د څلورو رکعتو اضافه اوکړه په دې وجه به ئې د وترو څخه یو څلویښت رکعتونه کول. او بعض نورو تابعینو به هم په آخری عشره کښې اضافه کوله. بهرحال د صحابه کرامو او تابعینو په دور کښې د اته رکعتو معمولی نه معمولی ثبوت هم نه ملاویږی. په دې وجه کومو حضراتو چه دا فرمائیلې دی چه د عمر رضي الله عنه په زمانه کښې په شلو رکعتو باندې د صحابه کرامو رضي الله عنهم اجماع شوې وه د هغوی ارشاد مبنی بر حقیقت دې ځکه چه حضرات سلف صالحین په دې تعداد باندې د اضافې خو قائل وو. خو د دې نه د کم والې قول د چا نه هم منقول نه دې. په دې وجه دا وئیل صحیح دی چه په دې خبره باندې د سلف اجماع وه چه د تراویح کم از کم تعداد شل رکعاته دې.(اختلاف امت او صراط مستقیم)

**د شاه ولی محدث دهلوی ارشاد:** شاه ولی الله محدث دهلوی رحمه الله فرمائی : وزادت الصحابة ومن بعدهم فی قیام رمضان ثلثة اشیاء الاجتماع له فی مساجدهم، وذلك لانه یفید التیسیر علی خاصتهم وعامتهم واداءه فی اول

الليل مع القول بأن صلوٰة آخر الليل مشهورة و هي افضل كما نبه عمر رضي الله عنه لهذا التيسير الذى اشرنا اليه وعدوه عشرون ركعة۔ (حجة الله البالغة ج: ۲،ص: ۸۱)

**په شلو ركعتو باندې د اجماع تفصيل**: الغرض شل رکعته عمر رضي الله عنه مقرر فرمائيلي وو هغه وخت د صحابه کرامو رضي الله عنهم ډير لوئي تعداد موجود وو په هغوی کښې چا هم د عمر رضي الله عنه په دې عمل باندې نکير نه دې فرمائيلي بلکه په دې باندې ئې عمل کړې دې د دې نه پس ټول صحابه کرام او تابعين په دې باندې عمل کونکی وو دا د دې خبرې دليل دې چه په شل رکعتو باندې د صحابه کرامو اجماع منعقد شوې وه.

علامه حبيب الرحمٰن اعظمی ليکلی دی په شلو رکعتو باندې د عمل کولو (يعنی د اجماع ذکر حافظ ابن عبدالبر مالکی رحمه الله کړې دې) مصابيح، سيوطی، "هداية السائل" نواب صديق حسن خان صاحب ص ۱۳۸،

او امام نووی شافعی رحمه الله ليکلې دی ﴿ ثم استقر الامر على عشرين فأنه المتوارث ﴾ يعنی بيا په شلو رکعتو باندې عمل قرار اونيولو. ځکه چه هم دغه د سلف نه خلف ته برابر راروان دې) او ابن قدامة حنبلی په مغنی کښې ليکلې دی ﴿ وهذا كالاجماع ﴾. او ابن حجر مکی شافعی ليکلې دی :: ولكن اجمعت الصحابة على ان التراويح عشرون ركعة. (مرقاة) او دومره خو حافظ ابن تيمية هم منلې ده چه ﴿وهو يعمل به اكثر المسلمين ﴾ اوګورئ رکعات تروايح ص ۹۲، بلکه ابن تيمية دا هم ليکی :

''قد ثبت ان أبي بن كعب كان يقوم بالناس عشرين ركعة في قيام رمضان ويوتر بثلاث، فراى كثير من العلماء ان ذلك هو السنة لأنه اقامه بين المهاجرين و الانصار ولم ينكره منكر'' (مجموع فتاوى ابن تيمية رحمه الله ج: ۲،۳،ص: ۱۱۲)

بهرحال صحابه کرامو څخه د رسول الله صلى الله عليه وسلم څه قول يا فعل موجود وو اګر که هغه مونږ ته په صحيح سند څخه نه دې رارسيدلې د دې تائيد د ابن عباس د مرفوع حديث نه کيږی کوم چه په مصنف او مسند عبد بن حميد کښې نقل کړې شوې دې ان رسول الله صلى الله عليه وسلم كان يصلي في رمضان عشرين ركعة والوتر۔ (مطلب العاليه ج: ۱،ص: ۴۴۱)

دا حديث اګر چه سندا ضعيف دې وقال ابوصيری مداره على ابراهيم بن عثمان وهو ضعيف (كذا فی تعليق المطالب العالية ج ۱ ص ۱۴۶) خود مويد بالاجماع والتعامل کيدو په بناء باندې په دې کښې قوت پيدا کيږی. فتاوی رحيمية ج ۱ ص ۳۳۷) کښې دی چه ابن عباس او ابن عمر رضي الله عنهم دواړه صحابه دی د هغوی ترمينځه څوک ضعيف راوی نشته چه د هغې د وجې نه حديث د ابن عباس رضي الله عنهما ته

ضعیف اوئیلې شی او د صحابه کرامو عمل په یو ضعیف حدیث باندې فهم کړې شی.
د هغوی عمل په صحیح بنیاد باندې وو لهذا د هغوی اتباع کونکی څنګه دهوکه خوړلې شی؟ غرض دا چه د صحابه کرامو رضی الله عنهم په اعتبار ځخه دا حدیث هر ګز ضعیف نه دې خو روستو د یو ضعیف راوی ابراهیم بن عثمان د شامل کیدو نه روستو مذکوره روایت ته روایة ضعیف وئیلې کیدې شی خو درایة به صحیح وی ځکه چه د خلفاء راشدین وغیره صحابه کرامو په شلو رکعتو باندې عمل او همیشوالې ددې د معتبر کیدو دلیل دې. علامه بحرالعلوم فرمائی : **ومواظبة الصحابة علی عشرین قرینة صحة هذه الروایة** ﴾ یعنی د صحابه کرامو په شلو رکعتونو باندې مواضبت د دې خبرې قرینه او علامت دې چه د ابن عباس رضی الله عنهما روایت صحیح دې.

**د ائمۀ اربعه او سلف صالحین په نزد** : حضرات ائمۀ اربعه او د هغوی مقلدین او جمهور سلف صالحین د شلو رکعتو نه د کم تراویح قائل نه دی اکثر اهل علم هم د دې قائل دی چه صلاة تراویح شل رکعته دی پس امام ترمذی رحمه الله په ج. ۱ ص ۹۹ باندې د دې تصریح کړې ده لکه چه په تیرو صفحاتو کښې نقل کړې شوې دی امام ترمذی رحمه الله خو د امام احمد په باره کښې فرمائی چه هغوی بالکل فیصله اونکړې شوه چه د تراویح څو رکعتونه دی خو امام موفق الدین ابن قدامة الحنبلی فرمائی : والمختار عند ابی عبد الله (احمد بن حنبل) فیها عشرون رکعة و بهذا قال الثوری وابو حنیفة رحمه الله والشافعی وقال مالك ست وثلاثون.(المغنی ج: ۱،ص: ۸۰۳)

امام شافعی رحمه الله په کتاب الام ج ۱ ص ۲۰۲ کښې لیکی :

فاما قیام شهر رمضان فصلوة المنفرد احبّ الیّ ورأیتهم بالمدینة یقومون بتسع وثلاثین واحبّ اِلیّ عشرون لانه روی عن عمر رضی الله عنه وکذالك یقومون بمکة ویوترون بثلاث ...... الخ.

علامه ابن رشد رحمه الله په هدایة المجتهد ج۱ ص۲۰۲ کښې لیکی:

واختلفوا فی المختار من عدد الرکعات الّتی یقوم بها الناس فی رمضان فاختار مالك رحمه الله فی احد قولیه و ابوحنیفة رحمه الله و الشافعی رحمه الله و احمد رحمه الله وداؤد رحمه الله القیام بعشرین رکعة سوی الوتر وذکر ابن القاسم رحمه الله عن مالك رحمه الله انه کان یستحسن ستًا وثلاثین رکعة والوتر ثلاث ... الخ.

او په قیام اللیل ص ۹۲ کښې دی چه د عمر بن عبد العزیز رحمه الله په زمانه کښې به هم شپږ دیرش رکعته کیدل. د دې وجه دا بیان کړې شوې ده چه په مسجد حرام کښې به د یو ترویحې نه پس دومره وقفه کیدله چه همت والا خلقو به یو طواف کولو. په مسجد نبوی کښې چونکه طواف خو شته نه هغوی به د هر ترویحې نه پس څلور رکعته بیل کول د هغوی به شپاړس رکعتونه زیات شو او د آخری

ترویحې نه پس به وتر کیدل په دې لحاظ څخه، څخه د وترو د هغوی تول رکعتونه یو کم څلویښت رکعتونه شو.

او په مقنع ج ۱ ص ۱۸۳ کښې دی : (وهو کتاب الفقه علی مذهب ابی عبد الله احمد رحمه الله بن حنبل رحمه الله) ثم التراويح وهي عشرون ركعة يقوم بها في رمضان في جماعة ... الخ۔

و في الاقناع (ج: ۱، ص: ۱۴۷) (وهو كتاب في الفقه على مذهب الحنابلة) التراويح عشرون ركعة في رمضان يجهر فيها بالقرأة وفعلها في جماعة افضل ولا ينقصها ولا بأس بالزيادة ... الخ۔

امام نووی رحمه الله په المهذب ج ۲ ص ۳۲ کښې لیکی : مذهبنا انها عشرون ركعة بعشر تسليمات غير الوتر وذلك خمس ترويحات والترويحة اربع ركعات بتسليمتين هذا مذهبنا وبه قال ابوحنيفة رحمه الله واصحابه (رحمهم الله) واحمد رحمه الله وداؤد رحمه الله وغيرهم ونقله القاضي عياض رحمه الله عن جمهور العلماء ... الخ۔

مولانا سید محمد انور شاه صاحب رحمه الله فرمائی : ولم يقل احد من الائمة الاربعة بأقل من عشرين ركعة في التراويح واليه ذهب جمهور الصحابة رضوان الله تعالى عليهم ... الخ۔

(العرف الشذي ص: ۳۰۸، في الترمذي ج: ۱، ص: ۱۲۶)

د دې تولو مضبوطو حوالو نه دا خبره ښه ښکاره شوه چه ائمة اربعه او نور ائمة کرام او د هغوی په تابعدارو کښې څوک هم د شلو رکعتو نه د کم تراویح قائل نه وو او په حرمین شریفین کښې اوس هم د الله پاک په فضل شل رکعته تراویح کیږی. (ملخصا از خزائن السنن)

## بَابُ قَضَآءِ الْفَوَائِتِ

(۷۸۵) عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ نَّسِيَ صَلٰوةً فَلْيُصَلِّ اِذَا ذَكَرَهَا لَا كَفَّارَةَ لَهَا اِلَّا ذٰلِكَ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِكْرِيْ۔ رَوَاهُ الْجَمَاعَةُ۔

**باب: د فوت شوې مونځونو قضاء: ۷۸۵:** د سیدنا انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل : کوم سړې چه مونځ (کول) هیر کړی نو کله چه ورته رایاد شی هغه دې اوکړی د دې کفاره صرف هم دا ده، او قائم کړه مونځ زما د یادیه وخت، دا حدیث د محدثینو جماعت نقل کړې دې.

(۷۸۶) وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ جَآءَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ بَعْدَ مَا غَرَبَتِ الشَّمْسُ فَجَعَلَ يَسُبُّ كُفَّارَ قُرَيْشٍ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا كِدْتُ اُصَلِّي الْعَصْرَ حَتّٰى كَادَتِ الشَّمْسُ تَغْرُبُ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا صَلَّيْتُهَا اِلٰى بُطْحَانَ فَتَوَضَّأَ لِلصَّلٰوةِ وَتَوَضَّأْنَا لَهَا فَصَلَّى الْعَصْرَ بَعْدَ مَا غَرَبَتِ الشَّمْسُ ثُمَّ صَلّٰى بَعْدَهَا الْمَغْرِبَ۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

۷۸۶: د جابر بن عبدالله رضی الله عنه نه روایت دې چه عمر بن الخطاب رضی الله عنه د خندق په ورځ د نمر پریوتلو نه پس راغلو نو کفار قریش ته ئې بدې ردې شروع کړې، هغوی عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ! ما د مازیګر مونځ اونکړې شو، تردې چه نمر پریوتلو ته نزدې شو، رسول الله ﷺ اوفرمائیل: ما هم د مازیګرمونځ نه دې کړې، نو مونږ بطحان (د یو ځائې نوم دې) کښې اودریدلو رسول الله ﷺ اودس اوفرمائیلو، مونږ هم د مانځه لپاره اودس اوکړو نو رسول الله ﷺ د مازیګر مونځ د نمر پریوتلو نه پس اوکړو. بیا ئې د ماښام مونځ د هغې نه روستو ادا کړو. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۷۸۷) وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهٗ كَانَ يَقُوْلُ مَنْ نَسِيَ صَلٰوةً فَلَمْ يَذْكُرْهَا اِلَّا وَهُوَ مَعَ الْاِمَامِ فَاِذَا سَلَّمَ الْاِمَامُ فَلْيُصَلِّ الصَّلٰوةَ الَّتِيْ نَسِيَ ثُمَّ لِيُصَلِّ بَعْدَهَا اُخْرٰى. رَوَاهُ مَالِكٌ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

۷۸۷: د سیدنا عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دې هغوی به فرمائیل: کوم سړی نه چه مونځ هیر شی، بیا د امام څخه د مونځ کولو دوران کښې هغه ته رایاد شی، پس کله چه امام سلام واړوی، نو هغه هیر کړې مونځ دې اوکړی، بیا دې د هغې نه پس بل مونځ اوکړی. دا حدیث مالک نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

**تشریح>** (۷۸۵ نه ۷۸۷ پورې) د دې باب د لاندې دا مسئله بیان کړې شوې ده چه که یو سړې اودهٔ شی یا ترې د مانځه وخت لاړ شی یا ترې نه مونځ هیر شی او د مانځه وخت فوت شی نو هغه له څه کول پکار دی. نو په دې سلسله کښې په المنتخب الافکار ج ٤ ص ۱۱۶ نه ۱۱۷ پورې درې مذاهب نقل کړې شوې دی.

**قضاء الفوائت او بیان مذاهب:** ۱: د اکثر اهل ظواهر او بعض غیر مقلدین په نزد یو فوت شوې مونځ لره دوه کرته کول واجب دی یو کرت کله چه ورته مونځ رایاد شی او دویم کرت چه کله په بله ورځ د هم هغه مانځه وخت راشی.

۲: د بعض اهل ظاهر او بعض محدثینو په نزد یو کرت کول واجب دی خو چه کله ورته رایاد شی هغه وخت به ئې نه کوی بلکه هغې څخه متصل چه کوم فرض مونځ راروان دې په هغې کښې به د فرضو څخه د هغې قضاء کوی.

۳: د ائمة اربعه او جمهور فقهاء او محدثینو په نزد یو کرت کول واجب دی هغه هم کله چه ورته رایاد شی هم هغه وخت فورا کول ئې ضروری دی د بل مونځ د راتلو انتظار به نه شی کولې د ائمة اربعه بیا په خپل مینځ کښې اختلاف دې.

الف: د ائمة ثلاثه په نزد که ورته په اوقات ممنوعه کښې رایاد شو نو په اوقات ممنوعه کښې به ئې کوی.

ب : د احناف حضرات په نزد په اوقات ممنوعه مثلا طلوع شمس، استواء او د غروب شمس په اوقاتو کښې به ئې نه کوی بلکه د اوقات مشروع انتظار کول لازم دی سفیان ثوری رحمه الله هم د دې قائل دې، د احنافو په نزد د قضاء باب موسع دې یعنی د یاد راتلو او ویخیدو نه پس ئې هر وخت کولې شی. لهذا په اوقات مکروهه کښې ئې ادا کول صحیح نه دی.

**د ائمة ثلاثه دلائل:** د دې باب اول روایت ۷۸۵ **عن انس بن مالک** (ترمذی ج ۱ ص ۴۳، بخاری ج ۱ ص ۸۴) د ائمة ثلاثة مستدل دې هغوی د الفاظو د عموم نه استدلال کوی چه قضاء مونځ بالکل په هم هغه وخت باندې کول ضروری دی چه کله انسان د خوب نه رابیدار شی تردې چه په اوقات ممنوعه کښې ئې هم ادا کړی د احضرات **احادیث النهی عن الصلاة فی الاوقات المکروهة** د دې عموم نه مخصص منی.

احناف حضرات وائی چه په اوقات مکروهه کښې د نهی صحیح او صریح روایات دی. دا حدیث د هغه احادیثو نه مخصص دې.

لهٰذا په دې اوقاتو کښې مونځ صحیح نه دې لهذا د ﴿ **اذا ذکرها** ﴾ نه هغه اوقات خارج دی، قاضی شوکانی رحمه الله لیکی چه حق خبره دا ده چه نوافل که ذات الاسباب وی یا غیر ذوات الاسباب په اوقات مکروهه کښې صحیح نه دی او په اوقات ممنوعه کښې قضاء هم صحیح نه ده. (نیل الاوطار ج ۲ ص ۲۳)

**دویم** دا چه په دې حدیث باندې د عمل تشریح رسول الله ﷺ د لیلة التعریس په واقعه کښې بیان فرمائیلې ده هم دا وجه ده چه حدیث د تعریس په دې واقعه کښې د اصل حیثیت لری پس په هغې کښې دا تصریح موجود ده چه رسول الله ﷺ د بیداریدلو څخه هلته د مونځ کولو په ځائې د هغه ځائې نه لږ وړاندې تشریف یوړلو او هلته ئې مونځ ادا اوفرمائیلو په داسې حال کښې چه نمر کافی اوچت شوې وو.

**دریم** دا چه خپله امام شافعی رحمه الله هم د حدیث الباب په الفاظو ﴿ **فلیصلها اذا ذکرها** ﴾ په عموم باندې عمل نه کوی د هغوی په نزد هم په بعض صورتونو کښې مونځ موخر کول ضروری دی خو که زنانه ته د حیض په حالت کښې مونځ رایاد شی نو د پاکیدو پورې تاخیر ضروری دې چه کله امام شافعی رحمه الله د دې تخصیص قائل دې نو په اوقات مکروه کښې په تخصیص کولو کښې څه باک دې. بهر حال د دې حدیث واضح مطلب دا دې چه د یاد راتلو نه پس د شرعی قواعدو مطابق دې مونځ ادا کړې شی لهذا که په شرعی قواعدو کښې څه وجه د تاخیر موخر وی نو موخر کول به واجب وی.

**څلورم** دا چه په رسائل الارکان (از بحر العلوم لکهنوی) کښې دی چه په **(اذا ذکرها)** کښې چه څنګه اذا د ظرفیت لپاره کیدې شی هم دغه شان د شرطیت لپاره هم کیدې شی لکه چه په نور الانوار وغیره کښې دی **﴿ اذا تصبک خصاصة فتجمل ﴾** اوس که په حدیث الباب کښې **﴿ اذا ذکرها ﴾** د **﴿ ان ذکرها ﴾** په معنی کښې واخستلې شی نو هیڅ اشکال نه پاتې کیږی په دې صورت کښې به مفهوم دا وی که رایاد شی نو مونځ دې اوکړی او ظاهره دا ده چه دا به د یاد راتلو د وخت څخه مقید نه وی.

**په وجوب د قضاء کښې ناسی او عامد برابر دی:** دلته دا خبره هم یاد ساتئ چه په وجوب د قضاء کښې ناسی او عامد دواړه برابر دی لکه څنګه چه د ناسی په ذمه قضاء واجب ده هم دغه شان د عمدا پریخودونکی په ذمه هم قضاء واجب ده. حافظ ابن تیمیة، ابن حزم، ابوعبدالرحمٰن الشافعی او داؤد ظاهری ﷺ د جمهور امت خلاف د عمدا پریخودلې شوې مونځونو قضاء ته نه واجب وائی او نه ئې صحیح ګڼړی، پس په اختیارات علمیه د شیخ الاسلام ابن تیمیة کښې دی چه د عمدا پریخودلې شوی لپاره په شریعت کښې دقضاء حکم نشته اونه به دهغې په ادا کولو څخه صحیح شی.

**د احنافو دلائل:** امام ابوحنیفه رحمه الله **ومن وافقه** د طرف نه دا دلیل پیش کولې شی چه د ډیرو صحابه کرامو رضی الله عنهم چه په هغوی کښې عمر، ابوهریره، ابن عمر، ابوسعید الخدری، عقبه بن عامر او ابوبصره رضی الله عنهم وغیرهم نه روایات راغلی دی او د کومو زیات تفصیل چه په صحیح مسلم ج ۱ ص ۲۷۵ کښې منقول دې چه رسول الله ﷺ په اوقات مکروه کښې د مونځ کولو نه منع فرمائیله ده،

علامه ابن عبدالبر رحمه الله فرمائی چه د صلاة الصبح او صلاة عصر نه پس د نهی عن الصلاة احادیث متواتر او اوقات ثلاثة (طلوع، استواء او د غروب په وخت د نهی احادیث صحیح دی.(العرف الشذی ص ۱۰۱)

امام نووی رحمه الله فرمائی چه د سحر او مازیګر نه پس قضاء مونځونه کول بالاتفاق صحیح دی خو داسې مونځونه چه ذوات الاسباب وی د هغې په صحت کښې اختلاف دې چه په دې اوقاتو یا د طلوع و استواء او غروب په وختونو کښې د هغې ادا کول صحیح دی یا نه؟ مثلا تحیة المسجد، تحیة الوضوء، صلاة کسوف، سجده تلاوت، سجده شکر، صلاة العید، جنازة وغیره چه د دې مونځونو اسباب دی مثلا دخول مسجد سبب دې د تحیة المسجد، اودس سبب دې د تحیة الوضوء او په دې ئې قیاس کوه !!! خلاصه دا چه احادیث د نهی په اوقات مکروهه کښې د مونځ کولو نه معنا متواتر دی او په دې کښې هر قسم مونځ ناجائز ګرزولې شوې دې او د دې عدم جواز په عموم کښې قضاء مونځونه هم شامل دی.

**په قضاء مونځونو کښې د ترتیب مسئله**: د باب په دویم روایت ۷۸۲ عن جابر بن عبدالله رضی الله عنهما (بخاری ج ۱ مسلم ج ۱ ص ۲۲۷) کښې د ترتیب مسئله ذکر ده.

۱: که د چا نه مونځ پاتې شی نو چه ورته رایاد شی نو د هغې قضاء دې اوکړی په دې شرط چه اوقات مکروهه نه وی او قضاء دې په وقتی مونځ باندې مقدم کړی مثلا د ماسپخین، مازیګر او ماښام مونځ قضاء شو او د ماسخوتن په وخت کښې ئې ادا کوی نو اول دې د ماسپخین اوکړی بیا د مازیګر او ماښام، د هغې نه پس دې وقتی فرض یعنی ماسخوتن اوکړی چه په فوائت وقتیه کښې ترتیب راشی دا ترتیب د احنافو په نزد واجب دې، علامه عینی په عمدة القاری کښې او ابن قدامة په المغنی کښې ذکر کړې دی چه ابراهیم النخعی، زهری، ربیعه، یحیی انصاری، لیث، امام مالک، امام احمد او امام اسحاق رحمهم الله هم د دې قائل دی او د ابن عمر رضی الله عنهما نه هم دا مروی دی.

۲: د امام شافعی رحمه الله په نزد دا ترتیب واجب نه دې بلکه مستحب دې، طاوس، ابوثور، ابن القاسم او سخنون هم د دې قائل دی او د اهل ظواهر مذهب هم دا دې.

**د حدیث جابر رضی الله عنه شرح او توضیح**: حدیث جابر رضی الله عنه کښې د غزوه خندق واقعه بیان کړې شوې ده په دې خبره باندې ټول روایت متفق دی چه د غزوه خندق په موقع باندې د رسول الله ﷺ نه څه مونځونه قضاء شوې وو خو د هغې په تعداد او تعین کښې اختلاف دې د ترمذی په یو روایت کښې **﴿ عن اربع صلوات یوم الخندق ﴾** تصریح ده، په دې باب کښې د صحیحین په حوالې څخه صرف د یو مونځ د قضاء کیدلو ذکر دې او د موطاء په روایت کښې د ماسپخین او د مازیګر دې. (معارف السنن ج ۱ ص ۱۰۸) او د نسائی په یو روایت کښې د ماسپخین، مازیګر او ماښام بیان دې.(نسائی ج ۱ ص ۱۰۲) بعض محدثینو دې ته یو واقعه وئیلې ده او د تطبیق لپاره د **﴿حفظ کل ما لم یحفظه الاخر ﴾** اصول اختیاروی د هغوی په قول په حقیقت کښې درې مونځونه قضاء شوې وو راویانو د یو یا دوه ذکر اوکړو او د باقی ذکر ئې اونکړو خو دا ځواب په دې وجه ضعیف دې چه په حدیث دجابر رضی الله عنه (د صحیحین په حوالې څخه) کښې دا تصریح ده چه رسول الله ﷺ د ماښام په وخت کښې د مونځ قضاء اوفرمائیله او د ترمذی په روایت کښې د ماسخوتن په وخت د څلورو مونځونو د قضاء ذکر دې. بعض حضرات فرمائی او صحیح هم دا ده چه رسول الله ﷺ د ډیرو ورځو پورې په غزوه خندق کښې مصروف وو په دې کښې ډیر کرت مونځ قضاء شوې دی او د دې سلسلې ټول روایات په مختلف واقعاتو باندې محمول دی.

لکه چه د دې باب د روایات جابر رضی الله عنه نه معلومیږی چه رسول الله ﷺ اول قضاء مونځ اوکړو او بیا د ماښام په وقتی مونځ او فوت شوې مونځ کښې ئې د ترتیب لحاظ اوساتلو دغه شان

ټول روايات په دې باندې هم متفق دی چه رسول اللهﷺ د څلورو واړو مونځونو ادائيګئ کښې هم د ترتيب لحاظ اوساتلو ائمة ثلاثه او جمهور د فوائت په ادا کولو کښې د وجوب ترتيب استدلال هم د دې نه کوی او د امام شافعی او ابوثور په نزد دا ترتيب مستحب دې.

خو د احنافو په نزد ترتيب د کثرت فوائت او د وخت د تنګ والی او نسيان د وجې نه ساقط کيږی، د امام مالک رحمه الله په نزد ترتيب اګر چه د وخت د تنګ والی او د نسيان د وجې نه ساقط دې خو په کثرت د فوائت څخه نه ساقط کيږی، امام احمد رحمه الله د نسيان د وجې نه د سقوط قائل نه دې او د دې سقوط صرف په ضيق وقت باندې محمول کوی.

شوافع حضرات فرمائی چه په دې حديث کښې صرف د رسول اللهﷺ عمل منقول دې او دا عمل د ترتيب په استحباب باندې محمول دې، ائمة ثلاثه د رسول اللهﷺ عمل په وجوب باندې حمل کوی او د دې دوه وجوهات دی.

**الف** : يو خو دا چه د رسول اللهﷺ ارشاد دې ﴿صلوا کما رايتمونی اصلی﴾(تلخيص الخبير ج ۱ ص ۲۱۷)

**ب** : دويم دا چه هم د دې باب په آخری روايت ۷۸۷ کښې د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما (په موطاء امام مالک ص ۱۵۵) کښې د ابن عمر رضی الله عنهما ارشاد نقل کړې شوې دې چه د هغې نه د ترتيب وجوب مستفاد کيږی.

# [اَبْوَابُ سُجُوْدِ السَّهْوِ]

## بَابُ سُجُوْدِ السَّهْوِ قَبْلَ السَّلَامِ

(۷۸۸) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بُحَيْنَةَ الْاَسَدِيِّ حَلِيْفِ بَنِيْ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ فِيْ صَلٰوةِ الظُّهْرِ وَعَلَيْهِ جُلُوْسٌ فَلَمَّا اَتَمَّ صَلٰوتَهُ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ يُكَبِّرُ فِيْ كُلِّ سَجْدَةٍ وَهُوَ جَالِسٌ قَبْلَ اَنْ يُّسَلِّمَ وَسَجَدَهُمَا النَّاسُ مَعَهُ مَكَانَ مَا نَسِيَ مِنَ الْجُلُوْسِ. رَوَاهُ الشَّيْخَانِ.

### ابواب: سجده سهوه

**باب : د سلام نه مخکښې سجده سهو : ۷۸۸**: د بنی المطلب حليف سيدنا عبدالله بن بحينة الاسدی رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول اللهﷺ د ماسپخين په مانځه کښې اودريدلو او د هغوی په ذمه کيناستل وو (يعنی د مينځ قعده ترې نه هيره شوه) چه کله رسول اللهﷺ مونځ پوره کړو، نو د هير کړی تشهد په بدل کښې ئې د سلام اړولو نه مخکښې دوه سجدې اوکړې په هره سجده کښې به ئې تکبير وئيلو او خلقو هم ورڅخه سجده اوکړه. دا حديث شيخينو نقل کړې دې.

(٧٨٩) وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِنِ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا شَكَّ أَحَدُكُمْ فِيْ صَلٰوتِهٖ فَلَمْ يَدْرِكَمْ صَلّٰى ثَلَاثًا أَمْ أَرْبَعًا فَلْيَطْرَحِ الشَّكَّ وَلْيَبْنِ عَلٰى مَا اسْتَيْقَنَ ثُمَّ يَسْجُدُ سَجْدَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يُّسَلِّمَ فَإِنْ كَانَ صَلّٰى خَمْسًا شَفَعْنَ لَهٗ صَلٰوتَهٗ وَإِنْ كَانَ صَلّٰى إِتْمَامًا لِأَرْبَعٍ كَانَتَا تَرْغِيْمًا لِلشَّيْطَانِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

٧٨٩: د سيدنا ابوسعيد الخدري رضی الله عنه نه روايت دي: رسول الله ﷺ اوفرمائيل: په تاسو کښې چه کله د چا په مانځهٔ کښې شک پيدا شي او هغه ته معلومه نه وی چه هغه درې رکعته کړې دی يا څلور نو هغه له پکار دی چه شک ختم کړی او په يقين دې بناء اوکړی، بيا دې د سلام نه مخکښې دوه سجدې اوکړی، پس که هغه پنځه رکعتونه کړې وی نو دا پنځه رکعتونه به (د دوه سجدو د وجې نه) د هغه مونځ جفت کړی، که هغه د څلور پوره کولو لپاره (يو رکعت) کړې دې، نو دا به شيطان لره ذليله کونکې شی. دا حديث مسلم نقل کړې دې.

(٧٩٠) وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِذَا شَكَّ أَحَدُكُمْ فِيْ صَلٰوتِهٖ فَلَمْ يَدْرِ وَاحِدَةً صَلّٰى أَمْ ثِنْتَيْنِ فَلْيَجْعَلْهَا وَاحِدَةً وَإِذَا لَمْ يَدْرِ ثِنْتَيْنِ صَلّٰى أَمْ ثَلَاثًا فَلْيَجْعَلْهَا ثِنْتَيْنِ وَإِذَا لَمْ يَدْرِ ثَلَاثًا صَلّٰى أَمْ أَرْبَعًا فَلْيَجْعَلْهَا ثَلَاثًا ثُمَّ يَسْجُدُ إِذَا فَرَغَ مِنْ صَلٰوتِهٖ وَهُوَ جَالِسٌ قَبْلَ أَنْ يُّسَلِّمَ سَجْدَتَيْنِ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَةَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَصَحَّحَهٗ وَهُوَ مَعْلُوْلٌ.

٧٩٠: سيدنا عبدالرحمٰن بن عوف رضی الله عنه فرمائی: ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل: کله چه په تاسو کښې د چا په مانځهٔ کښې شک پيدا شی او هغه ته پته نه لګی چه هغه يو رکعت کړې دې يا دوه نو هغه دې يو شمار کړی او چه کله په دې نه پوهيږی چه هغه دوه کړی دی يا درې نو هغه دې دوه شمار کړی او کله چه ورته دا معلومه نه وی چه هغه درې کړې دی يا څلور نو هغه دې درې شمار کړی، بيا چه کله د خپل مانځه نه فارغ شی نو په ناسته باندې دې د سلام نه مخکښې دوه سجدې اوکړی. دا حديث احمد، ابن ماجه، او ترمذی نقل کړې دې، ترمذي دې ته صحيح وئيلې دې او دا حديث معلول دې.

**تشريح** (٧٨٨ نه ٧٩٠ پورې) د فرائض، نوافل او قضاء مونځونو نه پس د هغه څيز بيان دې چه په هغې څخه د مونځ نقصان پوره کړې شی او هغه سجده سهوه دې په سجود السهو کښې اضافت از قبيل اضافت مسبب الى السبب دې کما يقال سجدة التلاوة...خيار العيب، خيار الشرط کفارة القتل، کفارة الظهار، په درمختار کښې دی چه دا د قبيلې د اضافت نه حکم الى السبب دې په دې صورت کښې اشکال دا دې چه حکم خو د وجوب دې نه سجده کول څواب دا دې چه دا اضافت په تقدير د مضاف دې. ای وجوب سجود السهو.

سهو او نسيان بيا صاحب ليکلي دی چه د لغت په اعتبار څخه سهو او نسيان کښې هيڅ فرق نشته د دواړو معنی د يو څيز د څه حاجت په وخت ياد نه راتلل دی خو په جمع الجوامع کښې دی چه سهو دې ته وائی چه د معلوم څيز نه غفلت راشی يعنی په ادنی تنبيه څخه په دې باندې خبردار شی او نسيان د معلومې خبرې بالکل هيريدلو ته وائی.

د ابن امير الحاج په شرح تحرير کښې دی چه فقهاء، اصوليين او د اهل لغت په نزد په دې کښې هيڅ فرق نشته خو حکماء په دې کښې فرق کړې دې او هغه دا چه د قوة حافظة او قوة مدرکه نه د دواړو د صورت زوال ته نسيان وائی، تردې چه د دې په حصول کښې د سبب جديد احتياج پيدا شی، او صرف د قوت مدرکه نه د صورت زوال ته سهو وائی.

**د سهو او نسيان مواقع:** محدثين د مانځه په سلسله کښې د رسول الله ﷺ د سهو او نسيان د مواقع نشاندهی کړې دې ده، مولانا سيد محمد انور شاه صاحب په فيض الباری ج ۲ ص ۳٤ کښې ليکی:

**ثم اعلم ان وقائع سهو النبی ﷺ اربعة حرزها الشيخ تقی الدين ابن دقيق العيد ..... الخ.**

حافظ ابن القيم رحمه الله په زاد المعاد ج ۱ ص ۷٤ کښې څو واقعات نقل کولو څخه وائی:

**فهٰذا مجموع ما حفظ عنه ﷺ مه سهوه فی الصلاة وهی خمسة مواضع.** په احاديثو کښې:

**اوله واقعه** په صحيح بخاری ج ۱ ص ۱٦۳ کښې راځی: ﴿ **ان رسول الله ﷺ صلی الظهر خمسا** ﴾ **الحديث.**

**دويمه واقعه** بخاری ج ۱ ص ۱٦٤ کښې راځی ﴿ **عن ابی هريرة قال صلی بنا النبی ﷺ الظهر او العصر فصلی رکعتين ثم سلم** ﴾

**دريمه واقعه** په ابوداؤد ج ۱ ص ۱٤۸ کښې داسې راځی ﴿ **عن عبدالله ابن بحينة** ﴾ (د عبدالله د پلار نوم مالک او بحينة ئې د مور نوم دې لکه چه په ترمذی ج ۱ ص ۵۲ کښې تصريح ده او د قاعدې مطابق د ابن نه مخکښې الف کيدل پکار دی لکه په عبدالله بن ابی ابن سلول او اسماعيل ابن علية کښې) **قال صلی لنا رسول الله ﷺ رکعتين ثم قام فلم يجلس الحديث** ... يعنی قاعده اولی ترې پاتې شوه.

**څلورمه واقعه** په نسائی ج ۱ ص ۱۱۰ کښې ده: **ان النبی ﷺ صلی صلاة الصبح فقراء الروم فالتبس عليه.**

**پنځمه واقعه** په مستدرک ج ۱ ص ۲٦۱ کښې د معاويه بن خديج رضی الله عنه روايت دې: **قال صليت مع رسول الله ﷺ المغرب فسهی فسلم فی الرکعتين الحديث قال الحاکم والذهبی علی شرطهما.** شاه صاحب په فيض الباری ج۲ ص ۳٤ کښې ددې واقعې حواله هم ورکوی. **ترک من صلاة المغرب قعدة الاولی.** که دا هم هغه واقعه وی کومه چه په روايت د ابوداؤد تيره شوه نو پنځه واقعات به وی ګينې بيا شپږ جوړيږی.

**یوه علمی فائده:** حافظ ابن دقیق العید په احکام الاحکام ج ۱ ص ۷۸ کښې لیکی: انّہ (ای حدیث ذی الیدین فی السهو) یدل علٰی جواز السهو فی الافعال علی الانبیاء علیهم السّلام و هو مذهب عامة العلماء والنظار وهٰذا الحدیث ممایدل علیه وقد صرّح النبی صلی الله تعالٰی علیه وسلم فی حدیث ابن مسعود رضی الله عنه بانه ینسٰی کما ینسون ۔وشذت طائفة من المتوغلین فقالت لا یجوز السهو علیه وانما ینسٰی علیه عمدًا ویتعمد صورة النسیان لیس وهٰذا باطل لاخباره صلی الله تعالٰی علیه وسلم بانه ینسٰی۔

په قرآن کریم کښې دی: {واذکر ربك اذا نسیت} (الأية) وفی حدیث ابن مسعود رضی الله عنه عند البخاری (ج: ۱،ص:۵۸) ومسلم (ج: ۱،ص:۲۱۳) نحوهٗ انما انا بشر انسٰی کما تنسون فاذا نسیت فذکرونی... الخ ۔وفی الموطأ مالك (ص: ۳۵) مالك انه بلغهٗ ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال انی لَاَنسٰی لا سنّ فی الحاشیة الاوّل معروف من المجرد، والثانی مجهول من المزید... الخ ۔ (ملخصًا از خزائن السنن)

**بیان مذاهب:** حافظ زید الدین العراقی رحمه الله په شرح ترمذی کښې اته مذاهب نقل کړی دی لاندې مشهور مذاهب نقل کولې شی.

۱: د احنافو په نزد د سجده سهو محل د سلام نه پس دې که سهو د زیات څخه وی او که د نقصان څخه وی په صحابه کرامو کښې د ابن مسعود، ابن عباس، عمار، انس، علی، سعد بن ابی وقاص، عبد الله بن الزبیر رضی الله عنهم او په تابعین کښې د ابراهیم النخعی، ابن ابی لیلی توری او حسن بن صالح رحمهم الله هم د دې قائل دی. (ذکره الحازمی فی الناسخ والمنسوخ)

۲: امام شافعی رحمه الله د زیادت او نقصان هر دواړو صورتونو کښې د سلاٗم نه مخکښې قائل دی، علامه عینی رحمه الله فرمائی د سجود السهو علی الاطلاق د سلام نه مخکښې کیدل د ابو هریره، زهری، مکحول، ربیعه، اوزاعی او لیث نه روایت کړې شوې دی.

۳: د امام مالک او مزنی په نزد په صورت د نقصان کښې قبل السلام اود زیادة کښې د سلام نه پس دې عندهم القاف بالقاف والدال بالدال یعنی په نقصان کښې قبل السلام او په زیادت کښې بعد السلام.

۴: امام احمد رحمه الله فرمائی چه په کومو صورتونو کښې چه رسول الله ﷺ سجده سهو قبل السلام اوکړه هلته قبل السلام او په کومو ځایونو کښې چه ئې بعد السلام اوکړی هلته به بعد السلام وی او چیرته چه په صورت د نسیان د رسول الله ﷺ نه یو شیز ثابت نه دې هلته د امام مالک رحمه الله والا تفصیل دې. (ذکره القسطلانی فی شرح البخاری) خلاصه دا چه ائمة ثلاثه په یو نه یو صورت کښې دسجده سهو قبل السلام قائل دی او امام ابو حنیفه رحمه الله په هرصورت کښې بعد السلام باندې عمل کوی د رسول الله ﷺ نه دواړه ثابت دی دا اختلاف صرف په افضلیت کښې دې.

**د امام شافعی رحمه الله دلائل**: ۱: د دې باب اول روایت ۷۸۸ **عن عبدالله بن بحینة** (بخاری ج ۱ ص ۱۶٤، مسلم ج ۱ ص ۲۱۱) د امام شافعی رحمه الله مستدل دې کوم چه د سجده سهوه **قبل ان یسلم** تصریح ده. احناف حضرات فرمائی چه د عبدالله بن بحینة رضی الله عنه دا روایت ۱: په بیان د جواز باندې محمول دې. ۲: دا هم احتمال دې چه په دې کښې د قبل السلام نه مراد هغه سلام وی کوم چه د سجده سهو نه پس د تشهد لوستلو نه روستو په آخر کښې کولې شی. ۳: (مظاهر حق ج ۱ ص ۶۷۵) کښې دی چه سیدنا عمر رضی الله عنه به د سلام د اړولو نه پس سجده سهو کوله کوم چه په دې باندې دلالت کوی چه دا حدیث منسوخ دې. امام شافعی رحمه الله دې حدیث ته ناسخ او بعد السلام والا روایاتو ته منسوخ وئیلې دی خو په دې باندې هیڅ دلیل نشته.

عبدالله بن بحینة، بحینة د هغوی د مور نوم دې، **وقیل اسم ابیه** د هغوی د پلار نو مالک دې لکه چه په ترمذی ج ۱ ص ۵۲ کښې د دې تصریح ده لهذا د کومې قاعدې مطابق چه د ابن نه مخکښې الف کیدل پکار دی لکه چه عبدالله بن ابی ابن سلول او اسمعیل ابن علیة ځکه چه الف صرف په هغه صورت کښې ساقط کیږی چه کله د عملین متناسلین ترمینځه وی.

**د رکعتونو په تعداد کښې شک او د امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله مسلک**: د مونځ د رکعتونو په تعداد کښې د شک راتلو په صورت کښې د امام ابوحنیفه رحمه الله مسلک دا دې، الف: که دا اول کرت شوې وی نو اعادة ده یعنی مونځ دې د اول سر نه اوکړی. ب: که مصلی ته عموما داسې صورت پیښیږی نو تحری کولو ځخه دې په ظن غالب باندې عمل اوکړی. ج: که ظن غالب هم نه وی نو بناء علی الاقل دې اوکړی هم دا تفصیل ابن القیم په زاد المعاد ج ۱ ص ۷۵ او علامه مبارکپوری په تحفة الاحوذی ج ۱ ص ۳۰۶ کښې نقل کړې دې. د دې باب آخری دواړه روایات (۷۸۹ **عن ابی سعید الخدری** (مسلم ج ۱ ص ۲۱۱، ابوداؤد ج ۱ ص ۱٤۷) او ۷۹۰ **عن عبدالرحمن بن عوف** (مسند احمد ص۸۶ ترمذی ج ۱ ص ۵۳) د مسلک امام ابوحنیفه رحمه الله د دریم جزء دلائل دی چه په هغې کښې تصریح ده چه کله ظن غالب هم نه وی نو بنا دې په اقل باندې اوکړی باقی پاتې شو جزء اول (یعنی کله چه شک په اول کرت راغلې وی) نو د دې صحیح دلیل د رسول الله ﷺ بیان کړې دا ضابطه ده **﴿دع ما یریبک الی ما لا یریبک﴾** (بخاری ج ۱ ص ۲۷۵) او په (الجامع الصغیر ج ۲ ص ۱۵) کښې د ډیرو صحابه کرامو رضی الله عنهم نه چه په هغوی کښې انس او ابن عمر رضی الله عنهما هم دی روایت کړې شوې دې. **وقال صحیح** لهذا د دې عمومی روایت د وجې نه به مونځ د سر نه کوی.

**د رکعتونو په تعداد کښې شک د مذاهبو تفصیل اود احنافو د مسلک وجوهِ ترجیح :** د امام اوزاعی او امام شعبی رحمة الله علیهما مسلک دا دې چه په هر حالت کښې اعادة واجب ده مګر دا چه د رکعتونو د تعداد یقین پیدا شی د حسن بصری رحمه الله مسلک دا دې چه په هر حالت کښې سجده سهوه واجب ده که بناء په اقل باندې کوی یا بنا په اکثر باندې. ائمة ثلاثه فرمائی چه په ظن غالب باندې دې مدار ساتی که نه وی نو بناء علی الاقل دې اوکړی بله دا چه د هغوی په نزد په هر هغه رکعت باندې کیناستل ضروری دی چه د هغې په باره کښې دا امکان وی چه دا آخری رکعت کیدې شی بله دا چه سجده سهوه هم لازم ده. په مسئله کښې د اختلاف وجه د روایاتو اختلاف دې په بعض روایاتو کښې د اعادې حکم دې کما فی روایة ابن عمر قال اذا شک فلم یدرکم صلی اعاد (مصنف ابن ابی شیبة ج ۲ ص ۲۸) د سیدنا ابن مسعود رضی الله عنه په روایت کښې د تحری حکم دې ﴿اذا شک احدکم فی صلاته فلیتحر الصواب﴾ (بخاری ج ۱ ص ۵۸، مسلم ج ۱ ص ۲۱۱) اود باب په دې دواړو روایاتو کښې د بناء علی الاقل حکم دې د ائمة ثلاثه په دې احادیثو کښې د بناء علی الاقل والا احادیث اختیار کړې دی او سجده سهوه ئې په هغې باندې محمول کړې ده اوزاعی او شعبی د استیناف والا حدیث اخستلې دې او باقی ئې ترک کړې دې امام ابوحنیفه رحمه الله په ټولو احادیثو باندې عمل کړې دې او د هر حدیث یو مخصوص محمل منلو څخه په احادیثو کښې بهترین تطبیق ورکړې دې شیخ عبدالحق محدث دهلوی رحمه الله د مسئله مذکوره تجزیه کولو څخه لیکی چه په دې موقع باندې حاصل د کلام دا دې چه د دې مسئلې په سلسله کښې درې احادیث منقول دی. د اول حدیث مطلب دا دې چه کله په یو مانځه کښې شک واقع شی نو هغه له پکار دی چه هغه د صحیح خبرې د حاصلولو لپاره تحری اوکړی یعنی په غالب ګمان باندې عمل اوکړی. د دریم حدیث مفهوم دا دې چه کله په مانځه کښې شک واقع شی نو په یقین باندې عمل کول پکار دی، یعنی په کوم اړخ چه ې یقین وی نو په هغې دې عمل اوکړې شی.

امام ابوحنیفه رحمه الله دا درې واړه احادیث په خپل مسلک کښې راجمع کړې دی داسې چه هغوی اول حدیث خو اول کرت د شک په واقع کیدو باندې محمول کړو، دویم حدیث ئې په یو طرف باندې د غالب ګمان کیدو په صورت باندې محمول کړو او د دریم حدیث ئې هم په یو اړخ باندې په غالب ګمان نه کیدو صورت باندې محمول کړو.

شیخ عبدالحق رحمه الله فرمائی : دا د امام ابوحنیفه رحمه الله د مسلک د کمال جامعیت او انتهائی محقق کیدو دلیل دې.

**په سجده سهوه کښې حکمت او فائده:** ﴿ فأن كان خمسا شفعن ﴾ په حديث کښې د سهو د دواړو سجدو فائده بيان کړې شوې ده چه که يو سړی په مذکوره صورت کښې د درې رکعتو تعين کولو څخه يو رکعت زيات اوکړو حال دا چه په حقيقت کښې هغه څلور رکعتونه مخکښې کړې وو دغه شان د هغه پنځه رکعتونه شو نو دا پنځه رکعتونه به د دې دواړو سجدو د وجې نه دا مونځ شفع (جفت کړی څکه چه دا دواړه سجدې د يو رکعت په حکم کښې دی يعنی دا پنځه رکعتونه به د دې دوه سجدو څخه يوځائې کيدو باندې د شپږو رکعتونو په حکم کښې شی او که په حقيقت کښې درې رکعتونه کړې وو او د سهو په صورت کښې هغه د درې تعين کولو څخه يو رکعت اوکړو او د هغه څلور رکعتونه پوره شو نو د هغه دا دواړه سجدې به د شيطان د ذلت سبب شی يعنی په دې صورت چه هر کله دې سړی څلور رکعتونه کړی دی نو د دواړو سجدو ضرورت نشته چه هغه مونځ جفت کړی لکه چه په اول صورت (د پنځه رکعتو کولو په صورت کښې) د دې دواړو سجدو کولو ضرورت وو خو د دې دواړو سجدو چه په ظاهر کښې زياتيدل معلوميږی د دې نه دا فائده اوشوه چه په دې څخه د شيطان ذلت او ناکامی راغله. څکه چه د شيطان مقصد خو دا وو چه هغه مونځ کونکې په شک او شبه کښې اخته کولو څخه د مانځه نه منع کړی حال دا چه مونځ کونکی د هغې برعکس دوه سجدې نورې کولو څخه د عبادت پريخودلو په ځائې په هغې کښې نور زيادت اوکړو کوم چه يقينی خبره ده چه د شيطان د ناکامئ او نامرادئ باعث دې.

## بَابُ سُجُوْدِ السَّهْوِ بَعْدَ السَّلَامِ

(۷۹۱) عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْصَرَفَ مِنَ اثْنَتَيْنِ فَقَالَ لَهٗ ذُوالْيَدَيْنِ اَقُصِرَتِ الصَّلٰوةُ اَمْ نَسِيْتَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اَصَدَقَ ذُوالْيَدَيْنِ؟ فَقَالَ النَّاسُ: نَعَمْ! فَقَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّی اثْنَتَيْنِ اُخْرَيَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ ثُمَّ كَبَّرَ فَسَجَدَ مِثْلَ سُجُوْدِهٖ اَوْ اَطْوَلَ ثُمَّ رَفَعَ۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

---

**باب د سلام نه پس سجده سهوه:** ۷۹۱: د سيدنا ابوهريره ﷛ نه روايت دې چه رسول الله ﷺ په دوه رکعتونو باندې سلام واړولو، نو ذواليدين رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو: آيا مونځ کم شوې دې که ستاسو نه هير اوشو يا رسول الله ﷺ! نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل: آيا ذواليدين صحيح وائی؟ خلقو عرض اوکړو: اوجی رسول الله ﷺ اودريدلو او دوه رکعتونه ئې اوکړل، بيا ئې سلام واړولو، بيا ئې تکبير وئيلو څخه د خپلو عام سجدو په شان يا د هغې نه اوږده سجده اوکړه، بيا ئې سر مبارک راوچت کړو. دا حديث شيخينو نقل کړې دې.

(۷۹۲) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ جَعْفَرٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ شَكَّ فِيْ صَلٰوتِهٖ فَلْيَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ بَعْدَ مَا سَلَّمَ۔ رَوَاهُ اَحْمَدُ وَاَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَآئِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ وَقَالَ اِسْنَادُهٗ لَا بَأْسَ بِهٖ۔

۷۹۲: د سيدنا عبد الله بن جعفر رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: د چا چه په خپل مانځه کښې شک پيدا شي نو هغه له پکار دی چه د سلام اړولو نه پس (د سهوه) دوه سجدې اوکړی. دا حديث احمد، ابوداؤد، نسائي او بيهقی نقل کړې دې، او بيهقی وائی د دې اسناد لَا بَأْسَ بِهٖ دې.

(۷۹۳) وَعَنْ عَلْقَمَةَ اَنَّ ابْنَ مَسْعُوْدٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ سَجَدَ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ بَعْدَ السَّلَامِ وَذَكَرَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَلَ ذٰلِكَ۔ رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ وَاٰخَرُوْنَ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۷۹۳: د علقمه رحمه الله نه روايت دې چه سيدنا ابن مسعود رضي الله عنه د سهو دوه سجدې د سلام نه پس اوکړې او بيان ئې اوکړو چه رسول الله ﷺ هم دغه شان کړې وو.

دا حديث ابن ماجة او نورو محدثينو نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(۷۹۴) وَعَنْ قَتَادَةَ عَنْ اَنَسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهٗ قَالَ فِي الرَّجُلِ يَهِمُ فِيْ صَلٰوتِهٖ لَا يَدْرِيْ اَزَادَ اَمْ نَقَصَ؟ قَالَ: يَسْجُدُ سَجْدَتَيْنِ بَعْدَ مَا يُسَلِّمُ۔ رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۷۹۴: د قتاده رحمه الله نه روايت دې چه سيدنا انس رضي الله عنه د هغه سړی په باره کښې اوفرمائيل د چا چه د خپل مانځه په باره کښې وهم راشی، هغه ته معلومه نه ده چه هغه مونځ زيات کړې دې يا کم، انس رضي الله عنه فرمائی د سلام نه پس دې دوه سجدې اوکړی. دا حديث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(۷۹۵) وَعَنْ ضَمْرَةَ بْنِ سَعِيْدٍ اَنَّهٗ صَلّٰى وَرَآءَ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَاَوْهَمَ فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ بَعْدَ السَّلَامِ۔ رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

۷۹۵: د ضمرة بن سعيد رحمه الله نه روايت دې چه هغوی انس بن مالک رضي الله عنه پسې مونځ اوکړو، د هغوی شک راغلو چه هغوی دسهوې دوه سجدې اوکړې، دا حديث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۷۹۶) وَعَنْ عَمْرِو بْنِ دِيْنَارٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ سَجْدَتَا السَّهْوِ بَعْدَ السَّلَامِ۔ رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

۷۹۶: د عمرو بن دينار رحمه الله نه روايت دې چه سيدنا عبد الله بن عباس رضي الله عنهما اوفرمائيل: د سهوې دوه سجدې د سلام نه پس دی. دا حديث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

**تشریح>** (۷۹۱ نه ۷۹۲ پورې) د دې باب ټول روایات په سجود السهو بعد السلام باندې دلالت کوی کوم چه د امام ابوحنیفه‌رحمه‌الله دلائل دی د باب د انعقاد غرض هم دا دې.

**د امام ابوحنیفه‌رحمه‌الله د مسلک دلائل:** ۱: دې باب اول روایت دې **عن ابی هریرة** (بخاری ج ۱ ص ۱۶٤، مسلم ج ۱ ص ۲۱۳) کښې تصریح ده چه ﴿ **ثم سلم کبر فسجد مثل سجوده ضمناً** ﴾ د دې حدیث نه په ظاهر کښې د ﴿ **تکلم فی الصلاة** ﴾ د جواز استدلال هم کیږی خو په دې جزء کښې ټول ائمة متفق دی چه عمدا کلام مفسد للصلاة دې، امام صاحب‌رحمه‌الله فرمائی چه کلام قلیل وی یا کثیر، عمدا وی یا نسیانا که د اصلاح صلاة لپاره وی او که د بل څه وجې نه وی هم دا قول د امام احمد او امام مالک رحمهما الله نه نقل کړې شوې دې، امام ابوحنیفه‌رحمه‌الله فرمائی چه د سلام او کلام چه څومره روایات دی هغه ټول د هغه وخت دی چه کله په مونځ کښې سلام او کلام وغیره عمل کثیر صحیح وو. د ذوالیدین روایت د نورو امامانو مستدل دې چه په هغې کښې د دوه رکعتو نه پس کافی کلام شوې دې بیا دوه رکعته کړې شوې دی هغه آئمة فرمائی چه که کلام لاصلاح الصلاة مفسد وې نو دا مونځ به نه وو شوې، علماء احناف وائی چه دا واقعه د تحریم کلام نه مخکښې ده هغوی وائی چه ذوالیدین د رسول الله‌ﷺ نه پس ژوندې وو او ذوالشمالین په غزوه بدر کښې شهید شوې وو.(محصله التعلیق المحمود ج ۱ ص ١٤٤) لهذا دا د ممانعت نه روستو واقعه ده، اصل مرکزی شبه دا ده چه په روایاتو کښې دوه نومونه راځی. یو ذوالیدین او دویم ذوالشمالین. که دا دواړه یو ثابت شی نو د احنافو مسلک قوی دې او که بیل بیل شی نو د نورو حضراتو مسلک قوی دې په دې باندې خو د ټولو اتفاق دې چه د ذوالشمالین شهادت د بدر په موقع باندې واقع شوې دې او د دلائلو نه ثابت ده چه ذوالیدین او ذوالشمالین د یو بزرګ دوه نومونه وو.

۲: د عبدالله بن جعفر رضی الله عنه روایت (۷۹۲) ابوداؤد ج ۱ ص ۱٤۸، مسند احمد ج ۱ ص ۲۰۵، سنن الکبری ج ۲ ص ۳۳۶) ﴿ **فلیسجد سجدتین بعد ما سلم** ﴾ صریح دې.

۳: روایت ۷۹۳ **عن علقمة ان ابن مسعود** (ابن ماجة ص ۶) او روایت ۷۹۴ **عن قتادة عن انس** (طحاوی ج ۱ ص ۲۹۹) کښې سجده سهو بعد السلام واضح ده.

۴: روایت ۷۹۵ **عن ضمرة بن سعید** (طحاوی ج ۱ ص ۲۹۹) کښې د انس بن مالک رضی الله عنه عمل او په روایت ۷۹۶ **عن عمرو بن دینار** (طحاوی ج ۱ ص ۲۹۹) کښې د ابن عباس رضی الله عنهما فتوی هم دا نقل کړې شوې ده.

امام طحاوی‌رحمه‌الله فرمائی هر کله چه د عبدالله بن بحینة په روایت کښې مختلف احتمالات وو په دې سلسله کښې د سجود السهو قبل السلام والا نورو روایاتو کښې احتمالات دی نو په

دې کښې یو ته د ترجیح ورکولو لپاره د شرعی دلیل ضرورت دې پس مونږ د غور او فکر کولو نه پس اوکتل نو د اجله صحابه کرامو ﷺ د یو لوئې جماعت عمل په هر حال کښې د بعد السلام سجده سهو کولو باندې وو پس په دې سلسله کښې امام طحاوی رحمه الله د اووهٔ صحابه کرامو، سعد بن ابی وقاص، عبدالله بن عباس، عبدالله بن مسعود، سعد بن مالک، عبدالله بن الزبیر، انس بن مالک او عمران بن حصین ﷺ عمل په دولسو سندونو څخه نقل کړې دې. امام نیموی رحمه الله هم ۷۹۴، ۷۹۵، ۷۹۲ روایات هم د هغوی نه نقل فرمائیلې دی او د هغه ټولو صحابه کرامو د عمل نه د زیادت او کمی په دواړو صورتونو کښې د بعد السلام سجده سهوه حکم واضح کیږی لهذا هم په دې باندې به عمل کول لازم وی بله دا چه په کومو روایاتو کښې چه د قبل السلام سجدې ذکر دې هغه ټول مجمل دی چه د سلام اول نه مخکښې سجده ده که د سلام ثانی نه مخکښې؟ نو مجمل روایات ترک کولو څخه په مفصل او ناطق روایاتو باندې عمل کول ضروری وی.

**د امام طحاوی رحمه الله عقلی استدلال:** امام طحاوی رحمه الله عقلی استدلال پیش کولو څخه فرمائی چه کله په مانځه کښې یو سړې سهو شی نو فورا ورته د سجده سهوه حکم نه دې بلکه د تاخیر حکم دې خو تاخیر به تر کومې پورې کولې شی په دې کښې اختلاف دې، بعض خلق یعنی احناف وائی چه بعد السلام پورې دې تاخیر اوکړې شی. او بعض خلق یعنی فریق اول او ثانی وائی چه د قبل السلام پورې دې تاخیر اوکړې شی او بیا مونږ په سجده تلاوت باندې غور اوکړو نو معلومه شوه چه د موضع تلاوت نه تاخیر جائز نه دې بلکه هم هغه وخت کښې د سجدې حکم دې. او که هیر شی نو د مانځه په وخت کښې چه ورته کله رایاد شی نو فورا د سجدې کولو حکم دې. اود سجده سهوه په باره کښې د ټولو علماء کرامو اتفاق دې چه فورا جائز نه ده بلکه د ټول افعال صلاة نه د تاخیر حکم دې. خو په افعال صلاة کښې به د سلام نه تاخیر کولې شی یا نه؟ په دې کښې اختلاف واقع شوې دې، او د سلام نه علاوه باقی تمام افعالو لره په سجده باندې مقدم کول متفق علیه دی. او سلام مختلف فیه دې. نو مختلف فیه به په متفق علیه باندې قیاس کول واجب وی. لهذا څنګه چه ټول افعال صلاة لره په سجده باندې مقدم کول لازم دی، هم دغه شان به سلام هم په سجده سهوه باندې مقدم کول لازم وی. هم دا زمونږ د علماء ثلاثة مسلک دې.؟

## بَابُ مَا يُسَلِّمُ ثُمَّ يَسْجُدُ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ ثُمَّ يُسَلِّمُ

(۷۹۷) عَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ: قَالَ عَبْدُ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ صَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِبْرَاهِيمُ لَا أَدْرِيْ زَادَ أَوْ نَقَصَ فَلَمَّا سَلَّمَ قِيْلَ لَهُ يَا رَسُوْلَ اللهِ! أَحَدَثَ فِي الصَّلٰوةِ شَيْءٌ قَالَ وَمَا ذَاكَ؟ قَالُوْا صَلَّيْتَ كَذَا وَكَذَا فَثَنٰى رِجْلَهُ وَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ فَلَمَّا أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ قَالَ إِنَّهُ لَوْ

حَدَثَ فِي الصَّلٰوةِ شَيْئٌ لَنَبَّأْتُكُمْ وَلٰكِنْ اِنَّمَا اَنَا بَشَرٌ اَنْسٰى كَمَا تَنْسَوْنَ فَاِذَا نَسِيْتُ فَذَكِّرُوْنِيْ ، وَاِذَا شَكَّ اَحَدُكُمْ فِيْ صَلٰوتِهٖ فَلْيَتَحَرَّ الصَّوَابَ فَلْيُتِمَّ عَلَيْهِ، ثُمَّ يُسَلِّمُ، ثُمَّ يَسْجُدُ سَجْدَتَيْنِ ' ' رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَاٰخَرُوْنَ

**باب: د سلام اړولو نه پس دې د سهوه دوه سجدې اوکړی بیا دې سلام واړوی:** ۷۹۷ : علقمه رحمه الله فرمائی : سیدنا عبدالله رضي الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ مونځ ورکړو، ابراهیم (د حدیث راوی) وائی ماته معلومه نه ده چه رسول الله ﷺ (په مانځه کښې) زیادت اوفرمائیلو که کمې، پس چه کله ئې سلام واړولو، عرض اوکړې شو یا رسول الله ﷺ! آیا د مانځه په باره کښې څه نوې حکم نازل شوې دې، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : هغه څه دې؟ خلقو عرض اوکړو، تاسو داسې داسې مونځ اوکړو، نو رسول الله ﷺ خپې غبرګې کړې، د قبلې طرف ته ئې مخ مبارک واړولو، او دوه سجدې ئې اوفرمائیلې، بیا ئې سلام واړولو، بیا چه کله زمونږ طرف ته متوجه شو، وې فرمائیل : که په مانځه کښې څه نوې حکم راغلې وې نو ما به تاسو ته بیان کړې وی، خو زه هم انسان یم، ما نه هم هیره کیږی لکه څنګه چه ستاسو نه هیره کیږی، پس کله چه ما نه هیر شی نو ماته یادوئ، او په تاسو کښې چه د چا په خپل مانځه کښې شک پیدا شی نو د صحیح لپاره دې سوچ اوکړی او په دې باندې دې خپل مونځ پوره کړی، بیا دې سلام واړوی، بیا دې دوه سجدې اوکړی. دا حدیث بخاری او نورو محدثینو نقل کړې دې.

(۷۹۸) وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى الْعَصْرَ فَسَلَّمَ فِيْ ثَلَاثِ رَكْعَاتٍ ثُمَّ دَخَلَ مَنْزِلَهٗ فَقَامَ اِلَيْهِ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ الْخِرْبَاقُ وَكَانَ فِيْ يَدَيْهِ طُوْلٌ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! فَذَكَرَ لَهٗ صَنِيْعَهٗ وَخَرَجَ غَضْبَانَ يَجُرُّ رِدَائَهٗ حَتّٰى انْتَهٰى اِلَى النَّاسِ فَقَالَ اَصَدَقَ هٰذَا؟ قَالُوْا نَعَمْ! فَصَلّٰى رَكْعَةً ثُمَّ سَلَّمَ ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ. رَوَاهُ الْجَمَاعَةُ اِلَّا الْبُخَارِيَّ وَالتِّرْمِذِيَّ.

۷۹۸: د سیدنا عمران بن حصین رضي الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ د مازیګر مونځ ورکړو، نو هغوی په درې رکعتونو باندې سلام واړولو، بیا ئې خپل کور ته تشریف یوړلو، یو سړې د هغوی طرف ته اودریدلو چه هغه ته خرباق رضي الله عنه وئیلې شی او د هغه لاسونه لږ اوږده وو، نو هغه اووې یا رسول الله ﷺ ! هغه د رسول الله ﷺ فعل ذکر کړو، رسول الله ﷺ په غصه کښې خپل څادر راښکلو څخه راغلو تردې چه خلقو ته رارسیدلو څخه ئې اوفرمائیل آیا دې رشتیا وائی، خلقو عرض اوکړو او جی! رسول الله ﷺ یو رکعت اوکړو بیا ئې سلام واړولو، بیا ئې دوه سجدې اوکړې او بیا ئې سلام واړولو.

دا حدیث د بخاری او ترمذی نه علاوه د محدثینو جماعت نقل کړې دې.

(٧٩٩) وَعَنْ زِيَادِ بْنِ عَلَاقَةَ قَالَ صَلّٰى بِنَا الْمُغِيْرَةُ بْنُ شُعْبَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَلَمَّا صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ قَامَ وَلَمْ يَجْلِسْ فَسَبَّحَ مَنْ خَلْفَهُ فَأَشَارَ إِلَيْهِمْ أَنْ قُوْمُوْا فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ صَلٰوتِهٖ سَلَّمَ ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ.

٧٩٩: زياد بن علاقة رحمه الله فرمائی: مونږ ته سیدنا مغیره بن شعبة رضی الله عنه مونځ راکړو، چه کله هغوی دوه رکعتونه اوکړل، اودریدلو او قعده ئې اونکړه، نو چه څوک په هغوی پسې وو هغوی ﴿سبحان الله﴾ اووې، مغیره رضی الله عنه د هغوی طرف ته اشاره اوکړه چه اودریږئ، بیا چه کله هغوی د خپل مانځه نه فارغ شو نو هغوی سلام واړولو بیا ئې دوه سجدې اوکړې او سلام ئې واړولو. دا حدیث احمد او ترمذی نقل کړې دې او ترمذی فرمائی د دې اسناد حسن دې.

(٨٠٠) وَعَنْ أَبِيْ قِلَابَةَ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ فِيْ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ يُسَلِّمُ ثُمَّ يَسْجُدُ ثُمَّ يُسَلِّمُ. رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَإِسْنَادُهُ حَسَنٌ.

٨٠٠: د ابو قلابة رحمه الله نه روایت دې چه عمران بن الحصین رضی الله عنه د سجده سهوه د دوه سجدو په باره کښې اوفرمائیل: سلام دې واړوی، بیا دې سجده اوکړی، بیا دې سلام واړوی. دا حدیث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

**تشریح**> (٧٩٧ نه ٨٠٠ پورې) ﴿ثم یسجد سجدتین﴾ د دې باب اول روایت (٧٩٧) **عن علقمة** (بخاری ج ١ ص ٥٨) په الفاظو کښې هم دغه شان دویم روایت (٧٩٨) **عن عمران بن حصین** (مسلم ج ١ ص ٢١٤ ابوداؤد ج ١ ص ١٤٦) کښې هم ﴿ثم سجد سجدتی السهو ثم سلم﴾ تصریح ده د دواړو احادیثو د آخری جملو نه دا خبره په صراحت ښخه معلومه شوه چه رسول الله ﷺ اول سلام واړولو بیا ئې سجده سهوه اوکړه د هغې نه پس ئې سلام اړولو ښخه مونځ پوره کړو پس علامه طیبی رحمه الله فرمائی. چه هم دا مسلک د امام ابوحنیفه رحمه الله دې د هغوی په نزد د سلام نه پس دوه سجدې د زیادت او د نقصان د وجې نه کولې شی د هغې نه روستو تشهد لوستلې شی او سلام اړولې شی.

﴿**فلیتحر الصواب**﴾ زمونږ په نزد اصل تحری ده که دا نه وی نو بیا دې بنا علی الاقل اوکړی او د امام شافعی رحمه الله په نزد اصل بنا علی الاقل ده او د تحری روایات په هغې باندې محمول دی او د امام احمد رحمه الله په نزد دې امام تحری اوکړی او منفرد بناء علی الاقل او د امام مالک رحمه الله په نزد هم بنا علی الاقل اصل دې او د تحری روایات په هغې باندې محمول دی. (تقریر بخاری ج ٢ ص ١٤٥)

﴿**ثم دخل منزله**﴾ رسول الله ﷺ د درې رکعتو نه پس سلام اړولو ښخه کور ته تشریف یوړلو او د هغه ځائې نه ئې تشریف راوړلو. په دې موده کښې ئې د قبلې نه مخ هم اړولې دې. خبرې هم شوې

دی او ډیر ګرځیدلې هم دې، خو د دې باوجود رسول اللهﷺ بیا مونځ نه دې کړې بلکه صرف یو رکعت کوم چه ترې نه پاتې شوې وو اوکړو. لهذا دا افعال د سهوا کیدو باوجود هم د احنافو په مسلک باندې چونکه مفسد الصلاة دی په دې وجه د احنافو د طرف نه د دې حدیث توجیه دا کولې شی چه په مانځه کښې د خبرو په شان دا هم منسوخ دی یعنی دا افعال او کلام اول جائز وو روستو منسوخ شو. دا واقعه د جواز د منسوخ کیدو نه مخکښې ده.

د دې حدیث په آخری جملو کښې دا خبره په صراحت ښخه معلومه شوه چه رسول اللهﷺ اول سلام واړولو بیا ئې سجده سهوه اوکړه. د دې نه پس ئې سلام اړولو ښخه مونځ پوره کړو، پس علامه طیبیؒ فرمائی چه هم دا مسلک د امام ابوحنیفهؒ دې د هغوی په نزد د سلام نه پس د سهوه دوه سجدې د زیادت او نقصان د وجې نه کولې شی د دې نه پس تشهد کولې شی او سلام اړولې شی. هم دغه شان د باب دریم روایت (۷۹۹) عن زیاد بن علاقة مسند احمد (ج:۴،ص:۲۴۷) ترمذی (ج:۱،ص:۸۳) کښې ''فلما فرغ من صلوته تسلم ثم سجد سجدتین وسلم اور روایت (۸۰۰) عن ابی قلابة عن عمران بن حصین طحاوی (ج:۱،ص: ۲۹۹) کښې هم دا مضمون واضح دې کوم چه د ابوحنیفهؒ د مسلک مستدل دې.

## بَـابُ صَلٰوةِ الْمَرِيْضِ

(۸۰۱) عَنْ اَنَسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ صَلّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ مَرَضِهٖ خَلْفَ اَبِيْ بَكْرٍ قَاعِدًا فِيْ ثَوْبٍ مُتَوَشِّحًا فِيْهِ۔ رَوَاهُ التِّرْمَذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ۔

**باب: د مریض مونځ:** ۸۰۱: سیدنا انسؓ فرمائی: رسول اللهﷺ د خپلې بیمارۍ دوران کښې په یو کپړه کښې کومه چه هغوی اغوستلې وه، په ابوبکرصدیقؓ پسې په ناسته مونځ ادا اوفرمائیلو. دا حدیث ترمذی نقل کړې دې او وئیلې ئې دی چه د دې اسناد حسن صحیح دې.

(۸۰۲) وَعَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ صَلّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَلْفَ اَبِيْ بَكْرٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فِيْ مَرَضِهِ الَّذِيْ مَاتَ فِيْهِ قَاعِدًا۔ رَوَاهُ التِّرْمَذِيُّ وَصَحَّحَهٗ۔

۸۰۲: ام المومنین سیده عائشهؓ فرمائی: رسول اللهﷺ په خپله هغه بیمارۍ کښې په کوم کښې چه وفات شو، په ابوبکرصدیقؓ پسې ئې په ناسته مونځ ادا کړو. دا حدیث ترمذی نقل کړې دې او دې ته ئې صحیح وئیلې دې.

(۸۰۳) وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَتْ بِيْ بَوَاسِيْرُ فَسَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ صَلِّ قَآئِمًا فَإِنْ لَّمْ تَسْتَطِعْ فَقَاعِدًا فَإِنْ لَّمْ تَسْتَطِعْ فَعَلٰى جَنْبٍ ـ رَوَاهُ الْجَمَاعَةُ اِلَّا مُسْلِمًا وَزَادَ النَّسَآئِيُّ فَإِنْ لَّمْ تَسْتَطِعْ فَمُسْتَلْقِيًا {لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا}

۸۰۳: سیدنا عمران بن حصین رضی الله عنه فرمائی : په ما باندې بواسیر وو ما د رسول الله ﷺ نه پوښتنه کړې وه نو هغوی اوفرمائیل : په ولاړه مونځ کوه، که د دې طاقت نه لرې نو په ناسته کوه که د دې طاقت هم نه لرې نو بیا ئې په ملاسته کوه. دا حدیث د مسلم نه علاوه د محدثینو جماعت نقل کړې دې او نسائی دا الفاظ زیات نقل کړی دی. پس که ته د دې طاقت هم نه لرې نو په ستونی ستغ (نیغ) څملاستو باندې، الله پاک هر نفس ته د هغه د طاقت مطابق تکلیف ورکوی.

(۸۰۴) وَعَنْ نَافِعٍ اَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كَانَ يَقُوْلُ اِذَا لَمْ يَسْتَطِعِ الْمَرِيْضُ السُّجُوْدَ اَوْمَاءَ بِرَأْسِهٖ اِيْمَآءً وَّلَمْ يَرْفَعْ اِلٰى جَبْهَتِهٖ شَيْئًا ـ رَوَاهُ مَالِكٌ وَّاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ ـ

۸۰۴: د نافع رحمه الله نه روایت دې چه سیدنا عبدالله بن عمر رضی الله عنهما به فرمائیل : چه کله مریض د سجدې طاقت نه لری نو په خپل سر باندې دې اشاره اوکړی او د خپل تندی طرف ته دې څه څیز نه اوچتوی.دا حدیث مالک نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

**تشریح**> (۸۰۱ نه ۸۰۴ پورې) **(صلاة المریض)** دا اضافت د قبیلې د اضافت الی الفاعل نه دې لکه چه په **(قیام زید)** کښې دې یا د قبیلې د **اضافت الی المحل** نه دې لکه **تحرک الخشبة** کښې دې، مریض په وزن د فعیل په معنی د فاعل دې. په دې باندې د ټولو ائمة متبوعین او فقهاء اتفاق دې چه بغیر د عذر شرعی نه د امام او منفرد په ناسته باندې فرض مونځ کول جائز نه دی. په داسې صورت کښې به د هغه نه فرض نه ساقط کیږی او که مصلی واقعة مریض او معذور وی که دا عذر د مانځه نه مخکښې وی یا په مانځه کښې دننه وی د مرض د زیادت یا د مرض د روستو نبه کیدو ویره وی نو په ناسته دې مونځ اوکړی ددې وهلو څخه اودریدل ضروری نه دی خو که په ناسته کښې ورته د تکیه لګولو ضرورت وی نو په ناسته باندې دې مونځ اوکړی او که په رکوع او سجود باندې قدرت وی نو اودې کړی ګینې په اشارې څخه دې اوکړی.

**صلاة الصحیح خلف المریض او بیان مذاهب**: خو که امام د عذر په وجه باندې په ناسته مونځ ادا کوی نو د مقتدیانو اقتداء او د هغې د طریقې په باره کښې د ائمة متبوعینو اختلاف دې په دې سلسله کښې په النخب الافکار ج ۳ ص ۲۰۱، ۲۰۲ کښې درې مذاهب نقل کړې شوې دی.

۱: د امام احمد، امام اوزاعی، حماد بن زید، اسحق بن راهویه، ابن المنذر او داؤد ظاهری رحمهم الله

مسلک دا دې چه که امام مریض او معذور دې او په ناسته باندې امامت کوی نو هم په هغه پسې د صحیح او تندرست اقتداء جائز ده خو د مقتدیانو لپاره ضروری ده چه هغوی دې هم په ناسته باندې مونځ اوکړی گینې اقتداء به صحیح نه وی.

۲: دامام مالک، امام محمد بن الحسن شیبانی او عامر شعبی ﷭ په نزد **صلاة الصحیح خلف المریض** صحیح نه دې، خو که مقتدی هم معذور وی او که په ولاړه باندې مونځ نه شی کولې نو اقتداء صحیح ده.

۳: د امام ابوحنیفه، امام ابویوسف، امام سفیان ثوری، امام ابوثور او امام بخاری ﷭ په نزد امام معذور (قاعد) پسې د صحت مندو اقتداء صحیح ده خو غیر معذور مقتدیانو له په داسې صورت کښې په ولاړه باندې مونځ کول ضروری دی په ناسته باندې ئې اقتداء صحیح نه ده هم دا د اکثر اهل علم مسلک دې لکه چه امام حازمی په (کتاب الاعتبار فی بیان الناسخ والمنسوخ من الآثار) کښې د دې تصریح کړې ده.

**د احنافو د مسلک دلائل:** ۱: د الله پاک ارشاد دې ﴿ **وقوموا لله قانتین** ﴾ (بقرة) چه په هغې کښې قیام مطلقا د مانځه فرض منلې شوې دې معذورین به د دې حکم نه مستثنی وی په یو سبب ﴿ **لا یکلف الله نفسا الا وسعها** ﴾ خو غیر معذور به مستثنی نه وی.

۲: د احنافو یو اهم دلیل د رسول الله ﷺ د مرض الوفات واقعه ده چه په هغې کښې رسول الله ﷺ په ناسته باندې امامت اوکړو او ټولو صحابه کرامو ﷢ په ولاړه باندې اقتداء اوکړه (صحیح بخاری ج ۱ ص ۹۵، مسلم ج ۱ ص ۱۷۷) د دې باب دواړه روایات ۸۰۱، ۸۰۲ (ترمذی ج ۱ ص ۸۳) کښې هم دا واقعه بیان کړې شوې ده.

**یو اشکال او د هغې حل:** د دې باب د دواړو روایاتو نه په ظاهر کښې دا معلومیږی چه په مرض الوفات کښې رسول الله ﷺ د ابوبکرصدیق ﷛ اقتداء کړې وه کوم چه صلاة المریض خلف الصحیح وو او امام ترمذی ﷫ په ج ۱ ص ۸۳ کښې هم د دې باب د لاندې د عائشې ﷝ دا روایت هم نقل کړې دې چه ﴿ **فصلی الی جنب ابی بکر والناس یاتمون بابی بکر وابوبکر یاتم بالنبی صلی الله علیه وسلم** ﴾ ۱: مولانا رشید احمد گنگوهی ﷫ د دې په ځواب کښې فرمائی : **فذکر بعضهم اول حاله وبعضهم اخر حاله فذکر کل مالم یذکره الاخر فجعل مولانا الکنکوهی الواقعتین واحدة.**

یعنی د مانځه په ابتداء کښې رسول الله ﷺ د ابوبکرصدیق ﷛ اقتداء کړې وه بیا چه کله ابوبکر ﷛ شاته شو نو رسول الله ﷺ امام شو. ۲: خو اکثرو محدثینو دواړه روایات د بیلو بیلو

واقعاتو څخه متعلق کړې دی پس امام ابن سعد په طبقات کښې فرمائی چه د رسول اللهﷺ مرض الوفاة تقريبا ديارلس ورځې جاری وو په دې ورځو کښې به چه کله د رسول اللهﷺ په مرض کښې خفت محسوس شو نو رسول اللهﷺ به پخپله امامت فرمائيلو او که سختی به وه نو سيدنا ابوبکرصديقؓ به د امامت فرائض انجام ته رسول مقصود دا چه د مرض وفات په ورځو کښې د رسول اللهﷺ نه امامت او د ابوبکرصديقؓ اقتداء دواړه ثابت دی لهذا په دواړو رواياتو کښې هيڅ تعارض نشته د مسئلې نور تفصيل په معارف السنن ج ۳ ص ۱۷٤ تا ۱۷۹ او ٤۳۰ تا ٤۳۲ کښې کتلې کيدې شی.

۳: د دې باب دريم روايت ۸۰۳ وعن عمران بن حصين (بخاری ج ۱ ص ۱۵۰، ترمذی ج ۱ ص ۸۵ ابوداؤد ج ۱ ص ۱۳۷، مسند احمد ج ۱ ص ٤۲۶) کښې د قادرعلی القيام لپاره په ناسته باندې د مونځ کولو صراحتا ممانعت ذکر دې.

**رفع د تعارض:** ﴿ فعلی جنب ﴾ او د نسائی په روايت کښې ﴿ مستلقيا ﴾ راغلې دې په ظاهر کښې تعارض دې د حديث شارحين فرمائی چه دا هيڅ معارضه نه ده ځکه چه د مريض د مرض اقسام مختلف وی پس د مرض په اعتبار څخه کله ﴿ علی جنب ﴾ (په اړخ باندې) او کله مستلقيا (ستونی ستغ ملاسته) باندې جائز دې لکه چه عمران بن حصينؓ ته د بواسير د وجې نه ستونی ستغ سملاستل آسان وو په دې وجه هغوی ته په ډډه باندې بيان کړې شو خو د احنافو په نزد نيغ سملاستلو څخه مونځ کول اولی دی.

۴: د دې باب آخری روايت ۸۰۴ عن نافع (موطاء امام مالک ص ۱۵٤) کښې د صلاة المريض معذور بيان دې چه کله رکوع او سجود هم متعذر شی نو ﴿ اومأ برأسه ايماء ﴾ نو په ناسته باندې اشاره کولو څخه مونځ کول او د رکوع په نسبت د سجدې لپاره سر زيات ښکته کول او دا واجب دی تردې چه که د دواړو اشاره ئې برابر اوکړه نو جائز به نه وی. (بحر الرائق)

﴿ ولم يرفع ﴾ يعنی که مريض په اشارې څخه مونځ کوی نو هغه دې د خپل تندی طرف ته څيز نه اوچتوی چه په حديث الباب کښې د دې نه صراحتا ممانعت دې د دې نه علاوه په يو بل روايت کښې دی چه رسول اللهﷺ د يو بيمار د بيمارپرسئ لپاره تشريف يوړلو چه وې کتل نو هغه په تکيه باندې مونځ کولو رسول اللهﷺ ترې نه تکيه گزار کړه هغه يو لرگې اونيولو چه په هغې باندې مونځ اوکړی رسول اللهﷺ ترې نه هغه هم گزار کړه او وې فرمائيل که ستا طاقت وی نو په زمکه باندې مونځ کوه گينې اشاره کولو څخه او خپله سجده د رکوع نه ښکته کړه.

(بزار وبيهقی عن جابر، طبرانی عن ابن عمر)

كه يو ځيز ئې اوچت كړو او په هغې باندې ئې سجده اوكړه او د ركوع په نسبت ئې سجده زياته ښكته اوكړه نو جائز ده ګيني نه نۀ ده ځكه چه د اشارې پوره كيدل بيا موندلې شو خو بيا هم داسې كول صحيح نه دى علامه شامي رحمه الله فرمائى چه د سجدې لپاره يو ځيز اوچتول يا ځان څخه ساتل مكروه تحريمي دى خو كه هغه ځيز ئې په زمكه باندې ايخودلې وى نو مكروه نه دى ځكه چه د ام سلمه رضي الله عنها نه ثابت دى چه هغوى د بيمارئ په وجه باندې په يو تكيه باندې سجده اوكړه او رسول الله ﷺ هغوى منع او نه فرمائيل. (ذكره البيهقى) او كه اوچت كړې ځيز ئې د خپل تندى څخه اولګولو او د اشارې لپاره بالكل ښكته نه شو نو قطعا به صحيح نه وى ځكه چه اشاره بالكل بيا نه موندلې شوه هم دا اصح قول دې. (فتح القدير ملخصا)

**د امام طحاوى رحمه الله عقلى استدلال**: اصل مسئله خو د صلاة الصحيح خلف المريض وه امام طحاوى رحمه الله د دې د جواز او د مسلك احناف په وجه ترجيح كښې عقلى استدلال پيش كوى چه د مقتدى د امام څخه په مابنځه كښې داخليدل په مقتدى باندې داسې مونځ لازموى كوم چه پرې د مخكښې نه فرض نه وو لكه چه كله مسافر په مقيم امام پسې اقتداء اوكړى نو په ده باندې څلور ركعتونه پوره كول وى كوم چه په هغه باندې واجب نه وو. او كه په چا باندې يو فرض د مخكښې نه لازم وو نو د امام د اقتداء د وجې نه، نۀ په هغې كښې كمې راځى او نۀ هغه ساقط كيږى. لكه مقيم چه كله په مسافر امام پسې اقتداء اوكړى نو د مقيم په څلورو ركعتونو كښې كمې نه راځى بلكه د امام د فراغت نه پس به په ولاړه باندې خپل باقى مونځ پوره كول لازم وى.

د دې نه يو ضابطه بله زمونږ مخې ته راځى چه په مقتدى باندې د اقتداء نه مخكښې چه كوم فرض او واجب وى هغه به د اقتداء نه پس هم باقى وى. د اقتداء د وجې نه ساقط كيدې نه شى. لهذا په صحيح او روغ سړى باندې قيام فرض دې. نو د معذور د اقتداء د وجې نه به فرض قيام د مقتدى نه نۀ ساقط كيږى. لهذا د صحت مند مقتدى به په ناسته باندې په معذور امام پسې په ولاړه اقتداء كول واجب وى.

## بَابُ سُجُوْدِ الْقُرْاٰنِ

(٨٠٥) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَرَأَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ''اَلنَّجْمَ'' بِمَكَّةَ فَسَجَدَ فِيْهَا وَسَجَدَ مَنْ كَانَ مَعَهُ غَيْرَ شَيْخٍ أَخَذَ كَفًّا مِّنْ حَصًى أَوْ تُرَابٍ وَّرَفَعَهُ إِلٰى جَبْهَتِهٖ وَقَالَ يَكْفِيْنِيْ هٰذَا فَرَأَيْتُهُ بَعْدَ ذٰلِكَ قُتِلَ كَافِرًا. رَوَاهُ الشَّيْخَانِ.

**باب: د تلاوت سجدې: ٨٠٥**: سيدنا عبد الله رضي الله عنه فرمائى : رسول الله ﷺ په مكه مكرمه كښې سورة نجم تلاوت اوفرمائيلو نو په هغې كښې ئې سجده ادا اوفرمائيله او كوم خلق چه د رسول الله ﷺ

ځخه وو. هغوی هم سجده اوکړه سوا د يو بوډا نه هغه د کاڼړو يا خاورې موټې ډک کړو او هغه ئې د تندی پورې اوچت کړو او وې وئيل زما لپاره هم دا کافی ده، نو ما روستو هغه د کفر په حالت کښې په قتل کيدو باندې اوليدو. دا حديث شيخينو نقل کړې دې.

(٨٠٦) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَجَدَ بِالنَّجْمِ وَسَجَدَ مَعَهُ الْمُسْلِمُوْنَ وَالْمُشْرِكُوْنَ وَالْجِنُّ وَالْاِنْسُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

٨٠٦: د سيدنا ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله ﷺ د سورة نجم سجده اوکړه، نو د رسول الله ﷺ ځخه مسلمانانو، مشرکانو، پيريانو او انسانانو سجده اوکړه. دا حديث بخاری نقل کړې دې.

(٨٠٧) وَعَنْهُ قَالَ صٓ لَيْسَ مِنْ عَزَآئِمِ السُّجُوْدِ وَقَدْ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْجُدُ فِيْهَا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

٨٠٧: سيدنا ابن عباس رضي الله عنهما فرمائی د سورة ص سجده په واجب سجود کښې نه ده او بيشکه ما رسول الله ﷺ په دې کښې په سجده کولو باندې ليدلې دې. دا حديث بخاری نقل کړې دې.

(٨٠٨) وَعَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَجَدَ فِيْ صٓ وَقَالَ سَجَدَهَا دَاوٗدُ تَوْبَةً وَّنَسْجُدُهَا شُكْرًا. رَوَاهُ النَّسَآئِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

٨٠٨: د ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله ﷺ په سورة ص کښې سجده اوکړه اووې اوفرمائيل: په دې کښې داؤد عليه السلام د توبې لپاره سجده اوکړه او مونږ پکښې د شکر سجده کوو.
دا حديث نسائی نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(٨٠٩) وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِنِ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهٗ قَالَ قَرَأَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ صٓ فَلَمَّا بَلَغَ السَّجْدَةَ نَزَلَ فَسَجَدَ وَسَجَدَ النَّاسُ مَعَهٗ فَلَمَّا كَانَ يَوْمٌ اٰخَرُ قَرَأَهَا فَلَمَّا بَلَغَ السَّجْدَةَ تَشَزَّنَ النَّاسُ لِلسُّجُوْدِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّمَا هِيَ تَوْبَةُ نَبِيٍّ وَّلٰكِنِّيْ رَأَيْتُكُمْ تَشَزَّنْتُمْ لِلسُّجُوْدِ فَنَزَلَ فَسَجَدَ وَسَجَدُوْا. رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ اِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

٨٠٩: د ابوسعيد خدری رضي الله عنه نه روايت دې هغوی اوفرمائيل: رسول الله ﷺ په داسې حال کښې چه هغوی په منبر باندې وو سورة ص تلاوت اوفرمائيلو چه کله هغوی د سجدې آيت ته اورسيدل، نو راکوز شو او سجده ئې اوفرمائيله او هغوی ځخه خلقو هم سجده اوکړه، بيا په بله ورځ باندې هغوی هغه سورة تلاوت اوفرمائيلو، چه کله هغوی سجدې ته اورسيدل نو خلق د سجدې کولو لپاره تيار شو، رسول الله ﷺ اوفرمائيل: دا ديونبی توبه وه خو ما تاسو اوليدئ چه تاسو د سجدې

لپاره تيار شوى يئ، نو رسول الله ﷺ راكوزيدلو څخه سجده اوكړه او خلقو هم سجده اوكړه. دا حديث ابوداؤد نقل كړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(٨١٠) وَعَنِ الْعَوَامِ بْنِ حَوْشَبٍ قَالَ سَأَلْتُ مُجَاهِدًا عَنِ السُّجُوْدِ فِيْ صَ فَقَالَ سَأَلْتُ عَنْهَا ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَقَالَ اُسْجُدْ فِيْ صَ فَتَلَا عَلٰى هٰؤُلَاءِ الْاٰيَاتِ مِنَ الْاَنْعَامِ {وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِ دَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ اِلٰى قَوْلِهِ اُولٰئِكَ الَّذِيْنَ هَدَى اللّٰهُ فَبِهُدٰهُمُ اقْتَدِهْ} رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

٨١٠: عوام بن حوشب فرمائي: ما د مجاهد رحمه الله نه په سورة ص كښې د سجدې په باره كښې پوښتنه اوكړه، هغوى اووې ما په دې باره كښې د ابن عباس رضي الله عنهما نه پوښتنه اوكړه هغوى اوفرمائيل زه په سورة ص كښې سجده كوم، بيا هغوى د سورة انعام دا آيت تلاوت اوفرمائيلو. ﴿وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِ دَاوٗدَ وَسُلَيْمَانَ﴾ (انعام ايت ٨٤) نه ﴿اُولٰئِكَ الَّذِيْنَ هَدَى اللّٰهُ فَبِهُدٰهُمُ اقْتَدِهْ﴾ (انعام ٩٠) پورې. دا حديث طحاوى نقل كړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(٨١١) وَعَنْ اَبِيْ سَلَمَةَ قَالَ رَاَيْتُ اَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَرَاَ اِذَا السَّمَآءُ انْشَقَّتْ فَسَجَدَ بِهَا فَقُلْتُ يَآ اَبَا هُرَيْرَةَ اَلَمْ اَرَكَ تَسْجُدُ قَالَ لَوْلَمْ اَرَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَجَدَ لَمْ اَسْجُدْ۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

٨١١: ابوسلمه رحمه الله فرمائي: ما سيدنا ابوهريره رضي الله عنه اوليدو، هغوى ﴿ اذا السمآء انشقت ﴾ تلاوت كړو، نو په دې باندې ئې سجده اوكړه، ما اووې اې ابوهريره! آيا زه تاسو په سجدې كولو باندې نه وينم؟ هغوى اووې: كه ما رسول الله ﷺ په سجده كولو باندې نه وې ليدلې نو سجده به مې نه كولې. دا حديث شيخينو نقل كړې دې.

(٨١٢) وَعَنْ مُجَاهِدٍ قَالَ سَأَلْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ السَّجْدَةِ الَّتِيْ فِيْ حٰمٓ قَالَ اُسْجُدْ بِاٰخِرِ الْاٰيَتَيْنِ۔ رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

٨١٢: مجاهد رحمه الله فرمائي: ما د ابن عباس رضي الله عنهما نه د سورة حم سجده په باره كښې پوښتنه اوكړه، هغوى اووې د سجدې په دوه آيتونو كښې د دويم آيت (په آخر) باندې سجده كوه.

دا حديث طحاوى نقل كړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

**تشريح>** (٨٠٥ نه ٨١٢ پورې) د ټولو نه اول مسئله خو دا ده چه د سجده تلاوت شرعي حكم څه دې په دې سلسله كښې د آئمة ثلاثة او امام ابوحنيفه رحمه الله اختلاف دې.

**د سجده تلاوت شرعي حكم:**

١: امام ابوحنيفه رحمه الله دې ته واجب وائي، ٢: د ائمة ثلاثه په نزد مسنون ده.

احناف د سجدې په وجوب باندې د هغه ټولو آيات سجده نه استدلال كوى چه په هغې.

کښې د امر صیغه راغلې ده شیخ ابن الهمام فرمائی چه آیات السجده به ضرور د درې حالو نه خالی نه وی. الف : یا خو په هغې کښې د سجدې امر دې (کما فی سورة العلق : ﴿كَلَّا لَا تُطِعْهُ وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ﴾ ب : یا پکښې د کفارو د سجدې نه د انکار ذکر دې (کما فی سورة الانشقاق ﴿ وَإِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْآنُ لَا يَسْجُدُونَ ﴾ ج : یا پکښې د انبیاء کرام ﷺ د سجدو حکایت دې (کما فی سورة ص وَظَنَّ دَاوُودُ أَنَّمَا فَتَنَّاهُ فَاسْتَغْفَرَ رَبَّهُ وَخَرَّ رَاكِعًا وَأَنَابَ﴾ د امر تعمیل خو بهر حال واجب دې، هم دغه شان د کفارو د مخالفت هم (په قرآن کریم کښې نهی راغلې ده : ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ كَفَرُوا (آل عمران)﴾ او د انبیاء اقتداء هم واجب ده ﴿ فبهداهم اقتده ﴾(الانعام) (فتح القدیر ج ۱ ص ۳۸۲)

باقی پاتې شو د ائمة ثلاثة مستدلات د هغه روایاتو نه چه په هغې کښې راغلی دی چه رسول الله ﷺ په بعض آیات سجده تلاوت کړل او سجده ئې اونکړه. (ترمذی ج ۱ ص ۱۰۲) **باب ما جاء من لم یسجد فیه**. نو احناف حضرات د دې ځواب دا ورکوی چه په دې کښې سجود علی الفور د احنافو په نزد هم واجب نه ده .........

**کیفیت سجده**: سجده تلاوت صرف یو کرت د دوه تکبیرونو ترمینځه (یعنی یو تکبیر سجدې ته د تلو په وخت او دویم تکبیر د سجدې نه د اوچتیدلو په وخت) کولې شی هم د دې سجدې لپاره د رفع الیدین تشهد او سلام کولو ضرورت نه راځی، د سجده تلاوت د صحیح کیدو هغه ټول شرطونه دی کوم چه د مانځه د صحیح کیدو لپاره دی یعنی طهارت، ستر پټول او استقبال قبلة. تحریمه په دې کښې شرط نه دې ددې په نیت کښې د آیت تعیین شرط نه دې چه دا سجده د فلانی آیت په سبب څخه ده او که په مانځه کښې د سجدې آیت اولوستلې شی نو نیت هم شرط نه دې. (مظاهر حق ج ۱ ص ۶۷۱)

**تعداد سجود تلاوت او بیان مذاهب**: دویمه اهم مسئله د سجود تلاوت د تعداد متعلق ده چه په هغې کښې د علماء کرامو اختلاف دې علامه عینی دولس اقوال نقل کړی دی مونږ به دلته د مشهور مذاهبو ذکر کوو یعنی د احنافو، شوافع او موالکو۔ او شوافع او احناف په دې باندې متفق دی چه په قرآن کریم کښې ټولې سجدې د تلاوت څوارلس دی خو د دې په تعیین کښې لږ شان اختلاف دې، د شوافع په نزد په سورة حج کښې دوه سجدې او په سورة ص کښې هیڅ سجده نشته د احنافو په نزد په سورة حج کښې دوه سجدې نشته بلکه یوه سجده ده کومه چه په دویمه رکوع کښې ده د امام مالک رحمه الله په نزد د آیات سجده تعداد یولس دې **عنده سورة ص، نجم، انشقت او اقراء** کښې سجده نشته.

د احنافو د مسلک مطابق د دې تفصيل لاندې ليکلې شي !

۱: سورة اعراف آيت ۲۰۶ پاره ۹، ۲: سورة رعد آيت ۱۵ پاره ۱۳، ۳: سورة نحل آيت ۵۰ پاره ۱۴، ۴: سورة بنى اسرائيل آيت ۱۰۹ پاره ۱۵، ۵: سورة مريم آيت ۵۸ پاره ۱۶، ۶: سورة حج آيت ۱۸ پاره ۱۷، ۷: سورة فرقان آيت ۶۰ پاره ۱۹، ۸: سورة نمل آيت ۲۶ پاره ۱۹، سورة الم سجده آيت ۱۵ پاره ۲۱، ۱۰: سورة ص آيت ۲۵ پاره ۲۳، ۱۱: سورة حم سجده آيت ۳۸، پاره ۲۴، ۱۲: سورة نجم آيت ۶۲ پاره ۲۷، ۱۳: سورة الانشقاق آيت ۲ پاره ۳۰، ۱۴: سورة العلق آيت ۱۹ پاره ۳۰. دا تفصيل د احنافو اود شوافعو د مسلک مطابق دې.

**د احاديث الباب توضيح**: ۱: د باب اول روايت ۸۰۵ **عن عبدالله** (بخارى ج ۱ ص ۱٤۶، مسلم ج ۱ ص ۲۱۵) سورة النجم کښې د رسول اللهﷺ د سجدې کولو واقعه بيان شوې ده او د بخارى په يو روايت کښې دا الفاظ هم نقل کړې شوې دى چه هغه بوډا امية بن خلف وو دا واقعه د فتح مکه نه مخکښې ده، اميه بن خلف د قريشو يو معزز سردار او ذى اثر سړې وو د اسلام او رسول اللهﷺ خلاف کيدونکى ټولو سازشونو کښې د هغه کردار ډير اهم وو د هغه په خپل لوئې والى باندې هم ډير ناز وو پس هم په دې موقع باندې چه هر کله د رسول اللهﷺ په ملګرتيا کښې په مجلس کښې ټولو خلقو سجده اوکړه مسلمانانو هم او کفارو هم نو اميه بن خلف د غرور او تکبر د وجې نه سجده اونکړه بلکه دا حرکت ئې اوکړو چه د خاورو يا کاڼړو يو موټې ئې واخستلو او هغه ئې په خپل تندى باندې راښکلو.

۲: د باب دويم روايت ۸۰۶ **عن ابن عباس** (بخارى ج ۱ ص ۱٤۶) کښې هم د دې واقعې ذکر دې، رسول اللهﷺ د سورة نجم تلاوت کولو څخه آيت سجده: ﴿ **فَاسْجُدُوا لِلّٰهِ وَاعْبُدُوا** ﴾ (سجده کوئ او د الله پاک عبادت کوئ).

ته اورسيدلو نو رسول اللهﷺ د الله پاک د حکم د فرمانبردارئ په غرض څخه سجده اوکړه چه کله هغوى سجده اوکړه نو ټولو د هغوى په متابعت کښې سجده اوکړه، هم دغه شان مشرکينو هم د خپلو بتانو يعنى لات منات او عزى نوم واوريدلو نو هغوى هم سجده اوکړه، اويا دمشرکانو د سجدې سبب دا وو چه رسول اللهﷺ په مکه کښې مسجد الحرام کښې دننه چه کله د سورة نجم دا آيتونه ........

**اَفَرَءَيْتُمُ اللّٰتَ وَالْعُزّٰى ٥ وَمَنٰوةَ الثَّالِثَةَ الْاُخْرٰى ٥ اَلَكُمُ الذَّكَرُ وَلَهُ الْاُنْثٰى ٥**

(يعنى: آيا تاسو لات او عزئ ليدلې دى او دريم منات (آيا دا بتان خدايان کيدې شى) اې مشرکانو! آيا ستاسو لپاره خو ځامن دى او د الله پاک لپاره لونړه)

اولوستلو نو شيطان معلون خپل آواز د رسول الله ﷺ د آواز مشابه جوړولو څخه اولوستل!

تِلْكَ الْغَرَانِيْقُ الْعُلٰى وَاِنَّ شَفَاعَتُهُنَّ لَتُرْجٰى۔

يعنی دا ډيرې اوچتې مرغابئ دی او بيشکه د دوی نه د شفاعت اميد کولې شی ډير اميد ورکونکې دې.

مشرکينو دا اوګنړله چه (نعوذ بالله) رسول الله ﷺ زمونږ د بتانو تعريف اوکړو په دې باندې هغوی ډير زيات خوشحاله شو پس چه کله رسول الله ﷺ سجده اوکړه نو هغوی هم سجده اوکړه.

بعض مفسرينو په دې موقع باندې دا تفسير کړې دې چه دا الفاظ شيطان نه وو ادا کړې بلکه خپله نعوذ بالله د رسول الله ﷺ د ژبې مبارکې نه سهوا وتلې وو. دا قول بالکل غلط او صرف ذهنی اختراع ده. حقيقت هم دا دې چه شيطان ملعون خپل آواز د رسول الله ﷺ د شيطان د آواز مشابه کولو څخه دا الفاظ ادا کړې وو چه په هغې څخه مشرکينو دا اوګنړله چه خپله محمد ﷺ دا الفاظ ادا کوی.

په حديث کښې مسلمانانو، مشرکانو، جناتو او ټولو سړو نه مراد هغه دی کوم چه هغه وخت د رسول الله ﷺ څخه موجود وو، لفظ د "انس"، تعميم بعد تخصيص دې.

په تفسير عثمانی کښې دی چه کله ئې دا آيت اولوستلو نو يو کافر شيطان به د رسول الله ﷺ په آواز کښې آواز يو ځائې کولو څخه هم د هغوی په لهجه کښې هغه الفاظ وئيلې وی کوم چه د هغوی په ژبو باندې وو ﴿تلک الغرانيق العلی الخ﴾ وړاندې په تعبير او ادا کښې تصرف کيدو کيدو څخه د څه نه څه جوړ شو ګينې ظاهره ده د رسول الله ﷺ په ژبه باندې شيطان ته داسې تسلط کله حاصليدې شی او د کوم څيز ابطال چه وړاندې کولې شی د هغې د مدح کولو څه معنی؟

د امام مالک رحمه الله په نزد په مفصل سورتونو کښې سجده نشته هغوی د سيدنا زيد بن ثابت رضی الله عنه د روايت نه استدلال کوی: ﴿قال قرأت علی النبی ﷺ النجم فلم يسجد فيها﴾ (ترمذی ج ۱ ص ۱۰۲) مونږ دا د سجود علی الفور په نفی باندې محمول کوو.

۳: د دې باب دريم روايت ۸۰۷ عن ابن عباس (بخاری ج ۱ ص ۱۴۶) او روايت ۸۰۸ (نسائی ج ۱ ص ۱۵۲) کښې د رسول الله ﷺ سجده ذکر ده، ﴿ليس من عزائم السجود﴾ يعنی په ډيرو تاکيدی سجدو کښې نه ده بلکه د واجبات تلاوت نه ده د شوافع په نزد په سورة ص کښې سجده نشته بلکه په سورة حج کښې دوه سجدې دی يو خو هم هغه کومه چه د احنافو په نزد ده دويم ﴿يَآ أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا وَاعْبُدُوا رَبَّكُمْ وَافْعَلُوا الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ﴾ (پاره ۱۷ آيت ۷۷) احناف په سورة حج کښې صرف د يوې سجدې قائل دی.

امام شافعي رحمه الله په سورة ص کښې د ﴿ ليس من عزائم السجود ﴾ نه استدلال کوی، احناف وائی چه د عزام السجود د نفی نه مراد دا دې چه دا سجده د شکر په طور واجب ده علماء وائی چه په سورة ص کښې د رسول الله ﷺ سجده کول د داؤد علیه السلام موافقت او د هغوی د توبې د قبولیت د شکر په طور وه لکه چه په روایت ۸۰۹ عن ابي سعيد الخدري رضی الله عنه (ابوداؤد ج ۱ ص ۲۰۰) او روایت ۸۱۰ عن العوام بن حوشب (طحاوی ج ۱ ص ۲۴۸) هم دا مدلول دی.

سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما د مجاهد رحمه الله د سوال په ځواب کښې اول دا آیت کریمه اولوستلو چه د هغې نه د دې خبرې دلیل ورکول مقصود دی چه رسول الله ﷺ د هغه خلقو نه دې کومو ته چه د مخکښې پیغبرانو د اطاعت حکم کړې شوې دې لهذا د ابن عباس رضی الله عنهما د ځواب مطلب دا دې چه کله رسول الله ﷺ ته د هغوی د تابعدارئ حکم اوکړې شو نو تاسو له په طریق اولی د هغوی تابعداری کول پکار دی یعنی کله چه داؤد علیه السلام سجده اوکړه او رسول الله ﷺ هم د هغوی په تابعدارئ او موافقت کښې سجده اوکړه نو مونږ له پکار دی چه مونږ هم سجده اوکړو.

روایت نمبر ۸۱۱ عن ابي سلمة (بخاری ج ۱ ص ۱۴۶، مسلم ج ۱ ص ۲۱۵) کښې سورة اذا السماء انشقت کښې سجده ثابت ده چه په هغې ځخه د امام مالک رحمه الله ځواب کیږی بله دا چه د ابوهریره رضی الله عنه نه مروی دی هغوی فرمائی ﴿ سجدنا مع رسول الله ﷺ في "اقرا باسم ربک" و "اذا السماء انشقت" ﴾ (ترمذی ج ۱ ص ۱۰۱) هم دغه شان د مفصل د سورة حجرات نه واخله تر آخره پورې ټول سورتونه مفصل شمیرلې کیږی بیا د سورة حجرات نه سورة بروج پورې ته طوال مفصل وئیلې شی او د سورة بروج نه سورة بینة پورې ته اوساط مفصل او سورة بینة نه تر سورة الناس پورې ته قصار المفصل وئیلې شی، نه د درې سجدو ثبوت ملاویږی.

روایت ۸۱۲ عن مجاهد (طحاوی ج ۱ ص ۲۴۷) کښې د ابن عباس رضی الله عنهما حم سجده کښې سجده د تلاوت په آخر الایتین باندې منی په دې سلسله کښې د امام شافعي رحمه الله دوه اقوال دی قول قدیم دا دې چه د ﴿ لا یسأمون ﴾ نه مخکښې آیت باندې ده یعنی ﴿ ان کنتم ایاه تعبدون ﴾ باندې دا د سیدنا علی رضی الله عنه نه مروی دې او قول جدید دا دې چه په ﴿ لا یسأمون ﴾ باندې دې دا د ابن مسعود رضی الله عنه نه مروی دې. د امام شافعي رحمه الله په مذهب کښې صحیح او مختار هم دا ده احناف او امام احمد رحمه الله هم د دې قائل دی صاحب هدایة فرمائی چه سیدنا عمر رضی الله عنه په دې مقام باندې سجده کړې ده. (عنایة، کفایة، فتح)

# [اَبْوَابُ صَلٰوةِ الْمُسَافِرِ]

## بَابُ الْقَصْرِ فِی السَّفَرِ

(۸۱۳) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهَا قَالَتْ فُرِضَتِ الصَّلٰوةُ رَکْعَتَیْنِ فِی الْحَضَرِ وَالسَّفَرِ فَاُقِرَّتْ صَلٰوةُ السَّفَرِ وَزِیْدَ فِیْ صَلٰوةِ الْحَضَرِ۔ رَوَاهُ الشَّیْخَانِ۔

**ابواب: د مسافر مونځ**

**باب: په سفر کښې قصر:** ۸۱۳: د رسول الله ﷺ زوجه ام المومنین سیده عائشه رضي الله عنها فرمائی : سفر او حضر (اقامت) کښې په مانځه کښې دوه رکعتونه فرض کړې شو، د سفر مونځ برقرار اوساتلې شو، او د حضر په مانځه کښې اضافه اوکړې شوه. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۸۱۴) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ فَرَضَ اللّٰهُ الصَّلٰوةَ عَلٰی لِسَانِ نَبِیِّکُمْ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِی الْحَضَرِ اَرْبَعًا وَّفِی السَّفَرِ رَکْعَتَیْنِ وَفِی الْخَوْفِ رَکْعَةً۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

۸۱۴: سیدنا ابن عباس رضي الله عنهما فرمائی : الله پاک ستاسو د نبی ﷺ په ژبه باندې د اقامت مونځ څلور رکعته، په سفر کښې دوه رکعته او صلاة خوف یو رکعت فرض فرمائیلې دې. دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

(۸۱۵) وَعَنْ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ صَلٰوةُ السَّفَرِ رَکْعَتَانِ وَصَلٰوةُ الْجُمُعَةِ رَکْعَتَانِ وَالْفِطْرِ رَکْعَتَانِ وَالْاَضْحٰی رَکْعَتَانِ تَمَامٌ غَیْرُ قَصْرٍ عَلٰی لِسَانِ مُحَمَّدٍ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ۔ رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ وَالنَّسَآئِیُّ وَابْنُ حِبَّانَ وَاِسْنَادُهٗ صَحِیْحٌ۔

۸۱۵: سیدنا عمر رضي الله عنه اوفرمائیل : د سفر مونځ دوه رکعته، د جمعې مونځ دوه رکعته، د عید الفطر دوه رکعته او د عیدالاضحی دوه رکعته پوره دې قصر پکښې نشته، د رسول الله ﷺ په ژبه مبارکه باندې (دا خبره ثابت ده)

دا حدیث ابن ماجة، نسائی، او ابن حبان نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۸۱۶) وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ صَحِبْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِی السَّفَرِ فَلَمْ یَزِدْ عَلٰی رَکْعَتَیْنِ حَتّٰی قَبَضَهُ اللّٰهُ وَصَحِبْتُ اَبَابَکْرٍ رَّضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فَلَمْ یَزِدْ عَلٰی رَکْعَتَیْنِ حَتّٰی قَبَضَهُ اللّٰهُ وَصَحِبْتُ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فَلَمْ یَزِدْ عَلٰی رَکْعَتَیْنِ حَتّٰی قَبَضَهُ اللّٰهُ ثُمَّ صَحِبْتُ عُثْمَانَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فَلَمْ یَزِدْ عَلٰی رَکْعَتَیْنِ حَتّٰی قَبَضَهُ اللّٰهُ وَقَدْ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی {لَقَدْ کَانَ لَکُمْ فِیْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ} ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَالْبُخَارِیُّ مُخْتَصَرًا۔

۸۱۶: سیدنا عبدالله بن عمر رضی الله عنهما فرمائی : زه په سفر کښې د رسول الله ﷺ ښخه اوم نو رسول الله ﷺ (مونږ) د دوه رکعتو نه زیات نه دي فرمائیلي تردې چه الله پاک رسول الله ﷺ وفات کړو، او زه د ابوبکرصدیق رضی الله عنه ملګرې اوم، نو هغوی هم د دوه رکعتو نه زیات ادا نه کړل، تردې چه الله پاک هغوی وفات کړل، او زه د عمر رضی الله عنه ښخه پاتې شوې یم، نو هغوی هم د دوه رکعتو نه زیات نه دی فرمائیلي، تردې چه الله پاک هغوی وفات کړل، بیا زه د سیدنا عثمان رضی الله عنه ښخه هم اوم نو هغوی هم د دوه رکعتو نه زیات نه دی فرمائیلی، تردې چه الله پاک هغوی وفات کړل، او بیشکه الله پاک فرمائی : یقینا ستاسو لپاره په رسول الله ﷺ کښې ښه نمونه ده.دا حدیث مسلم او بخاری مختصرا نقل کړې دې.

(۸۱۷) وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ يَزِيْدَ قَالَ صَلّٰى بِنَا عُثْمَانُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ بِمِنًى اَرْبَعَ رَكْعَاتٍ فَقِيْلَ ذٰلِكَ لِعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَاسْتَرْجَعَ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِنًى رَكْعَتَيْنِ وَصَلَّيْتُ مَعَ اَبِيْ بَكْرِنِ الصِّدِّيْقِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ بِمِنًى رَكْعَتَيْنِ وَصَلَّيْتُ مَعَ عُمَرَبْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ رَكْعَتَيْنِ فَلَيْتَ حَظِّيْ مِنْ اَرْبَعِ رَكْعَاتٍ رَكْعَتَانِ مُتَقَبَّلَتَانِ۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

۸۱۷: عبدالرحمٰن بن یزید فرمائی : سیدنا عثمان رضی الله عنه مونږ ته په منی کښې ښلور رکعته راکړل دا خبره عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ته ذکر کړې شوه، نو هغوی هغه راواپس کړو او وې فرمائیل : ما د رسول الله ﷺ ښخه په منی کښې دوه رکعته ادا کړې دی، ما د ابوبکرصدیق رضی الله عنه ښخه په منی کښې دوه رکعته ادا کړې دی او ما د عمر بن الخطاب رضی الله عنه ښخه (هم) دوه رکعته ادا کړې دی، ارمان چه زما حصه هم د ښلورو نه دوه مقبول رکعته وې. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۸۱۸) وَعَنْ اَبِيْ لَيْلَى الْكِنْدِيِّ قَالَ خَرَجَ سَلْمَانُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فِيْ ثَلَاثَةَ عَشَرَ رَجُلًا مِّنْ اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ غَزَاةٍ وَكَانَ سَلْمَانُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَسَنَّهُمْ حَضَرَتِ الصَّلٰوةُ فَاُقِيْمَتِ الصَّلٰوةُ فَقَالُوْا تَقَدَّمْ يَا اَبَا عَبْدِ اللّٰهِ ! فَقَالَ : مَآ اَنَا بِالَّذِيْ اَتَقَدَّمُ اَنْتُمُ الْعَرَبُ وَمِنْكُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلْيَتَقَدَّمْ بَعْضُكُمْ فَتَقَدَّمَ بَعْضُ الْقَوْمِ فَصَلّٰى اَرْبَعَ رَكْعَاتٍ فَلَمَّا قَضَى الصَّلٰوةَ قَالَ سَلْمَانُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مَا لَنَا وَلِلْمُرَبَّعَةِ اِنَّمَا يَكْفِيْنَا نِصْفُ الْمُرَبَّعَةِ۔ رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ۔

۸۱۸: ابو لیلی کندی فرمائی : سیدنا سلمان فارسی رضی الله عنه د رسول الله ﷺ د صحابه کرامو رضی الله عنهم ښخه دیارلسو کسانو ښخه یو جنګ لپاره لاړل او سلمان رضی الله عنه په هغوی کښې مشر سړې وو، د مانځه وخت شو نو مونځ اودریدلو، خلقو اووې اې ابوعبدالله! وړاندې شه! هغوی اوفرمائیل زه نه وړاندې کیږم، تاسو عرب یئ، رسول الله ﷺ هم په تاسو کښې دې، په تاسو کښې دې څوک

رامخکښې شی نو په خلقو کښې یو تن څلور رکعته ادا کړل، چه کله هغه مونځ پوره کړو نو سیدنا سلمان رضی الله عنه اوفرمائیل: مونږ په څلورو رکعتو باندې څه کوو؛ مونږ ته خو د څلورو رکعتو نیمه حصه (دوه رکعته) کافی وه. دا حدیث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۸۱۹) وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ حُمَيْدٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّهُ أَتَمَّ الصَّلٰوةَ بِمِنًى ثُمَّ خَطَبَ النَّاسَ فَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ السُّنَّةَ سُنَّةُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسُنَّةُ صَاحِبَيْهِ وَلٰكِنَّهُ حَدَثَ الْعَامَ مِنَ النَّاسِ فَخِفْتُ أَنْ يَسْتَنُّوْا. رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي الْمَعْرِفَةِ تَعْلِيْقًا وَحَسَّنَ إِسْنَادَهُ.

۸۱۹: عبدالرحمٰن بن حمید د خپل پلار په واسطه باندې د عثمان بن عفان رضی الله عنه نه روایت کوی چه هغوی په منی کښې پوره مونځ ادا کړو، بیا ئې خلقو ته خطبه ورکړه، اې خلقو! بیشکه سنت ؛ د رسول الله صلی الله علیه وسلم طریقه ده او د هغوی د دوه ملګرو (ابوبکر او عمر رضی الله عنهما) طریقه ده، خو په دې کال په خلقو کښې څه نوې خلق دی، زه اویریدم چه هسې نه خلق هم دا سنت اوګڼړی.

دا حدیث امام بیهقی په معرفت کښې تعلیقا نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۸۲۰) وَعَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ: إِنَّمَا صَلّٰى عُثْمَانُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ بِمِنًى أَرْبَعًا لِأَنَّ الْأَعْرَابَ كَانُوْا أَكْثَرَ فِيْ ذٰلِكَ الْعَامِ فَأَحَبَّ أَنْ يُخْبِرَهُمْ أَنَّ الصَّلٰوةَ أَرْبَعٌ. رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَإِسْنَادُهُ مُرْسَلٌ قَوِيٌّ.

۸۲۰: امام زهری رحمه الله فرمائی: بیشکه عثمان رضی الله عنه په منی کښې څلور رکعته ادا کړې دی، هم په دې وجه چه په هغه کال باندې بانډچیان خلق ډیر وو نو هغوی خوښه کړه چه هغوی ته بیان اوکړی چه مونځ څلور رکعته دې. (یعنی بانډچیان دا اونه ګڼړی چه دوه رکعته دې) دا حدیث طحاوی او ابوداؤد نقل کړې دې او د دې اسناد مرسل قوی دې.

**تشریح>** (۸۱۳ نه ۸۲۰ پورې) د سفر لغوی معنی ظهور دې **﴿ یقال سفر سفورا واسفر الصبح ﴾** یعنی صبا روښانه شو **﴿السفر الغیم﴾** وریځې لاړې چونکه په سفر کښې د انسان اخلاق ښکاره کیږی یا ترې د زمکې حال ظاهریږی په دې وجه ورته سفر وائی په سفر څخه څه شرعی احکام بدلیږی لکه په مانځه کښې د قصر کیدل، په روژې کښې د افطار کیدل، په موزو کښې د مسح موده درې ورځې او درې شپې زیاتیدل د جمعې قربانۍ او اخترونو نه واجب کیدل خو دا احکام په مطلق سفر څخه نه بدلیږی بلکه په کوم سفر څخه چه احکام بدلیږی هغه د یو مخصوص سفر قصد دې چه د هغې تفصیل په وړاندې ابوابو کښې راروان دې په دې باب کښې دا مسئله بیان کړې شوې ده چه په سفر کښې د قصر مونځ حکم څه دې آیا رخصت دې یا عزیمت خو په سفر کښې د قصر په مشروعیت باندې اجماع ده.

**قصر فی السفر او بیان مذاهب:** ۱: د احنافو په نزد **قصر فی السفر** یعنی د رباعی مونځونو نصف کیدل عزیمت دې یعنی واجب دی لهذا قصر لره پریخودلو څخه اتمام جائز نه دې، امام مالک رحمه الله (فی روایة) او امام احمد (فی روایة) هم د دې قائل دی په صحابه کرامو کښې ابوبکر، عمر، علی، ابن عمر، ابن مسعود، جابر او ابن عباس رضی الله عنهم هم د دې قول قائل دی دا امام نووی په شرح کښې، علامه خطابی په معالم کښې او بغوی د اکثر علماء سلف او فقهاء امصار هم دا قول بیان کړې دې، امام ترمذی رحمه الله فرمائی هم په دې باندې د اکثر اهل علم او اصحاب نبی صلی الله علیه وسلم عمل دې.

۲: د امام شافعی رحمه الله په نزد د مسافر په حق کښې فرض خو څلور رکعته دی خو قصر رخصت دې د امام شافعی رحمه الله نه **اشهر الروایات** هم دا دې **وهو المنصور عند اصحابه**.

**د مسلک احناف دلائل:**

۱: د دې باب اول روایت ۸۱۳ **عن عائشة** (بخاری ج ۱ ص ۲۴۷) نه احناف استدلال کوی چه کله د مسافر په حق کښې د مانځه فریض دوه رکعته ده نو په دې باندې زیادت جائز نه دې.

**حدیث د عائشې رضی الله عنها باندې دوه اعتراضات او د هغې ځوابات:**

**سوال:** دا حدیث د ﴿ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلَاةِ ﴾ آیت خلاف دې، ځکه چه آیت کریمه په دې باندې دال دې چه په سفری مونځ کښې قصر دې او د حدیث نه معلومیږی چه قصر نشته.

**ځواب:** د حدیث مطلب دا دې چه په ابتداء کښې د سفر او حضر هر دواړو مونځونو رکعتونه دوه دوه فرض شوې وو (سوا د ماښام نه **فانها وتر النهار**) او کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم هجرت کولو څخه مدینې طیبې ته تشریف راوړلو نو د سحر نه علاوه په حضری مونځونو کښې څلور رکعته فرض شوې، د دې نه پس آیت قصر ﴿ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلَاةِ ﴾ نازل شو چه په هغې څخه په سفری مونځ کښې تخفیف پیدا شو، پس د قصر اطلاق د اضافې په لحاظ څخه دې نه د اصل مانځه په اعتبار څخه.

**سوال:** دا حدیث خپله د عائشې رضی الله عنها د فعل خلاف دې ځکه چه عائشې رضی الله عنها به په سفر کښې هم اتمام کولو، په بخاری کښې د دې تصریح موجود ده.

**ځواب:** په بخاری کښې چه کوم ځائې کښې دا ذکر شوې دی چه عائشې رضی الله عنها به اتمام کولو هلته د دې وجه هم مذکور ده. ﴿ **قال الزهری فقلت لعروة فما بال عائشة تتم قال تاولت ما تاول عثمان** ﴾ یعنی عائشې رضی الله عنها به دا تاویل کولو چه ازواج مطهرات ته امهات المومنین وئیلې شوې دی پس هغوی چه چیرته هم ځی خپل اهل ته ځی، ﴿ **ولا یحتاج الرجل الی التاویل فی اتیان المباح لا سیما اذ یکون الماتی عزیمة والمتروک رخصة** ﴾

۲: د باب دویم روایت ۸۱۴ وعن ابن عباس (مسلم ج ۱ ص ۲٤۱) د احنافو مستدل دی، ورواه الطبرانی فی معجمه افترض رسول الله ﷺ رکعتین فی السفر کما افترض فی الحضر اربعا وفی الخوف رکعة (د ویرې په حالت کښې یو رکعت فرض دې) د دې په ظاهری مفهوم باندې په علماء سلف کښې یو جماعت عمل کړې دې چه په هغوی کښې حسن بصری او اسحاق ﷺ هم شامل دی خو جمهور علماء فرمائی چه د مانځه د رکعتونو په اعتبار څخه د امن او خوف په مانځه کښې هیڅ فرق نشته څومره رکعتونه چه په حالت د امن کښې کولې شی هغه هومره رکعتونه د امن په حالت کښې کول پکار دی د هغوی د طرف نه د دې حدیث تاویل دا کولې شی چه د دې نه مراد دا دې چه دوه رکعتو والا حقیقی یا حکمی امام څخه د کولو په سلسله کښې دې دا طریقه اختیار کړې شی چه یو رکعت خو دې د امام څخه اوکړې شی او یو رکعت دې ځانله اوکړې شی چه د ویرې په حالت کښې د رسول الله ﷺ او صحابه کرامو ﷺ نه د مونځ کولو طریقه په احادیث صحیحه کښې ثابت ده. او په بنهر کښې مطلقا د ویرې په حالت کښې څلور رکعته او درې رکعتونه دې داسې اوکړې شی چه د امام څخه دې دوه رکعته اوکړې شی او باقی دې یواځې اوکړې شی. د دې تفصیل به د صلاة الخوف په باب کښې راشی. انشاء الله تعالیٰ.

۳: د باب دریم روایت ۸۱۵ وعن عمر (ابن ماجة ص ۷۶، نسائی ج ۱ ص ۲۱۱، صحیح ابن حبان ج ۱ ص ۱۷۹) کښې د رکعتین تصریح ده.

۴: څلورم روایت ۸۱۶ وعن عبدالله بن عمر (مسلم ج ۱ ص ۲٤۲) کښې چه څومره واضح عزیمت د رکعتین بیان شوې دې د دې نه پس خو د هیڅ اشکال او اعتراض گنجائش هم نه پاتې کیږی هم د دوی نه دویم روایت دې:

وقال ان رسول الله صلی الله علیه وسلم اتانا ونحن ضلال فعلمنا فکان فیما علمنا ان الله عزوجل امرنا ان نصلی رکعتین فی السفر۔ (فتح)

د دې باب دا روایت په صحیحین کښې دې چه د هغې نه معلومیږی چه رسول الله ﷺ په تولو سفرونو کښې په دوه دوه رکعتونو باندې مواظبت فرمائیلې دې.

۵: پنځم روایت ۸۱۷ عن عبدالرحمٰن بن یزید (بخاری ج ۱ ص ۲٤۷، مسلم ج ۱ ص ۲٤۳) کښې هم سوا د عثمان ﷺ د خلافت د آخری ورځو نه د رسول الله ﷺ او د هغوی دخلفاء عمل په منی کښې دوه رکعته مونځ وو. مطلب دا چه رسول الله ﷺ به د خپل خلافت په زمانه کښې او ابوبکر او عمر ﷺ به چه کله د حج لپاره سفر کولو او منی ته به راورسیدل نو هلته به ئې هم د سفر والا

مونځ (يعنی قصر) كولو. هم دغه شان عثمان رضي الله عنه هم د خپل خلافت په ابتدائی زمانه كښې خو دوه ركعته كړې دی روستو ئې څلورو ركعته مونځ شروع كړې وو.

﴿ صلى بنا عثمان اربعا ﴾ د عثمان رضي الله عنه د دې عمل لپاره ډير اسباب نقل كړې شوې دی پس علماء وائی چه د دې وجه يا خو دا وه چه هغوی په مكه كښې متاهل وو د دې تائيد د امام احمد رحمه الله د دې تائيد نه كيږی چه عثمان رضي الله عنه په منی كښې څلور ركعته اوكړل نو خلقو د حيرانتيا اظهار اوكړو، هغوی اوفرمائيل چه اې خلقو! زه په مكه كښې متاهل يعنی قبيلې والا يم او ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه دا اوريدلې دی چه كوم سړې په يو ښهر كښې متاهل شی هغه دې د مقيم په شان مونځ كوی. د عثمان رضي الله عنه په دې عمل باندې حيرت كول د دې خبرې دليل دې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم به په سفر كښې پوره مونځ نه كولو او دا چه په حالت د سفر كښې قصر لازم دې گينې خلقو به د حيرانتيا اظهار ولې كولو.

د سيدنا عثمان رضي الله عنه د دې عمل يو بله توجيه دا هم كيدې شی چه د حج په موسم كښې ډير مسلمان په منی كښې جمع كيږی او په هغوی كښې داسې مسلمانان هم وو كوم چه نوې مسلمانان وو او د دين احكام ورله پوره نه ورتلل په دې وجه به عثمان رضي الله عنه هغوی ته د ور زده كولو لپاره څلور ركعته كول چه ناخبره مسلمانان پوهه شی چه د مانځه څلور ركعته دی كه قصر ئې كولې او دوه ركعته ئې كولې نو هغه خلقو به دا گڼړله چه دوه ركعتونه فرض دی. لكه د دې باب روايت ۸۱۹ (سنن بيهقی ج ۳ ص ١٤٤) كښې د دې تصريح ده روايت ۸۲۰ (طحاوی ج ۱ ص ۲۸۹) كښې هم دا توجيه ده.

او يا دا هم وئيلې كيدې شی چه په آخر كښې د عثمان رضي الله عنه عمل د عائشې رضي الله عنها د رائې مطابق شوې وو څكه چه د عائشې رضي الله عنها په نزد په سفر كښې قصر او اتمام دواړه جائز وو.

۲: شپږم روايت (۸۱۸) عن ابی ليلی الكندی (طحاوی ج ۱ ص ۲۸۶) د سلمان فارسی رضي الله عنه ارشاد دې: قَالَ سَلْمَانُ: مَالَنَا وَلِلْمُرَبَّعَةِ، إِنَّمَا يَكْفِينَا نِصْفُ الْمُرَبَّعَةِ.

بهر حال د اتمام صلاة فی السفر ثبوت سوا د عثمان رضي الله عنه، او عائشې رضي الله عنها نه سوا د چا نه هم نه دې شوې او د هغوی اتمام به هم د تاويل څخه وو كوم چه د دې نه مخكښې عرض كړې شوې دې نو د احنافو مذهب قوی شو او هم دا د جمهورو مذهب دې هم په دې وجه چه كله ابن مسعود رضي الله عنه ته د سيدنا عثمان رضي الله عنه د اتمام خبر ملاؤ شو نو هغوی ﴿ انا لله ﴾ وئيلې وو.

**د بعض ائمة اقوال:** امام ابن دقيق العيد په احكام الاحكام ج ۱ ص ۹۹ كښې ليكی وفی الحديث:

وفی الحديث (عن ابن عمر رضي الله عنهما قال سافرت مع النبی صلی الله تعالی عليه وسلم وابی بكر رضي الله عنه وعمر رضي الله عنه وعثمان رضي الله عنه

فکانوا یصلون الظهر والعصر رکعتین رکعتین لا یصلون قبلها ولا بعدها (بخاری ج: ۱، ص: ۱۴۹)

دلیل علی المواظبة علی القصر و هو دلیل علی رجحان ذلك و بعض الفقهاء قد اوجب القصر و الفعل بمجرده لا یدل علی الوجوب لکن المتحقق من هذه الروایة الرجحان فیؤخذ منه وما زاد مشکوك فیه فیترك۔

حافظ ابن القیم رحمه الله په زاد المعاد ج ۱ ص ۱۲۸ کښې لیکی:

وکان صلی الله علیه وعلی آله وسلم یقصر الرباعیة فیصلیهما رکعتین من حین یخرج مسافرا الی ان یرجع الی المدینة ولم یثبت عنه انه اتم الرباعیة فی سفره البتة۔

هم دغه شان علامه بدر الدین البعلی په مختصر الفتاوی المصریة ص ۷۲ کښې لیکی. هم دغه شان حافظ ابن تیمة په خپله فتاوی ج ۲ ص ۴۰۹ کښې لیکلې دی.

**د امام شافعی رحمه الله دلائل او د احنافو ځوابات:** ۱: نسائی ج ۱ ص ۱۶۱ او سنن الکبری ج ۳ ص ۱۴۲ کښې روایت دې:

فسألت رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم عن ذلك فقال صدقة تصدق الله بها علیکم فاقبلوا صدقته۔

امام شافعی رحمه الله فرمایی چه صدقة که ځوک قبلوی او که نه. احناف په ځواب کښې وائی:

صدقه په دوه قسمه ده یو لپاره د تملیک هغه که ځوک قبلوی او که نه په هغې کښې دواړه اړخونه وی. دویم صدقه د اسقاط په دې کښې د رد سوال نه پیدا کیږی نو دلته ثانی مراد ده.

علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دلته (فاقبلوا) صیغه د امر ده. د وجوب لپاره به دا اخستل وی.

۲: دارقطنی ج ۱ ص ۲۴۲ کښې سیده عائشه رضی الله عنها فرمائی:

افطرتُ وصمتُ وقصرتُ واتممت۔ فقال النبی صلی الله تعالی علیه وسلم احسنت یا عائشة رضی الله عنها وقال الدار قطنی متصل واسناده حسن۔

په ځواب کښې حافظ ابن القیم رحمه الله په زاد المعاد ج ۱ ص ۱۳۸ کښې لیکی:

وقال شیخنا ابن تیمیة رحمه الله وهذا باطل ما کانت ام المومنین تخالف رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم وجمیع اصحابه فتصلی خلاف صلوته کیف والصحیح عنها ان الله تعالی فرض الصلوة رکعتین رکعتین فلما هاجر رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم الی المدینة زید فی صلوة الحضر واقرت صلوة السفر فکیف یظن بها مع ذلك ان تصلی بخلاف صلوة النبی صلی الله تعالی علیه وسلم والمسلمین۔ او په (ج: ۱، ص: ۱۳۰) کښې لیکی: قالت یا رسول الله! بابی انت وامی قصرتُ واتممتُ وصمتُ وافطرتُ قال احسنت یا عائشة رضی الله عنها وسمعت شیخ الاسلام ابن تیمیة رحمه الله یقول هذا الحدیث کذب علی عائشة رضی الله عنها۔

هم د دې مضمون یو روایت په دارقطنی ج ۱ ص ۲۴۲ کښې راغلې دې. الفاظ دا دی:

كان رسول الله ﷺ يقصر ويتم ويفطر ويصوم.

حافظ ابن تیمیه رحمه الله په فتاوی ج ۲ ص ۴۰۹ کښې د دې په ځواب کښې لیکی: هذا الحديث كذب وباطل. امام بیهقی رحمه الله فرمائی: والصحيح عن عائشة موقوف ونصب الراية ج ۲ ص ۱۹۲. ابن القیم زاد المعاد ج ۱ ص ۱۲۸ کښې لیکی:

وقد روى كان يقصر وتتم الاول بالياء اٰخر الحروف والثانى بالتاء المثناة من فوق وكذلك يفطر (تصوم اى تأخذ هى بالعزيمة فى الموضعين.

۳: روایت مرفوع دې نه وی د عائشې رضی الله عنها موقوف خو دې هغې به اتمام کولو او هم دا به ئې عزیمت ګنړلو نو د دې نه رخصت ثابت شو. حافظ ابن القیم رحمه الله په زاد المعاد ج ۱ ص ۱۳۰ کښې فرمائی چه عائشې رضی الله عنها به فرمائیل زه مسافره نه یم، ام المومنین یم، ټول مسلمانان زما بچی دی زه څنګه مسافره یم؟ احناف په ځواب کښې وائی.

د عائشې رضی الله عنها دا تاویل د هغې په ذات پورې محدود دې د رسول الله ﷺ او خلفاء راشدینو تعامل په قصر باندې وو. حافظ ابن القیم زاد الماد ج ۱ ص ۱۳۰ کښې فرمائی:

فان النبى صلى الله تعالىٰ عليه وسلم اب المومنين ايضا وامومة ازواجه فرع ابوته ولم يكن يتم لهٰذا السبب.

۴: سیدنا عثمان رضی الله عنه به د خپل خلافت په دور کښې پوره مونځ کولو او که د اتمام ګنجائش نه وې نو خلیفه راشد رضی الله عنه به داسې ولې کولې؟ احناف په ځواب کښې وائی.

الف: شاه ولی الله صاحب رحمه الله په شرح التراجم ابواب البخاری ص ۲۸ کښې فرمائی چه د هغې خلاصه دا ده چه د حبش او سوډان څه خلق چا چه د عثمان رضی الله عنه څخه د ماسپخین او مازیګر مونځونه په منی کښې ادا کړی وو په غلط فهمئ کښې پریوتل چه خلقو به وئیل چه د ماسپخین او مازیګر مونځ څلور څلور رکعتونه دې خلیفة المسلمین خو دوه دوه کوی مونږ به کور ته تلو څخه هم دوه کوو. چه کله عثمان رضی الله عنه ته معلومه شوه نو د هغوی د غلطئ لرې کولو لپاره هغوی د ماسپخین او مازیګر څلور څلور رکعته اوکړل چه هغوی په غلط فهمئ کښې اخته نه شی. په آثار السنن ص ۲۱۲ کښې دی:

عن الزهرى رحمه الله قال انما صلى عثمان رضی الله عنه بمنى اربعا لان الاعراب كانوا اكثر فى ذٰلك العام فاحب ان يخبرهم ان الصلوٰة اربع رواه الطحاوى (ج: ۱،ص: ۲۰۶) وابوداوٗد (ج: ۱،ص: ۲۷۰) ولفظ ابى داوٗد عن الزهرى ان عثمان بن عفان رضی الله عنه اتم الصلوٰة بمنى من اجل الاعراب لانهم كثروا عامئذ فصلى بالناس اربعا ليعلمهم ان الصلوٰة اربعا. انتهٰى واسناده مرسل قوى.

ب : په زاد المعاد ج ۱ ص ۱۳۰ کښې دی :

قال صلی عثمان باهل منیٰ اربعًا وقال: یایها النّاس لما قدمت مکة تأهلت وانی سمعت رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه وسلم یقول:

''اذا تأهّل الرجل ببلدة فانه یصلی بها صلوٰة مقیم''۔(رواه الامام احمد رحمه الله فی مسنده)

او مولانا عثمانی رحمه الله په فتح الملهم ج ۲ ص ۲۴۷ کښې لیکی :

وقد نص احمد وابن عباس قبله ان المسافر اذا تزوج لزمه الاتمام وهٰذا قول ابی حنیفة رحمه الله ومالک رحمه الله و اصحابهما رحمهم الله وهذا احسن ما اعتذر به عن عثمان رضی الله عنه۔

او بعینها دا عبارت په زاد المعاد ج ۱ ص ۱۳۰ کښې هم دي. ملخصا از خزائن السنن.

## بَابُ مَنْ قَدَّرَ مَسَافَةَ الْقَصْرِ بِأَرْبَعَةِ بُرُدٍ

(۸۲۱) عَنْ عَطَآءِ بْنِ اَبِیْ رَبَاحٍ اَنَّ ابْنَ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ وَابْنَ عَبَّاسٍ رَّضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ کَانَا یُصَلِّیَانِ رَکْعَتَیْنِ وَیُفْطِرَانِ فِیْ اَرْبَعَةِ بُرُدٍ فَمَا فَوْقَ ذٰلِکَ۔ رَوَاهُ الْبَیْهَقِیُّ وَابْنُ الْمُنْذِرِ بِاِسْنَادٍ صَحِیْحٍ۔

**باب چا چه د قصر مسافت په څلورو منزلونو څخه اندازه کړي دي:** ۸۲۱: د عطاء بن ابی رباح رحمه الله نه روایت دي چه سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما او ابن عباس رضی الله عنهما به په څلورو برد او د هغې نه په زیات باندې دوه رکعتونه کول او روژه به ئې ماتوله. دا حدیث بیهقی او ابن المنذر په صحیح سند څخه نقل کړې دي.

(۸۲۲) وَعَنْهُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهُ سُئِلَ اَتُقْصَرُ الصَّلٰوةُ اِلٰی عَرَفَةَ قَالَ لَا وَلٰکِنْ اِلٰی عُسْفَانَ وَ اِلٰی جَدَّةَ وَاِلَی الطَّآئِفِ۔ اَخْرَجَهُ الشَّافِعِیُّ وَقَالَ الْحَافِظُ ابْنُ حَجَرٍ فِی التَّلْخِیْصِ اِسْنَادُهٗ صَحِیْحٌ۔

۸۲۲: د عطاء بن ابی رباح رحمه الله نه روایت دي چه د ابن عباس رضی الله عنهما نه پوښتنه اوکړې شوه چه تاسو د عرفات پورې (فاصله باندې) قصر کوئ؟ هغوی اوفرمائیل : نه ؛ خو د عسفان، جده او طائف پورې سفر کښې (قصر کوم). دا حدیث امام شافعی رحمه الله نقل کړې دي. حافظ ابن حجر په تخلیص کښې وائی : د دې اسناد صحیح دي.

(۸۲۳) وَعَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ عَنْ اَبِیْهِ اَنَّهٗ رَکِبَ اِلٰی رِیْمٍ فَقَصَرَ الصَّلٰوةَ فِیْ مَسِیْرِهٖ ذٰلِکَ۔ رَوَاهُ مَالِکٌ وَاِسْنَادُهٗ صَحِیْحٌ۔

۸۲۳: د سالم بن عبد الله نه روایت دي چه عبد الله بن عمر رضی الله عنهما د ریم پورې سفر اوکړو، نو هغوی د خپل سفر دوران کښې د قصر مونځ ادا کړو. دا حدیث مالک نقل کړې دي او د دې اسناد صحیح دي.

(۸۲۴) وَعَنْهُ اَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ رَكِبَ اِلٰى ذَاتِ النَّصَبِ فَقَصَرَ الصَّلٰوةَ فِيْ سَيْرِهٖ ذٰلِكَ۔ رَوَاهُ مَالِكٌ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

قَالَ النِّيْمَوِيُّ وَقَدْ رُوِيَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ خِلَافُ ذٰلِكَ۔

۸۲۴: د سالم بن عبدالله نه روایت دې چه عبدالله بن عمر رضی الله عنهما د ذات النصب پورې سفر اوکړو نو په خپل مانځهٔ کښې ئې قصر اوکړو. دا حدیث مالک نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.
امام نیموی رحمه الله وائی: او یقینا د ابن عمر رضی الله عنهما نه د دې خلاف هم روایات نقل کړې شوې دی.

(۸۲۵) عَنْ نَافِعٍ اَنَّ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كَانَ اَدْنٰى مَا يَقْصُرُ فِيْهِ مَالٌ لَهٗ بِخَيْبَرَ۔ رَوَاهُ عَبْدُ الرَّزَّاقِ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔ قَالَ النِّيْمَوِيُّ بَيْنَ الْمَدِيْنَةِ وَخَيْبَرَ ثَمَانِيَةُ بُرُدٍ۔

۸۲۵: د نافع نه روایت دې چه ابن عمر رضی الله عنهما به د ټولو نه کمه فاصله چه په هغې کښې به ئې قصر کولو هغه ئې خیبر کښې تر خپلې زمکې پورې وو. دا حدیث عبدالرزاق نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

امام نیموی رحمه الله فرمائی: د مدینې طیبې او د خیبر ترمینځه د اتهٔ برد فاصله ده.

**تشریح**>(۸۲۱ نه ۸۲۵ پورې) د شرعی فاصلې مقدار چه په هغې کښې د قصر وغیره احکام ثابتیږی د صحابه کرامو، تابعینو او ایمهٔ مجتهدینو ترمینځه مختلف فیه ده حافظ ابن حجر په فتح الباری کښې لیکی چه په دې سلسله کښې حافظ ابن المنذر رحمه الله تقریبا شل اقوال نقل کړی دی مونږ لاندې مشهور مذاهب او دلائل بیانوو.

**د سفر د فاصلې تحقیق او بیان د مذاهب:** ۱: امام ابوحنیفه رحمه الله دومره فاصلې له اعتبار ورکوی کوم چه عادةً په درې ورځو او درې شپو کښې اوکړې شی که د اوښ په رفتار څخه وی یا د غوئی د ریړې په رفتار وی، او درې ورځې هم د هر ملک په کال کښې د ټولو نه د وړوکی موسم معتبر دی بیا د سحر نه د شپې پورې مسلسل تلل هم نه دی بلکه روزانه د سحر نه تر د زوال د وخته پورې هر مرحلې ته رسیدلو څخه استراحت او آرام کولو څخه په درې ورځو او دریو شپو کښې د فاصلې پوره کول معتبر دی او ددې نه د احنافو په کتابونو کښې په درې مراحلو څخه هم تعبیر کولې شی.
(کذا فی معالم السنن ج ۲ ص ۵۰، والعرف الشذی ص ۲۴۰)

۲: د ائمهٔ ثلاثه په نزد د قصر فاصله شپاړس فرسخ ده دا هغوی موجب د قصر منی دا دواړه مذاهب متقارب دی ځکه چه شپاړس فرسخه اته څلویښت میله جوړیږی هم دغه شان د درې ورځو او درې شپو مسافت هم اته څلویښت میله دې.

۳: د ظواهر په نزد د سفر څه خاص مقدار متعین نه دې خو د ظواهر نه د تعین هم بعض

اقوال وراندي راروان دی د بعضو په نزد میل او د بعضو په نزد د دې مسلې فاصله معلومه ده

**د ائمة ثلاثة دلائل:** ۱: ددې باب تول روایات د ائمة ثلاثه مستدل دې د باب اول روایت ۸۲۱ عن عطاء بن ابی رباح (بیهقی ج ۳ ص ۱۳۷) کښې د اربعة تصریح دې. برد د برید جمع ده د څلورو فرسخو برید او یو فرسخ د درې میلو وی نو دا اته څلویښت میله جوړیږی فقهاء احنافو هم د سهولت لپاره اتهٔ څلویښت میله لیکلې دی چه د درې ورځو فاصله عموما اتهٔ څلویښت میله وی هم د امام شافعی رحمه الله نه یو قول د یو ورځ او یوې شپې د مسافت هم منقول دې دلیل دا روایت دې

عن ابی هریرة قال النبی صلی الله علیه وسلم لا یحل لامرأة تومن بالله والیوم الآخر ان تسافر یومًا ولیلة لیس معها حرمة۔ (بخاری ج: ۱،ص: ۱۴۸)

خواب دا دې چه د دې باب په نورو روایاتو کښې د ﴿ ثلاثة ایام ﴾ الفاظ دی او په عدد کښې د زیاتو اعتبار وی. د باب هٰذا روایت ۸۲۲ (مسند شافعی ج۱ ص۱۸۵)، روایت ۸۲۳، عن سالم بن عبد الله (موطاء امام مالک ص ۱۳۰) روایت ۸۲۴ عن سالم (موطاء ص ۱۳۰) کښې چه په کومو فاصلو کښې د قصر بیان راغلي دې دا ټولې فاصلې څلور برد وې لکه چه امام نیموی رحمه الله په تعلیق الحسن کښې تصریح کړې ده او روایت ۸۲۵ عن نافع (مصنف عبدالرزاق ج ۲ ص ۵۲۶) کښې امام نیموی رحمه الله فاصله اتهٔ برد بیان کړې ده.

**د اهل ظاهر دلیل او د هغې خواب:** مسلم ج ۱ ص ۲۴۲ ومع فتح الملهم ج ۲ ص ۲۵۳ کښې روایت دې

عن انس رضی الله عنه قال کان رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه وسلم اذا خرج مسیرة ثلاثة امیال او ثلاثة فراسخ شعبة شاك فصلّی رکعتین۔

مولانا عثمانی رحمه الله په فتح الملهم ص ۲۵۳ کښې لیکی : قال الحافظ وحکی النووی ان اهل الظاهر ذهبوا الی ان اقل مسافة السفر ثلاثة امیال کانهم احتجوا فی ذٰلك بحدیث الباب۔

و هغوی یو بل روایت هم پیش کړې دې کوم چه په بخاری ج ۱ ص ۱۴۸ کښې دې

عن انس رضی الله عنه قال صلیت الظهر مع رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه وسلم بالمدینة اربعًا والعصر بذی الحلیفة رکعتین۔

**الخواب:** د دې په خواب کښې امام نووی رحمه الله په شرح مسلم ج ۱ ص ۲۴۲ کښې فرمائی

وهٰذا الحدیث فلا دلالة فیه لاهل الظاهر فی جواز القصر فی طویل السفر وقصیره لان النبی لم یکن حین سافر صلّی الله تعالیٰ علیه وسلم الی مکة فی حجة الوداع صلّی الظهر بالمدینة اربعًا ثم سافر فادرکت العصر وهو مسافر بذی الحلیفة

فصلا ها رکعتین ولیس المراد ان ذا الحلیفة کان غایة سفره فلا دلالــة فیه قطعًا واما ابتداء القصر فیجوز من حین یفارق بنیان بلده او خیام قومه ان کان اهل الخیام۔

د دې په رڼا کښې به د اول روایت مطلب دا وی چه کله به رسول الله ﷺ د مدینې طیبې نه تقریبا درې میله بهر لاړو او د مانځه وخت به هلته شروع شو نو هلته به ئې قصر کولو او دا مطلب نه دې چه د سفر انتهاء به ئې درې میله وه او بیا د شعبه په روایت کښې درې میله یا درې فرسخ شک دې درې فرسخ نهه میله جوړیږی نو د دې نه علی التعین میل څنګه ثابتیدلې شی؟

## بَابُ مَا اسْتُدِلَّ بِهٖ عَلٰى اَنَّ مَسَافَةَ الْقَصْرِ ثَلَاثَــةُ اَيَّامٍ

(٨٢٦) عَنْ شُرَيْحِ بْنِ هَانِئٍ قَالَ اَتَيْتُ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَسْأَلُـهَا عَنِ الْمَسْحِ عَلَى الْخُفَّيْنِ فَقَالَتْ عَلَيْكَ بِابْنِ اَبِىْ طَالِبٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَاسْأَلْــهُ فَاِنَّــهُ كَانَ يُسَافِرُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَـيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلْنَاهُ فَقَالَ جَعَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَـيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةَ اَيَّامٍ وَّلَـيَالِيَهُنَّ لِلْمُسَافِرِ وَيَوْمًا وَّلَـيْلَةً لِّلْمُقِيْمِ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

**باب: د کومو روایاتو نه چه د قصر د مودې په درې ورځو کیدو باندې استدلال کړې شوې دې: ۸۲۶:** شریح بن هانی رحمه الله فرمائی: زه د ام المومنین سیده عائشه رضی الله عنها په خدمت کښې حاضر شوم، د هغې نه مې د موزو د مسح په باره کښې پوښتنه اوکړه نو هغې اوفرمائیل: ته ابن ابی طالب رضی الله عنه ته لاړ شه او د هغوی نه پوښتنه اوکړه، هغوی به د رسول الله ﷺ څخه یوځائې سفر کولو، مونږ د هغوی نه پوښتنه اوکړه نو هغوی اوفرمائیل: رسول الله ﷺ درې ورځې او درې شپې د مسافر لپاره رضی الله عنه او یو ورځ او یو شپه د مقیم لپاره مقرر فرمائیلې دی. دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

(٨٢٧) وَعَنْ اَبِىْ بَكْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَـيْهِ وَسَلَّمَ جَعَلَ لِلْمُقِيْمِ يَوْمًا وَّلَـيْلَةً وَّلِلْمُسَافِرِ ثَلَاثَةَ اَيَّامٍ وَّلَـيَالِيَهُنَّ فِى الْمَسْحِ عَلَى الْخُفَّيْنِ۔ رَوَاهُ ابْنُ جَارُوْدَ وَاٰخَرُوْنَ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۸۲۷: د سید ابوبکره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ په موزو باندې د مسح په باره کښې د مقیم لپاره یو ورځ او شپه او د مسافر لپاره درې ورځې او درې شپې مقرر فرمائیلې دی.

دا حدیث ابن الجارود او نورو محدثینو نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(٨٢٨) وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ رَبِيْعَةَ الْوَالِبِيِّ قَالَ سَأَلْتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اِلٰى كَمْ تُقْصَرُ الصَّلٰوةُ فَقَالَ اَتَعْرِفُ السُّوَيْدَآءَ قَالَ قُلْتُ لَا وَلٰكِنِّىْ قَدْ سَمِعْتُ بِـهَا قَالَ هِىَ ثَـلَاثُ لَـيَالٍ قَوَاصِدَ فَاِذَا خَرَجْنَا اِلَـيْهَا قَصَرْنَا الصَّلٰوةَ۔ رَوَاهُ مُحَمَّدُ بْنُ الْحَسَنِ فِى الْاٰثَارِ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۸۲۸: علی بن ربیعة الوالبی فرمائی: ما د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه پوښتنه اوکړه، د کوم ځائې

پورې د قصر مونځ کول پکار دی؟ هغوی اوفرمائیل : آیا ته سویراء پیژنې، هغوی وائی ما عرض اوکړو : نه جی! خو ما د هغې په باره کښې اوریدلې دی، هغوی اوفرمائیل : دا په درمیانه رفتار څخه د درې ورځو فاصله ده، چه کله مونږ د هغې طرف ته اوځو نو قصر کوو. دا حدیث محمد بن الحسن په کتاب الاثار کښې نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۸۲۹) وَعَنْ اِبْرَاهِيْمَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ سَمِعْتُ سُوَيْدَ بْنَ غَفَلَةَ الْجُعْفِيَّ يَقُوْلُ اِذَا سَافَرْتَ ثَـلَاثًا فَاقْصُرْ۔ رَوَاهُ مُحَمَّدُ بْنُ الْحَسَنِ فِي الْحُجَجِ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۸۲۹: ابراهیم بن عبدالله فرمائی : ما د سوید بن غفلة الجهنی رحمه الله نه واوریدل هغوی اوفرمائیل : چه کله تاسو درې «ورځې» سفر کوئ نو قصر کوئ. دا حدیث محمد بن الحسن په کتاب الحج کښې نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

**تشریح>** (۸۲۲ نه ۸۲۹ پورې) د دې باب اول روایت ۸۲۲ **عن شریح بن هانئ** (مسلم ج ۱ ص ۱۳۵) کښې د مسافر لپاره د درې ورځو او درې شپو تصریح ده صاحب هدایة فرمائی چه څنګه د سفر په سبب څخه په شرعی احکامو کښې تغیر کیدې شی هغه د درې ورځو دې قصر هم یو شرعی مسئله ده نو د درې ورځو نه به زیات قصر کول پکار وی، د دې باب نور روایات ۸۲۷ **عن ابی بکرة** (منتقی ابن الجارود ص ۳۹) روایت ۸۲۸ **وعن علی** (کتاب الآثار ص ۳۹) او روایت ۸۲۹ **عن ابراهیم** (کتاب الحج ج ۱ ص ۱۲۸) مدلول هم دا دې چه د قصر فاصله **ثلاثة ایام ولیالیها** ده د دې نه علاوه په بخاری ج ۱ ص ۱٤۷ کښې روایت دې **﴿قال رسول الله ﷺ لا تسافر المراة ثلاثة ایام الا مع ذی رحم محرم﴾** د دې حدیث نه هم معلومه شوه چه د کوم نه د سفر شرعی دحکم استفاده کیږی هغه درې ورځې دې.

## بَابُ الْقَصْرِ اِذَا فَارَقَ الْبُيُوْتَ

(۸۳۰) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ سَافَرْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَ اَبِيْ بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَعُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كُلُّهُمْ صَلّٰى مِنْ حِيْنَ يَخْرُجُ مِنَ الْمَدِيْنَةِ اِلٰى اَنْ يَرْجِعَ اِلَيْهَا رَكْعَتَيْنِ فِي الْمَسِيْرِ وَالْقِيَامِ بِمَكَّةَ۔ رَوَاهُ اَبُوْ يَعْلٰى وَالطَّبَرَانِيُّ وَقَالَ الْهَيْثَمِيُّ رِجَالُ اَبِيْ يَعْلٰى رِجَالُ الصَّحِيْحِ۔

**باب: چه کله (د ښهر) د کورونو نه جدا شی (نو) قصر (کول):**

۸۳۰ : سیدنا ابوهریره رضی الله عنه فرمائی : ما د رسول الله ﷺ، ابوبکرصدیق، عمر فاروق رضی الله عنهما څخه سفر کړې دې، دې ټولو حضراتو به مدینې طیبې نه د واپس کیدلو پورې د سفر دوران او په قیام کښې دوه رکعتونه ادا فرمائیل. دا حدیث ابویعلی او طبرانی نقل کړې دې، هیثمی فرمائی : د ابویعلی رجال د صحیح رجال دی.

(۸۳۱) وَعَنْ اَبِیْ حَرْبِ بْنِ اَبِی الْاَسْوَدِ الدِّیْلِیِّ اَنَّ عَلِیًّا رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ خَرَجَ مِنَ الْبَصْرَةِ فَصَلَّی الظُّهْرَ اَرْبَعًا ثُمَّ قَالَ: اِنَّا لَوْ جَاوَزْنَا هٰذَا الْخُصَّ لَصَلَّیْنَا رَكْعَتَیْنِ. رَوَاهُ ابْنُ اَبِیْ شَیْبَةَ وَرُوَاتُهٗ ثِقَاتٌ.

۸۳۱: د ابو حرب بن ابی الاسود الدیلی نه روایت دې چه علی رضی الله عنه د بصرې طرف ته اوتلو نو د ماسپخین مونځ ئې څلور رکعته ادا کړو، بیا ئې اووې: که زه د دې جهونپړئ نه وتلې وې نو دوه رکعتونه به مې کولې. دا حدیث ابن ابی شیبة نقل کړې دې او د دې راویان ثقة دی.

(۸۳۲) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهٗ كَانَ یَقْصُرُ الصَّلٰوةَ حِیْنَ یَخْرُجُ مِنْ شُعَبِ الْمَدِیْنَةِ وَیَقْصُرُ اِذَا رَجَعَ حَتّٰی یَدْخُلَهَا. رَوَاهُ عَبْدُ الرَّزَّاقِ وَاِسْنَادُهٗ لَا بَاْسَ بِهٖ.

۸۳۲: سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما به چه کله د مدینې منورې د لارو نه اوتلو نو مونځ به ئې قصر ادا کولو او کله چه به واپس شو نو مدینې منورې ته د داخلیدو پورې به ئې قصر مونځ کولو.

دا حدیث عبد الرزاق نقل کړې دې او د دې اسناد لا بأس به دې.

**تشریح**> (۸۳۰ نه ۸۳۲ پورې) د قصر ابتداء به د کوم ځائې نه کوی په دې باب کښې د دې مسئلې توضیح ده.

**د قصر ابتداء او مذاهب فقهاء**: ۱: د بعض تابعینو نه نقل دی چه کله د سفر اراده اوکړې شی نو د خپل کور نه قصر ادا کولې شی.

۲: مجاهد رحمه الله فرمائی که سفر د ورځې شروع کړی نو ترڅو چه شپه شوې نه وی تر هغه وخته پورې قصر نه شی کولې که په شپه کښې سفر شروع کړی نو ترڅو چه ورځ نه وی راختلې تر هغې پورې قصر نه شی کولې.

۳: د امام مالک رحمه الله نه یو روایت دې چه کله د آبادئ نه درې میله اوځی نو قصر دې کوی.

۴: د امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله، امام شافعی رحمه الله، امام احمد رحمه الله، امام اوزاعی رحمه الله، امام اسحاق رحمه الله، امام ابوثور رحمه الله اود امام مالک رحمه الله (فی روایة) مسلک د ادې چه د قصر شروع د هغه وخت نه کیږی چه کله مسافر د خپل مسکن نه وتلو څخه د ښهر د آبادئ نه بهر شی. (کذا فی المغنی لابن قدامة) د احنافو په نزد هم دا صحیح او مختار دې او هم په دې باندې فتوی ده.

**د احنافو د مسلک دلائل**: ۱: د دې باب اول روایت ۸۳۰ **عن ابی هریرة** (مسند ابی یعلی الموصلی ج ۱ ص ۲۵٦، مجمع الزوائد ج... ص ۱۵٦) کښې تصریح ده چه رسول الله صلی الله علیه وسلم، ابوبکر او عمر رضی الله عنهما به د مدینې طیبې نه د وتلو دوخت نه قصر کولو.

۲: د دې باب دویم روایت ۸۳۱ **عن ابی حرب بن ابی الاسود** (مصنف ابن ابی شیبة ج ۲ ص ۴۴۹) د

سیدنا علی رضی الله عنه معمول منقول دې چه د بصرې نه اوځی نو څلور رکعتونه به ئې کول بیا ئې اوفرمائیل چه که د دې (جهونپړئ) نه وړاندې لاړ شی نو قصر دې ضرور کوی.

۳: د باب دریم روایت (۸۳۲) وعن ابن عمر (مصنف عبدالرزاق ج ۲ ص ۵۳۰) کښې د قصر تصریح ده چه د ښهر د آبادئ نه په وتلو باندې به ئې قصر کولو.

۴: د دې نه علاوه په صحیحین کښې د انس رضی الله عنه نه روایت دې (( صليت مع رسول الله ﷺ الظهر بالمدينة اربعاً والعصر بذى الحليفة ركعتين )) نه هم دا ثابتیږی چه کله د ښهر د آبادئ نه اوځی نو هغه وخت دې قصر کوی.

**یوه فائده: سوال:** د ښهر د آبادئ نه جدا کیدو څخه به د ښهر فناء شروع کیږی ځکه چه د ښهر فناء په مختار قول باندې د یو غلوه پورې وی او د ښهر فناء هم شرعا د ښهر څخه ملحق ده، تردې چه هلته اخترونه او جمعه قائم کول جائز دی، معلومه شوه چه د ښهر په فناء باندې د تیریدلو نه مخکښې قصر جائز نه دې.

**ځواب:** فناء د ښهر څخه ملحق کول د مقیم خلقو د ضرورت د وجې نه ده نه مطلقا او په ناضی خان کښې دی که د ښهر او فناء ترمینځه د یو غلوه نه کم وی او په مینځ کښې څه پټې وغیره نه وی نو د فناء نه متجاوز کیدل معتبر دی، ګینې صرف د ښهر د آبادئ نه متجاوز کیدل معتبر دی بعض حضراتو د امام شافعی رحمه الله نه نقل کړی دی چه په ښهر کښې صرف د ښهر د قلعه نه تیریدل د قصر لپاره کافی دی، د ښهر د قلعه نه بهر چه کومه آبادی وی د هغې نه اوختل ضروری نه دی.

## بَابٌ يَقْصُرُ مَنْ لَمْ يَنْوِ الْإِقَامَةَ وَإِنْ طَالَ مُكْثُهُ وَالْعَسْكَرُ الَّذِىْ دَخَلَ اَرْضَ الْحَرْبِ وَاِنْ نَوَوُا الْإِقَامَةَ

(۸۳۳) عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ اَقَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِسْعَةَ عَشَرَ يَقْصُرُ فَنَحْنُ اِذَا سَافَرْنَا تِسْعَةَ عَشَرَ قَصَرْنَا وَاِنْ زِدْنَا اَتْمَمْنَا. رَوَاهُ الْبُخَارِىُّ.

**باب: هغه مسافر چه په (څه ځائې) کښې د پاتې کیدو اراده او نکړی، هغه دې قصر کوی، اګر چه د هغه ایساریدل زیات شی او هغه لښکر چه دارالحرب ته داخل شی اګر که د اقامت نیت ئې کړې وی.**

۸۳۳: د عکرمه رحمه الله نه روایت دې چه سیدنا عبد الله بن عباس رضی الله عنهما اوفرمائیل : رسول الله ﷺ تر نورلسو (۱۹) ورځو پورې ایسار وو، قصر ئې کولو، پس مونږ چه به کله سفر کولو، نورلس ورځې

(ایساریدلو) باندې مو قصر کولو او که زیات به ایساریدلو نو پوره مونځ به مو کولو. دا حدیث بخاری نقل کړې دې.

(۸۳۴) وَعَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ اَقَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ عَامَ الْفَتْحِ خَمْسَ عَشْرَةَ يَقْصُرُ الصَّلٰوةَ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

۸۳۴: د عبيد الله بن عبد الله نه روايت دې چه سيدنا ابن عباس رضی الله عنهما اوفرمائيل : رسول الله ﷺ د فتح مکې په کال په مکه مکرمه کښې پنځلس ورځې ايسار وو. د قصر مونځ به ئې ادا فرمائيلو. دا حديث ابوداؤد نقل کړې دې او ددې اسناد صحيح دې.

(۸۳۵) وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ الْمِسْوَرِ قَالَ كُنَّا مَعَ سَعْدِ بْنِ اَبِيْ وَقَّاصٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فِيْ قَرْيَةٍ مِّنْ قُرَى الشَّامِ فَكَانَ يُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ فَنُصَلِّيْ نَحْنُ اَرْبَعًا فَنَسْأَلُهٗ عَنْ ذٰلِكَ فَيَقُوْلُ سَعْدٌ : نَحْنُ اَعْلَمُ. رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

۸۳۵: عبدالرحمٰن بن مسور رحمه الله فرمائی مونږ د سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه څخه د شام د آبادو نه په يو آبادئ کښې وو، هغوی به دوه رکعته کول مونږ به څلور رکعتونه ادا کول، مونږ د هغوی نه د دې په باره کښې پوښتنه اوکړه، نو سعد رضی الله عنه اوفرمائيل : مونږ زيات پوهيږو. دا حديث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(۸۳۶) وَعَنْ اَبِيْ جَمْرَةَ نَصْرِ بْنِ عِمْرَانَ قَالَ : قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اِنَّا نُطِيْلُ الْقِيَامَ بِخُرَاسَانَ فَكَيْفَ تَرٰى؟ قَالَ : صَلِّ رَكْعَتَيْنِ وَاِنْ اَقَمْتَ عَشْرَ سِنِيْنَ. رَوَاهُ اَبُوْبَكْرِ بْنُ اَبِيْ شَيْبَةَ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

۸۳۶: ابوجمره نصر بن عمران فرمائی : ما ابن عباس رضی الله عنهما ته اووې : مونږ په خراسان کښې اوږد قيام کوو، نو ستاسو څه خيال دې؟ هغوی اوفرمائيل : دوه رکعتونه کوه، اګر چه تاسو لس کاله پاتې شئ. دا حديث ابوبکر بن ابی شيبة نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(۸۳۷) وَعَنْ نَّافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ اَرْتَجَ عَلَيْنَا الثَّلْجُ وَنَحْنُ بِاَذْرَبِيْجَانَ سِتَّةَ اَشْهُرٍ فِيْ غَزَاةٍ قَالَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَكُنَّا نُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ. رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي الْمَعْرِفَةِ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

۸۳۷: د نافع رحمه الله نه روايت دې چه سيدنا عبد الله بن عمر رضی الله عنهما اوفرمائيل : په يو غزوه کښې مونږ په آذر بائيجان کښې وو چه په مونږ باندې مسلسل تر شپږو ورځو پورې واورې وريدلې، سيدنا ابن عمر رضی الله عنهما اوفرمائيل، او مونږ به دوه رکعتونه کول. دا حديث بيهقی په معرفة السنن والآثار کښې نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(۸۳۸) وَعَنِ الْحَسَنِ قَالَ كُنَّا مَعَ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ سَمُرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ بِبَعْضِ بِلَادِ فَارِسٍ سَنَتَيْنِ فَكَانَ لَايُجَمِّعُ وَلَايَزِيْدُ عَلٰى رَكْعَتَيْنِ۔ رَوَاهُ عَبْدُ الرَّزَّاقِ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۸۳۸: حسن رحمه الله فرمائي : مونږ د عبد الرحمن بن سمره رضي الله عنه څخه د فارس په يو ښهر کښې دوه کاله پاتې شو نو نه به هغوی جمعه کوله او نه به ئې د دوه رکعتو نه زيات مونځ کولو.

دا حديث عبد الرزاق نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(۸۳۹) وَعَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ اَصْحَابَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَقَامُوْا بِرَامَهُرْمُزَ تِسْعَةَ اَشْهُرٍ يُقَصِّرُوْنَ الصَّلٰوةَ۔ رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

۸۳۹: د سيدنا انس رضي الله عنه نه روايت دې چه د رسول الله ﷺ صحابه کرام رضي الله عنهم رامهرمز کښې نهه مياشتې ايسار شوې وو (دې دوران کښې ئې) قصر مونځ ادا کولو. دا حديث بيهقی نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

**تشريح** (۸۳۳ نه ۸۳۹ پورې) که په يو ځائې باندې مسافر د دوه څلورو ورځو په ارادې څخه قيام اوکړو بيا ئې لس پنځلس ورځې نور هم قيام اوکړو، هم د دې لړې مودې د نيت په اعتبار څخه د قيام موده زياتيدله يعنی د پنځلسو ورځو نه ئې کمه ار. ده وه ترددې چه په دغه ځائې کښې ئې ډير کلونه اولګيدل نو بيا به هم قصر کوی د دې باب د انعقاد غرض هم دا دې او د دې باب نه لاندې ليکلې شوې احاديث ئې هم د دې دلائل دی.

۱: د دې باب اول روايت ۸۳۳ **عن عكرمة عن ابن عباس** (بخاری ج ۱ ص ۱۴۷) کښې د رسول الله ﷺ نه تر نورلس ورځو پورې قصر ثابت دې (**فاقام تسعة عشر يوما**) مطلب دا دې چه رسول الله ﷺ نورلس ورځې بغير د اقامت د نيت نه هم دغه شان پاتې وو چه په نن صبا کښې به د هغه ځائې نه روانيږی، د تلو اراده به ئې فرمائيله خو بغير د قصد او ارادې نه د رسول الله ﷺ قيام هلته نورلس ورځې شو. خو ابن عباس رضي الله عنهما د دې نه دا نتيجه راويستله چه که يو سړې په حالت د سفر کښې چيرته نورلس ورځې ايسار شی نو هغه قصر مونځ کولې شی خو د نورلس ورځو نه پس د هغه لپاره قصر جائز نه دې په دې مسئله کښې ابن عباس رضي الله عنهما منفرد دې او بل دچا هم دا مسلک نشته.

۲: روايت ۸۳۴ **عن عبيدالله بن عبدالله** (ابوداؤد ج ۱ ص ۱۷۳) روايت ۸۳۵ **عن عبدالرحمن بن المسور** (طحاوی ج ۱ ص ۲۸۶) مدلول هم واضح دې او روايت ۸۳۲ **عن جمرة** (مصنف ابن ابی شيبة ج ۲ ص ۴۵۳) کښې د **واقمت عشر سنين** تصريح ده.

۳: روايت ۸۳۷ **عن نافع عن ابن عمر** (بيهقی ج ۳ ص ۱۵۲) روايت ۸۳۸ **عن الحسن** (مصنف عبدالرزاق

ج ۲ ص ۵۳۶) روایت ۸۳۹ وعن انس رضی الله عنه (بیهقی ج ۳ ص ۱۵۲) کښې د دشمن مقابله کونکی لښکر لپاره د قصر حکم ذکر شوې دې اګر چه د اقامت نیت ئې کړې وی ځکه چه لښکر په دې خبره کښې وی چه شکست اوخوری نو تختی به او که شکست ورکړی نو قرار به نیسی او نور به هم مخکښې ورځی پس هغه د اقامت مقام نه شو لهذا په دې ځائې باندې د نیت اعتبار صحیح نه دې.

## بَـابُ الرَّدِّ عَلٰی مَنْ قَالَ اِنَّ الْمُسَافِرَ يَصِيْرُ مُقِيْمًا بِنِيَّةِ اِقَامَةِ اَرْبَعَةِ اَيَّامٍ

(۸۴۰) عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَّضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَـيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْمَدِيْنَةِ اِلٰى مَكَّةَ فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ حَتّٰى رَجَعَ قُلْتُ كَمْ اَقَامَ بِمَكَّةَ؟ قَالَ عَشْرًا. رَوَاهُ الشَّيْخَانِ.

**باب: رد په هغه چا باندې چه مسافر د څلورو ورځو په نیت څخه مقیم کیږی:** ۸۴۰: سیدنا انس بن مالک رضی الله عنه فرمائی: مونږ د رسول الله ﷺ څخه د مدینې نه واخله تر مکې پورې سفر اوکړو، نو د واپس راتلو پورې مو دوه دوه رکعتونه کول، راوی وائی ما اوئیل: رسول الله ﷺ خومره موده په مکه کښې ایسار وو، هغوی اوفرمائیل: لس ورځې. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۸۴۰) د دې باب غرض انعقاد د قصر په موده کښې د ائمة ثلاثة د مسلک رد دې اول به تفصیل د مذاهب عرض کولو څخه د مسئلې په تفهیم او تشریح آسانی راشی.

**د قصر موده او بیان د مذاهبو:** د امام ابوحنیفه، سفیان ثوری او اهل کوفه رحمهم الله په نزد د پنځلسو ورځو نه په کمه موده کښې قصر دې پنځلس ورځې یا د هغې نه د زیاتو ورځو په نیت د اقامت څخه به اتمام کوی.

۲: د ائمة ثلاثه امام شافعی، امام احمد او امام مالک رحمهم الله په نزد که د څلورو ورځو نه زیات د اقامت نیت وی نو قصر جائز نه دې اتمام به کوی حافظ ابن رشد رحمه الله فرمائی:

ولهم (للفقهاء) فی ذلك ثلاثة اقوال احدها مذهب مالك والشافعی اذا ازمع المسافر علی اقامة اربعة ايام اتم والثانی مذهب ابی حنيفة رحمه الله وسفيان الثوری رحمه الله انه اذا ازمع علی اقامة خمسة عشر يومًا اتم والثالث مذهب احمد داؤد اذا ازمع علی اكثر من اربعة ايام اتم. (بداية المجتهد ج: ۱، ص: ۱۶۳)

۳: د ربیعة الرائې په نزد د یوې ورځې او یوې شپې د اقامت په نیت څخه انسان مقیم کیږی.

۴: امام اوزاعی رحمه الله فرمائی چه د دولس ورځو د اقامت نیت قصر لره باطلوی.

۵: امام اسحق د نورلسو ورځو د مودې اعتبار کوی.

۶: حسن بصری رحمه الله فرمائی چه مسافر ترڅو پورې وطن ته نه وی واپس شوې هغه به قصر کوی اګر که هغه د وطن اصلی نه بهر هر خومره قیام اوکړی.

**حدیث الباب:** د دې باب روایت ۸۴۰ عن انس بن مالک (بخاری ج ۱ ص ۱۴٧، مسلم ج ۱ ص ۲۴۲) کښې رسول الله ﷺ د لسو ورځو د قیام باوجود قصر کولو د حجة الوداع په موقع باندې د رسول الله ﷺ او د هغوی د ملګرو صحابه کرامو رضی الله عنهم قیام په مکه کښې لس ورځې داسې وو چه رسول الله ﷺ مکې ته د ذی الحجة په څلورم تاریخ باندې تلی وو او د ارکان حج نه چه فارغ شو نو په څوارلسم ذی الحج باندې د هغه ځائې نه مدینې طیبې ته روان شو بهرحال د دې حدیث نه معلومه شوه چه په حالت د سفر کښې یو ځائې کښې لس ورځو اوسیدو باندې هم انسان نه مقیم کیږی په دې وجه قصر مونځ کول جائز دی دا حدیث د ائمة ثلاثة د مسلک خلاف حجة دې ځکه چه د هغوی په نزد که څوک چیرته د څلورو ورځو نه زیات اوسیږی نو د هغه لپاره قصر جائز نه دې بلکه اتمام به کوی.

بهرحال د څلورو ورځو د ثبوت لپاره هیڅ صریح روایت نه شی پیش کیدلې کوم حضرات چه دا فرمائی چه که د څلورو ورځو نه د زیات قیام نیت وی نو اتمام دې کوی علامه ابن رشد رحمه الله فرمائی چه **والفریق الثالث احتجوا بمقامه فی حجه بمکة مقصر اربعة ایام**.... رسول الله ﷺ د خپل حج په ورځو کښې څلور ورځې په مکه کښې وو او قصر ئې کولو معلومه شوه چه په څلورو ورځو قیام کښې اتمام نشته که د دې نه زیات قیام وی نو اتمام دې کوی خو د دې نه استدلال تمام نه دې ځکه چه د بخاری په روایت کښې تصریح ده لکه چه اوس عرض اوکړې شو چه رسول الله ﷺ په څلورم د ذی الحجه باندې مکې مکرمې ته اورسیدلو تر لسو ورځو پورې هم هلته ایسار وو. (بخاری ج ۱ ص ۱۴٧) او په دې لحاظ څخه په څوارلسم باندې د هغوی واپسی اوشوه نو دا لس ورځې شوې نه څلور ورځې.

## بَـابُ مَنْ قَالَ اِنَّ الْمُسَافِرَ يَصِيْرُ مُقِيْمًا بِنِيَّةِ اِقَامَةِ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا

(۸۴۱) عَنْ مُجَاهِدٍ قَالَ اِنَّ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كَانَ اِذَا اَجْمَعَ عَلٰى اِقَامَةِ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا اَتَمَّ الصَّلٰوةَ ـ رَوَاهُ اَبُوْبَكْرِ بْنُ اَبِيْ شَيْبَةَ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ ـ

**باب: څوک چه وائی چه مسافر د پنځلسو ورځو په نیت څخه مقیم کیږی:** ۸۴۱: مجاهد رحمه الله فرمائی: عبدالله بن عمر رضی الله عنهما به چه کله د پنځلسو ورځو د قیام اراده اوفرمائیله نو مونځ به ئې پوره ادا کولو. دا حدیث ابوبکر بن ابی شیبة نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۸۴۲) وَعَنْهُ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهٗ اِذَا اَرَادَ اَنْ يُقِيْمَ بِمَكَّةَ خَمْسَةَ عَشَرَ سَرَّحَ ظَهْرَهٗ وَصَلّٰى اَرْبَعًا ـ رَوَاهُ مُحَمَّدُ بْنُ الْحَسَنِ فِيْ كِتَابِ الْحُجَجِ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ ـ

۸۴۲: د مجاهد رحمه الله نه روایت دې چه عبدالله بن عمر رضی الله عنهما به کله په مکه مکرمه کښې د پنځلسو

ورځو اراده اوکړه، د اس نه به ئې کتنه راکوزه کړه او څلور رکعتونه به ئې ادا کول.
دا حديث محمد بن الحسن په كتاب الحجج كښې نقل كړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(۸۴۳) وَعَنْهُ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ إِذَا كُنْتَ مُسَافِرًا فَوَطَّنْتَ نَفْسَكَ عَلٰى إِقَامَةِ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا فَأَتِمِّ الصَّلٰوةَ وَإِنْ كُنْتَ لَا تَدْرِيْ فَاقْصُرْ. رَوَاهُ مُحَمَّدُ بْنُ الْحَسَنِ فِي الْآثَارِ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ.

۸۴۳: د مجاهد رحمه الله نه روايت دې چه عبد الله بن عمر رضي الله عنهما فرمائی: چه كله ته مسافر شې او د ځان لپاره يو ځائې د پنځلسو ورځو لپاره وطن جوړ كړې، نو مونځ پوره كوه كه تاته معلومه نه وی (چه څومره موده پاتې كيدل دی) نو قصر كوه. دا حديث محمد بن الحسن په كتاب الآثار كښې نقل كړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۸۴۴) وَعَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ قَالَ إِذَا قَدِمْتَ بَلْدَةً فَأَقَمْتَ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا فَأَتِمِّ الصَّلٰوةَ. رَوَاهُ مُحَمَّدُ بْنُ الْحَسَنِ فِي الْحُجَجِ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

۸۴۴: سعيد بن المسيب رحمه الله فرمائی: چه كله ته يو ښهر ته داخل شې، او په هغې كښې پنځلس ورځې پاتې كيږې، نو مونځ پوره كوه. دا حديث محمد بن الحسن په كتاب الحجج كښې نقل كړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

**تشريح**> (۸۴۱ نه ۸۴۴ پورې) د دې باب ټول روايات د احنافو قوی مستدل دې اګر چه په دې مسئله كښې هيڅ صريح حديث مرفوع نشته خو د صحابه كرامو رضي الله عنهم آثار ملاويږی چه د هغې نه يو څو په دې باب كښې نقل كړې شوې دی:

روايت ۸۴۱ عن مجاهد: مصنف ابن ابی شيبه (ج:۲،ص: ۴۵۵) روايت ۸۴۲ عن مجاهد رحمه الله عن ابن عمر رضي الله عنهما: كتاب الحجج (ج: ۱،ص: ۱۷۰) روايت ۸۴۳ عن عبد الله بن عمر رضي الله عنهما: كتاب الاثار (ص:۳۸)
او روايت ۸۴۴ عن سعيد بن المسيب رحمه الله: كتاب الحجج (ج: ۱،ص: ۱۷۱) كښې د پنځلسو ورځو د نيت د اقامت په صورت كښې اتمام صلاة مذكور دې.

د دې نه علاوه د ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې ان رسول الله صلى الله عليه وسلم اقام بمكة خمسة عشر يومًا فصلّٰى ركعتين ركعتين (نسائی ج: ۱،ص: ۱۶۲) او د ابن عباس او ابن عمر رضي الله عنهما په يو روايت كښې دی: قال اذا قدمت بلدة وانت مسافر وفی نفسك ان تقيم خمس عشرة ليلة فاكمل الصلٰوة بها وان كنت لا تدری متى مظعن فاقصرها. (الدراية ص: ۱۴۶، فتح الملهم ج: ۲،ص: ۲۵۵، التعليق الممجد ص: ۱۳۰)

**د مسلك احناف اجتهادی دليل:** ﴿ قوله لا بد الخ ﴾ د مسلك احناف اجتهادی دليل هم دې چه د هغې تشريح دا ده چه د پوره مانځه لپاره په اقامت كښې د يو خاص مودې اعتبار ضروری دې، ګينې

ظاهره ده چه په مطلق اقامت باندې چه هر څنګه وی پوره کول لازم نه دی ځکه روزانه په منزل باندې کوزیدلو څخه باقی ورځ او ټوله شپه قیام وی که په لږ ډیر قیام باندې مونځ پوره کول وی نو په دې قیام باندې به هم پوره کول لازم وی، ‹حال دا چه بالاجماع په هر منزل باندې د مسافر فرض څلور رکعته نه دی بلکه قصر دې په دې وجه ضروری ده چه د څلور کیدو لپاره د خاص مقدار قیام مقرر وی، بیا احادیث او آثار چونکه په دې باره کښې مختلف راغلې دی په دې وجه اجتهادی طریقه اختیار کړې شوه او موده د اقامت په طهر باندې قیاس کړې شوه او د طهر موده کم از کم پنځلس ورځې ده.

او په دواړو کښې اتفاقی وجه هم موجود ده پس د طهر موده هغه مونځ واجب کوی کوم چه د حیض په ورځو کښې ساقط وو. هم دغه شان اقامت هم په هغه سړی باندې هغه مقدار واجب کوی کوم چه په سفر کښې ساقط وو او د طهر مسقط یعنی حیض هم کم از کم درې ورځې وو او د اقامت مسقط هم یعنی سفر هم کم از کم درې ورځې وو پس مونږ د دواړو مسقط هم یو بیا موندلو په دې وجه خپله په موجب کښې هم موده یو شان کیخودله او هغه پنځلس ورځې ده.›

وانِ اقتدى المسافر بالمقيم فى الوقتِ اَتَمَّ اربعًا لانه يَتغيَّرُ فرضُه الى اربع للتبعية كما يَتغيَّرُ بنيةِ الاقامةِ لاتصالِ المُغيِّرِ بالسببِ وهو الوقتُ وان دَخَل معه فى فائتةٍ لم تجزه لانه لا يَتغيَّر بعدَ الوقتِ لا نقضاءِ السببِ كما لا يَتغيَّرُ بنيةِ الاقامةِ فيكون اقتداءُ المفترض بالمتنفل فى حق القعدةِ اوالقراءةِ۔(هدایہ: ج: ۱، ص: ۱۷۵)

## بَابُ صَلٰوةِ الْمُسَافِرِ بِالْمُقِيْمِ

(۸۴۵) عَنْ مُوْسَى بْنِ سَلَمَةَ قَالَ كُنَّا مَعَ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ بِمَكَّةَ فَقُلْتُ اِنَّا اِذَا كُنَّا مَعَكُمْ صَلَّيْنَا اَرْبَعًا وَّاِذَا رَجَعْنَا اِلٰى رِحَالِنَا صَلَّيْنَا رَكْعَتَيْنِ قَالَ تِلْكَ سُنَّةُ اَبِى الْقَاسِمِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ۔ رَوَاهُ اَحْمَدُ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

**باب: د مقیم مسافر ته مونځ ورکول:** **۸۴۵:** موسی بن سلمه رحمه الله فرمائی چه مونږ د ابن عباس رضی الله عنهما په مکه مکرمه کښې وو، ما عرض اوکړو: مونږ چه کله تاسو څخه یو، نو څلور رکعته کوو او کله چه خپلو خیمو طرف ته واپس شو نو دوه رکعته کوو، هغوی اووې: دا د ابوالقاسم ﷺ سنت دی. دا حدیث احمد نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

**تشریح**›(۸۴۵) په مسافر پسې د مقیم د اقتداء جواز خو مجمع علیه دې لکه چه په بحر کښې صراحت شوې دې، خو د دې عکس یعنی په مقیم پسې د مسافر اقتداء هم جائز ده یا نه؟ په دې باره کښې اختلاف دې، قاضی شوکانی رحمه الله فرمائی چه طاؤس داؤد او شعبی وغیره د عدم جواز

طرف ته تلې دی ځکه چه ارشاد نبوی ﷺ دې : لا تختلفوا على امامكم ... او په صورت مفروضه کښې مسافر په عدد رکعات او نیت دواړو کښې اختلاف کړې دې لهذا اقتداء به صحیح نه وی. ابن عبدالبر په استذکار کښې د امام مالک او د هغوی د اصحابو قول ذکر کړې دې که مسافر د مقیم څخه پوره یو رکعت په دواړو سجدو کښې او نه موندلو نو دوه رکعتونه دې اوکړی ګینې څلور دې اوکړی، علامه شعرانی رحمه الله لیکلې دی چه د امام احمد رحمه الله په نزد مسافر په مقیم امام پسې هم قصر کولې شی، د اسحاق بن راهویه قول هم دا دې اهـ خو په کتب د حنابله نیل المآرب او الروض المربع وغیره کښې تصریح ده چه په مقیم پسې اتمام لازم دې. د احنافو مسلک په وړاندې قول کښې راروان دې.

که مسافر په وخت کښې دننه د یو مقیم اقتداء اوکړه نو احناف، سفیان ثوری او د امام شافعی رحمه الله په نزد اقتداء صحیح ده ځکه چه امام احمد په مسند کښې د ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت کړې دې : انه سئل : ما بال المسافر يصلي ركعتين اذا انفرد واربعاً اذا ائتم بمقيم ... فقال : تلك السنة.

چه کله اقتداء صحیح شوه نو اوس دې هغه څلور رکعته اوکړی که مدرک وی او که مسبوق یا لاحق، تردې چه که د دوه رکعتو نه پس شامل شو نو بیا به هم څلور کوی، ځکه چه د امام د اتباع د وجې نه د مسافر فرض متغیر کیږی، دا هم دغه شان ده لکه چه په یو ځائې کښې عارضی د نیمې میاشتې د اقامت نیت کولو څخه فرض متغیر کیږی، خو د صحت اقتداء لپاره په شروع کښې د وخت ادا کیدل ضروری دی که د خروج وخت نه پس ئې اقتداء اوکړه نو صحیح به نه وی ځکه چه د وخت نه پس د مسافر فرض نه متغیر کیږی.

وضاحت دا دې چه د اداء مونځ سبب د هغه مانځه وخت وی، اوس که د هغه وخت څخه یو مغیر یو ځائې شی (لکه په دې مانځه کښې د مسافر په مقیم پسې اقتداء کول) نو سبب به هم په دې تغیر څخه وی او د څلورو رکعتو د ادا کولو سبب به وی او که مغیر ورځخه متصل نه وی (لکه د مسافر په قضاء مونځ کښې اقتداء کول) نو په دې صورت کښې به هغه مغیر پکار نه راځی ځکه چه د مانځه سبب بغیر د مغیر نه تیر شو، او هغه صرف د دوه رکعتو ادا کول فرض کړی دی هم دا حال د نیت اقامت دې ځکه چه هغه هم تغیر کونکې دې په دې شرط چه په وخت کښې دننه وی، که د وخت تیریدلو نه پس وی نو د مانځه سبب چونکه دوه رکعته واجب کړې دی په دې وجه د اقامت د نیت نه پس به هم د دوه رکعتو قضاء وی.

(تنبیه) په مذکوره تعلیل باندې ابن الهمام دا اعتراض کړې دې چه د اقتداء سبب تغیر کیدل د اقتداء المسافر بالمقیم په صحت باندې موقوف دې او د اقتداء مسافر صحت په تغیر فرض

باندې موقوف دي (ځکه چه تر څو د مسافر فرض متغير نه وي نو په قعده او قرأت كښې د يو په حق كښې اقتداء د مفترض به په متنفل پسې لازم شي، چه د هغې تشريح وړاندې راروانه ده، پس تغير د فرض په اقتداء باندې موقوف شو او د اقتداء صحت په تغير باندې موقوف شو او دا دور دې چه جائز نه دې، ځواب دا دې چه دا دور معيت دې نه دور ترتب بأن تثبت صحة الاقتداء والتغير معاً ولا ضير فيه. (فتح القدير)

(۸۴۵) د باب دا روايت عن موسى بن سلمة مسند احمد ج۱ ص۲۱۶ نه منقول دې، ددې سلسلې اجمالى بحث په راروان باب كښې شوې دې.

## بَـابُ صَلٰوةِ الْمُقِيمِ بِالْمُسَافِرِ

(۸۴۶) عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كَانَ إِذَا قَدِمَ مَكَّةَ صَلّٰى بِهِمْ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ يَقُوْلُ يَا أَهْلَ مَكَّةَ أَتِمُّوْا صَلٰوتَكُمْ فَإِنَّا قَوْمٌ سَفْرٌ. رَوَاهُ مَالِكٌ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

**باب: د مسافر مقيم ته مونځ وركول:** ۸۴۶: سالم رحمه الله بن عبد الله رضي الله عنه د خپل پلار نه روايت كوى چه عمر بن الخطاب رضي الله عنه به چه كله مكې ته راتلو نو دوه ركعتونه به ئې كول، بيا به ئې وئيل اې اهل مكة! خپل مونځونه پوره كړئ، مونږ مسافر خلق يو. دا حديث مالک نقل كړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(۸۴۷) وَعَنْ صَفْوَانَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ صَفْوَانَ أَنَّهُ قَالَ جَاءَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَعُوْدُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ صَفْوَانَ فَصَلّٰى لَنَا رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ انْصَرَفَ فَقُمْنَا فَأَتْمَمْنَا. رَوَاهُ مَالِكٌ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

۸۴۷: صفوان بن عبد الله بن صفوان فرمائى: سيدنا عبد الله بن عمر رضي الله عنهما د عبد الله بن صفوان رضي الله عنه د پوښتنې لپاره راغلو نو مونږ ته ئې دوه ركعتونه راكړل، بيا هغوى سلام واړلو نو مونږ اودريدلو او خپل مونځ مو پوره كړو. دا حديث مالک نقل كړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

**تشريح:** (۸۴۶ نه ۸۴۷ پورې) د باب د دواړو روايتونو نه ثابتيږى چه مسافر، مقيم ته مونځ وركولې شى او د مقيمين مونځ په مسافر پسې صحيح دې روايت ۸۴۶ **عن سالم** (موطاء امام مالک **باب صلاة المسافر اذا كان اماماً**) او روايت ۸۴۷ **وعن صفوان بن عبدالله** (حواله مذكوره) د دواړو نه استدلال واضح دې **(اتموا صلاتكم)** په شرح ارشاد كښې دى چه امام له پكار دى چه هغه مقتديان د مونځ شروع كولو نه مخكښې خبر كړى چه زه مسافر يم خو په دې ځخه به مسبوق خبر نه شى، په دې وجه مستحب دا دى چه امام كله سلام واړوى نو دا دې اوائى چه تاسو خپل مونځ پوره كړئ

مونږ مسافر يو ، پس په حديث کښې دی چه رسول اللهﷺ تر د اتلسو ورځو پورې په مکه کښې پاتې شوې وو او دوه رکعته به ئې کول او داسې به ئې فرمائيل : اې اهل مکة ! **صلوا اربعاً فانا قوم سفر** (ابوداؤد، ترمذی، ابن ابی شيبة، ابن راهويه، ابوداؤد طيالسی، بزار، احمد، بيهقی، عن عمران بن حصين)

د دې مسئلې نه دا خبره معلومه شوه چه مقتديان دې د خپل امام نه ځان خبر ساتی چه هغه مقيم دې که مسافر؟ شرط نه دې ځکه چه که هغوی ته پته وی چه امام مسافر دې نو د سلام نه پس د امام قول مذکور بې فائدې دې، او که هغوی ته دا معلومه وی چه امام مقيم دې نو دا به دروغ وی. **فدل على ان المراد به اذا لم يعلموا حاله،** خو په فتاوی قاضی خان کښې د دې خلاف دی چه کوم مقتدی ته دا معلومه نه وی چه د هغه امام مقيم دې که مسافر د هغه اقتداء صحيح نه ده، علامه عينی رحمه الله فرمائی چه د قاضی خان مراد دا دې چه د مانځه نه مخکښې يا د سلام نه پس په څه صورت کښې د امام دحال نه خبر نه شی، دا مراد نه دې چه ابتداء د اقتداء لپاره د امام حال پيژندل شرط دی ځکه چه په مبسوط کښې دی چه که يو سړی يو قوم ته د ماسپخين دوه رکعته په يو کلی کښې ورکړل او قوم ته پته نه وه چه هغه مقيم دې يا مسافر نو د قوم مونځ فاسد دې که دا خلق مقيم وی يا مسافر، ځکه چه کوم سړې په مقام داقامت کښې اګر که د هغه د حال نه ظاهره هم دا ده چه هغه مقيم دې، او به ظاهری حالت باندې د وجوب بناء ده تردې چه د دې خلاف ظاهر شی، بيا که هغوی د امام نه پوښتنه اوکړه او هغه اووې چه زه مسافر يم نو اوس به د هغوی مونځ جائز وی.

## بَابُ جَمْعِ التَّقْدِيمِ بَيْنَ الْعَصْرَيْنِ بِعَرَفَةَ

(٨٤٨) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِي حَدِيثٍ طَوِيلٍ فِي حَجَّةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ أَذَّنَ ثُمَّ أَقَامَ فَصَلَّى الظُّهْرَ ثُمَّ أَقَامَ فَصَلَّى الْعَصْرَ وَلَمْ يُصَلِّ بَيْنَهُمَا شَيْئًا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

**باب: په عرفات کښې ماسپخين او مازيګر (د ماسپخين په وخت کښې) جمع کول: ٨٤٨:** د رسول اللهﷺ د حج په سلسله کښې يو اوږد حديث کښې د جابر بن عبد الله رضی الله عنهما نه روايت دې، بيا ئې اذان ورکړو، بيا ئې اقامت اوکړو، نو رسول اللهﷺ د ماسپخين مونځ ادا کړو، بيا ئې اقامت اوکړو نو د مازيګر مونځ ئې ادا کړو، او د دواړو مونځونو ترمينځه ئې هيڅ مونځ اونه کړو. دا حديث مسلم نقل کړې دې.

(٨٤٩) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ غَدَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ مِنًى حِينَ صَلَّى الصُّبْحَ فِي صُبْحَةِ يَوْمِ عَرَفَةَ فَنَزَلَ بِنَمِرَةَ وَهِيَ مَنْزِلُ الْإِمَامِ الَّذِي يَنْزِلُ بِهِ بِعَرَفَةَ حَتَّى إِذَا كَانَ عِنْدَ صَلٰوةِ الظُّهْرِ رَاحَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُهَجِّرًا فَجَمَعَ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ ثُمَّ خَطَبَ النَّاسَ ثُمَّ رَاحَ فَوَقَفَ عَلَى

الْمَوْقِفِ مِنْ عَرَفَةَ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوُدَ وَاِسْنَادُهُ حَسَنٌ.

۸۴۹: د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله ﷺ چه کله د سحر مونځ ادا کړو نو د منی نه د عرفات طرف ته سحر روان شو، تردې چه عرفات ته راغلو، نو په نمرة کښې تشريف فرما شو او عرفات ته د راتلونکی امام د پاتې کيدو ځائې هم دا ده، تردې چه کله د ماسپخين د مانځه په وخت ماسپخين رسول الله ﷺ روان شوې، نو د ماسپخين او مازيگر مونځ ئې يوځائې ادا کړو، بيا ئې خطبه ارشاد اوفرمائيله، بيا روان شو نو په عرفات کښې په موقف باندې تشريف فرما شو. دا حديث احمد او ابوداؤد نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۸۵۰) وَعَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ سَمِعْتُ ابْنَ الزُّبَيْرِ يَقُوْلُ اِنَّ مِنْ سُنَّةِ الْحَجِّ اَنَّ الْاِمَامَ يَرُوْحُ اِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ يَخْطُبُ فَيَخْطُبُ النَّاسَ فَاِذَا فَرَغَ مِنْ خُطْبَتِهٖ نَزَلَ فَصَلَّى الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ جَمِيْعًا. رَوَاهُ ابْنُ الْمُنْذِرِ وَاِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

۸۵۰: د قاسم بن محمد نه روايت دې چه ما د عبدالله بن الزبير رضي الله عنهما نه واوريدل د حج په سنتو کښې يو سنت دا هم دې چه امام د نمر د زوال نه پس د خطبې ورکولو لپاره روان شی، نو هغه دې خلقو ته خطبه ورکړی، چه کله هغه د خطبې نه فارغ شی نو راکوز دې شی او ماسپخين او مازيگر دې يوځائې ادا کړی. دا حديث ابن المنذر نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

**تشريح>** (۸۴۸ نه ۸۵۰ پورې) د حج په موقع باندې دوه کرته جمع بين الصلاتين مسنون ده په عرفات کښې جمع بين الظهر والعصر ته جمع تقديم او په مزدلفه کښې جمع بين المغرب والعشاء ته جمع تاخير وئيلې شی د دې باب غرض انعقاد د جمع تقديم ثبوت دې.

**بيان مذاهب:** هسې خو په عرفات او مزدلفه کښې د ټولو ائمة متبوعينو د جمع تقديم او جمع تاخير په جواز باندې اتفاق دې ځکه چه د حديث مشهور متواتر نه د هغې ثبوت دې د دې نه علاوه په يو سفر کښې هم جمع بين الصلاتين جائز نه دی.

۱: د جمهورو په نزد جمع بين الصلاتين جمع نسک ده يعنی دا هم د مناسک د حج نه ده او د دې يو جزء دې **الجمع بين الظهر والعصر فی وقت الظهر بعرفة بأذان واقامتين وهو نسک عند الحنفية** لهذا د مسافر او مقيم اهل مکة او اهل مزدلفه او اهل منی ټولو لپاره جائز ده.

۲: د امام شافعی رحمه الله په نزد دا جمع جمع سفر ده چه د دې لپاره مصنف رحمه الله مستقلا په وراندې صفحاتو کښې د باب انعقاد کړې دې د امام شافعی رحمه الله په نزد دا د مسافر شرعی ځخه خاص دې مقيم او غير شرعی مسافر لکه اهل مکة او اهل منی لپاره جائز نه دې.

فمن كان حاضرًا او مسافرا دون مرحلتين كاهل مكة لم يجزله الجمع عنده كما لا يجوز له القصر۔ (شرح النووی علی صحیح مسلم ج: ۱، ص: ۳۹۷)

**د احنافو دلائل**: د دې باب درې واړه روايات د احنافو قوی مستدل دي د جابر رضی الله عنه روایت ۸۴۸ مسلم کتاب الحج ج ۱ ص ۳۹۷ **باب حجة النبی** ﷺ. د ابن عمر رضی الله عنهما روایت ۸۴۹ مسند احمد ج ۲ ص ۱۲۹. ابوداؤد ج ۱ ص ۲۶۵ کتاب المناسک **باب الخروج الی عرفة** نه نقل کړې شوې دي.

**د جمع تقدیم شرطونه**: ۱: د صاحبین او ائمة ثلاثه په نزد په عرفات کښې د جمع تقدیم څلور شرطونه دی ۱: احرام حج، ۲: تقدیم د ماسپخین په مازیګر لهذا که ماسپخین ئې مخکښې اوکړو یا ئې دواړه مونځونه په ترتیب څخه اوکړل خو روستو ورته معلومه شوه چه کوم وخت ئې د ماسپخین مونځ کړې وو هغه وخت د ماسپخین مونځ نه وو شروع شوې نو په دې صورت کښې به دواړه مونځونه کوی. ۳: وخت او زمانه یوم العرفة او د زوال نه پس وخت. ۴: مکان یعنی په وادی عرفات یا د هغې خواته علاقه لکه مسجد نمرة وغیره د صاحبین او ائمة ثلاثه په نزد دا څلور شرطونه کافی دی. (المغنی لابن قدامة ج ۳ ص ۴۰۷ **باب صفة الحج**)

۲: امام ابوحنیفه رحمه الله د څلورو شرطونو نه علاوه د دوه شرطونو نوره هم اضافه کوی سفیان ثوری او ابراهیم النخعی رحمهما الله هم د دې قائل دی. ۱: د دواړو مونځونو باجماعت کیدل پس که انفرادا ئې مونځ اوکړو نو جمع کول به صحیح نه وی. ۲: د امام یا د هغه د نائب کیدل لهذا که د دواړو په غیرموجودګئ کښې ئې جمع بین الصلاتین اوکړل نو جمع به صحیح نه وی.(معارف السنن ج ۶ ص ۴۵۱)

امام ابوحنیفه ومن وافقه رحمهم الله استدلال فرمائی چه نصوص قطعیه مثلا ﴿ **ان الصلاة كانت على المومنين كتابا موقوتا** ﴾(نساء ۱۰۳) نه د محافظت علی الوقت فرضیت ثابت دې لهذا دا به د **ما ورد به الشرع** نه علاوه په بل څه صورت کښې ترک کول جائز نه وی لهذا د جمع لپاره جماعت او د امام یا نائب کیدل ضروری دی د دې نه علاوه د ابراهیم النخعی نه هم یو اثر منقول دې کوم چه د امام ابوحنیفه رحمه الله مستدل دې.

اخبرنا ابوحنیفه رحمه الله عن حماد عن ابراهیم قال: اذا صلیت یوم عرفه فی رحلك فصل كل واحد من الصلاتین لوقتها ولا ترتحل من منزلك حتی تفرغ من الصلوة، قال محمد وبهذا كان یاخذ ابوحنیفه۔ (کتاب الآثار باب الصلوة بعرفه ص: ۷۰)

او د صاحبین او ائمة ثلاثه مستدل د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما اثر دې کوم چه په بخاری ج ۱ ص ۲۲۵ کښې تعلیقا مروی دې وكان ابن عمر اذا فاتته الصلاة مع الامام جمع بينهما.

## بَابُ جَمْعِ التَّاخِيْرِ بَيْنَ الْعِشَائَيْنِ بِالْمُزْدَلِفَةِ

(٨٥١) عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ يَزِيْدَ قَالَ حَجَّ عَبْدُ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَأَتَيْنَا الْمُزْدَلِفَةَ حِيْنَ الْأَذَانِ بِالْعَتَمَةِ أَوْ قَرِيْبًا مِنْ ذٰلِكَ فَأَمَرَ رَجُلًا فَأَذَّنَ وَأَقَامَ ثُمَّ صَلَّى الْمَغْرِبَ وَصَلّٰى بَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ دَعَا بِعَشَائِهٖ فَتَعَشّٰى ثُمَّ أَمَرَ أُرٰى رَجُلًا فَأَذَّنَ وَأَقَامَ قَالَ عَمْرٌو وَلَا أَعْلَمُ الشَّكَّ إِلَّا مِنْ زُهَيْرٍ ثُمَّ صَلَّى الْعِشَاءَ رَكْعَتَيْنِ فَلَمَّا طَلَعَ الْفَجْرُ قَالَ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لَا يُصَلِّيْ هٰذِهِ السَّاعَةَ إِلَّا هٰذِهِ الصَّلٰوةَ فِيْ هٰذَا الْمَكَانِ مِنْ هٰذَا الْيَوْمِ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ هُمَا صَلٰوتَانِ تُحَوَّلَانِ عَنْ وَقْتِهِمَا صَلٰوةُ الْمَغْرِبِ بَعْدَ مَا يَأْتِي النَّاسُ الْمُزْدَلِفَةَ وَالْفَجْرِ حِيْنَ يَبْزُغُ الْفَجْرُ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُهٗ۔ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ۔

**باب: په مزدلفه کښې د ماښام او ماسخوتن مونځ موخر کول (د ماسخوتن په وخت کښې) یوځائې کول**

**کول:** ٨٥١: عبدالرحمٰن بن یزید فرمائی: سیدنا عبدالله بن مسعود ﷺ حج اوکړو نو مونږ د ماسخوتن د مانځهٔ په وخت یا هغې ته نزدې مزدلفې ته راغلو، .نو هغوی یو سړی ته اوفرمائیل هغه اذان او اقامت اوکړو، بیا ئې د ماښام مونځ اوکړو، او د هغې نه روستو ئې دوه رکعتونه اوکړل، بیا د شپې د خوراک لپاره اوبللې شو تنو د شپې ډوډئ ئې اوخوړله بیا ئې یو سړی ته اووې هغه اذان او اقامت اوکړو، عمرو وائی: زه په دې خو پوهیږم چه شک د ظهیر د طرف نه دې بیا رسول الله ﷺ د ماسخوتن د مانځه دوه رکعتونه ادا اوفرمائیل، بیا چه کله صبا راوختلو نو وې فرمائیل: بیشکه رسول الله ﷺ به دې وخت کښې هیڅ مونځ نه ادا کولو، سوا د دې مانځه نه، هغه ورځ عبدالله بن مسعود ﷺ اوفرمائیل: دا دواړه مونځونه د خپل وخت نه اوختې دی، د ماښام د مانځه نه پس روستو د هغې نه چه خلق مزدلفې ته راشی او صبا چه راوخیژی، هغوی اوفرمائیل: ما رسول الله ﷺ په داسې کولو باندې لیدلې دې. دا حدیث بخاری نقل کړې دې.

امام نیموی رحمه الله فرمائی: دوه مونځونه په عرفات او مزدلفه کښې جمع کول د حج لپاره دی نه د سفر لپاره په دې مسئله کښې د امام شافعی رحمه الله اختلاف دې.

(٨٥١): ددې باب په روایت کښې د جمع التاخیر بین العشائین بالمزدلفة مسئله واضح کړې شوې ده هم دا روایت امام بخاری رحمه الله په خپل صحیح کتاب المناسک ج ۱ ص ۲۲۷ کښې تخریج کړې دې کوم چه د احنافو مستدل دې چه رسول الله ﷺ به په مزدلفه کښې جمع بین الصلاتین للنسک کولو د سفر د وجې نه نهٔ. لکه چه خپله امام نیموی رحمه الله هم د دې باب په آخر کښې د دې خبرې تصریح هم کړې ده.

**د جمع تاخیر شرطونه:** په مزدلفه کښې د احنافو په نزد د جمع تاخیر پنځه شرطونه دی:

۱: د حج احرام، ۲: تقديم الوقوف بعرفات، ۳: زمان مخصوص يعنى ليلة النحر، ۴: وقت مخصوص يعنى عشاء، ۵: مكان مخصوص يعنى مزدلفه، په مزدلفه كښې د امام صاحبؒ په نزد هم د امام يا نائب يا د جماعت شرط نشته، ابن قدامة په مزدلفه كښې د **جمع بين الصلاتين** متعلق ليكلي دى **يجمع منفردا كما يجمع مع الامام ولا خلاف فى هذا** (المغنى ج ۳ ص ۴۱۹، **باب صفة الحج**)

## بَابُ جَمْعِ التَّقْدِيْمِ فِي السَّفَرِ

(۸۵۲) عَنْ اَنَسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا كَانَ فِيْ سَفَرٍ فَزَالَتِ الشَّمْسُ صَلَّى الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ جَمِيْعًا ثُمَّ ارْتَحَلَ ـ رَوَاهُ جَعْفَرُ الْفَرْيَابِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ وَالْاِسْمٰعِيْلِيُّ وَاَبُوْنُعَيْمٍ فِيْ مُسْتَخْرَجِهٖ عَلٰى مُسْلِمٍ وَّهُوَ حَدِيْثٌ غَيْرُ مَحْفُوْظٍ ـ

**باب: په سفر كښې جمع تقديم (دوه مونځونه د اول مونځ په وخت كښې يوځائې ادا كول)** ۸۵۲: د سيدنا انس بن مالك ﷛ نه روايت دې چه رسول اللهﷺ به كله په سفر كښې وو، چه كله به نمر زائل شو نو د ماسپخين او مازيګر مونځ به ئې يوځائې اوكړو، بيا به ئې سفر فرمائيلو.

دا حديث جعفر الفريابى، بيهقى، اسماعيلى او ابونعيم په مسلم باندې په خپل مستخرج كښې نقل كړې دې او دا حديث غير محفوظ دې.

(۸۵۳) وَعَنْ اَبِي الزُّبَيْرِ عَنْ اَبِي الطُّفَيْلِ عَنْ مُّعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِيْ غَزْوَةِ تَبُوْكَ اِذَا زَاغَتِ الشَّمْسُ قَبْلَ اَنْ يَّرْتَحِلَ جَمَعَ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ وَاَنْ يَّرْتَحِلَ قَبْلَ اَنْ تَزِيْغَ الشَّمْسُ اَخَّرَ الظُّهْرَ حَتّٰى يَنْزِلَ لِلْعَصْرِ وَفِي الْمَغْرِبِ مِثْلَ ذٰلِكَ اِنْ غَابَتِ الشَّمْسُ قَبْلَ اَنْ يَّرْتَحِلَ جَمَعَ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَآءِ وَاَنْ يَّرْتَحِلَ قَبْلَ اَنْ تَغِيْبَ الشَّمْسُ اَخَّرَ الْمَغْرِبَ حَتّٰى يَنْزِلَ لِلْعِشَآءِ ثُمَّ جَمَعَ بَيْنَهُمَا ـ رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَهُوَ حَدِيْثٌ ضَعِيْفٌ ـ

۸۵۳: په واسطه د ابوالزبير، ابوالطفيل د معاذ بن جبل ﷛ نه روايت دې چه رسول اللهﷺ به غزوة تبوك كښې وو، چه كله به ئې د تلو نه مخكښې نمر زائل شو، نو ماسپخين او مازيګر به ئې يوځائې ادا اوفرمائيلو او كه د نمر د پريوتلو نه مخكښې مخكښې به روان شو نو ماسپخين به ئې موخر كړو، تردې چه د مازيګر لپاره به راكوز شو او په ماښام كښې هم دغه شان كه نمر د تلو نه مخكښې پټ شو،د ماښام او ماسخوتن به ئې يوځائې ادا فرمائيلو، او كه د نمر د پريوتلو نه مخكښې به روان شو، نو ماښام به ئې موخر كړو، تردې چه د ماسخوتن په وخت كښې به راكوز شو، بيا به ئې دواړه يوځائې ادا اوفرمائيل.

دا حديث ابوداؤد نقل كړې دې او دا حديث ضعيف دې.

(٨٥۴) وَعَنْ يَزِيْدَ بْنِ حَبِيْبٍ عَنْ اَبِي الطُّفَيْلِ عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِيْ غَزْوَةِ تَبُوْكَ اِذَا ارْتَحَلَ قَبْلَ زَيْغِ الشَّمْسِ اَخَّرَ الظُّهْرَ اِلٰى اَنْ يَّجْمَعَهَا اِلَى الْعَصْرِ فَيُصَلِّيْهِمَا جَمِيْعًا وَّ اِذَا ارْتَحَلَ بَعْدَ زَيْغِ الشَّمْسِ عَجَّلَ الْعَصْرَ اِلَى الظُّهْرِ وَصَلَّى الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ جَمِيْعًا ثُمَّ سَارَ وَكَانَ اِذَا ارْتَحَلَ قَبْلَ الْمَغْرِبِ اَخَّرَ الْمَغْرِبَ حَتّٰى يُصَلِّيَهَا مَعَ الْعِشَآءِ وَاِذَا ارْتَحَلَ بَعْدَ الْمَغْرِبِ عَجَّلَ الْعِشَآءَ فَصَلَّاهَا مَعَ الْمَغْرِبِ ـ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَاَبُوْدَاوُدَ وَهُوَ حَدِيْثٌ ضَعِيْفٌ جِدًّا۔

۸۵۴: په واسطه د يزيد بن حبيب، ابو الطفيل، د سيدنا معاذ بن جبل رضی الله عنه نه روايت دي چه رسول الله ﷺ په غزوه تبوک کښې وو، چه کله به ئې د نمر د زائله کيدلو نه مخکښې کوچ فرمائيلو، نو ماسپخين به ئې موخر فرمائيلو، تردې چه هغه به ئې د مازيگر څخه جمع اوفرمائيلو، بيا به ئې دواړه يوځائې ادا فرمائيل، او کله به ئې چه د نمر د زائله کيدو نه پس سفر کولو مازيگر به ئې د ماسپخين طرف ته مخکښې کولو، ماسپخين او مازيگر به ئې يوځائې ادا فرمائيلو او چه کله به ئې د ماښام نه مخکښې سفر فرمائيلو، نو ماښام به ئې موخر کړو، تردې چه هغه به ئې د ماسخوتن څخه ادا فرمائيلو، او کله به ئې چه د ماښام نه پس سفر فرمائيلو نو ماسخوتن مونځ به ئې وختی کولو، نو هغه به ئې د ماښام څخه ادا فرمائيلو.

دا حديث ترمذی او ابوداؤد نقل کړې دې او ډير ضعيف حديث دې.

(٨٥٥) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِي السَّفَرِ اِذَا زَاغَتِ الشَّمْسُ فِيْ مَنْزِلِهٖ جَمَعَ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ قَبْلَ اَنْ يَّرْكَبَ فَاِذَا لَمْ تَزِغْ لَهٗ فِيْ مَنْزِلِهٖ سَارَ حَتّٰى اِذَا حَانَتِ الْعَصْرُ نَزَلَ فَجَمَعَ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ وَاِذَا حَانَتْ لَهُ الْمَغْرِبُ فِيْ مَنْزِلِهٖ جَمَعَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ الْعِشَآءِ وَاِذَا لَمْ تَحِنْ فِيْ مَنْزِلِهٖ رَكِبَ حَتّٰى اِذَا كَانَتِ الْعِشَآءُ نَزَلَ فَجَمَعَ بَيْنَهُمَا ـ رَوَاهُ اَحْمَدُ وَاٰخَرُوْنَ وَاِسْنَادُهٗ ضَعِيْفٌ۔

۸۵۵: د سيدنا ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله ﷺ په سفر کښې وو چه کله به د هغوی په منزل کښې نمر زائل شو، نو د سوريدو نه مخکښې بيا ئې ماسپخين او مازيگر يوځائې ادا کولو، چه کله به د هغوی په منزل کښې نمر زائل نه شو نو روان به شو تردې چه کله به د مازيگر وخت شو نو د سورلئ نه به کوز شو او د ماسپخين او مازيگر مونځ به ئې جمع کړو، چه کله به د هغوی په استوگنه کښې د مغرب وخت نزدې نه وو نو سوارهٔ به شو، تردې چه کله به ماسخوتن شو، نو راکوزيدو څخه به ئې دواړه يوځائې ادا فرمائيل، دا حديث احمد او نورو محدثينو نقل کړې دې او دې اسناد ضعيف دې.

**تشريح> بيان مذاهب:** (۸۵۲ نه ۸۵۵ پورې) ۱: د شوافع حضراتو په نزد په سفر کښې جمع بين

الصلاتين يعنى د ماسپخين او مازيګر مونځ په يو وخت كښې كول جائز دى، كه د مازيګر مونځ په ماسپخين كښې كوى او كه د ماسپخين د مازيګر په وخت.

۲. د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد دا جمع بين الصلاتين جائز نه ده.

**د شوافع دلائل او د احنافو ځوابات:** شوافع حضرات د احاديث الباب ظاهرى مفهوم خپل مستدل منى خو د امام صاحب په نزد دا احاديث په جمع صورى باندې محمول دى يعنى رسول الله ﷺ به د ماسپخين او مازيګر مونځ يوځائې داسې ادا فرمائيلو چه د ماسپخين مونځ خو به ئې بالكل د ماسپخين په آخرى وخت كښې ادا فرمائيلو او د مازيګر مونځ به ئې بالكل په ابتدائى وخت كښې ادا فرمائيلو كومه چه په ظاهر كښې خو جمع بين الصلاتين ده خو حقيقتا دواړه مونځونه ئې په خپل خپل وخت باندې كړى دى.

د دې نه علاوه د دې باب اول روايت (۸۵۳) عن انس كوم چه امام بيهقى په سنن الكبرى ج ۳ ص ۱۶۲ كښې نقل كړې دې هغې ته امام نيموى رحمه الله حديث غير محفوظ وئيلې دې امام ذهبى رحمه الله په ميزان الاعتدال ج ۱ ص ۱۸۳ كښې دا حديث نقل كولو نه پس ليكلې دى چه دا حديث د راويانو د تقابل په اعتبار ځخه منكر دې.

د باب دويم روايت (۸۵۳) عن ابى الزبير (ابوداؤد ج ۱ ص ۱۷۱) په سند كښې هشام بن سعد او ابو عماد المدنى دې چه په هغوى باندې كافى جرح شوې ده دا ضعيف راوى دې. (ميزان الاعتدال ۲۹۸، ۹۲۲۴) د هشام بن سعد برعكس د ابوالزبير شاګرد او مضبوط راوى په دې حديث كښې جمع تقديم نه ذكر كوى.

د باب دريم روايت (۸۵۴) وعن يزيد بن حبيب (ابوداؤد ج ۱ ص ۱۷۲) هم عن ابى الزبير عن ابى الطفيل عن معاذ بن جبل دې لكه چه مخكښې حديث تير شوې دې خو قتيبه بن سعيد د ابوالزبير نوم بدلولو ځخه د يزيد بن حبيب نوم ذكر كړې امام ابوداؤد رحمه الله هم دې خبرې طرف ته اشاره كولو ځخه فرمائى : ﴿ قال ابو داؤد لم يروا هذا الحديث الا قتيبة وحده ﴾

امام ابوداؤد رحمه الله فرمائى دا حديث منكر دې او د جمع تقديم په باره كښې هيڅ مضبوط حديث نشته. (تلخيص الحبير، كتاب الصلاة ج ۲ ص ۴۹، باب الجمع بين الصلاتين) زمونږ مصنف رحمه الله هم وهو حديث ضعيف جدا ځخه دې طرف ته اشاره فرمائيلې ده.

د دې باب ځلورم روايت (۸۵۵) عن ابن عباس (مسند احمد ج ۱ ص ۳۶۷) په سند كښې حسن بن عبدالله بن عبيدالله بن عباس الهاشمى المدنى دې چه په هغه باندې په كتب اسماء الرجال

کښې سخته جرح شوې ده ابن معين فرمائي [illegible]
منکر دی. علي وائي ما د هغه احاديث [illegible]
امام نسائي رحمه الله ورته متروک وائي (ميزان الاعتدال ج ١ ص [illegible])

## بَابُ مَا يَدُلُّ عَلَى تَرْكِ جَمْعِ التَّقْدِيْمِ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ فِي السَّفَرِ

(٨٥٦) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [illegible] لشَّمْسُ أَخَّرَ الظُّهْرَ إِلَى وَقْتِ الْعَصْرِ ثُمَّ نَزَلَ فَجَمَعَ بَيْنَهُمَا فَإِذَا [illegible] الشَّمْسُ قَبْلَ [illegible] رَكِبَ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ

باب: هغه روايات چه په سفر کښې د دوه مونځونو په يو مونځ کښې [illegible] دلالت کوي

٨٥٦ سيدنا انس بن مالک رضي الله عنه فرمائي [illegible]
[illegible] د سفر [illegible] فرمائيله نو د ماسپخين مونځ [illegible]
[illegible] تشريف [illegible]
[illegible] نو د ماسپخين مونځ [illegible]

(٨٥٧) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ [illegible] رَوَاهُ الشَّيْخَانِ

٨٥٧ سيدنا عبدالله بن عمر رضي الله عنه فرمائي [illegible]
[illegible] کښې [illegible]
[illegible]

[illegible] ٨٥٦ ـ ٨٥٧ [illegible] په سفر کښې [illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]

## بَابُ جَمْعِ التَّاخِيْرِ بَيْنَ الصَّلٰوتَيْنِ فِي السَّفَرِ

(٨٥٨) عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا ارْتَحَلَ قَبْلَ اَنْ تَزِيْغَ الشَّمْسُ اَخَّرَ الظُّهْرَ اِلٰى وَقْتِ الْعَصْرِ ثُمَّ يَجْمَعُ بَيْنَهُمَا وَاِذَا زَاغَتْ صَلَّى الظُّهْرَ ثُمَّ رَكِبَ۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔ وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ اَخَّرَ الظُّهْرَ حَتّٰى يَدْخُلَ اَوَّلُ وَقْتِ الْعَصْرِ ثُمَّ يَجْمَعُ بَيْنَهُمَا۔

**باب: په سفر کښې د دوه مونځونو ترمينځه جمع تاخير:** ۸۵۸ : سيدنا انس بن مالک رضي الله عنه فرمائى رسول الله ﷺ به چه کله د نمر زائله کيدو نه مخکښې سفر فرمائيلو ، نو ماسپخين به ئې د مازيګر طرف ته موخر کړو، بيا به ئې دواړه يوځائې ادا اوفرمائيل او کله چه به نمر زائل شو نو د ماسپخين د مونځ کولو نه پس به سوړ شو.

دا حديث شيخينو نقل کړې دې او د مسلم په روايت کښې دا الفاظ دی، ماسپخين به ئې موخر کړو، تردې چه د ماازيګر اول وخت به داخل شو، بيا به ئې دواړه يوځائې ادا اوفرمائيل.

(٨٥٩) وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا عَجِلَ عَلَيْهِ السَّفَرُ يُؤَخِّرُ الظُّهْرَ اِلٰى اَوَّلِ وَقْتِ الْعَصْرِ فَيَجْمَعُ بَيْنَهُمَا وَيُؤَخِّرُ الْمَغْرِبَ حَتّٰى يَجْمَعَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ الْعِشَاءِ حِيْنَ يَغِيْبُ الشَّفَقُ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

۸۵۹: د سيدنا انس بن مالک رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ به کله په سفر کښې تندی کوله، ماسپخين به ئې د مازيګر اول وخت ته موخر کړو، بيا به ئې دواړه يوځائې ادا اوفرمائيل او ماښام به ئې موخر اوفرمائيلو، تردې چه کله به شفق غائب شو نو ماښام او ماسخوتن به ئې يوځائې ادا فرمائيلو. دا حديث مسلم نقل کړې دې.

(٨٦٠) وَعَنْ نَافِعٍ اَنَّ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كَانَ اِذَا جَدَّ بِهِ السَّيْرُ جَمَعَ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ بَعْدَ اَنْ يَغِيْبَ الشَّفَقُ وَيَقُوْلُ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا جَدَّ بِهِ السَّيْرُ جَمَعَ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ

۸۶۰: د نافع رحمه الله نه روايت دې چه عبد الله بن عمر رضي الله عنهما به کله په سفر کښې تندی کوله، نو د شفق د غائب کيدو نه روستو به ئې ماښام او ماسخوتن يو ځائې ادا فرمائيل او ابن عمر رضي الله عنهما به فرمائيل چه کله به د رسول الله ﷺ په تلو کښې تندی وه، نو ماښام او ماسخوتن به ئې يوځائې ادا فرمائيل دا حديث مسلم نقل کړې دې.

(٨٦١) وَعَنْهُ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا جَدَّ بِهِ السَّيْرُ جَمَعَ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ اِلٰى رُبُعِ اللَّيْلِ۔ رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ۔

قَالَ النِّيْمَوِيُّ هٰذِهِ الزِّيَادَةُ فِي الْمَرْفُوْعِ اِنَّمَا هُوَ وَهْمٌ وَالصَّوَابُ وَقْفُهَا وَفِيْهَا اِضْطِرَابٌ وَالْمَحْفُوْظُ بِدُوْنِهَا۔

۸۶۱: د نافع رحمه الله نه روايت دې چه عبد الله بن عمر رضي الله عنهما اوفرمائيل: رسول الله ﷺ به چه کله په تلو

کښې تندی کوله نو ماښام او ماسخوتن به ئې د شپې په څلورمه حصه کښې يو ځائې ادا فرمائيلو (يعنی د ماښام مونځ به ئې موخر کړو) دا حديث دارقطنی نقل کړې دې.

امام نيموی رحمه الله فرمائی: په مرفوع روايت کښې دا زيادة بيشکه وهم دې او د دې موقوف کيدل صحيح او په دې کښې اضطراب دې او د دې نه بغير دا روايت محفوظ دې.

(٨٦٢) وَعَنْ جَابِرٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَابَتْ لَـهُ الشَّمْسُ بِمَكَّةَ فَجَمَعَ بَيْنَهُمَا بِسَرِفٍ - رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَآئِيُّ وَفِيْهِ اَبُوالزُّبَيْرِ الْمَكِّيُّ وَهُوَمُدَلِّسٌ.

٨٦٢: د سيدنا جابر رضی الله عنه نه روايت دې چه په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې په مکه مکرمه کښې نمر پريوتلو نو هغوی په سرف (مقام) کښې دواړه مونځونو يو ځائې ادا اوفرمائيل.

دا حديث ابوداؤد او نسائی نقل کړې دې او په دې کښې ابوالزبير راوی دې چه مدلس دې.

**تشريح>** (٨٥٨ نه ٨٦٢ پورې) د دې باب اول روايت (٨٥٨) د انس رضی الله عنه نه منقول دې کوم چه امام بخاری رحمه الله په ابواب تقصير الصلاة ج ١ ص ١٥٠ کښې دويم روايت ٨٥٩ هم د انس رضی الله عنه نه روايت دې کوم چه امام مسلم رحمه الله په خپل صحيح ج ١ ص ٢٤٥ کتاب المسافرين کښې دريم روايت ٨٦٠ عن نافع هم مسلم ج ١ ص ٢٤٥ کښې او څلورم روايت عن ابن عمر دارقطنی ج ١ ص ٣٩٢ کښې نقل کړې دې څلورم روايت ٨٦٢ عن جابر رضی الله عنه امام ابوداؤد ج ١ ص ١٧١ کښې نقل کړې دې د احاديثو مدلول د ترجمة الباب مطابق، دې دا روايات په ظاهر کښې په جمع تاخير باندې دلالت کوی خو د احنافو ځواب هم هغه دې کوم چه د وړاندې باب نه مدلول دې.

**﴿ قال النيموی ﴾** بعض راوی ربع الليل، بعض هوی من الليل، بعض قريباً من ربع الليل الفاظ نقل کوی په ابن خزيمة کښې ﴿ حتی کان نصف الليل ﴾ او ﴿ قريباً من نصفه ﴾ الفاظ دی هم دا د اضطراب وجه ده د دې نه علاوه د نافع په شاګردانو کښې حفاظو د ﴿الی ربع الليل﴾ الفاظ نه نقل کوی هم په دې وجه باندې مصنف رحمه الله ﴿ والمحفوظ بدونها ﴾ وئيلې دی. په مصنف عبدالرزاق کښې په طريق د معمر عن ايوب و موسیٰ بن عقبة عن نافع د ابن عمر رضی الله عنهما په باره کښې دا حديث دې مرفوع روايت نشته هم دغه شان په نورو کتابونو د حديث کښې هم دی هم په دې وجه مصنف رحمه الله فرمائی **انما هو وهم والصواب وقفها.**

## بَابُ مَا يَدُلُّ اَنَّ الْجَمْعَ بَيْنَ الصَّلٰوتَيْنِ فِى السَّفْرِ كَانَ جَمْعًا صُورِيًّا

(٨٦٣) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّى الصَّلٰوةَ لِوَقْتِهَا اِلَّا بِجَمْعٍ وَّعَرَفَاتٍ۔ رَوَاهُ النَّسَآئِىُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

**باب: کوم روایات چه په دې باندې دلالت کوي چه په سفر کښې دوه مونځونه جمع کول جمع صوري ده**

۸۶۳: سیدنا عبد الله بن عمر رضي الله عنهما فرمائي: رسول الله ﷺ به د مزدلفه او عرفات نه علاوه مونځ په خپل وخت باندې ادا فرمائيلو. دا حدیث نسائی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(٨٦٤) وَعَنْ عَآئِشَةَ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِى السَّفْرِ يُؤَخِّرُ الظُّهْرَ وَيُقَدِّمُ الْعَصْرَ وَيُؤَخِّرُ الْمَغْرِبَ وَيُقَدِّمُ الْعِشَآءَ۔ رَوَاهُ الطَّحَاوِىُّ وَاَحْمَدُ وَالْحَاكِمُ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

۸۶۴: ام المومنین سیده عائشه رضي الله عنها فرمائي: رسول الله ﷺ به په سفر کښې د ماسپخين مونځ موخر فرمائيلو او عصر مقدم، د ماښام مونځ به ئې موخر کولو او د ماسخوتن مقدم.

دا حدیث طحاوی، احمد او حاکم نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(٨٦٥) وَعَنْ كَثِيْرِ بْنِ قَارَوَنْدَ قَالَ سَأَلْنَا سَالِمَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ عَنْ صَلٰوةِ اَبِيْهِ فِى السَّفْرِ وَسَأَلْنَاهُ هَلْ كَانَ يَجْمَعُ بَيْنَ شَيْءٍ مِّنْ صَلٰوتِهٖ فِىْ سَفَرِهٖ فَذَكَرَ اَنَّ صَفِيَّةَ بِنْتَ اَبِىْ عُبَيْدٍ كَانَتْ تَحْتَهٗ فَكَتَبَتْ اِلَيْهِ وَهُوَ فِىْ زَرَاعَةٍ لَّهٗ اِنِّىْ فِىْ اٰخِرِ يَوْمٍ مِّنْ اَيَّامِ الدُّنْيَا وَاَوَّلِ يَوْمٍ مِّنَ الْاٰخِرَةِ فَرَكِبَ فَاَسْرَعَ السَّيْرَ اِلَيْهَا حَتّٰى اِذَا حَانَتْ صَلٰوةُ الظُّهْرِ قَالَ لَهُ الْمُؤَذِّنُ الصَّلٰوةَ يَآ اَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ فَلَمْ يَلْتَفِتْ حَتّٰى اِذَا كَانَ بَيْنَ الصَّلٰوتَيْنِ نَزَلَ فَقَالَ اَقِمْ فَاِذَا سَلَّمْتُ فَاَقِمْ فَصَلّٰى ثُمَّ رَكِبَ حَتّٰى اِذَا غَابَتِ الشَّمْسُ قَالَ لَهُ الْمُؤَذِّنُ الصَّلٰوةُ فَقَالَ كَفِعْلِكَ فِىْ صَلٰوةِ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ ثُمَّ سَارَ حَتّٰى اِذَا اشْتَبَكَتِ النُّجُوْمُ نَزَلَ ثُمَّ قَالَ لِلْمُؤَذِّنِ اَقِمْ فَاِذَا سَلَّمْتُ فَاَقِمْ فَصَلّٰى ثُمَّ انْصَرَفَ فَالْتَفَتَ اِلَيْنَا فَقَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا حَضَرَ اَحَدَكُمُ الْاَمْرُ الَّذِىْ يَخَافُ فَوْتَهٗ فَلْيُصَلِّ هٰذِهِ الصَّلٰوةَ۔ رَوَاهُ النَّسَآئِىُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۸۶۵: کثیر بن قاروند فرمائي مونږ د سالم بن عبد الله نه د هغوی د والد صاحب د مانځه په باره کښې پوښتنه اوکړه او مونږ د هغوی نه پوښتنه اوکړه: آیا هغوی به په خپل مانځه کښې يو مونځ يوځائې ادا فرمائيلو. نو هغوی بیان اوکړو: صفیه بنت ابی عبید د هغوی په نکاح کښې وه، هغه د هغوی (عبد الله بن عمر رضي الله عنهما) طرف ته اوليدل او هغوی د خپل کروندې په زمکه کښې وو (په خط کښې ئې اوليکل) زه د دنیا د ورځو نه په آخری ورځ او د آخرت په ړومبئ ورځ کښې یم، پس هغه سور شو، د هغې طرف ته ئې په تیز رفتارئ څخه سفر کړو، تردې چه کله د ماسپخين د مانځه وخت رانزدې شو، موذن هغوی ته عرض اوکړو: اې ابو عبد الرحمٰن! مونځ! نو هغوی توجه او نه

فرمائیله، تردې چه د دواړو مونځونو درمیانی وخت راغلو (د سورلئ نه) کوزیدلو څخه ئې اوفرمائیل: اقامت اوکړه، بیا چه کله زه سلام واړوم نو بیا اقامت اوکړه، بیا هغوی مونځ اوکړو، بیا سوارهٔ شو تردې چه نمر پریوتلو، نو موذن هغوی ته اوفرمائیل، مونځ! هغوی اوفرمائیل: هم دغه شان اوکړه څنګه چه تا د ماسپخین او مازیګر په مانځه کښې کړې وو، بیا هغوی روان شو تردې چه کله ستورو هجوم اوکړو (زیات شو) نو هغوی د سورلئ نه راکوز شو او مؤذن ته ئې اوفرمائیل: اقامت اوکړه، چه کله زه د مانځه نه سلام واړوم، بیا اقامت اوکړه، نو هغوی مونځ اوکړو، بیا ئې سلام واړولو او مونږ طرف ته متوجه شو: رسول الله ﷺ فرمائی: په تاسو کښې چه کله چاته داسې کار راپیښ شی چه د هغې د لاس نه د وتلو هغه څخه ویره وی نو هغه له پکار دی چه داسې مونځ اوکړی. دا حدیث نسائی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۸۶۶) وَعَنْ نَافِعٍ وَعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ وَاقِدٍ اَنَّ مُؤَذِّنَ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ اَلصَّلٰوةُ قَالَ سِرْ سِرْ حَتّٰى اِذَا كَانَ قَبْلَ غُيُوْبِ الشَّفَقِ نَزَلَ فَصَلَّى الْمَغْرِبَ ثُمَّ انْتَظَرَ حَتّٰى غَابَ الشَّفَقُ فَصَلَّى الْعِشَآءَ ثُمَّ قَالَ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا عَجِلَ بِهٖ اَمْرٌ صَنَعَ مِثْلَ الَّذِىْ صَنَعْتُ فَسَارَ فِىْ ذٰلِكَ الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ مَسِيْرَةَ ثَلَاثٍ ـ رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالدَّارَقُطْنِىُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۸۶۶: نافع د عبدالله بن واقد نه روایت کوی چه د سیدنا عبدالله بن عمر رضی الله عنهما مؤذن اوئیل: مونځ! ابن عمر رضی الله عنهما اوفرمائیل: ځه ځه! تردې چه د شفق د غروب کیدو نه مخکښې وخت وو چه هغوی راکوز شو او د ماښام مونځ ئې ادا کړو، بیا ئې انتظار اوکړو، تردې چه شفق غائب شو، نو د ماسخوتن مونځ ئې ادا کړو، بیشکه رسول الله ﷺ ته چه به کله د تندئ کار پیش شو، نو هغوی به هم داسې کول څنګه چه ما اوکړل، په دې سفر کښې ابن عمر رضی الله عنهما په دې یو ورځ او یو شپه کښې د درې ورځو فاصله وهلې وه. دا حدیث ابوداؤد او دارقطنی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۸۶۷) وَعَنِ ابْنِ جَابِرٍ قَالَ حَدَّثَنِىْ نَافِعٌ قَالَ خَرَجْتُ مَعَ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فِىْ سَفَرٍ يُرِيْدُ اَرْضًا لَّهٗ فَاَتَاهُ اٰتٍ فَقَالَ اِنَّ صَفِيَّةَ بِنْتَ اَبِىْ عُبَيْدٍ لَّمَا بِهَا فَانْظُرْ اَنْ تُدْرِكَهَا فَخَرَجَ مُسْرِعًا وَّمَعَهٗ رَجُلٌ مِّنْ قُرَيْشٍ يُّسَايِرُهٗ وَغَابَتِ الشَّمْسُ فَلَمْ يُصَلِّ الصَّلٰوةَ وَكَانَ عَهْدِىْ بِهٖ وَهُوَ يُحَافِظُ عَلَى الصَّلٰوةِ فَلَمَّا اَبْطَأَ قُلْتُ الصَّلٰوةُ يَرْحَمُكَ اللّٰهُ فَالْتَفَتَ اِلَىَّ وَمَضٰى حَتّٰى اِذَا كَانَ فِىْ اٰخِرِ الشَّفَقِ نَزَلَ فَصَلَّى الْمَغْرِبَ ثُمَّ اَقَامَ الْعِشَآءَ وَقَدْ تَوَارَى الشَّفَقُ فَصَلّٰى بِنَا ثُمَّ اَقْبَلَ عَلَيْنَا فَقَالَ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا عَجِلَ بِهِ السَّيْرُ صَنَعَ هٰكَذَا ـ رَوَاهُ النَّسَآئِىُّ وَاَبُوْدَاوُدَ وَالطَّحَاوِىُّ وَالدَّارَقُطْنِىُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۸۶۷: د ابن جابر نه روایت دې چه ماته نافع حدیث بیان کړو، هغوی فرمائی: زه په یو سفر کښې د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما څخه اوم هغوی خپلې زمکې ته تلل غوښتل چه یو راتلونکی راتل څخه اووې:

صفية بنت ابى عبيد (د ابن عمر رضی الله عنهما زوجه) د خپل څه تكليف د وجې نه (هغوى رابلى) ګوره كه ته هغه (په ژوندى حالت كښ) بيا مومې. نو ابن عمر رضی الله عنهما په تيزئ څخه اوتلو او هغوى څخه د قريشو يو سړې وو چا به هغوى ګرځول، چه نمر پريوتلو نو هغوى مونځ اونكړو او د كله نه چه زما د هغوى څخه ملاقات وو، هغوى به په مانځه باندې پابندى كوله، چه كله هغوى ناوخته كړو نو ما اووې: الله پاک دې په تاسو رحم اوكړى: مونځ !!!! هغوى زما طرف ته توجه اونكړه او روان شو، تردې چه د شفق آخرى وخت شو، نو راكوز شو او مونځ ئې اوكړو، بيا د ماسخوتن لپاره اقامت اوكړې شو، يقينا شفق غروب شوې وو، نو هغوى مونږ ته مونځ راكړو، بيا ئې زمونږ طرف ته رامخ كړو، بيشكه رسول الله ﷺ به چه كله تندى كوله، نو دغه شان عمل به ئې كولو.

دا حديث نسائى، ابوداؤد، طحاوى او دارقطنى نقل كړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(٨٦٨) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عُمَرَ بْنِ عَلِيِّ بْنِ اَبِيْ طَالِبٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ اَنَّ عَلِيًّا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كَانَ اِذَا سَافَرَ سَارَ بَعْدَ مَا تَغْرُبُ الشَّمْسُ حَتّٰى كَادَ اَنْ تَظْلِمَ ثُمَّ يَنْزِلُ فَيُصَلِّي الْمَغْرِبَ ثُمَّ يَدْعُوْ بِعَشَاءٍ فَيَتَعَشّٰى ثُمَّ يُصَلِّي الْعِشَاءَ ثُمَّ يَرْتَحِلُ وَيَقُوْلُ هٰكَذَا كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

٨٦٨: د عبدالله بن محمد بن عمر بن على بن ابى طالب نه د هغوى د پلار، نيكهٔ په واسطه روايت دې چه سيدنا على المرتضىٰ رضی الله عنه به چه كله سفر كولو نو د نمر د غروب كيدو نه پس به هم روان وو، تردې چه چه كله به تيارهٔ شوه، بيا به راكوز شو او د ماښام مونځ به ئې ادا كړو، بيا به ئې خوراک طلب كولو څخه د شپې ډوډئ خوړله، بيا به ئې د ماسخوتن مونځ ادا كړو، بيا به ئې سفر كولو، او فرمائيل به ئې: رسول الله ﷺ به هم دغه شان عمل فرمائيلو. دا حديث ابوداؤد نقل كړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(٨٦٩) وَعَنْ اَبِيْ عُثْمَانَ قَالَ وَفَدْتُ اَنَا وَسَعْدُ بْنُ مَالِكٍ وَنَحْنُ نُبَادِرُ لِلْحَجِّ فَكُنَّا نَجْمَعُ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ نُقَدِّمُ مِنْ هٰذِهٖ وَنُؤَخِّرُ مِنْ هٰذِهٖ وَنَجْمَعُ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ نُقَدِّمُ مِنْ هٰذِهٖ وَنُؤَخِّرُ مِنْ هٰذِهٖ حَتّٰى قَدِمْنَا مَكَّةَ. رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

٨٦٩: ابو عثمان فرمائى ما او سعد بن مالک يوځائې سفر اوكړو، مونږ به د حج لپاره زر (سفر) كولو، نو مونږ به ماسپخين او مازيګر يوځائې كولو. دا مونځ به مو لږ شان مقدم او هغه به مو لږ شان موخر كولو او مونږ به ماښام او ماسخوتن يوځائې ادا كولو، دا مونځ به مو لږ شان مقدم او هغه به مو لږ شان موخر كولو، تردې چه مونږ مكې مكرمې ته اورسيدلو. دا حديث طحاوى نقل كړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

**تشريح**>(۸۲۳ نه ۸۲۹ پورې) د دې باب ټول روايات د احنافو مستدل دې جمع صوری د کوم مدلول چه قطعی دې هغه دا چه هر مونځ په خپل خپل وخت باندې اوکړې شی داسې چه د ماسپخين مونځ د خپل آخری وخت پورې موخر کړې شی چه کله د ماسپخين ادا کړې شی او د مازيګر وخت شروع شی نو مازيګر دې په خپل ابتدائی وخت کښې اوکړې شی ماښام او ماسخوتن هم په دې باندې قياس کړئ مطلب دا شو چه هر مونځ په خپل خپل وخت باندې ادا شو اګر چه صورتا جمع بين الصلاتين ده د احنافو په نزد جمع حقيقی صرف په عرفات او مزدلفه کښې جائز ده په عرفات کښې جمع تقديم او په مزدلفه کښې جمع تاخير.

د دې باب د ټولو رواياتو مدلول جمع صوری ده کوم چه په تحت اللفظ ترجمه کښې واضح کړې شوې دې.

**د احاديث باب تخريج**: د دې باب **اول روايت** (۸۲۳) **عن عبدالله نسائی** کتاب مناسک الحج ج ۲ ص ٤٤ **دويم روايت** ۸۶٤ طحاوی کتاب الصلاة ج ۱ ص ۱۱۳ **دريم روايت** ۸۲۵ **عن کثير** نسائی کتاب المواقيت ج ۱ ص ۹۸، **څلورم روايت** عن نافع ۸۶۶ ابوداؤد ج ۱ ص ۱۷۱، **پنځم روايت** ۸۲۷ **عن ابن جابر** نسائی کتاب المواقيت ج ۱ ص ۹۹، ابوداؤد ج ۱ ص ۱۷۱، **شپږم روايت** ۸۲۸ **عن عبدالله** ابوداؤد ج ۱ ص ۱۷٤ او آخری روايت ۸۲۹ عن ابی عثمان طحاوی کتاب الصلاة ج ۱ ص ۱۱٤ کښې منقول دې.

## بَـابُ الْجَمْعِ فِی الْحَضَرِ

(۸۷۰) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ جَمَعَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ وَالْمَغْرِبِ وَالْعِشَآءِ بِالْمَدِيْنَةِ فِیْ غَيْرِ خَوْفٍ وَّلَامَطَرٍ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَّاٰخَرُوْنَ۔

قَالَ النِّيْمَوِیُّ وَلِلْعُلَمَآءِ تَاْوِيْلَاتٌ فِیْ هٰذَا الْحَدِيْثِ كُلُّهَا سَخِيْفَةٌ اِلَّا الْحَمْلَ عَلَی الْجَمْعِ الصُّوْرِیِّ۔

**باب: حضر (په خپل ښهر کوم کښې چه مقيم وی) کښې (دوه مونځونه) جمع کول**: ۸۷۰: سيدنا ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی : رسول الله ﷺ ماسپخين، مازيګر، ماښام او ماسخوتن په مدينه منوره کښې بغير د ويرې او بغير د باران نه يوځائې ادا اوفرمائيل. دا حديث مسلم او نورو محدثينو نقل کړې دې.نيموی رحمه الله فرمائی : د علماء کرامو په دې حديث کښې ډير تاويلونه دی چه ټول کمزوری دی سوا د دې نه چه محمول کړې شی په جمع صوری باندې.

**تشريح**>(۸۷۰) : د ابن عباس رضی الله عنهما دا روايت په کتاب المسافرين ج ۱ ص ۲٤۶ کښې نقل دې امام نيموی رحمه الله فرمائی ( قال النيموی وللعلماء تأويلات فی هذا الحديث كلها سخيفة الا الحمل علی الجمع

الصوری﴾ محدثینو د دې مختلف تاویلات کړي دی خو په حقیقت کښې هغه ټول کمزورې دی او د دې صحیح تاویل دا په جمع صوری باندې محمول کول دی لکه چه د وړاندې ابواب د روایاتو هم دا مدلول دې.

## بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْجَمْعِ فِي الْحَضَرِ

(٨٧١) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ مَا رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلّٰى صَلٰوةً إِلَّا لِمِيْقَاتِهَا إِلَّا صَلٰوتَيْنِ صَلٰوةَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَآءِ بِجَمْعٍ وَّصَلَّى الْفَجْرَ يَوْمَئِذٍ قَبْلَ مِيْقَاتِهَا. رَوَاهُ الشَّيْخَانِ.

**باب: په حضر کښې (د دوه مونځونو) د جمع کولو ممانعت:** ۸۷۱: سیدنا عبد الله بن عمر ﷺ فرمائی : ما رسول الله ﷺ نه دې لیدلې چه هغوی یو مونځ د خپل وخت نه بغیر کړې وی سوا د دوه مونځونو نه، د ماښام او د ماسخوتن په مزدلفه کښې او د سحر مونځ په هغه ورځ د خپل وخت نه مخکښې. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(٨٧٢) وَعَنْ أَبِيْ قَتَادَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَمَا إِنَّهُ لَيْسَ فِي النَّوْمِ تَفْرِيْطٌ إِنَّمَا التَّفْرِيْطُ عَلٰى مَنْ لَّمْ يُصَلِّ حَتّٰى يَجِيْئَ وَقْتُ الصَّلٰوةِ الْأُخْرٰى. رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَّآخَرُوْنَ.

۸۷۲: د ابوقتادة نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : خبردار ! په خوب کښې تفریط (کوتاهی) نشته، بیشکه کوتاهی په دې باندې ده چه چا مونځ ادا نه کړو تردې چه د بل مانځه وخت راغلو. دا حدیث مسلم او نورو محدثینو نقل کړې دې.

(٨٧٣) وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَوْهَبٍ قَالَ سُئِلَ أَبُوْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مَا التَّفْرِيْطُ فِي الصَّلٰوةِ؟ قَالَ أَنْ تُؤَخِّرَ حَتّٰى يَجِيْئَ وَقْتُ الْأُخْرٰى. رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

۸۷۳: عثمان بن عبد الله بن وهب فرمائی : د سیدنا ابوهریره ﷺ نه پوښتنه اوکړې شوه، تفریط څه څیز دې؟ هغوی اوفرمائیل : چه ته مونځ ناوخته کړې، تردې چه د بل مانځه وخت راشی. دا حدیث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(٨٧٤) وَعَنْ طَآؤُسٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: لَا يَفُوْتُ صَلٰوةٌ حَتّٰى يَجِيْئَ وَقْتُ الْأُخْرٰى. رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

۸۷۴: د طاؤس نه روایت دې چه ابن عباس ﷺ اوفرمائیل : د مانځه قضاء نشته، تردې چه د بل مانځه وخت راشی. دا حدیث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

**تشریح**>(۸۷۱ نه ۸۷۴ پورې) د باب اول روایت ۸۷۱ عن عبدالله مسلم کتاب الحج ج ۱ ص ٤١٧ بخاری ج ۱ ص ۲۲۸، دویم روایت ۸۷۲ مسلم ج ۱ ص ۲۳۹، طحاوی ج ۱ ص ١١٤، دریم روایت ۸۷۳

طحاوی کتاب الصلاة ج ١ ص ١١٤، آخری ۸۷۴، طحاوی کتاب الصلاة ج ١ ص ١١٤ نه تخریج کړې شوې دي د احادیثو مضمون او مدلول په تحت اللفظ ترجمه کښې واضح کړې شوې دي.

**جمع بین الصلاتین خلاصه مباحث:** قاضي شوکاني رحمه الله په نیل الاوطار ج ٢ ص ٣٢٦ کښې لیکی چه د جمع بین الصلاتین په باره کښې اختلاف دې. یو قوم وائی چه د مرض یا باران یا سفر په وجه باندې تقدیما هم جمع صحیح ده او تاخیرا هم صحیح ده، مثلا د مازیګر مونځ مقدم کولو څخه یوځائې کول، جمع تقدیما ده او صلاة ظهر موخر کولو څخه د مازیګر څخه کول جمع تاخیرا ده. د امام احمد او امام اسحاق هم دا مسلک دې. امام شافعي رحمه الله د مریض لپاره نه مني. یو ډله وائی چه نه تقدیما جائز دې او نه تاخیرا، سوا د عرفات او مزدلفې نه. په عرفات کښې د ظهر او عصر جمع تقدیمی او په مزدلفه کښې د ماښام او ماسخوتن جمع تاخیری (ابن رشد بدایة المجتهد ج ١ ص ١۶۶ کښې لیکی چه په عرفات او مزدلفه کښې د جمع په باره کښې اتفاق دې)، دا مسلک د حسن بصري، ابراهیم النخعي، امام ابوحنیفه اود صاحبینو رحمهم الله دې. په العرف الشذی ص١٠۶ کښې دی چه د آئمة ثلاثه په نزد وقتی جمع صحیح ده. د امام او صاحبین په نزد جمع وقتی صحیح نه ده. په احادیثو کښې چه د کوم ځائې ذکر دې هغه جمع صوری او فعلی ده. د جمع صوری مطلب دا وی چه مثلا ظهر موخر کړې شی او د ظهر په آخری وخت کښې اوکړې شی. چه کله د هغې نه فارغ شی نو د عصر وخت به داخل شی. یعنی دواړه په خپلو خپلو وختونو کښې یو په اول وخت کښې او دویم په آخر وخت کښې.

**امام صاحب ومن وافقه فرمائی:** چه د عرفات او مزدلفې نه بغیر جمع وقتی صحیح نه ده د دې ډیر دلائل دی:

١: د الله پاک ارشا دې: ﴿ حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَىٰ وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ ﴾ (پاره ٢ سورة البقرة رکوع ٣١ آیت ٢٣٨) یعنی هر مونځ په خپل وخت باندې ادا کوئ.

٢: د الله پاک ارشاد دې: ﴿ إِنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَوْقُوتًا ﴾ (پاره ۵ سورة النساء رکوع ١۵ آیت ١٠٣) یعنی مونځ په وخت معین باندې لیکلې شوې او فرض کړې شوې دې.

٣: په فتح الملهم ج ٢ ص ٢۶١ کښې دی چه د آیت کریمه ﴿ فَوَيْلٌ لِلْمُصَلِّينَ الَّذِينَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ ﴾ تفسیر بعض سلف صالحینو دا کړې دې ﴿ ای یؤخرون عن اوقاتها ﴾ هم دغه شان ﴿فَخَلَفَ مِنْ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ أَضَاعُوا الصَّلَاةَ ای اخروها عن اوقاتها﴾ نو کومو خلقو چه د وخت پابندی نه ده کړې الله پاک د هغوی مذمت بیان فرمائیلې دې نو تاخیر څنګه صحیح کیدې شی؟

۴: د سیدنا ابن مسعود رضي الله عنه روایت دي:

ما صلی رسول الله صلی الله علیه وسلم صلٰوة الا فی وقتها الابعرفة وجمع (المزدلفة) اوکما قال رواه النسائی (ج: ۱، ص: ۳۶)واللفظ له وبخاری(ج: ۱، ص: ۲۲۸) ومسلم(ج: ۱، ص: ۴۱۷)

۵: د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه قولی او فعلی احادیث چه په هغې کښې د مونځونو په خپل وخت باندې د کولو ذکر دې.

**د نورو امامانو دلیل:** هغه روایات چه په هغې کښې راځی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ماسپخین او مازیگر او ماښام او ماسخوتن جمع کولو ځخه اوکړل. علماء احناف په ځواب کښې فرمائی چه بیشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم جمع کولو ځخه مونځونه کړې دی خو دا جمع صوری وه نه حقیقی. پس قاضی شوکانی په نیل الاوطار ج ۳ ص ۲۳۰ کښې لیکی چه په دې روایاتو کښې د جمع نه مراد جمع صوری ده لکه چه امام قرطبی، امام الحرمین عبدالملک، امام ابن ماجشون، ابن سیدالناس او طحاوی رحمهم الله وغیره تصریح کړې ده بیا ئې وړاندې د حافظ ابن حجر رحمه الله په حوالې ځخه لیکلې دی چه هغوی هم داسې فرمائیلې دی چه جمع صوری مراد ده **وهو الاولی**. نواب صدیق حسن خان په دلیل الطالب ص ۳۴۸ کښې لیکی چه په دې روایاتو کښې د جمع نه جمع صوری متعین ده او د هغوی ځوئې نواب نور الحسن صاحب په العرف الجادی ص۱۹ کښې لیکی چه جمع صوری حق ده او د جمع صوری لپاره دلائل لاندې لیکلې شی.

۱: نسائی ج ۱ ص ۲۸ کښې روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ﴿ **اخر الظهر وعجل العصر فجمع بینهما واخر المغرب وعجل العشاء فجمع بینهما** ﴾ او هم دا جمع صوری ده.

۲: ابوداؤد الطیالسی ص ۴۹ کښې فرمائی چه د ابن مسعود رضي الله عنه روایت دې د هغې الفاظ هم دا دی: ﴿ **اخر الظهر وعجل العصر فجمع بینهما واخر المغرب وعجل العشاء فجمع بینهما** ﴾

۳: قاضی شوکانی رحمه الله په نیل الاوطار ج ۳ ص ۲۳۰ کښې جمع صوری ته په ډیرو دلائلو ځخه ترجیح ورکړې ده چه په هغې کښې یو دا دې چه د ابن جریر په روایت کښې دی: **عن ابن عمر** رضي الله عنهما چه حضور صلی الله علیه وسلم ﴿ **اخر الظهر وعجل العصر واخر المغرب وعجل العشاء** ﴾ وائی چه ابن عمر رضي الله عنهما د جمع بین الصلاتین د حدیث راوی دې او دا روایت دال دې چه د جمع نه مراد جمع صوری ده.

۴: په بخاری (ج: ۱، ص: ۱۵۷) او مسلم (ج: ۱، ص: ۲۴۶) کښې روایت دې: عَن ابن عباس رضي الله عنهما قال صلیت مع رسول الله صلی الله علیه وسلم ثمانیا جمیعا وسبعًا جمیعًا فقلت یا ابا الشعثاء اظنه اخر الظهر وعجل العصر وعجل العشاء واخر المغرب قال وانا اظنه.

۵ علامه کاسانی رحمه الله په البدائع والصنائع ج ۱ ص ۱۲۷ کښې لیکی چه جمع بین الصلاتین په هغه مونځونو کښې کړې شوې ده چه په هغې کښې د یو د اختتام په وخت متصل د بل وخت شروع کیږی لکه د ظهر او عصر، مغرب او عشاء په مینځ کښې بل وخت نه وی لکه فجر او ظهر، عصر او مغرب او دا ددې خبرې دلیل دې چه دجمع نه جمع صوری او فعلی مراد ده نه جمع وقتی او حقیقی.

نواب صدیق حسن خان رحمه الله په دلیل الطالب ص ۳۴۸ کښې لیکی چه که د یو سړی د جمع صوری په باره کښې تردد وی نو هغه د روایت حمنة بنت جحش په رڼا کښې هم پوهیدلې شی. د هغوی روایت په ترمذی ج ۱ ص ۱۸ کښې دې چه په هغې کښې دا الفاظ دی: **فأن قویت علی ان تؤخری الظهر وتعجلی العصر** ﴾ بیا وړاندې فرمائی ﴿ **ثم تؤخرین المغرب وتعجلین العشاء الحدیث** ﴾ باقی د ترمذی ص ۲۶ د دې روایت چه رسول الله ﷺ جمع ﴿ **من غیر خوف ولا مطر** ﴾ اوکړه نو د دې خواب خپله په خپل قلم ځخه امام ترمذی په ج ۲ ص ۲۳۶ کښې ورکړې دې او د ترمذی په اول سر کښې هم دې چه زما د کتاب احادیث د یو نه یو په نزد معمول بها دی. خو کوم چه د چا په نزد هم معمول بها نه دې په هغې کښې یو دا دې: ﴿ **جمع بین الظهر والعصر بالمدینة والمغرب والعشاء من غیر خوف ولا سفر ولا مطر** ﴾.

# [أَبْوَابُ الْجُمُعَةِ]

## بَابُ فَضْلِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ

(۸۷۵) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَكَرَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَقَالَ فِيْهِ سَاعَةٌ لَا يُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّيْ يَسْأَلُ اللّٰهَ تَعَالٰى شَيْئًا إِلَّا أَعْطَاهُ إِيَّاهُ وَأَشَارَ بِيَدِهٖ يُقَلِّلُهَا . رَوَاهُ الشَّيْخَانِ.

## [د جمعې ابواب]

**باب: د جمعې د ورځې فضیلت:** ۸۷۵: د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ د جمعې د ورځې ذکر اوفرمائیلو، وې فرمائیل: په دې کښې یو داسې وخت دې نه موافق کیږی د هغې ځخه یو مسلمان بنده په داسې حال کښې چه هغه ولاړ وی مونځ کوی یا د الله پاک نه څه څیز غواړی مګر الله پاک هغه څیز هغه ته ورکوی او په لاس مبارک باندې ئې د هغه وخت لږ والی ته اشاره اوفرمائیله. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(٨٧٦) وَعَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَيْرُ يَوْمٍ طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ فِيْهِ خُلِقَ اٰدَمُ فِيْهِ اُدْخِلَ الْجَنَّةَ وَفِيْهِ اُخْرِجَ مِنْهَا وَلَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ اِلَّا فِيْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

۸۷۶: د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: بهترينه ورځ په کومې باندې چه نمر راختلې دې د جمعې ورځ ده، په دې کښې آدم عليه السلام پيدا کړې شو او هم په دې ورځ جنت ته داخل کړې شو، هم په دې ورځ راويستلې شو، او قيامت به هم په دې ورځ باندې قائميږي. دا حديث مسلم نقل کړې دې.

(٨٧٧) وَعَنْ اَبِيْ لُبَابَةَ الْبَدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَيِّدُ الْاَيَّامِ يَوْمُ الْجُمُعَةِ وَاَعْظَمُهَا عِنْدَ اللّٰهِ وَهُوَ اَعْظَمُ عِنْدَ اللّٰهِ مِنْ يَّوْمِ الْفِطْرِ وَيَوْمِ الْاَضْحٰى وَفِيْهِ خَمْسُ خِلَالٍ خَلَقَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ فِيْهِ اٰدَمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَاَهْبَطَ اللّٰهُ فِيْهِ اٰدَمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ اِلَى الْاَرْضِ وَفِيْهِ تَوَفَّى اللّٰهُ اٰدَمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَفِيْهِ سَاعَةٌ لَا يَسْأَلُ الْعَبْدُ فِيْهَا شَيْئًا اِلَّا اٰتَاهُ اللّٰهُ اِيَّاهُ مَالَمْ يَسْأَلْ حَرَامًا وَّفِيْهِ تَقُوْمُ السَّاعَةُ مَا مِنْ مَّلَكٍ مُّقَرَّبٍ وَّلَا سَمَآءٍ وَّلَا اَرْضٍ وَّلَا رِيَاحٍ وَّلَا جِبَالٍ وَّلَا بَحْرٍ اِلَّا هُنَّ يُشْفِقْنَ مِنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ۔ رَوَاهُ اَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَةَ وَقَالَ الْعِرَاقِيُّ اِسْنَادُهُ حَسَنٌ۔

۸۷۷: د ابولبابة بدري رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل د ورځو سرداره د جمعې ورځ ده او د الله پاک په نزد د هغې نه زيات عظمت والا دې، او هغه د الله پاک په نزد د عيد الفطر او عيد الاضحى نه هم زيات عظمت والا ده، او په دې ورځ کښې پنځه خيزونه دي، الله پاک په دې ورځ باندې آدم عليه السلام پيدا اوفرمائيلو، هم په دې ورځ باندې ئې آدم عليه السلام په زمکه باندې راکوز کړو هم په دې ورځ باندې الله پاک آدم عليه السلام وفات کړو، او په دې ورځ کښې يو داسې ساعت دې چه په هغې کښې بنده څه خيز غواړي، الله پاک ئې هغه ته ضرور ورکوي، ترڅو چه ئې د څه حرامو سوال نه وي کړې او په دې ورځ به قيامت قائميږي. هيڅ داسې مقرب فرشته نشته، او نه آسمان او نه زمکه او نه هواګانې نه غرونه او نه سمندر چه د جمعې د ورځې نه نهٔ ويريږي.

دا حديث احمد، ابن ماجة نقل کړې دې، عراقي وائي د دې اسناد حسن دې.

(٨٧٨) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَلَامٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قُلْتُ وَرَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ اِنَّا لَنَجِدُ فِيْ كِتَابِ اللّٰهِ فِيْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ سَاعَةً لَا يُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُّؤْمِنٌ يُّصَلِّيْ يَسْأَلُ اللّٰهَ فِيْهَا شَيْئًا اِلَّا قُضِيَ لَهٗ حَاجَتُهٗ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ فَاَشَارَ اِلَيَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَوْ بَعْضَ سَاعَةٍ فَقُلْتُ صَدَقْتَ اَوْ بَعْضَ سَاعَةٍ قُلْتُ اَيُّ سَاعَةٍ هِيَ؟ قَالَ: اٰخِرُ سَاعَةٍ مِّنْ سَاعَاتِ النَّهَارِ قُلْتُ اِنَّهَا لَيْسَتْ سَاعَةَ الصَّلٰوةِ قَالَ بَلٰى اَنَّ الْعَبْدَ الْمُؤْمِنَ اِذَا صَلّٰى ثُمَّ جَلَسَ لَا يَحْبِسُهٗ اِلَّا الصَّلٰوةُ فَهُوَ فِي الصَّلٰوةِ۔ رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

۸۷۸: سیدنا عبدالله بن سلام رضی الله عنه فرمائی : ما عرض اوکړو په داسې حال کښې چه رسول الله ﷺ تشریف فرما وو ، بیشکه مونږ د الله پاک په کتاب کښې بیا مومو چه د جمعې په ورځ بانډې یو داسې وخت دې نه موافق کیږي یو مومن بنده په داسې حال کښې چه هغه مونځ کوی د الله پاک نه په هغې کښې څه غواړي مگر د هغه حاجت پوره کولې شی، عبدالله رضی الله عنه فرمائی رسول الله ﷺ زما طرف ته اشاره اوفرمائیله، یا د وخت څه حصه ده (یعنی ډیر لږ وخت دې) ما عرض اوکړو : تاسو رشتیا اوفرمائیل: یا وخت څه حصه ده، ما عرض اوکړو د کوم وخت دې؟
رسول الله ﷺ اوفرمائیل د ورځې په وختونو کښې آخری وخت، ما عرض اوکړو : هغه خو د مانځه وخت نه دې؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل : بیشکه مومن بنده چه کله مونځ اوکړی، بیا کینی د مانځه نه علاوه هغه لره هیڅ څیز بندونکی نه وی نو هغه په مانځهٔ کښې وی. دا حدیث ابن ماجة نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۸۷۹) وَعَنْ اَبِیْ سَعِیْدٍ رَّضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وَاَبِیْ ھُرَیْرَۃَ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّ فِی الْجُمُعَۃِ سَاعَۃً لَّا یُوَافِقُھَا عَبْدٌ مُّسْلِمٌ یَّسْئَالُ اللّٰہَ عَزَّوَجَلَّ فِیْھَا خَیْرًا اِلَّا اَعْطَاہُ اِیَّاہُ وَھِیَ بَعْدَ الْعَصْرِ۔ رَوَاہُ اَحْمَدُ وَاِسْنَادُہٗ صَحِیْحٌ۔

۸۷۹: د سیدنا ابوسعید الخدری او سیدنا ابوهریرة رضی الله عنهما نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : بیشکه په جمعه کښې یو داسې ساعت دې چه نه موافق کیږی د هغې څخه یو مسلمان بنده چه د الله پاک نه خیر اوغواړی مگر الله پاک به هغه ته هغه څیز ورکړی او دا د مازیگر نه پس دې.دا حدیث احمد نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۸۸۰) وَعَنْ جَابِرٍ رَّضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ قَالَ یَوْمُ الْجُمُعَۃِ اثْنَتَا عَشَرَۃَ سَاعَۃً لَا یُوْجَدُ فِیْھَا عَبْدٌ مُّسْلِمٌ یَّسْئَالُ اللّٰہَ شَیْئًا اِلَّا اٰتَاہُ اِیَّاہُ فَالْتَمِسُوْھَا اٰخِرَ سَاعَۃٍ بَعْدَ الْعَصْرِ۔ رَوَاہُ النَّسَآئِیُّ وَاَبُوْدَاوُدَ وَاِسْنَادُہٗ حَسَنٌ۔

۸۸۰: د سیدنا جابر رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : د جمعې ورځ دولس ساعته ده (په دې کښې یو ساعت داسې دې چه) نه موندلې کیږی په دې کښې یو مسلمان بنده چه د الله پاک نه د څه سوال کوی مگر هغه به ورته ضرور ورکوی تاسو دا په آخری ساعت کښې د مازیگر نه پس تلاش کوئ.دا حدیث نسائی او ابوداؤد نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۸۸۱) وَعَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِکٍ رَّضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ عُرِضَتْ عَلَیَّ الْاَیَّامُ فَعُرِضَ عَلَیَّ فِیْھَا یَوْمُ الْجُمُعَۃِ فَاِذَا ھِیَ کَمِرْاٰۃٍ بَیْضَآءَ فَاِذَا فِیْ وَسَطِھَا نُکْتَۃٌ سَوْدَآءُ فَقُلْتُ مَا ھٰذِہٖ قِیْلَ السَّاعَۃُ۔ رَوَاہُ الطَّبَرَانِیُّ فِی الْاَوْسَطِ وَاِسْنَادُہٗ صَحِیْحٌ۔

۸۸۱: سیدنا انس بن مالک رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : په ما باندې ورځې پیش کړې شوې، په ما باندې هغې کښې د جمعې ورځ پیش کړې شوه پس هغه ناڅاپه د صفا شیشې په شان وه او د هغې په مینځ کښې یو توره نقطه وه، ما اووې دا څه دی؟ (په خواب کښې) اوئیلې شو : دا هغه خاص ساعت دې. دا حدیث طبرانی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۸۸۲) وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ اللّٰهَ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى لَيْسَ بِتَارِكٍ اَحَدًا مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ اِلَّا غُفِرَ لَهٗ. رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْاَوْسَطِ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

۸۸۲: سیدنا انس بن مالک رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ فرمائیلې دی بیشکه الله پاک د جمعې په ورځ په مسلمانانو کښې څوک هم بغیر د بخښلو نه نۀ پریږدی.

دا حدیث طبرانی په اوسط کښې نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۸۸۳) وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ اَنَّ نَاسًا مِّنْ اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اجْتَمَعُوْا فَتَذَاكَرُوا السَّاعَةَ الَّتِيْ فِيْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَتَفَرَّقُوْا وَلَمْ يَخْتَلِفُوْا اَنَّهَا اٰخِرُ سَاعَةٍ مِّنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ. رَوَاهُ سَعِيْدُ بْنُ مَنْصُوْرٍ فِيْ سُنَنِهٖ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

۸۸۳: د سلمة بن عبدالرحمٰن نه روایت دې چه د رسول الله ﷺ د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه څه خلقو جمع کیدو څخه د هغه ساعت په باره کښې کوم چه د جمعې په ورځ وی، خپل مینځ کښې خبرې اوکړې، بیا هغوی بیل بیل شو په دې باندې هغوی اختلاف اونکړو چه هغه د جمعې په ورځ آخری ساعت دې. دا حدیث سعید بن ابی منصور په خپل سنن کښې نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

**تشریح**> (۸۷۵ نه ۸۸۳ پورې) د دې باب غرض انعقاد د جمعې د ورځې د فضیلت بیان دې د جمعې د فضلیت په باره کښې د پنځوس نه زیات فضائل د احادیثو نه ثابت دی په بیهقی کښې د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ د (**شاهد و مشهود**) په تفسیر کښې د شاهد نه مراد جمعه او د مشهود نه مراد یوم عرفة ښودلې دې په جامع صغیر کښې د ابن عباس رضی الله عنهما مرفوعا منقول دې ﴿ **الجمعة حج المساکين وفي رواية حج الفقراء** ﴾.

**وجه تسمیه** : مشهور لغت کښې جمعه په ضمې د میم څخه راغلې ده په سکون د میم هم په یو روایت کښې منقول دی امام اعمش رحمه الله دا په سکون د میم لولی بعض حضرات دا په فتح د میم څخه بیان کړې دې د امام زجاج قول دې چه بعض حضراتو دا په کسرې څخه لوستلې ده. (روح المعانی ج ۲۸ ص ۹۹) په مصباح کښې دی چه ضمه د میم لغت د حجاز دې او فتح د میم لغت د بنو تمیم او سکون د میم لغت عقیل دې خو د میم په ضمې څخه لغت فصیح دې. د جاهلیت په زمانه

کښې دې ته يوم العروبة وائی کوم چه د سريانئ لفظ دې چه د هغې معنی د رحمت وی روستو د دې نوم يوم الجمعة شو په وجه د تسمية کښې ئې مختلف اقوال دی : ۱: بعض حضرات وائی چه دا اسلامی نوم دې او د دې وجه د تسمية اجتماع الناس للصلاة دې، په ابن کثير کښې دی **﴿ انما سميت الجمعة لانها مشتقة من الجمع فان اهل الاسلام يجتمعون فی كل اسبوع مرة بالمعاهد الكبار ﴾** ۲: ځه حضرات وائی چه د خلق عالم تکميل او د هغې اسباب او موجودات هم هغه ورځ جمع شو په دې وجه ورته جمعه وئيلې شی. ۳: او د بعض حضراتو رائې دا ده چه کعب بن لوی په دې ورځ خلق جمع کولو ځه وعظ فرمائيلې وو په دې وجه د دې نوم جمعه شو. (معارف السنن ج ٤ ص ۳۰۳) ۴: په مرقاة کښې دی چه د جدا کيدو نه پس په زمکه باندې د آدم عليه السلام ملاقات د حوا ځخه هم په دې ورځ شوې دې او دواړه يوځائې جمع شو په دې وجه ورته جمعه وائی. ۵: فراء، ابوعبيده او ابوعمرو ذکر کړې دی چه اهل عرب هفتې ته شبار، اتوار ته اول، پير ته اهوان، نهې ته جبار، چارشنبې ته دبار، جمعرات ته مونس او جمعې ته عروبه وائی **قال ابوالبكاء وهی مشتقة من الاعراب وهو التحسين لتزين الناس فيه ومنه قوله تعالى عربا اترابا ای مستحسنات لبعولتهن.**

**داحاديث الباب تشريح:** ۱: د اول باب روايت ۸۷۵ **عن ابی هريرة** (بخاری ج ۱ ص ۱۲۸) تشريح مولانا محمد منظور نعمانی صاحب ليکی : چه ځنګه په پوره کال کښې د رحمت او قبوليت يو خاص شپه (شب قدر) کيخودلې شوې ده چه په هغې کښې يو بنده که توبه او استغفار او دعا نصيب شی نو د هغه ډيره خوش نصيبی ده که په هغې کښې بنده ته د الله پاک نه دعا کول او غوښتل نصيب شی نو د الله پاک نه د قبوليت اميد دې. سيدنا ابوهريره رضی الله عنه د عبدالله بن سلام او کعب احبار د دواړو نه نقل کړې دی چه د جمعې په ورځ د دې ساعت اجابت ذکر په تورات کښې هم شته او معلومه ده چه دا دواړه حضرات د تورات او د کتب سابقه ډير لوئې عالمان وو. د جمعې په ورځ د دې ساعت اجابت د وخت په تعيين او تخصيص کښې د شارحين حديث نه اقوال نقل کړی دی، په هغې کښې دوه داسې دی چه د هغې صراحة يا اشارة بعض کښې هم ذکر دې. صرف هم هغه دلته ذکر کولې شی.

۱: يو دا چه په کوم وخت کښې امام د خطبې لپاره ممبر لاړ شی د هغه وخت نه تر د مانځه د ختميدلو پورې چه کوم وخت وی پس هم دا هغه ساعت اجابت دې، د دې حاصل دا شو چه خطبه او د مونځ وخت د دعاء د قبوليت خاص وخت دې.

۲: دويم قول دا دې چه د مازيګر نه پس نه تر د ماښام پورې دې.

شاه ولی الله رحمه الله حجة الله البالغة کښې دا دواړه اقوال ذکر فرمائيلو ځخه خپل خيال دا ظاهر

فرمائيلي ده چه : "د دې دواړو مقصد هم حتمي تعيين نشته، بلکه منشاء صرف دا ده چه د خطبې او د مانځه د وخت چونکه د الله پاک بندګانو د توجه الی الله او د عبادت او دعا خاص وخت دې په دې وجه د دې امید کیدلې شی چه هغه ساعت هم دې وخت کښې دې. او هم دغه شان چونکه د مازیګر نه پس تر نمر پریوتلو پورې وخت د نزول قضاء وخت دې او او د پوره ورځې ګویا نچوړ دې په دې وجه دا توقع هم کیدې شی چه هغه ساعت غالبا په دې مبارکه وقفه کښې وی."

بعض حضراتو لیکلې دی چه : د جمعې په ورځ په دې خاص ساعت کښې هم دغه شان او هم په دې مصلحت څخه مبهم کیخودلې شوې دې څنګه چه او په کوم مصلحت کښې شب قدر مبهم کیخودلې شوې ده، بیا چه څنګه د رمضان په آخری عشره اخیره کښې په طاق شپو او خاص په اویشتمه شپه باندې د شب قدر په باره کښې څه اشارات په بعض احادیثو کښې کړې شوې دی هم دغه شان د جمعې په ورځ د دې ساعت اجابت لپاره مونځ د مونځ او خطبې د وخت او د مازیګر نه تر مابنام پورې د وقفې لپاره هم په احادیثو کښې اشارات کړې شوې دی چه د الله پاک بندګان کم از کم په دې دوه وختونو کښې د توجه الی الله او د دعا خصوصی اهتمام اوکړی.

مونږ هم خپل بعض اکابر لیدلې دی چه هغوی د جمعې په ورځ په دې دواړو وختونو کښې د خلقو څخه ملاویدل او خبرې اترې کول نه خوښوی، بلکه په مانځه یا ذکر او دعا او توجه الی الله کښې مصروف اوسیدل غواړی.

۲: د باب د دویم روایت ۸۷۲ ﴿عن ابی هریرة﴾ (مسلم ج ۱ ص ۲۸۲) مختصرا تشریح دا ده چه د حدیث د اولې جملې په ذریعه په طور د مبالغې د جمعې په ورځ فضیلت ښکاره کول مقصود دی چه د هغې مطلب دا دې چه په دې ورځو کښې د ټولو نه زیات افضل ورځ د جمعې ورځ ده څکه داسې یوه ورځ هم نشته چه په هغې کښې نمر نه وی راختلې. د سیدنا آدم علیه السلام د پیدائش د ورځ د وجې نه د جمعې د ورځې فضیلت خو ښکاره دې خو د جنت نه د وتلو د ورځ کیدو په وجه د جمعې فضیلت په دې وجه دې چه په اصل کښې د آدم علیه السلام د جنت نه وتلو څخه په زمکه کښې راتلل، د انبیاء او اولیاء د پیدائش سبب د الله پاک په دربار کښې د هغوی د حاضرئ سبب شو هم دغه شان د قیامت قائم کیدل په جنت کښې د داخلیدو سبب دې چه په هغې کښې پرهیزګارو او نیکوکارو نه لپاره به د الله پاک کړې شوې وعدې ظاهریږی.

"د قیامت قائم کیدو نه مرا دیا خو اول صور دې چه د هغې په آواز څخه به زمکې او آسمانونه فناء شی او پوره دنیا به د مرګ غیږې ته لاړه شی یا دویمه شپیلئ هم هم مراد کیدلې شی کوم چه ټول مخلوق له دوباره د ژوندی کولو د احکم الحاکمین په دربار کښې د حساب لپاره د پیش کولو لپاره به کول شی

علامه طیبی رحمه الله فرمائي چه بعض حضرات وائي چه په ټولو ورځو کښې د عرفې ورځ افضل ده او د بعضو وینا ده چه د جمعې ورځ افضل ده. لکه چه د دې حدیث نه فهمیږي خو دا اختلاف او تضاد په صورت کښې ده چه کله مطلقا داسې اوئیلې شي چه په ورځو کښې د ټولو نه افضل ورځ عرفه ده یا هم داسې اووئیلې شي چه د جمعې په ورځ د ټولو نه زیات افضل ورځ ده او که د دواړو اقوالو مفهوم داسې واخستلې شي چه کوم حضرات د عرفې د افضلیت قائل دی د هغوی مراد دا دې چه په کال کښې د ټولو نه افضل ورځ عرفة ده. او کوم حضرات چه وائي چه جمعه د ټولو نه زیاته افضل ورځ ده د هغوی مراد دا دې چه د هفتې په ورځو کښې د ټولو نه زیاته افضل ورځ جمعه ده.

هم دغه شان نه صرف دا چه دواړه اقوالو کښې به نه صرف د تطبیق او تاویل ضرورت نه پاتې کیږي بلکه دواړه اقوال به په خپل خپل ځائې صحیح او قابل قبول وی خو که حسن اتفاق څخه عرفه (سن ذی الحجة په نهم تاریخ) جمعه کښې راشي نو نور علی نور چه دا ورځ مطلقا په ټولو ورځو کښې د ټولو نه زیاته افضل ده. او په دې ورځ کښې کیدونکې عمل به د ټولو اعمالو نه افضل وی. هم دا وجه په خوش قسمتئ څخه اگر که حج د جمعې په ورځ باندې وی نو دې ته حج اکبر وئیلې شي. ځکه چه کوم حج د جمعې په ورځ وی هغه د فضیلت او مرتبې په اعتبار څخه د جمعې نه علاوه په نورو ورځو کښې ادا کیدونکې په اویا حجونو باندې درونډ وی.

**د اخراج آدم علیه السلام د فضیلت جمعه څخه تعلق:** د جمعې فضیلت او عظمت اندازه د دې نه لګولې کیدې شي چه د ابن المسیب قول دې چه د الله پاک په نزد جمعه د نفل حج نه زیاته محبوب ده. **فیه اخرج منها**... په دې باندې په ظاهره کښې دا اشکال راغلې دې چه د آدم علیه السلام د جنت نه د اخراج د فضیلت د جمعې څخه هیڅ تعلق نشته وجه ښکاره ده چه د فضیلت متفرع کیدل په خیر باندې وی او آدم علیه السلام د جنت نه په طور د عتاب راویستلې شوې وو علماء کرامو د دې ډیر ځوابونه ورکړې دی.

**الف :** د رسول الله صلی الله علیه وسلم د **﴿ وفیه اخرج منها ﴾** نه په دې ورځ د لوئې لوئې واقعاتو د ظهور طرف ته اشاره کول مقصود دی په دې واقعاتو کښې یو واقعه اخراج د آدم علیه السلام هم دې کومه چه په خپل ځائې لویه واقعه ده.

ب : سیدنا آدم علیه السلام چه د جنت نه راویستلې شو نو په دنیا کښې د هغوی د وجې نه خیر خور شو د هغوی د شا نه صالحین او په لکهونو انبیاء علیهم السلام پیدا شو چه د هغوی پیدائش او بیا ذمه دارئ او کار ټول په ټول خیر دې. (معارف السنن ج ٤ ص ٣٠٥)

۳: د باب دریم روایت ۸۷۷ عن ابی لبابة (مسند احمد ج ۳ ص ٤٣٠، ابن ماجة ۷۷) د بعض

الفاظو توضیح عرض کولې شی چه د حدیث الفاظ ﴿ وهو اعظم عندالله من یوم الاضحیٰ ویوم الفطر ﴾ نه معلومیږی چه یا خو د عرفې ورځ د جمعې نه افضل ده یا د فضیلت د اعتبار څخه دا دواړه مساوی دی خو نقل کړې شوې روایت کښې صراحت څخه فرمائیلې شوې دې چه په ټولو ورځو کښې د ټولو نه زیات افضل ورځ د عرفې ورځ ده.

﴿ وفیه خمس ﴾ (او د دې ورځې پنځه خبرې دی) د جمعې د فضائلو په بیان کښې تحدید او حصر لپاره نه دې فرمائیلې شوې چه د هغې مطلب دا شو چه د جمعې په ورځ صرف هم دا پنځه خبرې د فضیلت دې بلکه د دې ورځ نورې هم داسې خبرې دی چه د فضیلت او عظمت په اعتبار څخه جمعې ته په ټولو ورځو کښې امتیاز ورکوی مثلا منقول دی چه په جنت کښې به د الله پاک د زیارت شرف هم د جمعې په ورځ حاصلیږی یا هم دغه شان نورې خبرې منقول دی.

۴: روایت ۸۷۸ عن عبد بن سلام (ابن ماجة باب ما جاء فی الساعة التی ترجی فی الجمعة) روایت (۸۷۹) عن ابی سعید وابی هریرة (مسند احمد ج ۲ ص ۲۷۲) روایت ۸۸۰ عن جابر (ابوداؤد ج ۱ ص ۱۵۱) روایت ۸۸۱ عن انس بن مالک رضی الله عنه (مجمع الزوائد ج ۲ ص ۱٦٤) الغرض د ټولو مدلول واضح دې خو د انس بن مالک رضی الله عنه روایت مختصر نقل شوې دې تفصیلی واقعه دا ده چه رسول الله صلی الله علیه وسلم تشریف فرما وو، جبرائیل علیه السلام حاضر شو په دې شان څخه چه یو آئینة د هغوی په لاس کښې وه هم ددغه آئینې په مینځ کښې یو توره نقطه وه کوم چه بالکل ممتاز وه رسول الله صلی الله علیه وسلم ترې نه پوښتنه اوکړه: اې جبرائیل ! دا توره نقطه څه څیز دې؟ او دا آئینه څه څیز دې؟ وې فرمائیل دا توره نقطه مزید دې رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل مزید څه څیزدې؟ عرض ئې اوکړو یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ! دا د جنت پورته حصه کښې یو میدان دې چه بالکل سپین دې په دې کښې ګیا اونې، الغرض هر څیز سپین او شفاف دې، جبرائیل علیه السلام عرض اوکړو دا دومره لوئې میدان دې کوم چه بالکل سپین دې په دې کښې ګیا، اونې الغرض هر څیز سپین او شفاف دې جبرائیل علیه السلام عرض اوکړو چه دا دومره لوئې میدان دې چه په زرګونو کاله زما په ګرځیدلو شوې دی خو تر اوسه پورې د دې حقیقت ته نه یم رسیدلې، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم پوښتنه اوفرمائیله د دې میدان غرض او غایة به څه وی، عرض ئې اوکړو : د الله پاک دربار به هلته منعقد شی موقع به وی د انبیاء علیهم السلام د نور منبر دلته د ګول دائرې په شکل کښې خورولې شی د هر نبی د منبر نه شاته به د هغه د امت کرسیانې وی او هغه پوره میدان به د کرسو نه ډک شی هغه کرسئ به په داسې شان وی چه د یو په لیدلو باندې به دویم حائل نه وی په مینځ کښې به د الله پاک کرسئ وی خوش نصیبو ته به د الله پاک دیدار نصیب کیږی.

بهر حال دا په جنت کښې میدان مزید دې په هفته کښې به یو کرت اجتماع وی چه کله

دربار ختم شی نو الله پاک به اهل جنت ته اوفرمائی : لاړ شئ خپلو خپلو مقاماتو ته، په دنیا کښې د دې دربار مثال جمعه کیخودلې شوه.

۵: روایت ۸۸۲ (مجمع الزوائد ج ۲ ص ۱۶٤) روایت ۸۸۳ عن سلمة بن عبدالرحمن (فتح الباری ج ۲ص ۷۲) معنی تحت اللفظ ترجمه کښې واضحه دې.

**د جمعې په ورځ ساعت اجابت:** ﴿ **انها اخر ساعة من يوم الجمعة** ﴾ د دې ساعت اجابت په احادیث الباب کښې بار بار ذکر راغلې ده، امام ترمذی رحمه الله فرمائی **باب فی الساعة ترجی فی یوم الجمعة** په عنوان باندې د دې لپاره مستقل ترجمة الباب قائم کړې دې اولاً خو په دې کښې د علماء کرامو اختلاف دې الف : دا ساعت اجابت د رسول الله ﷺ د زمانې ځخه خاص وو. ب : جمهور علماء فرمائی چه دا ساعت به تر قیامته پورې باقی دې خو د جمهورو د دې ساعت په تعین کښې اختلاف دې په دې سلسله کښې پنځه ځلویښت (۴۵) نه تر پنځوس پورې اقوال نقل کړې شوې دی. (حاشیة لکوکب الدری ج ۱ ص ۱۹۶) امام ابن القیم رحمه الله په دې کښې یولس مشهور اقوال نقل کړې شوې دی یا په دې کښې دوه اقوال زیات مشهور دی کوم چه علامه بنوری نقل کړې دی.

۱: ﴿ **انها بعد الصلاة العصر الى غروب الشمس** ﴾ دا قول امام ابوحنیفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله ختیار کړې دې. **وهذا هو القول الخامس والثلاثون مما ذكره الحافظان فی شرحی الصحیح "العمدة"** ج ۳ ص ۳۲، والفتح ج ۲ ص ۳٤۸.

۲: **انها بعد ان يجلس الامام الى تقضى الصلاة** ... دا قول شوافع حضراتو اختیار کړې دې **وهو قول الخامس والعشرون فی ترتيب الحافظين فی الشرحين** (معارف السنن ج ٤ ص ۳۰۸)

**دلائل او تطبیق:** د قول اول دلیل په ترمذی کښې د انس رضی الله عنه حدیث الباب دې، نیز سنن نسائی ج ۱ ص ۲۱۱، ۲۱ ... کښې د ابوهریره رضی الله عنه د روایت نه هم د دې تائید کیږی چه په هغې کښې دعبدالله بن سلام رضی الله عنه دا قول روایت کړې شوې دې :

انی لا علم تلك الساعة، فقلت (ای قال ابوهريرة) يا اخی حدثنی بها، قال هی أخر ساعة من يوم الجمعة قبل ان تغيب الشمس، فقلت : أليس قد سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول : لا يصادفها مومن وهو فی الصلاة وليس تلك الساعة صلوة قال : أليس قد سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول، من صلى وجلس ينتظر الصلوة فهو فی صلوة حتى تأتيه الصلاة التی تليها، قلت بلیٰ ! قال : فهو كذلك . . . الخ۔

او د قول ثانی دلیل په صحیح مسلم کښې د ابوموسی اشعری رضی الله عنه روایت دې :

''عن ابی بردة ابن ابی موسیٰ الاشعری قال قال لی عبد اللہ بن عمر اسمعت اباك یحدث عن رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم فی شأن ساعة الجمعة قال قلت: نعم! سمعته یقول سمعت رسول اللہ علیہ وسلم یقول: هی ما بین ان یجلس الامام الیٰ ان تقضی الصلوٰة''۔(صحیح مسلم ج ١ ص ٢٨١) اوپه ترمذی ج ١ ص ٩١) کښې د عمرو بن عوف ﷺ د حدیث الباب څخه هم د قول ثانی تائید کیږی.

''عن النبی صلی اللہ علیہ وسلم قال ان فی الجمعة ساعة لا یسأل اللہ العبدُ فیها شیأً الا آتاه اللہ ایاه قالو یارسول اللہ! اية ساعة هی؟ قال حین تقام الصلوٰة الیٰ انصراف منها''۔

بهرحال په دواړه قسم احادیثو کښې بعض حضراتو دتطبیق ورکولو کوشش کړې دې خو اکثر حضرات په دې کښې د یو د ترجیح قائل دی. ﴿ فرجحت الشافعية حديث مسلم على حديث السنن ورجح الحنفية والحنابلة حديث السنن ﴾ (د نورو دلائلو لپاره معارف السنن ج ٤ ص ٣٠٩ اوګورئ).

بهرحال د جمعې په ورځ باندې د مازیګر نه ماښام پورې خو د دعا او ذکر اهتمام پکار دی، ورځخه ورځخه د جمعې د مانځه د خطبې نه واخله تر فارغ کیدو پورې هم که د دعاء امکان وی نو د دې اهتمام پکار دې.

## بَابُ التَّغْلِيظِ فِيْ تَرْكِهَا لِمَنْ عَلَيْهِ الْجُمُعَةُ

(٨٨٤) عَنْ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِقَوْمٍ يَّتَخَلَّفُوْنَ عَنِ الْجُمُعَةِ لَقَدْ هَمَمْتُ اَنْ اٰمُرَ رَجُلًا يُّصَلِّيْ بِالنَّاسِ ثُمَّ اُحَرِّقَ عَلٰى رِجَالٍ يَّتَخَلَّفُوْنَ عَنِ الْجُمُعَةِ بُيُوْتَهُمْ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

**باب په کوم کس چه جمعه واجب ده دهغه په جمعه پریخودو باندې سختی:** (٨٨٤) دحضرت عبد اللہ رضی اللہ عنه نه روایت دې چه نبی کریم ﷺ دداسې خلقو باره کښې اوفرمائیل چه هغوی د جمعې نه روستو پاتې کیږی، چه ما پخه اراده کړې ده چه یوکس ته اووائم چه هغه خلقو ته مونځ اوکړی بیا زه دهغوی کورونه اوسوزوم څوك چه د جمعې نه روسته پاتې کیږی،، (لیکن د ښځو اوماشومانو په وجه نبی علیه السلام شفقتاً داسې اونه کړل) ـ دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

(٨٨٥) وَعَنِ الْحَكَمِ بْنِ مِيْنَاءَ اَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَاَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حَدَّثَاهُ اَنَّهُمَا سَمِعَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ عَلٰى اَعْوَادِ مِنْبَرِهٖ لَيَنْتَهِيَنَّ اَقْوَامٌ عَنْ وَّدْعِهِمُ الْجُمُعَاتِ اَوْ لَيَخْتِمَنَّ اللهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ ثُمَّ لَيَكُوْنُنَّ مِنَ الْغَافِلِيْنَ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

**ترجمه:** دحکم بن مینا نه روایت دې چه حضرت عبد اللہ بن عمر اوحضرت ابوهریره رضی اللہ عنهما حدیث بیان کړو چه هغوی د رسول اللہ ﷺ نه دخپل منبر د لرګی (په ګدئ) باندې دا فرمان واوریده ''خلق دې دجمعې پریخودو نه منع شی ګنی اللہ تعالی به دهغوی په زړونو باندې مُهر

اولګوی، بیا به هغوی د غافلینو نه شی، ، _ دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

(۸۸۶) وَعَنْ أَبِي الْجَعْدِ الضَّمْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَكَانَتْ لَهُ صُحْبَةٌ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ تَرَكَ ثَلَاثَ جُمَعٍ تَهَاوُنًا بِهَا طَبَعَ اللّٰهُ عَلَى قَلْبِهِ. رَوَاهُ الْخَمْسَةُ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

**ترجمه**: د ابوجعد الضمری رضی الله عنه نه روایت دې، اودا صحابی وو، رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه چا درې جمعې معمولی ګڼړلو څخه پریخودې، الله تعالی به دهغه په زړه باندې مهر اولګوی، ، _ دا حدیث اصحاب خمسه رانقل کړې دې اوددې اسناد صحیح دې.

(۸۸۷) وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَرَكَ الْجُمُعَةَ ثَلَاثًا مِنْ غَيْرِ ضَرُوْرَةٍ طَبَعَ اللّٰهُ عَلَى قَلْبِهِ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ وَآخَرُوْنَ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

**ترجمه**: حضرت جابربن عبد الله رضی الله عنه اووئیل چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کوم کس بغیر د مجبورئ نه درې جمعې پریخودې، الله تعالی به دهغه په زړه باندې مهر اولګوی.
دا حدیث ابن ماجه اور نورو محدثینو نقل کړې دې او ددې اسناد صحیح دې.

(۸۸۸) وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ تَرَكَ الْجُمُعَةَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ مِنْ غَيْرِ ضَرُوْرَةٍ طُبِعَ عَلَى قَلْبِهِ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالْحَاكِمُ وَإِسْنَادُهُ حَسَنٌ.

**ترجمه**: دحضرت ابوقتاده رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کوم کس بغیر د مجبورئ نه درې ځل جمعه پریخوده، الله تعالی به دهغه په زړه باندې مهر اولګوی.
دا حدیث احمد او حاکم نقل کړې دې او ددې اسناد حسن دې.

**تشریح**: (۸۸۴ تا ۸۸۸) د باب د انعقاد غرض د جمعې فرضیت او ددې دلائل بیانول دی.

**د جمعې شرعی حیثیت**: د جمعې مونځ صرف د احنافو او شوافع په نزد نه بلکه د ټولو مسلمانانو په نزد فرض دې چه د هغې فرضیت په کتاب الله، سنت رسول الله ﷺ او اجماع امت څخه ثابت دې تردې چه د دې منکر کافر دې بلکه زمونږ ائمة خو تصریح کړې ده چه د جمعې فرض د ماسپخین نه هم زیات مؤکد دی، ځکه چه مونږ ته د جمعې د فرضو لپاره د ماسپخین د فرض پریخودلو حکم دې. د الله پاک ارشاد دې: ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِن يَوْمِ الْجُمُعَةِ الخ ﴾ اې ایمان والو! چه کله د جمعې په ورځ د مانځه لپاره اذان اوکړې شی نو د الله پاک د ذکر لپاره روان شئ او اخستل خرخول پریږدئ، که د ذکر نه مراد مونځ وی نو ظاهره ده او که خطبه مراد وی نو د هغې اهتمام مقصود دې چه داسې وخت لاړ شئ چه خطبه هم واورئ. او کله چه خطبه اوریدل ضروری شو نو مونځ به په طریق اولی ضروری وی، په حدیث کښې دی چه د جمعه په هر مسلمان باندې

حق او واجب ده سوا د څلورو کسانو نه، یعنی غلام، زنانه، نابالغ او بیمار، امام نووی رحمه الله فرمائی چه د دې اسناد د صحیحینو مطابق دې، د تمیم داری په حدیث کښې هم حق واجب دې، او د مسافر هم استثناء ده، او په ترک د جمعې باندې سخت مذمت وارد دې تردې چه بغیر د عذر نه د دې ترک کونکی ته منافق وئیلې شوې دې.

**د جمعې مونځ فرض عین که فرض کفایه:** بیا د جمعې مونځ فرض عین دې که فرض کفایه؟ علامه خطابی رحمه الله په دې باره کښې اختلاف نقل کولو څخه فرمائیلې دی چه اکثرو فقهاء کرامو په نزد جمعه د فروض کفایه نه ده او د امام شافعی رحمه الله نه ئې هم څه دغه شان ذکر کړې دی چه د هغې نه ئې فرض کفایه کیدل معلومیږی اوعلامه عشی رحمه الله دې ته د امام شافعی رحمه الله قول قدیم وئیلې دې.

خو علامه دارمی فرمائی چه دا حکایت بالکل غلط دې، شیخ ابو اسحق مروزی رحمه الله فرمائی چه دا د امام شافعی رحمه الله نه حکایت کول جائز هم نه دی، حافظ عراقی فرمائی چه د علامه خطابی رحمه الله دا دعوی چه د اکثرو فقهاء کرامو په نزد جمعه فرض کفایه ده محل نظر خبره ده څکه چه د ائمة اربعه په دې باندې اتفاق دې چه جمعه فرض عین ده.

عن طارق بن شهاب قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الجمعة حق واجب علی کل مسلم فی جماعة (ابوداؤد) وفی روایة ابی هریرة مرفوعًا: ''ثم هذا یومهم الذی فرض علیهم فاختلفوا فیه فهدانا الله'' (بخاری)

قال الحافظ فان التقدیر فرض علیهم وعلینا فضلوا وهدینا وقد قع فی روایة سفیان عن ابی الزناد عند مسلم بلفظ کتب علینا۔

دا بیله خبره ده چه شرائط د فرضیت او ادا د هر یو په نزد جدا جدا دی، قال فی کتاب الرحمة فی اختلاف الامة، اتفق العلماء علی ان الجمعة فرض علی الاعیان وغلطوا من قال هی فرض کفایة۔

**جمعه کله شروع شوه:** د فرضیت جمعې ابتداء کله اوشوه؟ د امت په مشرانو کښې سوا د ابن حجر رحمه الله نه ټول وائی چه جمعه په مکه معظمه کښې فرض شوې وه خو هلته چونکه رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرام رضی الله عنهم په آزادئ څخه د جماعت مونځ نه شو قائمولې. او د جمعې لپاره شرط دا دې چه په فراخه خائې کښې بغیر د څه ممانعت او بندیز نه ئې ټول خلق جمع کیدو څخه اوکړی، هم په دې وجه په قید خانه یا یو خاص محل کښې چیرته چه خلق ورتلو څخه په آزادئ باندې شرکت نه شی کولې جمعه صحیح نه ده، په مکه معظمه کښې ظاهره ده داسې آزادی او خود مختاری نه وه حاصله شوې په دې وجه هلته جمعه نه وه قائم شوې، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم هجرت فرمائیلو څخه مدینې طیبې ته نزدې په قبا کښې پاتې شو او د جمعې په ورځ مدینې طیبې ته رسیدلو باندې ئې د ټولو نه اول جمعه په مسجد د بنو سالم کښې ادا اوفرمائیله.

حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباری کښې لیکلې دی چه جمعه چیرته فرض شوه. په دې کښې اختلاف دې او اکثرو دا په مدینه کښې فرض منلې ده، او آیت کریمه د سورة الجمعة ﴿اذا نودی للصلاة من یوم الجمعة فاسعوا الی ذکر الله﴾ نه هم معلومیږی چه هغه په مدینه طیبة کښې فرض شو ځکه چه دا سورة مدنی دې، او د شیخ ابوحامد رحمه الله دا خبره قابل تعجب ده چه هغوی د دې فرضیت په مکه معظمه کښې بیان کړې دې.

حافظ چه قول د ابو حامد ته غریب وئیلې دې هغه په دې وجه غریب نه دې چه داسې مثالونه په شریعت کښې موجود دی چه د آیات قرانیه نزول روستو شوې دې او عمل د مخکښې نه شروع شوې وو لکه د اودس د فرضیت والا آیت هم روستو مدنی سورة مائده کښې نازل شو او عمل پرې د مخکښې نه په مکه معظمه کښې کیدلو.

اکابر مفسرین او علماء امت هم دا فیصله کړې ده چه د جمعې په باره کښې آیت مذکوره په مدینه کښې نازل شوې دې او جمعه په مکه معظمه کښې فرض شوې وه، هم په دې وجه باندې رسول الله ﷺ د خپل هجرت نه مخکښې اهل مدینه ته حکم لیږلې وو چه هغوی دې جمعة قائم کړی، پس طبرانی او دارقطنی کښې دی چه رسول الله ﷺ مصعب بن عمیر رضی الله عنه ته خط اولیږلو چه د جمعې په ورځ د زوال نه پس دوه رکعته مونځ کولو ښځه د حق تقرب حاصل کړه، سیدنا مصعب رضی الله عنه په مدینه طیبه کښې د دولسنو کسانو ښځه د جمعې مونځ کړې وو، او مسند احمد، ابوداؤد، ابن ماجة او بیهقی وغیره د روایاتو نه معلومیږی چه د دې نه هم مخکښې سیدنا اسعد بن زراره رضی الله عنه د بنو بیاضه په علاقه کښې د څلویښتو کسانو ښځه د جمعې مونځ ادا کړې وو. (انوار)

**داحادیث الباب تشریح:** د دې باب ټول روایات هم د فرضیت جمعه دلائل دی.

۱: د باب اول روایت ۸۸۴ عن عبدالله (مسلم ج ۱ ص ۲۳۲) کښې دهغه خلقو لپاره سخت وعید دې کوم چه بغیر د څه عذر او مجبورئ نه د جمعې مونځ نه کوی داسې خلقو له پکار دی چه د دې حدیث نه عبرت حاصل کړی او د جمعې مونځ کله هم نه پریږدی.

۲: روایت ۸۸۵ وعن الحکم بن میناء (مسلم ج ۱ ص ۲۸۴) مراد دا دې چه په دې دواړو څیزونو کښې یو څیز مقرر دې یا خو د جمعې مونځ نه پریخودل یا په زړونو باندې مهر لګیدل که خلق د جمعې مونځ نه پریږدی نو د هغوی په زړونو باندې به مهر نه لګی او که پریږدی نو د هغوی په زړونو باندې به مهر اولګولې شی، "په زړونو باندې مهر لګیدل" د دې نه کنایة ده چه الله پاک به د داسې بد بختو خلقو زړونه په انتهائی غفلت کښې اخته کړی او هغوی به د نصیحت او خیر د قبلولو نه منع کړی چه د هغې نتیجه ظاهر ده چه د هغوی په حق کښې به هم دا راوځی چه داسې

خلق به د الله پاک په سخت عذاب کښې اخته کولې شي.

۳: روایت ۸۸۶ وعن ابی الجعد الضمری: ابوداوٗد (ج: ۱،ص: ۲۸۴) نسائی (ج: ۱،ص: ۲۰۲) مسند احمد(ج: ۱،ص: ۸۰) روایت ۸۸۷ وعن جابر: ابن ماجہ(ج: ۱،ص: ۸۰) اور روایت ۸۸۸ وعن ابی قتادۃ: مسند احمد(ج: ۵،ص: ۲۰) مستدرك حاكم(ج: ۱،ص: ۲۸۰) مضمون واضح او استدلال ښکاره دې.

## بَابُ عَدَمِ وُجُوْبِ الْجُمُعَةِ عَلَى الْعَبْدِ وَالنِّسَآءِ وَالصِّبْيَانِ وَالْمَرِيْضِ

(۸۸۹) عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: اَلْجُمُعَةُ حَقٌّ وَّاجِبٌ عَلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ فِيْ جَمَاعَةٍ اِلَّا اَرْبَعَةً عَبْدٌ مَّمْلُوْكٌ اَوِامْرَاَةٌ اَوْصَبِيٌّ اَوْمَرِيْضٌ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَاِسْنَادُهٗ مُرْسَلٌ جَيِّدٌ.

**باب: په غلام، زنانو، ماشومانو او بیمارانو باندې د جمعې نه واجب کېدل:** ۸۸۹: د طارق بن شهاب رحمه الله نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: جمعه حق او واجب ده په هر مسلمان باندې په جماعت کښې خو په څلورو باندې نه ده، هغه بنده چه غلام وی، زنانه، ماشوم یا بیمار. دا حدیث ابوداوٗد نقل کړې دې او د دې اسناد مرسل جید دې.

**تشریح:** ۸۸۹: د دې حدیث متعلق بحث په تیرو صفحاتو کښې عرض کړې شوې دې.

﴿ الجمعة حق ﴾ "جمعه حق ده" یعنی د جمعې فرضیت د کتاب الله او سنت رسول ﷺ په ذریعه ثابت دې هم دغه شان واجب ده مطلب دا دې چه په هر مسلمان باندې د ذکر شوې کسانو نه علاوه جمعه باجماعت فرض ده.

**په ذکر شوې خلقو باندې جمعه ولې واجب نه ده؟** غلام چونکه د بل په ملکیت او تصرف کښې وی، په دې وجه هغه باندې جمعه نه ده فرض کړې شوې، په زنانه باندې جمعه په دې وجه نه ده فرض کړې شوې چه نه صرف دا چه د هغې په ذمه د خاوند حقونه دومره زیات متعلق دی چه د جمعې مونځ کښې د شمولیت نه به هغه مانع وی، بلکه د جمعې په مانځه کښې چونکه د سړو هجوم زیات وی په دې وجه د جمعې په مانځه کښې د زنانو شمولیت د ډیر لوئې فتنې او فساد سبب جوړیدې شی، ماشوم چونکه غیر مکلف دې په دې وجه هغه باندې جمعه فرض نه ده، هم دغه شان مریض باندې د هغه د ضعف او کمزورې جمعه نه ده فرض کړې شوې. خو د مریض نه مراد هغه مریض دې کوم چه په یو داسې مرض کښې اخته وی چه د هغې په وجه باندې ورته په جمعه کښې حاضریدل گران وی.

د دې نه علاوه د نورو احادیثو نه چه په کومو خلقو باندې د جمعې نه فرض کیدل ثابتیږی په هغوی کښې لیونی هم دی کوم چه د ماشوم په حکم کښې دې هم دغه شان مسافر، ړوند او گوډ

باندې هم جمعه فرض نه ده، ابن الهمام فرمائی چه داسې بوډا چه ډیر کمزورې وی د بیمار په حکم کښې دې په دې وجه په هغه باندې او په هغه معذور باندې هم چه په خپلو خپو نه شی تلې جمعه فرض نه ده او په داسې سړی باندې هم جمعه فرض نه ده چه د بیمار خیال ساتی او جمعې ته په تلو باندې د بیمار تکلیف او ویره زیاتیدل، یا د هغه بیمار د ضائع کیدو ویره وی.

**د جمعې د واجب کیدو شرطونه**: د احنافو په نزد د جمعې د فرضیت لپاره شپږ شرطونه دی. ۱: اقامت، په مسافر باندې واجب نه ده، ځکه چه بیهقی رحمه الله د تمیم داری رضی الله عنه نه مرفوعا روایت کړې دې «الجمعة واجبة الا على صبي او مملوک او مسافر (زاد الطبراني فيه المراة والمريض) ورواه ايضا ابن ابي حاتم في العلل. هم دغه شان حافظ، دارقطنی او بیهقی د جابر رضی الله عنه نه مرفوعا روایت کړې دې:

''الجمعة واجبة الا على صبي او مملوك'' اومسافر (زاد الطبراني فيه المراة والمريض، ورواه ايضا ابن ابي حاتم في العلل)
دغه شان حافظ دارقطنی او بیهقی د حضرت جابر نه مرفوعاً روایت کړې دې:

''من كان يومن بالله واليوم الاخر فعليه الجمعة يوم الجمعة الا على مريض اور مسافر او امرأة اوصبي اومملوك''.
(قال النووي سنده ضعيف، في الجوهر فيه ابن لهيعه وهو متكلم فيه ومعاذ بن محمد الانصاري لا يعرف)

امام بخاری رحمه الله په باب المشى الى الجمعة کښې د امام زهری رحمه الله نه د مسافر لپاره هم جمعه لیکلې ده، خو علامه عینی رحمه الله د هغوی دویم قول د عدم وجوب نقل کړې دې، هم په دې باندې ابن المنذر رحمه الله د علماء کرامو اجماع نقل کړې ده، ابن بطال وائی چه د اکثرو علماء کرامو په نزد په مسافر باندې جمعه نشته پس د امام زهری رحمه الله د اول قول نه مراد جمعې ته حاضریدل په طور د استحباب دی او د دویم مقصد نفی د وجوب ده.

۲: ذکورة: یعنی سړې کیدل. ۳: د بدن صحت، ۴: حریت یعنی آزاد کیدل. ۵: بلوغ پس زنانه، بیمار، عبد مملوک او ماشوم باندې جمعه نشته. ۶: عقل پس په مجنون باندې هم جمعه نشته چه هغه د صبی څخه ملحق دې چه دا دواړه د اهل د وجوب نه نهٔ دی.

## بَابُ اَنَّ الْجُمُعَةَ غَيْرُ وَاجِبَةٍ عَلَى الْمُسَافِرِ

(۸۹۰) عَنِ الْاَسْوَدِ بْنِ قَيْسٍ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ: اَبْصَرَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ رَجُلًا عَلَيْهِ هَيْئَةُ السَّفَرِ فَسَمِعَهُ يَقُوْلُ لَوْلَا اَنَّ الْيَوْمَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ لَخَرَجْتُ فَقَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: اُخْرُجْ فَاِنَّ الْجُمُعَةَ لَا تَحْبِسُ عَنِ السَّفَرِ۔ رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ فِيْ مُسْنَدِهٖ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

**باب: په مسافر باندې جمعه واجب نه ده**: ۸۹۰: د اسود بن قیس نه روایت دې چه زما والد صاحب اوفرمائیل، سیدنا عمرو بن الخطاب رضی الله عنه یو سړې اولیدو، چه په هغه باندې د سفر حالت وو، نو د

هغه نه ئې دا واوریدل چه که نن د جمعې ورځ نه وه نو زه به د سفر لپاره وتلې وې، عمر ﷺ اوفرمائيل : لاړه شه بیشکه جمعه د سفر کولو نه منع نه کوی. دا حدیث امام شافعی ﷫ په خپل مسند کښې نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

۸۹۰: عن الاسود بن قیس (مسند شافعی ج ۱ ص ۱۵۰) مدلول هم واضح دې چه په مسافر باندې د جمعې مونځ نشته.

## بَابُ عَدَمِ وُجُوبِ الْجُمُعَةِ عَلٰى مَنْ كَانَ خَارِجَ الْمِصْرِ

(۸۹۱) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ كَانَ النَّاسُ يَنْتَابُوْنَ الْجُمُعَةَ مِنْ مَّنَازِلِهِمْ وَالْعَوَالِي الْحَدِيْثَ۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

**باب: کوم سړې چه د ښهر نه بهر وی په هغه باندې د جمعې نه واجب کیدل:** ۸۹۱: د رسول الله ﷺ زوجه مطهره ام المومنین سیده عائشه صدیقه ﷺ فرمائی : خلق به د خپلو کورونو او نزدې علاقو نه د جمعې لپاره راتلل. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۸۹۲) وَعَنْ حُمَيْدٍ قَالَ كَانَ أَنَسٌ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فِيْ قَصْرِهٖ أَحْيَانًا يُجَمِّعُ وَأَحْيَانًا لَا يُجَمِّعُ۔ رَوَاهُ مُسَدَّدٌ فِيْ مُسْنَدِهِ الْكَبِيْرِ وَإِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ وَّذَكَرَهُ الْبُخَارِيُّ تَعْلِيْقًا وَّزَادَ وَهُوَ بِالزَّاوِيَةِ عَلٰى فَرْسَخَيْنِ۔

۸۹۲: حمید فرمائی : سیدنا انس ﷺ په خپل کور کښې وو، کله به ئې جمعه کوله او کله به ئې نه کوله، دا حدیث مسدد په خپل مسند کبیر کښې نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې، دا روایت امام بخاری ﷫ تعلیقا ذکر کړې دې او دا الفاظ ئې زیات نقل کړی دی، او هغه دوه فرسخ (شپاړس کلومیټر تقریبا) په فاصله باندې زاویه (د ځائې نوم) کښې وو.

(۸۹۳) وَعَنْ أَبِيْ عُبَيْدٍ مَّوْلَى ابْنِ أَزْهَرَ قَالَ شَهِدْتُّ الْعِيْدَ مَعَ عُثْمَانَ فَجَآءَ فَصَلّٰى ثُمَّ انْصَرَفَ فَخَطَبَ وَقَالَ إِنَّهٗ قَدِ اجْتَمَعَ لَكُمْ فِيْ يَوْمِكُمْ هٰذَا عِيْدَانِ فَمَنْ أَحَبَّ مِنْ أَهْلِ الْعَالِيَةِ أَنْ يَّنْتَظِرَ الْجُمُعَةَ فَلْيَنْتَظِرْهَا وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يَّرْجِعَ فَقَدْ أَذِنْتُ لَهٗ۔ رَوَاهُ مَالِكٌ وَّالْبُخَارِيُّ فِيْ كِتَابِ الْأَضَاحِيْ۔

۸۹۳: ابو عبید مولی ابن ازهر فرمائی : زه په اختر کښې د عثمان ﷺ څخه (د اختر د مانځه لپاره) حاضر شوم هغوی راغلل او مونځ ئې ورکړو، بیا ئې سلام اړولو څخه خطبه ورکړه او وې فرمائیل : بیشکه ستاسو لپاره ستاسو په دې ورځ کښې دوه اخترونه جمع شوې دی، په نزدې آبادو کښې چه کوم خلق د جمعې انتظار کول غواړی هغوی له انتظار کول پکار دی، او څوک چه تلل غواړی نو ما هغوی ته اجازت ورکړې دې.

دا حدیث مالک او بخاری په کتاب الاضاحی کښې نقل کړې دې.

(۸۹۴) وَعَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ لَيْسَ عَلٰى اَهْلِ الْقُرٰى جُمُعَةٌ اِنَّمَا الْجُمُعُ عَلٰى اَهْلِ الْاَمْصَارِ مِثْلَ الْمَدَآئِنِ۔ رَوَاهُ اَبُوْبَكْرِ بْنُ اَبِيْ شَيْبَةَ وَاِسْنَادُهُ مُرْسَلٌ۔

۸۹۴: سیدنا حذیفه رضی الله عنه فرمائی: د کلی والو خلقو باندې جمعه نشته، بیشکه جمعه د مدائن والو شان ښهر والا باندې ده. دا حدیث ابوبکر بن ابی شیبة نقل کړې دې او د دې اسناد مرسل دې.

(۸۹۵) وَعَنِ الشَّافِعِيِّ قَالَ وَقَدْ كَانَ سَعِيْدُ بْنُ زَيْدٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَاَبُوْهُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَكُوْنَانِ بِالشَّجَرَةِ عَلٰى اَقَلِّ سِتَّةِ اَمْيَالٍ يَشْهَدَانِ الْجُمُعَةَ وَيَدَعَانِهَا وَكَانَ يَرْوِيْ اَنَّ اَحَدَهُمَا كَانَ يَكُوْنُ بِالْعَقِيْقِ يَتْرُكُ الْجُمُعَةَ وَيَشْهَدُهَا وَكَانَ يَرْوِيْ اَنَّ عَبْدَاللّٰهِ بْنَ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كَانَ عَلٰى مِيْلَيْنِ مِنَ الطَّآئِفِ يَشْهَدُ الْجُمُعَةَ وَيَدَعُهَا۔ رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي الْمَعْرِفَةِ بِاِسْنَادِهٖ اِلَى الشَّافِعِيِّ۔

۸۹۵: امام شافعی رحمه الله فرمائی: سعید بن زید رضی الله عنه او ابوهریره رضی الله عنه دواړه په (مقام) سبحه (چه) په شپږ میله فاصله باندې دې اوسیدل، دواړه به د جمعې لپاره راتلل او کله به ئې پریخودله. او امام شافعی رحمه الله دا هم روایت کوی چه یو په هغوی کښې په (مقام) عقیق کښې اوسیدلو، جمعه به ئې پریخودله هم او د جمعې لپاره به راتلو هم، او دا هم روایت کوی چه عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما د طائف نه د دوه میلو په فاصله باندې وو، د جمعې لپاره به راتلو هم او هغه به ئې پریخودله هم. دا حدیث بیهقی په معرفت کښې د شافعی پورې په خپل سند څخه بیان کړې دې.

**تشریح** (۸۹۱ نه ۸۹۵ پورې) د ښهر نه بهر په کلی والو باندې جمعه فرض نه ده که غواړی نو ښهرته راتلو څخه دې جمعه اوکړی او که غواړی نو خپل ځائې کښې دې د ماسپخین مونځ ادا کړی د دې باب د احادیثو مضمون هم دا دې روایت ۸۹۱ عن عائشة (بخاری ج ۱ ص ۱۳۲، مسلم ج ۱ ص ۲۸۰) مطلب دا دې چه جمعې ته به یو سړې راتلو په بله جمعه باندې به بیا هغه نه راتلو که جمعه په دوی باندې فرض وې نو ټول به راتلل او څوک به هم روستو نه پاتې کیدل.

روایت ۸۹۲عن حمید: فتح الباری (ج:۳،ص:۳۶)، روایت ۸۹۳ :موطأ اما م مالك (ص:۱۶۵) بخاری (ج:۲، ص: ۸۳۵) روایت ۸۹۴ مصنف ابن ابی شیبة (ج:۲،ص:۱۰۱) روایت ۸۹۵ وعن الشافعی رواه البیهقی_مضمون د لفظی ترجمې نه واضح دې.

## بَابُ اِقَامَةِ الْجُمُعَةِ فِى الْقُرٰى

(٨٩٦) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ اِنَّ اَوَّلَ جُمُعَةٍ جُمِّعَتْ فِى الْاِسْلَامِ بَعْدَ جُمُعَةٍ جُمِّعَتْ فِىْ مَسْجِدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمَدِيْنَةِ لَجُمُعَة جُمِّعَتْ بِجُوَاثَا قَرْيَةٍ مِّنْ قُرَى الْبَحْرَيْنِ قَالَ عُثْمَانُ قَرْيَةٌ مِّنْ قُرٰى عَبْدِ الْقَيْسِ۔ رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

قَالَ النِّيْمَوِىُّ قَوْلُهٗ قَرْيَةٌ مِّنْ قُرَى الْبَحْرَيْنِ اَوْقَرْيَةٌ مِّنْ قُرٰى عَبْدِ الْقَيْسِ تَفْسِيْرٌ مِّنْ جِهَةِ الرَّاوِىْ لَا مِنْ كَلَامِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَالْقَرْيَةُ قَدْ تُطْلَقُ عَلَى الْمُدُنِ وَكَانَتْ بِجُوَاثَا بَعْضُ اٰثَارِ الْمَدِيْنَةِ وَقَدْ قَالَ اَبُوْعُبَيْدِنِ الْبَكْرِىُّ فِىْ مُعْجَمِهٖ هِىَ مَدِيْنَة بِالْبَحْرَيْنِ لِعَبْدِ الْقَيْسِ۔

**باب: په کلو کښې جمعه کول:** ۸۹۲: سيدنا ابن عباس ﷺ فرمائی : په کومه جمعه چه په مدينه طيبه کښې د رسول الله ﷺ په مسجد کښې جمعه قائم کړې شوه، د هغې نه پس په اسلام کښې د ټولو نه اول جمعه هغه ده کومه چه په جواثا کښې د جمعې مونځ قائم کړې شو. (جواثا) د بحرين په کلو کښې يو کلې دې، عثمان وائی هغه د (قبيله) عبدالقيس په کلو کښې يو کلې دې. دا حديث ابوداؤد نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

نيموی وائی دا وينا چه (جواثا) د بحرين په کلو کښې يو کلې دې يا د عبدالقيس په کلو کښې يو کلې دې، د راوی د طرف نه تفسير دې. د ابن عباس ﷺ کلام نه دې او د قرية لفظ کله په ښهر باندې هم وئيلې شی او په جواثا کښې د ښهر څه آثار وو، ابوعبيد البکری په خپل معجم کښې وئيلې دی چه بحرين د عبدالقيس يو ښهر دې.

(٨٩٧) وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ وَكَانَ قَائِدَ اَبِيْهِ بَعْدَ مَا ذَهَبَ بَصَرُهٗ عَنْ اَبِيْهِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ اَنَّهٗ كَانَ اِذَا سَمِعَ النِّدَاءَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ تَرَحَّمَ لِاَسْعَدَ بْنِ زُرَارَةَ فَقُلْتُ لَهٗ اِذَا سَمِعْتَ النِّدَآءَ تَرَحَّمْتَ لِاَسْعَدَ بْنِ زُرَارَةَ قَالَ لِاَنَّهٗ اَوَّلُ مَنْ جَمَّعَ بِنَا فِىْ هَزْمِ النَّبِيْتِ مِنْ حَرَّةِ بَنِىْ بَيَاضَةَ فِىْ نَقِيْعٍ يُّقَالُ لَهٗ نَقِيْعُ الْخَضِمَاتِ قُلْتُ كَمْ اَنْتُمْ يَوْمَئِذٍ؟ قَالَ اَرْبَعُوْنَ۔ رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَاٰخَرُوْنَ وَقَالَ الْحَافِظُ فِى التَّلْخِيْصِ اِسْنَادُهٗ حَسَنٌ وَّلِابْنِ مَاجَةَ فِيْهِ قَالَ اَىْ بُنَىَّ كَانَ اَوَّلَ مَنْ جَمَّعَ بِنَا صَلٰوةَ الْجُمُعَةِ قَبْلَ مَقْدَمِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ مَّكَّةَ۔

قَالَ النِّيْمَوِىُّ اِنَّ تَجْمِيْعَهُمْ هٰذَا كَانَ بِرَأْيِهِمْ قَبْلَ اَنْ تُشْرَعَ الْجُمُعَةُ لَا بِاَمْرِ النَّبِىِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا يَدُلُّ عَلَيْهِ مُرْسَلُ ابْنِ سِيْرِيْنَ اَخْرَجَهٗ عَبْدُ الرَّزَّاقِ۔

۸۹۷: عبدالرحمٰن بن کعب بن مالک نه روايت دې او هغوی د خپل والد صاحب ﷺ د نظر ختميدلو نه پس د هغوی قائد (لاس يا همسا نيولو څخه مطلوبه مقام ته بوتلونکې) وو. هغوی د

خپل پلار كعب بن مالک ﷺ نه روايت بيان كړو چه هغوى كله د جمعې په ورځ باندې آذان اورى نو اسعد بن زاررة ﷺ لپاره ترحم (رحمه الله تعالىٰ) وائى، ما هغوى ته اووې، ځكه چه هغه اول سړے دے چا چه مونږ ته د حرة بنى بياضة د هزم النبيت په نقيع كښې كوم ته چه نقيع الحضمات وئيلې شى، (د يو مقام نوم دے) د جمعې مونځ راكړو. ما عرض اوكړو تاسو په دغه ورځ څومره وئ؟ هغوى اوفرمائيل : څلويښت (سړى).

دا حديث ابوداؤد او نورو محدثينو نقل كړے دے، حافظ په تخليص كښې وائى، د دے اسناد حسن دے، او په ابن ماجه كښې ددې حديث دا الفاظ دى، اے خويه ! اولنے هغه سړے چا چه د رسول الله ﷺ مكې مكرمې ته د هجرت كولو نه مخكښې مونږ ته د جمعې مونځ راكړو.

نيموى وائى : د هغوى د جمعې مونځ شروع كول د هغوى په خپله رائې باندې وه، نه د رسول الله ﷺ په حكم باندې لكه چه په دې باندې د ابن سيرين مرسل روايت دلالت كوى كوم چه عبدالرزاق نقل كړے دے.

(۸۹۸) وَعَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَمَّعَ اَوَّلَ جُمُعَةٍ حِيْنَ قَدِمَ الْمَدِيْنَةَ فِيْ مَسْجِدِ بَنِيْ سَالِمٍ مَسْجِدِ عَاتِكَةَ. رَوَاهُ عُمَرُ بْنُ شَبَّةَ فِيْ اَخْبَارِ الْمَدِيْنَةِ وَلَمْ اَقِفْ عَلٰى اِسْنَادِهٖ.

قَالَ النِّيْمَوِيُّ اِنَّ كَثِيْرًا مِنْ اَهْلِ التَّارِيْخِ وَالسِّيَرِ اخْتَارُوْا مَا فِيْ هٰذَا الْخَبَرِ لٰكِنَّهٗ يُعَارِضُ بِمَا رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ فِيْ رِوَايَةٍ حَتّٰى نَزَلَ بِهِمْ فِيْ بَنِيْ عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ وَّذٰلِكَ يَوْمَ الْاِثْنَيْنِ مِنْ شَهْرِ رَبِيْعِ الْاَوَّلِ وَفِيْ رِوَايَةٍ فَاَقَامَ فِيْهِمْ اَرْبَعَ عَشَرَةَ لَيْلَةً.

قَالَ النِّيْمَوِيُّ وَبَنُوْ سَالِمٍ كَانَتْ مَحَلَّةً مِنْ مَحَلَّاتِ الْمَدِيْنَةِ بِشَيْءٍ مِّنَ الْفَصْلِ.

---

۸۹۸: د سيدنا كعب بن عجرة ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ چه كله مدينې منورې ته تشريف راوړلو نو هغوى د بنو سالم په مسجد، مسجد عاتكة كښې اول جمعه ادا كړه.

دا حديث عمرو بن شيبة په اخبار مدينة كښې نقل كړے دے او زه د دې په سند خبر نه شوم.

نيموى وائى : په سيرت ليكونكو او مورخينو كښې ډيرو حضراتو دا خبره اختيار كړې ده كومه چه په دې حديث كښې ده، خو دا د هغه خبرې مخالف ده كومه چه بخارى په يو روايت كښې نقل كړې ده (د بخارى الفاظ دا دى) تردې چه رسول الله ﷺ هغوى څخه په بنى عمرو بن عوف كښې كوز شو او دا د ربيع الاول د ګل ورځ وه او په يو روايت كښې دى نو رسول الله ﷺ په هغوى كښې څوارلس ورځې قيام اوكړو.

نيموى وائى : او بنو سالم د مدينې طيبې په محلو كښې په څه فاصله باندې يو محله وه.

(۸۹۹) وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهُمْ کَتَبُوْا اِلٰی عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ یَسْأَلُوْنَهُ عَنِ الْجُمُعَةِ فَکَتَبَ جَمِّعُوْا حَیْثُ مَاکُنْتُمْ۔ رَوَاهُ اَبُوْبَکْرِبْنُ اَبِیْ شَیْبَةَ وَسَعِیْدُ بْنُ مَنْصُوْرٍ وَّابْنُ خُزَیْمَةَ وَالْبَیْهَقِیُّ وَقَالَ هٰذَا الْاَثَرُ اِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔ قَالَ الْعَیْنِیُّ مَعْنَاهُ جَمِّعُوْا حَیْثُ مَاکُنْتُمْ مِّنَ الْاَمْصَارِ اَلَاتَرٰی اَنَّهَا لَا تَجُوْزُ فِی الْبَرَارِیْ ۔ قَالَ وَفِی الْبَابِ اٰثَارٌ اُخْرٰی لَا تَقُوْمُ بِمِثْلِهَا الْحُجَّةُ۔

۸۹۹: د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه خلقو عمر رضی الله عنه ته خط اولیکلو ، هغوی نه ئې د جمعې په باره کښې پوښتنه اوکړه، نو عمر رضی الله عنه اولیکل، چه چیرته هم یئ جمعه کوئ.

دا حدیث ابوبکر بن ابی شیبة، سعید بن منصور، ابن خزیمة او بیهقی نقل کړې دې او وائی چه د دې اثر اسناد حسن دې.

عینی وائی : د دې معنی دا ده چه په ښهرونو کښې چیرته هم یئ جمعه ادا کوئ، آیا ته نه ګورې چه په ځنګلو کښې جمعه جائز نه ده (که د عمر رضی الله عنه د وینا مطابق هر ځائې کښې جمعه جائز وې، نو په ځنګلو کښې هم جائز کیدل پکار وو).

(نیموی وائی) او په دې باب کښې نور آثار هم شته د داسې آثارو نه حجت نه شی قائمیدلې.

**تشریح**> (۸۹۲ نه ۸۹۹ پورې) د جمعه فی القری بحث د اهم مسائلو نه دې.

**بیان مذاهب**: ۱: د امام شافعی او امام مالک مشهور قول دا دې چه په مصر او قریة کښې جمعه صحیح ده خو د امام شافعی رحمه الله نه په دې سلسله کښې څه صریح قول منقول نه دې.

۲: د امام احمد رحمه الله قول دا دې چه په وړوکی او لوئې کلی کښې جمعه صحیح ده، د غیر مقلدین هم په دې باندې عمل دې بلکه هغوی په دې مسئله کښې د انتهائی غلو نه کار اخلی هغوی صرف په کلی کښې نه بلکه په ځنګل کښې هم د جمعې قائل دی.

۳: د ائمة احناف په نزد د جمعې د صحت لپاره مصر (یا قریة کبیره) کیدل شرط دی په کلو کښې جمعه جائز نه ده بیا د مصر په تحدید یا تعین کښې د علماء احناف خپل مینځ کښې قدیما او حدیثا اختلاف دې بلکه خپله زمونږ د علماء دیوبند هم په دې کښې اختلاف دې. الف: حضرت تهانوی رحمه الله فرمائی چه د نورو شرطونو نه علاوه د مردم شمارئ په لحاظ څخه کم او زیات درې زره آبادی کیدل پکار دی. ب : مفتی کفایت الله صاحب فرمائی چه آبادی خو دې یو نیم زر وی خو د ژوند ضروریات دې موندلې کیږی مثلا ډاک خانه، سکول، هسپتال، د اوړو مشین، دکانونه، موچی، ترکاڼ، لوهار او دهوبی وغیره او د یو نه زیات مسجدونه وی نو جمعه صحیح ده.

**قال النیموی ان تجمعهم** څخه هم دې طرف ته اشاره ده.

خو تحقیق دا دې چه د مصر کلی طور څه جامع او مانع تعریف نه شی کیدې بلکه د دې

مدار په عرف باندې دې که په عرف کښې يو آبادي ښهر يا لوئې کلې ګڼړلې کيږي نو هلته مونځ جائز دې ګڼلې نه دې.

**د قائلين الجمعة فى القرى دلائل او د احنافو ځوابات:** د الله پاک ارشاد دې : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِن يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ﴾ کښې "فاسعوا" مطلق دې په دې کښې د مصر او قرية هيڅ ذکر نشته لهذا جمعه په هرځائې کښې جائز ده. احناف په ځواب کښې وائی : سعی الی الجمعة په نداء باندې موقوف کړې شوې ده او په دې کښې دا بيان نه دې کړې شوې چه آواز کوم ځائې کيدل پکار دی او کوم ځائې نه؟ او چه کله په قرية کښې ندا نه وی نو سعی به هم واجب نه وی.

**د مولانا محمد قاسم نانوتوی رحمه الله استدلال:** حجة الاسلام مولانا قاسم نانوتوی رحمه الله هم د دې آيت نه د احنافو مسلک ثابت کړې دې پس چه کله د ګنګوهی رحمه الله رساله ﴿ اوثق العری فی الجمعة فی القری ﴾ د هغوی په خدمت کښې پيش کړې شوه نو وې فرمائيل : زه زيات خو نه پوهيږم خو دومره وايم چه په کلی کښې د جمعې عدم جواز د قرآن کريم نه ثابت دې اوګورئ فرمائيلې شوې دی : ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِن يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ ﴾ په دې کښې د جمعې لپاره د سعی حکم کړې شوې دې چه د هغې معنی ده منډه وهل او تيز تلل د سعی ضرورت هم هلته راځی چيرته چه اوږده فاصله وهل وی او په کلی کښې داسې نه وی.

بيا فرمائی : ﴿ وَذَرُوا الْبَيْعَ ﴾ يعنی اخستل خرڅول پريږدئ، معلومه شوه چه د جمعې حکم د داسې ځائې لپاره دې چه چيرته يو لوئې بازار او منډئ وغيره وی او خلق هلته د اخستلو خرڅولو په معاملاتو کښې ډير زيات مصروف وی په کلو کښې د داسې مصروفياتو بازارونه چيرته دی؟

وړاندې فرمائی : ﴿ فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِن فَضْلِ اللَّهِ ﴾ يعنی د مانځه نه روستو په زمکه کښې خوريدلو څخه د خپلې ګټې په ذرائع او نورو مشاغل کښې د مصروف کيدو حکم دې د دې نه هم دا فهميږی چه په داسې مقام باندې به د دې سلسلې مشاغل په ګڼړ تعداد کښې او ډير زيات کيدل پکار دی.

۲: د دې باب اول روايت (۸۹۲) کوم چه د ابن عباس رضی الله عنهما نه مروی دې کوم چه امام ابو داؤد رحمه الله په کتاب الصلاة ج ۱ ص ۱۵۳ کښې نقل کړې دې.

احناف په ځواب کښې وائی :

__الف__ : لفظ قرية د راوی تفسير دې. ځکه چه هم دا روايت په بخاری ج ۱ ص ۱۲۲ کښې دې،

په هغې کښې دا لفظ نشته. او ج ۲ ص ۶۲۷ کښې دی. په دې کښې دا لفظ دې : **يعني قرية من قرى البحرين** او ابوداؤد ج ۱ ص ۱۵۳ کښې دی : **قال عثمان (راوی) قرية من قرى عبدالقيس.**

**ب** : لفظ قریة په مصر باندې وئیلې شی. په قرآن کریم کښې دی : ﴿ **أَخْرِجْنَا مِنْ هَٰذِهِ الْقَرْيَةِ** ﴾ (پاره ۵) مراد د دې نه مکة مکرمة ده. دویم ځائې کښې دی : ﴿ **وَاسْأَلِ الْقَرْيَةَ الَّتِي كُنَّا فِيهَا** ﴾ (پاره ۱۳) د دې نه مراد مصر دې. دریم ځائې دې : ﴿ **لَوْلَا نُزِّلَ هَٰذَا الْقُرْآنُ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيمٍ** ﴾ (پاره ۲۵) مراد ترې نه مکة او طائف دی.

**ج** : زمحشری په کشاف کښې لیکی : **والعرب تسمى المدينة قرية** ... او په قاموس ج ٤ ص ۳۷۷ کښې دی : **القرية المصر الجامع** او په تاج العروس ج ۱۰ ص ۲۹۰ کښې دی : **وتقع على المدن وغيرها** او په کفایة المتحفظ ص ۸۰ کښې دی : **ويقع على المدن وغيرها**.... امام بیهقی رحمه الله په سنن الکبری ج ۳ ص ۱۷۹ کښې لیکی : **قال رسول الله ﷺ الجمعة واجب على كل قرية وان لم يكن فيها الا اربعة يعنى بالقرى المدائن.** امام بیهقی رحمه الله هم قری امصار تسلیم کړې دی.

**د** : جواثی تجارتی منډئ او فوجی چهاؤنی وه. علامه الماردینی په الجوهر النقی ج ۲ ص ۱۷۸ کښې لیکی چه هغه یو منډئ وه. په صراح ص ۷ کښې دی جواثی نوم دې : **حصن لبحرين** ... هم دغه شان بلاذری په فتوح البلدان ص ۹۱ کښې لیکلې دی : امام نووی رحمه الله په شرح مسلم ج ۱ ص ۳۸ کښې لیکی چه هلته قیدخانه هم وه او اشعار ئې نقل کړی دی.... **قعود فى جوائى محاصرينا الخ** ....

کوم مقام چه تجارتی منډئ ، فوجی چهاونی او قلعه وی او په هغې کښې قید خانه هم وی او په کوم کښې چه ټول علامات د مصر اوموندلې شی نو یقینا هغه مصر دې.

**ن**: شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا رحمه الله فرمائی :

رسول الله ﷺ چه کله هجرت فرمائیلو څخه مدینې طیبې ته تشریف یوړلو نو په کومه ورځ چه اورسیدلو هغه ورځ د جمعې وه او رسول الله ﷺ د ټولو نه اول جمعه په مدینه منوره کښې په بنو سالم کښې اوکړه، په دې باندې د محدثینو او مورخینو اتفاق دې او په قبا کښې ئې څوارلس یا څلیریشت ورځې قیام اوفرمائیلو خو په دې ورځو کښې ئې هلته جمعه نه ده کړې او د ټولو نه اول چه د مسجد نبوی ﷺ نه پس جمعه اوکړې شوه هغه په جواثی کښې کومه چه قریة من قرى البحرین ده او په دومره موده کښې څومره کلی مسلمانان شو خو چیرته هم جمعه اونکړې شوه، اوس چونکه څخه د ډیرو کلو وغیره د مسلمانیدو بیا هم په قبا او هغه کلو کښې جمعه نه ده ادا

کړې شوې، دا اجماعی مسئله شوه چه په هر کلی کښې جمعه جائز نه ده. بلکه د دې څه شرطونه دی، خو د دې زمانې اهل حدیث چه څه ئې زړه غواړی هغه کوی. (تقریر بخاری ج ۳ ص ۱۵۶، ۱۵۷)

**و: وقال النیموی:** امام نیموی د ډیرو اصحاب سیر په حوالې څخه ثابت کړې دی چه دا ښهر د جاهلیت د زمانې نه د تجارت ډیر لوئې مرکز او منډئ وه.

۳: د دې باب دویم روایت (۸۹۷) **عن عبدالرحمٰن بن کعب** (ابوداؤد ج ۱ ص ۱۵۳) نه قائلین د جواز استدلال کوی چه د هغې نه معلومیږی چه د څلویښتو کسانو په آبادئ کښې جمعه کیدلې شی. احناف په ځواب کښې وائی چه دا عمل صحابه کرامو رضی الله عنهم په خپل مرضئ باندې کړې وو حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباری ج ۲ ص ۲۹٤ کښې فرمائی ﴿**جمع اهل المدینة قبل ان یقدمها رسول الله ﷺ قبل ان تنزل الجمعة**﴾ بعض حضرات فرمائی چه دا د مدینې لرې واقع محله وه.

د دې نه علاوه په مصنف عبدالرزاق (ج ۱ ص ۱۵۹) کښې په صحیح سند څخه د محمد بن سیرین نه په تفصیل څخه روایت منقول دې.

چه په هغې کښې تصریح ده چه دا جمعه صحابه کرامو رضی الله عنهم په خپل اجتهاد څخه کړې وه او حال دا چه دغه وخت کښې لا د جمعې احکام هم نه وو نازل شوې لهذا د دې واقعې نه استدلال صحیح نه دې.

۴: د دې باب روایت ۸۹۸ **عن کعب بن عجرة** هم د قائلین جواز مستدل دې چه په هغې کښې تصریح ده چه رسول الله ﷺ اول جمعه د قبا نه راتلو څخه په محله د بنی سالم کښې ادا کړې ده او دا یو وړوکې کلې وو.

**قال النیموی ان کثیرا:** څخه د دې په ځواب کښې امام نیموی رحمه الله فرمائی چه محله د بنو سالم د مدینې طیبې په مضافات کښې داخل وه ګویا په هغې کښې جمعه کول په مدینه طیبه کښې د جمعې کولو په حکم کښې ده هم دا وجه ده چه د سیرت په کتابونو کښې د ﴿**اول جمعة صلاها بالمدینة**﴾ الفاظ راځی.

۵: د دې باب آخری روایت (۸۹۹) **عن ابی هریرة** (مصنف ابن ابی شیبة ج ۲ ص ۱۰۱) د قائلین جواز مستدل دې چه په هغې کښې دی چه عمر رضی الله عنه خپل عمال ته په سرکاری خط کښې لیکلې وو چه ﴿**ان جمعوا حیث ما کنتم**﴾.

**قال العینی:** څخه مصنف ځواب ورکړې دې چه علامه عینی رحمه الله فرمائی چه لفظ ﴿ **حیث** ﴾ دلته په خپل ظاهری عموم باندې محمول نه دې ځکه چه د ظاهری عموم تقاضا دا ده چه په صحراء کښې

دي هم جمعه جائز شی حال دا چه د دې په عدم جواز باندې د امت اجماع ده لهذا دا حکم حکام او عمال ته وو کوم چه عموما په ښهرونو او مرکزی مقاماتو کښې وی د دې مسئلې د تحقيق او تفصيل لپاره د اوثق العری للشیخ گنگوهی او احسن القری للشیخ الهند مطالعه ډیره نافع ده.

## بَـابٌ لَّا جُمُعَةَ اِلَّا فِیْ مِصْرٍ جَامِعٍ

(۹۰۰) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فِیْ حَدِیْثٍ طَوِیْلٍ فِیْ حَجَّةِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَاَجَازَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰی اَتٰی عَرَفَةَ فَوَجَدَ الْقُبَّةَ قَدْ ضُرِبَتْ لَهٗ بِنَمِرَةَ فَنَزَلَ بِهَا حَتّٰی اِذَا زَاغَتِ الشَّمْسُ اَمَرَ بِالْقَصْوَآءِ فَرُحِلَتْ لَهٗ فَاَتٰی بَطْنَ الْوَادِیْ فَخَطَبَ النَّاسَ اِلٰی اَنْ قَالَ ثُمَّ اَذَّنَ ثُمَّ اَقَامَ فَصَلَّی الظُّهْرَ ثُمَّ اَقَامَ فَصَلَّی الْعَصْرَ وَلَمْ یُصَلِّ بَیْنَهُمَا شَیْئًا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ. قَالَ النِّیْمَوِیُّ وَکَانَ ذٰلِكَ یَوْمَ الْجُمُعَةِ.

**باب: جمعه صرف په لوئې ښهر کښې ده:** ۹۰۰ : سيدنا جابر ﵁ د رسول الله ﷺ د حج په يو اوږد حديث کښې اوفرمائيل : نو رسول الله ﷺ ور وړاندې شو تردې چه هغوی عرفات ته تشريف يوړلو ، نو هغوی يو قبه اوليده کومه چه د هغوی لپاره د کړښو والا څادر نه جوړه کړې شوې وه ، رسول الله ﷺ په هغې کښې تشريف فرما شو ، تردې چه کله نمر پرېوتلو نو رسول الله ﷺ د قصوا (د هغوی د اوښې) په باره کښې اوفرمائيل نو د رسول الله ﷺ لپاره په هغې باندې کيجاوه واچولې شوه رسول الله ﷺ هغه وادئ ته تشريف راوړلو ، بيا رسول الله ﷺ خلقو ته خطبه ورکړه ، تردې چه جابر ﵁ اوفرمائيل. بيا ئې آذان اوکړو ، بيا ئې اقامت اوکړو نو رسول الله ﷺ د ماسپخين مونځ ورکړو ، بيا ئې اقامت اوکړو نو د مازيګر مونځ ئې ورکړو او د دې دواړو مونځونو ترمينځه ئې هيڅ مونځ ادا نه کړو. دا حديث مسلم نقل کړې دې. امام نيموی ﷫ فرمائی او دا د جمعې ورځ وه.

(۹۰۱) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهٗ قَالَ اِنَّ اَوَّلَ جُمُعَةٍ جُمِعَتْ بَعْدَ جُمُعَةٍ فِیْ مَسْجِدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِیْ مَسْجِدِ عَبْدِ الْقَیْسِ بِجُوَاثٰی مِنَ الْبَحْرَیْنِ. رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ.

قَالَ النِّیْمَوِیُّ اِنَّ هٰذَا الْاَثَرَ یُسْتَفَادُ مِنْهُ اَنَّ الْجُمُعَةَ تَخُصُّ بِالْمُدُنِ کَالْمَدِیْنَةِ وَجُوَاثَا وَلَا تَجُوْزُ فِی الْقُرٰی.

۹۰۱: سيدنا ابن عباس ﵄ فرمائی : د رسول الله ﷺ په مسجد کښې د جمعې نه پس د ټولو نه اول د بحرين په جواثی (د څائې نوم) کښې په مسجد د عبدالقيس کښې د جمعې مونځ اوکړې شو. دا حديث بخاری نقل کړې دې.

امام نيموی ﷫ فرمائی : د دې اثر نه دا خبره فهم ته راځی چه جمعة د مدينې او جواثی په شان ښهرونو څخه خاص وه په کلو کښې جائز نه ده.

(۹۰۲) وَعَنْ أَبِيْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ السُّلَمِيِّ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ لَا تَشْرِيْقَ وَلَا جُمُعَةَ إِلَّا فِيْ مِصْرٍ جَامِعٍ۔ رَوَاهُ عَبْدُ الرَّزَّاقِ وَأَبُوْبَكْرِ بْنُ أَبِيْ شَيْبَةَ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي الْمَعْرِفَةِ وَهُوَ أَثَرٌ صَحِيْحٌ۔

۹۰۲: د ابوعبدالرحمٰن السلمی نه روايت دې چه سيدنا علی رضی الله عنه فرمائی: جمعة تشريق د جامع مسجد نه سوا صحيح نه دی. دا حديث عبدالرزاق او ابوبكر بن ابی شيبة او بيهقی په معرفت كښې نقل كړې دې او دا اثر صحيح دې.

(۹۰۳) وَعَنِ الْحَسَنِ وَمُحَمَّدٍ أَنَّهُمَا قَالَا الْجُمُعَةُ فِي الْأَمْصَارِ۔ رَوَاهُ أَبُوْبَكْرِ بْنُ أَبِيْ شَيْبَةَ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ۔

۹۰۳: حسن بصری او محمد (بن سيرين) وائی چه جمعه په ښهرونو كښې ده.

دا حديث ابوبكر بن ابی شيبة نقل كړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

**تشريح**> (۹۰۰ نه ۹۰۳ پورې) د دې باب ټول روايات د احنافو مستدل دې.

**د قائلين عدم جواز الجمعة فی القرى دلائل**: ۱: د دې باب اول روايت ۹۰۰ مسلم كتاب الحج ج ۱ ص ۳۹۶. كښې د دې خبرې تصريح ده او د صحيح رواياتو نه ثابت ده چه د حجة الوداع په موقع باندې وقوف عرفات د جمعې په ورځ شوې وو او په دې باندې ټول روايات متفق دی چه په دغه ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم په عرفات كښې جمعه نه ده ادا فرمائيلې د دې وجه د دې نه سوا هيڅ نه ده چه د جمعې لپاره مصر شرط دې.

۲: د دې باب دويم روايت (۹۰۱) هم د احنافو دليل دې كوم چه امام بخاری رحمه الله په كتاب الجمعة ج ۱ ص ۱۲۲ كښې نقل كړې دې. په دې كښې دا خبره قابل غور ده چه جمعه په ۱ هجری كښې (بلكه د دې نه مخكښې فرض شوې وه او په جواثی كښې د بنو عبدالقيس جمعه كول د ۲ هجری نه روستو واقعه ده، ځكه چه بنو عبدالقيس د جمعې اقامت رسول الله صلی الله عليه وسلم نه د واپس راتلو نه پس كړې وو او د بنو عبدالقيس وفد د فرضيت حج نه پس راغلې وو پس په مسند احمد كښې تصريح ده چه رسول الله صلی الله عليه وسلم چه هغوی ته كوم احكام وركړل په هغې كښې د حج حكم هم شامل وو او د حج فرضيت په ۲ هجری كښې شوې دې او اصحاب سير د وفد عبدالقيس راتلل په ۸ هجری كښې بيان كړې دې لهذا په جواثی كښې د جمعې اقامت په ۸ هجری كښې يا كم از كم په ۲ هجری كښې شوې دې. اوس غور طلب خبره دا ده چه د دې شپږ يا اتۀ كالو په موده كښې د ابن عباس رضی الله عنهما د مذكوره روايت مطابق د مسجد نبوی صلی الله عليه وسلم نه علاوه په يوځائې كښې هم جمعه نه ده قائم شوې حال دا چه په ۲ هجری كښې اسلام د لرې لرې آبادو پورې خور شوې وو او بيشماره كلی د مسلمانانو په قبضه كښې راغلی وو او په ۷ هجری كښې خو خيبر هم فتح شوې وو په دې اوږده موده كښې د مسجد نبوی صلی الله عليه وسلم نه علاوه په يو ځائې كښې هم د جمعې نه قائم كيدل د دې خبرې

واضح دلیل دي چه په وړو کلو کښې جمعه جائز نه ده.

۳: د دې باب دریم روایت ۹۰۲ عن ابی عبدالرحمٰن السلمی عن علی (مصنف عبدالرزاق ج ۳ ص ۱۶۸) کښې تصریح ده چه (لا تشریق ولا جمعة الا فی مصر جامع) او په بخاری ج ۱ ص ۱۲۲ حاشیة ۸ کښې دې حدیث بسند صحیح منلې شوې دې دا روایت اګر چه موقوف دې خو د غیر مدرک بالقیاس کیدو د وجې نه حکما مرفوع دې.

۴: د باب آخری روایت ۹۰۳ عن الحسن ومحمد په (مصنف ابن ابی شیبة ج ۲ ص ۱۰۱) کښې فتوی ده چه جمعه صرف په ښهرونو کښې ده.

۵: سیدنا عمر رضی الله عنه شپږ دیرش زره ښهرونه او قلعه ګانې فتح کړې او جمعه ئې صرف په نهه سوه (۹۰۰) مقاماتو باندې جاری اوفرمائیله که په هر وړوکی لوئې کلی کښې جمعه جائز وې نو جمعه به په زرګونو ځائې کښې کیدله. شاه ولی الله محدث دهلوی رحمه الله په ازالة الخفاء ج ۲ ص ۶۵ کښې لیکی: در زمان خلافت وے (سیدنا عمر رضی الله عنه) سی وشش هزار باتوابع آن مفتوح شد وچهار هزار مسجد ساخته گشت وله صد منبر بر جنوب محاریب جوامع بجهته خطبه جمعة بنا کردند.

## بَابُ الْغُسْلِ لِلْجُمُعَةِ

(۹۰۴) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِذَا أَرَادَ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْتِيَ الْجُمُعَةَ فَلْيَغْتَسِلْ۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

**باب: د جمعې لپاره غسل:** ۹۰۴: عبدالله رضی الله عنه فرمائی ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه واوریدل چه: په تاسو کښې چه څوک دجمعې لپاره راځی نو هغه له غسل کول پکار دی. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۹۰۵) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ كَانَ النَّاسُ يَنْتَابُوْنَ الْجُمُعَةَ مِنْ مَنَازِلِهِمْ وَالْعَوَالِيْ فَيَأْتُوْنَ فِي الْغُبَارِ فَيُصِيْبُهُمُ الْغُبَارُ وَالْعَرَقُ فَيَخْرُجُ مِنْهُمُ الْعَرَقُ فَأَتَى رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْسَانٌ مِّنْهُمْ وَهُوَ عِنْدِيْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ أَنَّكُمْ تَطَهَّرْتُمْ لِيَوْمِكُمْ هٰذَا۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

۹۰۵: د رسول الله صلی الله علیه وسلم زوجه مطهره ام المومنین سیده عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمائی: خلق به د خپلو کورونو او علاقو نه په خپل خپل وار باندې د جمعې لپاره راتلل، هغوی به چه په ګردوغبار کښې راغلل نو په هغوی باندې په ګرد وغبار او خولې راتلې، بیا به د هغوی نه خوله تله، په هغوی کښې یو سړې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شو، هغه وخت هغوی ما څخه تشریف فرما

وو، نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل : کاش چه تاسو د دې ورځې لپاره غسل کولې (نو دا به غوره وې)
دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۹۰۶) وَعَنْهَا اَنَّهَا قَالَتْ: كَانَ النَّاسُ اَهْلَ عَمَلٍ وَّلَمْ تَكُنْ لَـهُمْ كُفَاةٌ فَكَانُوْا يَكُوْنُ لَـهُمْ تَفَلٌ فَقِيْلَ لَهُمْ لَوِاغْتَسَلْتُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ۔رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

۹۰۶: ام المومنین سیده عائشه ﷺ فرمائی : خلق د محنت او مزدورئ والا وو او هغوی څخه هیڅ جمع کړې شوې څیز نه وو (یعنی روزانه به ئې ګټه کوله او خوراک به ئې کولو او د دې وجې نه به ئې د جمعې په ورځ هم کار کولو) نو د هغوی نه به بدبوئی راتله، هغوی ته اوئیلې شو، کاش چه تاسو د جمعې لپاره غسل کوئ. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۹۰۷) وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَوَضَّاءَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَبِهَا وَنِعِمَتْ وَمَنِ اغْتَسَلَ فَالْغُسْلُ اَفْضَلُ۔رَوَاهُ الثَّـــلَاثَةُ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ حَدِيْثٌ حَسَنٌ۔

۹۰۷: سیدنا سمرة بن جندب ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : چا چه د جمعې په ورځ اودس اوکړو نو دا (خصلت) ښه دې او چا چه غسل اوکړو نو غسل افضل دې.
دا حدیث اصحاب ثلاثه نقل کړې دې او ترمذی وائی دا حدیث حسن دې.

(۹۰۸) وَعَنْ عِكْرِمَةَ اَنَّ اُنَاسًا مِّنْ اَهْلِ الْعِرَاقِ جَاءُوْا فَقَالُوْا يَا ابْنَ عَبَّاسٍ ﷺ اَتَرَى الْغُسْلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَاجِبًا؟ قَالَ لَا وَلٰكِنَّــهٗ اَطْهَرُ وَخَيْرٌ لِّمَنِ اغْتَسَلَ وَمَنْ لَّمْ يَغْتَسِلْ فَـلَـيْسَ عَلَيْهِ بِوَاجِبٍ وَّسَاُخْبِرُكُمْ كَيْفَ بُدِءَ الْغُسْلُ كَانَ النَّاسُ مَجْهُوْدِيْنَ يَلْبَسُوْنَ الصُّوْفَ وَيَعْمَلُوْنَ عَلٰى ظُهُوْرِهِمْ وَكَانَ مَسْجِدُهُمْ ضَيِّـقًا مُقَارِبَ السَّقْفِ اِنَّمَا هُوَ عَرِيْشٌ فَخَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ يَوْمٍ حَارٍّ وَّعَرِقَ النَّاسُ فِيْ ذٰلِكَ الصُّوْفِ حَتّٰى ثَارَتْ مِنْهُمْ رِيَاحٌ اٰذٰى بِذٰلِكَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا فَلَمَّا وَجَدَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَـيْهِ وَسَلَّمَ تِلْكَ الرِّيْحَ قَالَ اَيُّهَا النَّاسُ اِذَا كَانَ هٰذَا الْيَوْمُ فَاغْتَسِلُوْا وَلْيَمَسَّ اَحَدُكُمْ اَفْضَلَ مَا يَجِدُ مِنْ دُهْنِهٖ وَطِيْبِهٖ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ثُمَّ جَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى ذِكْرُهٗ بِالْخَيْرِ وَلَبِسُوْا غَيْرَ الصُّوْفِ وَكُفُوا الْعَمَلَ وَوُسِّعَ مَسْجِدُهُمْ وَذَهَبَ بَعْضُ الَّذِيْ كَانَ يُؤْذِيْ بَعْضُهُمْ بَعْضًا مِّنَ الْعَرَقِ۔رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالطَّحَاوِيُّ وَقَالَ الْحَافِظُ اِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

۹۰۸: د عکرمه ﷺ نه روایت دې چه په عراقیانو کښې څه خلق راغلل او وې وئیل : اې ابن عباس! ستاسو په خیال کښې د جمعې په ورځ غسل واجب دې؟ ابن عباس ﷺ اوفرمائیل : نه! خو ډیر پاک کار دې او د غسل کونکی لپاره غوره ده او چا چه غسل اونکړو نو په هغه باندې واجب نه دی او زه تاسو ته بیانوم چه دا غسل څنګه شروع شوې وو، خلق محنتی وو، د وړئ جامې به ئې اغوستلې، په خپلو شاګانو باندې به ئې بوج اوچتولو، د هغوی مسجد تنګ وو، (د

مسجد) چهت نزدې (لاندې) وو يقينا هغه يو جهونپړئ وه، رسول الله ﷺ په يو ګرمه ورځ كښې تشريف راوړلو، په خلقو باندې هغه ورځ د وړئ (په لباس) كښې خوله راغله. تردې چه د هغوی د خولې بوئې اوچت شو نو د هغې په وجه باندې هغوی ته د يو بل نه تكليف اورسيدلو (د تكليف سبب جوړ شو) چه كله رسول الله ﷺ ته دا بوئې محسوس شو نو وې فرمائيل: اې خلقو! چه كله دا ورځ وی نو غسل اوكړئ، او په تاسو كښې چه چا ته خپل ښه تيل يا خوشبوئی ملاؤ شی هغه دې اولګوی. ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی بيا الله پاک د جمعې ذكر په ښه طريقه باندې اوفرمائيلو او خلقو د وړئ نه بغير نورې كپړې واغوستلې او د كار نه منع شو، خپل مسجد ئې فراخه كړو او د خولې د وجې نه چه يو بل ته كوم تكليف رسيدلو هغه ختم شو.

دا حديث ابوداؤد او طحاوی نقل كړې دې حافظ فرمائی د دې اسناد صحيح دې.

(٩٠٩) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ مِنَ السُّنَّةِ الْغُسْلُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ ـ رَوَاهُ الْبَزَّارُ وَ اِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ ـ

٩٠٩: سيدنا عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی: د جمعې په ورځ باندې غسل كول د سنتو نه دی. دا حديث بزار نقل كړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

**تشريح**﴿(٩٠٤ نه ٩٠٩ پورې) رسول الله ﷺ غسل د جمعې د آدابو نه شمار كړې دې خو په دې كښې د ائمة كرامو اختلاف دې چه غسل واجب دې يا سنت موكده يا مستحب.

**بيان مذاهب:** ١: اهل ظواهر د دې د وجوب قائل دې د امام شافعی او امام احمد نه هم يو روايت د وجوب منقول دې، ابن القيم رحمه الله په زاد المعاد كښې ليكی چه د غسل جمعه وجوب، د وتر وغيره د وجوب نه هم زيات قوی دې، د امام مالک رحمه الله طرف ته هم يو قول د وجوب منسوب دې خو علامه انور شاه فرمائی چه د مالكيانو په نزد په سنت موكده باندې هم د وجوب اطلاق كيږی. (انوار الباری)

٢: د اكثر اهل علم او احنافو په نزد غسل جمعه سنت موكده دې، علامه خطابی شافعی، قاضی عياض مالكی او ابن عبدالبر مالكی دې ته د عام فقهاء او ائمة امصار قول وئيلې دې.

٣: امام محمد رحمه الله په مبسوط كښې غسل جمعه ته حسن وئيلې دې بعض متقدمين دا عام مَنی كوم چه سنت، مستحب او واجب ټولو ته شامل دې او دا هم احتمال دې چه دا ئې دجمعې په مانځه كښې حساب كړې وی يا په ورځ د جمعې كښې.

**د احاديث الباب تشريح او د ائمة كرامو استدلال:** ١: د دې باب اول روايت (٩٠٤) عن عبدالله (مسلم كتاب الجمعة ج ١ ص ٢٧٩، بخاری ج ١ ١٢٠) كښې د ﴿ فليغتسل ﴾ تصريح ده. او ظاهره ده چه د امر

مدلول وجوب وی دا روایت په ظاهر کښې د قائلین وجوب مستدل دې خو د جمهور علماء کرامو په نزد د جمعې په ورځ باندې غسل کول واجب نه دی لهذا د هغوی په نزد دا او د دې قسم ټول احادیث په سنت باندې محمول دی ځکه چه ددې نه علاوه په نورو ډیرو احادیثو کښې دا خبره ثابت ده چه د جمعې په ورځ باندې غسل واجب نه دې خو علماء کرامو لیکلې دی چه د جمعې په ورځ باندې غسل نه کول مکروه دی.

۲: د دې باب دویم روایت (۹۰۵) **عن عائشة** (مسلم ج ۱ ص ۲۸۰، بخاری ج ۱ ص ۱۲۳) کښې د **(لو انکم تطهرتم لیومکم هذا)** الفاظ دا ښائی چه د جمعې د ورځې غسل واجب نه دې دا حدیث د جمهورو مستدل دې ددې مطلب هم دادې چه که په دې ورځ باندې تاسو غسل اوکړئ نو غوره به وې.

۳: روایت (۹۰۶) **عن عائشة** (مسلم ج ۱ ص ۲۸۰، بخاری ج ۱ ص ۱۲۳) الفاظ (**لو اغتسلتم یوم الجمعة**) او د ماقبل د ټول مضمون مدلول عدم وجوب دې.

۴: روایت ۹۰۷ **عن سمرة بن جندب** (ترمذی ج ۱ ص ۱۱، ابوداؤد ج ۱ ص ۵۱) کښې **(فبها ونعمت)** کښې د هاء ضمیر مرجع سنت دې او باحرف جار فعل محذوف څخه متعلق دې او د **نعمت** فاعل هم دا سنت دې **ای بالسنة اخذ ونعمت السنة**، صاحب د مجمع البحار مرجع خصلة جوړ کړې دې **ای فبهذه الخصلة یعنی الوضوء الفضل ونعمت الخصلة هی**. بعض حضراتو مرجع لفظ د فریضة منلې ده **ای فبا الفریضة اخذ ونعمت الفریضة**.

۵: د روایت ۹۰۸ **عن عکرمة** (ابوداؤد ج ۱ ص ۵۱، طحاوی ج ۱ ص ۸۳) مدلول واضح دې او په دې کښې تصریح ده چه د جمعې غسل واجب نه دې بعض حضراتو دا هم وئیلې دی چه د کومو احادیثو نه د غسل جمعه وجوب مستفاد دې د عکرمه دا روایت د وجوب دحکم لپاره ناسخ دې.

۶: روایت ۹۰۹ **عن عبدالله بن مسعود** (کشف الاستار **عن زوائد البزار** ج ۱ ص ۳۱) په خپل مدلول کښې واضح او د جمهورو قوی مستدل دې.

**غسل د جمعې لپاره یا د مانځه لپاره:** د جمعې په ورځ غسل مسنون دې د جمعې د مانځه لپاره یا که د جمعې د ورځې لپاره؟ د دې په باره کښې دوه قوله دی، د حسن بن زیاد په نزد دا غسل د جمعې د ورځې لپاره دې د امام محمد او داؤد ظاهری قول هم دادې او دا یو روایت دې د امام ابویوسف رحمه الله نه هم. (کما فی البنایة) وجه دا ده چه د جمعې ورځ سید الایام او اشرف الایام ده نو د دې فضیلت د اظهار لپاره غسل مسنون کیدل پکار دی، بل دا چه د دې غسل اضافت د یوم جمعې طرف ته کیدل هم په دې باندې دال دې، د امام ابویوسف رحمه الله په نزد غسل د جمعې د جمعې

د مانځه د وجې نه دې، جمهورو هم دې ته صحیح وئیلي دی ځکه چه د عائشې او ابن عباس رضی الله عنهم په حدیث کښې دی ﴿ اذا جاء احدکم الجمعة فلیغتسل ﴾ د دې اختلاف ثمرة په څو مسائلو کښې ښکاره کیږی. ۱: په بنایة او مختارات النوازل وغیره کښې دی چه په کومو خلقو باندې د جمعې مونځ واجب نه دې لکه زنانه، غلام، مسافر وغیره د هغوی په حق کښې په قول حسن باندې غسل مسنون دې د امام ابویوسف رحمه الله په قول مسنون نه دې. ۲: په بنایة او خلاصه وغیره کښې دی چه کوم انسان د جمعې وغیره لپاره غسل اوکړو او د هغه اودس مات شو بیا هغه نوې اودس کولو څخه د جمعې مونځ اوکړو نو د امام ابویوسف رحمه الله په نزد ئې د غسل جمعه ثواب نه کیږی. د حسن بن زیات په نزد ئې کیږی. ۳: په کافی او خلاصه وغیره کښې دی چه د جمعې په ورځ د سحر نه که چا اودس اوکړو او غسل ئې اوکړو او هم په هغې څخه ئې جمعه ادا کړه نو د امام ابویوسف رحمه الله په نزد هغه ته به د غسل فضیلت حاصل وی نه د حسن په نزد. ۴: په خانیه کښې دی چه که یو سړی د امام ابویوسف رحمه الله په نزد د عدم اعتبار غسل وجه دا بیان کړې چه د جمعې د غسل مشروعیت د دې لپاره دې چه د انسان د بدن خیرې ختم شی چه په هغې څخه اهل اجتماع ته تکلیف وی او د جمعې د مانځهٔ نه پس غسل کولو څخه دا مقصد نه حاصلیږی، او د حسن په نزد اګر چه د جمعې غسل د ورځ لپاره دې خو دا شرط دې چه غسل به د مانځه نه مخکښې وی.

## بَابُ السِّوَاكِ لِلْجُمُعَةِ

(۹۱۰) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ جُمُعَةٍ مِنَ الْجُمَعِ مَعَاشِرَ الْمُسْلِمِيْنَ اَنَّ هٰذَا يَوْمٌ جَعَلَهُ اللّٰهُ لَكُمْ عِيْدًا فَاغْتَسِلُوْا وَعَلَيْكُمْ بِالسِّوَاكِ ـ رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْأَوْسَطِ وَالصَّغِيْرِ وَاِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ ـ

**باب: د جمعې په ورځ باندې مسواک کول:** ۹۱۰: سیدنا ابوهریره رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ په جمعو کښې په یوه جمعه کښې اوفرمائیل: اې د مسلمانانو جماعته! بیشکه دا ورځ الله پاک ستاسو لپاره اختر جوړ کړې دې، لهذا تاسو غسل کوئ او مسواک ضرور کوئ.

دا حدیث طبرانی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

**تشریح** (۹۱۰): د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه دې روایت (مجمع الزوائد ج ۲ ص ۱۷۳، المعجم الصغیر للطبرانی ج ۱ ص ۱۲۹) کښې د جمعې مونځ ته اختر وئیلې شوې دې او په دې کښې غسل او مسواک کول د هغې د آدابو نه ښودلې شوې دی.

## بَابُ الطِّيْبِ وَالتَّجَمُّلِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ

(۹۱۱) عَنْ سَلْمَانَ الْفَارِسِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَغْتَسِلُ رَجُلٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَيَتَطَهَّرُ مَا اسْتَطَاعَ مِنَ الطُّهْرِ وَيَدَّهِنُ مِنْ دُهْنِهِ أَوْ يَمَسُّ مِنْ طِيْبِ بَيْتِهِ ثُمَّ يَخْرُجُ فَلَا يُفَرِّقُ بَيْنَ اثْنَيْنِ ثُمَّ يُصَلِّيْ مَا كُتِبَ لَهُ ثُمَّ يَنْصِتُ إِذَا تَكَلَّمَ الْإِمَامُ إِلَّا غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ الْأُخْرٰى۔ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ۔

**باب: د جمعې په ورځ ښاندې ووړل اختیارول او خوشبوئي لګول:** ۹۱۱: سیدنا سلمان فارسي ﷛ فرمائي: رسول الله ﷺ اوفرمائيل: کوم سړې چه د جمعې په ورځ باندې غسل اوکړي او د څومره طهارت د حاصلولو طاقت چه لري هومره طهارت حاصل کړي، او د خپل (استعمال د) تيلو نه تيل اولګوي يا د خپل کور د (استعمال د) خوشبوئي اولګوي، بيا اوځي نو د دوه کسانو مينځ کښې جدائي وانه چوي (يعنې چيرته چه ورته ځائې ملاؤ شي هلته کينې، د خلقو مينځ کښې نه کينې) بيا مونځ اوکړي، کوم چه د هغه لپاره فرض کړې شوې دې، بيا چه کله امام کلام (خطبه) شروع کړه، نو خاموش پاتې شو، د هغه لپاره د هغه جمعې نه تر بلې جمعې پورې ګناه معاف کولې شي. دا حديث بخاري نقل کړې دې.

(۹۱۲) وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا سَلْمَانُ هَلْ تَدْرِيْ مَا يَوْمُ الْجُمُعَةِ؟ قُلْتُ هُوَ الَّذِيْ جَمَعَ اللّٰهُ فِيْهِ أَبَاكَ أَوْ أَبَوَيْكَ قَالَ لَا وَلٰكِنْ أُحَدِّثُكَ عَنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَتَطَهَّرُ وَيَلْبَسُ أَحْسَنَ ثِيَابِهِ وَيَتَطَيَّبُ مِنْ طِيْبِ أَهْلِهِ إِنْ كَانَ لَهُمْ طِيْبٌ وَإِلَّا فَالْمَاءُ ثُمَّ يَأْتِي الْمَسْجِدَ فَيَنْصِتُ حَتّٰى يَخْرُجَ الْإِمَامُ ثُمَّ يُصَلِّيْ إِلَّا كَانَتْ كَفَّارَةً لَهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ الْأُخْرٰى مَا اجْتُنِبَتِ الْمَقْتَلَةُ وَذٰلِكَ الدَّهْرَ كُلَّهُ۔ رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ وَقَالَ الْهَيْثَمِيُّ إِسْنَادُهُ حَسَنٌ۔

۹۱۲: سیدنا سلمان فارسي ﷛ فرمائي: رسول الله ﷺ اوفرمائيل: اې سلمان! ته پوهيږې چه د جمعې ورځ څه ده؟ ما عرض اوکړو: دا هغه ورځ ده په کومه کښې چه الله پاک ستاسو پلار يا ئې اووئيل چه مور پلار يوځائې کړل، رسول الله ﷺ اوفرمائيل: نه! زه تاته د جمعې د ورځې په باره کښې بيان کوم، کوم مسلمان چه ځان پاک کړي خپلې ښه کپړې واچوي، د خپل کور د خوشبويئ نه خوشبوئي اولګوي، که خوشبوئي ورځخه وي، ګينې (ساده) اوبه (دې په غسل کښې استعمال کړي) بيا مسجد ته راتلو څخه د امام د راتلو پورې خاموش کينې، بيا (د جماعت څخه) مونځ اوکړي نو دابه د هغه لپاره د يوې جمعې نه د بلې جمعې پورې کفاره وي، ترڅو چه د تکليف ورکولو د ځائې نه بچ کيږي (يعنې چيرته چه ورته خالي ځائې ملاؤ شي هلته کينې، چاته تکليف نه

ورکوی، او «دا ثواب» هره زمانه کښې دې. دا حدیث طبرانی نقل کړې دې او امام هیثمیؒ فرمائی د دې اسناد حسن دې.

(۹۱۳) وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَمَسَّ مِنْ طِيبٍ إِنْ كَانَ عِنْدَهُ وَلَبِسَ مِنْ أَحْسَنِ ثِيَابِهِ ثُمَّ خَرَجَ وَعَلَيْهِ السَّكِينَةُ حَتّٰى يَأْتِيَ الْمَسْجِدَ فَيَرْكَعُ إِنْ بَدَا لَهُ وَلَمْ يُؤْذِ أَحَدًا ثُمَّ أَنْصَتَ إِذَا خَرَجَ إِمَامُهُ حَتّٰى يُصَلِّيَ كَانَتْ كَفَّارَةً لَهُ لِمَا بَيْنَهَا وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ الْأُخْرٰى. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالطَّبَرَانِيُّ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

۹۱۳: سیدنا ابوایوب انصاریؓ فرمائی: ما د رسول اللهﷺ نه واوریدل: چا چه د جمعې په ورځ باندې غسل اوکړو، که هغه ځخه خوشبوئی وه او وې لګوله او خپلې ښه جامې ئې واغوستلې، بیا مطمئن کیدو ځخه «د جمعې لپاره» اوتلو، تردې چه مسجد ته راتلو ځخه که هغه ته موقع ملاؤ نه شوه، نو مونځ ئې اوکړو او چاته ئې تکلیف ورنکړو، بیا د خپل امام د راتلو پورې خاموش پاتې شو، تردې چه هغه مونځ اوکړو، نو د هغه لپاره د دې جمعې نه بلې جمعې پورې کفاره ده. دا حدیث احمد او طبرانی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

**تشریح**> «۹۱۱ نه ۹۱۳ پورې» په دې باب کښې هم د جمعې د آدابو بیان دې اول روایت۹۱۱ **عن سلمان الفارسی** (بخاری ج ۱ ص ۱۲۱) کښې **ویتطهر ماأستطاع من طهره** مطلب دا دې چه بریت دې واخلی، نوکونه دې پرې کړی، د نامهٔ نه لاندې ویښته دې صفا کړی. د ترخونو نه دې ویښته لرې کړی، او پاکې صفا کپړې دې واچوی. د ﴿ **فلا يفرق بين اثنين** ﴾ مطلب دا دې چه که په مسجد کښې پلار او ځوئې یا داسې دوه کسان چه خپل مینځ کښې د محبت تعلق لری د هغوی په مینځ کښې دې نه کینی یا که د دوه کسانو مینځ کښې ځائې نه وی یا مراد دا دې چه د خلقو صفونو خرابولو ځخه دې نه تیریږی، د باب دویم روایت ۹۱۲ **عن سلمان** (المعجم الکبیر للطبرانی ج ۶ ص ۳۳۷) او دریم روایت ۹۱۳ **عن ابی ایوب** (مسند احمد ج ۵ ص ۴۲۰) کښې هم د یوم الجمعة په آدابو کښې د طیب او تجمل بیان دې او په تحت اللفظ ترجمه کښې د حدیث مضمون واضح دې.

## بَابٌ فِیْ فَضْلِ الصَّلٰوۃِ عَلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ یَوْمَ الْجُمُعَۃِ

(۹۱۴) عَنْ اَوْسِ بْنِ اَوْسٍ رَّضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ اِنَّ مِنْ اَفْضَلِ اَیَّامِکُمْ یَوْمَ الْجُمُعَۃِ فِیْہِ خُلِقَ اٰدَمُ وَفِیْہِ قُبِضَ وَفِیْہِ النَّفْخَۃُ وَفِیْہِ الصَّعْقَۃُ فَاَکْثِرُوْا عَلَیَّ مِنَ الصَّلٰوۃِ فِیْہِ فَاِنَّ صَلٰوتَکُمْ مَعْرُوْضَۃٌ عَلَیَّ قَالَ: قَالُوْا یَارَسُوْلَ اللّٰہِ! وَکَیْفَ تُعْرَضُ صَلٰوتُنَا عَلَیْکَ وَقَدْ اُرِمْتَ قَالَ یَقُوْلُوْنَ بُلِیْتَ قَالَ اِنَّ اللّٰہَ عَزَّوَجَلَّ حَرَّمَ عَلَی الْاَرْضِ اَجْسَادَ الْاَنْبِیَآءِ. رَوَاہُ الْخَمْسَۃُ اِلَّا التِّرْمَذِیَّ وَاِسْنَادُہٗ صَحِیْحٌ.

**باب: د جمعې په ورځ په رسول الله ﷺ باندې د درود وئیلو فضیلت:** ۹۱۴ : سیدنا اوس بن اوس رضی اللہ عنہ فرمائي: رسول الله ﷺ اوفرمائیل بیشکه ستاسو په ورځو کښې افضل ورځ د جمعې ده، په دې کښې آدم علیہ السلام پیدا کړې شو، هم په دې ورځ وفات شو، او هم په دې کښې به شپیلۍ پوکلې شی، او هم په دې کښې به (دوباره) شپیلۍ پوکلې شی، پس تاسو په دې ورځ باندې په ما په کثرت څخه درود وایئ، بیشکه ستاسو درود په ما باندې پیش کولې شی، (اوس رضی اللہ عنہ) اوفرمائیل: خلقو عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ! زمونږ درود به په تاسو څنګه پیش کړې شی په داسې حال کښې چه تاسو به ذره ذره شوی یئ؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل: بیشکه الله پاک په زمکه باندې د انبیاء علیہم السلام بدنونه حرام کړی دی. دا حدیث د ترمذی نه علاوه اصحابِ خمسه نقل کړې دې او ددې اسناد صحیح دې.

**تشریح>** (۹۱۴) : په آداب جمعه کښې صلاة علی النبی ﷺ هم داخل دې دا حدیث د اوس بن اوس رضی اللہ عنہ نه منقول دې (ابوداؤد ج ۱ ص ۱۵۰) د ﴿ فإن صلاتکم معروضة علی ﴾ مطلب دا دې چه هسې خو د همیشه نه چه څوک په ما باندې درود وائی نو د هغه درود ما ته پیش کولې شی خو د جمعې ورځ چونکه د ټولو نه افضل ده په دې وجه باندې د جمعې په ورځ باندې رالیږونکې درود په طریق اولی ما ته پیش کولې شی اګر چه د درود لیږلو موده هر څومره اوږده ولې نه وی پس ﴿ حتی یفرغ ﴾ فرمائیلو څخه دې طرف ته اشاره فرمائیلې شوې ده چه ترڅو پورې درود لوستونکې خپله فارغ نه شی یا درود وئیل ترک نه کړی هغه وخته پورې د پوره مودې درود برابر ماته پیش کولې شی.

د رسول الله ﷺ د ارشاد اوریدلو نه پس ابودرداء رضی اللہ عنہ دا اوګڼړله چه کیدې شی دا حکم په ظاهری حالت یعنی د دنیاوی ژوند څخه متعلق دې پس هغوی د رسول الله ﷺ نه دې باره کښې سوال اوکړو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل: چه زمکه باندې د انبیاء علیہم السلام بدنونه خوړل حرام دی یعنی څنګه چه د نورو مړو بدنونه په قبرونو کښې فنا شی. هم دغه شان د انبیاء علیہم السلام بدنونه په قبرونو کښې نه فنا کیږی بلکه هغه په خپل اصلی حالت کښې موجود وی په دې وجه د انبیاء علیہم السلام لپاره د دنیا په دواړو حالتونو یعنی د دنیا په ظاهری ژوند او مرګ کښې هیڅ فرق نشته څنګه چه هغوی

دلته وو هغه شان هلته هم دی هم په دې وجه وئیلې شوې دی!

اَوْلِيَاءَاللّٰهِ لَا يَمُوْتُوْنَ وَلٰكِنْ يَنْتَقِلُوْنَ مِنْ دَارٍ اِلٰى دَارٍ. (د الله پاک دوستان اوحقیقی بندګان نه مری بلکه هغوی خو صرف د یو مکان نه بل مکان ته منتقل کیږی.

لهٰذا څنګه چه دلته په دنیا کښې په ما باندې درود پیش کولې شی هم دغه شان به په ما باندې قبر کښې هم پیش کولې شی.

## بَابُ مَنْ اَجَازَ الْجُمُعَةَ قَبْلَ الزَّوَالِ

(۹۱۵) عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْاَكْوَعِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا نُصَلِّيْ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْجُمُعَةَ ثُمَّ نَنْصَرِفُ وَلَيْسَ لِلْحِيْطَانِ ظِلٌّ نَسْتَظِلُّ بِهٖ. رَوَاهُ الشَّيْخَانِ.

**باب: چا چه د جمعې په ورځ د زوال نه مخکښې د جمعې کولو اجازت ورکړې دې** ۹۱۵ : سیدنا سلمة بن الاکوع ﷛ فرمائی : مونږ به د رسول الله ﷺ څخه جمعه کوله بیا به مونږ فارغ کیدو څخه واپس راتلو او تر اوسه به د دیوالونو سورې نه وو چه د هغې سورې مونږ استعمال کړې وې (یعنی د هغې په سوری کښې تلو څخه د ګرمئ نه بچ شوې وې). دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۹۱۶) وَعَنْ سَهْلٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: مَا كُنَّا نَقِيْلُ وَلَا نَتَغَدّٰى اِلَّا بَعْدَ الْجُمُعَةِ. رَوَاهُ الْجَمَاعَةُ وَزَادَ مُسْلِمٌ فِيْ رِوَايَةٍ وَّاَحْمَدُ وَالتِّرْمَذِيُّ فِيْ عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

۹۱۶ : سیدنا سهل ﷛ فرمائی : مونږ په د جمعې نه پس د غرمې دوډۍ خوړله او قیلولة (د غرمې اوده کیدل) کوله. دا حدیث د محدثینو جماعت نقل کړې دې. مسلم په یو روایت کښې او احمد او ترمذی دا زیادت کړې دې : په زمانه د رسول الله ﷺ کښې.

(۹۱۷) وَعَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: كُنَّا نُصَلِّيْ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْجُمُعَةَ ثُمَّ نَرْجِعُ اِلَى الْقَائِلَةِ فَنَقِيْلُ. رَوَاهُ اَحْمَدُ وَالْبُخَارِيُّ.

۹۱۷ : سیدنا انس ﷛ فرمائی : مونږ به د رسول الله ﷺ څخه جمعه کوله، بیا به مو د آرام ځائې ته راتلو څخه قیلوله (د غرمې آرام) کوله. دا حدیث احمد او بخاری نقل کړې دې.

(۹۱۸) وَعَنْ جَعْفَرٍ عَنْ اَبِيْهِ اَنَّهٗ سَاَلَ مَتٰى كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الْجُمُعَةَ قَالَ كَانَ يُصَلِّيْ ثُمَّ نَذْهَبُ اِلٰى جِمَالِنَا فَنُرِيْحُهَا زَادَ عَبْدُ اللّٰهِ فِيْ حَدِيْثِهٖ حِيْنَ تَزُوْلُ الشَّمْسُ يَعْنِي النَّوَاضِحَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

۹۱۸ : سیدنا جعفر ﷛ د خپل پلار (عبدالله ﷛) په واسطه روایت کړې دې چه هغوی پوښتنه اوکړه رسول الله ﷺ به کله جمعه کوله، هغوی اوفرمائیل : رسول الله ﷺ به جمعه اوکړه، بیا به مونږ د خپلو اوښانو طرف ته لاړو او هغه به مو د آرام لپاره پریخودل. عبد الله په خپل حدیث کښې

دا الفاظ زيات نقل کړي دی، چه کله به نمر زائل شو نو هغوی به آرام بيا موندلو (يعنی اوبه راوړونکی اوبنان) دا حديث مسلم نقل کړې دې.

(٩١٩) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ السِّيْدَانِ السُّلَمِيِّ قَالَ شَهِدْتُّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ مَعَ اَبِيْ بَكْرٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَكَانَتْ صَلٰوتُـــهُ وَخُطْبَتُـــهُ قَـبْلَ نِصْفِ النَّهَارِ ثُمَّ شَهِدْتُّهَا مَعَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَكَانَتْ صَلٰوتُهُ وَخُطْبَتُهُ اِلٰى اَنْ اَقُوْلَ انْتَصَفَ النَّهَارُ ثُمَّ شَهِدْتُّهَا مَعَ عُثْمَانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَكَانَتْ صَلٰوتُهُ وَخُطْبَتُهُ اِلٰى اَنْ اَقُوْلَ زَالَ النَّهَارُ فَمَا رَاَيْتُ عَابَ ذٰلِكَ وَلَا اَنْكَرَهٗ۔ رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ وَاٰخَرُوْنَ وَاِسْنَادُهٗ ضَعِيْفٌ۔

٩١٩: عبدالله بن السيدان السلمی فرمائی : زه د ابوبکرصديق رضی الله عنه څخه د جمعې د مونځ کولو لپاره حاضر شوم، نو د هغوی مونځ او خطبه د نصف النهار (زوال) نه مخکښې وه، بيا زه د عمر فاروق رضی الله عنه څخه د جمعې په مانځه کښې حاضر شوم، نو د هغوی مونځ او خطبه تردې پورې وه چه ما به وئيل نيمه ورځ (زوال) شوې دې، بيا زه د عثمان رضی الله عنه څخه د جمعې لپاره حاضر شوم نو د هغوی مونځ او خطبة تردې پورې وه چه ما به اوئيل ورځ زائله شوې ده. نو ما نه دی ليدلې چه هغوی دا عيب ګڼرلې وی او نه ئې ناخوښه کړې دی. دا حديث دارقطنی او نورو محدثينو نقل کړې دې او د دې اسناد ضعيف دې.

(٩٢٠) وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ سَلَمَةَ قَالَ: صَلّٰى بِنَا عَبْدُاللّٰهِ يَعْنِي ابْنَ مَسْعُوْدٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ الْجُمُعَةَ ضُحًى وَّقَالَ خَشِيْتُ عَلَـــيْكُمُ الْحَرَّ۔ رَوَاهُ اَبُوْبَكْرِ بْنُ اَبِيْ شَيْبَةَ وَاِسْنَادُهٗ لَـــيْسَ بِالْقَوِيِّ۔

٩٢٠: عبدالله بن سلمه رحمه الله فرمائی : مونږ ته عبدالله يعنی ابن مسعود رضی الله عنه د غرمې نه مخکښې د جمعې مونځ راکړو او وې فرمائيل : زه په تاسو باندې د ګرمئ نه ويريږم. دا حديث ابوبکر بن ابی شيبة نقل کړې دې او د دې اسناد قوی نه دې.

(٩٢١) وَعَنْ سَعِيْدِ بْنِ سُوَيْدٍ قَالَ صَلّٰى بِنَا مُعَاوِيَةُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ الْجُمُعَةَ ضُحًى۔ رَوَاهُ اَبُوْبَكْرِ بْنُ اَبِيْ شَيْبَةَ وَسَعِيْدُ بْنُ سُوَيْدٍ ذَكَرَهُ ابْنُ عَدِيٍّ فِي الضُّعَفَـــآءِ۔

٩٢١: سعيد بن سويد فرمائی : سيدنا امير معاويه رضی الله عنه مونږ ته د ماسپخين نه مخکښې جمعه ادا اوفرمائيله.

(٩٢٢) وَعَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ كَانَ سَعْدٌ يَّقِيْلُ بَعْدَ الْجُمُعَةِ۔ رَوَاهُ اَبُوْبَكْرِ بْنُ اَبِيْ شَيْبَةَ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ وَّهٰذَا الْاَثَرُ لَا حُجَّةَ لَـــهُمْ فِيْهِ۔

٩٢٢: مصعب بن سعد فرمائی : سعد رضی الله عنه به د جمعې نه پس قيلوله کوله. دا حديث ابوبکر بن ابی شيبة نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې، په دې اثر کښې دهغوی (د زوال نه مخکښې د جمعې د قائلينو لپاره) هيڅ دليل نشته.

**تشریح**>(۹۱۵ نه ۹۲۲ پورې) د جمعې ادا کولو د صحت لپاره وخت شرط دې.

**بیان مذاهب**: ۱: جمهور علماء، صحابه کرام او تابعین او ائمة مذاهب د نمر د زوال نه مخکښې د جمعې د عدم جواز قائل دی د جمهورو په نزد د جمعې وخت هم هغه دې کوم چه د ماسپخین دې.

۲: د امام احمدؒ او بعض اهل ظاهر په نزد جمعه د زوال شمس نه مخکښې کول هم جائز دی د هغوی په نزد د ضحوه کبری نه مخکښې د جمعې د مانځه وخت شروع کیږی.

**د امام احمدؒ دلائل او ځوابات**: د دې باب غرض انعقاد هم د امام احمدؒ د مستدلاتو بیان دې.

۱: د باب اول روایت ۹۱۵ **عن سلمة بن الاکوع** نه امام احمد او ظاهریه استدلال کوی او وائی چه کله به مونږ د جمعې کولو نه پس واپس راتلو نو **﴿ ولیس للحیطان ظل نستظل به ﴾**..... احناف وائی چه د دې مطلب دا دې چه د مدینې منورې د وړو وړو دیوالونو به دومره سورې نه وو چه مونږ په هغې کښې لاړ شو پس د بخاری الفاظ **﴿ ثم ننصرف لیس للحیطان ظل نستظل به ﴾** او د مسلم په روایت **﴿ وما نجد فیئا نستظل به ﴾** او د شیخینو روایت **﴿ ثم نرجع نتبع الفیئ ﴾** نه معلومه شوه چه د مطلق سوری نفی نه ده مراد بلکه د دومره سوری نفی مراد ده چه په هغې کښې انسان لاړ شی.

۲: **عن سهل** ۹۱۲ (بخاری کتاب الجمعة ج ۱ ص ۱۲۸) هم د قبل الزول د جمعې د قائلینو مستدل دې هغه داسې چه د خوراک او د قیلولې وخت چونکه قبل از زوال وی لهذا معلومه شوه چه هغوی به جمعه هم قبل الزوال ادا کوله.

علماء احناف د دې په ځواب کښې وائی لفظ **غداء** اګر چه په لغت کښې د زوال نه مخکښې خوارک کولو ته وائی خو د زوال نه پس د غرمې په ډوډئ باندې توسعا بلکه عرفا د **غداء** اطلاق کیږی د دې مثال د رسول اللهﷺ ارشاد هم دې کوم چه هغوی د پیشمنی په باره کښې فرمائیلې دې **﴿ هلموا الی الغداء المبارک ﴾** خو د دې نه دا استدلال بالکل صحیح نه دې چه پیشمنې به د نمر د راختلو نه پس کولې شو. حافظ ابن حجرؒ لیکلې دی چه په دې کښې د قبل الزوال مونځ کولو هیڅ موقع نشته ځکه چه هغوی خو دا بیانوی چه د مانځه نه مخکښې د جمعې تیاری، جلوس فی المسجد، انتظار د مانځه او بیا د مانځه ادا کولو په سبب د هغوی د روزانه معمول د زوال نه مخکښې د طعام او قیلولې کولو بدل شی، بلکه علامه زین بن المنیر خو دا دعوی هم کړې ده چه د هغوی د دې خبرې نه د جمعې د مانځه بعد الزوال ثبوت راځی ځکه چه عادة هغوی روزانه د زوال نه مخکښې د خوراک نه پس قیلوله کوله، او خاص د جمعې د ورځې متعلق صحابی دا خبر ورکړو چه مونږ به د جمعې لپاره د تیارئ او مشغولتیا د وجې نه طعام او قیلولة موخر کوله.

د سیدنا انس رضی الله عنه روایت ۹۱۷ بخاري ج ۱ ص ۱۲۸، مسند احمد ج ۳ ص ۲۳۷ ځواب هم هغه دې کوم چه ددې نه په مخکښې روایت کښې عرض کړې شوې دې.د ﴿ **جعفر عن ابيه** ﴾ روایت ۹۱۸ مسلم ج ۱ ص ۳۸۳ په ځواب کښې امام نووی رحمه الله فرمائی.

۳: **عبدالله بن السيدان السلمی** روایت ۹۱۹ (دارقطنی ج ۲ ص ۱۷ **باب الصلاة الجمعة قبل نصف النهار**) هم د امام احمد رحمه الله مستدل دې علماء احناف په ځواب کښې وائی چه په دې روایت کښې عبدالله بن سیدان غیر معروف العدالة دې قال النووی فی الخلاصة **اتفقوا علی ضعف ابن سيدان**، مصنف فرمائی: **اسناده ضعيف**.... امام زیلعی رحمه الله په نصب الراية ج ۲ ص ۱۹۶ کښې لیکی **هو حديث ضعيف**.

۴: روایت ۹۲۰ د **عن عبدالله بن سلمة** (مصنف ابن ابی شیبة ج ۲ ص ۱۰۷) په ځواب کښې علماء احناف وائی چه د عبدالله بن سلمة نه علاوه د سعید بن سوید په طریقه روایت (۹۲۱) دې چه په هغې کښې د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه په ځائې د معاویه رضی الله عنه ذکر دې د دې نه مخکښې روایت کښې عبدالله بن سلمة اګر چه صدوق دې خو په آخر عمر کښې د هغوی حافظه متغیر شوې وه او سعید بن سوید ابن عدی په ضعفاء کښې شمار کړې دې.

باقی پاتې شو روایت (۹۲۲) مصنف ابن ابی شیبة ج ۲ ص ۱۰۶ نو د هغې ځواب هم ذکر شوې دې مصنف رحمه الله فرمائی: **وهذا الاثر لا حجة لهم فيه.**

## بَابٌ فِي التَّجْمِيعِ بَعْدَ الزَّوَالِ

(۹۲۳) **عَنْ عَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قُلْتُ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ أَخْبِرْنِي عَنِ الصَّلٰوةِ قَالَ صَلِّ صَلٰوةَ الصُّبْحِ ثُمَّ أَقْصِرْ عَنِ الصَّلٰوةِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ وَتَرْتَفِعَ فَإِنَّهَا تَطْلُعُ بَيْنَ قَرْنَيْ شَيْطٰنٍ وَّحِيْنَئِذٍ يَسْجُدُ لَهَا الْكُفَّارُ ثُمَّ صَلِّ فَإِنَّ الصَّلٰوةَ مَشْهُوْدَةٌ مَّحْضُوْرَةٌ حَتّٰى يَسْتَقِلَّ الظِّلُّ بِالرُّمْحِ ثُمَّ أَقْصِرْ عَنِ الصَّلٰوةِ فَإِنَّ حِيْنَئِذٍ تُسْجَرُ جَهَنَّمُ فَإِذَا أَقْبَلَ الْفَيْئُ فَصَلِّ فَإِنَّ الصَّلٰوةَ مَشْهُوْدَةٌ مَّحْضُوْرَةٌ حَتّٰى تُصَلِّيَ الْعَصْرَ الْحَدِيْثَ۔ رَوَاهُ أَحْمَدُ وَمُسْلِمٌ وَّآخَرُوْنَ۔**

**باب د زوال نه پس جمعه ادا کول:** ۹۲۳: سیدنا عمرو بن عبسه رضی الله عنه فرمائی ما عرض اوکړو یا نبی الله صلی الله علیه وسلم! ماته د مانځه په باره کښې بیان اوکړئ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: د صبا مونځ کوئ، بیا د مانځه نه بند شئ، تردې چه نمر راوخیژی او اوچت شی، بیشکه هغه د شیطان د دوه ښکرو ترمینځه راخیژی او هغه وخت هغه ته کفار سجده کوی، بیا مونځ کوئ، بیشکه د دې وخت مونځ ګواهی ورکړې شوې، حاضر کړې شوې (مقبول) دې. تر دې چه سورې د نیزې نه کم شی (یعنی د هر

ځیز سورې کم از کم شی او دا اصلی سورې دې) بیا د مانځه نه بند شئ، بیشکه په دې وخت کښې جهنم بلولې شی، پس چه کله سورې زائل شی، نو مونځ کوئ، بیشکه مونځ ګواهی ورکړې شوې او حاضر کړې شوې (مقبول) دې، تردې چه تاسو د مازیګر مونځ اوکړئ. د حدیث د آخره پورې ئې بیان کړو. دا حدیث احمد، مسلم او نورو محدثینو نقل کړې دې.

(۹۲۴) وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَقْتُ الظُّهْرِ اِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ وَكَانَ ظِلُّ الرَّجُلِ كَطُوْلِهٖ مَا لَمْ تَحْضُرِ الْعَصْرُ اَلْحَدِيْثُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

۹۲۴: د سیدنا عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: د ماسپخین وخت (دې چه کله نمر زائل شی) او د سړی سورې د هغه د قد هومره شی، د مازیګر د وخت راتلو پورې دې. دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

(۹۲۵) وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِاللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ سَأَلَ رَجُلٌ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ وَقْتِ الصَّلٰوةِ فَلَمَّا دَلَكَتِ الشَّمْسُ اَذَّنَ بِلَالٌ نِ الظُّهْرَ فَاَمَرَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَقَامَ الصَّلٰوةَ اَلْحَدِيْثَ. اَخْرَجَهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْاَوْسَطِ وَقَالَ الْهَيْثَمِيُّ اِسْنَادُهٗ حَسَنٌ.

۹۲۵: سیدنا جابر بن عبدالله رضی الله عنهما فرمائی: یو سړی د رسول الله ﷺ نه د مانځه په باره کښې پوښتنه اوکړه، پس کله چه نمر پریوتلو او بلال رضی الله عنه د ماسپخین اذان اوکړو، نو رسول الله ﷺ هغوی ته اوفرمائیل نو هغوی دمانځه لپاره اقامت اوکړو. تر آخره پورې ئې حدیث بیان کړو.
دا حدیث طبرانی په اوسط کښې نقل کړې دې، هیثمی رحمه الله فرمائی: د دې اسناد حسن دې.

(۹۲۶) وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْاَكْوَعِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا نُجَمِّعُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ ثُمَّ نَرْجِعُ نَتَتَبَّعُ الْفَيْئَ. رَوَاهُ الشَّيْخَانِ.

۹۲۶: سیدنا سلمة بن الاکوع رضی الله عنه فرمائی: مونږ به د رسول الله ﷺ ښخه جمعه ادا کوله چه کله به نمر زائل شو، بیا په مونږ سورې لټولو ښخه واپس شو (یعنی چیرته به د یو دیوال سورې وو، په هغې کښې به مو د تلو کوشش کولو) دا حدیث شیخین نقل کړې دې.

(۹۲۷) وَعَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي الْجُمُعَةَ حِيْنَ تَمِيْلُ الشَّمْسُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

۹۲۷: د انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ به کله نمر پریوتلو نو جمعه به ئې ادا فرمائیله. دا حدیث بخاری نقل کړې دې.

(۹۲۸) وَعَنْ جَابِرٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ صَلَّى الْجُمُعَةَ فَنَرْجِعُ وَمَا نَجِدُ فَيْئًا نَّسْتَظِلُّ بِهٖ۔ رَوَاهُ الطَّبْرَانِيُّ فِي الْاَوْسَطِ وَقَالَ فِي التَّلْخِيْصِ اِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

۹۲۸: سیدنا جابر رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ به چه کله نمر زائل شو، نو جمعه به ئې ادا فرمائیله، مونږ چه به واپس راغلو نو مونږ ته به سورې نه ملاویدو چه په هغې کښې مونږ تلې شو.

دا حدیث طبرانی په اوسط کښې نقل کړې دې او (ابن حجر رحمه الله) په تلخیص کښې وائی چه د دې اسناد حسن دې.

(۹۲۹) وَعَنْ مَّالِكِ بْنِ اَبِيْ عَامِرٍ اَنَّهٗ قَالَ اَرٰى طَنْفَسَةً لِّعَقِيْلِ بْنِ اَبِيْ طَالِبٍ يَّوْمَ الْجُمُعَةِ تُطْرَحُ اِلٰى جِدَارِ الْمَسْجِدِ فَاِذَا غَشِيَ الطَّنْفَسَةَ كُلَّهَا ظِلُّ الْجِدَارِ خَرَجَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فَصَلَّى الْجُمُعَةَ قَالَ ثُمَّ نَرْجِعُ بَعْدَ صَلٰوةِ الْجُمُعَةِ فَنَقِيْلُ قَائِلَةَ الضُّحٰى۔ رَوَاهُ مَالِكٌ فِي الْمُوَطَّا وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

مالك بن ابی عامر اووئیل: ما دجمعې په ورځ د حضرت عقیل بن ابی طالب رضی الله عنه څادر اولیده چه هغه د جمات دیوال طرف ته اچولې شو، پس کله چه به ټول څادر لره د دیوال سوری پټ کړو، نوحضرت عمربن الخطاب رضی الله عنه به (د کور نه) راوتلو د جمعې مونځ به ئې کولو، مالك بن ابی عامر اووئیل، بیا مونږ د جمعې د مانځه نه روسته واپس راغلو اود غرمې قیلوله مو اوکړه، دا حدیث مالك په مؤطا کښې نقل کړې دې او ددې اسناد صحیح دې.

(۹۳۰) وَعَنْ اَبِي الْعَنْبَسِ عَمْرِو بْنِ مَرْوَانَ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ كُنَّا نُجَمِّعُ مَعَ عَلِيٍّ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ۔ رَوَاهُ اَبُوْبَكْرِ بْنُ اَبِيْ شَيْبَةَ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

۹۳۰: ابو العنبس عمرو بن مروان د خپل پلار نه روایت کوی چه هغوی اووې: چه کله به نمر زائل شو نو مونږ به د علی رضی الله عنه څخه جمعه ادا کوله. دا حدیث ابوبکر بن ابی شیبة نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

**تشریح**>(۹۲۳ نه ۹۳۰ پورې) جمهور اهل اسلام فرمائی چه جمعه د زوال نه مخکښې جائز نه ده. د امام احمد رحمه الله نه روایت دې چه که چا د زوال نه مخکښې هم اوکړه نو جائز ده په هغه باندې قضاء نشته. امام نووی رحمه الله په شرح مسلم ج ۱ ص ۲۸۳ کښې لیکی: قَالَ مَالِكٌ وَاَبُوْ حَنِيْفَةَ وَالشَّافِعِيُّ وَجَمَاهِيْرُ الْعُلَمَاءِ مِنَ الصَّحَابَةِ وَالتَّابِعِيْنَ وَمَنْ بَعْدَهُمْ: لَا تَجُوْزُ الْجُمُعَةُ اِلَّا بَعْدَ زَوَالِ الشَّمْسِ. او مشهور فقیه علامه حلبی رحمه الله په کبیری ص ۶۰۳ کښې لیکی: وهو المتوارث من لدن النبی ﷺ الی یومنا هذا وهو قول الجمهور من الصحابة والتابعین فمن بعدهم ... امام شافعی رحمه الله په کتاب الام ج ۱ ص ۱۷۲ کښې لیکی: لا اختلاف عند احد لقیته، ان لا تصلی الجمعة حتی تزول الشمس. امام شعرانی رحمه الله په میزان الکبری ج ۱

ص ٢٤٤) کښې ليکي : قول الائمة الثلاثة انه لا تصح الجمعة الا فی وقت الظهر. امام ترمذی رحمه الله ليکي : وقال احمد ومن صلاها قبل الزوال فانه لم ير عليه اعادة.

**د جمهورو دلائل:** د دې باب ټول روايات د جمهورو قوی مستدل دې.

١: د دې باب اول روايت ٩٢٣ د عمرو بن عبسه رضي الله عنه نه روايت دې کوم چه مسند احمد ج ٣ ص ١١١ او مسلم ج ١ ص ٢٧٦ کښې نقل کړې شوې دې چه په هغې کښې دی ﴿ فاذا اقبل الفئ فصل ﴾ او دويم روايت مسلم ج ١ ص ٢٢٣ کښې د ماسپخين د وخت ﴿ اذا زالت الشمس ﴾ تصريح ده او دا مخکښې تير شو چه د جمعې د ورځې وخت هم هغه دې کوم چه د ماسپخين د مانځه دې هم دغه شان روايت ٩٢٥ د عن جابر بن عبدالله مدلول هم واضح دې کوم چه په مجمع الزوائد ج ١ ص ٣٠٤ کښې نقل کړې شوې دې.

٢: روايت ٩٢٦ عن سلمة بن الاکوع (مسلم ج ١ ص ٢٨٣) کښې تصريح ده چه کله به نمر زائل شو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به جمعه ادا فرمائيله.

٣: د انس رضي الله عنه روايت ٩٢٧ (بخاری ج ١ ص ١٢٣) کښې د ﴿ حين نميل الشمس ﴾ (چه کله به نمر زائل شو) تصريح ده.

۴: جابر رضي الله عنه روايت ٩٢٨ کوم چه په التلخيص الخبير ج ٢ ص ٥٩ د مالک بن ابی عامر روايت ٩٢٩ کوم چه په موطاء امام مالک ص ۶ ... د ابوالقيس عمرو بن مروان روايت ٩٣٠ کوم چه مصنف ابن ابی شيبة ج ٢ ص ١٠٨ کښې نقل کړې شوې دې کښې دا تصريح ده چه جمعه پس د زوال نه د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د صحابه کرامو رضي الله عنهم معمول وه.

## بَابُ الْأَذَانَيْنِ لِلْجُمُعَةِ

(٩٣١) عَنِ السَّآئِبِ بْنِ يَزِيْدَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَقُوْلُ: اَنَّ الْاَذَانَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ كَانَ اَوَّلُـهُ حِيْنَ يَجْلِسُ الْاِمَامُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ عَلَى الْمِنْبَرِ فِيْ عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَبِيْ بَكْرٍ وَّعُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا فَلَمَّا كَانَ فِيْ خِلَافَةِ عُثْمَانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَكَثُرُوْا اَمَرَ عُثْمَانُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ بِالْاَذَانِ الثَّالِثِ فَاُذِّنَ بِهٖ عَلَى الزَّوْرَآءِ فَثَبَتَ الْاَمْرُ عَلٰى ذٰلِكَ ـ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَالنَّسَآئِيُّ وَاَبُوْدَاوٗدَ.

---

**باب د جمعې لپاره دوه اذانونه:** ٩٣١: سيدنا سائب بن يزيد رضي الله عنه فرمائي: بيشکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم، ابوبکر او عمر رضي الله عنهما په زمانه کښې به د جمعې اول آذان هغه وخت کيدلو چه کله به امام په منبر باندې کيناستلو، پس چه کله د عثمان رضي الله عنه د خلافت زمانه راغله او خلق زيات شو. سيدنا عثمان رضي الله عنه

د جمعې په ورځ باندې د دريم اذان په باره کښې اوفرمائيل نو په زوراء باندې اذان اوکړې شو، نو دا معامله په دې باندې مضبوطه شوه. دا حديث بخاري، نسائی او ابوداؤد نقل کړې دې.

**تشريح:** (۹۳۱): د سائب بن يزيد رضي الله عنه دا روايت بخاري ج ۱ ص ۱۲٤، نسائی ج ۱ ص ۲۰۷ کښې نقل کړې شوې دې د تحت اللفظ ترجمې نه مضمون د حديث واضح دې نور وضاحت دا دې چه:

د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې د جمعې د آذان په سلسله کښې دا معمول وو چه کله به هغوی د جمعې د مانځه لپاره تشريف راوړلو او په منبر باندې به کيناستل نو اذان به کولې شو. د جمعې اول آذان کوم چه د مانځه د وخت شروع کيدو نه پس کولې شی هغه وخت نه وو مقرر. د زمانه رسالت نه پس د ابوبکر او عمر رضي الله عنهما د خلافت معمول هم دا پاتې شو. خو چه کله سيدنا عثمان رضي الله عنه خليفه شو او هغوی اوکتل چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې مسلمانان په تعداد کښې کم وو او هغوی هم مسجد ته نزدې اوسيدل بلکه اکثر مسلمانان خو به هر وخت په دربار رسالت کښې حاضر وو او اوس نه صرف دا چه د مسلمانانو تعداد هم ډير زيات شوې دې بلکه اکثر مسلمانان د مسجد نه په لرې لرې علاقو کښې اوسيدل او په خپلو خپلو کاروبارونو کښې به مشغول وو نو هغوی دا مناسب اوګڼړله چه کله د مانځهٔ وخت شی نو آذان دې اوکړې شی چه کوم خلق په لرې علاقو کښې اوسيږی هغوی هم په خطبه کښې حاضر شی. دغه شان د هغه زمانې نه اذان اول وئيل شروع شو. لهذا د درې آذان نه مراد هم دا اول اذان دې چه په حديث کښې دې ته دريم آذان وئيلې شوې دې په دې وجه چه اګر که دا آذان د وقوع په اعتبار څخه اول دې چه د ټول نه مخکښې وئيلې شی خو د رسول الله ﷺ په زمانه کښې چونکه په مقرر شده دوه اذانونو (يعنی يو خو هغه آذان کوم چه د خطبې په وخت وئيلې شی او د دويم اقامت) نه پس دا آذان مقرر شو په دې وجه دې ته دريم اذان وئيلې شی.بهرحال هغه اذان کوم چه د جمعې د مانځه لپاره د ټول نه اول کولې شی سيدنا عثمان رضي الله عنه مقرر کړې دې او هغه هم سنت دې هغې ته به بدعت نه شی وئيلې ځکه چه د خلفاء راشدينو فعل او د هغوی مقرر کړې شوې طريقه هم په سنت کښې شماريږی.

اوس خو غالبا په يو ځائې کښې هم دا طريقه رائج نه ده خو مخکښې به په بعض مقاماتو کښې د سنت کولو په وخت يو بل اذان کولې شو کوم چه نه خو د رسول الله ﷺ په زمانه کښې وو او نه د صحابه کرامو او تابعينو په زمانه مقرر شوې وو او نه په اکثر مسلمان ملکونو او ښهرونو کښې دغه وخت آذان وئيلې شو معلومه نه ده چه چا دا بدعت جاری کړې وو. علماء کرامو ليکلې دی چه د جمعې د مانځه لپاره چه د اول اذان کيدو نه پس اخستل خرڅول (يا هر څه دنياوی مشغوليت) حراميږی او د جمعې په مانځه کښې د زر رارسيدلو لپاره د هغې په تياريانو او اهتمام کښې مشغول کيدل واجب کيږی.

## بَابُ التَّأْذِيْنِ عِنْدَ الْخُطْبَةِ عَلٰى بَابِ الْمَسْجِدِ

(۹۳۲) عَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيْدَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ يُؤَذَّنُ بَيْنَ يَدَيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَلَسَ عَلَى الْمِنْبَرِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ عَلٰى بَابِ الْمَسْجِدِ وَأَبِيْ بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَعُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ رَوَاهُ أَبُوْ دَاوٗدَ۔ قَالَ النِّيْمَوِيُّ عَلٰى بَابِ الْمَسْجِدِ غَيْرُ مَحْفُوْظٍ۔

**باب: د خطبې په وخت د مسجد په دروازه باندې اذان کول:**

۹۳۲ : سیدنا سائب بن یزید ﷛ فرمائی : رسول الله ﷺ به چه کله د جمعې په ورځ باندې په منبر باندې تشریف فرما شو، نو د هغوی مخکښې به د مسجد په دروازه باندې اذان کولې شو، د ابوبکر او عمر ﷠ په زمانه کښې هم دغه شان وه. دا حدیث ابوداؤد نقل کړې دې. نیموی وائی د "مسجد په دروازه باندې" الفاظ محفوظ نه دی.

**تشریح>**(۹۳۲) : د سائب بن یزید د دې روایت ابوداؤد ج ۱ ص ۱۵۵ نه معلومیږی چه کله خطیب په منبر باندې کینی نو مؤذن دې د هغوی مخکښې په دروازه باندې اذان اوکړی خو امام نیموی ﷫ فرمائی ﴿ على باب المسجد ﴾ غیر محفوظ دې.

## بَابُ مَا يَدُلُّ عَلَى التَّأْذِيْنِ عِنْدَ الْخُطْبَةِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ عِنْدَ الْإِمَامِ

(۹۳۳) عَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيْدَ قَالَ كَانَ بِلَالٌ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يُؤَذِّنُ إِذَا جَلَسَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَإِذَا نَزَلَ أَقَامَ ثُمَّ كَانَ كَذٰلِكَ فِيْ أَبِيْ بَكْرٍ وَعُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا۔ رَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَأَحْمَدُ وَإِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

**باب: کوم روایت چه په دې باندې دلالت کوی چه د جمعې په ورځ باندې د خطبې په وخت د امام په خوا کښې اذان اوکړې شی:** ۹۳۳: سیدنا سائب بن یزید ﷛ فرمائی : د جمعې په ورځ باندې به رسول الله ﷺ په منبر باندې تشریف فرما شو نو بلال ﷛ به اذان کولو، بیا به ئې چه کله لاندې تشریف راوړلو، نو اقامت به ئې کولو، بیا هم دغه شان د ابوبکر او عمر ﷠ په زمانه کښې هم وو. دا حدیث نسائی او احمد نقل کړې دې او ددې اسناد صحیح دې.

**تشریح>** (۹۳۳) : د سائب بن یزید ﷛ دا روایت (نسائی کتاب الجمعة ج ۱ ص ۲۰۷) صحیح دې واسناده صحیح .... صاحب هدایة فرمائی ﴿ وبذلک جرى التوارث ﴾ هم په دې باندې توارث جاری دې.

## بَابُ النَّهْيِ عَنِ التَّفْرِيْقِ وَالتَّخَطِّيْ

(۹۳۴) عَنْ سَلْمَانَ الْفَارِسِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَتَطَهَّرَ بِمَا اسْتَطَاعَ مِنْ طُهْرٍ ثُمَّ ادَّهَنَ اَوْمَسَّ مِنْ طِيْبٍ ثُمَّ رَاحَ فَلَمْ يُفَرِّقْ بَيْنَ اثْنَيْنِ فَصَلّٰى مَاكُتِبَ لَهٗ ثُمَّ اِذَا خَرَجَ الْاِمَامُ اَنْصَتَ غُفِرَ لَهٗ مَابَيْنَهٗ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ الْاُخْرٰى۔ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ۔

**باب: د خلقو د جدا كولو او په هغوى باندې د اوختلو ممانعت:** ۹۳۴: سيدنا سلمان فارسی رضي الله عنه فرمائی، رسول اللهﷺ اوفرمائيل: كوم سړی چه د جمعې په ورځ باندې غسل اوكړو، او په پاكيدلو كښې ئې په قدر د استطاعت پاكی حاصله كړه، بيا ئې تيل اولګول يا ئې خوشبوئی اولګوله بيا روان شو، (د جمعې لپاره) دوه (يو ځائې ناست) كسانو (كښې ننوتلو څخه ئې هغوی) جدا نه كړل. او كوم مونځ چه د دې لپاره فرض كړې شوې دې هغه ئې اوكړو، بيا چه كله امام راوتلو، نو هغه خاموش پاتې شو، د هغه ګناهونه به اوبخښلې شی، كوم چه د دې جمعې نه تر تيرې جمعې پورې شوې دی. دا حديث بخاری نقل كړې دې.

(۹۳۵) وَعَنْ اَبِي الزَّاهِرِيَّةِ قَالَ كُنْتُ مَعَ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ بُسْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ صَاحِبِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَجَآءَ رَجُلٌ يَتَخَطّٰى رِقَابَ النَّاسِ فَقَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ بُسْرٍ جَآءَ رَجُلٌ يَتَخَطّٰى رِقَابَ النَّاسِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اجْلِسْ فَقَدْ اٰذَيْتَ۔ رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَآئِيُّ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

**۹۳۵:** ابو الزاهريه فرمائی: زه د جمعې په ورځ د رسول اللهﷺ د صحابی عبد الله بن بسر رضي الله عنه څخه اوم چه يو سړې د خلقو په سټونو باندې اوختلو څخه راغلو، عبد الله بن بسر رضي الله عنه اوفرمائيل: د جمعې په ورځ باندې رسول اللهﷺ خطبه ارشاد فرمائيله چه يو سړې د خلقو په سټونو باندې اوختلو څخه راغلو نو رسول اللهﷺ اوفرمائيل: كينه! تا (خلقو ته) تكليف وركړو.

دا حديث ابو داوٗد نقل كړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(۹۳۴ او ۹۳۵) د باب اول روايت (بخاری ج ۱ ص ۱۲٤) نه منقول دې چه د هغې تشريح په تيرو ابوابو كښې كړې شوې ده د دويم روايت مضمون د تحت اللفظ ترجمې نه مدلول دې كوم چه ابوداؤد ج ۱ ص ۱۵۹. نسائی ج ۱ ص ۲۰۷ نه نقل كړې شوې دې.

د تخطئ رقاب په مكروه كيدو باندې د جمهورو اتفاق دې بعضو دې ته مكروه تحريمی او بعضو ورته مكروه تنزيهی وئيلي دې قول اول راجح دې خو د امام لپاره د تخطئ ګنجائش شته.

## بَـابُ السُّنَّةِ قَبْلَ صَلٰوةِ الْجُمُعَةِ وَبَعْدَهَا

(۹۳۶) عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ اغْتَسَلَ ثُمَّ اَتَى الْجُمُعَةَ فَصَلّٰى مَا قُدِّرَ لَهٗ ثُمَّ اَنْصَتَ حَتّٰى يَفْرُغَ مِنْ خُطْبَتِهٖ ثُمَّ يُصَلِّیْ مَعَهٗ غُفِرَ لَهٗ مَا بَيْنَهٗ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ الْاُخْرٰى وَفَضْلَ ثَلَاثَةِ اَيَّامٍ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

**باب: د جمعې د مانځه نه مخکښې او روستو سنت:** ۹۳۶: د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: کوم سړی چه غسل اوکړو، بیا د جمعې لپاره راغلو او څومره چه د هغه مقدر وو مونځ ئې اوکړو، بیا د امام د خپلې خطبې نه فارغ کیدو پورې خاموش وو، بیا ئې د امام څخه مونځ اوکړو، نو د هغه ګناهونه به اوبخښلې شی، د دې جمعې نه بلې جمعې پورې او د درې ورځو زیاتې، دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

(۹۳۷) وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ مِنْكُمْ مُصَلِّيًا بَعْدَ الْجُمُعَةِ فَلْيُصَلِّ اَرْبَعًا۔ رَوَاهُ الْجَمَاعَةُ اِلَّا الْبُخَارِیَّ۔

۹۳۷: سیدنا ابوهریرة رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل په تاسو کښې چه څوک د جمعې نه پس مونځ کول غواړی نو هغه له پکار دی چه څلور رکعتونه ادا کړی.

دا حدیث د بخاری نه علاوه د محدثینو جماعت نقل کړې دې.

(۹۳۸) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّیْ بَعْدَ الْجُمُعَةِ رَكْعَتَيْنِ۔ رَوَاهُ الْجَمَاعَةُ۔

۹۳۸: د عبد الله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دې چه رسول الله ﷺ د جمعې نه پس دوه رکعتونه ادا فرمائیلې دی. دا حدیث د محدثینو جماعت نقل کړې دې.

(۹۳۹) وَعَنْ عَطَآءٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ اِذَا كَانَ بِمَكَّةَ فَصَلَّى الْجُمُعَةَ تَقَدَّمَ فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ تَقَدَّمَ فَصَلّٰى اَرْبَعًا وَّاِذَا كَانَ بِالْمَدِيْنَةِ صَلَّى الْجُمُعَةَ ثُمَّ رَجَعَ اِلٰى بَيْتِهٖ فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ وَلَمْ يُصَلِّ فِی الْمَسْجِدِ فَقِيْلَ لَهٗ فَقَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُ ذٰلِكَ۔ رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَقَالَ الْعِرَاقِیُّ اِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۹۳۹: د عطاء نه روایت دې چه سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما اوفرمائیل: چه کله هغوی په مکه مکرمه کښې وو. د جمعې د مونځ کولو نه پس مخکښې شو او دوه رکعتونه ئې اوکړل، بیا وړاندې شو او څلور رکعتونه ئې ادا کړل، او کله چه په مدینه منوره کښې وو او جمعه ئې اوکړه، نو کور ته واپس شو

او دوه رکعتونه ئې او کړل او په مسجد کښې ئې (سنت يا نفل) او نه کړل، هغوی ته اوئيلې شو چه ناسو داسې ولې اوکړل نو هغوی اوفرمائيل: رسول الله ﷺ به هم دغه شان کول.

دا حديث ابوداؤد نقل کړې دې او عراقی وائی د دې اسناد صحيح دې.

(۹۴۰) وَعَنْ جَبَلَةَ بْنِ سُحَيْمٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّهُ كَانَ يُصَلِّيْ قَبْلَ الْجُمُعَةِ أَرْبَعًا لَا يَفْصِلُ بَيْنَهُنَّ بِسَلَامٍ ثُمَّ بَعْدَ الْجُمُعَةِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ أَرْبَعًا. رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

۹۴۰: جبله بن سحيم د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت کړې دې چه هغوی (ابن عمر رضي الله عنهما) به د جمعې نه مخکښې څلور رکعتونه ادا کول او د هغې ترمينځه به ئې په سلام څخه فاصله نه نرمائيله، بيا به ئې د جمعې نه پس دوه رکعتونه او بيا څلور رکعتونه ادا کول. دا حديث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(۹۴۱) وَعَنْ خَرَشَةَ بْنِ الْحُرِّ أَنَّ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كَانَ يَكْرَهُ أَنْ يُصَلِّيَ بَعْدَ صَلٰوةِ الْجُمُعَةِ مِثْلَهَا. رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

۹۴۱: د خرشه بن الحر نه روايت دې چه ابن عمر رضي الله عنهما به د جمعې نه پس د هغې په مثل مونځ کول ناخوښه ګڼړلو، دا حديث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(۹۴۲) وَعَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ قَيْسٍ أَنَّ ابْنَ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ صَلّٰى يَوْمَ الْجُمُعَةِ بَعْدَ مَا سَلَّمَ الْإِمَامُ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ. رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

۹۴۲: د علقمة بن قيس نه روايت دې چه عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د جمعې په ورځ باندې د امام د سلام اړولو نه پس څلور رکعته مونځ ادا کړو. داحديث طبرانی نقل کړې دې اوددې اسنادصحيح دې.

(۹۴۳) وَعَنْ أَبِيْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ السُّلَمِيِّ قَالَ: كَانَ عَبْدُ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَأْمُرُنَا أَنْ نُصَلِّيَ قَبْلَ الْجُمُعَةِ أَرْبَعًا. رَوَاهُ عَبْدُ الرَّزَّاقِ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

۹۴۳: ابو عبدالرحمٰن السلمی فرمائی: عبدالله بن مسعود رضي الله عنه به مونږ ته حکم کولو: چه مونږ د جمعې نه مخکښې څلور رکعته ادا کړو. داحديث عبدالرزاق نقل کړې دې او ددې اسنادصحيح دې.

(۹۴۴) وَعَنْهُ قَالَ عَلَّمَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ النَّاسَ أَنْ يُصَلُّوْا بَعْدَ الْجُمُعَةِ أَرْبَعًا فَلَمَّا جَاءَ عَلِيُّ ابْنُ أَبِيْ طَالِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَلَّمَهُمْ أَنْ يُصَلُّوْا سِتًّا. رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

۹۴۴: ابو عبدالرحمٰن السلمی فرمائی: عبدالله بن مسعود رضي الله عنه خلقو ته اوښودل چه د جمعې نه پس څلور رکعتونه ادا کړی بيا چه کله د هغوی نه پس سيدنا علی رضي الله عنه راغلو نو هغوی خلقو ته اوښودل چه څلور رکعتونه ادا کوئ. دا حديث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(۹۴۵) وَعَنْهُ قَالَ قَدِمَ عَلَيْنَا عَبْدُ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَكَانَ يُصَلِّيْ بَعْدَ الْجُمُعَةِ أَرْبَعًا فَقَدِمَ بَعْدَهُ عَلِيٌّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَكَانَ إِذَا صَلَّى الْجُمُعَةَ صَلّٰى بَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ وَأَرْبَعًا فَأَعْجَبَنَا فِعْلُ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَاخْتَرْنَاهُ. رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

۹۴۵: ابو عبدالرحمن فرمائي: سيدنا عبد الله بن مسعود ﷛ مونږ ته راغلو نو هغوی به د جمعې نه پس څلور رکعتونه ادا فرمائيل، د هغوی نه پس علی ﷛ راغلو نو او هغوی به چه د جمعې مونځ اوکړو نو دهغې نه پس دوه رکعته او څلور به ئې ادا کول، نو مونږ ته د علی ﷛ عمل خوښ شو، نو مونږ هغه اختيار کړو. دا حديث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(۹۴۶) وَعَنْهُ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ مَنْ كَانَ مُصَلِّيًا[۷] بَعْدَ الْجُمُعَةِ فَلْيُصَلِّ سِتًّا. رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

۹۴۶: د ابوعبدالرحمن السلمی نه روايت دې چه سيدنا علی ﷛ اوفرمائيل: کوم انسان چه د جمعې نه پس مونځ کوی، نو شپږ رکعتونه دې کوی. دا حديث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

**تشريح>** (۹۳۲ نه ۹۴۵ پورې) د جمعې د سنن قبليه او سنن بعديه په باره کښې اختلاف دې.

**بيان مذاهب:** هر چه د سنن قبليه تعلق دې: ۱: د احنافو په نزد د جمعې نه مخکښې څلور رکعته مسنون دی او اکثر ائمة هم د دې قائل دی.

۲: د شوافعو په نزد د جمعې نه مخکښې دوه رکعته کول مسنون دی.

۳: امام ابن تيمية د جمعې د مانځه نه مخکښې د سنن قطعی انکار کوی.

**سنن بعديه:** دې باره کښې دا اختلاف دې چه ۱: د امام شافعی او امام احمد ﷭ په نزد د جمعې د مانځه نه پس صرف دوه رکعتونه مسنون دی. ۲: د امام ابوحنيفه﷫ په نزد د جمعې د مانځه نه پس صرف څلور رکعته مسنون دی. ۳: د صاحبين په نزد د جمعې نه پس شپږ رکعتونه مسنون دی.

**دلائل:** ۱: د باب اول روايت ۹۳۲ د ابوهريره ﷛ نه روايت کړې شوې دې (مسلم ج ۱ ص ۲۸۳) په دې کښې د امام ابن تيمية﷫ د دعوې رد دې هم په دې روايت کښې د سنن قبليه ثبوت دې **( فصلّ ما قدر له )** امام ابن تيمية﷫ د سنن قبليه روايات په نوافل باندې محمول کوی او دا هم وائی چه رسول الله ﷺ به د جمعې لپاره راتلو نو خطبه به ئې شروع کوله خو د هغوی دا دعوی صحيح نه ده ځکه چه دا عين ممکن ده چه رسول الله ﷺ په کور کښې سنت کولو نه پس مسجد ته تشريف راوړلو.

۲: د باب دويم روايت (۹۳۷) د امام ابو حنيفهؒ مستدل دې چه په هغې كښې د ﴿ فليصل اربعا﴾ تصريح ده دا روايت مسلم ج ۱ ص ۳۸۸، ابوداؤد ج ۱ ص ۱۶۱ كښې نقل كړې شوې دې.

۳: روايت ۹۳۸ چه د هغې عبدالله بن عمرؓ راوى دې كوم چه مسلم ج ۱ ص ۲۸۸، بخارى ج ۱ ص ۱۲۸ كښې نقل كړې شوې دې په هغې كښې د (ركعتين بعد الجمعة) تصريح ده په مخكښې او دې روايت كښې تطبيق كولو څخه د صاحبينو د مسلک تائيد كيږى.

۴: روايت ۹۳۹ عن عطاء عن ابن عمر (ابوداؤد ج ۱ ص ۱۶۰) نه د احنافو مفتى به قول د سنن بعديه شپږ ركعتو تائيد كيږى. انه كان بمكة فصلى الجمعة تقدم فصلى ركعتين ثم تقدم فصلى اربعا قال الحاكم والذهبى صحيح على شرطهما.

۵: روايت ۹۴۰ عن جبلة بن سحيم عن عبدالله بن عمر (طحاوى ج ۱ ص ۱۳۱) كښې سنن قبليه څلور ركعتونه (عند الاحناف) او سنن بعديه شپږ ركعتونه (د احنافو مفتى به قول) صراحتا مدلول دې.

۶: روايت ۹۴۱ طحاوى ج ۱ ص ۲۳۲ او روايت ۹۴۲ د علقمه بن قيس نه هم په سنن بعديه كښې د امام ابو حنيفهؒ قول ثابت دې.

۷: روايت ۹۴۳ عن ابى عبدالرحمن السلمى (مصنف عبدالرزاق ج ۳ ص ۲۴۷) نه په سنن قبليه كښې د جمهورو مسلک ثابت دې.

۸: روايت ۹۴۴ عن ابى عبدالرحمن السلمى (طحاوى ج ۱ ص ۲۳۳) كښې په سنن بعديه كښې د صاحبين مفتى به قول ثابت دې روايت ۹۴۵ (طحاوى ج ۱ ص ۲۳۳) او روايت ۹۴۶ (طحاوى ج ۱ ص ۲۳۳) نه هم د صاحبين مفتى به قول ثابت دې.

## بَـابٌ فِى الْخُطْبَةِ

(۹۴۷) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ قَائِمًا ثُمَّ يَقْعُدُ ثُمَّ يَقُوْمُ كَمَا تَفْعَلُوْنَ الْاٰنَ. رَوَاهُ الْجَمَاعَةُ.

---

**باب: د خطبې په بيان كښې:** ۹۴۷: سيدنا ابن عمرؓ فرمائى: رسول الله ﷺ به په ولاړه باندې خطبه ارشاد فرمائيله، بيا به تشريف فرما شو، بيا به اودريدلو، لكه چه تاسو اوس كوئ. دا حديث د محدثينو جماعت نقل كړې دې.

(٩٤٨) وَعَنْهُ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ خُطْبَتَيْنِ يَقْعُدُ بَيْنَهُمَا۔ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ۔

٩٤٨: سيدنا ابن عمر رضی الله عنهما فرمائی: رسول الله ﷺ به دوه خطبې ارشاد فرمائيلې او د هغې ترمينځه به کيناستلو. دا حديث بخاری نقل کړې دې.

(٩٤٩) وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَتْ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُطْبَتَانِ يَجْلِسُ بَيْنَهُمَا يَقْرَأُ الْقُرْاٰنَ وَيُذَكِّرُ النَّاسَ۔ رَوَاهُ الْجَمَاعَةُ إِلَّا الْبُخَارِيَّ۔

٩٤٩: سيدنا جابر بن سمره رضی الله عنه فرمائی: د رسول الله ﷺ دوه خطبې وې د هغې ترمينځه به کيناستلو (په هغې کښې به ئې) د قرآن کريم تلاوت فرمائيلو او خلقو ته به ئې نصيحت کولو.
دا حديث د بخاری نه علاوه د محدثينو جماعت نقل کړې دې.

(٩٥٠) وَعَنْ سِمَاكٍ قَالَ أَنْبَأَنِيْ جَابِرٌ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَخْطُبُ قَائِمًا ثُمَّ يَجْلِسُ ثُمَّ يَقُوْمُ فَيَخْطُبُ قَائِمًا فَمَنْ نَبَّأَكَ أَنَّهُ كَانَ يَخْطُبُ جَالِسًا فَقَدْ كَذَبَ فَقَدْ وَاللّٰهِ صَلَّيْتُ مَعَهُ أَكْثَرَ مِنْ أَلْفَيْ صَلٰوةٍ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

٩٥٠: سماک رحمه الله فرمائی: ماته سيدنا جابر رضی الله عنه خبر راکړو چه رسول الله ﷺ به ولاړه خطبه ارشاد اوفرمائيله، بيا به کيناستلو، بيا به اودريدلو نو په ولاړه ولاړه به ئې خطبه ارشاد فرمائيله، پس کوم سړی چه تاته دا خبر درکړو چه رسول الله ﷺ به په ناسته خطبه ارشاد فرمائيله، يقينا هغه دروغ اوئيل. قسم په الله! يقينا ما هغوی څخه د دوه زرو نه زيات مونځونه ادا کړی دی.
دا حديث مسلم نقل کړې دې.

(٩٥١) وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: كُنْتُ أُصَلِّيْ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَانَتْ صَلٰوتُهُ قَصْدًا وَخُطْبَتُهُ قَصْدًا۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَآخَرُوْنَ۔

٩٥١: سيدنا جابر بن سمره رضی الله عنه فرمائی: ما به رسول الله ﷺ څخه مونځ ادا کولو، نو د هغوی مونځ او خطبه به درميانه وه. دا حديث مسلم او نورو محدثينو نقل کړې دې.

(٩٥٢) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِيْ أَوْفٰى رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُطِيْلُ الصَّلٰوةَ وَيَقْصُرُ الْخُطْبَةَ۔ رَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَإِسْنَادُهُ حَسَنٌ۔

٩٥٢: سيدنا عبدالله بن ابی اوفی رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ به مونځ اوږد او خطبه مختصر کوله. دا حديث نسائی نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۹۵۳) وَعَنِ الْحَكَمِ بْنِ حَزْنِ الْكُلَفِيِّ قَالَ: قَدِمْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَابِعَ سَبْعَةٍ أَوْتَاسِعَ تِسْعَةٍ فَلَبِثْنَا عِنْدَهُ أَيَّامًا شَهِدْنَا فِيهَا الْجُمُعَةَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ مُتَوَكِّئًا عَلَى قَوْسٍ أَوْقَالَ عَلَى عَصًا۔ رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُودَاوُدَ وَإِسْنَادُهُ حَسَنٌ۔

۹۵۳: حکم بن حزن الکلفی ﷛ فرمائی: زه رسول الله ﷺ ته حاضر شوم په داسې حال کښې چه زه په اووهٔ کښې اووم یا په نهو کښې نهم سړې ووم، نو مونږ هغوی څخه څو ورځې تیرې کړې، په دې (موده) کښې مونږ جمعې ته هم حاضر شو، نو رسول الله ﷺ په قوس یا ئې اوئیل چه په همسا باندې تکیه لګولو څخه (خطبه) ارشاد اوفرمائیله.

دا حدیث احمد او ابوداؤد نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۹۵۴) وَعَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ بَلَغَنَا أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَبْدَأُ فَيَجْلِسُ عَلَى الْمِنْبَرِ فَإِذَا سَكَتَ الْمُؤَذِّنُ قَامَ فَخَطَبَ الْخُطْبَةَ الْأُولَى ثُمَّ جَلَسَ شَيْئًا يَسِيرًا ثُمَّ قَامَ فَخَطَبَ الْخُطْبَةَ الثَّانِيَةَ حَتَّى إِذَا قَضَاهَا اسْتَغْفَرَ اللّٰهَ ثُمَّ نَزَلَ فَصَلَّى قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَكَانَ إِذَا قَامَ أَخَذَ عَصًا فَتَوَكَّأَ عَلَيْهَا وَهُوَ قَائِمٌ عَلَى الْمِنْبَرِ ثُمَّ كَانَ أَبُوبَكْرٍ الصِّدِّيقُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَعُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَعُثْمَانُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَفْعَلُونَ ذٰلِكَ۔ رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ فِي مَرَاسِيلِهِ وَهُوَ مُرْسَلٌ جَيِّدٌ۔

۹۵۴: ابن شهاب ﷫ فرمائی: مونږ ته دا خبره رارسیدلې ده چه رسول الله ﷺ به په شروع کښې په منبر باندې تشریف فرمائیلو. بیا چه به کله موذن (د اذان کولو نه پس) خاموش شو نو هغوی به اودریدل او خطبه به ئې ارشاد اوفرمائیله، بیا به ئې لږ ساعت تشریف کیخودلو، بیا به ئې اودریدلو څخه دویمه خطبه ارشاد فرمائیله، تردې چه کله به ئې هغه پوره اوفرمائیله نو استغفرالله به ئې وئیلې، بیا به ئې لاندې راتلو څخه مونځ ورکولو، ابن شهاب ﷫ فرمائی: او کله به چه رسول الله ﷺ اودریدلو نو په همسا باندې به ئې تکیه لګوله او په منبر باندې به اودریدلو، بیا سیدنا ابوبکرصدیق ﷛، عمرفاروق ﷛ او عثمان غنی ﷛ به هم دغه شان کول.

دا حدیث ابوداؤد په خپل مراسیل کښې نقل کړې دې او د دې اسناد مرسل جید دې.

**بیان مذاهب:** (۹۴۷ نه ۹۵۴) ۱: د امام ابوحنیفه ﷫ په نزد دوه خطبې مسنون دی او دهغې ترمینځه جلوس هم مسنون دې، دامام مالک، امام اوزاعی، امام اسحاق، ابوثور او ابن المنذر ﷭ مسلک هم دا دې. د امام احمد ﷫ نه هم یو روایت د جمهور مطابق دې.

۲: د امام شافعی ﷫ په نزد دوه خطبې فرض دی او دهغې ترمینځه جلوس هم فرض دې. د جمهور استدلال د ﴿ فاسعوا الی ذکر الله ﴾ د اطلاق نه دې پس د جمعې د مانځه لپاره چه کومه خطبه

شرط دې هغه د جمهورو په نزد په مطلق ذکر الله څخه ادا کیږي که په هر لفظ څخه وي، شوافع د رسول اللهﷺ د مواظبت نه استدلال کوي لکه چه د باب د اول روایت ۹۴۷ نه مدلول دې د ابن عمر رضي الله عنهما دې روایت لره امام بخاري په ج ۱ ص ۱۳۵ نه علاوه ټولو محدثینو نقل کړې دې، روایت ۹۴۸ هم د ابن عمر رضي الله عنهما نه مروي دې کوم چه امام بخاري رحمه الله په ج ۱ ص ۱٤۷ کښې نقل کړې دی، روایت ۹۴۹ عن جابر بن سمرة د بخاري نه علاوه جماعت (مسلم ج ۱ ص ۲۸۳، ترمذی ج ۱ ص ۱۱۳ وغیره) کښې نقل کړې دې روایت (۹۵۰) عن سماک مسلم ج ۱ ص ۲۸۳ کښې نقل کړې شوې دې، روایت ۹۵۱ عن جابر بن سمرة مسلم ج ۱ ص ۲۸٤ کښې نقل کړې شوې دې.

**د خطبې مقدار:** ﴿ **فکانت صلاته قصدا و خطبته قصدا** ﴾ سنت ده چه خطبه دې مختصر اوکړې شي، زیاته اوږده دې نه وي، د طوال المفصل په سورتونو کښې دې د یو سورت برابر وي د دې نه زیاته اوږدول مکروه دي. (شامي، بحر، عالمګیری) د رسول اللهﷺ ارشاد دې ﴿ **ان طول صلاة الرجل وقصر خطبته مئنة من فقهه فأطیلوا الصلاة واقصروا الخطبة** ﴾ (مسلم ج ۱ ص ۲۸۶) د روایت ۹۵۲ عن عبدالله بن ابی اوفی مدلول هم دا دې کوم چه نسائي ج ۱ ص ۲۰۹ کښې نقل کړې شوې دی، روایت ۹۵۳ عن الحکم بن حزن کښې وئیلې شوې دی چه رسول اللهﷺ به د جمعې په خطبه کښې په قوس یا همسا باندې تکیه لګولو څخه خطبه ورکوله، دا روایت ابوداؤد ج ۱ ص ۱۵۶ او مسند احمد ج ٤ ص ۲۱۲ کښې تخریج کړې شوې دې ۹۵۴ عن ابن شهاب په مراسیل ابی داؤد ملحقة بسنن ابی داؤد ص ۷ نه نقل کړې شوې دې **ثم جلس شیئا یسیرا** رسول اللهﷺ به د دوه خطبو ترمینځه دومره کیناستلو چه د بدن مبارک هر هر اندام به ئې په خپل خپل ځائې باندې راغلو پس فقهاء کرامو دومره وخت مقرر کړې دې چه په هغې کښې درې کرته سبحان الله وئیلې کیدې شي د دواړو خطبو ترمینځه کیناستل واجب نه دی، سنت دی.

**د خطبې ارکان او اداب:** د دې ارکان صرف دوه دی یو وخت د جمعې دویم مطلق ذکر الله او د دې آداب او سنن پنځلس دی.

۱: طهارت په دې وجه د اودس نه بغیرخطبه ورکول مکروه اوامام ابویوسف رحمه الله په نزد ناجائز ده.

۲: په ولاړه باندې خطبه ورکول، په ناسته باندې ورکول ئې مکروه دی، (عالمګیری وبحر الرائق)

۳: د قوم طرف ته متوجه کیدو څخه خطبه ورکول، پس قبلې طرف مخ کولو څخه یا بل طرف ته اودریدلو څخه ورکول مکروه دی. (عالمګیری، بحر)

۴: د خطبې نه مخکښې په رو آواز ﴿ اعوذ بالله من الشيطان الرجيم ﴾ وئيل، (على قول ابى يوسف، كذا فى البحر)

۵: خطبه په اوچت آواز څخه کول، چه خلق ئې واوری، ځکه که په مزه ئې اولولی نو اګر چه فرض به ادا شی خو کراهیت باقی پاتې شو. (بحر، عالمګیری)

۶: دا چه خطبه مختصر ورکول پکار دی چه په لسو څیزونو باندې مشتمل وی. (معارف السنن ج ٤ ص ٣٦٤)

۱: د حمد نه شروع کول، ۲: د الله پاک ثناء کول، ۳: شهادتین لوستل، ۴: په رسول الله ﷺ باندې درود لیږل، ۵: د وعظ او نصیحت کلمات وئیل. ۶: د قرآن کریم څه آیت لوستل، ۷: د دواړو خطبو ترمینځه لږ شان کیناستل، ۸: په دویمه خطبه کښې دوباره حمد، ثناء او درود لوستل، ۹: ټول مسلمانانو سړو او ښځو لپاره دعا کول، ۱۰: دواړه خطبې مختصر کول. داسې چه د طوال مفصل د سورتونو نه زیاته نه وی. (بحر الرائق، عالمګیری)

۷: د جمعې او اخترونو خطبه په عربئ کښې کیدل، او د دې خلاف په نورو ژبو کښې کول بدعت دې. (مصفى شرح موطاء للشاه ولى الله، وكتاب الاذكار للنووى، و درمختار شروط الصلاة، شرح الاحياء للزبيدى)

بیا په عربي کښې د جمعې خطبه ورکولو نه پس د هغې ترجمه په خپله ژبه کښې د مانځه نه مخکښې اورول بدعت دې چه د هغې نه بچ کیدل ضروری دی، که د مانځه نه پس ترجمه اوروی نو باک نشته بلکه غوره ده، خو د اخترونو وغیره د خطبو نه پس فورا هم ترجمه اورولې شی ځکه چه په دې کښې مونځ د خطبې نه مخکښې کیږی، بیا په دې کښې هم دا غوره ده چه د منبر نه جدا کیدو څخه ترجمه واوروی چه امتیاز ئې راشی.

**د جمعې او اخترونو په خطبه کښې فرق:** د جمعې، اخترونو او نکاح وغیره خطبو کښې د قول مختار مطابق په دې خبره کښې ټول شریک دی چه ترڅو پورې خطبه ورکولې شی نو سلام او کلام تردې چه ذکر او تسبیح وغیره هم ناجائز کیږی او خاموش کیناستل او خطبه اوریدل ضروری کیږی. لیکن په یو څو امورو کښې د جمعې او اخترونو په خطبه کښې فرق دې لکه چه علامه شامی رحمه الله فرمائی:

''بيان الفرق (بين خطبة الجمعة والعيدين) وهو انها الخطبة فيهما (العيدين) سنة لا شرط وانها بعدهما لا قبلها بخلاف الجمعة، قال فى البحر حتي لولم يخطب اصلا صح واساء لترك السنة، ولو قدمها على الصلاة صحت واساء ولا تعاد الصلوٰة''۔ (جواهر الفقه ج: ۱، ص: ۳۶۵)۔

## بَـــابُ فِيْ كَرَاهَةِ رَفْعِ الْيَدَيْنِ عَلَى الْمِنْبَرِ

(۹۵۵) عَنْ حُصَيْنٍ عَنْ عُمَارَةَ بْنِ رُوَيْبَةَ قَالَ رَاٰى بِشْرَبْنَ مَرْوَانَ عَلَى الْمِنْبَرِ رَافِعًا يَدَيْهِ فَقَالَ قَبَّحَ اللّٰهُ هَاتَيْنِ الْيَدَيْنِ لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا يَزِيْدُ عَلٰى اَنْ يَّقُوْلَ بِيَدِهٖ هٰكَذَا وَاَشَارَ بِاُصْبَعِهِ الْمُسَبِّحَةِ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَّاٰخَرُوْنَ۔

**باب: په منبر باندې د لاسونو اوچتولو كراهيت: ۹۵۵**: د حصين نه روايت دې چه عمارة بن رويبة اوفرمائيل: بشر بن مروان په منبر باندې دواړه لاسونه اوچتولو څخه اوليدلو، نو وې فرمائيل: الله پاک دې دا دواړه لاسونه قبيح (محروم) کړي، يقينا ما رسول اللهﷺ اوليدلو، رسول اللهﷺ به د دې نه زيات هيڅ نه کول چه (خپل لاس مبارک به ئې داسې کړو، او د خپل شهادت په ګوته څخه ئې اشاره اوفرمائيله. دا حديث مسلم او نورو محدثينو نقل کړې دې.

**تشريح**>(۹۵۵): **عن حصين عن عمارة بن اذيبة** (مسلم ج ۱ ص ۲۸۷) د خطبې په وخت **رفع الايدى على المنبر** مكروه دې د شوافعو او مالكيانو مسلک هم دا دې اګر چه بعض مالكيانو وغيره دې ته جائز وئيلې دى خو د جمهورو په نزد د يو جزئى واقعې نه د کليه استدلال صحيح نه دې. **واشار باصبعه المسبحة** په مسبحه څخه اشاره مسنون ده چه خلق (په توجه څخه مخاطب وى) او خطبه باندې د عمل کيدو جذبه او ولوله پيدا شى.

## بَـــابُ التَّـنَـفُّلِ حِيْنَ يَخْطُبُ الْاِمَامُ

(۹۵۶) عَنْ جَابِرٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: دَخَلَ رَجُلٌ يَّوْمَ الْجُمُعَةِ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ فَقَالَ صَلَّيْتَ قَالَ: لَا۔ قَالَ: فَصَلِّ رَكْعَتَيْنِ۔ رَوَاهُ الْجَمَاعَةُ۔

**باب: د امام د خطبې په دوران كښې نفل كول: ۹۵۶**: سيدنا جابرؓ فرمائى: يو سړې د جمعې په ورځ (مسجد ته راغلو) رسول اللهﷺ خطبه ارشاد فرمائيله، رسول اللهﷺ اوفرمائيل: تا مونځ کړې دې: هغه عرض اوکړو: نه جى! رسول اللهﷺ اوفرمائيل: پاسه دوه رکعته اوکړه! دا حديث د محدثينو جماعت نقل کړې دې.

(۹۵۷) وَعَنْهُ قَالَ جَاءَ سُلَيْكُ الْغَطْفَانِيُّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَرَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ فَجَلَسَ فَقَالَ لَهٗ يَا سُلَيْكُ قُمْ فَارْكَعْ رَكْعَتَيْنِ وَتَجَوَّزْ فِيْهِمَا ثُمَّ قَالَ إِذَا جَاءَ اَحَدُكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالْاِمَامُ يَخْطُبُ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ وَلْيَتَجَوَّزْ فِيْهِمَا۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَّاٰخَرُوْنَ۔

**۹۵۷**: سيدنا جابرؓ فرمائى: د جمعې په ورځ **سليک الغطفانى** راغلو. رسول اللهﷺ خطبه ارشاد

فرمائیله، هغه راغلو او کیناستلو، نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل : اې سلیک! پاسه او دوه رکعته ادا کړه، او په دې دواړو رکعتونو کښې اختصار اوکړه، بیا ئې اوفرمائیل : په تاسو کښې چه کله څوک د جمعې په ورځ راشي او امام خطبه ورکوي، نو هغه له دوه رکعته کول پکار دی، او هغه له پکار دی چه په هغې کښې اختصار اوکړي (یعنی مختصر دوه رکعته دې اوکړي) دا حدیث مسلم او نورو محدثینو نقل کړې دې.

(۹۵۸) وَعَنْ سُلَيْكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَآءَ أَحَدُكُمْ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ فَلْيُصَلِّ رَكْعَتَيْنِ خَفِيْفَتَيْنِ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالطَّبَرَانِيُّ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

۹۵۸: سلیک رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : په تاسو کښې چه کله څوک راشي او امام خطبه ورکوي، نو هغه له مختصر دوه رکعتونه کول پکار دی. دا حدیث احمد او طبرانی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

**تشریح> بیان مذاهب** (۹۵۲ نه ۹۵۸ پورې) ۱: شوافع او حنابله فرمائی چه د جمعې د خطبې په دوران کښې راتلونکې تحیة المسجد اوکړي نو دا مستحب ده.

۲: د احناف، مالکیانو او فقهاء کوفه مسلک دا دې چه د جمعې د خطبې په دوران کښې هرقسم کلام یا مونځ جائز نه دې د جمهور صحابه کرامو او تابعینو هم دا مسلک دې. د دې باب روایات د شوافع او حنابله مستدل دې.

**د قائلین جواز دلائل او ځوابات:** د دې باب درې واړه روایات ۹۵۲، ۹۵۷ او ۹۵۸ مسلم ج ۱ ص ۲۸۷ نه منقول دی او د قائلین جواز مستدل دې، جمهور حضرات د دې په ځواب کښې فرمائی چه د راتلونکی نوم سلیک (ابن هدبة وقیل بن عمرو الغطفانی کذا قال السیوطی الزهرا الربی علی النسائی ج ۱ ص ۲۰۷) غطفانی وو دا سړې ډیر غریب وو. رسول الله ﷺ د خلقو نه د هغه لپاره چنده اخستل غوښتل، رسول الله ﷺ هغه ته حکم اوکړو چه پاسه دوه رکعته اوکړه مطلب دا وو چه خلق د هغه غریبی وینی او په هغه باندې صدقه اوکړي. پس نسائی ج ۱ ص ۱۵۸ کښې روایت دې.

جاء رجل یوم الجمعة والنبی صلی اللّٰه علیه وسلم یخطب بهیئة بذّة فقال رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم اصلیت؟ قال: لا، قال: صل رکعتین وحثّ علی الصدقة.

او د موارد الظمآن ص ۱۵۰ په روایت کښې دی. رسول الله ﷺ اوفرمائیل :

ارکع رکعتین ولا تعودن لمثل هذا.

او په فتح الباری (ج: ۲، ص: ۳۲۶) کښې د مسند احمد په حواله څخه دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل:

ان هذا الرجل دخل المسجد فی هیئة بذه فأمرته ان یصلی وانا ارجوان یفطن له رجل ... الحدیث
نو ددې روایاتو نه معلومه شوه چه دا یو مخصوص واقعه وه. ضابطه او قاعده نه وه، بعض راویانو دا د ضابطې په شکل کښې پیش کړې اوډ دارقطنی ج ۱ ص ۱۶۹ په روایت کښې دی چه ترڅو پورې هغوی مونځ کولو رسول الله ﷺ خطبه بند کړه :
وامسك عن الخطبة حتّٰی فرغ من صلٰوته او کان قبل شروعه فی الخطبة وخرّجه النسائی فی سننه الکبریٰ وبوّب علیه او کان ذلك قبل ان ینسخ الکلام فی الصلٰوة فلمّا نسخ فی الصّلٰوة نسخ فی الخطبة ایضًا لانـــها شطر صلٰوة الجمعة و شرطها کما صرح الطحاوی (راجع هامش النسائیج: ۱، ص: ۴۱۵۷) وکذا فی مسند ابن ابی شیبة عن محمد بن قیس امسك عن الخطبة حتّٰی فرغ۔

## بَــابٌ فِی الْمَنْعِ مِنَ الْكَلَامِ وَالصَّلٰوةِ عِنْدَ الْخُطْبَةِ

(۹۵۹) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَـیْهِ وَسَـلَّمَ قَالَ: اِذَا قُـلْتَ لِصَاحِبِكَ یَوْمَ الْجُمُعَةِ اَنْصِتْ وَالْاِمَامُ یَخْطُبُ فَقَدْ لَغَوْتَ۔ رَوَاهُ الشَّیْخَانِ۔

**باب: د خطبې په دوران کښې د کلام او مونځ ممانعت:**

۹۵۹: د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: چه کله تا دجمعې په ورځ باندې په داسې حال کښې چه امام خطبه ورکوی خپل ملګری ته اووې چه: خاموش شه! نو تا لغوه کار اوکړو. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۹۶۰) وَعَنْ جَابِرٍ رَّضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: دَخَلَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْعُوْدٍ نِ الْمَسْجِدَ وَالنَّبِیُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَخْطُبُ فَجَلَسَ اِلٰی جَنْبِ اُبَیِّ بْنِ كَعْبٍ رَّضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فَسَاَلَـهٗ عَنْ شَیْءٍ اَوْكَلَّمَهٗ بِشَیْءٍ فَلَمْ یَرُدَّ عَلَیْهِ اُبَیٌّ رَّضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فَظَنَّ ابْنُ مَسْعُوْدٍ رضی الله عنه اَنَّهَا مُوْجِدَةٌ فَلَـمَّا انْفَتَلَ النَّبِیُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَـیْهِ وَسَلَّمَ مِنْ صَلٰوتِهٖ قَالَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ رَّضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ یَا اُبَیُّ مَا مَنَعَكَ اَنْ تَرُدَّ عَلَیَّ؟ قَالَ اِنَّكَ لَمْ تَحْضُرْ مَعَنَا الْجُمُعَةَ قَالَ وَلِمَ؟ قَالَ تَكَلَّمْتَ وَالنَّبِیُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَـیْهِ وَسَلَّمَ یَخْطُبُ فَقَامَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ رَّضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فَدَخَلَ عَلَى النَّبِیِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذٰلِكَ لَـهٗ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهِ عَلَـیْهِ وَسَلَّمَ صَدَقَ اُبَیٌّ اَطِعْ اُبَـیًّا۔ رَوَاهُ اَبُوْیَعْلٰی وَاِسْنَادُهٗ صَحِیْحٌ۔

۹۶۰: سیدنا جابر بن عبدالله رضی الله عنهما فرمائی : سیدنا عبدالله بن مسعود رضی الله عنه مسجد ته داخل شو، په داسې حال کښې چه رسول الله ﷺ خطبه ارشاد فرمائیله، نو هغه د اُبی بن کعب رضی الله عنه څخه خوا کښې کیناستلو هغه د هغوی نه دڅه خبرې پوښتنه اوکړه یا ئې د هغوی څخه څه خبره اوکړه نو اُبی رضی الله عنه هغوی ته ځواب ورنکړو. ابن مسعود رضی الله عنه اوګڼړله چه هغوی خفه شو. نوچه کله رسول الله ﷺ د

مانځه نه واپس شو نو ابن مسعود رضي الله عنه اوفرمائيل : اې ابی ! ته زما د خبرې د ځواب نه څه منع کړې؟ ابی رضي الله عنه اوفرمائيل : ته مونږ څخه په جمعه کښې نه شريکيږې. ابن مسعود رضي الله عنه اوفرمائيل : هغه څنګه ؟ ابی رضي الله عنه اوفرمائيل : رسول الله ﷺ خطبه ارشاد فرمائيله (چه کله) تا خبره اوکړې، نو ابن مسعود رضي الله عنه پاسيدو او د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او هغوی ته ئې دا خبره ذکر کړه، نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل : ابی رشتيا وائی، د هغه خبره اومنه. دا حديث ابو يعلی نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(۹۶۱) وَعَنْ ثَعْلَبَةَ بْنِ اَبِيْ مَالِكٍ الْقُرَظِيِّ قَالَ : اِنَّ جُلُوْسَ الْاِمَامِ عَلَى الْمِنْبَرِ يَقْطَعُ الصَّلٰوةَ وَ كَلَامُهُ يَقْطَعُ الْكَلَامَ وَقَالَ : اِنَّهُمْ كَانُوْا يَتَحَدَّثُوْنَ حِيْنَ يَجْلِسُ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ عَلَى الْمِنْبَرِ حَتّٰى يَسْكُتَ الْمُؤَذِّنُ فَاِذَا قَامَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَلَى الْمِنْبَرِ لَمْ يَتَكَلَّمْ اَحَدٌ حَتّٰى يَقْضِيَ خُطْبَتَيْهِ كِلْتَيْهِمَا ثُمَّ اِذَا نَزَلَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ الْمِنْبَرِ خُطْبَتَيْهِ تَكَلَّمُوْا۔ رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ۔

۹۲۱: ثعلبه بن مالک القرظی رضي الله عنه فرمائی: د امام په منبر باندې کيناستل، مونځ او د هغه کلام کول (خطبه ورکول) خبرې ختموی، هغوی فرمائی : چه کله عمر بن الخطاب رضي الله عنه په منبر باندې کيناستلو نو خلقو به خبرې کولې، تردې چه مؤذن به د اذان کولو نه پس خاموش شو بيا به چه کله عمر رضي الله عنه په منبر باندې اودريدلو نو چا به هم خبرې نه کولې، تردې چه هغوی به خپلې دواړه خطبې پوره کړې، بيا چه به کله عمر رضي الله عنه د خپلو دواړو خطبو پوره کولو نه پس لاندې راکوز شو نو خلقو به خبرې کولې.دا حديث طحاوی نقل کړې دې او ددې اسناد صحيح دې.

**تشريح>** (۹۵۹ نه ۹۲۱ پورې) د دې باب ټول روايات د جمهورو مستدل دی.

**د قائلين عدم جواز دلائل**: ۱: احناف حضرات د آيت قرآنی ﴿ وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَاَنْصِتُوْا ﴾ نه استدلال کوی او وائی چه د جمعې خطبه هم په دې حکم کښې شامل ده بلکه شوافع خو دا آيت کريمه صرف د جمعې د خطبې څخه خاص کوی.

۲: د دې باب اول روايت ۹۵۹ **عن ابی هريرة** (بخاری ج ۱ ص ۱۲۷) کښې رسول الله ﷺ د جمعې د خطبې په دوران کښې د ﴿ **امر بالمعروف** ﴾ نه هم منع فرمائيلې ده حال دا چه **امر بالمعروف** فرض دې او تحية المسجد مستحب دې لهذا تحية المسجد به په طريق اولی ممنوع وی د دې باب دويم روايت ۹۲۰ **عن جابر** (مسند ابی يعلی ج ۳ ص ۲۳۵) دريم روايت ۹۲۱ **وعن ثعلبة بن ابی مالک** (طحاوی ج ۱ ص ۲۵٤) د قائلين عدم جواز واضح او قطعی دلائل دی.

## بَـابُ مَا يَقْرَأُ بِهٖ فِيْ صَلٰوةِ الْجُمُعَةِ؟

(۹۶۲) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقْرَاءُ فِيْ صَلٰوةِ الْفَجْرِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ {الٓمٓ o تَنْزِيْلَ السَّجْدَةَ وَهَلْ اَتٰى عَلَى الْاِنْسَانِ حِيْنٌ مِّنَ الدَّهْرِ} وَاَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقْرَاءُ فِيْ صَلٰوةِ الْجُمُعَةِ ''سُوْرَةَ الْجُمُعَةِ وَالْمُنَافِقِيْنَ''۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

**باب: د جمعې په مانځۀ کښې څه اولوستلې شی:** ۹۷۲ : د ابن عباس ﷠ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ به د جمعې په ورځ د سحر په مانځۀ کښې ﴿ الٓمٓ تنزيل سجدة ﴾ او ﴿ هَلْ أَتَىٰ عَلَى الْإِنسَانِ حِينٌ مِّنَ الدَّهْرِ ﴾ تلاوت فرمائیلو او د جمعې په مانځه کښې به ئې سورة جمعة او سورة المنافقون تلاوت فرمائیلو. دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

(۹۶۳) وَعَنِ ابْنِ اَبِيْ رَافِعٍ قَالَ اسْتَخْلَفَ مَرْوَانُ اَبَاهُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَلَى الْمَدِيْنَةِ وَخَرَجَ اِلٰى مَكَّةَ فَصَلّٰى لَنَا اَبُوْهُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَقَرَاءَ بَعْدَ سُوْرَةِ الْجُمُعَةِ فِي الرَّكْعَةِ الْاٰخِرَةِ {اِذَا جَاءَكَ الْمُنٰفِقُوْنَ} قَالَ: فَاَدْرَكْتُ اَبَاهُرَيْرَةَ حِيْنَ انْصَرَفَ فَقُلْتُ لَهٗ اِنَّكَ قَرَأْتَ بِسُوْرَتَيْنِ كَانَ عَلِيُّ بْنُ اَبِيْ طَالِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَقْرَءُهُمَا بِالْكُوْفَةِ فَقَالَ اَبُوْهُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَءُ بِهِمَا يَوْمَ الْجُمُعَةِ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

۹۷۳: ابن ابی رافع فرمائی : مروان سیدنا ابوهریره ﷛ په مدینه منوره کښې امیر مقرر کړو او خپله هغه مکې مکرمې ته لاړو نو مونږ ته ابوهریره ﷛ د جمعې مونځ راکړو، نو هغوی سورة جمعة نه پس په دویم رکعت کښې ﴿ اذا جاءک المنافقون ﴾ اولوستلو. ابن ابی رافع وائی : چه کله ابوهریره ﷛ سلام واړولو، نو زه د هغوی څخه ملاؤ شوم ما هغوی ته اووې : تاسو هغه دوه سورتونه لوستلې دی کوم چه به سیدنا علی ﷛ په کوفه کښې لوستل نو ابوهریره ﷛ اوفرمائیل : بیشکه ما د جمعې په ورځ د رسول الله ﷺ نه په مانځۀ کښې دا دواړه سورتونه اوریدلې دی. دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

(۹۶۴) وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيْرٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَاءُ فِي الْعِيْدَيْنِ وَفِي الْجُمُعَةِ بِـ {سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰى وَهَلْ اَتٰكَ حَدِيْثُ الْغَاشِيَةِ} قَالَ: وَاِذَا اجْتَمَعَ الْعِيْدُ وَالْجُمُعَةُ فِيْ يَوْمٍ وَّاحِدٍ يَقْرَأُ بِهِمَا اَيْضًا فِي الصَّلٰوتَيْنِ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

۹۷۴: سیدنا نعمان بن بشیر ﷛ فرمائی: رسول الله ﷺ به په دواړو اخترونو او جمعه کښې ﴿ سبح اسم ربک الاعلیٰ ﴾ او ﴿ هل اتاک حدیث الغاشیة ﴾ تلاوت فرمائیل، او کله به چه جمعه او اختر په یو

ورځ کښې راجمع شو نو بیا به ئې هم دا دواړه سورتونه تلاوت کول دا حدیث مسلم نقل کړې دې

(٩٦٥) وَعَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ كَتَبَ الضَّحَّاكُ بْنُ قَيْسٍ إِلَى النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيْرٍ يَسْئَلُهُ اَىَّ شَيْئٍ قَرَأَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ سِوٰى سُوْرَةِ الْجُمُعَةِ ؟ فَقَالَ كَانَ يَقْرَأُ { هَلْ اَتٰكَ حَدِيْثُ الْغَاشِيَةِ } ـ رَوَاهُ مُسْلِمٌ ـ

٩٦٥ عبید الله بن عبد الله فرمائی : ضحاک بن قیس نعمان بن بشیر رضی الله عنه ته خط اولیکلو د هغوی نه ئې پوښتنه اوکړه چه رسول الله ﷺ د جمعې په ورځ د سورة جمعې نه علاوه بل څه تلاوت فرمائیل نو نعمان رضی الله عنه اوفرمائیل : رسول الله ﷺ به ﴿ هل اتاک حدیث الغاشیة ﴾ تلاوت فرمائیلو دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

(٩٦٦) وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقْرَأُ فِي الْجُمُعَةِ بِ {سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰى وَهَلْ اَتٰكَ حَدِيْثُ الْغَاشِيَةِ} ـ رَوَاهُ اَحْمَدُ وَالنَّسَائِيُّ وَاَبُوْدَاوُدَ وَاِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ ـ

٩٦٦ : د سیدنا سمرة بن جندب نه روایت دې چه رسول الله ﷺ به په جمعه کښې ﴿ سبح اسم ربک الاعلی ﴾ او ﴿ هل اتاک حدیث الغاشیة ﴾ تلاوت فرمائیلو. دا حدیث احمد ، نسائی او ابوداؤد نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

تشریح:﴿٩٦٢ نه ٩٦٦ پورې﴾ د باب اول روایت عن ابن عباس (مسلم ج ١ ص ٢٨٨) دویم روایت ٩٦٣ عن ابن ابی رافع (مسلم ج ١ ص ٢٨٧) دریم روایت ٩٦٤ عن النعمان بن بشیر (مسلم ج ١ ص ٢٨٨) او آخری روایت ٩٦٦ عن سمرة بن جندب (مسند احمد ج ٥ ص ١٣، نسائی ج ١ ص ٢١٠) کښې د جمعې په مانځه کښې د رسول الله ﷺ د قرأت عمومی معمول ذکر دې.

## [اَبْوَابُ صَلٰوةِ الْعِيْدَيْنِ]

## بَابُ التَّجَمُّلِ يَوْمَ الْعِيْدِ

(٩٦٧) عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَلْبَسُ بُرْدَةَ الْاَحْمَرِ فِي الْعِيْدَيْنِ وَالْجُمُعَةِ ـ رَوَاهُ ابْنُ خُزَيْمَةَ بِاِسْنَادٍ صَحِيْحٍ ـ

## [ابواب: د اخترونو مونځ]

باب: د اختر په ورځ ډول کول : ٩٦٧ : د جابر رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ به د جمعې او دواړو اخترونو په ورځ سرې کرښې والا جامې اغوستلې.دا حدیث ابن خزیمة په صحیح سند سره نقل کړې دې.

(۹۶۸) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلْبَسُ يَوْمَ الْعِيْدِ بُرْدَةً حَمْرَآءَ۔ رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْاَوْسَطِ وَاِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ۔

۹۶۸: سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی: رسول الله ﷺ به د اختر په ورځ د کرښو والا کپړې اغوستلې. دا حدیث طبرانی په اوسط کښې نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

**تشریح**>(۹۶۷ نه ۹۶۸ پورې) **عید د عاد یعود** نه اخستلې شوې دې، دا په اصل کښې **عِوْد** وو. د واؤ په سکون څخه د ماقبل د کسرې د وجې نه، واؤ په یاء څخه تبدیل کړې شوه، لکه میزان، د دې جمع اعیاد راځی، د قاعدې مطابق اعواد کیدل پکار دی، خو عود په معنی د لرګی د جمع د فرق کولو لپاره ئې جمع اعیاد راځی.

بعض حضراتو وئیلې دی چه عید ته عید په دې وجه وئیلې شی چه دا بار بار راځی.

او د بعضو په نزد دا د عود (یو خوشبودار لرګی) نه مشتق دې او وجه تسمیة ئې دا ده چه په دې کښې په کثرت څخه عود سیزلې شی.

خو صحیح قول دا دې چه دا د **عاد یعود** نه ماخوذ دې او د دې نوم **تفاولا** عید کیخودلې شوې دې ګویا دا یو دعاء ده چه الله پاک دې اوکړی چه دا ورځ بیا بیا راشی لکه چه د قافلې نوم **تفاولا قافله** کیخودلې شوې ده.

بیا ډیر کرته دا لفظ د خوشحالئ د ورځ په معنی کښې هم استعمالیږی لکه چه یو شاعر وائی!

**عید وعید وعید صرن مجتمعة** **وجه الحبیب یوم العید والجمعة**

په هر مذهب او ملت کښې څه ورځې د خوشحالئ د کولو لپاره مقرر وی خو اسلام په ټول کال کښې صرف دوه ورځې مقرر کړې دی او دا دواړه هم د عظیم الشان عبادتونو د تکمیل په وخت مشروع دی. پس د عید الفطر په موقع باندې د صیام رمضان تکمیل وی او د عید الاضحی په موقع باندې د حج، بیا د نورو مذاهبو برعکس په دې دواړو ورځو کښې هم عبادت جوړ کړې شوې دې چه د هغې شروع د دوه رکعته د اختر مونځ نه کیږی.

د باب دواړه روایات (۹۶۷ **عن جابر بیهقی** ج ۱ ص ۲۸۰، ۹۶۸ مجمع الزوائد ج ۲ ص ۱۹۸) کښې د اختر په ورځ تجمل او جامې اغوندی د رسول الله ﷺ معمول منقول دې.

## بَابُ اسْتِحْبَابِ الْاَكْلِ قَبْلَ الْخُرُوْجِ يَوْمَ الْفِطْرِ وَبَعْدَ الصَّلٰوةِ يَوْمَ الْاَضْحٰى

(٩٦٩) عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَغْدُوْ يَوْمَ الْفِطْرِ حَتّٰى يَأْكُلَ تَمَرَاتٍ۔ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَفِيْ رِوَايَةٍ لَّهٗ وَيَأْكُلُهُنَّ وِتْرًا۔

**باب: د عيدالفطر په ورځ (عيدګاه ته) د تلو نه مخکښې اود عيدالاضحى په ورځ د اختر د مونځ نه پس خوراک کول مستحب وى،** (٩٦٩) حضرت انس بن مالك رضى الله عنه اووئيل چه رسول الله ﷺ به د اختر په ورځ تشريف نه اوړلو تردې چه کهجورې به ئې اوخوړلې، دا حديث بخارى نقل کړې دې اود بخارى په يو روايت کښې دى چه حضور ﷺ به کهجورې طاق (شمير کښ) خوړلې.

(٩٧٠) وَعَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لَا يَخْرُجُ يَوْمَ الْفِطْرِ حَتّٰى يَطْعَمَ وَكَانَ لَا يَأْكُلُ يَوْمَ النَّحْرِ شَيْئًا حَتّٰى يَرْجِعَ فَيَأْكُلَ مِنْ اُضْحِيَّتِهٖ۔ رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ وَاٰخَرُوْنَ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

(٩٧٠) دحضرت بريده رضى الله عنه نه روايت دې چه نبى كريم ﷺ به د وړوكى اختر په ورځ تشريف نه اوړلو تردې چه خوراك به ئې اوخوړلو اود قربانئ په ورځ به ئې څه څيز نه خوړلو تردې چه (دعيدګاه نه به ئې) واپس تشريف راوړلو، نوحضور ﷺ به دخپلې قربانئ نه خوراك كولو. دا حديث دارقطنى او نورو محدثينو نقل كړې دې اوددې اسناد حسن دې.

(٩٧١) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ مِنَ السُّنَّةِ اَنْ لَّا تَخْرُجَ يَوْمَ الْفِطْرِ حَتّٰى تُخْرِجَ الصَّدَقَةَ وَتَطْعَمَ شَيْئًا قَبْلَ اَنْ تَخْرُجَ۔ رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْكَبِيْرِ وَالدَّارَقُطْنِيُّ وَالْبَزَّارُ وَقَالَ الْهَيْثَمِيُّ وَاِسْنَادُ الطَّبَرَانِيِّ حَسَنٌ۔

(٩٧١) حضرت ابن عباس رضى الله عنه اووئيل دا خبره د سنت څنې ده چه د وړوكى اختر په ورځ (عيدګاه طرف ته) د صدقې اداكولو نه مخكښې اونه څې، اود وتلو نه مخكښې څه اوخورى، دا حديث طبرانى په كبير كښې دارقطنى او بزارنقل كړې دې، هيثمى وئيلى دى دطبرانى اسناد حسن دې.

(٩٧٢) وَعَنْ عَطَاءٍ اَنَّهٗ سَمِعَ ابْنَ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَقُوْلُ اِنِ اسْتَطَعْتُمْ اَنْ لَّا يَغْدُوَ اَحَدُكُمْ يَوْمَ الْفِطْرِ حَتّٰى يَطْعَمَ فَلْيَفْعَلْ قَالَ فَلَمْ اَدَعْ اَنْ اٰكُلَ قَبْلَ اَنْ اَغْدُوَ مُنْذُ سَمِعْتُ ذٰلِكَ مِنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَاٰكُلُ مِنْ طَرْفِ الصَّرِيْفَةِ الْاُكْلَةَ وَاَشْرَبُ اللَّبَنَ وَالْمَآءَ فَقُلْتُ عَلٰى مَا تَاَوَّلَ هٰذَا قَالَ سَمِعَهٗ اَظُنُّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَانُوْا لَا يَخْرُجُوْنَ حَتّٰى يَمْتَدَّ الضُّحٰى فَيَقُوْلُوْنَ نَطْعَمُ لِئَلَّا نَعْجَلَ عَنْ صَلٰوتِنَا ۔ رَوَاهُ اَحْمَدُ وَقَالَ الْهَيْثَمِيُّ رِجَالُهٗ الصَّحِيْحِ۔

(٩٧٢) عطاء نه روايت دې چه دوى د حضرت ابن عباس رضى الله عنه نه دا فرمان واوريدلو چه كه تاسو داسې كولې شئ چه د وړوكى اخترپه ورځ (داختر لپاره) لاړنه شئ تردې چه خوراك اوكړئ

نو دغسې کوئ، عطاء اووئیل ما به د تلو نه مخکښې خوراك كول نه پریخودل، چه د کوم وخت نه ما د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه دا اوریدلی دی نوزه د روټئ د غاړې نه یوه نوړئ خورم، پئ (شوده) او اوبه هم څکم، (ابن جریج وائی) ما اووئیل چه حضرت ابن عباس رضی الله عنه دا دکوم ځائې نه وئیلی دی، (عطاء رحمه الله) اووئیل، زما خیال دې چه هغوی د نبی کریم ﷺ نه اوریدلی دی، عطاء رحمه الله اووئیل خلق (د اخترلپاره) د نمر خوَریدو پورې نه وتل هغوی وئیل مونږ به خوراك كولو چه خپل مونځونه په جلتئ څخه اونه کړو، (چونکه په رمضان المبارك كښې د پیشمنی د خوړلو عادت وو، ولې زر لګی په دې وجه به ئې د اختر لپاره د وتلو نه مخکښې خوراك كولو چه مونځ اطمینان څخه اداکړی) دا حدیث احمد نقل کړې دې او هیثمی وئیلی دی چه ددې رجال د صحیح رجال دی.

**تشریح**> (۹۲۹ نه ۹۷۲ پورې) د جمهورو مسلک دې چه د وړوکی اختر په ورځ باندې د اختر د مانځه نه مخکښې خوراک کول مسنون دی د باب اول روایت **عن انس بن مالک** (بخاری ج ۱ ص ۱۳۰) کښې د دې صراحت دې **﴿ یاکل تمرات ﴾** رسول الله ﷺ به کهجورې طاق درې، پنځه یا اووۀ استعمالولې ځکه چه په هر کار کښې د طاق رعایت ساتل غوره وی **﴿ ان الله وتر یحب الوتر ﴾** د کهجورو خوراک وجه خو دا وه چه په دې وخت کښې کهجورې موجود وې بعض حضراتو حکمت دا بیان کړې دې چه هغه شیرنی وی او شیرنی د سترګو د تقویت سبب وی خاص طور کله چه معده خالی وی، نو د سترګو د تقویت لپاره دا ډیر اثر لری بله دا چه شیرنی مقتضاء د ایمان هم ده علماء کرامو لیکلی دی چه کوم سړې په خوب کښې شیرنی اوخوری هغه ته به د ایمان حلاوت نصیب کیږی بله دا چه شیرنی زړه نرموی په دې وجه په شیرنئ څخه افطار افضل دې. (مظاهر حق ج ۱ ص ۹۳۶) او د غټ اختر په ورځ باندې د اختر د مانځه پورې امساک کول او څه خوراک نه کول مستحب دی لکه چه د باب په دویم حدیث ۹۷۰ کښې **عن بریدة** (دارقطنی ج ۲ ص ٤۵ ترمذی ج ۱ ص ۱۳) کښې هم دا ثابت ده.

دا امساک د هرچا لپاره مسنون او مستحب دې که هغه قربانی کوی یا نه کوی او هم دا اصح قول دې (المعارف ج ٤ ص ٤۵۱) بیا د غټ اختر په ورځ باندې چه د مونځ او قربانئ نه مخکښې د څه نه خوراک کوم استحباب دې د هغې حکمت په ظاهره کښې هم دا دې چه په دې ورځ باندې عام دعوت دې لهذا د ټول نه مخکښې د قربانئ غوښه خوړل پکار دی ګویا د الله پاک په میلمستیا کښې شرکت دې. روایت ۹۷۱ **عن ابن عباس** (معجم کبیر ج ۱۱ ص ۱٤۲، دارقطنی، مجمع

الزوائد ج ۲ ص ۱۹۹) مضمون د تحت اللفظ ترجمې نه واضح دې روایت ۹۷۲ عن عطاء (مسند احمد ج ۱ ص ۳۱۳) خپله د خپل مضمون شرح ده د عید الاضحی په مقابله کښې په عید الفطر کښې سحر د مانځه نه مخکښې څه خوړل غالبا په دې وجه مستحب دی چه د کوم الله پاک په حکم څخه د رمضان په پوره میاشت کښې خوراک څکاک بالکل بند پاتې شوې دې نن چه کله هم د هغه د طرف نه د خوراک اجازت ملاؤ شو او هم په هغې کښې د هغه رضا او خوشحالی ملاؤ شوه نو د طالب او محتاج بنده په شان سحر د هغه د نعمتونو نه لذت اندوز شو د بندګئ مقام او د عبدیت شان هم دا دې.

**داختر د مانځه لپاره صحرا (فراخه ځائې، عیدګاه) طرف ته تلل:**

۹۷۳: سیدنا ابوسعید خدری ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ به د عید الفطر او عید الاضحی په ورځ عیدګاه ته تشریف اوړلو، دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

د ابوسعید خدری ﷺ دا روایت بخاری ج ۱ ص ۱۳۱، مسلم ج ۱ ص ۲۹۰ کښې نقل کړې شوې دې د دې حدیث نه معلومه شوه چه د رسول الله ﷺ عام معمول دا وو چه د عیدین مونځ به رسول الله ﷺ د مدینې منورې د آبادئ نه بهر په هغه میدان کښې ادا فرمائیلو کوم چه رسول الله ﷺ د دې کار لپاره منتخب کړې وو او ګویا (عید ګاه) ئې مقرر کړې وو. هغه وخت د هغې نه چاپیره څه دیوال هم نه وو بس صحرائی میدان وو خلقو لیکلې دی چه د مسجد نبوی ﷺ نه د زر قدمو په فاصله باندې وو.

## بَابُ صَلٰوةِ الْعِيْدِ فِي الْمَسْجِدِ لِعُذْرٍ

(۹۷۴) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: اَصَابَ النَّاسَ مَطَرٌ فِيْ يَوْمِ عِيْدٍ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلّٰى بِهِمْ فِي الْمَسْجِدِ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ وَاَبُوْ دَاوٗدَ وَفِيْ اِسْنَادِهٖ عِيْسَى بْنُ عَبْدِ الْاَعْلٰى وَهُوَ مَجْهُوْلٌ.

**باب: د عذر د وجې نه په مسجد کښې د اختر مونځ کول:** ۹۷۴: سیدنا ابوهریره ﷺ فرمائی د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې په خلقو باندې د اختر په ورځ باران راغلو نو رسول الله ﷺ هغوی ته په مسجد کښې مونځ ورکړو، دا حدیث ابن ماجة او ابوداؤد نقل کړې دې او د دې اسناد کښې عیسٰی بن عبدالاعلی دې چه مجهول دې.

(۹۷۵) وَعَنْ حَنَشٍ قَالَ: قِيْلَ لِعَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ ضَعَفَةً مِّنَ النَّاسِ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ الْخُرُوْجَ اِلَى الْجَبَّانَةِ فَاَمَرَ رَجُلًا يُصَلِّيْ بِالنَّاسِ اَرْبَعَ رَكْعَاتٍ رَكْعَتَيْنِ لِلْعِيْدِ وَرَكْعَتَيْنِ لِمَكَانِ خُرُوْجِهِمْ اِلَى الْجَبَّانَةِ. رَوَاهُ اَبُوْبَكْرِ بْنُ اَبِيْ شَيْبَةَ وَاٰخَرُوْنَ وَاِسْنَادُهٗ ضَعِيْفٌ.

۹۷۵: حنش فرمائی: سیدنا علی رضی الله عنه ته اوئیلې شو چه کمزوری خلق (چرته چه عیدګاه وی) هلته د تلو طاقت نه لری، نو هغوی یو سړی ته اووې چه خلقو ته دې څلور رکعته مونځ ورکړی، دوه رکعتونه د اختر لپاره او دوه رکعته د هغوی عیدګاه ته د نه تلو په بدل کښې. دا حدیث ابوبکر بن ابی شیبة او نورو محدثینو نقل کړې دې او د دې اسناد ضعیف دې.

**تشریح**> (۹۷۴ نه ۹۷۵ پورې) اول روایت عن ابی هریرة (ابن ماجة ص ۹۴، ابوداؤد ج ۱ ص ۱۶۴) او دویم روایت عن حنش (مصنف ابن ابی شیبة ج ۲ ص ۱۸۴) نه معلومیږی چه په عام حالاتو کښې خو سنت هم دا ده چه د اخترونو مونځ په فراخه میدان کښې اوکړې شی خو که د باران په حالت کښې یا داسې څه عذر وی نو د اختر مونځ هم په مسجد کښې کیدلې شی.

## بَابُ صَلٰوةِ الْعِيْدَيْنِ فِى الْقُرٰى

(۹۷۶) قَالَ الْبُخَارِيُّ أَمَرَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مَوْلَاهُ ابْنَ أَبِي عُتْبَةَ بِالزَّاوِيَةِ فَجَمَعَ أَهْلَهُ وَبَنِيْهِ وَصَلّٰى كَصَلٰوةِ أَهْلِ الْمِصْرِ وَتَكْبِيْرِهِمْ انْتَهٰى وَهُوَ مُعَلَّقٌ.

**باب: په کلو کښې د اخترونو مونځ:** بخاری وائی: سیدنا انس بن مالک رضی الله عنه په زاویه کښې خپل آزاد کړی غلام ابن ابی عتبه ته اووې، نو هغوی خپل اهل او ځامن رایوځائې کړل او د ښهر والو د مونځ او تکبیر په شان مونځ ئې ورکړو..انتهی،،. دا حدیث معلق دې.

(۹۷۷) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ: قَالَ كَانَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ إِذَا فَاتَتْهُ صَلٰوةُ الْعِيْدِ مَعَ الْإِمَامِ جَمَعَ أَهْلَهُ يُصَلِّيْ بِهِمْ مِثْلَ صَلٰوةِ الْإِمَامِ فِي الْعِيْدِ. رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ وَإِسْنَادُهُ غَيْرُ صَحِيْحٍ.

۹۷۷: عبدالله بن ابی بکر بن انس بن مالک رضی الله عنه فرمائی چه د انس بن مالک رضی الله عنه نه به کله د امام څخه د اختر مونځ قضا شو نو د خپل کور خلق به ئې رایوځائې کړل هغوی ته به ئې د امام د اختر د مونځ په شان مونځ ورکولو. دا حدیث بیهقی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۹۷۸) وَعَنْ بَعْضِ آلِ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ أَنَسًا كَانَ رُبَّمَا جَمَعَ أَهْلَهُ وَحَشَمَهُ يَوْمَ الْعِيْدِ فَيُصَلِّيْ بِهِمْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ أَبِي عُتْبَةَ مَوْلَاهُ رَكْعَتَيْنِ. رَوَاهُ أَبُوْ بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ وَرِجَالُهُ ثِقَاتٌ لٰكِنْ بَعْضُ آلِ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مَجْهُوْلٌ.

۹۷۸: د سیدنا انس رضی الله عنه په آل کښې د یو سړی نه روایت دې چه بیشکه سیدنا انس بن مالک رضی الله عنه به کله خپل خپلوان او غلامان د اختر په ورځ راجمع کړل، نو هغوی ته به ابن ابی عتبة د انس رضی الله عنه آزاد کړې شوې غلام دوه رکعته ادا کول. دا حدیث ابوبکر بن ابی شیبة نقل کړې دې او د دې رجال ثقة دی، خو بعض آل انس رضی الله عنه مجهول دې.

**تشریح**>(۹۷۶ نه ۹۷۸ پورې) رومبۍ روایت بخاری ج ۱ ص ۱۳٤ دویم روایت ۹۷۷ بیهقی ج ۳ ص ۳۰۵، دریم روایت ۹۷۸ عن بعض آل انس (مصنف ابن ابی شیبة ج ۲ ص ۱۸۳) نه منقول دې.

## بَابُ لَا صَلٰوةَ الْعِيْدِ فِي الْقُرٰى

(۹۷۹) عَنْ اَبِيْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ السُّلَمِيِّ عَنْ عَلِيٍّ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ لَا تَشْرِيْقَ وَلَا جُمُعَةَ اِلَّا فِيْ مِصْرٍ جَامِعٍ۔ رَوَاهُ عَبْدُ الرَّزَّاقِ وَاٰخَرُوْنَ وَهُوَ اَثَرٌ صَحِيْحٌ۔

---

**باب: کلو کښې د اختر مونځ نشته**: ۹۷۹: د ابوعبدالرحمٰن سلمی نه روایت دې چه سیدنا علی رضی الله عنه اوفرمائیل: اختر او جمعه د لوئې ښهر نه علاوه نشته.

دا حدیث عبدالرزاق او نورو محدثینو نقل کړې دې او دا اثر صحیح دې.

(۹۷۹) :: دا روایت مصنف عبدالرزاق ج ۳ ص ۱۶۸ کښې نقل کړې دې د اختر د جمعې څخه مناسبت دې چه دواړه مونځونه نهاری دی. کوم چه د لوئې جماعت څخه کولې شی په دواړو کښې قرأت جهرا وی د اختر مونځ واجب دې په هغه چا چه جمعه پرې واجب ده. او شرطونه هم د دواړو یو دی سوا د جمعې د خطبې نه چه په جمعهٔ کښې د خطبې شرط مقدم دې او په اخترونو کښې خطبه سنت او موخر ده صلاة العیدین فی القری څخه متعلق مباحث هم په صلاة الجمعة فی القری کښې دی کوم چه وړاندې په تفصیل څخه بیان کړې شوې دی.

## بَابُ صَلٰوةِ الْعِيْدَيْنِ بِغَيْرِ اَذَانٍ وَّلَا نِدَاءٍ وَّلَا اِقَامَةٍ

(۹۸۰) عَنْ عَطَآءٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَا لَمْ يَكُنْ يُؤَذَّنُ يَوْمَ الْفِطْرِ وَلَا يَوْمَ الْاَضْحٰى۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

---

**باب د اذان، منادی او اقامت نه بغیر د اختر مونځ**: ۹۸۰: د عطاء نه روایت دې چه ابن عباس او جابر رضی الله عنهما اوفرمائیل: د عیدالفطر او عیدالاضحی په ورځ به اذان نه کیدلو. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۹۸۱) وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: صَلَّيْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِيْدَيْنِ غَيْرَ مَرَّةٍ وَّلَا مَرَّتَيْنِ بِغَيْرِ اَذَانٍ وَّلَا اِقَامَةٍ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

---

۹۸۱: جابر بن سمرة رضی الله عنه فرمائی: ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ډیر کرته د اذان او اقامت نه بغیر د اخترونو مونځونه کړې دی. دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

(۹۸۲) وَعَنْ جَابِرِبْنِ عَبْدِاللّٰهِ الْاَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنْ لَّا اَذَانَ لِلصَّلٰوةِ يَوْمَ الْفِطْرِ حِيْنَ يَخْرُجُ الْإِمَامُ وَلَا بَعْدَ مَا يَخْرُجُ وَلَا اِقَامَةَ وَلَا نِدَآءَ وَلَا شَيْءَ وَلَا نِدَآءَ يَوْمَئِذٍ وَّلَا اَقَامَةَ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

۹۸۲: د سیدنا جابر بن عبدالله الانصاری رضی الله عنهما نه روایت دي چه د وړوکی اختر په ورځ د مانځه لپاره د امام د راتلو په وخت او د راتلو نه پس اذان نشته، نه اقامت، نه منادی، نه بل څه څیز، په دې ورځ نه اذان وو او نه اقامت. دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

**تشریح**>(۹۸۰ نه ۹۸۲ پورې) د اول روایت **عن عطاء عن ابن عباس** (بخاری ج ۱ ص ۱۳۱، مسلم ج ۱ ص ۲۹۰) دویم روایت ۹۸۱ **عن جابر بن سمرة** (مسلم ج ۱ ص ۲۹۰) دریم روایت ۹۸۲ **عن جابر بن عبدالله الانصاری** (مسلم ج ۱ ص ۲۹۰) مضمون واحد دې چه رسول الله ﷺ به د عیدین مونځ بغیر د اذان او اقامت او منادی نه ورکولو.

پس په دې باندې اجماع ده چه په عیدین کښې نه اذان شته او نه اقامت، علامه ابن قدامة المغنی کښې فرمائی:

''ولا نعلم فی هذا خلافا ممن یعتد بخلافه، الا انه روی عن ابن الزبیر انه اذّن واقام، وقیل اوّل من اذن زیاد، وهذا دلیل علی انعقاد الاجماع قبله علی ان لا یسن لهما اذان ولا اقامة... الخ۔ (المغنی ج: ۲، ص: ۲۳۵)

بهرحال د جمهور امت په دې باندې اتفاق دې چه د اختر مونځ به بغیر د آذان او اقامت نه کولې شی. خو دلته دې دا واضحه وی چه د اختر په مانځه کښې (اعلام بطریق مخصوص) د (اذان او اقامت) خو نفی شته خو د نفس اعلام یعنی د اعلان نفی نشته، په دې وجه هغه ټول نوافل کوم چه په جماعت څخه کول مشروع دی مثلا تراویح، صلاة کسوف، او استسقاء وغیره، څنګه په هغې کښې د اذان او اقامت په ځائې اعلان مشروع دې هم دغه شان د اختر مونځ هم اعلان وغیره کولو څخه خلقو له خبرول صحیح دی. (عمدة القاری ج ۶ ص ۲۸۲)

## بَابُ صَلٰوةِ الْعِيْدَيْنِ قَبْلَ الْخُطْبَةِ

(۹۸۳) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَبُوْبَكْرٍ رَّضِيَ اللّٰهُ وَعُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يُصَلُّوْنَ الْعِيْدَيْنِ قَبْلَ الْخُطْبَةِ۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

**باب د خطبې نه مخکښې د اخترونو مونځ:** ۹۸۳: سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما فرمائی: رسول الله ﷺ، ابوبکر صدیق او عمر فاروق رضی الله عنهما به د خطبې نه مخکښې د عیدین مونځ کولو. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۹۸۴) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ : قَالَ شَهِدْتُ الْعِيدَ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَبِيْ بَكْرٍ وَّعُمَرَ وَعُثْمَانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ فَكُلُّهُمْ كَانُوْا يُصَلُّوْنَ قَبْلَ الْخُطْبَةِ۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

۹۸۴: سيدنا ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي : زه د رسول الله ﷺ، ابوبکرصديق، عمر فاروق، عثمان غني رضي الله عنهم څخه اخترونو ته حاضر شوي يم، هغوی به د خطبې نه مخکښې مونځ کولو. دا حديث شيخينو نقل کړي دي.

(۹۸۵) وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ نِ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْرُجُ يَوْمَ الْفِطْرِ وَالْاَضْحٰى اِلَى الْمُصَلّٰى فَاَوَّلُ شَيْءٍ يَبْدَأُ بِهِ الصَّلٰوةُ ثُمَّ يَنْصَرِفُ فَيَقُوْمُ مُقَابِلَ النَّاسِ وَالنَّاسُ جُلُوْسٌ عَلٰى صُفُوْفِهِمْ فَيَعِظُهُمْ وَيُوْصِيْهِمْ وَيَاْمُرُهُمْ فَاِنْ كَانَ يُرِيْدُ اَنْ يَقْطَعَ بَعْثًا قَطَعَهُ اَوْ يَاْمُرَ بِشَيْءٍ اَمَرَ بِهِ ثُمَّ يَنْصَرِفُ فَقَالَ اَبُوْ سَعِيْدٍ فَلَمْ يَزَلِ النَّاسُ عَلٰى ذٰلِكَ حَتّٰى خَرَجْتُ مَعَ مَرْوَانَ وَهُوَ اَمِيْرُ الْمَدِيْنَةِ فِيْ اَضْحٰى اَوْ فِطْرٍ فَلَمَّا اَتَيْنَا الْمُصَلّٰى اِذَا مِنْبَرٌ بَنَاهُ كَثِيْرُ بْنُ الصَّلْتِ فَاِذَا مَرْوَانُ يُرِيْدُ اَنْ يَّرْتَقِيَهُ قَبْلَ اَنْ يُّصَلِّيَ فَجَبَذْتُهُ بِثَوْبِهِ فَجَبَذَنِيْ فَارْتَفَعَ فَخَطَبَ قَبْلَ الصَّلٰوةِ فَقُلْتُ لَهُ غَيَّرْتُمْ وَاللّٰهِ فَقَالَ اَبَا سَعِيْدٍ قَدْ ذَهَبَ مَا تَعْلَمُ فَقُلْتُ مَا اَعْلَمُ وَاللّٰهِ خَيْرٌ مِّمَّا لَا اَعْلَمُ فَقَالَ اِنَّ النَّاسَ لَمْ يَكُوْنُوْا يَجْلِسُوْنَ لَنَا بَعْدَ الصَّلٰوةِ فَجَعَلْتُهَا قَبْلَ الصَّلٰوةِ۔ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ۔

۹۸۵: سيدنا ابوسعيد خدری رضي الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ به د عيدالفطر او عيد الاضحی په ورځ عيدګاه طرف ته تشريف يوړلو نو د ټولو نه مخکښې چه به ئې په کوم څيز شروع کوله هغه مونځ وو، بيا به هغوی سلام واړولو نو د خلقو طرف ته به مخ مبارک راړولو څخه اودريدلو. او خلق به په خپلو صفونو کښې ناست وو، هغوی ته به ئې وعظ او نصيحت کولو او هغوی ته به ئې (د ښه کارونو کولو) حکم فرمائيلو، پس که هغوی به يو ډله (د جهاد لپاره) ليږل غوښتل نو هغوی په ئې مقرر اوفرمائيل يا به ئې د يو څيز په باره کښې خلقو ته حکم فرمائيلو کوم چه به هغوی ته حکم کړې شوې وو. ابوسعيد رضي الله عنه فرمائي : خلقو هم دغه شان (عمل) کولو. تردې چه زه د عيدالفطر او عيدالاضحی په ورځ د مروان څخه لاړم او هغه د مدينې منورې امير وو، چه کله مونږ عيدګاه ته اورسيدلو، نو ناڅاپه مخامخ منبر وو کوم چه کثير بن الصلت تيار کړې وو، پس چه کله مروان د مانځه نه مخکښې په منبر باندې د اودريدلو اراده اوکړه، نو ما هغه د جامو نه اونيولو او رامې کاږلو نو هغه زه رانښکلم، او اوختلو، بيا ئې د مانځه نه مخکښې خطبه ورکړه، نو ما هغه ته اووې، قسم په الله تا (دين سنت) بدل کړې دې، هغه اووې اې ابوسعيد! ته پوهيږې، هغه (دور) لاړو، ما اووې، قسم په الله پاک په څه چه زه پوهيږم هغه د دې نه غوره دې کوم باندې چه زه نه

پوهیږم، نو هغه اووې، خلق د مانځه نه پس مونږ ته نه کینی، نو ما خطبه د مانځه نه مخکښې کړه.دا حدیث بخاری نقل کړې دې.

**تشریح**﴾(۹۸۳ نه ۹۸۵ پورې) د باب اول روایت **عن ابن عمر** (بخاری ج ۱ ص ۱۳۱، مسلم ج ۱ ص ۲۹۰) دویم روایت ۹۸٤ (بخاری ج ۱ ص ۱۳۱ مسلم ج ۱ ص ۲۸۹) دریم روایت ۹۸۵ **عن ابی سعید الخدری رضی الله عنه** (بخاری ج ۱ ص ۱۳۱، مسلم ج ۱ ص ۲۹۰) مدلول د لفظی ترجمې نه واضح دې.

د خلفاء راشدین ائمة اربعه او جمهور امت په دې باندې اتفاق دې چه د اخترونو خطبه د مونځ نه پس مسنون ده او بیا د احنافو او مالکیانو په نزد که چا د مانځه نه مخکښې خطبه ورکړه نو هم صحیح ده اګر چه خلاف سنت او مکروه ده (معارف السنن ج ٤ ص٤٢٧) **حتی خرجت مع مروان وهو امر المدینة** د دې نه معلومیږی چه خطبه د اختر د مانځه نه مخکښې مروان بن الحکم شروع کړې وه او حال دا چه مصنف عبدالرزاق ج ۳ ص ۲۸۳ په یو روایت کښې **اول من خطب ثم صلی بالخطبة قبل الصلاة یوم الفطر عمر بن الخطاب** نه معلومیږی چه دا کار اول عمر رضی الله عنه کړې دې د یو روایت نه معلومیږی چه دا کار د ټولو نه مخکښې عثمان رضی الله عنه کړې دې (فتح الباری ج ۲ ص ۳۷۶) په بعض روایاتو کښې په دې سلسله کښې سیدنا معاویه رضی الله عنه (**قال ابن شهاب اول من بدا بالخطبة قبل الصلاة معاویة** : مصنف عبدالرزاق ج ۳ ص ۳۸٤) او په بعض کښې د زیادت نوم راځی **عن ابن سیرین اول من فعل ذلک زیاد بالبصرة** (فتح الباری ج ۲ ص ۳۷۶)

د دې په ځواب کښې بعض علماء کرامو د دې حضراتو متعلق کلام کړې دې او بعضو فرمائیلي دی چه اصل کښې عثمان رضی الله عنه د لرې لرې نه راتلونکو خلقو د رعایت لپاره خطبه مقدم کړه چه روستو راتلونکی خلق په مانځه کښې شریک شی پس د هغوی په باره کښې روایت دې.

''**اوّل من خطب قبل الصلاة عثمان صلّٰی بالناس ثم خطبهم یعنی علی العادة، فرای ناسًا لم یدرکوا الصلاة ففعل ذلك، ای صار یخطب قبل الصلاة**''۔(فتح الباری ج:۲،ص:۳۷۶)

خو د عمر رضی الله عنه د تقدیم خطبه بله وجه دا بیان کړې شوې ده پس عبد الله بن سلام رضی الله عنه فرمائی :

''**قال کان الناس یبدون بالصّلوۃ ثم یثنون بالخطبة حتی اذا کان عمر وکثر الناس فی زمانه وکان اذا ذهب یخطب ذهب جفاة الناس، فلمّا رای ذلك عمر بدا بالخطبة حتی ختم بالصّلاة**''(مصنف ابن ابی شیبة ج:۲،ص:۱۷۱)

خو راجحه هم دا ده چه د عمر رضی الله عنه طرف ته د تقدیم خطبه نسبت شاذ او د حدیث الباب خلاف دې خو د عثمان رضی الله عنه نه تقدیم خطبه ثابت دې او د هغوی نه پس د معاویه رضی الله عنه نه هم، غالبا

هغوی د عثمان ﷺ په اتباع کښې داسې اوکړل، بيا چونکه زياد د معاويه ﷺ په زمانه کښې د بصرې گورنر وو، هغه هم د معاويه ﷺ په اتباع کښې په تقديم خطبه باندې عمل اوکړو، هم دغه شان د مدينې گورنر مروان هم په دغه زمانه کښې د معاويه ﷺ په اتباع کښې او د بعضو په قول د خپلو بعض مصالحو په بناء باندې تقديم خطبه على الصلاة اختيار کړه.

بيا سيدنا عثمان، سيدنا معاويه ﷺ، مروان او زياد د اول من خطب مصداق وئيل د راويانو د خپل خپل علم په اعتبار څخه ده، او دا هم ممکنه ده چه سيدنا معاويه ﷺ په خپله علاقه کښې د ټولو نه مخکښې په تقديم خطبه باندې عمل کړې وی په دې وجه هغوی ته ﴿ اول من خطب ﴾ اوئيلې شو او مروان او زياد هم چونکه د هغوی گورنر وو او هم په دغه زمانه کښې هغوی هم په خپلو خپلو علاقو کښې تقليدا يا مصلحة تقديم خطبه اختيار کړه، په دې وجه د ﴿ اول من خطب ﴾ نسبت د هغوی طرف ته هم اوکړې شو. والله اعلم بالصواب

## بَـــابُ مَا يُقْرَأُ فِيْ صَلٰوةِ الْعِيْدَيْنِ؟

(۹۸۶) عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ اَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ سَأَلَ اَبَا وَاقِدٍ اللَّيْثِيَّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مَا كَانَ يَقْرَأُ بِهٖ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْاَضْحٰى وَالْفِطْرِ فَقَالَ كَانَ يَقْرَاءُ فِيْهِمَا بِ { قٓ ۚ وَالْقُرْاٰنِ الْمَجِيْدِ وَاقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ } - رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

**باب د اخترونو په مانځه کښې به څه لولی:** ۹۸۶: د عبيد الله بن عبد الله نه روايت دې چه سيدنا عمر بن الخطاب ﷺ د ابو واقد الليثى نه پوښتنه اوکړه، رسول الله ﷺ به د عيدالاضحى او عيد الفطر په مونځونو کښې څه تلاوت کول؟ نو هغوی اوفرمائيل: رسول الله ﷺ به په دواړو کښې ﴿ق والقران المجيد ﴾ او ﴿ اقتربت الساعة وانشق القمر ﴾ تلاوت فرمائيلو. دا حديث مسلم نقل کړې دې.

(۹۸۷) وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيْرٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْعِيْدَيْنِ وَفِي الْجُمُعَةِ بِ {سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰى وَهَلْ اَتٰكَ حَدِيْثُ الْغَاشِيَةِ} قَالَ وَاِذَا اجْتَمَعَ الْعِيْدُ وَالْجُمُعَةُ فِيْ يَوْمٍ وَّاحِدٍ يَقْرَاءُ بِهِمَا اَيْضًا فِي الصَّلٰوتَـيْنِ - رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

۹۸۷: سيدنا نعمان بن بشير ﷺ فرمائى: رسول الله ﷺ به په دواړو اخترونو او جمعه کښې ﴿ سبح اسم ربک الاعلى ﴾ او ﴿ هل اتاک حديث الغاشية ﴾ تلاوت فرمائيلو، او کله به چه جمعه او اختر په يو ورځ کښې راجمع شو نو بيا به ئې هم دا دواړه سورتونه تلاوت کول. دا حديث مسلم نقل کړې دې.

(٩٨٨) وَعَنْ سَمُرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقْرَأُ فِي الْعِيْدَيْنِ بِـ { سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰى وَهَلْ اَتٰكَ حَدِيْثُ الْغَاشِيَةِ } رَوَاهُ اَحْمَدُ وَابْنُ اَبِيْ شَيْبَةَ وَالطَّبَرَانِيُّ فِي الْكَبِيْرِ وَاِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ۔

٩٨٨: د سیدنا سمرة بن جندب نه روایت دې چه رسول الله ﷺ به په اخترونو کښې ﴿ سبح اسم ربک الاعلی ﴾ او ﴿ هل اتاک حدیث الغاشیة ﴾ تلاوت فرمائیلو. دا حدیث احمد، ابن ابی شیبة او طبرانی په کبیر کښې نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

تشریح> (٩٨٦ نه ٩٨٨ پورې) د باب اول روایت عن عبیدالله بن عبدالله (مسلم ج ١ ص ٢٩١) دویم روایت ٩٨٧ عن النعمان بن بشیر (مسلم ج ١ ص ٢٨٨) دریم روایت ٩٨٨ وعن سمرة (مسند احمد ج ٥ ص ٧، مصنف ابن ابی شیبة ج ٢ ص ١٧٦) کښې په عیدین کښې د رسول الله ﷺ د قرأت معمول منقول دې.

﴿ واذا اجتمع العید والجمعة فی یوم واحد الخ ﴾ د دې نه معلومه شوه چه که جمعه او اختر په یو ورځ باندې راجمع شی نو دواړه مونځونه به ادا کولې شی. پس د جمهورو مسلک هم دا دې.

خو علامه ابن قدامة حنبلی رحمه الله په خپل کتاب المغنی ج ٢ ص ٢١٢ کښې لیکی چه که اختر او جمعه په یو ورځ باندې جمع شی نو چا چه د اختر په مانځه کښې شرکت اوکړو د هغوی تولو نه به جمعه ساقط شی. خو د امام نه به نه ساقط کیږی، او هغوی دا هم نقل کوی وممن قال بسقوطه الشعبی والنخعی والاوزاعی وقیل هذا مذهب عمر وعثمان وعلی وسعید وابن عمر وابن عباس وابن الزبیر، بله دا چه په شرح المهذب کښې د امام شافعی رحمه الله مسلک دا بیان کړې شوې دې چه په داسې صورت کښې به د اهل بوادی نه جمعه ساقط کیږی خو د اهل بلد نه به نه ساقط کیږی. د امام شافعی رحمه الله یو روایت د جمهورو موافق دې. د مذاهبو د تفصیل لپاره اوګورئ اعلاء السنن ج ٨ ص ٧٥ تا ٨٠) هم دغه شان اوګورئ معارف السنن ج ٤ ص ٤٣، مرتب عفی عنه.

د قائلین سقوط استدلال د سیدنا عثمان رضی الله عنه د واقعې نه دې، ابوعبید فرمائی:

''ثم شهدت مع عثمان بن عفان رضی الله عنه وکان ذلک یوم الجمعة فصلی قبل الخطبة ثم خطب فقال: یاایها الناس: ان هذا یوم قد اجتمع لکم فیه عیدان، فمن احب ان ینتظر الجمعة من اهل العوالی فلینتظر ومن احب ان یرجع فقد اذنت له''۔(بخاری ج:٢،ص:٨٣٥)

خو دا استدلال کمزورې دې ځکه چه په اهل عوالی باندې د کورونو د لرې والی او اهل قری کیدو د وجې نه جمعه واجب نه وه، په دې وجه دا نه لازمیږی چه د اهل مصر نه دې هم جمعه ساقط شی، هم دا وجه ده چه عثمان رضی الله عنه د رخصت اختیار صرف اهل عوالی ته ورکړې وو.

مختصر دا چه د جمعې ثبوت د دلائل قطعيه نه دې لهذا د دې د سقوط لپاره به هم د دليل قطعي ضرورت وی او حال دا چه دې باره کښې هيڅ صحيح او صريح خبر مرفوع موجود نه دې پاتې دا چه دليل قطعی دې موجود شی لهذا د جمعې د سقوط اعتبار کولو څخه د کتاب الله، اخبار متواتره او اجماع مخالفت نه شی کيدلې. والله اعلم

## بَابُ صَلٰوةِ الْعِيدَيْنِ بِثِنْتَيْ عَشَرَةَ تَكْبِيْرَةً

(۹۸۹) عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَبَّرَ فِيْ عِيْدٍ ثِنْتَيْ عَشَرَةَ تَكْبِيْرَةً سَبْعًا فِي الْاُوْلٰى وَخَمْسًا فِي الْاٰخِرَةِ. رَوَاهُ اَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَةَ وَالدَّارَقُطْنِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ وَاِسْنَادُهٗ لَيْسَ بِالْقَوِيِّ.

**باب: د دولسو تکبيرونو څخه د اختر مونځ:** ۹۸۹: د عمرو بن شعيب نه په واسطه د شعيب د نيکهٔ شعيب رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ د اختر په مونځ کښې دولس تکبيرونه اولوستل، اووهٔ په اول رکعت کښې او پنځه په دويم کښې. دا حديث احمد، ابن ماجة، دارقطنی او بيهقی نقل کړې دې او د دې اسناد قوی نه دې.

(۹۹۰) وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَوْفِ الْمُزَنِيِّ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَبَّرَ فِي الْعِيْدَيْنِ فِي الْاُوْلٰى سَبْعًا قَبْلَ الْقِرَاءَةِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَةَ وَاِسْنَادُهٗ ضَعِيْفٌ جِدًّا.

۹۹۰: د عمرو بن عوف المزنی رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ د اخترونو په مونځ کښې په اول رکعت کښې د قرأت نه مخکښې اووهٔ تکبيرونه اوکړل.

دا حديث ترمذی او ابن ماجة نقل کړې دې او د دې اسناد ډير زيات کمزورې دې.

(۹۹۱) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَبَّرَ فِي الْفِطْرِ وَالْاَضْحٰى سَبْعًا وَّخَمْسًا سِوٰى تَكْبِيْرَةِ الرُّكُوْعِ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ وَاَبُوْدَاوٗدَ وَفِيْ اِسْنَادِهٖ ابْنُ لَهِيْعَةَ وَفِيْهِ كَلَامٌ مَّشْهُوْرٌ.

۹۹۱: د ام المومنين سيده عائشه رضي الله عنها نه روايت دې چه رسول الله ﷺ د عيدالفطر او عيد الاضحی په مونځ کښې د رکوع د تکبيرنه علاوه اووهٔ او پنځه تکبيرات اولوستل. دا حديث ابن ماجه او ابوداؤد نقل کړې دې او د دې په سند کښې ابن لهيعة دې او د هغه په باره کښې کلام مشهور دې (چه ضعيف راوی دې).

(۹۹۲) وَعَنْ سَعْدِ الْمُؤَذِّنِ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُكَبِّرُ فِي الْعِيْدَيْنِ فِي الْاُوْلٰى سَبْعًا قَبْلَ الْقِرَاءَةِ وَفِي الْاٰخِرَةِ خَمْسًا قَبْلَ الْقِرَاءَةِ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ وَاِسْنَادُهٗ ضَعِيْفٌ.

۹۹۲: د سعد المؤذن نه روايت دې چه رسول الله ﷺ به په اخترونو کښې په اول رکعت کښې د

قرأت نه مخکښې اووهٔ او په دویم رکعت کښې د قرات نه مخکښې پنځه تکبیرونه کول. دا حدیث ابن ماجة نقل کړې دې او د دې اسناد ضعیف دې.

(۹۹۳) وَعَنْ نَافِعٍ مَوْلٰى عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ شَهِدْتُ الْاَضْحٰى وَالْفِطْرَ مَعَ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَكَبَّرَ فِي الرَّكْعَةِ الْاُوْلٰى سَبْعَ تَكْبِيْرَاتٍ قَبْلَ الْقِرَآءَةِ وَفِي الْاُخْرٰى خَمْسَ تَكْبِيْرَاتٍ قَبْلَ الْقِرَآءَةِ۔ رَوَاهُ مَالِكٌ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۹۹۳: د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما آزاد کړې غلام نافع رحمه الله فرمائی: زه د عیدالاضحی او عید الفطر په مونځ کښې د ابوهریره رضی الله عنه څخه حاضر شوم، نو هغوی په اول رکعت کښې د قرأت نه مخکښې اووهٔ تکبیرونه او په دویم رکعت کښې د قرأت نه مخکښې پنځه تکبیرونه اوکړل. دا حدیث مالک نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۹۹۴) وَعَنْ عَمَّارِ بْنِ اَبِيْ عَمَّارٍ اَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كَبَّرَ فِيْ عِيْدٍ ثِنْتَيْ عَشَرَةَ تَكْبِيْرَةً سَبْعًا فِي الْاُوْلٰى وَخَمْسًا فِي الْاٰخِرَةِ۔ رَوَاهُ اَبُوْبَكْرِ بْنُ اَبِيْ شَيْبَةَ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

۹۹۴: د عمار بن ابی عمار نه روایت دې چه ابن عباس رضی الله عنهما د اختر په مانځه کښې دولس تکبیرونه اوکړل، اووهٔ تکبیرونه په اول رکعت کښې او پنځه په دویم رکعت کښې.

دا حدیث ابوبکر بن ابی شیبة نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

**تشریح>** (۹۸۹ نه ۹۹۴ پورې) د عیدین د تکبیرات زوائد په باره کښې اختلاف دې.

**بیان مذاهب**: ۱: ائمة ثلاثه فرمائی چه دولس تکبیرات زائد دی او په دواړو رکعتونو کښې به تکبیرونه د قرأت نه مخکښې وی **فی الرکعة الاولی سبعا وفی الاخرة خمسا قبل القراءة**.

۲: د احنافو په نزد تکبیرات زوائد شپږ دی په اول رکعت کښې د ثناء نه پس د فاتحې د قرأت نه مخکښې دې درې زائد تکبیرونه اولولی او لاسونه دې هم اوچت کړی او په دویم رکعت کښې دې دقرأت داختتام نه پس د رکوع نه مخکښې درې زائد تکبیرونه اوکړی اولاسونه دې هم اوچت کړی.

**د ائمة ثلاثة دلائل او ځوابات**: د دې باب روایات د ائمة ثلاثه مستدل دی.

۱: د دې باب اول روایت **عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده** (مسند احمد ج ۲ ص ۱۸۰) کښې د **﴿ ثنتی عشرة تکبیرة ﴾** تصریح ده احناف حضرات په ځواب کښې وائی چه د دې په سند کښې عبدالرحمٰن الطائفی دې چه په هغه باندې جرح ده. (میزان الاعتدال ج ۲ ص ۴۵۲)

۲: روایت ۹۹۰ **عن عمرو بن عوف المزنی** (ترمذی ج ۱ ص ۱۱۹، ابن ماجة ص ۹۲) کښې **فی الاولی سبعاً قبل القراءة** مذکور دې امام نیموی رحمه الله د دې په ځواب کښې **واسنادہ ضعیف جدا** وئیلې دې د دې په

سند کښې کثیر بن عبدالله باندې سخت ترین جرح موجود ده : قال احمد لیس بشئ، قال ابو حاتم منکر الحدیث وقال ابن حبان روی عن ابیه نسخة موضوعة (میزان الاعتدال ج ۳ ص ۴۰۶، و تهذیب ج ۸ ص ۴۲۲) د روایت ۹۹۱ عن عائشة (ابن ماجة ص ۹۲، ابوداؤد ج ۱ ص ۱۶۲) په ځواب کښې احناف حضرات وائی چه په دې حدیث کښې عبدالله بن لهیعة دې چه د هغه په باره کښې خپله امام ترمذی رحمه الله فرمائی : عبدالله بن لهیعة ضعیف عند اهل الحدیث ج ۱ ص ۳)

۳: عن سعید المؤذن روایت ۹۹۲ (ابن ماجة ص ۹۲) کښې عبدالرحمٰن بن سعد ضعیف راوی دې. (میزان الاعتدال ج ۲ ص ۵۶۶) او د دې په سند سعد بن عمار مجهول دې (میزان الاعتدال ج ۲ ص ۱۲۴) د دې حضراتو نور دلائل مثلا هم د د دې باب روایت ۹۹۳ (عن نافع الخ موطاء امام مالک ص ۱۶۶) او روایت ۹۹۴ عن عمار بن ابی عمار (مصنف ابن ابی شیبة ج ۲ ص ۱۷۶) او د دې نه علاوه نور دلائل هم دی خو هغه ټول ضعیف دی د نور تفصیل لپاره دې نصب الرایة ج ۲ ص ۲۱۶ تا ۲۱۹ اوکتلې شی.

## بَـــابُ صَلٰوةِ الْعِيْدَيْنِ بِسِتِّ تَكْبِيْرَاتٍ زَوَائِدَ

(۹۹۵) عَنْ اَبِیْ عَآئِشَةَ جَلِيْسٍ لِاَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ سَعِيْدَ بْنَ الْعَاصِ سَأَلَ اَبَـا مُوْسَى الْاَشْعَرِيَّ وَحُذَيْفَةَ بْنَ الْيَمَانِ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ كَيْفَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَـيْهِ وَسَلَّمَ يُكَبِّرُ فِی الْاَضْحٰى وَالْفِطْرِ؟ فَقَالَ اَبُوْمُوْسٰى: كَانَ يُكَبِّرُ اَرْبَعًا تَكْبِيْرَةً عَلَى الْجَنَائِزِ فَقَالَ حُذَيْفَةُ: صَدَقَ فَقَالَ اَبُوْمُوْسٰى كَذٰلِكَ كُنْتُ اُكَبِّرُ فِی الْبَصْرَةِ حَيْثُ كُنْتُ عَلَـيْـهِمْ قَالَ اَبُوْعَآئِشَةَ: وَاَنَا حَاضِرٌ سَعِيْدَ بْنَ الْعَاصِ۔ رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

**باب : د اخترونو مونځ د شپږ زائد تکبیرونو ځخه** : ۹۹۵: د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه د ملګری ابوعائشه رضی الله عنه نه روایت دې چه سعید بن العاص د ابوموسی اشعری رضی الله عنه او حذیفه بن الیمان رضی الله عنه نه پوښتنه اوکړه، رسول الله ﷺ به په عیدالاضحی او عیدالفطر کښې څنګه تکبیرونه کول، نو ابوموسی رضی الله عنه اووئیل، حضور ﷺ به څلور تکبیرونه کول، لکه څنګه چه به ئې په جنازه کښې کول، نو حذیفه رضی الله عنه اووئیل: هغه رشتیا اووئیل، ابوموسی رضی الله عنه اووئیل، ما به په بصره کښې هم دغه شان تکبیر کولو، ترڅو چه زه په هغوی باندې حاکم اوم، ابو عائشه فرمائی زه د سعید بن العاص رضی الله عنه ځخه حاضر اوم. دا حدیث ابوداؤد نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۹۹۶) وَعَنْ عَلْقَمَةَ وَالْاَسْوَدِ قَالَ: كَانَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ رَّضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ جَالِسًا وَّعِنْدَهٗ حُذَيْفَةُ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ وَاَبُوْمُوْسَى الْاَشْعَرِیُّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فَسَاَلَـهُمْ سَعِيْدُ بْنُ الْعَاصِ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ التَّكْبِيْرِ فِیْ صَلٰوةِ

الْعِيْدِ فَقَالَ حُذَيْفَةُ سَلِ الْاَشْعَرِيَّ فَقَالَ الْاَشْعَرِيُّ سَلْ عَبْدَ اللّٰهِ فَاِنَّهُ اَقْدَمُنَا وَاَعْلَمُنَا فَسَأَلَهُ فَقَالَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ: يُكَبِّرُ اَرْبَعًا ثُمَّ يَقْرَأُ ثُمَّ يُكَبِّرُ فَيَرْكَعُ فَيَقُوْمُ فِي الثَّانِيَةِ فَيَقْرَأُ ثُمَّ يُكَبِّرُ اَرْبَعًا بَعْدَ الْقِرَآءَةِ۔ رَوَاهُ عَبْدُ الرَّزَّاقِ وَاِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ۔

۹۹۶: علقمه او اسود رحمة الله عليهما فرمائي: سيدنا ابن مسعود رضي الله عنه ناست وو او هغوی څخه حذيفه او ابوموسى اشعرى رضي الله عنهما وو چه د هغوی نه سعيد بن العاص د اختر د تکبيرونو په باره کښې پوښتنه اوکړه، سيدنا حذيفه رضي الله عنه اوفرمائيل: د اشعرى رضي الله عنه نه پوښتنه اوکړه، نو اشعرى رضي الله عنه اوفرمائيل: د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه پوښتنه اوکړه بيشکه هغه په مونږ کښې زيات عالم دې، نو سعيد رضي الله عنه د هغوی نه پوښتنه اوکړه، ابن مسعود رضي الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ به څلور تکبيرونه کول، بيا به ئې قرأت فرمائيلو، بيا به ئې تکبير کولو نو رکوع به ئې فرمائيله، بيا به (د رکعت د پوره کيدو نه پس) په دويم رکعت کښې اودريدلو، نو قراءة به ئې فرمائيلو، بيا به ئې د قرأت نه پس څلور تکبيرونه وئيل. دا حديث عبدالرزاق نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(۹۹۷) وَعَنْ كُرْدُوْسٍ قَالَ: اَرْسَلَ الْوَلِيْدُ اِلٰى عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ وَّحُذَيْفَةَ وَاَبِيْ مُوْسَى الْاَشْعَرِيِّ وَاَبِيْ مَسْعُوْدٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ بَعْدَ الْعَتَمَةِ فَقَالَ اِنَّ هٰذَا عِيْدٌ لِّلْمُسْلِمِيْنَ فَكَيْفَ الصَّلٰوةُ؟ فَقَالُوْا سَلْ اَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ فَسَأَلَهُ فَقَالَ يَقُوْمُ فَيُكَبِّرُ اَرْبَعًا ثُمَّ يَقْرَأُ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَسُوْرَةٍ عَنِ الْمُفَصَّلِ ثُمَّ يُكَبِّرُ اَرْبَعًا يَرْكَعُ فِيْ اٰخِرِهِنَّ فَتِلْكَ تِسْعٌ فِي الْعِيْدَيْنِ فَمَا اَنْكَرَهُ اَحَدٌ مِّنْهُمْ۔ رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْكَبِيْرِ وَاِسْنَادُهُ حَسَنٌ۔

۹۹۷: کردوس رحمه الله فرمائي: وليد عبدالله بن مسعود، حذيفه، ابوموسى اشعرى او ابو مسعود رضي الله عنهم ته د نيمې شپې نه پس پيغام اوليږلو، هغه اووې بيشکه دا ورځ د مسلمانانو لپاره اختر دې، نو د مونځ طريقه څه ده؟ هغوی اووې: د ابوعبدالرحمٰن نه پوښتنه اوکړه، هغه د هغوی نه پوښتنه اوکړه، نوهغوی اوفرمائيل: په ولاړه باندې ئې څلور تکبيرونه اوکړل، بيا سورة فاتحة او بيا دې په مفصل سورتونو کښې يو سورت اولولی، بيا دې څلور تکبيرونه اوائی، د هغې په آخر کښې دې رکوع اوکړی، نو دا څخه د تکبير تحريمه نه په عيدين کښې نهه تکبيرونه شو، د دې نه په هغوی کښې يو هم انکار نه دې کړې. دا حديث طبرانى په کبير کښې نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۹۹۸) وَعَنْ عَلْقَمَةَ وَالْاَسْوَدِ اَنَّ ابْنَ مَسْعُوْدٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كَانَ يُكَبِّرُ فِي الْعِيْدَيْنِ تِسْعًا اَرْبَعًا قَبْلَ الْقِرَاْةِ ثُمَّ يُكَبِّرُ فَيَرْكَعُ وَفِي الثَّانِيَةِ يَقْرَأُ فَاِذَا فَرَغَ كَبَّرَ اَرْبَعًا ثُمَّ رَكَعَ۔ رَوَاهُ عَبْدُ الرَّزَّاقِ وَاِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ۔

۹۹۸: د علقمه او اسود رحمة الله عليهما نه روايت دې چه ابن مسعود رضي الله عنه به په اخترونو کښې نهه تکبيرونه وئيل. څلور تکبيرونه د قرأت نه مخکښ، بيا به ئې تکبير کولو نو رکوع به ئې

کوله او په دويم رکعت کښې به ئې قرأت کولو ، پس چه کله به فارغ شو نو څلور تکبيرونه به ئې وئيل، بيا به ئې رکوع کوله. دا حديث عبدالرزاق نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۹۹۹) وَعَنْ كُرْدُوْسٍ قَالَ كَانَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يُكَبِّرُ فِي الْاَضْحٰى وَالْفِطْرِ تِسْعًا تِسْعًا يَبْدَأُ فَيُكَبِّرُ اَرْبَعًا ثُمَّ يُكَبِّرُ وَاحِدَةً فَيَرْكَعُ بِهَا ثُمَّ يَقُوْمُ فِي الرَّكْعَةِ الْاٰخِرَةِ فَيَبْدَأُ فَيَقْرَأُ ثُمَّ يُكَبِّرُ اَرْبَعًا ثُمَّ يَرْكَعُ بِاِحْدَاهُنَّ. رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْكَبِيْرِ وَاِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

۹۹۹: کردوس رحمه الله فرمائی : عبدالله بن مسعود رضی الله عنه په عيدالاضحی او عيدالفطر کښې نهه نهه تکبيرونه کول، رسول الله صلی الله علیه وسلم به (مونځ) شروع فرمائيلو نو څلور تکبيرونه به ئې وئيل بيا به ئې يو تکبير کولو ، نو په هغې څخه به ئې رکوع کوله، بيا به په دويم رکعت کښې اودريدلو نو په شروع کښې به ئې قرأت کولو ، بيا به ئې څلور تکبيرونه کول، بيا به ئې په هغې کښې يو څخه رکوع فرمائيله. دا حديث طبرانی په کبير کښې نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(۱۰۰۰) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الْحَارِثِ قَالَ شَهِدْتُّ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كَبَّرَ فِيْ صَلٰوةِ الْعِيْدِ بِالْبَصْرَةِ تِسْعَ تَكْبِيْرَاتٍ وَالٰى بَيْنَ الْقِرَاءَتَيْنِ قَالَ وَشَهِدْتُّ الْمُغِيْرَةَ بْنَ شُعْبَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَعَلَ مِثْلَ ذٰلِكَ. رَوَاهُ عَبْدُ الرَّزَّاقِ وَقَالَ الْحَافِظُ فِي التَّلْخِيْصِ اِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

۱۰۰۰: عبدالله بن الحارث فرمائی : زه د سيدنا ابن عباس رضی الله عنهما څخه حاضر اوم، هغوی په بصره کښې د اختر په مانځه کښې نهه تکبيرونه اوئيل دوه قرأتونه ئې پرله پسې ادا کړل. هغوی اوفرمائيل زه مغيره بن شعبه رضی الله عنه ته هم حاضر شوم، هغوی هم دغه شان اوکړل.
دا حديث عبدالرزاق نقل کړې دې او حافظ په تلخيص کښې وائی : د دې اسناد صحيح دې.

**تشريح**﴿۹۹۵ نه ۱۰۰۰ پورې﴾ د باب اول روايت **عن ابی عائشة** (ابوداؤد ج ۱ ص ۱۶۳) د احنافو قوی مستدل دې په دې کښې د څلورو تکبيرونه ذکر دې په هغې کښې يو تکبير تحريمه دې او درې زوائد دی بلکه دا د دوه احاديثو قائم مقام دې ځکه چه په دې کښې ذکر دې چه حذيفه رضی الله عنه د ابو موسی اشعری رضی الله عنه نه تصديق اوفرمائيلو.

په دې باندې دا اعتراض کړې شوې دې چه د دې مدار په عبدالرحمٰن بن ثوبان باندې دې چاته چه ضعيف وئيلې شوې دې.

د دې ځواب دا دې چه عبدالرحمٰن بن ثوبان يو مختلف فيه راوی دې، که يو طرفته محدثينو د هغه تضعيف کړې دې **فروی عثمان بن سعيد عن ابن معين : ضعيف، وقال احمد : احاديثه مناکير، وقال النسائی : ليس بالقوی،** (ميزان الاعتدال ج ۲ ص ۵۵۱). **وقال عمرو بن علی: حديث الشاميين**

ضعیف الا لفرا فأستثناه منهم. وقال صالح بن محمد شامی صدوق الا ان مذهبه القدر وانکر علیه احادیث یرویها عن ابیه عن مکحول) دغه شان بل طرف ته محدثینو د هغه توثیق هم کړې دې. پس دحیم او ابوحاتم هغوی ته ثقة وئیلې دي او امام ابوداؤد رحمه الله د هغوی په باره کښې فرمائی : کان فیه سلامة وکان مجاب الدعوة. او ابن معین فرمائی : لیس به بأس... او صالح جزره هغوی ته صدوق وئیلې دې، او ابن عدی فرمائی : مع ضعفه یکتب حدیثه. لهذا د هغوی حدیث د حسن د درجې نه کم نه دې.

په دې حدیث باندې دویم اعتراض دا کړې شوې دې چه د دې راوی ابوعائشه په قول د ابن حزم او ابن قطان مجهول دې.

ځواب دا دې چه دا د محمد بن ابی عائشة او موسی بن ابی عائشة پلار دې، حافظ ابن حجر رحمه الله د هغوی په باره کښې په تقریب ج ۲ ص ۴۴۴ رقم ۲۰_(۱۲مرتب) کښې لیکلې دی : أبو عائشة الأموي مولاهم جلیس أبي هریرة مقبول من الثانیة.... او حافظ رحمه الله په تهذیب کښې د هغوی په باره کښې لیکی : ویروی عنه مکحول وخالد بن معدان (معارف السنن ج ۴ ص ۴۳۹) او په اصول حدیث کښې دا خبره لیکلې شوې ده چه د کوم سړی نه دوه راویان روایت اوکړی د هغه جهالت مرتفع کیږی، لهذا د جهالت اعتراض کول صحیح نه دی او دا حدیث د حسن د درجې نه کم نه دې. په (نصب الرایة ۲ ص ۲۱۴، سنن الکبری ج ۳ ص ۳۹۰) کښې امام بیهقی رحمه الله په دې باندې اعتراض کړې دې چه دا حدیث په اصل کښې ابن مسعود رضي الله عنه باندې موقوف دې چه د هغې تفصیل دا دې چه دا روایت مصنف عبدالرزاق ج ۳ ص ۲۹۳ کښې د علقمه او اسود بن یزید نه داسې مروی دې :

کان ابن مسعود جالسًا، وعنده حذیفة وابوموسی الاشعری، فسألهما سعید بن العاص عن التکبیر فی الصلاة یوم الفطر والاضحی، فجعل هذا یقول سل هذا، و هذا یقول : سل هذا فقال له حذیفة، سل هذا لعبد الله بن مسعود رضي الله عنه فسأله فقال ابن مسعود یکبّر اربعًا ثم یقراء ثم یکبّر فیرکع ثم یقوم فی الثانیة، فیقرأ ثم یکبّر اربعًا بعد القرأة. د دې نه معلومه شوه چه دا روایت موقوف دې په ابن مسعود رضي الله عنه باندې او صرف هم د هغوی نه مروی دې.

علامه نیموی رحمه الله په حاشیه کښې د دې ځواب دا ورکړې دې چه د ابوموسی اشعری رضي الله عنه په روایت مرفوعه او د ابن مسعود رضي الله عنه په روایت موقوفه کښې داسې تطبیق ممکن دې چه ابوموسی رضي الله عنه به په شروع کښې د ابن مسعود رضي الله عنه مخکښې د ادب د وجې نه خاموش پاتې شوې وی او چه کله ابن مسعود رضي الله عنه شرعی حکم بیان کړو نو ابوموسی اشعری رضي الله عنه به د هغوی د قول په تائید کښې خپل روایت مرفوعه بیان کړې وی، بیا که دا روایت صرف د ابن مسعود رضي الله عنه نه

موقوف هم اومنلې شی نو هم د غیر مدرک بالقیاس کیدو د وجې نه د مرفوع په حکم کښې دې، بیا په دې روایت کښې د صحابه کرامو یو جماعت د ابن مسعود رضی الله عنه موافقت کړې دې چه په هغې څخه دې روایت ته نور هم قوت حاصلیږی.

۲: د باب روایت ۹۹۲ **عن علقمة والاسود** (مصنف عبدالرزاق ج ۳ ص ۲۹۳) روایت ۹۹۷ **عن کردوس** (المعجم الکبیر ج ۹ ص ۳۵۰) د احنافو قطعی مستدل او په خپل مفهوم کښې واضح دی، احناف په حضرات صحابه کرامو کښې د ابن مسعود، ابوموسی اشعری، حذیفه، مغیره بن شعبة، ابن عباس، ابو مسعود الانصاری، عبدالله بن قیس، جابر بن عبدالله، انس بن مالک او سعید بن العاص رضی الله عنهم عمل د شپږو تکبیراتو دې. **فتلک عشرة کاملة** ....

علامه ابن رشد په بدایة المجتهد کښې لیکلې دی چه د تکبیرات عید د تعداد په باره کښې هیڅ حدیث مرفوع په صحت څخه ثابت نه دې د دې وجه نه مختلف فقهاء کرامو د مختلف صحابه کرامو رضی الله عنهم د عمل نه استدلال کولو څخه خپل خپل مسلک متعین کړې دې بیا دا اختلاف هم په افضلیت کښې دې مونځ په اتفاق څخه هر څنګه کیږی بلکه فقهاء کرامو تصریح کړې ده چه که امام د شپږو نه زیات تکبیرونه اوکړل نو د دیارلسو تکبیرونو پورې به په مقتدی باندې د امام اتباع لازم وی بلکه د بعضو په نزد د شپاړسو پورې ګنجائش شته خو د دې نه د زیاتو په صورت کښې به اتباع نه کوی. (فتح القدیر ج ۱ ص ٤٢٨)

## بَابُ تَرْكِ التَّنَفُّلِ قَبْلَ صَلٰوةِ الْعِيْدِ وَبَعْدَهَا

**(١٠٠١) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ يَوْمَ الْفِطْرِ فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ لَمْ يُصَلِّ قَبْلَهَا وَلَا بَعْدَهَا. رَوَاهُ الْجَمَاعَةُ.**

**باب: د اختر د مانځه نه مخکښې او روستو نفل نه کول:** ۱۰۰۱: د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د عیدالفطر لپاره اوتلو، دوه رکعتونه ئې ادا اوفرمائیل، نه ئې د هغې نه مخکښې مونځ اوکړو، نه د هغې نه روستو. دا حدیث د محدثینو جماعت نقل کړې دې.

**(١٠٠٢) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ خَرَجَ يَوْمَ عِيْدٍ فَلَمْ يُصَلِّ قَبْلَهَا وَلَا بَعْدَهَا وَذَكَرَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَلَهُ. رَوَاهُ اَحْمَدُ وَالتِّرْمَذِيُّ وَالْحَاكِمُ وَاِسْنَادُهُ حَسَنٌ.**

۱۰۰۲: سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما د اختر په ورځ اوتلو، نه خو ئې د اختر د مانځه نه مخکښې مونځ اوکړو او نه د هغې نه روستو او هغوی بیان اوکړو چه رسول الله صلی الله علیه وسلم هم دغه شان کړی دی. دا حدیث احمد، ترمذی او حاکم نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(١٠٠٣) وَعَنْ اَبِیْ سَعِیْدِنِ الْخُدرِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ کَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَا یُصَلِّیْ قَبْلَ الْعِیْدِ شَیْئًا فَاِذَا رَجَعَ اِلٰی مَنْزِلِهٖ صَلّٰی رَکْعَتَیْنِ رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

۱۰۰۳: سیدنا ابوسعید خدری رضی الله عنه فرمائی: رسول الله صلی الله علیه وسلم به د اختر د مانځه نه مخکښې هیڅ مونځ هم نه ادا کولو، پس چه کله به هغوی خپل کور ته تشریف راوړلو، نو دوه رکعتونه به ئې ادا فرمائیل. دا حدیث ابن ماجة نقل کړې دې او ددې اسناد حسن دې.

(١٠٠٤) وَعَنْ اَبِیْ مَسْعُوْدٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ لَیْسَ مِنَ السُّنَّةِ، اَلصَّلٰوةُ قَبْلَ خُرُوْجِ الْاِمَامِ یَوْمَ الْعِیْدِ۔ رَوَاهُ الطَّبَرَانِیُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِیْحٌ۔

۱۰۰۴: سیدنا ابن مسعود رضی الله عنه فرمائی: د اختر په ورځ باندې د امام د راتلو نه مخکښې مونځ (نفل) سنت نشته. دا حدیث طبرانی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(١٠٠٥) وَعَنِ ابْنِ سِیْرِیْنَ اَنَّ ابْنَ مَسْعُوْدٍ وَّحُذَیْفَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا کَانَا: یَنْهَیَانِ النَّاسَ اَوْقَالَ یُجْلِسَانِ مَنْ یَّرَیَاهُ یُصَلِّیْ قَبْلَ خُرُوْجِ الْاِمَامِ فِی الْعِیْدِ۔ رَوَاهُ الطَّبَرَانِیُّ وَاِسْنَادُهٗ مُرْسَلٌ قَوِیٌّ۔

۱۰۰۵: د محمد بن سیرین رحمه الله نه روایت دې چه ابن مسعود رضی الله عنه به خلق منع کول، یا چه به ئې څوک د امام د راتلو نه مخکښې په مونځ کولو باندې اولیدو هغه به ئې کېنولو.
دا حدیث طبرانی نقل کړې دې او د دې اسناد مرسل قوی دې.

**تشریح**>(۱۰۰۱ نه ۱۰۰۵ پورې) د باب اول روایت عن ابن عباس (بخاری ج ۱ ص ۱۳۵) نه علاوه مسلم، ترمذی او نسائی هم نقل کړې دې، دویم روایت ۱۰۰۲ مسند احمد ج ۲ ص ۵۲، ترمذی ج ۱ ص ۱۲، روایت ۱۰۰۳ ابن ماجة ص ۹۳ او روایت ۱۰۰۴ المعجم الکبیر ج ۱۷ ص ۲۴۸ او روایت ۱۰۰۵ المعجم الکبیر ج ۹ ص ۳۵۳ کښې نقل کړې شوې دې.

**درس ترمذی**: په دې باندې د امت اجماع ده چه د عیدین نه سنن قبلیه دی او نه بعدیه، خو د اختر د مانځه نه مخکښې او روستو نوافل کولو کښې اختلاف دې کوم چه د حضرات صحابه کرامو او تابعینو رضی الله عنهم د زمانې نه راروان دې. د بعض صحابه کرامو او تابعینو په نزد مخکښې او روستو هم نوافل کول مطلقا جائز دی هم دا مسلک دې د امام شافعی رحمه الله (معارف ج ٤ ص ٤٤٤) خو هغوی د امام په حق کښې د کراهت قائل دی. خو د جمهور صحابه کرامو او تابعینو او اکثر ائمه مجتهدینو په نزد د نوافلو اجازت نشته، بیا په هغوی کښې اختلاف دې د احنافو، سفیان ثوری، امام اوزاعی او نور اهل کوفه مسلک دا دې چه د اختر دمانځه نه مخکښې خو کراهت شته خو روستو نشته، او روستو هم د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد دا تفصیل دې چه په کور کښې خو مکروه

دي په عيدگاه کښې مکروه دی، د حسن بصری او فقهاء بصره ﷺ په نزد د اختر د مانځه نه پس کراهت شته خو د هغې نه مخکښې نشته. د امام احمد، امام زهری او ابن جريج په نزد مطلقا کراهت دې د اختر دمانځه نه مخکښې هم او روستو هم. د امام مالک رحمه الله په نزد په عيدگاه کښې مطلقا مکروه دی. (وعنه في المسجد روايتان)

بهرحال د ائمة ثلاثة يعنی امام ابوحنيفه، امام احمد او امام مالک ﷺ مسلکونه نزدې نزدې دی او دا حضرات په څه نه څه درجه کښې د کراهت قائل دی.

## بَابُ الذِّهَابِ إِلَى الْمُصَلّٰى فِيْ طَرِيْقٍ وَّالرُّجُوْعِ فِيْ طَرِيْقٍ أُخْرٰى

(١٠٠٦) عَنْ جَابِرٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ يَوْمُ عِيْدٍ خَالَفَ الطَّرِيْقَ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ۔

**باب: د عيدگاه طرف ته په يو لاره باندې تلل او په بله لاره راتلل:** ١٠٠٦ : سيدنا جابر رضي الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ به د اختر په ورځ باندې (واپس راتلو کښې) لاره بدلوله. دا حديث بخاری نقل کړې دې.

(١٠٠٧) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَرَجَ إِلَى الْعِيْدِ يَرْجِعُ فِيْ غَيْرِ الطَّرِيْقِ الَّذِيْ خَرَجَ فِيْهِ۔ رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ حِبَّانَ وَالْحَاكِمُ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ۔

١٠٠٧: سيدنا ابوهريره رضي الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ به چه کله د اختر د مانځه لپاره تشريف يوړلو، په کومه لاره به چه تلې وو واپس به ئې په بدله لاره باندې واپس تشريف راوړلو.

دا حديث احمد، ترمذی، ابن حبان او حاکم نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(١٠٠٨) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَ يَوْمَ الْعِيْدِ فِيْ طَرِيْقٍ ثُمَّ رَجَعَ فِيْ طَرِيْقٍ آخَرَ رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَةَ وَإِسْنَادُهُ حَسَنٌ۔

١٠٠٨: د ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله ﷺ د اختر په ورځ په يو لاره باندې تشريف يوړلو، بيا ئې واپس په بله لاره باندې تشريف راوړلو.

دا حديث ابوداؤد او ابن ماجة نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

**تشريح**: (١٠٠٦ نه ١٠٠٨ پورې) ړومبې روايت **عن جابر** (بخاری ج ١ ص ١٣٤) دويم روايت ١٠٠٧ **عن ابي هريرة** ترمذی ج ١ ص ١٢٠، دريم روايت ١٠٠٨ **عن ابن عمر** (ابوداؤد ج ١ ص ١٦٣) مدلول هم يو دې چه رسول الله ﷺ به د اختر د مانځه لپاره چه په کومه لاره مصلی ته تشريف اوړلو واپس به ئې په بله لاره باندې تشريف راوړلو د ائمة اربعه او جمهور علماء کرامو په نزد په دې باندې عمل

مستحب دي، په لاره کښې د بدلون مختلف حکمتونه بیان کړې شوې دی، راجح هم دا ده چه په دې عمل کښې د اسلام شعائر او د مسلمانانو اجتماع اود شوکت اظهار مقصود دې. عینی په فتح الباری ج ٢ ص ٣٩٣ د دې شل توجیهات نقل کړی دی.

## بَابُ تَكْبِيْرَاتِ التَّشْرِيْقِ

(١٠٠٩) عَنْ أَبِي الْأَسْوَدِ قَالَ: كَانَ عَبْدُ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يُكَبِّرُ مِنْ صَلٰوةِ الْفَجْرِ يَوْمَ عَرَفَةَ إِلٰى صَلٰوةِ الْعَصْرِ مِنْ يَوْمِ النَّحْرِ يَقُوْلُ: اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ. رَوَاهُ ابْنُ أَبِيْ شَيْبَةَ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

**باب: تکبیرات تشریق:** ١٠٠٩ : ابوالاسود فرمائی : سیدنا عبد الله رضي الله عنه د عرفې په ورځ د سحر د مانځه نه تر د قربانۍ د ورځې پورې د مازیګر د مانځه پورې تکبیرونه وئیل، رسول الله ﷺ به «داسې» تکبیر وئیلو : اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ.

«الله پاک د ټولو نه لوئې دې، الله پاک د ټولو نه لوئې دې، د الله پاک نه سوا هیڅ معبود نشته او الله پاک د ټولو نه لوئې دې، الله پاک د ټولو نه لوئې دې، او ټول د کمال صفتونه د الله پاک لپاره دی.

دا حدیث ابن ابی شیبة نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(١٠١٠) وَعَنْ شَقِيْقٍ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّهُ كَانَ يُكَبِّرُ بَعْدَ صَلٰوةِ الْفَجْرِ يَوْمَ عَرَفَةَ إِلٰى صَلٰوةِ الْعَصْرِ مِنْ اٰخِرِ أَيَّامِ التَّشْرِيْقِ وَيُكَبِّرُ بَعْدَ الْعَصْرِ. رَوَاهُ أَبُوْبَكْرِ بْنُ أَبِيْ شَيْبَةَ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

١٠١٠: د شقیق نه روایت دې چه علی رضي الله عنه د عرفې «نهم ذوالحجة» د صبا نه پس د ایام تشریق د آخری ورځ د مازیګر پورې تکبیر وئیلو او په آخری ورځ به ئې د مازیګر نه پس هم تکبیر وئیلو.

دا حدیث ابوبکر بن ابی شیبة نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

**تشریح**>«١٠٠٩ نه ١٠١٠ پورې» د تشریق شرق اللحم مصدر دې په معنی د غوښې ټکړې کولو ځخه په نمر اوچول، چونکه په دې ورځ کښې به په منی کښې د قربانۍ غوښه په نمر اوچولې شوه په دې وجه ورته ایام التشریق وائی د باب اول روایت عن ابی الاسود مصنف ابن ابی شیبة ج ٢ ص ١٦٥ او دویم روایت ١٠٠٩ عن شقیق (مصنف ابن ابی شیبة ج ٢ ص ١٦٥ نه منقول دې.

په مبسوط او فتاوی مرغینانی کښې دی چه تکبیر تشریق سنت دې د امام مالک او شافعی رحمهما الله هم دا قول دې ابن عابدین شامی د دې تصحیح هم نقل کړې ده خو په بدائع کښې دې ته واجب او وجوب ته اصح وئیلې شوې دې بعضو تطبیق کړې دې چه د سنت اطلاق په وجوب باندې جائز دې.

د تکبیراتو د ابتداء او انتهاء په باره کښې اختلاف دې. ۱: د عرفې په ورځ دې د سحر د مانځه نه شروع اوکړی او د یوم نحر په مازیگر باندې دې ختم کړی دا مسلک د امام ابوحنیفه‌رحمه‌الله دې گویا صرف په اته مونځونو کښې. ۲: د نهم تاریخ د فجر نه تر د ۱۳ ذوالحجة د مازیگر پورې دې گویا صرف په ۲۳ مونځونو کښې دا مسلک د صاحبین دې امام ابوحنیفه‌رحمه‌الله د عبدالله بن مسعود رضي‌الله‌عنه روایت او صاحبین د علی رضي‌الله‌عنه روایت مستدل جوړ کړې دې.

## [اَبْوَابُ صَلٰوةِ الْكُسُوْفِ]

## بَـابُ الْحَثِّ عَلَى الصَّلٰوةِ وَالصَّدَقَةِ وَالْاِسْتِغْفَارِ فِي الْكُسُوْفِ

(۱۰۱۱) عَنْ اَبِيْ مَسْعُوْدٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهِ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَايَنْكَسِفَانِ لِمَوْتِ اَحَدٍ مِّنَ النَّاسِ وَلٰكِنَّهُمَا اٰيَتَانِ مِنْ اٰيَاتِ اللّٰهِ فَاِذَا رَأَيْتُمُوْهُمَا فَقُوْمُوْا فَصَلُّوْا۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

## [ابواب: د نمر د تندر نیولو په وخت مونځ]

**باب: د نمر د تندر نیولو په وخت مونځ، صدقه او استغفار باندې اماده کول** ۱۰۱۱: سیدنا ابو مسعود رضي‌الله‌عنه فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: بیشکه نمر او سپوږمئ په خلقو کښې د چا په مرگ باندې تندر نه نیسی خو دا دواړه د الله پاک په نخښو کښې نخښې دی پس چه کله تاسو دا وینئ نو پاسئ او مونځ اوکړئ. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۱۰۱۲) عَنِ الْمُغِيْرَةِ بْنِ شُعْبَـةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: اِنْكَسَفَتِ الشَّمْسُ يَـوْمَ مَـاتَ اِبْرَاهِيْمُ فَقَالَ النَّاسُ: اِنْكَسَفَ لِمَوْتِ اِبْرَاهِيْمَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ اٰيَتَانِ مِنْ اٰيَاتِ اللّٰهِ لَايَنْكَسِفَانِ لِمَوْتِ اَحَدٍ وَّلَا لِحَيَـاتِهٖ فَاِذَا رَأَيْتُمُوْهَا فَادْعُوا اللّٰهَ وَصَلُّوْا حَتّٰى يَنْجَلِيَ۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

۱۰۱۲: سیدنا مغیره بن شعبه رضي‌الله‌عنه فرمائی: په کومه ورځ چه د رسول الله ﷺ خوئې سیدنا ابراهیم رضي‌الله‌عنه وفات شو، خلقو اووې: د ابراهیم د وفات د وجې نه نمر تندر نیولې دې، په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائیل: بیشکه نمر او سپوږمئ د الله پاک په نخښو کښې دوه نخښې دی د چا په مرگ باندې ئې تندر نه نیسی، چه کله تاسو دا وینئ نو د دې د روښانه کیدو پورې د الله پاک نه دعا کوئ او مونځ کوئ. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۱۰۱۳) وَعَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَـالَ اِنَّ الشَّمْـسَ وَالْـقَمَرَ اٰيَتَانِ مِنْ اٰيَاتِ اللّٰهِ لَا يَنْكَسِـفَانِ لِمَـوْتِ اَحَدٍ وَّلَا لِحَـيَاتِهٖ فَاِذَا رَاءَيْـتُمْ ذٰلِكَ فَـاذْكُرُوا اللّٰهَ وَكَـبِّرُوْا وَصَلُّوْا وَتَصَدَّقُوْا۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

۱۰۱۳ : د ام المومنین سیده عائشه رضي الله عنها نه روایت دي چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : بیشکه نمر او سپوږمئ د الله پاک په نخښو کښې دوه نخښې دی د چا په مرګ باندې ئې تندر نه نیسی چه کله تاسو دا په داسې حالت کښې وینئ نو د الله پاک ذکر کوئ، د هغه لوئی بیانوئ او صدقه کوئ. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۱۰۱۴) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّـهُ كَانَ يُخْبِرُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَـيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَا يَنْكَسِفَانِ لِمَوْتِ اَحَدٍ وَّلَا لِحَيَاتِهٖ وَلٰكِنَّهُمَا اٰيَتَانِ مِنْ اٰيَاتِ اللّٰهِ فَاِذَا رَاَيْتُمُوْهُمَا فَصَلُّوْا. رَوَاهُ الشَّيْخَانِ.

۱۰۱۴ : سیدنا ابن عمر رضي الله عنهما د رسول الله ﷺ نه بیان کوی چه نمر او سپوږمئ د چا په مرګ او ژوند باندې تندر نه نیسی، خو دا دواړه د الله پاک د نخښو نه دوه نخښې دی، چه کله تاسو هغه وینئ نو مونځ کوئ. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۱۰۱۵) وَعَنْ اَبِيْ مُوْسٰى رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : خَسَفَتِ الشَّمْسُ فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَزِعًا يَّخْشٰى اَنْ تَكُوْنَ السَّاعَةُ فَاَتَى الْمَسْجِدَ فَصَلّٰى بِاَطْوَلِ قِيَامٍ وَّرُكُوْعٍ وَّسُجُوْدٍ مَا رَاَيْتُـهٗ قَطُّ يَفْعَلُـهٗ وَقَالَ هٰذِهِ الْاٰيَاتُ الَّتِيْ يُرْسِلُ اللّٰهُ لَا تَكُوْنُ لِمَوْتِ اَحَدٍ وَّلَا لِحَيَاتِهٖ وَلٰكِنْ يُّخَوِّفُ اللّٰهُ بِهَا عِبَادَهٗ فَاِذَا رَاَيْتُمْ شَيْـئًا مِّنْ ذٰلِكَ فَافْزَعُوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ وَدُعَآئِهٖ وَاسْتِغْفَارِهٖ. رَوَاهُ الشَّيْخَانِ.

۱۰۱۵ : سیدنا ابوموسی اشعری رضي الله عنه فرمائی : نمر تندر اونیولو نو رسول الله ﷺ اویریدلو او اودریدلو هغوی به ویریدل چه قیامت نه شی، مسجد ته ئې تشریف راوړلوو نو رسول الله ﷺ ډیر د اوږد قیام، رکوع او سجود والا مونځ ادا اوفرمائیلو، ما هغوی کله هم داسې (اوږد قیام، رکوع او سجود باندې) نه وو لیدلې، او هغوی اوفرمائیل : دا نخښې الله پاک رالیږی، د د چا په مرګ باندې وی او نه د چا په ژوند باندې خو الله پاک په دې باندې خپل بندګان ویروی، پس چه کله تاسو په دې کښې یو څیز وینئ. نو اویریږئ، د الله پاک د ذکر، دعا او استغفار طرف ته. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۱۰۱۶) وَعَنْ اَسْمَآءَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ لَقَدْ اَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْعَتَاقَةِ فِيْ كُسُوْفِ الشَّمْسِ. رَوَاهُ الْـبُخَارِيُّ.

۱۰۱۶ : اسماء رضي الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ د نمر تندر نیولو په موقع باندې د غلام د آزادولو متعلق اوفرمائیل. دا حدیث بخاری نقل کړې دې.

**تشریح**>(۱۰۱۱ نه ۱۰۱۶ پورې) معارف ۴۲۰ تا ۴۲۱_ د نمر او سپوږمئ تندر نیول د الله پاک د قدرت قاهره او د هغه د جلال او جبروت په نخښو کښې ده چه د هغې کله کله ظهور کیږی او د چا

چه حق دي چه کله د هغې ظهور اوشي نو د الله پاک بندګان په عاجزئ څخه د هغه قادر او قهار د عظمت او جلال مخکښې ښکته شي او د هغه نه د رحم او کرم خير اوغواړي ... د رسول الله ﷺ په ژوند مبارک کښې بالکل په هم هغه ورځ باندې چه کله د هغوی د ماشوم ځوئې ابراهيم علی ابيه وعليه الصلاة والسلام تقريبا د يو نيم کال په عمر کښې وفات شو نو نمر تندر اونيولو، په عربو کښې د جاهليت د توهماتو نه يو خيال دا هم وو چه د لوئې خلقو په مرګ باندې نمر تندر نيسى او ګويا نمر د هغه په ماتم کښې تور څادر واغوندى، د ابراهيم ﷛ د وفات په ورځ د نمر په تندر نيولو څخه د دې توهم پرستئ او غلطې عقيدې ته تقويت ملاويدې شو، بلکه په بعض رواياتو کښې دى چه د بعض خلقو په خولې باندې هم دا خبره راغله، رسول الله ﷺ دې وخت کښې په غير معمولى خشيت او سختې فکرمندئ څخه د الله پاک په دربار کښې په جماعت څخه دوه رکعته مونځ ادا کړو، مونځ ئې هم غير معمولى قسم وو، رسول الله ﷺ په هغې کښې ډير اوږد قرأت اوکړو، او د قرأت دوران کښې به هغوى بار بار د الله پاک په حضور کښې ښکته کيدل (ګويا رکوع ته به لاړل) او بيا به ئې اودريدلو څخه قرأت کولو، هم دغه شان په دې مانځه کښې رسول الله ﷺ رکوع او سجدې هم ډير اوږدې اوکړې او د مانځۀ دوران کښې ئې هم ډير اهتمام او ابتهال څخه دعا اوکړه، د دې نه پس رسول الله ﷺ خطبه ورکړه او په هغې کښې ئې خاص طور څخه د دې غلط خيال ترديد اوکړو چه نمر او سپوږمئ د يو لوئې سړى په مرګ باندې تندر نيسى، رسول الله ﷺ اوفرمائيل : چه دا صرف جاهلانه توهم پرستى ده چه د هغې هيڅ اصل بنياد نشته، دا خو په اصل کښې د الله پاک د قدرت او سطوت او د هغه د جلال او جبروت نخښنه ده، چه کله د يو داسې نخښې ظهور اوشي نو په عاجزئ څخه د الله پاک طرف ته متوجه کيدل پکار دى، د عبادت او دهغه نه دعا کول پکار دى.

**د احاديث الباب تخريج:** د باب اول روايت عن ابن مسعود ﷛ بخاري ج ١ ص ١٤٢، مسلم ج ١ ص ٢٩٩، دويم روايت ١٠١٢ بخاري ج ١ ص ١٤٢، مسلم ج ١ ص ٣٠٠، دريم روايت ١٠١٣ بخاري ج ١ ص ١٤٢، مسلم ج ١ ص ٢٩٥، روايت ١١٤ په بخاري ج١ ص١٧٢ مسلم ج١ ص٢٩٩ روايت ١٠١٥ په بخاري ج١ ص١٤٥ مسلم ج١ ص٢٩٩ روايت ١٠١٢ په بخاري ج ١ ص ١٤٤ کښې نقل کړې شوې دې.

د ﴿آيتان من ايات الله﴾ مطلب دا دې چه نمر او سپوږمئ د الله پاک د الوهيت او ربوبيت او د هغه د قدرت په نخښو کښې د دې خبرې دوه نخښې دى چه دا دواړه د الله پاک تابعدار او فرمانبردار پيدا کړې شوې دى، هغوى د خپل طرف نه چاته د نقصان رسولو طاقت څه لرى په

هغوی کښې خو دومره طاقت هم نشته چه د ځان پیدا کړې شوې نقصان او عیب ختم کړې شی لهذا څومره کم عقل، ناپوهه او بدبخته دی هغه خلق چه د دې څیز د مشاهدې کولو باوجود هم نمر او سپوږمۍ خپل معبودان منی او د هغوی مخکښې خپل تندی ښکته کوی؟ د دې نه پس رسول الله ﷺ د اهل جاهلیت دا عقیده ختم اوفرمائیله چه د یوې لوئې حادثې د یو لوئې سړی په مرګ او عام وباء یعنی قحط وغیره د وجې نه نمر او سپوږمۍ تندر نیسی، الله پاک دا دواړه په تندر باندې نیولو ښخه د خپل قدرت کامله اظهار فرمائی او خلق د خپل غیض و عضب نه ویروی.

د ﴿ فاذکروا الله ﴾ مطلب دا دې چه د نمر او سپوږمۍ د تندر نیولو په وخت که د مانځه مکروه وخت نه وی نو د کسوف او خسوف مونځ اوکړئ او که اوقات مکروهه وی نو بیا مونځ مه کوئ بلکه د الله پاک په تسبیح، تهلیل، تکبیر او استغفار کښې مشغول شئ، خو دې خبره باندې ځان پوهه کړئ چه دا حکم امر استحبابی دې د وجوب په طور نه دې ځکه چه د کسوف او خسوف مونځ واجب نه دې، بلکه بالاتفاق د ټولو علماء کرامو په نزد سنت دې.

**د صلاة کسوف متعلق اهم مباحث**: د کسوف لغوی معنی تغیر ده بیا عرفا دا د نمر د تندر نیولو ښخه خاص شو. او خسوف د سپوږمۍ تندر نیولو ته وائی.

**اول بحث**: دا دې چه بعض ملحدینو دا اعتراض کړې دې چه کسوف شمس (او هم دغه شان خسوف قمر) څه غیر معمولی واقعه نه ده بلکه یو داسې واقعه ده چه د طبعی اسبابو د وجې نه ښکاره کیږی لکه طلوع او غروب، او د دې یو خاص حساب مقرر دې پس کلونه مخکښې دا ښودلې شی چه په فلانی وخت باندې به کسوف یا خسوف وی، لهذا دا واقعه خارق العادت ګڼړل او په دې باندې ویریدل او د مانځه او استغفار طرف ته متوجه کیدل څه معنی لری؟

د دې ځواب دا دې چه <u>اولاً</u> خو که کسوف او خسوف د اسباب طبعیه د لاندې وی نو د الله پاک د قدرت کامله مظهر دې په دې وجه د هغه د عظمت او جلال د اعتراف لپاره مونځ مشروع شو.

<u>ثانیا</u> : په حقیقت کښې کسوف او خسوف د هغه وخت یو ادنی جهلک ښائی چه کله ټول اجرام فلکیه بې نوره شی، په دې اعتبار څخه دا واقعات د آخرت یادونکی دی (لهذا په داسې مواقع باندې رجوع الی الله مناسب ده)

<u>ثالثا</u> : د الله پاک د طرف نه چه په مخکښې قومونو باندې کوم عذابونه راغلل د هغې شکل دا وو چه د بعض معمولی امور کوم چه د روزمره اسباب طبعیه د لاندې ظاهریږی د خپل معروف حد نه زیات شو نو د عذاب شکل ئې اختیار کړو مثلا قوم نوح باندې باران او په قوم عاد باندې هوا وغیره، هم په دې وجه د رسول الله ﷺ په باره کښې منقول دی چه کله به تیزه هوا شوه نو د

هغوی مخ مبارک به متغیر شو د دې ویرې د وجې نه چه چیرته دا هواګانې زیاتیدلو څخه د عذاب صورت اختیار نه کړی پس په داسې مواقع باندې رسول اللهﷺ خاص طور څخه په دعا او استغفار کښې مشغول وو. هم دغه شان دا کسوف او خسوف هم اګر چه د طبعی اسبابو د لاندې ښکاره کیږی خو که دا د خپل معروف حد نه زیات شی نو عذاب جوړیدې شی خاص طور څخه د جدید سائنس د تحقیق مطابق د کسوف او خسوف لمحات ډیر زیات نازک وی ځکه چه د کسوف په وخت سپوږمئ د نمر او زمکې ترمینځه حائل شی نو نمر او زمکه دواړه هغې لره د خپل کشش ثقل د وجې نه خپل طرف ته د راښکلو کوشش کوی، په دې لمحاتو کښې الله مه کړه که د یو طرف کشش غالب شی نو د اجرام فلکیه ټول نظام به درهم برهم شی لهذا په داسې نازک وخت کښې د رجوع الی الله نه سوا بله لاره نشته.

**دویم بحث**: د صلاة کسوف د شرعی حیثیت متعلق دې، د جمهورو په نزد صلاة کسوف سنت موکده دې، بعض احناف مشائخ د وجوب قائل دی، او امام مالکرحمه الله دې ته د جمعې درجه ورکړې ده. **وقیل انها فرض کفایة** (عمدة القاری ج ۷ ص ۶۱)

**دریم بحث**: د صلاة کسوف د طریقې متعلق دې د احنافو په نزد په صلاة کسوف او عام مونځونو کښې هیڅ فرق نشته (پس په دې موقع باندې به دوه رکعتونه په معروفه طریقه ادا کولې شی) او د ائمة ثلاثة په نزد د صلاة کسوف هر رکعت په دوه دوه رکوعات باندې مشتمل دې.

د دې حضراتو استدلال د عائشې، اسماء، ابن عباس، عبدالله بن عمرو بن العاص او د ابوهریرهرضی الله عنهم د معروف روایاتو نه دې کوم چه په صحاح کښې مروی دی او په هغې کښې د دوه دوه رکوعاتو تصریح موندلې شی.

د احنافو استدال د هغه احادیثو نه دې کوم چه په یو رکوع باندې دلالت کوی.

۱: په صحیح بخاری کښې د ابوبکرهرضی الله عنه روایت: ''خسفت الشمس علی عهد رسول الله صلی الله علیه وسلم فخرج یجرّرداءه حتی انتهی الی المسجد وثاب الیه الناس فصلی بهم رکعتین'' (بخاری ج: ۱، ص: ۱۴۵)

او په نسائی کښې د ابوبکرهرضی الله عنه په دې روایت دا الفاظ مروی دی: ﴿فصلی رکعتین کما تصلون﴾ (نسائی ج ۲ ص ۲۲۳)

۲: دویم دلیل په نسائی کښې د سمرة بن جندبرضی الله عنه یو اوږد روایت دې چه په هغې کښې هغوی فرمائی: ''فَصَلّٰی فَقَامَ کَاَطْوَلِ قِیَامٍ قَامَ بِنَا فِی صَلَاةٍ قَطُّ مَا نَسْمَعُ لَهٗ صَوتًا ثُمَّ رَکَعَ بِنَا کَاَطْوَلِ رُکُوعٍ مَا رَکَعَ بِنَا فِی صَلَاةٍ قَطُّ مَا نَسْمَعُ لَهٗ صَوتًا ثُمَّ سَجَدَ بِنَا کَاَط''۔ (نسائی ج: ۱، ص: ۲۱۹)

په دې کښې صرف د يوې رکوع ذکر دې

۳ دريم دليل د نعمان بن بشير رضي الله عنه روايت دې دا هم په سنن نسائی کښې مروی دې ﴿ إذا خسفت الشمس والقمر فصلوا کأحدث صلاة صليتموها ﴾ (نسائی ج ۱ ص ۲۱۹)

## بَابُ صَلٰوةِ الْكُسُوفِ بِخَمْسِ رُكُوعَاتٍ فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ

(۱۰۱۷) عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: اِنْكَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلّٰى بِهِمْ فَقَرَأَ سُوْرَةً مِّنَ الطُّوَلِ وَرَكَعَ خَمْسَ رَكْعَاتٍ وَّسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ قَامَ الثَّانِيَةَ فَقَرَاءَ سُوْرَةً مِّنَ الطُّوَلِ وَرَكَعَ خَمْسَ رَكْعَاتٍ وَّسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ جَلَسَ كَمَا هُوَ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ يَدْعُوْ حَتّٰى انْجَلٰى كُسُوْفُهَا۔ رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَفِيْ اِسْنَادِهٖ لِيْنٌ۔

**باب: د کسوف په هر رکعت کښې پنځه رکوع کانې:** ۱۰۱۷: سيدنا ابی بن کعب رضي الله عنه فرمائی: د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه مبارکه کښې نمر تندر اونيولو، رسول الله صلی الله علیه وسلم خلقو ته مونځ ورکړو نو هغوی په طوال سورتونو کښې يو سورة تلاوت اوفرمائيلو، هغوی پنځه رکوع کانې او سجدې اوفرمائيلې، بيا د دويم رکعت لپاره اودريدلو، نو بيا ئې هم په طوال سورتونو کښې يو سورة تلاوت اوفرمائيلو، پنځه رکوع کانې او دوه سجدې ئې اوکړې، بيا هم دغه شان ناست وو، ځنګه چه هغوی قبلې ته مخ کړې وو، دعا ئې فرمائيله، تردې چه هغه د تندر نيولو حالت ختم شو. دا حديث ابوداؤد نقل کړې دې او د دې په سند کښې ضعف دې.

(۱۰۱۸) وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ اَبِيْ لَيْلٰى قَالَ: اِنْكَسَفَتِ الشَّمْسُ فَقَامَ عَلِيٌّ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَرَكَعَ خَمْسَ رَكْعَاتٍ وَّسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ فَعَلَ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ مِثْلَ ذٰلِكَ ثُمَّ سَلَّمَ ثُمَّ قَالَ مَا صَلَّاهَا اَحَدٌ بَعْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَيْرِيْ۔ رَوَاهُ ابْنُ جَرِيْرٍ وَّصَحَّحَهٗ۔

۱۰۱۸: عبدالرحمٰن بن ابی ليلې فرمائی: نمر تندر اونيولو نو علی رضي الله عنه اودريدلو او پنځه رکوع کانې او دوه سجدې ئې اوکړې، بيا ئې په دويم رکعت کښې هم دغه شان اوکړل، بيا ئې سلام واړولو بيا ئې اووې: د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پس زما نه علاوه دا مونځ چا هم نه دې کړې. دا حديث ابن جرير نقل کړې دې او صحيح ئې ورته وئيلې دې.

(۱۰۱۹) وَعَنِ الْحَسَنِ قَالَ نُبِّئْتُ اَنَّ الشَّمْسَ كَسَفَتْ وَعَلِيٌّ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ بِالْكُوْفَةِ فَصَلّٰى بِهِمْ عَلِيُّ بْنُ اَبِيْ طَالِبٍ خَمْسَ رَكْعَاتٍ ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ عِنْدَ الْخَامِسَةِ ثُمَّ قَامَ فَرَكَعَ خَمْسَ رَكْعَاتٍ ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ

عِنْدَ الْخَامِسَةِ قَالَ عَشْرُ رَكْعَاتٍ وَّأَرْبَعُ سَجَدَاتٍ۔ رَوَاهُ ابْنُ جَرِيْرٍ۔ قَالَ النِّيْمَوِيُّ اِتِّصَالُ الْحَسَنِ بِعَلِيٍّ ثَابِتٌ بِوُجُوْهٍ لٰكِنَّهٗ لَمْ يَشْهَدْ هٰذِهِ الْوَاقِعَةَ عَلٰى مَا يَقْتَضِيْهِ قَوْلُهٗ نُبِّئْتُ۔

۱۰۱۹: حسن بصری رحمه الله فرمائی : ماته خبر راکړې شوې دې چه نمر تندر اونیولو هغه وخت علی رضی الله عنه په کوفه کښې وو، نو علی رضی الله عنه خلقو ته مونځ ورکړو، پنځه رکوع ګانې ئې اوکړې بیا ئې د پنځمې رکوع په وخت دوه سجدې اوکړې، بیا ئې اودریدلو څخه پنځه رکوع ګانې اوکړې، بیا ئې د پنځمې رکوع په وخت دوه سجدې اوکړې، لس رکوع ګانې او څلور سجدې، دا حدیث ابن جریر نقل کړې دې. نیموی وائی : د حسن بصری رحمه الله د سیدنا علی رضی الله عنه څخه ملاقات په ډیرو طریقو ثابت دې خو هغوی په دې واقعه کښې نه دی حاضر شوی، لکه چه د هغوی قول : ماته خبر راکړې شوې دې، د دې تقاضا کوی.

**تشریح:** (۱۰۱۷ نه ۱۰۱۹ پورې) امام ابوحنیفه او باقی اهل کوفه فرمائی چه په صلاة الکسوف کښې په هر رکعت کښې صرف یو یو رکوع ده، باقی آئمة ثلاثه فرمائی چه په هر رکعت کښې دوه دوه رکوع ګانې دی، پس ابن رشد په بدایة المجتهد ج ۱ ص ۲۰۳ کښې لیکی :

ذهب مالك رحمه الله والشافعی رحمه الله وجمهور رحمه الله اهل الحجاز واحمد رحمه الله ان صلوٰة الکسوف رکعتان فی کل رکعة رکعتان وذهب ابو حنیفة رحمه الله والکوفیون رحمه الله الی ان صلوٰة الکسوف رکعتان علی هیئة صلوٰة العید والجمعة۔

حافظ ابن القیم رحمه الله په زاد المعاد (ج: ۱، ص: ۱۲۵) کښې لیکی :

ذهب جماعة من اهل الحدیث الی تصحیح الروایات فی عدد الرکعات وحملوها علی ان النبی صلی الله علیه وسلم فعلها مرارا وان الجمیع جائز وفیمن ذهب الیه اسحٰق بن راهویه رحمه الله ومحمد رحمه الله بن اسحٰق بن خزیمة رحمه الله وابوبکر رحمه الله بن اسحٰق الضبعی رحمه الله وابو سلیمان الخطابی رحمه الله واستحسنه ابن المنذر رحمه الله،

او هم ددې امام ترمذی رحمه الله هم تصریح فرمائیلې ده: وهٰذا عند اهل العلم جائز علی قدر الکسوف۔ (ج: ۱، ص: ۷۳). د دې عبارت د وجې نه د کسوف د تعدد رکوع والا روایاتو کښې تطبیق راځی خو د کسوف معامله د رسول الله ﷺ په ژوند کښې صرف یو کرت په ۲۸ یا ۲۹ شوال ۲۰ هجری باندې راغلې ده، او هم په دغه ورځ باندې د رسول الله ﷺ د ځوئی ابراهیم رضی الله عنه وفات شوې دې. حافظ ابن القیم رحمه الله د خپل استاذ ابن تیمیة رحمه الله په حوالې څخه لیکی : انما صلی علیه الصلاة والسلام الکسوف مرة واحدة یوم مات ابنه ابراهیم .. والله اعلم (زاد المعاد ج ۱ ص ۱۲۶) او د علماء کرامو یو ډله په یو یو رکعت کښې د څلورو څلورو رکوع ګانو هم قائل دی پس امیر یمانی په سبل السلام ج ۲ ص ۹۲ کښې.

د باب اول روایت په ابوداؤد ج ۱ ص ۱۶۷ کښې نقل کړې شوې دې په دویم روایت کښې هم د خمس رکوعات ذکر دې علماء احناف وائی چه د کسوف په مانځه کښې په رسول الله ﷺ باندې یو خاص کیفیت طاری وو چه په مانځه کښې رسول الله ﷺ کله وړاندې تلو شخه او کله روستو راتلو شخه څه څیز نیول غوښتل د تعدد رکوع د دې خاص حالت د لاندې وو دا ممکنه ده چه په روستو صفونو کښې صحابه کرام رضی الله عنهم دا کیفیت نه وی معلوم کړې او د هغوی د دې عمل نه ئې په تعدد رکوع شخه تعبیر کړې وی د روایت ۱۰۱۹ په باره کښې امام نیموی رحمه الله تصریح کړې ده چه د حسن بصری رحمه الله ملاقات د علی رضی الله عنه شخه ثابت دې خو هغوی په دې واقعه کښې حاضر نه شو.

## بَـابٌ كُلُّ رَكْعَةٍ بِأَرْبَعِ رُكُوعَاتٍ

(۱۰۲۰) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّـهُ صَلّٰى فِيْ كُسُوْفٍ قَرَأَ ثُمَّ رَكَعَ ثُمَّ قَرَأَ ثُمَّ رَكَعَ ثُمَّ قَرَأَ ثُمَّ رَكَعَ ثُمَّ قَرَأَ ثُمَّ رَكَعَ ثُمَّ سَجَدَ قَالَ وَالْأُخْرٰى مِثْلُـهَا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَّآخَرُوْنَ وَفِيْ رِوَايَـةٍ صَلّٰى ثَمَانَ رَكَعَاتٍ فِيْ أَرْبَعِ سَجَدَاتٍ.

**باب: هر رکعت د څلورو رکوع ګانو شخه:** ۱۰۲۰: د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې چه رسول الله ﷺ د نمر تندر نیولو په حالت کښې مونځ اوکړو، هغوی قرأت اوفرمائیلو، بیا ئې رکوع اوفرمائیله، بیا ئې قرأت بیا ئې رکوع اوفرمائیله، بیا ئې قرأت او بیا ئې رکوع اوفرمائیله، بیا ئې قرأت بیا ئې رکوع اوفرمائیله، بیا ئې سجده اوفرمائیله، (ابن عباس رضی الله عنهما) فرمائی: او په دویم رکعت کښې هم دغه شان. دا حدیث مسلم او نورو محدثینو نقل کړې دې او په یو روایت کښې دی: رسول الله ﷺ په څلورو سجدو کښې اته رکوع ګانې اوفرمائیلې.

(۱۰۲۱) وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كُسِفَتِ الشَّمْسُ فَصَلّٰى عَلِيٌّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لِلنَّاسِ فَقَرَأَ يٰسٓ أَوْ نَحْوَهَا ثُمَّ رَكَعَ نَحْوًا مِنْ قَدْرِ السُّوْرَةِ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَـهُ فَقَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ ثُمَّ قَامَ قَدْرَ السُّوْرَةِ يَدْعُوْ وَيُكَبِّرُ ثُمَّ رَكَعَ قَدْرَ قِرَاءَتِهِ أَيْضًا ثُـمَّ قَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ ثُمَّ قَامَ أَيْضًا قَدْرَ السُّوْرَةِ ثُمَّ رَكَعَ قَدْرَ ذٰلِكَ أَيْضًا حَتّٰى صَلّٰى أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ ثُمَّ قَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ ثُمَّ سَجَدَ ثُمَّ قَامَ إِلَى الرَّكْعَـةِ الثَّانِيَةِ فَفَعَلَ كَفِعْلِهِ فِي الرَّكْعَةِ الْأُوْلٰى ثُمَّ جَلَسَ يَدْعُوْ وَيَرْغَبُ حَتَّى انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ ثُمَّ حَدَّثَهُمْ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَـيْهِ وَسَلَّمَ كَذٰلِكَ فَـعَلَ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

۱۰۲۱: د سیدنا علی رضی الله عنه نه روایت دې چه نمر تندر اونیولو، علی رضی الله عنه خلقو ته مونځ ورکړو نو په هغې کښې ئې سورة یس یا د هغې په شان بل یو سورت تلاوت کړو، بیا ئې د سورة په مقدار اوږده رکوع اوکړه، بیا ئې سر راوچت کړو نو ﴿سمع الله لمن حمده﴾ ئې اووې، بیا د سورة په

مقدار ولاړ وو او دعا ئې کوله او تکبیر ئې وئیلو. بیا ئې د خپل قرأت په مقدار رکوع اوکړه، بیا ئې اووې: سمع الله لمن حمده، بیا هم د سورة په مقدار ولاړ وو، بیا ئې هم دومره مقدار رکوع اوکړه تردې چه څلور رکوع ګانې ئې اوکړې بیا ئې اووې: سمع الله لمن حمده، بیا ئې سجده اوکړه، بیا د دویم رکعت لپاره اودریدلو، نو هم دغه شان ئې اوکړل لکه چه په مخکښې رکعت کښې ئې کړې وو، بیا ئې په ناسته باندې دعا کوله او ترغیب ئې ورکولو تردې چه نمر روښانه شو، بیا ئې حدیث بیان کړو چه رسول الله ﷺ هم دغه شان عمل فرمائیلې دې. دا حدیث احمد نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

**تشریح**>(۱۰۲۰ نه ۱۰۲۱ پورې) د باب اول روایت عن ابن عباس مسلم ج ۱ ص ۲۹۹، دویم روایت ۱۰۲۱ مسند احمد ج ۱ ص ۱٤۳ نه منقول دې په دې باره کښې بحث به په باب کل رکعة برکوعین کښې عرض کولې شی.

## بَابُ ثَلَاثُ رُكُوعَاتٍ فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ

(۱۰۲۲) عَنْ جَابِرٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ مَاتَ إِبْرَاهِيْمُ بْنُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ النَّاسُ إِنَّمَا انْكَسَفَتْ لِمَوْتِ إِبْرٰهِيْمَ فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلّٰى بِالنَّاسِ سِتَّ رَكَعَاتٍ بِأَرْبَعِ سَجَدَاتٍ۔ اَلْحَدِيْثَ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

**باب: په هر رکعت کښې درې رکوع ګانې:** ۱۰۲۲: سیدنا جابر رضی الله عنه فرمائی: د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې چه په کومه ورځ باندې د رسول الله ﷺ خوئې ابراهیم رضی الله عنه وفات شو نمر تندر اونیولو، خلقو اووې: دا د ابراهیم رضی الله عنه د وفات د وجې نه تندر نیولې دې، نو رسول الله ﷺ خلقو ته مونځ ورکړو، هغوی د څلورو سجدو څخه شپږ رکوع ګانې اوکړې. دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

(۱۰۲۳) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلّٰى سِتَّ رَكَعَاتٍ فِيْ أَرْبَعِ سَجَدَاتٍ۔ رَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَأَحْمَدُ وَإِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۱۰۲۳: د ام المومنین سیده عائشه صدیقه رضی الله عنها نه روایت دې چه رسول الله ﷺ په څلورو سجدو کښې شپږ رکوع ګانې اوکړې. دا حدیث نسائی او احمد نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۱۰۲۴) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهٗ صَلّٰى فِيْ كُسُوْفٍ فَقَرَأَ ثُمَّ رَكَعَ ثُمَّ قَرَأَ ثُمَّ رَكَعَ ثُمَّ قَرَأَ ثُمَّ رَكَعَ ثُمَّ سَجَدَ وَالْأُخْرٰى مِثْلُهَا۔ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَصَحَّحَهٗ۔

۱۰۲۴: سیدنا ابن عباس رضی اللہ عنہما د رسول الله ﷺ نه روایت کړې دې چه هغوی د نمر د تندر نیولو مونځ ورکړو، نو قراءة ئې اوفرمائیلو، بیا رکوع، بیا قراءة بیا رکوع بیا قرأت بیا رکوع بیا ئې سجده اوفرمائیله او دویم رکعت ئې هم دغه شان اوفرمائیلو. دا حدیث ترمذی نقل کړې دې او دې ته ئې صحیح وئیلي دي.

**تشریح**<(۱۰۲۲ نه ۱۰۲۴ پورې) د باب اول روایت مسلم ج ۱ ص ۲۹۷، دویم روایت ۱۰۲۳ نسائی ج ۱ ص ۲۱۵، روایت ۱۰۲۴ ترمذی ج ۱ ص ۱۲۵ کښې عرض کړې شوې دې متعلقه بحث په وړاندې باب کښې اوګورئ.

## بَابُ كُلِّ رَكْعَةٍ بِرُكُوْعَيْنِ

(۱۰۲۵) عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ خُسِفَتِ الشَّمْسُ فِيْ حَيٰوةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَرَجَ إِلَى الْمَسْجِدِ فَصَفَّ النَّاسُ وَرَآءَهٗ فَكَبَّرَ فَاقْتَرَأَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِرَأَةً طَوِيْلَةً ثُمَّ كَبَّرَ فَرَكَعَ رُكُوْعًا طَوِيْلًا ثُمَّ قَالَ: سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ فَقَامَ وَلَمْ يَسْجُدْ وَقَرَأَ قِرَأَةً طَوِيْلَةً هِيَ اَدْنٰى مِنَ الْقِرَأَةِ الْاُوْلٰى ثُمَّ كَبَّرَ وَرَكَعَ رُكُوْعًا طَوِيْلًا هُوَ اَدْنٰى مِنَ الرُّكُوْعِ الْاَوَّلِ ثُمَّ قَالَ: سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ ثُمَّ سَجَدَ ثُمَّ قَالَ فِي الرَّكْعَةِ الْاٰخِرَةِ مِثْلَ ذٰلِكَ فَاسْتَكْمَلَ اَرْبَعَ رَكْعَاتٍ فِيْ اَرْبَعِ سَجَدَاتٍ وَانْجَلَتِ الشَّمْسُ قَبْلَ اَنْ يَّنْصَرِفَ. رَوَاهُ الشَّيْخَانِ.

**باب: په هر رکعت کښې دوه رکوع ګانې**: ۱۰۲۵: د رسول الله ﷺ زوجه مطهره سیده عائشه صدیقه رضی اللہ عنہا فرمائی: د رسول الله ﷺ په حیات طیبه کښې نمر تندر اونیولو، رسول الله ﷺ مسجد طرف ته تشریف یوړلو نو خلقو په هغوی پسې شاته صف جوړ کړو، هغوی تکبیر اوکړو او اوږد قرأت ئې اوکړو، بیا ئې تکبیر اوکړو او اوږده رکوع ئې اوفرمائیله، بیا ئې **سمع الله لمن حمده** اووې، نو اودریدلو او سجده ئې اونکړه، او اوږد قرأت ئې اوفرمائیلو، دا د اول قرأت نه کم وو، بیا ئې تکبیر اووې او اوږده رکوع ئې اوکړه او دا د ړومبئ رکوع نه کمه وه، بیا ئې **سمع الله لمن حمده ربنا لک الحمد** اووې، بیا ئې سجده اوفرمائیله، بیا ئې په دویم رکعت کښې هم دغه شان عمل اوکړو، نو څلور رکوع ګانې ئې د څلورو سجدو څخه اوکړې، د رسول الله ﷺ د سلام اړولو نه مخکښې نمر روښانه شو. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۱۰۲۶) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ انْخَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَامَ قِيَامًا طَوِيْلًا نَحْوًا مِّنْ قِرَأَةِ سُوْرَةِ الْبَقَرَةِ ثُمَّ

رَكَعَ رُكُوْعًا طَوِيْلًا وَّهُوَ فَقَامَ قِيَامًا طَوِيْلًا ثُمَّ رَفَعَ دُوْنَ الْقِيَامِ الْاَوَّلِ ثُمَّ رَكَعَ رُكُوْعًا طَوِيْلًا وَّهُوَ دُوْنَ الرُّكُوْعِ الْاَوَّلِ ثُمَّ سَجَدَ ثُمَّ قَامَ قِيَامًا طَوِيْلًا وَّهُوَ دُوْنَ الْقِيَامِ الْاَوَّلِ ثُمَّ رَكَعَ رُكُوْعًا طَوِيْلًا وَّهُوَ دُوْنَ الرُّكُوْعِ الْاَوَّلِ ثُمَّ رَفَعَ فَقَامَ قِيَامًا طَوِيْلًا وَّهُوَ دُوْنَ الْقِيَامِ الْاَوَّلِ ثُمَّ رَكَعَ رُكُوْعًا طَوِيْلًا وَّهُوَ دُوْنَ الرُّكُوْعِ الْاَوَّلِ ثُمَّ سَجَدَ ثُمَّ انْصَرَفَ وَقَدْ تَجَلَّتِ الشَّمْسُ. رَوَاهُ الشَّيْخَانِ.

۱۰۲۶: سيدنا عبدالله بن عباس ﷺ فرمائي : د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې نمر تندر اونيولو، رسول الله ﷺ مونځ ورکړو، نو اوږد قيام ئې اوکړو، تقريبا د سورة البقرة په مقدار قرأت ئې اوکړو، بيا ئې يوه اوږده رکوع اوفرمائيله، بيا (د رکوع نه) راوچت شو نو اوږد قيام ئې اوفرمائيلو، هغه د اول قيام نه کم وو، بيا ئې يو اوږده رکوع اوفرمائيله، هغه د اول رکوع نه کم وه، بيا ئې سجده اوفرمائيله، بيا ئې اوږد قيام اوفرمائيلو چه د اول قيام نه کم وو، بيا يې يوه اوږده رکوع اوفرمائيله، چه د اول رکوع نه کمه وه، چه بيا پاسيدلو نو اوږد قيام ئې اوفرمائيلو، هغه د اول قيام نه کم وو، بيا ئې يوه اوږده رکوع اوفرمائيله، هغه د اول رکوع نه کم وه، بيا ئې سجده اوفرمائيله، بيا ئې سلام واړولو اويقينًا نمر روښانه شوې وو. دا حديث شيخينو نقل کړې دې.

(۱۰۲۷) وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ يَوْمٍ شَدِيْدِ الْحَرِّ فَصَلّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاَصْحَابِهٖ فَاَطَالَ الْقِيَامَ حَتّٰى جَعَلُوْا يَخِرُّوْنَ ثُمَّ رَكَعَ فَاَطَالَ ثُمَّ رَفَعَ فَاَطَالَ ثُمَّ رَكَعَ فَاَطَالَ ثُمَّ رَفَعَ فَاَطَالَ ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ قَامَ فَصَنَعَ نَحْوًا مِّنْ ذٰلِكَ فَكَانَتْ اَرْبَعَ رَكَعَاتٍ وَّاَرْبَعَ سَجَدَاتٍ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَّاَحْمَدُ وَاَبُوْدَاوٗدَ.

۱۰۲۷: سيدنا جابر بن عبدالله ﷺ فرمائي : د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې د سختې ګرمئ په ورځ باندې نمر تندر اونيولو نو رسول الله ﷺ خپلو صحابه کرامو ﷺ ته مونځ ورکړو، هغوی اوږد قيام اوکړو ترديې چه صحابه کرام ﷺ په پريوتلو شو، بيا رسول الله ﷺ اوږده رکوع اوفرمائيله، بيا راوچت شو، نو اوږد قيام ئې اوفرمائيلو، بيا ئې اوږده رکوع اوفرمائيله او بيا راوچت شو نو اوږده قومه ئې اوفرمائيله بيا ئې دوه سجدې اوفرمائيلې، بيا اودريدلو څخه هغوی هم دغه شان عمل اوکړو، نو دا څلور رکوع ګانې شوې او څلور سجدې. دا حديث مسلم، احمد او ابوداؤد نقل کړې دې.

**تشريح**> (۱۰۲۵ نه ۱۰۲۷ پورې) د باب اول روايت بخاری ج ۱ ص ۱۴۲ مسلم ج ۱ ص ۲۹۶، دويم روايت ۱۰۲۶ بخاری ج ۱ ص ۱۴۳، مسلم ج ۱ ص ۲۹۸ او دريم روايت ۱۰۲۷ د مسلم ج ۱ ص ۲۹۷، مسند احمد ج ۳ ص ۳۷۴ او ابوداؤد ج ۱ ص ۱۶۷ نه منقول دي.

د دې باب ټول روايات د ائمهٔ ثلاثة مستدل دی احناف حضرات په ځواب کښې فرمائی چه رسول الله ﷺ د کسوف په مانځه کښې انتهائی اوږده رکوع فرمائيلې وه چه کله ښه کافی وخت اوشو د مینځ په صفونو کښې ولاړو حضراتو دا خيال اوړو چه چيرته رسول الله ﷺ اوچت شوې نه وی چه د هغې په بناء باندې بعض صحابه کرامو ﷺ د رکوع نه اوچتيدلو ځخه رسول الله ﷺ اوليدو او چه کله ورته دا په نظر راغله چه هغوی تر اوسه پورې په رکوع کښې دی نو دوباره رکوع ته لاړل، د هغوی نه شاته خلقو دا اوګنړله چه دا دويمه رکوع ده.

دا ځواب ډير مشهور دې خو په دې باندې اطمينان نه راځی ځکه چه اول خو د ابن عباس ﷺ په حديث الباب کښې دا الفاظ دی : **انه صلى فى كسوف فقراء ثم ركع ثم قراء ثم ركع ثم سجد سجدتين والاخرى مثلها** ... چه د هغې نه معلوميږی چه د دواړو رکوع ګانو ترمينځه قرأت هم شوې وو، بله دا چه که بالفرض د روستو صفونو والا صحابه کرامو ﷺ ته داسې غلطی پيدا شوه نو د مانځه نه روستو هغه زائل کيدل پکار وو ځکه چه صحابه کرامو ﷺ به د مانځه ډير اهتمام فرمائيلو او چه يو غير معمولی خبره به وه نو د هغې به ئې تحقيق کولو. لهٰذا دا خبره ډيره بعيد ده چه د روستو صفونو والا صحابه کرام ﷺ ټول عمر په دې غلطئ کښې اخته وو او په هغوی باندې حقيقت حال واضح نه شو.

لهذا صحيح توجيه دا ده کومه چه صاحب بدائع ج ۱ ص ۲۸۱، حضرت شيخ الهند (معارف ج ۵ ص ۱۸) او حضرت شاه صاحب اختيار کړې ده او هغه دا چه په صلاة الکسوف کښې د رسول الله ﷺ نه بيشکه دوه رکوع ثابت دی بلکه د پنځه رکوع پورې رواياتو ثبوت هم ملاويږی خو دا د رسول الله ﷺ خصوصيت وو او واقعه دا وه چه په دې مانځه کښې غير معمولی واقعات پيښ شو او رسول الله ﷺ ته جنت او جهنم اوښودلې شو. لهذا په دې مانځه کښې رسول الله ﷺ غير معمولی طريقې ځخه څو رکوع اوکړې خو دا رکوع د مانځه د اجزاء نه نهٔ وې بلکه د سجده شکر په شان رکوعات تخشع وې کوم چه د هغوی خصوصيت وو او د هغې هيئت د مانځهٔ د عام رکوع نه لږ مختلف وو، هم دا وجه ده چه بعض صحابه کرام ﷺ دا په رکوعات تخشع کښې شمار کړې دی او د يو نه د زائد رکوع روايت ئې کړې دې او بعضو دا نه دی شمار کړې، د دې دليل دا دې چه اول په دې رکوعات زائده کښې د رواياتو اختلاف دې چه د هغې هيڅ توجيه د دې نه سوا ممکن نه ده دويم دا چه د مانځهٔ نه روستو چه رسول الله ﷺ کومه خطبه ورکړه په هغې کښې رسول الله ﷺ صراحة امت ته دا حکم ورکړو چه : **فاذا رايتم من ذلک شيئا فصلوا کاحدث صلاة مکتوبة صليتموها** ... (نسائی ج ۱ ص ۲۱۹) په دې حديث کښې رسول الله ﷺ نه صرف دا چه امت ته د يو نه د زياتو رکوع

تعلیم ورنکړو بلکه د دې خلاف ئې تصريح اوفرمائيله چه دا مونځ دسحر د مانځه په شان ادا کوئ که د يو نه زياتې رکوع د مانځه د جزء نه وې نو رسول اللهﷺ به دا حکم نه فرمائيلې.

## بَــابُ كُلِّ رَكْعَةٍ بِرُكُوْعٍ وَّاحِدٍ

(۱۰۲۸) عَنْ اَبِيْ بَكْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَـيْهِ وَسَـلَّمَ فَانْكَسَفَتِ الشَّمْسُ فَقَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَجُرُّ رِدَآئَـهُ حَتّٰى دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَدَخَلْنَا فَصَلّٰى بِنَا رَكْعَتَـيْنِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَالنَّسَآئِيُّ وَزَادَ كَمَا تُصَلُّوْنَ وَابْنُ حِبَّانَ وَقَالَ رَكْعَتَيْنِ مِثْلَ صَلٰوتِكُمْ.

**باب: هر رکعت د يو رکوع څخه کول**: ۱۰۲۸: سيدنا ابوبکرهؓ فرمائی: مونږ د رسول اللهﷺ څخه وو چه نمر تندر اونيولو، رسول اللهﷺ خپل څادر رانښکلو څخه (يعنی زر) پاسيدلو، تردې چه هغوی مسجدته تشريف راوړلو، نو مونږهم مسجدته داخل شو، هغوی مونږ ته دوه رکعته ادا کړل.دا حديث بخاری او نسائی نقل کړې دې او نسائی دا الفاظ زيات نقل کړې دی. (دوه رکعتونه) څنګه چه تاسو کوئ، او ابن حبان دا الفاظ زيات کړې دی، ابوبکرهؓ فرمائی: دوه رکعته ستاسو د مانځه په شان.

(۱۰۲۹) وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ سَمُرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ بَيْنَمَا اَنَا اَرْمِيْ بِاَسْهُمِيْ فِيْ حَيَاةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ فَنَبَذْتُهُنَّ وَقُلْتُ لَاَنْظُرَنَّ مَا يَحْدُثُ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَـيْهِ وَسَلَّمَ فِي انْكِسَافِ الشَّمْسِ الْيَوْمَ فَانْتَهَيْتُ اِلَـيْهِ وَهُوَ رَافِعٌ يَدَيْهِ يَدْعُوْ وَيُكَبِّرُ وَيَحْمَدُ وَيُهَلِّلُ حَتّٰى جُلِيَ عَنِ الشَّمْسِ فَقَرَأَ سُوْرَتَيْنِ وَرَكَعَ رَكْعَتَـيْنِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَّالنَّسَآئِيُّ. قَالَ: فَصَلّٰى رَكْعَتَـيْنِ وَاَرْبَعَ سَجَدَاتٍ.

۱۰۲۹: سيدنا عبد الرحمٰن بن سمرهؓ فرمائی: هغه وخت چه کله د رسول اللهﷺ په حيات طيبه کښې ما غشی ويشتل چه ناڅاپه نمر تندر اونيولو، نو ما هغه غشی اوغورځول او مې وئيل چه زه به نن ضرور ضرور ګورم چه نن ورځ دنمر په تندر نيولو کښې د رسول اللهﷺ نه څه عمل کيږی، پس زه هغوی ته راورسيدلم، نو هغوی لاسونه اوچتولو څخه دعا فرمائيله، تکبير ئې وئيلو، د الله پاک حمد او لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ئې وئيل، تردې چه د نمر نه خره ختمه شوه، نو رسول اللهﷺ دوه سورتونه تلاوت اوفرمائيل اودوه رکوع ئې اوفرمائيلې.دا حديث مسلم نقل کړې دې او نسائی دا الفاظ زيات کړې دی عبد الرحمٰن بن سمرة فرمائی: نو رسول اللهﷺ دوه رکوع او څلور سجدې اوفرمائيلې.

(۱۰۳۰) وَعَنْ قَبِيْصَةَ الْهِلَالِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: كَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَرَجَ فَزِعًا يَجُرُّ ثَوْبَـهُ وَاَنَا مَعَـهُ يَوْمَئِذٍ بِالْمَدِيْنَةِ فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ فَاَطَالَ فِيْهِمَا الْقِيَامَ ثُمَّ انْصَرَفَ وَانْجَلَتْ فَـقَالَ هٰذِهِ الْاٰيَاتُ يُـخَوِّفُ اللّٰهُ عَـزَّوَجَلَّ بِـهَا فَاِذَا رَاَيْتُـمُوْهَا فَصَلُّوْا كَاَحْدَثِ صَلٰوةٍ صَلَّـيْتُمُوْهَا مِنَ

اَلْمَكْتُوبَـــةِ۔رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَوَالنَّسَآئِیُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِیْحٌ۔

۱۰۳۰ : سیدنا قبیصه الهلالی رضی الله عنه فرمائی : د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې نمر تندر اونیولو نو هغوی اوېریدل او څادر راښکلو څخه بهر تشریف یوړلو ، زه په دې ورځ باندې مدینه طیبه کښې هغوی څخه اوم، نو هغوی دوه رکعته ادا اوفرمائیل، په هغې کښې ئې اوږد قیام اوفرمائیلو، بیا ئې سلام واړولو او نمر روښانه شو ، نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل : دا نخښې دی، الله پاک په دې باندې خلق ویروی، پس چه کله تاسو دا نخښې وینئ نو مونځ کوئ، لکه چه تاسو اوس فرض مونځ کړې دې. دا حدیث ابوداؤد او نسائی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۱۰۳۱) وَعَنْ سَمُرَةَ بِنِ جُنْدُبٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ بَيْنَمَا اَنَا وَغُلَامٌ مِّنَ الْاَنْصَارِ نَرْمِيْ غَرَضَيْنِ لَنَا حَتّٰى اِذَا كَانَتِ الشَّمْسُ قِيْدَ رُمْحَيْنِ اَوْ ثَلَاثَةٍ فِيْ عَيْنِ النَّاظِرِ مِنَ الْاُفُقِ اسْوَدَّتْ حَتّٰى اٰضَتْ كَاَنَّهَا تَنُّوْمَةٌ فَقَالَ اَحَدُنَا لِصَاحِبِهِ انْطَلِقْ بِنَا اِلَى الْمَسْجِدِ فَوَاللّٰهِ لَيُحْدُثَنَّ شَاْنُ هٰذِهِ الشَّمْسِ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ اُمَّتِهٖ حَدَثًا قَالَ فَدُفِعْنَا فَاِذَا هُوَ بَارِزٌ فَاسْتَقْدَمَ فَصَلّٰى فَقَامَ بِنَا كَاَطْوَلِ مَا قَامَ بِنَا فِيْ صَلٰوةٍ قَطُّ لَا نَسْمَعُ لَهٗ صَوْتًا قَالَ ثُمَّ رَكَعَ بِنَا كَاَطْوَلِ مَا رَكَعَ بِنَا فِيْ صَلٰوةٍ قَطُّ لَا نَسْمَعُ لَهٗ صَوْتًا قَالَ ثُمَّ سَجَدَ بِنَا كَاَطْوَلِ مَا سَجَدَ بِنَا فِيْ صَلٰوةٍ قَطُّ لَا نَسْمَعُ لَهٗ صَوْتًا ثُمَّ فَعَلَ فِي الرَّكْعَةِ الْاُخْرٰى مِثْلَ ذٰلِكَ۔رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَآئِیُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِیْحٌ۔

۱۰۳۱ : سیدنا سمرة بن جندب رضی الله عنه فرمائی : هغه وخت چه ما او د انصارو یو هلك په خپلو نخښو باندې غشی ویشتل، تردې چه مخامخ چه کله نمر د مشرق نه د دوه یا درې نیزو په مقدار باندې اوچت شو نو تور شو ، تردې چه ګویا هغه تنومة ده، نو په مونږ کښې یو خپل ملګری ته اووې، مونږ څخه مسجد ته لاړ شه، قسم په الله چه د نمر دا حالت به د رسول الله ﷺ لپاره د خپل امت په باره کښې ضرور څه نوې خبره پیدا کوی راوی وائی : مونږ د تندئ د وجې نه ګویا دیکه کولې شو او ناڅاپه رسول الله ﷺ بهر تشریف راوړلې وو ، رسول الله ﷺ وړاندې شو او مونځ ئې ورکړو، هغوی مونږ څخه دومره اوږد قیام اوفرمائیلو چه کله هم هغوی مونږ ته په مانځه کښې دومره اوږد قیام نه وو فرمائیلې، مونږ د هغوی اواز نه اوریدلو ، سمرة رضی الله عنه فرمائی : بیا رسول الله ﷺ دومره اوږده رکوع اوفرمائیله چه مونږ ته کله هم هغوی په مانځه کښې دومره اوږده رکوع نه وه فرمائیلې، مونږ د هغوی آواز نه اوریدلو ، هغوی وائی : بیا ئې مونږ ته دومره اوږده سجده اوفرمائیله چه کله ئې هم مونږ ته په مانځه کښې دومره اوږده سجده نه وه فرمائیلې، مونږ د هغوی آواز نه اوریدلو ، بیا رسول الله ﷺ په دویم رکعت کښې هم دغه شان عمل اوفرمائیلو.

دا حدیث ابوداؤد او نسائی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۱۰۳۲) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَكَدْ يَرْكَعُ ثُمَّ رَكَعَ فَلَمْ يَكَدْ يَرْفَعُ ثُمَّ رَفَعَ يَكَدْ يَسْجُدُ ثُمَّ سَجَدَ فَلَمْ يَكَدْ يَرْفَعُ ثُمَّ رَفَعَ فَلَمْ يَكَدْ يَسْجُدُ ثُمَّ سَجَدَ فَلَمْ يَكَدْ يَرْفَعُ وَفَعَلَ فِي الرَّكْعَةِ الْأُخْرٰى مِثْلَ ذٰلِكَ۔ رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَاٰخَرُوْنَ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۱۰۳۲: سیدنا عبدالله بن عمرو ﷠ فرمائی : د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې نمر تندر اونیولو، رسول الله ﷺ (په مانځه کښې) قیام اوفرمائیلو (د ډیر وخته پورې ئې) رکوع نه فرمائیله، بیا ئې رکوع اوفرمائیله نو نه پاسیدلو، بیا چه پاسیدلو نو سجده ئې او نه فرمائیله، بیا ئې سجده اوفرمائیله نو نۀ پاسیدلو، بیا پاسیدلو، نو سجده ئې او نه فرمائیله، بیا ئې سجده اوفرمائیله نو نه پاسیدلو، بیا پاسیدلو او په دویم رکعت کښې ئې هم دغه شان اوکړل.دا حدیث ابوداؤد او نورو محدثینو نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۱۰۳۳) وَعَنْ مَحْمُوْدِ بْنِ لَبِيْدٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: كَسَفَتِ الشَّمْسُ يَوْمَ مَاتَ إِبْرٰهِيْمُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ابْنُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوْا كَسَفَتِ الشَّمْسُ لِمَوْتِ إِبْرَاهِيْمَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ اٰيَتَانِ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ أَلَا وَإِنَّهُمَا لَا يَنْكَسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَّلَا لِحَيَاتِهٖ فَإِذَا رَأَيْتُمُوْهُمَا كَذٰلِكَ فَافْزَعُوْا إِلَى الْمَسَاجِدِ ثُمَّ قَامَ فَقَرَأَ فِيْمَا نُرٰى بَعْضَ {الٓرٰ كِتٰبٌ} ثُمَّ رَكَعَ ثُمَّ اعْتَدَلَ ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ قَامَ فَفَعَلَ مِثْلَ مَا فَعَلَ فِي الْأُوْلٰى۔ رَوَاهُ أَحْمَدُ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

۱۰۳۳: سیدنا محمود بن لبید ﷛ فرمائی : په کومه ورځ چه د رسول الله ﷺ خوئې ابراهیم ﷛ وفات شو، نو نمر تندر اونیولو، نو خلقو اووې : د ابراهیم ﷛ د وفات د وجې نه نمر تندر نیولې دې، په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائیل : بیشکه نمر او سپوږمئ د الله پاک په نخښو کښې دوه نخښې دی، خبردار شئ! دا دواړه نه خو د چا د مرګ د وجې نه تندر نیسی او نه د چا د ژوند په وجه، چه کله تاسو دوی په داسې حال کښې اوینئ نو په ویرې څخه مسجد ته لاړ شئ، بیا رسول الله ﷺ قیام اوفرمائیلو نو زمونږ په خیال هغوی د الراکتب ... څه حصه تلاوت اوفرمائیله، بیا ئې رکوع اوفرمائیله، بیا هغوی نیغ اودریدل، بیا ئې دوه سجدې اوکړې، بیا ئې اودریدلو څخه هم دغه شان اوکړل څنګه چه ئې په اول رکعت کښې کړې وو.دا حدیث احمد نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۱۰۳۴) وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيْرٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلّٰى فِيْ كُسُوْفِ الشَّمْسِ نَحْوًا مِّنْ صَلٰوتِكُمْ يَرْكَعُ وَيَسْجُدُ۔ رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالنَّسَآئِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۱۰۳۴: د سیدنا نعمان بن بشیر رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ د نمر تندر نیولو په وخت مونځ اوکړو، لکه چه ستاسو مونځ دې، هغوی به رکوع او سجده فرمائیله.دا حدیث احمد او نسائی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۱۰۳۵) وَعَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا خُسِفَتِ الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ فَصَلُّوْا كَاَحْدَثِ صَلٰوةٍ صَلَّيْتُمُوْهَا۔رَوَاهُ النَّسَآئِيُّ وَزَادَ فِيْ رِوَايَةٍ مِنَ الْمَكْتُوْبَةِ وَاِسْنَادُهُمَا صَحِيْحٌ۔

۱۰۳۵: د سیدنا نعمان بن بشیر رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : چه کله نمر او سپوږمۍ تندر اونیسی نو مونځ کوئ لکه چه تاسو اوس مونځ اوکړو. دا حدیث نسائی نقل کړې دې او په یو روایت کښې نسائی دا الفاظ زیات نقل کړې دی : لکه چه تاسو اوس فرض مونځ (کړې دې) او د دواړو اسناد صحیح دې.

**تشریح**:(۱۰۲۸ نه ۱۰۳۵ پورې) د دې باب ټول روایات د احنافو مستدل دې.

۱: د دې باب اول روایت ۱۰۲۸ بخاری ج ۱ ص ۱۴۱، نسائی ج ۱ ص ۲۲۱، ابن حبان ج ۵ ص ۲۱۵ مضمون واضح دې، حافظ ابن حجر رحمه الله په **(مثل صلاتک)** باندې اعتراض کړې دې چه تشبیه صرف په دوه رکعتونو کولو کښې ده خو دا اعتراض مخدوش دې ځکه چه د دوه رکعتو تصریح خو په دې جمله کښې راغله **(فصلی رکعتین)** وړاندې به د **(کما تصلون)** او **(مثلم صلاتکم)** الفاظ په دې توجیه باندې ضائع لاړ شی. د باب دویم روایت **عن عبدالرحمٰن** بن سمرة ۱۰۲۹ مسلم ج ۱ ص ۲۹۹، نسائی ج ۱ ص ۲۱۳ مضمون واضح دې.

۲: روایت ۱۰۳۰ **عن قبیصة الهلالی** (ابوداؤد ج ۱ ص ۱۶۸، نسائی ج ۱ ص ۲۱۹) کښې تصریح ده **فصلوا کأحدث صلاة صلیتموها من المکتوبة** پس تاسو مونځ کوئ څنګه چه تاسو اوس فرض مونځ کړې دې مراد ترې نه د سحر مونځ دې صلاة کسوف لره د سحر د مانځه څخه تشبیه ورکولې شی لهذا د صلاة کسوف رکوع به هم د سحر د مانځه په شان وی بخاری ج ۱ ص ۱۴۳ کښې د دې تصریح موجود ده رسول الله ﷺ صلاة کسوف د چاشت په وخت ادا فرمائیلې وو.

۳: د سمرة بن جندب رضی الله عنه روایت ۱۰۳۱ (ابوداؤد ج ۱ ص ۱۶۸، نسائی ج ۱ ص ۱۶۷، مسند احمد ج ۵ ص ۱۶، مستدرک ج ۱ ص ۳۳۰) هم په خپل مضمون کښې واضح دې امام نیموی رحمه الله په دې باندې **واسناده صحیح** حکم لګولې دې، **قال الحاکم والذهبی صحیح علی شرطهما**.

۴: د عبدالله بن عمرو روایت ۱۰۳۲ (ابوداؤد ج ۱ ص ۱۶۹، شمائل ترمذی ص ۲۳، موارد الظمان ج ۱ ص ۱۵۷) مضمون واضح دې امام نیموی رحمه الله په دې باندې د **اسناده حسن** حکم لګولې دې.(نیل الاوطار ج ۳ ص ۳۵۱)

۵: د محمود بن لبيد روايت ۱۰۳۳ (مسند احمد ج ۹ ص ٤٢٨) هم د احنافو مستدل دې (**قال الهيثمي رواه احمد ورجاله رجال الصحيح** (مجمع الزوائد ج ۲ ص ۲۰۷) په دې باندې اعتراض کړې شوې دې چه د محمود بن لبيد ملاقات د رسول اللهﷺ څخه ثابت نه دې مګر امام نيمويؒ په التعليق الحسن کښې ددې اعتراض په ځواب کښې په مفصل دلائلو څخه سماع ثابت کړې شوې ده او که بالفرض سماع ثابت هم نه وی نو زيات نه زيات به دا حديث مرسل وی کوم چه د جمهورو په نزد حجت دې

۶: روايت ۱۰۳۴ او ۱۰۳۵ **عن النعمان بن بشير** (مسند احمد ج ۵ ص ٤٢٨، ج ٤ ص ۲۷۱) کښې د **(نحوا من صلاتکم)** تصريح ده، قاضي شوکانی په نيل الاوطار ج ۳ ص ۳۵۱ کښې ليکی: **صححه ابن عبدالبر**.

شوافع د دې حکم په باره کښې دا وائی چه د سحر د مانځه څخه تشبيه د رکوع په تعداد کښې نه ده بلکه په تعداد د رکعاتو کښې ده يعنی د سحر د مانځه په شان به صلاة کسوف هم دوه رکعتونه ادا کولې شی.

خو دا تاويل په دې وجه صحيح نه معلوميږی چه که صرف د تعداد رکعات خبره وې نو رسول اللهﷺ به فجر څخه د تشبيح ورکولو په ځائې دخپل صلاة کسوف څخه تشبيح ورکړې وې، يعنی دا به ئې فرمائيلې وو: **صلوا کما رايتمونی اصلی**... خو رسول اللهﷺ د داسې کولو په ځائې د سحر د مانځه څخه چه کومه تشبيح ورکړې ده هغه د دې خبرې واضح دليل دې چه د رسول اللهﷺ په مانځه کښې څه داسې خصوصيات وو چه د هغې حکم امت ته ورکول منظور نه وو، پس د رسول اللهﷺ د وفات نه پس سيدنا عثمانؓ په خپل دور خلافت کښې صلاة کسوف په يو رکوع څخه ادا اوفرمائيلو. کما رواه البزار. بله دا چه عبدالله بن الزبيرؓ هم صلاة الکسوف په يو رکوع څخه ادا فرمائيلې وو. (شرح معانی الآثار ج ۱ ص ۱۶۳)

شوافع عام طور دا وائی چه د احنافو روايات د دويمې رکوع نه ساکت دی او زمونږ روايات ناطق دی. **والناطق مقدم على الساکت**.

خو د دې ځواب دا دې چه که په دې اصول باندې عمل کول وی نو بيا پنځه رکوع ګانې واجب کيدل پکار دی ځکه چه د پنځه رکوع ګانو روايات زيات ناطق دی حال دا چه پنځه رکوع ګانو ته تاسو هم ضروری نه وايئ، حقيقت دا دې چه مونږ په ناطق رواياتو باندې زيات عمل کونکی يو ځکه چه مونږ دا خبره منو چه رسول اللهﷺ د دوو نه زياتې رکوع ګانې کړې دی خو دا زايد رکوع ګانې مونږ د رسول اللهﷺ په خصوصيت باندې محمول کوو. بهر حال مونږ د څه زيادت منکر نه يو په خلاف د شوافعو چه هغوی د دريم، څلور او پنځم تکبير منکر دی او صرف د

دوه رکوع والا روایات قبلوی او د دري، څلور او پنځو رکوع ګانو والا روایات کوم چه مثبت د زیادت دی او د شوافع په مسلک باندې په هغې کښې هیڅ توجیه ممکن نه ده.

علامه ابن تیمیه رحمه الله دې روایاتو لره د معلول ثابتولو کوشش کړې دې (معارف السنن ج ۵ ص ۸) خو حقیقت دا دې چه په دې کښې فنی خرابی نشته او د دې رجال ثقات دی لهذا دې لره رد کول بغیر د دلیل نه دی بله دا چه اکابر محدثینو دې روایاتو ته نه صرف صحیح وئیلې دی بلکه امام اسحاق بن راهویه، امام ابن خزیمة او بعض نورو مجتهدینو په دې باندې عمل هم کړې دې او هغوی د دې خبرې قائل دی چه د دوو نه څلورو پورې هر عدد جائز دې.

حاصل د کلام دا چه د احنافو د ترجیح وجې دا دی:

۱: د تعداد رکوع ټول روایات فعلی دی او د احنافو مستدلات قولی هم دی او فعلی هم.

۲: د احنافو مستدلات د عام مونځونو د اصولو مطابق دی.

۳: د احنافو په قول باندې په ټولو روایاتو کښې تطبیق راځی او د شوافعو په قول باندې بعض روایات پریخودل راځی. کما بینا

۴: که په کسوف کښې د تعدد رکوع حکم وې نو دا به یو غیر معمولی خبره وې او ممکن نه وه چه رسول الله ﷺ دا حکم واضح بیان او نه فرمائی حال دا چه هغوی د کسوف په باره کښې یو پوره خطبه هم ورکړه خو د رسول الله ﷺ نه یو قول هم داسې نه دې روایت کړې شوې چه په هغې کښې د تعدد رکوع تعلیم ورکړې شوې وی.

## بَابُ الْقِرَآءَةِ بِالْجَهْرِ فِيْ صَلٰوةِ الْكُسُوْفِ

(۱۰۳۶) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَهَرَ فِي الْخُسُوْفِ بِقِرَاَتِهٖ فَصَلّٰى اَرْبَعَ رَكَعَاتٍ فِيْ رَكْعَتَيْنِ وَاَرْبَعَ سَجَدَاتٍ۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

---

**باب: د کسوف په مانځۀ کښې په جهر څخه قرات کول:** ۱۰۳۶: د ام المومنین سیده عائشه رضی الله عنها نه روایت دې چه رسول الله ﷺ په صلاة خسوف (د سپوږمۍ تندر نیول) کښې خپل قرات په اوچت اواز اوکړو، هغوی په دوه رکعتونو کښې څلور رکوع ګانې او څلور سجدې اوکړې. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

**تشریح>**(۱۰۳۶) د دې باب روایت **عن عائشة** (مسلم ج ۱ ص ۲۹۶، بخاری ج ۱ ص ۱۴۵) نه منقول دې د صلاة کسوف په باره کښې قرات جهرا دې یا سرا.

۱: امام احمد او صاحبین په کسوف کښې د قرات جهری قائل دی د اسحاق بن راهویه، ابن خزیمة او ابن المنذر هم دا مسلک دې.

۲: د آئمة ثلاثة او جمهور فقهاء کرامو په نزد په کسوف کښې اخفاء د قرأت مسنون دي:
قال النووی ان مذهبنا ومذهب مالك وابی حنیفة رحمهم الله ولیث بن سعد وجمهور الفقهاء انه یُسِرُّ فی کسوف الشمس ویجهر فی خسوف القمر. (شرح مسلم للنووی ج: ۱، ص: ۲۹۶)
صاحبین او امام احمد رحمهم الله د دې باب د عائشې رضی الله عنها د روایت نه استدلا ل کوی جمهور دا حدیث په صلاة الخسوف باندې محمول کوی خو متاخرین احناف وائی چه که د مقتدیانو د تنګیدلو ویره وی نو په صلاة کسوف کښې هم جهر کیدلې شی.

## بَابُ الْإِخْفَاءِ بِالْقِرَاءَةِ فِيْ صَلٰوةِ الْكُسُوْفِ

(۱۰۳۷) عَنْ سَمُرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلّٰى بِهِمْ فِيْ كُسُوْفِ الشَّمْسِ لَا نَسْمَعُ لَهُ صَوْتًا. رَوَاهُ الْخَمْسَةُ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

**باب: د کسوف په مانځه کښې قراءة په روآواز ځخه کول:** ۱۰۳۷: د سیدنا سمرة رضی الله عنه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم خلقو ته د کسوف مونځ ورکړو مونږ د هغوی آواز نه اوریدلو. دا حدیث اصحاب خمسه نقل کړې دې او ددې اسناد صحیح دې.

(۱۰۳۸) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: صَلَّيْتُ إِلٰى جَنْبِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ كَسَفَتِ الشَّمْسُ فَلَمْ أَسْمَعْ لَهُ قِرَاءَةً. رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ وَإِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.

۱۰۳۸: سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی: د کسوف په ورځ باندې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم اړخ ته مونځ اوکړو نوما دهغوی قرأت نه وو اوریدلې. دا حدیث طبرانی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.
**تشریح:** (۱۰۳۷ نه ۱۰۳۸ پورې) اول روایت عن سمرة (ترمذی ج ۱ ص ۱۲۶، ابوداؤد ج ۱ ص ۱۶۸) او دویم روایت ۱۰۳۸ عن ابن عباس (المعجم الکبیر للطبرانی ج ۱۱ ص ۲٤۰) د جمهورو مستدل دې د دواړو نه واضح ده چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم قرأت سری وو خو زمونږ بعض فقهاء کرامو لیکلې دی چه فتوی د صاحبینو په قول باندې ده چه په صلاة الکسوف کښې قرأت بالجهر پکار دې.

## بَابُ صَلٰوةِ الْاِسْتِسْقَاءِ

(۱۰۳۹) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ خَرَجَ يَسْتَسْقِيْ قَالَ فَحَوَّلَ إِلَى النَّاسِ ظَهْرَهُ وَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ يَدْعُوْ ثُمَّ حَوَّلَ رِدَاءَهُ ثُمَّ صَلّٰى لَنَا رَكْعَتَيْنِ. رَوَاهُ الشَّيْخَانِ وَزَادَ الْبُخَارِيُّ جَهَرَ فِيْهِمَا بِالْقِرَاءَةِ.

**باب: د باران غوښتلو لپاره مونځ:** ۱۰۳۹: سیدنا عبد الله بن زید رضی الله عنه فرمائی: ما رسول الله صلی الله علیه وسلم اولیدلو

په کومه ورځ چه هغوی د باران غوښتلو لپاره بهر تشریف یوړلو. عبدالله فرمائی: رسول اللهﷺ خپله شا مبارکه د خلقو طرف ته راواړوله او د قبلې طرف ته ئې مخ مبارک کولو څخه دعا اوفرمائیله. بیا ئې خپل څادر مبارک واړولو، بیا ئې مونږ ته دوه رکعتونه ادا اوفرمائیل. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې او بخاری دا الفاظ زیات نقل کړی دی: رسول اللهﷺ په دواړو رکعتونو کښې په اوچت آواز څخه قرأت اوفرمائیلو.

(۱۰۴۰) وَعَنْهُ قَالَ خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلَى الْمُصَلّٰى وَاسْتَسْقٰى وَحَوَّلَ رِدَآءَهٗ حِيْنَ اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ وَبَدَأَ بِالصَّلٰوةِ قَبْلَ الْخُطْبَةِ ثُمَّ اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ فَدَعَا. رَوَاهُ اَحْمَدُ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

۱۰۴۰ سیدنا عبدالله بن زید رضی الله عنه فرمائی: رسول اللهﷺ عیدګاه ته تشریف یوړلو او باران ئې طلب کړو، خپل څادر مبارک ئې اولټه کړو، چه کله ئې د قبلې طرف ته مخ مبارک واړولو، د خطبې نه مخکښې ئې په مانځه شروع اوکړه، بیا ئې د قبلې طرف ته مخ مبارک اړولو څخه دعا اوفرمائیله. دا حدیث احمد نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۱۰۴۱) وَعَنْهُ قَالَ: اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَسْقٰى وَعَلَيْهِ خَمِيْصَةٌ لَهٗ سَوْدَآءُ فَاَرَادَ اَنْ يَّاْخُذَ بِاَسْفَلِهَا فَيَجْعَلَهٗ اَعْلَاهَا فَثَقُلَتْ عَلَيْهِ فَقَلَّبَهَا عَلَيْهِ الْاَيْمَنَ عَلَى الْاَيْسَرِ وَالْاَيْسَرَ عَلَى الْاَيْمَنِ. رَوَاهُ اَحْمَدُ وَاَبُوْدَاوٗدَ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ.

۱۰۴۱: سیدنا عبدالله بن زید رضی الله عنه فرمائی: رسول اللهﷺ د باران لپاره دعا اوفرمائیله په هغوی باندې د هغوی تور څادر وو، رسول اللهﷺ د هغې لاندې طرف نیولو څخه پورته کول غوښتل دا په هغوی باندې مشکل شوه، نو رسول اللهﷺ د هغې ښې طرف په ګس او ګس طرف په ښی باندې الټه کړو. دا حدیث احمد او ابوداؤد نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۱۰۴۲) وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا يَّسْتَسْقِيْ فَصَلّٰى بِنَا رَكْعَتَيْنِ بِلَا اَذَانٍ وَّلَا اِقَامَةٍ ثُمَّ خَطَبَنَا وَدَعَا اللّٰهَ وَحَوَّلَ وَجْهَهٗ نَحْوَ الْقِبْلَةِ رَافِعًا يَدَيْهِ ثُمَّ قَلَبَ رِدَآءَهٗ فَجَعَلَ الْاَيْمَنَ عَلَى الْاَيْسَرِ وَالْاَيْسَرَ عَلَى الْاَيْمَنِ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ وَاٰخَرُوْنَ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ.

۱۰۴۲: سیدنا ابوهریره رضی الله عنه فرمائی: رسول اللهﷺ بهر تشریف یوړلو، په کومه ورځ چه هغوی د باران لپاره دعا اوفرمائیله، رسول اللهﷺ مونږ ته بغیر د اذان او اقامت نه دوه رکعتونه ادا کړل، بیا ئې مرنږ ته خطبه راکړه او د الله پاک نه ئې دعا طلب کړه، او لاسونه اوچتولو څخه ئې خپل مخ مبارک د قبلې طرف ته واړولو، بیا ئې خپل څادر مبارکه الټه کړو، نو ښې طرف ئې په ګس کړو او ګس طرف ئې په ښی کړو. دا حدیث ابن ماجة نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۱۰۴۳) وَعَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَتْ شَكَا النَّاسُ إِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُحُوْطَ الْمَطَرِ فَأَمَرَ بِمِنْبَرٍ فَوُضِعَ لَـهُ فِي الْمُصَلّٰى وَوَعَدَ النَّاسَ يَوْمًا يَخْرُجُوْنَ فِيْهِ قَالَتْ عَآئِشَةُ فَخَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ بَدَأَ حَاجِبُ الشَّمْسِ فَقَعَدَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَكَبَّرَ وَحَمِدَ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ ثُمَّ قَالَ إِنَّكُمْ شَكَوْتُمْ جَدْبَ دِيَارِكُمْ وَاسْتِئْخَارَ الْمَطَرِ عَنْ إِبَّانِ زَمَانِهِ عَنْكُمْ وَقَدْ أَمَرَكُمُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ أَنْ تَدْعُوْهُ وَوَعَدَكُمْ أَنْ يَسْتَجِيْبَ لَكُمْ ثُمَّ قَالَ: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ○ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○ مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ○ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ اَللّٰهُمَّ أَنْتَ اللّٰهُ لَآ إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ الْغَنِيُّ وَنَحْنُ الْفُقَرَآءُ أَنْزِلْ عَلَيْنَا الْغَيْثَ وَاجْعَلْ مَا أَنْزَلْتَ قُوَّةً وَبَلَاغًا إِلٰى حِيْنٍ ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ فَلَمْ يَزَلْ فِي الرَّفْعِ حَتّٰى بَدَا بَيَاضُ إِبْطَيْهِ ثُمَّ حَوَّلَ إِلَى النَّاسِ ظَهْرَهُ وَقَلَبَ أَوْ حَوَّلَ رِدَآءَهُ وَهُوَ رَافِعٌ يَدَيْهِ ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ وَنَزَلَ فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ فَأَنْشَأَ اللّٰهُ سَحَابَـةً فَرَعَدَتْ وَبَرَقَتْ ثُمَّ أَمْطَرَتْ بِإِذْنِ اللّٰهِ فَلَمْ يَأْتِ مَسْجِدَهُ حَتّٰى سَالَتِ السُّيُوْلُ فَلَـمَّا رَاٰى سُرْعَتَهُمْ إِلَى الْكِنِّ ضَحِكَ حَتّٰى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ فَقَالَ أَشْهَدُ أَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ وَأَنِّيْ عَبْدُ اللّٰهِ وَرَسُوْلُـهُ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ إِسْنَادُهُ جَيِّدٌ.

۱۰۴۳: ام المومنین سیده عائشه صدیقه ﷞ فرمائی: خلقو رسول اللهﷺ ته د باران د نه کیدو شکایت اوکړو، رسول اللهﷺ د منبر په باره کښې اوفرمائیل نو هغه د هغوی لپاره په عیدګاه کښې کیخودلې شو، او رسول اللهﷺ خلقو څخه د یوې ورځ وعده اوفرمائیله چه خلق هغه ورځ (د عیدګاه) طرف ته اوځي، ام المومنین عائشه ﷞ فرمائی: رسول اللهﷺ هغه وخت اوتلو چه کله د نمر غاړه ښکاره شوه، هغوی په منبر باندې تشریف فرما کیدو څخه تکبیر اوکړو او د الله پاک حمد ئې بیان کړو، بیا ئې اوفرمائیل، بیشکه تاسو د خپلو ښهرونو د خشک سالئ شکایت کړې دې او د خپل وخت نه د باران موخر کیدو شکایت مو کړې دې او الله پاک تاسو ته حکم کړې دې چه تاسو د هغه نه اوغواړئ او تاسو څخه ئې وعده فرمائیلې ده چه هغه به ستاسو دعا قبلوی. بیا رسول اللهﷺ دا دعا اوفرمائیله!

"اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ○ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○ مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ اَللّٰهُمَّ أَنْتَ اللّٰهُ لَآ إِلٰـهَ إِلَّا أَنْتَ الْغَنِيُّ وَنَحْنُ الْفُقَرَآءُ أَنْزِلْ عَلَـيْنَا الْغَيْثَ وَاجْعَلْ مَا أَنْزَلْتَ قُوَّةً وَبَـلَاغًا إِلٰى حِيْنٍ.

ترجمه: ټول د کمال صفتونه د الله پاک لپاره دی کوم چه د ټولو مخلوقاتو رب دې، بې حده مهربان او همیشه رحم کونکې دې، د جزاء د ورځې مالک دې، د الله پاک نه سوا هیڅ معبود نشته هغه چه څه اراده فرمائی هغه کوی، اې الله! ته الله ئې، ستا نه سوا څوک هم د بندګئ حقدار نشته، ته غنی ئې او مونږ محتاج یو په مونږ باندې باران نازل کړه او څه چه ته نازل کړې هغه زمونږ لپاره د یو وخت مقرره پورې د طاقت او د ضرورت د پوره کولو ذریعه جوړه کړه

بیا رسول الله ﷺ خپل دواړه لاسونه مبارک اوچت کړل، هغه ئې اوچتول، تردې چه د هغوی د ترخونو مبارکو سپین والې ښکاره شو، بیا هغوی خلقو ته خپله شا مبارکه واړوله. او خپل څادر ئې التہ کړو، هغوی لاسونه اوچت کړې وو، رسول الله ﷺ مخ مبارک د خلقو طرف ته کولو څخه د منبر نه لاندې راکوز شو او دوه رکعته مونځ ئې اوکړو. پس الله پاک یو وریځ راوچته کړه، هغې کښې ګړزارې شو او بریښنا شوه، بیا د الله پاک په حکم څخه وریدل شروع شو، هغوی لا خپل مسجد ته نه وو رارسیدلې چه نالې اوبهیدلې، چه کله رسول الله ﷺ خلق په تیزئ څخه خپلو کورنو ته په تیختہ باندې اولیدل نو هغوی مسکې شو تردې چه د هغوی غاښونه مبارک ښکاره شو، رسول الله ﷺ اوفرمائیل: زه ګواهی ورکوم بیشکه الله پاک په هر څیز باندې قادر دې او بیشکه زه د هغه بنده او رسول یم.

دا حدیث ابوداؤد نقل کړې دې او وائی چه دا حدیث غریب دې، د دې اسناد جید دې.

(۱۰۴۴) وَعَنْ إِسْحٰقَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ كِنَانَةَ قَالَ: أَرْسَلَنِيْ أَمِيْرٌ مِّنَ الْأُمَرَاءِ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَسْئَلُهُ عَنِ الْإِسْتِسْقَاءِ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: مَا مَنَعَهُ أَنْ يَّسْأَلَنِيْ خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَوَاضِعًا مُّتَبَذِّلًا مُّتَخَشِّعًا مُّتَضَرِّعًا فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ كَمَا يُصَلِّيْ فِي الْعِيْدَيْنِ وَلَمْ يَخْطُبْ خُطْبَتَكُمْ هٰذِهٖ. رَوَاهُ النَّسَآئِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَإِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

۱۰۴۴: اسحق بن عبدالله بن کنانه وائی: په امراء کښې یو امیر زه عبدالله بن عباس رضی الله عنهما ته اولیږلم چه د هغوی نه د استسقی (د باران طلب کولو) په باره کښې پوښتنه اوکړم، نو ابن عباس رضی الله عنهما اوفرمائیل: هغه کوم څیز زما نه د پوښتنې کولو نه منع کړې ده، رسول الله ﷺ عاجزی کولو څخه، معمولی لباس اغوستلو څخه په خشوع څخه زاری کولو باندې تشریف یوړلو، هغوی دوه رکعتونه ادا اوفرمائیل لکه څنګه چه به ئې د اخترونو مونځ ادا فرمائیلو، او خطبه ئې ورنکړه، لکه چه تاسو خطبه ورکوئ. دا حدیث نسائی او ابوداؤد نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

**تشریح**> (۱۰۳۹ نه ۱۰۴۴ پورې) باران د عام انسانانو بلکه د اکثر حیواناتو هم په هغه ضروریاتو کښې دې چه په هغې باندې ګویا د ژوند انحصار دې، په دې وجه په یو علاقه کښې قحط او سوکړه راتلل د هغه خائې عمومی مصیبت بلکه یو قسم عام عذاب دې. رسول الله ﷺ چه څنګه د انفرادی او شخصی حاجتونو او پریشانو لپاره د "صلاة حاجت" تعلیم فرمائیلې دې چه د هغې بیان په مخکښې صفحاتو کښې په خپله موقع باندې تیر شوې دې، هم دغه شان د دې عمومی مصیبت او پریشانئ د دفعې لپاره هم رسول الله ﷺ د یو اجتماعی مونځ او دعا تعلیم ورکړې دې چه د هغې منظم او مکمل شکل صلاة استسقاء دې، د استسقاء لغوی معنی د اوبو غوښتلو ده.

د رسول الله ﷺ په زمانه کښې یو کرت قحط راغلو نو رسول الله ﷺ صلاة استسقاء اوکړو او د الله پاک په حکم څخه هم هغه وخت باران اوشو.

د باب اول روایت ۱۰۳۹ عن عبدالله بن زید بخاری ج ۱ ص ۱۳۹، مسلم ج ۱ ص ۲۹۳، دویم روایت ۱۰۴۰ مسند احمد ج ٤ ص ٤١، روایت ۱۰۴۱ مسند احمد ج ٤ ص ٤١، ابوداؤد ج ۱ ص ۱۶٤، روایت ۱۰۴۲ ابن ماجة ص ۹۱ روایت ۱۰۴۳ ابوداؤد ج ۱ ص ۱۶۵ او روایت ۱۰۴۴ نسائی ج ۱ ص ۲۲۶ ابوداؤد ج ۱ ص ۱۶۵ نه منقول دې.

د صلاة الاستسقاء په مشروعیت باندې اجماع ده احادیث الباب د دې سند دې خو د امام ابوحنیفه رحمه الله نه دا منقول دی چه په استسقاء کښې هیڅ مونځ مسنون نه دې (کبیری ص ۴۲۷) د دې غلط مطلب واخستلې شو اصل کښې د دې مراد دا دې چه د استسقاء سنت صرف د مانځه څخه خاص نه دې بلکه صرف په دعا او استغفار څخه هم دا سنت ادا کیږی: ﴿ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا ﴾ صرف په دعا او استغفار څخه د سنت استسقاء ادا کیدل د ابومروان اسلمی رحمه الله په روایت کښې ثابت دی ﴿ قال خرجنا مع عمر بن الخطاب یستسقی فما زاد علی الاستغفار ﴾ (معارف السنن ج ٤ ص ٤٩٤) لهذا د امام ابوحنیفه رحمه الله مقصد دا نه دې چه صلاة الاستسقاء غیر مسنون دې ځکه چه د رسول الله ﷺ نه د دې ثبوت ناقابل انکار دې لکه چه د احادیث الباب نه ثابت ده.

**تحویل رداء:** ﴿ وحول ردائه ﴾ د څادر اڼه کول د تفاؤل لپاره وو چه په کوم حالت کښې راځو په هغه حالت کښې به واپس نه ځو.

لکه چه جعفر بن محمد د خپل پلار نقل کوی ﴿ استسقی رسول الله ﷺ وحول ردائه لیتحول القحط ﴾ (سنن دارقطنی ج ۲ ص ۶۶) د ابن عباس رضی الله عنهما په روایت کښې دی ﴿ ثم قلب ردائه لتنقلب السنة (القحط) کنزالعمال ج ۸ ص ۲۸۰، د سیدنا انس رضی الله عنه په روایت کښې دی ولکن قلب ردائه لکی ینقلب القحط الی الخصب (نصب الرایة ج ۲ ص ۲۴۳).

د ائمة ثلاثه په نزد دا د امام او مقتدی دواړو لپاره مسنون دې د احنافو او بعض مالکیانو په نزد د دې مسنونیت صرف د امام په حق کښې دې احناف حضرات فرمائی چه په روایاتو کښې صرف د رسول الله ﷺ د تحویل رداء ذکر راغلې دې او دا یو غیر مدرک بالقیاس عمل دې کوم چه به د خپل مورد پورې منحصر وی او مقتدی به په امام باندې قیاس کول نه وی.

د تحویل رداء کیفیت علامه عثمانی رحمه الله لیکی چه: ''وقال محمد یقلب الامام رداءه اذا مضی صدر من خطبته فان کان مربعًا جعل اعلاه اسفله واسفله اعلاه وان کان مدورًا جعل الایمن علی الایسر والایسر علی الایمن وان کان قباءً جعل البطانة خارجاً والظهارة داخلًا۔ (فتح الملهم ج: ۲،ص: ۴۴۱)

د پورته احادیثو نه د دې مونځ په باره کښې څو خبرې معلومې شوې.

**اول**: دا چه دا مونځ د کلی او آبادئ نه بهر صحرا او ځنګل کښې براه راست په زمکه باندې پکار دې د باران د غوښتلو لپاره صحرا او ځنګل نسبتا زیات موزون ځائې دې او په هغې کښې د خپلې بې وسئ اظهار هم زیات کیږی.

**دویم**: دا چه د جمعې یا د اختر د مونځ په شان د دې مانځه لپاره د غسل کولو او ښه جامو اغوستلو اهتمام نه دی کیدل پکار بلکه د دې برعکس بالکل معمولی او کم حیثیت والا لباس وی، د مسکینانو او فقیرانو په صورت کښې دې د الله پاک حضور کښې حاضری وی، د سائل لپاره فقیرانه صورت او د شلیدلې جامو والا مسکینانو حالت زیات مناسب دې.

**دریم**: دا چه دعا دې ډیره په عاجزئ او توجه څخه اوغوښتلې شی او ددې غرض لپاره دې لاسونه د آسمان طرف ته زیات پورته اوچت کړې شی.

په ړومبو دواړو احادیثو کښې د تحویل رداء ذکر هم دې یعنی رسول الله ﷺ قبلې ته مخ مبارک ګرځولو څخه خپل څادر مبارک واړولو. د دې مقصد دا وو چه اې الله! څنګه چه ما دا څادر الټه کړو نو داسې باران نازلولو څخه صورت حال بالکل واړوه، ګویا د لاسونو اوچتولو په شان دا عمل هم د دعاء یو جزء وو.

د عائشې رضی الله عنها په اول حدیث کښې تیر شو چه کوم وخت رسول الله ﷺ د استسقاء مونځ اوکړو هغه وخت یو وریځ راوچته شوه او ښه باران اوشو، د نورو بعض صحابه کرامو رضی الله عنهم په روایاتو کښې هم د دې ذکر دې.

د عائشې رضی الله عنها په حدیث کښې دی چه: چه کله د مانځه او دعا په نتیجه کښې ښه باران اوشو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل: ''اَشْهَدُ اَنَّ اللّٰهَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ وَّاَنِّیْ عَبْدُ اللّٰهِ وَرَسُوْلُهٗ''۔

زه ګواهی ورکوم چه الله پاک په هر څیز باندې قدرت لری او زه د هغه بنده او رسول یم.

دا کمال عبدیت دې چه د رسول الله ﷺ د مانځه او دعا په نتیجه کښې چه کله معجزانه طور باران نازل شو نو رسول الله ﷺ د دې حقیقت اعتراف او اعلان ضروری اوګڼړلو چه دا څه چه اوشو د الله پاک په قدرت او ارادې څخه اوشو لهذا هم هغه د حمد او شکر مستحق دې او زه خو بس د الله پاک بنده او د هغه رسول یم. اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَرَسُوْلِكَ۔

# بَـابُ صَلٰوةِ الْخَوْفِ

(۱۰۴۵) عَنْ جَابِرٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ اَقْبَلْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى اِذَا كُنَّا بِذَاتِ الرِّقَاعِ قَالَ كُنَّا اِذَآ اَتَيْنَا عَلٰى شَجَرَةٍ ظَلِيْلَةٍ تَرَكْنَا هَا لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَجَآءَ رَجُلٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ وَسَيْفُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُعَلَّقٌ بِشَجَرَةٍ فَاَخَذَهٗ فَاخْتَرَطَهٗ ثُمَّ قَالَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَتَخَافُنِيْ قَالَ لَا قَالَ فَمَنْ يَّمْنَعُكَ مِنِّيْ قَالَ: اللّٰهُ يَمْنَعُنِيْ مِنْكَ، قَالَ: فَتَهَدَّدَهٗ اَصْحَابُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَغْمَدَ السَّيْفَ وَعَلَّقَهٗ قَالَ ثُمَّ نُوْدِيَ بِالصَّلٰوةِ فَصَلّٰى بِطَآئِفَةٍ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ تَاَخَّرُوْا وَصَلّٰى بِالطَّآئِفَةِ الْاُخْرٰى رَكْعَتَيْنِ قَالَ فَكَانَتْ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَرْبَعُ رَكْعَاتٍ وَّلِلْقَوْمِ رَكْعَتَانِ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَّالْبُخَارِيُّ تَعْلِيْقًا۔

**باب: د خوف مونځ: ۱۰۴۵** : سيدنا جابر ﷛ فرمائی مونږ د رسول الله ﷺ څخه لاړو. ترديې چه مونږ ذات الرقاع (د يوځائې نوم دې) کښې وو هغوی فرمائی چه کله به مونږ په يو سوری والا ونه باندې راغلو نو هغه به مو د رسول الله ﷺ (د آرام لپاره) پرېخودله. هغوی فرمائی: په مشرکانو کښې يو سړې راغلو، د رسول الله ﷺ توره مبارکه په ونه پورې زوړنده وه، هغه ئې راوخستله او ښکاره ئې کړه بيا ئې رسول الله ﷺ ته اووې: آيا ته زما نه ويرېږې، هغوی اوفرمائيل نه! هغه اووې: تا به زما نه څوک بچ کوی، رسول الله ﷺ اوفرمائيل: الله پاک به ستا نه زما حفاظت فرمائی، جابر فرمائی: هغه د رسول الله ﷺ صحابه کرامو ﷡ اويرولو، نو هغه توره په تيکی کښې ورکړه او هغه ئې زوړنده کړه، هغوی فرمائی: بيا اذان ورکړې شو، نو رسول الله ﷺ يو ډلې ته دوه رکعتونه ورکړل، بيا هغه ډله شاته شوه او دويمې ډلې ته ئې دوه رکعتونه ورکړل، هغوی وائی پس د رسول الله ﷺ څلور رکعتونه وو او د خلقو دوه رکعتونه. دا جديث مسلم نقل کړې دې او بخاری تعليقا نقل کړې دې.

(۱۰۴۶) وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ غَزَوْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِبَلَ نَجْدٍ فَوَازَيْنَا الْعَدُوَّ فَصَافَفْنَا لَهُمْ فَقَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ لَنَا فَقَامَتْ طَآئِفَةٌ مَّعَهٗ وَاَقْبَلَتْ طَآئِفَةٌ عَلَى الْعَدُوِّ فَرَكَعَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَنْ مَّعَهٗ وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ انْصَرَفُوْا مَكَانَ الطَّآئِفَةِ الَّتِيْ لَمْ تُصَلِّ فَجَآءُوْا فَرَكَعَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهِمْ رَكْعَةً وَّسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ فَقَامَ كُلُّ وَاحِدٍ مِّنْهُمْ فَرَكَعَ لِنَفْسِهٖ رَكْعَةً وَّسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ۔ رَوَاهُ الْجَمَاعَةُ۔

**۱۰۴۶** : سيدنا عبدالله بن عمر ﷠ فرمائی: زه د رسول الله ﷺ څخه د نجد طرف ته په غزوه کښې شريک شوم مونږ د دشمن مخې ته راغلو، نو مونږ دهغې د مقابلې لپاره صف بندی اوکړه، رسول

اللهﷺ مونږ ته د مونځ راکولو لپاره اودريدلوو يو ډله هغوی څخه اودريده او يو ډله د دشمن طرف ته متوجه شوه، رسول اللهﷺ څخه هغه خلقو کوم چه هغوی څخه ولاړ وو رکوع او دوه سجدې او فرمائيلې، بيا دا خلق د هغه ډلې ځائې ته لاړل چا چه مونځ نه وو کړې، هغوی راغلل نو رسول اللهﷺ هغوی څخه يو رکوع او دوه سجدې اوفرمائيلې، بيا ئې سلام واړولو، بيا هر يو په هغوی کښې اودريدلو څخه يو يو رکوع او دوه سجدې اوکړې. دا حديث د محدثينو جماعت نقل کړې دې.

(۱۰۴۷) وَعَنْ نَـافِعٍ: اَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كَانَ إِذَا سُئِلَ عَنْ صَلٰوةِ الْخَوْفِ قَالَ يَتَقَدَّمُ الْإِمَامُ وَطَآئِفَةٌ مِّنَ النَّاسِ فَيُصَلِّيْ بِهِمُ الْإِمَامُ رَكْعَةً وَتَكُوْنُ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْعَدُوِّ لَمْ يُصَلُّوْا فَإِذَا صَلَّى الَّذِيْنَ مَعَهُ رَكْعَةً اِسْتَـأْخَرُوْا مَكَانَ الَّذِيْنَ لَمْ يُصَلُّوْا وَلَا يُسَلِّمُوْنَ وَيَتَقَدَّمُ الَّذِيْنَ لَمْ يُصَلُّوْا فَيُصَلُّوْنَ مَعَهُ رَكْعَةً ثُمَّ يَنْصَرِفُ الْإِمَامُ وَقَدْ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ فَيَقُوْمُ كُلُّ وَاحِدٍ مِّنَ الطَّآئِفَتَيْنِ فَيُصَلُّوْنَ لِأَنْفُسِهِمْ رَكْعَةً بَعْدَ اَنْ يَنْصَرِفَ الْإِمَامُ فَيَكُوْنَ كُلُّ وَاحِدٍ مِّنَ الطَّآئِفَتَيْنِ قَدْ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ فَإِنْ كَانَ خَوْفٌ هُوَ اَشَدُّ مِنْ ذٰلِكَ صَلُّوْا رِجَالًا قِيَامًا عَلٰى اَقْدَامِهِمْ اَوْرُكْبَانًا مُّسْتَقْبِلِي الْقِبْلَـةِ، اَوْغَيْرَ مُسْتَقْبِلِيْهَا، قَالَ مَالِكٌ: قَالَ نَافِعٌ: لَا أُرٰى عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ حَدَّثَـهُ اِلَّا عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ۔ رَوَاهُ مَالِكٌ فِي الْمُوَطَّاِ ثُمَّ الْبُخَارِيُّ مِنْ طَرِيْقِهٖ فِيْ كِتَابِ التَّفْسِيْرِ مِنْ صَحِيْحِهٖ۔

قَالَ النِّيْمَوِيُّ اِنَّ صَلٰوةَ الْخَوْفِ لَـهَا اَنْوَاعٌ مُّخْتَلِفَةٌ وَّصِفَاتٌ مُّتَنَوِّعَةٌ وَّرَدَتْ فِيْهَا اَخْبَارٌ صَحِيْحَةٌ۔

۱۰۴۷: د نافع نه روايت دې چه د سيدنا عبدالله بن عمرﷺ نه به چه کله د د صلاة خوف په باره کښې پوښتنه اوکړې شوه نو هغوی به فرمائيل: د خلقو يو ډله دې وړاندې راشی، امام دې هغوی ته يو رکعت ادا کړی، په هغوی کښې هغه ډله چا چه مونځ نه دې کړېو د امام او دشمن ترمينځه شی، چه کله هغوی د امام څخه يو رکعت اوکړی نو هغوی دې شاته شی، د هغه خلقو په ځائې چا چه مونځ نه دې کړې او سلام دې نه اړوی او هغه خلق چا چه مونځ نه وی کړې، هغه دې وړاندې راتلو څخه د امام څخه يو رکعت اوکړی، بيا دې امام سلام واړوی او هغه دوه رکعتونه کړی دی، نو د امام د سلام اړولو نه پس دې په هغه دواړو ډلو کښې هر يو اودريدلو څخه ځانله يو يو رکعت اوکړی، پس په دواړو ډلو کښې به هر يو دوه دوه رکعته کړې وی، که خوف د دې نه زيات سخت شی نو پيدل په خپلو قدمونو باندې ولاړ دې مونځ کوی يا د سورلئ په حالت کښې، که د قبلې طرف ته ئې مخ وی يا نه وی. مالک بيان کړې دې چه نافع وائی: زما خيال خو هم دا دې چه عبدالله بن عمرﷺ دا (طريقه) د رسول اللهﷺ نه بيان کړې دې.

دا حدیث مالک په موطاء کښې بیا بخاری هم د هغوی په واسطه د خپل صحیح په کتاب التفسیر کښې نقل کړې دې، امام نیموی وائی : د صلاة خوف مختلف قسمونه او طریقې دی کومې چه په صحیح احادیثو کښې راغلې دی.

**تشریح**> (۱۰۴۵ نه ۱۰۴۷ پورې) د باب اول روایت **عن جابر مسلم** ج ۱ ص ۲۷۹، بخاری ج ۲ ص ۵۹۲ دویم روایت ۱۰۴۶ بخاری ج ۱ ص ۱۲۸ مسلم ج ۱ ص ۲۷۸، دریم روایت ۱۰۴۷ **عن نافع موطاء امام مالک** ص ۱۷۰، بخاری ج ۲ ص ۶۵۰ نه منقول دې.

**صلاة الخوف د رسول الله ﷺ څخه خاص نه وو:** جمهور فقهاء دا فرمائی چه صلاة الخوف د رسول الله ﷺ د ذات څخه مخصوص نه وو. د رسول الله ﷺ نه پس هم کړې شوې دې او اوس هم کولې کیدې شی. پس ابوداؤد ج ۱ ص ۱۷۷ کښې دی چه عبدالرحمٰن بن سمرع د کابل په جنګ کښې صلاة الخوف اوکړو او په سنن الکبری ج ۳ ص ۲۵۲ کښې دی چه سیدنا علی رضی الله عنه په مقام صفین باندې صلاة الخوف اوکړلو او په فتح الملهم ج ۲ ص ۳۷۹ کښې دی چه سیدنا ابوموسی اشعری رضی الله عنه په اصبهان کښې صلاة الخوف اوکړو او سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه د مجوسیانو څخه جنګ کولو باندې په طبرستان کښې صلاة الخوف اوکړو او هغوی څخه حسن بن علی، حذیفه بن الیمان او عبدالله بن عمرو بن العاص هم وو او سنن الکبری ج ۳ ص ۲۵۲ کښې دی : ان علیاً رضی الله عنه صلی المغرب صلوٰة الخوف لیلة الهریر (سمیت الهریر لانهم لما عجزوا عن القتال صار بعضهم یهرّ علی بعض)

او په بخاری ج ۲ ص ۶۵۰ کښې دی چه د ابن عمر رضی الله عنهما نه چه کله د صلاة الخوف متعلق پوښتنه اوکړې شوه نو وې فرمائیل :یتقدم الامام وطائفة من الناس فیصلی بهم الامام رکعة...الحدیث

او په ترمذی ج ۱ ص ۷۴ کښې دی:

عن سهل بن ابی حثمة رضی الله عنه : انه قال فی صلوٰة الخوف یقوم الامام مستقبل القبلة وتقوم طائفة منهم معه،

او امام شوکانی رحمه الله په نیل الاوطار ج ۲ ص ۳۳۷ کښې لیکی :

واحتج علیهم الجمهور باجماع الصحابة علی فعل هذه الصلوٰة بعد موت النبی صلی الله علیه وسلم وبقول النبی صلی الله علیه وسلم صلّوا کما رأیتمونی أصلّی۔

امام ابویوسف، امام مزنی او ابراهیم بن علیه فرمائی چه صلاة الخوف صرف د رسول الله ﷺ د ذات څخه مخصوص وو. علامه زیلعی رحمه الله په نصب الرایة ج ۲ ص ۲۴۴ کښې لیکی : ومستندهم خصوص الخطاب به علیه الصلوٰة والسلام فی قوله تعالٰی... وَاِذَا كُنْتَ فِيْهِمْ فَاَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلٰوةَ }...الآیة ...

جمهور د دې خواب دا ورکوی چه د ﴿اذا کنت﴾ اتفاقی دې، احترازی نه دې.
لکه چه تحفة الاحوذی (ج: ۱،ص: ۳۹۴) کښې دی: بأنــه قيد واقعی نحو قوله ان خفتم فی صلٰوة المسافر۔
**د صلاة الخوف مختلف طریقې:** امام نیموی رحمه الله په ﴿ان صلاة الخوف لها انواع مختلف﴾ څخه دې طرف ته اشاره کړې ده. حافظ ابن القيم رحمه الله په زاد المعاد ج ۱ ص ۱٤۷ کښې ليکی چه د صلاة الخوف شپږ یا اووۀ صورتونه دی **وکلها جائزة**.... علامه ابن حزم رحمه الله په محلی کښې او ابوداؤد په خپل سنن کښې دیارلس صورتونه لیکلې دی. قاضی شوکانی رحمه الله په نیل الاوطار ج ۳ ص ۳۳۷ کښې لیکی چه اولس صورتونه دی. حافظ ابن حجر رحمه الله په حواله د ابوبکر بن العربی شلیریشت صورتونه نقل کړې دی. امیر یمانی په سبل السلام ج ۲ ص ۷۱ کښې لیکی : **وقال ابن حزم صح منها اربعة عشر وجها وقال ابن العربی روایات کثیرة اصحها ست عشر روایة**. په دې کښې چه په کومه طریقه باندې عمل کوی صحیح ده. اولی هغه ده کومه چه په قرآن کریم کښې ده او د ابن عمر رضی الله عنهما نه مروی ده. کما فی الترمذی ج ۱ ص ۷۳ روایة ۱ـ خو درې طریقې زیاتې مشهورې دی !

**اوله طریقه:** دا چه یوه ډله د امام څخه یو رکعت اوکړی او دویمَ دې د دشمن مقابله کښې اودریږی چه کله امام سجده اوکړی نو اوله ډله دې خپل دویم رکعت هغه وخت پوره کړی او امام دې دومره وخت ولاړ انتظار اوکړی بیا دې دویمه ډله راشی او امام دې هغه ته یو رکعت ورکولو څخه سلام واړوی او هغه ډله دې د مسبوق په شان خپل دویم رکعت پوره کړی دا طریقه د سهل بن ابی حثمه رضی الله عنه په روایت باندې ثابت ده کوم چه موقوفا او مرفوعا دواړو طریقو څخه منقول دې او چونکه دا روایت اصح ما فی الباب دې په دې وجه شوافع وغیره هم دې طریقې ته افضل وئیلې دی.

**دویمه طریقه:** دا ده چه امام دې یوې ډلې ته یو رکعت ورکړی او دا طائفه د سجدې نه پس خپل مونځ پوره کولو نه بغیر محاذ ته لاړ شی بیا دویمه ډله راشی او امام هغوی ته دوئم رکعت ورکړی. او سلام واړوی بیا دا ډله خپل مونځ هم هغه وخت پوره کړی او محاذ ته لاړ شی بیا بیا دې دویمه ډله راتلو څخه دویم رکعت ادا کړی،

**دریمه طریقه:** دا ده چه یو ډله دې یو رکعت امام څخه کولو باندې لاړه شی بیا دې دویمه ډله دویم رکعت کښې د امام څخه کولو باندې لاړه شی بیا دې اوله ډله راشی او خپل مونځ دې پوره کړی، د دې نه پس دې دویمه ډله راشی او خپل مونځ دې پوره کړی.

د صلاة الخوف دا درې واړه طریقې جائز دی او احنافو په دې کښې دریمه طریقه غوره کړې ده د احنافو دا طریقه د ابن عمر رضی الله عنهما د روایت نه منقول طریقې ته ترجیح ورکوی او هم په دې

باندې عمل کول دي. د د باب اول روايت د جابر رضی الله عنه نه مروی دې.

د دې حديث نه معلومه شوه چه رسول الله ﷺ نه صرف دا چه شجاع وو بلکه د کفارو د طرف په رسيدونکې تکليف باندې به ئې صبر کولو او جاهل کفارو به که هغوی څخه د بې ادبئ څه معامله کوله نو رسول الله ﷺ به ډير زيات حلم څخه هغه برداشت کوله.

واقدی ذکر کړې دی چه کله دې مشرک په غلطې ارادې څخه توره راويستله نو د هغه په شا کښې سخت دردشروع شو چه په هغې څخه هغه اويريدلو او توره د هغه د لاس نه اوغورځيدله. هغه په دې حالت ليدو باندې مسلمان شو او د هغه په وجه باندې ډير زيات مخلوق هدايت بيا موندلو. خو ابوعوانة نقل کړی دی چه هغه مسلمان نه شو خو هغه دا لوظ اوکړو چه کله به هم د رسول الله ﷺ څخه جنګ نه کوم.

بهرحال رسول الله ﷺ د هغه په بې ادبئ باندې هغه ته څه سزا ورنکړه. د دې وجه يا خو د هغه تاليف قلب وو يا بل څه وجه وه چه رسول الله ﷺ هغه معاف کړو.

د دويم روايت ۱۰۴۲ مختصر تشريح دا ده چه !

نجد اوچتې زمکې ته وائی دلته د نجد نه مراد نجد حجاز دې، نجد يمن مراد نه دې.

دا حديث په دې خبره باندې دلالت کوی چه تعدد دجماعت يعنی څو څو کرته جماعت کول مکروه دی خصوصا هغه وخت چه کله ټول مونځ کونکی موجود وی. هم دغه شان دا حديث په دې خبره باندې هم دليل دې چه فرض مونځ د نفل مونځ کونکی پسې جائز نه وی ګينې رسول الله ﷺ به دوه جماعتونو ته بيل بيل دوه دوه کرته مونځ ورکړې وې بل دا چه د جماعت د واجب کيدو هم دا حديث قوی دليل دې چه په داسې حالت کښې هم چه کله د دشمن لښکر په مقابله کښې وی جماعت پريخودل نه دی پکار.

علامه ابن الهمام رحمه الله فرمائی چه په پورته ذکر شوې طريقې څخه د صلاة خوف ادا کول هغه وخت ضروری وی چه کله ټول خلق يو سړی لره په امام جوړولو باندې اصرار کوی. که داسې صورت حال نه وی نو بيا افضل دا ده چه يو سړې يو جماعت ته پوره مونځ ورکړی او بل سړې دويم جماعت ته پوره مونځ ورکړی.

د حديث الفاظ ﴿فقام کل واحد منهم﴾ (او دا خلق اودريدل الخ) تفصيل او تشريح کښې په علماء احناف کښې بعض شارحينو دا بيان کړې دې چه دا جماعت کوم چه روستو راتلو څخه په جماعت کښې شريک شو د رسول الله ﷺ د سلام اړولو نه پس د دشمن د مقابلې لپاره لاړو او رومبې رکعت کوم چه په اول رکعت کښې شريک شوې وو د هغه ځائې نه خپل ځائې يعنی د مونځ کولو لپاره راغلل او يو اخې يو اخې ئې خپل مونځ پوره کړو او سلام اړولو نه بيا د دشمن د مقابلې

لپاره لاړل د دې نه پس بيا دويم جماعت دلته راغلو او هغه هم يو اخې يو اخې خپل باقي مونځ پوره کولو څخه سلام واړولو.

ابن مالک رحمه الله فرمائي چه د بعض علماء کرامو نه هم دا تفصيل او طريقه منقول ده پس د امام ابوحنيفه رحمه الله هم دا مسلک دې. که دا تفصيل په حديث کښې وضاحت څخه بيان نه کړې شو او نه صراحت څخه حديث په دې باندې دلالت کوی. خو امام ابن الهمام رحمه الله فرمائي چه په دې حديث څخه د امام ابوحنيفه رحمه الله د مسلک يو جز ثابت شو او هغه دا چه په اول جماعت کښې يو رکعت اوکړې شی او دويم جماعت په دويم رکعت کښې د امام څخه شريک شی او د دې دويم جماعت په موجودګئ امام خپل مونځ پوره کولو څخه سلام واړوی. خو د امام ابوحنيفه رحمه الله پوره مسلک او د هغوی نقل کړې طريقه په يو بل روايت څخه ثابت ده کومه چه په ابن عباس رضي الله عنهما باندې موقوف ده د امام صاحب رحمه الله دا مسلک او د هغوی روايت امام محمد رحمه الله په کتاب الآثار کښې نقل کړې دې.

په دې سلسله کښې په دومره خبره باندې ځان پوهه کول پکار دی چه د خوف د مانځه په باره کښې چه د امام ابوحنيفه رحمه الله کوم مسلک دې او هغوی چه کوم تفصيل بيان کړې دې هغه په حديث موقوف څخه ثابت دې او ظاهره ده چه په دې باب کښې عقل ته هيڅ دخل نشته لهذا حديث موقوف به د حديث مرفوع په درجه کښې وی.

او بيا دا چه د امام ابوحنيفه رحمه الله مسلک هم دا دې چه په صورت مذکوره کښې دې اول جماعت خپل مونځ بغير د قرأت نه د لاحق په شان پوره کړی او دويم جماعت دې د قرأت څخه پوره کړی لکه چه مسبوق خپل مونځ د قرأت څخه پوره کوی خو دا صورت هغه وخت دې چه کله مونځ د سفر په حالت کښې کولې شی او امام مسافر وی يا مونځ د دوه رکعتونو والا وی او که امام مقيم وی او مونځ د څلورو رکعتونو والا وی لکه د ماښام نو هر يو به د جماعت څخه دوه دوه رکعتونه کوی. خو مونځ که درې رکعتو والا وی لکه د ماښام مونځ نو که سفر وی او که حضر وی په دواړو صورتونو کښې اول جماعت د امام څخه دوه رکعته کوی او دويم جماعت به يو رکعت او هر جماعت به خپل خپل مونځ په پورته ذکر شوې طريقه باندې پوره کوی.

# [اَبْوَابُ الْجَنَآئِزِ]

## بَابُ تَلْقِيْنِ الْمُحْتَضَرِ

(۱۰۴۸) عَنْ اَبِيْ سَعِيْدِنِ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقِّنُوْا مَوْتَاكُمْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ـ رَوَاهُ الْجَمَاعَةُ اِلَّا الْبُخَارِيَّ ـ

## [ابواب: د جنازو احکام]

باب: محتضر (مرګ ته نزدې انسان ته) ته (د کلمې) تلقين کول: ۱۰۴۸: سيدنا ابوسعيد خدری رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائيل: خپلو مړو (يعنی چاته چه مرګ حاضر شی) ته د (لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ) تلقين کوئ. دا حديث د بخاری نه علاوه د محدثينو جماعت نقل کړې دې.

(۱۰۴۹) وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقِّنُوْا مَوْتَاكُمْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ـ رَوَاهُ مُسْلِمٌ ـ

۱۰۴۹: سيدنا ابوهريره رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائيل: خپلو مړو (يعنی چاته چه مرګ حاضر شی) ته د (لا اله الا الله) تلقين کوئ. دا حديث مسلم نقل کړې دې.

(۱۰۵۰) وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ اٰخِرُ كَلَامِهِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَاٰخَرُوْنَ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ ـ

۱۰۵۰: سيدنا معاذ بن جبل رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائيل: د کوم انسان (د ژوند) آخری کلام چه (لا اله الا الله) شو، هغه جنت ته داخل شو.

دا حديث ابوداؤد او نورو محدثينو نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

تشريح: (۱۰۴۸ نه ۱۰۵۰ پورې) د محدثينو عام دستور دې چه هغوی د کتاب الصلاة په آخر کښې د کتاب الجنائز نه لاندې مرګ او مرض الموت بلکه مطلق مرض او نور مصيبتونه او ازمينښتونه او د دې حوادثو په وخت طرز عمل، بيا د مړی غسل، تجهيز او تکفين، د جنازې مونځ، دفن، تعزيت تردې چه د زيارت قبور د دې ټولو متعلق احاديث ليکی. د دې دستور په تابعدارئ کښې مصنف رحمه الله هم د بعض امورو متعلق د رسول الله ﷺ ارشادات او معمولات داسې ذکر کړې دی د دې احاديثو نه چه څه معلوم شی د هغې حاصل او خلاصه دا ده چه مرګ چونکه يقينا راتلونکې دې او د دې هيڅ وخت معلوم نه دې، په دې وجه مسلمان له پکار دی چه کله هم د هغې نه غافل نه شی هميشه دې هغه ياد ساتی او د آخرت د دې سفر تياری دې کوی ..... خصوصًا

چه کله بیمار شی نو د خپل دینی او ایمانی حالت د صحیح کولو او الله پاک څخه د خپل تعلق د صحیح کولو دې زیات فکر اوکړی، نور رونړه دې د هغه خدمت او همدردی او د هغه د غم سپکولو او ډاډګیرنې کوشش کوی. د الله پاک نوم او کلام لوستلو څخه په هغه باندې دم او د هغه د صحت او شفاء لپاره دعا اوکړی. او د هغه مخکښې دې د اجر او ثواب خبرې او د الله پاک د شان رحمت ښکلې خبرې تذکرې کوی. خصوصا چه کله محسوس شی چه مریض په ظاهر کښې ښه کیدونکې نه دې او د آخرت سفر ئې نزدې دې نو د هغه د زړه الله پاک طرف ته د متوجه کولو او د ایمان د کلمې د یادولو په مناسب طریقې څخه کوشش کول پکار دی. بیا چه کله مرګ راشی نو د هغه خپلوان دې صبر اوکړی، د طبعی او فطری غم او تکلیف باوجود د الله پاک فیصله ګڼړلو څخه د وفادار بندګانو په شان دې د هغه مخکښې سر ښکته کړی او د هغه په کرم څخه دې په غم باندې د اجر او ثواب امید ساتی او د دې دعاګانې دې اوکړی..... بیا دې مړی ته غسل ورکړې شی، هغه دې په ښه صفا کپړو کښې کفن کړې شی، او د خوشبوئۍ استعمال دې اوکړې شی. بیا دې د هغه د جنازې مونځ اوکړې شی چه په هغې کښې د الله پاک حمد او ثناء او تسبیح او تقدیس وی، د هغه د لوئې والی اعتراف او اقرار وی د الله پاک د نبی او رسول محمد ﷺ لپاره د رحمت دعا وی چه د هغه په ذریعه دې مړی ته او مونځ کونکو ته هدایت ملاؤ شو، د دې نه پس به ټول د مړ شوی رور لپاره د الله پاک نه د بخښنې او رحم او کرم دعا اوغواړی، بیا دې پوره په اعزاز او احترام څخه هغه د هغه زمکې ته حواله کړې شی او د هغې په غیږ کښې دې ورکړې شی د څه د اجزاء نه چه د هغه بدن جوړ شوې دې او لوئې شوې دې، او کوم چه ګویا یو طریقې څخه د هغې مال وو. بیا به خلق په ژبه او عملی طور د مړی خپلوانو او د کور خلقو ته غمخواری او همدردی اوکړی، او د هغوی د تسلئ او تشفی او د غم د سپکولو کوشش دې اوکړی.

په دې کښې د هرې خبرې حکمت او مصلحت بالکل ښکاره دې او دا واقعه او تجربه ده چه په مرض او مرګ او نورو مصیبتونو کښې د رسول الله ﷺ په هدایاتو باندې عمل کولو څخه قلب او روح ته ډیر سکون ملاویږی او په دې سلسله کښې د رسول الله ﷺ هر تعلیم او هدایت د زړه د زخم او خفګان دوائی جوړیږی، او مرګ د الله پاک د ملاقات د وسیلې کیدو په حیثیت څخه محبوب او مطلوب جوړیږی.

د باب اول روایت مسلم ج ۱ ص ۳۰۰، ترمذی ج ۱ ص ۱۹۲، نه منقول دې، دویم روایت ۱۰۴۹ مسلم ج ۱ ص ۳۰۰ نه او دریم روایت ۱۰۵۰ د ابوداؤد ج ۲ ص ۸۸ نه منقول دې د درې واړو مضمون او مدلول یو دې. په دې احادیثو کښې د مړو نه مراد هغه خلق دی چه په هغوی باندې د مرګ اثار ښکاره شی په دې وخت کښې دې د هغوی مخکښې لَاإِلٰهَ إِلَّا الله اوئیلې شی هم دا تلقین (کوم چه بالاتفاق

مستحب دي، مطلب دا دي چه ذهن د توحید طرف ته متوجه شی که ژبه ورڅخه خوزولې شی نو کلمه وئیلو څخه دې ایمان تازه کړی او هم په دې حال کښې دې د دنیا نه رخصت شی خو علماء کرامو تصریح کړې ده چه دې وخت کښې دې مریض ته د کلمې او نه وئیلې شی معلومه نه ده چه هغه وخت به د هغه غریب د خولې نه څه اوخیژی بس د هغه مخکښې دې کلمه اووئیلې شی.

## بَابُ تَوْجِيهِ الْمُحْتَضَرِ اِلَى الْقِبْلَةِ

(۱۰۵۱) عَنْ اَبِيْ قَتَادَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ قَدِمَ الْمَدِيْنَةَ سَئَالَ عَنِ الْبَرَآءِ ابْنِ مَعْرُوْرٍ فَقَالُوْا تُوُفِّيَ وَاَوْصٰى اَنْ يُّوَجَّهَ اِلَى الْقِبْلَةِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَصَابَ الْفِطْرَةَ ثُمَّ ذَهَبَ فَصَلّٰى عَلَيْهِ رَوَاهُ الْحَاكِمُ فِي الْمُسْتَدْرِكِ وَقَالَ حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ.

**باب: د مړ کیدونکی مخ قبلې طرف ته کول:** ۱۰۵۱: دسیدنا ابو قتادة رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ مدینې طیبې ته تشریف راوړلو نو د براء بن معرور رضی الله عنه په باره کښې ئې پوښتنه اوفرمائیله، خلقو عرض اوکړو: هغوی وفات شو او وصیت ئې اوکړو چه د هغوی مخ دې د قبلې طرف ته کړې شی، نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل: هغه فطرت (دین) بیا موندلو، بیا ئې تشریف یوړلو او په هغه ئې د جنازې مونځ اوکړو. دا حدیث حاکم په مستدرک کښې نقل کړې دې، او وائی چه دا حدیث صحیح دې.

**تشریح>** (۱۰۵۱) چه کله مرګ راشی نو بالعموم د هغې آثار ښکاره کیږی نو رسول الله ﷺ تعلیم ورکړې دې چه د هغه مخ دې په ښی طرف یعنی د قبلې طرف ته کړې شی که سرې وی که ښځه وی، امام مالک، امام شافعی او امام احمد رحمهم الله هم د دې قائل دی د حدیث الباب نه هم دا ثابتیږی کوم ته چه **(اصاب الفطرة)** وئیلې شوې دې حدیث الباب مستدرک حاکم ج۱ ص ۳۵۳ نه نقل کړې شوې دې د بعض حضراتو نه استلقاء هم منقول ده چه دا د روح د خروج لپاره ایسر ده خو سنت طریقه اول ده.

## بَابُ قِرَآءَةِ يٰسٓ عِنْدَ الْمَيِّتِ

(۱۰۵۲) عَنْ مَّعْقَلِ بْنِ يَسَارٍ رضی الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اقْرَءُوْا يٰسٓ عَلٰى مَوْتَاكُمْ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَةَ وَالنَّسَآئِيُّ وَاَعَلَّهُ ابْنُ الْقَطَّانِ وَصَحَّحَهُ ابْنُ حِبَّانَ.

**باب: مړ کیدونکی ته سورة یس لوستل:** ۱۰۵۲: سیدنا معقل بن یسار رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: خپلو مړهٔ کیدونکو څخه سورة یس لولئ. دا حدیث ابو داؤد، ابن ماجة، او نسائی نقل کړې دې، ابن القطان دې ته معلول وئیلې دې او ابن حبان ورته صحیح وئیلې دې.

**تشريح**﴿١٠٥٢﴾ د معقل بن يسار رضی الله عنه دا روايت ابوداؤد ج ٢ ص ٨٩ ابن ماجة ص ١٠٥ نه نقل کړې شوې دې الله پاک ښه پوهيږی چه د دې حکم خاص حکمت او مصلحت څه دې خو دومره خبره ښکاره ده چه دا سورة د دين او ايمان متعلق په ډير اهم مضامين باندې مشتمل دې او د مرګ نه پس چه څه کيدونکی دی د هغې پکښې ډير موثر او تفصيلی بيان دې.

## بَابُ تَغْمِيْضِ الْمَيِّتِ

(١٠٥٣) عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ دَخَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى أَبِيْ سَلَمَةَ وَقَدْ شَقَّ بَصَرُهُ فَأَغْمَضَهُ ثُمَّ قَالَ إِنَّ الرُّوْحَ إِذَا قُبِضَ تَبِعَهُ الْبَصَرُ فَضَجَّ نَاسٌ مِّنْ أَهْلِهِ فَقَالَ لَا تَدْعُوْا عَلٰى أَنْفُسِكُمْ إِلَّا بِخَيْرٍ فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ يُؤَمِّنُوْنَ عَلٰى مَا تَقُوْلُوْنَ ثُمَّ قَالَ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِأَبِيْ سَلَمَةَ وَارْفَعْ دَرَجَتَهُ فِي الْمَهْدِيِّيْنَ وَاخْلُفْهُ فِيْ عَقِبِهِ فِي الْغَابِرِيْنَ وَاغْفِرْ لَنَا وَلَهُ يَا رَبَّ الْعَالَمِيْنَ وَافْسَحْ لَهُ فِيْ قَبْرِهِ وَنَوِّرْ لَهُ فِيْ قَبْرِهِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

### باب: د مړی سترګې بندول:

**١٠٥٣**: ام المومنين ام سلمه رضی الله عنها فرمائی: رسول الله ﷺ ابوسلمه رضی الله عنه ته تشريف يوړلو د هغوی سترګې غړيدلې پاتې شوې وې، نو رسول الله ﷺ ورله سترګې بندې کړې، بيا ئې اوفرمائيل: چه کله روح قبض کولې شی نو سترګې په هغې پسې ځی، د هغه د کور په خلقو کښې څه خلقو چغې سورې جوړې کړې نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل: د خپل ځان په باره کښې ښه دعا کوئ، بيشکه ملائک چه تاسو څه وايئ په هغې باندې امين وائی، بيا رسول الله ﷺ دا دعا اوفرمائيله:

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِأَبِيْ سَلَمَةَ وَارْفَعْ دَرَجَتَهُ فِي الْمَهْدِيِّيْنَ وَاخْلُفْهُ فِيْ عَقِبِهِ فِي الْغَابِرِيْنَ وَاغْفِرْ لَنَا وَلَهُ يَا رَبَّ الْعَالَمِيْنَ وَافْسَحْ لَهُ فِيْ قَبْرِهِ وَنَوِّرْ لَهُ فِيْ قَبْرِهِ.

﴿اې الله! ابوسلمه رضی الله عنه ته بخښنه اوکړه او هغه درجه په مهديين کښې اوچته کړه او ته د هغوی په وارثانو کښې د هغه نائب جوړ شه، اې د ټولو مخلوقاتو ربه! زمونږ او د هغه مغفرت اوکړه، د هغوی قبر فراخه کړه او د هغه په قبر کښې رڼا اوکړه.دا حديث مسلم نقل کړې دې.

﴿١٠٥٣﴾:: د دې باب دا روايت مسلم ج ١ ص ٣٠٠ کښې نقل کړې دې د تحت اللفظ ترجمې نه د حديث مضمون واضح دې.

## بَابُ تَسْجِيَةِ الْمَيِّتِ

(۱۰۵۴) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ تُوُفِّيَ سُجِّيَ بِبُرْدٍ حِبَرَةٍ۔ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ۔

باب: مړي په يو کپړه باندې پټول: ۱۰۵۴: ام المومنين سيده عائشه رضي الله عنها فرمائي چه کله رسول الله ﷺ وفات شو نو په يو يمني څادر باندې پټ کړې شو. دا حديث شيخينو نقل کړې دې.

(۱۰۵۴):: روايت الباب د بخاري ج ۱ ص ۱۶۶ او مسلم ج ۱ ص ۳۰۶ نه نقل کړې شوې دې.

## بَابُ غُسْلِ الْمَيِّتِ

(۱۰۵۵) عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ الْأَنْصَارِيَّةِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ دَخَلَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ تُوُفِّيَتْ اِبْنَتُهُ فَقَالَ۔ اَغْسِلْنَهَا ثَلَاثًا اَوْ خَمْسًا اَوْ أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ إِنْ رَاَيْتُنَّ بِمَآءٍ وَّسِدْرٍ وَّاجْعَلْنَ فِي الْآخِرَةِ كَافُوْرًا اَوْ شَيْئًا مِّنْ كَافُوْرٍ فَإِذَا فَرَغْتُنَّ فَاٰذِنَّنِيْ فَلَمَّا فَرَغْنَا اٰذَنَّاهُ فَاَعْطَانَا حَقْوَهٗ فَقَالَ اَشْعِرْنَهَا اِيَّاهُ تَعْنِيْ اِزَارَهٗ رَوَاهُ الْجَمَاعَةُ وَفِيْ رِوَايَةٍ لَّهُمْ اِبْدَاْنَ بِمَيَامِنِهَا وَمَوَاضِعِ الْوُضُوْءِ مِنْهَا۔

باب: مړی ته غسل ورکول: ۱۰۵۵: ام عطيه انصاريه رضي الله عنها فرمائي: چه کله د رسول الله ﷺ لور وفات شوه، نو مونږ ته ئې تشريف راوړلو او وې فرمائيل: دې ته درې يا پنځه او که تاسو مناسب ګڼئ نو د دې نه په زياتو اوبو او بيرې (هغه اوبه چه پکښې د بيرې پاڼې پخ کړې شوې وی) غسل ورکړئ او آخری کرت پرې کافور اولګوئ يا ئې اوفرمائيل د کافورو نه لږ شان، بيا چه کله تاسو فارغ شئ نو ماته خبر راکړئ، پس چه کله مونږ فارغ شو نو مونږ هغوی ته خبر ورکړو، نو رسول الله ﷺ مونږ ته خپل څادر مبارک راکړو او وې فرمائيل: د دې څادر نه د هغې شعار (يعنی بدن څخه لګيدونکې کپړه) جوړه کړئ، يعنی د دې نه ازار جوړ کړئ.

دا حديث د محدثينو جماعت نقل کړې دې او د هغوی په يو روايت کښې دی (د غسل ورکولو په وخت) د هغې د ښی طرف او د اودس د اندامونو نه شروع اوکړئ.

تخريج (۱۰۵۵) د باب دا روايت بخاری ج ۱ ص ۱۶۷، ترمذی ج ۱ ص ۱۹۳ نه منقول دې، علامه ابن رشد په بداية المجتهد کښې ليکلي دی چه د مړی غسل د بعض علماء کرامو په نزد فرض کفاية دې او د بعضو په نزد سنت کفاية دې، امام نووی رحمه الله د دې په فرض کفاية کيدو باندې اجماع نقل کړې دې خو حافظ ابن حجر دې ته د هغوی سخته خطائی وائی، علامه قرطبی رحمه الله د دې سنت کيدلو ته راجح وئيلې دی، په اوجز المسالک کښې مولف رحمه الله د ائمة ثلاثه د فروع نه ثابت کړې دی چه د دې فرض کفاية کيدل مصرّح دی.

د دې حديث د صحيح مسلم د يو روايت نه معلوميږي چه کومې لور ته د غسل ورکولو په دې حديث کښې ذکر دې هغه د رسول الله ﷺ مشره لور سيده زينب ﷺ وه، کومه چه د ابوالعاص بن الربيع ﷺ په نکاح کښې وه، د هغوی وفات د ۸ هجری په ړومبو ورځو کښې اوشو، او ام عطيه انصاريه ﷺ کومه چه د دې حديث روايت کونکې ده او کومه چه په دې موقع باندې د غسل ورکونکو نه وه په ممتاز صحابياتو کښې ده، په دې قسم خدمتونو کښې به مخکښې مخکښې وه، خاص کر مړې شوې زنانه ته غسل ورکول هغې ته ښه ورتلل، د ابن سيرين تابعی په شان د جليل القدر امام بيان دې چه ما د مړی غسل هم د هغې نه زده کړې دې.

په دې حديث کښې د بيرې د پاڼړو څخه پخ کړې شوو اوبو باندې د غسل ورکولو ذکر دې، داسې اوبه د بدن نه خيرې وغيره ښه صفا کوی، زمونږ په زمانه کښې د لامبلو لپاره چه څنګه قسم قسم صابون استعماليږی په هغه زمانه کښې به د دې مقصد لپاره د بيرې پاڼړو څخه جوش وهلې اوبه استعماليدلې، مقصد صرف دا دې چه د مړی د بدن نه د هر قسم خيرو د صفايئ پوره اهتمام اوکړې شی. هم په دې وجه ئې حکم اوفرمائيلو چه غسل دې کم از کم درې کرته ورکړې شی او که د دې نه زيات مناسب اوګنړلې شی نو چونکه طاق عدد الله پاک ته محبوب دې په دې وجه د هغې لحاظ دې هم بهر حال اوساتلې شی يعنی درې کرته يا پنځه کرته اوکه ضرورت وی نو د دې نه زيات دې اووهٔ کرته غسل ورکړې شی او اخری کرت دې کافور په اوبو کښې ملاؤ کړې شی کوم چه ډير بوئی والا او ډيروَخته پورې پاتې کيدونکې خوشبوئی ده.دا ټول د مړی اعزاز او اکرام دې.

رسول الله ﷺ په دې موقع باندې چه د خپلې لور لپاره په کوم اهتمام څخه خپل تهبند مباک ورکړو (او په بعض رواياتو کښې تصريح ده چه کله هغوی ته د غسل مکمل کيدو اطلاع ورکړې شوه هغه وخت رسول الله ﷺ د خپل بدن مبارک نه جدا کولو څخه هغه تهبند ورکړو) او تاکيد ئې اوفرمائيلو چه د دې نه شعار(يعنی د ټولو نه دننه لباس) جوړ کړئ، د دې نه علماء کرامو دا فهم کړې ده چه د الله پاک د نيکو او مقبول بندګانو لباس وغيره د تبرک لپاره په دې طريقه استعمال صحيح دې. او د هغې نه د نفع اميد دې، خو په دې څيزونو کښې غلو او د هغې په ډاډ باندې د اعمالو نه غافل کيدل يقيناً ګمراهی ده. د دې روايت نه دا نه معلوميږی چه زينب ﷺ په څومره کپړو کښې کفن کړې شوه، خو حافظ ابن حجر ﷫ په فتح الباری کښې د جوزقی په تخريج څخه د ام عطيه ﷺ د دې حديث په سلسله کښې دا اضافه هم نقل کړې ده چه هغوی اوفرمائيل:

فَكَفَّنَّاهَا فِي خَمْسَةِ أَثْوَابٍ وَخَمَّرْنَاهَا كَمَا يُخَمَّرُ الْحَيُّ. (مونږ هغه په پنځه کپړو کښې کفن کړو، او خمار (لوپټه) مو ورته هم ورکړه څنګه چه ژوندو ته ورکولې شی)

په دې وجه باندې د زنانو لپاره په کفن کښې پنځه کپړې مسنون کړې شوې دی.

## بَابُ غُسْلِ الرَّجُلِ امْرَاءَتَهُ

(۱۰۵۶) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ رَجَعَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْبَقِيْعِ فَوَجَدَنِيْ وَاَنَا اَجِدُ صُدَاعًا فِيْ رَأْسِيْ وَاَنَا اَقُوْلُ وَارَاءْسَاهُ فَقَالَ بَلْ اَنَا يَا عَآئِشَةُ وَارَاءْسَاهُ ثُمَّ قَالَ مَا ضَرَّكِ لَوْ مِتِّ قَبْلِيْ فَقُمْتُ عَلَيْكِ فَغَسَلْتُكِ وَكَفَّنْتُكِ وَصَلَّيْتُ عَلَيْكِ وَدَفَنْتُكِ ـ رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ وَاٰخَرُوْنَ قَالَ النِّيْمَوِيُّ قَوْلُهُ فَغَسَلْتُكِ غَيْرُ مَحْفُوْظٍ ـ

**باب: د سرى لپاره خپلې ښځې ته غسل ورکول:** ۱۰۵۶: ام المومنين سيده عائشه رضي الله عنها فرمائى رسول الله ﷺ د جنت البقيع نه واپس تشريف راوړلو، نو زه ئې په داسې حال کښې اوموندلم چه په سر کښې مې درد محسوس کولو او ما وئيل: هائې زما سر ...! نو وې فرمائيل: بلکه زه اې عائشې! هائې زما سر ...! رسول الله ﷺ بيا اوفرمائيل: تا ته څه نقصان دې که ته زما نه مخکښې وفات شوې نو زه به په تا باندې ولاړ يم، تاته به غسل درکوم، تاته به کفن درکوم، او په تاباندې به د جنازې مونځ کوم او تا به دفن کوم. دا حديث ابن ماجة او نورو محدثينو نقل کړې دې، نيموى وائى: زه به تاته غسل درکوم (دا الفاظ) محفوظ نه دى.

(۱۰۵۷) وَعَنْ اَسْمَآءَ بِنْتِ عُمَيْسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ لَمَّا مَاتَتْ فَاطِمَةُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا غَسَلْتُهَا وَعَلِيُّ بْنُ اَبِيْ طَالِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي الْمَعْرِفَةِ وَاِسْنَادُهُ حَسَنٌ ـ

**۱۰۵۷**: د اسماء بنت عميس رضي الله عنها نه روايت دې: چه کله فاطمه رضي الله عنها وفات شوه نو ما او سيدنا على بن ابى طالب رضي الله عنه هغې ته غسل ورکړو. دا حديث بيهقى په معرفت کښې نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

**تشريح>** (۱۰۵۶ نه ۱۰۵۷ پورې) د باب اول روايت **عن عائشة ابن ماجة** ۱۰۷، دويم روايت ۱۰۵۷ سنن الکبرى ج ۳ ص ۳۹۷ نه منقول دې.

## بَابُ غُسْلِ الْمَرْاءَةِ لِزَوْجِهَا

(۱۰۵۸) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ اَبِيْ بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ اَسْمَآءَ بِنْتَ عُمَيْسٍ امْرَاءَةَ اَبِيْ بَكْرِنِ الصِّدِّيْقِ غَسَلَتْ اَبَا بَكْرِنِ الصِّدِّيْقِ حِيْنَ تُوُفِّيَ ثُمَّ خَرَجَتْ فَسَاءَلَتْ مَنْ حَضَرَهَا مِنَ الْمُهَاجِرِيْنَ فَقَالَتْ اِنِّيْ صَآئِمَةٌ وَاِنَّ هٰذَا يَوْمٌ شَدِيْدُ الْبَرْدِ فَهَلْ عَلَيَّ مِنْ غُسْلٍ فَقَالُوْا لَا ـ رَوَاهُ مَالِكٌ وَاِسْنَادُهُ مُرْسَلٌ قَوِيٌّ ـ

**باب: د زنا نه خپل خاوند ته غسل ورکول:** ۱۰۵۸: د عبد الله بن ابى بکر صديق رضي الله عنهما نه روايت دې چه اسماء بنت عميس رضي الله عنها چه د ابوبکر صديق رضي الله عنه بى بى ده چه کله ابوبکرصديق رضي الله عنه وفات شو نو

هغې ورته غسل ورکړو، بيا اوتله او هلته چه کوم مهاجرين صحابه کرام رضي الله عنهم موجود وو د هغوی نه ئې پوښتنه اوکړه او وې وئيل: زما روژه ده او دا ورځ ډيره يخه ده ايا په ما باندې د غسل ورکولو د وجې نه غسل شته؟ نو صحابه کرامو رضي الله عنهم اوفرمائيل: نه !!!!

دا حديث مالک نقل کړې دې او د دې اسناد مرسل قوی دې.

**تشريح>** (۱۰۵۸): د عبدالله بن ابی بکر رضي الله عنهما دا روايت په موطا امام مالک ص ۲۰۴ کښې نقل کړې شوې دې د بعض صحابه کرامو او تابعينو دا مسلک دې چه د مړی په غسل ورکونکی باندې غسل دې خو د صدر اول نه پس په دې باندې اجماع شوه چه د مړی په غسل ورکولو څخه غسل نه لازميږی چه د هغې دليل حديث الباب دې د دې نه علاوه د ابن عباس رضي الله عنهما او ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې **قالا ليس على غاسل الميت غسل**...... (مصنف ابن ابی شيبة ج ۳ ص ۲۶۸)

# بَابُ التَّكْفِيْنِ فِي الثِّيَابِ الْبِيْضِ

**(۱۰۵۹) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَلْبِسُوْا مِنْ ثِيَابِكُمُ الْبَيَاضَ فَاِنَّهَا مِنْ خَيْرِ ثِيَابِكُمْ وَكَفِّنُوْا فِيْهَا مَوْتَاكُمْ. رَوَاهُ الْخَمْسَةُ اِلَّا النَّسَآئِيَّ وَصَحَّحَهُ التِّرْمَذِيُّ وَاٰخَرُوْنَ.**

**باب: په سپينو کپړو کښې کفن ورکول: ۱۰۵۹**: د سيدنا عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: په خپلو کپړو کښې سپينې کپړې اچوئ، بيشکه دا ستاسو لپاره غوره کپړې دی او په دې کښې خپلو مړو ته کفن ورکوئ. دا حديث د نسائی نه علاوه اصحاب خمسه نقل کړې دې، ترمذی او نورو محدثينو ورته صحيح وئيلې دې.

**(۱۰۶۰) وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلْبِسُوْا الثِّيَابَ الْبَيَاضَ فَاِنَّهَا اَطْهَرُ وَاَطْيَبُ وَكَفِّنُوْا فِيْهَا مَوْتَاكُمْ رَوَاهُ اَحْمَدُ وَالنَّسَآئِيُّ وَالتِّرْمَذِيُّ وَالْحَاكِمُ وَصَحَّحَاهُ.**

۱۰۶۰: سيدنا سمرة بن جندب رضي الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائيل: سپينې کپړې اغوندئ، بيشکه هغه زياتې پاکيزه او ښه دی او په هغې کښې خپلو مړو ته کفن ورکوئ.

دا حديث احمد، نسائی، ترمذی او حاکم نقل کړې دې، ترمذی او حاکم دې ته صحيح وئيلې دې.

**تشريح>** (۱۰۵۹ نه ۱۰۶۰ پورې) مړی ته کفن ورکول د مسلمانانو په ذمه فرض کفايه دې تردې چه دا په قرض ارث او وصيت باندې هم مقدم دې د دې باب په رواياتو کښې د سپين کفن ذکر راغلې دې خپله رسول الله ﷺ ته هم سپين کفن ورکړې شوې وو د دې باب اول روايت دې په ترمذی ج ۱ ص ۱۹۳ او دويم روايت د مسند احمد ج ۱ ص ۲۴۰ نه اخستلې شوې دې.

## بَابُ التَّحْسِيْنِ فِي الْكَفْنِ

(١٠٦١) عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا كَفَّنَ اَحَدُكُمْ اَخَاهُ فَلْيُحْسِنْ كَفْنَهُ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

**باب: ښه کفن ورکول:** ١٠٦١: سيدنا جابر ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ اوفرمائيل: په تاسو کښې چه کله څوک خپل رور ته کفن ورکوی نو هغه له پکار دی چه ښه کفن ورکړی. دا حديث مسلم نقل کړې دې.

(١٠٦٢) وَعَنْ اَبِيْ قَتَادَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا وُلِّيَ اَحَدُكُمْ اَخَاهُ فَلْيُحْسِنْ كَفْنَهُ رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ وَالتِّرْمَذِيُّ وَحَسَّنَهُ۔

١٠٦٢: سيدنا ابو قتاده ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ اوفرمائيل: چه په تاسو کښې څوک د خپل رور ولی جوړ شی، نو هغه له پکار دی چه ښه کفن ورته واغوندَوی. دا حديث ابن ماجة او ترمذی نقل کړې دې، ترمذی دې ته حسن وئيلې دې.

**تشريح>**(١٠٦١ نه ١٠٦٢ پورې) اول روايت مسلم ج ١ ص ٣٠٦ اؤ دويم روايت ترمذی ج ١ ص ١٩٤ نه منقول دې دښه کفن نه مراد دادې چه کپړه پوره وی بغيرد څه اسراف نه لطيف او پاکه وی او سپينه وی اګر که وينځلې شوې وی يا نوې وی د دنيادارو په شان دې د شهرت او تکبر په غرض نه وی.

## بَابُ تَكْفِيْنِ الرَّجُلِ فِيْ ثَلَاثَةِ اَثْوَابٍ

(١٠٦٣) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ كُفِّنَ فِيْ ثَلَاثَةِ اَثْوَابٍ بِيْضٍ سُحُوْلِيَةٍ لَيْسَ فِيْهَا قَمِيْصٌ وَّلَا عِمَامَةٌ۔ رَوَاهُ الْجَمَاعَةُ۔

**باب: سړی ته په درې کپړو کښې کفن ورکول:** ١٠٦٣: د ام المومنين سيده عائشه ﷺ نه روايت دې چه رسول الله ﷺ ته په درې سپينو کپړو کښې چه د وړئ وې کفن ورکړې شو، په هغې کښې قميص او پټکې نه وو. دا حديث د محدثينو جماعت نقل کړې دې.

(١٠٦٤) وَعَنْ اَبِيْ سَلَمَةَ اَنَّهُ قَالَ سَاءَلْتُ عَآئِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ لَهَا فِيْ كَمْ كُفِّنَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ فِيْ ثَلَاثَةِ اَثْوَابٍ سُحُوْلِيَةٍ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

١٠٦٤: ابو سلمه ﷺ فرمائي: ما د رسول الله ﷺ زوجه مطهره ام المومنين سيده عائشه صديقه ﷺ نه پوښتنه اوکړه، ما هغې ته اووې: رسول الله ﷺ ته په څومره کپړو کښې کفن ورکړې شو، نو هغې اوفرمائيل: په درې کپړو کښې چه د وړئ وې. دا حديث مسلم نقل کړې دې.

(١٠٦٥) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ لَمَّا ثَقُلَ اَبُوْبَكْرٍ قَالَ اَىُّ يَوْمٍ هٰذَا قُلْنَا يَوْمُ الْاِثْنَيْنِ قَالَ فَاَىُّ يَوْمٍ قُبِضَ فِيْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْنَا قُبِضَ يَوْمَ الْاِثْنَيْنِ قَالَ فَاِنِّىْ اَرْجُوْمَا بَيْنِىْ وَبَيْنَ اللَّيْلِ قَالَتْ وَكَانَ عَلَيْهِ ثَوَابٌ فِيْهِ رَدْعٌ مِّنْ مَّشْقٍ فَقَالَ اِذَا اَنَا مِتُّ فَاغْسِلُوْا ثَوْبِىْ هٰذَا وَضَمُّوْا اِلَيْهِ ثَوْبَيْنِ جَدِيْدَيْنِ فَكَفِّنُوْنِىْ فِىْ ثَلَاثَةِ اَثْوَابٍ فَقُلْنَا اَفَلَا نَجْعَلُهَا جُدَادًا كُلَّهَا قَالَتْ فَقَالَ لَا اِنَّمَا هُوَ لِلْمُهْلَةِ قَالَتْ فَمَاتَ لَيْلَةَ الثُّلَاثَاءِ رَوَاهُ اَحْمَدُ وَالْبُخَارِىُّ وَقَالَ رَدْعٌ مِّنْ زَعْفَرَانٍ۔

۱۰۷۵. ام المومنين سيده عائشه رضي الله عنها فرمائي: چه كله ابوبكرصديق رضي الله عنه بيمار شو نو هغوى اوفرمائيل: نن د څه ورځ ده، مونږ اووې: د ګل ورځ، هغوى اوفرمائيل: رسول الله ﷺ د څه په ورځ وفات شوې وو؟ مونږ عرض اوکړو د ګل په ورځ باندې هغوى وفات شوې وو، هغوى اوفرمائيل: زه هم د دې وخت نه د شپې پورې اميد لرم (چه هغوى څخه به ملاؤ شم) په صديق اكبر رضي الله عنه باندې يو كپړه وه چه په هغې كښې داغ (ملتانى سور رنګ خاوره) نخښه وه، نو هغوى اووې: چه كله زه فوت شم، نو زما دا كپړې وينځه او هغې څخه دوه نوې كپړې يوځائې كولو څخه ما كفن كړئ، مونږ عرض اوكړو: ايا مونږ ټولې كپړې نوې نه كړو، ام المومنين اووئيل چه ابوبكرصديق رضي الله عنه اوفرمائيل: نه! بيشكه دا خو د خيرې (اوګندګئ) لپاره دى، ام المومنين رضي الله عنها اوفرمائيل: سيدنا صديق اكبر رضي الله عنه د نهې په شپه (د نهې او ګل ترمينځه شپه) كښې وفات شو. دا حديث احمد او بخارى نقل كړې دې، د بخارى په روايت كښې دى چه د زعفران نخښه وه.

**تشريح**> (۱۰۷۳ نه ۱۰۷۵ پورې) د باب اول روايت بخارى ج ۱ ص ۱۶۹، مسلم ج ۱ ص ۳۰۵ دويم روايت ۱۰۷۴ مسلم ج ۱ ص ۳۰۶ او دريم روايت عن عائشة مسند احمد ج ۶ ص ۴۵ نه نقل كړې شوې دې.

په اول روايت كښې **(كفن فى ثلاثة اثواب)** راغلې دې خو طبقات د ابن سعد (ج ۲ ص ۲۸۷) كښې د اووۀ كپړو ذكر دې كوم چه په ظاهر كښې تعارض دې علماء كرام د دې په ځواب كښې وائى چه:
۱: طبقات د ابن سعد والا روايت ضعيف دې، ۲: او كه د هغې صحت تسليم هم كړې شى نو هغه په دې باندې محمول دې چه مختلف حضراتو د رسول الله ﷺ د تكفين لپاره مختلفې كپړې پيش كړې خو صحابه كرام رضي الله عنهم په هغې كښې د درې كپړو انتخاب اوفرمائيلو او باقى ئې واپس كړې.

د ضرورت په وخت د يوې كپړې كفن هم كافى كيږى په احاديثو كښې د مسنون كفن بيان دې د جمهورو په نزد د سړى لپاره درې كپړې مسنون دى. (عمدة القارى ج ص ۵۰) خو امام مالك رحمه الله د سړى په حق كښې د پنځو پورې او د زنانه په حق كښې د اووۀ پورې د استحباب قائل دې (الشرح الكبير للدردير مع حاشية للدسوقى ج ۱ ص ۴۱۷) پس د سړى كفن د هغوى په نزد په درې

لفافو او یو قمیص او یو پټکی باندې مشتمل دې. او دویم قول دا دې چه په دوه لفافو، یو لنګ او قمیص او پټکی باندې به مشتمل وی. (بلوغ الامانی فی اسرار الفتح الربانی ج ۷ ص ۱۷۷) د احادیث الباب نه د جمهورو مسلک ثابت دې.

**د دریو کپړو د تعیین باره کښې اختلاف:** د جمهورو په نزد د مسنون کفن لپاره د دریو عدد خو متعیّن دې البته د دې دریو کپړو د تعیین باره کښې اختلاف دې.

: امام شافعی رحمه الله په نزد هغه درې کپړې درې لفافې دی، د امام احمد رحمه الله هم دا مسلک دې (المغنی ج۲ ص ٤٦٤) او د احنافو په نزد هغه درې کپړې دادی، لفافه، ازار او قمیص. (بدائع ج۱ ص ۳۰۶)

د شوافعو استدلال د عائشې رضی الله عنها د حدیث الباب نه دې چه په هغې کښې د قمیص صراحةً نفی کړې شوې ده. او د هغوی استدلال سنن ابن ماجة ص ۱۰۶ کښې د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما د حدیث نه هم دې، ﴿كفن رسول الله ﷺ فى ثلاث رياط بيض سحولية﴾ په دې کښې رياط د "ريطة" جمع ده چه د هغې معنی ده یو اړخ والا لوئې څادر.

**دلائل الاحناف:** د احنافو استدلال په سنن ابوداؤد ج ۲ ص ٤٤٩ کښې د ابن عباس رضی الله عنهما د روایت نه دې **قال كفن رسول الله ﷺ فى ثلاثة اثواب نجرانية، الحلة ثوبان وقميصه الذى مات فيه.**

زمونږ یو استدلال په الکامل لابن عدی کښې د جابر بن سمرة رضی الله عنه د روایت نه دې : **قال كفن النبى ﷺ فى ثلاثة اثواب : قميص وازار ولفافة.** (الکامل ج ۷ ص ۵۱۱)

دا دواړه روایتونه اګر چه د دې په سند باندې کلام کړې شوې دې بیا هم د سنن ابی داؤد روایت د حسن درجې نه کم نه دې، ځکه چه د دې روایت د یزید بن ابی زیاد د وجې نه تضعیف کړې شوې دې، خو د یزید بن ابی زیاد روایات امام مسلم رحمه الله متابعةً ذکر کوی (صحیح مسلم ج ۱ ص ٤) او امام ابوداؤد رحمه الله د هغه په روایت باندې سکوت کړې دې او شعبه او بعض نورو حضراتو هغه ته ثقة وئیلې دې او امام ترمذی رحمه الله د هغه د روایت تحسین کړې دې. (ج ۱ ص ۱۳٤)

یو بل استدلال په موطاء امام مالک کښې د عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما د اثر نه دې هغوی فرمائی : **الميت يقمص ويوزر ويلف بالثوب الثالث فان لم يكن الا ثوب واحد كفن فيه.** (موطاء ص ۳۰۶)

او یو استدلال د امام محمد رحمه الله په کتاب الاثار ص ٤٦ کښې د **ابوحنيفة عن حماد** په طریق څخه د ابراهیم نخعی یو مرسل روایت دې : **ان النبى ﷺ كفن فى حلة يمانية وقميص.** دا مرسل صحیح دې.

او یو استدلال په صحیح بخاری ج ۱ ص ۱۶۹ کښې د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما د حدیث نه دې :

ان عبد الله بنأبی لما توفی جاء ابنه النبی صلی الله علیه وسلم فقال : اعطنی قمیصك اکفنه فیه وصل علیه واستغفرله،فأعطاه قمیصه۔

او زمونږ یو استدلال په مستدرک کښې د عبد الله بن مغفل رضی الله عنه د روایت نه هم دې هغوی فرمائی :

''اذا انا مت فاجعلوا فی آخر غسلی کافور اوکفنونی فی بردین وقمیص فان النبی صلی الله علیه وسلم فعل به ذلك''(اعلاءالسنن ج:۸،ص:۱۹۷)

په تلخیص المستدرک کښې حافظ ذهبی رحمه الله په دې باندې سکوت کړې دې لهذا دا کم از کم حسن ضرور دې.

هر چه د عائشې رضی الله عنها د حدیث الباب تعلق دې په دې کښې د مړی د قمیص نه بلکه د قمیص معتاد انکار مقصود دې کوم چه د ژوندو څخه مخصوص دې، قمیص میت د قمیص احیاء نه بالکل مختلف وی په هغې کښې نه لستونړې وی او نه ګنډلې شوې وی بلکه هغه د سټ نه تر څپو پورې هغه کپړه ده چه د هغې یو اړخ د مړی په شا باندې وی او دویم اړخ ئې د مړی مخې ته. او په مینځ کښې هغه د ګریوان برابر څیرلې شی چه په سټ کښې واچولې شی، د احنافو په مسلک باندې په ټولو روایاتو کښې تطبیق راځی.

په اکثر کتب حنفیه کښې بیان شوې دی چه د مړی په قمیص کښې نه ګریوان وی او نه لستونړی (فتح القدیر ج ۲ ص ۷۹) حضرت ګنګوهی د دې وجه دا بیان کړې ده چه په قمیص کښې د لستونړی وغیره ضرورت ژوندی ته وی چه هغه ته په تلو راتلو، کوزیدلو ختلو او نورو حرکاتو سکناتو کښې څه تکلیف نه وی او مړی ته دا قسم هیڅ حاجت نه وی بلکه مړی ته د لستونړی والا قمیص اغوستل یو ګران کار دې، په دې وجه د لستونړی، ګریوان او ګنډلو وغیره تکلفاتو ته د مړی په قمیص کښې هیڅ حاجت نشته.

خو په دې باندې د عبدالله بن ابی د قصې نه اشکال کیدې شی چه په دې کښې رسول الله ﷺ د کفن لپاره خپل قمیص ورکړو کوم به چه ضرور په لستونړو باندې مشتمل وی.

حضرت ګنګوهی رحمه الله د دې ځواب ورکولو څخه وائی چه بحث د مړی لپاره د قمیص تیارولو په باره کښې دې پس هغه قمیص به د لستونړو وغیره د تکلفاتو نه بغیر جوړولې شی کما بینا .... خو که قمیص د مخکښې نه تیار شوې وی او د برکت وغیره لپاره د هغې د اغوستلو حاجت وی و د هغې ګنډ ختمولو څخه د لستونړو وغیره د ختمولو حاجت نشته کما فی قصة عبدالله بن ابی(الکوکب الدری ج ۲ ص ۱۷٤)

خو علامه ظفر احمد عثمانی په (اعلاء السنن ج ۱ ص ۱۹۸) کښې د حکیم الامت تهانوی رحمه الله نه نقل کوی چه حضرت ګنګوهی رحمه الله فتوی ورکړې وه چه د ژوندی او د مړی په قمیص کښې به فرق وی، د دې نه معلومیږی چه حضرت ګنګوهی د خپل قول نه رجوع کړې وه چه د مړی او د ژوندی په قمیص کښې به فرق وی.

په سنن ابی داؤد ج ۱ ص ۴۴۹ کښې د ابن عباس رضی الله عنهما روایت ''کفن رسول الله صلی الله علیه وسلم وقمیصه الذی مات فیه'' نه هم د دې قول تائید کیږی چه د مړی او د ژوندې په قمیص کښې هیڅ فرق نشته.

د ابوبکرصدیق رضی الله عنه د روایت نه هم د دې تائید کیږی چه کله د هغوی د وفات وخت رانزدې شو نو هغوی اوفرمائیل : اُنْظُرُوا ثَوْبَيَّ هٰذَيْنِ، فَاغْسِلُوهُمَا، ثُمَّ كَفِّنُونِي فِيهِمَا، فَإِنَّ الْحَيَّ أَحْوَجُ إِلَى الْجَدِيدِ مِنْهُمَا _(نصب الرایة ج۲ص۲۶۲)

احقر عرض کوی چه د احنافو مسلک خو هم دا دې چه د مړی په قمیص کښې دې نه ګریوان وی، نه لستونړی (فتح القدیر ج ۲ ص ۷۹) خو د روایاتو د مجموعې نه دا راجح معلومیږی چه د ژوندو قمیص هم جائز دې، د ابوبکرصدیق رضی الله عنه روایت به هم په دې باندې محمول کولې شی. هر چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د کفن کولو تعلق دې په هغې کښې هم راجح هم دا ښکاری چه په کوم قمیص کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات اوشو هغه قمیص په کفن کښې شاملولو څخه برقرار اوساتلې شو. فلعله اثره لقرب عهده بالنبی صلی الله علیه وسلم وهو حی.

## بَابُ تَكْفِينِ الْمَرْاَةِ فِي خَمْسَةِ اَثْوَابٍ

(۱۰۶۶) عَنْ لَيْلَى بِنْتِ قَانِفٍ الثَّقَفِيَّةِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ كُنْتُ فِيمَنْ غَسَّلَ أُمَّ كُلْثُومٍ ابْنَةَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ وَفَاتِهَا فَكَانَ اَوَّلَ مَا اَعْطَانِي رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحِقَاءَ ثُمَّ الدِّرْعَ ثُمَّ الْخِمَارَ ثُمَّ الْمِلْحَفَةَ ثُمَّ أُدْرِجَتْ بَعْدُ فِي الثَّوْبِ الْآخِرِ قَالَتْ وَرَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ عِنْدَ الْبَابِ مَعَهُ كَفَنُهَا يُنَاوِلُنَاهَا ثَوْبًا ثَوْبًا رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَفِي اِسْنَادِهِ مَقَالٌ۔

**باب: زنانه ته په پنځو کپړو کښې کفن ورکول:** ۱۰۶۶ : د لیلی بنت قانف الثقفیه رضی الله عنها نه روایت دې چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د لور ام کلثوم رضی الله عنها د وفات په وخت چه کومو زنانو هغې ته غسل ورکړو په هغې کښې زه هم اوم، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اول مونږ ته ازارو بیا درع بیا لوپټه او بیا څادر راکړو، بیا هغه په یو بله کپړه کښې اونغښتلې شوه، لیلی بنت قانف رضی الله عنها فرمائی : رسول الله صلی الله علیه وسلم په دروازه باندې تشریف فرما وو، رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د ام کلثوم کفن وو، هغوی مونږ ته د کفن یو یو کپړه (بیله بیله) راکوله. دا حدیث ابوداؤد نقل کړې دې او د دې په سند کښې کلام دې.

**تشریح**›(۱۰۶۶) د دي باب روایت ابوداؤد ج ۲ ص ۹۴ کښې نقل کړې دې د زنانه لپاره مسنون کفن پنځه کپړې دی ۱: قمیص، ۲: لنګ، ۳: ازار، ۴: لوپټه، ۵: لفافه او یوه پټئ کومه چه دهغې په سینو باندې تړلې کیږی لکه چه د دې باب د روایت نه ثابته ده د زنانه د دې کفن وجه دا ده چه هغه د ژوند په حالت کښې د خپل مور پلار وغیره د ملاقات لپاره هم پنځهٔ کپړې اغوستلو څخه وتله، لهذا د مرګ نه پس به هم ورته هم دا پنځه کپړې ورکولې شی که په درې کپړو ازار، لفافة او لوپټه باندې ئې اکتفاء اوکړه نو جائز ده او دا کفن کفایت دې.

## بَابُ مَا جَآءَ فِي الصَّلٰوةِ عَلَى الْمَيِّتِ

(۱۰۶۷) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ شَهِدَ الْجَنَازَةَ حَتّٰى يُصَلِّيَ فَلَهٗ قِيْرَاطٌ وَّمَنْ شَهِدَ حَتّٰى تُدْفَنَ كَانَ لَهٗ قِيْرَاطَانِ قِيْلَ وَمَا الْقِيْرَاطَانِ قَالَ مِثْلُ الْجَبَلَيْنِ الْعَظِيْمَيْنِ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ.

**باب: کوم روایات چه په مړی باندې د مونځ کولو په باره کښې راغلی دی:** ۱۰۶۷: سیدنا ابوهریره رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: کوم سړې چه جنازې ته حاضر شو تردې چه هغه مونځ اوکړو نو د هغه لپاره یو قیراط ثواب دې او څوک چه د دفن پورې حاضر پاتې شو، د هغه لپاره دوه قیراطه ثواب دې، د رسول الله ﷺ نه پوښتنه اوکړې شوه: دوه قیراطه څومره وی؟ هغوی اوفرمائیل: د دوه غټو غرونو برابر. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۱۰۶۸) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مِنْ مَّيِّتٍ تُصَلِّيْ عَلَيْهِ اُمَّةٌ مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ يَبْلُغُوْنَ مِائَةً كُلُّهُمْ يَشْفَعُوْنَ لَهٗ اِلَّا شُفِّعُوْا فِيْهِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

۱۰۶۸: د ام المومنین سیده عائشه رضی الله عنها نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: په کوم مړی باندې چه د مسلمانانو نه سل کسان د جنازې مونځ اوکړی، ټول د هغه لپاره شفاعت اوکړی نو د هغوی شفاعت به ضرور قبلیږی. دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

(۱۰۶۹) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَا مِنْ رَّجُلٍ مُّسْلِمٍ يَمُوْتُ فَيَقُوْمُ عَلٰى جَنَازَتِهٖ اَرْبَعُوْنَ رَجُلًا لَّا يُشْرِكُوْنَ بِاللّٰهِ شَيْئًا اِلَّا شَفَّعَهُمُ اللّٰهُ فِيْهِ. رَوَاهُ اَحْمَدُ وَمُسْلِمٌ وَّاَبُوْدَاوُدَ

۱۰۶۹: سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی: ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل هغوی اوفرمائیل: چه کوم مسلمان وفات شی او د هغه په جنازه باندې څلویښت داسې سړی اودریږی کوم چه د الله پاک څخه څوک هم نه شریکوی، نو الله پاک به د هغوی شفاعت قبول کړی. دا حدیث احمد، مسلم او ابوداؤد نقل کړې دې.

(۱۰۷۰) وَعَنْ اَبِیْ سَلَمَةَ بِنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ اَنَّ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا لَمَّا تُوُفِّیَ سَعْدُ بْنُ اَبِیْ وَقَّاصٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَتْ ادْخُلُوْا بِهِ الْمَسْجِدَ حَتّٰی اُصَلِّیَ عَلَیْهِ فَاَنْکَرَ ذٰلِكَ عَلَیْهَا فَقَالَتْ وَاللّٰهِ لَقَدْ صَلّٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَلَی ابْنَیْ بَیْضَآءَ فِی الْمَسْجِدِ سُهَیْلٍ وَّاَخِیْهِ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

۱۰۷۰: د ابوسلمه بن عبدالرحمن نه روایت دې چه کله سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه وفات شو نو ام المومنین عائشې رضی الله عنها اوفرمائیل: دا جنازه مسجد ته داخله کړئ، چه زه هم په هغوی باندې جنازه اوکړم د دې په ام المومنین رضی الله عنها باندې انکار اوکړې شو. نو هغې اوفرمائیل: قسم په الله! رسول الله ﷺ د بیضاء په دوه ځامنو سهیل رضی الله عنه او د هغه په رور باندې په مسجد کښې جنازه کړې وه. دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

(۱۰۷۱) وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلّٰی عَلٰی جَنَازَةٍ فِی الْمَسْجِدِ فَلَیْسَ لَهٗ شَیْءٌ۔ رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ وَاَبُوْدَاوُدَ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

۱۰۷۱: سیدنا ابوهریره رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: کوم سړی چه په مسجد کښې جنازه اوکړه، نو هغه ته به هیڅ (ثواب) نه ملاویږی.

دا حدیث ابن ماجة او ابوداؤد نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۱۰۷۲) وَعَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَعَی النَّجَاشِیَّ فِی الْیَوْمِ الَّذِیْ مَاتَ فِیْهِ وَخَرَجَ بِهِمْ اِلَی الْمُصَلّٰی فَصَفَّ بِهِمْ وَکَبَّرَ عَلَیْهِ اَرْبَعَ تَکْبِیْرَاتٍ۔ رَوَاهُ الْجَمَاعَةُ۔

۱۰۷۲: د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه په کومه ورځ (شاه حبشه) نجاشی رضی الله عنه وفات شو، هغه ورځ رسول الله ﷺ ته د هغه د وفات خبر ورکړې شو او هغوی د خپلو صحابه کرامو رضی الله عنهم ځخه عیدګاه ته تشریف یوړلو، رسول الله ﷺ د صحابه کرامو رضی الله عنهم ځخه صف جوړ کړو او په هغه باندې ئې (د جنازې په مانځه کښې) ځلور تکبیرونه اوئیل. دا حدیث د محدثینو جماعت نقل کړې دې.

(۱۰۷۳) وَعَنْ جَابِرٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ صَلّٰی عَلٰی اَصْحَمَةَ النَّجَاشِیِّ فَکَبَّرَ اَرْبَعًا۔ رَوَاهُ الشَّیْخَانِ۔

۱۰۷۳: د سیدنا جابر رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ په اصحمة نجاشی رضی الله عنه باندې د جنازې مونځ اوکړو نو ځلور تکبیرونه ئې اوکړل. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

(۱۰۷۴) وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْاَشْجَعِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَصَلّٰی عَلٰی جَنَازَةٍ یَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهٗ وَارْحَمْهُ وَاعْفُ عَنْهُ وَعَافِهٖ وَاَکْرِمْ نُزُلَهٗ وَوَسِّعْ مُدْخَلَهٗ وَاغْسِلْهُ بِمَاءٍ وَّثَلْجٍ وَّبَرَدٍ وَنَقِّهٖ مِنَ الْخَطَایَا کَمَا یُنَقَّی الثَّوْبُ الْاَبْیَضُ مِنَ الدَّنَسِ وَاَبْدِلْهُ دَارًا خَیْرًا مِّنْ دَارِهٖ وَاَهْلًا خَیْرًا مِّنْ اَهْلِهٖ وَزَوْجًا خَیْرًا مِّنْ

زَوْجِهٖ وَقِهٖ فِتْنَةَ الْقَبْرِ وَعَذَابَ النَّارِ قَالَ عَوْفٌ فَتَمَنَّيْتُ اَنْ لَّوْ كُنْتُ اَنَا الْمَيِّتَ لِدُعَآءِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى ذٰلِكَ الْمَيِّتِ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

۱۰۷۴: سیدنا عوف بن مالک الاشجعی ﷛ فرمائی: رسول الله ﷺ یو جنازه اوکړه، ما د هغوی نه دا دعا واوریدله؛

دُعا: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهٗ وَارْحَمْهُ وَاعْفُ عَنْهُ وَعَافِهٖ وَاَكْرِمْ نُزُلَهٗ وَوَسِّعْ مُدْخَلَهٗ وَاغْسِلْهُ بِمَاءٍ وَّثَلْجٍ وَّبَرَدٍ وَنَقِّهٖ مِنَ الْخَطَايَا كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الْاَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ وَاَبْدِلْهُ دَارًا خَيْرًا مِّنْ دَارِهٖ وَاَهْلًا خَيْرًا مِّنْ اَهْلِهٖ وَزَوْجًا خَيْرًا مِّنْ زَوْجِهٖ وَقِهٖ فِتْنَةَ الْقَبْرِ وَعَذَابَ النَّارِ۔

(اې الله! دې مړی ته بخښنه اوکړه او په ده باندې رحم اوکړه ده ته معافی او عافیت اوکړه، د دهٔ ښه میلمستیا اوکړه، د دهٔ قبر فراخه کړه، دې په اوبو واوره او ګلئ باندې اوینځه او دې د ګناهونو نه داسې پاک کړه لکه سپینه کپړه چه د خیرو نه پاکولې شی، او ده ته د خپل کور نه غوره کور او د خپل اهل نه غوره اهل او د دهٔ د ښځې نه غوره ښځه ورکړه، دې د قبر د ازمیښت او د دوزخ د عذاب نه بچ کړه.

سیدنا عوف ﷛ فرمائی: ما ارمان اوکړو چه کاش په کوم مړی باندې چه رسول الله ﷺ دا دعا اوفرمائیله د دې لپاره زه مړې وې. دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

(۱۰۷۵) وَعَنْ اَبِىْ اِبْرَاهِيْمَ الْاَنْصَارِيِّ عَنْ اَبِيْهِ اَنَّهٗ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ فِى الصَّلٰوةِ عَلَى الْمَيِّتِ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَآئِبِنَا وَذَكَرِنَا وَاُنْثَانَا وَصَغِيْرِنَا وَكَبِيْرِنَا۔ رَوَاهُ النَّسَآئِيُّ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ۔

۱۰۷۵: ابو ابراهیم انصاری د خپل پلار نه بیان کړې دې چه هغوی په مړی باندې په مانځه کښې د رسول الله ﷺ نه دا دعا واوریدله.

دُعا: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَآئِبِنَا وَذَكَرِنَا وَاُنْثَانَا وَصَغِيْرِنَا وَكَبِيْرِنَا۔

(اې الله! زمونږ ژوندی، مړی، حاضر، غائب، سړی، ښځې، واړهٔ او لوئې اوبخښه.

دا حدیث نسائی او ترمذی نقل کړې دې او ترمذی وائی دا حدیث حسن صحیح دې.

(۱۰۷۶) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا صَلّٰى عَلَى الْمَيِّتِ قَالَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَآئِبِنَا وَلِاُنْثَانَا وَلِذُكُوْرِنَا مَنْ اَحْيَيْتَهٗ مِنَّا فَاَحْيِهٖ عَلَى الْاِسْلَامِ وَمَنْ تَوَفَّيْتَهٗ مِنَّا فَتَوَفَّهٗ عَلَى الْاِيْمَانِ اَللّٰهُمَّ عَفْوَكَ۔ رَوَاهُ الطَّبْرَانِيُّ فِى الْكَبِيْرِ وَالْاَوْسَطِ وَقَالَ الْهَيْثَمِيُّ اِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

۱۰۷۶: د ابن عباس ﷠ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ به کله په مړی باندې مونځ کولو نو دا دعا به ئې فرمائیله؛

دُعا: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا وَلِأُنْثَانَا وَلِذُكُوْرِنَا مَنْ اَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَاَحْيِهٖ عَلَى الْإِسْلَامِ وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَى الْإِيْمَانِ اَللّٰهُمَّ عَفْوَكَ۔

(اې الله! زمونږ ژوندی، مړی، حاضر، غائب، سړی، ښځې، واړهٔ او لوئې اوبخښه، په مونږ کښې چه څوک ته ژوندی ساتې، په اسلام ئې ژوندی اوساته او په مونږ کښې چه چاته وفات ورکوې نو په ایمان ئې وفات کړه، اې الله مونږ ستا نه معافی غواړو.

دا حدیث طبرانی په کبیر او اوسط کښې نقل کړې دې امام هیثمی رحمه الله فرمائی: د دې اسناد حسن دې.

**تشریح**: (۱۰۲۷ نه ۱۰۷۲ پورې) د باب اول روایت بخاری ج ۱ ص ۱۷۷، مسلم ج ۱ ص ۳۰۷ کښې په جنازه کښې د شرکت فضیلت بیان کړې دې دویم روایت عن عائشة ۱۰۲۸ (مسلم ج ۱ ص ۳۰۸) مضمون هم واضح دې چه په هغې کښې د سړو د جنازې د مانځه ثواب بیان کړې شوې دې دریم روایت ۱۰۲۹ عن ابن عباس (مسند احمد ج ۱ ص ۲۷۷، مسلم ج ۱ ص ۳۰۸) کښې د څلویښتو کسانو د جنازې کولو ثواب بیان کړې شوې دې. علماء کرامو د دې اختلاف وجه لیکی چه اول به د سلو کسانو د فضیلت شرکت نازل شوې وی بیا روستو د بندګانو په حالت باندې رحم کولو څخه دا تعداد کمولو څخه د څلویښتو کسانو د شرکت فضیلت بیان اوفرمائیلې شو او دا هم احتمال دې چه په دې احادیثو کښې د سلو اوڅلویښتو عدد مراد نه وی بلکه د دې نه کثرت جماعت مراد وی.

**په مسجد کښې د جنازې مونځ**: روایت ۱۰۷۰ عن ابی سلمة (مسلم ج ۱ ص ۳۱۳) کښې په مسجد کښې د جنازې د مانځهٔ مسئله بیان کړې شوې ده.

په مسجد کښې د جنازې کولو مسئله مختلف فیه ده. د امام شافعی رحمه الله په نزد خو د دې حدیث د وجې نه په مسجد کښې د جنازې مونځ کیدلې شی او د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد په مسجد کښې د جنازې مونځ مکروه دې په احنافو کښې د شیخ ابن الهمام په نزد په مسجد کښې د جنازې مونځ مکروه تنزیهی دې د هغوی د شاګرد قاسم بن قطلوبغا په نزد مکروه تحریمی دې د امام ابوحنیفه رحمه الله دلیل هم دا حدیث دې چه د عائشې رضی الله عنها په وینا باندې صحابه کرامو رضی الله عنهم د دې خبرې نه انکار اوکړو چه د سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه جنازه دې مسجد ته راوړلې شی څکه چه د رسول الله ﷺ دا معمول نه وو چه په مسجد کښې د جنازې مونځ اوکړی بلکه مسجد ته نزدې یو ځائې مقرر وو چیرته به چه هغوی د جنازې مونځ کولو، بله دا چه د دې نه علاوه په ابوداؤد کښې یو حدیث هم په دې مضمون منقول دې چه: کوم سړې په مسجد کښې د جنازې مونځ اوکړی هغه ته به ثواب نه ملاویږی.

هرچه د عائشې ﷞ د ارشاد تعلق دې چه رسول الله ﷺ په مسجد کښې د سهیل او د هغه د رور د جنازې مونځ کړې وو نو د دې په باره کښې علماء کرام فرمائي چه دا سې به رسول الله ﷺ د عذر د وجې نه کړې وی چه دغه وخت کښې یا خو باران وو یا دا چه هغوی په اعتکاف کښې وو په دې وجه رسول الله ﷺ په مسجد کښې د جنازې مونځ ادا اوفرمائیلو. پس په یو روایت کښې د دې صراحت هم کړې شوې دې چه رسول الله ﷺ چونکه په اعتکاف کښې وو په دې وجه ئې په مسجد کښې د جنازې مونځ اوکړو. روایت ۱۰۷۱ **عن ابی هریرة** (ابن ماجة ص ۱۱۰) ابوداؤد ج ۲ ص ۹۸) هم د احنافو مستدل دې.

**د غائب د جنازې مونځ**: روایت ۱۰۷۲ **عن ابی هریرة** (بخاری ج ۱ ص ۱۶۷، مسلم ج ۱ ص ۳۰۹) او روایت ۱۰۷۳ **عن جابر** (بخاری ج ۱ ص ۱۷۸، مسلم ج ۱ ص ۳۰۹) کښې په نجاشی باندې د رسول الله ﷺ د غائبانه نماز جنازه بیان دې او د غائب د جنازې په باره کښې د حضرات ائمة اختلاف دې. امام ابوحنیفه او امام مالک ﷮ فرمائي چه جائز نه دی، امام شافعی ﷫ او احمد فرمائي چه جائز دې.

د امام صاحب **ومن وافقه** د طرف نه امام ابن عبدالبر په التمهید کښې او علامه عینی په عمدة القاری کښې دا دلیل پیش کړې دې چه رسول الله ﷺ او خلفاء راشدینو په دور کښې په سوونو نه بلکه په زرګونو مسلمانان په لرې لرې ځایونو کښې فوت شوې دی او د نجاشی نه بغیر ثابت نه دې چه یوځائې کښې غائبانه د جنازې مونځ شوې وی. که دا مسئله وې نو هغه حضراتو به کله هم نه وې ترک کړې، پاتې شوه د نجاشی معامله نوهغه د رسول الله ﷺ خصوصیت وو.

د امام شافعی او احمد دلیل نمبر(۱) هم دا د نجاشی معامله ده.

**ځواب ۱**: د نجاشی جنازه د رسول الله ﷺ مخکښې پیش کړې شوې وه هغه د رسول الله ﷺ په حق کښې غائب نه وو. پس په مسند احمد ج ٤ ص ٤٤٦ کښې **بسند صحیح** د عمران بن الحصین ﷠ روایت دې، فرمائي چه مونږ په جنازة کښې په رسول الله ﷺ پسې وو :

ولا نظن الا انه بین یدیه وفی المرقات عن ابن عباس ﷞ قال کُشِف للنبی صلی الله تعالیٰ عن سریر النجاشی حتّٰی راٰه وصلّٰی علیه۔ ترمذی ج: ۱، ص: ۱۵۳ هامش ص:۸)

حافظ ابن القیم ﷫ په زاد المعاد ج ۱ ص ۱٤۵ کښې لیکی :

ومن الجائزان یکون رُفع له سریره فصلّی علیه وهویرٰی ملاتهٗ علی الحاضر المشاهدوان کان علیٰ مسافة من البُعد والصحابة وان لم یرونهم تابعون للنبی صلی الله تعالیٰ علیه وسلم فی الصلوٰة۔

دا توجیه قاضی شوکانی ﷫ هم په نیل الاوطار ج ٤ ص ۵٤ کښې نقل کړې ده.

**ځواب۲:** حافظ ابن تيمية په منهاج السنة ج ۱ ص ۲۷ کښې او حافظ ابن القيم په زاد المعاد ج ۱ ص ۱٤۹ کښې ليکى :

واللفظ لهٗ ان الغائب ان مات ببلدٍ ان مات ببلدٍ لم يصل عليه فيه صلى عليه صلوٰة الغائب كما صلّى النبى صلى الله عليه وسلم علىٰ النجاشى لانه مات بين الكفّار ولم يصل عليه۔

او فرمانى چه امام ابوداؤد رحمه الله چه کوم تبويب کړې دې هغه هم دې طرف ته اشاره ده. پس امام ابوداؤد ج ۲ ص ۱۰۱ کښې باب قائموى باب الصلاة على المسلم يموت فى بلاد الشرك. امير يمانى په سبل السلام ج ۲ ص ۱۳۱ کښې ليکى : حافظ ابن تيميه رحمه الله، امام خطابى او امام رؤيانى هم دې ته مستحسن وئيلې دې او قاضى شوکانى هم په نيل الاوطار ج ٤ ص ٥٤ کښې دا ځواب نقل کوى.

**دليل۲:** ابن سنى په عمل اليوم والليلة ص ٦٣ کښې او علامه هيثمى په مجمع الزوائد ج ۲ ص ۳۸ کښې روايت نقل کوى چه رسول الله ﷺ د تبوک په سفر کښې وو، خبر ورته ملاؤ شو چه معاوية بن معاوية وفات شو، رسول الله ﷺ د هغوى جنازة اوکړه.

**ځواب ۳:** حافظ ابن القيم رحمه الله په زاد المعاد ج ۱ ص ۱٤٥ کښې ليکى : **ولكن لا يصح فان فى اسناده العلاء بن زياد ويقال زيد قال على بن المدينى كان يضع الحديث.**

**ځواب ٤:** قاضى شوکانى رحمه الله په نيل الاوطار ج ٤ ص ٥٤ کښې ليکى : **قال الذهبى لا نعلم فى الصحابة معاوية بن معاوية وكذلك تكلم فيه البخارى اهـ**

**ځواب٥:** د رسول الله ﷺ په حق کښې غائب نه وو. علامه ذهبى رحمه الله ليکى :

قيل توفى بالمدينة فصلى عليه النبى صلى الله عليه وسلم وهو بتبوك ورفع له جبرائيل الارض وله طُوق كُلها ضعيفة انتهٰى (تجريد اسماء الصحابة ج: ۲، ص: ۹۰)

او په مجمع الزوائد ج ۳ ص ۳۷ کښې روايت دې : فرفع سريره فنظر اليه فكبر عليه ا ه فكبر عليه ا ه وفى السند محمد بن ابراهيم بن العلاء وهو ضعيف جدًا ـ الغرض يو خو دا حديث ضعيف دې بله داچه ددې نه غائبانه د جنازې مونځ نه ثابتيږى.

**د جنازې په مانځهٔ کښې د مړى لپاره دعا:** د جنازې د مونځ اصل مقصد دعا ده د اول تکبير نه پس حمد او تسبيح او د دويم تکبير نه پس درود شريف گويا د دعا تمهيد دې رسول الله ﷺ به چه د جنازې په مانځه کښې کومې دعا گانې کولې هغه تولې د دې موقعې لپاره بهترينې دعاگانې دى او په اوچت اواز باندې لوستل ئې په دې وجه وو چه خلق ئې په اوريدلو باندې زده کړى گينې د

هغې په مزه لوستل افضل دی پس روایت ۱۰۷۴ وعن ابن مالک (مسلم ج ۱ ص ۳۱۱) روایت ۱۰۷۵ وعن ابی ابراهیم الانصاری (نسائی ج ۱ ص ۲۸۱، ترمذی ج ۱ ص ۱۹۸) او روایت ۱۰۷۶ وعن ابن عباس (المعجم الکبیر ج ۱۲ ص ۱۲۳) کښې د دې دعاګانو بیان دې.

## بَابٌ فِيْ تَرْكِ الصَّلٰوةِ عَلَى الشُّهَدَاءِ

(۱۰۷۷) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَجْمَعُ بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ مِنْ قَتْلٰى أُحُدٍ فِيْ ثَوْبٍ وَّاحِدٍ ثُمَّ يَقُوْلُ أَيُّهُمَا أَكْثَرُ أَخْذًا لِلْقُرْاٰنِ فَإِذَا أُشِيْرَ لَهٗ إِلٰى أَحَدِهِمَا قَدَّمَهٗ فِي اللَّحْدِ وَقَالَ أَنَا شَهِيْدٌ عَلٰى هٰٓؤُلَاءِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَأَمَرَ بِدَفْنِهِمْ فِيْ دِمَآئِهِمْ وَلَمْ يُغَسَّلُوْا وَلَمْ يُصَلِّ عَلَيْهِمْ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

**باب: په شهیدانو باندې د جنازې مونځ نه کول:** ۱۰۷۷: سیدنا جابر رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ به د احد شهیدانو کښې دوه دوه سړی په یو کپړه کښې یوځائې دفن کول بیا به ئې فرمائیل: په دوی کښې چاته زیات قرآن یاد دې؟ چه کله به په هغوی کښې یو ته اشاره اوکړې شوه، نو هغه به ئې په لحد کښې مخکښې کیخودلو او رسول الله ﷺ اوفرمائیل: د قیامت په ورځ باندې زه په دوی ګواه یم، او رسول الله ﷺ د وینو څخه د هغوی د دفن کولو حکم اوکړو او هغوی ته نه غسل ورکړې شو او نه په هغوی باندې مونځ اوکړې شو. دا حدیث بخاری نقل کړې دې.

(۱۰۷۷):: شهید ته د غسل نه ورکولو په باره کښې د ائمة کرامو اتفاق دې صرف حسن بصری او سعید بن المسیب وائی چه شهید ته به غسل ورکولې شی (المغنی ج ۲ ص ۵۲۸، ۵۲۹) د شهید د جنازې د مانځه په باره کښې د فقهاء کرامو اختلاف دې.

۱: د ائمة ثلاثه او امام اسحاق مسلک دا دې چه د هغه د جنازې مونځ به نه شی کولې.

۲: د امام ابوحنیفه رحمه الله مسلک دې چه د هغه د جنازې مونځ به کولې شی د امام احمد او امام اسحاق هم یو یو روایت داسې منقول دې د اهل حجاز قول هم دا دې (المغنی ج ۲ ص ۵۲۹، عمدة القاری ج ۸ ص ۱۵۲)

د دې باب روایت عن جابر (بخاری ج ۱ ص ۱۷۹) د ائمة ثلاثة مستدل دې احناف حضرات د دې په څواب کښې وائی.

په راروان باب کښې لیکلې شوې او د هغې نه علاوه د ډیرو روایاتو نه د شهیدانو د جنازې قطعی ثبوت حاصل دې لهذا د حدیث د جابر رضی الله عنه نه به ډیر توجیهات کولې شی.

امام طحاوی رحمه الله د دې څواب ورکولو څخه دا امکان ذکر کړې دې چه کیدې شی رسول الله ﷺ پخپله خو د هغوی جنازه نه وی کړې ځکه چه رسول الله ﷺ زخمی وو خو هغوی صحابه کرامو رضی الله عنهم

نه د هغوی د جنازې کولو حکم ورکړې وی لهذا په کومو رواياتو کښې چه د شهداء احد د جنازې نفی ده هغه هم په دې باندې محمول ده خو په دې توجيه باندې ټول روايات نه منطبق کيږی.

دويمه توجيه دا ده چه په حديث الباب کښې ﴿ لم يصل عليهم ﴾ نه مراد دا دې چه رسول الله ﷺ د سيدنا حمزه رضی الله عنه نه علاوه په چا باندې مستقلا او منفردا مونځ نه ووکړې بلکه په ډيرو صحابه کرامو رضی الله عنهم باندې يو ځائې مونځ اوکړو، دا توجيه د احقر په نزد صحيح او غوره ده ځکه چه په دې باندې مجموعی طور ټخه روايات منطبق کيږی.

د هغوی دويم دليل دا دې چه د شهداء ګناهونه په وخت د شهادت معاف کيږی لهذا د هغوی د جنازې ضرورت نشته د دې ځواب دا دې لکه چه په خزائن ج ۳ ص ۵۲ کښې:

صاحب هداية ج ۱ ص ۱۸۳ وغيره فرمائی چه ضروری نه ده چه د ګنهګار دې جنازه وی ماشومان خو بالاتفاق غير مکلف دی او بالاتفاق د هغوی جنازه شته. انبياء کرام عليهم السلام بالاتفاق معصوم دی خو د هغوی جنازه هم شته. ابوداؤد ص ۳۳۵، طيالسی ص ۴۶۹ او موارد الظمان ص ۴۶۹ وغيره کښې دابوهريره رضی الله عنه نه مرفوع حديث مروی دې چه سيدنا عيسى عليه السلام به دآسمان نه نازليږی.

يكسر الصليب الىٰ قوله ثم يبقى فى الارض اربعين سنة ثم يموت ويصلى عليه المسلمون ويدفنونه قال الحافظ فى الفتح ج: ۷، ص: ۳۰۴ روى احمد رحمه الله وابوداؤد باسناد صحيح،

مبارکپوری رحمه الله په تحفة الاحوذی ج ۲ ص ۱۴۸ کښې ليکی:

قالت والظاهر عندى ان الصلوٰة على الشهيد ليست بوجبة فيجوز ان يصلى عليها ويجوز تركها والله اعلم وروى الماوردى رحمه الله عن احمد رحمه الله الصلوٰة على الشهيد اجود وان لم يصل اجزاءه ،ذكرهٔ الحافظ فى الفتح واختار الشوكانى رحمه الله الصلوٰة على الشهيد.

## بَابٌ فِي الصَّلٰوةِ عَلَى الشُّهَدَآءِ

(۱۰۷۸) عَنْ شَدَّادِ بْنِ الْهَادِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا مِّنَ الْاَعْرَابِ جَآءَ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاٰمَنَ بِهٖ وَاتَّبَعَهٗ ثُمَّ قَالَ اُهَاجِرُ مَعَكَ فَاَوْصٰى بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْضَ اَصْحَابِهٖ فَلَمَّا كَانَتْ غَزْوَةٌ غَنِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا فَقَسَمَ لَهٗ فَاَعْطٰى اَصْحَابَهٗ مَا قَسَمَ لَهٗ وَكَانَ يَرْعٰى ظَهْرَهُمْ فَلَمَّا جَآءَ دَفَعُوْهُ اِلَيْهِ فَقَالَ مَا هٰذَا قَالُوْا قِسْمٌ قَسَمَهٗ لَكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَخَذَهٗ فَجَآءَ بِهٖ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا هٰذَا قَالَ قَسَمْتُهٗ لَكَ قَالَ مَا عَلٰى هٰذَا اتَّبَعْتُكَ وَلٰكِنِّيْ اتَّبَعْتُكَ عَلٰى اَنْ اُرْمٰى اِلٰى هٰهُنَا وَاَشَارَ اِلٰى حَلْقِهٖ بِسَهْمٍ فَاَمُوْتَ فَاَدْخُلَ الْجَنَّةَ فَقَالَ اِنْ تَصْدُقِ اللّٰهَ يُصْدِقْكَ فَلَبِثُوْا قَلِيْلًا ثُمَّ نَهَضُوْا فِيْ قِتَالِ

اَلْعَدُوِّ فَاُتِيَ بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحْمَلُ قَدْ اَصَابَهٗ سَهْمٌ حَيْثُ اَشَارَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَهُوَ قَالُوْا نَعَمْ صَدَقَ اللّٰهَ فَصَدَّقَهٗ ثُمَّ كَفَّنَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ جُبَّةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَدَّمَهٗ فَصَلّٰى عَلَيْهِ فَكَانَ مِمَّا ظَهَرَ مِنْ صَلٰوتِهٖ اَللّٰهُمَّ هٰذَا عَبْدُكَ خَرَجَ مُهَاجِرًا فِيْ سَبِيْلِكَ فَقُتِلَ شَهِيْدًا اَنَا شَهِيْدٌ عَلٰى ذٰلِكَ. رَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَالطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

**باب: په شهیدانو باندې د جنازې کول:** ۱۰۷۸: دسیدنا شداد بن الهاد ﷺ نه روایت دې چه په باندچیانو کښې یو سړې رسول اللهﷺ ته راغلو، هغه په رسول اللهﷺ باندې ایمان راوړلو او د هغوی تابعداری ئې اوکړه، بیا هغه اووې، آیا زه د رسول اللهﷺ څخه هجرت اوکړم؟ نو رسول اللهﷺ خپلو څو صحابه کرامو ته وصیت اوفرمائیلو پس کله چه هغه په یو غزوه کښې وو، نو رسول اللهﷺ د غنیمت څه څیز حاصل کړو، نو هغه ئې تقسیم اوفرمائیلو، او هغه ته ئې هم حصه ورکړه، هغه د صحابه کرامو د شاته طرف نه حفاظت کولو، نو رسول اللهﷺ د هغه حصه د هغه ملګرو ته ورکړه، چه کله هغه راغلو نو هغوی د هغه حصه ورکړه، هغه اووې دا څه دی؟ خلقو اووې دا هغه حصه ده کومه چه رسول اللهﷺ ستا لپاره تقسیم کړې دې، هغه وصول کړه او هغه واخستله د رسول اللهﷺ په خدمت کښې راغلو او وې وئیل: دا څه دی؟ رسول اللهﷺ اوفرمائیل : ما ستا لپاره حصه درکړې ده! هغه اووې: ما ستاسو تابعداری د دې لپاره نه ده کړې بلکه دې لپاره مې کړې وه زه دلته په غشی اولګم او هغه په غشی څخه خپل حلق طرف ته اشاره اوکړه، بیا زه مړ شم او جنت ته داخل کړې شم، رسول اللهﷺ اوفرمائیل که تا الله پاک ته رشتیا وئیلې وی نو هغه به تا رشتینې کړی، صحابه کرام ﷺ لږ ساعت ایسار شو، بیا دشمن څخه د جنګ کولو لپاره اودریدل، نو هغه سړې اوچتولو څخه رسول اللهﷺ ته راوستلې شو، هغه هم هلته په غشی باندې لګیدلې وو، کوم ځائې چه هغه اشاره کړې وه، رسول اللهﷺ اوفرمائیل: آیا دا هم هغه دې؟ صحابه کرامو ﷺ عرض اوکړو او جی! رسول اللهﷺ اوفرمائیل: هغه الله پاک ته رشتیا اووې، الله پاک هغه رشتیا کړل، بیا رسول اللهﷺ هغه ته په خپله جبه مبارکه کښې کفن ورکړو، بیا ئې هغه وړاندې کړو او په هغه باندې ئې جنازه ادا اوفرمائیله، د رسول اللهﷺ د مانځه نه چه کوم الفاظ ښکاره کیدل هغه دا وو.

اَللّٰهُمَّ هٰذَا عَبْدُكَ خَرَجَ مُهَاجِرًا فِيْ سَبِيْلِكَ فَقُتِلَ شَهِيْدًا اَنَا شَهِيْدٌ عَلٰى ذٰلِكَ:

(اې الله! دا ستا بنده دې ستا په لاره کښې هجرت کولو څخه راوتلې دې زه په دې ګواه یم چه دې شهید قتل کړې شوې دې)

دا حدیث نسائی او طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۱۰۷۹) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ أُتِيَ بِهِمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ فَجَعَلَ يُصَلِّيْ عَشْرَةً وَّ حَمْزَةُ هُوَ كَمَا هُوَ يُرْفَعُوْنَ وَهُوَ كَمَا هُوَ مَوْضُوْعٌ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ وَالطَّحَاوِيُّ وَالطَّبَرَانِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ وَفِيْ إِسْنَادِهِ لِيْنٌ.

۱۰۷۹: سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی: د احد په ورځ هغوی (شهداء احد) رسول الله ﷺ ته راوړلې شو، رسول الله ﷺ به په لسو لسو باندې (یوځائې) مونځ کولو، او حمزه رضی الله عنه هم دغه شان رو، خلقو به (د مانځه نه پس نور) اوچتول او حمزه رضی الله عنه هم دغه شان پروت وو. دا حدیث ابن ماجة، طحاوی، طبرانی او بیهقی نقل کړې دې او د دې په سند کښې کمزوری ده.

(۱۰۸۰) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الزُّبَيْرِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ يَوْمَ أُحُدٍ بِحَمْزَةَ فَسُجِّيَ بِبُرْدِهِ ثُمَّ صَلَّى عَلَيْهِ فَكَبَّرَ تِسْعَ تَكْبِيْرَاتٍ ثُمَّ أُتِيَ بِالْقَتْلٰى يُصَفُّوْنَ وَيُصَلِّيْ عَلَيْهِمْ وَعَلَيْهِ مَعَهُمْ. رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَإِسْنَادُهُ مُرْسَلٌ قَوِيٌّ وَهُوَ مُرْسَلُ صَحَابِيٍّ.

۱۰۸۰: د سیدنا عبدالله بن الزبیر رضی الله عنهما نه روایت دې چه رسول الله ﷺ د احد په ورځ د سیدنا حمزه رضی الله عنه په باره کښې اوفرمائیل، نو هغه په څادر باندې پټ کړې شو، بیا رسول الله ﷺ په هغه باندې مونځ اوکړو، نو نهه تکبیرونه ئې اوکړل، بیا نور شهداء راوړلې شو، نو رسول الله ﷺ په هغوی باندې د جنازې مونځ اوکړو او په حمزه رضی الله عنه باندې ئې د هغوی څخه هم اوکړو. دا حدیث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد مرسل قوی دې او دا د صحابی رضی الله عنه مرسل دې.

(۱۰۸۱) وَعَنْ أَبِيْ مَالِكٍ الْغِفَارِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلّٰى عَلٰى قَتْلٰى أُحُدٍ عَشْرَةً عَشْرَةً فِيْ كُلِّ عَشْرَةٍ حَمْزَةُ حَتّٰى صَلّٰى عَلَيْهِ سَبْعِيْنَ صَلٰوةً. رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ فِي الْمَرَاسِيْلِ وَالطَّحَاوِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ وَإِسْنَادُهُ مُرْسَلٌ قَوِيٌّ.

۱۰۸۱: د ابومالک الغفاری رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ په شهداء احد کښې په لسو لسو باندې د جنازې مونځ ادا اوفرمائیلو، په هر لسو کښې په حمزه رضی الله عنه هم وو. تردې چه په هغوی باندې اولس کرته مونځ اوکړې شو. دا حدیث ابوداؤد په مراسیل کښ، طحاوی او بیهقی نقل کړې دې او د دې اسناد مرسل قوی دې.

**تشریح**﴾(۱۰۷۸ نه ۱۰۸۱ پورې) ۱: د دې باب اول روایت عن شداد بن الهاد (نسائی ج ۱ ص ۲۷۷، طحاوی ج ۱ ص ۳۳۹) کښې ﴿ثم قدمه فصلی علیه﴾ تصریح ده هم د دې مضمون یو روایت په مستدرک حاکم ج ۳ ص ۵۹۶ هم دې.

۲: روایت ۱۰۷۹ عن ابن عباس (ابن ماجة ص ۱۱۰، طحاوی ج ۱ ص ۳۳۸) کښې د یصلی علیه تصریح ده په دې روایت باندې د یزید بن ابی زیاد د وجې نه اعتراض کړې شوې دې خو د دې

ځواب دا دې چه هغه د مسلم راوی دې که يو طرف ته د هغوی تضعيف کړې شوې دې نوبل طرف ته هغوی ته ثقة هم وئيلې شوې دې.

۳: روايت ۱۰۸۰ (طحاوی ج ۱ ص ۳۳۸) کښې د ﴿ **ثم صلى عليه** ﴾ تصريح ده په دې دا اعتراض کړې شوې دې چه ابن زبير رضي الله عنه دغزوه احد په وخت صرف د دوه کالو وو چه د هجرت په کال د هغوی ولادت اوشو او غزوه احد ۳ کښې اوشو د دې ځواب دا دې چه دا د صحابی مرسل دې کوم چه بالاتفاق مقبول دې.

۴: روايت ۱۰۸۱ **عن ابى مالک الغفاری** (طحاوی ج ۱ ص ۳۳۸، بيهقى ج ٤ ص ۱۲) مدلول هم واضح دې.

**تکبيرات صلاة جنازة**: حديث ۱۰۸۰ کښې ﴿ **فکبر تسع تکبيرات** ﴾ او په نورو ډيرو احاديثو کښې ﴿**کبر اربعا**﴾ الفاظ راغلې ذی په دې سلسله کښې ګزارش دې چه ! د ائمة اربعة او جمهور مسلک دا دې چه صلاة جنازة په څلورو تکبيراتو باندې مشتمل دې خو د عبد الرحمٰن بن ابی ليلى مسلک دا دې چه د جنازې په مانځه کښې پنځه تکبيرات دی، د امام ابو يوسف رحمه الله يو روايت هم دا دې.

اصل کښې د رسول الله ﷺ نه په صلاة الجنازة کښې د څلورو نه واخله تر نهو پورې تکبيرونه ثابت دی خو جمهورو څلورو ته ترجيح ورکړې ده د دې مسلک وجوه ترجيح لاندې ليکلې شی !

۱: د رسول الله ﷺ نه ثابت دی چه هغوی د على رضي الله عنه د مور فاطمة بنت اسد په صلاة الجنازة کښې څلور تکبيرونه اوئيل، په دې اجتماع کښې د حضرات شيخينو او على رضي الله عنه نه علاوه سيدنا عباس، ابو ايوب الانصاری، اسامة بن زيد رضي الله عنه په شان جليل القدر صحابه رضي الله عنهم هم موجود وو.

۲: حافظ ابن عبد البر رحمه الله الاستذکار کښې د "**ابوبکر بن سليمان بن ابى حثمة عن ابيه**" په طريق څخه روايت نقل کړې دې:

قال کان النبى صلى الله عليه وسلم يکبر على الجنائز اربعًا و خمسًا و سبعًا و ثمانيًا حتى جاء موت النجاشى فخرج الىٰ المصلى وصف الناسُ ورائه وکبّر عليه اربعًا ثم ثبت النبى صلى الله عليه وسلم علىٰ اربع حتى توفّاه الله عزوجل ''

اورده الحافظ فى التلخيص وسکت عليه.

۳: په بيقهی کښې د ابو وائل رضي الله عنه روايت راغلې دې:

''کانوا يکبّرون علىٰ عهد رسول الله صلى الله صلى الله عليه وسلم سبعًا و خمسًا و خمسًا وستًا اوقال اربعًا، فجمع عمر بن الخطاب رضى الله عنه اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم فاخبر کل رجل بما راءى، فجمعهم عمر رضى الله عنه على اربع تکبيرات کاطول الصلاة''

دا روايت سنداً حسن دې.

په طحاوی کښې د ابراهیم النخعی نه مروی دی فرمائی چه:

قبض رسول الله صلی الله علیه وسلم والناس مختلفون فی التکبیر علی الجنائز لا تشاء ان تسمع رجلا یقول سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یکبر سبعا، وآخر یقول سمعتُ رسول الله صلی الله علیه وسلم یکبر خمسًا وآخر یقول، سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یکبّر اربعًا إلا سمعته فاختلفوا فی ذالک فکانوا علیٰ ذٰلک حتی قبض ابوبکر، فلمّا ولی عمر رضی الله عنه ورای اختلاف الناس فی ذلک شق ذلک علیه جدًّ، فاءرسل الی رجال من اصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم فقال: انکم معاشر اصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم فتی تختلفون علی الناس یختلفون من بعدکم، ومتی تجتمعون علی امر یجتمع الناس علیه، فانظروا امرًا تجتمعون علیه، فکاء نما ایقظهم فقالوا، نعم ماراءیت یا اءمیر المومنین؟ فاءشر علینا، فقال عمر رضی الله عنه: بل اشیر وانتم علیّ، فانما انا بشر مثلکم فتراجعوا الامر بینهم، فاجمعوا امرهم علی ان یجعلوا التکبیر علی الجنائز مثل التکبیر فی الاضحیٰ والفطر اربع تکبیرات، فاجمع امرهم علی ذلک.

خو په دې باندې دا اشکال دې چه د علی رضی الله عنه نه دا ثابت دی چه هغوی د سیدنا سهل بن حنیف رضی الله عنه په جنازه کښې پنځه یا شپږ تکبیرونه اوکړل.

خو په طحاوی کښې دا حقیقت بیان شوې دې چه سیدنا علی رضی الله عنه د مانځه نه پس اوفرمائیل: انه من اهل بدر ... پس عبدالله بن مغفل رضی الله عنه هم په دې واقعه کښې نقل کوی (ثم صلیت مع علی علیٰ جنائز، کل ذلک کان یکبر علیها اربعا) معلومه شوه چه د سیدنا علی رضی الله عنه عمل د څلورو تکبیرونو وو خو چونکه سهل بن حنیف رضی الله عنه بدری صحابی وو په دې وجه سیدنا علی رضی الله عنه په هغوی باندې زیات تکبیرونه اولوستل. والله اعلم

## بَابٌ فِیْ حَمْلِ الْجَنَازَةِ

(۱۰۸۲) عَنْ اَبِیْ عُبَیْدَةَ قَالَ: قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْعُوْدٍ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ مَنْ اَتْبَعَ جَنَازَةً فَلْیَحْمِلْ بِجَوَانِبِ السَّرِیْرِ کُلِّهَا فَاِنَّهٗ مِنَ السُّنَّةِ ثُمَّ اِنْ شَآءَ فَلْیَتَطَوَّعْ وَاِنْ شَآءَ فَلْیَدَعْ۔ رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه وَاِسْنَادُهٗ مُرْسَلٌ جَیِّدٌ۔

**باب: د جنازې اوچتول:** ۱۰۸۲: د ابوعبیده نه روایت دې چه سیدنا عبدالله بن مسعود رضی الله عنه اوفرمائیل: کوم سړې چه په جنازې پسې روان وی نو هغه له پکار دی چه ټولې خپې اوچتې کړی، دا سنت دې، بیا که غواړی نو نوره نیکی دې اوکړی او که غواړی نو هغه دې پریږدی.

دا حدیث ابن ماجة نقل کړې دې او ددې اسناد مرسل جید دې.

(۱۰۸۳) عَنْ اَبِی الدَّرْدَآءِ قَالَ مِنْ تَمَامِ اَجْرِ الْجَنَازَةِ اَنْ تُشَیِّعَهَا مِنْ اَهْلِهَا وَاَنْ تَحْمِلَ بِاَرْکَانِهَا الْاَرْبَعَةِ وَاَنْ تَحْثُوَ فِی الْقَبْرِ رَوَاهُ اَبُوْبَکْرِ بْنُ اَبِیْ شَیْبَةَ فِیْ مُصَنَّفِهٖ وَاِسْنَادُهٗ مُرْسَلٌ قَوِیٌّ۔

۱۰۸۳: سیدنا ابو الدرداء رضی اللہ عنہ فرمائي چه د جنازې په پوره ثواب کښې دا ده چه ته د هغه د کور نه هغه ته الوداع اوکړې او څلور واړه خپې اوچتې کړې او په قبر کښې خاوره واچوې.

دا حديث ابن ابی شيبة په خپل مصنف کښې نقل کړې دې او د دې اسناد مرسل قوی دې.

**تشريح>** (۱۰۸۲ نه ۱۰۸۳) : د باب اول روايت عن ابي عبيدة (ابن ماجة ۱۰۷) او دويم روايت عن ابي الدرداء (مصنف ابن ابی شيبة ج ۳ ص ۳۳۲) کښې د جنازې د اوچتولو آداب بيان کړې دې د حديث مضمون په لفظي ترجمه کښې واضح کړې شوې دې.

## بَابٌ فِيْ اَفْضَلِيَّةِ الْمَشْيِ خَلْفَ الْجَنَازَةِ

(۱۰۸۴) عَنْ طَاءُوْسٍ قَالَ مَا مَشٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى مَاتَ اِلَّا خَلْفَ الْجَنَازَةِ رَوَاهُ عَبْدُ الرَّزَّاقِ وَاِسْنَادُهٗ مُرْسَلٌ صَحِيْحٌ۔

**باب: په جنازې پسې د شاته تلو فضيلت:** ۱۰۸۴: امام طاؤس رحمہ اللہ فرمائي : رسول الله ﷺ د وفات پورې په جنازې پسې شاته تلو. دا حديث عبد الرزاق نقل کړې دې او د دې اسناد مرسل صحيح دې.

(۱۰۸۵) وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ اَبْزٰى رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كُنْتُ فِيْ جَنَازَةٍ وَّاَبُوْبَكْرٍ وَّعُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا يَمْشِيَانِ اَمَامَهَا وَعَلِيٌّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَمْشِيْ فَقُلْتُ لِعَلِيٍّ اَرَاكَ تَمْشِيْ خَلْفَ الْجَنَازَةِ وَهٰذَانِ يَمْشِيَانِ اَمَامَهَا فَقَالَ عَلِيٌّ لَقَدْ عَلِمَا اَنَّ فَضْلَ الْمَشْيِ خَلْفَهَا عَلَى الْمَشْيِ اَمَامَهَا كَفَضْلِ صَلٰوةِ الْجَمَاعَةِ عَلَى الْفَذِّ وَلٰكِنَّهُمَا اَحَبَّا اَنْ يَّتَيَسَّرَا عَلَى النَّاسِ۔ رَوَاهُ عَبْدُ الرَّزَّاقِ وَالطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

**۱۰۸۵**: سيدنا عبد الرحمٰن بن ابزی رضی اللہ عنہ فرمائي : زه په يو جنازه کښې اوم، سيدنا ابوبکر او عمر رضی اللہ عنہما د جنازې نه مخکښې روان وو او علی رضی اللہ عنہ شاته راروان وو، ما علی رضی اللہ عنہ ته اووې: زه تاسو د جنازې نه شاته او هغوی دواړه مخکښې وينم، نو علی رضی اللہ عنہ اوفرمائيل: يقينا دوی ته معلومه ده چه د وړاندې تلو نه فضيلت په جنازې پسې روستو تلو کښې دې، لکه چه د جماعت د مانځهٔ فضيلت دې په ځانله مونځ کولو باندې، خو دې دواړو مشرانو په خلقو باندې آسانی خوښه کړه (که شاته کيدل نو خلق به احتراما د دوی نه شاته روان وې او مړی ته په اوږه ورکولو کښې به تکليف وې). دا حديث عبد الرزاق او طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد صحيح دې.

(۱۰۸۶) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ اَبَاهُ قَالَ لَهٗ كُنْ خَلْفَ الْجَنَازَةِ فَاِنَّ مُقَدَّمَهَا لِلْمَلَائِكَةِ وَخَلْفَهَا لِبَنِيْ اٰدَمَ۔ رَوَاهُ اَبُوْبَكْرِ بْنُ اَبِيْ شَيْبَةَ۔ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

۱۰۸۶: د عبد الله بن عمرو بن العاص رضی اللہ عنہما نه روايت دې چه د هغوی والد صاحب عمر بن العاص رضی اللہ عنہ هغوی ته اووې: په جنازې پسې شاته ځه! بيشکه د جنازې وړاندې حصه د ملائکو لپاره ده او

روستو د بنى ادم لپاره ده. دا حديث ابوبکر بن ابى شيبة نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

تشريح: (۱۰۸۴ نه ۱۰۸۶ پورې) په دې خبره باندې خو د جمهورو اتفاق دې چه د جنازې وړاندې، روستو، ښى او ګس هر طرف ته تلل جائز دى خو په افضليت کښې اختلاف دې.

۱: امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائى چه مطلقا په جنازې پسې شاته تلل افضل دى د امام اوزاعى هم دا مسلک دې. ۲: مطلقا د جنازې نه مخکښې تلل افضل دى، دا د امام شافعى رحمه الله مسلک دې. ۳: د پيدل تلونکى لپاره د جنازې نه مخکښې او د سور لپاره د جنازې نه روستو تلل افضل دى دا د امام مالک او امام احمد رحمهما الله مسلک دې.

۴: هيڅ يو طرف ته تلو کښې په بل طرف باندې فضيلت نشته دا قول د سفيان ثورى دې د امام بخارى رحمه الله ميلان هم دې طرف ته دې.

ددې باب ټول روايات د احنافو تائيد کوى بلکه د احنافو استدلال د هغه ټولو رواياتو نه دې په کومو کښې چه د اتباع الجنائز حکم ورکړې شوې دې.

۱: اول روايت عن طاؤس (مصنف عبدالرزاق ج ۳ ص ٤٤٥) د مشى خلف الجنازة په مواظبت باندې دال دې.

۲: روايت ۱۰۸۵ وعن عبدالرحمٰن بن ابزى (مصنف عبدالرزاق ج ۳ ص ٤٤۶، طحاوى ج ۱ ص ۳۲۵) کښې د على رضي الله عنه ارشاد واضح دې.

۳: روايت ۱۰۸۶ وعن عبدالله بن عمرو بن العاص (مصنف ابن ابى شيبة ج ۳ ص ۲۸۲) کښې د کف خلف الجنازة حکمت او وجه بيان کړې شوې ده او د فضيلت د وجې توضيح ده.

## بَابُ الْقِيَامِ لِلْجَنَازَةِ

(۱۰۸۷) عَنْ عَامِرِ بْنِ رَبِيْعَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا رَأَيْتُمُ الْجَنَازَةَ فَقُوْمُوْا حَتّٰى تُخَلِّفَكُمْ أَوْ تُوْضَعَ. رَوَاهُ الْجَمَاعَةُ.

**باب: د جنازې لپاره اودريدل:** ۱۰۸۷: د سيدنا عامر بن ربيعه رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: چه کله تاسو جنازه وينئ نو اودريږئ، تردې چه هغه ستاسو نه مخکښې لاړه شى يا کيخودلې شى. دا حديث د محدثينو جماعت نقل کړې دې.

(۱۰۸۸) وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ مَرَّبِنَا جَنَازَةٌ فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُمْنَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّهَا جَنَازَةُ يَهُوْدِيٍّ قَالَ إِذَا رَأَيْتُمُ الْجَنَازَةَ فَقُوْمُوْا. رَوَاهُ الشَّيْخَانِ.

۱۰۸۸: سيدنا جابر رضي الله عنه فرمائى: په مونږ باندې يو جنازه تيره شوه، رسول الله ﷺ اودريدلو نو

مونږ هم اودریدلو، مونږ عرض اوکړو یا رسول اللهﷺ! دا د یهودی جنازه ده، رسول اللهﷺ اوفرمائیل: چه کله تاسو جنازه وینئ نو اودریږئ. دا حدیث شیخینو نقل کړې دې.

**تشریح>**(١٠٨٧ نه ١٠٨٨ پورې) اول روایت د عامر بن ربیعة (بخاری ج ١ ص ١٧٥ مسلم ج ١ ص ٣١٠) .او دویم روایت **عن جابر بن عبدالله** (بخاری ج ١ ص ١٧٥، مسلم ج ١ ص ٣١٠) کښې د جنازې په احترام او د هغه د ایمان د تعظم د وجې نه د اودریدلو ترغیب ورکړې شوې دې او پکښې دې طرف ته اشاره ده چه په داسې موقع باندې بې پرواه کیدل نه دی پکار بلکه د جنازې په لیدلو باندې بې قرار کیدو څخه اودریدل پکار دی او ترڅو چه جنازه نه وی کیخودلې شوې په زمکه باندې نه دی کیناستل پکار بلکه مړی ته د اوږې ورکولو لپاره د جنازې څخه تلل پکار دی.

بعض حنفی علماء فرمائی چه که د یو سړی د جنازې څخه د تلو اراده نه وی نو د اکثرو علماء کرامو په نزد د هغه لپاره پاسیدل مکروه دی او بعض حضرات فرمائی هغه له اختیار دې که غواړی نو اودې دریږی او که غواړی نو ناست دې وی دغه شان د بعض علماء کرامو دا قول هم دې چه دې دواړو له پاسیدل او کیناستل، مستحب دی. جمهور علماء کرام فرمائی دا حادیث د وړاندې باب د احادیثو خصوصا د علیؓ د روایاتو په بناء منسوخ دی په دې وجه مصنفؒ د وړاندې باب عنوان هم دا قائم کړو.

## بَابُ نَسْخِ الْقِيَامِ لِلْجَنَازَةِ

**(١٠٨٩) عَنْ نَافِعِ بْنِ جُبَيْرٍ اَنَّ مَسْعُوْدَ بْنَ الْحَكَمِ الْاَنْصَارِيَّ اَخْبَرَهُ اَنَّهُ سَمِعَ عَلِيَّ بْنَ اَبِيْ طَالِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَقُوْلُ فِيْ شَاْنِ الْجَنَائِزِ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ ثُمَّ قَعَدَ وَاِنَّمَا حَدَّثَ ذٰلِكَ لِاَنَّ نَافِعَ بْنَ جُبَيْرٍ رَاٰى وَاقِدَ بْنَ عَمْرٍو قَامَ حَتّٰى وُضِعَتِ الْجَنَازَةُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.**

**باب: د جنازې لپاره قیام منسوخ کول:** ١٠٨٩ د نافع بن جبیرؒ نه روایت دې چه مسعود بن الحکم الانصاری ماته خبر راکړو چه هغوی سیدنا علی بن ابی طالبؓ نه د جنازو په باره کښې واوریدل: بیشکه رسول اللهﷺ اودریدلو، بیا کیناستلو او هغوی دا حدیث په دې وجه بیان کړو چه نافع بن جبیر واقد بن عمرو اولیدو چه هغوی (د یوې جنازې لپاره) اودریده تردې چه جنازه کیخودلې شوه. دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

**(١٠٩٠) وَعَنْهُ عَنْ مَسْعُوْدِ بْنِ الْحَكَمِ الزُّرَقِيِّ اَنَّهُ سَمِعَ عَلِيَّ بْنَ اَبِيْ طَالِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ بِرَحْبَةِ الْكُوْفَةِ وَهُوَ يَقُوْلُ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَمَرَنَا بِالْقِيَامِ فِي الْجَنَازَةِ ثُمَّ جَلَسَ بَعْدَ ذٰلِكَ وَاَمَرَنَا بِالْجُلُوْسِ. رَوَاهُ اَحْمَدُ وَالطَّحَاوِيُّ وَالْحَازِمِيُّ فِي النَّاسِخِ وَالْمَنْسُوْخِ وَاِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.**

۱۰۹۰: د مسعود بن الحکم الزرقی نه روایت دې چه هغوی د سیدنا علی رضی الله عنه نه د کوفې په میدان کښې واوریدل: رسول الله ﷺ مونږ ته په جنازه کښې د اودریدلو حکم اوفرمائیلو، بیا د دې نه پس هغوی کیناستل او مونږ ته ئې هم د کیناستلو حکم اوفرمائیلو. دا حدیث احمد، طحاوی او حازمی په الناسخ والمنسوخ کښې نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۱۰۹۱) وَعَنْ اِسْمٰعِيْلَ الزُّرَقِيِّ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ شَهِدْتُ جَنَازَةً بِالْعِرَاقِ فَرَاَيْتُ رِجَالًا قِيَامًا يَنْتَظِرُوْنَ اَنْ تُوْضَعَ وَرَاَيْتُ عَلِيَّ بْنَ اَبِيْ طَالِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يُشِيْرُ اِلَيْهِمْ اَنِ اجْلِسُوْا فَاِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ اَمَرَنَا بِالْجُلُوْسِ بَعْدَ الْقِيَامِ۔ رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ۔

۱۰۹۱: د اسمعیل الزرقی نه روایت دې چه د هغوی والد اوفرمائیل: زه عراق ته د یوې جنازې کولو لپاره حاضر شوم نو ما خلق اولیدل چه هغوی د جنازې د کیخودلو انتظار کولو او ما سیدنا علی رضی الله عنه د هغوی طرف ته په اشاره کولو باندې اولیدو چه کینئ. بیشکه رسول الله ﷺ مونږ ته د اودریدلو نه پس د کیناستلو حکم فرمائیلې دې. دا حدیث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۱۰۹۲) وَعَنْ زَيْدِ بْنِ وَهْبٍ قَالَ تَذَاكَرْنَا الْقِيَامَ اِلَى الْجَنَازَةِ عِنْدَ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَقَالَ اَبُوْ مَسْعُوْدٍ قَدْ كُنَّا نَقُوْمُ فَقَالَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ذٰلِكَ وَاَنْتُمْ يَهُوْدٌ۔ رَوَاهُ الطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

۱۰۹۲: زید بن وهب فرمائی: مونږ د علی رضی الله عنه په خوا کښې د جنازې لپاره اودریدلو کښې بحث اوکړو نو ابوسعید اوفرمائیل: مونږ به هم اودریدلو ؛ نو سیدنا علی رضی الله عنه اوفرمائیل: ته او دوی یهودیان یئ. دا حدیث طحاوی نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

**تشریح**> (۱۰۸۹ نه ۱۰۹۲ پورې) اول روایت عن نافع بن جبیر (مسلم ج ۱ ص ۳۱۰)، دویم روایت ۱۰۹۰ مسند احمد ج ۱ ص ۸۲ دریم روایت ۱۰۹۱ عن اسماعیل الزرقی (طحاوی ج ۱ ص ۳۲۸) او آخری روایات باب عن زید بن وهب (طحاوی ج ۱ ص ۳۲۹) کښې ددې خبرې قطعی ثبوت دې چه قیام للجنازة منسوخ دې.

## بَابٌ فِي الدَّفْنِ وَبَعْضِ اَحْكَامِ الْقُبُوْرِ

(۱۰۹۳) عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا تُوُفِّيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ بِالْمَدِيْنَةِ رَجُلٌ يَلْحَدُ وَاٰخَرُ يَضْرَحُ فَقَالُوْا نَسْتَخِيْرُ رَبَّنَا وَنَبْعَثُ اِلَيْهِمَا فَاَيُّهُمَا سَبَقَ تَرَكْنَاهُ فَاَرْسَلَ اِلَيْهِمَا فَسَبَقَ صَاحِبُ اللَّحْدِ فَلَحَدُوْا لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ۔ رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ وَاٰخَرُوْنَ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ۔

**باب: د دفن او د قبرونو د بعض احکاماتو باره کښې:** ۱۰۹۳ : سیدنا انس بن مالک رضی اللہ عنہ فرمائی : چه کله رسول الله ﷺ وفات شو نو په مدینه منوره کښې به يو سړی (ابو طلحه رضی اللہ عنہ) د لحد والا قبر جوړولو او بل سړی (ابو عبیده رضی اللہ عنہ) به صندوقی قبر جوړولو. نو صحابه کرامو رضی اللہ عنہم اوفرمائیل : مونږ د خپل رب نه خیر طلب کوو او د دواړو طرف ته پیغام لیږو چه کوم هم په دوی کښې اول راغلو نو مونږ به هغه کار ته پریږدو، هغوی د دواړو طرف ته پیغام اولیږلو، نو د لحد والا قبر جوړونکې مخکښې راغلو، نو صحابه کرامو رضی اللہ عنہم د رسول الله ﷺ لپاره د لحد والا قبر جوړ کړو.

دا حدیث ابن ماجة او نورو محدثینو نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۱۰۹۴) وَعَنْ أَبِيْ إِسْحٰقَ أَوْصَى الْحَارِثُ أَنْ يُّصَلِّيَ عَلَيْهِ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يَزِيْدَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَصَلّٰى عَلَيْهِ ثُمَّ أَدْخَلَهُ الْقَبْرَ مِنْ قِبَلِ الرِّجْلِ وَقَالَ هٰذَا مِنَ السُّنَّةِ. رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ وَالطَّبَرَانِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ وَقَالَ إِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

۱۰۹۴ : د ابو اسحق نه روایت دې چه حارث رحمہ اللہ وصیت اوکړو چه زما جنازه دې عبد الله بن یزید رضی اللہ عنہ اوکړی نو هغوی د حارث جنازه اوکړه، بیا ئې هغوی د خپو د طرف نه قبر ته داخل کړو، او وې فرمائیل : دا سنت دی !!!.

دا حدیث ابوداؤد، طبرانی او بیهقی نقل کړې دې او بیهقی وائی د دې اسناد صحیح دې.

(۱۰۹۵) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُوْ بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَعُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَعُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يُدْخِلُوْنَ الْمَيِّتَ قِبَلَ الْقِبْلَةِ رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْكَبِيْرِ وَفِيْ إِسْنَادِهٖ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ خِرَاشٍ وَثَّقَهُ ابْنُ حِبَّانَ وَضَعَّفَهُ جَمَاعَةٌ.

۱۰۹۵ : سیدنا ابن عباس رضی اللہ عنہما فرمائی : رسول الله ﷺ، ابوبکر صدیق او عمر فاروق رضی اللہ عنہما به مړې د قبلې د طرف نه داخلولو. دا حدیث طبرانی په کبیر کښې نقل کړې دې او د دې په اسناد کښې عبد الله بن خراش دې، ابن حبان هغه ته ثقة او يو جماعت ورته ضعیف وئیلې دې.

(۱۰۹۶) وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّهٗ أَدْخَلَ يَزِيْدَ بْنَ الْمُكَفَّفِ مِنْ قِبَلِ الْقِبْلَةِ رَوَاهُ عَبْدُ الرَّزَّاقِ وَأَبُوْ بَكْرِ بْنُ أَبِيْ شَيْبَةَ وَصَحَّحَهُ ابْنُ حَزْمٍ فِي الْمُحَلّٰى.

۱۰۹۶ : د سیدنا علی رضی اللہ عنہ نه روایت دې چه هغوی یزید بن المکفف د قبلې د طرف نه قبر ته داخل کړو. دا حدیث عبدالرزاق او ابوبکر بن ابی شیبة نقل کړې دې، ابن حزم په محلی کښې دې ته صحیح وئیلې دې.

(۱۰۹۷) وَعَنْ أَبِيْ إِسْحَاقَ قَالَ شَهِدْتُ جَنَازَةَ الْحَارِثِ فَمَدُّوْا عَلٰى قَبْرِهٖ ثَوْبًا فَجَبَذَهٗ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يَزِيْدَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَقَالَ إِنَّمَا هُوَ رَجُلٌ رَوَاهُ ابْنُ أَبِيْ شَيْبَةَ وَإِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

۱۰۹۷: ابو اسحق فرمائی: زه د حارث په جنازه کښې حاضر شوم خلقو په هغه باندې کېږه خوره کړه نو عبدالله بن یزید رضی الله عنه هغه راښکله او وې فرمائیل: دا سرې دې. دا حدیث ابن ابی شیبة نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

(۱۰۹۸) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا وُضِعَ الْمَيِّتُ فِي الْقَبْرِ قَالَ بِسْمِ اللّٰهِ وَعَلٰى سُنَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَاٰخَرُوْنَ وَصَحَّحَهُ ابْنُ حِبَّانَ.

۱۰۹۸: د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دې چه رسول الله ﷺ به کله مړې قبر ته داخلولو نو دا دعا به ئې فرمائیله: بِسْمِ اللّٰهِ وَعَلٰى سُنَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

د الله پاک په نوم او د رسول الله ﷺ په سنت باندې (دا مړې په قبر کښې ږدم).

دا حدیث ابوداؤد او نورو محدثینو نقل کړې دې او ابن حبان ورته صحیح وئیلې دې.

(۱۰۹۹) وَعَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدِ بْنِ اَبِيْ وَقَّاصٍ اَنَّ سَعْدَ بْنَ اَبِيْ وَقَّاصٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ فِيْ مَرَضِهِ الَّذِيْ هَلَكَ فِيْهِ اِلْحَدُوْا لِيْ لَحْدًا وَانْصِبُوْا عَلَيَّ اللَّبِنَ نَصْبًا كَمَا صُنِعَ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَاٰخَرُوْنَ.

۱۰۹۹: د عامر بن سعد بن ابی وقاص نه روایت دې چه سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه په خپله هغه بیمارئ کښې په کومه کښې چه وفات شو اوفرمائیل: زما لپاره لحد جوړ کړئ او په ما باندې کچه ښختې کیږدئ لکه چه د رسول الله ﷺ ښخه کړې شوې وو. دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

(۱۱۰۰) وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلّٰى عَلٰى جَنَازَةٍ ثُمَّ اَتٰى قَبْرَ الْمَيِّتِ فَحَثٰى عَلَيْهِ مِنْ قِبَلِ رَأْسِهِ ثَلَاثًا. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ وَابْنُ اَبِيْ دَاوُدَ وَصَحَّحَهُ.

۱۱۰۰: د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ په یو مړی باندې جنازه اوکړه، بیا هغوی د مړی په قبر باندې تشریف راوړلو نو د هغه د سر د طرف نه ئې په هغې کښې درې لپې خاوره واچوله.

دا حدیث ابن ماجة او ابن ابی داؤد نقل کړې دې او ابن ابی داؤد ورته صحیح وئیلې دې.

(۱۱۰۱) وَعَنِ الْقَاسِمِ قَالَ دَخَلْتُ عَلٰى عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا فَقُلْتُ يَا اُمَّهْ اِكْشِفِيْ لِيْ عَنْ قَبْرِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَاحِبَيْهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا فَكَشَفَتْ لِيْ عَنْ ثَلَاثَةِ قُبُوْرٍ لَا مُشْرِفَةٍ وَّلَا لَاطِئَةٍ مَبْطُوْحَةٍ بِبَطْحَاءِ الْعَرْصَةِ الْحَمْرَاءِ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَاٰخَرُوْنَ وَفِيْ اِسْنَادِهِ مَسْتُوْرٌ.

۱۱۰۱: قاسم وائی: زه د ام المومنین عائشې رضی الله عنها په خدمت کښې حاضر شوم ما اووې ! اې مور جانې ! د رسول الله ﷺ او د هغوی د دواړو صحابه کرامو رضی الله عنهما قبرونه زما لپاره پرانیزئ، یعنی

حجرة مبارکه کهلاؤ کړئ، چه زه د قبرونو زیارت اوکړم شم. نو هغوی زما لپاره درې واړه قبرونه پرانستل، نه هغه قبرونه زیات اوچت وو او نه بالکل د زمکې څخه برابر وو. د میدان سرۀ کانړی په هغې باندې پراتۀ وو. دا حدیث ابوداؤد او نورو محدثینو نقل کړې دې او د دې په سند کښې مستور الحال (راوی) دې.

(۱۱۰۲) وَعَنْ سُفْيَانَ التَّمَّارِ اَنَّهٗ رَاٰى قَبْرَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسَنَّمًا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

۱۱۰۲: د سفیان التمار رحمه الله نه روایت دې چه هغوی د رسول الله ﷺ قبر اطهر د قب (په شان) جوړ کړې شوې اولیدو. دا حدیث بخاری نقل کړې دې.

(۱۱۰۳) وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ اَبِيْهِ اَنَّ الرَّشَّ عَلَى الْقَبْرِ كَانَ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَوَاهُ سَعِيْدُ بْنُ مَنْصُوْرٍ وَّالْبَيْهَقِيُّ وَاِسْنَادُهٗ مُرْسَلٌ قَوِيٌّ.

۱۱۰۳: جعفر بن محمد رحمه الله د خپل پلار نه روایت کوی چه په قبر باندې اوبه چړکاؤ کول د رسول الله ﷺ په زمانه کښې وو. داحدیث سعیدبن منصور او بیقهی نقل کړې دې او د دې سند مرسل قوی دې.

(۱۱۰۴) وَعَنْهُ عَنْ اَبِيْهِ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَشَّ عَلٰى قَبْرِ ابْنِهٖ اِبْرَاهِيْمَ وَوَضَعَ عَلَيْهِ حَصْبَآءَ. رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ وَاِسْنَادُهٗ مُرْسَلٌ جَيِّدٌ.

۱۱۰۴: جعفر بن محمد د خپل پلار نه روایت کوی چه رسول الله ﷺ د خپل ځوی ابراهیم رضی الله عنه په قبر باندې اوبه چړکاؤ کړې او په هغې باندې ئې کانړی کیخودل. دا حدیث شافعی نقل کړې دې او د دې اسناد مرسل جید دې.

(۱۱۰۵) وَعَنْهُ عَنْ اَبِيْهِ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَشَّ عَلٰى قَبْرِهِ الْمَآءَ وَوَضَعَ عَلَيْهِ حَصْبَاءً مِّنْ حَصْبَاءِ الْعَرْصَةِ وَرَفَعَ قَبْرَهٗ قَدْرَ شِبْرٍ. رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ وَهُوَ مُرْسَلٌ.

۱۱۰۵: جعفر بن محمد دخپل پلار نه روایت کوی چه رسول الله ﷺ د هغوی (ابراهیم رضی الله عنه) په قبر باندې اوبه چړکاؤ کړې او په هغې باندې ئې د میدان د کانړو نه څه کانړی کیخودل او د هغوی قبر ئې یو لیشت اوچت کړو. دا حدیث بیهقی نقل کړې دې او د دې اسناد مرسل دې.

(۱۱۰۶) وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يُّجَصَّصَ الْقَبْرُ وَاَنْ يُّقْعَدَ عَلَيْهِ وَاَنْ يُّبْنٰى عَلَيْهِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

۱۱۰۶: سیدنا جابر رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ د قبرونو د پخولو، په هغې باندې د کیناستلو او په هغې باندې د آبادی (گنبد وغیره) جوړولو نه منع فرمائیلې ده. دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

(۱۱۰۷) وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا فَرَغَ مِنْ دَفْنِ الْمَيِّتِ وَقَفَ عَلَيْهِ فَقَالَ اسْتَغْفِرُوْا لِاَخِيْكُمْ وَاسْاَلُوْا لَهُ بِالتَّثْبِيْتِ فَاِنَّهُ الْاٰنَ يُسْاَلُ۔ رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَصَحَّحَهُ الْحَاكِمُ۔

۱۱۰۷ : سیدنا عثمان بن عفان ﷛ فرمائي : رسول الله ﷺ چه به کله د مړي د دفن کولو نه فارغ شو نو د هغه په قبر باندې اودریدلو څخه به ئې فرمائیل : د خپل رور لپاره استغفار اوکړئ او ورله د ثابت قدم اوسیدو دعا اوکړئ، بیشکه د هغه نه به اوس پوښتنه کولې شی.

دا حدیث ابو داؤد نقل کړې دې او حاکم ورته صحیح وئیلې دې.

(۱۰۹۳ نه ۱۱۰۷) : اول روایت عن انس بن مالک (ابن ماجة ص ۱۱۳) نه معلومه شوه چه د لحد والا قبر اولی دې خو د شق والا قبر هم مشروع دې ځکه چه داسې قبر به ابوعبیدة بن الجراح ﷛ جوړولو لو هغه د ډیر عظمت او فضیلت مالک صحابی دې په عشرة مبشرة کښې دې که داسې قبر کنستل مشروع نه وې نو ابوعبیده ﷛ به ولې کنستلو.

**مړی لره قبر ته د کوزولو طریقه:** روایت ۱۰۹۴ عن ابي اسحق (ابوداؤد ج ۲ ص ۱۰۲، بيهقی ج ٤ ص ٥٤) او روایت ۱۰۹۵ عن ابن عباس (المعجم للطبراني ج ۱۱ ص ۸۱) او روایت ۱۰۹۶ وعن علي (مصنف عبدالرزاق ج ۳ ص ٤٤٩) کښې په قبر کښې د مړی د کوزولو مسئله بیان کړې شوې ده. مړې دې قبر ته د قبلې د طرف نه کوز کړې شی یا د خپو د طرف نه د دې په جواز کښې هیڅ اختلاف نشته دواړه جائز دی خو صرف په افضلیت کښې اختلاف دې.

۱: د احنافو په نزد د قبلې د طرف نه کوزول غوره دی یعنی د جنازې کټ دې د قبلې طرف ته کیخودلې شی بیا دې د قبلې د طرف نه لحد ته کوز کړې شی په دې صورت کښې به د مړی اخستل هم قبلې ته د مخ کولو په حالت کښې وی، امام مالک ﷬ هم د دې قائل دې.

۲: د امام شافعي او احمد ﷭ په نزد د خپو د طرف نه کوزول افضل دی د ابواسحق رویت ۱۰۹۴ د هغوی مستدل دې او د ابن عباس ﷟ روایت ۱۰۹۵ اود علی ﷛ روایت ۱۰۹۲ د احنافو مستدل دې.

روایت نمبر ۱۰۹۸ عن ابن عمر (ابوداؤد ج ۲ ص ۱۰۲) کښې د مړی په قبر کښې د کیخودلو په وخت دعا ښوْدلې شوې ده. روایت ۱۰۹۹ عن عامر بن سعد بن ابي وقاص (مسلم ج ۱ ص ۳۱۱) کښې د لحد او په لحد باندې د کچه ښختو کیخودلو تعلیم دې چه د رسول الله ﷺ په قبر مبارک باندې کچه ښختې کیخودلې شوې وې.

**په قبر باندې خاورې اچول:** روایت ۱۱۰۰ عن ابي هريرة (ابن ماجة ص ۱۱۳، تلخيص الخبير ج ۲ ص ۱۳۱)

كښې د رسول الله ﷺ پخپله په قبر باندې د خاورې اچولو معمول نقل کړې شوې دې.

امام احمد رحمه الله په ضعيف سند څخه نقل کړې دی چه رسول الله ﷺ به په قبر باندې داسې خاوره اچوله چه کله به ئې رومبئ لپه اچوله نو او به ئې فرمائيل: ﴿ منها خلقنكم ﴾ او چه کله به ئې دويمه لپه واچوله نو او به ئې فرمائيل ﴿ وفيها نعيدكم ﴾ او هم دغه شان به ئې چه کله دريمه لپه واچوله نو دا به ئې اوفرمائيل: ﴿ ومنها نخرجكم تارة اخرى ﴾.

سيدنا انس بن مالک رضي الله عنه فرمائی چه کوم خلق د جنازې څخه قبر ته لاړ شی د هغوی لپاره سنت ده چه کله لحد يا شق بند کړې شی نو هغوی دې يو موټې خاوره په قبر باندې واچوی هم دغه شان چه کله قبر ډک شی او دپاسه پرې خاوره برابر کړې شی نو په قبر باندې اوبه چړکاؤ کول سنت دی.

**يو قصه**: نقل شوې دی چه يو سړې وفات شو نو هغه چا په خوب کښې اوليدو او پوښتنه ئې اوکړه چه الله پاک تا څخه څه معامله اوکړه؟ هغه اووې چه کله ئې زما نيکئ او ګناهونه وزن کړل نو بدئ مې د نيکو نه زياتې شوې، ناڅاپه يو تهيلئ د نيکو په چاړې کښې راپريوتله چه د هغې په وجه باندې د نيکو تله درنه شوه، ما چه کله هغه تهيلئ پرانستله نو څه ګورم چه په هغې کښې يو موټې خاوره وه کومه چه ما د يَو مسلمان په قبرباندې اچولې وه«دغه شان زما دا نيکی زما په کار راغله».

**مسئلة القبر**: روايت ۱۱۰۱ **وعن القاسم** (ابوداؤد ج ۲ ص ۱۰۳) او روايت ۱۱۰۲ کښې **عن سفيان التمار** (بخاری ج ۱ ص ۱۸۶) کښې قبرونو د وجود بيان دې چه د رسول الله ﷺ او صاحبين قبرونه نه زيات لوړ وو او نه زمکې څخه برابر.

د دې رواياتو نه معلومه شوه چه قبر د يو حده پورې اوچتول جائز دی خو د يو ليشت نه زيات لوړ قبر مکروه دی او کوم قبر چه د دې نه زيات اوچت وی نو د هغې تر يو ليشت پورې ښکته کول مستحب دی او د ترمذی په روايت ﴿ لا تدع قبرا مشرفا الا سويته ﴾ هم په دې باندې محمول دې. ځکه چه د جاهليت په زمانه کښې به هغه خلقو په قبرونو باندې باقاعده آبادئ جوړولې. او هغه به ئې ډير زيات لوړول په دې وجه رسول الله ﷺ د دې نه منع اوفرمائيله لهذا په دې روايت کښې د ﴿ تسوية ﴾ نه مراد بالکل د زمکې څخه برابرول نه دی لکه چه بعض اهل ظاهر ترې فهم کړې ده.

روايت ۱۱۰۳ **عن جعفر بن محمد عن ابيه** (بيهقی ج ۳ ص ۴۱۱) کښې په قبر باندې د اوبو د چړکاؤ روايت ۱۱۰۴ **عن جعفر بن محمد عن ابيه** (مسند الشافعی ج ۱ ص ۲۱۵) په قبر باندې د کاڼړو کيخودلو، روايت ۱۱۰۵ **عن جعفر بن محمد عن ابيه** (بيهقی ج ۳ ص ۴۱۱) کښې قبر د يو ليشت په

اندازه د اوچت جوړولو تعلیم دې روایت ۱۱۰۲ عن جابر (مسلم ج ۱ ص ۳۱۳) کښې قبرونو لره د پوخ جوړولو او په هغې باندې کیناستلو او تکیه لګولو نه منع کړې شوې ده او د باب آخرې روایت ۱۱۰۷ عن عثمان کښې د مړی لپاره د استغفار او دعا تلقین دې.

## بَابُ قِرَآءَةِ الْقُرْاٰنِ لِلْمَيِّتِ

(۱۱۰۸) عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ الْعَلَاءِ بْنِ اللَّجْلَاجِ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ: قَالَ لِيْ اَبِي اللَّجْلَاجُ اَبُوْ خَالِدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَا بُنَيَّ اِذَا اَنَا مِتُّ فَالْحَدْ لِيْ فَاِذَا وَضَعْتَنِيْ فِيْ لَحْدِيْ فَقُلْ بِسْمِ اللّٰهِ وَعَلٰى مِلَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ سُنَّ عَلَيَّ التُّرَابَ سَنًّا ثُمَّ اقْرَاْ عِنْدَ رَاْسِيْ بِفَاتِحَةِ الْبَقَرَةِ وَخَاتِمَتِهَا فَاِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ ذٰلِكَ رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْمُعْجَمِ الْكَبِيْرِ وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ.

**باب: د مړی لپاره قرآن کريم لوستل:** ۱۱۰۸: عبدالرحمٰن بن العلاء بن اللجاج د خپل پلار نه بیان کوی چه ماته زما پلار لجلاج ابو خالد اوفرمائیل: اې زما بچیه! چه کله زه مړ شم نو زما لپاره د لحد والا قبر جوړ کړه چه کله ما په لحد کښې کیږدې نو ﴿بسم الله وعلى ملة رسول الله ﷺ﴾ اوایه بیا په ما باندې خاورې برابر کړه، بیا زما د سر څخه د سورة البقرة ابتدائی او آخری آیتونه اولوله، بیشکه ما د رسول الله ﷺ نه دا لوستل اوریدلې دی. دا حدیث طبرانی په معجم الکبیر کښې نقل کړې دې او د دې اسناد صحیح دې.

۱۱۰۸ عن عبدالرحمٰن بن ابی العلاء (مجمع الزوائد ج ۳ ص ٤٤) کښې د مړی په قبر کښې د کیخودلو او د خاورې د اچولو نه پس د فاتحة الکتاب (الم... نه تر...هم المفلحون... پورې) او د ﴿لله ما فی السموات﴾ نه تر آخر د سورة پورې د لوستلو تلقین دې.

## بَابٌ فِيْ زِيَارَةِ الْقُبُوْرِ

(۱۱۰۹) عَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُنْتُ نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُوْرِ فَزُوْرُوْهَا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

**باب: د قبرونو د زیارت په باره کښې:** ۱۱۰۹: سیدنا بریده رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: ما تاسو د قبرونو د زیارت نه منع کړې وئ، نو اوس د هغې زیارت کوئ. دا حدیث مسلم نقل کړې دې.

(۱۱۱۰) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ كَيْفَ اَقُوْلُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ قُوْلِيْ اَلسَّلَامُ عَلٰى اَهْلِ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَيَرْحَمُ اللّٰهُ الْمُسْتَقْدِمِيْنَ مِنَّا وَالْمُسْتَاْخِرِيْنَ وَاِنَّا اِنْ شَآءَ اللّٰهُ بِكُمْ لَلَاحِقُوْنَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

۱۱۱۰: ام المومنین سیده عائشه رضی الله عنها عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ! قبرستان د تلو په وخت زه څه

اووايم؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل : ته داسې وايه: اَلسَّلَامُ عَلٰى اَهْلِ الدِّيَارِ مِنَ الْمُوْءمِنِيْنَ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَيَرْحَمُ اللّٰهُ الْمُسْتَقْدِمِيْنَ مِنَّا وَالْمُسْتَاخِرِيْنَ وَاِنَّا اِنْ شَآءَ اللّٰهُ بِكُمْ لَلَاحِقُوْنَ.

«د دې كور والا مومنانو او مسلمانانو باندې دې سلام وى !!! الله پاک دې په مونږ کښې په مخکښې تلونکو او روستو راتلونکو باندې رحم اوکړی، او بيشکه مونږ به هم که الله پاک اوغوښتلو نو تاسو څخه ضرور ملاويږو» دا حديث مسلم نقل کړې دې.

(١١١١) وَعَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَلِّمُهُمْ اِذَا خَرَجُوْا اِلَى الْمَقَابِرِ اَنْ يَقُوْلَ قَآئِلُهُمْ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ اَهْلَ الدِّيَارِ مِنَ الْمُوْئمِنِيْنَ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَاِنَّا اِنْ شَآءَ اللّٰهُ بِكُمْ لَلَاحِقُوْنَ نَسْئَلُ اللّٰهَ لَنَا وَلَكُمُ الْعَافِيَةَ. رَوَاهُ اَحْمَدُ وَمُسْلِمٌ وَّابْنُ مَاجَةَ.

١١١١: سيدنا بريدة رضي الله عنه فرمائى : رسول الله ﷺ به صحابه کرامو رضي الله عنهم ته تعليم ورکولو چه کله هغوى قبرستان ته لاړ شى نو دا دعا دې اوکړى.

اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ اَهْلَ الدِّيَارِ مِنَ الْمُوْئمِنِيْنَ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَاِنَّا اِنْ شَآءَ اللّٰهُ بِكُمْ لَلَاحِقُوْنَ نَسْئَلُ اللّٰهَ لَنَا وَلَكُمُ الْعَافِيَةَ. «اې د دې کور اوسيدونکو مومنانو او مسلمانانو! په تاسو باندې دې سلام وى مونږ هم انشاء الله تاسو څخه ضرور ملاويدونکې يو مونږ د خپل ځان او ستاسو لپاره د الله پاک نه عافيت طلب کوو. دا حديث احمد او ابن ماجة نقل کړې دې.

**تشريح**> «١١٠٩ نه ١١١١ پورې» د باب ړومبې روايت عن بريدة (مسلم ج ١ ص ٣١٤) کښې د منع نه پس د زيارت القبور اجازت دې. په شروع شروع کښې چه کله توحيد پوره طريقې څخه د عام مسلمانانو په زړونو کښې راسخ شوې نه وو او د هغوى د شرک او جاهليت نه وتلو باندې لږه زمانه تيره شوې وه، رسول الله ﷺ قبرونو ته د تلو نه منع فرمائيلې وه، ځکه چه په دې څخه د هغه خلقو په شرک او قبرپرستئ کښې د اخته کيدو ويره وه. بيا چه کله د امت توحيدى مزاج کلک شو او د هر قسم جلى او خفى شرک نه د زړونو نفرت زيات شو او قبرونو باندې تلو ته د شرک جراثيم بيا پيدا کيدلو ويره ختمه شوه نو رسول الله ﷺ د دې اعلان په ذريعه قبرونو ته د تلو اجازت ورکړو او دا ئې هم واضحه کړه چه دا اجازت په دې وجه ورکولې شى چه هغه د دنيا نه بې رغبتى او د آخرت ياد او فکر په زړونو کښې د پيدا کيدو ذريعه ده. د دې حديث نه د شريعت دا بنيادى اصول معلوم شو چه که په يو کار کښې د خير او نفع څه اړخ دې هغې څخه د لوئې ضرر ويره هم ده نو د هغه ويرې د وجې نه د خير د اړخ نه نظر اړولو څخه به دهغې نه ممانعت کولې شى. خو که يو وخت په حالاتو کښې داسې تبديلى پيدا شى چه د ضرر هغه ويره باقى پاتې نه شى نو بيا به د هغې اجازت ورکولې شى.

او روایت ۱۱۱۰ عن عائشة (مسلم ج ۱ ص ۳۱٤) او روایت ۱۱۱۱ عن بریدة کښي په قبرستان کښي د حاضریدلو په وخت د دعاګانو تلقین دې.

په دې دواړو احادیثو کښې په قبر والو باندې د سلام او دعا چه کوم کلمات راغلی دی چه په هغې کښې صرف د الفاظو معمولی شان فرق دې په هغې کښې د هغوی لپاره بس د سلام او دعا چه کوم کلمات راغلی دی چه په هغې کښې صرف د الفاظو معمولی شان فرق دې. په هغې کښې د هغوی لپاره بس سلام او دعاء د مغفرت ده، او ورځخه د خپل مرګ یاد دې. معلومه شوه چه هم دا دواړه څیزونه یو قبر ته د تلو اصل مقصد کیدل پکار دی، او صحابه کرام او د هغوی د تابعین بالاحسان هم دا طریقه وه. الله پاک دې مونږ د رسول الله ﷺ په طریقه قائم اوساتی او هم په دې دې مونږ اوچت کړی.

## بَابٌ فِيْ زِيَارَةِ قَبْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

(۱۱۱۲) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ زَارَ قَبْرِيْ وَجَبَتْ لَهٗ شَفَاعَتِيْ. رَوَاهُ ابْنُ خُزَيْمَةَ فِيْ صَحِيْحِهٖ وَالدَّارَقُطْنِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ وَاٰخَرُوْنَ وَاِسْنَادُهٗ حَسَنٌ.

**باب: د رسول الله ﷺ د روضه مبارکه په زیارت کښې:** ۱۱۱۲: سیدنا ابن عمر رضي الله عنهما فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: کوم سړی چه زما د قبر زیارت اوکړو هغه لپاره زما شفاعت لازم شو، دا حدیث ابن خزیمه په خپل صحیح کښې، دارقطنی او بیهقی او نورو محدثینو نقل کړې دې او د دې اسناد حسن دې.

(۱۱۱۳) وَعَنْ اَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ اِنَّ بِلَالًا رَاٰى فِيْ مَنَامِهٖ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَقُوْلُ لَهٗ مَا هٰذَا الْجَفْوَةُ يَا بِلَالُ اَمَا اٰنَ لَكَ اَنْ تَزُوْرَنِيْ يَا بِلَالُ فَانْتَبَهَ فَانْتَبَهَ حَزِيْنًا وَّجِلًا خَآئِفًا فَرَكِبَ رَاحِلَتَهٗ وَقَصَدَ الْمَدِيْنَةَ فَاَتٰى قَبْرَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلَ يَبْكِيْ عِنْدَهٗ وَيُمَرِّغُ وَجْهَهٗ عَلَيْهِ فَاَقْبَلَ الْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا يَضُمُّهُمَا فَقَالَا لَهٗ نَشْتَهِيْ نَسْمَعُ اَذَانَكَ الَّذِيْ كُنْتَ تُؤَذِّنُ بِهٖ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ فَفَعَلَ فِعْلًا سَطْحَ الْمَسْجِدِ فَوَقَفَ مَوْقِفَهُ الَّذِيْ كَانَ يَقِفُ فِيْهِ فَلَمَّآ اَنْ قَالَ اللّٰهُ اَكْبَرُ اللّٰهُ اَكْبَرُ ارْتَجَّتِ الْمَدِيْنَةُ فَلَمَّا اَنْ قَالَ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اِزْدَادَ رَجَّتُهَا فَلَمَّآ اَنْ قَالَ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهِ خَرَجَتِ الْعَوَاتِقُ مِنْ خُدُوْرِهِنَّ وَقَالُوْا اَبُعِثَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَا رُاٰى يَوْمًا اَكْثَرَ بَاكِيًا وَّلَا بَاكِيَةً بِالْمَدِيْنَةِ بَعْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ ذٰلِكَ الْيَوْمِ. رَوَاهُ ابْنُ عَسَاكِرَ وَقَالَ التَّقِيُّ السُّبْكِيُّ اِسْنَادُهٗ جَيِّدٌ.

۱۱۱۳: سیدنا ابو الدرداء رضي الله عنه فرمائی: بیشکه بلال رضي الله عنه په خپل خوب کښې رسول الله ﷺ اولیدو

چه هغه ته ئي اوفرمائيل : اي بلال ! دا څه زياتي دي؟ ايا تا باندې هغه وخت نه دې راغلې چه ته زما زيارت اوکړې. اي بلال ! نو بلال رضي الله عنه غمژن او ويريدلې راويخ شو، پس هغوی په خپله سورلئ باندې سوريدلو څخه د مدينې طيبې اراده اوکړه، د رسول الله ﷺ قبر شريف ته راغلو، نو هغې څخه ئې ژړا شروع کړه او خپل مخ ئې په هغې باندې مږلو. سيدنا حسن او حسين رضي الله عنهما راغلل نو هغوی څخه ئې معانقه شروع کړه او هغوی ئې ښکلول. هغوی دواړو بلال رضي الله عنه ته اوفرمائيل : مونږ ستاسو آذان اوريدل غواړو کوم چه به تاسو د رسول الله ﷺ په مسجد کښې کولو، هغوی (قبوله) کړه نو د مسجد چهت نه ختلو څخه په هم هغه ځائې باندې اودريدلو، چيرته چه به مخکښې اودريدلو. چه کله هغوی ﴿ الله اکبر الله اکبر ﴾ اووې، نو مدينه طيبة (کښې د ژړا د وجې نه) شور شو. بيا چه کله هغوی ﴿ اشهد ان لا اله الا الله ﴾ اووې نو شور نور هم زيات شو، بيا ئې چه کله ﴿اشهد ان محمدا رسول الله ﴾ اووې نو زنانه د پردو نه راوتلې او خلقو اووې : آيا رسول الله ﷺ راژوندې شو؟ د رسول الله ﷺ نه پس چا هم په مدينه منوره کښې د دې ورځې نه زياته لويه ورځ د سړو او زنانو د ژړا په اعتبار څخه نه ده ليدلې.دا حديث ابن عساکر نقل کړې دې، تقي السبکی وائی د دې سند جيد دې.

**تشريح**>(١١١٢ نه ١١١٣ پورې) د باب اول روايت د ابن عمر رضي الله عنهما نه مروی دې کوم چه په سنن بيهقی ج٣ ص٤٩٠، دارقطنی ج ٢ ص ٢٧٨ کښې نقل کړې شوې دې چه په هغې کښې د روضه مطهره د زائر لپاره بشارت دې رسول الله ﷺ اوفرمائيل چاچه زما د قبر زيارت اوکړو د هغه لپاره زما شفاعت واجب شو.

**زيارت د روضهٔ مطهره**: د پخوا زمانې نه د امت دا تعامل راروان دې خاص کر د لرې لرې علاقو مسلمانان چه کله حج ته ځی نو د روضه پاک زيارت او هلته د صلاة او سلام سعادت هم ضرور حاصلوی. هم په دې وجه د حديث په ډيرو مجموعو کښې د کتاب الحج په آخره کښې هم د زيارت نبوی ﷺ احاديث تير شوې دی، هم د دې دستور تابعداری کولو څخه مصنف رحمه الله هم دا سلسله دتصنيف د زيارت نبوی په احاديثو باندې ختمه کړه.

په يو حديث کښې دی : عَنْ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَجَّ فَزَارَ قَبْرِیْ بَعْدَ مَوْتِیْ کَانَ کَمَنْ زَارَنِیْ فِیْ حَيَاتِیْ ـــــ رواه البيهقی فی شعب الايمان ولاطبرانی فی الکبير والاوسط۔

**ترجمه** : د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چا چه حج اوکړو او د هغې نه روستو ئې زما د قبر زيارت اوکړو زما د وفات نه پس، نو هغه (د زيارت د سعادت په حاصلولو کښې) د هم هغه خلقو په شان دې چا چه زما په حيات کښې زما زيارت اوکړو.

د رسول الله ﷺ په خپل قبر مبارک کښې بلکه د ټولو انبياء کرامو عليهم السلام په خپلو منور قبرونو کښې

ژوندی کیدل د امت د مسلم (عقائدو) نه ده، اگر چه د حیات په نوعیت کښې اختلاف دې، او روایاتو او د خواص امت د تجرباتو نه هم دا ثابته ده چه کوم امتی په قبر مبارک باندې حاضریدلو څخه سلام عرض کوی رسول الله ﷺ د هغوی سلام اوری او ځواب ورکوی، په داسې صورت کښې د وفات نه پس د هغوی په قبر باندې حاضریدل او سلام عرض کول یو قسم د هغوی په خدمت کښې حاضریدل او بالمشافه د سلام د شرف حاصلولو یو صورت دې، او بیشکه داسې یو سعادت دې چه اهل ایمان په هر قیمت د هغې د حصول کوشش اوکړی. عَنْ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ زَارَ قَبْرِيْ وَجَبَتْ لَهُ شَفَاعَتِيْ. (رواه ابن خزيمة في صحيحه والدارقطني والبيهقي)

**ترجمه:** د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: چاچه زما د قبر زیارت اوکړو د هغه لپاره زما شفاعت واجب شو. (صحیح ابن خزیمة، سنن دارقطني، شعب الایمان للبیهقي)

یو امتی ته د رسول الله ﷺ محبت د الله پاک نه سوا د دنیا د هر څیز (تردې چه د مور او پلار، خپل خپلوانو او د خپل ذات نه هم) زیات نه وی تر هغه وخته پورې هغه د ایمان حقیقت او خوند نه شی حاصلولې. او د روضه اقدس نبوی ﷺ زیارت بیشکه د دې محبت په لازمی تقاضو کښې دې، او ګویا د دې یو عملی صورت دې. عربی شاعر وئیلې دی!

امر على الدّيار ديار ليلیٰ اقبل ذا الجدار ذالجدارا

.وما حب الديار شغفن قلبي ولكن حب من سكن الديارا

"زه چه کله د خپلې محبوبې لیلې په کورونو تیریږم نو کله هغه دیوال ښکلوم او کله دا دیوال، او اصل کښې ددې کلی د کورونو محبت زما زړه لیونې کړې نه دې بلکه زه خو په دې کورونو کښې اوسیدونکی محبوب باندې فدا یم".

شیخ تقی الدین السبکی شافعی رحمه الله په خپله رسالة شفاء السقام کښې (کومه چه هغوی د خپل خیال مطابق د حافظ ابن تیمیة په رد کښې لیکلې ده) د زیارت روضه مطهره په فضیلت او ترغیب کښې ډیر احادیث نقل کړی دی چه په هغې کښې د ټولو نه اول هم دا د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما حدیث دې ﴿ من زار قبري وجبت له شفاعتي ﴾ بیا شیخ سبکی د دې سند او ددې په متعدد طرق باندې بسیط کلام کولو څخه ثابت کړې ده چه دا حدیث کم از کم د حسن درجې ضرور دې. د حافظ ابن تیمیة رحمه الله یو شاګرد حافظ ابوعبدالله عبدالهادی حنبلی رحمه الله د شفاء السقام په ځواب الصارم المنکی کښې د شفاء السقام په لیکلې شوې ټولو احادیثو باندې محدثانه کلام کولو څخه ښودلې ده چه دا احادیث ضعیف یا منکر دی. خو د دې باوجود هغوی تسلیم کړې ده چه د قبر نبوی ﷺ زیارت قربات، مستحبات او سبب د برکاتو دې. او لیکلې ئې دی چه زمونږ د شیخ امام ابن تیمیة

مسلک هم دا دې، او کوم خلق چه د هغوی طرف ته د دې خلاف منسوب کوی هغوی په شیخ باندې افتراء کوی. بلکه هغوی د ابن تیمیه‌رحمه‌الله د مناسک حوالې څخه د زیارت نبوی ﷺ پوره آداب او توقیر نه ډک ایمان افروز یو سلام هم نقل کړې دې، کوم چه حافظ ابن تیمیه‌رحمه‌الله د زائرینو لپاره لیکلې دې. د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما د پورته ذکر شوی حدیث د سندی حیثیت متعلق معتدل رائې د حافظ ذهبی‌رحمه‌الله معلومیږی، ملا علی قاری‌رحمه‌الله په شرح شفاء کښې د دې حدیث په باره کښې لیکلې دی: ﴿وله طرق وشواهد حسنه الذهبی لاجلها﴾ ددې حدیث ډیر طرق او شواهد دی چه د هغې د وجې نه امام ذهبی‌رحمه‌الله دې ته حسن وئیلې دې.

ددې نه علاوه د زیارت په وخت چه د زائر د مومن زړه کوم کیفیت وی او د رسول الله ﷺ د ګاونډ په برکت څخه د ایمانی عهد تجدید، په ګناهونو باندې ندامت او پښیمانتیا، الله تعالی طرف ته انابت او د توبې او استغفار کومې چه هغه وخت په زړه کښې اوچتیږی او د محبت نبوی ﷺ کوم جذبات چه هغه وخت راوچتیږی او د مینې او پښیمانتیا یوشان جذبات چه د سترګو نه کومې اوښکې بهیوی، په هغې کښې هر څیز داسې دې کوم چه شفاعت نبوی ﷺ بلکه د خدائې بخښنه هم واجب کوی، په دې وجه دې کښې دهیڅ شك شبهې ګنجائش نشته چه د روضهٔ اقدس نبوی ﷺ هر صاحب ایمان زیارت کونکی ته به انشاء الله ضرور شفاعت نبوی ﷺ نصیب کیږی. خو که د بدنصیبئ د وجې نه یو زائر داسې دې چه د هغه زړه ته د دې کیفیاتو او جذباتو نه هیڅ هم نه نصیب کیږی نو پوهه شه چه د هغه زړه د ایمانی دولت نه خالی دې بیا د هغه زیارت حقیقی زیارت نه دې بلکه صرف د زیارت صورت دې. او د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ په نزد د هیڅ عمل هم صرف صورت معتبر نه دې.

د رسول الله ﷺ د قبر مبارک د زیارت او منافع او برکاتو او مصالح چه پورته ذکر کړې شوې دی که هغې ته توجه کولو څخه په دې احادیثو باندې غور اوکړې شی کوم چه د دې زیارت په ترغیب کښې روایت کړې شوې دی اګر که د سند په لحاظ په هغې باندې کلام اوکړې شی، خو معنوی لحاظ څخه به هغه د دین د فکری او عملی نظام څخه بالکل مرتبط او یو شان ښکاره کیږی. او سلیم ذهن به په هغې باندې مطمئن کیږی چه د قبر مبارک دا زیارت د صاحب قبر ﷺ د ذات اقدس څخه د ایمانی تعلق او محبت او توقیر کښې د اضافې او د دینی ترقئ خاص وسیله ده. یقین دې چه هر هغه خوش نصیب صاحب ایمان بنده چاته چه الله پاک د زیارت سعادت ورکړې دې هغه به د دې شهادت ورکړې شی.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ چه د علامه نیموی‌رحمه‌الله د کتاب آثار السنن ترجمه ختم شوه.

وَمَا تَوْفِيْقِيْ اِلَّا بِاللّٰهِ رَبَّنَا اغْفِرْلِيْ وَلِوَالِدَيَّ وَلِاَسَاتِذَتِيْ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ يَوْمَ يَقُوْمُ الْحِسَابُ۔

وَصَلَّى اللّٰهُ عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ وَاَزْوَاجِهٖ وَاَتْبَاعِهٖ اَجْمَعِيْنَ اِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ۔

# زیارت د گنبد خضراء، مسئله دَ شدّ رحال

## آداب او احترام او هدیة سلام په حضور د سید الانام ﷺ کښې

د روضة مطهرة زیارت، د ایمان د زیاتیدلو او رحمت باعث دې زړه غواړی چه په دې باندې ښه تفصیل څخه اولیکلې شی، لهذا په ځائې د خپل لیکلو د حضرت العلامة مولانا عبدالمعبود صاحب مدظله یو ایمان آفرین مفصل لیک لوستونکو ته پیش کوم!

د صحابه کبار رضوان الله علیهم زړونه به د رسول الله ﷺ د محبت نه ډک او د هغوی د محبت د وجې نه به هر وخت بې قرار وو، هغوی به چه کله د رسول الله ﷺ د ښکلی بشر لیدلو بې قرار کړل نو د بې قرار او خفه سترګو د تازه کولو او آبادولو په خاطر به د پتنګانو په شان د خپل محبوب آقا ﷺ په زیارت باندې مشرف کیدل، د رسول الله ﷺ ادنی شان جهلک به د هغوی لپاره د قرار او سکون او د نوی ژوند زیرې ثابتیدلو. د محبت د پاکې نشې کونکو لپاره د رسول الله ﷺ زیارت یو نه ختیمدونکی دولت وو. د روښانه بشر دیدار د هغوی په ایمان کښې د تازګی او د هغوی په ژوند کښې خوشحالی پیدا کوله.

اګر چه د انسانانو او پیریانو د محبوب ﷺ د دنیا نه د پردې کولو په وجه باندې د هغوی د روښانه مخ مبارک د دیدار د سعادت نه خو محرومی ضرور پیدا شوه، خو د رسول الله ﷺ د دوستئ او مهربانئ او خلقو څخه د احسان کولو دا لوئې کرشمه ده چه رسول الله ﷺ راتلونکې امت د زیارت د ایمان افروز نعمت نه محروم نه کړل. بلکه د دیدن شوق لرونکو ته د زیارت عظیم زیری ورکولو څخه ئې د دنیا نه د آخرت په طرف سفر اوکړو. او اوس به تر قیامت پورې هغوی څخه محبت کونکی د پتنګانو په شان د هغوی په قبر مبارک باندې سعادت حاصلولو څخه فوائد حاصلوی. د رسول الله ﷺ د قبر مبارک د زیارت، فضیلت، عظمت او اهمیت متعلق د محسن کائنات ﷺ د قیمتی ارشاداتو روح تازه کونکې جهلک اوګورئ، څو احادیث مبارکه لیکلې شی چه د هر مسلمان په زړه کښې د حاضرئ شوق نور هم زیات شی او د دیدن په انتظار کښې ورته د زړه نرمی ورنصیب شی، کوم چه د آخرت د سفر بهترینه توښه ده.

من زار قبری وجبت له شفاعتی۔ (جامع الصغیر ج:۱، ص: ۱۷۱ شفا قاضی فیاض ج: ۲، ص: ۲۴)

چا چه زما د قبر زیارت اوکړو د هغه لپاره زما شفاعت واجب شو.

من زار فی بعد وفاتی فکانما زارانی فی حیاتی۔ (کنز العمال ج: ۵، ص: ۱۳۵)

چا چه زما د وفات نه پس زما د قبر زیارت اوکړو ګویا هغه زما په ژوند زما زیارت اوکړو.

من زارني بعد موتي فكانما زارني في حياتي۔ (شفاقاضی عیاض ج: ۲، ص: ۶۸)

چا چه زما د مرګ نه پس زما زیارت اوکړو ګویا هغه زما په ژوند زما زیارت اوکړو.

من حج فزار قبري بعد موتي كان كمن زارني ف حياتي۔ (سنن الكبرى ج: ۵، ص: ۲۴۶)

چا چه حج اوکړو او زما د وفات نه پس زما د قبر په زیارت مشرف شو نو هغه د هغه سړی په شان دي چا چه زما په ژوند کښې زیارت کړې وی.

من جاء في زائر الاتحمله حاجة الازيادتي كان حقًا علّى ان اكون له شفيعًا يوم القيامة۔ (فتح القدير ج: ۳، ص: ۹۴ روالمختار ج: ۲، ص: ۲۷۹)

کوم سړې چه صرف زما زیارت ته راشی او د دې نه سوا ئې هیڅ دنیوی غرض نه وی، نو په ما باندې حق دې چه زه د قیامت په ورځ باندې د هغه شفاعت اوکړم.

رسول الله ﷺ فرمائی: کوم سړې چه زما په زیارت باندې مشرف شو هغه به د قیامت په ورځ زما په ګاونډ کښې وی. او چا چه په مدینه طیبه کښې استوګنه اختیار کړه. او د هغه ځائې په تنګسیا او تکلیفونو باندې ئې صبر او شکر اوکړو نو زه به د هغه لپاره د قیامت په ورځ ګواهی ورکوم او شفاعت به ئې کوم. او چاته چه په حرم مکة او حرم مدینة کښې مرګ نصیب شی نو هغه انسان به د قیامت په ورځ په امن والا خلقو کښې اوچتولې شی. کنز العمال ج ۵ ص ۱۳۵، مشکوة ص ۲۴۰، علامه زرقانی رحمه الله فرمائی چه د ګنهګارو به شفاعت فرمائی او د تابعدارو په حق کښې به ګواهی ورکوی. زرقانی ج ۸ ص ۳۴۱.

سیدنا انس رضی الله عنه د رسول الله ﷺ ارشاد بیانوی!

کوم سړې چه مدینې طیبې ته صرف زما د زیارت په غرض راشی او نیت ئې خالص د ثواب وی. نو هغه به د قیامت په ورځ زما په ګاونډ کښې وی او زه به د هغه شفاعت کوم. جامع الصغیر ج ۲ ص ۱۷۱، الشفاء للقاضی عیاض ج ۲ ص ۷۴.

د محسن کائنات، رحمت موجودات عليه افضل الصلاة واكمل التحيات چه په امت باندې خومره بې حده او عظیم احسانات دی، د هغې تقاضا دا ده چه وسعت او قدرت ورته حاصل شی نو د دې قدرمند دربار په زیارت څخه دې ضرور مشرف شی. چه د هغې تائید او توثیق د رسول الله ﷺ د ارشاداتو نه کیږی. رسول الله ﷺ فرمائی:

مدینه طیبه کښې زما کور دې. په دې کښې به زما قبر هم وی، لهذا په مسلمان باندې لازم ده چه هغوی دې زما د قبر زیارت ته راشی. خو د وسعت او قدرت باوجود د قبر اطهر زیارت نه کول، د دې قیمتی نعمت نه نۀ صرف محرومی ده بلکه د خپل مهربان رسول ﷺ څخه سراسر

ظلم اوجفا او زیاتې دې. لکه چه سیدنا عبدالله بن عمر ﷺ بیان کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل:

من حج البیت ولم یزرنی فقد جفانی۔ (کنز العمال ج:٥،ص: ١٣٥)

د رحیم او کریم رسول ﷺ په احسان کونکی خوئی باندې قربان شم څومره په ښکلې ادا څخه د زائرینو جهولئ د خپل کرم د قیمتی ملغلرو نه ډکوی. او په څومره شفقت کونکی او تربیت کونکی انداز څخه د خپل شفاعت زړه ژوندې کونکې زیری ورکوی.

علامه زرقانی رحمه الله د شفاعت تصریح کولو څخه لیکی: دا د شفاعت زیرې به د زائرینو لپاره د مخصوص نوعیت وی. چه د هغې مصداق به د زائرینو نه سوا څوک هم نه وی. شفاعت که دنعمتونو د اضافې لپاره وی یا د قیامت په سختئ کښې د تخفیف وی، جنت ته بغیر د حساب نه د دخول لپاره وی یا که د درجاتو د اوچت والی لپاره وی، یا که د الله پاک د دیدار لپاره وی.

زرقانی عنوان زیادة قبره الشریف الفصل الثانی ج ٨ ص ٣٤٠.

**زیارت د گنبد خضراء د امت د مشرانو په نظر کښې:** د امت مشران او علماء کرام د گنبد خضراء زیارت ته نه صرف سنت وائی. بلکه د دې رفیع المرتبت عمل د وجوب هم قائل دی. لکه چه علامة ابن حجر العسقلانی المتوفی ٨٥٢هـ/١٤٢٢ء کښې لیکی.

انها من افضل الاعمال واجل القربات الموصلة الی ذی الجلال، وان مشروعیتها محل اجماع بلا نزاع والله الهادی الی الصواب۔ (فتح الباری ج:٣،ص: ٦٦)

امام الائمة امام ابن الهمام رحمه الله المتوفی ٨٦١ هـ/ ١٤٥٧ء فرمائی.

" زمونږ دمشائخو رحمهم الله په نزد زیارت د قبر اطهر د افضل المندوبات نه دې. کوم انسان چه د زیارت د قدرت او وسائلو متحمل وی د هغه لپاره واجب ته نزدې درجه لری. زما په نزد صرف د قبر النبی ﷺ د زیارت نیت کول پکار دی او بیا چه کله د الله پاک فضل شامل حال شی او دوباره ورته د زیارت سعادت نصیب شی نو د قبر مبارک او مسجد نبوی ﷺ د دواړو نیت دې اوکړی. ځکه چه په دې کښې مقصود د رسول الله ﷺ تعظیم او توقیر او رفعت شان موندلې شی. صرف د قبر مقدس نیت کول د رسول الله ﷺ د دې ارشاد عین مطابق دی." کوم سړې چه صرف زما د زیارت لپاره راغلې وی بل ئې هیڅ غرض نه وی نو زما په ذمه لازم ده چه زه د قیامت په ورځ د هغه شفاعت اوکړم". فتح القدیر ج ٣ ص ٩٤.

محقق فقیه علامه محمد امین المعروف ابن عابدین المتوفی ١٨٣٢/١٢٥٢ء هم د امام ابن الهمام د قول تائید کولو څخه لیکی: علامه خیر رملی شافعی د علامه ابن حجر د دې قول توثیق کړې دې چه په صاحب استطاعت باندې زیارت د گنبد خضراء واجب دې. (رد المختار ج ١ ص ٢٧٩)

علامه علی بن سلطان محمد القاری المتوفی ۱۰۴۱ هـ/۱۶۰۵ء فرمائی!

د عالم مسلمانان په دې خبره باندې متفق دی چه د سرور کونین، رحمت دارین ﷺ د روضه اطهر زیارت د افضل ترین عباداتو او اوچتو نیکو نه دې. د درجات علی او مقامات عظمی د حصول یو کامیاب ذریعه او پرامید وسیلة ده. د دې درجه واجب ته نزدې ده بلکه بعض علماء کرامو ورته واجب وئیلې ده، کوم سړې چه د وسعت او وسائلو باوجود د روضه اطهر د زیارت نه محروم پاتې شی نو دا ډیر لوئې شقاوت او جفا ده. څلور واړه فقهی مسلکونه د دې په محبوبیت او سنتیت باندې متفق دی. (بحواله فضائل حج شیخ الحدیث محمد زکریا)

د پورته ذکر شوی حدیث شریف تشریح کولو څخه محدث اعظم علامه خلیل احمد مهاجر مدنی المتوفی ۱۳۴۷ هـ لیکی: "د بعض مخالفینو نه سوا د ټولو مسلمانانو په دې باندې اجماع او اتفاق دې چه د رسول الله ﷺ زیارت افضل الطاعات او د اوچتو درجاتو د حصول انتهائی موثر او کامیابه ذریعه ده او د دې درجه واجباتو ته نزدې ده. بلکه د کوم سړی چه وسعت او طاقت وی د هغه په حق کښې زیارت مبارکه واجب دې. د دې ترک کول انتهائی غفلت او سخته بې وفائی ده. د رسول الله ﷺ دا فرمان چه کوم سړی حج اوکړو او زما زیارت ئې اونکړو هغه په ما باندې ظلم اوکړو د دې د وجوب صریح دلیل دې. (بذل المجهود ج ۳ ص ۳۳)

عشق نبوی درد معاصی کی دوا ہے ظلمت کدۂ ہر میں وہ شمع ہدیٰ ہے
آمد تری اے ابر کرم رونق عالم تیرے ہی لئے گلشن ہستی یہ بنا ہے
فرمان دو عالم تیری توقیع سے نافذ تیری ہی شفاعت پہ رحیمی کی بنا ہے
لے جائے گا رہرو کو وہ منزل سے بہت دور جو جادہ سفر کا تیرے جادہ کے سوا ہے

**لَاتُشَدُّ الرِّجَال:** سیدنا ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو: د درې مسجدونو نه سوا دې سفر اونکړې شی، مسجد حرام، بیت المقدس او زما مسجد.

(بخاری ج ۱ ص ۵۸، مسلم ج ۱ ص ۴۴۷)

د دې فرمان نبوی ﷺ د وجې نه بعض علماء کرامو د رسول الله ﷺ د زیارت په سفر څخه سفر کول منع لیکلې دې. د دې حضراتو وینا ده چه نیت دې د مسجد نبوی ﷺ د زیارت وی او هلته رسیدلو څخه به د روضه انور زیارت هم حاصل شی.

خو د جمهورو علماء کرامو په نزد په ذکر شوې حدیث کښې د درې مسجدونو نه علاوه د بل مسجد لپاره د سفر ممانعت مقصود دې ځکه چه دا درې مساجد د شرف او عظمت په اعتبار

ځخه امتیازی شان لری. او نور ټول مساجد مساوی درجه لری. په هغې کښې هیڅ خصوصی وجه د امتیاز نه شی موندلې کیدې.

علامة ابن حجر العسقلانی المتوفی ۸۵۲هـ/۱٤۲۲ء د امام احمدؒ د بیان کړی لاندې روایت د نقل کولو نه پس لیکی!

" د یو سړی لپاره دا جائز نه دی چه هغه د مونځ کولو په غرض د دې درې مسجدونو نه علاوه د بل مسجد لپاره سفر اوکړی په دې حدیث کښې د درې مسجدونو نه علاوه بل مسجد ته د سفر کولو نه ممانعت راغلې دې. او د مسجدونو نه علاوه د زیارت قصد جائز دې. لکه د یو مشر رشته دار، دوست، طلب علم، تجارت یا سیر او تفریح لپاره سفر جائز دې. (فتح الباری ج۳ ص ۶۵)

﴿لا تشدّ الرّحال الی مسجد للصلاة فیه الا الی الثلاثة﴾ دا حدیث د هغه حضراتو د قول تردید کوی کوم چه د رسول اللهﷺ د قبر اطهر او د صلحاء د قبرونو د زیارت نه منع کوی. (فتح الباری ج ۱ ص ۶۶۳)

محدث کبیر امام نوویؒ المتوفی ۶۷۶ هـ/۱۲۷۷ء لیکی:

د درې مساجدو نه علاوه د صالحینو او لرې لرې ځایونو سفرونه اختیارولو کښې د علماء کرامو اختلاف دې بعض دې ته حرام وائی او بعض د جواز قائل دی. زمونږ د علماء کرامو په نزد صحیح خبره هم هغه ده کومه چه امام الحرمین او محققینو علماء کرام اختیار کړې ده. چه د مساجد ثلاثه نه علاوه د یو ځائې لپاره د سفر سامان تړل نه خو حرام دی او نه مکروه. (شرح مسلم ج ۱ ص ۴۳۳)

محدث شهیر علامه علی بن سلطان محمد القاری المتوفی ۱۰۴۱ هـ/۱۶۰۵ء فرمائی:

حدیث ﴿ لا تشدّ الرّحال ﴾ د انبیاء او اولیاء د قبرونو د زیارت نه مانع نه دې ځکه چه د زیارت قبور حکم د حدیث نه ثابت دې. لکه چه سیدنا ابن بریدةؓ د خپل پلار نه بیان کوی چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل:

نهیتکم عن زیارة القبور فزودها فان فی زیارتها تذکرة۔ (سنن ابوداؤد ج: ۲،ص: ۴۴ کتاب الجنائز)

ما تاسو د قبرونو د زیارت نه منع کړې وئ، پس د قبرونو زیارت کوئ، بیشکه د قبرونو په زیارت ځخه نصیحت حاصلیږی

په ذکر شوې حدیث کښې د سفر ممانعت د درې مسجدونو نه علاوه د بل مسجد د زیارت لپاره د سامان سفر تړلو متعلق دې. (مرقاة المفاتیح ج ۲ ص ۱۹۰)

محدث جلیل علامه خلیل احمد سهارنپوری دیوبندیؒ مهاجر مدنی المتوفی ۱۳۴۷ هـ لیکی:

زمونږ او زمونږ د مشائخو په نزد زیارت د قبر سید المرسلینﷺ (زمونږ نفس په هغوی قربان) د اعلی درجه قربات او بې حد ثواب او موجب د حصول درجات دې. بلکه واجب ته نزدې

دې اګر چه په شد رحال او بذل جان و مال څخه نصیب شی. د سفر په وخت دې د رسول اللهﷺ د زیارت نیت اوکړی او ورڅخه دې د مسجد نبوی او د نورو مقامات متبرکه او زیارتونو نیت اوکړی. بیا چه ورته کله هلته حاضری نصیب شی نو د مسجد نبویﷺ په زیارت څخه به هم مشرف شی. په دې صورت کښې د رسول اللهﷺ زیات تعظیم او تکریم هم دې، او د رسول اللهﷺ ارشاد هم د دې تائید کوی چه: څوک زما زیارت ته راغلو او هغه زما د زیارت نه سوا بل څه حاجت نه وی راوړې، نو زما په ذمه لازم ده چه د قیامت په ورځ د هغه شفاعت اوکړم. او د علامه جامی نه منقول دی چه هغه صرف د روضه اقدس د زیارت لپاره تشریف یوړلو او دا د سفر حج نه علاوه وه. د عشاق او محبین هم دا امتیازی نخښه ده.

او پاتې شوه معامله د حدیث ﴿ شد الرحال ﴾ نو په دې حدیث کښې د قبر اطهر د زیارت د ممانعت چیرته ذکر هم موجود نه دې. بلکه صاحب فهم که غور اوکړی نو دا حدیث په دلالت النص څخه په جواز باندې دلالت کوی. ځکه چه کوم علت د مساجد ثلاثة د نورو مساجدو او مقاماتو نه د مستثنی کیدو راغلې دې هلته خو صرف د مساجدو فضیلت دې. او په قبر مبارک کښې فضیلت خو بې انتهاء دې. ځکه چه هغه زمکه کومه چه د سید الکونین رحمت دارینﷺ بدن لره مس کړې دې هغه علی الاطلاق افضل ده. تردې چه هغه د کعبې، عرش عظیم او کرسی نه هم افضل او اکرم دې او فقهاء کرامو د دې تصریح هم کړې ده.

او چه کله د کعبة الله د فضیلت د وجې نه درې مسجدونه د عموم دنهی نه مستثنی شو نو بقعة مبارکه د فضیلت عامة د وجې نه بدرجه اولی مستثنی شوه. (المهند علی المفند)

حکیم الامت علامه اشرف علی تهانوي المتوفی ١٣٦٢ هـ/١٩٤٣ لیکی:

دا حدیث چه راغلې دې چه ﴿ لا تشد الرحال الا الی ثلاثة مساجد ﴾ دا د سفر الی القبر الشریف په نهی باندې دلالت نه کوی. ځکه چه دلته د استثناء مفرغ کیدو د وجې نه مستثنی منه مقدر دې او په وجه د اقرب فی التجانس کیدو به احق للتعین وی. او جنس قریب د مساجد ثلاثه ظاهر دې پس تقدیر به داسې وی. ﴿ لا تشد الرحال الی مساجد الا الی ثلاثة مساجد ﴾ په دې صورت کښې به مطلقا مشاهد او مقابرو طرف ته سفر کول په حدیث مذکور کښې مسکوت عنه وی او په نهی باندې به دال نه وی.

او د دې تائید د یو صریح حدیث نه کیږی کوم چه مولانا مفتی صدرالدین خان دهلوی رحمه الله په خپله رسالة منتهی المقال کښې داسې نقل کړې دې:

فی مسند احمد عن ابی سعید الخدری قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لا ینبغی للمطی ان یشد رحاله الی مسجد ینبغی فیه الصلوٰة غیر المسجد الحرام والمسجد الاقصٰی ومسجدی هذا۔

او معنى د دې حديث دا ده چه د نورو مساجدو طرف ته چه په هغې کښې د تضاعف ثواب وعده نشته په دې نيت څخه سفر کول چه هم هلته په مونځ کولو څخه به زيات ثواب ملاويږي. تقول على الشارع دې. په دې وجه دا منهى عنه دې او په مقابر خاصه کښې برکات خاصه ثابت دى بيا په حديث ﴿ زوروا القبور ﴾ کښې هم اطلاق د اذن دې. خو دا شرط ضرور دې چه نور مقاصد لازم نه شي. نشر الطيب فى ذكر النبى الحبيب فصل ٢٧ صفحه ٢٣٦)

په دې موضوع باندې امام تاج الدين سبکى په شفاء السقام کښې او علامه سيد محمديوسف بنورى په معارف السنن ج ٣ ص ٣٢٩ تا ٣٣٤ کښې ډير مفيد او مفصل بحث فرمائيلې دې اهل علم حضرات د هغې نه استفاده کولې شى.

**په خير القرون کښې د زيارت روضه انور جذبه:** د صحابه کرامو ﷺ زړونه د رسول الله ﷺ د محبت نه ډک او د ديدار نبوى ﷺ لپاره هميشه بې قرار وو. د هغوى د وفات نه پس ئې هم د لرې لرې علاقو نه د سفر سخت تکليفونه په خوشحالئ باندې برداشت کول او د الله پاک د محبوب ﷺ د روضه مبارک زيارت ته به راتلل. لکه چه صادق محب سيد الابرار ﷺ سيدنا بلال ﷺ به چه کله د رسول الله ﷺ ياد بې قراره کړو نو هغوى به د شام نه د رسول الله ﷺ په دربار کښې حاضرى کوله. د قبر اطهر په زيارت څخه به ئې د سکون قلبى اوچت دولت حاصلولو.

د امير المومنين سيدنا عمر فاروق ﷺ په عهد خلافت کښې چه کله بيت المقدس فتح شو نو سيدنا بلال ﷺ په دربار فاروقى کښې عرض اوکړو که ستاسو اجازت وى نو زه به په بيت المقدس کښې استوګنه اختيار کړم امير المؤمنين د موذن درخواست قبول کړو. دغه شان هغوى په بيت المقدس کښې اوسيدل او هلته ئې نکاح هم اوکړه.

يو ورځ ئې رسول الله ﷺ په خوب کښې اوليدو، هغوى ورته اوفرمائيل : اې بلاله! دا څنګه جفا ده چه ته زما زيارت ته هم نه راځې، خوب هغوى بيدار کړل، ډير غمژن اوسخت پريشانه شو ، دې اضطراب او اضطرار په آرام پرينخودل او هم په هغه وخت د رسول الله ﷺ د قبر د زيارت لپاره روان شو.

چه کله د رسول الله ﷺ، رحمت دارين په حضور کښې حاضر شو نو د سترګو نه ئې اوښکې روانې وې او سخت شرمنده او بې قرار وو. خو د قبر مبارک په زيارت څخه ئې هغه اضطرار ختم شو. او زړه ته ئې سکون او اطمينان ملاؤ شو.

چه کله د هغوى د راتلو خبر شهزادګانو حسنين کريمين ﷺ ته اوشو، نو هغوى د ملاقات لپاره تشريف راوړلو، سيدنا بلال ﷺ د رسول الله ﷺ د باغ دې غنچو ته ورترغاړه وتلو،

صاحبزادګانو ترې نه د آذان فرمائش اوکړو چه په هغې باندې موذن رسولﷺ مجبورا د ارشاد په تعمیل کښې اذان کولو ته تیار شو. موصوف د مسجد په چهت باندې هم هغه ځائې کښې اودریدلو کوم ځائې چه به ئې د رسول اللهﷺ په موجودګئ کښې آذان کولو. چه کله هغوی آذان ورکول شروع کړل نو په خلقو کښې شور جوړ شو. د ﴿ اشهد ان لا اله الا الله ﴾ آواز اوچت شوې وو چه سړی او ښځې په بې قرارئ ځخه د کورونو نه په ژړا ژړا راوتل، د رسول اللهﷺ یاد ټول خلق بې قرار کړل، هر طرف ته د ژړاګانو آوازونه اوریدلې کیدل، هر سړې په ژړا وو او اوښکې ئې بهیدلې. د سیدنا بلالؓ زړه هم د خپل محبوبﷺ په یاد ځخه بې قرار شو او د غم پرې دومره غلبه اوشوه چه آذان ئې پوره نه کړې شو او د چهت نه راکوز شو. سیدنا بلالؓ دا د لرې علاقې نه سفر د زیارت قبر اطهر لپاره اختیار فرمائیلې وو. شفاء السقام ۵۳.

امام سمهودِی المتوفی ۹۱۱ ھ فرمائی چه ابن عساکر دا روایت په جید سند ځخه بیان کړې دې.(وفاء الوفاء ۳/ ۴۰۸)

امام نووی رحمه الله المتوفی ۶۷۶ ھ هم د دې تائید کولو ځخه لیکی چه د سیدنا بلالؓ دا مذکوره سفر صرف د رسول اللهﷺ د قبر مبارک د زیارت لپاره وو. (تهذیب الاسماء واللغات ج ۱ ص ۱۳۶)

سیدنا نافعؓ بیانوی چه عبدالله بن عمرؓ به کله هم د سفر نه واپس مدینې طیبې ته راتلو نو د ټولو نه اول به ئې په قبر آطهر باندې حاضری کولو ځخه داسې سلام پیش کولو!

''السلام علیك یارسول الله، السلام علیك یا أبَتَاهُ''۔

(سنن الکبری ج: ۵،ص: ۲۴۵ مصنف عبدالرزاق ج: ۳،ص: ۵۷۶)

د سیدنا عبدالله بن عمرؓ آزاد کړې غلام نافع رحمه الله نه پوښتنه اوکړې شوه. چه تاسو ابن عمرؓ کله د رسول اللهﷺ په قبر مبارک باندې سلام پیش کولو ځخه لیدلې دې؟ هغوی اوفرمائیل: او ! ما یو کرت نه د سلو کرتو نه هم زیات کرت لیدلې دې چه هغوی قبر اطهر ځخه ولاړ سلام پیش کولو. السلام علی النبی السلام علی ابی بکر السلام علی ابی. (شفاء السقام ۷۲)

سیدنا عبدالله بن دینارؓ بیان کوی چه ما عبدالله بن عمرؓ د رسول اللهﷺ د قبر مبارک ځخه اولیدو هغوی د رسول اللهﷺ او ابوبکر او عمرؓ په خدمت کښې سلام پیش کولو. (موطاء امام مالک باب زیارة قبر النبیﷺ)

قاضی عیاض لیکی چه سیدنا انس بن مالکؓ د ملک شام نه د قبر اطهر د زیارت لپاره تشریف راوړلو، مدینې طیبې ته په رارسیدلو باندې ئې د امام الانبیاءﷺ په دربار کښې سلام پیش کړو او واپس ملک شام ته لاړو. (شفا قاضی عیاض ج ۲ ص ۷)

د امير المومنين سيدنا عمر رضي الله عنه په دور خلافت کښې چه کله ملک شام فتح شو د بيت المقدس اوسيدونکو په جنګ باندې صلح ته ترجيح ورکړه او سيدنا کعب الاحبار په اسلام باندې مشرف کيدو څخه د خليفة المسلمين په خدمت کښې حاضر شو نو هغوی بې حده خوشحاله شو چه يو جليل القدر عالم په اسلامی حلقه کښې داخل شوې دې. د دې نه پس چه کله فاروق اعظم رضي الله عنه مدينې منورې ته واپس کيدلو. نو هغوی سيدنا کعب رضي الله عنه ته درخواست اوکړو چه هغه هم هغوی څخه مدينې طيبې ته تشريف يوسی او د رسول الله ﷺ د قبر اطهر زيارت اوکړی.

کعب الاحبار رضي الله عنه دعوت فاروقی په ممنونيت څخه قبول کړو او د هغوی په ملګرتيا کښې د قبر النبی ﷺ د زيارت لپاره روان شو. د دې اوږد او سخت سفر کولو نه پس چه کله مدينې ته راورسيدل نو د ټولو نه اول ئې د فاروق اعظم رضي الله عنه څخه په قبر مبارک باندې حاضری اوکړه او د رسول الله ﷺ په دربار کښې ئې د سلام نظرانه پيش کړه. شفاء السقام ۵۶، زرقانی ج ۸ ص ۳۴۲.

سيدنا عمر بن عبد العزيز رحمه الله به د ملک شام نه د رسول الله ﷺ په دربار کښې د سلام پيش کولو په خاطر مستقل طور قاصد ليږلو. چه د رسول الله ﷺ په دربار کښې به د سلام پيش کولو نه پس واپس کيدو. او د هغوی دا فعل د تابعينو د زمانې په مينځ کښې واقع شو. شفا قاضی عياض ج ۲ ص ۶۹، خو چا هم په دې باندې اعتراض نه دې کړې.

امام تقی الدين سبکی المتوفی ۷۴۶ھ/۱۳۴۵ء فرمائی چه د سيدنا بلال رضي الله عنه ذکر شوې سفر د صحابه کرامو رضي الله عنهم د زمانې په وسط کښې او د سيدنا عمر بن عبد العزيز رحمه الله دا طرز د تابعينو د زمانې په وسط کښې پيښ شوې دې. د هغوی دا سفر صرف د قبر مبارک د زيارت او د رسول الله ﷺ په دربار کښې د سلام پيش کولو لپاره وو. د دې نه علاوه نه خو هغوی د څه دنيوی مقصد د خاطره دا سفر اوکړو او نه ئې څه دينی کار ته کتل او نه دا سفر د مسجد نبوی ﷺ د زيارت لپاره وو. بلکه صرف او صرف د رسول الله ﷺ د قبر زيارت مقصود او مطلوب وو. شفاء السقام ۵۵.

محمد بن عبد الله بن عمرو العتبی بيان کوی چه کله الله پاک ماته د مدينې منورې حاضری نصيب کړه، نو ما د قبر اطهر زيارت اوکړو، د صلاة او سلام هديه پيش کولو څخه يو طرف ته کيناستلم. ناڅاپه په دې کښې يو اوبښ باندې سور باندچی صورت والا د رسول الله ﷺ په قبر باندې حاضريدلو څخه داسې ګويا شو.

يا خير الرسل ﷺ الله پاک په تاسو باندې خپل کلام نازل فرمائيلې دې، چه په هغې کښې دا ارشاد هم دې!

وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُوا أَنفُسَهُمْ جَاءُوكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللَّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُوا اللَّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا. (سورة النساء: ۶۴)

او چا چه په خپلو ځانونو باندې ظلم اوکړو، که هغوی تاته راغلي وې او د الله پاک نه ئې بخښنه غوښتلې وې او رسول اللهﷺ ورله هم بخښنه غوښتلې وې نو الله پاک به ئې توبه قبلونکې او مهربان موندلې وې.

بیا هغه سړی داسې عرض اوکړو اې د الله محبوبهﷺ! زه ستاسو دربار ته حاضر شوې یم او د الله پاک نه د خپلو ګناهونو طلب کوم او ستاسو د شفاعت خواستګار هم یم. د دې نه پس هغه باندې ډیر زیات اوژړل او په ژبه باندې ئې دا اشعار وو.

۱۔ یاخیرمن دفنت بالقاع اعظمه فطاب من طیبهن القاع والاکم

اې بهترین ذات! په هغه ټولو خلقو کښې چه د هغوی هډوکی په هواره زمکه کښې دفن کړې شو او د هغوی د وجې نه په زمکه او غونډو کښې پاکیزګی خوره شوه.

۲۔ نفسی الفداء القبرساکنه فیه العفاف وفیه الجود ولاکرم

په کوم مبارک قبر کښې چه تاسو آرام کوئ په هغې دې زما نفس قربان شی، په دې کښې عفت، سخاوت او عنایات او کرامات دی.

۳۔ انت الشفیع الذی ترجی شفاعته علی الصراط اذا مازلت القدام

تاسو یو داسې سفارش کونکی یئ د چا د شفاعت چه مونږ امیدوار یو په کوم وخت چه په پل صراط باندې د خلقو قدمونو خوئیږی.

۴۔ وصاحبك لا انساهما ابدا منی السّلام علیکم ماجری القلم

او ستاسو دواړه ملګری هم نه شم هیرولې په تاسو ټولو باندې دې زما سلام وی تر څو چه په دنیا کښې د لیکلو لپاره قلم لیکل کوی.

په آخر کښې هغه سړې د خپلو ګناهونو استغفار کولو څخه رخصت شو. عتبی وائی چه په ناسته ناسته زما سترګې ورغلې. په خوب کښې مې رسول اللهﷺ اولیدو. هغوی اوفرمائیل: هغه باندې چې ته زیرې ورکړه چه الله پاک زما په سفارش څخه د هغه مغفرت کړې دې. شفاء السقام ٦٢

علامه شهاب الدین الخفاجی فرمائی!

د سلف صالحین معمول وو چه هغوی به د رسول اللهﷺ په خدمت کښې د سلام هدیة د خط په ذریعه یا د قاصد په ذریعه لیږله. (نیسم الریاض ج ۳ ص ۵۱۶)

نکل جائے دم اُن کے قدموں کے نیچے یہی دل کی حسرت یہی آرزو ہے

چه د حضورﷺ خپو څخه مې ساه اوخیجی همدا مې د زړه خواهش او ارمان دې.

قاضی عیاض رحمہ اللہ د اسحاق بن ابراهیم الفقیه نه نقل کوی چه حاجیان دې د مدینې منورې نه په دې اراده لاړ شی چه هلته به په مسجد نبویﷺ کښې مونځ کوی. د ریاض الجنة منبر نبوی او قبر

أطهَر په زیارت څخه به مشرف کیږی او کوم ځائې چه به رسول الله ﷺ مونځ کولو هغه مصلی والا ځائې او کومو ستنو ته چه به هغوی تکیه لګوله د هغې نه به برکت حاصلوی. (الشفاء ج ۲ ص ۶۹)

**د رسول الله ﷺ د دربار سفر او آداب زیارت:** چه کله د دې مقدس سفر د اختیارولو سعادت ملاؤ شی، نو نیت دې خالص د الله پاک د رضا کولو وی. هیڅ حصه د ریاء او تفاخر، شهرت، سیر وسیاحت یا د دنیاوی غرض دې په زړه کښې نه وی ګینې نیکی به برباد او ګناه به لازمه شی.

محدث جلیل علامه علی بن سلطان محمد القاری المتوفی ۱۰۱٤ هـ/۱۶۰۵ء په **شرح اللباب** کښې لیکی!

د نیت خالص کیدو علامت دا دې چه فرائض او سنن ترې نه پاتې نه شی. ګینې په زیارت څخه به سوا د مشقت او مالی نقصان نه هیڅ حاصل نه شی. بلکه توبه او کفاره به لازم وی. په دې سعادت مند سفر کښې د سنت کارونو د خپلولو خاص اهتمام اوکړئ. بلکه په تحقیق او تجسس کولو څخه په سنت کارونو او د رسول الله ﷺ د روز مرة معمولاتو او عادات شریفه معلومولو څخه دې د هغې اتباع اوکړی. په دې سفر کښې دې په خصوصیت څخه د درود شریف کثرت کوی، پوره توجه، خیال او اداب او احترام څخه دې لولی. درود شریف چه څومره په کثرت څخه اولوستلې شی د الله پاک انوار و عنایات به هغه هومره په فراخئ څخه ملاویږی. د مونځ او ضروریات معاش نه علاوه دې ټول وخت په درود شریف کښې خرچ کړې شی. (شرح اللباب)

علامه ابن حجر عسقلانی المتوفی ۸۵۲هـ/۱٤۲۳ء لیکی!

دا خبره منلې شوې ده چه په دې سفر کښې د درود شریف کثرت افضل دې. خو آیا د قرآن کریم د تلاوت نه هم افضل دې! یا که تلاوت ته افضلیت حاصل دې یا که د دواړو درجه برابر ده؟

موصوف د دې په ځواب کښې فرمائی په کوم ځائې کښې چه د درود کثرت مقصود وی لکه د جمعې شپه وغیره په داسې موقعه باندې د درود کثرت د تلاوت د کثرت نه افضل دې، او په مدینه طیبه کښې د فرض مونځونو نه پس درود ته افضلیت حاصل دې. د سفر دوران کښې ذوق او شوق پیدا کړئ او څومره چه انسان مدینې طیبې ته نزې کیږی هغه هومره دې د هغه په محبت کښې ترقی پیدا شی. چا څه ښه وئیلې دی!

وعدهٔ وصل چون شود نزدیک        آتش شوق تیز تر گردد

که د سیرت مقدسه یو کتاب وی یا په سهولت څخه ملاویږی نو هغه خپله اولولئ یا د چا نه اوریدو څخه ایمان تازه کړئ. خپل مجلسونه او محفلونه د رسول الله ﷺ په تذکرې څخه بابرکت کړئ. د ملاقات کهرکئ چه څومره رانزدې کیږی درود پاک دې دې همیشه په ژبه باندې وی. که

ممکن وی نو سورلی دې تیزه کړې شي او زر دې په در اقدس باندې حاضری اوکړې شي.

چه کله د مدینة الرسول ﷺ کورونه دیوالونه په نظر راشي او د هغې معطر باغونه وینی. نو د ادب او احترام او محبت تقاضا خو دا ده چه د سورلۍ نه کوزیدلو څخه پخې ابله د پښیمانتیا اوښکې بهیولو څخه دې لاړ شي!

ولما راینا رسم من لم یدع لنا فؤاد العرفان الرسوم لا لبّا

نزلنا عن الاکوار نمشی کرامة لمن بان عنه ان نلم به رکبا

**ترجمه** : چه کله مونږ د هغه محبوب د ښهر نخښې اولیدې، د کوم ښهر ښکلو چه د هغه ښهر د نخښو پیژندګلو لپاره نه مونږ څخه زړه پریخودلو او نه عقل.

نو مونږ د خپلو سورلو نه کوزیدلو څخه پیدل روان شو، ځکه چه د دې اوچت او ارفع او اعلی شان نه دا خبره ډیره لرې ده چه هلته دې انسان (په سورلۍ) سور لاړ شي.

که د پیدل تلو په ځائې انسان په سر باندې تلو څخه دې دربار کښې حاضری اوکړې شی نو بیا هم د هغه د حق شلمه حصه نه شی ادا کولې، هم د دې جذباتو اظهار یو شاعر په څومره ښکلی انداز کښې کړې دې!

لو جئتکم قاصدا السعی بصری لم اقض حقا وای الحق ادیت

که زه ستاسو دفیض په حضور کښې د خپو په ځائې د سرپه سترګو راغلې وې بیا مې هم حق نه شو اداکولې، اې زما آقا! ما ستاسو نورحقونه کوم اداکړی دی چه دا حق به مې اداکړې وې.

ولما رائینا من ربوع حبیبنا بطیبة اعلاما اثرن لنا الحبا

**ترجمه** : چه کله په مدینة طیبة کښې د محبوب د منزل آثار ښکاره شو نو هغوی د محبت اور تیز کړو.

وبالتراب منها اذ کحلنا جفوننا شفینا فلا باسا نخاف ولا کربا

**ترجمه** : او چه کله مو د هغې خاوره د سترګو رانجهٔ کړل نو د بیمارو نه شفاء ملاؤ شوه. او اوس نه د څهٔ قسم بیمارو نه درد پاتې شو او نه تکلیف او غم.

امام مدینة سیدنا امام مالک رحمه الله به د دې متبرک زمکې د حرمت او تقدس د وجې نه سور نه تلو او فرمائیل به ئې ماته د الله پاک نه شرم راځی چه په کومه خاوره باندې د رسول الله ﷺ د خپو مبارکو نخښې ثبت شوې وی زما سورلۍ هغه د خپو لاندې کړی، د دې وجې نه به ئې پیاده په روضه انور باندې حاضری ورکوله. (فتح القدیر ج ۳ ص ۹٤، العلم والعلماء ۲۷۸)

حجة الاسلام فخر الهند مولانا محمد قاسم نانوتوی المتوفی ۱۲۹۷هـ چه کله په دربار حبیب ﷺ باندې مشرف شو نو د دې پاکې زمکې د تقدس لحاظ ساتلو څخه ئې د رسول الله ﷺ د

محبت فقید المثال مظاهره اوکړه، چه د ښهر نه ډیر لرې ئې چه څنګه په روضه انور باندې نظر پریوتلو، نو د ډیر ادب او احترام د وجې نه ئې پیزار په ترخ کښې اونیولو او د شپې د سختې تیرې باوجود څو میله پیاده راتلو څخه د رسول الله ﷺ په دربار کښې حاضر شو او ډیر په عقیدت او محبت څخه ئې صلاة او سلام عرض کړو. (سوانح قاسمی ج ۳ ص ۶۰ ۶۲)

امام ابن الهمام المتوفی ۸۶۱ هـ/ ۱٤٥٧ء فرمائی !

چه کله د رسول الله ﷺ ښهر نزدې شی نو ښهر ته د داخلیدو نه مخکښې غسل یا اودس اوکړې شی اګر چه غسل کول افضل دی، غوره جامې دې واچوی چه نوې جامې اغوستل افضل دی، د بعض محبینو دا عمل هم د ډیر تحسین لائق دې کوم چه مدینې طیبې ته نزدې کیدو څخه پیاده ځی او په ادب او احترام باندې مبنی هر کار غوره دې. په عاجزئ څخه دې په ویره باندې ښهر ته داخل شی او دا دعا دې د هغه په ژبه باندې وی!

رَبِّ اَدْخِلْنِیْ مُدْخَلَ صِدْقٍ وَّاَخْرِجْنِیْ مُخْرَجَ صِدْقٍ وَّاجْعَلْ لِّیْ مِنْ لَّدُنْكَ سُلْطٰنًا نَّصِیْرًا۔ (سورۂ بنی اسرائیل)

**ترجمه** : اې زما ربه ! ما داخل کړه په غوره داخلولو څخه او ما اوباسه په غوره اوباسلو څخه او راکړه ماته د خپل طرف نه داسې غلبه چه هغې څخه نصرت وی.

اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِیْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ وَارْزُقْنِیْ مِنْ زِیَارَةِ رَسُوْلِكَ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَارَزَقْتَ اَوْلِیَاءَكَ وَاَهْلِ طَاعَتِكَ وَاغْفِرْلِیْ وَارْحَمْنِیْ۔ (فتح القدیر ج: ۳، ص: ۹۴)

**ترجمه** : اې زما ربه ! زما لپاره د خپل رحمت دروازې پرانیزه او د خپل رسول ﷺ په زیارت څخه ماته هغه څه راکړه کوم چه تا خپلو دوستانو او خپلو فرمانبردارو ته ورکړې دی، ماته بخښنه اوکړه او په ما باندې رحم اوکړه. (فتح القدیر ج ۳ ص ۹٤)

دا دعا دې هم اوکړی!

اَللّٰهُمَّ هٰذَا حَرَمُ نَبِیِّكَ فَاجْعَلْهُ لِیْ وِقَایَةً مِّنَ النَّارِ وَاَمَانًا مِّنَ الْعَذَابِ وَسُوْءِ الْحِسَابِ۔

**ترجمه** : اې الله ! دا ستا د پاک نبی ﷺ حرم دې، دا زما لپاره د اور نه د بچ کیدو ذریعه اوګرځوه د عذاب نه حفاظت او د حساب د بدئ نه د بچ کیدو باعث ئې اوګرځوه.

د رسول الله ﷺ د دربار د آدابو نه دا هم ده چه د حاضریدلو نه مخکښې څه صدقه اوکړې شی چه په انوار او برکات څخه لمن ډکه شی، لکه چه د الله پاک ارشاد دې !

یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اِذَا نَاجَیْتُمُ الرَّسُوْلَ فَقَدِّمُوْا بَیْنَ یَدَیْ نَجْوٰىكُمْ صَدَقَةً ذٰلِكَ خَیْرٌ لَّكُمْ وَاَطْهَرُ، فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ۔ (سورۃ مجادله)

**ترجمه** : اې ایمان والو ! چه کله تاسو رسول الله ﷺ ته څه خبره کول غواړئ نو د هغې نه

محکښي څه خيرات کوئ. دا ستاسو لپاره غوره ده او د ګناهونو نه د پاکيدو ذريعه ده او که د صدقې کولو قدرت مو نه وي نو الله پاک غفور او رحيم دې.

چه کله ورته د دربار عالي وقار زيارت نصيب شي نو اول دې د خپل مال او اسباب د حفاظت انتظام اوکړې شي او بيا دې په اطمينان او سکون څخه په دربار اقدس کښې حاضري ورکړې شي. د رسول اللهﷺ په خدمت کښې يو کرت د قبيله عبدالقيس وفد راغلو، چه کله د هغوی نظر په رسول اللهﷺ باندې پريوتلو نو د اوښانو نه کوزيدلو څخه په منډه منډه په دربار عالي کښې حاضر شو، خو د هغوی رئيس منذر بن عائذ کوم چه د الشيخ عبدالقيس په لقب څخه معروف وو، هغه د اوښانو څخه قيام ګاه ته اورسيدلو، خپل او د ټولو ملګرو سامان ئې جمع کړو، په حفاظت څخه ئې کيخودلو، د دې نه پس ئې غسل اوکړو، نوې جامې ئې واغوستلې، بيا ډير په وقار او متانت څخه مسجد نبویﷺ ته حاضر شو د تحية المسجد نفل ئې ادا کړل او د دعا نه په فارغ کيدو باندې ډير په ادب او احترام څخه د رسول اللهﷺ په خدمت کښې حاضر شو.

رسول اللهﷺ د هغه دا ادا ډيره زياته خوښه کړه او دا زيرې ئې ورته ورکړو چه ستا دوه عادتونه د الله پاک خوښ دي يو حلم او بردباري او دويم وقار او متانت. (مسند احمد ج ٣ ص ٤٣٢)

هغه مقدس او متبرک مقام کوم ځائې چه د خطاکار انسان لپاره د الله پاک د رحمت سمندر چپې وهي او د رسول اللهﷺ د رحمت وريځ خوره ده، هلته زما شان خطاکار په خولې باندې بې اختياره دا الفاظ جاري کيږي!

ترے در پہ خالق ذوالمنن جو میری جبین نیاز ہو
مجھے بیکسی پہ غرور ہو مجھے بے نوائی پہ ناز ہو
میری یاس کی شبِ تار میں میرے غم کے گرد وغبار میں
ترا لطف چارہ نواز ہو' تو انور جلوہ طراز ہو
مرا روز جلوہ فروز ہو' تیرے رُخ کے نورِ جمال سے
مری شب کی محفل انس میں تری بوئے زلف درانہ ہو

**ترجمه**: ستا په در باندې اې د احساناتو والا ربه! چه کله زه خپل تندې کيږدم! زه په خپله بې وسئ باندې غرور کوم، په خپله بې کسئ باندې ناز کوم.

زما د اميد په اوږده شپه کښې، زما د غم په ګردو غبار کښې، ستاسو مهرباني دې ماته ډاډګيرنه راکوي، تاسو رڼرا والا دې زما مخې ته ناست يئ!

زما ورځ به روښانه شي، ستا د مخ د جمال د نور نه، زما د شپې د محبت په محفل کښې دې ستا د اوږدو زلفو خوشبوئي راشي.

# د دربار نبوی ﷺ ادب او احترام

از خدا خواهم توفیق ادب　　بے ادب محروم گشت از لطف رب

اې خوش نصيب زيارت کونکيه! د دې لحاظ ساته چه دا د رسول الله ﷺ دربار دې! چه په هغې د الله پاک محبوب ﷺ ارام فرما دې. دا د روضه اطهر د فردوس خوشبويه ټکړه ده. لهذا د ادب لمن دې داغدار نه شي. د دې د تحفظ تقدس لازم دې، ډير په ادب او احترام، خشوع او خضوع څخه په مسجد نبوی ﷺ کښې داخلیږه، تر اوسه پورې دې د حاضرئ د سعادت نه د محروم کيدو غم او د زيارت نه نصيب کيدو خفګان هم يو قسم په زړه کښې وی. په محشر کښې دې د هغه ښکلی مخ مبارک د ليدو د سرفرازئ خواهش او طلب نه زړه ډک وی. او دا ويره دې هم وی چه زما په شان د خطاکار مقدر به د محشر په سختو کښې د دې سراج منير د ديدار لائق وی او که نه؟ د دې دربار معظمه جاه اوجلال وعظمت، قدر و منزلت او د شرف او بزرګئ دې پوره پوره لحاظ اوساتلې شي.

چه کله درته ګنبد خضراء ښکاره شی، نو د رسول الله ﷺ د اوچت شان خاص خيال ساتئ، دا ذات چه د ښکلې صفاتو مجموعه ده کوم چه د ټول کائنات نه اشرف او اکرم، اعلی او افضل او اوچت دې او د هغوی مرقد مقدس په ټوله زمکه کښې ممتاز، معظم، مکرم او افضل دې او په کومه پاکه خاوره باندې چه د رسول الله ﷺ وجود مسعود لګيدلې دې، د هغې د ذراتو شان د کعبې نه اعلی، د عرش نه اوچت، د کرسئ نه اضحم، تردې چه د زمکې او زمانې او د اووهٔ اسمانونو نه هم زيات ارفع او اعلی دې.

مسجد مبارک ته د داخليدو نه پس د عجز ونياز ډير اهتمام پکار دې، د مسجد په ښکلا، زينت، فرشونو، فانوسونو او قالينونو او بلبونو کتلو باندې دې مشغول نه شي. بې حد وقار او ادب څخه سترګې ښکته کولو باندې ادب والا جوړه شه. هيڅ نازيبا او نامناسب حرکت درنه صادر نه شی هسې نه چه د بې ادبئ څه حرکت د تاوان سبب جوړ شي.

اللہ اگر توفیق نہ دے انسان کے بس کا کام نہیں　　فیضانِ محبت عام سہی عرفانِ محبت عام نہیں

**ترجمه** : که الله پاک چاته توفيق ورنکړی نو د انسان د وَس خبره نه ده، د محبت فيضان که عام وی نو د محبت پيژندګلو عام نه ده.

امام خوارزمی رحمه الله فرمائی مسجد نبوی ﷺ ته داخليدو څخه د دعا لوستلو څخه ښئ خپه وړاندې کړی؛ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ ذُنُوْبِيْ وَافْتَحْ لِيْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ.

اې الله زما ګناهونه معاف کړه او زما لپاره د خپل رحمت دروازې پرانيزه.

که کيدې شی نو په باب جبرائيل عليه السلام باندې داخل شه ګينې په کومه دروازه چه ستا خوښه وی. بيا په رياض الجنة کښې تحية المسجد ادا کړئ. او د دې خبرې خيال دې هم اوساتلې شی چه که د نفل کولو وخت وی نو اودې کړی ګينې پريږدئ، د نفل کولو نه پس د الله پاک چه ډير احسان کونکې دې لاکھ لاکھ شکرونه ادا کړئ چا چه دا نعمت عظيمه عطآء کړې دې. د دې نه پس د رسول الله ﷺ په دربار باندې حاضری اوکړه. (الکفاية مع فتح القدير ج ٣ ص ٩٤)

اې زائرين دربار رسالت ! ته د دنيا د غوره او منتخب افرادو په ډله کښې شامل شوې ئې. خوش قسمتئ ستا قدمونه ښکل کړل ته پاک دربار ته اورسيدلې. د رسول الله ﷺ دربار کښې حاضر شوې. د امن او سلامتئ چينه ستا مخې ته ده. د راحت او آرام فضاء ته ګير کړې او د اميد د ګلونو نه دې لمن خوشبويه شوه.

زړه د ټولو کينو او بغضونو نه پاکولو څخه، مجسم ادب کيدو څخه حاضری ورکړه، د علماء کرامو فرمان دې چه په کوم زړه کښې د دنيا خواهشات، نفسانی شهوت او د لهو او لعب غلبه وی. د داسې ګنده زړه والا انسان د دې مقدس مقام د برکاتو نه محروم وی. بلکه د رسول الله ﷺ د اعراض او غصې ويره هم ده. لهذا ترڅو چه ممکن وی زړه لره د دنيوی خرافات، لذات او خواهشاتو نه د پاکولو ښه کوشش اوکړئ. او د الله پاک د رحمت کامله واسعه او د عفو او کرم کلک اميد ساتئ د رسول الله ﷺ د رحمت للعلمين کيدو د وجې نه د هغه په وسيله باندې د معافئ طلب ګار کيدو څخه حاضری ورکړئ.

د مواجه شريف نه په لږه فاصله باندې داسې اودريږه چه سترګې ښکته، په لاسو خپو کښې حرکت ورک، په سکون او وقار څخه داسې اودريږه چه د رسول الله ﷺ د اوچت شان او عالی مقام استحضار دې په زړه کښې وی. ځکه چه دا د رسول الله ﷺ دربار دې چه د هغوی شفاعت يقينا مقبول او مشکور دې چه د کوم در نه سوال کونکې خالی لاس نه پاتې کيږی. چاته چه د هغوی د دربار درشل نصيب شی هغه کامياب او کامران شو او چاچه د هغوی په وسيله د الله پاک نه غوښتل اوکړل هغه دعا به ضرور شرف قبوليت ته رسيږی.

ډير په ذوق او شوق او عجزونياز څخه سلام د رسول الله ﷺ په دربار کښې پيش کړه. شيخ الحديث مولانا محمد زکريا رحمه الله فرمائی !

" کوم انسان چه د عربی الفاظو ترجمه او مطلب باندې پوهيږی او په عربی الفاظ لوستلو کښې ئې ذوق کامل پيدا شوې هم وی نو بيشکه په اوږدو الفاظو کښې دې درود او سلام پيش کړی. او که دا خبره نه وی نو بيا د طوطی په شان د مزورين (د زيارت کونکی معلم) د الفاظو وئيلو هيڅ فائده نشته. په دې وجه غوره دا ده چه داسې انسان دې په ډير ذوق او شوق او غايت سکون او طمانيت

او وقار څخه په مزه مزه ﴿ الصلاة والسلام عليک یارسول الله ﴾ وائی ترڅو پورې چه په سرور او ذوق کښې اضافه بیا مومی هم په دې الفاظو یا دې بل څه سلام بار بار لولی. فضائل حج ١٤٥، ١٥٧)

د سیدنا عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روایت چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل !

ان لِلّٰہ ملٰئکة سیاحین فی الارض یبلغونی عن امتی السلام۔ (نسائی شریف ج: ١، ص: ١٢٨)

د الله پاک د ملائکو جماعتونه په زمکه باندې ګرځی، کوم چه زما د امت د طرف نه ماته سلام رارسوی.

سیدنا ابوهریره رضي الله عنه روایت کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل !

من صلی علی عند قبری سمعته ومن صلی علی نائیا ابلغته (حیات الانبیاء: ١٧)

کوم سړې چه زما د قبر څخه په ما باندې درود وائی نو زه هغه پخپله اورم او څوک چه ئې د لرې نه وائی نو هغه ماته د ملائکو په ذریعه رارسولې شی.

د یو روایت الفاظ داسې دی!

من صلی عَلَیَّ قبری سمعته ومن صلی علیّ نائیا بلغته (اخبار مدینه المعروف ورثمینه: ١٤٤)

څوک چه زما په قبر باندې درود لولی نو زه ئې خپله اورم او د لرې نه د درود ویونکی درود ماته رارسولې شی.

## هدیه د سلام په حضور د خیر الانام ﷺ کښې:

امام محمد بن محمود بن النجار المتوفی ٦٤٣هـ/١٢٤٥ء بیانوی.

هارون بن موسی العروبی فرمائی چه بعض خلقو زما نیکهٔ ابو علقمة نه پوښتنه اوکړه چه کوم وخت پورې د ازواج مطهرات حجرې په مسجد کښې نه وې داخل کړې شوې، خلقو به د رسول الله ﷺ په دربار کښې چیرته اودریدلو څخه سلام پیش کولو. هغوی اوفرمائیل: خلقو به د حجرې مبارکې په دروازې باندې اودریدلو څخه سلام پیش کولو. په دروازه باندې به نه کونده وه اونه څهٔ پرده وه، هم دا طریقه د ام المومنین سیده عائشه رضي الله عنها د وصال پورې جاری وه. د دې نه روستو چه کله حجرې مسجد کښې داخل کړې شوې نو زائرین به په دربار خیر الانام ﷺ کښې د سلام پیش کولو لپاره ریاض الجنة ته د سر مبارک د طرف نه داسې اودریدل چه استوانه حنانه یعنی د مغرب طرف ته ئې شا او د حجرې منیفه طرف ته به ئې مخ وو. (آثار مدینة ١٣٥)

امام موصوف په بل مقام کښې فرمائی!

سیدنا زین العابدین بن علی بن الحسین بن علی رضي الله عنه به په ریاض الجنة کښې استوانه حنانه ته نزدې اودریدلو څخه د رسول الله ﷺ په دربار کښې سلام پیش کولو او دا به ئې فرمائیل

چه د هغوی سر اقدس دې طرف ته وو بیا به ئې د سیدنا صدیق اکبر او سیدنا فاروق اعظم په خدمت کښې هم سلام پیش کولو (آثار مدینة ۱٤٦)

امام زین الدین مراغی المتوفی ۸۱٦ هـ/۱٤۱۳ء د داؤد بن قیس قول نقل کوی چه موصوف باب عائشه اولیدو کوم چه د حجره مبارکه په مغربی اړخ کښې وو. (معالم دارالهجرة ۱۰٦)

بیا چه کله حجرة منیفه او نور حجرات په مسجد کښې شامل کړې شو نو زائرین قبله یعنی د جنوب طرف ته شا کولو څخه مخ مبارک ته مخامخ اودریدلو څخه صلاة او سلام پیش کولو او په داسې صورت کښې قبلې طرف ته مخ کولو کښې هیڅ باک نشته څنګه چه د جمعې او اخترونو د خطبې په وخت قبلې طرف ته شا وی.

ملک ابو جعفر المنصور العباسی د امام مالکؒ نه پوښتنه اوکړه چه د رسول اللهﷺ په روضه مبارکه باندې د صلاة او سلام پیش کولو نه پس د دعا کولو په وخت مخ قبلې طرفته کول پکار دی یا که د رسول اللهﷺ طرف ته مخ کولو څخه دعا کول پکار دی، امام صاحبؒ اوفرمائیل: ولِمَ تصرف وجهك عنه وهو وسيلتك ووسيلة ابيك ادم عليه السلام الى الله عزّوجل يوم القيمة۔
(معالم دارالهجرة:۱۰٦)

او ته به د رسول اللهﷺ نه مخ څنګه اړوې او حال دا چه هغوی به ستا او ستا د پلار آدمؑ لپاره د قیامت په ورځ د الله پاک په دربار کښې وسیلة وی.

علامه احمد شهاب الدین خفاجی فرمائی:

د دعا په وخت دې مخ د روضې مبارکې طرف ته وی، د رسول اللهﷺ په وسیله دې د الله پاک نه غوښتنه اوکړې شی او مستحب ده چه د دعا څخه د هغوی شفاعت طلب کړې شی او په عاجزئ او تضرع څخه دعا اوکړې شی. (نسیم الریاض ج ۳ ص ۵۱۷)

د مواجه شریف مخکښې ډیر په ادب او احترام او وقار او سکون څخه هدیه سلام د رسول اللهﷺ په حضور کښې داسې پیش کول پکار دی.

اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَارَسُوْلَ اللهِ، اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا خَيْرَ خَلْقِ اللهِ، اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا خِيَرَةَ اللهِ جَمِيْعِ خَلْقِهٖ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَاحَبِيْبَ اللهِ ۔اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا سَيِّدِوُلْدِآدَمَ۔ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ بَرَكَاتُهٗ يَا رَسُوْلَ اللهِ اِنِّيْ اَشْهَدُاَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَاَنَّكَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ۔وَاَشْهَدُ اَنَّكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَدْبَلَّغْتَ الرِّسَالَةَ وَاَدَّيْتَ الْاَمَانَةَ وَنَصَحْتَ الْاُمَّةَ وَكَشَفْتَ الْغُمَّةَ فَجَزَاكَ اللهُ عَنَّا خَيْرًا وَجَازَاكَ اللهُ عَنَّا اَفْضَلَ، مَاجَازَى نَبِيًّا عَنْ اُمَّتِهٖ۔

اَللّٰهُمَّ اَعْطِ سَيِّدَنَا عَبْدَكَ وَرَسُوْلَكَ مُحَمَّدًا الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ وَالدَّرَجَةَ الْعَالِيَةَ الرَّفِيْعَةَ وَابْعَثْهُ الْمَقَامَ الْمَحْمُوْدَ الَّذِيْ وَعَدْتَهُ وَاَنْزِلْهُ الْمَنْزِلَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ انك سُبْحَانَكَ ذُوالْفَضْلِ الْعَظِيْمِ۔

بیا د الله پاک په حضور کښې د رسول الله ﷺ په وسیلة دعا اوکړی او دا دعا دې هم اوکړی!

يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اَسْاَلُكَ الشَّفَاعَةَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اَسْاَلُكَ الشَّفَاعَةَ وَاَتَوَسَّلُ بِكَ اِلَى اللّٰهِ فِيْ اَنْ اَمُوْتَ مُسْلِمًا عَلٰى مِلَّتِكَ وَسُنَّتِكَ۔ (الكفايه مع فتح القدير ج: ٣ ص: ٩٥)

که چا د سلام پیش کولو وصیت کړې وی نو د هغه د طرف نه دې سلام عرض کړی.

اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ، مِنْ فُلَانِ بْنِ فُلَانٍ يَسْتَشْفِعُ بِكَ اِلٰى رَبِّكَ فَاشْفَعْ لَهُ وَلِجَمِيْعِ الْمُسْلِمِيْنَ

ددې نه پس دې لږ شان ښی طرف ته کیدو څخه مواجه ۲ ته مخامخ خلیفة المسلمین سیدنا صدیق اکبر رضی الله عنه په خدمت کښې داسې سلام پیش کړی.

السّلام عليك يا خليفة رسول الله صلى الله عليه وسلم وثانية في الغار ابابكر ن الصديق رضى الله تعالىٰ عنه، جزاك الله عن امة محمد صلى الله تعالىٰ عَلَيْهِ وسلم خيرا۔

بیا یو گز نور هم کس طرف ته کیدو څخه دې په مواجه ۳ باندې خلیفة المسلمین د سیدنا عمر فاروق رضی الله عنه په خدمت کښې سلام پیش کړې شی.

السلام عليك عمر الفاروق رضى الله تعالىٰ عنه، اَلَّذِيْ اعز الله به الْاسلام جزاك الله عن امة محمد صلى الله تعالىٰ عليه خَيْرًا۔ (الكفايه مع فتح القدير ج: ٣، ص: ٩٥)

قدوة العلماء محدث جلیل مولانا خلیل احمد سهارنپوری مهاجر مدنی فرمائی!

"د مسجد په حدودو کښې چه هر ځائې اودریدلو څخه سلام پیش کړې نو رسول الله ﷺ ئې اوری. (تذکرة الخلیل ۳۹۸) لهذا د رش په وخت چه چیرته درود وسلام لوستل ممکن وی هم هلته ئې اولوله او چه کله رش نه وی نو مواجه شریف ته نزدې اودریدلو څخه ئې اولوله.

شیخ المشائخ مولانا رشید احمد گنگوهی رحمه الله المتوفی ۱۳۲۳هـ/۱۹۰۵ء فرمائی!

د سلام پیش کولو نه پس دې د رسول الله ﷺ په وسیله باندې دعا اوکړې شی او د هغوی شفاعت دې طلب کړې شی او داسې دې اوائی!

يا رسول الله اسالك الشفاعة واتوسل بك الى الله في اَنْ اموت مسلماً على ملتكَ وسنّتكَ۔ (زبدة المناسك: ١٤٠)

**ترجمه** : یا رسول الله ﷺ! زه ستاسو شفاعت غواړم او ستاسو په وسیله باندې د الله پاک په دربار کښې التجاء کوم چه هغه ماته ستاسو په دین او سنت باندې مرګ راکړی. (زبدة المناسک ۱۴۰)

حکیم الامت شاه اشرف علی تهانوی رحمه الله المتوفی ۱۳۶۲ هـ/۱۹۴۳ په خپل شهره آفاق تصنیف